# توضیحات

پښتو شرح د

# مشکوة شریف

تالیف


مولانا فضل محمد یوسف زئی دامت برکاتہم

استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری ٹاؤن کراچی


پښتو ترجمه


مولانا محمد عیسیٰ الهادي "حقاني"

سابق مدرس مدرسه تعلیم القرآن والحدیث

چارسده روډ پشاور




مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797


توضیحات
پبنتوشرح
مشکوۃ شریف

# توضیحات شرح پښتو

# مشکوة شریف

(جلد پنځم)


الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم

علامه استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری تاؤن کراچی


پښتو ترجمه:

مولوي فیض الهادی حقاني

## د توضیحات پښتو شرح مشکوة خصوصیات:

- په اول جلد کې د اصول حدیث یوه مفیده مقدمه
- په متن باندې اعراب
- په ټیبل کې تحت السطور بامفهومه ترجمه
- هر حدیث ته مناسب عنوان ورکول
- د مشکوة المصابیح د آحادیثو تخریج د صحاح سته وغیره کتابونو نه کول
- د مشکوة المصابیح د مشکلو لغاتو حل کول
- په شرحه کې هر یو ځای ته مناسب عنوان ورکول
- د ائمه اربعو د مذاهبو بیان
- د مذاهبو دلائل بیانول
- د احنافو د مذهب د ترجیح وجوهات بیانول
- په شرح کې د مرقاة او د اشعة اللمعات د عبارا تو حوالې ورکول
- د کتاب د هرې صفحې په سر د کتاب او باب خودنه
- د هر کتاب په اول کې د ضروري مباحثو بیان
- بین القوسین په اضافي قیوداتو سره مزید وضاحت کول
- د مشکلو ابحاثو د سوال او جواب په ذریعه حل کول
- د جدید او قدیم بعضې مسائلو استنباط
- په آحادیثو کې د تعارض په صورت کې بهترین مطابقت راوستل
- په اتم جلد کې د مشکوة المصابیح د حدیثو د راویانو مفصل حالات


مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797

د چهاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دی۔

## درخواست

د الله تعالیٰ په فضل وکرم سره د کمپوزنګ نظرثانی او تصحیح نه علاوه
د چهاپ کولو او جلد سازئی په ټولو مرحلو کښی د ډیر احتیاط نه کار
اخستلی شوی دی خو بیا هم انسان کمزوری دی۔
که ددی احتیاط باوجود هم څه غلطی په نظر درشی نو اطلاع راکړئی
ان شاء الله په راتلونکی چهاپ کښی به ئی تصحیح اوکړو۔


دکتاب نوم: توضیحات مشکوٰۃ شریف

مؤلف: الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتہم
علامہ استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری تاؤن کراچی

ترجمہ: مولوي فیض الهادی حقاني

کمپوزنګ: مولوي فیض الهادی حقاني

ناشر: مکتبۃ الاصلاح محلہ جنگی پشاور
0314-9797200
0345-1977797


د ملاویدو پتی:

| | |
|---|---|
| پاکستان | افغانستان |
| شبقدر | جلال آباد |
| اکوړه خټک | کابل |
| صوابی | خوست |
| شیوه اډه | گردیز |
| مردان | غزنی |
| مینګوره | قندهار |
| تیمرګره | کوندوز |
| باجور | کنړ |
| ټل هنګو | مزار شریف |
| دوآبه | لغمان |
| ډیره اسماعیل خان | |
| بلوچستان | |
| چمن | |

نَضَّرَ اللّٰهُ اِمْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَ وَعَاهَا وَ اَدَّاهَا (الحديث طبراني)

# انتساب

زه دا خپل محنت خپل مادرِ علمي او د عِلم عالَمي مرکز

جامعة العلوم الاسلامية بنوري تاؤن طرف ته منسوبوم

چې ددې د شفقت په سيوري کې

بنده د محدث العصر حضرت اقدس حضرت مولانا محمد يوسف البنوري رَحِمَهُ اللّٰهُ

او صدر مدرس حضرت اقدس حضرت مولانا فضل محمد سواتي رَحِمَهُ اللّٰهُ نه

د احاديثو مقدسو سند حاصل کړو.

فضل محمد يوسف زئي

روزِ محشر هر کسے باخویش دارد توشهء

من نیز حاضر میشوم توضیح مشکوة در بغل

وَ مِنْ مَّذْهَبِيْ حُبُّ النَّبِيِّ وَ كَلَامِهٖ

وَ لِلنَّاسِ فِيْمَا يَعْشَقُوْنَ مَذَاهِبُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ

اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله المتوحد بجلال ذاته المتفرد بکمال صفاته أحمده تعالی علی جلیل نعمائه اللهم لك الحمد کما ینبغی لجلال وجهك وعظیم سلطانك ولك الشکر علی جزیل عطائك وکثیر آلائك. والصلوة والسلام الاتمان الاکملان علی رسلك وأنبیائك خصوصًا علی سیدالرّسل وهادی السبل وخاصة أصفیائك جیش الأنبیاء والمرسلین وخاتم النبیین محمدبن عبدالله رسول الله وحبیب الله صلوات الله وسلامه علیه سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه وأزواجه وذریاته أجمعین.

أمابعد! د الله تعالی لاک لاک شکر دې چې هغه ماعاجز او کمزوری بنده ته توفیق راکړو او خاص په فضل وکرم خپل سره ئې د مشکوة د جلد اول د کتاب الصلوة پورې د توضیحات شرح مشکوة د یو جلد تکمیل (پوره والې) راباندې وکړو.

د توضیحات شرح مشکوة د جلد اول د پوره کیدو نه پس ما مناسب اوګنړل چې د مشکوة د دویم جلد د کتاب النکاح نه هم یو جلد منظرعام ته راویستل پکاردی، بعضې ملګرو هم مشوره راکړه چې دمشکوة د دویم جلد د شرحې ډیر ضرورت دې ځکه چې په دغه حصه باندې په اُردو ژبه کې زیات کار نه دې شوې ماته په دې کال کې بیا په جامعة العلوم الاسلامیه بنوری تاؤن کې د مشکوة د ویم جلد سبق ملاؤ شوې دې نو زما دپاره هم په دې حصه باندې کارکول آسان دې او دعامو طلباؤ او دمدرسینو حضراتو دپاره هم په دې کې فائده ده، په دې وجه ماد ډیر مصروفیاتو باوجود نن د چارشنبې په ورځ مې په تاریخ ۸ ذی قعده ۱۴۲۲ سحر وختی ددې مبارک کار شروع وکړه.

د الله تعالی نه په ډیره عاجزئ سره دعا غواړم چې دمشکوة جلد اول او جلد ثانی د دواړو د شرحې په پوره والی کې زما مدد اوفرمائی او کوم څه چې لیکم هغې ته عام او خاص قبولیت ورکړی.

امین امین لا أرضی بواحدة حتی أضمّ الیها ألفین امینًا

ربنا تقبل منا انك أنت السمیع العلیم وتب علینا انك أنت التواب الرّحیم

د چهارشنبې ورځ/ذی قعده ۱۴۲۲ھ

بمطابق ۲۳ جنوری ۲۰۰۲ء

## ددې کتاب متعلق څه خبرې

د توضیحات شرح مشکوة متعلق ټول تفصیلات په ډومبی جلد کې راغلې دی دلته یو څو خبرو ته په طور د یاد دهانئ اشاره کوم،ماپه دې شرح کې دا طرز اختیارکړې دې چې ټولو نه اول مې د مشکوة شریف مکمل احادیث مې سره د اعراب لیکلې دی، بیا مې دهغې مکمل ترجمه لیکلې ده او دهغې نه پس مې د توضیح په عنوان سره لغوی او فقهی تشریح کړې ده، په فقهی مذاهبو بیانولو کې مې ددې خیال ساتلې دې چې مباحث نه ډیر اوږده وی او نه ډیر مختصر،بلکه د اعتدال مې پوره پوره خیال ساتلې دې او دیو شاذ قول مې نه تذکره کړې ده او نه مې د جمهورو د أقوالو نه جدا د بل چا په تفرد باندې خپل مسلک قائم کړې دې.

په حدیث کې که تشریح او توضیح ضرورت نه وی نو ما حدیث لیکلې او صرف ترجمه مې لیکلې ده په دې وجه په دې شرح کې د مشکوة شریف په ټولو احادیثو باندې مشتمل د مشکوة شریف پوره نسخه لیکلې شوې ده، په دې سره علماء او طلباؤ نه علاوه عام خلق هم په آسانئ سره فائده اخستلې شی.

ما چې د کومو شروحاتو نه ددې شرح په لیکلو کې استفاده کړې ده دهغې نوم مې هم لیکلې دې هغه د هر یو حوالې دپاره کافی دې د توضیحات جلد اول په عرض حال کې دې هغه د هر یوې حوالې دپاره کافی دې د توضیحات جلد اول په عرض حال کې ددغې شروحاتو نومونه کتلې شئ د جدا جدا حواله جاتو په هر ځائې کښې اهتمام نه دې کړې شوې،اګرچې اکثرحواله جات د تشریحاتو په ضمن کې هم ورکړې شوې دی.

ما چې په ۱۴۱۷ھ کې کله دمشکوة شریف دویمه حصه لوستل شروع کړې وو نو په هغه کال چې ما روزانه څومره سبق ښودلې وو دهغې تاریخ مې د اسلامی میاشت او کال په حوالې سره لیکلې وو، ما هم هغسې تاریخونه اولیکل په دې سره به دهر مدرس دپاره دا آسانی وی چې هغه د درسی نصاب په خودلو کې کوم رفتار سره روان دې، او په کومه ورځ چې هغه کوم ځائې وائی په دغه تاریخ باندې دهغه منزل په کوم مقام کې پکار دې؟

د مشکوة دویمه حصه هم چونکه د شوال نه شروع کیږی او په رجب کې ختمیږی نو په دې کې هم د اولنئ حصې په شان د شوال نه تاریخونه لیکلې شوې دی.

ما په فقهی مذاهبو بیانولو کې دا طرز اختیار کړې دې چې اول مې هغه مذاهب ذکر کړې دی د کومو چې تقلید کولې شی بیامې هم په دغه ترتیب سره دهغوی دلائل ذکر کړې دی اوبیامې د احنافو مسلک ته ترجیح ورکړې ده او دنورو حضراتو د دلائلو جوابات مې ورکړې دې دا ډیره

آسانه طریقه ده ما دهیڅ تعصب نه کار نه دي اخستې البته د احناف فقهاؤ عظیمه لاره مې نه ده پریښودلې.

ما چې دمشکوة په اوله حصه کې په احادیثو مبارکه باندې په کوم انداز سره تحقیقی او فقهی بحث کړې دې دغه شان ما دمشکوة په دویمه حصه کې د کتاب النکاح نه تر آخره پورې هم دغه طرز اختیار کړې دې چې داسې اونه شی چې په اوله حصه کې ډیر تفصیل وی او په دویمه حصه کې تفصیل نه وی.

ما په دې شرح کې ډیر کوشش کړې دې چې د یو مدرس دپاره د تدریس ترحده پورې دا شرح مناسب او مفید ثابته شی، او هغه د تدریس ضروریات په دې سره پوره شی. البته په ټولو طبیعتونو باندې ددې محیط کیدل ممکن نه دی ځکه مشهوره مقوله ده چې خو ښه خپله خپله، نصیب خپل خپل.

ما دطلباؤ دپاره ددې شرحې په آسان او مفید جوړلو کې پورد کوشش کړې دې الله تعالی دې زما عاجزه بنده دا کمزورې کوشش قبول کړی او دې لره دې د قصداً او خطاً دواړو قسمو غلطیانو نه پاک کړی او تکمیل ته دې اورسوی او ددې عاجز بنده د هرجوړ د بخښنې ذریعه دې جوړه کړی. آمین یا رب العالمین.

وذلك في ذات الاله وان يشأ يبارك على أوصال شلو ممزع

وصلى الله على نبيه الكريم

# فهرست


| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| کتاب النّکاح | ۲۸ | نکاح ولې ضروري ده ؟ | ۲۹ |
| نکاح کله ضروري کیږي | ۳۰ | د نکاح مستحبات | ۳۱ |
| د نکاح قسمونه | ۳۱ | (۱) عامه نکاح: | ۳۱ |
| (۲) نکاحِ استبضاع: | ۳۲ | (۳) نکاح د تعین او نامزدګی: | ۳۲ |
| (۴) نکاحِ الرایات: | ۳۲ | (۵) نکاحِ الخدن : | ۳۲ |
| (۶) نکاحِ متعه: | ۳۲ | (۷) نکاحِ البدل: | ۳۲ |
| (۸) نکاحِ شغار: | ۳۲ | ځوانانو ته د نکاح کولو حکم | ۳۳ |
| د تبتل ممانعت | ۳۳ | د دینداوه ښځې سره نکاح کول بهتر دي | ۳۴ |
| نیک بخته ښځه په دنیا کښې بهترین دولت دی | ۳۷ | په درې څیزونو کې نحوست | ۴۲ |
| د خپلې د نکاح د پاره جینئ ښځې ته ترجیح ورکړه | ۴۳ | هغه درې سړی چې دهغوی به الله ضرور مدد کوي | ۴۵ |
| د ښځې د ولی د پاره یو ضروری هدایت | ۴۵ | زیات بچي راوړونکې ښځې سره نکاح کوئ | ۴۶ |
| ناواده کړې سره نکاح زیاته بهتره ده | ۴۸ | آزادو زنانو سره د نکاح کولو فضیلت | ۵۰ |
| د نیک بختې ښځې خصوصیت | ۵۰ | نکاح کول نیم دین دی | ۵۱ |
| باب النظر الی المخطوبه وبیان العورات | ۵۳ | مخطوبې ته د کتلو او د ستر پټولو بیان | ۵۳ |
| مخطوبې ته کتل مستحب دي | ۵۴ | د پردئ زنانه د جسم حال خپل خاوند ته مه بیانوئ | ۵۵ |
| د ښځو او سړو د پاره یو څو هدایات | ۵۵ | د لیور نه د پردې حکم | ۵۷ |
| علاج معالجه او ښځه | ۵۸ | په پردې ښځه د نظر پریوتلو مسائل | ۵۹ |
| د ناګهانه نظر پریوتلو علاج | ۶۱ | شیطان هرې ښځې ته پټ پټ ګوري | ۶۱ |
| د واده شوې خادمې حکم | ۶۳ | پنډئ د بدن د ستر حصه ده | ۶۴ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| بغیر د ضرورت نه په تنهائي کې هم ستر نه ښکاره کول | ٦٥ | ښځه سړی ته کتلی شي یا نه؟ | ٦٦ |
| پردۍ ښځې سره په تنهائي کې مه اوسه | ٦٧ | په انساني بدن کې د شیطان داخلیدل | ٦٨ |
| د مالکي د خپل غلام نه د پردې کولو حکم | ٦٩ | د شرم او حیا او څته درجه | ٧٢ |
| بَابُ الْوَلِيِّ فِي النِّكَاحِ وَاسْتِئْذَانِ الْمَرْأَةِ | ٧٤ | د نکاح ولی او د ښځې د اجازت بیان | ٧٤ |
| "مسئلة ولاية الاجبار" | ٧٤ | په ولایت اجبار کې د فقهاو اختلاف | ٧٥ |
| کوندې ته د خپلې نکاح د ماتولو اختیار | ٧٧ | د نکاح په وخت کې د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عمر | ٧٨ |
| د کم عمره جینۍ نکاح د ولی د اجازت نه بغیر نه کیږي | ٧٩ | د ګواهانو نه بغیر نکاح صحیح نه ده | ٨٢ |
| د ښځې خاموشی د رضا دلیل دی | ٨٢ | د غلام نکاح د هغه د مالک د اجازت نه بغیر صحیح نه ده | ٨٣ |
| بالغه ښځه د خپلې نکاح په معامله کې واک منده ده | ٨٣ | د ولی د پاره د بالغې ښځې نکاح کول مستحب دي | ٨٤ |
| په پلار باندې د بچو د رې حقونه | ٨٥ | بَابُ إِعْلَانِ النِّكَاحِ وَالْخُطْبَةِ وَالشَّرْط | ٨٧ |
| د نکاح اعلان او شرائط | ٨٧ | د نکاح په وخت کې تنبل وهل جائز دی | ٨٧ |
| صرف ډول وهل یا شعرونه ویل څنګه دي | ٨٨ | د شوال په میاشت کې نکاح کول سنت ده | ٩٠ |
| د مهر په اداکولو باندې زور | ٩٠ | نکاح شوې ته د نکاح پیغام نه ورکول | ٩١ |
| یو بن دي د بلې بن د پاره نه بد خواه کیږی | ٩٢ | د نکاح شغار ممانعت | ٩٣ |
| د متعې ممانعت | ٩٤ | متعه کله حرامه شوه؟ | ٩٦ |
| د نکاح خطبه | ٩٧ | د خطبې نه بغیر نکاح بې برکته وي | ١٠٠ |
| د نکاح اعلان کول مستحب دي | ١٠٠ | په بنادو کې د شعرونو ویلو اجازت | ١٠١ |
| دیوې ښځې په دوو نکاح ګانو کې ورومبی درسته ده | ١٠٣ | په ابتدا د اسلام کې متعه جائزوه | ١٠٣ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| د متعې حکم منسوخ شوی دی | ۱۰۴ | جائز شعرونه اوریدل اولوبې ویل جائز دي | ۱۰۵ |
| **بَاب الْمُحرمَات** | ۱۰۶ | په سرې باندې د حرامو بنځو بیان | ۱۰۶ |
| د حرمت نکاح اسباب | ۱۰۶ | لاندینۍ بنځې په نکاح کې نه جمع کول | ۱۰۷ |
| **مسئلة حرمة الرضاعة** | ۱۰۸ | د رضاعت نه مستثنی صورتونه | ۱۱۰ |
| د رضاعې مور خاوند رضاعې پلار وي | ۱۱۰ | رضاعې وریرې سره نکاح کول حرام دي | ۱۱۱ |
| د رضاعت مقدار | ۱۱۲ | د رضاعت موده | ۱۱۳ |
| د رضاعت دپاره د یوې بنځې ګواهي معتبره ده که نه؟ | ۱۱۴ | جمهورو د حضرت عقبه د روایت دوه جوابونه ورکړې دي | ۱۱۵ |
| په میدان جنګ کې د ګیرو شوو بنځو سره د جماع کولو حکم | ۱۱۵ | کومې بنځې په یو وخت کې په نکاح کې ساتل ممنوع دي | ۱۱۷ |
| د پلار بنځې سره نکاح کول حرام دي | ۱۱۷ | د رضاعې مور حق څنګه اداء کړو | ۱۱۹ |
| د رضاعې مور د تعظیم او تکریم یوه نمونه | ۱۲۰ | د څلورو نکاح ګانو نه د زیاتو ممانعت | ۱۲۰ |
| د دوه خویندو په نکاح کې د ساتلو نه ممانعت | ۱۲۲ | مسئلة اسلام احد الزوجین | ۱۲۳ |
| د حضرت ابو العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه او تحقیق | ۱۲۷ | کومې کومې رشته داري بنځې محرماتو کې داخلې دی | ۱۲۸ |
| د خپلې بنځې د لور سره د نکاح ممانعت | ۱۲۹ | **بَاب المباشرة** | ۱۳۰ |
| خپلې بنځې سره د مباشرت بیان | ۱۳۰ | په مقدر کې چې څه وی هغه څوک نه شی بندولې | ۱۳۲ |
| په مدت رضاعت کې جماع کول جائز دي | ۱۳۴ | بنځه او خاوند دې دیوبل راز نه بنکاره کوي | ۱۳۵ |
| د حیض په ورځو کې خپلې بنځې ته مه ورځه | ۱۳۶ | بنځې سره بد فعلی کولو والا ملعون دی | ۱۳۷ |
| د لواطت سزا | ۱۳۸ | باب مسئلة خیار العتق | ۱۴۰ |
| علت د اختلاف | ۱۴۱ | د اختلاف منشاء | ۱۴۱ |
| **بَاب الصَّدَاق** | ۱۴۶ | د مهر بیان | ۱۴۶ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| دمهر مسئله | ۱۴۷ | د مهر په مقدار کې د فقهاو اختلاف | ۱۴۸ |
| د ازواجو مطهراتو د مهر مقداز | ۱۵۰ | دزیات مهر ممانعت | ۱۵۱ |
| دمهر څه حصه زر ورکول بهتر دي | ۱۵۲ | دمهر مثل واجب کیدو یو صورت | ۱۵۲ |
| دام المومنین ام حبیبه رضی الله عنها مهر | ۱۵۴ | د مشروط اسلام بیان | ۱۵۵ |
| **بَاب الْوَلِيمَة** | ۱۵۷ | دعوت ولیمه | ۱۵۷ |
| د دعوتونو بیان | ۱۵۷ | د عربو د جاهلیت ولیمې | ۱۵۸ |
| د ولیمې کولو حکم | ۱۵۹ | د حضرت زینب رضی الله عنها شانداره ولیمه | ۱۵۹ |
| دښځې آزادی ددې مهر کړ ځولی شي یا نه | ۱۶۰ | د حضرت صفیه رضی الله عنها د ولیمې ذکر | ۱۶۱ |
| دحضرت ام سلمه رضی الله عنها ولیمه | ۱۶۲ | د ولیمې دعوت قبلول پکار دي | ۱۶۲ |
| په ولیمه کې صرف د مالدارو راغوختل انتهائی بد دی | ۱۶۳ | اجازت اغستل او بیا دعوت ته تلل | ۱۶۴ |
| دزیبائش و آرائش نه د حضور صلی الله علیه وسلم اجتناب | ۱۶۶ | دطفیلی مذمت | ۱۶۷ |
| په ډیرو دعوتونو کې کوم یو ته ترجیح ورکول پکار دي | ۱۶۸ | د ولیمې دعوت صرف دوه ورځو پورې دی | ۱۶۸ |
| د فخر او مقابلې والا دعوت خوړل منع دي | ۱۶۹ | دفاسق دعوت نه قبلول | ۱۷۰ |
| **بَاب الْقَسم** | ۱۷۲ | په ګڼو بیبیانو کې د نمبر مقرر ولو بیان | ۱۷۲ |
| د ازواج مطهراتو تعداد | ۱۷۳ | د حضور صلی الله علیه وسلم د کثرت ازواجو بحث | ۱۷۳ |
| ښځه خپل نمبر خپلې بَن له ورکولی شي | ۱۷۵ | په سفر کې بوتلو د پاره په بیبیانو کې پچه اچول (قرعه اندازي) | ۱۷۶ |
| د نوې ناوې د پاره د نمبر مقرر ولو مسئله | ۱۷۷ | قلبي محبت د قسم نه مستثنیٰ دی | ۱۷۹ |
| په بیبیانو کښې برابري نه کولو باندې سزا | ۱۸۰ | په ازواج مطهراتو کې د نمبر مقرر ولو تفصیل | ۱۸۰ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنَ الْحُقُوقِ | ۱۸۳ | کورنی ژوند او د ښځې او خاوند د حقوقو بیان | ۱۸۳ |
| د ښځو د تخلیقي کمزورۍ خیال ساتل | ۱۸۳ | ښځو سره ښه سلوک اختیارول | ۱۸۵ |
| کوږوالی هرې ښځې ته په وراثت کې ملاوشوی دی | ۱۸۶ | بغیر ضرورته د ښځو وهلو ممانعت | ۱۸۶ |
| د ماشومانو ګوډیاني | ۱۸۸ | په مسجد نبوی کې د جهاد مشق | ۱۸۹ |
| د خاوند په ناراضتیا الله تعالی ناراضه کیږی | ۱۹۰ | د ښځې د سوزولو د پاره دروغ ویل حرام دي | ۱۹۱ |
| د ایلا مطلب | ۱۹۳ | د حضور اکرم ﷺ د ایلاء قصه | ۱۹۳ |
| واقعه | ۱۹۷ | د حسن معاشرت بهترینه نمونه | ۱۹۸ |
| په مړو تبصرې مه کوئ | ۱۹۹ | د اطاعت کونکو بیبیانو فضائل | ۲۰۰ |
| یو بل فضیلت | ۲۰۰ | په مشکل وخت کې د خاوند فرمانبرداري وکړئ | ۲۰۱ |
| خاوند له تکلیف مه ورکوئ | ۲۰۱ | د ښځې او خاوند حقوق | ۲۰۲ |
| په ځلورو خبرو په وجه خاوند خپله ښځه وهلی شی | ۲۰۲ | بدزبانه ښځې له طلاق ورکړه | ۲۰۳ |
| د شرعی حد نه زیات د ښځو وهلو ممانعت | ۲۰۴ | د ښځې او خاوند په مینځ کې د جدا والي راوستو والا زمونږ نه نه دی | ۲۰۵ |
| خپل اهل وعیال باندې شفقت کول کمال ایمان دی | ۲۰۵ | د نبی ﷺ او عائشې رضی الله عنها په مینځ کې زړه راخکونکې خبرې | ۲۰۶ |
| د الله نه سوا بل چا ته سجده کول جائز نه دي | ۲۰۷ | د نافرمانه ښځې په وهلو باندې مواخذه نشته | ۲۰۸ |
| ښځه د خاوند د اجازت نه بغیر نفلي روژه نه شي نیولی | ۲۰۹ | په سخت حکم کې هم د خاوند اطاعت کول | ۲۱۱ |
| د نافرمانه ښځې عبادت نه قبلیږی | ۲۱۳ | د بهترینې ښځې پیژندګلو | ۲۱۴ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| بَاب الْخلْع وَالطَّلَاق | ۲۱۶ | د خلعې او د طلاق بیان | ۲۱۶ |
| د خلعې طریقه | ۲۱۶ | ناخوښه خاوند نه طلاق اغستی شي | ۲۱۷ |
| د طلاق تعریف او قسمونه | ۲۱۹ | د طلاق قسمونه | ۲۲۰ |
| طلاق احسن | ۲۲۰ | طلاق حسن | ۲۲۰ |
| طلاق بدعي | ۲۲۰ | دحیض په حالت کې د طلاق ورکولو نه ممانعت | ۲۲۱ |
| ښځې ته د طلاق اختیار ورکول | ۲۲۱ | یو څیز په خپل ځان باندې حرام کولو حکم | ۲۲۲ |
| د شهدو څکلو واقعه | ۲۲۳ | طلاق بنه څیز نه دی | ۲۲۵ |
| د نکاح نه مخکې د طلاق ورکولو مسئله | ۲۲۵ | د طلاق بتة مسئله | ۲۲۸ |
| په تو قو کې هم طلاق واقع کیږي | ۲۳۰ | په حالت اکراه کې د طلاق مسئله | ۲۳۰ |
| د لیونی طلاق نه واقع کیږي | ۲۳۳ | د سکران د طلاق حکم | ۲۳۳ |
| درې کسان مرفوع القلم دي | ۲۳۴ | د طلاق تعداد کې د سړي اعتبار دي یا دښځې | ۲۳۴ |
| دسختې مجبورۍ نه بغیر په خلعې اغستو باندې وعید | ۲۳۶ | دښځې د پوره مال په بدله کې خلع کول مکروه دي | ۲۳۷ |
| په یو وخت کې درې طلاقه ورکول حرام دي | ۲۳۸ | مسئلة الطلاق الثلاثة | ۲۳۹ |
| د دریو طلاقو حکم | ۲۳۹ | بَاب الْمُطلقَة ثَلَاثًا | ۲۴۷ |
| د مطلقې مغلظې حکم | ۲۴۷ | د حلالې بیان | ۲۵۸ |
| د حلالې مکروه تحریمي صورت | ۲۴۹ | د ایلاء مسئله | ۲۵۰ |
| د ظهار حکم | ۲۵۲ | د ظهار باره کې نورې مسئلې | ۲۵۶ |
| باب اللعان | ۲۵۹ | د لعان بیان | ۲۵۹ |
| د لعان اصطلاحي مفهوم | ۲۵۹ | د لعان حقیقت | ۲۵۹ |
| دلعان حکمت | ۲۶۰ | دلعان په نتیجه کې د فقهاو اختلاف | ۲۶۰ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| په زنا کې د قتل کولو حکم | ۲۶۱ | دلعان کولو والاحساب به په آخرت کې کیږي | ۲۶۴ |
| د ایت لعان شان نزول | ۲۶۵ | د زنا تور په ځلورو ګواهانو سره ثابتیږی | ۲۶۸ |
| دالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک غیرت مند نشته | ۲۷۰ | د خیالي شکونو په بنیاد باندې تهمت نه لګول | ۲۷۲ |
| دولد زنا نسب د زانی نه ثابت نه دی | ۲۷۳ | په اثبات د نسب کې د قیافه شناس قول معتبر دی که نه؟ | ۲۷۵ |
| د خپل پلار نه انکار کولو والا دوزخي دی | ۲۷۶ | دیو سخت زړي پلار شقاوت | ۲۷۷ |
| بدکاري ښځې ته طلاق ورکول اولی دی | ۲۷۹ | د غیرت صورتونه | ۲۸۳ |
| هغه ځلور ښځې چا سره چې لعان نه کیږي | ۲۸۴ | دلعان په ځای د ګناه اعتراف کول بهتر دي | ۲۸۵ |
| شیطان ښځه او خاوند په خپل مینځ کې بدګمانه کوي | ۲۸۶ | **باب العدة** | ۲۸۸ |
| د عدت او واویلا کولو بیان | ۲۸۸ | په عدت کې د نفقې او د اوسیدو مسئله | ۲۸۹ |
| د مطلقې مغلظې په نفقې اوسکنی کې د فقهاو اختلاف | ۲۹۱ | د حدیث فائدې | ۲۹۴ |
| د عدت په حالت کې د کورنه دوتلو حکم | ۲۹۵ | د فقهاو اختلاف | ۲۹۵ |
| د حاملې ښځې عدت په وضع د حمل دی | ۲۹۶ | د عدت په ورځو کې رانجه لګول منع دي | ۲۹۷ |
| د فقهاو اختلاف | ۲۹۸ | په کافرانه نظام کې په ښځه باندې ظلم کیده او اسلام ورله مقام ورکړو | ۲۹۸ |
| څومره مودې پورې خفګان کول جائز دي | ۲۹۹ | عدت والا ښځې دې د عطریاتو نه ډډه کوي | ۳۰۰ |
| د عدت په حالت کې د مکان د بدلولو حکم | ۳۰۱ | په اوه قسمه ښځو باندې غمرازي نشته | ۳۰۳ |
| د عدت په ورځو کې ځان ډولې کول منع دي | ۳۰۳ | معتده ښځه دې کالي (زیورات) نه استعمالوي | ۳۰۵ |
| د طلاق شوې د عدت باره کې یو بحث | ۳۰۶ | د طلاقې شوې د عدت یوه عجیبه مسئله | ۳۰۷ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| باب الاستبراء | ۳۱۰ | داستبراء تفصیل | ۳۱۰ |
| سوال او جواب | ۳۱۰ | استبراء نه بغیر جماع حرامه ده | ۳۱۱ |
| د استبراء رحم یوه مسئله | ۳۱۴ | پیغلې وینزې دپاره د استبراء حکم | ۳۱۵ |
| بَابُ النَّفَقَاتِ وَحَقِّ الْمَمْلُوكِ | ۳۱۶ | عام نفقات او د غلامانو د حقونو بیان | ۳۱۶ |
| ښځې ته د خپل خاوند د مال نه خرچ کولو حکم | ۳۱۷ | په اسلام کې د غلامانو سره د حسن سلوک کولو حکم | ۳۱۸ |
| غلامانو سره غیر اخلاقي حرکات کول نه دي پکار | ۳۲۱ | په غلام باندې د زنا تور لګول جرم دی | ۳۲۲ |
| د اولاد په ګټه کې د پلار حق دی | ۳۲۵ | په تربیت کولو کې د یتیم د مال حکم | ۳۲۵ |
| امت ته د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پیغام | ۳۲۶ | د غلامانو د حقونو پوره کولو تاکید | ۳۲۷ |
| کم عمره غلامان د خپلو سرپرستونه مه جدا کوئ | ۳۲۹ | غلام سره د احسان کولو اجر | ۳۳۰ |
| د مونځ ګزارد وهلو ممانعت | ۳۳۱ | د غلام د معاف کولو حکم | ۳۳۲ |
| د مریې باره کې یو هدایت | ۳۳۲ | ځناور سره د ښه سلوک کولو حکم | ۳۳۳ |
| د یتیم د مال باره کې حکم | ۳۳۴ | د پلار او ځامنو یا د دوه ورونو په مینځ کې بیلتون مه راولئ | ۳۳۵ |
| کوم خلق خراب دي | ۳۳۵ | د جهاد په وجه په امت کې د یتیمانو او غلامانو ډیر والی | ۳۳۷ |
| بَابُ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ فِي الصِّغَرِ | ۳۳۹ | د بچو پالنه او د بلوغت بیان | ۳۳۹ |
| د بلوغت عمر پنځلس کاله دی | ۳۳۹ | په بلوغ بالسنین کې د فقهاو اقوال | ۳۴۰ |
| دلانجې په صورت کې د ماشوم تربیت (پرورش) د چا حق دی؟ | ۳۴۱ | د پالنې د مودې نه پس د تخییر غلام مسئله | ۳۴۵ |
| کتاب العتق | ۳۵۰ | د غلام د آزدولو بیان | ۳۵۰ |
| د برده د آزادولو اجر | ۳۵۲ | د ټولو افضل عمل کوم یو دی | ۳۵۳ |

| مضمون | صفحہ | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|---|
| د عالم دپارہ روایت بالمعنی جائز دی | ۳۵۷ | د غلام په حق کې سفارش کول بهترینه صدقه ده | ۳۵۸ |
| باب اعتاق العبد المشترک وشری القریب والعتق في المرض | ۳۵۹ | د عبد مشترک او د مرض په حالت کې غلام لره د آزادولو بیان | ۳۵۹ |
| په اعتاق کې د تجزي بحث | ۳۶۰ | د خو اصطلاحي الفاظو تشریح | ۳۶۱ |
| (۱) تضمین | ۳۶۱ | (۲) استسعیٰ : | ۳۶۱ |
| (۳) ولاء : | ۳۶۲ | (۴) عتق | ۳۶۲ |
| (۵) تجزي | ۳۶۲ | (۶) حالت یسار | ۳۶۲ |
| (۷) مجانًا | ۳۶۲ | مسئلة الاعتاق في مرض الموت | ۳۶۳ |
| د پلار حق څنګه ادا کیدې شي | ۳۶۵ | مدبر غلام خرڅول جائز دي یا نه؟ | ۳۶۶ |
| ذي رحم په ملکیت کې راتلو سره آزادیږي | ۳۶۹ | مسئلة بیع ام الولد | ۳۷۰ |
| د معتق غلام د مال حکم | ۳۷۲ | د پورته غلام آزادولو ترغیب | ۳۷۳ |
| د مشروط آزادئ یوه واقعه | ۳۷۴ | د مکاتب احکام | ۳۷۵ |
| د بنځو د خپل مکاتب غلام نه د پردې حکم | ۳۷۵ | د مکاتب د طرف نه د جزوئي ادائیګي مسئله | ۳۷۶ |
| د مالي عبادت ثواب مړي ته رسیږي | ۳۷۸ | د خرڅ شوي غلام مال به چا ته ملاویږي؟ | ۳۸۰ |
| کتاب الأیمان والنذور | ۳۸۱ | د قسمونو او نذرونو بیان | ۳۸۱ |
| په غیر الله د قسم خوړلو ممانعت | ۳۸۴ | د غیرو په مذهب باندې د قسم خوړلو حکم | ۳۸۶ |
| کچرې په قسم ماتولو کې خیروي نو ماتول یې پکار دي | ۳۸۸ | د امارت مطالبه مه کوئ کیږي به شئ | ۳۹۰ |
| په ناجائز قسم کلکیدل مناسب نه دي | ۳۹۲ | د جګړې په صورت کې به د قسم ورکونکي د نیت اعتبار وي | ۳۹۲ |
| په لغو قسم باندې به مواخذه نه وي | ۳۹۳ | د غیر الله په نوم قسم خوړل شرک دی | ۳۹۴ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| په امانت د قسم خوړلو حکم | ۳۹۵ | د اسلام نه د بیزاری د قسم حکم | ۳۹۶ |
| د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو قسم مطلب | ۳۹۷ | د قسم سره د انشاء الله د یو ځای کولو حکم | ۳۹۷ |
| **بَابُ فِي النذور** | ۴۰۰ | د نذرونو بیان | ۴۰۰ |
| د نذر منلو پس منظر | ۴۰۰ | د معصیت په نذر کې د کفارې حکم | ۴۰۲ |
| د قسم او نذر کفاره یو شان ده | ۴۰۴ | د ناممکنه خبرو نذر مه پوره کوئ | ۴۰۴ |
| د مشي الی بیت الله د نذر حکم | ۴۰۵ | د نذر منونکي په وارثانو باندې نذر پوره کول واجب دي یا نه؟ | ۴۰۸ |
| د ایصال ثواب مسئله | ۴۰۹ | په صدقه کولو کې د خپل ضرورت لحاظ ساتل پکار دي | ۴۱۰ |
| د غیر معین نذر کفاره | ۴۱۱ | د کفارو سره مشابهت مه ساتئ | ۴۱۲ |
| د فتح په تمنا کې د تمبل وهلو نذر | ۴۱۴ | د دریمې حصې د مال صدقه کافي ده | ۴۱۵ |
| په څه خاص ځای باندې د مونځ کولو نذر | ۴۱۷ | د نذر څه جزء کچیرې ممکن العمل نه وي نو څه به کوي | ۴۱۸ |
| د پیاده حج کولو د نذر حکم | ۴۱۹ | د ځان قربانولو د نذر مسئله | ۴۲۳ |
| ذبیح الله حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ او که حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ؟ | ۴۲۴ | **کتاب القصاص** | ۴۲۶ |
| د قصاص بیان | ۴۲۶ | د قصاص تعریف | ۴۲۶ |
| د قتل قسمونه | ۴۲۷ | د قتل موجبات | ۴۲۷ |
| د قصاص حق به چا ته ملاویږي | ۴۲۷ | د نفس په بدله کې نفس دی | ۴۲۸ |
| د مرتدې ښځې متعلق د فقهاؤ اختلاف | ۴۳۰ | د قیامت په ورځ به کوم فیصله مخکې اوچتولی شي | ۴۳۱ |
| کوم کس چې کلمه وویله هغه معصوم الدم شو | ۴۳۲ | د کلمه ویونکي قتلول منع دي | ۴۳۳ |
| د معاهد د قتل کولو ممانعت | ۴۳۵ | د خودکشي کونکي متعلق وعید | ۴۳۶ |
| د خودکشئ متعلق یوه سبق آموز واقعه | ۴۳۸ | د مقتول وارثانو ته په قصاص او دیت کې اختیار دی | ۴۴۰ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| د بنځې سړې قاتل به قتل کولی شي | ۴۴۲ | مساوات في القصاص | ۴۴۴ |
| د الله والاو شان | ۴۴۵ | د ذمي په بدل کې د مسلمان نه د قصاص اخستو مسئله | ۴۴۶ |
| د مسلمان دويني اهميت | ۴۴۹ | د مسلمان قتلول ډير لوی جرم دی | ۴۴۹ |
| د قيامت په ورځ د مقتول استغاثه | ۴۵۰ | د خپل مظلوميت په ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه تقرير | ۴۵۱ |
| هر قاتل دخير د توفيق نه محروم اوسي | ۴۵۲ | په ناحقه قتل ناقابل معافي جرم دی | ۴۵۳ |
| د پلار نه به د اولاد دپاره قصاص نه شي اخستی | ۴۵۴ | هرسړی د خپل جرم پخپله ذمه دار دی | ۴۵۵ |
| د زوي نه به د پلار قصاص اخستلی شي | ۴۵۶ | د غلام په قصاص کې به آزاد قتلولی شي او که نه؟ | ۴۵۷ |
| د ديت مقدار او د اوښانو نوم | ۴۵۹ | د کفر په مقابله کې ټول مسلمانان د يو لاس په شان دي | ۴۶۱ |
| د قتل خطاء حکم او د قتل بالمثقل تعريف | ۴۶۳ | په اسلام کې د انساني ويني اهميت | ۴۶۵ |
| د قيامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نيولی وي الله تعالی ته به فرياد کوي | ۴۶۶ | د قاتل د مدد کولو متعلق وعيد<br>د قاتل د مدد کار سزا | ۴۶۷<br>۴۶۸ |
| **باب الديات** | ۴۶۹ | د ديتونو بيان | ۴۶۹ |
| د ديت قسمونه | ۴۶۹ | د بنځې په خيټه کې د بچي ديت | ۴۷۱ |
| د کانې په ذريعې سره په کيدونکي قتل کې به ديت واجب وي | ۴۷۳ | د قتل خطاء او شبه عمد ديت | ۴۷۶ |
| د بدن د مختلفو اندامونو ديت | ۴۷۷ | د اوښانو په موجودګي کې د هغې د قيمت په ادا کولو کې اختلاف | ۴۷۹ |
| په ديت کې د برابر اندامونو بيان | ۴۸۰ | د ذمي کافر ديت د مسلمان د ديت په نيمه دی | ۴۸۲ |
| د کافر د ديت مقدار | ۴۸۴ | د قتل خطا په ديت باندې د احنافو مستدل | ۴۸۵ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| د دیت مقرر کولو دپاره بنیاد څه ځیزدی؟ | ۴۸۷ | دیت د مقتول د وارثانو حق دی | ۴۸۹ |
| په قتل شبه عمد کې قصاص نشته دی | ۴۹۱ | د زخمي شوې سترګې دیت | ۴۹۱ |
| عطائي داکټر د مریض د نقصان ذمه دار دی | ۴۹۳ | د دیت د معافی یوه واقعه | ۴۹۴ |
| د قتل شبه عمد او قتل خطاء دیت | ۴۹۵ | په خیټه کې د بچي دیت | ۴۹۶ |
| باب مالایضمن من الجنایات | ۴۹۸ | په کومو جنایاتو کې چې تاوان نشته دی | ۴۹۸ |
| هغه افعال او اعمال په کوم کې چې تاوان نشته دی | ۴۹۸ | د څاروو په نقصان باندې د تاوان مسئله | ۴۹۸ |
| په مدافعت کې څه تاوان نه واجبیږي | ۴۹۹ | د ځان او مال په حفاظت کې وژلی شوی شهید دی | ۵۰۱ |
| د چا کورته ورښکاره کید لو سره کتل جائز نه دي | ۵۰۳ | پخپله د نبي کریم ﷺ ردعمل | ۵۰۳ |
| خامخا کنکري (واړه کانې) مه غورزوئ | ۵۰۵ | په مجلسونو کې وسله سنبالول پکار دي | ۵۰۵ |
| کوم مسلمان طرف ته په وسلې سره اشاره مه کوئ | ۵۰۶ | د اسلام د طرز نه برخلاف خلق | ۵۰۷ |
| د الله تعالی د مخلوق د تنګ وونکو سزا | ۵۰۸ | د ظالم پولیس او فیشن کوونکو ښځو په باره کې وعید | ۵۱۰ |
| څوک په مخ باندې مه وهه | ۵۱۲ | د بل چا کورته بغیر د اجازت نه کتلو والا قابل د تعزیر دی | ۵۱۳ |
| تیرې څوکې والا آله چا لره په لاس کې د ورکولو طریقه | ۵۱۴ | د دین په حفاظت کې وژلی شوی شهید دی | ۵۱۵ |
| باب القسامة | ۵۱۷ | د قسامت بیان | ۵۱۷ |
| اول بحث د قسامة حقیقت | ۵۱۷ | دویم بحث د لوث (ننبې) صورت دی | ۵۱۸ |
| دریم بحث د قسامې په مفهوم کې د فقهاو اختلاف | ۵۱۸ | په قسامه کې د احنافو رَحِمَهُمُ اللهُ ترتیب او مسلک | ۵۱۸ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| دشوافع او مالکیانو ترتیب او مسلک | ۵۱۸ | دفع د تضاد | ۵۲۰ |
| په قسامه کې به د مدعي نه قسم اخستلی شي او که د مدعاعلیه نه | ۵۲۱ | د قسم ابتداء د مدعاعلیه نه کول پکار دي | ۵۲۳ |
| باب قتل اهل الردة والسعاة بالفساد | ۵۲۵ | د مرتدو او فسادیانو د قتل کولو بیان | ۵۲۵ |
| د ارتداد صورتونه | ۵۲۶ | دمرتدو او د فسادیانود قتل کولو بیان | ۵۲۶ |
| چاته په اُور کې دسوزولو سزا مه ورکوه | ۵۲۸ | د خوارجو د فرقې نشاندهي | ۵۲۸ |
| د خوارجو شرعي حیثیت څه دی | ۵۳۰ | د خوارجو په باره کې د نبي علیه السلام پیشنګوئي | ۵۳۰ |
| دمسلمان په قتل سره سړی کفرته نزدې کیږي | ۵۳۱ | دمرتد او د ډاکوانو سزا | ۵۳۳ |
| سوال او دهغې دري جوابونه | ۵۳۵ | دلاش دشلولو او مثله کولو ممانعت | ۵۳۶ |
| دځناوروسره د نبي علیه السلام د رحمت جذبه | ۵۳۶ | دیو باطلې فرقه په باره کې پیشن ګوئي | ۵۳۸ |
| په دري صورتونو کې مسلمان ته د مرګ سزا ورکولی شي | ۵۳۹ | داسلام د عزت دکفر په ذلت سره سودا مه کوه | ۵۴۱ |
| مسلمان به په کافرو کې مخلوط نه اوسیږي | ۵۴۲ | ناجائزه قتل صرف ایمان منع کوي | ۵۴۴ |
| دتختیدلي مرتد غلام سزا مرګ دی | ۵۴۴ | دشاتم رسول صلی الله علیه وسلم سزا | ۵۴۵ |
| دسحر اوساحر حکم | ۵۴۶ | دبغاوت سزا قتل دی | ۵۴۷ |
| دخوارجو متعلق پیشن ګوئي | ۵۴۸ | دخوارجو تاریخي پس منظر او دهغې شرعي حکم | ۵۵۰ |
| کتاب الحدود | ۵۵۵ | د حدودو بیان | ۵۵۵ |
| دحدود الله حکمت او برکت | ۵۵۶ | بارګاه دنبوت کې دزنادیو مقدمې فیصله | ۵۵۸ |
| تغریب عام یعنې پوره کال جلاوطن کولو حکم | ۵۶۰ | په اعتراف زنا باندې د حد جاري کیدو حکم | ۵۶۱ |
| دغیر محصن زانی سزا او د احصان شرطونه | ۵۶۲ | په اسلام کې د رجم ثبوت او د محصن زانی سزا | ۵۶۳ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| دناوادہ کړې ښځې دحمل حکم | ۵۶۴ | وادہ کړې زانیہ او زانی سنګسار کړئ | ۵۶۵ |
| د جمع بین الرجم والجلد حکم | ۵۶۵ | د اللہ تعالی کتاب په زمکه مه ږدئ | ۵۶۶ |
| درجم یوه واقعه په دې کې آداب او مسائل | ۵۶۸ | په حد قائمولو سره ګناه معاف کیږی | ۵۷۲ |
| دبدکاره وینځې د سزا حکم | ۵۷۷ | دغلام د حد حق چاته حاصل دی | ۵۷۸ |
| په مریض باندې د حد جاري کولو مسئله | ۵۷۹ | د زنا د اقرار نه پس د انکار حکم | ۵۸۰ |
| د حضرت ماعز رضی اللہ عنہ د جرم اعتراف | ۵۸۲ | د نورو په عیبونو باندې پرده اچوئ | ۵۸۳ |
| هیڅ یو حاکم ته د حد معاف کولو اختیار نشته | ۵۸۴ | دعزت دارو خطاګانو لره معاف کول پکار دي | ۵۸۴ |
| دشبهې فائده ملزم ته ملاویدل پکار دي | ۵۸۵ | په زنا بالجبر کې به حد صرف په سړي باندې جاري کیږي | ۵۸۶ |
| د یوې زنا دوه سزاګانې | ۵۸۸ | په بیمار مجرم باندې د حد جاری کولو طریقه | ۵۸۸ |
| دلواطت ابتداء او سزا | ۵۹۰ | د لوطي په سزا کې د فقهاو آراء | ۵۹۰ |
| ځناورو سره د بدفعلی کونکي سزا | ۵۹۱ | اغلام بازی (د قوم لوط عمل) بدترینه ګناه ده | ۵۹۳ |
| د حد زنا او حد قذف د جمع کیدو یو صورت | ۵۹۳ | په حضرت عائشه رضی اللہ عنہا باندې د تهمت لګولو والو سزا | ۵۹۴ |
| په زنا بالجبر کې په مجبوره باندې حد نشته | ۵۹۵ | د ماعز رضی اللہ عنہ د زنا د واقعې یو بل تفصیل | ۵۹۶ |
| د زنا او رشوت په کثرت سره په قومونو باندې سزا | ۵۹۸ | د لوطی د سزا مختلف صورتونه | ۵۹۹ |
| کوم کوم خلق ملعون دي | ۶۰۰ | خپل ښځې سره لواطت حرام دی | ۶۰۰ |
| دځناور سره په بدفعلی باندې حد مقرر نه دی بلکه تعزیر دی | ۶۰۱ | په حد جاری کولو کې څه فرق او امتیاز مه کوئ | ۶۰۲ |
| د حد جاری کولو لرې فائدې | ۶۰۲ | **باب قطع السرقة** | ۶۰۴ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| د سرقې تعریف | ۶۰۴ | قطع د سرقې په تفصیلاتو کې د فقهاء کرامو اختلاف | ۶۰۴ |
| د میوو و غیره په غلاکې دلاس کټ کولو سزا شته او که نه؟ | ۶۰۸ | په غیر مملوکه غریزو څناورو باندې د غلا اطلاق نه کیږي | ۶۱۰ |
| د ډاکو سزا لاس کټ کول نه دي | ۶۱۱ | خائن د قطع ید سزا وار نه دی | ۶۱۱ |
| د جهاد په سفر کې دي د غل لاس کټ نه کړی شي | ۶۱۳ | په دویم درېم ځل د غلا کولو سزا | ۶۱۴ |
| سزا لره باعث د عبرت جوړول جائز دي | ۶۱۶ | هر کله چې شبهه را غله نو لاس به نه شي کټ کولی | ۶۱۷ |
| د مجرم د معاف کولو حق حاکم ته حاصل نه دی | ۶۱۸ | کچیرې غلام د خپل مالک نه غلا وکړي نو د هغه لاس به نه شي کټ کولی | ۶۱۹ |
| د کفن پټونکی لاس به کټ کولې شی یا نه؟ | ۶۱۹ | بَاب الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُود | ۶۲۲ |
| په حدودو کې د سفارش بیان | ۶۲۲ | د حدد منعه کولو دپاره سفارش منع دې | ۶۲۲ |
| په حدودو کې رکاوټ اچونکي د الله تعالی مخالفت کوي | ۶۲۴ | د جرم په اقرار باندې د غلا سزا | ۶۲۶ |
| بَاب حد الْخمر | ۶۲۸ | د شرابو د حد او د حرمت بیان | ۶۲۸ |
| د نبی علیه السلام په زمانه کې د شرابو د څکلو سزا | ۶۳۰ | د خمرو د حد سزا دپاره ۸۰ کوړې متعین شوې | ۶۳۲ |
| د شرابی د قتل کولو حکم منسوخ دی | ۶۳۳ | په دربار نبوت کې د شرابی تحقیر او تذلیل | ۶۳۴ |
| شرابی ته سزا ورکړه او پیغور ورکړه خو بد دعاء ورته مه کوه | ۶۳۵ | د جرم د ثبوت نه بغیر سزا نشته | ۶۳۷ |
| په ټولو حدودو کې سپکه سزا د حد خمر ده | ۶۳۸ | د خمرو د حد تعین د ټولو صحابو رضی الله عنهم په مشوره سره وشو | ۶۳۹ |
| بَاب مَا لَا يدعى على الْمَحْدُود | ۶۴۱ | په چا ګناهګار باندې لعنت ویل ناجائز دي | ۶۴۱ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| سزا خوړونکي مسلمان ته پيغور ورکول جرم دی | ۶۴۲ | په کومه ګناه چې حد جاری کړی شوی وي په هغې باندې به آخرت کې نیول نه وي | ۶۴۴ |
| باب التعزیر | ۶۴۶ | د تعزیر بیان | ۶۴۶ |
| د تعزیر ثبوت | ۶۴۶ | حد او تعزیر کښې فرق | ۶۴۶ |
| په تعزیر کې به څومره کوړې وهلی شي؟ | ۶۴۷ | مجرم په مخ باندې په کور و مه وهئ | ۶۴۹ |
| د بدزبانۍ سزا او تعزیر | ۶۴۹ | په مالِ غنیمت کې د خیانت کونکي تعزیر | ۶۵۱ |
| بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَوَعِيدِ شَارِبِهَا | ۶۵۲ | د خمرو تعریف او د څکلو والا دپاره وعید | ۶۵۲ |
| خمر او د حرامو مشروباتو قسمونه | ۶۵۲ | نور اَلْبِذَهْ او د نورو مشروباتو حکم | ۶۵۳ |
| خمر د کوم څیز نه جوړیږی | ۶۵۵ | کوم سړی چې په دنیا کې شراب څکي هغه به په جنت کې د شرابو نه محروم وي | ۶۵۶ |
| د شرابی په باره کې وعید | ۶۵۷ | د مخلوطو میوو نه د نبیذ جوړولو حکم | ۶۵۸ |
| آیا د شرابو نه سرکه جوړول جائز دي؟ | ۶۵۹ | شراب دوا نه ده بلکه بیماري ده | ۶۶۰ |
| د شرابو څکلو عذاب | ۶۶۱ | نشه راوستونکی څیز په لږ مقدار کې هم حرام دی | ۶۶۲ |
| مسکر څیز یوه لپه هم حرام دی | ۶۶۲ | شراب د کومو څیزونو نه جوړیږي | ۶۶۳ |
| شراب په هیڅ صورت کې قابل د احترام نه دي | ۶۶۳ | د شرابو لوبنې هم مات کړئ | ۶۶۴ |
| د شراب څکلو په هیڅ حال کې هم اجازت نشته دی | ۶۶۷ | د شرابو او د جواری ممانعت | ۶۶۸ |
| شرابی به جنت ته نه داخلیږی | ۶۶۸ | نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګانو بجانو د آلاتو د ماتولو دپاره راغلی وو | ۶۶۹ |
| دري قسمه خلقو باندې جنت حرام دی | ۶۷۰ | شراب څکل د بت پرستئ په شان دی | ۶۷۱ |
| کتاب الإِمَارَةِ وَالْقَضَاء | ۶۷۲ | د امارت او قضا بیان | ۶۷۲ |
| په اسلام کې د اسلامی ریاست تصور | ۶۷۲ | د تشکیل خلافت دري طریقی | ۶۷۳ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| قضاء او قاضی | ۶۷۵ | دامیر اطاعت دالله تعالی او دهغه درسول اطاعت دی | ۶۷۶ |
| د مقرر کړی شوې امیر اطاعت ضروري دی | ۶۷۷ | د غیر شرعی حاکم حکم منل واجب نه دی | ۶۷۸ |
| د مرتکب کفر او تارک صلوة باچا خلاف بغاوت جائز دی | ۶۷۹ | فرمانبرداري د طاقت او استطاعت په قدر | ۶۸۱ |
| د ملت اجتماعیت ماتونکي سړي په باره کې وعید | ۶۸۲ | د تعصب خلاف زورنه | ۶۸۳ |
| د مونځ پریخودونکي حاکم حکم | ۶۸۴ | د حاکم په بې لاره کیدو باندې د هغه رټل د هر مسلمان یوه ذمه واري ده | ۶۸۵ |
| خپل حق پریږدي او د نورو حق به اداء کوي | ۶۸۷ | دامام داطاعت نه د دست بردار کیدو والا په باره کې وعید | ۶۸۸ |
| د بنی اسرائیلو سیاست دانبیاء کرامو علیهم السلام په لاس کې وو | ۶۸۹ | دامارات اسلامیه خلاف بغاوت کولو والا واجب القتل دی | ۶۹۰ |
| چې کوم سړی په امت کې تفرقه پیدا کړي هغه مړ کړئ | ۶۹۱ | د حکومت او امارت طالب مه جوړیږه | ۶۹۳ |
| د حکومت د ملاویدو او تللو مثال | ۶۹۴ | د حکمرانانو انجام | ۶۹۵ |
| د منصب غوښتونکي ته منصب مه ورکوئ | ۶۹۶ | د حکومت او امارت نه انکار کولو والا بهترین کس دی | ۶۹۷ |
| هرسړی د خپلو ماتحتو د اصلاح ذمه دار دی | ۶۹۸ | د خائن او ظالم حاکم په باره کې وعید | ۶۹۹ |
| د رعایاو سره بنیګړه په حاکم باندې لازم ده | ۷۰۰ | بدترین حاکم هغه دی چې په خپلو رعایاو باندې ظلم کوي | ۷۰۱ |
| د نرم خوئی حاکم په حق کې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دعا | ۷۰۲ | د عادل حکمران عظیمه مرتبه | ۷۰۲ |
| د هر حاکم او امیر سره همیشه دوه متضاد طاقتونه وي | ۷۰۳ | د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره د حضرت قیس بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ منصب | ۷۰۴ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| ښځه خپله حاکمه جوړولو والا قوم کله هم نه شي کامیابیدی | ۷۰۵ | دملت په اجتماعی هیئت کې تفرقه اچولو والا دپاره وعید | ۷۰۶ |
| د امیر او والي سپکوالی مه کوئ | ۷۰۷ | دخالق په نافرمانئ کې دمخلوق اطاعت جائز نه دی | ۷۰۸ |
| په قیامت کې به هرباچا ترلی راوستلی شي | ۷۰۸ | دقیامت په ورځ د امراو او حکامو افسوسناک حالت | ۷۰۹ |
| اکثر چودهریان به دوزخ ته ځي | ۷۱۱ | ظالم حاکم سره تعاون حرام دی | ۷۱۱ |
| دحکومت دسربراهانو ناسته ددین اودنیا دتباهئ ذریعه ده | ۷۱۲ | ګمنامی د راحت ذریعه ده او شهرت د آفت ذریعه ده | ۷۱۳ |
| دپټوازیانو او ټول تیکس اخستونکو دپاره وعید | ۷۱۴ | دامام عادل فضیلت | ۷۱۴ |
| دظالم حاکم په مخکښې حق وینا کول دټولو نه بهتر جهاد دی | ۷۱۵ | دحکمرانانو نیک مشیر دهغوی د کامیابئ ذریعه وي | ۷۱۶ |
| د حاکم بدګماني رعیت بربادوي | ۷۱۷ | دحق تلفي کونکي حاکم خلاف توره اوچتولو نه صبر کول بهتر دی | ۷۱۸ |
| دمسلمانانو په خپل مینځ کې په جنګونو کې د شریعت حکم | ۷۱۹ | د عادل امام فضیلت | ۷۱۹ |
| د حکمرانانو دظلم نه دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ یره | ۷۲۰ | بلاوجه نه خو آمین جوړشه او نه حاکم جوړشه | ۷۲۱ |
| د حکومت دړې مرحلې | ۷۲۳ | د حضرت معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حق کې د نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پیشن ګوئی | ۷۲۴ |
| چې څنګه عمل کوئ هغسې باچاهان به مقرریږي | ۷۲۵ | عادل باچا په مخ دزمکې دالله تعالی سوری وي | ۷۲۶ |
| کوم مسلمان لره صرف یرول او دهمکي ورکول هم منع دي | ۷۲۷ | **باب ماعلی الولاة من التیسیر** | ۷۲۹ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| په حاکمانو باندې د نرمۍ واجب کیدو بیان | ۷۲۹ | حاکمانو ته پکار دي چې د خپل رعاو سره نرمي وکړي | ۷۲۹ |
| حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د نبی عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نصیحت | ۷۳۰ | دقیامت په ورځ د وعده ماتونکی رسوائی | ۷۳۰ |
| په حشر کې د غدار سزا | ۷۳۱ | د رعایاو ضروریاتو لره د نه پوره کونکي حکمران متعلق وعید | ۷۳۲ |
| په مصیبت زده رعیت باندې دروازې مه بندوه | ۷۳۳ | د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خپل گورنر په نوم باندې فرمان | ۷۳۴ |
| بَابُ الْعَمَلِ فِي الْقَضَاءِ وَالْخَوْفِ مِنْهُ | ۷۳۶ | د قضاء منصب (وظیفه) سر ته رسول او دهغې نه ډیرید و بیان | ۷۳۶ |
| د غصې په حالت کې دې د چا فیصله ونه کړی شي | ۷۳۶ | قاضی ته د اجتهاد اختیار دی | ۷۳۷ |
| د قضاء منصب یو ابتلاء (ازمازیش) دی | ۷۳۸ | د قاضی جوړیدو خواهش مه کوئ | ۷۳۹ |
| جنتی او دوزخی قاضی | ۷۳۹ | قیاس او اجتهاد برحق عمل دی | ۷۴۰ |
| د خصمین بیان واوره او فیصله وکړه | ۷۴۲ | دقیامت په ورځ د ظالم حاکم انجام | ۷۴۳ |
| دقیامت په ورځ د قاضی افسوسناکه آرزو | ۷۴۴ | د عادل حاکم سره د الله تعالی توفیق وي | ۷۴۴ |
| باب رزق الولاة وهدایاهم | ۷۴۸ | د قاضیانو دوظائفو او تحفو او تحائفو بیان | ۷۴۸ |
| نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مال تقسیموونکی وو | ۷۵۰ | د وخت خلیفه د بیت المال نه وظیفه اخستی شي | ۷۵۱ |
| بغیر د تنخواه نه حاکم څومره خرچه اخستلی شي | ۷۵۳ | د بیت المال د خیانت نه بچ شئ | ۷۵۴ |
| د رشوت په ورکونکي او اخستونکي باندې د نبی علیه السلام لعنت | ۷۵۵ | په حلالو ذرائعو سره گټلی شوی مال ښه مال دی | ۷۵۶ |
| سفارش کونکی دې څه هدیه نه قبلوي | ۷۵۷ | باب الاقضیة والشهادات | ۷۵۹ |

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| دفیصلواو د شهادتونو بیان | ۷۵۹ | د مدعي دعوی د ګواهانو نه بغیر معتبر نده | ۷۵۹ |
| په عدالت کې په دروغه قسم خوړلو باندې وعید | ۷۶۰ | په دورغه قسم سره دچا حق دباوولو والا باندې جنت حرام دی | ۷۶۱ |
| آیا دقاضی فیصله په ظاهر اوباطن کې نافذ کیږي | ۷۶۲ | د فقهاؤ اختلاف | ۷۶۳ |
| د اختلاف محل | ۷۶۳ | په ناحقه دمقدمه بازي کونکي دپاره وعید | ۷۶۵ |
| د یو ګواه سره قسم ملاوول | ۷۶۵ | منکر به قسم خوری خواه فاسق ولې نه وي | ۷۶۷ |
| په چاباندې په دروغه دعوې کولو والا دوزخي دی | ۷۶۸ | بهترین ګواه څوک دی | ۷۶۹ |
| په دروغه د ګواهی ورکولو والا په باره کې پیښن ګوئی | ۷۷۰ | د قسم دپاره دقرعه اندازئ مسئله | ۷۷۱ |
| د ایثار اوصلحې یو صورت | ۷۷۲ | دقابض په حق کې فیصله | ۷۷۳ |
| د دوو مدعیانو په مینځ کې دمتنازع مال تقسیم | ۷۷۴ | د مدعا علیه قسم | ۷۷۶ |
| مدعا علیه ته په هرحال کې د قسم حق حاصل دی | ۷۷۷ | قسم خوړونکي ته د الله تعالی ویره ورکړئ | ۷۷۸ |
| په دروغه قسم خوړل لویه ګناه ده | ۷۷۹ | د قسم حیثیت د مکان اوزمان په وجه سره زیاتیږی | ۷۸۰ |
| په دروغه ګواهی د شرک برابر ده | ۷۸۱ | د کومو خلقو ګواهی معتبر نه ده | ۷۸۲ |
| د کم عقل کلیوال ګواهی په ښاري باندې معتبر نه ده | ۷۸۵ | صفا او واضح بیان تیار کړه او عدالت ته لاړشه | ۷۸۵ |
| ملزم لره قید کول شرعی سزا ده | ۷۸۷ | دواړه خصمین دې د قاضی په مخکې کینولی شي | ۷۸۷ |

# کتاب النِّکَاح

## اَلْفَصْل الأول

قَال الله تعالیٰ: فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ (النساء ۳)

نکاح من وجهٍ عبادت دی او من وجه معامله ده په دې وجه د عباداتو او معاملاتو نه پس ذکر کړی شوه د نکاح لفظ په لغت کې ضم او یو ځای کیدو ته وائي او **ثقب** سُوري ته یې هم وائي په نکاح کې دواړه مفهومه موجود دي شاعر ساحر ابو طیب وائي.

اَنْسَاعُهَا مَنْغُوطَةٌ وَخِفَافُهَا مَنْكُوحَةٌ وَطَرِيقُهَا عَذْرَاءُ

په دې شعر کې د منکوحة لفظ د زخم او سوري په معنی سره ک استعمال شوی دی.

د نکاح اصطلاحي تعریف په عربي الفاظو کې د فقهاء کرامو په نزد داسې دی اَلنِّكَاحُ هُوَ عَقْدٌ وُضِعَ لِتَمْلِيكِ الْمُتْعَةِ بِالْأُنْثٰى قَصْدًا

په پښتو کې د نکاح تعریف داسې کیدی شي، نکاح د هغه عقد او معاهدې نوم دی چې د سړي او ښځې په مینځ کې ځای نیسي چې په هغې سره ددې دواړو ترمینځه د زوجیت تعلقات قائمیږي.

لغوي او اصطلاحي معانې نزدې نزدې دي ځکه چې په عقد کې ضم یو ځای کیدل هم دي او وطي کې ثقب هم دی، د شوافعو په نزد نکاح په عقد کې حقیقت دی او په وطي کې مجاز دی، او د احنافو امامانو په نزد نکاح په وطي کې حقیقت دی او په عقد کې مجاز دی، د بعضو فقهاو په نزد نکاح په وطي او عقد کې مشترک ده په قرینې او مقام سره د یوې معنی تعین او امتیاز راځي.

په دې کې د ټولو فقهاو اتفاق دی چې نکاح یو مسنون شرعي طریقه ده، البته په دې کې اختلاف دی چې آیا نکاح د معاملاتو د قبیلې نه ده او که د عباداتو د قبیلې نه ده؟ د شوافعو په نزد نکاح د معاملاتو د اقسامو نه یو قسم دی چې د باقي عقودو او فسوخو په شان یو رضاکارانه عقد دی همدا وجه ده چې دهغوی په نزد طرفین یعني ښځه او خاوند چې څنګه هم راضي شي دا عقد به مکمل شي د څه مقرر مقدار مهر پابندي نیشته البته د مهر په نوم سره څه نا څه کول پکار دي. (میاں بیوی راضی کیا کرے گا قاضی)

دارنګه دلته دا بحث هم دی چې د شوافعو په نزد (تخلي بالعبادة النافلة) د نکاح نه افضل ده په دې مدعا باندې هغه حضرات دا دلیل پیش کوي چې حضرت یحیی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته الله تعالي (سیدا وحصورا) فرمایلی دی او "حصور" هغه وي چې واده نه کوي او مسلسل په عبادت کې لګیدلی وي. (المرقات ۲۶۱/۶)

امام ابو حنیفه رحمه الله په خپل ژور نظر او د شرعي نقطه نظر په بنیاد باندې فرمائي چې په نکاح باندې د نوع انساني دارومدار دی. دا د انسان د توالد او تناسل ذریعه ده. دا د دوو کسانو په خپل مینځ کې څه ذاتي ترون یا صرف شخصي او طبعي خواهش نه دی بلکه دا عمل د انساني معاشرې

وجود، دهغې تشکیل، دهغې د بقاء او دهغې د ترقی بنیادي ستن ده، همدا وجه ده چې د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د پیدائش نه واخله د شریعت محمدیه پورې په ټولو انساني مذاهبو او شریعتونو کې نکاح مسلسل اررروانه ده هیڅ یو شریعت داسې نه دی راغلی چې ددې عمل نکاح نه خالي پاتې وي، اګر چې په بعضو شریعتونو کې په بعضو عباداتو کې تغیراو بدلون راتلو مګر د شرائطو او ضوابطو بدلیدل پریږده د نفس نکاح وجود په هر مذهب کې وو هیڅ یو آسماني مذهب دا اجازت کله هم نه دی ورکړی چې بغیر د عقد او نکاح او بغیر دمعاهدې او معاقدې نه دې سړی او ښځه جنسي تعلق قائموي.

**نکاح ولې ضروري ده** ؟ په انسان کې دوه قوتونه په ښکاره طور باندې موجود دي چې دهغې په افراط اوتفریط اودهغې په بې قاعدګۍ سره انسان تباکیږي اوبربادکیږي(۱)قوت غضبیه(۲)قوت شهوانیه قوت غضبیه کې افراط او زیاتی تَهَوُّر او ظلم دی او په دې کې تفریط، کمی جُبْنُ او بزدلي ده اوپه دې کې توسّط اواعتدال، شجاعت دی چې شرعًا مطلوب اومقصوددی. قوت شهویة کې افراط، فسق، فجور او زنا ده، او په دې تفریط خمود او جمود او نامردي ده، او ددې وسط عفت دی کوم چې مطلوب او مقصود دی، په نکاح کې د انسان همدا دوه بنیادي قوتونه په قابو کې راتلو سره کنټرولیږي او د انسان په ژوند کې د اعتدال لاره پیدا کیږي، مثلاً د ښځې او خاوند رشته کې یوځای کیدو سره د سړي تعلقاتو کې وسعت پیدا کیږي څوک دده سخر جوړشي، څوک یې خوابني، څوک اوخی (دخورخاوند)اوڅوک اوخی(دښځې ورور)قسماقسم رشتې(خپلولی)پیدا شي او ترلرې لرې پورې رشته خوره شي په دې سره دسړي دغصې موقعې کمې شي،نوپه قوت غضبیه کې اعتدال راځي.

* دارنګه یو کس مثلاً کمزوری دی دهغه منفرد قوت د نشت برابر دی د ښځې او خاوند رشتې جوړیدو سره هغه ته افرادي قوت حاصلیږي د نوې رشتې (خپلوی) د طرفنه دهغه پشتي او مدد نصرت کیږي نو هغه ته حوصله ملاویږي او د بزدلی نه بچ کیږي اوس دا سړی نه ظالم پاتې کیږي او نه مظلوم بلکې ددې په مینځ کې د بهادری په مطلوب مقام باندې قائم پاتې کیږي.

* دارنګه نکاح قوت شهوانیه په اعتدال باندې راولي مثلاً د شهوت پوره کولو دپاره کله صحیح او جائز محل سړې ته ملاو شي نو دفسق اوفجور او حیوانیت نه محفوظ شي، حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله به فرمایل که چیرې د څوارلسو کالو جینی او د پنځلسو کالو هلک د نکاح پابند جوړ کړی شي نو ډیر حده پورې به د زنا وجود ختم شي.

دارنګه ډیرې مودې پورې په عدم نکاح سره چې په مخصوص اندام کې کوم مړاوالی، خمود، جمود او نامردي پیدا کیږي په صحیح نکاح سره سړی ددې مصیبت نه محفوظ پاتې کیږي.

* جالینوس لیکلي دي چې د انسان کوم اندام چې کله د هغه د تخلیقي عمل نه ډیر وخته پورې منع کړی شي نو هغه خپل تخلیقي عمل پریږدي او بیکاره شي، ددینه معلومه شوه چې په نکاح کولو سره سړی په

خپل اصلي صفت اعتدال او عفت باندې قائم پاتې کيږي، نه فسق او فجور او زنا کې اخته کيږي او نه نامردي ښکار کيږي، خلاصه دا چې په نکاح سره جنسي کيفيت کې مکمل سکون راځي.

☆ د نکاح په فوائدو کې يې دا ليکلي دي چې په دې سره د انسان په ارادو او حوصلو کې اوچتوالی راځي، خاوند جوړيدو نه پس سړی سوچ کوي چې خپله يې وکتم او پخپله يې هم وخورم او په ښځه او بچو يې هم اوخوروم په دې سره په انسان کې ښه صفات مثلاً همت، سخاوت، عزيمت او جرات راځي، دارنګه نکاح کولو والا د مجاهدو عادي شي ځکه چې د پوره کورنۍ ژوند د هغه په سر باندې راپريوځي، په دې سره هغه د سستۍ او لاپرواهۍ او د غفلت په شان د بدو صفاتو نه بچ کيږي.

☆ دارنګه نکاح کول د صالح اولاد واحده ذريعه ده، او په صالح اولاد کې د دنيا لوی لوی فوائد موجود دي، دارنګه د سخت مزاج والا سړي کې نرمي راځي، د ښځې د فرمائشونو په اوريدو سره په مزاج کې اعتدال راځي. د قوم نمائنده او مشر چې کله کورته راشي نو ښځه هغه دهنيا او کورکمانو راوړلو دپاره بازارته زغلوي دا ځکه چې او پخپله سامان اخلي او راوړي يې په دې سره دده په ژوند کې عاجزي راځي او غرور او تکبر نه بچ کيږي او د ده روحاني اصلاح کيږي. دارنګه د مرزا مظهر جان جانان رحمه الله د مزاج نه د حال هر و اقف سړی خبر دی چې د هغه څومره نازک طبيعت وو او د هغه ښځه دومره بد اخلاقه وه څومره چې د هغه مزاج نازک وو هغه به فرمايل چې الله تعالی زما د اصلاح دپاره ماله داسې ښځه راکړې ده.

دې بيشماره فائدو ته په کتو سره امام ابوحنيفه رحمه الله به فرمايل چې نکاح کول د نفلي عباداتو نه افضل ده، او د محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت نکاح د حضرت يحيی عَلَيْهِ السَّلَامُ د عدم نکاح نه ډيرې درجې افضل او قابل د عمل ده، که حضرت يحيی عَلَيْهِ السَّلَامُ نکاح نه وې کړې نو محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څو نکاح ګاني کړې وې، که چيرې حضرت يحيي عَلَيْهِ السَّلَامُ د نکاح ترغيب خپل امت ته نه وو ورکړی نو محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بار بار د نکاح ترغيب ورکړی دی کوم چې د رجال قال او رجال حال دپاره لويه لار ده. (المرقات ۲۶۱/۶)

د علماو نه مې اوريدلې دي چې بايزيد بسطامي رحمه الله فرمائيل چې زما مقام د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه اوچت وو مګر هغه زما نه مخکښې لاړو په دې وجه چې هغه واده کړی وو او ما واده نه دی کړی.

**نکاح کله ضروري کيږي** د احنافو په مسلک کې نکاح هغه وخت فرض کيږي هر کله چې د نکاح نه کيد و په صورت کې د جنسي خواهش د وجې نه په زنا کې د مبتلا کيدو يقين وي، او په حق مهر ادا کولو باندې دې قادر وي، همدا مطلب دی د فقهاء کرامو د دې جملې **وعند التوقان فرض** يعني د دوه طاقتونو په موجودګی کې نکاح فرض کيږي. ها کچرې په دې صورت کې په ښځه باندې د ظلم کولو يره وي نو بيا فرض نه ده. نکاح هغه وخت واجبيږي کله چې د جنسي خواهش غلبه وي مګر په زنا کې د پريوتلو يقين نه وي صرف خطره وي او په حق مهر او نان نفقه باندې سړی قادر وي او په ښځه باندې د ظلم څه خطره نه وي. په پاسنو صورتونو کې چې کله اعتدال وي نو بيا نکاح سنت مؤکده شي، د اعتدال مطلب دا دی چې د

جنسي خواهش غلبه نه وي او نان نفقه باندې سړی قادر وي. په عامو وختونو کې نکاح د احنافو په نزد باندې هم مباح ده ځنګه چې د شوافو په نزد نکاح مطلقًا مباح ده، په دې صورت کې شریعت مطهره د نکاح ډیر ترغیب ورکړی دی دایې نیم ایمان ګرځولې ده، او د صالح مستقبل ضامن ئې خودلې ده. نکاح په هغه وخت کې مکروه کیږي کله چې په ښځه باندې د ظلم کولو خطره وي چې مزاج دومره سخت وي چې که چیرې نکاح مې وکړه نو د ظلم خطره ده. نکاح هغه وخت حرامیږي هرکله چې د نکاح کولو نه پس د بد مزاجۍ په وجه په ښځه باندې ظلم کول یقیني وي. د برنو صورتونو په رنړا کې هر سړی د افیصله کولی شي چې په کومو حالاتو کې نکاح کول فرض ده، او په کومو حالاتو کې واجب یا سنت یا مستحب ده، او په کومو حالاتو کې نکاح نه کول ضروري کیږي. (المرقات ۲۶۱/۶)

**د نکاح مستحبات**: په راتلو نکو احادیثو کې د نکاح ټول مستحبات به راشي مګر په ابتداء کې د یو څو مستحباتو ذکر کوم چې په ټولو مباحثو باندې رنړا پریوځي.

☆ مستحب د ادی چې سړی خپله مخطوبه منسوبه ښځه وویني دواړه طرفونو ته ټول احوالو ته وکتلی شي ځکه چې دا د ټول عمر سودا ده.

☆ دا هم مستحب دي چې ښځه په عمر کې کمه وي په شان او شوکت کې کمه وي او په مال کې هم کمه وي دې دپاره چې خاوند نه غلام جوړ نه کړي.

☆ دا هم مستحب دي چې ښځه په ښائست کې د خاوند نه زیاته وي په سنجیدګۍ او حلم او ادب او وقار او تحمل کې د خاوند نه زیاته وي او پیغله وي.

☆ او دا هم مستحب دي چې نکاح ښکاره وي د دواړو طرفونو نه مشران حضرات په کولاو مقام یا مسجد کې د پروګرام په مجلس کې شریک وي.

نکاح په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي چې یکې دواړه صیغې د ماضي وي، یا یوه صیغه د مستقبل یعني حال وي، دوه سړي ګواهان وي، یا یو سړی او دوه ښځې په طور د ګواه وي، ددې نه علاوه نور بیکاره شرطونه دي.

**د نکاح قسمونه**: په عربو کې د جاهلیت په دور کې به اته قسمه نکاح ګانې وې، اسلام په دې کې صرف یو قسم لره جائز وګرځوله او باقي ټول ئې رد کړل. (۱) **عامه نکاح** دا هغه نکاحه وه چې نن صبا په مسلمانانو کې رواج ده. په عربو کې چې به کله دا نکاح په خاندان کې وه نو د جینې پلار به د جینې په حق کې به دا دُعا کوله چې الله تعالی دې تا په دې کورنۍ کې خوشاله ساتي ستا اولاد دې خور شي، الله تعالی دې تاته هلکان درکړي او عزت او عظمت سره دې تا اوساتي،. او کچرې جینې به په بل خاندان کې واده کیده نو پلار به یې دا دُعا کوله چې الله تعالی دې تا خوشاله ساتي ستا او به دې خوږې وي الله تعالی دې تاته هلکان نه درکوي، ځکه چې په دې سره به زمونږ دشمنان زیات شي، ته د خپل خاوند عزت کوه او د سخرګنۍ خدمت کوه او دهغوی د عزیزانو رشته دارانو قدر کوه. دا نکاح په عربو کې د عامو شریفانو نکاح وه او د

دې نوم نکاح الشرفاء هم و (۲) **نکاحِ استبضاع** ښځه به چې کله د حیض نه پاکه شوه نو خاوند به ویل چې فلاني سردار ته لاړه شه جماع ورسره وکړه دې دپاره چې شریف بهادر بچی پیدا شي ښځې به داسې کار کوه او د حمل ښکاره کیدو پورې به ئې د خپل خاوند سره جماع نه کوله. (۳) **نکاح د تعین او نامزدګی** ښځې به نوبت په نوبت د لسو سړو سره جماع کوله کله چې به هلک پیدا شو نو دې ښځې به هغه ټول راغونډل هیڅ یو به د راتلو نه انکار نه کولو بیا به دې ښځې هغوی ته وویل چې تاسو ما سره څه کړې دي هغه تاسو ته معلوم دي اې فلانیه دا هلک ستا نه دی هغه سړي به ددې نه انکار نه شو کولی او هغه هلک به پدې نامزدګی او تعین سره دهغه سړي کیدو. (۴) **نکاحِ الرایات** دا به د بازاري او فاحشو ښځو نکاح وه په دوي کې به هرې ښځې د خپل کور دپاسه جهنډه لګولې وه او کوم سړې چې به زنا کول غوښتل نو هغه ته به معلومه وه هغه به ورته راتلو، کله به چې بچی پیدا شو نو دا خلق به قیافه شناس لرې راغلل نو هغه به کتلو سره فیصله کوله چې دا ماشوم د فلاني سړي په شان دی لهذا همدا د هغه بچی دی. (۵) **نکاحِ الخدن** دا به د یارانې پټه نکاح وه په دې کې به د دوستۍ او یارانې په طور په پټه زنا وه اسلام دې ته ((**ولا متخذات اخدان**))(سورة النساء ۲۵) وئیلو سره رد فرمائیلې ده.(الکاشف ۲۳۵/۶)

(۶) **نکاحِ متعه**: دا به وقتي سازشي نکاح وه (یعني څه وخت دپاره) چې کوم سړی به کوم ښاریا کلي ته تلو نو هلته د پاتې کیدو او سامان سمبالولو او د خپل جنسي خواهش پوره کولو په غرض به ئې بغیر د څه ګواه نه په څه پیسو ورکولو باندې به یې کومې ښځې سره نکاح کوله او هغې سره به پاتې کیدو، نن صباد شیعه ګانو او د روافضو په نزد د دې پوره انتظام او سهولیات موجود دي اسلام دې لره ناجائزه ګرځوله.

(۷) **نکاحِ البدل** د جاهلیت په زمانه به یو کس بل ته وویل چې تا زما دپاره د خپلې ښځې نه جدا شه زه به ستا دپاره د خپلې ښځې نه جدا شم دا به دهغوی په نزد د نکاح یو صورت وو، اسلام دا منع کړه، مګر نن صبا په بې غیرتو دنیادارو کې دا رواج په وقتي طور باندې په نائټ کلبونو کې کیږي.

(۸) **نکاحِ شغار** دا د دوه جینکو د تبادلې په صورت کې ده چې په مینځ کې به یې مهر نه وو مثلاً یو کس به بل کس ته وویل چې دا زما لور ده دا ته په خپله نکاح کې د خپلې لور په عوض کې قبوله کړه هغه به په جواب کې وویل چې ته زما لور د خپلې لور په عوض کې قبوله کړه او د دوی دواړو ترمینځه به مهر نه وو. شغر او شغار د سپي د متیازو کولو په وخت کې خپې او چتولو ته وایې، ګویا دلته هم یو سړي بل سړي ته وویل چې زه ستا دلور او ته زما دلور خپه او چته کړه او همدا زمونږ د دواړو مهر دی اسلام دا منع کړه.(بحواله رسوم جاهلیت)

# ځوانانو ته د نکاح کولو حکم

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا مَعْشَرَ |
| حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل .. اى ټولګيه |
| الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ |
| د ځوانانو! په تاسو کې چې څوک د ښځې د حقوقو (د کوروالي، د ښځې بچو د نان نفقې وغيره) |
| فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ |
| طاقت لري، هغه له پکار دی چې هغه نکاح وکړي، ځکه چې نکاح کول نظر ډير ښکته کوي او شرم ګاه |
| وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ |
| ډيره محفوظ کوي او کوم سړي چه د نکاح (جماع) د لوازماتو طاقت نه لري هغه له پکار دی چې هغه |
| فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| روژې ونيسي ځکه چې روژه نيول هغه ته د خصي کولو فائده ورکوي. |

صَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهم صل عليه وعلي اله واصحابه اجمعين.

**توضيح** : **يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ**: معشر هغه جماعت ته ويلى کيږي چې په څه خاص وصف باندې مشتمل وي مثلاً معشرالرجال د سړو جماعت، معشرالنساء د ښځو جماعت، معشر الجن د پيريانو جماعت، معشرالشيوخ د بوډاګانو جماعت، او معشرالشباب د ځوانانو جماعت ته ويلى کيږي.

شباب: جمع ده ددې مفرد شاب دی شبان او شببة هم جمع راځي ځوان ته وائي، د ځوانۍ آخري عمر او آخري حد کې د فقهاء کرامو اختلاف دی: د شوافعو حضراتو په نزد د ځوانۍ آخري عمر ديرش کاله دی، د احنافو امامانو په نزد يو سړي ته د څلويښتو کالو پورې ځوان ويلى شي او د بلوغت د وخت نه ځواني شروع کيږي.

**الباءة** : اي مؤنة الباءة، دا کلمه په څلورو لغتونو باندې ويلى شي (۱) **بَآءَةٌ**: په دې کې مد هم دی او تا هم ده (۲) **بَآءٌ**: په دې کې مد خو شته مګر په آخر کې يې تاء نشته دی (۳) **باهة**: په دې کې مد نشته مګر په

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۱۲ رقم الحديث ٥٠٦٦ ومسلم في ۲/۱۱۰۱۸ رقم الحديث (۱۰۰،۱٤) و أبوداؤد في السنن ۲/٥۳۸ رقم الحديث ۲۰۳٦، والترمذي في ۳/۳۹۲ رقم الحديث ۱٤٤٥،والنسائي ٤/۱۷۰ رقم الحديث ۲۲٤۲،وابن ماجه ۱/٥۹۲ رقم الحديث ۱۸٤٥ والدارمي في ۲/۱۷۷ رقم الحديث ۲۱٦٥، وأحمد في المسند ۱/٤۳۲.

آخر کې یې یوه هاء اوتاءده.(۴) **باءة**: په دې کې مد نشته مګر په آخر کې یې هاء موجوده ده. باه اور مباهات د جماع او د نکاح په معنی سره دی، خو په اصل کې د همزې سره مباءة د مکان (ځای) ورکولو په معني سره دی ځکه چې کوم کس نکاح کوي نو هغه ښځې ته ځای او مکان ورکوي، باه قوت باه ته هم ویلی شي، اوس دا کتل دي چې دلته په حدیث کې د دې لفظ څه معنی ده او څه مراد دی.(المرقات ۲۶۲/۶)

د احادیثو شارحینو کې علامه طیبی رحمه الله فرمایي چې د دې لفظ نه جماع او نکاح دواړه مراد دي، او جماع مراد اخستل راجح دی خو په دې صورت کې به مضاف محذوف وي، یعنې مؤنة الجماع واسباب الجماع، د دې محذوف په دې وجه ضرورت دی چې روستو ومن لم یستطع جملې راغلې ده د دې عطف په "باءة" باندې صحیح نه دی ځکه چې معنی به یې داشي چې کوم سړي چې په تاسو کې د جماع طاقت نه لري نو هغه دې روژې ونیسي دا معنی خو غلطه ده ځکه چې جماع باندې قادر نه دی نو هغه ته د شهوت د کنټرول کولو دپاره د روژې نیولو څه ضرورت دی هغه خو مخکې نه په جماع قادر نه د ها که چیرې د "باءة" په لفظ سره نکاح مراد شي نو بیا به عطف صحیح شي.(الکاشف ۲۳۵/۶ المرقات ۲۶۲/۶)

د مسلم شریف شارح علامه محمدبن خلیفه متوفی ۸۲۸هجری د مسلم شریف په شرحه اُبِيّ کې فرمایي چې الباءة د نکاح په معنی سره دی د جماع معنی ترې مراد اخستل غلط دي ځکه چې په دې صورت کې ومن لم یستطع مفهوم به غلط شی، یعنې دچا چې د جماع طاقت نه وي هغه دې روژې ونیسي دا غلط دی د دې وجې نه نکاح مراد ده، د علامه اُبِي تشریح زیاته بهتره او اسانه ده.

**اغض**: سترګې لاندې ساتلو په معنی سره دی یعنې په نکاح کولو سره انسان د غلط نظربازئ نه بچ شی.(المرقات ۲۶۲/۶)

**واحصن للفرج**: د شرم ګاه د حفاظت او د سړي دپاکدامن کیدو په معنی سره دی، په نکاح کولو سره سړی د حرام کاری نه محفوظ کیږی. دلته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نکاح دوه فائدې خودلې دي: یو داچه په نکاح سره سړی د غلط نظربازی نه بچ کیږي، او دویم دا چې د حرام کاری نه بچ کیږي.(المرقات ۲۶۲/۶)

**ومن لم یستطع**: د دې جملې عطف د دې نه مخکې من استطاع جمله باندې دی او **باءة** د نکاح په معنی دی نو بیا به معنی صحیح شي، او که چیرې باءة د جماع په معنی واغستلی شي لکه څنګه چې د علامه طیبي رایه ده، نو بیا به مضاف محذوف کولی شي، د دې دپاره چې معنی صحیح شي

يعني مؤنة الباءة أي أسباب الجماع. (المرقات ۲۶۲/۶)

وجاء: دخصيتينو ټکولو ته وجاء وايي، ددې نه مراد شهوت ماتول دي ځکه چې خصيتين دشهوت مرکز دی. (المرقات ۶۲۶/۶)

**فعليه بالصوم**: على د لزوم او ركوب په مفهوم سره استعمال شوی دی چې په هغې سره دېته اشاره شوې ده چې په يوې يا دوه روژو سره دا مقصد نه حاصليږي بلکه په مسلسل روژو نيولو سره به دامقصد حاصليږي، ځکه په روژو نيولو دانسان په رګونو کښې د وينې منډې وهل بند شي او شيطان ددې وينې په لارو باندې داخليږی نو دهغه ننوتل په بدن باندې بند شي چې په هغې سره دمستۍ لارې بندې شي، کنه نو په روژو سره سړی نه خصي کيږي صرف شهوت کنټرول شي.

د ځناورو دخصي کولو په باره کې شوافع حضرات فرمائی چې د ماکول اللحم وړو ځاروو خصي کول جائز دي د لويو ځاروو خصی کول جائز نه دي. او د حرامو ځناورو خصي کول مطلقًا جائز دي.

د احنافو په نزد د ځناورو دخصي کولو ذکر خو شته مګر زيات تفصيل نشته دی.

## دتبتل ممانعت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: رَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ ابْنِ مَظْعُونٍ

او حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چه رسول کريم ﷺ منع کړی وو عثمان بن معظمون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

التَّبَتُّلَ وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَا خْتَصَيْنَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دتبتل (يعني دنکاح د ترک کولو) نه که چيرې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دتبتل اجازت ورکولی نو مونږ به خصي کيدو.

**توضيح**: **التبتل**: د ښځو نه انقطاع او نکاح نه کولو ته تبتل وايي. (المرقات ۶۲۶/۶)

امرء القيس وايي:

تضئ الظلام بالعشى كأنها منارة ممسى راهب متبتل

محبوبه دشپې تياره داسې روښانه کوي څنګه چې يو راهب د دنيا په پريخودلو سره د رنړا مناره وي.

حضرت مريم ته بتول د دنيا پريخودلو په وجه سره وايي، او حضرت فاطمه رضی الله عنها ته بتول ياخو په دې وجه وايي چې هغوی دنيا پريخودلې وه، يا په دې وجه چې هغه د امت دښځو نه په

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۱۷ رقم الحديث ۵۰۷۳ ومسلم في ۲/۱۰۲۰ رقم الحديث (۱۴۵۲.۶) والترمذي في السنن ۳/۳۹۴ رقم الحديث ۱۰۸۳ والنسائي في ۶/۵۸ رقم الحديث ۳۲۱۳ وابن ماجه ۲/۵۹۳ رقم الحديث ۱۸۴۸ والدارمي في ۲/۱۷۸ رقم الحديث ۲۱۶۷ وأحمد في المسند ۱/۱۷۵

حسب او نسب، د دین او درجې په اعتبار سره ځانله او ممتاز وه. تبتل رهبانیت دی کوم چې د نصاراو په نزد باندې اعلی عبادت دی دهغوی په نزد د دنیا لذتونه او د ښځو سره نکاح او اختلاط نه ځان ساتل تقوی ده. اګر چې پخپله راهب په نورو ټولو ګناهونو کې ککړ وي چا څه ښه ویلي دي.

وَالْوَطْ مِنْ رَاهِبٍ يَدَّعِي بِأَنَّ النِّسَاءَ عَلَيْهِ حَرَام

خو اسلام د نسل پیدا کول، په کثرت سره اولاد او په ښځو بچوکې اوسیدل افضل ګرځولی دی، بایزید بسطامي رحمه الله شاید فرمایلي دي چې زما درجه دامام احمدبن حنبل نه لوړه وه خو [redacted] زما نه په مقام کې مخکې لاړلو ځکه چې دهغه بچي او ښځه وه، او زه مجرد وم.

بهرحال په نکاح کې دامت دډیرو الي راز پټ دی اوپه دې سره دبقاء جهاد دپاره افراد مهیا کیږی چې ډیر ضروري دی، حضرت عثمان بن مظعون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ترک نکاح دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه مطالبه کړې وه چې دښځو او بچو دجګړو او لانجو نه ځان فارغولو سره به عبادت کوم، خو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه مطالبه مسترد کړه چې په دغه وجه باندې حضرت سعدبن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې که چیرې تاسو حضرت عثمان ته دترک نکاح اجازت ورکړی وی نو مونږ به په تبتل کې مخکې تلو سره خپل ځان خصي کړی وو، دې دپارهٔ چې دشهوت ماده ختمه شی. حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا کلام دمبالغې په طور باندې وفرمایلو حقیقةً د خصي کولو اراده یې نه وه نه یې دا مقصد وو، ځکه اسلام کې دا ناجائزدی.

## د دینداره ښځې سره نکاح ګول بهتر دي

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې یوې ښځې سره د څلورو

"تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا

څیزونو په وجه سره نکاح کولې شی دهغې دمال په وجه او حسب په وجه سره د هغې حسن او

وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تربت يداك" (صَحِيح)[1]

جمال، او دهغې دینداری، لهذا دینداره ښځه خپل مطلوب اوګرځوئ ستا لاسونه دې په خاوره ککړشی.

**توضیح**: ولحسبها: دسړي دخپل ذات او دپلار نیکه خاندان کې شرعًا یا عرفًا چې کوم ښه صفات

---

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۳۲ رقم الحديث ۵۰۹۰ ومسلم في ۲/۱۰۸۶ رقم الحديث(۱۴۶۶۰۵۳) وابوداؤد في السنن ۲/۵۳۹ رقم الحديث۲۰۴۷ والنسائي في ۶/۶۸ رقم الحديث۳۲۳۰ وابن ماجه في ۱/۵۹۷ رقم الحديث۱۸۵۸ والدارمي في ۲/۱۷۹ رقم الحديث ۲۱۷۰ وأحمد في المسند۲/۴۲۸

وي دهغې نوم حسب نسب دی، دحسب لفظ بالخصوص دښځې دخاندان نسب باره کې استعمالیږي، دخاندان نسبي رفعت او د عظمت اثرپه اولاد باندې پریوځي، دانسان دا فطري خواهش وي چې هغه داسې ښځې سره نکاح وکړي چې دخاندان په اعتبارسره اوچته وي او باعزته اوباحیثیته وي چې دهغه په اولادکې دا خصوصیات راشي، بعضې خلق غواړي چې دهغه نکاح د ښې مالدارې ښځې سره اوشي. ډیر زیات خلق داخواهش هم کوي چې دهغه نکاح حسینې او جمیلې ښځې سره وشي، څه دینداره خلق داغواړي چې دهغه ښځه دې نیکه اودینداره اوشریفه وي۔

خلاصه داچه عام طورباندې خلق دنکاح په باره کې ددې څلورو څیزونو خاص خیال ساتي، اسلام دا ترجیحات مسترد نه کړل بلکې په هغې کې یې د دینداری او نیکی صفت لره په نورو صفتونو باندې ترجیح ورکړه، شریعت دینداری ته په دې وجه ترجیح ورکړه چې په دې کې دانسان د دنیا ښیګړه ده اوپه آخرت کې هم ښیګړه ده، ځکه چې دینداری کې بقاء ده، باقی دري څیزونه عارضي اوزوال پذیر دي، لهذا د دین او دیانت او دعقل والو ته پکاردي چې دهغوی په مخکې دین په تولو مقدم وي کوم چې نبی علیه السلام دهغوی دپاره منتخب کړی دی. (المرقات ۶۲۶/۶)

**فاظفر** : ظفر هغه کامیابی ته وایې چې دکامیابی آخري درجه او دخوښی آخري منزل وي، چې په هغې دفوائد جلیلو حصول وي، دا امر ارشادي دی، دین ته اولیت ورکړی شو دباقی ترجیحاتو نفې مقصود نه ده. (المرقات ۶۲۶/۶)

**تربت یداک**: دا کلمه واضع دبددعائي دپاره وضع کړې ده خوعرب یې په خپلو محاوراتو کې په نورو معانو سره هم استعمالوي، مثلا د انکار دپاره، د تنبیه دپاره، د چا په یو کارباندې راوچتولو دپاره، او دتعجب دپاره هم استعمالیږی، دلته بد دعائي مقصود نه ده بلکې راوچتول مقصود دي چې هغې ته ترغیب هم ویلی شي په پښتو کې ددې دپاره داسې تعبیر مناسب دی: تاواني به شي که داسې دې ونه کړل، په عربي کې پوره جمله داسې جوړیږي **تربت یداک ان لم تفعل ما آمرتک**. (الکاشف ۲۳۷/۶)

## نیک بخته ښځه په دنیا کښې بهترین دولت دی

﴿۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدُّنْيَا كُلُّهَا

اوحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه وایې چې د الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل پوره دنیا

مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

یوه متاع ده او د دنیا بهترین متاع نیک بخته ښځه ده. (مسلم)

**توضیح**: متاع: د دنیا هغه قلیل او کثیر ساز او سامان دی دکوم نه چې فائده اوچتولی شي هغې ته متاع ویلی شي، په مختصر الفاظو کښې داسې ووایه چې متاع هغه څیز دی په کوم سره چې لږه شان عارضی فائده اوچتولی شي او بیا ختمه شي. (الکاشف ۲۳۷/۶)

امام لغت شیخ اصمعي رحمه الله په باره کې ویلی شي چې د دې دریځ شیزونو یعني متاع، تبارک، او د رقیم د حقیقت معلومولو تالاش وو چې ددې دریو الفاظو اصلي مفهوم او حقیقت څه دی نو هغه کلو ته طرفته اووتلو دې دپاره چې دصحرانشینو عرب فصحاو نه ددې حقیقت معلوم کړي، هرکله چې هغه په کلو کې یوې علاقې ته ورسیدلو نو هغوی وکتل چې په هغه ځای کې یوه جینۍ لوښي وینځي چې دهغې سره د لوښو وینځلو دپاره یوه خیرنه او غوړوالي نه ګنده کپړه وه، اصمعی دامنظر کتلو چې یو سپی راغلو او همدا ګنده کپړه یې وتختوله او دغر څوکې ته وتختیدلو. دې جینۍ دفریاد په انداز کې خپلې مور ته داسې آواز اوکړو **يَاأَمَّاهْ جَاءَ الرَّقِيمُ وَاَاخَذَ الْمَتَاعَ وَتَبَارَكَ إِلَى الْجَبَلِ** اصمعي چې کله دا درېواړه مقاصد په یوه جمله کې واوریدل نو ډیر خوشحاله شو.

مطلب دا دی چه دمتاع حقیقت دا شوړې او د لوښو وینځلو ګنده کپړې ته وایې. په سورة کهف کې چې دکوم رقیم لفظ راغلی دی ددښه مراد سپی دی، او په قرآن کې چرته چې دتبارک لفظ راغلی دی دهغې نه دالله تعالی اوچتوالی او عظمت مراددی، د نیکې ښځې باره کې په دې وجه دمتا لفظ استعمال شوی دی چې دا مفتوکښې چوکیداره ده د خاوند خدمتګاره ده دښه او وفادار نسل پیداکونکې ده او غمرازه ده، خیرخواه مشوره کارده، اوهمدا بهترین روزګاردی.

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُ نِسَاءٍ

اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل بهترینې ښځې چه په

رکبن الْإِبِل صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ

اوښانو سوریدو والا ښځو کښې دقریشو دي چه په وړو ماشومانو بچوباندې شفیقې وي اودخپل

وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

خاوند اودهغه دمال کوم چې دهغې په قبضه کې وی ډیر زیات حفاظت کوي. (بخاری ومسلم)

---

(1) اخرجه في صحيحه ۲/۱۰۹۰ رقم الحديث(۱۴۶۸۰۶۴) والنسائي في ۶/۱۹۵۹ رقم الحديث۳۲۳۲ واحمد في المسند ۲/۱۶۸

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۲۵ رقم الحديث۵۰۸۲ ومسلم في (۴/۱۹۵۹) واحمد في المسند ۲/۲۶۹۰

**توضیح** : رکبن الابل : ددې نه دعربو ښځې مراد دي ځکه په اوښانو باندې سوریدل دعربو دښځو عادت او دهغوی خصوصیت دی دا دهغوی تعریف دی. (المرقات ۲۶۶/۶)

**احناه علی ولد**: حنا یحنو دنصر ینصر نه دشفقت په معنی سره دی، ولدیې نکر راوړی دی دې دپاره چې عموم راشي، چې دچا کوم ولد وي که خپل وي یا دسابقه ښځې نه وي چې دهغې په تربیت کې وي په هر یو باندې شفقت کونکې دي. (المرقات ۲۶۶/۶)

حانه هغه ښځه چې یتیم بچی وپالي کنه نو حانه نه ده، یا که یتیمان پریږدي نکاح وکړي نو بیا هم حانه نه ده، په دې حدیث کې عرب او بالخصوص دقریشو دښځو تعریف دی.

اوس سوال دلته دادی چې احناه کې ضمیر د مذکر ولې راوړلی شو هرکله چې ضمیر په ظاهر کې ښځو ته راجع کیږي؟ ددې جواب دادی چې دمذکرضمیر الصنف طرف ته راجع کیږي مراد هذالصنف دی، یا **من یرکب الابل** طرفته راجع کیږي چې دکلام په مفهوم کې موجود دی هم دغه شان د ارعاه ضمیر مور طرفته راجع کیږي چې دکلام په مفهوم کې دی. (المرقات ۲۶۶/۶)

| |
|---|
| ﴿۶﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَرَكْتُ |
| او حضرت اسامه بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه مانه ده پریخې |
| بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ من النِّسَاء» متفق علیه.(۱) |
| روستو یوه فتنه چې دسړو په حق کې د ښځو دفتنې نه زیاته ضرر رسونکې وي. (بخاری ومسلم) |

**توضیح** : **فتنة اضر**: ښځو لره که چیرې دهغوی جبلي او تخلیقي فطرت، یا څه ظاهري شریعت قابو نه کړي اودا فطري اوشرعي څیزونه ددې اصلاح ونه کړي نو ښځې عین فساد دی او دسړو په حق کې دا دټولو نه لویه ضرر رسونکې فتنه ده، اول خو په دې وجه چې په عام طور باندې دسړو طبیعتونه ښځو طرفته مائل وي، دویم دا چې سړي زیاتر د ښځو د خواهشات پوره کولو پابند وي او دښځې ټوله سرمایه داده چې هغه سړی د دنیا زیب او زینت طرفته مائله کوي او د دنیا په محبت کیې ګرفتاروي، او د دنیا محبت د هرې بدې اوفتنې جړه ده. لهذا ښځه دفساد ذریعه نه ده بلکه عین فساد دی. (المرقات ۲۶۶،۲۶۷/۶)

په دنیاکې دټولو نه اول قتل قابیل دښځې د وجې نه کړی وو او هغه یې هم خپل رور وژلی وو، په قرآن کریم کې الله تعالی (**زین للناس حب الشهوات من النساء**) (سورة ال عمران ۱۴) الخ کې یې

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۳۷ رقم الحديث ۵۰۹۶ ومسلم في ۴/۲۰۹۷ رقم الحديث (۲۷۴۰.۹) والترمذي في السنن ۵/۹۵ رقم الحديث ۲۷۸۰ وابن ماجه في ۲/۱۳۲۵ رقم الحديث ۳۹۹۸ وأحمد في المسند ۵/۲۰۰

ښځې دنفس د شهواتو ګرځولو سره په ټولو شهواتو کښې اول ذکر کړې. خلاصه دا چې ښځه که چيرې نيکه وي نو دحوا لور ده، او حُوره ده، او که مفسده وي نو د شيطان ترورده. نبی عَلَيْهِ السَّلَام د ښځو دې فتنې سره د بعدی لګولو سره اشاره وفرمايله چې ددوی فتنه به زما د انتقال نه پس ډيره وي.

﴿۷﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِنَّ الدُّنْيَا

او حضرت ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دنيا خوږه او شنه

حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ

(نظر لره جذب کونکې) ده او چونکې الله تعالی تاسو ددې دنيا خليفه جوړ کړي يې په دې وجه هروخت ګوري

فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ

چې ته په دې دنيا کې څنګه عمل کوې، لهذا د دنيا نه بچ شئ او د ښځو (د فتنې) نه بچ شئ ځکه د بنی اسرائيلو

كَانَتْ فِي النِّسَاءِ». رَوَاهُ مُسلم.

د تباهی ذريعه د ټولو نه اول فتنه د ښځو په صورت کې وه. (مسلم)[1]

**توضيح : حلوة خضرة** : يعنې خوږه شنه جاذبِ نظر ده، خوږ څيز لره طبيعت غواړي او شين څيز هم په نظر کې تاويږي او راتاويږي دغه شان دنيا هم په دواړو سترګو کې ډيره ښه لګي. (المرقات ۲۶۷/۶) **والله مستخلفكم** : يعنې الله تعالی تاسو په دې دنيا کې خپل خليفه ګان جوړ کړي يې تاسو خليفه ګان يې، اصل مالک الله تعالی دی ته صرف نائب او د وکيل په طور باندې په دې کې اوسيږې. (المرقات ۲۶۷/۶)

**فاتقوا الدنيا** : يعنې په دنيا باندې د دوکې يو جال دی په دې کې ګيرنه شي دنيا فاني او ناپائداره ده خپله بيړه په دې خطرناک سمندر کې غرقه نه کړئ. (المرقات ۲۶۷/۶)

| | |
|---|---|
| يار ناپائيدار دوست مدار | دوستی رانه شائيد ايں غدار |
| دنيا تخادعني كأني لستُ اعرف حالها | مدت الى يمينها فقطعتها وشمالها |
| منع الاله حرامها وانا اجتنبت حلالها | فرأيتها محتاجة فوهبت جملتها لها |

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۹۸ رقم الحديث(۹۹:۲۷۴۲) والترمذي في السنن ۴/۴۱۹ رقم الحديث۲۱۹۱ وابن ماجه في ۲/۱۳۲۵ رقم الحديث ۴۰۰۰ واحمد في المسند ۳/۲۲ .

او دښځو دمکر او فریب نه بچ شئ دا ډیرې مکارې، دوکه بازې، او وران کارې دي ((ان کید ... عظیم)) (المرقات ۲۶۷/۶) دهغوی کردار دی، تا به هلاک کړي.

**فان اول فتنة بنی اسرائیل** : په دې حدیث کې په بنی اسرائیلوباندې د ښځو دوجې نه چې کومه فتنه راغلې وه ددې مصداق دوه واقعې دي. (المرقات ۲۶۷/۶)

**حکایت** :(۱) حضرت موسی علیه السلام بنی اسرائیل دځان سره واخستل دجهاد په غرض سره دشام علاقې جبارون (د عمالقو وغیره) سره دمقابلې دپاره ووتل، په دې قوم کې دبلعم بن باعورا په نوم باندې یو مستجاب الدعوات سړی اوسیدو قوم هغه ته وویل چې دموسی علیه السلام خلاف بددعائي وکړه دې دپاره چې د خپلو لښکرو سره واپس لاړشي، هغه وویل چې هغه پیغمبر دی که بددعائي وکړم نو هلاک به شم. هغه خلقو دښځو اوتحفو په ذریعې سره هغه ته په بددعائي کولو باندې تیار کړو، بلعم په خپل خر باندې سوریدو سره د بد دعائي دپاره ووتلو خر ورته ګویا کیدو سره وویل! اې نادانه بلعمه! په تادې افسوس وي چرته روان یې دخپل ځان سره ما هم هلاکوې؟ ته ما مخکې بوځې او فرشتې ما شاته راکاړې، بلعم دخر نه راکوز شو او پیدل روان شو او لاړلو په یو مقام باندې یې بد دعائي وکړه بد دعائي التې شوه اوس هغه خپل قوم ته بددعائي کوي قوم بلعم ته وویلل چې داڅه کوې؟ هغه ورته وویل چې بې اختیاره مې دژبې نه ستاسو دپاره بددعائي اوځی، په دې سره دبلعم بد دعائي بهر راوتله او په سینه یې زوړنده شوه. بلعم قوم ته وویل چې زما خو دنیا او آخرت تباه شول اوس تاسو دموسی اودهغه د لښکر د منع کولو دپاره خپلې ښائسته ښځې سینګارکړې لښکرته دننه ورپریږدئ او ښځو ته ووائي چې دهر سپاهي هر خواهش پوره کړي. نودا ښځې لاړلې او د اسلام په لښکر کې فتنه خورول شروع کړل خوچا هم هغوی طرفته ته نه کتل خو زمزم نوم یو سردار د یوې ښځې سره زنا وکړه چې دهغې په نتیجه کې په بنی اسرائیلو کښې یوه وبا خوره شوه چې په هغې اویا زره فوجیان مړه شول. حضرت موسی علیه السلام ددې ګناه دتلاش دپاره سړي ولیږل، یو سړي زمزم او د هغه سره پردې ښځه قتل کړه نوبیا عذاب ختم شو، په دې حدیث کې دې فتنې طرفته اشاره ده. (المرقات ۲۶۷/۶)

**حکایت** :(۲) دویمه قصه داسې راپیښه شوه چې په بنی اسرائیلوکې عامیل نوم یو سړي خپل تره او د تزه ځوی په دې وجه مړه کړل چې دهغه لور یا د ښځې سره نکاح وکړي، په سورت بقره کې هغه اوږده قصه ددې واقعې متعلق ده، کیدی شي په دې حدیث کې دې قصې طرفته اشاره وي. (المرقات ۲۶۷/۶)

## په درې څيزونو کې نحوست

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الشُّؤْمُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالْفَرَسِ».

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په ښځه، کور او اس کې نحوست وي

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ: "الشُّؤْمُ فِي ثَلَاثَةٍ: فِي الْمَرْأَةِ

او په يو روايت کې داسې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل نحوست په درې څيزونو کې وي

والمسكن وَالدَّابَّةِ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

مکان کې، اوځناور وکې. (بخاری ومسلم)

**توضيح**: **الشؤم**: شوم بدفالي نحوست او بې برکتي ته وايي دا د **يُمن** برکت ضد دی. (المرقات ۲۶۹/۶)

**سوال**: دا حديث دهغه ټولو احاديثو معارض دی په کوم کې چې د بدفالي، نحوست نفی شوې ده، بلکې **الطيرة شرک** فرمايلی شوې دي.؟

**اولنی جواب**: د دې سوال څو جوابونه دي: اول جواب دا دی چې دا کلام د فرض اوتقدير په طور دی چې فرض کړه که چيرې نحوست وی نو په دې درې څيزونو کې به وی مګر نحوست نشته دی په دې وجه په دې دريو کې هم نشته دی.

**دويم جواب**: دا چه پخپله ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې نحوست تشريح اوتوضيح کې فرمايي چې د ښځې نحوست دادی چې بداخلاقه وي، او د اس نحوست دا دی چې سرکشه وي سوريدو ته ځان نه پريږدي، د کور نحوست دادی چې تنګ وي. نو دلته په حديث کې بدفالي نه بلکې بدي مراد ده. بعضو ويلي دي چې منحوسه هغه ښځه ده چې شنډه وي، دکور نحوست دادی چه د دې ګاونډيان بيکاره وي، او د اس نحوست دادی چې په دې جهاد ونه کړی شي.

**دريم جواب**: دادی چې واقعي الله تعالی په درې څيزونو کې د نحوست خاصيت ايخودلی دی دا تاثير بالخاصه دی په دې وجه دا درې څيزونه د بدفالي او د طيرې دعامو احاديثو نه مستثنی دي.

**ومن عام الا وقد خص عنه البعض.** (المرقات ۲۶۹/۶)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۳۷ رقم الحديث۵۹۳ ومسلم في ۴/۱۷۴۵ رقم الحديث(۲۲۲۵.۱۱۵) وأبوداؤد في السنن ۴/۲۳۷ رقم الحديث۳۹۲۲ والترمذي في ۵/۱۱۶ رقم الحديث۲۸۲۴ والنسائي في ۶/۲۲۰ رقم الحديث۳۵۶۹ ومالک في المؤطا ۲/۹۷۲ رقم الحديث۲۲ من كتاب الاستئذان.

## دخپلې دنکاح دپاره جینئ ښځې ته ترجیح ورکړه

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَلَمَّا قَفَلْنَا كُنَّا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو جهاد کې مونږ د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره یوځای وو نو مونږ (جهاد نه) واپس شو

قَرِيبًا مِنَ الْمَدِينَةِ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ

او مدینې ته نزدې ورسیدو نو ما عرض وکړو چې ای د الله رسوله! زما نوی واده شوې دی (که ستا حکم وي

بعرس قَالَ: «تَزَوَّجْتَ؟» قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ:

نوزه به مخکې لاړشم دې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې تانکاح کړې ده؟ ما عرض وکړو اوجی! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو

«أَبِكْرٌ أَمْ ثَيِّبٌ؟» قُلْتُ: بَلْ ثَيِّبٌ قَالَ: «فَهَلَّا بِكْرًا

چه جینئ سره که کونډې سره؟ ما عرض اوکړو کوندې سره نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل چه تا جینی سره ولې ونه کړه

تلاعبها وتلاعبك». فَلَمَّا قَدِمْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ:

دې دپاره چې تاهغې سره او هغې د تا سره لوبې کولې مدینې ته مونږ ټول خپلو کورونو ته د تللو اراده اراده وکړه نبی

«أَمْهِلُوا حَتَّى نَدْخُلَ لَيْلًا أَيْ عِشَاءً لِكَيْ

عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل اوس صبر وکړئ مونږ د شپې کورونو ته داخل شو دې دپاره چې د کومې ښځې ویښته ګډ وډ وي

تمتشط الشعثة وتستحد المغيبة»[1]

هغه ګومنز کولو سره برابر کړي او هغه ښځه چې د کومې خاوند موجود نه وو هغه خپل زیاتي ویښته صفا کړي.

**توضیح**: **فی غزوة**: ددې نه مراد غزوه تبوک ده **قفلنا** د میدانِ جهاد او غزوې نه واپس کورته راتلو ته قفل وایي. (المرقات ۲۶۹/۶)

**تلاعبها وتلاعبک**: په دې جمله کې دښځې او خاوند دپاره دلوبو او د حقوق زوجیت طرفته اشاره وکړی شوه، حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دباکرې سره دنکاح ترغیب ورکړو. (المرقات ۲۷۰/۶)

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې معقوله وجه دا وخودله چې زما اته خویندې دي که چیرې ما دجینی سره

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۴۲ رقم الحديث۵۲۴۸ ومسلم في ۲/۱۰۸۸ رقم الحديث(۱۴۶۶،۵۷) وأبوداؤد في السنن ۳/۵۴۰ رقم الحديث۲۰۴۸ والنسائي في ۶/۶۵ رقم الحديث۳۲۲۶ وابن ماجه في ۱/۵۹۸ رقم الحديث ۱۸۶۰ والدارمي في ۲/۱۹۷ رقم الحديث۲۲۱۶

واده کړي وي نو هغه به هم ددوی سره جینی وه، ما وغوښتل چې یوې ښېې کونډې تجربه کارې ښځې سره واده وکړم دې دپاره چې هغه ددوی مور جوړیدو سره تربیت وکړي.
ندخل لیلا: دلته دا سوال دی چې په دویم حدیث کې د شپې په وخت د داخلیدو نه منع راغلې ده او دلته دشپې د دخول دپاره دانتظار حکم ورکړی شو او دا خو تعارض دی؟ ددې جواب دادی چې د شپې داخلیدل هغه وخت منع دي چې مخکې نه دشپې د راتلو اطلاع نه وي او د ښځې دتزین او آرائش نه بغیر سمدست کورته ننوځي، هلته ښځه خیرنه خچنه کنده ناسته وي په دې سره دهغه تعلقاتو ته سخت نقصان رسیږي، نودا منع دی او دلته دشپې د داخلیدو نه مخکې ښځو ته اطلاع شوې وه هغوی ته دتیاری او آرائش اوزیبائش موقع ملاو شوې وه نودا جائز دی، ځکه دا صورت ددې منع شوې صورت نه جدا دی. (المرقات ۲۷۰/۶)

**لکي تمتشط**: امتشاط کومنزولو ته وایي **الشعثة** خوړو ویښتو والا ښځې ته وایي، کله چې ډیر وخته پورې خاوند دکور نه غائب وي، نو ښځه عمومًا د ویښتو جوړولو نه غافله وي هم دا شعثه ده. (المرقات ۲۷۰/۶)

**تستحد المغیبة**: دا د استحداد اوحدید نه دی د وسپنې استعمالولو په معنی سره راځي **المغیبة** هغه ښځې ته وایي چې دچا خاوند د ډیرې مودې نه غائب وي په میم باندې پیش دی.
اوس دلته اول سوال دادی چې دلته دښځې دپاره د چرې استعمال خودلی شوی دی داځنګه ده؟ ددې جواب دادی چې دښځې دپاره د چرې استعمال نامناسب دی او نه ښځې ددې استعمال په صحیح طریقې سره کولی شي، دلته د استحداد لفظ د ویښتو د ازالې دپاره کنایه ده خو که په نوره سره وي یا په بال صفا وغیره سره وي.

دښځو دپاره اصل طریقه **لتف** یعني د ویښتو ویستل دي خو دا لفظ د قباحت په وجه سره ظاهر نه کړی شو نو د استحداد لفظ استعمال شو. همدا وجه ده چې دلته د **المغیبة** لفظ راغلی دی ددې نه مخکې د **الشعثة** لفظ راغلی دی حالانکه هغه کومنزونکې خورو ویښتو والا ښځه هم المغیبة ده دهغې خاوند غائب وو، خو دلته د نامه نه لاندې اوږدو ویښتو ذکر پریخودلی شو هغه یې د مغیبة په نوم سره یاده کړه دې دپاره چې د ښځو په پټو مسائلو باندې ممکن حد پورې پرده واچولی شي نو د **المغیبة** لفظ په حقیقت کې د نامه نه لاندې ویښتو د اوږدیدو نه کنایه ده، ددې ذکر په وجه د قباحت پریخودلی شو، او الشعثة کې قباحت نه وو په دې وجه ددې ذکر وکړی شو دې ته دالمغیبة ویلو ضرورت نه وو. د سرو دپاره دنامه نه لاندې ویښته صفا کولو دپاره د اُسترې (چاړې) استعمالول زیات بهتر او باعث د قوت منی دی، او دښځو دپاره تتف یعني ویستل زیات بهتر دي. (المرقات ۲۷۰/۶)

# الْفَصْلُ الثَّانِي

## هغه درې سړی چې دهغوی به الله ضرور مدد کوي

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمائیل درې سړی داسې دی

حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ: الْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ

چه دهغوی مدد په الله تعالی باندې واجب دی یو خو مکاتب دی چه دخپل بدل کتابت د اداء کولو اراده لري

الْأَدَاءَ وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ وَالْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ".

دویم هغه نکاح کونکی سړی چې دحرام کاری نه دبچ کیدو نیت لري او دریم د الله تعالی په لاره کې جهاد کونکی.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه (حسن)[1]

روایت کړې دې ترمذی او نسائی او ابن ماجه (دا حدیث حسن دې)

**توضیح** : **حق علی الله** : لفظ د حق یې په دې وجه اختیار کړو چې راتلونکي درې کارونه د انسان دپاره ډیر سخت او ګران دي چې دانسان ملا ماتوي، که چیرې الله تعالی خصوصی مهربانی او مدد ونه فرمایي نو هیڅ یو سړی دې لره ـ شي پوره کولی. **المکاتب** : مکاتب هغه غلام ته وایي چې دهغه مالک هغه ته ویلي وي چې ته دومره پیسې وګټې او ماته یې راکړې نو ته به آزاد شې، دې رقم ته بدل کتابت وایي ددې په آزادولو سره غلام آزادیږي خو که یوه روپۍ هم باقي وي نو مکاتب به غلام وي داسې غلام ته زکوة ورکول هم جائز دي او الله تعالی په خپل ځان باندې داحسان او اکرام په طور باندې دهغه مدد کول واجب فرمایلي دي. (المرقات ۲۷۱/۶، ۲۷۰)

دغه شان ناکح دی او دغه شان مجاهد فی سبیل الله دی ځکه چې ناکح پاکدامني غواړي او مجاهد خو دالله تعالی د دین اوچتوالي دپاره د ځان بازي لګوي، په دې وجه الله تعالی دهغه مدد کوي دا بې غرضه خلق دي.

د بنده ځې دولی دپاره یو ضروری هدایت

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَطَبَ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل کله چې تاسو ته څوک

---

(۱) أخرجه البخاري الترمذي في السنن ۱۵۷/۴ رقم الحديث ۱۶۵۵ والنسائي في ۶/۶۱ رقم الحديث ۳۴۱۷ وابن ماجه في ۲/۸۴۱ رقم الحديث ۲۵۸۱

إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِنْ لَا تَفْعَلُوهُ

سړی د نکاح پیغام راولیږي او ته مطمئن یې دهغه سړی د دینداری او د اخلاقو نه نو (هغه پیغام منظور کولو سره)

تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ(۱)

دهغه سره نکاح وکړئ او که داسې ونه کړئ نو په زمکه کې به فتنه او فساد خورشي

**توضیح**: **فَزَوِّجُوهُ**: یعنې یو نیک سیرته او نیک صورته سړي د نکاح پیغام درکړو نو د جینې اولیاو ته پکار دي چې دهغه په پیغام باندې عمل کولو سره جینې هغه ته په نکاح کې ورکړي او بیکاره شرطونه ونه لګوي څنګه چې د دنیا د خلقو عادت دی چې هغوی اهل ثروت او مالداره خلق لټوي او نیو اخلاقو او دینداری ته نه ګوري، بیا قسم قسم شرطونه لګوي په دې وجه د مرضې رشته زر نه ملاویږي، نو جینې د مرګه پورې په کور کې ناسته وي کله چې د سړو او د نښځو په ودونو کې داسې رکاوټونه راځي نو زنا به عامه شي، او ددې په نتیجه کې به جنګ جهګړې به وي او اوږدې اوږدې دشمنۍ او فسادونه به شروع شي. په حدیث کې خطاب د نښځې اولیاو ته دی کله کله په پیغام رد کولو سره په خپل مینځ کې بغض او حسد، عناد او فساد او د دشمنۍ میدان هم ګرم شي. ددې حدیث په وجه امام مالک رحمه الله وایي چې د نکاح د پیغام د راتلو نه پس صرف دین ته کتل پکار دي ددې نه علاوه په **کفو** کې به شرافت اوخانداني نسب ته نه شي کتلی، خو جمهور علماء کرام وایي چې کفاءت دپاره د څلورو څیزونو ضرورت دی: (۱) دین (۲) حریت (۳) نسب او حسب (۴) حرفت اوپیشه (المرقات ۲۷۱/۶ و الکاشف ۲۴۴/۶)

## زیات بچي راوړونکي نښځې سره نکاح کوئ

﴿۱۲﴾ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَزَوَّجُوا

حضرت معقل بن یسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي داسې زنانو سره نکاح کوئ چې خپلو

الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ»

خاوندانو سره مینه کونکې او زیات بچي راوړونکې وي ځکه چې زه به ستاسو ځکه چې زه به ستاسو په ډیرو الي

(۱) أخرجه البخاري الترمذي في السنن ۳/۳۹٤ رقم الحديث ۱۰۸٤ وابن ماجه في ۱/٦۳۲ رقم الحديث ۱۹٦۷

| |
|---|
| رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ [۱] |
| په نورو امتونو فخر كوم. (ابوداود، نسائي) |

**توضيح** : **الولود الودود**: زنانه كه چيرته ډير بچي راوړي خو چې د خاوند سره مينه كوونكي نه وي نو دا هم د زړه د اطمينان سبب نه ګرځي اوسترګو ته نه پريوځي، او كه اولادي نه وي، شنډه وي نو پدي سره هم د نكاح مقصد او مطلب فوت كيږي، نو داهم سبب د اطمينان نه ګرځي. خو كه چرته دا دواړه صفتونه په يوه زنانه كي راجمع شي نو هغې ته رغبت هم كيږي او خاوند ته ګرانه هم وي.

**سوال**: دا پته به څه رنګه لګي چې فلانكۍ مينه كوونكي ده او فلانكۍ مينه كوونكي نه ده او څوك زيات ماشومان پيدا كوونكي ده او څوك نه ده؟

**جواب**: د دې آسان جواب دا دی چې د هرې زنانه د خاندان او د هغې د رشته دارانو نه پته لګي چې د دې خاندان جينكۍ څنګه دي. (المرقات ۲۷۲/۶)

**فاني مكاثر بكم**: دا جمله د ماقبل دپاره علت ده. (**مكاثر اي مفاخر**) يعني د نورو امتونو په مقابله كې به زه ستاسو په ډيروالي فخر كوم چې زما منونكي زيات دي. كله چې تاسو زيات يې نو زه به په مقابله كې په هغوي باندي غالب شم. په دي حديث كې ډيروالي د اولاد ته ترغيب دی نو دا خبره سراسر غلطه ده چې (بچے دوی اچھے) يعني ماشومان دوه ښه دي. كه په ډيروالي د اولاد د خلقو اعتراض د دي وجې نه وي چې دا ماشومان به يې په معاشره باندي بوج شي نو دا حقيقت نظر انداز كول نه دي پكار چې د نن دا ماشومان به صباله د معاشرې د ترقۍ ذريعه وي، او كه چرته ماشومان كمول غواړئ نو ميدان جهاد پرانيزئ چې څنګه ماشومان غټيږي نو ميدان جهاد كې به شهيدان كيږي. د الله تعالى رضا او د دين ترقي به حاصليږي. په دي كې دين هم دی او دنيا هم. او كه د باطل پرستو او كافرانو اعتراض په دي وي چې د مسلمانانو زيات ماشومان پيدا كيږي، نو د هغې جواب دا دی چې تاسو سوزئ سوزئ او مسلمانان به هم داسي زياتيږي، تاسو كه دوايانې ايجاد كوئ او ناجائز خانداني منصوبې جوړوئ نو د مسلمانانو غيرتمند او د شرم او حيا نه ډك ځوانان به ستاسو منصوبې په خاورو كې ملاووي او زيات نه زيات ماشومان به پيدا كوي. (المرقات ۲۷۲/۶)

---

(۱) أخرجه البخاري أبوداؤد في السنن ۲/٦٤۲ رقم الحديث۲۰۵۰ والنسائي في ٦/٦٥ رقم الحديث۳۲۲۷

## ناواده کړې سره نکاح زیاته بهتره ده

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَالِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ عُوَيْمِ بْنِ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ

حضرت عبد الرحمن بن سالم بن عویم بن ساعده انصاري د خپل پلار سالم نه او هغه د عبدالرحمن

عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ

د نیکه یعني د عتبه تابعي نه نقل کوي چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام فرمائیلي دی چې تاسو لره ناواده کړې

فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ».

زنانو سره نکاح کول پکار دي ځکه چه دوی خوږه خله لري او زیات بچی راوړونکی او په لږ څه راضی کیدونکی دی

رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه مُرْسلا[1]

روایت کړې دې ابن ماجه په دطریقه د ارسال

**توضیح** : **اعذب افواها**: په عربي ژبه کې کله هم چې د محبوبې د خولې د لاړو صفت بیانولی شي نو د هغې دپاره د اعذب لفظ ذکرکوي. دلته کې د خولې ذکر کولو نه لاړې مراد اخستل شوې دي. ساحر شاعر د محبوبې د خولې لاړې په خوږوالي کې د شاتو نه هم زیاتې ښودلې دي.

**مظلومة القد في تشبيهه غصنام ظلومة الريق في تشبيهه ضربا**

ضرب شاتو ته ویلی شي.

**اعذب افواها**: یا خو د ژبې او د خبرو د خوږوالي نه کنایه ده ځکه چې ناواده کړې جینې د شرم او حیا د وجې نه په ژبه بدې ردې نه وایې او بل مخکې یې بل خاوند سره هم واسطه نه وي راغلې.

وہ لب کہ جیسے ہو شاخ گلاب پر غنچہ جو بات بھی نہ کرے باکمال لگتا ہے.

او یا خو په حقیقت کې د پیغلتوب د وجې نه د پیغلې لاړې خوږې وي لکه څنګه چې مونږه مخکې وویله چې ذکر د خولې یې کړی دی او مراد یې تړې لاړې اخستې دي.

په دې حدیث کې د پیغلې بل یو خصوصیت هم بیان کړی شوی دی چې پیغله د پیغلتوب د وجې نه زیات ماشومان پیدا کوي.

**والتق ارحاما**: **التق د اوسع** په معني سره دی. اي اکثر اولادًا. یعني په بچي دانه کې د قوت او ګرموالي د زیات مقدار د وجې نه نطفه زر قبلوي او بچي زیات پیدا کوي. ناتق هغه زنانه ته وایې چې اولاد یې زیات وي.

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في ۱/۵۹۸ رقم الحديث ۱۸۶۱

شاعر حماسي فرمائي.

ابی لهم ان یعرفوا الضیم انهم بنو ناتق کانت کثیرا عیالها

یعني د کثیر الاولاد زنانو ډیر زیات زامن دي، هغوی ظلم او ذلت نه پیژني.
نتق په عربي ژبه کې د ویشتلو په معنی سره راځي نو مطلب دا شو چې دا زنانه مسلسل ماشومان پیدا کوي.(المرقات ۲۷۲/۶)

**وارضی بالیسیر:** په دي جمله کې د پیغلې دریم خصوصیت دا بیان کړی شوی دی چې ناوده کړې له چې څومره حصه هم ورکړی شي نو هغه پرې راضي کیږي. که کوروالی وي یا سامان یا خوراک یا خبرې اتري وي، ځکه چې مخکې یې بل خاوند نه وي تیر شوی، نو په لږ او ډیر هر څه باندې راضي کیږي. په خلاف د واده کړې زنانه نه چې د هغې مخکې خاوند هم تیر شوی وي نو بیادا نوی خاوند په هر څه کې تلي. دا حدیث او د دې نه مخکې حدیث د معقل په خپل مینځ کې د مضمون او مطلب په اعتبار سره په عجیبه انداز سره ترلی شوې دي. اولني حدیث کې د مینه ناکي ښځې تذکره وه. او کومه زنانه چې مینه ناکه وي نو د هغې ژبه او الفاظ ډیر خوږه وي نو په دې دویم حدیث کې یې د دې خبرې تذکره وکړه. دا خو د زنانه ظاهري صفت شو او په (ارضی بالیسیر) سره یې د دې قناعت او صبر ذکر کړو نو دا د دې زنانه باطني صفت شو کوم چې دې دویم حدیث کې ذکر دی. او په کوم انسان کې چې د زړه او خولې صفتونه راجمع شول نو دا کامیاب انسان دی. شاعر فرمایي.(المرقات ۲۷۲/۶)

لسان الفتی نصف ونصف فؤاده فلم یبق الا صورة اللحم والدم

## الفصل الثالث

﴿۱۴﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې نبي کریم ﷺ فرمائیلې دي چې (ای انسانه) تا د نکاح

«لَمْ تَرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مثل النِّكَاحِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

په شان داسي یو شیز هم نه دی لیدلی چې د دوو محبت کوونکو په مینځ کې مینه زیاته کړي.(ابن ماجه)

**للمتحابین:** یعني د نکاح دوجې نه د ښځې او خاوند مینه دومره زیاته شي چې په یو بل کې فناه شي او بیا د دوو کسو د مینې دوجې نه دوه خاندانونه یو بل سره داسي یوځای شي چې ته به وایې که د وینې رشته یې ده. په یو بل باندې قربانیږي. دویم مطلب دا دی چې مخکې دواړو کې پاکه مینه وه نو د نکاح د وجې نه هغه مینه نوره هم داسې زیاته شي چې داسي مینه به چاهم نه وي لیدلې او نه

به يې اوريدلې وي. د دې وجه داده چې دنکاح نه بغير مينه ناقصه ده او په نکاح کې کوروالی هم دی چې د مينې تکميل ورسره رائي. (المرقات ۲۷۳/۶)

## آزادو زنانو سره د نکاح کولو فضيلت

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَرَادَ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې کوم کس د دې خبرې خواهشمند وي

أَنْ يَلْقَى اللهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ». رَوَاهُ ابْنُ [redacted](۱)

چې دا پاک او صفا حالت کې الله تعالى سره ملاوشي نو داسې انسان له پکار دي چې د ازادو زنانو سره نکاح وکړي.

**فليتزوج الحرائر:** وجه داده چې په وينزه کې هغه خصوصيات نشته کوم چې په ازادو کې وي. د دې غلط اثر په خاوند باندې هم کيږي او بياد دې ناکاره عادتونه او کم همتي په اولاد کې هم پيدا شي. وينزه په خپله هم د ادب او تهذيب نه خالي وي نو اولادې هم بې تربيته او بد تهذيبه غټ شي. د دې په ځای د ازادې زنانه د اوچتو صفاتو اثر په خپل خاوند او اولاد باندې پريوځي نو هغوی پاک صفاوي، ځکه چې د ازادو په شان تربيت او طريقه په وينزو کې چرته ملاويږي. نچوړ د خبرې دا شو چې اسلام خپلو تابعدارانو لره په شکل د يو کامل انسان او کامل صفاتو کې ليدل غواړي او دغه صفات په ازادو کې ملاويږي په وينزو کې نه ملاويږي. (المرقات ۲۷۴/۶، ۲۷۳)

## د نيک بختې ښځې خصوصيت

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَقُولُ: «مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ

او حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمايې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې مومن بنده چې د تقوى نه

بَعْدَ تَقْوَى اللهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ إِنْ أَمَرَهَا

پس کوم بهترين څيز ځان د پاره خوښوي نو هغه نيک بخته ښځه ده. دا داسې ښځې دی چه که چرته خاوند دې ته حکم

أَطَاعَتْهُ وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سرته وَإِنْ أَقسم عَلَيْهِ

کوي نو هغه يې مني او که له چه ورته ګوري نو د خاوند زړه خوشحالوي. که له چه خاوند دې له ره قسم ورکړي نو قسم ورله

أَبَرَّتْهُ وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ». روى ابْن مَاجَه

پوره کوي او که له چې ئې خاوند موجود نه وی او چې کله د دې خاوند موجود نه وي نو دا د خپل ځان او (د خاوند د مال) خيال ساتي.

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في ۱/۵۹۷ رقم الحديث ۱۸۶۲

| الْأَحَادِيث الثَّلَاثَة (حسن)[1] |
| --- |
| پورتني درېواړه احاديث ابن ماجه نقل کړي دي. |

**بعد تقوى الله:** يعني د ديندارۍ او تقوى نه بعد بهترين څيز نيکه بي بي ده. چې د مفتو خدمت ګاره ده . په خاوند خفه کيدونکې او د خاوند منونکې ده. د خاوند د ټولو احساساتو حفاظت کونکې ده چې پکښې د دنيا او اخرت فائده ده.په دې حديث کې لفظ د "**تقوى الله**" د الله تعالى ويره او دين اسلام په دوو حصو کې تقسيم کړي دي. نيمه حصه د نيکې ښځې سره نکاح کول دي او باقي نيمه ددې نه علاوه دي. د دې حديث مضمون د راروان حديث د مضمون په شان دی چې نکاح کول نيم دين دی.احياء العلوم کې امام غزالي (رحمه الله) فرمايي چې انسان لره عام طور باندې تباه کونکي دوه څيزونه دي: يو ګيډه ده او بله شرمګاه ده. د نکاح سره د شرمګاه مسئله حل شي.په دې حديث کې يې د نيکې بي بي وضاحت کړی دی. چې خلاصه يې داده چې ښځه که نيکه وي نو د خاوند منونکې او د خاوند اشارو ته لبيک ويونکې وي . که خاوندموجود نه وي نو هم د خپل خاوند خيرخواهي لټوي او که چرته ښځه خرابه وي نوبياخوتباهي اوبربادي ده.( المرقات ۲۷۴/۶)

**اقسم عليها:** د دې جملې مطلب دادی چې که چيرې خاوند د خپلې ښځې متعلق قسم وخوري چې دا کار به نه کوي يا به يې کوي نو نيکه بي بي د خپل خاوند دقسم ښه پوره پوره خيال ساتي.( المرقات ۲۷۴/۶)

## نكاح كول نيم دين دى

| ﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ |
| --- |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې کوم انسان چې کوم |
| فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّينِ فَلْيَتَّقِ اللهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي» (اخرجه البيهقي) |
| انسان نکاح وکړه نو ده خپل نيم دين محفوظ کړو. ده لره پکار دي چې په باقي نيم دين کې د الله تعالى نه ويريږي. |

**توضيح :** **نصف الدين:** يعني په انسان کې دوه قوتونه او څيزونه داسې دي چې د هغې د وجې نه په پوره دين کې د فساد راتللو احتمال دی: يو د ګيډې د شهوت طاقت دی او دويم د شرمګاه د شهوت طاقت دی. د ګيډې شهوت د شرمګاه د شهوت نيم دی نو په نکاح سره د شرمګاه د شهوت نه

---

(۱) أخرجه البخاري ابن ماجه ۵۹۶/ ۱ قم الحديث ۱۸۵۷

حفاظت کیږي نو ځکه د نیم دین حفاظت په نکاح سره وشو. او د باقي نیم دین حفاظت په نورو نیکو اعمالو او عباداتو سره کول پکار دي چې ایمان مکمل شي. (المرقات ۲۷۵/۶، ۲۷۴)

## کومه نکاح د برکت نه ډکه وي

﴿۱۸﴾ وَعَن عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې یېشکه زیات برکت والا نکاح

بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان بَاب النّظر

هغه ده چې د مشقت په اعتبار سره اسانه وي. دا دواړه روایتونه امام بیهقي رحمة الله علیه په شعب الایمان

إِلَى المخطوبة وَبَيَان العورات (صَحِيح)

باب النظر الی المخطوبة وبیان العورات کې رانقل کړي دي.

**توضیح**: ایسرهُ مؤنةً: یعني اسانه او کم خرچه نکاح هغه ده چې د ښځې مهر پکې کم وي او د نکاح په وخت کې په خاوند باندي ناجائزه شرائط ونه لګولی شي اود خاوند نه د هغه د وس طاقت نه زیات د مال او اسبابو مطالبه ونه کړی شي. د جهیز بوج په ښځه باندي رانه شي او د نورو رواجونو او بدعاتو نه نکاح پاکه وي. (المرقات ۲۷۵/۶)

په کومو علاقو کې چې د مهر په نوم خرڅولو سره مور پلار کوم مال حاصلوي نو د ظلم او حرامې ګټې نه علاوه دا ډیره د بې غیرتۍ خبره هم ده. د داسې علاقو د عالمانو دا ذمه داري جوړیږي چې په خپله هم د دې ظلم نه بند شي او عوام هم په وعظ او نصیحت سره د دې ظلم نه منع کړي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

# باب النظر الی المخطوبة وبیان العورات

## مخطوبې ته د کتلو او د ستر پټولو بیان

**المخطوبة:** خطب مخاطبه او تخاطب یو بل سره د خبرو کولو په معني سره راځي. خطبه د وعظ او نصیحت خبرو ته او خِطبه د نکاح پیغام ته ویلی شي. دلته د دې نه هم د نکاح پیغام مراد دی.

عورات د عورت جمع ده. عورت په اصل او حقیقت کې د انسان شرمګاه او پټو ځایونو ته وایي. دا د عَارٌ نه مشتق دی ځکه چې د دې اندامونو بنکاره کیدو سره انسان شرم محسوسوي. ددې وجې نه د دې لفظ استعمال د پټو ځایونو دپاره کیږي. (الکاشف ۲۵۰/۶)

**النظر الی المخطوبة:** مخطوبه هغه زنانه ته وایي چې چاله د نکاح پیغام ورکړی شوی وي. چې په اردو کې ورته منسوبه وائي.

د نکاح نه مخکې د جینې لیدل جائز دي او که ناجائز نو په دې کې د فقهاو اختلاف دی.

**د فقهاو اختلاف:** د اهل ظواهرو په نیز مخطوبې ته کتل په یو صورت کې هم جائز نه دي. د امام مالک په نزد په یو قول کې مطلقا ناجائز دی او بل قول کې دا دي چې که د ښځې اجازت وي نو جائز دی او بغیر د اجازت نه منع دی. جمهور فقهاو او عامو عالمانو فرمایلي دي چې مخطوبې ته کتل مطلقا جائز دي که دهغې اجازت وي او که نه وي.

**دلائل:** اهل ظواهر د مشکات شریف په ص ۲۶۹ باندې د حضرت علي رضي الله عنه د روایت نه استدلال کړی دی په هغې کې داسې الفاظ دي چې "**یا علي لاتتبع النظرة النظرة**" اهل ظواهر فرمایي چې دې نه مطلقًا د کتلو ممانعت ثابتیږي. جمهورو د ګڼو احادیثو نه دلیل نیولی دی. په زیر بحث مسئله کښې په صفحه ۲۶۸ کې د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه صفا دا الفاظ راغلي دي چې "**فانظر الیها**" هم په دغه صفحه کې په فصل ثاني کې د حضرت جابر رضي الله عنه او مغیره بن شعبه رضي الله عنه نه هم روایت دی چې پکې مخطوبې ته د کتلو حکم او تاکید کړی شوی دی نو دا بیا څه رنګه ممنوع کیدلی شي. دا رنګ دا د تمامي زندګي مسئله ده نو ځکه پوره تسلي پکار ده. (المرقات ۲۷۶/۶)

**جواب:** اهل ظواهرو چې د حضرت علي رضي الله عنه د کوم روایت نه استدلال کړی دی نو هغه استدلال غلط دی ځکه چې د دغه حدیث تعلق د پردو جینکو ته د بد نظرۍ متعلق دی او زمونږ بحث په مخطوبه کې دی. البته د اختلاف نه د بچ کیدلو دپاره یوه تکړه او تجربه کاره زنانه دغې جینې پسې لیږل پکار دي. هغه به یې په تسلي سره اوګوري او حالت به بیان کړي. خو دا خبره یاد ساتل پکار

دي چې مخطوبې ته د کتلو کوم اجازت دی نو دا صرف مخ او لاسونو د حده پورې دی. ټول اندامونه به نه کوري او بار بار کتل هم ممنوع دي. (المرقات ۲۸۳/۶)

## مخطوبې ته کتل مستحب دي

## الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو کس د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې عرض وکړو چې زه د

تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ «فَانْظُرْ إِلَيْهَا

يوې انصاريه ښځې سره نکاح کول غواړم (نو ستاسو څه رايه ده؟) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او فرمائيل که اوئې کوري

فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

که اوئې کوري (نو دا به غوره وي) ځکه چې (د بعضو) انصارو زنانو په سترګو کې فرق وي.

**فان في اعين الانصار شيئا:** يعني د مشورې تقاضا دا وه لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته وويل. ځکه چې "" **المستشار مؤتمن** ""يعني د چا نه چې مشوره اخستلی شي نو هغه رازدار جوړولی شي نو هغه ته خبره صفا کول پکار دي.

**شيئ:** د دې نه مراد خو يادا دی چې د انصارو سترګې شنې وي، او يايې مطلب دا دی چې د دوی په سترګو کې زيړوالی دی. (المرقات ۲۷۶/۶)

**سوال:** شا رحينو دلته يو سوال کړی دی چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته د پردو زنانو د سترګو څنګه پته ولږيده؟ **جواب:** ړومبنی جواب دادی چې د دوي په سړو باندې يې د ښځو قياس وکړو. **دويم جواب** دا چې د وحي په ذريعې سره ورته دا معلومه شوې وه. **دريم جواب** دا چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم د امت روحاني پلار وو نو شرعا د هغوی نه د چاهم پرده نه وه. **څلورم جواب** دا چې د پردې د حکم نازليدو نه مخکې نبي کريم صلي الله عليه وسلم دوی ليدلي وي. **پنځم جواب** دا چې د امهات المؤمنين په ذريعې سره دا خبره نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته معلومه شوې وه. دا يو څو جوابات شو ليکن حقيقت دادی چې دا سوال هسې فضول دی ځکه چې په يو ماحول او معاشره کې

---

(۱) أخرجه في صحيحه ۲/۱۰۴۰ رقم الحديث (۱۴۲۴.۷۴) وأحمد في المسند ۲/۲۹۹.

به د خپل قوم او طبقې د حالاتو نه څوک ناخبره وي. ولې د انصارو ټولې زنانه بالغې پیدا شوې وې ؟ په دوی باندې د ماشوم والي زمانه نده راغلې؟ یا د دوی په ستر کو باندې د پیدائش نه واخله تر د بلوغت پورې پردې وې، د چا نظر هم پرې نه دی پریوتی؟.

## د پردې زنانه د جسم حال خپل خاوند ته مه بیانوئ

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي هم خپل

«لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتُهَا لِزَوْجِهَا

بربنډ وجود د بلې زنانه د بربنډ وجود سره نه لږوي او نه دې د دغې پردې ښځې د جسم حال دې خاوند ته نه وائي

كَأَنَّهُ ينظر إِلَيْهَا» (صَحِيحٌ)[1]

لکه چې دا خاوند د هغې جسم ته ګوري. (بخاري، مسلم)

**توضیح**: **لا تباشر المراة**: د تباشر نه مراد الصاق البشرة بالبشرة دی، یعني یوه زنانه دې هم خپل بربنډ وجود د بلې زنانه د بربنډ وجود سره نه لږوي. علامه طیبي رحمه الله فرمایي چې د دې نه کتل او لاس لګول دواړه مراد دي. دا حکم د لسو کالو نه بعد سړو او ښځو ټولو ته شامل دی. دلته دوه ښځې منع کړی شوې دي ځکه د دې کتلو نه به دغه ښځه د بلې ښځې د جسم خصوصیات یعني پوستوالی وغیره معلوم کړي او بیا به یې خپل خاوند ته بیانوي نو دا به داسې شي لکه چې دا خاوند د دغې پردې ښځې اندامونو ته ګوري. دا ډیر ناکاره کاردی ځکه چې یو خو پکې ډیره غټه بې شرمي، بې حیائي او بې غیرتي ده، او دویمه دا چې که د دې صفاتو نه بعد د دغې ښځې خاوند د دغې بلې ښځې په محبت کې ګرفتار شو نو هغه به لویه فتنه کې پریوځي او بیا به دا ښځه خپل لاسونه مروړي. (المرقات ۲۷۶/۶)

## د ښځو او سړو د پاره یوځو هدایات

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ

او د حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایلي دي چې یو سړي دې هم د بل

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۳۸ رقم الحديث ۵۲۴۰ و أبوداؤد في السنن ۲/۶۱۰ رقم الحديث ۴۱۵۰ والترمذي في ۵/۱۰۱ رقم الحديث ۲۷۹۲ وأحمد في المسند ۱/۳۸۷

إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ وَلَا يُفْضِي الرَّ

سړي عورت ته نه ګوري او نه دې يوه ښځه د بلې ښځې عورت ته ګوري. او دوه بربنډ سړ

الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي ثوب وَاحِد» . رَوَاهُ مُسلم (صَحِ

يوه کپړه کې نه يوځای کيږي او دوه ښځې دې هم په يوه کپړه کې نه يوخ ی کيږي. (م

**توضيح** : لاينظر الرجل: د سړو او د ښځو د جسم چې کومو حصو ته کتلو نه شريعت منـ هغې ته ستر ويلی شي. د سړو او د ښځو د ستر حدود دارنګه دي.د سړي ستر د نوم د لاندـ نه واخله تر د ګونډو د لاندې حصې پورې دی . د سړي دې اندامونو ته کتل سړو او ښځو د حرام دي. صرف خپلې ښځې او وينځې لره کتل جائز دي.د ښځې ستر د بلې ښځې دپاره واخله تر ګونډو پورې دی، نو يوه ښځه به هم د بلې ښځې دغه اندامونو ته نه ګوري. دا ـ دي. البته شرعي عذر د دې نه مستثنی دی.د ښځې پوره جسم د پردي سړي دپاره ستر دی او ورغوي د مجبورۍ د وجې نه د دې حکم نه مستثنی دي. دا د زنانو مجبوري ده. سړو ـ ترغيب نه دی. پردي سړي لره د پردې جينې جسم لره ګوتې وړل حرام دي.سړي له خپلې وينځې سره کوروالی جائز دی نو د دې وجې نه د هغې اندامونو ته کتل هم ورله جائز دي ستر د خپل محرم دپاره د نامه نه واخله تر د ګونډو پورې دی او ګيډه او شا هم په ستر کې دا د دې نه علاوه ستر نه دی.ښائسته سړي ته د شهوت په نظر کتل ښځو له حرام دي او د سړي لاس وړل هم حرام دي. غلام د خپلې آقنې (سيدې) په حق کې د پردي سړي په حکم کې دی غلام نه پرده کول پرې ضروري دي.دوه سړي او يا دوه ښځې به بربنډ پريوه کپړه کې نه ځما فتنې ويره هم نه وي خو بياهم دا بې حيائي ده او ممنوعه ده.فقهاو ليکلي دي چې اصل شهوت او زړه راوچتيدلو کې ده. کله چې شوق راوچت شي نو بيا جائزو ځايونو ته کتل ه دي. هيجړا او جينوتې (بې ږيرې) هلک هم په دې حکم کې داخل دي.(المرقات ۷/۶

﴿۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې خبردار ! يو سـ

لَا يبيتن رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَو ذا محرم» (مُتَّفَقٌ عَ

واده شوې ښځې سره يو ځای شپه نه تيروي مګر که چيرته خپل خاوند وي يا محرم وي (نوبيا

(۱) أخرجه المسلم ۱/۲۹۶ رقم الحديث (۳۳۸.۷۴) والترمذي في السنن ۵/۱۰۱۰ رقم الحديث ۲۷۹۳ وأحمد في المسند ۳/۶۳

(۲) أخرجه في صحيحه ۴/۱۷۱۰ رقم الحديث (۲۱۷۱.۱۹)

**توضيح**: لايبيتن: د شپې تيرولو نه مراد يوائي ملاويدل دي، بيا كه دا ملاويدل د ورځې وي او كه د شپې وي دواړه ناجائز دي. (المرقات ۲۷۸/۶)

كونډه يې د دې وجې نه خاص كړه چې پيغله كې حياء مانع او پرده وي نو پيغله كې د كونډې په نسبت خطره كمه وي. دارنګه د كونډې ښځې تجربه هم ډيره وي نو هغه د خپل عادت نه ډيره زر مجبوره كيږي. يا د ثيبې نه مراد بې خاونده ښځه ده، بيا كه كونډه وي او كه پيغله. دا وضاحت زيات غوره دي. (المرقات ۲۷۸/۶)

**محرم**: ټول عمري محرم هغه چاته ويلى شي چې د هغه سره د ښځې نكاح په يو صورت كې هم ممكنه نه وي. (المرقات ۲۷۸/۶)

## د ليور نه د پرديې حكم

﴿۵﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِيَّاكُمْ

او حضرت عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي ځان بچ وساتئ چې د پردو ښځو خواته ورتګ نه

وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ

(كله چې هغوي ځانله وي يا بربنډه ناستې وي) يو كس چې دا واوريدل نو وې فرمايل چې اى د الله تعالى رسوله! ستا څه حكم دي؟

الْحَمْوَ؟ قَالَ: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ» (متفق عليه)[1]

د ليور په باره كې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل چې ليور خو مرګ دي. (بخاري و مسلم)

**توضيح**: الحمو الموت: د حمو جمع احماء راځي. دا د ښځې هغه رشته دارانو ته وايي چې كوم د خاوند د طرف نه رشته دار وي. خو د دې حكم نه د خاوند پلار او ځوى مستثنى دي. دلته د دې اولنى مصداق د خاوند ورور دى چې ورته ليور ويلى كيږي. په حديث كې يې ليور ته مرګ ويلى دى نو مطلب دا دى چې دا خطرناک څيز دى، د ده نه ځان بچ ساتل پكار دي. عرب چې كله څوک د يو څيز نه يروي نو هغه په مرګ يا اور سره يادوي. مثلا هغوى وايي چې ""الاسد الموت"" يعني زمري نه ځان بچ كړئ هغه مرګ دى. يا فرمايي چې ""السلطان النار"" يعني بادشاه ته نزدې كيدل اور دى. يا فرمايي چې ""الحمو الموت"" يعني ليور مرګ دى. او ليور نه خو زياته خطره په دې وي چې دا د انسان سره په كور كې اوسيږي. (المرقات ۲۷۸/۶)

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۹/۳۳۰ رقم الحديث ۵۲۳۲ ومسلم فى ۴/۱۷۱۱ رقم الحديث (۲۱۷۲.۲۰) والترمذي في السنن ۳/۴۷۴ رقم الحديث ۱۱۷۱ والدارمي في ۲/۳۶۱ رقم الحديث ۲۶۴۲ وأحمد فى المسند ۴/۱۴۹

شرعي مسئله خو دا ده چې لیور نه شرعي پرده کول پکار دي خو زما استاذ محترم حضرت مولانا فضل محمد سواتي صاحب به په مشکوة کې د دې حدیث نه بعد فرمایل چې که چیرې ښځه ځوانه وي او بچي یې نه وي او کور خالي وي، د خاوند والدین هم کور کې نه وي نو د لیور دپاره په داسې حالت کې کورته داخلیدل نه دي جائز . البته لیور بالکل پردی هم نه دی نو که چیرته کور کې خوابنې ، سخر یا د ښځې بچي موجود وي نو بیا لیور لره داخلیدل جائز دي. دا دومره پردی نه ده لکه څومره چې نور پردي دي.

## علاج معالجه او ښځه

﴿٦﴾ وَعَن جَابِرٍ: أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې یو ځل ام المؤمنین حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د

فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجِمَهَا قَالَ:

ښکر لګولو اجازت وغوښتو نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابو طیبه ته د ښکر لګولو حکم وکړو حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائی

حَسِبْتُ أَنَّهُ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ رَوَاهُ مسلم (صحيح)[1]

چې زما په خیال ابو طیبه د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورور وو او یا دا لا بالغ نه وو. (مسلم)

**توضیح : في الحجامة:** حجامه ښکر لګولو ته وایي. په احادیثو کې د ښکر لګولو ډیر ترغیب وارد شوی دی. او د دې امت دپاره د علاج غټه ذریعه ښودلی شوې ده. ښکر لګولو سره د بلډ پریشر او د دې نه د پیدا کیدونکو بیمارو موثر علاج کیږي. حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د دې اجازت د دې وجې نه وغوښتو چې دا عمل به صرف سړو کوه. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجازت ورکړو او ابو طیبه نائي یې په دې کار باندې مقرر کړو .اوس دلته دا سوال پیدا کیږي چې ابو طیبه خو پردی سړی وو نو د ام سلمه رضي الله عنها جسم یې څنګه ولیدو ؟حضرت جابر رضي الله عنه د دې سوال د ختمولو دپاره دوه جوابونه ورکړې دي: یو جواب دادی چې ابو طیبه د ام سلمه رضي الله عنها رضاعي ورور دی . دویم جواب دادی چې دا نابالغ هلک وو .بهرحال د دې دوو جوابونو نه علاوه دریم جواب دادی چې که د علاج ضرورت وي او د بیماری مجبوري وي نو ډاکټر د ښځې متاثره ځای ته کتلی شي. البته په غیر ضروري ځایونو باندې به لوپټه اچوي. او که چرته ښځه ډاکټره وي نو هم دغه حکم دی. په افسوس سره دا خبره کوم چې نن صبا د خوند او مزې دپاره ښځې ډاکټراني د زنانو غیرضروري

---

([1]) أخرجه فى صحيحه ۱۷۳۰/۴ رقم الحديث (۲۲۰۶.۷۲)

ځايونه ګوري. (المرقات ۲۷۹/۶ الکاشف ۲۵۴/۲)

## په پردې ښځه د نظر پريوتلو مسائل

﴿۷﴾ وَعَن جرير بْنِ عَبْدِ الله قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جرير بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس او کړو پردو ښځو

عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمرنِي أَن أصرف بَصرِي. رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

ته د ناګهانه نظر پريوتلو په باره کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم راکړو چې خپل نظر فوراً واړوه

**توضيح**: نظر الفجاءة: بغير د قصد او ارادې نه پردې ښځې ته کتلو ته نظر الفجاءة ويلى شوې دي. په شريعت کې ناګهانه کتل يو ځل معاف دي خو کتونکي باندې دا لازم دي چې نظر به فورا اړوي. او که چيرته په ړومبي ځل کتلو سره هم نظر نه اخوا کوي نو په دې کتلو بيا ګناهګار ګرځي.

د دې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې ښځه د مجبورۍ په وخت کې مخ ښکاره کولى شي خو چالره هم دا جائز نه دي چې د هغې د مجبورۍ نه غلطه فائده واخلي او مخ ته يې ګوري. هم دا وجه ده چې قران کريم کې د نظر ښکته ساتلو حکم مؤمنانو ته شوى دى. حضرت امام غزالي رحمه الله عليه فرمايي چې کتل د زنا بنياد دى، د دې حفاظت ډير زيات ضروري دى. (المرقات ۲۷۹/۶)

د دې حديث نه بعد اتم حديث کې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې پردې ښځې باندې د نظر پريوتلو علاج دادى چې که شوق يې راپيداشوى وي نو خپلې کورواله سره دې جماع وکړي. راروان حديث نه دا هم معلوميږي چې زنانه په فتنه کې خالص د شيطان په شان ده نو ددې بغير د ضرورته ګرځيدل نه دي پکار او بيا په ښائسته لباس کې خو ورله د سره بهر وتل جائز نه دي. ځکه چې دا د شيطان د ټولو نه غټ جال دى چې سړى پرې ښکار کوي. د دې حديث نه دا هم معلوميږي چې سړو لره پردو ښځو ته اود هغوي لباس ته کتل نه دي پکار. او ددې نه دا هم معلومه شوه چې سړي د ورځې هم خپلې کور والا سره کوروالى کولى شي. راروان يوولسم حديث پورې د تشريح ضرورت نشته، دا وضاحت د ټولو دپاره کافي دى. (المرقات ۲۸۰/۶)

﴿۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عنه نه روايت دى چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې ښځه د شيطان

---

(۱) أخرجه فى صحيحه ۳/۱۶۹۹ رقم الحديث (۲۱۵۹.۴۵) وأبوداؤد في السنن ۲/۶۰۹رقم الحديث ۲۱۴۸والترمذي في ۵/۵۳ رقم الحديث ۲۷۷۶ وأحمد في المسند ۴/۳۵۸

فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ إِذَا أَحَدَكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ

په صورت کې راځي او د شيطان په صورت کې ځي. نو چې کله تاسو کې چاته پردی ښځه ښکلې ښکاره شی

فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ

او زړه کې يې ځای جوړ کړي نو ده لره د ځپل کورو الا نه ضرورت پوره کول پکار دي. ځکه دا کورواليه ده د زړه نه

ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ». رَوَاهُ مُسلم (حسن)[1]

هغه خبره ختمه کړي چې کومه د ده په زړه کې پيدا شوې ده. (يعني جنسي خواهش) (مسلم)

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۹﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې کله په تاسو کې يو کس

الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا

چا سره د نکاح اراده اولري نو که چيرې داد هغې د اندامونو په ليدو قادر وي يعنې د مخ او د لاسونو

فَلْيَفْعَلْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[2]

نو يو نظر دې هغه ووينې. (ابوداود)

﴿۱۰﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي

حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې ما د يوې ښځې سره د کوژدنې اراده وکړه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ راته وفرمائيل

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا؟» قُلْتُ: لَا قَالَ: «فَانْظُرْ

چې تا هغه ليدلې ده؟ نو ما ورته وويل چې نه. نو پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته او فرمائيل چې ته يو نظر ووينه

إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا». [3]

هغې لره چې خپل مينځ کې مو مينه او رغبت پيدا شي. دا يو نظر کتل مناسب دی.

---

(1) اخرجه فی صحيحه ۲/۱۰۲۱ رقم الحديث (۱۴۰۳.۹) واحمد في المسند ۳/۳۴۱ .

(2) اخرجه ابوداؤد في السنن ۲/۵۶۵ رقم الحديث ۲۰۸۲ .

(3) اخرجه الترمذی فی السنن ۳/۳۹۷ رقم الحديث ۱۰۸۷ والنسائي في ۶/۶۹ رقم الحديث ۳۲۳۵ وابن ماجه في ۱/۵۹۹ الحديث في ۱۸۶۵ والدارمي في ۲/۱۸۰ رقم الحديث ۲۱۷۲ واحمد في المسند ۴/۲۴۶

## د ناکهانه نظر پر یوتلو علاج

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې (يوه ورځ) د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نظر په يوې ښځې باندې پريوتلو نو دوی باندې

فَأَعْجَبَتْهُ فَأَتَى سَوْدَةَ وَهِيَ تَصْنَعُ طِيبًا وَعِنْدَهَا نِسَاءٌ

ښه ولګيده، نو دوی سمدست ام المؤمنين حضرت سوده کره تشريف يوړلو هغه وخت هغې خوشبو تياروله او څه ښځې

فَأَخْلَيْنَهُ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ قَالَ:

ورسره ناستې وې هغه ښځې دهغوی دخوانه پاڅيدې او بهر لاړې يا دوی خپل ضرورت پوره کړو او وې فرمايل چې دکوم

«أَيُّمَا رَجُلٍ رَأَى امْرَأَةً تُعْجِبُهُ فَلْيَقُمْ إِلَى أَهْلِهِ

سړي نظر په يوه داسې ښځې باندې پريوځي چې په هغه ښه ولګي نو هغه له پکار دي چې فوراً دې خپلې ښځې طرفته رجوع

فَإِنَّ مَعَهَا مثل الَّذِي مَعَهَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيّ (صَحِيح)[1]

وکړي (او د هغې نه دې خپل جنسي خوشالي حاصله کړي) ځکه چې د هغه ښځې سره چې کوم څه دي هغه د هغې ښځې سره هم دي

**توضيح**: فاعجبته: سوال دادی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دارنګه خيال ولې او څنګه راغی هغه خو معصوم (يعنی دګناه نه پاک وو)؟ددې جواب دادې چې دانساني تقاضو په بنياد هغه ته دهغې ښځې د ښه والي خيال راغی او خيال هم صرف د "هاجس" او "خاطر" په درجه کې وو چې دې باندې نيول نشته. دويم جواب ددی چې الله تعالی دحضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذريعې سره ددې مسئلې عملاً اظهار وفرمايلو چې د امت دپاره سبق او نمونه جوړه شي .دريم جواب دادی چې ناکهاني نظر وو چې په دې باندې نيول نشته. فإن معها: يعنې اصل مقصد دشهوت پوره کول دي چې دخپلې ښځې نه هم پوره کيدی شي په دې کې څه فرق نشته خو په حکم کې فرق ضرور شته چې خپلې ښځې سره جماع کول حلال دي اويوې پردی ښځې سره حرام دي. (المرقات ۲۸۲/۶)

## شيطان هرې ښځې ته پټ پټ ګوري

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې حديث راوي دی چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چه ښځه په پرده کې داوسيدو څيزدې

---

(۱) اخرجه الدارمي في ۲/۱۹۶ رقم الحديث ۲۲۱۵

فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (۱)

دې وجې نه کله چې یوه ښځه خپل ځان بې پردې کړي نو شیطان هغه د سړو په نظر کې ښائسته ښکاره کوي. (ترمذی)

**توضیح** : المرأة عورة: یعنې ښځه د پردې څیز دی دا د "عار" نه ماخوذ ده چې ددې د ظاهریدو په وجه او بې پرده کیدو سره سړي ته غیرت راځي. د ښځې بې پرده کیدل داسې دي لکه چې شرمګاه یې بې پردې شو نو چې کله دا څوک نشي زغملی نو بې پردګي به څنګه زغمي، په حقیقت کې د سړو د غیرت د وجې پرده شوه. لسان العصر اکبر الهآبادي څه ښه ویلي دي: (الکاشف ۲۵۷/۶)

بے پردہ کل جو آئیں نظر چند بیباں — اکبر زمیں میں غیرت قومی سے گڑ گیا

پوچھا جو ان سے آپ کا پردہ وہ کیا ہوا؟ — کہنے لگیں کہ عقلوں پہ مردوں کی پڑ گیا

**استشرفها الشیطان**: "استشرف" پټ کتو ته ویلی شي خاص طور باندې د حیرانیا په وخت کې چې یو سړی په خپلو سترګو باندې لاسونه کیږدي او بیا ګوري د استشراف دی، اوس د شیطان پټ کتو ډیر مطلبونه کیدی شي. (المرقات ۶۸۲/۶)

علامه طیبی وایي چې دپټ کتو یو مطلب دا هم دی چې شیطان دغه ښځه دنورو سړو مخکې ښائسته کوي او ددې په ذریعه خلق بې لارې کوي او پخپله دغه ښځه هم بې لارې کوي. صاحب آکام المرجان فی احکام الجان پخپله دې کتاب کې لیکلې چې شیطان د ښځې د دبر دپاسه په نرۍ ملا باندې ناست وي او خلق دې طرف ته متوجه کوي. د علامه طیبی په نزد باندې ددې حدیث دویم مطلب دا چې دپټ کتو نه مراد بدکاره خلق دي یعنې ښځه چې کله د کور نه دبې پردګۍ په حالت کې وځي نو بدکاره خلق ورته پټ پټ ګوري او دهغوی په زړونو کې دا وسوسه چونکه شیطان اچوي نو ځکه دهغوی داکار یې د شیطان کار ګرځولی دی یعنې د شیطان نه مراد بدکاره خلق دي. دریم مطلب یې داچې شیطان دا غواړي او په دې خوشاله کیږی چې ښځه په ښکاره راشي چې شیطان ورته ښه وګوري او د شیطان مخکې راشي. څلورم مطلب او مفهوم یې دا چې شیطان بهر وتونکې ښځې باندې خپل خراب نظر اچوي چې ددغې نظر په وجه دا پاکدامنه ښځه خرابه او ناخوښه ښځه جوړه شي. د علامه طیبی دا آخري خبره ډیره بهترینه ده. (المرقات ۲۸۲/۶ الکاشف ۲۵/۲)

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ:

حضرت بریده ددې حدیث راوي دی چې رسول کریم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چه

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۷۶ رقم الحدیث ۱۱۷۳

| |
|---|
| «يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى |
| اى علي! نظر پر يو تونه پس دوباره نظر مه اچوه (كه په يوه ښځه باندې ناګهاني نظر پريوته نو دوباره مه ګوره) ځكه چې |
| وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ والدارمي (حسن)[1] |
| ستا وړومبى نظر جائزدى خو دويم نظر جائز نه دى. (احمد، ترمذى، ابو داؤد، دارمى) |

## دواده شوې خادمې حكم

| |
|---|
| ﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دخپل نيكه نه نقل كوي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل |
| «إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى عَوْرَتِهَا». |
| چه كله په تاسو كې څوك دخپل غلام نكاح دخپلې خادمې سره وكړي نو بيادې نه ګورى د هغې شرمګاه ته |
| وَفِي رِوَايَةٍ: «فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى مَادُونَ السُّرَّةِ |
| اوپه يو روايت كې داسې الفاظ راغلي دي چې هغه دې د هغې خادمې بدن هغې حصې ته نه ګورې كومه چه دنوم نه |
| وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (ضَعِيف)[2] |
| د لاندې او د ګونډو نه برې ده. (ابو داود) |

**توضيح** : فلاينظرن: يعنې كله چې مالك دخپلې خادمې نكاح دخپل غلام سره وكړه نو اوس هغه دبل كس ښځه شوه نو اوس دغه خادمه دمالك دپاره يوه پردې ښځه شوه نو اوس دمالك دپاره دا جائز نه دي چې هغه دې د ګونډو نه برې او د نوم نه لاندې او د دې نه علاوه د ستر حصو ته وګورې. او داد احنافو مسلك هم دى.

ليكن امام شافعي رحمه الله وايي د واده نه وروسته د وينځې ستر د آقا لپاره د سرو د ستر په شان دى، يعنې د زنګونانو نه برې او د نامه نه لاندې پرده ضروري ده، مخكې د آقا لپاره ضروري نه وه، ځكه د هغه لپاره د هغې سره جماع كول جائز وو مګر دا حصه ممنوع شوه او باقي حصې د سرو په شان شوې، يعنې د هغې شا او خټه او نور اعضاء د ستر نه خارج دي. (المرقات ۶/۲۸۳)

---

(1) اخرجه ابوداؤد فى السنن ۲/۶۱۰ رقم الحديث ۲۱۴۹ والترمذي في ۵/۹۴ .

(2) اخرجه ابوداؤد في السنن ۲/۲۲۲ رقم الحديث ۴۱۱۳ واحمد في المسند ۲/۱۸۷

## پنځمٔ دبدن دستر حصه ده

﴿۱۵﴾ وَعَنْ جَرْهَدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ

حضرت جرهد وايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې ايا تاسو نه پوهيږئ چه ورون

الْفَخِذَ عَوْرَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد (ضَعِيف)[1]

ستر دی (يعنی ورون دبدن هغه حصه ده چې پټه شوې وی. (ترمذی، ابوداود)

**توضيح** : ان الفخذ عورة: ايا ورون دستر والا اندامونو کې داخل دی او که ورون ستر نه دی په دې کښ د فقهاو اختلاف دی.

**د فقهاو اختلاف** : د امام مالک او د اهل ظواهرو په نزد باندې ورون عورت نه دی . جمهور ائمه فرمايي چې ورون عورت دی. (المرقات ۲۸۴/۶)

**دلائل** : اهل ظواهر او امام مالک رحمه الله د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې عمل نه دليل نيولی دی چې حضرت انس رضي الله عنه يې داسې بيان کوي چې مونږه دخيبر د غزا دپاره نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روان وو دسحر په وخت زه د ابو طلحه نه وروسته حضور سره په اوښه سور شوم نو زما ورون د حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورنونو مبارکو سره لګيدلی وو، نو معلومه شوه چې عورت نه دی. په دې مسئله کې دجمهورو دلائل ډير دي او د واضح او صاف احاديثو نه يې دليل نيولی دی يو حديث خو داد حضرت جرهد روايت دی چې مشكوة شريف ص ۲۶۹ باندې دی هم په دې صفحه باندې د عمروبن شعيب روايت هم دی چې د خادمې دګونډو نه بره او د نوم نه لاندې مه ګوره دليل داسې دی چې د خادمې د ستر اندامونه هغه دي کوم چې دسړي دي لهذا ورون ستر دې دادجمهورو دويم دليل دی. د جمهورو دريم دليل د دې پس دحضرت علي رضي الله عنه روايت دی چې په کې د ژوندي او مړ سړی ورون ته کتل منع کړی شوي دي. (المرقات ۲۸۳/۶)

**جواب** : د اهل ظواهرو او د مالکيو د دليل نه جواب دا دی چې د خيبر په سفر کې د مس فخذ واقعه پېښه شوې وه هغه مجبوري وه او غير اختياري طور باندې وو، د هغې نه ضابطه جوړل نه دې پکار، هغه مس فخذ د حائل سره وو په مينځ کې کومه کپړه حائل وه، بهر حال هغه يوه جزئي واقعه ده، او احتمال هم شته، او بل طرف ته کثير مقدار باندې واضح احاديث دي په هغې باندې عمل ډير بهتر دی.

---

(۱) أخرجه البخاري تعليقًا ۱/۴۷۸ كتاب الصلاة باب مايذكر في الفخذ وأبوداؤد في السنن ۴/۳۰۳الحديث رقم ۴۰۱۴ والترمذي في ۵/۱۰۲ رقم الحديث ۲۷۹۵ وأحمدفي المسند۳/۴۷۸

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: يَا عَلِيُّ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته او فرمائيل چې اې علی!

لَا تُبْرِزْ فَخِذَكَ وَلَا تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ».

خپل ورون دنورو خلقو مخکې مه بنکاره کوه او مه د ژوندی سړي ورون ته ګوره او مه د مړي ورون ته ګوره.

رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه (ضَعِيف)[1]

(روايت کړې دې ابو داود، ابن ماجه)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

محمد بن جحش وايي چې يو ځل رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معمر خوا سره په داسې حالت کې تير شو

عَلَى مَعْمَرٍ وَفَخِذَاهُ مَكْشُوفَتَانِ قَالَ: «يَا مَعْمَرُ غَطِّ فَخِذَيْكَ

چه دهغه دواړه ورنونه بنکاره کيدل نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل چې اې معمر! خپل ورنونه دې

فَإِنَّ الفخذين عَورَة». رَوَاهُ فِي شرح السّنة[2]

پټ کړه ځکه ورنونه عورت دی. (شرح السنه)

## بغير د ضرورت نه په تنهائي کې هم ستر نه بنکاره کول

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِيَّاكُمْ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چه تاسو ځان ساتئ د

وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ

بربنډ کيدو نه (که تنهائي ولې نه وي) تاسو سره هروخت هغه فرښتې وي ځکه چې د اودس ماتي اود

وَحِينَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَحْيُوهُمْ

ښځې سره کوروالي کولو نه علاوه (چه ستا نګراني، حفاظت او ستاسو اعمالو ليکلو باندې مقرر دي)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۵۰۱ رقم الحديث ۳۱۴۰ وابن ماجه في ۱/۶۶۹ رقم الحديث ۱۴۶۰ وأحمد في المسند ۳/۵۰۱

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۵/۲۹۰

وَأَكْرِمُوهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (ضَعِيف)[1]

لهذا تاسو ددې فرښتونه حيا کوئ او عزت يې کوئ. (ترمذي)

## ښځه سړی ته کتلی شي يا نه؟

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَيْمُونَةَ

دأم سلمةؓ نه روايت دې چې يو ځل هغه او ام المؤمنين حضرت ميمونه د نبی عَلَيْهِ السَّلَام سره موجود وې چې

إِذْ أَقبل ابْن أم مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابن ام مکتوم (چې يو رونده صحابي وو) راغی. پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام چې کله ابن ام مکتوم وليدلو نو خپلو دواړو ويياتو ته ئې وفرمائيل

«احْتَجِبَا مِنْهُ» فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى

چې تاسو دده نه پټې شئ. ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې هغوی دنبی عَلَيْهِ السَّلَام حکم اوريد و سره عرض او کړو چې داخو رونده دې

لَا يُبْصِرُنَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفَعَمْيَا وَانِ أَنْتُمَا؟

چه مونږه نه شي ليدلی، نبی عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمائيل چې تاسو دواړه هم رندې يې څه؟ آيا تاسو

أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ؟» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد (حسن)[2]

ورته نه ګورئ؟ يعنې هغه رونده دی تاسو خو رندې نه يې. (احمد، ترمذی، ابوداود)

**توضيح**: افعمیاوان انتما: دې حديث نه دا معلومه شوه چې ښځه يو پردي سړي ته نه شي کتلی. ځنګه چه يو سړی له يوې پردی ښځې ته کتل حرام دي داسې د يوې ښځې هم پردې سړي ته کتل حرام دي .اوس په دې حکم باندې د حضرت عائشې رضي الله عنها په روايت باندې اعتراض رائي چې حضرت عائشه فرمايي چې ما هغه وخت حبشيانو ته کتل چې په مسجد کې يې په نيزو او په تورو باندې لوبې کولې . ددې دوو قسمه روایاتو په وجه باندې بعضې علماو د حرمت خبرې کړي دي ليکن عامو علماو د فرمايلي دي چې د فتنې ويره په کې نه وي نو ښځه پردي سړی ته کتلی شي .د حضرت عائشې دا روايت په دې باندې دلالت کوي ځکه چې دا واقعه د نهم ۹ هجري وه چې د حضرت عائشې عمر شپاړس کاله وو، قرآن کريم ښځو ته د پردې حکم ورکړی دی چې سړي ورته ونه ګوري او سړو ته د پردې حکم نه دی ورکړی که ښځو ته کتل ناجائز وو نو سړو ته به هم د پردې حکم شوی وو.

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ٥/١٠٤ الحديث رقم ٣٨٠٠

(2) أخرجه أبوداؤد في المسند ٤/٣٦١ رقم الحديث ٤١١٢ والترمذي في ٥/٩٤ رقم الحديث ٢٧٧٨ وأحمد في المسند ٦/٢٩٦

بهرحال په کتلو کې دا شرط دی که دفتنې ویره نه وي، او که دشهوت خطره وي نو بیا حرام دی او د نه نوم لاندې او د ګوندو نه بره حصو ته کتل په هر حال کې حرام دي ،لوبغاړې د لوبو په وخت کې که ورنونه ښکاری نو سړو او ښځو دواړو له کتل حرام دي او بهتره داده چې ښځه بلا ضرورته سړي ته ونه ګوري.(المرقات ۲۸۴/۶)

**وَمیمُونَةَ:** د دې لفظ عطف په (اِنها) کې د اِن په اسم باندې دی د دې وجې نه د دې منصوب ویل زیات بهتر دي.(المرقات ۲۸۴/۶)

**اَلستُمَا تُبصرانِه:** دا جمله یې د دې نه مخکنۍ جملې د استفهام انکاري لپاره د تقرر او ثبوت په طور وفرمایله، د دې زجر او توبیخ او د دې روایت ممانعت د حدیث علماو او فقهاو په تقوی او احتیاط باندې حمل کړی دی او د عدم فتنې او عدم شهوت د صورت سره یې مربوط کړی دی.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

حضرت بهز بن حکیم د خپل پلار نه او هغه د نیکه نه (حضرت معاویه ابن جیده) نه روایت کوي چې

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ»

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ته خپل عورت پټ ساته د خپلې ښځې او خادمې نه علاوه

فَقُلتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ

حضرت معاویه وایي چې ما عرض وکړو یا رسول الله! چې ماته ووایه! چې سړی کله په تنهائي کې وي نو هغه وخت کې

الرَّجُلُ خَالِيًا؟ قَالَ: «فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ يُستحيى مِنْهُ»

هم خپل عورت پټول ضروري دي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې الله تعالی د دې لائق دی چې د هغه نه شرم وکړي شي.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه (صَحِيح)[1]

روایت کړې دي (ترمذی او ابو داود او ابن ماجه)

## پردې ښځې سړه په تنهائي کې مه اوسه

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَخْلُوَنَّ

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چه کله هم یو سړي د یو

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۳۰۴ رقم الحديث ۴۰۱۷ والترمذي في ۵/۱۰۲ رقم الحديث ۲۷۹۴ وابن ماجه ۱/۶۱۸ رقم الحديث ۱۹۲۰ وأحمدي المسند ۵/۳

رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثالثهما الشَّيْطَان». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

پردې بنځې سره په تنهائي کې ناست وي نو په هغوی کې دريم شيطان وی.

**توضيح**: بنکاره خبره ده چې شيطان دهغوی په مينځ کې څه اصلاح دپاره خونه وي راغلی بلکې د فساد او فتنې اچولو دپاره راغلی وي او دبنځو دا خبره غلطه ده چې زړه صفا وي نو څه هم نه کيږي چې زړه صفا وي نو بيا پردو سړو سره اختلاط ولې کوي ؟ ياد ساتئ چې د فتنې نه اصل حفاظت حجاب او پرده ده ، او بې پردګي کې د قرآن بنودولو والا به قرآن په دري (طاق) کې کيږدي او ګناه به شروع کړي. (المرقات ۲۸۶/۶)

## په انساني بدن کې دشيطان داخليدل

﴿۲۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَلِجُوا

حضرت جابر دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چه تاسو په تنهايئ کې ناسته مه کوئ

عَلَى الْمُغَيَّبَاتِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ

هغه بنځو سره د کومو بنځو چې خاوندان موجود نه وي ځکه چې ستاسو د بدن وينه کې شيطان

مَجْرَى الدَّمِ» قُلْنَا: وَمِنْكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:

دوينې د ګرځيدو په شان ګرځي ،مونږ عرض وکړو يارسول الله ! شيطان ستاسو په رګونو کې هم ګرځي؟ دوی اوفرمائيل چه

«وَمِنِّي وَلَكِنَّ اللهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (صَحِيح)[2]

اوزما په بدن کې هم ګرځي. خو الله تعالى دشيطان په مقابله کې زما مدد فرمايلی دی او زه يې دهغه نه محفوظ ساتلی يم.

**توضيح**: **مجرى الدم**: يعني څنګه چې وينه په رګونو کې ګرځي داسې شيطان د وسوسو په شکل کې انساني بدن کې ګرځي . يا دا کلام حقيقت دی چې کوم کوم ځای ته وينه ځي هلته شيطان داخليږي او په نظر نه راځي څنګه چې وينه په نظر نه راځي. (المرقات ۲۸۶/۶)

**المغيبات**: د ميم په ضمې سره دا د مغيبة جمع ده هغې بنځې ته ويلی شی چې دهغې خاوند په سفر کې وي او کور يې خالي وي، په حديث کې دداسې بنځو په خاص طور باندې ذکر شوی دی چې دخاوند د غير موجودګی په وجه داسې بنځې ته دجماع کولو زيات شوق وي نو هغې سره په ناسته باندې د فتنې

---

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۷۴ رقم الحديث ۱۱۷۱ وأحمد في المسند ۱/۲۶.

([2]) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۷۵ رقم الحديث ۱۱۷۲ وأحمد في المسند ۳/۳۰۹.

زیات خطر وي او شیطان خو پټ دشمن دی چې هروخت حملې کولو په انتظار کې وي. (المرقات ۲۸۶/۶)

**اسلم**: دا لفظ أَسْلَمَ هم دی او أَسْلَمُ هم دی ورومبی صیغه دماضي ده او دویمه د مضارع متکلم صیغه ده که دماضی صیغه وي نو ترجمه به یې داسې وي چې شیطان اطاعت کول اختیار کړل او که د متکلم صیغه وی نو ترجمه به یې داسې کیږي چې زه ده نه محفوظه اوسم، بهرحال دا صیغه د اسلام په معنی سره نه ده ځکه چې شیطان مردود دی هغه اسلام نه قبلوي. (المرقات ۲۸۶/۶)

## دمالکې دخپل غلام نه دپردې کولو حکم

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى فَاطِمَةَ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره تشریف یوړلو هغه وخت کې د فاطمهؓ په

بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا وَعَلَى فَاطِمَةَ ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ

خدمت کې هغه غلام هم موجود وو کوم چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورکړی وو او د حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په بدن باندې یو وړه

رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا

کپړه وه چې کله به ئې سر پټولو نو پښې به یې بنکاریدې او چې پښې به یې پټولې نو سر به یې بنکاریده،

فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَلْقَى

کله چې اولیدله نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دې پریشانۍ کې (چې دشرم او حیا د وجې هغې ډیر

قَالَ: «إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا

کوشش باوجود خپل بدن نشو پټولې) نو وې فرمایل چې دومره ولې پریشانه کیږې دې کې څه حرج نشته چې

هُوَ أَبُوكِ وغلامك». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ته د چانه دومره شرمیږې هغه څوک پردی نه دی بلکه ستاپلار دې او ستا غلام دې. (روایت کړې دې ابوداود)

**توضیح**: **انما هو ابوک وغلامک** په دې کې د فقهاء کرامو بحث دی چې ایا د مالکې بنځې دپاره دغه غلام محرم دی یا دپردې په شان دی په دې کې د فقهاو اختلاف دی.

**دفقهاء کرامو اختلاف** د امام مالک او امام شافعی رحمهما الله په نزد د بنځې غلام دهغې دپاره محرم دی او پرده تري نه شي کولی. امام ابو حنیفه، امام غزالي او د علامه نووي په نزد د بنځې دپاره غلام په

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۳۵۹ رقم الحديث ۴۱۰۶

شان دپردي دی او مکمله پرده به تري کوي دهغې ښځې مخ او دبدن حصې دغه غلام ته ځي لدلی. (المرقات ۲۸۷/۶)

**دلائل:** مالکیه اوشوافع دزیربحث دحضرت انس رضي الله عنه د حدیث نه دلیل نیولی دی دې حضراتو دسورت نور ایت (**ولا یبدین زینتهن إلا.... ما ملکت یمینهن**) (سورة النور الایة ۲۱) نه هم دلیل نیولی چې دلته د ما لفظ عام دی لهذا ښځې دخپل غلام او خادمې مخکې زینت ښکاره کولی شي. ائمه احناف دخپل دلیل دپاره د ابن ابی شیبه روایت پیش کوي چې "**تستر المراة من غلامها**" او هم داسې په مصنف عبد الرزاق کې دمجاهد او حضرت طاوس والا روایت نه هم دلیل پیش کوي چې "**لا ینظر المملوک الی شعر سیدته**" صاحب هدایه عقلی دلیل داسې پیش کوي چې کله غلام آزاد شي نو دهغه نکاح دخپلې سابقه مالکې سره جائزده که چیرې دامحرم وی نو نکاح څنګه جائزشوه (سورة النور ۲۱)

**جواب:** دسورت نور په ایت کې "**ماملکت یمینهن**" نه مملوکې جینکی مراد دي هلکان تري مراد نه دي ،حضرت سعید بن مسیب او حضرت حسن بصری او حضرت سمره بن جندب فرمایي چې "**لا تغرنکم سورة النور فانها فی الاناث دون الذکور**" باقی دحضرت انس د مذکوره روایت جواب دادی چې کیدی شي چې غلام نابالغه وي، یا جواب دا هم دی چې دلته دفتنې او شهوت ګمان نه وو، بهرحال یوه جزئي واقعه ده په دې کې ډیر امکانات کیدی شي خو مونږ له قانون او ضابطه اختیارول پکار دي.

## الفصل الثالث

﴿۲۴﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا

ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روایت دی چې یوه ورځ نبی علیه السلام هغې سره تشریف فرما وو او په

وَفِي الْبَيْتِ مُخَنَّثٌ فَقَالَ: لِعَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ:

کور کې یو نر ښځی (هیجړا) هم موجود وو هغه نر ښځي حضرت عبد الله بن امیه د حضرت ام سلمه ورور ته وویل چې

يَا عَبْدَ اللهِ إِنْ فَتَحَ اللهُ لَكُمُ غَدًا الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى ابْنَةِ غَيْلَانَ

عبد الله! که الله تعالی تاسو ته سبا له په طائف باندې فتح درکړه نو زه به تاته دغیلان لوریاني وښایم چې

فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

څلورو سره راځي او اتو سره ځي، رسول کریم صلی الله علیه وسلم چې دا غې نر ښځي خبرې واوریدلې نو وې فرمایل

| «لَا يدخلن هَؤُلَاءِ عَلَيْكُم» (صَحِيح)[1] |
| --- |
| چه دا نر ښځی دې بیا تاسو کره نه راځي. |

**توضیح** :فی البیت مخنث: مخنث نر ښځی سړی وي چې اندامونه یې د ښځو په شان وي او آواز یې هم د ښځو پشان وي، مخنث کیدل پیدائشي هم کیدی شي لهذا په دې شرعاً څه مذمت نشته ځکه چې داد هغه په اختیار کې نه دی.او که مشابهت مصنوعي وو او سړی دځه مقصد دپاره ځان له د ښځو شکل اوصورت جوړ کړی وو نو په ده نعنت دی او حرام دی او داسې کول د ښځو او سړو دواړو دپاره ناجائز دي.(المرقات ۲۸۷/۶)

صحابیاتو او امهات المؤمنینو نر ښځی (**غیر اولی الاربة من الرجال**) ګڼلی وو چه دا خلق د ښځو په شان رغبت او خواهش نه لري خو چې کله دې نر ښځو محاسن تیک تیک بیان کړل نو حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی کور ته د داخلیدو او د ښځو سره ناستې پاستې نه منع کړل ځکه چې معلومه شوه چې دا خلق "**غیر اولی الاربة**" کې نه دي او دا حکم دخصي او مجبوب الذکر هم دی چې هغوی هم "**غیر اولی الاربة**" کې نه دي.(المرقات ۲۸۸/۶)

**ابنة غیلان**: غیلان د طائف سردار وو دهغه دلور نوم بادیه وو هغه ډیره زړه راښکونکې وه او بدن یې هم ډیر پر کشش وو.

**تدبرُ بثمانٍ**: د دې مطلب دا دی چې د غټوالي د وجې نه د هغې په وجود کې موړې جوړې شوې وي، د مخې نه څلور موړې شا طرف ته ځي، یوه ښې طرف او یوه چپ طرف ته، اوس څلور کرښې مخې طرف ته ځي مګر څلور شا طرف ته ځي او د ملا نه مخکې مخکې ختمیږي نو دغسې دواړو طرف ته د څلورو په ځای اته اته لارې ښکاري،او همدا نقشه دا مخنث ښایي چه **تقبل باربع وتدبر بثمان**(المرقات ۲۸۸/۶)

| ﴿۲۵﴾ وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلاً فَبِينَا أَنَا أَمْشِي |
| --- |
| حضرت مسور بن مخرمه وایي چې (یوځل زه دخپل څه ضرورت دپاره) مایو دورن کانې اوچت کړو او روان وم نو په |
| سَقَطَ عَنِّي ثَوْبِي فَلَمْ أَسْتَطِعْ أَخْذَهُ |
| لاره کې زما کپړې زما بدن نه وغورځېدې چې دهغې په وجه زما ستر ښکاره شو خو ما دبوچ له وجې خپله کپړه اوچته نه کړې شوه |

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه رقم الحديث ٤٣٢٤ ومسلم في صحيحه ١٧١٥/٤ رقم الحديث (٢١٨٠.٣٢)

فَرَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي: «خُذْ

او په دې دوران کې نبی علیه السلام زه دبرښنه ید و حالت کښې ولیدم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وې فرمائیل چې زر

عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلَا تَمْشُوا عُرَاةً». رَوَاهُ مُسلم [1]

خپله کپړه اوچته کړه او ستړپټ کړه او بیایې دا حکم وکړه چې برښنه مه ګرځئ.

## دشرم اوحیا اوچته درجه

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا نَظَرْتُ أَوْ مَا رَأَيْتُ فَرْجَ

ام المومنین حضرت عائشهؓ فرمایې چې ما کله هم خپل نظر دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ طرف ته نه دی اوچت کړی یا دائې اوفرمائیل

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قط. رَوَاهُ ابْن مَاجَه [2]

چې ما کله هم دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ عورت ته نه دې کتلې. یا مې نه دی لیدلی.

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ

حضرت ابو امامه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د کوم مسلمان

يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا

چې د کوم مسلمان وړومبی نظر دیوې ښځې په حسن او جمال باندې پریوځي اوبیاهغه خپل نظر زربدل کړی

أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حلاوتها». رَوَاهُ أَحْمد [3]

نو الله تعالی به د هغه دپاره داسې عبادت پیدا کړي چې هغه کس ته به د هغې لذت حاصل شي. (احمد)

## ستر والا اندامونه ښکاره کول هم حرام دي اوورته کتل هم حرام دي

﴿۲۸﴾ وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ

حضرت حسن بصری نه مرسل روایت دی هغوی فرمایې چې ماته دیو صحابیؓ نه دا حدیث رارسیدلی دی چې

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۲۶۸ رقم الحديث (۳٤۱.۷۸) وأبوداؤد في السنن ٤/۳۰٤ رقم الحديث ٤۰۱٦

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٦۱۹ رقم الحديث ۱۹۲۲.وأحمد في المسند٦/٦۳

(۳) أخرجه أحمدفي المسند٥/۲٦٤

| |
|---|
| رَسُولَ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَعَنَ الله |
| رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې په هغه کس باندې د الله تعالى لعنت دې چې هغه (بلا عذر |
| النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ» .رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ [1] |
| او بغير اضطرار) وکتل او په هغه کس باندې چې کوم ته يې وکتل. |

**توضيح** :**الناظر والمنظور اليه**:يعنې په قصد دنظر د شهوت يوې پردې بنځې ته کتلو والا ملعون دی او هم داسې دستر والا اندامونو ته کتلو والا هم ملعون دی .

او داسې **"منظور اليه"** يعنې چا طرف ته چې کتلی شي هغه هم ملعون دی .اوس سوال دادی چې هغه ولې ملعون دی د کتلو والە خو قصور دی نو د هغه څه قصور دی؟ ددې جواب دادی چې په منظور اليه کې دا قيد دی چې هغه بغير دڅه عذر نه خپل ځان بربنډ کړی دی او بنودنه کوې که بنځه وي او که سړی .او که معذوره وي يا څه نوره څه مجبوري وي نوهغه وعيد نه آزاد دی.( المرقات ۲۹۰/۶) بربنډ تصويرونو ته ، نيم بربنډ فلمونو ته ، او په سوئمنګ کې لوبغاړو ته کتل هم د لعنت په باب کې راځي. الله تعالى دې دټولو مسلمانانو حفاظت وکړي.



[1] رواه البيهقى فى شعب الايمان ٦/١٦٢ رقم الحديث ٧٧٨٨

# بَابُ الْوَلِيِّ فِي النِّكَاحِ وَاسْتِئْذَانِ الْمَرْأَةِ

## دنکاح ولی او دښځې داجازت بیان

په لغت کې ولي دکارونو داروغه ته ویلی شي د ولایت نه اخستل شوی دی " **تنفیذ الحکم علی الغیر**" ته ویلی شي.دلته د ولي نه مراد هغه کس دی چې دښځې د نکاح واکمند وي او ددې معاملې قانوني ذمه دار وی، مخکې به دیوې ښځې دنکاح واک دښځې هغه رشته دار سره وو.چه عصبه بنفسه به وو او د عصباتو ترتیب به هغه وي چې په میراث کې وراثت کې وي.

د ولی دپاره لازم دي چې مسلمان وي، عاقل او بالغ وي.لهذا غلام، لیونې ، ماشوم او کافر ولي نه شي جوړیدی. دې لپاره چې د زندګی دا اوږده معامله چیرته د نقصان ښکار نه شي،داسلام په نظر کې د نکاح او د انسانی شرافت ډیر لحاظ ساتلی شوی دی، دې وجې نه د ولي اجازت او دښځې اجازت سره دارشته دشرافت یوې ربنا سره ترلی شي.چې په یو مناسب ځای کې نکاح وکړی شي چې ښځه خپل خاندان بدنام نه کړي، او دویم طرف ته ښځه بې وسه نه شي او دځناورو پشان نه شي. په دې وجه په دې باب کښ"باب ولي النکاح" کې هغه ټول احادیث دي چې پکې یې ددواړو اړخونو خیال ساتلی دی. انساني حق او د خودارادي د اصولو ماتحت په دې معامله کې د ښځې حیثیت لږ اوچت او مستحکم دی لیکن د شرافت او د شرم او د حیاء په میدان کې د ولي تله درنه ده، لهذا په کومو احادیثو کې چې تعارض په نظر راځي نو په هغې کې د طرفینو حقوق په نظر کې نیول پکار دي نو هیڅ تعارض به پاتې نه شي.( المرقات ۲۹۰/۶)

## "مسئلة ولایة الاجبار"

## الْفَصْلُ الأول

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى

حضرت ابوهریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل. ایم (یعني کونډه بالغه) به نکاح کولې نه شی ترڅو پورې

تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟

چې حکم یې نه وي شوی،او همداسې د پیغلې ښځې هم نکاح مه کوئ ترڅو چې اجازت نه وی حاصل شوې. صحابه کرامو عرض اوکړو چې دائې واوریدل ای دالله تعالی رسوله! ددې پیغلې جینې اجازت به څنګه ملاویږی

قَالَ: «أَن تسكت» (صَحِيحٌ)[1]

نبی علیه السلام وفرمائیی دهغې اجازت خاموشی ده

**توضیح** :الایم: دایم لفظ د شد سره دی او هغې ښځې ته ویلی شي چې دهغې خاوند نه وي که پیغله وي او که کونډه وي او یا مطلقه وي یا خاوندیې مړ شوی وي.لیکن دلته په دې حدیث کې صرف ثیبه مراد ده یعنې چې دهغې پیغلتوب زائل شوی وي ، خواه نکاح یې صحیح سره زائل شوی وي یا نکاح فاسدې سره زائل شوی وي یا زنا وغیره سره ختم شوی وي.علامه طیبي هم داسې لیکلې دي. په دې حدیث کښ"الایم" سره د امر او حکم لفظ راغلی دی ځکه چې ثیبه کې اصل نسواني حیاء پاتې نه وي هغه به دخپلې نکاح پخپله حکم وکړي او الفاظو قطار به جوړ کړي.( المرقات ۲۹۳/۶،۲۹۱)

او "البکر" سره د اجازت لفظ ترلی دی ځکه چې پیغله په دې عمر کې دخپل نسواني حیاء په وجه کامله وي نو ژبې سره اقرار نه شي کولی نو په دې وجه دهغې خاموشه پاتې کیدل به دهغې رضامندي وي. (المرقات ۲۹۴/۶،۲۹۳،۲۹۱)

**په ولایت اجبار کې دفقهاو اختلاف** د ټولو نه وړومبی په دې ځان پوهه کول پکار دي چې دولایت اجبار او عدم اجبار څلور قسمونه دي: ۱.اول دا چې ثیبه بالغه ده او په دې دفقهاو اتفاق دی چې دنکاح دپاره اجازت ضروري دی.۲.دویم قسم باکره صغیره ده په دې کې د فقهاو اتفاق دی چې ددې د نکاح دپاره ددې داجازت ضرورت نشته دی.۳.دریم ثیبه صغیره ده په دې کې د جمهورو خیال دی چې ددې داجازت نه بغیر نکاح نه کیږي مګر احناف وایي چې دلته ددې داجازت ضرورت نشته دی. دثیبې صغیرې صورت دادی چې جینۍ وړه ده او دپیغلتوب نه مخکې کونډه شوه.۴.څلورم قسم باکره بالغه ده په دې کې هم اختلاف دی،علماء احناف فرمایي چې ددې نکاح داده چې داجازت او رضامندی نه بغیر جائز نه ده ځکه چې دا بالغه او خپلواکه ده لیکن جمهور فرمایي چې ددې داجازت او رضامندی نه بغیر ددې ولي یې نکاح کولی شي. ځکه چې پیغله ده او خپلواکه هم نه ده او دا مطلب د ولایت اجبار دی چې ولي په زوره نکاح وکړي. د ولایت دوه قسمه دي: ۱. ولایت اجبار ۲. ولایت استحباب.

د ولایت اجبار مطلب پورته ذکر کړی شو. د ولایت استحباب مطلب دادی چې دچا نکاح وي چې په

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۱۲/۳۳۹ رقم الحديث ٦٩٦٨،ومسلم في ۲/۱۰۳٦ رقم الحديث (١٤١٩.٦٤) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۷۳ رقم الحديث ۲۰۲۹ والترمذي في ۳/٤١٥ رقم الحديث ۱۱۰۷ والنسائي في ٦/٦٨ رقم الحديث ۳۲٦۷ وابن ماجه في ۲/٦۰۱ .

| |
|---|
| وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او هغه کونډه (بالغه) وه او دهغې دا نکاح ناخوښه وه او دنبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضره شوه |
| فَرَدَّ نِكَاحَهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ |
| او خپله معامله ئې ورته بیان کړه لهذا نبی عَلَيْهِ السَّلَام دهغې نکاح (پلار ئې چې کړې وه) ختمه کړه. |
| وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَه نِكَاح أَبِيهَا (صَحِيح)[1] |
| او په یو روایت د ابن ماجه کې دا الفاظ دي چې دهغې نکاح چه پلار ې کړې وه رد کړه. |

**توضيح :وهي ثيب:** دجمهورو په نزد باندې ثیبې ته دنکاح د رد کولو اختیار شته او پیغلې ته نشته. احناف فرمائي چې دلته دثیبې نه مراد بالغه ښځه مراد ده او دې ته دا اختیار په دې وجه ورکړی شوی دی چې بالغه ده او عاقله ده شریعت داسې ښځې له د هر قسمه عقد او پریکون واک ورکړی دی نو د نکاح اختیار یې هم ورکړی دی نو چې کله ښځې له اختیار ورکړی شو نو دکوندې او پیغلې فرق په کې پاتې نه شو صرف دبلوغت لحاظ دی پکې. (المرقات ۲۹۳/۶)

## دنکاح په وخت کې دحضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عمر

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ |
| حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغې سره هغه وخت نکاح کړې وه چې دهغې عمر اوه کاله |
| وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا |
| وه او چې کله دنبی عَلَيْهِ السَّلَام کور ته راغله نو دنهه کالو وه او هغې سره د (دلوبو) څیزونه وو او چې کله او نبی عَلَيْهِ السَّلَام |
| وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ. رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[2] |
| د دنیا نه تشریف یوړلو او دحضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه همیشه دپاره جدا شو نو په هغه وخت کې یې عمر اتلس کاله وو. |

**توضيح :** دا حدیث د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دزندګۍ د وړومبنيو دور وضاحت کوي او دهغې کم عمري د دریو اهمو مرحلو ښودنه کوي، د اوه کالو په عمر کې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زوجیت کې راغله او دنهو کالو په عمر کې یې رخصتي وشوه او نهه کاله یې د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره تیر

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۱۹٤ رقم الحديث ٥١٣٨ وأبوداؤد في السنن ۲/٥٧٩ رقم الحديث ۲۱۰۱ والنسائی في ۲/۷٦ رقم الحديث ۳۲٦۸ وابن ماجه ۲/٦۰۲ رقم الحديث ۱۸۷۳ والدارمي في ۲/۱۸۷ رقم الحديث ۲۱۹۲، وأحمد في المسند ٦/۳۲۸.

(۲) أخرجه في صحيحه ۲/۱۰۳۹ رقم الحديث (۱٤۲۲.۷۱)

کړې دي، او چې کله د اتلسو کالو شوه نو حضور اکرم ﷺ د دنيا نه تشريف يورلو. دنهو کالو په عمر کې جينې بلوغت ته رسي او په کم عمرې کې درسول کريم ﷺ خوا ته رسيدل د حضرت عائشې رضي الله عنها دپاره د اعزاز خبره ده، ناپوهه دي هغه خلق چې دومره صاف او صحيح حديث په دې وجه رد کوي چې دې سره د حضرت عائشې رضي الله عنها بې عزتي کيږي، په اخوا ديخوا خبرو باندې صحيح حديث رد کول ګمراهي ده. حضرت عائشه چونکه کم عمره وه په دې وجه يې ځان سره د لوبو څيزونه راوړې وو او د لوبو څيزونه دکيږې او دلرګې نه جوړې شوې ګوډياني وي، علماو ليکلي دي چې ماشومانو جينکو له دې سره لوبې کول بهتر دي چې دکور په کاروبار باندې ښې پوهه شي. (المرقات ۲۹۴/۶)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

### د کم عمره جينې نکاح دولي د اجازت نه بغير نه کيږي

| |
|---|
| ﴿۵﴾عَن أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا |
| حضرت ابو موسی رضي الله عنه د نبی عليه السلام نه نقل کوي چې نبی کريم ﷺ فرمايل چې د |
| نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ (صَحِيح)[1] |
| ولي د اجازت نه بغير نکاح نه کيږي. (احمد، ترمذی، ابو داؤد، ابن ماجه، دارمی) |

**توضيح**: نکاح د ټولې زندګۍ د بندولو نوم دی د ټولې زندګۍ سودا ده شريعت په دې کې د ډير احتياط نه د کار اخستلو تعليم ورکړ دی، دې وجې نه ضروري ده چې د دواړو طرفونو نه رضامندي شامله وي چې روستو په کې زړه بداوی نه وي. شريعت د ولي باره کې ويلي دي چې ډير داعتدال نه دې کار اخلي او د جينې د مرضۍ خيال دې ساتي، او دويم طرف جينې له هم پکار دي چې د ولي د اجازت نه بغير نکاح نه کوي. او که چيرې يوه عاقله بالغه ښځه د يوې جينې نکاح وکړي چې د "انعقاد النكاح بعبارة النساء" په عنوان سره يادېږي نو ايا دا نکاح منعقد کيږي او که نه؟ د فقهاؤ په دې کې اختلاف دی چې "نكاح بعبارة النساء" درسته ده او که نه ده.

**د فقهاء کرامو اختلاف**: د امام شافعی او امام احمدبن حنبل په نزد د ولي نه بغير نکاح نه کيږي او د

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۶۸ رقم الحديث ۲۰۸۵ والترمذي في ۳/۴۱۷ رقم الحديث ۱۱۰۹ والنسائي في ۶/۸۷ رقم الحديث ۳۲۷۰ وأحمد في المسند ۴/۴۱۷.

صاحبینو هم دامسلک دی . امام ابو حنیفه فرمایي چې که نکاح کفو کې شوې وي او مهر مثل مقرر
نو نکاح وشوه ،او که غیر کفو کې وي یا د مهر مثل نه کم باندې نکاح شوې وي نو د امام ابو حنیفه نه د
روایات دي یو ظاهر الروایة دی چې دا نکاح به وشي خو ولي ته د فسخ حق حاصل دی، او نادر الروایة
دی چې دا نکاح بالکل صحیح نه ده، لهذا راجح او قابل فتوی قول دا دی چې دا نکاح نه منعقد کیږي.
امام مالک فرمائي چې که بنځه وضیعه ده یعني د خراب خاندان نه ده نو هغې ته دخپلې نکا
اختیار شته د ولي ضرورت ورته نشته او که د شریف خاندان ده نو هغه خپله نکاح نه شی کولی.
المرقات ۲۹۵/۶)

**دلائل** : امام شافعی او امام احمد بن حنبل په فصل ثانی کې د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله
عنه د روایت نه دلیل نیولی دی په دې کې **"لانکاح الا بولي"** په صفا الفاظو سره دی. او دویم دلیل خو
کې ورسره د حضرت عائشې روایت دی چې په کې **"ایما امراة نکحت نفسها بغیر اذن ولیها فنکاحها**
**باطل"** الخ پورې الفاظ راغلې دي. امام مالک په احادیثو کې د مطابقت لاره پرانستې ده . یعني د
منع احادیث شریفه د بنځې په حق کې دي چې د ولی د اجازت نه بغیر نکاح مه کوئ او هغه احادیث
چې کوم په جواز باندې راهنمائي کوي او هغه د وضیعه بنځې په حق کې دي.( المرقات ۲۹۵/۶)
د امام ابو حنیفه په نزد یوه عاقله او بالغه بنځه خپله نکاح پخپله کولی شي ډیر زیات دلیلونه دي د
قرآن کریم کې په ایتونو کې د نکاح نسبت بنځې طرف ته شوی دی ،لکه **(فلا تعضلوهن ان ینکحن**
**ازواجهن)** ( المرقات بقره ۲۳۲) **(فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره)**( البقرة ۲۳۰) **(فلا جناح**
**علیکم فیما فعلن فی انفسهن بالمعروف)** (البقر: ۲۴۳) په احادیثو کې د **"الایم احق بنفسها من**
**ولیها"** نه احنافو دلیل نیولی دی، دارنګه د هغه ټولو احادیثو نه احنافو استدلال کړی دی په کومو
کې چې د بنځې نه اجازت ضروري ګڼلی شوی دی.
احناف د عقلي دلیل نه داسې استدلال کوي چې بنځه انسانه ده چې هغې ته د عقد او پریکون حق
حاصل دی نو نکاح هم یو ترون دی او په دې کې بنځه د ځناورو په شان نشي ساتلی لهذا عبارات
النسا سره هم نکاح کیږي او د ولی د اجازت نه بغیر هم.

**جواب** : په کومو احادیثو کې چې د ولی نه بغیر نکاح ممنوع کړی شوې ده هغه احادیث یا خو په صغیره
محمول دي یا په مجنونه محمول دي ځکه چې د هغوی د اختیار اعتبار نشته بلکې اختیاریې نشته.(
المرقات ۲۹۶/۶)

یا "لانکاح الا بولي" کې دې طرف ته اشاره ده که په غیر کفو (خاندان) کې نکاح شوې وې نو د ولی اجازت ضروري دی که دولی اجازت په کې نه وي نو هغه د نکاح فسخ کولی شي. ګویا دا نکاح د ولی په اجازت باندې موقوف ده. نو "لا نکاح الا بولي" صحیح ده. (المرقات ۲۹۷/۶)

دریم جواب دادی چې په کومو احادیثو کې منع راغلې ده نو دسند په اعتبار سره ناقابل احتجاج دي همدارنګه پخپله دحضرت عائشې عمل د خپل روایت برعکس شو. ځکه چې هغوی د عبدالرحمن بن ابی بکر دلور نکاح پخپله کړې وه چې په هغې عبدالرحمن بن ابی بکر خفه وو خونکاح شوې وه، لهذا په دې صورت کې دا روایت د دلیل دپاره قابل نه دی، امام بخاری دا روایت ضعیف ګرځولی دې. بعضو ویلي دي چې داحنافو په نزد لا نکاح کې لا نفې دکمال دپاره دی چې بهتره نه ده .نسائي دا ضعیف ګرځولی دی،امام احمد بن حنبل فرمایي چې دا روایت قوی نه دی، بهرحال په دې مسئله کې د امام ابو حنیفه مسلک مضبوط دی. شپږم نمبر حدیث کې "اشتجروا" لفظ راغلی دی چې معنی یې ده "جګړه" یعنې که د ښځې د اولیاو په مینځ کې په څه خبره جګړه شي او فیصله کولو واله بل څوک نه وي نو دهغه وخت قاضی به ولي شي ځکه چې د چا ولي نه وي نو د هغه وخت قاضی یا حاکم به ولی وي. (المرقات ۲۹۷/۶)

| |
|---|
| ﴿۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ |
| حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دکومې ښځې نکاح د ولی د |
| بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ |
| اجازت نه بغیر وشوه نو دهغې نکاح باطله شوه دهغې نکاح باطله شوه، دهغې نکاح باطله شوه بیا که |
| فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا فَإِنِ |
| خاوند ورسره کوروالی وکړو نو هغه دمهر حق داره شوه ځکه چې خاوند د هغې شرم ګاه نه فائده اوچته |
| اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». (۱) |
| کړه او که ښځې د اولیاو په څه خبره کې په اختلاف شول نو که ولی نه وي نو د هغه ولی به بادشاه وي |

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۶۶ رقم الحديث ۲۰۸۳ والترمذي في ۳/۴۰۷ رقم الحديث ۱۱۰۲ وابن ماجه في ۱/۶۰۵ رقم الحديث ۱۸۷۹ والدارمي في ۲/۱۸۵ رقم الحديث وأحمدفي المسند۶/۱۶۶.

## دګواهانو نه بغير نكاح صحيح نه ده

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْبَغَايَا

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې هغه ښځې په زنا کې مبتلا کيږي دچا

اللَّاتِي يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ». وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ

نكاح چې بغير د ګواهانو نه شوې وي، ددې روايت په باره کې صحيح خبره داده چې دا د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

ارشاد نه دی بلکې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دی (ترمذی)

**توضيح**: اهل ظواهرو او ابن ابی ليلی طرف ته دا خبره منسوب شوې ده چې دنكاح د ترون په وخت کې دوه ګواهان ضروری دي، او ايجاب او قبول او ريدل ضروری نه دي، د جمهورو په نزد د نكاح په وخت ګواهان په موقع موجوديدل ضروري دي. امام مالک فرمائي چې د ښځې او خاوند ملاقات پورې د ګواهانو موجودګی ضروري ده، او د جمهورو په نزد صرف د نكاح د ترون په وخت کې موجودګي کافي ده.

## دښځې خاموشی د رضا دليل دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْيَتِيمَةُ

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عنه وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چه د پيغلی جينی نه د هغې

تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا وَإِنْ

د نكاح باره کې اجازت طلب کوئ او که داد اجازت په وخت کې خاموشه شوه نو دغه خاموشی د هغې رضامندی ده او که

أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[2] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي مُوسَى[3]

انكاري وکړو نو زور پرې نشته. (ترمذی، نسائی) دارمی دا روايت د ابو موسی نه نقل کړې دې

**توضيح**: اليتيمة: دلته د يتيمه اطلاق په هغه پيغلې بالغې باندې شوی دی په اعتبار د ما مضی

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/٤۱۱ رقم الحديث ۱۱۰۳.

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٥٧۳ رقم الحديث ۲۰۹۳ والترمذي في ۳/٤۱۷ رقم الحديث ۱۱۰۹ والنسائی في ٦/۸۷ رقم الحديث ۳۲۷۰ وأحمد في المسند ٤/۲٥۹.

(۳) أخرجه الدارمي في السنن ۲/۱۸٥ رقم الحديث ۲۱۸٥

سره، چې وړومبی یتیمه وه خو روستو د بلوغت نه یتیمه نه ده. (المرقات ۲۹۸/۶)

**فإن صمتت:** دښځې خاموشی درضامندی په معنی وي او دا صرف دولی په حق کې وي یعنې ښځه په هغه وخت کې خاموشه کنړلی شي کله چې ترې ولی دنکاح اجازت واخلي اوهغه خاموشه شي نودا خاموشي په رضامندی کې رائی اوکه غیرولی دنکاح مطالبه وکړه اوښځه خاموشه شوه نوددې خاموشی هیڅ اعتبار نشته که دیتیمي نکاح د پلار نه علاوه بل کس کړې وي نو دبلوغت نه پس د احنافو په نزد دې ته دفسخ کولو حق حاصل دی دشوافعو په نزد دانکاح صحیح نه ده (المرقات ۲۹۹/۶)

## دغلام نکاح د هغه د مالک داجازت نه بغیر صحیح نه ده

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَيُّمَا عَبْدٍ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې کوم غلام د

تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ والدارمي[1]

خپل مالک د اجازت نه بغیر نکاح وکړي نو هغه زنا کار دی. (ترمذی، ابو داود، دارمی)

**توضیح :عاهر:** اې زان د امام مالک په نزد د غلام نکاح د مالک د اجازت نه بغیر جائز او صحیح ده. د امام احمد بن حنبل او امام شافعي په نزد نکاح باطله ده او صحیح نه ده، د امام ابو حنیفه په نزد باندې غلام اهلیت نه لري، لهذا ایجاب او قبول هم موقوف دی او نکاح هم موقوفه ده، که مالک اجازت ورکړه نو نکاح وشوه که نه نو موقوف به وي. نوکه احناف د مالک په اجازت نکاح کوي نو دوی به د امام مالک سره وي او دعدم اجازت په صورت کې احناف دا نکاح باطله ګڼي نو په دې صورت کې به هغوی د شوافعو سره وي. (المرقات ۲۹۸/۶)

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث

## بالغه ښځه د خپلې نکاح په معامله کې واک منده ده

﴿۱۰﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ یوه پیغله جینۍ د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضره شوه او هغې

فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ

خپله قصه بیان کړه او ورته یې عرض وکړو چې دهغې پلار دهغې نکاح کړې ده چې هغه زمانا خوښه نه ده چنانچه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۶۳ رقم الحديث ۲۰۷۸ والترمذي في ۳/۴۱۹ رقم الحديث ۱۱۱۱وابن ماجه في ۱/۶۳۰ رقم الحديث ۱۹۵۹ والدارمي في ۲/۲۰۳ رقم الحديث ۲۲۳۳ وأحمدفي المسند۳/۳۷۷

فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

هغی له اختیار ورکړو چې ستا خوښه ده نکاح دې قائمه ساتې او که خوښه دې وې نو ماته یې کړه. (ابو داؤد)

## دولی دپاره د بالغې بڼځې نکاح کول مستحب دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «لَا تزوج الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې بڼځه دې د بڼځې سره نکاح نه کوی

وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[2]

او نه دې بڼځه خپله نکاح پخپله کوي ځکه چې هغه به په زنا کې اخته شي کومه چې پخپله نکاح کوي.

**توضیح** :**لاتزوج المراه**: که بڼځه خپله یا دبلې بڼځې د نکاح قبول او ایجاب وکړي نو ایا دا نکاح ټیک ده که نه؟ په دې کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۲۹۹/۶) دجمهورو په نزد په عبارات النساء سره نکاح نه قائمیږي، ائمه احنافو په نزد قائمیږي. احناف په دې باره کې د قرآن کریم هغه ټول ایتونه دلیل دپاره پیش کوي چې په کې د نکاح نسبت بڼځو طرف ته شوی دی لکه (**حتی تنکح زوجا غیره**) (البقرة ۳۱) (**لاتعضلوهن ان ینکحن ازواجهن**) (البقرة ۲۳۲) ددې ایتونو او احادیثو په رڼا کې احناف فرمایي چې عبارات النساء سره نکاح قائمیږي ،بڼځه هم انسان دی چې په نورو معاملاتو کې د هغې قول او فعل معتبر دی نو په نکاح کې هم معتبرول پکار دي. دا مسئله په حدیث نمبر ۵ کې په تفصیل سره بیان شوې ده. جمهور د هغه احادیثو نه دلیل پیش کوي چې په کې د بڼځې نکاح د ولی د اجازت سره تړلې ده دې حدیث نه یې هم دلیل نیولی دی چې یوه بڼځه دې خپله نکاح نه کوي او نه دا دبلې بڼځې نکاح کولی شي ځکه چې د ولی نه بغیر نکاح صحیح نه ده، نو دې نه پس چې دې باطلې نکاح کې کوم کس کورواڼی کوي نو هغه به د زنا په ضمن کې راځي، جمهورو دا حدیث د ولی د اجازت سره تړلی دی ائمه احناف فرمایي چې بڼځې داې په نکاح ګانو کې مستقل کردار نه اداء کوي، او که چیرې هغوی داسې عمل وکړو نو نکاح کیږي، ځکه د امورو شرعیو نه د هغوی ممانعت د نهي دلیل دی لیکن د بطلان دلیل نه دی. (المرقات ۲۹۹/۶، ۲۹۴)

احنافو د دې روایت دوه مطلبه بیانوي: رومبی مطلب دادی چې بڼځې نه هغه بڼځه مراد ده چې کومې ته د بلې بڼځې د نکاح حق ولایت حاصل نه وي او هغه دهغې نکاح کوي. دویم مطلب یې

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۷۶ رقم الحديث ۲۰۹۶ وابن ماجه في ۱/۶۰۳ رقم الحديث ۱۸۷۵

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۶۰۶ رقم الحديث ۱۸۸۲

دادی دلته نهي تحریم دپاره نه ده بلکې د کراهت تنزیهی دپاره ده چې ددې مونږه هم قائل یو ،دحدیث د دویمې جملې ''نه ښځه خپله نکاح دې کوي'' نه احنافو دا مطلب اغستی دی چې هره یوه ښځه دې بغیر د ګواهانونه نکاح نه کوي ګڼي زنا به شی، او د جمهورو هم دغه مطلب دی چې د ولی د اجازت نه بغیر یې نکاح وکړه نو زنا شوه.(المرقات ۲۹۹/۶)

## په پلار باندې د بچو درې حقونه

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«من وُلِدَ

حضرت ابو سعید او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه دکوم کس ځوي

لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ

پیدا شو نو پکار ده ښه نوم دې ورله کیږدي او هغه ته دې ښائسته ادب وښائي او چې ییا کله بالغ شي نو

فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا

نکاح دې ورله وکړي، که هلک بالغ وو او دهغه پلار سره دطاقته ورله نکاح نه کوی نو چې ییا په څه غلطو کارونو کې

فَإِنَّمَا إِثْمه على أَبِيه) اخرجه البيهقي.[1]

اخته شی نو دهغې ټوله ګناه به په پلار باندې به وي.

**توضیح** :اسلام دیوې ښې معاشرې په جوړولو کې مدد ورکوي او د ماشومانو روښنی مدرسه دمور پلار کور دی که ددې ځای نه ښه بنیاد کیښودلی شو نو دزندګی آخره پورې به دا بنیاد کار ورکوي او که دا بنیاد خراب شو نو ټوله زندګي به یې تر آخره پورې خرابه وي، او دمعاشرې دپاره به خطرناک ثابتیږي. په دې حدیث کې مور پلار ته درې تعلیمه ورکړی شوې دي: اول داچې د پیدائش په وخت کې ماشوم له ښه نوم کیښودل او اسلامی نومونه کیښودل چې په زندګي ئې ښه اثر پریوځی. دویم داچې بچې له صحیح تعلیم ورکول چې بچی جاهل نه شي دتعلیم مقصد ښه لاره ښودنه ده چې ماشوم دخالق او د مخلوق حقونه وپیژني، دیني تعلیم پریښودل او دنیاوی تعلیم له توجه ورکول بې مقصده دی . دریم داچه بلوغت ته ورسیږي نو نکاح دې ورله کوي، ددې فائده داده چې ماشوم د غلطو کارونو نه او د زناپه رنګه خطرناک ځیز نه محفوظ شي .د حضرت مولانا مفتی محمد شفیعؒ دا خبره مشهوره ده چې کله هلک د ځوارلسو کالو او جینې دپنځلسو کالو شي نو دواړو له په دې عمر کې نکاح کول لازم دي نو هغوی به فرمایل چې داسې وشي نوزنا به تقریباً ختمه

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٤٠٠ رقم الحديث ٨٦٦٦

شي.د دې حدیث په آخر کې د تشدید او تهدید او تغلیظ او توبیخ په طریقه وفرمایل چې که هلک یا جینۍ زنا و غیره فحاشي وکړي نو ګناه یې د پلار په غاړه ده، یعنې پلار به ورسره په ګناه کې شریک وي، په دې شرط چې کوم شرعي عذریې نه وي، د راتلونکي حدیث هم دا مطلب دی.( المرقات ۳۰۰/۶)

## جینۍ چې څنګه بالغه شي نو نکاح ورله کوئ

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوی د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چه

قَالَ: "فِي التَّوْرَاةِ مَكْتُوبٌ: مَنْ بَلَغَتِ ابْنَتُهُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې په "تورات کې لیکلې دي چې د کوم سړي د لور عمر دولس کاله شو او هغه

وَلَمْ يُزَوِّجْهَا فَأَصَابَتْ إِثْمًا فَإِثْمُ ذَلِكَ عَلَيْهِ

دهغې نکاح ونه کړه او بیا هغه جینۍ په بدکاري وغیره کې اخته شو هنو دهغې ګناه په پلار باندې ده

رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي» شُعَبِ الْإِيمَانِ "[1]

دا دواړه روایتونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړې دي.

**توضیح** :مسلمانانو غیر مسلمو ته وکتل او دهغوی رسم ورواج او غلط رسمونه یې په خپل غم او ښادۍ کې داخل کړل او خپل ځان دپاره یې پریشانۍ پیدا کړې،د جهیز جوړلو دپاره خیر غواړي او ځای په ځای دعاګاني غواړي چې د ماشومانو جینکو درشتې انتظام وشي خو د رشتو دپاره چې کوم شرائط وي نو دهغې پوره کول اسان کار نه دی .نو نتیجه دا راوځي چې ماشومانې جینکۍ کالو سر دبلوغت نه پس په کورونو کې ناستې وي او په مختلفو ګناهونو کې اخته شي، او داسې حال د هلکانو هم دی . اسلام صرف د حق مهر ادا کولو ویلي دي او نور په دې کې یې فضول کارونه منع کړي دي.



[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٤٠٢ رقم الحديث ٨٦٦٩٠.

# بَابُ إِعْلَانِ النِّكَاحِ وَالْخِطْبَةِ وَالشُّرُطِ
## د نکاح اعلان او شرائط

په اسلام کې د ښځې او خاوند په مینځ کې د جنسي تعلقاتو ترون ورومبنی جائز پراو دی،په دې وجه شریعت دده د پټولو په ځای د ښکاره کولو حکم کړی دی چې دې سره دنورو ناجائزو ترونونو پته ولګي دې له پاره د "اعلان النکاح" په عنوان سره دلته یو باب ترلی شوی دی.په دې باب کې د نکاح واجبات، آداب،سنن، او مستحبات او نور ضروریات په نهایت آسان انداز سره بیانیږي.اول اعلان داپکاردی چې نکاح ددوه ګواهانوپه مخکې وي ورنه صحیح به نه وی.دویم اعلان دادی چې ښه په ښکاره ، په عام مسجد کې دې وي، د کلي ،علاقې دمشرانو په مخکې دې وي،او علاقائي دستور مطابق دې وي .نشانه بازی دې په کې وي.دریم داچه ددې فائده به دا وي چې جهادي تربیت به وشي خو د اسراف نه په کې ځان ساتل .داعلان نکاح دپاره دف غږول د یو حده پورې جائز دي، ددې دا فائده ده چې یو خو د نکاح اعلان وشي اوبله داچه کوم سازشي نکاح ګاني دي د هغې نه دا نکاح ممتازه شي، دویمه فائده داشوه چې په غم او ښادی کې فرق معلوم شي.د اعلان نکاح په سلسله کې دعوت ولیمه هم دی، دې لپاره چې عام تشهیر وشي او هر سازش بند شي، د نکاح خطبه د تشهیر نکاح ذریعه ده، دا ټول کارونه د تشهیر په غرض سره جائز دي، بعضې واجب دي او بعضې مستحب، مسنون او یا مباح دي، لیکن د دې سره سره د مسلمان نکاح د جاهلیت او د اهل بدعاتو د ټولو رسمونو نه پاکول دي، د یهودو او هندوانو او د اهل باطلو د ټولو خرفاتو نه د دې پاکول د اسلام او ایمان او د شریعت او د شرافت تقاضاده، مثلاً ګاني غږول، آتش بازي، بې پرده ګي، د هلک د جوړولو رسم، د اس سورلي، بازار ته چګر لګول د هلک او د ناوې دا خراب عملونه دي.

**الخطبة:** دا لفظ په ضمې او کسرې دواړو سره ویل کیږي، که د (خا) ضمه وي نو د نکاح خطبه مراد ده، او دا خطبه د احنافو او شوافعو د ټولو په نزد سنت ده، البته شوافع د هر عقد په وخت کې خطبې ته مسنون وایي، مثلاً د بیع او شراء په وخت کې هم خطبې ته سنت وایي.او که دا لفظ د (خا) په کسرې سره شي نو بیا د پیغام نکاح په معنی سره دی د باب په احادیثو کې دواړه شیان شته لیکن مسنون خطبه مراد اخستل ډیر واضح دي.(المرقات ۳۰۰/۶)

## د نکاح په وخت کې تنبل وهل جائز دی

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

﴿عَنِ الرَّبِيعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ: جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ

د بنځې ربیع بنت معوذ بن عفراء وایي چې زه کله د نکاح نه پس د خپل خاوند کور ته راغلم نو نبی علیه السلام مونږ کره تشریف

| |
|---|
| حِينَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كمجلسك مني |
| راوړلو او زما په بستره يې تشريف کيخود لو څنګه چې ته زما په بستره ناست يې (ربيع راوی ته مخاطب شوه) |
| فَجعلت جويرات لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ |
| او زمونږ د خاندان جينکو کومې چې په هغه وخت کې موجود وې تنبل وهل شروع کړل او شهيدان شوې وو |
| مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ: |
| په بدر کې زمونږ د پلار نيکه نه دهغوی خوبياني او دبهادرئ اشعار ويل ئې شروع کړل، په دې دوران کې يو ماشومې وويل |
| وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ فَقَالَ: |
| چې "زمونږ په مينځ کې هغه نبی دی چه د صبا ورځې ورته پته ده رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوريدل نو وې فرمائيل |
| «دَعِي هَذِهِ وَقُولِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1] |
| چې دا خبره پريږده (يعنی داسې خبره مه کوئ بلکه هغه خبرې کوئ چې مو مخکې کولې. |

**توضيح**: **كمجلسك مني** دا خطاب حضرت خالد بن ذکوان ته دی. (المرقات ۳۰۱/۶)

**سوال**: اوس دلته سوال او اشکال دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت ربيع سره بې پردګۍ کې ولې کيناسته او د محرميت څه رشته هم وه؟ **وړومبی جواب**: دپردې دا صولو مطابق ناست وو.

**دويم جواب**: بله دا چه يو اجنبي ښځې ته د ضرورت په وقت کې کتل جائز دي. **دريم جواب**: حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دامت د سړو او د ښځو دپاره د پلار په شان وونو د پردې سوال نه پيدا کيږی او آخري جواب علامه عينی ورکړی دی، چې په دې سره په اکثرو ځايونو (المرقات ۳۰۱/۶) د دارنګې سوالونو جواب کيدی شي. **يضربن بالدف**: تنبل ډولکی يا په لوښې باندې څرمن لګولو والا څيز ته ويلی شي چې دهغې نه ددف ددف آواز راوځي. **"تسمية الشئ باسم صوته"** دی په دې کې لوبې، رباب، ستار وغيره نه راځي او دا څيزونه حرام دي. (المرقات ۳۰۱/۶)

**صرف ډول وهل يا شعرونه ويل څنګه دي**؟ بعضو علماو هر وخت دف وهل منع کړی دی او بعضو هر وخت روا ګرځولی دی خو اصل مسئله داده چې په اخترونو، سنت (ختنه) او نبادی په موقعو کې د تنبل وهلو ذکر په ډيرو حديثو کې راغلی دی مثلاً يو دا زير بحث حديث دی. (المرقات ۳۰۱/۶)

دې نه پس د حضرت عائشې والا حديث دی او هم داسې په ص ۲۷۲ باندې هم د حضرت عائشې

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۰۲ رقم الحديث ۵۱۴۷ وابن ماجه في ۱/۶۱۱

روایت دی. دې نه پس د حاطب جمعي روایت دی، او دې نه پس بیا د حضرت عائشې روایت د... متعدد احادیث د جواز او اباحت واضح دلیلونه دي، دې مسئلې باره کې مولانا مفتی محمد شفیع احکام القرآن کې سورت لقمان په فائدو کې په تنصیل سره ذکر کړی دی هلته یې کتل پکار دي. خلاصه داده چې د مسلمانانو په غمونو او خوشحالو کې فرق کول دي، واده غم نه دی چې هغه په غم سره بدل شي، او د ناوې په سجلس کې به قرآن نه لوستل کیږي. او نه به دعوت ولیمه د خیرات په نوم سره یادوي، لکه څرنګه چې بعضې د وچې صوفیان کوي. **و ینذُبنَ من آبائِي:** حضرت معوذ رضي الله عنه د بدر په شهدا و کې وو، د (آبائي) لفظ سره هغه ته اشاره ده، چونکه په دې اشعارو کې د مجاهدینو او د جهاد او د جوش او شجاعت تذکرې وې نو په دغه وجه پیغمبر صلی الله علیه وسلم چوپ وو، لیکن کله چې هغو جینکو (و فینا رسول الله یعلمُ ما في غد) وویله نو پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ هغوی منع کړې، ځکه د دې نه د عقیدې د فساد خطره وه، ځکه علم غیب د الله تعالی د خصوصي صفاتو نه یو صفت دی، علامه طیبي په دې مقام کې لیکلي دي چې پیغمبر علیه السلام هغه جینکې د هغو شعرونو د ویلو نه په دې وجه منع کړې **(لکراهة أن یسند علم الغیب إلیه مطلقًا لأن الغیب لا یعلمه إلا الله)** طیبي ج۲ ص۲۵۴. (الکاشف ۲/۲۷۷)

باب سعدي څه ښه ویلي دي:

علم غیبی کس نمی داند بجز پروردگار ہرکہ گوید مابدانم از وباور مدار

مصطفی ہرگزنہ گفتی تانہ کفـــــــتی جبرئیل جبرئیلش ہم نہ گفتی تانگفتی کردگار

یکی پرسید از ان گم کردہ فرزند کہ ای روشن گھر پیر خردمند

زمصرش بوی پیراہن شمیدی درچاہ کنعانش نہ دیدی

بگفت احوال مابرقِ جہان است دمی پیدا ودیگردم نہان است

گـــــــــھی برطارم اعلی نشینم برپشت پای خودنہ بیـــــــــنم

**(تبارک الله ما وحی بمکتسبٍ و لا نبي علی غیب بمتهمٍ) (قل لا یعلمُ من في السموات والارض الغیب إلا الله) (نمل ۲۵) (و عنده مفاتح الغیب) (انعام ۵۹) (و قل رب زدني علمًا). (طه ۱۱۴)**

﴿۲﴾ وَعَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَتْ: زُفَّتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې یوه ښځه دنکاح نه وروسته دانصارو یو کس کره رخصت کړی شوه

فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ؟ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ

نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته وفرمایل چې تاسو سره دلوبو (یعنی تنبل نشته) ځکه انصارو به دا څیزونه

يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1]

ډیر خوښول. (روایت کړې دې صحیح البخاری)

## د شوال په میاشت کې نکاح کول سنت ده

﴿۳﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِي

حضرت عائشهؓ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماسره د شوال په میاشت کې نکاح وکړه او بیا دې کاله پس

فِي شَوَّالٍ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي؟ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

د شوال په میاشت کې زما رخصتی وشوه اوس تاسو ووائي چې د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په ښځیانو کې زمانه کومه ډیره خوښ نصیبه وه؟

**توضیح**: د جاهلیت په زمانه کې به خلقو د شوال په میاشت کې واده سپیره ګڼلو څنګه چې نن سبا جاهل خلق د دوه اخترونو په مینځ کې یا شعبان یا محرم کې واده کول بدګڼي. حضرت عائشې رضي الله عنها ددې رد وکړو او وې فرمایل که چیرې دا منحوس وی نو زما واده په شوال کې شوی وو او رخصتي په شوال کې وه، او زه څومره خوش نصیبه یم. (المرقات ۳۰۶/۶)

## د مهر په ادا کولو باندې زور

﴿۴﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَقُّ الشُّرُوطِ

حضرت عقبه بن عامر وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د کومو شرطونو پوره والی

أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[3]

ستاسو په ذمه دی په هغې کې ضروري شرط هغه دی چې د کوم په ذریعه تاسو شرم ګاه حلاله کړې ده.

**توضیح**: احق الشروط: د ټولو نه اهم شرط نه مراد د ښځې مهر دی، اوس سوال دادی چې دلته

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۲۵ رقم الحديث ۵۱۶۲.

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۳۹ رقم الحديث (۱۴۲۳.۷۳) والترمذي في السنن ۳/۴۰۱ رقم الحديث ۱۰۹۳ وابن ماجه في ۱/۶۴۱ رقم الحديث ۱۹۹۰ والدارمي في ۲/۱۹۵ رقم الحديث ۲۲۱۱ وأحمد في المسند ۶/۵۴.

(۳) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۱۷ رقم الحديث ۵۱۵۱ ومسلم في ۲/۱۰۵۳ رقم الحديث (۱۴۱۸.۶۳) وابوداؤد في السنن ۲/۶۰۴ رقم الحديث ۲۱۳۹ ،الترمذي ۳/۴۳۴ رقم الحديث ۱۱۲۷ والنسائي ۶/۹۲ رقم الحديث ۳۲۸۱ وابن ماجه ۱/۶۲۸ رقم الحديث ۱۱۲۷

شرطونه کوم ځای دي چې په کې دې ته اهم ویلی شوې دي؟ ددې جواب دادی چې د شرط نه مراد خو مهردی ځنګه چې لیکلی شوې دي .یا د ښځې خاوند په مینځ کې حقونه مراد دي چې د خاوند په ذمه وي لکه خوراک ځښاک، کور وغیره نور ضروریات دي، اوس پاتې شوه داخبره چې دې خیزونو ته یې دشرط نو م ولې ورکړی ؟ نو ددې جواب دادی چې د نکاح د ټرون په وخت خاوند دا اقرار او وعده کوی چې زه به ددې ټول حقونه پوره کومه دې ارادې او وعدې ته شرط نو م ورکړی شوی دی.

**په نکاح کې درې قسمه شرطونه دي** : ۱.هغه شرطونه چې نکاح سره لاز م دي لکه خوراک ځښاک ، کپړه ، کور وغیره دا شرطونه پوره کول ضروری دي.۲.هغه شرط چې د نکاح خلاف وي او داسې شرطونه پوره کول ضروری نه وي. او نه یې څه اعتبار شته.۳.هغه جائز شرطونه کوم چې نه خو د نکاح د تقاضو خلاف وي او نه د نکاح د ټرون د لوازماتو نه وي لکه په یو خاص کور کې اوسیدل،په یوه خاصه علاقه کې داوسیدو شرط،داسې شرطونه دحسن سلوک په بنیاد خو صحیح دي لیکن څه شرعی قاعده نشته چې پابندي یې ضروری یالازم وي.(المرقات ۳۰۳/۶)

## نکاح شوې ته دنکاح پیغام نه ورکول

| |
|---|
| (۵) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَخْطُبُ |
| حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل چه یوسړي دې دنکاح پیغام دخپل مسلمان ورور |
| الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَتْرُكَ» (صَحِيحٌ)[1] |
| په پیغام باندې نه لیږی چې هغه ورسره نکاح وکړي تردې چې هغه ورسره نکاح وکړي یایې پریږدي.(بخاری) |

**توضیح** : **لایخطب**: د نکاح پیغام ته خطبه ویلی شي د خاء کسرې سره دی . اسلام بغض، حسد او نور ډیر خراب ځیزونه ختموي، که یو مسلمان د نکاح په ټرون کې وي نو ترڅوپورې چې یې معامله ختمه شوې نه وي نو دویم مسلمان دهغه معامله کې داخلیدی نه شي چې بغض او حسد قائم نه شي په دې باره کې دا حدیث دی. او د خبرو په دوران کې او معامله چې ختمه شوې نه وي نو مداخلت په کې نه دی پکار. تردې پورې چې نکاح یې وشي یا مخطوبه پریږدي.[2]

**سوال** : دلته یو اعتراض دی او هغه دادی چې **"حتى ينكح"** جمله د لایخطب په جمله باندې متفرع

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۹۹ رقم الحديث ومسلم في ۲/۱۰۳۳ رقم الحديث (۱۴۱۳.۵۲) وابوداؤد في السنن ۲/۵۶۳ رقم الحديث ۲۰۸۰ والترمذي في ۳/۴۴۰ رقم الحديث ۲۱۷۵ والنسائي في ۶/۷۳ رقم الحديث ۳۲۴۱ وابن ماجه في ۱/۶۰۰ رقم الحديث ۱۸۶۷.

[2] المرقات ۳۰۴/۶

ده لیکن ددې نهې دپاره دا جمله غایه نشي جوړیدی په دې صورت کې دا ترجمه به داسې شي. چې یو سړې دې د خپل مسلمان ورور په پیغام نکاح باندې پیغام نه لیږي، تر دې چې هغه ورور یې نکاح وکړي او یا انکار وکړي، نو کله چې دغې ورور ئې نکاح وکړه نو بیا دا سړی یوې نکاح شده ښځې ته پیغام نکاح څنګه لیږلی شي. **جواب نمبر ۱**: علامه طیبی اعتراض هم کړی او بیایې دوه جوابونه ورکړې: اول جواب دادی چې دا کلام تعلیق بالمحال په طور دی، یعنې فرض کړه که چیرې دغه کس پیغام د نکاح لیږلی شي او ممکنه ده چې ویې لیږي، لیکن د نکاح نه وروسته پیغام نه لیږي. **دویم جواب**: دادی چې د حتی کلمه په معنی د "ګې" ده او د "او" کلمه په معنی د "الی ان" ده. او د ینکح ضمیر نوي کس ته راجع دی، او د یترک ضمیر هغه مسلمان ورور طرف ته راجع دی. ترجمه یې داسې کیږي چې یو سړی د خپل مسلمان ورور په نکاح دې پیغام نه لیږي چې هغې ښځې سره پخپله نکاح وکړې تر دې چې هغه مسلمان ورور د هغې د نکاح نه انکار وکړی. اوس دا بحث دی چې دا پیغام دې په کوم وخت او کوم صورت کې وي؟ نو جمهور فرمایي که ښځې یا دهغې ولي په واضحه طور باندې پیغام قبول کړه او دواړو طرف نه رضامندي شوه صرف دنکاح ټړون پاتې دی نو دویم کس له د نکاح پیغام لیږل جائز نه دي. او که په واضحه طور باندې اتفاقًا رد شوه نو بیا جائز دی (الکاشف ۲/۲۸۰)

## یو بن دې دبلې بن دپاره نه بدخواه کیږی

﴿۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَسْأَلِ

ددې حدیث حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه ښځه دې یو سړی ته دخپلې

الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا

دیني خور باره کې داسې وینا نه کوي چې دې له طلاق ورکړه او د طلاق ورکولو مقصد دا وي چې ماته پیاله

وَلِتَنْكِحَ فَإِنَّ لَهَا مَا

خالي شی چې ددې طلاق په وجه سره زه په ټولو حقونو باندې قبضه وکړم او د هغې خاوند سره پخپله نکاح وکړي ځکه

قُدِّرَ لَهَا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دې دپاره به هغه وي کوم چې دهغې په نصیب کې لیکلې وي. (بخاری ومسلم)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۱۹ رقم الحديث ومسلم في ۲/۱۰۲۹ رقم الحديث (۱۴۰۸.۳۸) وأبوداؤد في السنن ۲/۶۳۰ رقم الحديث ۲۱۷۶ والترمذي في ۳/۴۹۵ رقم الحديث ۱۱۹۰ والنسائي في ۶/۷۱ رقم الحديث ۳۲۳۹ وأحمد في المسند ۲/۳۱۱

**توضيح**: **لتستفرغ** استفرغ د فراغت نه اخستل شوی دی او معنی يې ده خالي کول.

**صحفة**: غټه کاسه يا پياله ترې نه مراد ده چې په کې پنځه کسان خوراک کولی شي، ددې حديث دوه مفهومه وي وړومبی مفهوم يې دادی چې د يو کس يوه ښځه ده او هغه سړی پرې دويمه ښځه کول غواړي کومه چې راتلونکې ده هغه ورته وايي چې زه به درسره هغه وخت پورې نکاح نه کومه چې ته وړومبۍ ښځې له طلاق ورکړې چې ماته کور خالي شي.دويم مفهوم يې دادی چې ديوسړي په نکاح کې دوه ښځې دي يوه بن وايي چې دا دويمه فارغه کړه چې کاسه ماته خالي پاتې شي

**والتنكح**ددې دويم مفهوم مطابق ددې کلمې ترجمه دا شوه چې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسلمانانې ښځې ددې کار نه منع کړې دي چې هر ې ښځې سره خپل قسمت راځي نو ددې بد اخلاقۍ څه فائده شوه .(المرقات ۳۰۵/۶، ۳۰۴)

## دنكاح شغار ممانعت

| |
|---|
| ﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ: |
| حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شغار نه منع فرمايلې ده شغار دادې چې |
| أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ |
| يوسړې دبل سړې سره د خپلې لور نکاح په دې شرط باندې وکړي چه د هغه دويم سړي د لور نکاح به |
| ابْنَتَهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] وفي روايةٍ لِمُسْلِمٍ |
| هغه سړی سره کوي او په دواړو کې به مهر نه وي.(بخاری ومسلم) اودمسلم په يو روايت کې دي |
| قَالَ لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ |
| چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې په اسلام کې شغار جائز نه دی. |

**توضيح**: **نهى عن شغار** شغار د شغر نه اخستل شوی دی او د شغر معنی اوچتول دي څنګه چې سپی متيازې کوي او خپلې پښې اوچتې کړي نو وايي **شغر الكلب** دلته د شغار په دې معامله کې مهر د مينځ نه اوښکل دي په دې وجه دې ته هم شغر ويلی کيږي په دې کې هر قسمه شرم طرف ته اشاره ده. د شغار وضاحت په دې حديث کې وشو خو نور وضاحت يې دادی چې شغار دادی چې يو سړی بل سړي ته ووايي چې ماله خپله لور په نکاح کې راکړه او هغه بل سړی ورته ووايي ته هم خپله لور

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۶۲ رقم الحديث ومسلم في ۲/۱۰۳۴ رقم الحديث (۱۴۱۵.۵۷) وأبوداؤد في ۲/۵۶۰ رقم الحديث ۲۰۷۴ والنسائي في ۶/۱۱۲ رقم الحديث ۳۳۳۷ وابن ماجه في ۱/۶۰۶ رقم الحديث ۱۸۸۳ والدارمي في ۲/۱۸۳ رقم الحديث ۲۱۸۰.

بدله کې راکړه او داسې دواړو طرف نه راضي کیدو باندې ترون وشي او په مینځ کې مهر نه وي بلکې د جینکو تبادله مهر ګڼلې شي. (المرقات ۳۰۵)

**دفقهاو اختلاف**: د شغار په نکاح کې د فقهاو اختلاف دی جمهور فرمائي چې دا ترون باطل دی، امام ابوحنیفه فرمایي دا ترون صحیح دی نکاح وشوه البته مهر مثل به اداء کوي. احناف ددې حدیث ترجمه داسې کوي "لاشغار فی الاسلام" یعنې په اسلام کې دداسې ترون د پاره شرط صحیح نه دی نو شرط باطل دی نفس عقد وشو مهر مثل اداکول لازم دي. احناف وایي چې ډیرو مسائلو کې د دې نظائر شته چې عقد صحیح وي او شرط باطل وي، مثلاً د نکاح په مهر کې خنزیر یا شراب مقرر کړي نو د ټولو په نزد عقد صحیح دی لیکن مهر مثل به ورکوي، احناف وایي چې احادیثو د کوم د شغار نه نهي راغلې ده هغه په خپل ځای باندې صحیح ده لیکن د دې په ضمن کې عقد صحیح کیږي. خلاصه داده چې د شغار په معامله کې دا طریقه باطله ده نفس نکاح صحیح ده او مهرمثل به اداء کوي. زیلعي وایي چې دا عقد او معامله مکروه ده لیکن د کراهت نه په یو څیز کې فساد خو راځي د مهر مثل ورکولو نه پس هم شغار نه پاتې کیږي دا بحث او تحقیق په خپل ځای دی، لیکن حکم دادی چې مسلمانانو له داسې قسمه نکاح ګانو نه ځان ساتل پکار دي، او نهي د هغې په کراهت باندې محمول ده. (المرقات ۳۰۶، ۳۰۵)

## دمتعې ممانعت

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ |
| حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خیبر په ورځ ښځو سره د متعې کولو نه منع وفرمائیله |
| خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ (صَحِيح)[1] |
| په کورونو کې اوسیدنکي دخرو غوښو خوړولو نه هم منع وفرمایله (بخاری ومسلم) |

**توضیح**: نهی عن متعة النساء: دیوې مقرر شوې مودې پورې د رقم په بدله کې نکاح کولو ته متعه ویلی شي مثلاً یوسړی ښځې ته داسې ووایي چې د دوه کالو یا یوې میاشتې دپاره په دومره رقم تاسره نکاح کومه. دا یوه سازشي نکاح ده نه په دې کې ګواه شته او نه د ولي اجازت په کې شته، نه د کفو او خاندان خبره ده، متعه د جاهلیت په باطلو نکاح ګانو کې یوه نکاح وه. په ابتدا د اسلام کې هم داسې چلیده څه نوی حکم نه وو راغلی. د جنګ خیبر په موقع حضور اکرم صلی الله علیه وسلم

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۷/۴۸۱ رقم الحديث ۴۲۱۶، ومسلم في صحيحه ۲/۱۰۲۷ رقم الحديث (۱۴۰۷.۲۹) والترمذي في السنن ۳/۴۲۹ رقم الحديث ۱۱۲۱ والنسائي في ۶/۱۲۶ رقم الحديث ۳۳۶۶ والدارمي في ۲/۱۸۹ رقم الحديث ۲۱۹۷ ومالك في الموطأ ۲/۵۶۲ رقم الحديث ۴۱

ددې نه منع وفرمایله بیا د فتح مکه نه پس د جنګ اوطاس په موقع درې ورځې اجازت نه پس تر قیامته پورې متعه په مسلمانانو باندې حرامه شوه. په شریعت کې د نکاح متعه دوځله روا کیدل او دوه ځله حرام کیدل راغلې دي او بیا همیشه دپاره حرام شوه. د ابوداود د یوروایت نه معلومیږی چې د متعې حرام کیدل د حجة الوداع په موقع راغلې وه ممکنه ده چې دا اعلان د حرمت نه پس د لا زیات مشهورتیا ، پوهودلو او عام کودلو دپاره شوی وي. بهر حال متعه د نکاح د اغراضو سره سراسر منافي ده او د ډیرو مفاسدو جړه ده مثلاً یوې ښځې په یوې میاشت کې د درې خاوندانو سره لس لس ورځې متعه وکړه، او کال پس بچی پیدا شو، نو اوس چې د درې خاوندانو د شریکو عملیاتو نه ماشوم پیدا شوی دی د چا وارث به جوړیږي؟ د هغه سرپرست او وارث به څوک وي؟ د متعې دې خراب عمل نه د نسل اختلاط او د میراث ابطال لازمیږي. لهذا د اجماع امت د فیصلې مطابق متعه حرامه ده، د فقهاء اربعو په اتفاق سره متعه حرامه ده او شرافت د اصولو د وجې نه متعه حرامه ده، صاحب هدایه په هدایه کې امام مالک طرف ته د متعې د جواز نسبت کړی دی خو په دې نسبت کې غلطي شوې ده او موطا مالک دا ناجائز لیکلې ده. (نساء الایة ۲۴)

**روافض** : شیعه ګان روافض دا سازشي نکاح او دبې غیرتۍ دا عمل جائز ګرځولی دی اوددې یې ډیر ثواب بیان کړی دی او د جواز دپاره یې قراني ایتونه ددلیل دپاره پیش کړې دي:( **فما استمتعتم به منهن فآتوهن اجورهن**، په دې کې د استمتاع ذکر دی چې د متعه نه اخستل شوی دی، اجورهن یې داجرت دپاره ذکر کړی دی دمهر نه دی، لهذا متعه مستقل حکم دی. همدارنګه روافضو حضرت ابن عباس طرف ته دمتعې د جواز قول منسوب دی او مشکوة ص ۲۷۳ باندې د ابن مسعود رضي الله عنه د دې روایت نه دلیل نیولی دی. جمهور فرمائي چې قراني ایت ،**فمن ابتغی وراءَ ذلک فأولئک هم العادون**»(سورة مومنون)(نساء الایة ۲۴)

د متعې په حرمت باندې دا ایت صریح دلیل دی، د مسلم شریف په یو روایت کې په حرمت د متعې باندې داسې یو واضحه دلیل دی. "**وان الله قد حرم ذلک الی یوم القیامة**" مشکوة ص ۲۷۲ باندې دحضرت علي رضي الله عنه روایت په حرمت باندې دال دی، د دې سره سره د حضرت سلمة بن اکوع روایت دې کوم چې د متعې په حرمت باندې دلیل دی، همدارنګې د مشکوة ص ۲۷۳ باندې د ابن عباس رضي الله عنهما روایت د متعې د حرام کیدو باره کې دی، اجماع د امت هم دمتعې په حرام کیدو باندې قائم ده. ترجمه : جمهور ، شیعه شنیعه او روافض مرفوضه د دلیل

قراني ايت نه دا جواب ورکوي چې **فما استمتعتم** د ايت نه مخکې او وروستو کې د نکاح ذکر دی لهذا د **اجورهن** نه مراد مهر دی او د **استمتعتم** نه مراد نکاح ده د اجور اطلاق په مهر باندې شوی دی ځنګه چې په قران کې دي **فانکحوهن باذن اهلهن وآتوهن اجورهن**"(نساء الاية ۲۵) دلته د اجور نه مراد مزدوري نه ده بلکې د بضعې معاوضه مراد ده چې مهر دی. باقي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه چې کوم ابتدائي وقت کې د متعې د جواز قائل وو به ليکن وروسته هغه رجوع کړې ده. او حضرت ابن عباس رضي الله عنه اګر چې د جواز قائل وو ليکن کله چې حضرت علي رضي الله عنه په سختۍ سره منع کړو نو هغه بيا رجوع وکړه او وې فرمايل **"فکل فرج سواهما فهو حرام"** د شيعه روافضو په حالت باندې حيرانيتا ده چې حضرت علی دومره په سختۍ سره د متعې نه منع کړې ده خو په شيعاګانو کښې دا يوه محبوبه مشغله جوړه شوې ده. د حضرت ابن عباس شاګرد سعيد بن جبير يو ځل عرض وکړو چې حضرت! د متعې متعلق چې ستاسو کومه فتوی ده هغه په ټوله دنيا کې خوره شوې ده اوپه قافلو، مجلسونو کې دهغې ذکر کيږي، حضرت ابن عباس وفرمايل چې څه تذکرې کوي؟ نو شاګرد ورته عرض وکړو چې خلق تاسو ته په دې طريقه فتوی منسوب کوي چې دهغې ذکر يو ښځه په شعرونو کې داسې کوي.

**قد قلت و للشيخ لما طال مجلسه يا صاح هل لک فی فتوی ابن عباس**

چه کله بزرګ سړي مونږ کره ناوخته پورې ناست وو نو ماورته وويل چې ای زما ملګری ايا تا ته د حضرت ابن عباس د متعې فتوی کې څه رغبت نشته.

**هل لک فی رخصة الاطراف آنسة يکون مثواک حتی مصدر الناس**

ايا ستا د يوې خوب صورته جينې طرف ته څه شوق نشته چې د خلقو واپس کيدو پورې ته هغې سره يې.

**فقال ابن عباس سبحان الله بهذا افتيت وما هي الا کالميتة والدم والخمر ولحم الخنزير**

بهرحال متعه په نکاح کې د ننه کول داسې ګران دي لکه چې چا ويلي دي:

*کے در صحن کاچی قلیہ جوید اضاع العمر فی طلب الحال*

يعنې ځنګه چې يو کس د فيرني او کهير په کاسه کې د غوښې تکړې ګوري هغه فضول خپل وخت په دې باندې ضائع کړو. د راتلونکي حديث نمبر ۹ تشريح ته خيال کوئ چې پوره تفصيل مخې ته راشي..

## متعه کله حرامه شوه؟

﴿۹﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا

حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جنګ اوطاس کې د دريو ورځو

ثُمَّ نَهَى عَنْهَا. رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

دپاره د متعې اجازت ورکړې وو خو بیا د همیشه دپاره یې ترې منع وفرمایله (مسلم)

**توضیح** :عام اوطاس: متعه کله حرام شوه . دې باره کې مختلف احادیث دي ډیره مشهوره خوداده چې د جنګ خیبر په موقع ددې حرمت راغلی وو او په کور کې د ساتل شووو دخرو غوښو خوړلو هم منع راغلې ده. لیکن بعضو روایاتو کې راغلې دي چې د فتح مکې په موقع باندې د متعې دتحریم حکم راغلی،بعضوروایاتو کې د جنګ اوطاس او دحنین په موقع باندې ددې حرام کیدل راغلې دي. ددې روایاتو دتطبیق ترتیب څو صورتونه دي: اول دا چې د متعې حرام کیدل د جنګ خیبر په موقع راغلي ووبیادفتح مکې په موقع باندې رخصت راغی اوددې نه وروسته داوطاس په موقع د همیشه دپاره حرامه شوه.دویم داد جنګ خیبر په موقع باندې حرامه شوې ده لکه څنګه چې مرداره حرامه ده دغه رنګه داهم حرامه شوه،په حالت اختیاري کې حرامه ده او حالت اضطراري کې جائز ده، کومو صحابوته چې دجوازقول منسوب دی لکه ابن عباس اوابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هغوی همدغسې په ابتداء کې قائل وو ،بیائې رجوع وکړه.بهر حال کومو خلکو ته چې د حرمت علم کوم کې شوی دی نو هغوی هغه وخت ته د حرمت نسبت کړی دی، دا کوم تعارض نه دی، فتح مکه او د حنین جنګ یو د بل سره نزدې نزدې واقعې وې، چا چې د حرمت نسبت فتح مکې ته کړی دی دا هم صحیح ده، او چا چې د حرمت نسبت د اوطاس موقع ته کړی دی نو دا هم صحیح ده، ځکه د فتح مکې په کال باندې فتح د مکې هم وه او او جنګ حنین، اوطاس، او طائف هم وو. امام حازمي لیکلې چې دآخري خطبې په موقع رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعه همیشه دپاره حرامه کړه. ابوداود شریف کې هم یو حدیث دی چې په هغې کې د متعې حرمت د حجة الوداع په موقع خودل شوی ، د تعمیم، تشهیر او تفهیم دپاره هغه وقت کې اعلان هم شوی دی، چاته چې د حرمت پته کوم وخت کې لګیدلې ده نوحرمت یې هم هغه وقت ته منسوب کړی ،دا کوم تعارض نه دی.(المرقات ۳۰۷،۳۰۸/۶)

## دنکاح خطبه

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۰﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: عَلَّمَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّشَهُّدَ

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته په مونځ کې لوستل

---

(۱) أخرجه في صحيحه ۲/۱۰۲۳ رقم الحديث (۱۴۰۵.۸۰) وأحمد في المسند ۴/۵۵

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فِي | الصَّلَاةِ | وَالتَّشَهُّدَ | فِي | الْحَاجَةِ | قَالَ: |

والا تشهد هم ښودلې دی او دځه حاجت او ضرورت په وخت چې کوم تشهد لوستلی کیږی دهغی

| | | |
|---|---|---|
| التَّشَهُّدُ | فِي | الصَّلَاةِ:[1] |

يې هم تعليم راکړی دی. چه هغه داسې دی.

«التَّحِيَّاتُ لله وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا الله وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ». [ص:۹۴۲]

ترجمه. دژبې عبادتونه، بدني عبادتونه او مالي عبادتونه ټول الله لره دي اى نبى! په تاسو باندې دې سلامتيا وي او د الله رحمت او برکت دې وي، او په مونږه هم او دالله په نيکو بندګانو دې هم سلامتيا وي، زه ګواهي ورکوم چې دالله نه سوا بل هيڅوک د عبادت لائق نشته او زه ددې خبرې هم ګواهي ورکرم چې محمد صلى الله عليه وسلم دالله بنده او رسول دى.

وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ: «إِنَّ الْحَمْدَ لله نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِالله مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا من يهدِهِ الله فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا الله وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

**ترجمه**. ټول تعريفونه الله لره دي مونږ دهغه نه مدد غواړو او هغه نه بخښنه غواړو او مونږ د خپل نفس دهرې بدۍ نه په الله سره پناه غواړو، چا له چې الله د هدايت توفيق ورکړي هغه څوک ګمراه کولى نشي (يعنى نه يې شيطان ګمراه کولى شي نه نفس او نه يې بل څوک ګمراه کولى شي) او چې څوک الله ګمراه کړي هغه ته څوک هدايت نه شي ورکولى زه ګواهي ورکوم چې دالله نه سوا بل هيڅوک د عبادت لائق نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى بنده او رسول دى.

( وَيَقْرَأُ ثَلَاثَ آيَاتٍ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسلِمُونَ)( ال عمران ۱۰۲)

بيا ددې تشهد نه بعد د قرآن کريم درې ايتونه به لولي يو ايت دادى !اى ايمان والو ! دالله نه ويريږئ څنګه چې دهغه نه دويرې حق دى او که مړه کيږئ نو مسلمانان مړه شئ.

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۲/۵۹۱ رقم الحديث ۲۱۱۸ والترمذي في ۳/۴۱۳ رقم الحديث ۱۱۰۵ والنسائي في ۶//۸۹ رقم الحديث ۳۲۷۷، وابن ماجه في ۱/۶۰۹ رقم الحديث ۱۸۹۲، والدارمي في ۲/۱۹۱ رقم الحديث ۲۲۰۲ واحمدفي المسند ۱/۳۹۲

وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي تساءلون وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا)(النساء)
ای ایمان والو ! دالله نه ویریږئ چې دهغه نوم تاسو دخپل حاجت دپاره استعمالوئ او د ارحامو د پرېکولو نه ځان ساتئ بېشکه الله تاسو ته ګوری.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا) (احزاب ۷۰)
ای ایمان والو ! دالله نه ویریږئ، او خبره سمه کوئ، هغه به ستاسو ټول کارونه درست کړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي او کوم کس چې دالله او دهغه درسول اطاعت کوي نو هغه کامیاب دی.

رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَفِي جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ فَسَّرَ الْآيَاتِ الثَّلَاثَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَزَادَ ابْنُ مَاجَهْ بَعْدَ قَوْلِهِ: «إِنَّ الْحَمْدَ لله نَحْمَدُهُ» وَبَعْدَ قَوْلِهِ: «من شرور أَنْفُسنَا وَمن سيئات أَعمالنَا» وَالدَّارِمِيُّ بَعْدَ قَوْلِهِ «عَظِيمًا» ثُمَّ يَتَكَلَّمُ بِحَاجَتِهِ وَرَوَى فِي شَرْحِ السُّنَّةِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ فِي خُطْبَةِ الْحَاجَةِ من النِّكَاحِ وَغَيْرِهِ (احمد، ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمی)
او په جامع ترمذی کې دا الفاظ هم دي چې دا درې ایتونه سفیان ثوری بیان کړي ابن ماجه "ان الحمد لله" نه پس نحمده او "من شرور انفسنا" نه پس ومن سیئات اعمالنا" د الفاظو اضافه کړي ده.او دارمي په خپل یو روایت کې "عظیما" نه پس اضافه کړي ده چه(دتشهد او ایتونو نه پس)دخپل حاجت (یعنی دعقد الفاظ)بیان کړي.اوشرح السنة دابن مسعود رضي الله عنه هغه روایت قنل کړی دی چې په هغې کې د حاجت د خطبې وضاحت په نکاح و غیره سره شوی دی (یعنې شرح السنه د حاجت لفظ وضاحت کې من النکاح و غیره الفاظ زیات کړي دي).

**توضیح** : د نکاح خطبه مسنون ده او د شوافعو په نزد په نورو عقودو کې هم خطبه ویل مسنون ده.

"ثم یتکلم بحاجته": نه مراد نکاح دلته نکاح ده، او په دې کې ایجاب او قبول هم دی. قرآن کریم کې درې ایتونه دلته د نکاح دپاره دي لیکن دا یاد ساتل پکار دي چې سورة النساء کې ایت چې دلته "یاایها الذین" نه شروع دی په مصحف عثماني کې داسې نه دی په هغې کې "(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي دی"یاایها الذین امنوا"نشته کیدی شی دا د لیکونکي غلطي وي. بهرحال چې څوک

نکاح ترې هغه له پکار دي چې خطبه د تشهد نه شروع کوي بيا دې ايتونه ولولي بيا دې يو څو احاديث د نکاح باره کې ولولي. او بيا دې ډومبی د جينی. دکور والونه قول او اقرار واخلي او بيا دې دهلک نه. او په واضح الفاظو دې ايجاب او قبول سر ته ورسوي، دا صورت واضح او بهتر دی. فقهاو ليکلې دي چې دحال او مستقبل خيال دې کې ساتل پکار دي، بعضې حضرات نن سبا صرف د د قبول الفاظ ادا کولو سره نکاح کوي مناسب داده چې ايجاب او قبول دواړه وي.

## دخطبې نه بغير نکاح بې برکته وي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ خُطْبَةٍ

حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چه په کومه خطبه کې د

لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ:

الله حمد اوثناء نه وي دهغې مثال دکټ شوې لاس په شان دی. روايت کړې دې ترمذي، او وائی

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]

چه دا حديث حسن غريب

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ أَمْرٍ ذِي

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم لوی کار د الله تعالی

بَالٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِالْحَمْدِ لله فَهُوَ أَقْطَعُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[2]

د حمد اوثنا نه بغير شروع کړی شي هغه به بې برکته وي. (ابن ماجه)

## دنکاح اعلان کول مستحب دي

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ

ام المؤمنين حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چه تاسو د نکاح

وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

اعلان کوئ او نکاح په مسجد کې دننه کوئ او دنکاح په وخت کې تنبل وهئ. روايت کړې دې

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۱۷۳ رقم الحديث ۴۸۴۱، والترمذي في ۳/۴۱۴ رقم الحديث ۱۱۰۶ وأحمد في المسند ۲/۳۴۳

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۱۷۲ رقم الحديث ۴۸۴۰ وابن ماجه في ۱/۶۱۰ رقم الحديث ۱۸۹۴ وأحمد في المسند ۲/۳۵۹

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (حسن)[1]

ترمذی او وائی: دا حدیث غریب (حسن دی)

**توضیح**: په دې حدیث کې يې دنکاح يو څو آدا ب بنودلې دي چې دنکاح اعلان کوئ، نکاح په مسجد کې کوئ چې په کې د دواړو طرفونو مشرانو وي، د نکاح په وخت شوروي، يعنی دتنبل شور وی. خو په مسجد کې نه. په مسجد کې دنکاح مشهورتيا دبرکت سبب ګرځي،ځکه چې دعبادت ځای دی او نکاح هم يو عبادت دی او نکاح دپاره د جمعې ورځ ډيره بهتره ده ځکه چې په دې کې مشهورتيا ډيره کيږی او دبرکت ذريعه هم ګرځي. (المرقات ۳۱۶/۶)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ الْجُمَحِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَصْلُ مَا بَيْنَ

حضرت محمد بن حاطب جمحي رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل دحلالو او حرامو

الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ: الصَّوْتُ وَالدُّفُّ فِي النِّكَاحِ". رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ وَابْن مَاجَه[2]

په مينځ کې فرق کونکی په نکاح کې آواز او تنبل غګول دي. (روايت کړې دې احمد، ترمذی، نسائی، ابن ماجه)

**توضیح**: الصوت: د آواز نه مطلب يا خو شعرونه دي يا دنکاح تذکرې دي. (المرقات ۳۱۴/۶)

ددې حديث مطلب دا نه دی چې ددې څيزونو نه نه بغير نکاح نه کيږي يا صحيح نه وي بلکې د نکاح دپاره چې کوم ايجاب او قبول او د دوو ګواهانو ضرورت دی هغه مراد دي، په دې حديث کې صرف ددې خبرې ترغيب دی چې دنکاح مشهورتيا دې وشي،دا د په مجلس عام او اعلانيه شکل باندې وي،او دمشهورتيا کم نه کم حد دادی چې خوا کې ګاونډيانو ته معلومه شي چې دلته واده دی، اوس دا خبره دآواز په ذريعه هم کيدی شي او د تنبل په ذريعه هم کيدی شي.او ددې حديث داهم مطلب نه دی چې په بازارونو ، ښارونو، او اخبارونو يا په ويډيو وغيره دې مشهورتيا وشي او نه په باجو او موسيقۍ باندې، دا ټول فضول کارونه ترې مراد نه دي. (المرقات ۳۱۴/۶)

## په ښادو کې د شعرونو ويلو اجازت

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَتْ عِنْدِي جَارِيَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجْتُهَا

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې ما سره يوه انصاريه جينۍ وه کله چې ما دهغې نکاح يو چا سره وکړه

---

([1]) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۳۹۸ رقم الحديث ۱۰۸۹ وابن ماجه في ۱/۶۱۱ رقم الحديث ۱۸۹۵

([2]) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۳۹۸ رقم الحديث ۱۰۸۸ والنسائي في ۶/۱۲۷ رقم الحديث ۳۳۶۹، وابن ماجه في ۱/۶۱۱ رقم الحديث ۱۸۹۶، وأحمد في المسند ۴/۲۵۹ .

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَائِشَةُ أَلَا تُغَنِّينَ؟ فَإِنَّ هَذَا

نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې عائشې! ولې تا چاته دلوبو دپاره نه دي ویلي ځکه چې

الْحَيَّ مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّونَ الْغِنَاءَ». رَوَاهُ ابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ[1]

ځکه چې د انصارو خلکو لوبې ډیرې خوښې دي. (ابن حبان)

﴿۱۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أَنْكَحَتْ عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الْأَنْصَارِ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ام المؤمنین حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دیو جینۍ نکاح کړې وه چه انصاریه وه

فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او دهغې په رشته دارو کې هم وه، کله چې دنکاح نه پس رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته تشریف راوړلو نو

فَقَالَ: «أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ؟» قَالُوا:

تپوس ئې وکړو چې دکومې جینۍ دې وکړه، دخاوند کور ته دې رخصت کړه؟ هغوی عرض اوکړو

نعم قَالَ: «أَرْسَلْتُمْ مَعَهَا مَنْ تُغَنِّي؟» قَالَتْ:

او جی، نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمائیل چې تاسو دې سره څوک لوبو والا لیږلې دی؟ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

لَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْأَنْصَارَ قَوْمٌ فِيهِمْ

عرض وکړو چې نه! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې دا انصار داسې قوم دی چې دوی د دوی دلوبو ډیر شوق

غَزَلٌ فَلَوْ بَعَثْتُمْ مَعَهَا مَنْ يَقُولُ: أَتَيْنَاكُمْ

دی، کاش! تاسو ورسره داسې کس لیږلی وی چې دایې ویلی وی. یعنی مونږ ستاسو خوا له راغلو مونږ

أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]

ستاسو خوا له راغلو، الله تعالی دې مونږ او تاسو سلامت وساتي.

**توضیح**: دمدینې دانصارو زور دستور وو چې د خوشحالی په موقع باندې به یې شعرونه وغیره ویل او ددې دستور مطابق رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې خواهش اظهار وفرمایلو چې تاسو به دیو لوبې واله انتظام کړی وی چې دانصارو په خوشحالی کې اضافه شوې وه، بیا رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

---

(1) رواه [ابن حبان في صحيحه]

(2) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۶۱۲ رقم الحديث ۱۹۰۰، وأحمد في المسند ۳/۳۹۱

موقعي مناسبت سره يو شعر طرف ته اشاره وفرمايله نيمه حصه ئي وويله چې پوره دادی.

اتيناكم اتيناكم فحيانا وحياكم

ولولا الحنطة السمراء لم تسمن عذاراكم

يعني مونږ ستاسو خوا له راغلو آو جي راغلو الله تعالى دې تاسو هم او مونږه هم صحيح، سلامت لري، كه سره غنم نه وى نوى نو ستاسو پيغلي به داسې د غټ بدن والا او نرم بدن واله نه وې. ياد ساتئ چې دې شعرونو سره باجې وغيره نه وې هغه جائز نه دي، په كلو كې اوس هم د شعرونو ويلو رواج شته او په پرده كې يې كول مستحب دي. نور وضاحت به ان شا الله د شعر په باب كې راځي، او څه وضاحت مخكې هم تير شوى دى.

## ديوې ښځې په دوو نكاح كانو كې ورومبى درسته ده

﴿۱۷﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ

حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د كومې ښځې دوه وليان نكاح وكړي نو هغه په

فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا وَمَنْ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ

هغه دوو كې د هغه چا ده چې مخكې يې نكاح شوې ده. او كوم سړى چې (ديو څيز) په دوؤ سړو خرڅ كړي او كوم سړى چې (يو څيز)

لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ والدارمي[1]

په دوو سړو خرڅ كړي نو هغه په دوو كسانو كې هغه چا ده چې مخكې يې پرې خرڅ كړى دى. (ترمذى، ابو داؤد، نسائى، دارمى)

## په ابتداء اسلام كې متعه جائزه وه

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۸﴾ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې په يوه غزوه كې مونږه د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په جهاد كې وو هغه

لَيْسَ مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا: أَلَا نَخْتَصِي؟

وخت كې مونږ سره خپلې ښځې نه وې مونږه وويل چې هڅې نه چې مونږ ځانونه خصي نه كړو ليكن رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱) أخرجه أبوداؤد ۲/۵۷۱ رقم الحديث ۲۰۸۸ والترمذي في ۳/۴۱۸ رقم الحديث ۱۱۱۰ والنسائي في ۷/۳۱۴ رقم الحديث ۴۶۸۲ وابن ماجه في ۲/۷۳۷ رقم الحديث ۲۱۹۰ والدارمي في ۲/۱۸۷ رقم الحديث ۲۱۹۳ وأحمدي المسند ۵/۸.

| |
|---|
| فَنَهَانَا عَنْ ذَلِكَ ثُمَّ رَخَّصَ لَنَا أَنْ نَسْتَمْتِعَ فَكَانَ أَحَدُنَا |
| مونږه د دې نه منع کړو خو البته دمتعې کولو اجازت يې راکړو چنانچه په مونږه کې بعضو خلقو د |
| يَنْكِحُ الْمَرْأَةَ بِالثَّوْبِ إِلَى أَجَلٍ ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُاللهِ |
| کپړو په بدل کې ديو خاص مودې پورې د ښځې سره نکاح وکړه، دې نه پس يې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ايت ولوستو : |
| (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ)[1] |
| ای ايمان والو ! چې کوم څيزونه الله تعالى حلال کړي دي هغه حرام مه ګڼئ. (بخاری و مسلم) |

**توضيح** : د حضرت ابن مسعود ددې روايت نه دمتعې د روا کيدو پته لګي ممکنه ده چې د حضرت ابن مسعود د اسلام په ابتدا کې د اضطراري حالت په صورت کې هميشه د پاره په جواز قائم ،، او دختميدو د واضح احکاماتو ورته پوره علم نه وو شوی، اوډير قوی امکان دی چې د حضرت ابن عباس په شان ابن مسعود هم رجوع کړې وې ځکه چې حضرت عمر سرکاري اعلان کړی وو چې چا متعه وکړه نو زه به په هغه باندې حد زنا نافذ کوم.

بهرحال د متعه شوقينو باندې افسوس او حيرانتيا ده چې د حضرت علي د صافو احکاماتو چې دمتعې د حرام کيدو متعلق دي پريښې دي، او د حضرت ابن مسعود صرف وينا طرف ته تلي دي، او د حضرت ابن عباس د فتوې خلاف شوي دي د حضرت ابن عباس روايت حاضر دی. (المرقات ۳۱۷/۶)

## دمتعې حکم منسوخ شوی دی

| |
|---|
| ﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّمَا كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ |
| حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې د متعې روالی صرف د اسلام په وړومبی زمانه کې وو (او هغه وخت د |
| كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهُ بِهَا مَعْرِفَةٌ |
| متعې صورت داوو چې کله به يو سړی يو بنار ته لاړو نو خلقو سره به يې تعلق نه وو چه ورله د خوراک څکاک انتظام وکړی |
| فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يُرَى أَنَّهُ يُقِيمُ |
| نو هلته به يې يوې ښځې سره د يوې مودې پورې نکاح وکړه تر څو پورې چې به هلته ايسار وو |
| فَتَحْفَظُ لَهُ مَتَاعَهُ وَتُصْلِحُ لَهُ شَيْئَهُ |
| او هغه ښځې به د هغه د سامان خيال ساتلو روټي به يې ورله پخوله تردې چې دا ايت نازل شو |

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۱۷ رقم الحديث ۵۰۷۵ ومسلم في ۲/۱۰۲۲ رقم الحديث ۱۴۰۴۱۱ ، واحمد في المسند ۱/۴۳۲.

إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِم أَو مَا ملكت أَيْمَانهم) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ:

"الا على ازواجهم او ماملكت ايمانهم" ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائيل ددې دواړو د ښځې او خادمې)

فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ حَرَامٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (صَحِيحٌ)[1]

د شرم ګاه نه علاوه هريو شرم ګاه حرامه ده. (بخاری)

## جائز شعرونه اوريدل اولوبې ويل جائز دي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَامِرِ وبْنِ سَعْدٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى

حضرت عامر بن سعد رضي الله عنه تابعي وايي چې کله زه يو واده ته د شرکت دپاره ورسيدم چې هلته دوه صحابه کرام

قَرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ فِي عُرْسٍ وَإِذَا جَوَارٍ يُغَنِّينَ

حضرت قرظة بن کعب او حضرت ابو مسعود انصاري هم موجود وو ومې ليدل چه څه ماشومانې شعرونه وائی

فَقُلْتُ: أَيْ صَاحِبَيَّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلَ بَدْرٍ

ما وويل چې ای درسول کريم صلى الله عليه وسلم صحابو! او په جنګ بدر کې شريک کيدو والو! چه ستاسو

يُفْعَلُ هَذَا عِنْدَكُمْ؟ فَقَالَا: اجْلِسْ إِنْ شِئْتَ

مخکې هم لوبې ويلی کيږي؟ هغوی چې واوريدل نو صحابه کرامو ورته ويل چې راځه ته هم کينه که زړه دې غواړی

فَاسْمَعْ مَعَنَا وَإِنْ شِئْتَ فَاذْهَبْ فَإِنَّهُ قَدْ رُخِّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ

نو ته هم مونږ سره واوره که نه ئې غواړې نو لاړشه ځکه چې مونږ ته د لوبو اوريدلو اجازت راکړې دې

عِنْدَ الْعُرْسِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[2]

د بنادی په موقع (روايت کړې دې نسائی)

**تنبيه** : ياد لرئ چې دا شعرونه ساده الفاظوسره وو چې جائز وو. په دې کې باجې ستار او نور فضول الات نه وو.

---

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۳۰ رقم الحديث ۱۱۲۲.

(2) اخرجه النسائي في السنن ۶/۱۳۴ رقم الحديث ۳۳۸۳

# بَاب الْمُحرمَات

## په سړي باندې د حرامو ښځو بیان

نکاح یوه اسلامي رشته ده صرف د نفساني خواهشاتو نوم نه دی دې دپاره ددې عظمت او حرمت دیر ضروری دی د نکاح صیحح کیدو دپاره دنورو شرائطو نه علاوه یو شرط دا هم دی چې ښځه د محرماتو نه وي دې "باب المحرمات" کې هم ددې بیان دی چې کومه ښځه په کوم سړي حرامه ده. حرمت په دوه قسمه دی: یو حرمت مؤبده دی یعنی هغه ښځه چې هغې سره همیشه نکاح نشي کیدی. دویم حرمت غیر مؤبده دی دا هغه ښځه ده چې د عارض له وجې حرامه وي.

## د حرمت نکاح اسباب

د حرمت نکاح مختلف اسباب دي، دټولو بیانول گران دي او اوږد هم دی. په لنډه توګه باندې دلته بیانولی شي.

۱.وړومبنی وجه نسبي رشته ده، چې کومې د نسبي رشتې د وجې حراې دي هغه ددې مور، لور،خور، ترور، خاله ،وریره، خورځه،. دې ښځو سره نکاح حرامه ده،هم داسې د والدینو اصول پورته او د د هغوی فروع لاندې حرام دي.

۲.خوابنې ، انګور، دې سره نکاح نه کیږي. دایې دویم سبب دی.

۳.دریم سبب رضاعت او د پیو رشته ده.

۴.څلورم سبب د ښځو په نکاح کې د جمع کولو سبب د کوم نه چې حرمت رائي لکه د څلورو نه زیاتې ښځې په یو وخت کې په نکاح کې جمع کول. دوه خویندې یا ترور د وریږې سره یا داسې دوه ښځې په نکاح کو جمع کول چې په هغی کې یو سړی تصور کړی شي نو هغه ښځهٔ په سړې باندې حلال نه ده. یاد څلورو نه زیاتې اجنبیانې جمع کول یا ذوات الارحامو کې د دوو نه زیاتې جمع کول حرام دي.

۵.پنځم سبب مملوکه ښځه ده وړومبی نکاح شوې ښځه موجود ده نو وینځې سره نکاح کول په سړې حرام دي.

۶.د چانکاح شوې ښځې سره هم نکاح حرامه ده.(المرقات ۳۱۹/۶)

۷. اوم سبب د مذهب دی، یعنی آتش پرسته، آغا خانیه، قادیانیه، رافضیه سره نکاح کول حرام دي. دا اهل کتابو والا ښځه که په حقیقت کې اهل کتاب وي نو نکاح جائز ده خو د مسلمانې جینې اهل کتابو والا سړې سره نکاح حرامه ده.

۸.اتم سبب دادی چې یوه ښځه خپل غلام سره نکاح نه شي کولی.

۹.نهم سبب دادی چې د دریو طلاقو نه پس په سړي ښځه حرامه شوه بغیر حلالي نه ورسره نکاح نشي کولی د لعان نه پس هم ښځه په خاوند باندې حرامه شوه دا هم د طلاق یو شکل دی.( المرقات ۳۱۷/۶)
(د لعان معنی یو بل باندې لعنت کول دي، د خاوند په خپله ښځه تهمت لګول، او ددې دپاره قسم خوړل که زه دروغ وایم نو دالله لعنت دې وي په ما باندې .او داسې د ښځې هم قسم خوړل .دې نه پس نکاح ماته شوه)

## لاندینی ښځې په نکاح کې نه جمع کول

## الْفَصْل الأول

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي یوې ښځې سره خپله ترور په نکاح کې |
| «لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وعمتها وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وخالتها» (صَحِيحٌ)(۱) |
| مه ساتئ . نه یوه ښځه د هغې د خالې (ترور) سره په نکاح کې ساتئ. بخاری و مسلم) |

**توضیح** :لایجمع: په دې حدیث کې دیو قانون او ضابطې طرف ته اشاره شوې ده او علماء د امت ددې قانون تشریح کړې ده او هغه قانون دا دی: چې هرې دوه زنانه چې مینځ کې یې قرابت محرمیت وي چې د هغوی نه یوه سړی فرض کړی شي او دویمه زنانه فرض کړی شي او د دواړو په مینځ کې نکاح نه کیږي نو د دارنګې د دوو زنانو په نکاح کې جمع کول حرام دي، چې د دې مثال په حدیث کې د ترور (عمه) او وریرې سره ورکړی شوی دی، که ترور سړی فرض کړی شي نو د وریرې سره د تره نکاح نه کیږي، او که وریره سړی فرض کړی شي نو د وراره سره د ترور نکاح نه کیږي، د دې قاعدې متعلق په ذهن کې یوه خبره کینول پکار دي، هغه دا چې حرمت د دواړو طرف نه ضروري دی، یعني د جانبینو نه چې کوم یو نر فرض کړی شي نو نکاح به حرامه وي، که چیرې داسې نه وي بلکه یو طرف نه حرمت راتلو د هغې برعکس د بل طرف نه نه راتلو نو دا قاعده دې صورت ته نده شامله، بلکه دغه رنګ دوه زنانه به په یوه نکاح کې جمع کولی شي مثلاً: ښځه او د هغې د مخکني خاوند لور، د جمهورو په نزد دا په نکاح کې جمع کولی شي، کله چې هغه جینی د دې ښځې نه نه وي، که چیرې د مخکني خاوند لور سړی فرض

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۶۰ رقم الحديث ۵۱۰۹، ومسلم في ۲/۱۰۸۴ رقم الحديث (۱۴۰۸،۳۳) وابوداؤد في السنن ۲/۵۵۴ رقم الحديث ۲۰۶۶، وابن ماجه في ۱/۶۲۱ رقم الحديث ۱۹۲۹ والدارمي في ۲/۱۸۳ رقم الحديث ۲۱۷۹، ومالک في الموطا ۲/۵۳۲رقم الحديث ۲۰ من كتاب النكاح

کړی شي نو د هغه ښځه د دې جینی دپاره زوجة الاب کیږي او زوجة الاب حرامه وي، او که چیرته دا ښځه سړی فرض کړی شي نو د دې جینی سره د حرمت نکاح هیڅ وجه جوړیږي، لهذا برنی قاعده د طرفینو په حرمت باندې مبني ده د یو طرف حرمت کافي نه دی.

## مسئلة حرمة الرضاعة

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي د پیو ځکلو په وجه رشتې حرامیږی

مَا يحرم من الْولادَة» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کومې چې د پیدائش په وجه حرامې وي. (بخاری)

**توضیح**: **یحرم من الرضاعة**: د دوه ماشومانو په مینځ کې د پیو شرکت ته رضاعت وایي، رضاعت په اصل کې د پیو ځکلو په معنی سره راځي، د رضاعت صیغه د باب فتح او کرم او سمع ټولو نه راځي. (المرقات ۳۲۱/۶)

رضیع پیو ځکلو والا ماشوم ته وایي او مرضعه پی ورکولو والا ښځې ته وایي، د رضاعت موده دوه کاله ده چې په دې فتوی ده، په دې خبره کې د فقهاء کرامو اختلاف دی چې په څومره مقدار کې د پیو ځکلو سره حرمت د رضاعت ثابتیږي.

**دفقهاو اختلافات**: امام مالک او امام ابو حنیفه رحمهما الله فرمایلي دي که دښځې پی د دوو کالو په موده کې دننه ماشوم وځکل نو که دا پی که لږ وو او که زیات وو حرمت رضاعت به ثابت شي، په پیو ورکولو والا باندې به د ماشوم فروع حرام شي او د پیو ځکلو والا ماشوم باندې مرضعه او د هغې اصول او فروع ټول حرام شول. شرح وقایه کې په خاص طور دا شعر لیکلی دی.

از جانب شر ده همه خویش شوند  وز جانب شیر خوار زوجان و فروع

پیو ورکولو والا ښځې طرف نه اصول او فروع په ټولو رشته دارانو ماشومانو باندې حرام دي او د پیو ځکلو والا ماشوم له طرف نه په پیو ورکولو والا زنانه باندې زوجان او د ماشوم فروع حرام شول. زوجان نه مراد پیو ځکلو والا ماشوم او د هغه ښځه ده. د امام احمد بن حنبل او د اهل ظواهرو په نزد حرمت رضاعت په درې ځلو ثابت دی. د امام شافعي په نزد په پنځو ځلو سره حرمت رضاعت

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۱۳۹ رقم الحديث ۵۰۹۹ ومسلم في ۲/۱۰۶۸ رقم الحديث (۱۴۴۴.۲) والدارمي في السنن ۲/۲۰۸ رقم الحديث ۲۲۴۹ ومالک في المؤطا ۲/۶۰۱ رقم الحديث من كتاب الرضاع.

ثابتیږي. (المرقات ۳۲۱/۶).

**دلائل**: شوافعو حضراتو د حضرت عائشه رضی الله عنها د حدیث نمبر ۶ نه دلیل نیولی دی چې قرآن کریم کې په ورمبي ځل د لسو رضعاتو حکم راغلی وو بیا دا منسوخ شو او بیاد پنځو رضعاتو حکم راغی، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مرګ وخت پورې قرآن کریم کې هغه ایت لوستل کیده. (المرقات ۳۲۱/۶)

امام احمد بن حنبل او اهل ظواهرو د حدیث نمبر ۵ د ام الفضل د روایت نه دلیل نیولی دی چې په دوه ځل رضعاتو نه حرامیږي، لهذا په درې ځلو حرمت راځي ګویا دوی په مفهوم مخالف باندې عمل کړی دی. (المرقات ۳۲۱/۶)

امام مالک او امام ابوحنیفه یعني جمهورو د قرآن ددې ایت نه دلیل نیولی دی (**وامهاتکم اللاتي ارضعنکم**) (نساء ۲۳) دا حضرات وایي که پې یو ګوټ وي لږ وي او که زیات وي حرمت رضاعت ثابتیږي. ارضاع باب افعال د ارضعنکم مصدر دی په احادیثو کې الرضاعة لفظ هم راغلی دی کوم چې مصدر دی او په مصدر کې تکرار نشته نو یو ځل څکلو سر حرمت راځي، که هغه د سینې نه رودلو سره وڅکي یا چیرته په یو لوښې کې یې واچوي، یا د چوسنې په ذریعه یې وڅکي نو حرمت ثابت شو، د عدد او تعداد په کې قید او شرط نشته. د احنافو عقلي دلیل دادی چې د حرمت اصلي علت جزئیت دی چې په پیو سره په بدن کې اختلاط راځي او یو جزء تر بې جوړ شي او خپل جزء سره استمتاع جائز نه ده. په دې وجه نکاح جائز نه ده. او ددې جزئیت دپاره یوه قطره پې هم کافي دي، لهذا حرمت ثابتیږي که هغه کم وي او که ډیر وي. (المرقات ۳۲۴/۶)

**جواب**: احنافو اومالکیو شوافعو ته دا جواب ورکړی دی چې د حضرت عائشې حدیث خبر واحد دی او خبر واحد سره د قرآن قرآنیت نه شی ثابت کیدی، لهذا د قرآن د ایت په موجودګی کې دا روایت پریښودل پکار دي. یا به تاویل پکار دی، ځکه قرآن کریم یو محفوظ کتاب دی په دې کتاب کې د پنځو رضعاتو والا ایت نشته، نه په مشهور او متواتر قراءت کې د هغې ذکر شته، اوس که حضور اکرم په آخري عمر کې دا ایت لرستلی کیدو او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس بیا ختم شو نو ددې خو دا مطلب شو چې العیاذ بالله چې دا قرآن کریم محفوظ نه دی، او دا نظریه د (**انانحن نزلنا الذکر وانا لحافظون**) (حجر۹) سره منافي ده. نو اصل حقیقت دادی چې د لسو رضعاتو والا ایت د پنځو رضعاتو والا سره ختم شو چې د هغې تذکره حضرت عائشې وکړه او د پنځو رضعاتو ایت (**وامهاتکم اللاتي ارضعنکم**) (نساء ۲۳) په مطلق ایت سره منسوخ شو، اوس دا ایت منسوخ التلاوة والحکم دی، حضرت عائشې ته د وړومبنی نسخ (منسوخ) علم وو او کیدی

شي چې د دويمې نسخې علم ورته نه وو نو هغې د خپل علم مطابق د پورتنۍ حديث بيان کړی دی.( المرقات ۳۲۵/۶، ۳۲۴)

باقي د حنابلو او د اهل ظواهرو د دليل جواب دادی چې مونږه د دې مفهوم مخالف د منلو پابند هم نه يو. همدارنګې د منطوق په مقابله کې د مفهوم طرف ته تلل هم مناسب نه دي، او ددې منل هم مناسب نه دي، يا د ام الفضل روايت د هغه وخت دی چې په کومه زمانه کې دپنځو رضعاتو زمانه وه. او دهغې حکم ختم شوی لا نه وو. او چې کله منسوخ شو نو ټوله قصه ختمه شوه. د ام الفضل د روايت يو جواب دا هم دی، چې اصل حقيقت دادی چه**مصة** رودل د ماشوم فعل دی، او **املاجة** د مور کار دی نو عادت او تجربه داسې ده چې کله ماشوم سينه روي نوپه سينه کې ژر پې نه رسوي بلکې يو ځل يا دوه ځله هڅې خوله لګوی، په دې وجه يې وفرمايل چې دې سره رضاعت نه ثابتيږي، ځکه دې سره حلق ته پې نه ورځي، او کله چې پې دننه لاړ شي نو بيا خو رضاعت يقيني ثابتيږي .حنابلو او اهل ظواهرو ته آخري جواب دادی چې مصتان يا املاجتان دا عدد دی او په تعداد اوعدد کې مفهوم مخالف نه شي اخستلی "**قال الطيبی ومفهوم العدد ضعيف**"(المرقات ۳۲۵/۶، الکاشف ۲۹۳/۲)

**درضاعت نه مستثنی صورتونه:** دلته يو څو صورتونه دي چې د رضاعت د مسئلې نه مستثنی دي چې رضاعت کې يې نکاح جائز ده او په نسب کې جائز نه ده: ۱. د نسبی ورور رضاعی خور جائز ده. ۲. د رضاعي ورور نسبي خور جائز ده. ۳. د رضاعي ورور رضاعي خور جائز ده. ۴. د رضاعی ځوی نسبی خور جائز ده. ۵. د نسبي ځوی د رضاعی خور جائز ده. ۶. د رضاعی ځوی د رضاعی خور جائز ده. ۷. د نسبی خور د رضاعی ورور سره نکاح صحيح ده. ۸. د رضاعی خور د نسبی ورور سره نکاح جائز ده. ۹. د رضاعی خور د رضاعی ورور سره نکاح جائز ده. ټول نهه صورتونه شول چې مستثنی دي.(المرقات ۳۲۲/۶، ۳۲۱)

## درضاعي مور خاوند رضاعي پلار وي

اتوار ۶ ذيقعده ۱۴۱۷ھ

﴿۳﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې يوه ورځ زما رضاعي تره ماکره راغی او هغه زما کره د راتللو اجازت وغوښتو ما ورله اجازت ورنه کړو

أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ

چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم نه تپوس وکړم چې د هغه زما کره راتلل درست دي او که نه؟ کله چې تشريف راوړلو

رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: «اَنَّهُ عَمُّكَ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو ما ترې نه د هغه باره کې تپوس وکړو هغوی وفرمایل چې هغه ستا تره دې

فَأْذَنِي لَهُ» قَالَت: فَقلت: يَا رَسُولَ الله

هغه ته دراتلو اجازت ورکړه حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې ما دا واوريدل نو عرض مې وکړو ما وويل اې دالله رسوله!

إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يرضعني الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّه عمك

مالمښځې پې راکړې دي کوم سړي خوندې راکړي، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمائيل چې په دې کې هيڅ شک نشته چې هغه ستا تره دې

فليلج عَلَيْك» وَذَلِكَ بَعْدَ مَا ضرب علينا الْحجاب (متفق عليه)[1]

او هغه تاکره راشي. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بيان کوي چې دا د هغه وخت پېښه وه چې زمونږ د پاره پرده واجب شوې وه.

**توضيح** : **إنه عمك**: حضرت عائشې چې دکومې ښځې پې شکلي وودهغې دخاوند نوم ابو القعيس وو او کوم کس چې د حضرت عائشې کره د داخل کيدو د پاره راروان وو دهغه نوم افلح وو، افلح د ابوالقعيس ورور وو د ابوالقعيس د ښځې پې شکلو په وجه دا سړی دحضرت عائشې رضاعي پلار شو او دهغه ورور افلح يې تره شو. (المرقات ۳۲۲/۶)

**ارضعتني المراة**: د حضرت عائشې ددې بيان نه دا مقصد وو چې پې د ښځې دي نو رضاعت هم د ښځې نه ثابتيږي دسړي په کې څه کار دی حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې نه، د ښځې د پيو په وجه سړی هم رضاعی پلار شو دې کې شک نشته چې پې د ښځې دي دخاوند د جماع نه دا پې جوړيږي نو د خاوند هم په پيو کې دخل شته. (المرقات ۳۲۳/۶)

## رضاعي وريږې سره نکاح کول حرام دي

﴿۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ الله عَنْهُ قَالَ: يَا رَسُولَ الله هَلْ لَكَ فِي بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ؟

د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل شوې دي چې هغه عرض وکړو "اې دالله رسوله!" ستاسو د تره (حضرت حمزه) لور دخپلې نکاح د پاره

فَإِنَّهَا أَجْمَلُ فَتَاةٍ فِي قُرَيْشٍ فَقَالَ لَهُ: «أَمَا عَلِمْتَ

ولې نه خوښوئ؟ هغه خو د قريشو په حسين ترينه جينکو کې يوه جينی ده. رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل تاته معلومه نه ده

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۳۳۸ رقم الحديث ۵۲۳۹ ومسلم في ۲/۱۰۷۰ رقم الحديث (۱٤٤٥.۷) وأبوداؤد في السنن ۲/۵٤۷ رقم الحديث ۲۰۵۷ والترمذي ۳/٤۵۳ رقم الحديث ۱۱٤۸ وابن ماجه في ۱/٦۲۷ رقم الحديث ۱۹٤۹ والدارمي في ۲/۲۰۷

أَنَّ حَمْزَةَ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ؟ وَأَنَّ اللهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَ

چې حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما رضاعي وروردی او الله تعالی چې کومې رشتې د نسب په وجه حرام کړې دي

مَا حرم من النّسَب؟». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

هغه په د رضاعت په وجه هم حرامې دي. (مسلم)

**توضيح**: هل لک: ولې ستاسو د حمزه د لور سره مینه نشته حالانکه هغه په قریشو کې ډیره ښائسته و

نو (هل لک) مبتدا او (رغبة) خبر محذوف دی. حضرت حمزه او حضور اکرم همغولي وو او دوا رضاعي ورنه هم وو ځکه دواړو د ابو لهب د وینزې ثویبه پې ثکلي وو نو په دې وجه د حضرت حم لور د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وریره شوه چې ورسره نکاح حرامه وه. (المرقات ۳۲۳/۶) رسو کریم ﷺ د څلورو ښځوپې ثکلي وو. ۱. د خپلې مور محترمې آمنې، ۲. د حلیمه سعدیه، ۳. د ام ایمن ۴. د ثویبې. (المرقات ۳۲۳/۶)

## د رضاعت مقدار

﴿۵﴾ وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ: إِنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُحَرِّمُ

حضرت ام الفضل رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: حرمت رضاعت نه راځی

الرضعة أَو الرضعتان» (صَحِيح)[2]

چه یو ځل یا دوه ځله پې ثکلو سره (یعنی یو ځل یا دوه ځله رودلو سره نکاح دپاره حرمت رضاعت نه ثابتیږی)

وَفِي رِوَايَةٍ عَائِشَةَ قَالَ: «لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ والمصتان»[3]

او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په روایت کې داسې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل یو ځل یا دوه ځل رودل نکاح نه

(صَحِيح) وَفِي أُخْرَى لِأُمِّ الْفَضْلِ قَالَ: «لَا تُحَرِّمُ الإملاجة

حراموي. او د ام فضل په یو روایت کې دا الفاظ هم دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې یو ځل یا دوه ځله

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۷۱ رقم الحديث (۱٤٤٦.۱۱)

(2) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۷۳ رقم الحديث (۱٤٥۱.۲۱) ابن ماجه في السنن ۱/٦۲٤ رقم الحديث ۱۹٤۰

(3) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۷۳ رقم الحديث (۱٤٥۰.۱۷) وأبوداؤد في السنن ۲/٥٥۲ رقم الحديث ۲۰٦۳، والترمذي في ۳/٤٥٥ رقم الحديث ۱۱٥۰ والنسائي في ٦/۱۰۱ رقم الحديث ۳۳۰۹ وابن ماجه في ۱/٦۲٤ رقم الحديث ۱۹٤۱ والدارمي في ۲/۲۰۸ رقم الحديث ۲۲٥۱.

والإملاجتان». هَذِهِ رِوَايَات لِمُسلم (صَحِيح)[1]

په خوله کې سينه داخلول نکاح نه حراموي. (مسلم)

﴿۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ فِيمَا أُنْزِلَ مِنَ الْقُرْآنِ: «عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې په قرآن کريم کې دا حکم نازل شوی دی چې لس ځله پې ثکل (چې دهغې دثکلو مکمل

يُحَرِّمْنَ». ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ

يقينوي) نکاح حراموي بيادا حکم په پنځو ځلو ثکلو سره (چې دثکلو پوره يقين وی) منسوخ شو. (يعنی دې نه پس دا حکم نازل شو

فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې پنځه ځلمپې ئې وثکل نو حرمت رضاعت ثابت شو نو وروسبی حکم منسوخ شو، دې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَام د دنيا نه تشريف يوړلو

وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

او دا ايت په قرآن کريم کې لوستل کيدلو. (مسلم).

## درضاعت موده

﴿۷﴾ وَعَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ

د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې يوه ورځ نبی عَلَيْهِ السَّلَام ماکره تشريف راوړو نو په هغه وخت کې زمونږ کره يوسړی ناست وو

فَكَأَنَّهُ كَرِهَ ذَلِكَ فَقَالَتْ: إِنَّه

هغه چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وليدو نو خفه شو. عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې دمانبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه خفګان محسوس کړو، ماعرض اوکړو

أَخِي فَقَالَ: «انظرن من إخوانكن؟

چې دا خو زما درضاعي ورور دی نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې دا ګورئ (يعنی غور وفکر کوه) چه ستاورونه څوک کيدې شی ځکه

---

(۱) أخرجه في صحيحه ۲/۱۰۷۳ رقم الحديث (۱۴۵۱.۱۸) والنسائي في السنن ۶/۱۰۰ رقم الحديث ۳۳۰۸ والدارمي في ۲/۲۰۸

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۷۵ رقم الحديث (۱۴۵۲.۲۴) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۵۱ رقم الحديث ۲۰۶۲، والنسائي في ۶/۱۰۰ رقم الحديث ۳۳۰۷ والدارمي في ۲/۲۰۹ رقم الحديث ۲۲۵۳.

| |
|---|
| فَإِنَّمَا الرضَاعَة من المجاعة» (صَحِيح)[1] |
| ځکه چې شرعی طور باندې د رضاعت اعتبار د لوږې سره وي. (بخاری و مسلم) |

**توضيح** :المجاعة: ددې حديث مطلب دا شو چې د پيو د ځکلو احکام په هغه وخت کې جاري کيږي چې دا پې د غذا په شکل کې بدن ته دننه لاړ شي ځکه په دغه زمانه کې پې د بدن حصه جوړه شي او دې سره حرمت رضاعت ثابت شي. د المجاعة مطلب هم دادی چې دا پې د لوږې په وجه بدن ته لاړ شي او نور څه خوراک نه وي. حضرت عائشې هغه کس د پيو شريک ورور ګڼلی وو چونکه دا پې يې د مدت رضاعت نه پس ځکلي وو په دې وجه په هغې سره رضاعت ثابت نه وو، نو ځکه حضور د خفګان اظهار وکړو د رضاعت موده د جمهورو په نزد دوه کاله او صاحبين هم په دې متفق دي. د امام ابو حنيفه په نزد دوه نيم کاله ده، خو فتوی د جمهورو او د صاحبينو په قول ده. (المرقات ۳۲۶/۶)

## د رضاعت د پاره د يوې ښځې ګواهي معتبره ده که نه؟

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ: أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ |
| د حضرت عقبه بن حارث په باره کې نقل کړی شوې دي چې هغوی د ابو اهاب بن عزيز د لور سره نکاح وکړه نو |
| فَأَتَتِ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا |
| يوه ښځه راغله او ويې ويل چې ما عقبه له او د ابو اهاب لور له پې ورکړي دي (نو په دې وجه د دوی نکاح باطله شوه) |
| فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ: مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ قَدْ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي |
| عقبه هغې ښځې ته وويل چې ماته خو معلومه نه ده چې تا ماله پې راکړي دي دي. او نه تا مخکې ددې باره کې |
| فَأَرْسَلَ إِلَى آلِ أَبِي إِهَابٍ فَسَأَلَهُمْ |
| څه ويلي دي، بيا عقبه يو کس د ابو اهاب خاندان والو ته وليږلو چې دې ښځې ستالور له پيژ ورکړې دی |
| فَقَالُوا: مَا عَلِمْنَا أَرْضَعَت صَاحِبَتُنَا فَرَكِبَ |
| هغوی وويل چې مونږ ته پته نشته چې دې جينې ته زمونږ ه دې ښځې پې ورکړي دي، دې نه پس عقبه مدينې منورې ته |

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۹/۱۴۹ رقم الحديث ۵۱۰۴ ومسلم في ۲/۱۰۷۸ رقم الحديث (۱۴۵۵.۳۴) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۴۸ رقم الحديث ۲۰۵۸ والنسائی في ۶/۱۰۲ رقم الحديث ۳۳۱۴ والدارمي ۲/۲۱۰ رقم الحديث ۲۲۵۶.

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

نبی علیه السلام طرف ته لاړو او د خپلې نکاح باره کې یې ورته ټول صورتحال بیان کړه نبی علیه السلام ورته وفرمایل

«كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ؟» فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ

چې ته داسې جینۍ څنګه په نکاح کې ساتلی شي کله چې ظاهره شوه هغه ستا رضاعي خوردې یا د هغې نه جدا شو

زوجا غَيْرَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1]

او هغې بل کس سره نکاح وکړه. (بخاری)

**توضیح**: **کیف وقد قیل**: که یوه ښځه ګواهي ورکړي چې فلانکي کس له ما پسې ورکړي دي. نو د دغې ښځې دغه ګواهي به معتبر وي که نه؟ دې باره کې د علماء کرامو اختلاف دی.

**د فقهاو اختلافات**: د امام احمد بن حنبل او اسحاق بن راهویه په نزد د حرمت رضاعت ذپاره د یوې ښځې ګواهي بس دی. جمهور فرمایې چې د یوې ښځې په ګواهۍ سره حرمت رضاعت نه ثابتیږی. بیا د جمهورو په خپل مینځ کې لږ اختلاف دی. امام مالک فرمایې چې د دوه ښځو ګواهي کافي ده. امام شافعی فرمایي چې د څلورو ښځو ګواهي معتبره ده. د ائمه احنافو په نزد د رضاعت د پاره هم هغه عام قانون دی چې د دین په ټولو شعبو کې د ګواهي قانون دی چې دوه سړي یا یو سړی او دوه ښځې دا د شهادت نصاب دی په رضاعت کې هم په دې عمل کیږي. (المرقات ۳۲۷/۶)

**جمهورو د حضرت عقبه د روایت دوه جوابونه ورکړې دي**: ۱. یو جواب ئې دا ورکړی دی چې کیدی شي رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د وحې په ذریعه معلومه شوې وي چې هغی ښځې په ربښتیا دواړو له پسې ورکړې وو نو نبی علیه السلام ورته د جدا کیدو حکم ورکړو. ۲. دویم جواب دادی چې د پریښودو فیصله او حکم د شرعي قاعدې په طور نه وو اونه فتوی وه بلکې دا حکم بطور احتیاط وو، تقوی وه. کله چې د یو شک خبره تاسو ته وکړی شی نو دې نه پس به ستا زړه څنګه مطمئن شي نو پریخودل یې پکار دي. (المرقات ۳۲۷/۶)

## په میدان جنګ کې د ګیرو شوو ښځو سره د جماع کولو حکم

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا

حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایې چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حنین د غزا په ورځ یو لښکر

---

[1] أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۵/۲۵ رقم الحدیث: ۲۶۴۰

إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقُوا عَدُوًّا فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا

اوطاس ارخ ته روان کړه لښکر دښمنانو سره جنګ وکړو او په جنګ ورته فتحه وشوه ډير قيديان په کې په لاس ورغلل

فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ

خو د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابه کرامو کې بعضو حضراتو هغو وينځو سره د جماع کولو نه پرهيز وکړو

مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى فِي ذَلِكَ (وَالْمُحْصَنَاتُ

چې په مشرکانو د هغوی خاوندان شته په دې باره کې الله تعالى دا آيت نازل کړو «او حرام کړې دي

مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا ملكت أَيْمَانُكُمْ) أَيْ فَهُنَّ

په تاسو هغه ښځې چې خاوند والا دي خو هغه ښځې په تاسو حرامې نه دي چې ستاسو په قبضه کې راغلې دي. هغه ښځې په

لَهُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ. رَوَاهُ مُسلم[1]

(جنګ کښې) ګيرې شوې وې د هغو ښځو د عدت پوره کيدو نه پس په تاسو حلالې دي. (مسلم)

**توضيح** :واصابوا لهم سبايا: د کافرانو کومې ښځې چې د مسلمانانو په قيد کې راغلې وي نو دا مسئله واضحه ده چې کومه ښځه د يو سړي په نکاح کې وي نو بل سړی ورسره نکاح نشي کولی او نه يې تصرف کولی شي، او که د کافرانو ښځې په ميدان جنګ کې مسلمانانو ته په لاس ورغلې او خاوندې يې په ميدان جنګ کې پاتې شو نو اوس به يې حکم څه وي؟

نو دمسئلې حل دادی نو د هغو ښځو استبرا د رحم واجب ده. يعنې استبرا د رحم نه مخکې ورسره جماع کول جائز نه دي د استبرا رحم صورت دادی چې د هغې ښځې يو ځل ماهواري راشي که ماهواري رانشي که وړه وي که پيغله وي نو چې مياشت تيره شی نو جماع ورسره کول جائز دي نوکه حامله وي نو د ماشوم پيدا کيدو پورې به انتظار کوي. دا استبراء د رحم ده.( المرقات ۳۲۸/۶)

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۷۹ رقم الحديث (۱٤٥٦.۳۳) وابوداؤد في السنن ۲/٦۱۲ رقم الحديث ۲۱٥٥، والترمذي في ۳/۱۳۸ رقم الحديث ۱۱۳۲ والنسائي في ٦/۱۱۰ رقم الحديث ۳۳۳۳.

# الْفَصْلُ الثَّانِي

## کومې ښځې په یووخت کې په نکاح کې سائل ممنوع دي

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې نه منع فرمایلې ده چې په نکاح کړی شي ښځه

عَلَى عَمَّتِهَا أَوِ الْعَمَّةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا ، وَالْمَرْأَةُ

دخپلې ترور په موجودګی کې یا ترور په نکاح کړې شی د وریږې په موجودګئ کې یا یوې ښځې سره

عَلَى خَالَتِهَا أَوِ الْخَالَةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا لَا تُنْكَحُ الصُّغْرَى عَلَى الْكُبْرَى

دې نکاح نه کوي د خپلې خورځې په موجودګی کې. یا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ داهم وفرمایل چې د لوې رشتې په موجودګی کې

وَلَا الْكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى.[1]

د وړوکې رشتې والا سره او د وړوکې رشته والا په موجودګي د لوې رشتې والا سره دې نکاح نه کوي.

## د پلار ښځې سره نکاح کول حرام دي

﴿۱۱﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: مَرَّ بِي خَالِي أَبُو بردة بن دِينَار

حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ زما ماما حضرت ابوبرده ابن دینار زما خواکې په داسې حال کې تیر شو

وَمَعَهُ لِوَاءٌ فَقُلْتُ: أَيْنَ تَذْهَبُ؟ قَالَ:

چه دهغه په لاس کې یو جنګی نشان وو ما ترې تپوس اوکړو چې چرته روان یې نو هغه وویل چې

بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ

یو سړي دخپل پلار ښځې سره نکاح کړې ده او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم کړی دی چه دهغه

آتِيَهِ بِرَأْسِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[2]

چه د هغه سر پریکړم او د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت کې یې راوړم (ترمذی، ابوداوٗد)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٥٥٣ رقم الحديث ٠٢٦٥ والترمذي في ٣/٤٣٣ رقم الحديث ١١٢٦ والنسائي في ٦/٩٨ رقم الحديث والدارمي في ٢/١٨٣ رقم الحديث ٢١٧٨.

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٦٠٢ رقم الحديث ٤٤٥٦ والترمذي في ٣/٦٤٣ رقم الحديث ١٣٦٢ والنسائي ٦/١٠٩ رقم الحديث ٣١٣٠ وابن ماجه في ٢/٩٦٩ رقم الحديث ٢٦٠٧ وأحمد في المسند ٤/٢٩٢

او د ابو داود په یو روایت کې همدارنګې د نسائی. ابن ماجه او دارمی په روایت کې داسې هم دی چې ابو برده وویل چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم راکړی دی چې د هغه څټ کټ کړم او دهغه ټول مال روارم او په دې روایت کې زماد ماما په ځای ''زما تره'' الفاظ راغلي دي.

**توضیح**: په حقیقت کې د دغه سړي عقیده د اهل جاهلیت په شان وه چې د پلار د ښځې سره نکاح جائزه ده، او هغو خلقو به مشر و رور ته د پلار درجه ورکوله په دې وجه دغې بدبختو به نکاح ورسره کوله. دهغه سړي دا عقیده وه چې په اسلام کې یو حرام څیز په حقیقت کې حرام نه دی بلکه حلال دی نو په دې عقیده هغه مرتد شو نو واجب القتل شو. داسلام خپل یو قانون دی په دې کې د هر څه حدود مقرر شوي دي دا نه چې د خپل طبعیت مطابق دې د اسلام په احکاماتو کې تبدیلي راولې اوس وګورئ چې دغه صحابي حضور له طرفه د پوهولو په ځای د قتل کولو دپاره روان وو او دحضور بیرغ یې په لاس کې نیولی روان وو چې خلقو ته پته ولګي چې دا حضور رالیږلی دی. (المرقات ۳۲۹،۳۳۰/۶) **لوا**: جنګي جهنډې ته وایي. (المرقات ۳۲۹/۶)

## درضاعت موده

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُحَرِّمُ مِنَ

حضرت ام سلمه وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هغه پی څکل حرمت رضاعت ثابتوي کوم

الرَّضَاعِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

چې د سینې نه څکلو په وجه سره کولمې کهلاووي او هغه یې د پیو پریکولو د وخت نه مخکې څکلي وي. (ترمذی)

**توضیح**: **ما فتق الامعاء**: په دې عبارت کې ماموصوله بمعنی الذي دی او فتقَ د نصر ینصر په دی دوې معنی ده خلاصول الامعاء کولمو ته وایي دوې مطلب دا چې هغه پی چې د ماشوم خیټې او کولمو کې داسې شامل شي څنګه چې دیو وړې سړې خیټه ډکه شي یعنی د ماشوم د پاره خوراک صرف د مور پی دي نور خوراک نه خوري او دموده درضاعت دیو قول مطابق دوه کاله وي. (المرقات ۳۳۰/۶)

**فی الثدی**: د عربي په محاوره کې دا لفظ د رضاعت مودې او د پیو څکلو زمانې باره کې استعمالولی شي، که دلته دا معنی واخستل شي نو مطلب به یې دا وي چې د پیو څکلو په زمانه کې ماشوم پی وڅکل او یا دې لفظ دامر واقعي بیان کړی دی چې ماشوم پی عام طور باندې د سینې نه د رودلو په طریقه څکي نو دا څه قید نه دی که د سینې نه علاوه په یو لوښې کې یې وڅکل نو رضاعت نه ثابتیږي. (المرقات ۳۳۰/۶)

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۵۸ رقم الحديث ۱۱۵۲.

**فتق**: ضمير فاعل نه فی الثدی حال مقدره دی او الامعا مفعول به دی. (المرقات ۳۳۰/۶)

**أي لا يحرمُ من الرضاع إلا الذي فتق الأمعاء حال كون اللبن ممتلئًا في الثدي** علامه طيبی وايي چې الثدي لفظ دلوښې په معنی سره راځي ګويا دا پئ د سينې په لوښې کې جمع دي او ماشوم يې څکي **فتق الامعاء او فی الثدی** دا ټول الفاظ د رضاعت مودې طرف ته اشاره ده. (الكاشف ۳۰۰/۶، ۳۹۹)

**وكان قبل الفطام**: يعنې د پيو نه د شلولو نه مخکې يې څکلي دي، دا جمله سابق کلام دپاره بطور تاکيد ده ،يعنې د رضاعت په موده کې يې پې څکلي دې او هغه موده دوه کاله ده، ځکه په دغه دوران کې پې د بدن حصه جوړيږي چې د حرمت رضاعت سبب ګرځي. (المرقات ۳۳۰/۶)

## د رضاعی مور حق څنګه اداء کړو

| |
|---|
| ﴿۱۳﴾ وعَن حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ الْأَسْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ |
| او حضرت حجاج بن حجاج اسلمي د خپل پلار محترم نه نقل کوي چې هغوی عرض وکړو چې اې د الله رسوله! |
| مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ؟ فَقَالَ: |
| هغه کوم څيز دی چې د هغې سره زه د پيو د حق نه خلاصی بيا مومم؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: |
| "غُرَّةٌ: عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ[1] |
| چې مملوک يعنې ښائسته غلام يا وينزه (ترمذی ابوداود، دارمي) |

**توضيح**: **مذمة الرضاع**: مذمة دذال کسرې او دميم په فتحې سره د حق او ذمه داری په معنی سره دی، الذمام واجب الحفاظة څيز حق اداء کولو ته وايي دلته مراد د پيو څکلو احسان او بدله ورکول دي د عربو عادت وو چې د پيو ورکولو اجرت نه علاوه به يې هم ډيرهر څه ورکول او بطور احسان به يې ورکول. (المرقات ۳۳۲/۶)

ددې باره کې سوال حضرت حجاج اسلمي کړی وو حضور اکرم ورته جواب ورکړو "غرة" ښائسته غلام ته وايي په اصل کې دا لفظ د اس په تندې باندې سپين داغ دپاره استعمالولی شي هغې، بيا د دې اطلاق په هر روشن، شريف، سردار سړې باندې وشو، او د غلام او وينزې د پاره هم استعماليدو نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې خپلې رضاعي مور له يو ښائسته غلام يا وينزه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۵۳ رقم الحديث ۲۰۶٤ والترمذي في ۳/٤۵۹ رقم الحديث ۱۱۵۳ والنسائي في ٦/۱۰۸ رقم الحديث ۳۳۴۹، والدارمي في ۲/۲۰۹ رقم الحديث ۲۲۵٤ وأحمد في المسند ۳/٤۵.

ورکړه چې دهغې خدمت کوي څنګه چې هغې ستا خدمت کولو "جزاء حقها من جنس فعلها" یعنې د خدمت بدله په خدمت شوه. (المرقات ۳۳۲/۶)

(هل جزاء الاحسان الا الاحسان). (الرحمن ۶۰)

## د رضاعی مور د تعظیم او تکریم یوه نمونه

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ الْغَنَوِيِّ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابو طفیل غنوي وایي چې یوه ورځ مونږ د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس کې ناست وو چه په دې کې

إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِدَاءَهُ

یوه ښځه (حلیمه سعدیه) راغله، حضورً دهغې دعزت او خوشحالی دپاره خپل مبارک څادر خور کړو او هغه

حَتَّى قَعَدَتْ عَلَيْهِ فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيْلَ هَذِهِ

په هغې کیناسته، بیا چې هغه لاړه، (چا ته چې د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په څادر د ناستې خیرانتیا شوې وه) ورته وفرمایل

أَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ (صَحِيح)[1]

ورته وفرمایل چې دا هغه ښځه ده چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له یې پی ورکړي وو. (ابو داؤد)

**توضیح**: حضرت حلیمه سعدیه د سعد قبیلې سره یې تعلق لرلو. دوی حضور له دوه کالو پورې پی ورکړي وو، کیدی شي د حنین د غزا په موقع دا راغلې وه حضور د هغې ډیر عزت کړی وو، په دې موقع د حضور رضاعي خور شیماء هم وه چې حضور یې ډیر عزت کړی وو او دا دواړه خوش قسمته مسلمانانې وې د حضرت حلیمې قبر په مدینه منوره کې په جنت البقیع کې دی. (المرقات ۳۳۳/۶)

## د ځلورو نکاح کانو نه دزیاتو ممانعت

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ غَيْلَانَ بن سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې کله غیلان بن سلمه ثقفی مسلمان شو نو دهغه لس ښځې وې چې هغه ده

فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د جاهلیت په دور کې کړې وې چنانچه هغه سره دهغه یې بیاني هم مسلمانې شوې بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته حکم وکړو

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۳۵۳ رقم الحديث ۵۱۴۴.

«أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]

چې څلور د ځان سره په نکاح کې وساته او نورې پرېږده. (روایت کړې دې احمد، ترمذي، ابن ماجه)

**توضیح: امسک اربعاً**: که یو کافر مسلمان شي او ورسره د هغه ییښیانې هم مسلمانې شي اوس په دې باندې د ټولو فقهاو اتفاق دی هغه کس د ځان سره څلور ییښیانې ساتلی شي نورې به پرېږدي، خو اختلاف په دې کې دی چې کومې ښځې به ځان سره ساتي او کومې به پرېږدي په دې کې اختلاف دی: (المرقات ۳۳۳/۶)

**دفقهاو اختلاف**: ائمه ثلاثه او امام محمد یعنې جمهور فرمایې چې سړې ته اختیار دی چې کومې ځان سره ساتي او کومې پرېږدي. امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف فرمایې چې کومو سره یې وړومبی نکاح کړې وي هغه دې ځان سره وساتي، او کومو سره یې چې ورسته نکاح کړې وي هغه دې د ځان نه جدا کړي.

**دلائل**: جمهورو د زیر بحث د غیلان بن سلمه د روایت اوددې پیښې نه دلیل اغستی دی چې په کې امسک اَربعًا مطلق الفاظ راغلې دي چې په دې کې بندش نشته چې کومې پرېږدي او روستو کومې ځان سره ساتي. د جمهورو دویم استدلال د حضرت ضحاک بن فیروز روایت نه کړی دی چې په کې "اختر ایتهما شئت" الفاظ راغلې دي چې په کې د تخییر او اختیار په استعمال باندې دلالت کوي.

د جمهورو دریم دلیل د نوفل بن معاویه روایت دی چې کله هغه ته د څلورو د ساتلو او د نورو د پرېښودو حکم وشو نو هغه وړومبنی جدا کړې او نورې یې ځان سره وساتلې. (المرقات ۳۳۳/۶)

امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف فرمایې چې د نکاح په معاملاتو کې کفار د شرعي احکاماتو پابند نه وي او هغوی په خپله زندګی کې ازاد وي خو کله چې د اسلام په دائره کې داخل شي نو بیا په هغه د شریعت ټول احکام فرض شو، لهذا چې کومې وړومبی په نکاح کې راغلې وي هغه به ځان سره په نکاح کې وساتي او روستو چې کومې نکاح کې راغلې وي هغه به د جدا کیدو دپاره مقرر کړي.

د احنافو دا دلیل د شریعت په مجموعي قواعد او اصولو باندې مبني دی دا کوم قیاس نه دی چې د نصوصو په مقابله کې راغلی دی. امام محمد هم د جمهورو سره دی لهذا فتوی د جمهورو په قول باندې ده او په دې کې احتیاط هم دی. (المرقات ۳۳۴/۶، ۳۳۳)

**جواب**: امام طحاوی د جمهورو د دلائیلو نه دا جواب ورکوي چې پورتني احادیثو کې چې خاوند ته

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/٤۱۵ رقم الحديث ۱۱۲۸ وابن ماجه في ۱/٦۲۸ رقم الحديث ۱۹۵۳ وأحمد في المسند ۲/٤٤

کوم اختیار ورکړی شوی دی. دا د هغه پخوانی او د نوې نکاح خبره ده کله چې د څلورو نه د زیاتو او د دوو خویندو د جمع کولو حکم نه وو راغلی، لهذا په هغه وقت کې ټولې نکاحا جانې صحیح وې، په ټولو کې اختیار ورکړی شوی وو چې کومې رخصتوي، بیا دا حکم موقوف شو، بهر حال د جمهور قول راجح دی، په راتلونکي حدیث نمبر ۱۶ او ۱۷ کې همداسې تشریح و وضاحت دی.

﴿۱۶﴾ وَعَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ: أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي خَمْسُ نِسْوَةٍ فَسَأَلْتُ

حضرت نفل بن معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې کله زه مسلمان شوم نو زما په نکاح کې پنځه ښځې وې ما پوښتنه وکړه

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «فَارِقْ وَاحِدَةً وَأَمْسِكْ

دې باره کې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې یوه جدا کړه او څلور

أَرْبَعًا» فَعَمَدْتُ إِلَى أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً عِنْدِي: عَاقِرٍ

ځان سره وساته ما چې د هغوی دا حکم واوریدو نو ما د ټولو نه وړومبنۍ ښځه جدا کړه او هغه شنده وه

مُنْذُ سِتِّينَ سنة ففارقتها. رَوَاهُ فِي شرح السّنة[1]

او د شپیتو کالو نه ماسره وه. (شرح السنه)

## د دوه خویندو په نکاح کې د ساتلو نه ممانعت

﴿۱۷﴾ وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوزِ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ

ضحاک بن فیروز دیلمي د خپل پلار (حضرت فیروز) نه نقل کوي چې هغه وویل چه ما عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَسْلَمْتُ وتحتي أُختَان قَالَ:

یا رسول الله! زه مسلمان شوی یم او زما په نکاح کې دوه خویندې دي دې باره کې څه حکم دې؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

«اختر أيتهما شِئْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[2]

په دې دواړو کې چې کومه غواړې هغه وساته. (ترمذی، ابو داؤد، ابن ماجه)

**توضیح:** وتحتي اختان: یو سړی دی اسلام یې قبول کړه او د هغه په نکاح کې دوه خویندې دي او هغه هم مسلمانانې شوې نو جمهور فرمائي چې سړي ته اختیار دی چې کومه پریږدي او کومه رخصتوی.

---

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۹/۹۰ رقم الحديث ۲۲۸۹.

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۷۸ رقم الحديث ۲۴۳۱ والترمذي في ۳/۴۳۶ رقم الحديث ۱۱۳۰ وابن ماجه في ۱/۶۲۷ رقم الحديث ۱۹۱۵۱.

امام ابو حنیفه فرمایي چې که چیرې د دواړو نکاح په یوځای شوې وي نو دواړه به رخصتوي او نکاح مخکې ورستو شوې وي نو اولنۍ به وساتي او دویمه به رخصت کړي، د دلائلو او مسائلو بحث مخکې شوی دی. (المرقات ۳۳۵/۶)

## مسئلة اسلام احد الزوجين

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجَتْ فَجَاءَ

حضرت ابن عباس وایي چې یوې ښځې اسلام قبول کړه او بیا هغې بل سړي سره نکاح وکړه، دې نه پس دهغې ږومبنی خاوند

زَوْجُهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ أَسْلَمْتُ

دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او عرض ئې وکړو اې دالله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ما اسلام قبول کړو

وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي فَانْتَزَعَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَوْجِهَا الْآخَرِ

او زما دې ښځې تر زما د اسلام قبلولو پته وه (لیکن ددې باوجود دې بلې نکاح او کړه) نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ښځه د دویم خاوند نه جدا کړه

وَرَدَّهَا إِلَى زَوْجِهَا الْأَوَّلِ وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ قَالَ:

او ږومبني خاوند ته یې حواله کړه، او په یو روایت کې داسې هم دي چې هغه ږومبني خاوند دا هم وویل چې دې

إِنَّهَا أَسْلَمَتْ مَعِي فَرَدَّهَا عَلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

ښځې ما سره یوځای اسلام قبول کړې وو نبی علیه السلام چې دا واوریدل نو هغه ښځه یې ږومبني خاوند ته حواله کړه. (ابو داؤد)

وَرُوِيَ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ»: أَنَّ جَمَاعَةً مِنَ النِّسَاءِ

او شرح السنه کې دا روایت داسې نقل کړی شوی دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیرې ښځې دهغوی د

رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنِّكَاحِ الْأَوَّلِ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ عِنْدَ

ږومبنی نکاح مطابق خپلو خاوندانو ته حواله کړې دي چې د دوی خاوندان د دین او ملک د فراق نه پس

اجْتِمَاعِ الْإِسْلَامَيْنِ بَعْدَ اخْتِلَافِ الدِّينِ

هغوی سره په اسلام کې شامل شوې دي د دواړو په مینځ کې مذهبی، ملکي اختلاف پیدا شو او چې

وَالدَّارِ مِنْهُنَّ بِنْتُ الْوَلِيدِ بْنِ مُغِيرَةَ

بیا دویم کس به هم مسلمان شو حضور به دهغوی سابقه نکاح باقی وساتله په هغو ښځو کې یو ښځه د ولید بن مغیره لور هم وه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۷۴ رقم الحديث ۲۲۳۸ والترمذي في ۳/۴۴۹ رقم الحديث ۱۱۴۴ وابن ماجه في ۱/۶۴۷ رقم الحديث ۲۰۰۸

كَانَتْ تَحْتَ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ

چې د صفوان بن امیه بنځه وه. دا بنځه دخپل خاوند نه مخکې د فتح مکې په ورځ مسلمانه شوې وه او دهغې

وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ فَبعث النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ ابْنَ عَمِّهِ وَهْبَ بْنَ عُمَيْرٍ

خاوند اسلام قبل نه کړو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغې خاوند (صفوان بن امیه) ته دهغه د تره ځوې وهب بن عمیر اولیږلو

بِرِدَاءِ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَانًا

او خپل څادر مبارک ئې ورکړو او ورته یې امن ورکړه. (یعنې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وهب له څادر بطور نښه ورکړو کله چې

لِصَفْوَانَ فَلَمَّا قَدِمَ جَعَلَ لَهُ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْيِيرَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ

صفوان راغی نو هغه له یې څلورو میاشتو پورې اجازت ورکړو تردې چې صفوان دخپلې بنځې د مسلمان کیدو نه څلور میاشتې

حَتَّى أَسْلَمَ فَاسْتَقَرَّتْ عِنْدَهُ وَأَسْلَمَتْ أُمُّ حَكِيمٍ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ

پس مسلمان شو، نو بنځې یې په نکاح کښ پاتې شوه په هغو بنځو کې یوه بلې بنځه ام حکیم وه چې د حارث بن هشام لور وه

امْرَأَةُ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ وَهَرَبَ زَوْجُهَا

او د ابو جهل د ځوی عکرمه بنځه وه، هغې هم د فتح مکې په ورځ اسلام قبول کړې وو او دهغې خاوند عکرمه

مِنَ الْإِسْلَامِ حَتَّى قَدِمَ الْيَمَنَ فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيمٍ حَتَّى قَدِمَتْ

د اسلام قبلولو نه انکار وکړو او یمن ته لاړو چنانچه ام حکیم د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په حکم سره خپل خاوند ته د اسلام

عَلَيْهِ الْيَمَنَ فَدَعَتْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمَ فَثَبَتَا عَلَى نِكَاحِهِمَا.

ترغیب ورکولو دپاره یمن ته لاړه چې مسلمان شي او نکاح ئې باقي پاتې شي

رَوَاهُ مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ مُرْسلا (صحيح)[1]

دا روایت امام مالک د ابن شهاب نه په طریقې د ارسال سره نقل کړی دی.

**توضیح**: وردها الى زوجها الأول: که په بنځه او خاوند کې یو کس مسلمان شي او دویم غیر مسلم وي نو په دې کې یو څو صورتونه دي: یو صورت دا دی چې د اسلام نه پس بنځه او خاوند په ملک کې اوسیږي، دویم صورت دادی چې دا ملک دار الاسلام دی یا دار الحرب دی. دریم صورت دادی

(۱) أخرجه مالك في المؤطا ۲/۵۴۳ رقم الحديث ٤٤ من كتاب النكاح.

چې په دواړو کې داسې جدائي راغله چې یو په کې ملک پریخود و دویم پاتې شو او اختلاف دارین پیدا شو. څلورم صورت دادی چې د جدائي نه پس څه موده تیره شو. پنځم صورت دادی چې ښځه کتابیه ده او که غیر کتابیه ده.دا یو څو صورتونه دي چې ټول منتشر دي او ددې ضمن کې چې فقهاو کوم طرف ته اشاره وکړه زریې وپیژنئ.(المرقات ۳۳۵/۶)

**دفقهاء کرامو اختلاف** : ۱. د جمهورو ائمو مسلک دی چې ښځه او خاوند کې یو کس اسلام قبول کړه نو بل له هم اسلام دعوت ورکول پکار دي که اسلام یې قبول کړه نو نکاح باقي پاتې شوه، او که انکار یې وکړو نو نکاح ختمه شوه، او قاضي به د دواړو په مینځ کې تفریق وکړي، که ښځه کتابیه وه نو هغې ته داسلام دعوت مه ورکوه نکاح یې برقرار ده.۲. که په ښځه اوخاوند کې یو کس مسلمان شو او دښه پس اختلاف دارین راغی یعنی یو په کې ملک پریخود و نو دې اختلاف دارین سره د جمهورو په نزد نکاح ختمه شوه، ځکه چې په اختلاف دارین کې اسلام پیش کول ناممکن دي، او که دار الحرب ته تلو نه وروسته د عدت موده ختمه شوه نو نکاح هم ختمه شوه.۳. که په ښځه اوخاوند کې یو کس اسلام قبول کړه دویم د عدت مودې یعنی درې حیضو پورې اسلام قبول نه کړه نو دې سره هم نکاح ختمه شوه.الغرض د جمهوروپه نزد د ښځې دجدائي درې وجې د: یو داسلام نه انکار. دویم اختلاف دارین، دریم مقدار عدت موده د اسلام د قبلولو نه بغیر تېرد شوه، یعنې د درېو حیضونو موده تیریدل. امام شافعی او امام احمد بن حنبل فرمایي چې په ښځه او خاوند کې چې یو کس اسلام قبول کړي نو د نکاح برقرار ساتلو دپاره به دریو حیض پورې انتظار کوي، که دویم هم مسلمان شو نو نکاح پاتې شوه او که نه نو نکاح ختمه شوه، که هغه په ښځه او خاوند کې د اختلاف دینینو سره اختلاف د دارینو راغلی وي او که نه وي.اختلاف دارینو سره څه فرق نه راځي، او داسې به د یو کس داسلام په صورت کې به په دویم اسلام نشې پیش کولی او نه داسلام په انکار سره د فرقت څه تعلق شته، د فرقت تعلق صرف د انقضاء عدت سره دی.(المرقات ۳۳۶/۶.۳۳۵)

**دلائل** : امام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمهما الله دخپل مسلک دپاره چې د کومې واقعې نه دلیل نیولی دی حضرت زینب بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم او د حضرت ابوالعاص قصه ده چې حضرت زینب شپږ کاله په مدینه کې وه او بیا رسول کریم ﷺ په وړومبی نکاح (ابوالعاص) ته واپس کړه (ترمذی ج۱ص۲۱۷) صاحب مشکوة زیر بحث حدیث نقل کولو نه پس صاحب مصابیح دشرح السنه په حوالې سره ډیرو پیښو طرف ته اشاره کړې ده ګویا دا پیښې د هغه د مسلک دپاره دلائل دی چې د تباین دارین باوجود نکاح اول سره ښځه او خاوند برقرار پاتې کیږي نوې نکاح ونه کړی شوه. لهذا د تباین دارین څه حیثیت پاتې نه شو د بیلتون (فرقت) اصل وجه د عدت تیریدل دي.

حضرت امام شافعی اسلام پیش کول نه دی تسلیم کړی، هغه فرمائي چې ذمی له مونږه د عدم تعرض عهد ورکه اوس په هغه اسلام پیش کول تعرض دی چې جائز نه دی. جمهورو ائمه احنافو ته ددوه قسمه دلائلو ضرورت دی: یو هغه دلائل چې داسلام دپاره فائده مند وي. دویم هغه قسم چې دتباین دارین د فرقت د ثبوت د پاره وي.

**دوړومبی دعوې دلیل**: دعرض اسلام پاره احنافود حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د دوو واقعاتو نه دلیل نیولی دی د وړومبی واقعې خلاصه داسې ده چې د داود بن کردوس بیان دی چې د بنوتغلب نه یو نصراني سړی ؤ د هغه نکاح یوې نصرانی ښځې سره شوې وه هغې ښځې اسلام قبول کړه او خاوندیې انکار وکړه حضرت عمر ته چې دا نصرانی پیش کړی شو نو ورته یې وویل "اسلم والا فرقتُ بینکما" هغه نصرانی وویل چې زه په دې وجه اسلام نه قبلوم چې د عربونه شرمیږم چې دا به وایي هغه سړې د فرج د پاره اسلام قبول کړه، حضرت عمرددواړو په مینځ کې جدائي راوسته، دا روایت زجاجة المصابیح ۲ ص ۴۲۰ باندې ددې مصنف نقل کړی دی، او د عارضة الاحوذي مصنف ابن عربي په شرح د ترمذی کې او امام طحاوی هم دا نقل کړی. همداسې یوه بله واقعه د هغه طرف ته منسوب ده چې هغه ته دوه مشرکان پیش کړی شو یو مسلمان شوی ؤ حضرت عمر دویم ته هم د اسلام دعوت ورکړو په انکار باندې یې دواړه جدا کړل معلومه شوه چې اسلام پیش کول ثابت دي او فرقت نکاح کې یوه وجه داسلام نه انکار دی.

**عقلی دلیل**: احناف وایي چې اسلام د رحمت او شفقت مذهب دی داد فرقت ذریعه نه شي جوړیدی کله چې کافرته د اسلام دعوت ورکړی شو او هغه انکار وکړو نو اوس به انکار از اسلام ذریعه جوړیږي او قصوروار به هغه کافر وي په دې وجه عرض اسلام ضروري دی چې په اسلام باندې دتفریق زوجین الزام رانشی باقي شوافعو چې نور څه ویلي چې ذمی ته تعرض جائز نه دی نو ددې جواب دادی چې ټیک ده تعرض جائز نه دی جبري طور باندې جائز نه دی په اختیاري طور باندې جائز دی ددې څه ممانعت نشته.

**د دویمې دعوې دلیل**: دجمهورو او احنافو دویمه دعوی داده چې د تباین دارین نه فرقت پیدا کیږي او نکاح فسخ کیږي. دې دعوې دپاره احناف د قرآن کریم دوه ایتونه پیش کوي: وړومبی ایت داسې دی: **فان علمتموهن مؤمنات فلا ترجعوهن الی الکفار لاهن حل لهم ولاهم یحلون لهن** (سورة ممتحنه ۱۰)

ددې نه دا مسئله صفا ثابته شوه چې تباین دارین د فرقت زوجین دپاره سبب دی. دویم ایت دادی:

**ولا جناح علیکم ان تنکحوهن اذا اتیتموهن اجورهن.** (سورة ممتحنه)
که تباین دارین د فرقت زوجین ذریعه نه وي نو هغه ښځو سره نکاح څنګه جائز شوه چې د کومو خاوندان په مکه کې دي. احنافو ددې روایت نه هم دلیل نیولی دی کوم چې امام ترمذی د عمرو بن شعیب په حوالې سره په خپل کتاب کې نقل کړې دي الفاظ یې دا دي: **ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ردابنته زینب علی ابي العاص بن الربیع بمهر جدید ونکاح جدید.** (ترمذی ج۱ص ۲۱۷)
ترجمه. جمهور احناف د زیر بحث حدیث د ابن عباس جواب داسې ورکوي چې په دې روایت کې څه تفصیل او تصریح نشته دی چې دلته تباین دارین شوی دی په دې وجه محتمل او مجمل روایت نه دلیل نشې نیولی. باقي د صفوان بن امیه او عکرمه بن ابی جهل د واقعو نه دلیل اغستل جائز نه دي، ځکه چې دلته تباین نه دی شوی دا دواړه حضرات بیشکه مکې نه تښتیدلی ووخو دمکې د حدودو نه نه ووتلی یو دسمندر غاړې له تلی وو او دویم د مکې سره نزدې پټ شوی وو. باقي صاحب مشکوة دا وایي چې شرح السنه کې صاحب مصابیح نه روایت دې چې دښځو یو جماعت وو چې هغوی حضور اکرم وړومبنی نکاح سره خپلو خاوندانو ته حواله کړې، نو د هغې جواب هم دادی چې یوه مجمل او مبهم دعوی ده، ترڅو پورې چې د تباین دارین تفصیل مخکې نه وي تر هغې پورې دا اجمال د چا لپاره دلیل نشي جوړیدی. (المرقات ۳۳۷/۶)
**دحضرت ابو العاص رضي الله عنه واقعه او تحقیق**: بنیادي طور باندې شوافعو او حنابلو د حضرت ابو العاص د واقعې نه دلیل نیولی دی، د حضرت ابو العاص نکاح دبنت رسول حضرت زینب سره شوې وه حضرت زینب خو مسلمانه وه مګر ابو العاص اسلام نه وو قبول کړی کله چې په جنګ بدر کې ګیر شو نو حضور بغیر د فدیې نه پریخودو او شرط یې کیخودو چې ته به زما لور زینب د مکې نه مدینې ته هجرت کولو دپاره پریږدې په دې موقعه باندې حضرت زینب د هغه د خلاصې دپاره هغه هار هم ورولیږلو کوم چې حضرت خدیجة الکبری خپلې لور ته د واده په موقعه باندې ورکړی وو، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې کله دا هار ولیدلو نو دحضرت خدیجې یادیې تازه شو او نبی علیه السلام باندې خاموشی غوندې راغله دصحابه کرامو په مشورې سره ابوالعاص یې بغیر د فدیې نه واپس کړو او هارې هم واپس کړه. حضرت ابو العاص خپله وعده پوره کړه او حضرت زینب مدینې منورې ته ورسیده. بیا صحابه کرامو یوه قافله څه موده تعقیب کړه چې په کې حضرت ابو العاص هم وو هغه مدینې ته وتښتیدو او نیغ حضرت زینب کره لاړو حضرت زینب ورله امن وغوښتو حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ورله امن ورکړه ابو العاص مکې ته لاړو او هلته یې د

اسلام اعلان وکړو او واپس مدینې ته راغی په دې شپږ کاله تیر شوې وو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورومبنی نکاح سره حضرت زینب هغه ته واپس کړه وایي چې وګورئ تباین دارین راغلی او فرقت نکاح رانغلو.

**جواب** احناف او جمهور ددې جواب داسې ورکوي چې اوګورئ چې د حضرت ابو العاص د واقعې نه تاسو حضرات هیڅرې دلیل نشئ نیولی، یو خو دا چې ترمذي کې چې کوم ځای کې دي چې ورومبنی نکاح سره یې واپس کړه هلته داهم دي چې نوې نکاح سره او نوې مهر سره واپس کړه اوس به څه کوې؟ **"اذا تعارضا تساقطا"** په دې وجه تاسو حضرات ددې واقعې نه او روایت نه دلیل نه شئ نیولی چې په دې کې د عدت موده هم تیره شوې وه دریم حیضه یا دریم میاشتې، او شپږ کاله تیر شوې دي یقیناً تاسو به هم تاویل کوئ او مونږه به هم تاویل کوو بغیر د تاویله څوک هم دلیل نشي نیولی، نو په تاویلاتو کې یو تاویل دا هم دی چې دا پیغمبری خصوصیت وو چې شپږو کالو پورې زړه نکاح برقرار وه. دویمه تشریح دا ده چې بالنکاح الاول کې یو د مشابهت صورت دی چې ورومبنی نکاح پشان نوی مهر او نوې نکاح سره نکاح وشوه. باقي د ترمذي دواړه روایتونه صحیح دي، او په دې کې واضح تعارض دی نو جمهور وایي چې د عمرو بن شعیب روایت زمونږه دلیل دی چې نوې نکاح وشوه نوی مهر مقرر شو، دا روایت قابل ترجیح دی ځکه چې دا مثبت دی، او د حضرت ابن عمر روایت نافي دی او نافی اومثبت کې چې کله اختلاف راشي نو مثبت اولی بالترجیح شي. علامه خطابي د شوافعو په حمایت کې وایي چې ممکنه ده چې د حضرت زینب عدت د شپږو کالو نه زیات ؤ. ځکه طهر طویل هم وي نو فرقت زوجین رانغلو ځکه عدت اوس هم لا تیر شوی نه د. مونږ شاباس!!! (المرقات ۳۳۸/۶)

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث

### کومې کومې رشته دارې ښځې محرماتو کې داخلې دی

﴿۱۹﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: حُرِّمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ وَمِنَ الصِّهْرِ

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې د نسب په اعتبار سره اوه(۷) رشتو والا ښځې حرامې دي او د مصاهرت په اعتبار

سَبْعٌ ثُمَّ قَرَأَ: (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ) الْآيَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

سره هم اوه ښځې حرامې دي بیا حضرت ابن عباس دا ایت (حرمت علیکم امهاتکم) تر آخره پورې ولوستلو.

---

[1] بخاری فی صحیحه ۹/۱۵۳ رقم الحدیث ۵۱۰۵.

**نوټ:** سورة النساء ايت نمبر ۲۳ کې د ټولو نسبي محرماتو بيان موجود دی، او د سخرګنی د اکثرو رشتو ذکر دی .هلته يې وګورئ. (مؤلف)

## د خپلې ښځې د لور سره د نکاح ممانعت

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه (حضرت عبد الله) نه نقل کوي چه نبی عَلَيْهِ السَّلَام

قَالَ: «أَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا فَلَا

وفرمايل چې کوم سړي يوې ښځې سره نکاح وکړي او بيا جماع ورسره وکړي نو د هغه ښځې لور سره

يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا

(چه دهغې د رومبنۍ خاوند نه وه) نکاح کول جائز نه دي ځکه چې هغه ښځه او دهغې لور په يو وخت کې په نکاح کې

فَلْيَنْكِحِ ابْنَتَهَا وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ

ساتل په دې صورت کې جائز نه دي او کوم کس چې يوې ښځې سره نکاح وکړه نو اوس دهغه د پاره د خپلې نکاح شوې ښځې

أَنْ يَنْكِحَ أُمَّهَا دَخَلَ أَوْ لَمْ يَدْخُلْ» .

موريعنې خوابنې سره نکاح کول جائز نه دي که هغه د خپلې نکاح شوې ښځې سره جماع کړې وي يا ئې نه وي کړې

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ إِنَّمَا رَوَاهُ ابْنُ لَهِيعَةَ

دا روايت ترمذی نقل کړی دی او وائی چې دا روايت د سند په اعتبار سره صحيح نه دي ځکه چې ابن لهيعه

وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ وَهُمَا يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ (متفق عليه)[1]

او مثنی بن صباح د عمرو بن شعيب نه نقل کړی دی او هغه دواړه د حديث د روايت د پاره ضعيف شميرلی کيږی

(ګويا دا روايت د خپل راويانو په اعتبار سره صحيح نه دی ليکن د خپل مفهوم او د معنی په اعتبار سره صحيح دی ځکه چې د دې روايت کوم مفهوم بيان شوی دی هغه د قران مطابق دی) .



(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۲۵ رقم الحديث ۱۱۱۷

# باب المباشرة
## خپلې ښځې سره د مباشرت بيان

**البشرة** د انسان ظاهري څرمن او ظاهري بدن ته وايي ددې نه بشر دی ځکه بشر انسان دی او د حيوان په مقابله کې د انسان بدن دوينټو نه پاک وي. (المرقات ۳۴۱/۶)

**المباشرة الصاق البشرة بالبشرة** ويلی شي چې د دواړو طرفونو نه بدن يو بل سره ملاو شی دا لفظ په عربی کې د مباشرت دپاره خاص نه دی. البته مباشرت ترې کنايه کيدی شي. دلته **المباشرة** بمعنی **المجامعة** دی. ابواب الصوم کې احاديثو کې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د روژې په ورځو کې د "**يباشر**" چې کوم لفظ راغلی دی هغه **الصاق البشرة بالبشرة غير الجماع** په معنی دی، چه په اردو کې ترجمه بوس وکنار ده، کومو خلقو چې په بخاری شريف کې دا اردو په ترجمه کې ددې لفظ په مباشرت سره ترجمه کړې ده نو هغوی ډير ظلم کړی دی. ځکه چې مباشرت په اردو کې د جماع سره خاص دی نو په رمضان کې د ورځې حضور اکرم څنګه جماع وکړه دې ترجمې سره به ډير خلق ګمراه شي، په دې باب کې د جائز او ناجائز مباشرت تفصيلات دي، او د مباشرت آداب او مسائل په تفصيل سره بيان دي.

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ: إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا

حضرت جابر وايي چې يهوديانو به ويل چې کوم کس ښځې سره د شا طرف نه د هغې مخکې حصې (شرمګاه) کې

فِي قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَد أَحول فَنزلت:

کوروالی وکړي نو د هغه به چپی (کوږسترګی) ماشوم پيدا کيږي په دې باره کې دا آيت نازل شو!

(نِسَآؤُكُم حرث لكم فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُم) (متفق عليه)[1]

ستاسو ښځې (يعنی ښيانې او وينځې) ستاسو لپاره پټې دي لهذا تاسو ته اختيار دې چې د کوم طرف نه غواړئ نو راتلې شئ

﴿۲﴾ وَعنهُ كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ.

حضرت جابر وايي چې مونږ به د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې عزل کولو او قرآن به نازليدو (يعنی د نزول

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۸/۱۸۹ رقم الحديث ٤٥٢٨ ومسلم في ۲/۱۰۵۸ رقم الحديث (۱٤۳٥.۱۱۷) وأبوداؤد في السنن ۲/٦۱۸ رقم الحديث ۲۱٦۲، والترمذي في ٥/۱۹۹ رقم الحديث ۲۹۷۸ وابن ماجه في ۱/٦۲۰ رقم الحديث ۱۹۲٥ والداري في ۲/۱۹٦ رقم الحديث ۲۲۱٤

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مُتَّفَقٌ | عَلَيْهِ. | وَزَادَ | مُسْلِمٌ: | فَبَلَغَ | ذَلِكَ |

سلسله جاري وه مګر دې باره کې څه ممانعت نه وو). بخاري و مسلم) مسلم په خپل روايت سره دا هم نقل کړي دي

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَم ينهنا (صَحِيح)[1]

چې زمونږ ددې کار خبر رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وو مګر هغوی مونږه منع نه کړو.

**توضيح**: د عزل لغوي معنی جدا کول دي څنګه چې په (فاعتزلو النسا فی المحيض) (البقرة ۲۲۲) کې دی. د عزل اصطلاحی تعريف دارنګې دی چې په جماع کې د انزال په وخت کې نطفه باهر ضائع شي، دې باب کې د عزل احاديث حاوي دي، بعضو نه د جواز پته لګي او بعضو نه نه لګی، علامه ابن همام فرمايي چې ډير علماء د عزل قائل دي او درمختار هم جائز ليکلی دی، بعضو صحابه کرامو او بعضو سلفو هم عزل ته ناجائز ويلی دی، ابن حزم هم د عدم جواز قائل دی. (المرقات ۳۴۲/۶)

بهرحال عام علماء فرمايي او په احاديثو کې هم دغه شان ده چې وينځې سره بغير اجازته عزل جائز دی، او حرې ښځې سره د اجازت نه پس عزل جائز دی ځکه چې د شهوت نه پس ښځې ته د سړې د اوبو سخت ضرورت وي نو دا دهغې حق دی که هغه اجازت درنه کړي نو بيا جائز نه دی. بهرحال که اجازت ملاو هم شي نو دا عزل صرف د مباح درجې پورې دی. ټول احاديثو ته د کتلو نه دا معلوميږي چې د شريعت په نظر کې عزل يو ښه عمل نه دی، بعضې روايتونو کښ دې ته واد خفي ويلی شوی دي، يعنې په پټه طريقه ماشوم ژوندی خخول. بهرحال صاحب هدايه چې کله د عزل باره کې وليکل وکره العزل چې عزل اګرچې مباح دی ليکن يو ناخوښه عمل دی، د هدايې شارحينو دې باره کې ليکلي: نن سبا که يو سړی د حمل نه مخکې نطفه په دوايانو استعمالولو په ذريعه ضائع کول غواړي نو دا جائز ده، هغه حضرات ليکي چې چونکه نن سبا داولاد تربيت خو کيږی نه نو په دې وجه سره فاسق فاجر او دالله تعالی د ډېر ښمنانو زياتولو ضرورت څه دی دا د هغو حضراتو يو ښه نيت دی او داسې که يوه ښځه بيماره وي بچې يې ډيروي يا بل څه عذروي نو دوايانې استعمالولی شي. (المرقات ۳۴۲، ۳۴۳/۶)

ليکن نن سبا چې کومه هوا چليږي هغه دا چې منصوبه بندی وکړئ وقفه ضروري ده خو د دغو خلقو سوچ څه بل څه دی، چه په کې د اسلام او مسلمانانو سره دښمني پټه ده او د الله تعالی په رازق کيدو کې يې هم شک دی په دې نظريې سره کوم قسم دوائي استعمالول جائز نه دي.

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وای چې يو کس رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۳۰۵ رقم الحديث ۵۲۰۸ ومسلم فی ۲/۱۰۶۵ رقم الحديث (۱۴۴۰.۱۳۸) واخرجه الترمذی فی السنن ۳/۴۴۳ رقم الحديث ۱۱۳۷ وابن ماجه في ۱/۶۲۰ رقم الحديث ۱۹۲۷ وأحمد في المسند ۳/۳۰۹

"إِن لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَكْرَهُ

چه زما یوه وینځه ده چې زمونږ خدمت هم کوي او زه د هغې سره جماع هم کوم خو دا زما خوښه نه ده چه هغه

أَنْ تَحْمِلَ فَقَالَ: «اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ

حامله شي نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل که ته غواړې نو عزل کوه، خو چې د دغې وینځې نه

سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا». فَلَبِثَ الرَّجُلُ

چې کوم څیز د پیدا کیدو په مقدر کې وي هغه به پیدا کیږي دې نه دځه مودې پورې هغه په نظر رانغې

ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ: إِن الْجَارِيَة قد حبلت فَقَالَ:

اوکله چې راغې نو ویې ویل چې زما هغه وینځه حامله شوې ده حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوریدل نو وې فرمایل

«قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

چې ما خو مخکې خبر کړی وې چې د دې نه کوم څیز د پیدا کیدو مقدر کې وي هغه به کیږی

## په مقدر کې چې څه وی هغه څوک نه شی بندولې

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ بَنِي الْمُصْطَلِقِ

حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې مونږه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره بنی المصطلق په جنګ کې وو

فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فاشتهينا النِّسَاء واشتدت عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ

نو د عربو قوم نه مونږه ته څه وینځې په لاس راغلې نو زمونږه شوق وشو زنانو ته او ځان له او سیدل مونږه ته په ګران ووا و (کومې

وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا: نَعْزِلُ

وینځې چې مونږ ته په لاس راغلې وې) مونږ عزل کول غوښتل چې حاملې نه شي او آخر مونږ د عزل اراده وکړه یا مونږ سوچ وکړو

وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ

چه رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ کې موجود دی چې تپوس وکړو چې عزل مونږ د پاره جائز دې که نه؟ چنانچه مونږه د

نَسْأَلَهُ؟ فَسَأَلْنَاهُ عَن ذَلِك فَقَالَ: «مَا عَلَيْكُمْ أَلَّا تَفْعَلُوا مَا مِنْ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل که تاسو عزل ونه کړئ نو په دې کې ستاسو څه نقصان نشته دی

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۲/۱۰۶٤ رقم الحدیث (۱٤۳۸.۱۳٤) وأبوداؤد في السنن ۲/٦۲٥ رقم الحدیث ۲۱۷۳ وأحمد في المسند ۳/۳۱۲

نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ» (صَحِيح)[۱]

په دې وجه قيامت پورې چې کوم ساوالا پيدا کيدل وي هغه به پيدا کيږي. (بخاری ومسلم)

**توضيح** : مِن سَبي العرب: علامه نووي فرمايي چې دې حديث نه دا خبره ثابتيږي چې په عربو کې هم غلامي راتلی شي ځکه چې دلته د بنو مصطلق دخلقو غلام کيدل او دوينځو جوړيدل ذکر دي او هغه عرب وو. د امام شافعی او د امام مالک همدا مسلک وو امام ابو حنيفه فرمايي چې د عربو قوم ته الله تعالی يو خاص عزت ورکړيدی په هغوی غلامی نه شی راتلی. (المرقات ۳۴۴/۶)

ماعليكم ان لا: دلته په اَن فتحه او کسره دواړه جائز دي معنی يې داده که چيرته عزل ونه کړې نوځه نقصان په کې نشته. بعضو د "لا" کلمه زائد ګڼلې ده ترجمه يې داده چې په عزل کې څه بد والی نشته. (المرقات ۳۴۴/۶)

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَزْلِ

حضرت ابو سعيد خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د عزل باره کې تپوس وشو (چه عزل کول جائز دي کنه؟)

فَقَالَ: «مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللهُ

نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دمني دهرو اوبو نه ماشوم نه جوړيږي او چې کله الله تعالی دیو څيز اراده وکړي

خَلْقَ شَيْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَيْءٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (صَحِيح)[۲]

دیو څيز د پيدا کيدو نو د پيدا کيدونه يې يو څيز هم نشي منع کولی. (مسلم)

**توضيح** : د دې سوال د مفهوم په رڼا کې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکړو چې دا ستا دا خيال دی چې مني دننه لاړه شي نو ماشوم به پيدا شي اوپه نه تلو به ماشوم نه پيدا کيږي، دا غلطه ده کله اوبه دننه لاړې شي او ماشوم پيدا نه شي او کله اوبه دننه لاړې نشي أو دالله تعالی په قدرت سره ماشوم پيدا شي. د دې انحصار په نطفه نه دی بلکې دالله په قدرت باندې دی، دا بيله خبره ده چې الله تعالی دا سلسله نطفې سره تړلې ده نطفه څه ضروري نه ده دا هم کيدی شي چې د نطفې معمولې ذره دننه لاړه شي او د هغې نه الله تعالی ماشوم پيدا کړي، د تولې منی نه ماشوم نه پيدا کيږي. (

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۷/۴۲۸ رقم الحديث ۴۱۳۸ ومسلم فی ۲/۱۰۶۱ رقم الحديث (۱۴۲۸.۱۲۵) وأبوداؤد في السنن ۲/۶۲۴ رقم الحديث ۲۱۷۲ ومالک فی المؤطا ۲/۵۹۴ رقم الحديث ۹۵ من كتاب الطلاق.

(۲) أخرجه مسلم فی صحيحه ۲/۱۰۶۴ رقم الحديث (۱۴۳۸.۱۳۳)

المرقات ۳۴۵/۶)

## په مدت رضاعت کې جماع کول جائز دي

﴿۶﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ: أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سعد ابن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يوه ورځ يو کس د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او

فَقَالَ: إِنِّي أَعزل عَن امْرَأَتِي. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

عرض يې ورته وکړو چې زه خپلې ښځې سره عزل کومه رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوريدل نو ورته ئې وفرمايل

«لم تفعل ذَلِك؟» فَقَالَ الرَّجُلُ: أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا. فَقَالَ:

چې ته دا ولې کوې؟ هغه کس عرض وکړو چې زه د پيو ځکلو والا ماشوم د وجې داسې کوم ورته وفرمايل

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كَانَ ذَلِكَ ضَاراً ضرّ فَارس وَالروم». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، که دې نقصان ورکولی نو د روم او فارس والو ته به ئې نقصان ورکړی وو.

**توضيح: اشفق على ولدها**: دعامو خلقو دا خيال وو چې د رضاعت په موده کې جماع کولو سره به بيا ښځه حامله شي اود ښځې پې. به خراب شي په دې وجه به پې. ځکلو والا ماشوم ته نقصان ورکړي،.اود ښځې پې. به کم شي ددې ويرې له وجې هغه سړي د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د عزل اجازت وغوښتلو ددې په جواب کې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل که چيرې په دې وجه ماشوم ته پې. ځکل نقصان ورکوي نو د روم او فارس خلقو ته به نقصان ورسيدلې وو هغوی به دا عمل کولو او په دې کې نقصان نشته، نو بيا د عزل څه ضرورت دی ددې نه د عزل ناخوښې. ته هم اشاره ده.( المرقات ۳۴۵،۳۴۶/۶)

﴿۷﴾ وَعَن جذامة بِنْتِ وَهْبٍ قَالَتْ: حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ

حضرت جذامه بنت وهب وايي چې يوه ورځ زه د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضره شومه په هغه وخت هلته د خلقو يو

وَهُوَ يَقُولُ: «لقد هَمَمْت أَن أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ فَنَظَرْتُ

جماعت موجود وو نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغوی ته وفرمايل چې ما اراده وکړه چه خلق د غيلې نه منع کړم نو بيا چې ما وکتل

فِي الرُّومِ وَفَارِسَ فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ

نو د روم او فارس خلقو د خپلو اولادونو په موجودګی کې غيله کوله او ددې وجې نه د هغوی اولاد ته څه نقصان نه رسيده

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۲/۱۰۶۷ رقم الحديث (۱۴۴۳،۱۴۴۲) وأحمد في المسند ۵/۲۰۳)

ذَلِكَ شَيْئًا» ثُمَّ سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

(نو ما دا اراده ترک کړه) بيا خلقو د نبی عَلَيْهِ السَّلَام نه د عزل باره کې تپوس وکړو نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

"ذَلِكَ الوأْدُ الْخَفِي وَهِيَ (وَإِذَا الموؤودة سُئِلت) رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]

چې دا عزل کول خوپه پټه ژوندۍ ښخول دي دا يو بد عادت دی چې په دې ايت کريمه "واذا الموودة سلت الايه" په حکم کې داخل دی.

**توضيح** : ان انهى عن الغيلة: غيله د غين کسري سره غيل بفتح الغين نه ماخوذ دی الغيل او غيلة په تفسير او توضيح کې د اهل لغتو مختلف اقوال دي: ۱. اصمعی او دهغه ملګري د لغت والا او امام مالک فرمايي چې پيو ورکولو والا ښځې سره چې کله د هغې خاوند جماع وکړي نو دې عمل ته غيله ويلی شي. ابن سکيت وايي چې حاملې ښځې سره چې خاوند حالت حمل کې جماع وکړي نو دې مخصوص عمل ته غيله وائي. عربو به دې عمل نه ځان ساتلو او ويل به يې چې دې سره بچې ته نقصان رسي او دا عقيده ډيره مشهور شوې وه، رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله اراده وکړه چې امت دې نه منع کړي خو چې کله يې فارس او روم خلقو کې دا عمل وليدو چې په دې عمل کې څه نقصان نشته او نه دې څيز څه پرواه کوي پس رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت دې عمل نه منع نه کړل. د جمهورو په نزد غيله جائز ده په دې کې ماشوم ته د نقصان خطره ده لهذا غيله خلاف اولی ده. الواد الخفي: عزل په پټه طريقه ژوندۍ ښخول دي په دې جمله کې د عزل بدوالي طرف ته اشاره واضحه ده. الواد ژوندۍ ښخولو په معنی سره راځي، د علماو يوې ډلې د عزل عدم جواز طرف ته اشاره کړې ده ليکن د جمهورو علماو په نزد عزل مباح دی، حضرت عمر خلق د عزل نه منع کړې وو، او حضرت عثمان هم منع کړې دي، نو دا نهي به په تنزيهي او خلاف اولی باندې حمل کيږي. (المرقات ۳۴۷/۶، ۳۴۶)

## ښځه او خاوند دې د يو بل راز نه ښکاره کوي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَعْظَمَ الْأَمَانَةِ عِنْدَ اللهِ

حضرت ابو سعيد خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د الله تعالی په نزد پاندې لوی امانت

يَوْمَ الْقِيَامَةِ" وَفِي رِوَايَةٍ: إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د قيامت په ورځ يو روايت داسې هم دی د قيامت په ورځ به د الله تعالی ته نزدلوې مرتبه کې ټولو نه بد سړی به هغه وي

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۶۷ رقم الحديث (۱۴۴۲.۱۴۱) وأبوداؤد في السنن ۴/۴۱۱ رقم الحديث ۳۸۸۲ والنسائي في ۶/۱۰۶ رقم الحديث ۳۳۲۶ وابن ماجه في ۱/۶۳۸ رقم الحديث ۲۰۱۱ والداري ۲/۹۷ رقم الحديث ۲۲۱۷ ومالک في المؤطا ۲/۶۰۷ رقم الحديث ۱۶

الرَّجُلُ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ ينشر سرها". رَوَاهُ مُسلم (حسن)[1]

چه خپلې ښځې سره کوروالی وکړي او ښځه هم ورسره پرته وي او بیا دهغې پټې خبرې ښکاره کوي. (بخاری ومسلم)

**توضيح: ان اعظم الامانة:** يعني دټولو نه لوی امانت چې بنده په کې خیانت وکړو دهغه سړې خیانت دی الخ الله تعالی ښځه او خاوند د یو بل دپاره باعث عزت پیدا کړی دی دهغوی په مینځ کې پټ جنس تعلقات وي او دا دواړه د یو بل رازدار وي. او هغه چې سحر پاسي نو د شپې د ټولو حالاتو اظهار کوي او وایي چې زما رفیق حیات داسې کوي ما داسې وکړل څنګه چې د خرابو خلقو عادت وي د داسې خرابو حرکاتو نه اسلام مونږ منع کوي او د ټولو رازونو ښکاره کول لوی خیانت، لویه بې غیرتي او لوی شرارت هم دی. (المرقات ۳۴۸/۶)

# الْفَصْلُ الثَّانِي

## دحیض په ورځو کې خپلې ښځې له مه ورځه

﴿۹﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أُوحِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې دا ایت نازل شو یعنی ستاسو ښځې

(نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ) الْآيَةَ:

ستاسو دپاره په مثال د پټې دي پس راځئ خپلو پټو ته الخ لهذا تاسو چې څنګه غواړئ هغوی سره ملاؤ شئ) که د مخکې نه وي

«أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ».

او که د روستو نه خو مقعد (د غټ اودس ماتی ځای) کې دخول کولو نه ځان ساتئ او د حیض په حالت کې جماع مه کوئ

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه (صَحِيح)[2]

(روایت کړي دي ترمذی، ابن ماجه، دارمی)

**توضيح: انى شئتم:** لفظ انى من اين په معنی سره د عموم د مکان دپاره راځي. اى من اين شئتم. او د کیف په معنی هم دی. دکوم نه چه دعموم احوال مراد اخستلې شی. (المرقات ۳۵۹/۶) روافضو دواړه معاني استعمال کړي دي او "وطی فی الدبر ئې جائز کړي ده. او په خرابو عاداتو کې

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۶۱ رقم الحديث (۱۴۳۸.۱۲۴) وأبوداؤد في السنن ۵/۱۹۰ رقم الحديث ۴۸۷۰ وأحمد في المسند ۳/۶۹

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۰۰ رقم الحديث ۲۹۸۰ وأحمد في المسند ۱/۲۹۷.

مبتلا شول.بعضو خلقو د حضرت عبدالله بن عمر د يو مجمل كلام نه غلطه فائده اخستې ده ا ر هغه طرف ته يې نسبت كړې ده هغه "انى شتم اى فى دبرها" فرمايې دا سراسر بهتان دى.حضرت ابن عمر د وطي فى الدبر باره كې فرمايلي دي .هل يفعل ذلك احد من المسلمين. ولې مسلمان بد فعلي كولى شي؟روافض انى شئتم نه چې كوم عمومى افعال دى اخلي په كې او وطى فى الدبر يې جائز كړى دى د دې جواب دا دى چې ددې ايت سياق اوسباق نه معلوميږى دلته عموم موضع مراد نه دى بلكې عموم احوال مراد دي، چې موضع خاص وى ،كيفيت عام وى، په ناسته ، په ملاسته ،لاندې باندې ، په ولاړه په قعود په ټولو احوالو كې جائز دى په شرط ددې چې وطي په موضع حرث كې وي، او كه په موضع فرث كې نه وي .شيعه په هر عمل كې د مسلمانانو نه بيل تلل غواړي دلته هم هغوى بيله لاره اختيار كړې ده. خذ لهم الله كما خذلوا الاسلام"

﴿۱۰﴾ وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ

حضرت خزيمه بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله تعالى حقه خبره كولو كې حياء نه كوي

لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ». رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه. والدارمي[1]

تاسو د ښځو په تاسو د ښځو په مقعد كې بد فعلي مه كوئ. (احمد ، ترمذى، ابن ماجه، دارمى)

## ښځې سره بدفعلى كولو والا ملعون دى

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَلْعُونٌ

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې هغه كس ملعون دى كوم چې

مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ (صَحِيحٌ)[2]

د خپلې ښځې سره بد فعلي كوي.(ابو داؤد، احمد)

**توضيح : ملعون:** خپله بې بې سره بدفعلي كول غټ جرم دى نو داجانبو، ماردو او رجالو سره د بدفعلي كولو به څه حال وي.تيرو شوو قومونو كې قوم لوط مكمل طور باندې د دې جرم په وجه تباه شوې ، په دې فعل سره عرش باندې زلزله رائې، يعې وايي چې ددې فعل په وجه چې كوم كس په دې جرم كې مبتلا وي نوكه په اووسمندرونو كې غسل هم وكړي نوهم ورته پاكي نه حاصليږي

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٦۱۹ رقم الحديث ۱۹۲٤ والدارمي في ۲/۱۹٦ رقم الحديث ۲۲۱۳ وأحمد في المسند ٥/۲۱۳

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦۱۸ رقم الحديث ۲۱٦۲ وأحمد في المسند ۲/٤٤٤ .

ظاهره ده چې په غسل او او بوسره باطني خباثت او ګناه چيرته ختميږي (المرقات ۶/۳۵۰)

**دلواطت سزا**: د جمهورو په نزد د لواطت سزا د زنا په شان ده، لهذا ددې په شان حد نافذيږي، صاحبين هم جمهورو سره دي. حضرت علي رضي الله عنه نه منقول دي چې هغوی لوطي سنګسار کړی وو، حسن بصري او ابراهيم نخعی نه هم دا منقول دي.

په عقلی دليل کې جمهور فرمايي چې په لواطت کې قضاء د شهوت په کاملې درجې کې وي لهذا دا د زنا په حکم کې دی، امام ابو حنيفه فرمايي چې لواطت کې تعزير دی ځکه چې دا د کوم حد لاندې راوستل مشکل دی، که دې دپاره څه حد مقرر وی نو صحابه کرام به ددې په سزا کې مختلف نه وو، صحابه کرامو په مختلفو طريقو باندې سزا ورکړې ده لکه غرنه يې غورځولی دی، چا د ديوال نه، او چا په سمندر کې، او چا په اور کې، او چا د چت نه او چا سنګسار کړی دی، دا د دې خبرې دليل دی چې په دې حد نشته دی. البته سزا ده او د سزا لاندې دا قتل کولی هم شي، سنګسار کولی هم شي.

لهذا په احنافو دا اعتراض په حسد باندې مبني دی، هغوی لواطت د پاره د حد قائل نه دي د هغوی په نزد دي بدعمل باندې سختو نه سخته سزا ورکولی شي.

﴿۱۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الَّذِي

حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل کوم کس چې خپلې ښځې

يَأْتِي امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ (حسن)[1]

سره بد فعلي کوي الله تعالى د هغه طرف ته د رحمت او شفقت په نظر نه ګوري. (شرح السنه)

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَى رَجُلٍ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالى هغه کس ته د رحمت او

أَتَى رَجُلًا أَوِ امْرَأَةً فِي الدُّبُرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

شفقت په نظر نه ګوري چې کوم سړي يا ښځې سره بد فعلي کوي. (ترمذی)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت اسما بنت يزيد رضي الله عنها وايي چې ما د رسول کريم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمايل ئې

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۶۱۹ رقم الحديث ۱۹۲۳ والبغوی في شرح السنة ۹/۱۰۷ رقم الحديث ۲۴۹۷

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۶۹ رقم الحديث ۱۱۶۵

«لَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ سِرًّا فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فيدعثره عَن فرسه» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

چې تاسو خپل اولاد په پټه مه قتل کوئ چې غيل په سور باندې اثر کيږي او د اس نه ئې راغورځوي

**توضيح** : فيدَعثره : دعثر يدُعثر دعثرةً: د غورځولو په معنى سره راځي يعنى د داء الغيل اثر د هغه ماشوم په بدن او پښو کې د کمزورى په صورت کې ظاهريږي، کله چې دا ماشوم ځوان شي او په اس سور شي بياهغه زغلوي نو دا بيماري خپل اثر ښائي نود اس نه راپريوځي او هلاک شي، گويا دا پټ قتل دى نو وې فرمايل چې خپل اولاد مه قتل کوئ. داء الغيل تفصيل تير شوى دى چې ددې بيمارى اثر په اعضاو باندې کيږي او ټولې خرابى د هغه غلطو پيو دي چې د خاوند د جماع کولو په وجه دښځې پى خراب شوې وو چې ماشوم څکلې وو يايې په حالت د حمل کې جماع کړې وه. (المرقات ۳۵۱/۶، ۳۵۰)

**سوال** : دلته دا سوال دى چې ددې نه مخکې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غيل عمل مباح کړى وو دوه حديثونو کې دا خبره راغلې ده چې د غيل سره څه نه کيږي، او اوس په دې حديث کې غيل نقصاني گرځول شوى دى؟

**جواب** : علامه طيبى جواب ورکړى دى چې په تيرو شوو احاديثو کې د غيل د نقصان نفې د اهل جاهليت د اعتقاد پيش نظر وو چې هغوى د غيل دا اثر مؤثر حقيقى ګڼلو هغوى يې نفې وکړه، او دلته فى الجمله اثر طرف ته اشاره شوې ده چې فى الجمله ددې اثر کيږي. دويم جواب دادى چې په اول کې هغوى اراده کړې وه چې غيل حرام دى روستو د هغوى سوچ بدل شو، د زير بحث حديث تعلق کيدى شي هغه زماني سره وو چې په کوم وخت کې د غيل د ممانعت خبرې شروع وي. (الكاشف ۳۱۱/۶)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۵﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمايلي ده . د ځې

أَن يُعْزل عَنِ الْحرَّة إِلَّا بِإِذْنِهَا. رَوَاهُ ابْن مَاجَه (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

(آزادې ښځې) سره د هغې د اجازت نه بغير د عزل کولو نه (ابن ماجه)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٢١١ رقم الحديث ٣٨٨١ وابن ماجه في ١/٦٤٨ رقم الحديث ٢٠١٢ وأحمد في المسند ٦/٤٥٨

(2) أخرجه أحمد في المسند ١/٣١

# باب مسئلة خيار العتق

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عروه د ام المؤمنین حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه نقل کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ لَهَا فِي بَرِيرَةَ: «خُذِيهَا فَأَعْتِقِيهَا».

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د بریرې په حقله وفرمایل چې دا په بیعه واخله اوبیایې آزاد کړه او د

وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ

حضرت بریرې خاوند چونکه غلام وو ددې دپاره رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغې له اختیار ورکړو او بریرې دخپل اختیار مطابق خپل

نَفسهَا وَلَو كَانَ حرا لم يخيرها (صَحِيح)[1]

ځان د خپل خاوند نه بیل کړو، او که چیرې خاوندیې آزاد وو نو بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورله اختیار نه ورکولو.

**توضیح**: په مدینه منوره کې یو یهودي وو دهغه یوه وینځه وه چې نوم یې بریره وود هغې مالک هغه د نهه (۹) اوقیو په بدل کې مکاتبه جوړه کړې وه دبدل دکتابت دمدد په باره کې بریره د حضرت عائشې خوا ته راغله حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه په بیعه واغستله او آزادیې کړه د اغستو په وخت کې د بریرې مالک یهودي د هغې شرط ذکر وکړه چې د بریرې حق "ولاء" ددې د مرګ نه پس به مونږ ته ملاویږي، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د دې ذکر حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړو حضور اکرم دیر خفه شو او خطبه یې وفرمایله! **فقضاء الله أحق وشرط الله أوثق وإنما الولاء لمن أعتق**

د حضرت بریرې یو خاوند وو چې نوم یې مغیث وو هغه هم غلام وو ورستو ورته آزادي ملاو شوه په دې باره کې حضرت بریرې ته خیار عتق یعنې اختیار طلاق د عتق په وجه حاصل شوی وو، ددې خیار عتق په تفصیل کې د فقهاء کرامو اختلاف دی. (المرقات ۳۵۲/۶)

**دفقهاواختلاف**: ۱. په دې باندې ټول متفق دي که چیرې د یوې وینزې د آزادیدو وخت کې د هغې خاوند غلام وو نو وینځې ته به خیار عتق یعنی اختیار د طلاق ورکولی شي. ۲. په دې هم فقهاء متفق دي چې که بنځه او خاوند یو ځای آزاد شي نو یو کس ته هم خیار عتق حاصل نه دی. (المرقات ۳۵۲/۶)

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۵/۱۹۰ رقم الحديث ۲۵۳۶ ومسلم في ۲/۱۱۴۳ رقم الحديث (۱۵۰۴.۸) وأبوداؤد في السنن ۲/۱۷۲ رقم الحديث ۲۲۳۳ والترمذي في ۳/۶۴۰ رقم الحديث ۱۱۵۴ والنسائی في ۶/۱۶۳ رقم الحديث ۳۴۴۹ وابن ماجه في ۱/۶۷۰

۳.که د وینځې د آزادۍ په وخت خاوند آزاد وو نو ښځې ته به خیار عتق ملاویږی او که نه؟ په دې کې د فقهاء کرامو اختلاف دی. د احنافو ائمو په نزد وینځې ته به په هر حالت کې خیار عتق ملاویږي که خاوندیې غلام وي او که آزاد، د جمهورو او د شوافعو په نزد به خیار عتق په هغه حالت کې وي چې خاوندیې غلام وي او ښځه آزاده، او که خاوند آزاد وي نو ښځې ته به خیار عتق حاصل نه وي.

**علت د اختلاف** : د احنافو او جمهوروپه مینځ کې چې کوم اختلاف دی دا د تخریج علت په وجه دی، جمهورو چې د خیار عتق دپاره کوم علت راوښکلی دی هغه دادی چې کله وینځه آزاده شي نو اوس هغه د غلام خاوند سره اوسیدل شرم ګڼي، ځکه په دواړو کې کفاءت نشته، او که خاوند آزاد وي نو بیا په کې شرم نشته ځکه چې په دې کې خیار نشته ،په غلامی کې شرم دی نو هلته اختیار دی. د احنافو په نزد د خیار عتق د علت آزادۍ نه پس عار نشته دی بلکې د دریو طلاقو اخیتار دی ځکه چې د طلاق مدار په ښځو دی که ښځه وینځه وي نو خاوند ته د دوو طلاقو حق دی (طلاق الامة اثنتان) او که ښځه آزاده وي نو خاوند ته د دریو طلاقو اختیار حاصل دی. احناف فرمائي چې د آزادۍ نه پس هغه ښځې طرف ته یو زیات دریم طلاق متوجه کیږي لهذا هغې ته د دې اضافی څیز د دفع کولو حق حاصل دی چې خیار عتق دی، دا د هغه خیار عتق علت هم دی او فائده او حکمت یې هم دی.

**د اختلاف منشاء** : په دې مسئله کې اختلاف په احادیثو مقدسو لو په راویاتو کې دی د حضرت عائشه رضی الله عنها نه دوه روایات نقل دي د یو روایت الفاظ دا دي "وکان زوجها عبدا" رواه البخاری دلته په مشکوة شریف کې دا روایت دی. په دویم روایت کې دي "وکان زوجها حرا" راوه ابو داؤد. دا روایت په بخاری کې هم دی. د حضرت عائشه رضی الله عنها شاګردان عروه، عبدالرحمن او اسود کې هم اختلاف دی، بعضو د بریرې خاوند ته حر ویلی دی او بعضو ورته غلام ویلی دی. د حضرت ابن مسعود په شاګردانو کې هم اختلاف دی په دې وجه د فقهاء کرامو د خیار عتق په مسئله کې اختلاف دی.

**دلائل** : په دې مسئله کې د حضرت بریرې حیثیت ته بنیادي ورتیا اهمیت حاصل دی. او د دلائلو مدار په دې واقعې دی چې آیا د ازادۍ په وخت کې د هغې خاوند ازاد وو او که غلام؟ که په هغه وخت هغه ازاد وو نو دا لفظ د احنافو دپاره دلیل جوړیږي، او د جمهورو خلاف دی، او که هغه وخت هغه غلام وو نو دا حدیث د جمهورو دپاره دلیل دی، لیکن د احنافو خلاف دلیل نشي جوړیدی. په دې وجه احناف د آزاد او د غلام دواړو صورتونو کې د خیار عتق منونکي دي. **د جمهورو دلائل** : جمهورو د حضرت عروه عن عائشه د روایت نه دلیل نیولی دی چې په کې "کان زوجها عبدا" واضح الفاظ دي، دارنګه "ولو کان حرالم یخیر ها" په دې الفاظو سره د مخالفو کسانو رد هم وشو، نو مسئله صفا شوه. او دبخاری او

ومسلم په روایتو کې هم دی دا نور مضبوط والی دی، د دې وجې نه جمهورو عقلی دلیل هم پیش کړی دی چې په حقیقت کې د دې مسئلې علت طرف ته اشاره ده که چیرې خاوند غلام وي نو ښځه دهغه لاندې اوسیدل شرم محسوسوي، او که خاوند ازاد وي نو بیا څه شرم نشته، لهذا بیا ورته خیار نشته، په مسئله کې کومه خفاء نشته. (المرقات ۳۵۲/۶)

**داحنافو دلائل** : ۱.روی البخاري واصحاب السنن عن ابراهیم عن الاسود عن عائشة فی قصة بریرة وفی آخرها وکان زوجها حرا. (بحواله زجاجة المصابیح ج۲ص۴۲۸، بخاری ج۲ص۹۹۹)

۲.روی مسلم عن عبدالرحمن بن القاسم الی آخر الحدیث قال القاسم و خیرت فقال عبد الرحمن وکان زوجها حرا. (زجاجه ج۲ س۴۳۰)

۳.وروی ابوداؤد عن الاسود عن عائشة ان زوج بریرة کان حرا حین عتقت. (زجاجه ج۲ ص۴۳۱)

۴.وفی روایة الترمذي قالت کان زوج بریرة حرا فخیرها النبی صلی الله علیه وسلم. (ایضاً)

۵.وروی ابن ماجة والنسائي عن الاسود عن عائشه انها اعتقت بریرة فخیرها النبی وکان لها زوج حر (ایضاً)

۶.وروی الطحاوی وابن ابي شیبة عن طاؤس قال للامة الخیار اذا اعتقت وان کانت تحت قرشي وفی روایة لهما عنه قال لها الخیار فی الحر والعبد. (ایضاً)

۷.وروی ابن ابی شیبة عن ابن سیرین والشعبي نحوه وفی روایة له عن مجاهد قال لها الخیار ولو کانت أمیر المؤمنین. (زجاجة المصابیح مشکوة الحنفی ج۲ ص۴۳۱)

۸.دار قطنی یو روایت نقل کړی دی "قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لبریرة ملکت بضعک فاختاري" دلته په دې روایت کې یې د خیار عتق علت بیان کړه او رسول کریم ﷺ فیصله وفرمایله چې د خاوند اعتبار نشته که هغه غلام ازاد وي او که غلام وي، شرط دادی چې ښځه د خپل اختیار مالکه شي، اوس دلته دلته مطلق ملکیت دبضع د فاختاري سبب جوړ شو. او دخاوند خیال یې ونه ساته. په افسوس سره لیکلی شي چې دومره روایات دي مګر صاحب مشکوة یو هم نه دی نقل کړی.

**جواب**: دلته دا خبره ثابته شوه چې د دواړو طرفونو حدیثونه صحیح دي. جمهورو وکان زوجها عبدا اختیار کړی دی. او احنافو وکان زوجها حرا اختیار کړی دی په ظاهره د دې متعارض راویاتویو طرف ته ترجیح نه شي کیدی، نو بیا په دې روایاتو باندې عمل څنګه کولی شي نو احنافو د تطبیق صورت اختیار کړو. هغوی وفرمایل چې کله وکان زوجها حرا اختیار کړي شي نو په ټولو روایاتو نو باندې به عمل وشي او داسې مونږه ازاد او غلام دوه متضاد الفاظ په یو وخت کې پرې عمل نه شو کولی بلکې

د تطبیق په غرض سره مونږه حر په یوه زمانه حمل کوو او عبد په بله زمانه حمل کوو.
نو اصولي قاعده داده، چې په حر مسلمان باندې عبدیت نه طاري کیږي او په عبد مسلمان باندې حریت طاري کیږي، او د بریرې خاوند مغیث وړومبی غلام وو روستو آزاد شو او د هغه په حق کې چې دعبدیت کوم الفاظ راغلي دي دا حکایت په ماضی او تیره شوې زمانه عمل کړی شوی دی "وکان عبدا" مخکې غلام وو اوس د بریرې د آزادۍ په وخت نه دی نو رشتیا مخکې غلام وو.

او کوم ځای کې چې د وکان زوجها حرا الفاظ راغلي دي نو دا الفاظ په حالت عتق او خیار عتق باندې محمول دي، نتیجه دا چې مغیث ازاد وو او بریرې ته حضور اکرم د خیار عتق حق ورکړی وو، معلومه شوه د حر لاندې که وینزه ازاده شي نو هغې ته به هم خیار عتق حاصل وي، او عبدیت کې خویې ټول مني.
باقی جمهورو چې کوم عقلی دلیل پیش کړی دی چې د غلام لاندې د یوې ازادې ښځې د ژوند تیرول شرم دی نو دا علت بیانول صحیح نه دي، ځکه حره ابتداءً د غلام ماتحت راتلل شرم دی لیکن که چې هغه د مخکې نه د هغه په نکاح کې مستعمله او مستفرشه وي نو بیا په دیکې څه عار دی؟.

باقي د زیر نظر حدیث (ولو کانَ حرًّا لم یخیرها) الفاظ د حضرت عائشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه دي بلکه دا د عروه الفاظ دي، ځکه حضرت عائشې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د مغیث د حر کیدو روایت بار بار بیان کړی دی. (المرقات ۳۵۲/۶)

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عبدا أسود يُقَالُ لَهُ مُغِيثٌ |
| حضرت ابن عباس وایي چې د بریرې خاوند یو تور رنګ والا غلام وو چې د مغیث په نوم به یادیده |
| كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوفُ خلفهَا فِي سِكَك الْمَدِينَة يبكي وَدُمُوعُهُ |
| هغه منظر زما سترګو ته هم وړاندې دی چې هغه به بریره پسې د مدینې په کوڅو کې ګرځیده او ژړل به یې او اوښکې به ئې |
| تَسِيلُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ: |
| په بریره باندې روانې وې، یوه ورځ رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمایل، |
| «يَا عَبَّاسُ أَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيثٍ بَرِيرَةَ؟ وَمِنْ بُغْضِ بَرِيرَةَ مغيثاً؟» |
| عباسه! تاته په دې باندې حیرانتیا نشته چې د مغیث بریره سره څومره خوښه ده او بریره د مغیث نه څومره نفرت کوي؟ |
| فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ راجعته» فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ الله |
| بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَام بریرې ته وفرمایل چه کاش تا مغیث ته رجوع کړې وې بریرې عرض وکړو اې د الله رسوله! دا ستاسو |

تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: «إِنَّمَا أَشْفَعُ» قَالَتْ: لَا حَاجَةَ

حکم دی؟ نبی علیه السلام وفرمایل بریرې! دا زه سفارش کومه. بریرې ورته عرض وکړو چې ده ته درجوع کولو ماته هیڅ ضرورت نشته

لِي فِيهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

یعنی ده سره اوسیدل ماته خوښ نه دي. (بخاری)

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۳﴾ عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تُعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ

حضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی چې هغې خپل دوه غلامان (چه دهغې په قبضه کې وو) د آزادولو اراده اوکړه

لَهَا زَوْجٌ فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ

چه هغه ښځه او خاوند وو. نو د نبی علیه السلام نه یې پوښتنه وکړه نو نبی علیه السلام د ښځې نه مخکې

بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[2]

د سړي د آزادولو حکم ورکړو. (ابو داؤد، نسائی)

**توضیح**: ان تبدا بالرجل: حضرت عائشه رضي الله عنها سره دوه غلامان وو چې ښځه او خاوند وو. یعنې د دواړو په مینځ کې ازدواجي رشته وه، حضرت عائشه رضي الله عنها هغوی آزادول غوښتل نو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه یې تپوس وکړه رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې وړومبی سړی آزاد کړه، ددې یوه وجه داهم وه چې د سړي په آزادولو سره ښځې ته د نکاح فسخ کولو اختیار حاصل نشي.

بقاء د نکاح د انقطاع د نکاح نه اولی ده. دویمه وجه دا کیدی شي چې عموماً سړی وینزې په نکاح کې ساتي لیکن ښځه چې کله آزاده شي نو غلام خاوند سره په اوسیدو شرم محسوسوي په دې وجه د سړي مخکې د آزادولو حکم وشو.

دریمه وجه داکیدې شی (الرجال قوامون علی النساء) (نساء ۳۴) د فضلیت خیال ساتلی شوی دی. (المرقات ۳۵۳/۶)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۹/۴۰۸ رقم الحدیث ۵۲۸۳ وأبوداؤد في السنن ۲/۶۷۰ رقم الحدیث ۲۲۳۱ والترمذی في ۳/۴۵۱ رقم الحدیث ۱۱۵۵ والدارمی في ۲/۲۲۳ رقم الحدیث ۲۲۹۲ وأحمد في المسند ۱/۲۱۵

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۷۳ رقم الحدیث ۲۲۳۷ والنسائی في ۶/۱۶۱ رقم الحدیث ۳۴۳۶ وابن ماجه في ۲/۸۳۶ رقم الحدیث ۲۵۳۲

﴿۴﴾ وَعَنْهَا: أَنْ بَرِيرَةَ عَتَقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې بريره په داسې حال کې آزاده شوې وه چې د مغيث په نکاح کې وه،

فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَهَا:

نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغې تد خپلې نکاح قائم ساتلو یاد فسخ کولو اختیار ورکړو. لیکن دائې هم ورته وفرمایل که ستا خاوند تاسره جماع وکړه

«إِنْ قَرِبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

نو بیا به تاسره دا اختیار نه وي. په دې صورت کې به بیا دا خیال وي چې ته د هغه په زوجیت راضي یې. (ابو داؤد)

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۷۳ رقم الحديث ۲۲۳۶

# بَاب الصَدَاق

## د مهر بیان

قال الله تعالی: ((وَأُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ))(سورة نساء ۲۴) وقال الله تعالی: ((قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ))( سورة نساء ۲۴) وقال الله تعالی ((وَاٰتَيْتُمْ اِحْدٰهُنَّ قِنْطَارًا)) (سورة نساء ۲۰) وقال الله تعالی ((وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً))( سورة احزاب ۵۰)

**صداق:** بروزن کتاب دښځې مهر ته وایې او ددې جمع **صُدُق** دی د **کُتُب** پشان راځي، په صداق کې د صاد کسره ډیره فصیحه او فتحه هم مشهوره ده. ملا علی قاری فرمایې چې مهر ته صداق دې دپاره وایې **"لانه یظهر به صدق میل الرجل الی المرأة"**

**المهر** ورته هم په عربي کې وایې چې جمع یې مهور ده. ( المرقات ۳۵۵/۶)

د خاوند له طرفه د ښځې په حقوقو کې چې کوم بدل ورکولی شي هغه مهر دی، دنکاح دپاره مهر ضروري دی دې نه بغیر نکاح صحیح نه ده که تذکره ونه کړي نو مهر مثل لازم شو نکاح صحیح ده.

مهر، خالص د ښځې حق دی کوم خلق چې دلور یا خور په نوم کوم مهر وصول کړي او بیایې په خپل کار کې راولي دا دښځو په حق کې ډیر ظالم خلق دي او ډیره د بې شرمۍ خبره ده چې لوریانې خرڅوي په علماو باندې دا فرض دي چې ددې خلاف خبره کوي. حضرت شاه ولی الله د مهر د حکمتونو متعلق په حجة الله البالغة کې لیکلې دي چې نکاح د یو نظم، ضبط او د جوړښت او ترتیب نوم دی او دښځې او خاوند په مینځ کې یودائمي معاونت او نصرت او دمدد نوم دی. ددې جوړښت او نظم او ضبط په نظر کې ساتلو د وجې مهر مقرر شو چې خاوند بلاضرورته ددې نظم په ماتولو کې دخپل مال دضائع کولو خطره محسوس کړي، مهر مقررول د نکاح د مضبوطتیا دپاره ضروری دی، په دې کې دویم حکمت دادی چې مهر سره د نکاح عظمت پیدا کیږی، خلقو کې په طبعی طور باندې د مال لالچی دی نو کله چې یو سړی د ملک بضعې په مقابل کې ورکوی نو د اخستلو والا اورد ورکولو والا په سترګو کې د نکاح عظمت پیدا کیږي او دجینې کور والا هم خوشحاله شي چې په مفتو کې زمونږ دلورڅوک مالک نه دی. دریم حکمت دا دی چې مهر مقررولو سره په زنا او نکاح کې فرق پیدا شي، چونکه د خلکو عادت او د هغوی د حرص درجات دارنګه د انسانانو طبقات مختلف دي د دې وجې نه شریعت کوم کس په لږ یا ډیر مهر ورکولو باندې نه دی پابند کړی.

## دمهر مسئله

# اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

﴿۱﴾عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ:

حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يوورځ د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې يو ښځه حاضره شوه

يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ فَقَامَتْ طَوِيلًا

او عرض يې وکړه يا رسول الله ما خپل ځان ستاسو ډپاره وقف کړو دا چې يئ وويل نو هغه ښځه ډير وخته پورې ولاړه وه

فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې دخبرې جواب ورنه کړو او خاموش وو. يو صحابي ودريدو او عرض يې وکړو يا رسول الله!

زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ فِيهَا حَاجَةٌ فَقَالَ:

که تاسو ته ددې ښځې ضرورت نه وي نو ددې نکاح زما سره وکړئ نبي عليه السلام ترې نه تپوس وکړو

«هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا؟» قَالَ: مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هَذَا.

چې تاسره څه داسې څيز شته چې ته يې دښځې په مهر کې ورکړې، هغه عرض وکړو چې ما سره ددې لنګ نه سوا بل څيز نشته

قَالَ: «فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ» فَالْتَمَسَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل چې لاړ شه او يو څه تلاش کړه اګر که د وسپنې يوه ګوته ولې نه وي، صحابي ډير تلاش وکړه

فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ»

خو څه ورته ملاو نه شو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترې نه تپوس وکړو چه تاله د قرآن څه حصه په يا دوه درځي؟

قَالَ: نَعَمْ سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا فَقَالَ: «زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ

هغه عرض وکړه او فلانی فلانی سورتونه راته ياد دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل په قرآن کې چې تاته څه ياد دي

مِنَ الْقُرْآنِ». وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: «انْطَلِقْ

د هغې په برکت ما ستا نکاح دي ښځې سره وکړه او په يو روايت کې دادي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل وفرمايل چې

فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ» متفق عليه (صَحِيح)[1]

ما ستا نکاح دې ښځې سره وکړه ته دې ته د قرآن تعلیم ورکوه. (بخاری، مسلم)

**توضیح**: دمهر مقدار څومره پکار دی په دې کې د علماء کرامو اختلاف دی:

**د مهر په مقدار کې د فقهاؤ اختلاف**: په دې خبره ټول فقهاء متفق دي چې د مهر دپاره څه حد مقرر نه دی بلکه قرآن عظیم کې الله تعالی د **"قنطارا"** ذکر فرمایلی دی، اګر چې مستحب دي چې مهر نه دومره زیات وي چې خلق دنکاح کولو نه عاجز شي او دمهر لاندې ګیر شي. البته د مهر په اقل کې اختلاف دی. د امام مالک په نزد مهر کم ازکم ربع دینار دی. د امام شافعی او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په نزد د اقل د مهر څه حد نشته بلکې زوجین چې په څه راضي شي هغه درست دی، د دوی په نزد باندې نکاح د بیع او شراء په رنګ معامله ده مال غواړي کم وي او که زیات وي، چې ښځه او خاوند راضي وي د قاضي څه کار دی. امام ابو حنیفه فرمائي چې اقل د مهر لس درهمه دي ددې نه کم جائز نه دی. دا آخری حد دی. (المرقات ۳۵۶/۶)

**دلائل**: دامام مالک دلیل حدیث المجن دی د رسول کریم ﷺ په زمانه کې **"ثمن المجن"** باندې نکاح شوې ده، او د ډال قیمت ربع دینار وو. دامام مالک دلیل حد سرقه او د قطع د ید نه دی، فرمایي چې لاس د ربع دینار په بدله کې دغلا په صورت کې کټ کولی شي نو د یوې عضوې قیمت ربع دینار دی دلته په نکاح کې ملک بضعه هم عضو دی ددې بدله هم ربع دینار پکار دی.

د امام شافعی او احمد بن حنبل دلائل هغه احادیث دي په کوم کې چې د **شئ قلیل من المال** ذکر دی څنګه چې د بخاری په یو روایت کې دي **"ولو خاتماً من حدید"** په یو روایت کې "ستو" ذکر هم راغلی دی "د چهوارو" ذکر هم شته، یو کې "نعلین" هم ذکر دي لهذا د مهر حد نشته.

امام ابو حنیفه رحمه الله د قرآن کریم د **(قد علمنا ما فرضنا علیهم فی ازواجهم)**(سورة احزاب ۵۰)نه دلیل نیولی دی او دلیل په دې طرز دی چې الله تعالی کوم څه مفروض او مقرر فرمایلي دي ددې معتد ب **المعین** مقدار پکار دی او داسې په ایت **(ان تبتغوا بأموالکم)**(سورة نساء ۲۴)په دې کې هم د یو معین مقدار تقاضا کوي دا مقدار ضرور معلوم مول پکار دي، ددې ایت په تفصیل کې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه هغه حدیث راغلی دی چې دار قطنی او بیهقی نقل کړی دی **"لامهر دون عشرة دراهم"** په دې

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۹۰ رقم الحديث ۵۱۳۵ ومسلم في ۲/۱۰۴۰ رقم الحديث (۱۴۲۵.۷۶) وأبوداؤد رقم الحديث ۲۱۱۱ والترمذي ۳/۴۲۱ رقم الحديث ۱۱۱۴ والنسائي في ۶/۱۱۳ رقم الحديث ۳۳۳۹ وابن ماجه في ۱/۶۰۸ رقم الحديث ۱۸۸۹.

دواړو کتابونو کې د حضرت علي رضي الله عنه روایت هم دی **"ولایکون المهر اقل من عشرة دراهم"** اګر چې په دې راویانو کې انفرادي طور باندې ضعف دی لیکن د کثرت طرقو په وجه سره درجې د حسن کم نه دی. ابن ابی حاتم د حضرت جابر بن عبد الله نه دا حدیث نقل کړی دی **"قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لامهر اقل من عشرة دراهم"** دې روایت ته ابن حجر رحمه الله حسن ویلی دی.( المرقات ۳۵۶/۶)

**جواب** د امام مالک مستدل زمونږ خلاف نه دی ځکه په ابتدائي دور کې ربع دینار یا ثمن د مجن دا څیزونه د لسو درهمو برابر وو او د قطع د ید مسئله خو مونږه هم عقلي دلیل دپاره پیش کوو ځکه چې هلته د لسو دراهمو ذکر دی او دلته ربع دینار دی. د امام شافعی او احمد بن حنبل د مستدلاتو جواب دادی چې په کومو احادیثو کې دکم مهر د ورکولو ذکر راغلی دې دی نو د هغې نه مهر معجل مراد دی اود عربو عام عادت وو چې په وړومبې ملاقات کې به یې ښځې له دتحفې په طور ورکوه چې د مهر نه علاوه دمخ کتلو تحفه به وه یا به د مهر حصه وه، څنګه چې حضرت علي رضي الله عنه حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا یو مقدار ورکړی وو او مهریې جدا مقرر کړی وو ،دویم جواب دادی چې دا د هغه وخت خبره ده چې دمهر حد نه وو مقرر شوی او دا وجه ده چې احادیثو کې تعلیم قرآن په مهر کې شمار شوی دی حالانکه هغه مال نه دی.

**زوجتکها بما معک من القرآن:** د حدیث ددې لفظ نه په ظاهره دا معلومیږی چې تعلیم قرآن یې مهر مقرر کړه. امام شافعی او احمد بن حنبل رحمهما الله دا جائز ګڼلی دی، خو دامام مالک او امام ابو حنیفه په نزد دا جائز نه دی هغوی فرمائي چې داسې کولو سره مهر مثل لازمیږي.( المرقات ۳۵۶/۶) د اسلام په ابتدائي زمانه کې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرآن د زندګئ په هره شعبه کې عام کول غوښتل دې لپاره کله به ئې په یوه محله کې هغه کس امام کړه چې چاته به قرآن ډیر ورته، هغه دې وړوکی ماشوم ولې نه وو .او جهاد د پاره به یې چې کوم امیر جوړولو نو هغه به یې جوړولو چا ته به چې قرآن ډیر حفظ وو .او داسې په اجتماعی قبر کې به یې هغه کس قبلې طرف ته کیخودلو چې چاته به قرآن زیات حفظ وو ، دقرآن په وجه د مهر نه بغیریې د هغه چا نکاح کړې وه چا سره به چې مال دسره نه وو ، ګویا چې دا د مهر مقررولو طریقه نه وه بلکه د قرآن عام کولو یو اعزاز وو ، ددې نه دا هم معلومه شوه چې د نکاح دپاره مهر ضروري دی، بغیر دمهر نه نکاح جائز نه ده صرف د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاره جائز وه. **"خالصةً لک من دون المؤمنین"** که د مهر نه انکار نه وو او د نکاح په وخت تذکره هم نه وه نو نکاح صحیح ده او مهر مثل به ورکوي .مهر مثل د پلار دخاندان دجینکو د مهر په شان وي،ددې حدیث نه د اشارې په طور معلومیږي چې تعلیم قرآن دهغه کس دپاره د مجبوری مهر جوړیدی شي چا سره چې د وسپنې یوه ګوتمه هم نه وي په دنیا کې داسې کس څوک کیدی شي چې دا یو نادر صورت دی. **"والنادر کالمعدوم"** همدارنګې په سنن د سعید

بن منصور کې دارنګه یو حدیث هم شته:(عَن أَبِي النعمان الازدي قَالَ زوج رسول الله صلى الله عليه وسلم امرأة على سورة من القرآن ثم قال لا يكونُ لأحدٍ بعدك مهرًا) مشكوة الحنفي ج۲ ص۳۵۰. مشکوة شریف کې په روایت د مکحول سره نقل دي (انه كان يقول ليس ذلك لأحدٍ بعدَ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم) معلومه شوه چې دا پیغمبري خصوصیت وو.

## د ازواجو مطهراتو د مهر مقدار

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: كَمْ كَانَ صَدَاقُ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو سلمه رضي الله عنه وایي چې ما د حضرت عائشه رضي الله عنها نه تپوس وکړو چې نبی علیه السلام خپلو بیبیانو له څومره مهر مقرر

قَالَتْ: كَانَ صداقه لأزواجه اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ

کړي وو؟ حضرت عائشه رضي الله عنها وفرمایل چې حضور خپلو بیبیانو له دولس اوقیې او نش مهر مقرر کړی وو

قَالَتْ: أَتَدْرِي مَا النَّشُّ؟ قُلْتُ: لَا قَالَتْ:

حضرت عائشه رضي الله عنها تپوس وکړو پوهیږي نش څه ته وایي؟ ما عرض وکړو نه. هغوی وفرمایل چې یو

نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُمِائَةِ دِرْهَمٍ.

نش د نیمې اوقیې برابر وي او داسې دولس اوقیې د یو نش مجموعي مقدار پنځه سوه درهمو برابر وي

رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَنَشٌّ بِالرَّفْعِ فِي شَرْحِ السنة وَفِي جَمِيعِ الْأُصُولِ[1]

(او یو اوقیه د څلویښتو درهمو برابر وي) دا روایت مسلم نقل کړی دی.

**توضیح: ثنتی عشره اوقیة ونش:** داوقیه جمع اواق دی. یو اوقیه څلویښت درهمه وي او "نش" نیمه اوقیه وي. یعني شل دراهم نش دی نو د دولس نیمو اوقیو نه پنځه سوه دراهمه جوړ شول، دعامو ازواجو مطهراتو مهر هم دومره وو اوپه عامو روایتونو کې هم د دې ذکر ملاویږي، دام حبیبه مهر څلور زره دراهمه وو خو هغه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم له طرفه د حبشي بادشاه نجاشي مقرر کړی وو او اداء کړی یې هم وو. لهذا د دې روایت د دې سره څه تعارض نشته دي. (المرقات ۳۵۸/۶)

نن سبا درهم کوم چې په متحده عرب اماراتو کې دی د یو درهم نه پاکستاني ۱۶ روپۍ جوړیږي نو دې حساب سره پنځه سوه دراهم اته زره روپۍ شوې او لس دراهم یو سل شپیته روپۍ جوړیږي،

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۴۲ رقم الحديث (۱۴۲۶.۷۸) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۸۲ رقم الحديث ۲۱۰۵ وابن ماجه في ۱/۶۰۷ رقم الحديث ۱۸۸۶ والداري في ۲/۱۸۸ رقم الحديث ۲۱۹۹

ددې خیال ساتل پکار دي چې د لسو دراهمو نه مهر کم نه شي لس دراهم غالباً دوه نیمې تولې د چاندۍ وزن برابر وي، په مظاهر حق کې یې لیکلې دي چې د پنځه سوه درهمو چاندۍ مقدار یو کلو پنځه سوه دیرش ګرامه وي او د نن سبا د نرخ مطابق ددې قیمت تقریباً ۹۱۸ روپۍ دی.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## دزیات مهر ممانعت

﴿۳﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ

دحضرت عمر باره کې نقل دي چې هغوی وفرمایل چې خبردار! ښځو له زیات مهر مه ورکوئ

فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا وَتَقْوَى عِنْدَ اللهِ

که زیات مهر په دنیا کې د بزرګۍ او د عظمت سبب او د الله تعالی په نزد باعث د تقوی وی نو یقینا

لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَلِمْتُ

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ددې زیات مستحق وو (چه زیات مهر یې ورکړی وی) خو ماته علم نشته

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا

چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو یيبیانو سره د دولس اوقیو نه زیات مهر باندې نکاح کړې وی یا ددې نه زیات مهر

مِنْ بَنَاتِهِ عَلَى أَكْثَرَ مِنَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ[1]

باندې یې د خپلو لوریانو نکاح کړې وي. (روایت کړې دې احمد، ترمذی، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمی)

**توضیح**: **لاتغالوا**: دحضرت عمر ددې فرمان مطلب دا دی چې افضل ده چې مهر کم نه کم وي او چې په دیکې زیات تجاوز نه وي، ددې مطلب دا نه دی چې دولس اوقیو نه زیات جائز نه دی جواز دزیات هم دی. باقي دا اعتراض کول نه دي پکار چې حضرت عمر د دولس اوقیو ذکر کړی دی او حضرت عائشې د یو نش اضافې سره بیان کړی دی د دې وجې نه حضرت عمر خپل بیان کې کسر پریخودی دی څنګه چې عربو پریخودو او حضرت عائشې بیان کړی دی، یا دحضرت عمرد علم مطابق داسې وو هغه د خپلو معلوماتو مطابق بیان کړی دی، کوم تعارض نشته دی. (المرقات ۳۵۹/۶)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۸۲ رقم الحديث ۲۱۰۶ والترمذي في السنن ۳/۴۴۲ رقم الحديث ۱۱۱۴ والنسائی فی ۶/۱۱۷ رقم الحديث ۳۳۴۹ وابن ماجه في ۱/۶۰۷ رقم الحديث ۱۸۸۷ والدارمي في ۲/۱۹۰ رقم الحديث ۲۲۰۰

## د مهر څه حصه زر ورکول بهتر دي

﴿۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَةٍ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چه کوم کس خپلې ښځې له په مهر کې

مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا فَقَدِ اسْتَحَلَّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

(څه حصه په طور د مهر معجل ورکړه) مثلاً دلپي برابر ستوان يا کهجوري يې ورکړي نو هغه دغه ښځه په ځان حلاله کړه.

﴿۵﴾ وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ: أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ

حضرت عامر بن ربعيه وايي چې د قبيلې د بنې فزاره يوې ښځې په يوه جوړه څپلو نکاح وکړه

فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ؟»

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل تاد خپلې مالداري باوجود ديوې جوړې څپلو په بدل کې خپل ځان بل ته حواله کړو او ته پرې راضي

قَالَتْ: نَعَمْ. فَأَجَازَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

شوې؟ هغې ښځې عرض وکړو او زه په دې راضي يم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې جواب اوريدو سره هغه جائز کړه. (ترمذي)

**توضيح** : نعلين: دېنه مراد هغه مهر معجل او مهر على الفور په طور د تحفه دى، يا د مهر څه حصه يې زر ورکړه هغه مراد دى، يا دا ښځه د مهر مقرر کولو نه پس د خپل حق نه د دوه څپلو په بدله کې رستو شوه، يا څپلې هم مختلفې وې، په نوم اخستلو کې د څپلو لفظ راغلى دى ليکن بعضې څپلې دلسو دراهمو وي او بعضې د سلو دراهمو نه هم زياتې قيمتي وي، دا روايت د شوافعو دپاره قطعى دليل نه دى، او دا روايت ضعيف هم دى. (المرقات ۳۶۱/۶)

## د مهر مثل واجب کيدو يو صورت

﴿۶﴾ وَعَنْ عَلْقَمَةَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ: أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ

حضرت علقمه، د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې نقل کوي چې د هغه نه ديو داسې کس باره تپوس وشو چې هغه ديوې ښځې

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵۸۵ رقم الحديث ۲۱۱۰ وأحمد في المسند ۳/۳۵۵ رقم الحديث ۳۴۰۶ أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۲۰ رقم الحديث ۱۱۱۳ وابن ماجه في ۱/۶۰۸ رقم الحديث ۱۸۸۸ وأحمد في المسند ۳/۴۴۵

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۲۰ رقم الحديث ۱۱۱۳ وابن ماجه في ۱/۶۰۸ رقم الحديث ۱۸۸۸ وأحمد في المسند ۳/۴۴۵

| |
|---|
| امْرَأَةً وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا شَيْئًا وَلَم يدْخل بهَا حَتَّى مَاتَ |
| سره نکاح وکړه او دهغې څخه مهر يې هم مقرر نه کړو او جماع ئې هم ورسره ونه کړه او هغه کس وفات شو ابن مسعودؓ ډيوې ميراثتي پورې |
| فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: لَهَا مِثْلُ |
| په دې مسئله غور او فکر کولو بيا د خپل اجتهاد په بنياد باندې يې وفرمايل چه دې ښځې ته به مهر ملاويږي، څنګه چې د هغوی |
| صَدَاقِ نِسَائِهَا. لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ وَعَلَيْهَا |
| په خاندان کښې ښځو له ور کړې شوی دی، نه به په دې کې څه کمی وي او نه به په کې څه زياتي کيږي او په هغې ښځې باندې |
| الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ فَقَامَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ الْأَشْجَعِيُّ |
| د خاوند د وفات عدت هم واجب دی او هغې ته به ميراث هم ملاويږی، حضرت معقل بن سنان اشجعي چې دا واوريدل |
| فَقَالَ: قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ امْرَأَةٍ |
| نو ودريده او عرض يې وکړه چې نبی کريم ﷺ زمونږ په خاندان کې ديوې ښځې بروع بنت واشق باره کې داسې حکم |
| مِنَّا بِمِثْلِ مَا قَضَيْتَ. فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُودٍ. |
| کړی وو، کوم چې په هغه وخت کې نبی ﷺ بيان کړی دی حضرت ابن مسعود ؓ چې دا واوريدل نو ډير خوشحاله شو. |
| رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ والدارمي[1] |
| (روايت کړې دې ترمذی، ابوداؤد، دارمی) |

**توضيح: مثل صداق نسائها:** د حضرت علي ؓ او د نورو صحابه کرامو مسلک دی چې کله د يوې ښځې مهر مقرر شوی نه وي او خاوند ورسره جماع هم نه وي کړې صرف نکاح شوې وي او بيا د خاوند انتقال وشو نو په دې صورت کې به ښځې ته مهر نه ملاويږي، خو عدت به تيروي او ميراث به ورته ملاويږی، حضرت ابن مسعود دا فيصله واورله چې دې ښځې ته به مهر مثل ملاويږي دا هغوی د خپل علمی مهارت په بنياد فيصله کړې وه په دې يو صحابی پاځيدو او ګواهي يې ورکړه چې حضور هم د يوې ښځې باره کې داسې فيصله کړې وه په دې باندې ابن مسعود ډير خوشحاله شو چې فيصله يې درسته وه او الله تعالی ئې رهنمائي وکړه. دې واقعې سره د حضرت ابن مسعود شخصيت نور هم زيات شو. د حضرت ابن مسعود باره رسول کريم ﷺ وفرمايل "رضيت

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٥٨٩ رقم الحديث ٢١١٥ والترمذي في ٣/٤٥٠ رقم الحديث ١١٤٥ والنسائي في ٦/١٢١ رقم الحديث ٣٣٥٥ وابن ماجه في ١/٦٥٩ رقم الحديث ١٨٩١ والدارمي ٢/٢٠٧ رقم الحديث ٢٢٤٦ وأحمد في المسند ٤/٢٧٩

لامتي مارضي لها ابن ام عبد" دا معمولی اعزاز نه دی بلکه د دواړو جهانونو اعزاز دي .په کوم چه حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوره اوختلو .( المرقات ۳۶۲/۶)

## الْفَصْل الثالِث

## دام المومنين ام حبيبه رضي الله عنها مهر

﴿۷﴾ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ: أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عَبْدِ الله بْنِ جَحْشٍ

ام المؤمنين حضرت ام حبيبه باره کي منقول دي چې دا مخکي د عبدالله بن جحش په نکاح کي وه کله چې په

فَمَاتَ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ملک حبشه کي د عبدالله انتقال وشو نو د حبشي بادشاه دهغي نکاح د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وکړه

وَ أَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَة آلاف. وَفِي رِوَايَة: أَرْبَعَة آلاف دِرْهَمٍ

او نجاشی د حضور له طرف ام حبيبې ته په مهر کي څلور زره ورکړي او بل يو روايت کي د څلورو زرو درهمو

وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ شُرَحْبِيل بن حَسَنَة.

الفاظ دي او نجاشی رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اوليږله دنکاح نه پس ام حبيبه د شرحبيل بن حسنه سره

رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ (صَحِيح)[1]

(روايت کړي دي ابو داؤد، نسائی)

**توضيح** : د حضرت ام حبيبې د ورومبني خاوند نوم عبيدالله بن جحش وو د مشکوة په ټولو نسخو کې عبدالله بن جحش ليکلی دی او دا غلطه ده، ځکه عبدالله بن جحش په احد کي شهيد شوی دی نن سبا دهغه قبر د حضرت حمزه او حضرت مصعب بن عمير سره دی، زيارت کولو والا و ته دا دعوت ورکوي چې:

لئے پھرتی بلبل چونچ میں گل شہید ناز کی تربت کہاں ہے

د حضرت ام حبيبې اصلي نوم "رمله" وو دا د حضرت ابوسفيان بن حرب لور وه او د حضرت معاويه خور وه وړومبی ددې نکاح عبيد الله بن جحش سره شوې وه، عبيد الله اسلام قبول کړه او بيايې د مکې نه حبشې ته هجرت وکړو حضرت ام حبيبه ورسره وه په حبشه کي عبيد الله مرتد شو او عيسائيت يې قبول کړو او هم هلته مړ شو، حضرت ام حبيبه په اسلام ثابت قدمه وه. حضور اکرم د يو قاصد په ذريعه نجاشی ته پيغام ورولېږلو چې د حضور اکرم نکاح د ام حبيبې سره وکړي، نجاشي د

(۱) أخرجه أبوداؤد فى السنن ۲/۵۸۳ رقم الحديث ۲۱۰۷ والنسائى في ۶/۱۱۹ رقم الحديث ۳۳۵۰.

خپلې نوکرې په ذریعه ام حبیبه ته پیغام ورولیږلو، ام حبیبه په خوشحالی قبوله کړه او پیغام راوړونکې ته یې دوه کپړې او یوه ګوتمه ورکړه او خپل یو رشته دار حضرت خالد بن سعید یې د خپل د نکاح وکیل مقرر کړه. کله چې د مانښام وخت شو نو نجاشي حضرت جعفر طیار او هغه ټول صحابه کرام چې په حبشه کې وو په محفل نکاح کې د شمولیت دعوت ورکړو کله چې ټول مسلمانان جمع شول نو نجاشي بادشاه پخپله د نکاح خطبه داسې ولوستله:

(الحمدُ لله الملکِ القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیز الجبار أشهدُ أن لا إله إلا الله و أن محمدًا عبده و رسوله أرسله بالهدی و دین الحق لیظهره علی الدین کله و لو کرهَ المشرکُونَ).

بیا نجاشي وفرمایل چې ما د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم قبول کړه او ما څلور زره دیناره مهر مقرر کړه، دې نه پس حضرت خالد بن سعید دتوحید او رسالت خطبه ولوستله او بیایې وفرمایل ماد رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم تعمیل وکړه او ما د ابوسفیان د لور ام حبیبې نکاح د حضور اکرم سره وکړه، الله تعالی دې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا نکاح مبارکه کړي. کله چې مجلس ختم شو نو نجاشي وفرمایل چې تاسو ټول کینئ او طعام اوخورئ ځکه چې د نکاح نه پس طعام خوړل د انبیاء کرامو سنت عمل دی، ټولو طعام وخوړلو دا واقعه د اوم ۷ هجري ده. (المرقات ۳۶۳،۳۶۴/۶)

## د مشروط اسلام بیان

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: تَزَوَّجَ أَبُوطَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ فَكَانَ صَدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا الْإِسْلَامَ |
| حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ابو طلحهؓ کله ام سلیم سره نکاح وکړه نو د اسلام قبلول د دواړو په مینځ کې مهر مقرر شوی وو. |
| أَسْلَمَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَبْلَ أَبِي طَلْحَةَ فَخَطَبَهَا |
| ام سلیمؓ د ابو طلحهؓ نه مخکې اسلام قبول کړی وو کله چې ابو طلحه ام سلیمؓ ته د نکاح پیغام ورولیږلو |
| فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ فَإِنْ أَسْلَمْتَ نَكَحْتُكَ |
| نو ام سلیم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته وویل چې ما خو اسلام قبول کړی دی که ته هم مسلمان شې نو زه به تاسره نکاح وکړم |
| فَأَسْلَمَ فَكَانَ صَدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1] |
| او ستانه به مهر هم نه اخلم. ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول کړه او اسلام قبلول مینځ کې مهر شو. (نسائی) |

**توضیح**: فکان صداق ما بینهما یعني اسلام د دواړو په مینځ کې مهر جوړ شو. اسلام او تعلیم قرآن د شوافعو په نزد یو څیز دی لهذا د هغوی په نزد دواړه مهر جوړیدی شي، د احنافو په نزد تعلیم

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ٦/١١٤ رقم الحديث ٣٣٤٠

د قرآن او اسلام وغیره طاعات چونکه مال نه دی او دمهر باره کې واضح ایت دی (ان تبتغوا باموالکم) لهذا دا څیزونه مهر نه شي جوړیدی. دحضرت ابو طلحه معامله ډیره مخکې ده بلکې داسې معلومیږي چې دهغه اسلام د هجرت نه مخکې وو مختصر واقعه داسې ده چې ام سلیم وړومبی د مالک بن نضر په نکاح کې وه چې دې نه حضرت انس پیدا شوی وو مالک د اسلام قبلولو نه مخکې قتل شوی وو، حضرت ام سلیم اسلام قبول کړه ابو طلحه ورته د نکاح پیغام ورولیږه حضرت ام سلیم دا شرط ولګولو که ته اسلام قبول کړي نو زه به تا سره نکاح وکړم، ابو طلحه اسلام قبول کړه او د دواړو نکاح وشوه او مهر د اسلام قبلول وو. اوس احناف د دې جواب داسې ورکوي چې مهر خو مخکې مقرر شوی وو لیکن ام سلیم د خپلې وعدې مطابق د ابو طلحه د اسلام په وجه خپل حق مهر معاف کړه نو اسلام د مهر معاف کولو ذریعه جوړه شوه. (المرقات ۳۶۵/۶، ۳۶۴)

دویم جواب هم دغه دی کوم چې پورته لیکلی شوی دی، چې دا واقعه د هجرت نه مخکې وه چې کوم وخت کې د مهر متعلق ایت نه وو نازل شوی ابو طلحه خو بیعت عقبه په وخت مسلمان شوی وو او مهر باره کې ایت په مدینه منوره کې نازل شوی دی. لهذا دا ضابطه مهر نه مخکې واقعه ده، دارنګه دا یوه جزئي واقعه ده په کومه کې چې ډېر احتمالات دي، معلومه نده چې صحیح صورت حال څه دی دېته د ضابطې لاندې کتل پکار دي نه دا چې ضابطه جوړه کړی شي.

**سوال**: یو مشهور اعتراض هم دی چې د مهاجرام قیس هجرت په نکاح سره مشروط کولو په وجه باطل شو نو اسلام دابو طلحه د نکاح سره مشروط شوه نو دا باطل ولې نه شو؟

**جواب**: جواب یې دا دی چې هجرت یو راتلونکی څیز دی په دې کې امتداد نشته کله چې هجرت مکمل شو په هغه وخت په دې کې اخلاص نه وو او د مکمل کیدو نه پس د اخلاص ګنجائش پاتې نه شو په هجرت کې امتداد نشته لیکن اسلام یو ممتد عمل دی که نن په کې اخلاص نه وي نو سبا ته به راشي، ابو طلحه اګر چې د واده په غرض اسلام قبول کړی وو لیکن د نکاح نه پس په اسلام کې یې اخلاص راغی او په ربښتیني زړه کې یې د اسلام ګنجائش باقي پاتې شو لهذا په دې کې او هجرت کې فرق دی.

دا سوال او جواب مشکوة جلد اول حدیث "انما الاعمال بالنیات" کې په تفصیل سره ذکر شوی دی.

# بَاب الْوَلِيمَة

## دعوت ولیمه

د ولیمې جمع دلائم ده. ولم یلم ولما د جمع کیدو او یو ځای کیدو په معنی سره راځي ولائم هغه خوراکونو ته وایي چې د جاهلیت په زمانه کې به د غم یا خوشحالۍ په موقع پیش کولی شو. د عربو خلق ټولو ته ولائم وائي بیا اضافت سره به خاص کولی شو، مثلا ولائم العرس ولائم الخرس وغیره وغیره. نن سبا ولیمه صرف د ښادۍ د خوراکونو پورې خاص شوی دی. شریعت کې د ولیمې لفظ د ښادۍ او نکاح دپاره استعمال شوی دی. فقهاء کرام فرمایي چې ولیمه هغې خوراک ته وایي چې د شب زفاف نه پس یعني د ښځې او د خاوند د ملاویدونه پس ورکولی شي. د ولیمې اصل سنت دا دی چې د ښځې او خاوند د ملاویدونه پس وي، او که ملاقات نه وي شوی نو کم از کم نکاح شوې وي که د نکاح نه مخکې یو سړی ولیمه وکړي نو دا ولیمه سنت نه ده بلکې دا صرف دعوت دی.

په اسلام کې دعوت ولیمې ته بعضو واجب، بعضو ورته سنت مؤکده او بعضو ورته مستحب ویلی دی. رحمة الامة فی اختلاف الائمة یو مستند کتاب دی په هغې کې لیکلې دي **ولیمة العرس سنة علی الراجح من مذهب الشافعي و مستحبه عند الثلاثه**" (ص ۲۱۴) کومو حضراتو اهل ظواهرو وغیرو چې ولیمه واجب کړې ده هغوی "**أَوْلِم ولو بشاةٍ**" د امر صیغې ته کتلې دي. "**الولیمة حق**" الفاظو ته یې کتلې دي. جمهورو فرمایلي دي چې د امت تعامل په وجوب او لزوم باندې نه دی، البته د سنت لفظ عام او مشهور دی مستحب او سنن زوائد یو دي، لهذا مستحب ویل هم صحیح دی. (الکاشف ۳۲۲/۶)

**د دعوتونو بیان**: که دعوت قبلولو کې که شرعی عذر نه وي نو قبلول یې واجب دي، که عذر وي سړی بیمار وي یا تلو کې ورته خطره وي یا دعوت حرام وي یا دعوت کې ناچ ګانې وي یا بدعات او منکرات وي نو دا سې دعوت قبلول جائز نه دي، که د تلو نه پس ورته پته ولګي چې په دې کې خو منکرات ووکه سړی پخپله مقتدا جوړ شوی وي نو هلته دې نه ایسار یږي بلکې واپس دې راشي او که مقتدا نه وي نو بیا دې خوراک وخوري او رادې شي. د مقتدا جوړیدو مطلب دادی چې یو داسې عالم جوړ وي چې د هغه د عمل نه خلق دلیل نیسي او سند یې ګڼي خو دا خبره یاد ساتل پکار دي چې دعوت خاص قبلول لازم دي که خصوصي دعوت چا درکړی وي، او که خصوصی دعوت نه وو نو عام دعوت قبلول لازم او واجب نه دي، د دعوت قبلولو اصل وجه داده چې دا د شریعت حکم دی، دویمه وجه داده چې چا خصوصی دعوت در کړی دی د انکار کولو سره به د هغه زړه ته تکلیف ورسي او نفرت به زیات شي، او عام دعوت کې داسې صورت نه پیدا کیږي. د دعوت په منکراتو کې دا هم دي که یو سړی د خپل جاه او منصب په بنیاد خپل د

جاه زیاتولو دپاره عالم ته خصوصی دعوت ورکوي یا د یو باطل کار د پاره دعوت ورکوي یا د دې په ذریعه په نورو باندې دا اثر اچولو دپاره کوشش کوي یا یو قاضي ته دعوت ورکړي نو دې دعوت د رشوت شکل اختیار کړو یا نور منکرات لکه ریشمي قالین وغیره یا حرام مال ریاکاري یا تکبر او تجبر وغیره منکرات دي.

**دعربو د جاهلیت ولیمې** : د جاهلیت په دور کې به په عربو کې د ولائم په نوم پنځلس قسمه دعوتونه وو. او د اضافت نه به یې په کې تخصیص کولو. د هغو ټولو نومونه سره د تعریف نه لاندې لیکلی شي.

(۱) **ولیمة العرس** : دا به د ښادي په موقع باندې وه او اسلام هم برقرار ساتلې ده او عام طور باندې هم دا ولیمه پاتې شوې ده. (۲) الخرس : د ماشوم په پیدا کیدو باندې چې کوم خوراک ورکولی شي هغې ته الخرس ویلی شي. (۳) عقیقه : په اوومه ورځ د ماشوم د نوم کېښودو په وخت چې کوم خوراک ورکولی شي دا عقیقه ده او په اسلام کې دا مسنون ده. (۴) اعذار : دا د ماشومانو د سنتولو په وخت کې چې کوم طعام ورکولی شي دې ته اعذار ویلی شي، په اسلام کې دا نشته دا صرف یو رواج دی. (۵) ذوالحذاق: ماشوم به چې کله په یو کار کې مهارت حاصل کړو مثلا تیر اندازي، لمبلو، او توري وهلو کې او د اسونو په منډه وغیره کې نو په دې موقع چې به کوم خوراک ورکولی شو او په اسلام کې دا خوراک د قران حفظ کولو یا د علم نه د فارغ کیدو په موقع ورکولی شو. (۶) ملاک : د کویژدن په تقریب کې چې کوم طعام ورکولی شي هغې ته ملاک ویلی شي.

(۷) وضیمه: هغه خوراک چې چاکره مړ وشي او ورکره لیګلی شي دې ته وضیمه ویلی شي. اسلام د دې باره کې تاکید کړی دی. او د جاهلیت په دور کې به دا د تیجه، اومه، نهمه، پنځلسمه او د کلیزو په موقع هم استعمالیدی شي او نن سبا دا بریلیانو سنبهال کړی دی. (۸) وکیره: د کور جوړولو په وخت چې کو م دعوت وي هغې خوراک ته وکیره ویلی شي. "وکر" جالې ته وایي. (۹) عقیره : دا خوراک به د رجب د میاشت لیدو په وخت کې ورکولی شو. (۱۰) شندخ: کله به چې دا چا ورک شوی څیز ملاو شو نو دا دعوت به یې کولو. (۱۱) نقیعه: کله به چې څوک مسافر وطن یا کور ته واپس راغی نو دا طعام به ورکولی شو. (۱۲) تحفه: د ملاقات په وخت کې به دا طعام پیش کولی شو. (۱۳) قری: دا طعام به د عاموخلقو اومیلمنو دپاره وو. (۱۴) نقری: دیوخاص کار په ذریعه به دا دعوت کیدلو. (۱۵) جفلی: دا به د یو عام خیرات خوراک وو په دې کې به دوست، او دښمن ټول شریکیدل.

# دوليمې کولو حکم

## الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ

حضرت انس رضي الله عنه وايي چې يو ورځ رسول صلى الله عليه وسلم د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه (په بدن

أَثَرَ صُفْرَةٍ فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» قَالَ:

ياپه کپړو) باندې د زعفرانو زيړه نخښه وليدله نو تپوس يې وکړو چې دا څه دي؟ عبد الرحمن وويل

إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ قَالَ:

چې ما د يوې ښځې سره نکاح وکړه د يو نواة په عوض کې رسول صلى الله عليه وسلم چې دا واوريدل نو وې فرمايل

«بَارَكَ اللهُ لَكَ أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

چې الله تعالى دې مبارکه کړي، وليمه وکړه اګر که يو چيلى ولې نه وي. (بخارى و مسلم)

**توضيح**: **ماهذا** :دا سوال دې دپاره وشو چې حضور صلى الله عليه وسلم په صحابو باندې د زعفرانو د عطرو لګولو نه منع کړې وه. عبد الرحمن عذر پيش کړو چې دا د ښځې نه راپورې لګيدلې دي.

"اولم" کوم خلق چې وليمه واجب ګڼي د هغوى د پاره دا دليل دى. "ولو بشاة" يعنې لوى څيز اوښ وغيره دې نه وي بلکې يو چيلى دې ذبح کړي. بعضې علماو دا په تکثير باندې حمل کړى دى چې وليمه وکړئ يو چيلى دې ولې نه وي.دا مفهوم بعيد دى تقليل زيات واضح دى.بعضو د نواة نه مراد پنځه درهمه اخستى دى. چې دا بعيد دى بلکې نواة نه مراد د کجوې د زړې په برابر سونا ده.

## د ام المؤمنين حضرت زينب شانداره وليمه

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: مَا أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَحَدٍ

او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم نه ده کړې په خپلو ازواجو مطهراتو کې د

مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ

يوې بيې هم دومره لويه وليمه کومه چې يې د حضرت زينب رضي الله عنها د نکاح په وخت کې کړې وه

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۰٤ رقم الحديث ٥١٤٨ ومسلم في ۲/۱۰٤۲ رقم الحديث (۱٤۲۷.۷۹) وأبوداؤد في السنن ۲/٥٨٤ رقم الحديث ۲۱۰۹ والترمذي في ۳/٤۰۲ رقم الحديث ۱۰۹٤ ابن ماجه في ۱/۹۱٥ رقم الحديث ۱۹۰۷

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| أولم | بِشَاة | متفق | عليه | (صَحِيح)[1] |
| حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې په نکاح کې په يوې چيلې سره وليمه کړې وه. (بخاری و مسلم) | | | | |

**توضيح**: ما اولم: يعني د نورو ازواجو مطهراتو د دعوت وليمې په اعتبار سره چيلی لوی ځيز وو ځکه حضرت زينب نه علاوه د نورو په دعوت کې چيلی نه و ذبح شوی، ددې دا مطلب نه دی چې چيلی يو لوی دعوت وو، لوی دعوت خو به په اوښ وغيره سره وو ځنګه چې حضرت علي رضي الله عنه ذ واده د پاره دوه اوښانې ساتلې وې. او حمزه هغه وژلې وې چې مشهوره قصه ده، لهذا د دې نه رومبنې روايت کې "ولو بشاة" تقليل د پاره دی د تکثير د پاره نه دی. (المرقات ۳۶۶/۶)

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَنَى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت زينب بنت جحش رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَأَشْبَعَ | النَّاسَ | خُبْزًا | وَلَحْمًا. | (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2] |
| سره د شب زفاف نه پس وليمه وکړه او په دې وليمه کې يې خلقو له په مړه خيټه دوه ډی او غوښه ورکړه. (بخاری) | | | | |

## دښځې آزادی ددې مهر کړ ځولی شي يا نه

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وړومبی ازاده کړه او

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَتَزَوَّجَهَا | وَجَعَلَ | عِتْقَهَا | صَدَاقَهَا | وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا |
| بيا يې ورسره نکاح وکړه، پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغې ازادي د هغې مهر وګرځولو او په نکاح کې | | | | |
| بحيس. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ (صَحِيح)[3] | | | | |
| يې حيس وليمه کړو. (بخاری و مسلم) | | | | |

**توضيح**: حضرت صفيه د يهودو د سردار حي بن اخطب لوروه د جنګ خيبر په موقع هغې خوب ولیدو چې د يثرب نه يو ه سپوږمی راغله او زما غېږ ته راغله. هغې چې دا خوب خپل خاوند ته بيان کړو

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۳۲ رقم الحديث ۵۱۶۵ ومسلم في ۲/۱۰۴۹

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۵۲۸ رقم الحديث ۴۷۹۴

(۳) أخرجه البخاري ۹/۲۳۲ رقم الحديث ۵۱۶۹ ومسلم في ۲/۱۰۴۳ رقم الحديث (۱۳۶۵.۸۴) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۴۲ رقم الحديث ۲۰۵۴ والترمذي ۳/۴۲۳ رقم الحديث ۱۱۱۵ والنسائي في ۶/۱۱۴ رقم الحديث ۳۳۴۲ وابن ماجه في ۱/۶۲۹ رقم الحديث ۱۹۵۸.

نو هغې له یې په مخ یوه سپېړه ورکړه چې ته د یثرب یعني د مدینې د بادشاه محمد ﷺ سره دواده خواهش لرې هغه پخپله وایي چې دهغې سپېړې په وجه زما سترګې اومخ شنه دي دنورو ښځو سره زه هم درسول کریم ﷺ په قید کې را غلم دمابنام په وخت کې رسول کریم ﷺ ما سره خبرې وکړې دخبرو خلاصه داده. صفیې ته رسول کریم ﷺ وفرمایل که چیرې ته په دین قائمه پاتې کیدل غواړې نو په دې باندې څه جبر نشته او که چیرې ته الله او د هغه رسول اختیار کړې نو دا به ستا د پاره بهتر وي، حضرت صفیه وویل چې زه الله تعالی او د هغه رسول او اسلام اختیاروم، رسول کریم ﷺ هغه آزاده کړه او بیایې ورسره نکاح وکړه، صحابه کرامو ته معلومه نه وه چې صفیه وینزه ده او که ام المومنین ځکه صحابه کرامو ووېل چې که پرده یې وکړه نو نکاح به یې شوې وي، او که پرده یې نه وي کړې نو وینزه به وي کله چې د سورلي دپاره زمادپاره دپردې انتظام وشونو صحابه کرامو ته پته ولګیده چې ام المؤمنین جوړه شوې ده. (المرقات ۳۶۸/۶)

اوس دلته یوه فقهي مسئله ده چې په دې حدیث کې دا لفظ موجود دی چې **"جعل عتقها صداقها"** حضور اکرام ﷺ د حضرت صفیه آزادی د هغې مهر وګرځوه. امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه، اوزاعی د شام او قاضي ابو یوسف فرمایي چې عتق هم مهر کې اچول جائز دي.
امام مالک او امام ابو حنیفه او امام شافعی په نزد عتق په مهر کې اچول صحیح نه دي. وړومبنې فریق د مذکوره حدیث نه استدلال کړی دی، چې د حضرت صفیه مهر دهغې عتق مقرر کړی شو.

جمهور دلیل پیش کوي چې قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي **(ان تبتغوا باموالکم)** (سورة نساء ۲۴) عتق مال نه دی نو مهر نه دی، د فریق اول د دلیل جواب دا دی چې حدیث کې چې د صداق لفظ راغلی دی دا د حضرت انس کلام دی او د قرآنی ایت په مقابله کې قابل استدلال نه دی. دویم جواب دا دی چې دا د پیغمبر خصوصیت دی چې هغه دپاره بغیر د مهر نه نکاح کول جائز وو، چې عتق یې په طور د مهر مقرر کړو، نو د خصوصیت په وجه باندې جائز وو، او دا بل چاد پاره جائز نه دی، یا حضرت صفیه رضي الله عنها خپل مهر معاف کړی وو. دا هم پیغمبری خصوصیت وو.

## د حضرت صفیه رضی الله عنها د ولیمې ذکر

﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِيْنَةِ

حضرت انس رضی الله عنه وایي چې نبی کریم ﷺ قیام اوفرمائیلو د خیبر او مدینې په مینځ کې

ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ

دري شپې قیام وفرمایلو او د حضرت صفیه رضی الله عنها سره یې دنکاح نه پس د زفاف شپه تیره کړه او ما دعوت ورکړو

الْمُسْلِمِيْنَ إِلَى وَلِيْمَتِهِ وَمَا كَانَ فِيْهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ

مسلمانانو ته د ولیمې په ولیمه کې نه غوښه وه او نه دوډی بلکې کله چې دسترخوان خورکړې شو

وَمَا كَانَ فِيهَا إِلَّا أَن أُمر بالأنطاع فَبُسِطَتْ فَأُلْقِيَ عَلَيْهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[1]

بلکې کله چې دسترخوان خور کړی شو نو په هغې يې کجورې، پنير او غوړي کيښودل. (بخاری)

**توضیح:** التمر والاقط والسمن: دې نه مخکې حديث کې لفظ "حيس" راغلی وو دا د هغې تفسير دی چې د کجورو، پنير او غوړو حريره او د حلوا په شکل خوراک ته "حيس" ويلی شي. دې نه پس حديث کې د دوه سيره جوارو ذکر راغلی دی چې د سردار اولين والاخرين وليمه داسې وه، دې سره به ددې امت د غريبانانو حوصله افزائي کيږي کوم چې د دعوت وليمې طاقت نه لري هغوی ته د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نمونه ملاو شوه چې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوه سيره جوارو خپله وليمه کړې وه، او دې نه مخکې يې د حضرت زينب وليمه کې خلقو ته د چيلي غوښه په مړه خيټه ورکړې وه په دې کې مالدارو ته د سنت نمونه ملاويږي که طاقت وي نو ښه دعوت دې وکړي او که نه وي نو په قرضه دې ځان نه خرابوي، د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سيرت ته اوګورئ چې په دوه سيره جوارو باندې يې وليمه کړې ده. ربنتيا ده چې د حضور اکرام د ټولو انسانانو د پاره کامله نمونه ده. (المرقات ۳۶۸/۶)

جہاں تک آپ کی قلیہ ہے اسی حد تک سلیقہ بشریت بشر کو ملتا ہے

## د حضرت ام سلمه رضی الله عنها وليمه

﴿۶﴾ وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ: أَوْلَمَ النَّبِيُّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

حضرت صفيه بنت شيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې زوجې مطهرې (بی بی)

عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بمدين من شعير. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ[2]

(غالبًا) د ام سلمې وليمه په دوه سيره وربشو کړې وه. (بخاری)

او د مسلم په يو روايت کې دي دعوت قبلول پکار دي که هغه د وليمې دعوت وي يا بل کوم دعوت وي.

## دوليمې دعوت قبلول پکار دي

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې کله تاسو

---

([1]) أخرجه البخاري في صحيحه ۷/۴۷۹ رقم الحديث ۴۲۱۳ والنسائي في ۶/۱۳۴ رقم الحديث ۳۳۸۲ وأحمد في المسند ۳/۲۶۴

([2]) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۳۸ رقم الحديث ۵۱۷۲ وأحمد في المسند ۶/۱۱۳

قَالَ: «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

کې چا ته د بنادی د خوراک خوړلو د پاره دعوت درکړی شي نو هغه له تلل پکار دي. (بخاری و مسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْ نَحْوَه (صَحِيح)

﴿۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په تاسو کې چې کله چا ته د واده یا

دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ وَإِنْ

داسې بل قسم تقریب د پاره دعوت درکړی شي نو هغه له پکار دی چې دعوت ئې قبول کړی کله چه

شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲)

هلته ورشي نو د هغه خپله مرضي ده که خوراک کوي او که نه يې کوي. (مسلم)

## په ولیمه کې صرف د مالدارو راغوختل انتهائی بد دی

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «شَرُّ الطَّعَامِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې خراب خوراک د هغې

طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ

ولیمې خوراک دی چې په کې مالدارو ته دعوت ورکړی شي او غریبانان پریخودلې شي او کوم سړې

الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَه» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۳)

چې بغیر د څه عذر نه دعوت قبول نه کړو نو هغه د الله تعالی او هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نافرماني وکړه

**توضیح**: شر الطعام: د ولیمې طعام ته خراب طعام د ولیمې په وجه نه دی ویلی شوی بلکې په دې وجه يې ورته شر الطعام ویلی دی چې د دنیا د خلقو دا عادت دی چې ولیمه کې د نمائش د پاره مالدار، منصب دار، رعب دار، شهرت والا افرادو ته دعوت ورکولی شي او غرباء او فقیران

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲٤۰ رقم الحديث ٥۱۷٤ ومسلم في ۲/۱۰٥۲ رقم الحديث (۱٤۲۹.۱٦) وأبوداؤد في السنن ٤/۱۲۳ رقم الحديث ۳۷۳٦ وابن ماجه في ۱/٦۱٦ رقم الحديث ۱۹۱٤ والداري ۲/۱۹۲ رقم الحديث ۲۲۰٥ ومالک في ۲/۳۳٦

(۲) أخرجه في صحيحه ۲/۱۰٤٥ رقم الحديث (۱٤۳۰.۱۰٥) وأبوداؤد في السنن ٤/۱۲٤ رقم الحديث ۳۷٤۰

(۳) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲٤٤ رقم الحديث ٥۱۷۷ ومسلم في ۲/۱۰٤٥.

پریخودلی شي، که دا خارجی علت نه وو نو نفس ولیمه خو په شریعت کې مسنون یا مستحب ده، د دې ترغیب حضور ﷺ ورکړی دی نو دې ته شر الطعام څنګه وویله معلومه شوه چې د خارجی قید په وجه سره په کې مذمت راغی او هغه دا چې غریبان یې پریخودل او مالداران یې راوبلل او بیا یې پرې خوراک وخوړو. (المرقات ۳۷۱/۶)

**فقد عصى الله:** د دعوت قبلول د احنافو په نزد د راجح قول مطابق مستحب دی، او د جمهورو په نزد د مشهور قول مطابق واجب دی. "رحمة الامة في اختلاف الائمة" کې یې داسې لیکلې دي، او په بعضو کتابونو کې یې داسې لیکلې دي چې دا حدیث د هغو خلقو دلیل دی کوم چې د دعوت قبلول واجب ګڼي، او د جمهورو په نزد دعوت قبلول مستحب دي، دا قول ډیر واضح معلومیږي، باقی که په دعوت کې که چیرې نور منکرات یا څه نور شرعی عذر وي نو قبلول یې ضروري نه دي تفصیل یې مخکې تیر شو دی. (المرقات ۳۷۶/۶)

## اجازت اغستل او بیا دعوت ته تلل

| |
|---|
| ﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا شُعَيْبٍ |
| او حضرت ابو مسعود انصاري وایي چې دیو انصاری صحابی چې د هغه کنیه ابو شعیب وه د |
| كَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ فَقَالَ: |
| هغه یو غلام ووچې غوښه به یې خرڅوله یو ځل دې انصاری صحابی دې خپل غلام ته وویل چې |
| اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً لَعَلِّي |
| زما په هدایت دومره خوراک تیار کړه چې د پنځو کسانو د پاره وي ځکه زه او نبی ﷺ له |
| أَدْعُو النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ |
| دعوت ورکومه او رسول کریم ﷺ به هم په دې پنځو کسانو کې وي غلام د هدایت مطابق |
| فَصَنَعَ لَهُ طعيما ثُمَّ أَتَاه |
| حضور ﷺ له طعام تیار کړو او بیا د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو نبی علیه السلام |
| فَدَعَاهُ فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ |
| ته او نورو صحابو ته یې د طعام د پاره دعوت ورکړو. کله چې حضور ﷺ د هغه کور ته تشریف یوړو کله چې |

| |
|---|
| فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا |
| د هغه کور ته ورسيدل نو وې فرمايل چې ابو شعيبه! مونږ سره يو کس بل هم ديکې دی که چرې ته غواړې |
| تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ تركته». |
| نو د خوراک اجازت ورکړه که نه وی نو د دروازې نه يې واپس کړه (او په دسترخوان باندې د ناستې اجازت مه ورکوه) |
| قَالَ: لَا بل أَذِنت لَهُ (متفق عليه)[1] |
| ابو شعيب وويل چې نه (هغه ته په دسترخوان د ناستې اجازت نه ورکول زه مناسب نه ګڼم) ده ته هم اجازت دی. |

**توضيح: لحام**: د لحم نه د مبالغې صيغه ده يعنې دې غلام به غوښه خرڅوله او په غوښه جوړولو کې ډير ماهر وو د هغه آقا چې کنيه يې ابو شعيب وو هغه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره د دعوت انتظام وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره څلور نور ملګري هم وو. دې روايت نه يو تعليم دا هم حاصليږي چې يو کس دې بغير د اجازت نه دعوت له نه ځي، او داسې يو ميلمه له هم نه دې پکار چې ځان سره دې يو نه بلل شوی کس بوځي او طعام پرې وخوري، او که چيرې کوربه اجازت ورکړو نو بيا جائز دي. علماء کرامو ليکلې دي که چيرې کوربه د ميلمه مخې ته خوراک کيخودو او دايې وويل چې دا طعام ما ستاسو په ملکيت کې درکړو په دې صورت کې بيا کوربه بل کس له دا طعام ورکولی شي او کور ته يې هم وړلی شي. او که کوربه د ميلمه دپاره دا طعام صرف مباح کړی وي نو بيايې صرف هغه استعمالولی شي بل ته يې نشي ورکولی. (المرقات ۳۷۲،۳۷۳/۶)

**سوال**: کله چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يو نا بلل شوی کس دروازې ته راورسيدو دکوم ځای نه چې څوک نشي واپس کولی او حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کوربه نه اجازت هم واخستو نو دلته ناممکنه وه چې کوربه انکار کړی وی، که هغه په زړه کې خفه ولې نه وي ګويا د زړه نه اجازت نه ووبلکې يو قسم جبر وو اګر چې صورت د اجازت وو نو بيا څنګه جائز شوه؟

**جواب**: حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې معاشره تياره کړې وه چې د هر کس ظاهر او باطن به دواړه برابر وو چې په ژبه به کومه خبره وه هغه به په زړه کې هم وه او چې په زړه کې به کومه خبره وه هغه به په ژبه وه، که چيرې دلته د دې صحابی په زړه کې لږغوندې خفګان وی نو هغه به يې په ښکاره کولو چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې اضافي کس ګنجائش نشته، نو دلته دهغې کس د واپس تلو باندې به کوربه حفه نه وو او نه به حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خفه شوی وو، دلته څه جبر نشته په ژبه باندې چې کوم اظهار کړی وو هغه په دې کې د زړه د رضامندی دليل وو، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ديوې پاکې او بې

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۵۸۳ رقم الحديث ۵۴۶۱ ومسلم في ۳/۱۶۰۸ رقم الحديث (۲۰۳۶.۱۳۸) والترمذي في السنن ۳/۴۰۵ رقم الحديث ۱۰۹۹ والدارمي في ۲/۱۴۳ رقم الحديث ۲۰۶۸ وأحمد في المسند ۴/۱۲۱

تکلفي معاشري تشکیل کړی وو چې هلته به د زړه او د ژبې خبره یوه وه. (المرقات ۳۷۳/۶)

## الْفَصْل الثَّانِي

﴿۱۱﴾ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَولم على صَفِيَّة بسويق

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ام المؤمنین حضرت صفیه ولیمه په ستوانو او په

وتمر. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

کجورو کړې وه (روایت کړی دی احمد، ترمذی، ابو داود، او ابن ماجه)

### دزیبائش وآرائش نه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجتناب

﴿۱۲﴾ وَعَنْ سَفِينَةَ: أَنَّ رَجُلًا ضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ

او حضرت سفینه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو ورځ حضرت علي ابن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کره یو میلمه راغی

فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ:

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه د پاره طعام تیار کړو، حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل که چیرې مونږ

لَو دَعَوْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ مَعَنَا

نبی عَلَيْهِ السَّلَام له هم دعوت ورکړو او مونږ سره دا طعام وخوري نو څومره به ښه وي نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام

فَدَعَوْهُ فَجَاءَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى عِضَادَتَيِ الْبَابِ

له یې دعوت ورکړو کله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام تشریف راوړو چه څنګه ئې د دروازې په دواړو خپلو اړخونه کیخودل

فَرَأَى الْقِرَامَ قَدْ ضُرِبَ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ

نو دنبی عَلَيْهِ السَّلَام نظر په یو پرده ولګیده چې د کور په یو ګوټ کې وه نبي عَلَيْهِ السَّلَام (پردې ته یې چې وکتل)

فَرَجَعَ. قَالَتْ فَاطِمَةُ: فَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا رَدَّكَ؟

نو واپس شو حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم ورپسې لاړه او عرض ئې وکړو ای د الله رسوله تاسو ولې واپس شوئ

قَالَ: «إِنَّهُ لَيْسَ لِي أُولَئِيَّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مزوقا». (۱)

رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ماته او يا كوم نبى ته د زينت والا كور ته داخليدل مناسب نه دي.

**توضيح**: قرام: د نرمې كپړې پردې ته قرام ويلى شي، دا كپړه منقش وه چې په هغې آرائش او وزيبائش شوى وو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دننه تشريف يونه وړو يا د زيب او زينت په وجه دننه داخل نه شو، يا په دې وجه چې په كپړې سره ديوال پټ كړى شوى وو چې اسراف وو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناخوښه كړو. (المرقات ۳۷۴/۶)

## دطفيلى مذمت

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ

او حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې كوم كس دطعام

دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ

دپاره روابلل شي او هغه دعوت قبول نه كړي نو هغه د الله تعالى او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نافرماني والا شو

وَمن دخل على غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا

او كوم كس چې بغير د بللونه د خوراک مجلس ته لاړو نو هغه د غل په شان راغې او ټول مال ئې

وَخَرَجَ مُغِيرًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (۲)

لوټ كړو او لاړو. (روايت كړې دې ابو داود)

**توضيح**: حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت ته د ښو اخلاقو درس وركړى دى، لهذا بغير د دعوت او بغير بلنې د چا د عوت طعام ته تلل يې منع فرمايلې دي، او امت يې د حرص او لالچ د ذلت نه بچ كړى دى، دويم طرف ته شرعى عذر نه بغېر چا د دعوت نه انكار كول يې هم منع فرمايلي دي نو د حرص او تكبر په منيځ كې معتدله لاره يې وښودله چې د انكار په وجه سره په امت كې دتكبر، لويې او د عدم الفت خراب صفتونه داخل نه شي. او نه حرص او لالچ راشي رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې څوک بغېر د اجازت نه دعوت ته لاړو او خوراک يې وخوړلو او باهر ته راغى نو "دخل سارقا" او (خرج مغيرا) په خرابو صفتونو كې داخل شو. (المرقات ۳۷۵/۶)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۱۳۳ رقم الحديث ۳۷۵۵ وابن ماجه في ۲/۱۱۱۵ رقم الحديث ۳۳۶۰ وأحمد في المخطوطة «الي

(۲) أخرجه ابوداود: ۲/۱۲۰ رقم الحديث ۳۷۴۱

## په ډیرو دعوتونو کې کوم یو ته ترجیح ورکول پکار دي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابو کې یو کس نه روایت دی چې د الله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

«إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ فَأَجِبْ

چې که یو کس ته په یو وخت کې دوه دعوتونه وي نو د هغه کس دعوت قبول کړي چې د چا

أَقْرَبُهُمَا بَابًا وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا

دروازه ورته نزدې وي او که په دې یو کس مخکې دعوت ورکړی وي او بل رستو نو چې کوم کس

فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

مخکې دعوت ورکړی دی د هغه دعوت دې قبول کړي. (روایت کړې دې احمد، ابو داود)

**توضیح**: اقربهما باباً: دا هغه صورت دی چې په یو وخت کې یو کس ته دوه کسانو د طعام دعوت ورکړو، اوس بهدا مدعو کس څه کوي؟ که ممکنه وي نو دواړو دعوتونو کې دې خوراک وکړي، کمه دې وخوري خو رد کړي دې نه.. یا د کوم کس دروازه چې ډیره نزدې وي نو هغه حقدار دی ځکه محاوره معروفه ده چې "الحق للقریب ثم للبعید" او که په دې کې کوم کس وړومبی دعوت ورکړی وي نو د هغه دعوت قبلول لازم دي. (المرقات ۳۷۵/۶)

## دولیمې دعوت صرف دوه ورځو پورې دی

﴿۱۵﴾ وعن ابنِ مسعودٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دې فرمائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فریلي دي

«طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حق وَطَعَام يَوْم الثَّانِي سنة وَطَعَام يَوْم الثَّالِثِ

چې په وړومبنۍ ورځ د (واده) طعام خوړل حق دی په دویمه ورځ سنت دی او په دریمه ورځ د

سُمْعَةٌ وَمَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]

خپل ځان ته مشهورول دي او چې څوک د ځان د مشهورولو خواهشمند وي الله تعالی به ئې هم ورته واوروي

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۱۳۳ رقم الحديث ۳۷۵۶ وأحمد في المسند ۵/۴۰۸

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۰۳ رقم الحديث ۱۰۹۷

**توضیح**: اول یوم حق: کوم حضرات چې ولیمه واجب ګڼي دا حدیث دهغوی دپاره دلیل دی خود جمهورو په نزد ولیمه سنت ده، کوم حضرات چې ولیمه مسنون ګڼي د هغوی په نزد د دې لفظ ترجمه داسې ده چې په وړومبۍ ورځ خوراک خوړل ثابت دي، بهرحال د دووه ورځو پورې خوراک ورکول هم جائز دي، خو که د دریمې ورځې پورې شي نو دې کې به ریاکاري، ځان ښودنه او د نمائش جذبه شامله وي، اوس که دا کس دا غواړي چې دهغه شهرت وشي تعریفونه یې وشي او هر طرف ته د هغه د سخاوت مشهور تیا وشي چې دې سره هغه د فخر اظهار وکړي "**سمعة**" هم دا مطلب دی. (المرقات ۳۷۶/۶)

**سمع الله به**: یعنی دا کس ریاکاري کوي او د نفس شهرت یې غوښتلو چې معزز شي الله تعالی به یې میدان حشر کې د خلقو په مخکې مشهور کړي چې دا کس دروغژن دی او ریاکار دی او د معزز په ځای به "**محقر**" جوړ شي. (المرقات ۳۷۶/۶)

## د فخر او مقابلې والا دعوت خوړل منع دي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عکرمه د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کړی دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د داسې کسانو

نَهَى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ:

خوراک خوړلو نه منع فرمایلې ده چې په خپل مینځ کې د فخر او مقابلې دپاره وي. (ابوداود) او محیي السنه

وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا[1]

چې دا الفاظ درست دي حضرت عکرمه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په طریقې د ارسال نقل کړی دی

**توضیح**: **المتبارِیین**: دا لفظ د مبارات نه وتلی دی په یو کار کې د یو بل نه مخکې وتو په معنی سره راځي، دلته د دې لفظ نه مراد هغه دوه کسان دي کوم چې ډیر طعام تیار کړي او په خوړلو کې په خپل مینځ کې مقابله کوي او د خلقو د طرف نه تحسین وصولوي چې د چا خوراک ډیر ښه وو، چا ډیرو خلقو له طعام ورکړو او د چا انتظام ډیر بهتر وو د دواړو مقصد نمائش او نام نمود دی، دداسې دعوت طعام خوړل ممنوع دي، چې خلقو کې ددې "ریس" او مقابلې حوصله شکنی وشي او د راتلونکې حدیث هم دا مفهوم دی په دې کې ددې لفظ مفهوم د متعارضان نه واضح کړی شوی دی یعني د یو بل په مقابله کې دعوتونه کوي. (المرقات ۳۷۶/۶)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۱۳۴ رقم الحديث ۳۷۵۴

## الْفَصْل الثَّالِث

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې دهغه دوه كسانو دعوت

«الْمُتَبَارِيَانِ لَا يُجَابَانِ وَلَا يُؤْكَلُ طَعَامُهُمَا».

مه قبلوئ او مه د هغوى خوراک خورئ چې د اظهار فخر اوپه خپل مينځ كې د مقابلې د پاره يې

قَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ: يَعْنِي

پوخ كړى وي، امام احمد دمتباريان د لفظ وضاحت داسې كوي چې د متباريان نه د حضور مراد

المتعارضين بالضيافة فخرًا ورياءً[1]

هغه دوه كسان دى چې په ښكاره د فخر ،ريا او په مقابله كې د يو بل په ضد كې دعوت كوي.

## دفاسق دعوت نه قبلول

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ إِجَابَةِ طَعَامِ

او حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فاسقانو خلقو د دعوت

الْفَاسِقِينَ. أَخرجه البيهقي[2]

قبلولو نه منع فرمايلي ده. (بيهقى)

**توضيح**: الفاسقين: ددې نه مراد مطلق فاسق دى، كه په هر قسم فسق كې مبتلا وي، د فاسقانو او فاجرانو د دعوت نه د ممانعت سبب دا دى چې دا خلق اكثر ظالمان وي اوپه ظلم يې حرام مال جمع كړى وي، دارنګې د هغوى ځاى كې ناسته او دعوت يې قبلول د هغوى د پاره د اعزاز خبره ده، چې د فسق په وجه هغه د دې مستحق نه دى، دارنګې نن كه دې د فاسق خوراک وخوړو نو سباته به ته به هغه خپل مال ته حلال وايې او همدا وجه ده چې حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعا كړې ده چې اى الله! په ما باندې د فاسق احسان مه اچوې چې د هغې زه بدله وركوم. (المرقات ۳۷۶/۶)

---

(1) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۱۲۹ رقم الحديث ۶۰۶۷

(2) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۶۸ رقم الحديث رقم ۵۸۰۳

## دنیک مسلمان دعوت کې شک مه کوه

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي په تاسو کې چې کوم

عَلَى أَخِيهِ الْمُسْلِمِ فَلْيَأْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ وَلَا يَسْأَلْ

کس د مسلمان و رور کره لاړ شي نو د هغه خوراک وخوړئ او اوبه وڅکئ او دا تپوس مه کوئ چې دا خوراک

وَيَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ وَلَا يَسْأَلْ» رَوَى الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]

او اوبه څنګه دي او د کوم ځای نه راغلې دي، دا دریواړه حدیثونه بیهقي شعب الایمان کې نقل کړي دي

وَقَالَ: هَذَا إِنْ صَحَّ فَلِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْمُسْلِمَ

او ویلي یې دي چې دا (آخري) حدیث که صحیح شي نو د دې حکم وجه دا ده چې یو مسلمان په بل مسلمان

لَا يُطْعِمُهُ وَلَا يَسْقِيهِ إِلَّا مَا هُوَ حَلَال عِنْده

باندې خوراک څښاک کوي نو د حلالو نه یې پرې کوي.

**توضیح:** اخیه المسلم: مسلمان رور نه مراد متقي اوپرهیزګار مسلمان دی نو وایي چې د داسې کس په خوراک کې خامخا شک مه کوئ چې دا حلال دی او که حرام، بلکې چې څه پیش کړی شي د څه شک شبهې نه بغیر خوړل پکار دي که دغه کس نیک دی نو هغه به نه پخپله حرام خوراک کوي او نه به په نورو خوړل کوي بلکې په دې تحقیق او تفتیش او ګفتګو او تلاش باندې به هغه ته تکلیف ورسیږي، چې کوم ممنوع دی، او که چیرې د حرام آمدن شک وي نو بیا سوال کولی شي او که په ربنتیا ګټه د حرامو وي نو بیا دې خوراک نه کوي او که دا حلال وي نو بیا خوراک وکړه. (المرقات ۳۷۷/۶)



(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان ۵/۶۷ رقم الحديث ۵۸۰۱

# په کنو ییبیانو کې د نمبر مقرر ولو بیان

## بَاب الْقسم

قال الله تعالى: ((فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ)) (سورة نساء ۳)

وقال الله تعالى: ((وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ)) (سورة نساء ۱۲۹)

**القسم:** په قاف فتحه او سین ساکن دی. دا د قسم یقسم قسمًا مصدر دی. د تقسیم په معنی سره دی، د مال په تقسیم کې چې ډیرو شریکانو ته کله چې مال تقسیم شی او هر یو ته خپله حصه ملاو شي نو هغه تقسیم او قسم دی، دلته مراد په د ډیرو ییبیانو په مینځ کې نمبر مقرر کول او د هغوی په مینځ کې عدل او انصاف او برابری قائم ساتل قسم دی، بعضو ښځو سره شپې تیرولو ته قسم ویلی دی. خو ورپومبنی مفهوم چې ابن همام بیان کړی دی هغه زیات واضح دی، بعضو نور هم په وضاحت سره بیان کړی دی چې د ییبیانو په مینځ شپې تیرولو، خوراک څښاک، کپړو او په مکان کې برابري کولو ته قسم ویلی دی. دا برابری کول واجب دي خو په جماع کولو کې برابری کول ضروري نه دی. ځکه چې ددې تعلق د سړي د نشاط او غوښتنې سره دی، او داسې د زړه محبت کې هم برابری ضروري نه دی، ځکه چې دا یو غیر اختیاري معامله ده. په قرآن کریم کې الله تعالی قسم ته د عدل نوم فرمایلی دی. ځنګه چې په پورتنو ایتونو کې مذکور دی او داسې په احادیثو کې یې هم د برابري او عدل په نوم یاد کړی دی. (المرقات ۳۷۸/۶)

د بعضو علماو خیال دی چې قسم په حضور اکرم ﷺ هم واجب وو، مګر صحیح قول دا دی چې حضور ﷺ د قسم نه مستثنی دی، د قرآنکریم ایت

((تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ))

نه معلومیږي چې حضور ﷺ د قسم پابند نه وو، لیکن د دې باوجود به هم حضور په قسم او عدل عمل کولو، قسم صرف په مدت اقامت کې وي په سفر کې نه وي، دارنګې قسم صرف شپې تیرولو کې دی په ورځ کې نه دی. او که د خاوند ډیوتي د شپې وي نو بیا قسم نمبر دې د ورځ مقرر کړي، د سفر په دوران کې د قرعه اندازی په ذریعه یوه بي بي ځان سره بوتلل بهتر دي، د نمبر موده کم از کم یوه شپه او ورځ ده. د دې نه کم کې تقسیم نه جاري کیږي، لهذا یوه شپه کې دوه ییبیانو سره نمبر مقرر کول صحیح نه دی.

# د ازواج مطهراتو تعداد

## الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې کوم وخت رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو نو په هغه وخت

عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ وَكَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کې د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په نکاح کې نهه بيبيانې وې چې پکې د اتو بيبيانو نمبر مقرر وو. (متفق عليه)

**توضيح: تسع نسوة:** د نبي کريم ﷺ ټولې يوولس بيبيانې وې حضرت خديجه رضي الله عنها او حضرت زينب خزاعيه وفات مخکې شوې وو په دې حديث کې د هغې ازواجو ذکر دی کومې چې د نبی کريم د وفات په وخت کې ژوندی وې. دا ټولې نهه بيبيانې وې، چې نومونه يې دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱.ام المرمنين عائشه صديقه رضي الله عنها | ۲.ام المومنين حفصه رضي الله عنها | ۳.ام المومنين زينب رضي الله عنها |
| ۴.ام المومنين ام سلمه رضي الله عنها | ۵.ام المومنين صفيه رضي الله عنها | ۶.ام المومنين سوده رضي الله عنها |
| ۷.ام المومنين ميمونه رضي الله عنها | ۸.ام المومنين جويريه رضي الله عنها | ۹.ام المومنين ام حبيبه رضي الله عنها |

په دوی کې صرف د اتو نمبر مقرر وو حضرت سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل نمبر حضرت عائشې رضي الله عنها له ورکړی وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له د طلاق ورکولو اراده کړې وه خو حضرت سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته عرض وکړو چې ماله طلاق مه راکوه ځکه چې په دې اميد چې په جنت کې به ستاسو بی بی يم او زه خپل نمبر عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له ورکومه. (المرقات ۳۷۸،۳۷۹/۶)

**د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کثرت ازواجو بحث:** عامو کفارو او اکثرو ملحدين دا اعتراض کړی دی چې د مسلمانانو نبی حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره ډير ودوونه ولې کړې وو او دومره ډيرې بيبيانې يې ولې ساتلې وې.

**جواب:** اهل اسلام او علماء کرام د دې جواب هم ورکړی دی او کثرت ازواجو کې چې کوم مصلحت او ضرورت دی هغه يې هم بيان کړی دی نو حقيقت دا دی چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو ډير لوی مصلحت او حکمت لاندې ډيرې نکاح ګانې کړې وې په دې کې څه نفساني خواهش نه وو ځکه

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۱۱۲ رقم الحديث ۵۰۶۷ ومسلم في ۲/۱۰۸۶ رقم الحديث (۱۴۶۵.۵۱) والنسائي في ۶/۵۳ الحديث ۳۱۹۷ وأحمد في المسند ۱/۲۳۶

حضور ﷺ د ۲۵ کالو د ځوانۍ په عمر کې د ۴۰ کالو یوې معمرې ښځې حضرت خدیجې سره نکاح کړې وه، دوه ځله کونډه شوې وه که حضور نفسانی خواهش مجبوره کړی وی نو هیڅوک به یې دا نکاح نه وه کړې ځکه چې په قریشو کې د هغه دپاره جینکی ډیرې وې. تر څو پورې چې حضرت خدیجه موجوده وه نو ۵۳ کالو پورې حضور دویم واده نه وو کړی. د حضرت خدیجې د وفات نه پس حضور ﷺ د یو څو حکمتونو د وجې په کثرت ازواج باندې عمل وکړو چې په هغې کې دا لاندې حکمتونه پټ وو. ۱. ازدواجی زندګي او د کور معاملات دا د نیم دین برابر دي، نیم شریعت یوه یا دوه بیبیانې ټول امت ته نشي رسولی دایو واضح حقیقت دی چې ازواجو مطهراتو د دین یوه لویه حصه امت ته رارسولې ده او یوه لویه حصه یې محفوظه کړې ده. د هجرت نه پس دا مسائل او احکامات ډیر زیات شول په دې وجه حضور ﷺ د بیبیانو په تعداد کې اضافه وکړه د حضرت عائشې نه علاوه ټولې کونډې وې او د خواهش په بنیاد نه بلکه ضرورت وو. ۲. حضور ﷺ د اسلام خورولو دپاره د عربو په عامو قبیلو کښې رشتې قائمې کړې خلقو سره رشتې قائمولو سره به میل جول پیدا شو کله چې دا رشتې قائمې شوې نو خلقو کې قلبي احساسات او جذبات او عداوت اعتدال ته د راوستو موقع برابره شوه، او دا یو واضح حقیقت دی چې د حضور د دې رشتو په وجه چې کومو خلقو اسلام سره دښمنی وې هغه کمې شوې، پخپله ابوسفیان چې د کافرانو مشر وو کله چې ورته معلومه شوه چې د هغه لور ام حبیبه حضرت محمد ﷺ سره نکاح کړې ده نو هغه ووې "ذاک فحل لا یقدع" یعنی دا یو داسې ځوان دی چې دده خبره او پیغام نه تکراویږي. ۳. د عربو بعضو قبیلو کې زیات تر خلق د مسلمانانو په غلامی کې راغلي وو حضور ﷺ په داسې قبیلو کې نکاح ګاني وکړې چې د ډیرو غلامانو د آزادی سبب جوړ شو د حضرت جویریه سره د نکاح په وجه ډیرو صحابه کرامو ډیر غلامان آزاد کړل چې دا قبیله اوس د حضور ﷺ د سخرګنۍ قبیله ده. ۴. حضور ﷺ له الله تعالی د څو سوو انسانانو برابر طاقت ورکړی وو په دې بنیاد باندې چې حضور ﷺ له ډیرو دونه پکار وو، په حضور ﷺ باندې اعتراض کول د انساني حق د ضائع کولو برابر دی. نو مونږه د عیسائیانو نه تپوس کوو چې حضرت عیسی زاده ولې نه ووکړی؟ نو د دې ځه جواب ورکوئ؟ مونږ تاسو نه دا تپوس کوو چې دې ستاسو نبی تاسو ته د ازدواجی ژوند متعلق څه تعلیم درکړی دی؟ چې په هغې تاسو عمل وکړئ په کورنۍ معاملاتو کې په زرګونو مسائل موجود دي تاسو لره دې څه حل موجود دی، ستاسو په دین کې د دې کمی دی، او هغه کمی د حضرت محمد ﷺ دین پوره کړی دی. چې مونږه په حضرت عیسی د برحق نبی کیدو اعتراض نه کوو نو بیا تاسو په نبی برحق حضرت محمد باندې اعتراض ولې کوئ.

## بنځه خپل نمبر خپلې بَن له ورکولی شي

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ

او حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې کله د حضرت سودې رضي الله عنها عمر زيات شو نو هغې عرض او کړو چې اى د الله رسوله!

قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ فَكَانَ

تاسو چې زما د پاره کومه ورځ مقرر کړې ده زه هغه حضرت عائشه رضي الله عنها ته ورکومه دې نه پس بيا

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَسِّمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ متفق عليه (صَحِيح) (۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم به عائشه رضي الله عنها کره دوه ورځې تيرولې يوه ورځ د هغې خپله او بله د حضرت سوده رضي الله عنها ورځ.

﴿۳﴾ وَعَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْأَلُ فِي

او حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم به په بيمارۍ کې په کومه کې چې د هغوی

مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ: «أَيْنَ أَنَا غَدًا؟»

وفات وشو روزانه به يې دا تپوس کولو چې سبا ته به چاکره يم سبا ته به د کومې بى بى کور ته ځم

يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ

دې د عائشهؓ نمبر ورځ ئې غوښتله نو ټولو دا اجازت ورکړو چې د چاکره ئې زړه غواړي نو هلته دې اوسيږى، بيا

فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) (۲)

حضرت عائشهؓ کره مقيم شو او هم هلته د حضرت عائشهؓ کره يې وفات وشو. (بخارى)

**توضيح:** **فاذن له ازواجه:** د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم د حضرت عائشې رضي الله عنها سره ډيره مينه وه، په دې وجه د بيمارۍ په حالت کې پيغمبر عليه السلام د قلبي سکون حاصلولو دپاره د حضرت عائشې رضي الله عنها د نمبر بار بار تپوس کولود پيغمبر عليه السلام اراده هم داوه چې هغه له د حضرت عائشې کره د تلو اجازت ټولې بيبيانې ورکړي دې دپاره ټولو اجازت ورکړو. او د هغه انتقال د حضرت عائشې رضي الله عنها کره وشو او عجيبه اتفاق وو چې کله د حضرت عائشې رضي الله عنها نمبر راغى نو د پيغمبر عليه السلام د عائشې رضي الله عنها په نمبر کې انتقال وشو او حضرت سودې خو مخکې خپل نمبر حضرت عائشې له ورکړى وو. خلاصه داده چې يو بن خپل نمبر بلې بن له ورکولى شي په دې شرط

---

(۱) أخرجه البخارى في صحيحه ۹/۳۱۲ رقم الحديث ۵۲۱۲، ومسلم في ۲/۱۰۸۵ رقم الحديث (۱٤٦۳.٤٧) وابن ماجه في السنن ۱/٦۳٤

(۲) أخرجه البخارى فى صحيحه ۹/۳۱۷ رقم الحديث ۵۲۱۷ وأحمد فى المسند ٦/٧٦ .

چې د خاوند د طرفه جبر نه وي او نه د خاوند څه غلطه اراده یا څه لالچ وي دلته یو څو ضروری نکتې دي چې علامه طیبي بیان کړي دي: ۱. که یوه ښځه خپل نمبر خپلې بن له ورکوي نو د خاوند دپاره یې قبلول لازم نه دي دهغه اختیار دی که قبلوي یې او که نه. ۲. خاوند چې کله د یوې بې بي متعلق نمبر قبول کړي نو هغه به اوس ډبل وخت هلته تیروي کومې ښځې ته چې دوه نمبرې ملاو شوې، خو ښځې ته دا اختیار نشته چې اضافه نمبر مسترد کړي. ۳. خپل نمبر تحفه کونکې ښځه چې کله وغواړي رجوع کولی شي داد هغې مرضي ده. ۴. دا هم جائز دي چې ښځه براه راست خپل نمبر خاوند ته عطیه کړي بیا خاوند ته اختیار دی چې کومې ښځې د پاره یې مقرروي. ۵. او که یو بې بي خپل نمبر ترک کړه خو د چا دپاره مقرر نه کړه اوس خاوند به ټولو بیبیانو سره نمبر برابر ساتي، البته د تحفه کونکې ښځې نمبر هم ختم شو. ۶. نمبر تحفه کولو دپاره څه روپې وغیره اخستل جائز نه دي. (المرقات ۳۸۱/۶، کاشف ۳۳۳/۶)

## په سفر کې یوتلو دپاره په بیبیانو کې پچه اچول (قرعه اندازي)

﴿۴﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې کله به رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سفر اراده کوله نود بیبیانو په

أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَأَيُّهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

مینځ کې به یې قرعه اندازي کوله د چا نوم به چې په قرعه اندازي کې راووته نو هغه به یې ځان سره بوتلله

**توضیح**: اقرع: په سفر کې بوتلو د پاره د بیبیانو په مینځ کې قرعه اندازي کول د امام شافعي په نزد واجب دي، خو د امام مالک او امام ابو حنیفه په نزد په سفر کې د بې بي بوتلو دپاره قرعه اندازي ضروري نه ده. بلکې خاوند ته اختیار دی چې څوک بوځي. بغیر د قرعه اندازي نه. امام شافعي په دې مذکور حدیث سره استدلال کړی دی، کوم چې بالکل واضح دی چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ به په سفر کې بوتلو د پاره قرعه اندازي کوله. امام مالک او امام ابو حنیفه فرمایي چې په سفر کې د نمبر نظام او ترتیب ختم شوی دی نو چې کله سفر کې د ښځې بوتلل واجب نه دي نو قرعه اندازي څنګه واجب شوه؟ په حدیث کې چې د قرعې کوم ذکر راغلی دی دا د تطییب خاطر د پاره وو چې په استحباب باندې محمول دی. (المرقات ۳۸۰/۶)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۹۳ رقم الحديث ۲۶۸۸ ومسلم في ۴/۲۱۲۹ رقم الحديث (۵۶، ۲۷۷۰) وابن ماجه في السنن ۱/۶۳۳ رقم الحديث ۱۹۷۰ والدارمي في ۲/۱۹۴ رقم الحديث ۲۲۰۸ وأحمد في المسند ۶/۴۰۶۹

## دنوې ناوې دپاره دنمبر مقرروالو مسئله

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: مِنَ السُّنَّةِ

او حضرت ابو قلابه (تابعي) د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کړی دی چې هغوی فرمايلي دي چه مسنون ده

إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سبعا

چې کله يو کس د ثيبې په موجودګی کې د ويې باکرې سره نکاح وکړي نو ورسره دې اووه[۷] شپې اوسي

وَقسم إِذا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا

اوسي او بيادې نمبرواري مقرر کړي او که ثيبې سره نکاح وکړي نو هغې سره دې دريې شپې تيرې کړي

ثُمَّ قَسَمَ. قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: وَلَو شِئْت لَقلت: إِن أَنَسًا

او بيادې نمبرواري مقرر کړي. حضرت ابو قلابه فرمايي که چيرې زه وغواړم نو وبه وايم چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متفق عليه (صَحِيح)[۱]

دا حديث د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړی دی.

**توضيح:** **اقام عندها سبعا:** که چيرې د يوکس د يونه زياتې ښځې وي نو اتفاقًا د ټولو په نزد په هغوی کې عدل او انصاف قائمول واجب دي او داسې که چيرې خاوند نوی واده کړی وي نو که باکرې سره يې واده کړی وي نو د اووه ورځو نه مخکې دې هغی سره اوسي، او ثيبه سره دې دريې ورځې اوسيږي، په دې کې د چا اختلاف نشته البته اختلاف په دې کې دی چې کله دا اعزازي او اضافي ورځې ختمې شي نو بيا باقي ښځيانو ته هم دومره ورځې ورکول دي او که نه دا صرف د نوې ناوې دپاره اعزاز دی. (المرقات ۳۸۱/۶)

**د فقهاء کرامو اختلاف:** جمهور فرمايي چې په د نمبر کې وړاندې کيدل هم د نوې ناوې حق دی، اوبيا دا ورځې د تقسيم نه مستثنی ساتل هم د نوې ناوې حق دی، اووه ورځې د باکرې ښځې او دريې ورځې د ثيبې ښځې دي، نمبر د دغو ورځو نه پس شروع کيږي، داد موج ورځې دي د سوچ ورځې نه دي. (المرقات ۳۸۱/۶)

امام ابو حنيفه فرمايي چې صرف وړاندې کيدل د دې نوې ناوې حق دی د تاليف اوتانيس په غرض

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۱٤ رقم الحديث ٥٢١٤، ومسلم في ۲/۱۸٤ رقم الحديث (۱٤٦١.٤٤) وأبوداؤد في السنن ۲/٥٩٥ رقم الحديث ۲۱۲ والترمذي في ۳/٤٤٥ رقم الحديث ۱۱۳۹ والداري في ۲/۱۹٤ رقم الحديث ۲۲۰۹ ومالک في الموطأ ۲/٥۳۰ رقم الحديث ۱٥

سره دا ورځې به وړومبی دېته ملاویږي بیا به دا ورځې په نمبر کې شمیرلی شي څنګه چې نوري انتظار کوی داسې به دا هم انتظار کوي دا دهوش کار دی د جوش کار نه دی.

**دلائل**: جمهور دمذکوره دحضرت انس د روایت نه دلیل پیش کړی دی، جمهور فرمایي چې دا واضح حدیث دی او د شریعت قانون او ضابطه ده. (المرقات ۳۸۱/۶)

ائمه احنافو د دې سره د ابوبکر بن عبد الرحمن د روایت نه دلیل نیولی دی په هغې کې دحضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا واقعه ده چې په هغې کې تصریح (وضاحت) موجود دی چې دغه ورځې به په تقسیم کې شمارلی شي ځکه "**سبعت عندک وسبعت عندهن**" ددې الفاظو نه واضحه بنکاریږي چې دا ورځې د تقسیم نه بهر اضافی ورځې نه دي بلکې صرف وړاندې کیدل اعزاز دی. (المرقات ۳۸۲/۶، ۳۸۱)

**جواب**: د جمهورو د دلیل نه جواب دا دی چې هلته د تفضیل او اعزاز او اکرام د ورځو د زیاتوالي د وجې نه دی، څنګه چې بیسی (کمیټي) اچولو دپاره دیو رکن ته د رعایت دپاره بیسی نمبر ورکولی شي ددې دا مطلب نه دی چې دا د دې ترتیب نه بهر شو.

**دویم جواب**: دا دی چې د حضرت انس روایت مجمل دی ددې تفصیل دحضرت ام سلمه په روایت کې شته دی لهذا د خپلول پکار دي یا دا چې نورو ییبیانو کې د صلحې صورت جوړ شي او د هغوی په مرضۍ سره دا اعزازي ورځې نوې ناوې تاورکړی شي نو په دې کې بیا بحث نشته.

احنافو د قرآن کریم د هغه ایتونو نه دلیل پیش کړی دی چې په هغې کې په عدل او انصاف او برابري باندې زور ورکړی دی خواه ښځه قدیمه وي او که جدیده دواړو کې فرق نشته.

| |
|---|
| ﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمَنِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ |
| او حضرت ابوبکر بن عبد الرحمن وایي چې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله د حضرت ام سلمه سره نکاح وشوه |
| وَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ قَالَ لَهَا: «لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ |
| نو په دویم سحر ئې هغی ته وفرمایل چې ستا د خاندان والو دپاره او ستا له طرفه په دې کې هیڅ ذلت نشته |
| إِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ عِنْدَكِ وَسَبَّعْتُ عِنْدَهُنَّ وَإِنْ شِئْتِ |
| که ته غواړې نو زه به تاسره اوه شپې تیرې کړم او بیا به نورو ییبیانو سره اووه اووه شپې تیرې کړم، او که ته غواړې او که ته |
| ثَلَّثْتُ عِنْدَكِ وَدُرْتُ». قَالَتْ: |
| غواړې نو تاسره به دري شپې ایسار شم او دې نه پس به نورو ییبیانو سره، حضرت ام سلمه چې دا واوریدل نو عرض یې وکړه |

ثَلَاثٌ. وَفِي رِوَايَةٍ: إِنَّهُ قَالَ لَهَا: «لِلْبِكْرِ

چې ماسره دري شپې تيري کړه. په يو روايت کې د الفاظ را غلي دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ام سلمه ته وفرمايل چې باکرې سره

سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ». رَوَاهُ مُسلم (جيد)[1]

اوه شپې ثيبې سره دري شپې تيرول پکار دي.

**توضيح: على اهلك:** داهل نه مراد د نبي کريم ذات مراد دی، يا د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قبيله مراد ده او مفهوم واضح دی، يعني دلته ستا هيڅ ناقدري نشته، خو شرعی مسئله دا ده چې د ثيبې حق دري ورځې دی که تا سره اوه ورځې تيرومه نو اوه ورځې به نورو ښځو سره تيرومه چې عدل او انصاف قائم وي. علماء کرامو ليکلي دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له بطور اعزاز او اکرام د باکرې درجه ورکړه او د اوو ورځو خبره يې ورسره وکړه دا ابتدائي کلام د آينده کلام ديارہ بطور تمهيد دی بيايې وفرمايل چې که زه دري ورځې تا سره تيرې کړم نو زه به بيا نورو ښځو ته هم اوه ورځې تيرې کړم، ام سلمه دري ورځې اختيار کړې چې شرعي قاعدې مطابق شي او ورځې به هم کمې شي نو حضور به دوباره زرد حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره راشي.

ائمه احناف خپل مسلک ديارہ په دې روايت سره دليل نيولی دی، او ټول شارحين هم دا بيان کوي چې د ام سلمه روايت د احنافو دليل دی، خو دا دليل په مکمل طور باندې واضح نه دی چې خصم خاموش شي ځکه چې ام سلمه کونډه وه او مونږ ته د باکرې او ثيبې دليل پکار دی، مګر دا چې ام سلمه له د باکرې درجه ورکړی شي ځنګه چې بره اشاره شوې ده. (المرقات ۳۸۲/۶)

## قلبي محبت د قسم نه مستثنی دی

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۷﴾ عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د خپلو ښځو په مينځ کې نمبر مقرر کړی وو

فَيَعْدِلُ وَيَقُولُ: «اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ

او د عدل نه يې کار اخسته دا دعاء به ئې غوښتله چې اې الله! چې د کوم څيز زه مالک يم په دې ما نمبر مقرر کړې دی.

فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

لهذا د کوم څيز چې ته مالک يې او زه يې مالک نه يم په دې ما مه ملامته کوه (روايت کړې دي دې لره ترمذی، او ابوداؤد

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۸۳ رقم الحديث (۱۴۶۰،۴۲) وأبوداؤد في السنن ۲/۵۹۴ رقم الحديث ۲۱۲۲ والدارمي في ۲/۱۹۴ رقم الحديث ۲۲۱۰ ومالک في الموطأ ۲/۵۲۹ رقم الحديث ۱۴ من كتاب النكاح

وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي (صَحِيح)[1]

او نسائی، ابن ماجه، دارمی) (صحیح دي)

## په بيبيانو کښې برابري نه کولو باندې سزا

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړي دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ او فرمائيل: چې

«إِذَا كَانَتْ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا

د کوم کس په نکاح کې (ديو نه زياتې مثلاً) دوه بيبيانې وي او هغه د دواړو په مينځ کې عدل وبرابری نه کوي نو هغه بد

جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

قيامت په ورځ (په ميدان حشر کې) په داسې حال کې راشي چې نيم بدن به يې ناکاره وی. روايت کړې دې ترمذی،

وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

او ابوداود او نسائی او ابن ماجه او دارمی)

## په ازواج مطهراتو کې د نمبر مقرر ولو تفصيل

## الْفَصْل الثَّالِث

﴿۹﴾ عَنْ عَطَاءٍ قَالَ: حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ

حضرت عطاء ابن رباح تابعي وايي چې مونږ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په مقام سرف کې د ام المؤمنين

بِسَرِفَ فَقَالَ: هَذِهِ زَوْجَةُ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ميمونې په جنازه کې شريک وو نو حضرت ابن عباس وفرمايل چې (کورئ) دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوجه مطهره

فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوهَا وَلَا تُزَلْزِلُوهَا

ده چې کله د دې جنازه اوچته کړئ نو هيڅ حرکت به نه ورکوئ (د تعظيم او تکريم د تولو تقاضو به خيال ساتئ)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦۰۱ رقم الحديث ۲۱۳٤ والترمذي في السنن ۳/٤٤٦ رقم الحديث ۱۱٤۰ والنسائي في ۷/٦۳ رقم الحديث ۳۹٤۳ وابن ماجه في ۱/٦۳۳ رقم الحديث ۱۹۷۱، والدارمي في ۲/۱۹۳ رقم الحديث ۲۲۰۷ وأحمد في المسند ٦/۱٤٤

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦۰۰ رقم الحديث ۳۱۳۳، والترمذي في ۳/٤٤۷ رقم الحديث ۱۱٤۱ والنسائي في ۷/٦۳ رقم الحديث ۳۹٤۲ وابن ماجه في ۱/٦۳ رقم الحديث ۱۹٦۹ والدارمي في ۲/۱۹۳ رقم الحديث ۲۲۰٦ وأحمد في المسند ۲/۳٤۷

وَارْفُقُوا بِهَا فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ډيره په مزه به يې او چتوئ ځکه چې دا په هغه ازواجو مطهراتو کې ده چا د پاره چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نمبر مقرر

تِسْعُ نِسْوَةٍ كَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ

کړې وو د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهه بيبيانې وې په دې کې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دا تو د پاره نمبر مقرر کړی وو او د يوې د پاره نمبر نه مقرر

لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَاءٌ: الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْسِمُ لَهَا بَلَغَنَا

شوی، حضرت عطاء وايي چه هغه زوجه مطهره چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله نمبر نه وو مقرر کړی هغه

أَنَّهَا صَفِيَّةُ وَكَانَتْ آخِرهنَّ موتا مَاتَت بِالْمَدِينَةِ

صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وه او د رسول کريم ﷺ په بيبيانو کې د ټولو نه په آخر کې په مدينه کې وفات شوه

وَقَالَ رَزِينٌ: قَالَ غَيْرُ عَطَاءٍ: هِيَ سَوْدَةُ

او د رزين بيان دی چې نورو ائمه د حديثو نه نقل دي چې هغه زوجه مطهره چې بلکه حضرت سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وه

وَهُوَ أصح وهبت يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ حِينَ

او دا قول صحيح دی او حضرت سودهٔ خپل نمبر ورځ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له ورکړې وه کله چې

أَرَادَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَاقَهَا فَقَالَتْ لَهُ:

حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سودې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له د طلاق ورکولو اراده وکړه نو هغې ورته عرض او کړو

أَمْسِكْنِي قَدْ وهبت يومي لعَائِشَة لعَلي أكون

چې زه خپل نمبر حضرت عائشې له ورکومه تاسو ما په خپله نکاح کې وساتئ چې په جنت کې ماته

من نِسَائِك فِي الْجنَّة (أخرجه البخاري ومسلم)[1]

ستاسو په بيبيانو کې د شاملیدو شرف حاصل شي.

**توضيح** : قال عطاء: د حضرت ميمونې نکاح په ۶ هجري کې په مقامِ سرف کې وشوه هلته شب زفاف وشو هم هلته دعوت وليمه او هم هلته وفات شوه او هلته دفن شوه او هم هلته يې قبر موجود دی. دا ځای د تنعيم نه مدينې طرف ته په وادي فاطمه کې دی او د سړک نه يې قبر په نظر راځي،

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۱۱۲ رقم الحديث ۵۰۶۷ ومسلم في ۲/۱۰۸۶ رقم الحديث (۱۴۶۵.۵۱) والنسائی في ۶/۵۳ رقم الحديث ۳۱۹۶ وأحمد في المسند ۱/۳۴۸

حضرت ميمونه د حضرت ابن عباس ترور وه د مورنوم ئې هنده وو د هغې خپل نوم بره وو حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله ميمونه كيخود. (المرقات ۳۸۵/۶)

**انها صفية:** د كومې زوجې مطهرې چې نمبر نه وو مقرر شوی هغه حضرت سوده وه، حضرت صفيه نه وه دلته د راوي نه غلطي شوې ده چې د صفيه نوم يې اغستی دی. دلته دوه متضاد روایاتونه دي مګر صحيح داده چې حضرت سوده وه. علامه خطابی فرمايي چې د عطاء په قول کې د نمبر معاف کولو والا حضرت صفيه وه دا د يو راوي نه غلطي شوې ده يعني حضرت عطاء خو د حضرت سوده نوم اغستی ووخو راوي د حضرت سوده په ځای د حضرت صفيه نوم ذکر کړی دی او دايې نقل کړی دی. په دې راويت کې دويمه غلطي دا شوې ده او دايې په کې ويلي دي چې د حضرت صفيه انتقال په آخر کې شوی دی دهغې انتقال پنځوس ۵۰ هجري ته نزدې شوی دی. دلته د حضرت ميمونې ذکر بهتر دی ځکه چې دهغې انتقال په شپږ شپېته ۶۶ هجري کې وشو او د نورو بيبيانو انتقال زيات تر پنځوس ۵۰ هجري ته نزدې شوی دی اود حضرت عائشې وفات په اوه پنځوس ۵۷ هجري کې په مدينه کې شوی د، دا هم ويل شوې دي چې اته پنځوس ۵۸ هجري کې شوی دی. د حضرت سوده وفات په څلور پنځوس ۵۴ هجري کښې، د حضرت صفيه په پنځوس ۵۰ هجري کې يا يو څلويښت ۴۱ هجري کې، د حضرت ام سلمه په نهه پنځوس ۵۹ هجري کې، د حضرت ام حبيبه انتقال په څلور څلويښت ۴۴ هجري يا دري څلويښت ۴۳ هجري کښې، د حضرت زينب بنت جحش انتقال په شلم ۲۰ يا يويشتم ۲۱ هجري کې، او د حضرت جويريه انتقال په پنځوسم ۵۰ هجري کې وشو. اوس که دلته د حضرت ميمونې نوم وو نو دا به بهتر وو ځکه چې د هغې انتقال د ټولو نه په آخر کې شوی دی، خو دلته بيا دا اشکال پيدا کيږي چې مذکور روايت کې "ماتت بالمدينة" الفاظ راغلي دي حالانکې د حضرت ميمونې انتقال په مقام "سرف" کې شوی دی.

الله تعالى ډير ښه پوهيږي چې په دې روايت کې دومره ګډوډي ولې ده، شارحين عاجز او حيران دي چې څه وکړي.



# بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنَ الْحُقُوقِ

## کورنی ژوند او د ښځې او خاوند د حقوقو بیان

قال الله تعالى (وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ) (نساء ۱۹)

وقال الله تعالى (وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ) (بقرة ۲۲۸)

**عشرة النساء:** عاشر يعاشر معاشرة وعشرة: يو بل سره ملاقات، يوځای اوسيدو ته "عشرة" وائي، د دې نه عشيره او عشائر ماخوذ دي، د سړې په خاندان، قبيلې او برادرۍ باندې چې مشتمل وي. عشير خاوند ته هم ويلی شي. دلته د ښځې او خاوند يوځای د اوسيدو او زندګي تيرولو اصول او قواعد مراد دي.

**وما لكل واحدة:** د هر ښځې خپل حيثيت او کيفيت وي. بعضې پيغلې وي او بعضې واده کړې وي، بعضې مالداره وي او بعضې غريبې او بعضې ميانه حالې وي، او بعضې خوش اخلاقه او بعضې بد اخلاقه، ددې ټولو پيش نظر "وما لكل واحدة" لفظ استعمال شوی دی په دې کې دهر قسمه ښځې بيان دی، ورنه ددې لفظ د استعمالولو ضرورت نه وو، دمشکوة شريف د متن په ټولو نسخو کې **لكل واحدة** الفاظ دي، دا الفاظ ډير بهتر دي، ځکه چې په سړو او ښځو دواړو قسمه افراد شامل دی.

په دې باب کې هغه احاديث شامل دي چې په کې د ښځې او خاوند دکورنۍ نظام، د هريو حقوق، او دواړو ته د صبر او تحمل تاکيد او قواعد ذکر شوي دي، او د دواړو په مينځ کې د خوش اخلاقۍ څه مثالي قصو په شکل کې بيان شوې دي.

## د ښځو د تخليقي کمزورۍ خيال ساتل

### اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل |
| «اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ |
| چه د ښځو په حق کې د ښيګړې وصيت قبول کړئ ځکه چې دا دهغې پوښتنې نه پيدا شوې دي چې کږه ده او د |

وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ

تولو نه زیات کوږوالی په هغې پوښتې کې دی چې پورته ده لهذا که ته ددې د نیغولو کوشش کوې نو دا به ماته شی

وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ» (صَحِيحٌ)[1]

او که خپل په حالت کې یې پریږدې نو دا به همیشه کږه وې نو په دې وجه د ښځو په حق کې د ښېګړې وصیت قبول کړئ.

**توضیح** : **من ضلع**: ضلع د ضاد کسرې او د لام فتحې سره پوښتې ته وایې، دا مفرد دی او اضلاع یې جمع ده، او دلته مراد د تولو نه زیاته کږه پوښتې ده، حضرت حواء د حضرت آدم د وړې پوښتې نه پیدا شوې ده چې د تولو نه زیاته کږه وي، لهذا په دې وجه د ښځې په طبیعت او مزاج کې کوږوالی وي، دا د ښځې دتخلیقی مزاج حصه ده، په دې حدیث کې د ښځې عیبونه او نقصانونه بیانول مقصود نه دی، بلکې د هغوی د خلقت او استعداد او د طبیعت بیان شوی دی، کوم چې د هغوی نفسیات او استعداد او حالات دي د هغې مطابق په هغوی باندې بوج اچول پکار دي، که چیرې دهغوی د طبعي استعداد نه سوا پرې بوج اچوې نو د سیده کیدو په ځای به خراب حالت ته لاړې شي. خلاصه داده: چې د ښځو سره د هغوی د مزاج مطابق د ګزارې حده پورې زندګي تیرول پکار دي. (المرقات ۳۸۷/۶)

**فاستوصوا**: ددې جملې یوه ترجمه داده چې د ښځو باره کې چې کوم نصیحت او وصیت دی، د هغې په حق کې زما نصیحت او وصیت ښه قبول کړئ. دویمه ترجمه داده: چې په خپل مینځ کې د یو بل ښځو متعلق د ښېګړې خبرې کوئ په دې حدیث کې ښځو سره د نرمۍ او د ښه سلوک تعلیم ورکړی شوی دی، او د هغې په بد اخلاقۍ باندې د صبر او برداشت (زغم) سبق ورکړی شوی دی. هغوی ته طلاق ورکول ناخوښه فعل ګڼلی شوی دی، چې د ښځې د مکمل برابرولو امید او توقع نه لرل. (المرقات ۳۸۷/۶)

دا یاد ساتل پکار دي چې داصبر په کور کې دوړو جنګ جګړو باره کې دی، که ښځه په ښکاره په ښکاره څه ګناه کوي نو په سړو دا لازمه ده چې هغوی دې آزادي نه پریږدي بلکې هغوی دې پابندي کړي او د آزادۍ اجازت دې نه ورکوي. دا پورته پوښتې نه هغه وړه پوښتې مراد ده کومه چې د ملا سره ده.

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو هریره رضي الله عنه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۵۳ رقم الحديث ۵۱۸۶ ومسلم في ۲/۱۰۹۱ رقم الحديث (۱۴۶۸.۶۰)

«إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ

چې ښځه چونکه د حضرت آدمؑ د پوښتنې نه پیدا شوې ده نو حکه چې دا په یو حالت کې هم سیده کیدی نه شي. لهذا که

فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا

ته د هغې نه څه فائده اخلې نو د هغې نه به د کوږوالي په حالت کې فائده اخلې او که چیرې ته هغه سیده

كسرتها وَكسرهَا طَلاقهَا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]

کول غواړې نو ماته به شي او ماتوالی یې طلاق دی. (مسلم)

## ښځو سره ښه سلوک اختیارول

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد نقل کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلی دی

«لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ

چې په تاسو کې یو مسلمان سړی دې دیوې مسلمانې ښځې سره بغض نه ساتي که ستاسو په نظر کې ناخوښه وي

مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

په هغه ښځه کې څه عادت، نو بل خوا به په هغې کې دخوښې عادت هم وي. (مسلم)

**توضیح** لایفرک دا صیغه د نهي ده خو په نفي کې استعمال شوې ده، چې خاوند له دا مناسب نه دي چې د ښځې نه دې نفرت وکړي. فرک یفرک سمع یسمع بغض، حسد، او نفرت ته وایي. خاصکر د ښځې او خاوند په مینځ کې چې کوم نفرت او کراهت وي هغې ته "الفرک" وایي، ددې حدیث دا مطلب دی چې په یو کس کې ټول په ټوله عادات، حرکات او اخلاقیات خراب نه وي، که چیرې د یوانسان اعمال خراب وي نو په هغه کې به ښه عادات هم وي په یو نیم خراب عادت باندې بالکل پریخودل نه دې پکار بلکې د هغې د خرابو عاداتو نه علاوه د هغې ښو عاداتو ته کتل پکار دي. (المرقات ۳۸۹/۶) بالکل د عیب نه پاک یار لټولو والا بغیر د یار نه پاتې کیږي.

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۲۵۲ رقم الحديث ۵۱۴۸، ومسلم في ۲/۱۰۹۱ رقم الحديث (۱۴۶۸.۵۹) والترمذي في السنن ۳/۴۹۳ رقم الحديث ۱۱۸۸ والدارمي في ۲/۱۹۹ رقم الحديث ۱۹۹ رقم الحديث ۲۲۲۲ وأحمد في المسند ۲/۵۳۰

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۹۱ رقم الحديث (۱۴۶۹.۶۱) وأحمد في المسند ۲/۳۲۹

خلاصه دا ده چې د ښځې ښو اخلاقو او ښائسته صفاتو او ښو عاداتو ته کتل او په بدو عاداتو باندې صبر کول دي.

## کورواليو هرې ښځې ته په وراثت کې ملاوشوی دی

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ لَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ وَلَوْ لَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوجَهَا الدَّهْرَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلي دي که بنی اسرائیل نه وی نو غوښه به نه خرابیده او که حواء نه وی نو یوې ښځې به هم خپل خاوند سره خیانت نه کوه. (بخاری ومسلم)

**توضیح: لولا بنو اسرائیل:** بنی اسرائیل په میدانِ "تیه" کې سرکاري او شاهي میلمانه وو هغوی ته به سحر او مابنام ترنجبین او تازه غوښه ملاویده خو هغوی یې د غوښې د ذخیره کولو نه منع کړې وو، هغو خلقو د حرص او لالچ په وجه غوښه ذخیره کول شروع کړل ددې نه مخکې به غوښه نه خرابیده او سړه به طور غوښه خرابیدل شروع شوه او ترننه ورځې پورې ټول انسانیت ته داسزا ملاویږي. (المرقات ۳۸۹/۶)

**لم تخن:** دلته د خیانت نه مراد په مال یا دولت کې خیانت مراد نه دی بلکې دلته د خیانت نه مراد کورواليو او اعوجاج دی کوم چې د زنانو په تخلیق کې شامل دی. حضرت حواء حضرت آدم ته د غنم خوړولو وویل خو حضرت آدم ورته وفرمایل چې الله تعالی منع کړې یو، حضرت حواء ورته وفرمایل چې الله تعالی ددې ځای د باغ د ونې نه منع کړې یو مونږ به د بلې علاقې د ونې نه وخورو (ولاتقربا هذه الشجرة) مشار الیه یوه خاصه ونه ده کله چې حضرت حواء د ونې څانګه ونیوله او لاندې یې راخکته کړه نو څانګه ماته شوه، نو دهغې نه وینه روانه شوه څانګې ورته خیرې وکړې چې الله دې د تانه هم داسې وینه روانه کړي چې څنګه دې زمانه روانه کړه نو په دې وجه د ښځو ماهواري شروع شوه، ددې خیرو په وجه ښځو ته د حیض بیماري ولګیده، او دویمه دا چې د هغې په طبیعت کې د استقامت په ځای د کورواليو بیماري پیدا شوه. (المرقات ۳۸۹،۳۹۰/۶)

## بغیر ضرورته د ښځو وهلو ممانعت

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت عبد الله بن زمعه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړې دي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ٦/٤٣٠ رقم الحديث ٣٣٩٩ ومسلم في ٢/١٠٩٢ رقم الحديث (٦٣،١٤٧٠) وأحمد في المسند ٢/٣٠١

«لَا يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ»

چې يو سړی دې خپله ښځه د غلام پشان په بې دردی نه وهي او بيا ورسره د ورځې په آخره حصه کې همبستري کوي. په يو

وَفِي رِوَايَةٍ: «يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ

روايت کې داسې هم دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې په تاسو کې يو کس اراده کوي او وهي

امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا فِي آخِرِ يَوْمِهِ».

خپله ښځه د غلام په شان او دا سوچ نه کوي چې په آخري حصه کې ورسره همبستري کوي

ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضِحْكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ: «لِمَ يَضْحَكُ

بيانبی عَلَيْهِ السَّلَام د هوا په خارجيدو باندې د خندا باره کې نصيحت وکړو چې يو کس په داسې کار پورې خندا کوي

أَحَدُكُمْ مِمَّا يفعل؟» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

حال دا دی چې هغه کار هغه پخپله هم کوي. (بخاری ومسلم)

**توضيح**: **لايجلد**: يو طرف ته خو د زړه خوشحالولو د پاره يو قالب او يو جان شي ورسره ،او دويم طرف ته د ډنډه اوچته کړي او د غلام او د خر په شان وهل ورکوي. (المرقات ۳۹۰/۶)

**ثم يجامعها**: دا ثم استبعادیه او استعجابیه دی چې د يو عقلمند سړي د پاره دا ډيره د حيرانتيا خبره ده چې وهل اوټکول يوځای کوی او دا د وهلو په وخت کې دا خيال نه کوي چې د ورځې په آخري حصه کې يعنې د شپې په وخت دا سړی د خپلې ښځې ته څومره محتاجه وي.
خپله بې بې شرعی حدود و په دائره کې په نافرمانی سره وهل جائز دي ليکن داسې نه چې د غلامانو په شان دې ووهی، دا يو ناخوښه عمل دی. (المرقات ۳۹۰/۶)

**فاضربوهن**: دا خو په قرآن کې دي او "**ضربًا غير مبرح**" په حديث کې دي . قرآن او حديث د ظالمانه سلوک بالکل اجازت نه ورکوي، په حديث کې دي چې وهل د ادب د پاره جائز دي.

**ضحكهم**: دلته دا سبق ورکولی شي چې کوم نقص په يو کس کې پخپله موجود وي او د هغې نقص په وجه نورو پورې خندا کوي نو ددې مطلب څه دی که چيرې دا د خندا څيز دی نو دا کار بيا پخپله ولې کوي، يعنی هر کس له پکار دي چې په نورو کې عيبونه لټوي نو ځان ته دې مخکې اوګوري

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۰۲ رقم الحديث ٥٢٠٤ ومسلم في ٤/٢١٩١ رقم الحديث (٢٨٥٥.٤٩) والترمذي في السنن ٥/٤٠٠ رقم الحديث ٣٣٤٣ وابن ماجه ١/٦٣٨ رقم الحديث ١٩٨٣ والدارمي في ٢/١٩٨ رقم الحديث ٢٢٢٠ وأحمد في المسند ٤/١٧

چې دا عيبونه خو په ما کې هم دي. بهرحال ددې حديث نه معلوميږي چې په هغه وخت کې به هم په مجلسونو کې د چانه هوا خارجه شوه نو دا به يو عيب ګڼلی شو، او صحابه کرامو به ورپورې خندل. لهذا محفلونه د داسې نازيبه حرکاتو نه ځان محفوظ ساتل يو تهذيب دی خوکه د مجبورۍ يا کمزورۍ له وجې نه هوا خارجه شي نو هغه پورې خندا کول پکار نه دي په دې سره به د هغه تذليل وشي. (المرقات ۳۹۱/۶، ۳۹۰)

## د ماشومانو ګډيانې

﴿۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې (کله زه وړه وم او زما د واده ابتدائي ورځې وې نو) ما به رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کره

وَكَانَ لِي صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِي فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ګډيانو سره لوبې کولې او زما همځولو به ماسره لوبې کولې او چې کله به رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته

إِذَا دَخَلَ ينقمعن فيسربهن إِلَيَّ

تشريف راوړلو نو زما ملګرې به (دشرم له وجې) پټې شوې ليکن رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغوی ماته

فيلعبن معي (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

واپس راولېږلې او هغوی به ماسره لوبې کولې. (بخاری و مسلم)

**توضيح**: بنات: بنات دکپړې نه جوړې شوې ګډيانو ته وايي ماشومانې دې سره لوبې کوي او په لاسونويې جوړوي ددې نه مسلمانانې جينکو ته دکورپه کار کې مدد ملاويږي او ددې وجې نه جينکو ته دَروتې پخولو، او د لين دين ښه طريقه زده شي. ګويا دا د جينکو د پاره په دستکارۍ کې د مهارت حاصلولو ابتدائي درس ګاه وي، شريعت ددې اجازت ورکړی دی، د پلاسټک ګډيانې جوړول جائز نه دې ځکه چې دا ناجائزو مجسمو کې راځي کومې چې د ناجائزو تصويرونو په زمره کې راځي. دَدې حديث نه درسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپڼې عظيم الشان پراخوالي پته لګي او دا يو خوشګوار کورنی ماحول هم اندازه لګي او په دې کې د حسن معاشرت يو ډيرلوی تعليم موجود دی. (المرقات ۳۹۱/۶)

ينقمعن: انقماع د پټيدو او غائبيدو په معنی سره راځي، په اصل کې انقماع په غار کې د پټيدو په معنی سره راځي. (المرقات ۳۹۱/۶)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۵۲۶ رقم الحديث ۶۱۳۰ ومسلم في ۴/۱۸۹۰ رقم الحديث (۸۱-۲۴۴۰) وأحمد في المسند ۶/۲۳۴

فيسربهن: د سرب تسريب معنى ليږل دي خواه يوائې وي يا د جماعت په شكل كې وي دلته داوړه معاني صحيح دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه ماشومانې زما طرف ته راوليږلي. (المرقات ۳۹۱/۶)

## په مسجد نبوی کې د جهاد مشق

﴿۷﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې ما وكتل (او ماته ډېر ښه ياد دي) چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولاړوو زما د كور

عَلَى بَابِ حُجْرَتِي وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بِالْحِرَابِ فِي الْمَسْجِدِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دروازې سره ولاړوو او په مسجد نبوی کې حبشو خلقو په خپلو تورو يا خنجرونو مشق كولو او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَسْتُرُنِي بردائه لِأَنْظُرَ إِلَى لَعِبِهِمْ بَيْنَ أُذُنِهِ وَعَاتِقِهِ

زما د پاره د خپل څادر نه پرده جوړه كړې وه چې زه هم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غوږ او اوږې په مينځ كې د حبشيانو

ثُمَّ يَقُومُ مِنْ أَجْلِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا

دا كرتب ووينم تر دې پورې چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ به ترهغه وخت پورې ولاړوو چې زه به پخپله اخوا شوې نه وم ددې نه

الَّتِي أَنْصَرِفُ فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ

تاسو دهغې وخت اندازه اولګوئ چې په كې يو كم عمره جينۍ تماشې ته وديدی شي (يعنی خيال وكړئ چې كم عمره جينكی

الْحَرِيصَةِ على اللَّهْوِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

لوبو تماشو كتلو څومره شوقيانې وي. لنډه دا چې حضور به ډېر وخته پورې هلته ولاړوو او مابه هغه لوبه كتله

**توضيح: والحبشة يلعبون بالحراب:** الحراب نيزې ته وايي. او (نيزه وړوكې توره يا خنجر وي) يعنې حبشو خلقو د برچو مشق كولو دحربي مظاهره به مسجد سره نزدې په كولاو ميدان كې وه مسجد ورته دې دپاره وايي چې مسجد سره ډېر نزدې وو، يا دلته د وضاحت ضرورت نشته ځكه چې دا مسجد وو. او د حبشيانو دا لوبې څه دنياوي نه وي بلكې د جهاد د مشق او تربيت حصه وه او دا عبادت دی لهذا په دې باندې نورې فضول لوبې قياس كول جائز نه دي. حضرت عائشه دغه وخت كې د ډېر عمر والا ښځه نه وه، دويم دا چې د حضور په موجودګی كې ټولو نه حفاظت وو كه ظاهر وې او كه باطن، د وحي د نزول زمانه هم وه، د فرشتو تلل راتلل هم و، د صحابه كرام په شان

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۳۳۶ رقم الحديث ۵۲۳۶ ومسلم في ۲/۶۰۹ رقم الحديث (۸۹۸.۱۸) وأبوداؤد في السنن ۵/۴۴۱ رقم الحديث ۴۹۲۳ والنسائی في ۳/۱۹۵ رقم الحديث ۱۵۹۵ وأحمد في المسند ۶/۱۶۶

يو جماعت هم موجود وو، او په دې کې د فتنې څه خطره هم نه وه. حضرت عائشه کتل دې نه ته دا پته ولګيده چې ښځه ناپيژند ګلو سړو ته بغېر د شهوت د نظر نه کتلی شي. بعضې علماو ليکلې دي چې دا واقعه د پردې د حکم نه مخکې وه. په دې باندې د نورو بالغو غير محفوظو ښځو غير محفوو ښځو قياس کول قياس مع الفارق دی، دارنګې جهادی مظاهرو ته د جهاد په وجه په کتلو کې څه بنديز نشته، يعنی ممانعت نشته، ځکه چې دا يو عبادت دی. (المرقات ۳۹۲/۶، ۳۹۱)

﴿۸﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې (يوه ورځ) رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته و فرمايل چې ته کله مانه

«إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَنِّي غَضْبَى» فَقُلْتُ:

خوشحاله يې نو ماته پته لګي او کله چې ته مانه (په څه دنيا وي معامله) خفه يې نو ماته دا هم پته لګي، ما عرض وکړو،

مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذَلِكَ؟ فَقَالَ: "إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُولِينَ:

تاسو ته څنګه پته لګي؟ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل کله چې ته مانه خوشحاله يې نو ته داسې وايې دا خبره

لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قُلْتِ: لَا

داسې نه ده د محمد په پروردګار مې دې قسم وي او چې کله خفه يې نو داسې وايې چې دا خبره داسې نه ده د

وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ". قَالَتْ: قُلْتُ: أَجَلْ وَاللهِ

ابراهيم په پروردګار مې دې قسم وي (يعنې کله چې ته مانه ناراضه يې نو زما په نوم قسم نه خوري بلکه د ابراهيم پروردګار وايې)

يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

حضرت عائشه وايي: چې ما عرض وکړو يا رسول الله دا خبره تيک ده، ليکن زه صرف پيژنډستاسو نوم نه اخلم نور خو تاسو زما په زړه کې يې

## د خاوند په ناراضتيا الله تعالى ناراضه کيږي

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي

«إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ

چې که يو سړي خپله ښځه د کوروالي د پاره راوبلي او هغه ښځه انکار وکړي او بيا خاوند (دانکار په وجه)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۲۵ رقم الحديث ۵۲۲۸ ومسلم في ۴/۱۸۹۰ رقم الحديث (۲۴۳۹.۸۰) وأحمد في المسند ۶/۶۱

فَبَاتَ غَضْبَانَ لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ» .مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا

تولهشپهپهغوسهکې تيرهکړي نو فرشتې تولهشپهپدغې ښځې لعنت ليږي. پهبخاري اومسلم کې پهيو روايت کې داسې هم دي

قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ

چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل قسم مي دې وي په هغه پاک ذات باندې چې دهغه په لاس کې زما ساه ده، چې کوم سړی

يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ

خپله ښځه د کوروالي دپاره راوغواړي او هغه انکار وکړي نو کوم ذات چې په آسمان کې دی هغه

ساخطا عَلَيْهَا حَتَّى يرضى عَنْهَا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

خته پورې تر پې ناراضه وي تر کومې پورې چې خاوند راضی شوی نه وي.

**توضيح: اذا ادعى الرجل امرأته:** يعنې شرعي عذر نه وي، او بغير د عذر نه که انکار کوي نو د ښځې دپاره وعيد دی، او شرعي عذر باندې وعيد نشته، دا انکار صرف د شپې دپاره نه دی بلکې د ورځې وې او که د شپې وې د شپې ذکر اغلبي دی، تولو ته دا وعيد شامل دی (المرقات ۳۹۳/۶)

**الذي في السماء:** دا جمله د متشابهاتو نه ده، او سلف صالحين يې داسې ترجمه کوي چې هغه رب چې په آسمانونو کې دی.

**مايليق بشانه:** او دويمه ترجمه چې سلفو نه وروسته نورامت کړې ده هغه داسې ده چې هغه رب چې د هغه حکم په آسمانونو کې چليږي او په آسمانونو دهغه قبضه ده، د عامو نصوصو د واضحو اشارو نه دا معلوميږي چې الله په آسمانونو کې دی. (المرقات ۳۹۳/۶)

## د بَن د سوزولو دپاره دروغ ويل حرام دي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَسْمَاءَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي ضَرَّةً

حضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې يوې ښځې عرض وکړو يا رسول الله! زما يوه بن ده که زه د هغې په مخکې

فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ

دخپل خاوند ديو داسې څيز اظهار وکړم چې هغه ماله چرته نه وي راکړی نو دا ګناه ده؟ (يعنې زما خاوند چې ماله څمرا کوي کمزه دخپلې

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ٦/٣١٤ رقم الحديث ٣٢٣٨ ومسلم في صحيحه ٢/١٠٦٠ رقم الحديث (١٤٣٦.١٢٢) وأبوداؤد في السنن ٢/٦٠٥ رقم الحديث ٢١٤١ والدارمي في ٢/٢٠١ رقم الحديث ٢٢٢٨ وأحمد في المسند ٢/٤٣٩

| | | | |
|---|---|---|---|
| زَوْجِي | غَيْرَ | الَّذِي | يُعْطِينِي؟ |
| بن دسوزولو دپاره دهغې مخکې دهغه څیز زیات ذکر وکړم چې ګوره ماته دتانه زیاته ملا ویږی نو په دې کښ څه بد والی شته؟ | | | |
| فَقَالَ: | «الْمُتَشَبِّعُ | بِمَا | لَمْ . يُعْطَ | كَلَابِسِ |
| حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (او داخو ډیره بده خبره ده ځکه) چې د نه ورکړی شوې څیز اظهار کولو والا | | | |
| ثَوْبَيْ | زُورٍ» | متفق | عليه | (صَحِيح)[1] |
| د دوه دروغو کپړو اغوستونکي په شان دی (بخاری ومسلم) | | | | |

**توضیح:** لابس ثوبي زور: یعنې سراسر دروغ دی، د دروغو لباس مطلب دا دی چې عالم نه دی او د علماو په شان یې ځان جوړ کړی دی، صوفی او زاهد نه دی او کړه وړه یې د صوفیانو په شان دي. شعر:

گدائے مست مٹکا جا رہا ہے لباس سبز کندھوں پر پڑا ہے

لباس سبز درویشی تو پہنا دل درویش لیکن بے خدا ہے

د دووکپړو نه لنګ او پورتنی څادر مراد دي، د دې حدیث یو مطلب دا هم کیدی شي چې یو سړی سره د خلقو امانت دی او خلقو ته ښایي چې دا هر څه زما دي. (المرقات ۳۹۳/۶)

## دایلا مطلب

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۱﴾ وَعَن | أَنَس | قَالَ: | آلَى | رَسُول | الله | مِنْ | نِسَائِهِ |
| حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلو ښځو نه یو | | | | | | | |
| شَهْرًا | وَكَانَتِ | انْفَكَّتْ | رِجْلُهُ |
| میاشت ایلاء کړې وو په هغه زمانه کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پښه کې بریخ راغلی وو یا اوړیدلی وه. | | | |
| فَأَقَامَ | فِي | مَشْرُبَةٍ | تِسْعًا | وَعِشْرِينَ | لَيْلَةً |
| چنانچه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو کم دیرش ورځو پورې خپلې بالاخانې کې ووچې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاندې | | | | | |
| ثُمَّ | نَزَلَ | فَقَالُوا: | يَا | رَسُولَ | الله |
| تشریف راوړلو نو خلقو ورته عرض وکړو چې یا رسول الله! نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو دیوې میاشتې پورې | | | | | |

(۱) أخرجه البخاری ۹/۳۱۷ رقم الحدیث ۵۲۱۹ ومسلم ۳/۱۶۸۱ رقم الحدیث (۲۱۳۰،۱۲۷) وأبوداؤد ۵/۲۶۹ رقم الحدیث ۴۹۹۷.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| آلَيْتَ | شَهْرًا | فَقَالَ: | «إِنَّ | الشَّهْرَ |
| ايلاء کړې وه (او مياشت د ديرشو ورځو وي نو بيا تاسو په يو کم ديرشمه باندې ولې لاندې راغلئ؟) | | | | |
| يَكُونُ | تِسْعًا | وَعِشْرِينَ». | رَوَاهُ | الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1] |
| حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې مياشت د يو کم ديرشو هم وي. (بخاری) | | | | |

**توضيح:** آلى رسول الله صلى الله عليه وسلم: دا لفظ د ايلاء نه دی او ايلاء قسم ته وايي. شاعر وايي:

**ويومًا علَى ظَهرِ الكثيبِ تعذرَت عليَّ وآلت حِلفَةً لَم تَحللِ** يعنې يوه ورځ محبوبې د شګو په غونډۍ باندې داسې قسم وخوړو چې د هغې نه د وتلو هيڅ صورت نه وو. ايلاء هغه قسم ته وايي چې خاوند خپلې ښځې ته ووايې چې د څلورو مياشتو پورې به زه تاته نزدې نه درځم په دې باندې په عمل کولو سره ښځې ته يو طلاق بائن واقع شو چې د څلورو مياشتو وخت تير شي، او که قسم يې مات کړو اوپوره يې نه کړه او د څلورو مياشتو په دوران کې يې که خپلې ښځې سره کوروالی وکړو نو بيا به کفاره اداء کوي، اول دا چې غلام به آزادوي که غلام نه وي نو بيا به دوه مياشتې روژې نيسي که داهم نشي کيدی نو بيا به شپيته ٦٠ مسکينانو ته ډوډۍ ورکوي. ددې تفصيل راروان دی، خو په دې حديث کې شرعي او اصطلاحی ايلاء مراد نه ده بلکې دلته صرف لغوی ايلاء مراد ده بلکې دلته يوې مياشتې پورې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انتظار کړی وو او ايلاء شرعی لحاظ سره څلورو مياشتو پورې انتظار کول دي.

**الفكت:** يعنی د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قدم مبارک کې بريښ راغلی وو. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اس نه غورځيدلی وو چې دهغې په وجه يې په پښه کې بريښ راغلی وو. (المرقات ٣٩٥/٦)

## د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ايلاء قصه

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۲﴾ وَعَن | جَابِر | قَالَ: | دخل | أَبُو بكر | رَضِيَ الله | عَنهُ | يَسْتَأْذِنُ |
| حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نو يو ورځ) حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغی او اجازت ئې واخستو د | | | | | | | |
| عَلَى | رَسُولِ الله | صَلَّى الله | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | فَوَجَدَ | النَّاسَ | جُلُوسًا بِبَابِهِ |
| رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې يې د حاضريدو نو هغوی وکتل چې په دروازه باندې ډير خلق جمع دي او چا | | | | | | | |

---

(1) أخرجه البخارب في ٩/٣٠٠ رقم الحديث ٥٢١٠ وأحمد في المسند.

لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ قَالَ: فَأُذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ

هم د حاضریدو اجازت نشته، ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تد حاضریدو اجازت ملا و شو او هغه د نبی عَلَیْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضر شو

ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ

بیا حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ راغی هغوی هم اجازت واخستو هغه ته هم اجازت ملا و شو عمرؓ چې کله د

فَوَجَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاءُهُ وَاجِمًا

نبی عَلَیْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضر شو نو وې کتل چې د حضور عَلَیْهِ السَّلَام نه ییسانې ګیر چاپیره ناستې دي او نبی عَلَیْهِ السَّلَام په

سَاكِتًا قَالَ فَقُلْتُ: لَأَقُولَنَّ

هغه وخت کې خفه او خاموش وو حضرت جابر وایي حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله دا صورتحال ولیدو نو په زړه کې یې وویل

شَيْئًا أُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ

چې دا وخت ماله داسې خبره کول پکار دي چې حضور په خندا شي هغوی وویل یا رسول اللّٰہ ! که چیرې د

رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ ، سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا

خارجه لور (زما ښځه) زمانه خوراک څښاک د خرچې د (دمعمول نه) زیات وغواړي نو زه ورپاڅم او هغې لپاره څټ ورپیوه سپېره ورکوم

فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ:

حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دا خبره په داسې اندازه کې وکړه چې نبی عَلَیْهِ السَّلَام په خندا شو او وې فرمایل چې

«هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ»

دا (زما) ییسانې چې تاسو زمانه ګیر چاپیره ناستې وینئ دوی زمانه د معمول نه زیاته خرچه غواړي دي اوریدو سره

فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا وَقَامَ عُمَرُ

ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پاسید او خپله لور عائشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا یې په څټ باندې ووهله. او داسې عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم پاسید و

إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُولُ: تَسْأَلِينَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او خپله لور حفصه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا یې په څټ باندې ووهله او بیا دواړو حضراتو وویل چې تاسو د نبی عَلَیْهِ السَّلَام نه د داسې څیز مطالبه کوئ

مَا لَيْسَ عِنْدَهُ؟ فَقُلْنَ: وَاللهِ

چې دوی سره موجود نه دی هغو وویل (بیشکه زمونږ مطالبې بې ځایه دي) په الله قسم! مونږ به چیرې هم د

لَا نَسْأَلُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا أَبدا لَيْسَ عِنْدَهُ

نبی علیه السلام نه د داسې څیز مطالبه نه کوو چې نبی علیه السلام سره موجود نه وي خو (نبی علیه السلام د جدائي قسم کړی وو دې د پاره د

ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا

قسم پوره کولو پاره نبی یو میاشت یا یو کم دیرش ورځو پورې جدا وو (په دې ځای کې راوي ته شک پیدا شوی دی چې دلته

أَوْ تِسْعًا وَعشْرين ثمَّ نزلت هَذِه الْآيَة: (يَاأَيهَا النَّبِي قل لِأَزْوَاجِك)

حضرت جابر یو میاشت او که یو کم دیرش ورځې یاد کړي دي یا دا ایت (قل لازواجک نه اجرا عظیما) پورې نازل شو،

حَتَّى بلغ (للمحسنات مِنْكُن أجرا عَظِيما) قَالَ: فَبَدَأَ بعائشة

حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې (دد ې ایت د نازلیدو نه پس) نبی علیه السلام د ټولو نه مخکې د حضرت عائشه رضی الله عنها سره ملاو شو

فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ

نبی علیه السلام ورته وفرمایل چې ای عائشه رضی الله عنها! زه تا ته یوه خبره کول غواړم لیکن دا هم غواړم چې د دې په جواب کې

أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ» قَالَتْ:

جلتي مه کوه بلکې دې باره کې خپل مور پلار سره مشوره وکړه. حضرت عائشه رضی الله عنها ورته عرض وکړو

وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ قَالَتْ:

یا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائي! څه خبره ده؟ نبی علیه السلام ورته پورتنی ایت واورولو، حضرت عائشه رضی الله عنها

أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ؟

چې دا ایت واوریدو نو عرض یې وکړو یا رسول الله! ولې زه ستاسو په معامله کې دخپل مور او پلار سره مشوره وکړم بلکې

بَلْ أَخْتَارُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ

ما الله او د رسول او آخرت کور اختیار کړی دی (د الله او رسول مرضي او خواهش په سر ستر کو منم) خو ستاسو په

وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ:

خدمت کې دا درخواست کوم چې ما تاسو سره کومې خبرې وکړې د دې ذکر نورو بیبیانو سره مه کوئ، نبی علیه السلام وفرمایل

قَالَ: «لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا إِنَّ اللهَ لَمْ يَبْعَثْنِي

دا زما د پاره ممکن نه ده که یوه بنځه زما نه تپوس وکړي نو زه به ضرور ورته وایم الله تعالی زه د دې لپاره رالیږلی یم

| مُعَنِّتًا | وَلَا | مُتَعَنِّتًا | وَلَكِنْ | بَعَثَنِي |
|---|---|---|---|---|

چې خامخا څوک په تکليف کې مبتلا نه شي بلکې الله تعالى زه دې له پاره رالیږلی یم چې مخلوق ته د دین احکام

معلماً ميسرًا». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

زده کړم او په آسانۍ (یعنی دینی او دنیوی سکون) ورته ملاوشی. (مسلم)

**توضيح:** واجماً ساكتاً: "وجم يجم وجماً" د غم په وجه خاموشی ته وجم وایي نو گویا کې ساکتًا ددې تفسیر او توضیح ده، بعضو لیکلې دي چې "وجم" غم ته وایي او د سکوت ذکر دلته د بیل کیفیت د پاره بیان شوی دی.

**آلى ايلاءً:** دلته هم ایلاء لغوي مراده ده یعنې یوه میاشت پورې کورته د نه راتلو قسم خوړل.

**بنت خارجة:** حضرت عمر خپلې ښځې طرف ته اشاره کړې ده. (المرقات ۳۹۷/۶)

**سالتني النفقة:** یعنې که زما د طاقت نه زیاته مطالبه کوي نو زه به ورته سزا ورکوم (المرقات ۳۹۷/۶)

**وجأت:** وجأ په مرې زور کولو د پاره استعمالیږی، خو دلته په څټ باندې وهل دي، او رستو هم په حدیث کې دا لفظ د داسې وهلو د پاره استعمال شوی دی، حضرت عمر د خپلې ښځې د خوراک څښاک نه انکار نه کوي خو که د هغه د حیثیت نه زیاته غواړي نو بیا به داسې عمل وي.

**ثم نزلت:** یعنې ایت تخییر نازل شو او حضور ﷺ د تخییر ایت واورولو نو لو ببیانو د الله او د رسول لاره اختیار کړه. د جمهورو علماو په نزد باندې خپلې ښځې ته "اختاری" ویلو سره طلاق نه واقع کیږي او که ښځه یې طلاق اختیار کړي نو طلاق بائن وشو. (المرقات ۳۹۷/۶)

**لاتعجلي:** یعنې ای عائشې! زه تاته یوه خبره کول غواړم ته په جواب کې جلتي مه کوه خپل مور او پلار سره مشوره وکړه او بیا جواب راکړه. د نبي کریم ﷺ خیال دا وو چې عائشه کم عمره او ناتجربه کاره ده چیرته طلاق اختیار نه کړي په دې باندې به یې مور او پلار ته تکلیف ورسي، او نورې امهات المؤمنین به هم د حضرت عائشې په شان طلاق اختیار کړي نو لو ته به پریشاني وي.

**ان لاتخبر امرأة:** حضرت عائشې دا خوښه کړه چې دهغې جواب پته نورو ازواجو ته ونه لګي نو ممکن ده چې هغوی طلاق اختیارکړي او طلاقې شي. دا یوه انساني جذبه ده چې انسان سره لګیدلې ده او خاص طور باندې بنو کې دا خبرې ډیرې وي. بیا به حضور ﷺ سره ډیره د

---

([1]) أخرجه مسلم في ۲/۱۱۰۲ رقم الحديث (۱٤۷۸.۲۹)

ملاقات موقع ملاويږي دعلم دحصول لپاره،او دا غرض يو فاسد غرض نه دی.(المرقات ۳۹۸/۶)

**مشربة**: داوبو ځای ته وايي او دلته يوه کمره او بالا خانه مراد ده چې مسجد نبوی سره نزدې وه.

**معنتًا**: يعني تکلف کول او څوک په تکلف کې اچول، يعني نه څوک په مشقت کې اچول او نه چا لپاره د مشقت خو ښول.

**واقعه** : کله چې خيبر فتح شو نو صحابه کرامو سره مالونه هم زيات شول،بعضو ازواج مطهراتو حضوراکرم ته دخرچې د زياتولو درخواست وکړو په دې سره حضوراکرم ﷺ ناراضه شو او بيبيانوکره ديوې مياشتې پورې دنه تلو قسم يې وخوړلو او مسجد سره نزدې بالاخانه کې يې يوه مياشت تيره کړه بيا تخيير نازل شو ، دا واقعه او د خرڅ خبره د ابتداء خبره وه،دې نه پس چې مکمل فراخي راغله نو حضور اکرم ﷺ خپلو بيبيانو له ديوکال خرچه مخکې ورکوله دحضرت عائشې نه علاوه نورو ټولو بيبيانو به خرچه اخستله.

| |
|---|
| ﴿۱۳﴾ وَعَن عَائِشَة قَالَت: كنت أغار من اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې مابه هغه ښځو ته په ښه نظر نه کتل چه خپل نفس به يې نبی ﷺ دپاره هبه کوه. |
| فَقُلْتُ: أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا؟ فَلَمَّا أَنْزَلَ الله تَعَالَى: |
| چنانچه زه وايم چې آيا کومه ښځه خپل نفس هبه کولی شي؟کله چې دا ايت نازل شو (ای محمدً ! په |
| (تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ |
| دې ښځو کې چې ته کومه غواړې جدا يې کړه او چې کومه غواړې نو ځان سره يې وساته او چې کومې |
| وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جنَاح عَلَيْك) قُلْتُ: |
| ښځې ته جدا کړې او که په هغوی کې کومه غواړې نو ګناه په کې نشته "نو ما (حضور ته عرض وکړو) |
| مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱) |
| چې زه دا وينم چې ستاپروردګار ستاسو مرضي اوخواهش ډير زر پوره کوي. (بخاری ومسلم) |

**وَحَدِيثُ جَابِرٍ: «اتَّقُوا اللهَ فِي النِّسَاءِ» ذَكَرَ فِي «قِصَّةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ» (صَحِيح)**

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۸/۵۲٤ رقم الحديث ٤٧٨٨ ومسلم في ۲/۱۰۸٦ رقم الحديث (۱٤٦٤،٤۹) والنسائي في السنن ٦/٥٤ رقم الحديث ۳۱۹۹ وأبن ماجه‌ی ۱/٦٤٤ رقم الحديث ۲۰۰۰ وأحمد في المسند ٦/۱۳٤.

او حديث د جابر (اتقوا الله في النساء) ذكر شوى دى په قصه د حجة الوداع كې.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

## دحسن معاشرت بهترينه نمونه

| |
|---|
| ﴿۱۴﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ |
| حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې زه يو ځل رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په يو سفر كې وم (په دې سفر كې په |
| قَالَتْ: فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ |
| يوه موقع باندې) مانبى عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د منډې مقابله وكړه او زه د نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ډيره مخكې شوم بيا لږه موده |
| فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ |
| پس زما بدن دروند شو نو بيا زمونږه د منډې مقابله وشوه دې ځل كې نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ زما نه مخكې شو |
| فَسَبَقَنِي قَالَ: «هَذِهِ |
| نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې دا د وړمبنى مقابلې بدله وه (يعنې وړومبنى تا ګټلې وه او اس ما وګټله |
| بِتِلْكَ السَّبْقَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] |
| لهذا دواړه برابر شو. (ابوداؤد) |

**توضيح**: فسابقته: دا ديو سفر واقعه ده چې صحرائي ميدانونو كې بنځه او خاوند د منډې مقابله كوي نو په دې كې دپردې او حجاب څه منافات نشته او نه دنن سبا د بې حياء جينكو په شان د فساد سره مشابهت شته. (المرقات ۴۰۰/۶)

**برجلي**: دا لفظ د پيدل منډې دپاره استعمال شوى دى. د دې واقعې نه دا معلوميږي چې د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلو بيبيانو سره د حسن معاشرت او د حسن معاملې مثال نه ملاويږى، علامه قاضى خان ليكلي دي چې په ځلورو څيزونو كې د منډې مقابله جائز ده. په اوښ، په اس يا په قچر، په غشى ويشتلو كې، او پيدل منډه كې، خو په دې كې د يو بل سره شرط لګول حرام دي، د يو طرف نه جائز دى چې يو كس ووايي چې راځه مقابله وكړو كه ما وګټله نو ماله به پنځه سوه روپى راكوې او كه تا وګټله نو خه به څه نه دركومه. او په دې صورت كې هم جائز دي چې په مينځ كې "محلل"

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ٥٦ ٣ رقم الحديث ٢٥٧٨ وابن ماجه في ١/٦٣٦ رقم الحديث ١٩٧٩ وأحمد في المسند ٦/٣٩.

موجود وی یعنې زید اوبکر دواړو طرف نه شرط لیدلی دی او ورسره یې دریم کس هم په مقابله کې شامل کړه او ورته یې وویل که په مونږه کې کوم کس مخکې شو نو ورستنی به ورله پنځه سوه روپۍ ورکوي، لیکن که محلل مخکې شو نو هغه ته به څه نه ملاویږي. په دې صورت کې د شرط والا منډه جائز کیدی شي، او که یو انجمن یا کمپنۍ اعلان وکړي چې مخکې وتونکې ته به مونږ دومره رقم ورکوو دا هم جائز ده دا د انعام صورت د. "هذه بتلك السبقة" یعنې داکامیابي د هغې ناکامۍ بدله کې ده. "تلك بتلك" (المرقات ۴۰۰/۶)

## په مړو تبصرې مه کوئ

| |
|---|
| ﴿۱۵﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُكُمْ |
| حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي په تاسو کې بهترین کس هغه دی |
| خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي |
| چې د خپل اهل او عیال په حق کې بهترین وي او زه د خپل اهل او عیال په حق کې د تاسونه بهترین یم |
| وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. والدارمي[1] (صَحِيح) وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ |
| او کله چې ستاسو صاحب مړ شي نو هغه پریږدئ (ترمذی، ودارمی) او ابن ماجه دا روایت د حضرت |
| عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَى قَوْله: «لأهلي» (صَحِيحٌ)[2] |
| ابن عباس د لفظ لاهلي پورې نقل کړی دی. |

**توضیح: واذا مات صاحبکم فدعوه:** په تاسو کې چې یو مسلمان ملګری وفات شي نو هغه پریږدئ اوس د هغه غیبت مه کوئ، عیبونه پکې مه راوباسئ او بې ځایه تبصرې پرې مه کوئ یا یې مطلب دادی چې د مرګ نه پس ورپسې ژړل مه کوئ.

**یاصاحبکم:** نه مراد رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی مطلب دا دی چې اوس د وفات نه پس په حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې غم او ماتم مه کوئ. په مړو باندې درې ورځو پورې غم کول جائز دي درې ورځو نه زیات جائز نه دي. هان ښځه په خپل خاوند باندې څلورو میاشتو او لس ورځو پورې غم

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٥/٦٦٦ رقم الحديث ٣٥٩٥ والدارمي في ٢/٢١٢ رقم الحديث ٢٢٦٠.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ١/٦٣٦ رقم الحديث ١٩٧٧

کولی شي.(المرقات ۴۰۰/۶)

## داطاعت کونکو بیبیانو فضائل

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْمَرْأَةُ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې کومې ښځې (د خپلې پاکۍ

إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا

په ورځو کې په پابندۍ سره) پنځه وخته مونځ وکړو په رمضان کښې (اداء او قضاء) روژې ونیولې،

وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ

دخپلې شرمګاه حفاظت یې وکړو او د خاوند په هغو څیزونو کې یې فرمانبرداري وکړه نو (داسې ښځې د پاره زیری دی

أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ». رَوَاهُ أَبُو نعيم فِي الْحِلْيَةِ (صَحِيحٌ)[1]

چې) د جنت په کومه دروازه داخلیدل غواړي داخله دې شي. دا روایت ابو نعیم په حلیة الابرار کې نقل کړی دی.

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «لَوْ كُنْتُ آمِرُ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي که ما چاته د دې حکم ورکولی شوی

أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجد لزَوجهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[2]

چې غیر الله ته سجده وکړئ نو ما به یقیناً ښځو ته دا حکم کړی وو چې خپل خاوند ته سجده وکړئ.(ترمذی)

## یو بل فضیلت

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ

او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې کومه ښځه په داسې حال

مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[3]

کې مړه شوه چې د هغې خاوند د هغې نه راضي وو نو هغه به جنت کې داخله شي.(ترمذی)

---

(1) أخرجه مرقات ۳۴۵۲، كتاب ابونعيم حلية الاولياء

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۳/٤٦٥ رقم الحديث ۱۱۵۹

(3) أخرجه الترمذي في السنن ۳/٤٦٦ رقم الحديث ۱۱۶۱ وابن ماجه في ۱/٥٩٥ رقم الحديث ۱۸۵٤

## په مشکل وخت کې د خاوند فرمانبرداري وکړئ

﴿۱۹﴾ وَعَنْ طَلْقِ بْنِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا الرَّجُلُ دَعَا

حضرت طلق بن علي وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلی دي چې کله يو سړی خپلې ښځه د خپل

زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ

حاجت پوره کولو دپاره (يعنی کوروالي دپاره) راوبلي نو ښځې له د خاوند خوا ته رسيدل پکار دي

كَانَتْ عَلَى التَّنور». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

اګر که د تنور سره ولې نه وي. (ترمذی)

**توضيح**: علی التنور: اګر که هغه ښځه په ډير مشکل کار کې مصروفه وي او د کار پريخودو سره هغه کار ته د نقصان رسيدو خطره وي مثلاً که په ګرم تنور کې روټی لګيدلې وي او پريخودو سره به روټی وسوزي. دا په داسې صورت کې چې دا هر څه د خاوند وي چې هغه يې ضائع کول غواړي نو ښځې له پکار دي چې اطاعت وکړي ځکه چې که ښځه انکار وکړي او د خاوند نفساني خواهش پوره نه شي او خاوند څه بدکاري يا زنا وکړي په دې وجه کورنۍ تعلقات خرابيدی شي چې ډير نقصان دی که د ښځې هغه کار پريخودل ناممکن هم وي نو بيايې هم پريخودل پکار دي او د خاوند اطاعت دې وکړي. (المرقات ۴۰۲/۶)

## خاوند له تکليف مه ورکوئ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا

حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړي دي چې نبی کريم فرمايلي دي چې کله يوه ښځه

تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا قَالَتْ زَوجته مِنَ الْحُورِ الْعِينِ:

په دنيا کې خپل خاوند ته څه تکليف ورسوی نو د هغه (د جنت والا) ښځه يعنې غټو غټو سترګو والا حوره وايي

لَا تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللهُ فَإِنَّمَا هُوَ

چې الله تعالی دې تا د خپل رحمت نه لرې کړي، خپل خاوند ته تکليف مه ورکوه ځکه چې هغه (په دنيا کې)

عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ستا ميلمه دی چې ډير زر به د تا نه جدا شي او زمونږ خوا له (جنت ته) به راشي. (روايت کړی دی ترمذي او ابن ماجه)

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۶۵ رقم الحديث ۱۱۶۰ وأحمد في المسند ۴/۲۳

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب (حسن)[1]

امام ترمذي فرمايلي دي چې دا حديث غريب دی.

## د ښځې او خاوند حقوق

﴿۲۱﴾ وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

حضرت حکيم بن معاويه قشيري د خپل پلار نه نقل کوي چې هغوی عرض وکړو ای د الله رسوله! په مونږ

مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ: «أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ

کې د ښځې په خاوند څه حقوق دي، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې څنګه ته خوري په هغې هغه شان خوراک کوه

وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلَا

او چې څنګه ته اغوندې هم هغه شان وراغوندوه او په مخ يې مه وهه او هغې ته بد رد مه وايه او مه ورته

تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ». رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[2]

داسې وايه چې الله دې درسره بد کړه. او هغې نه صرف په کور کې جدائي اختيار کوه. (احمد، ابوداود، ابن ماجه)

**توضيح**: ولاتضرب الوجه: د بدن په ټولو حصو کې مخ د ټولونه زيات عزت والا دی او په دې باندې وهلو نه منع شوې ده، په قرآن کريم کې الله تعالى د ښځو وهلو اجازت ورکړی دی، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "ضرباً غير مبرح" فرمايلی دی حد بندي يې کړې ده، په يو حديث کې راغلي دي چې په قيامت کې به د خاوند نه (شرعي حدود کې دننه) د ښځې د وهلو په باره کې سوال نه شي کيدی. (المرقات ۴۰۳/۶)

**په څلورو خبرو په وجه خاوند خپله ښځه وهلی شی**: ۱. د خاوند د پاره ځان نه سنګار کول. ۲. بغېر د عذر نه د کور والي نه انکار کول. ۳. د اسلام فرائض پريخودو باندې ۴. بغېر د اجازت نه د کور نه په وتو باندې، يعنې په بې پردګۍ باندې به وهلی شي، قرآن کريم دا ترتيب دی. (**واللاتي تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن في المضاجع واضربوهن**) (سورة نساء ۳۴) او په حديث کې دي "**ولا ترفع**

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۷۶ رقم الحديث ۱۱۷۴ وابن ماجه في ۱/۶۴۹ رقم الحديث ۲۰۱۴ وأحمد في المسند ۵/۲۴۲

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۰۶ رقم الحديث ۲۱۴۲ وابن ماجه ۱/۵۹۳ رقم الحديث ۱۸۵۰ وأحمد في المسند ۴/۴۴۶

عنهم عصاک أدبًا".

**ولا تقبح**: ښځه په قبيحو الفاظو سره مه سپکوه لکه ته خرابه يې، ته بد شکله يې، ځکه چې د ښځې اصل سرمايه دهغې د حسن تعريف دی - پس سبب بعد تې باندې هغه مړه کيږي (المرقات ۴۰۳/۶)

## بدزبانه ښځې له طلاق ورکړه

| |
|---|
| ۲۲۲۰ وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِي امْرَأَةً |
| حضرت لقيط بن صبره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! زما يوه ښځه ده |
| فِي لِسَانِهَا شَيْءٌ - يَعْنِي الْبَذَاءَ قَالَ: |
| هغه ډيره بد اخلاقه ده او فضول خبرې دژبې نه اوباسي، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې که صبر نه شې کولی |
| «طَلِّقْهَا». قُلْتُ: إِنَّ لِي مِنْهَا وَلَدًا وَلَهَا صُحْبَةٌ |
| نو بهتر دادهچې طلاق ورله ورکړه، ما ورته عرض وکړو يا رسول الله دهغې نه زما اولاد دی او هغې سره زما زور تعلق او صحبت دی |
| قَالَ: «فَمُرْهَا» يَقُولُ عِظْهَا «فَإِنْ |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل نو بيا ورته حکم ورکوه چې خپل عادات اور طور او طريقې ټيک کړه او نصيحت ورته کوه که په هغې کې |
| يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَقْبَلُ وَلَا تَضْرِبَنَّ ظَعِينَتَكَ ضَرْبَكَ أُمَيَّتَكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد(۱) |
| لږ غوندې ښيګړه وي نو نصيحت به قبول کړي او د وينځې په شان يې مه وهه. (ابو داؤد) |

**توضيح**: **عظها**: دا لفظ د مرها تفسير دی ظعينه هغې شريفې ښځې ته وائي کومه چې په کيجاوه کې په عزت سره ناسته وي، که عزت سره ناسته نه وي نو دا ظعينه نه ده، بيا په دې کې وسعت راغی هرې شريفې او خاص ښځې ته ظعينه ويلی شي دا لفظ د ژوند د ملګرې بهترين تعبير دی. علامه طيبی رحمه الله وايي چې عرب انتهائي شريفې ښځې ته ظعينه وائي. (الکاشف ۳۵۲/۶)

شاعر وائي:

قفي قبل التفرق يا ظعينا نخبرک اليقين و تخبرينا

اوس تاسو اوګورئ چې په دې حديث کې څومره بلاغت دی چې انتهائي شريفه او عزت داره ښځه د وينزې په شان مه وهئ.

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۱/۹۷ رقم الحديث ۱۴۲ وأحمد في المسند ۴/۳۳

## دشرعی حدنه زیات دښځو وهلو ممانعت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَا

حضرت اياس بن عبد الله وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د الله تعالى وبنځې (يعنى خپلې ښځې

تَضْرِبُوا إِمَاءِ اللهِ» فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ

مه وهئ، بيا د دې حکم نه يو څو ورځې پس) حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو

فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ

او عرض يې وکړو چې تاسو د ښځو وهل منع کړې دي په دې وجه ښځې په خاوند انو باندې زړه وري شوې دي

فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءٌ

نو نبى عَلَيْهِ السَّلَام د ښځو وهلو اجازت ورکړو، ددې نه پس ډيرې ښځې د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ازواج مطهرات وکړه راجمع شوې

كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او د خپلو خاوندانو نه يې شکايت وکړو چې د هغوى خاوندان و هل کوي نبى عَلَيْهِ السَّلَام ته چې کله معلومه مشوه، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

«لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ

چه د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يې بيا نوته ډيرو ښځو د خپلو خاوندانو شکايتونه راوړي وو، داخلق کوم چې (خپلې

لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه والدارمي[1]

ښځې وهي) په تاسو کې بهتر خلق نه دي (ابو داؤد، ابن ماجه، دارمى)

**توضيح**: په قرآن او حديث کې په مجموعي طور باندې د ښځو وهلو اجازت څه پته معامله نه ده خو د دې حديث نه معلوميږي چې ښځې نه دې وهل پکار، په ظاهره ايت د حديث او حديث د حديث د يوبل سره تعارض دى؟ د دې جواب دا دى چې کله د ښځو د وهلو اجازت ملاو شو نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وهلو اجازت ورکړو خو حديې مقر کړو او د حدنه زيات وهلو نه يې منع وفرمايله، کوم وهل چې د شرعى حدودونه بهر وي د هغې نه يې منع کړې ده او د وهلو حکم شرعي حدودو کې دننه پکار دى. (المرقات ۴۰۵/۶)

**ذئرن**: ښځى بهادري شوې د شير په شان، دا صيغه د مفرد پکار وه، ځکه فاعل اسم ظاهر دى ليکن دې سره "اكلوني البر اغميث: (المرقات ۴۰۱/۶) او (واسروا النجوى الذين ظلموا) (سورة الانبياء ۳)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۰۸ رقم الحديث ۲۱۴۶ وابن ماجه ۱/۶۳۸ رقم الحديث ۱۰۸۵ والدارمي في ۲/۱۹۸ رقم الحديث ۲۲۱۹

معامله شوې ده.

## د ښځې او خاوند په مینځ کې د جداوالي راوستو والا زمونږ نه نه دی

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هغه کس زمونږ د تابعدارو

مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلَى

نه نه دی چې چا ښځې لره دهغې د خاوند خلاف کړه یا یو غلام یې دهغه د مالک خلاف کړو او

سَيِّدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (ضَعِيف)[1]

بې لارې کوي یې. (روایت کړې دې ابو داؤد)

**توضیح**: د ښځې او خاوند په مینځ کې تفریق اچول دا دي چې په خبرو، غیبت، او چغلۍ سره د هغوی په مینځ کې بد دلي پیدا کول، یا په جادو یا په تعویذونو فساد پیدا کول دا ټول منع دي. خواه روحاني توړ وي او که مادي وي. زمونږ نه د نه کیدو مطلب دا دی چې دا سړی د اسلام په طریقه نه دی، یا دا مطلب په طور د اسلوب حکیم فرمایلی دی چې زمونږ نه نه دی، نو چې کوم مسلمان دا خبره واوري نو دا خپل عمل به په ژړا سره پریږدي. (المرقات ۴۰۱/۶)

## خپل اهل وعیال باندې شفقت کول کمال ایمان دی

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې په مؤمنانو کې کامل

الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطفهم بِأَهْلِه». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[2]

ایمان والا کس هغه دی چې خوش اخلاقه او په خپل اهل او عیال باندې زیات مهربانه وي. (ترمذی)

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې مؤمنانو کې کامل ایمان والا

أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ».

کس هغه دی چې ډیر خوش اخلاقه وي او په تاسو کې بهتر کس هغه دی چې د خپلو ښځو په حق کې بهتر وي

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۱۹۸ رقم الحديث ۵۱۷۰ وأحمد في المسند ۲/۳۹۷

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۰ رقم الحديث ۲۶۱۲ وأحمد في المسند ۶/۴۷

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُد إِلَى

امام ترمذي دا روايت نقل کړی دی او وايي چې دا حديث حسن دی او امام ابو داؤد دا روايت

قَوْله «خلقا» (صَحِيحٌ)[1]

د لفظ د خلقًا پورې نقل کړی دی.

## د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په مينځ کې زړه راخکونکې خبرې

﴿۲۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه تبوک يا غزوه حنين نه واپس کورته

أَوْ حُنَيْنٍ وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ

تشريف راوړلو نو (په هغه وخت) کې هغوی کره د کور په دری (طاق) پرده لګيدلې وه کله چې هوا شروع شوه

فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ

نو د پردې يو ګوټ کولا و شو چې په هغې سره د عائشهؓ ګوډياني ښکاره شوې (چې په دری باندې يې

فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ؟» قَالَتْ: بَنَاتِي

ايخودلې وې) نبی عَلَيْهِ السَّلَام تپوس وکړو عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته اشاره دي؟ عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عرض وکړو دا زما ګوډياني دي،

وَرَأَى بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ

په دې ګوډيانو کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو اس هم وليد و چې دهغه د کپړې نه يا د کاغذ نه دوه وزرې وې،

فَقَالَ: «مَا هَذَا الَّذِي أَرَى وَسْطَهُنَّ؟»

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيا تپوس وکړو چې د ګوډيانو په مينځ کې چې کوم شيز ما ته په نظر راځي دا څه دي؟

قَالَتْ: فَرَسٌ قَالَ: «وَمَا الَّذِي عَلَيْهِ؟»

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته جواب ورکړو دا اس دی، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د دې د پاسه دا څه دي؟

قَالَتْ: جَنَاحَانِ قَالَ: «فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ؟»

حضرت عائشهؓ فرمايې ما عرض وکړو (دا د دې اس وزرې دي) نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ و فرمايل ولې د اس هم وزرې

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۶۰

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قَالَتْ: | أَمَا | سَمِعْتَ | أَنَّ | لِسُلَيْمَانَ | خَيْلًا |
| وې څه؟ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته عرض وکړو ولې تاسو نه دې اوریدلې چې د حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام | | | | | |
| لَهَا | أَجْنِحَةٌ؟ | | قَالَتْ: | | فَضَحِكَ |
| سره چې کوم اسونه وو دهغوی وزرې وي، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې حضور زما جواب وایدو | | | | | |
| حَتَّى | رَأَيْتُ | نَوَاجِذَهُ. | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد[1] | |
| نو په خندا شو تردې چې ماته د حضور غاښونه مبارک په نظر راغلل. | | | | | |

**توضیح**: سهوه: وړې کمرې ته وایي، چې په کې د الماری په شان کوږوالی وي، بعضې وایي چې په کورکښې د یوې چوترې په شان ځای وي. بعضې وایي چې دا طاق ته وایي. (المرقات ۴۰۶/۶)

**الرقاع**: دادرقعة جمع ده، دکپړو یا کاغذ تکړو ته وایي په هغه وخت کې خو کپړه وه کاغذ چرته وو.

**اماسمعت**: یعنې تاسو ته معلومه نه ده چې د حضرت سلیمان چې کوم اسونه وو د هغه دوه وزرې وي، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا خبره د هغه وخت د معاشرې د مشهورو قصو نه بیان کړې ده چې قصې عام طور باندې د ماشومانو په مجلسونو کې بیانیږي، په دې وجه حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر وخندل، دې خندا نه دا ثابته شوه چې حضور به د تبسم نه علاوه داسې خندا کوله چې دهغی په وجه به یې غاښونه مبارک ښکاره شول. (المرقات ۴۰۷/۶)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## د الله نه سوا بل چاته سجده کول جائز نه دي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۲۸﴾ عَنْ | قَيْسِ | بْنِ | سَعْدٍ | قَالَ: | أَتَيْتُ | الْحِيرَةَ | فَرَأَيْتُهُمْ |
| حضرت قیس بن سعد وایي چې زه (کوفې ته نزدې یو بنار) حیره ته ورسیدم نو ما وکتل چې هغوی | | | | | | | |
| يَسْجُدُونَ | لِمَرْزُبَانٍ | لَهُمْ | فَقُلْتُ: | لَرَسُولُ | اللهِ | صلى الله | عَلَيْهِ | وَسلم | أَحَق |
| خپل سردار ته سجده کوي ما په خپل زړه کې وویل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې نه زیات مستحق دی | | | | | | | | | |
| أَن | يسْجد | لَهُ | فَأَتَيْتُ | رَسُولَ | اللهِ | صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ |
| چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته سجده وکړی شي کله چې زه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر | | | | | | | | | |

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴۲۷/۵ رقم الحديث ۴۹۳۲

فَقُلْتُ: إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ

شوم نوما ورته عرض وكړو چې زه حيرې ته تلى وم چې دهغه ځاى خلق خپل سردار ته سجده كوي

فَأَنْتَ أَحَقُّ بِأَنْ يُسْجَدَ لَكَ فَقَالَ لِي:

لهذا نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دې نه زيات مستحق يې چې تاسو ته سجده وكړى شي. نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل ماته ووايه

«أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ؟» فَقُلْتُ: لَا فَقَالَ:

كه تاسو زما قبر ته راشئ نو تاسو به زما قبر ته سجده كوئ؟ ما عرض وكړو چې نه نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

«لَا تَفْعَلُوا لَوْ كُنْتُ آمِرُ أَحَدًا أَنْ

چې زما په ژوند كې هم داسې مه كوئ كه چيرې ما چاته حكم وركولى شو نو چې الله نه سوا بل چاته

يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ

سجده كول وو نومابه ښځو ته حكم كړى وو چې خپلو خاوندانو ته سجده وكړئ ځكه الله تعالى په ښځو

مِنْ حَقٍّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ

باندې د خاوندانو دپاره زيات حق مقرر كړى دى. ابوداود دا روايت كړى دى، دا روايت احمد

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ[2]

د معاذبن جبل نه هم نقل كړى دى.

**توضيح**: **لمرزبانٍ**: د ميم فتحه او په زا باندې ضمه ده د فارسى لفظ دى قومندان ورته هم وايي. رئيس، كماندر، چودهرى، او لوى زميندار ته هم وايي. (المرقات ٤٠٧/٦)

**بقبر**: يعنى روضه رسول ته به سجده كوي؟ صحابى عرض وكړو نه به يې كوم، په دې لفظ كې څومره لوى تعليم دى د هغو خلقو د پاره چې قبرونو ته سجدې كوي. "**لوكانوا يشعرون**". (المرقات ٤٠٧/٦)

## دنافرمانه ښځې په وهلو باندې مواخذه نشته

﴿٢٩﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل كوي چې نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل قابل د

(١) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦٠٤ رقم الحديث ٢١٤٠ والدارمي في ١/٦٠٤ رقم الحديث ١٤٦٣

(٢) أخرجه أحمد في المسند ٥/٢٢٧

«لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه (صَحِيح)[1]

مواخذې به نه وی چې کوم سړی خپله ښځه په څه شیز وهي (روایت کړې دې ابو داؤد او ابن ماجه)

**توضیح:** لایسال الرجل: ددې مطلب دا دی چې خپله ښځه د شریعت د حدودو دننه په وهلو باندې په قیامت او دنیا کې د خاوند نه هیڅ قسمه تپوس به نه شي کیدی. دلته لفظ "علیه" کې ضمیر مجرور حرف ما طرف ته راجع دی کوم چې فیما ضرب کې دلته مذکور دی لیکن چونکه (واللاتي تخافون نشوزهن) (سورة نساء ۲۴) ایت د دې مسئلې بنیاد دی لهذا لفظ د ما د "نشوز" قائم مقام دی په حقیقت کې علیه ضمیر نشوز طرف ته راجع دی، مطلب دا شو که یو سړې خپله ښځه په نافرمانی ووهي نو په دې مواخذه نشته دی. (المرقات ۴۰۸،۴۰۹/۶)

## ښځه د خاوند د اجازت نه بغیر نفلي روژه نه شي نیولی

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ

حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چه یوه ورځ یوه ښځه په خدمت کې حاضره شوه مونږه د

إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَه فَقَالَت: زَوْجِي صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ

رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې ناست وو او عرض یې وکړو چې زما خاوند صفوان بن معطل

يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ وَلَا يُصَلِّي الْفَجْرَ

کله چې زه مونځ کوم نو ما ووهي او کله چې روژه نیسم نو په مایې ماتوي او پخپله د سحر مونځ په هغه وخت

حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ:

کې کوي چې نمر راختوته نزدې وي یا راختلی وي. راوي وایي چې په کوم وخت کې د صفوان ښځې شکایت کولو

وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ قَالَ: فَسَأَلَهُ

نو صفوان په مجلس کې موجود وو! راوی وایي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تپوس او کړو د صفوان

عَمَّا قَالَت فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَمَّا قَوْلُهَا:

نه د هغه د ښځې ذکر کړی شوو خبرو باره صفوان عرض وکړو یا رسول الله زما ښځې ووې چې زه کله

---

[1] أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۰۹ رقم الحديث ۲۱۴۷ وابن ماجه في ۱/۶۳۹ رقم الحديث ۱۹۸۶

يَضُرِّنِي إِذَا صَلَّيْتُ فَإِنَّهَا

مونځ کومه نو دا ما وهي دهغې وجه دا ده چې په مونځ کې (په یو رکعت یا دوه رکعتونو) کې

تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا قَالَ:

دوه غټ سورتونه لولي حالانکه دا ما د اوږدو اوږدو سورتونو نه منع کړې ده، راوي وائی چې

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كَانَتْ سُورَةً وَاحِدَةً

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صفوان د تصدیق دپاره وفرمایل د سورت فاتحې نه پس یو سورت ویل

لَكَفَتِ النَّاسَ». قَالَ: وَأَمَّا قَوْلُهَا يُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ

د خلقو دپاره کافي دی، بیا صفوان وویل او ددې وینا چې کله روژه نیسم نو دا راباندې ماته کړي

فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ تَصُومُ وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ

د دې وجه داده چې دا همیشه نفلی روژې نیسي اوزه یو ځوان سړی یم نو زه صبر نه شم کولی.

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَصُومُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا»

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې یوه ښځه دې دخاوند داجازت نه بغیر نفلي روژه نه نیسي (بیا

وَأَمَّا قَوْلُهَا: إِنِّي لَا أُصَلِّي حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِنَّا أَهْلُ بَيْتٍ

صفوان وویل چې) او دا وایې چې زه دنمر راختو سره مونځ کومه دهغې وجه دا ده چې مونږ مزدورکاره خلق یو،

قَدْ عُرِفَ لَنَا ذَاكَ لَا نَكَادُ

ټوله شپه په پټو اوباغونو کې کارکوو چې دې وجې نه مونږ ته دآرام موقع کمه ملاویږي، او دا زمونږ دخلقو عادت

نَسْتَيْقِظُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ

جوړشوی دی چې کله مونږ دشپې په آخري حصه کې اوده شو نو په هغه وخت پاڅو کله چې نمر راختو ته

قَالَ: «فَإِذَا اسْتَيْقَظْتَ يَا صَفْوَانُ

نزدې وي یا راختلی وي. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله دا عذر واوریدو نو وې فرمایل چې صفوان! چې کوم وخت دې

| |
|---|
| فَصَلِّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[1] |
| سترګې وغړيږي نو مونځ کوه. (ابوداود، ابن ماجه) |

**توضيح** : يضربني إذا صليت: هر يو کس له ددې واقعې نه سبق اخستل پکار دي د ژبې ظاهري الفاظو او د هغې مصداق او حقيقت کې څومره فرق راځي که چيرې کوم کس اجمال په اجمال کې وساتي او خبره وکړي نو اوريدونکي باندې به څومره اثر وشي، ليکن کله چې د دې اجمال وضاحت کيږي نو کومه لويه مسئله نده کيږي مګر خپل منځي اختلافاتو دپاره دا کافي ده، نن صبا د الفاظو د ظاهري ساخت نه خلک کوم کوم تنازعات پيدا کوي، نو کله چې د حقيقت پته ولګي نو بياځه هم نه وي، دا د نقل کولو والا کرم يې فايلی دی، کوم. چا رښتيا ويلي دي.

**وهم نقلوا عني الذى لم افه به وما آفةُ الاخبار الا رواتها**

يعنې هغوی زمانه هغه څه نقل کړې دي چې ما نه دې ويلي او دخبر ورکولو مصيبت دخبر ورکولو والا راويانو په وجه دی. اوس دلته دې حديث ته اوګورئ چې درې شکاياتونه دي او غټ شکاياتونه دې چې خاوند په مونځ کولو وهل کوي، چې روژه نيسم بيايې راباندې ماتوي او دسحر مونځ نه کوي، او حضور چې ددې تفصيل د هغې دخاوند نه معلوم کړو نو حقيقت بل څه وو، حضور په مونځ باندې د وهلو په شکايت، دحضرت صفوان د بنځې په حق کې فيصله وکړه، او د روژې ماتولو په شکايت کې يې د خاوند په حق کې فيصله وکړه او دسحر په مونځ کې يې هم د حضرت صفوان په حق کې فيصله وکړه (چه صفوان معذور دی) او بيايې ورته د مونځ ترتيب بيان کړو. (المرقات ۴۱۰/۶، ۴۰۹)

## په سخت حکم کې هم دخاوند اطاعت کول

| |
|---|
| ﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي نَفَرٍ |
| حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشريف فرما وو په يو جماعت کې |
| مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ فَجَاءَ بَعِيرٌ فَسَجَدَ لَهُ |
| د مهاجرينو او انصارو چې يو اوښ راغی او نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې سجده وکړه صحابه کرامو چې دا وليدل |
| فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُولَ اللهِ تَسْجُدُ لَكَ الْبَهَائِمُ وَالشَّجَرُ |
| نو عرض يې وکړو چې اې د الله رسوله! چې ځناور او ونې تاسو ته سجده کوي چې عقل او شعور نه لري |

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۸۴۷ رقم الحديث ۲۱۴۵۹ وأحمد في المسند ۳/۸۰

| |
|---|
| فَنَحْنُ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ. فَقَالَ: |
| او ستاسو عزت کوي نو زمونږ دپاره دا جائز نه ده چې تاسو ته سجده وکړو؟ نبی ﷺ ورته وفرمایل |
| اعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ وَلَوْ كُنْتُ آمِرُ |
| چې د خپل رب عبادت کوئ او د خپل ورور (یعني زما) تعظیم کوي که چیرې ماته دا اختیار وی چې |
| أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا |
| غیرالله ته د سجدې حکم ورکړم نو ما به ښځو ته حکم ورکړی وو چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړئ. |
| وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ مِنْ جَبَلٍ أَصْفَرَ إِلَى جَبَلٍ أَسْوَدَ |
| که چیرې خاوند دا حکم ورکړي چه هغه زیړ رنګ غر نه کانې اوچت کړه او تور غر ته یې یوسه |
| وَمِنْ جَبَلٍ أَسْوَدَ إِلَى جَبَلٍ أَبْيَضَ كَانَ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تَفْعَلَهُ». رَوَاهُ أَحْمد[1] |
| او د تور غر کانې اوچت کړه او سپین غر ته یې یوسه نو هغه ښځې له پکار دي چې دخپل خاوند حکم ومني. (احمد) |

**توضیح** : **فسجدله**: یعني اوښ بطور خرق عادت حضور ته سجده وکړه اوښ غیر مکلف حیوان دی او په طور د معجزې یې داسې وکړه نو عقلمند انسانانو دپاره داسې څه قاعده نشته او بیا د اوښ دا سجده الله تعالی ته وه حضور صرف قبله وه او دا الله تعالی صرف اوښ ته حکم کړی وو د بل چا دپاره څه ګنجائش نه وو، حضور منع کړې ده، او چې کوم خلق نن سبا قبرونو ته سجدې کوي دیر زیات کم عقل او نافرمان دي. چا څه ښه ویلي دي: (المرقات ۴۰۱/۶)

زندگی اس کی ہے ملت کے لئے پیغام موت — کر رہا ہو بجائے کعبہ قبروں کا طواف

**اکرموا اخاکم**: حضور ﷺ د تعظیم او اکرام باره وفرمایل چې د عبادت حقدار صرف الله تعالی دی او د خپل ورور یعني حضور اکرم عزت او ادب کوئ، په زړه کې ما سره محبت ساتئ او په ظاهر او باطن کې زما اطاعت کوئ.

نبی ﷺ **تواضعاً** "**اخاکم**" لفظ استعمال کړه او ارشادیې وفرمایلو چې زه هم د آدم د اولاد په شان یو انسان یم لیکن زما رب ماته نبوت راکړی دی او د الله تعالی د اکرام په رنا کې زما هم اکرام کوئ. علامه طیبی فرمائي "یعنی **اکرموا من هو بشر مثلکم ومفرع من صلب ابیکم آدم، واکرموه لما اکرمه الله تعالی**" ددې حدیث په تشریح کې یو بدعتي حضرت شاه اسماعیل شهید

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ٦/٧٦

ته درخواست وکړه، حضرت شاه صیب ډیره ښه تشریح ولیکله او ورته یې ورولیږله دبدعتی نیت تیک نه ووهغه د شاه صیب خلاف یو طوفان پیدا کړه چې شاه صیب حضور اکرم ته لوی ورور وویلی دی چې نن پورې د طعنونو سلسله جاری ده، الله تعالی دې د داسې فتنه ګرو خلقو نه زمونږ حفاظت وکړي. (المرقات ۴۱۱/۶، الکاشف ۳۵۷/۶)

**ان تنقل: أي تنقل حجرا:** که خاوند ښځې ته حکم وکړي چې یو درونده کانې اوچت کړي او د یو زیږ غرنه تورغر ته او د تور غرنه سپین غر ته ویسي نو ښځې له دا کار پکار دی اګر چې په دې کار کې فائده نشته، اګر چې د یوه موقع ده چې خاوند ته سختې خبرې وشي، د یو بې مقصده کار دپاره یو انسان ته تکلیف ورکوی، لیکن شریعت او د حضور اکرم حکم دی چې ښځه دې داسې حکم هم منې بلکې د خاوند حکم او اطاعت ته دې اوګوري چې په دې څومره ثواب به ملاویږي.

بهر حال دا نقل او حمل د یو ګران او مشکل کار نه کنایه ده، شاعر د داسې مشکل کار طرف ته اشاره کوي: (المرقات ۴۱۱/۶)

**لنقل الصخر من قلل الجبال أحب إلي من منن الرجال**

(المرقات ۴۱۱/۶، الکاشف ۳۵۷/۶)

**ترجمه:** نقل کول د کانو د غرونو د سرونو نه ماته ډیر خوښ دی د خلکو د حساناتو نه.

من جبل: د غرونو د دې خاص رنګونو کې ذکر کولو کې صرف د مبالغې طرف اشاره ده ځکه داسې قسم مختلف رنګونو والا غرونه دیوبل نه ډیر لرې وي.

## دنافرمانه ښځې عبادت نه قبلیږی

| |
|---|
| ﴿۳۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلَاثَةٌ |
| حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي داسې درې کسان دي چې د هغوی |
| لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ وَلَا تَصْعَدُ لَهُمْ حَسَنَةٌ الْعَبْدُ الْآبِقُ |
| پوره مونځ نه قبلیږي او نه څه نیکي یې برهٔ ځي یو هغه غلام چې د خپلو مالکانو نه تښتیدلی وي کله چې هغه |
| حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى مَوَالِيهِ فَيَضَعَ يَدَهُ فِي أَيْدِيهِمْ |
| واپس راشي او خپل ځان خپلو مالکانو ته حواله کړي نو د داسې غلام مونځ نه قبلیږي دویمه هغه |
| وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا وَالسَّكْرَانُ حَتَّى يصحو». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان (حسن)[1] |
| ښځه چې خاوند تري نه ناراضه وي، او دریم نشه باز تر څو پورې چې هوش کې رانه شي. |

---

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٣٨٣ رقم الحديث ٨٦٠٠

**توضيح** :الی موالیه: موالی د مولی جمع ده او آقا ته ویلی شي دلته یې جمع راوړه دې کې دې طرف ته اشاره ده چې هغه غلام له پکار دي چې صرف د آقا نه نه بلکې دهغوی د اولاد نه هم معافي وغواړي دې دپاره چې دهغه عبادت هم خراب نه شي او د وفاداری بنه اظهار هم وشي.(المرقات ۴۱۲/۶)

**لاتقبل**: کې نفي د کمال ده، یعنې عبادت به یې پوره او کامل طور باندې نه قبلیږي. (المرقات ۴۱۲/۶)

**لاتصعد**: نه دا اشاره ملاویږي چې اعمال بره طرف ته ځي، او د الله تعالی بادشاهت او د عرش برنی نظام بره دی، دلته دا خبره په نظر کې ساتل پکار دي چې په کوموا حادیثو کې چې خاوند ته کوم مقام ورکړی شوی دی ددې نه مراد هغه خاوند دی چې دخپل خالق فرمانبردار او پرهیزګار مؤمن وي د فاسق او فاجر خاوند دا مقام نه دی. (المرقات ۴۱۲/۶)

## د بهترینې بڼځې پیژندګلو

﴿۳۳﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النِّسَاءِ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چا تپوس وکړو چې کومه بڼځه

خَيْرٌ؟ قَالَ: «الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ

بهتره ده؟نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هغه بڼځه چې خاوند ورته وګوري او هغه خوشحاله کړي،

وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهَا

او هغه یې تابعداري وکړي کله چه خاوند ورته حکم ورکړي او خپل ذات او خپل مال کې هغه خلاف څه داسې

بِمَا يَكْرَهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[1]

خبره ونه کړي چې هغه خبره هغه ته ناخوښه وي. روایت کړې دې نسائی او بیهقی په شعب الایمان کښ.

**توضيح**:ولا مالها: دلته دا سوال دی چې دمال نسبت یې بڼځې طرف ته څنګه کړی دی؟ نو د دې وضاحت یې داسې کړی دی چې ممکنه ده چې مال ذاتي طورباندې ددغې بڼځې وي او خاوندیې غریب وي نو دا نسبت حقیقي دی او دا هم ممکنه ده چې دا مال دخاوند وي لیکن دبڼځې په قبضه کې وي نو دابڼځه دومره دیانتداره ده چې د خاوند د مال د خپل مال په شان حفاظت کوي او دخاوند مال دخاوند د اجازت نه بغیر نه خرچ کوي او نه پکې خیانت کوي.( المرقات ۴۱۳/۶،الکاشف ۳۵۹/۶)

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ٦/٦٨ رقم الحديث ٣٢٣١

## دامانت داره بنځې فضيلت

﴿٣٣﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ:

.ددې حديث حضرت ابن عباس رضي الله عنهما راوي دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :

"أَرْبَعٌ من أعطيهن فقد أعطي خير الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ:

چې څلور څيزونه داسې دي چې کوم کس ته دا ملاوشي نو هغه ته به د دنيا او آخرت بنيګړې نصيب شي . اول دا

قَلْبٌ شَاكِرٌ وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ

چې د لله تعالى په نعمتونو شکر ايستونکى، ديوم: په غم او خوشحالى په هر حالت کې د الله تعالى ديادولو والا ژبه.

وَبَدَنٌ عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرٌ وَزَوْجَةٌ لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا

دريم !هغه بدن چه په مصيبتونو صبر کولو والا څلورم ! هغه بنځه چې خيانت نه کوي په خپل

فِي نَفسهَا وَلَا مَاله". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي شعب الْإِيمَان[1]

ذات او د خاوند په مال کې (روايت کړې دې بيهقى په شعب الايمان کې)

(١) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٤/٢٣٣ رقم الحديث ٤٩٠٢

# بَاب الْخُلْع وَالطَّلَاق

## د خلعې او د طلاق بیان

قَال الله تعالى : (اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلاَ تَعْتَدُوهَا) (البقرة: ۲۲۹)

د باب **فتح یفتح** نه، خلع چې د خاء فتحې سره شي نو په لغت کې د یو څیز ایستل، زائل کول او رابنکلو دپاره استعمالیږي، خاص طور باندې دبدن نه کپړې او څپلی ایستو ته ویلی شي، او کله چې د خاء په ضمې او د لام په سکون سره وي نود ازالې دزوجیت دپاره استعمالیږي او همدا خلع ده. د دې شرعي تعریف څه داسې دی (**الخلع فراق الرجل امرأته علی عوض**) یعنې ملکیت دنکاح دمال په عوض کې زائل کولو ته خلع وایې) علامه طیبی فرمایې چې لغوي او شرعي معنی کې دا مناسبت دی چې ښځه او خاوند دیوبل دپاره په مثال د جامې دي (**هن لباس لکم وانتم لباس لهن**) او چې کله ښځې اوخاوند د خلع عمل وکړو نو داسې شوه چې دواړو خپل بدن نه جامې ویستلې. (**والطلاق**) دا په خلع باندې عطف دی اګر چې خلع دنکاح د فسخ کوم نوم دی او د طلاق نوم نه دی نو په دې د طلاق عطف کول واضح او ښکاره دی، دواړه لفظونه د مفهوم په اعتبار سره جدا جدا دي او عطف صحیح دی او که خلع هم یو طلاق شي ځنګه چې روستو اختلاف راروان دی نو بیا لفظ د (**الطلاق**) عطف العام علی الخاص دی چې طلاق عام دی او خلع خاص ده. اسلام د سهولت او د رحمت دین دی او د دې قانون د شفقت دی. کله ښځه ښه نه وي چې د هغې په وجه د سړې ژوند په تکلیف کې وي نو اسلام خاوند ته په بهتره طریقه د طلاق ورکولو اختیار ورکړی دی، کله خاوند ښه نه وي ښځه دسړې ظلمونه برداشت کوي نو اسلام ښځې ته هم اختیار ورکړی دی د خلع په شکل کې، یعنې دمال د څه مقدار په عوض کې د طلاق اخستو حق یې ورکړی دی. فرق صرف دومره دی چې په طلاق کې خاوند آزاد دی ډښځې مرضي په کې نه وي، خو په خلع کې یې د خاوند مرضي ساتلې ده، چې دکورنۍ قیادت او د سړو سیادت مفلوج نه شي، ددې ټولو سهولتونو باوجود اسلام ایذاء رسانې او د فساد په بنیاد طلاق ورکول یا د خلعې مذمت کړی دی دې دپاره چې دمجبورۍ د سهولت نه کوم کس ناجائزه فائده وانخلي.

**دخلعې طریقه**: که دښځې خاوند په هیڅ شان جوړه نه راتله او سړی طلاق هم نه ورکوي نو ښځې له پکار دي چې څه مال ورکړي یا خپل مهر ورکړي او د خاوند نه ځان ازاد کړي، یادا سې ووایې چې

کوم مهر ستا په ذمه دی دهغې په عوض ما ازاده کړه او خاوند ووایې چې ما پریخودې، دا فدیه افتداء او خلع ده په دې کې شرط دا دی چې د طلاق لفظ پکې استعمال نه شي که د طلاق لفظ استعمال شو نو دېته به طلاق بالمال ویلی شي.

## ناخوښه خاوند نه طلاق اغستی شي

### اَلْفَصْلُ الأَوَّل

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وایي چې د ثابت بن قیس بښځه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوه

فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ

او عرض یې وکړو چې ای د الله رسوله! په ثابت بن قیس باندې ماله غوسه نه راځي او نه زه د هغه په عاداتو

وَلَا دِينٍ وَلَكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او دهغه په دین باندې څه عیب لګوم، خو اسلام کې کفر نه خوښومه، رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

«أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ؟» قَالَتْ: نَعَمْ

ایا ته ثابت بن قیس ته د هغه باغ چې تاله یې په مهر کې درکړی دی هغه به واپس کړې؟ د ثابت بښځې وویل آو.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً».

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوریدل نو ثابت ته یې وفرمایل چه ته خپل باغ واخله او دې له طلاق ورکړه.

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

(روایت کړې دي بخاري)

**دفقهاو اختلاف**: امام احمد بن حنبل او امام شافعی د مشهور قول مطابق په خلې سره نکاح فسخ کیږي، او د بښځې او خاوند په مینځ کې به بیلتون راشي، د امام مالک او امام ابو حنیفه په نزد د خلعې عمل سره بښځې ته یو طلاق بائن واقع کیږي، خلاصه داده چې د امام احمد او امام شافعی په

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۹۵ رقم الحديث ۵۲۷۳ والنسائي في السنن ۶/۱۶۹ رقم الحديث ۳۴۶۳ وابن ماجه في ۱/۶۶۳ رقم الحديث ۲۰۵۶ وأحمد في المسند ۴/۳

نزد خلع فسخ نکاح ده، او د امام مالک و امام ابو حنیفه په نزد طلاق بائن دی. (المرقات ۴۱۳،۴۱۴/۶)

**دلائل**: داولې دلې دلیل **(الطلاق مرتان.....الی.....فان طلقها الخ)** د دلیل طریقه استدلال داسې دی چې په ایت کې د دوو طلاقو ذکر دی او بیا **(فان طلقها)** سره دریم اوآخري طلاق بیان کړی شوی دی کوم مینځ کې **(فیما افتدت به)** دفدیې والا د خلعې صورت طلاق واحد شمار کړی شي نو په اسلام کې د دریو طلاقو په ځای به ځلور طلاقه شي، او دا باطل ده لهذا خلع په طلاق کې شمارل باطل دي.

ددې حضراتو دویم دلیل: د حضرت ثابت بن قیس د ښځې قصه ده چې نبی کریم ﷺ د هغې عدت صرف یو حیض مقرر کړو **(فجعل عدتها حیضةً)** ابوداود شریف د دې روایت نه معلومه شوه چې د خلع نه پس رسول کریم ﷺ د حضرت ثابت ښځې له د عدت یو حیض مقرر کړه او په طلاق کې یو حیض نه وی بلکې درې حیضه د عدت دپاره ضروري وي، معلومه شوه چې خلع طلاق نه دی بلکې فسخ نکاح ده. امام ابو حنیفه او امام مالک د حضرت ثابت بن قیس د ښځې واقعه د دلیل دپاره بیان کړې ده چې په بخاری شریف کې هم ده او د مشکوة شریف په حاضره صفحه کې هم ده، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم دهغې خاوند ته وفرمایل چې دا باغ چې تاله ستا ښځې درکړو دا قبول کړه او ښځې له یو طلاق ورکړه دا حضرات فرمایې که چیرې دا خلع فسخ د نکاح وه نو د طلاق ورکولو ضرورت ولې راغی؟ دې حضراتو ددې روایت نه هم دلیل پیش کړی دی. **(ان النبی صلی الله علیه وسلم جعل الخلع تطلیقةً واحدة رواه سعید بن المسیب مرسلا کذا فی مصنف ابن ابی شیبة)**

جواب: د اولنی دلیل د روایت نه د دلیل نیولو جواب دا دی چې دلته خلع بیل طلاق نه دی بلکې قرآن د **(الطلاق مرتان)** په صورته بیان کړې دي: یو طلاق بلاعوض دی چې ددې ذکر په **(الطلاق مرتان)** کې دی، او یو طلاق بالعوض دی چې خلع ورته وایې دا د بیل طلاق ذکر نه دی بلکې **(الطلاق مرتان)** په ضمن کې دیو طلاق ذکر دی دا دوه طلاقه شوا و **(فإن طلقها)** کې دریم طلاق بیان شو. کوم ځای کې چې حدیث کې د **(حیضة)** لفظ راغلی دی نو دا د جنس دپاره دی چې قلیل او کثیر ته ویلی شي، لهذا ددې نه ددریو حیضونو نفي ونه شوه. حضرت شاه انور شاه صیب فرمایې چې دیو حیض ذکر چې په حدیث کې راغلی دی دا هغه حیض دی چې هغه د تیرولو دپاره یې ښځې ته ویلی دی چې هغه دې د خاوند په کور کم از کم یو حیض تیر کړي بیا دې نه علاوه دوه دې خپل کور کې تیر کړي.

**اکرهٔ الکفر فی الاسلام**: یعنی زما ورسره دزړه محبت نشته، په دې وجه هغه ماته طبعی طور باندې ناخوښه دی، نه څه شرعي وجوهاتو باندې خراب دی نه په کې څه شرعي عیبونه شته، خوښ زما نه دی خوښ، او چونکه زما خاوند دی چې نفرت ترینه حرام دی لهذا مونږ په اسلام کې اوسیږو

داسې نه چې زه د بې اسلامۍ خبرې يا دناشکرۍ خبرې وکړم چيرته په دې وجه زما ايمان ته نقصان ونه رسي، د کفر نه مراد کفران نعمت دی، ويلی کيږي چې حضرت ثابت بن قيس د قد نه وړوکی وو او شکل او صورت يې هم ښه نه وو او د هغه د ښځې نوم جميله يا حبيبه وو ښائسته وه په دې وجه دهغوی دواړو جوړه نه راتله. (المرقات ٤١٣/٦)

## د طلاق تعريف او قسمونه

﴿٢﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ

دحضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې روايت دی چې هغه خپلې ښځې له په حالت د حيض کې طلاق ورکړو

فَذَكَرَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې ذکر رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړه، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په واقعي ډير غوسه شو

ثُمَّ قَالَ: «لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا

اووې فرمايل چې (ددې ګناه د تلافي دپاره) عبدالله له پکار دي چې هغې ته رجوع وکړي او بيادې د خپل ځان سره وساتی

حَتَّى تطهر ثُمَّ تحيض فَتطهر فَإِن بدا لَهُ

تردې چې پاکه شی او چې بيا حائضه شی او دې نه پس پاکه شي اوبيا حائضه شي او دې نه پس بيا پاکه شي

أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا

او طلاق ورکول ضروری وو، نو د پاکۍ په حالت کې طلاق ورکړه مخکې ددې نه چې ته ورسره جماع وکړې

فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ». .

پس دا هغه عدت دی چې دکوم باره کې الله تعالی حکم کړی دی چه په دې کې دې ښځو له طلاق ورکړی شي،

وَفِي رِوَايَةٍ: «مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا

په يو روايت کې دادي چې حضور حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې عبدالله ته حکم ورکړه چې دې ښځې ته رجوع وکړي

طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

اوبيا د پاکۍ په حالت کې (په دې شرط چې حامله نه وي او حيض راشي) يا يې د حمل په حالت کې يې طلاق ورکړه.

---

(١) أخرجه البخاري في صحيحه ٨/٦٥٣ رقم الحديث ٤٩٠٨ ومسلم في صحيحه ٢/١٠٩٣ رقم الحديث (١/١٤٧١) وأبوداؤد في السنن ٢/٦٣٢ رقم الحديث ٢١٧٩ والترمذي في ٣/٤٧٨ رقم الحديث ١١٧٥ والنسائي ٦/١٣٧ رقم الحديث ٢١٧٩ والترمذي في السنن ٣٢/٤٧٨

**توضیح** : طلق امراةً له:طلاق په معنی د تطلیق دی، څنګه چې سلام د تسلیم په معنی سره دی. په لغت کې دطلاق معنی ده"حل قیدٍ حسيٍ او معنويٍ"یعنې د ظاهري یا معنوي کړې کولاولو نوم طلاق دی، دقید ظاهري مثال لکه چې د چاپه پښو کې زنځیرونه اچولې وي، او د قید معنوي مثال لکه دنکاح په وجه ښځې باندې یوغیر مرئي اوغیر حسي قید لګیدلی وی.د فقهاء کرامو په اصطلاح کې د طلاق تعریف دادی"**الطلاق ازالةُ النكاح او نقص حله**" یعنې د نکاح قیدبالکل زائل کول یا ددې حلت کمول.کله چې یوسړې ښځې ته مغلظ طلاق ورکړي نو ده بالکلیه دنکاح قید زائل کړو او وطی حرام ده، او که طلاق رجعی یې ورکړو نو د نکاح حلت صورت ته نقصان ورکوي، اوس وطي جائز ده لیکن د رجوع کولو په صورت کې په آینده کې د درې طلاقونو په ځای به ددوه طلاقونو مالک وي دا حلت کموي.خلاصه دا ده چې په لغت کې طلاق قید اوچتولو ته ویلی شي، او په اصطلاح کې د نکاح قید د مخصوصو الفاظو په ذریعه زائل کولونوم طلاق دی.

**د طلاق قسمونه** : طلاق په درې قسمه دی: ۱. احسن ۲. حسن ۳. بدعي.

**طلاق احسن** : دا هغه طلاق دی چې په کې جماع نه وي شوې او درې میاشتو تیریدو پورې د رجوع او جماع نه ځان ساتل، د عدت په تیریدو باندې ښځه بائنه کیږي، دا احسن په دې دی چې په دې کې خاوند ته هر وخت رجوع کولو اختیار وي. دسوچ کولو موقع هم ډیره ملاویږي او د طلاق مکروه الفاظ هم کم نه کم پکې استعمالیږي. **طلاق حسن** : دې ته وایې چې په طهر کې یې ښځې له یو طلاق ورکړو بیایې په دویم طهر کې دویم طلاق ورکړو او بیایې دریم طهر کې دریم طلاق ورکړو نو په ښځې دري طلاقه واقع شول. امام مالک فرمایې چې دا صورت حسن نه دی ځکه چې په یو طلاق ښځه جدا کیدی شي نو د ابغض المباحات درې ځله تکرارولو ته څه ضرورت دی؟ جمهور فرمایې چې د شرعي نصوصو په موجودګی کې ستا قیاس نه چلیږي.

**طلاق بدعي** : دا هغه طلاق دی چې په یو طهر کې درې طلاقه په یو مجلس کې ورکړي، یایې په بیل بیل وخت کې ورکړي، یایې حالت حیض کې ورکړي، دا طلاق بدعی دی داسې طلاق ورکولو سره سړی ګناه ګاریږي خو طلاق واقع کیږي.امام شافعی فرمایې چې طلاق بدعي په حالت حیض کې ورکولی شي که په طهر کې یې ورکړو نوهغه طلاق بدعی نه دی خواه که په مجلس کې درې طلاقه په یوځل ورکړي یایې بیل بیل ورکړي ټول جائز دي.احناف فرمایې چې نکاح په مصالح دیني او دنیاوي باندې مشتمله وي او طلاق ورکولو سره دا مصالح ختمیږي، لهذا طلاق د ډیرې مجبورۍ په وخت کې ورکول پکار دي او هغه هم داسې ورکول پکار دي چې په وقت د ضرورت کې خاوند ته دپښمانۍ څه اختیار وي او په هغې په وجه یې څه پریشاني لرې شي په دې وجه طلاق ورکول چې

څومره کم وي هغومره بهتر وي.او کثرت بدعت دی.د طلاقو په اقسامو کې بعضو شارحینو په مختصرو الفاظو سره داسې تقسیم کړی دی چې طاق دوه قسمه دي: سني او بدعي، بیا سني په دوه قسمه دی: احسن او حسن نو ټول درې قسمه شول.

**دحیض په حالت کې دطلاق ورکولو نه ممانعت:** فتغیظ: حضور اکرم ﷺ په دې غوسه شو چې په حالت حیض کې طلاق ورکول حرام دي په حالت حیض کې طلاق ورکول بالاجماع ګناه او بدعت دی.د ائمه اربعو او سلف صالحینو په دې کې هیڅ قسمه اختلاف نشته. البته دغیر مقلدینو مسلک دې که چیرې چا په حالت حیض کې طلاق ورکړو نو طلاق نه واقع کیږي.جمهور ائمو دحضرت ابن عمر د روایت نه دلیل نیولی دی چې کله حضرت عمر فاروق شکایت وکړو نو حضور ورته وفرمایل چې خپل ځوی ته ووایه چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي مره فلیراجعها اوس دا خبره واضحه شوه چې رجوع متفرع ده طلاق باندې کله چې طلاق وشي نو بیا رجوع کولی شي ورنه د رجوع ضرورت څه دی؟ دې نه معلومه شوه چې په حالت حیض کې طلاق ورکول ګناه ده او که چا ورکه نو طلاق واقع شو ،دا مسئله پاتې شوه چې په دغه حیض سره متصل چې کوم طهر دی په هغې کې د طلاق ورکولو په ځای حضور اکرم ﷺ دا ولې وفرمایل چې راتلونکي حیض نه وروسته چې کوم طهر دی په هغې کې طلاق ورکړه، د دې حکمت علماو دا ښودلی دی چې کیدی شي په دې تاخیر سره شاید د خاوند د طلاق اراده بدله شي، یایې د سزا په طور باندې یې دا مؤخر کړه، چې تا جلتي وکړه په حیض کې دې طلاق ورکړه اوس یو طهر نه د بلکې د دوه طهرونو انتظار وکړه، بهر حال دا یوه تنبیه ده چې اولی ده او واجب نه ده.(المرقات ۴۱۵.۴۱۶/۶)

## ښځې ته د طلاق اختیارورکول

﴿۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: خَيَّرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عائشه رضی الله عنها وایي چې اختیار راکړو مونږ له نبی علیه السلام (کچرې تاسو دنیا او دنیا د زیب وزینت خواهش مندئ

فَاخْتَرْنَا اللهَ وَرَسُولَهُ فَلَمْ يَعُدَّ ذَلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نو مال بدرکړم او دالله او رسول او آخرت طلبګار نو بیشماره اجر وثواب) او نبی علیه السلام دا اختیار زمونږ دپاره هیڅ کې هم شمار نه کړه

**توضیح:** فاخترنا الله: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي چې حضور اکرم ﷺ مونږه ته په

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳۶۷ رقم الحديث ۵۲۶۲ ومسلم في صحيحه ۲/۱۱۰۳ رقم الحديث (۱۴۷۷.۴۱) وأبوداؤد في السنن ۲/۶۵۳ رقم الحديث ۲۲۰۳ والترمذي في السنن ۳/۴۸۳ رقم الحديث ۱۱۷۹ والنسائي في ۶/۱۶۰ رقم الحديث ۳۴۴۱ وابن ماجه ۱/۶۶۱

طلاق کې اختیار راکړه مونږه الله او دالله رسول اختیار کړه او طلاق مو اختیار نه کړه.په داسې صورت که یو سړی ښځې ته داسې ووایې "چې ته خپل نفس اختیار کړه یا ما اختیار کړه" او که چیرې ښځې خپل ځان اختیار نه کړه خپل خاوندیې اختیار کړهنو په دې صورت کې طلاق واقع نه شو، ځکه چې ښځې خپل حق او اختیار استعمال نه کړه، نو د جمهورامت په نزد هیڅ هم نشته، حضرت علي او حضرت زید بن ثابت رضي الله عنهما په نزد صرف په اختیار ورکولو سره طلاق رجعي یا بائن واقع کیدو قائل دي. حضرت عائشې رضي الله عنها کیدی شي دهغو حضراتو میلان طرف ته اشاره فرمایلې وې چې صرف اختیار ورکولو باندې څه نه کیږي، او که چیرې ښځې خپل ځان او طلاق اختیار کړه نو طلاق واقع شو البته د امام شافعی او امام مالک په نزد طلاق رجعي واقع شو او د امام ابو حنیفه په نزد طلاق بائن واقع شو او د امام مالک په نزد درې طلاق واقع شول.(المرقات ۴۱۷/۶)

## یو څیز په خپل ځان باندې حرام کولو حکم

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې هغوی وویل (چې د یو څیز) حرامولو باندې کفاره ورکول دي او

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

(په دې باره کې) ستاسو دپاره رسول کریم صلى الله عليه وسلم کې د تابعداری بهتره نمونه ده. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: **قال فی الحرام یکفر**: یعني که یو کس یو څیز په ځان باندې حرام کړي نو هغه څیز خو حلال دی او حلال به وي، کله چې ده هغه څیز استعمال کړه نو د قسم کفاره به په هر صورت کې اداء کوي، که هغه څیز فی نفسه حلال وي که حرام، مثلاً که چا د قسم په نیت دا وویل چې شراب په ما باندې حرام دي او د هغه نیت د خبر ورکول نه وو بلکې قسم یې کړی وو، نو اوس که هغه شراب وڅکل نو د قسم کفاره په ده لازم شوه، چې څه هم وي شراب څکل حرام دي که یو کس خپلې ښځې ته داسې وویل چې ته په ما باندې حرامه یې نو هغه به (ایلاء) وي، چې د هغې تفصیل تیر شوی دی او که چا وویل چې دالله تعالی حلال کړی شوې ټول څیزونه په ماباندې حرام دي، په مظاهر حق کې یې لیکلي دي چې فتوی داسې ده چې داسې ویلو سره په هغه کس ښځه طلاقه شوه اگر چې هغه د طلاق نیت نه ووکړي. د حضرت ابن عباس هم دا مسلک دی او د ائمه احنافو هم دا مسلک دی، په دې ایت کې هغه پیښې ته

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ٨/٦٥٦ ومسلم في صحيحه ٢/١١٠٣ رقم الحديث (١٤٧٧.٢٤) رقم الحديث ١١٧٩ والنسائي في ٦/١٦٠ رقم الحديث ٣٤٤١وابن ماجه في ١/٦٦١ رقم الحديث ٢٠٥٢ والداري في ٢/٢١٥ رقم الحديث ٢٢٦٩ وأحمد في المسند ٦/٤٥

اشاره ده چې حضور په ځان باندې شهد حرام کړي وو بيا يې د قسم ماتو لو کفاره اداء کړه راتلونکي حديث کې دې واقعې ته په تفصيل سره اشاره ده. (المرقات ۴۱۸/۶)

## د شهدو ځکلو واقعه

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به حضرت زينب بنت جحش رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره

وَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلًا فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ

پاتې کيدو او شهد به يې ځکل يوه ورځ ما او حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يو بلې سره مشوره وکړه چې

أَنَّ أَيَّتَنَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ: إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ

نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مونږ کې چاکره راغی نوورته به وايو چې ستاسو د خولې نه د مغافيرو بوی راځي،

أَكَلْتَ مَغَافِيرَ؟ فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ

ولې تاسو مغافير خوړلي دي؟ کله چې يې په دې دواړو کې دې يوې کره (عائشهؓ يا حفصهؓ) کره تشريف راړولو

فَقَالَ: «لَا بَأْسَ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ

نو هغې ورته هغه خبره وکړه، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې څه خبره نده ما زينب بنت جحش کره شهد ځکلي دي

فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذَلِكِ

او اوس به زه شهد نه څکم. ما قسم وخوړلو دا خبره چا ته مه کوه (ځکه دې سره به د زينب زړه مات شي چې

أَحَدًا» يَبْتَغِي مرضاة أَزْوَاجه

اوس به هغې کره شهد نه څکم) د دې وجې نه د حضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقصد خپلې يې بيانې خوشحالول وو،

فَنَزَلَتْ: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ

نو په دې باره کې دا ايت نازل شو يعنې اى نبي تاسو په خپل ځان باندې ولې حراموئ کوم چې

مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ تبتغي مرضاة أَزْوَاجك) الْآيَة متفق عليه.[1]

الله ستاسو د پاره حلال کړې دي، صرف د خپلو يې بيانو د خوشحالولو د پاره په ځان باندې (بخاری ومسلم)

---

(1) أخرجه البخاری في صحيحه ۸/۶۵۶ رقم الحديث ۴۹۱۲ ومسلم فی ۲/۱۱۰۰ رقم الحديث (۱۴۷۴.۴۰) وأبوداؤد في السنن ۴/۱۰۵ رقم الحديث ۳۷۱۴ والنسائی في السنن ۶/۱۵۱ رقم الحديث ۳۴۲۱

**توضیح:** ریح مغافیر: دا د مغفور جمع ده دا د جهاو و غیره د کومې ونې د میوې نوم دی چې د کنډې شان وي، ددې بوی خراب وي، چونکه رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرشتو سره خبرې کولې دې دپاره به یې د خولې د بوی ډېر خیال ساته، رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مازیګر په وخت کې د حضرت زینب بنت جحش کره تشریف وړلو حضرت زینب به په حضور اکرم باندې شات څکلول، د حضور اکرم شات ډېر خوښ وو، په حضرت عائشې باندې د حضور اکرم د جدائي او د حضرت زینب کره په ډېر وخت تیرولو ډیره سخته تیریدله، او حضرت حفصې سره یې مشوره وکړه او یوه منصوبه یې تیاره کړه چې دواړه به ووایو چې ستاسو د خولې نه د مغافیر بوی راځي، نو دواړو همداسې وکړل، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ما مغافیر نه دي خوړلي البته شهد مې څکلي دي، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې آو داسې کیدی شي چې شاتو مچو به د هغې ونې د میوې رس رابنکلی وي او په شهدو کې به یې ګډ کړی وي چې دهغې اثر په شاتو باندې راغلی دی، دا داسې اوږده مفروضه وه څنګه چې یو چا د خپل اوږد انتقال ذهن د مفروضې باره کې ویلي دي:

مگس کو باغ میں جانے نہ دینا کہ ناحق خون پروانے کا ہوگا

بهرحال حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شهد په خپل ځان باندې حرام کړل الله تعالی د قسم د کفارې ادا کولو حکم وکړو، د حضرت عائشې او د حضرت حفصې چې کومه منصوبه وه دا د کونج (پټه) معامله وه، له دې وجې نه الله تعالی په سختو الفاظو سره تنبیه وفرمایله که چیرې تاسو توبه ونه وېستله نو یاد وساتئ چې الله تعالی او حضرت جبرایل نبی اکرم سره دي او ټول نیک او صالح خلق هم نبی کریم سره دي. دا خیال وکړئ چې د نبی کریم دپاره هرقسمه بیبیانې موجودې دي او دیبیانو ورته کمی نشته. (المرقات ۴۱۹/۶، ۴۱۷)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۶﴾ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِي غَيْرِ

حضرت ثوبان وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کومه بنځه خپل خاوند نه بغېر ضرورته طلاق اخلي نو په هغې د جنت

مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ».

خوشبو (بوی کول) حرام دي. یعنې کله چې په میدان حشر کې د الله نیک بندګانو ته د جنت خوشبو رسیږي نو په دې بنځه د اخوشبو حرامده

رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي[1]

روایت کړې دې مسند احمد، والترمذی، وابو داؤد، وابن ماجه او سنن دارمی

## طلاق ښه څیز نه دی

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَبْغَضُ الْحَلَالِ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې په روا څیزونو کې د

إِلَى اللهِ الطلاقُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

الله په نزد د ټولونه خراب څیز طلاق دی. (ابو داؤد)

**توضیح**: **ابغض الحلال**: دلته دا سوال دی چې کوم څیز حلال دی نو بیا قابل نفرت ولې شو حلال خو جائز وي؟ ددې جواب دادی چې دلته د حلال لفظ د حرام په مقابله کې استعمال شوی دی چې طلاق حرام نه دی حلال دی، اوس د حلال ډیرې درجې دي خواه واجب درجه وي، د سنت درجه وي د مباح درجه وي یا خلاف اولی ناخوښه مکروه درجه وي دا ټولې مرحلې د حلالو په ضمن کې راځي، لهذا دلته فی نفسه د طلاق د حلال کیدو باوجود دا کار مبغضوض ګرځول شوی دی. دویم جواب هم دې سره مشابهت لري لیکن دالفاظو په تعبیر کې فرق دی هغه دا چې طلاق ورکول حلال او مباح دي لیکن د الله تعالی په نزد قابل نفرت او مکروه دی، ډېر داسې څیزونه شته چې مکروه او ناخوښه وي لیکن هغه مباح او حلال وي، مثلاً فرض مونځ بغیر شرعي عذر نه په کور کې کول یا په غصب شوې زمکه باندې مونځ کول اګر چې مباح دی او فرض مونځ سره ذمه فارغه شوه لیکن ددې باوجود مکروه او ناخوښه دی. (المرقات ۶/۴۲۱، ۴۲۰)

## د نکاح نه مخکې د طلاق ورکولو مسئله

﴿۸﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې

«لَا طَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ وَلَا وَلَا عَتَاقَ إِلَّا بَعْدَ مِلْكٍ وَلَا وِصَالَ فِي صِيَامٍ

چې د نکاح نه مخکې طلاق نه کیږي، د مالک کیدو نه مخکې غلام نه شي آزادولی د نیول شوې روژې (یعنې د روژه ماتې نه

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦٦٧ رقم الحديث ۲۲۲٦ والترمذي ۳/٤۹۳ رقم الحديث ۱۱۷۸ وابن ماجه ۱/٦٦۲ رقم الحديث ۲۰۵۵ وأحمد في المسند ٥/۲۷۷ والدارمي في ۲/۲۱٦ رقم الحديث ۲۲۷۰

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦۳۱ رقم الحديث ۲۱۷۸ وابن ماجه في ۱/٦٥۰ رقم الحديث ۲۰۲۸.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَلَا | يُتْمَ | بَعْدَ | احْتِلَامٍ |
| بغير مسلسل روژې نيول جائز نه دي دبالغ کيدو نه پس څوک يتيم کيږي نه (د چا مور پلار نه وي او هغه بالغ شي نو هغه ته به يتيم نه وايي | | | |
| وَلَا رَضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ وَلَا صَمْتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ». | | | |
| دپيو څکلو د مودې نه پس پې څکل په رضاعت کې نه دي شامل او تهوله ورځ خاموش اوسيدل جائز نه دي | | | |
| رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[1] | | | |
| (يا ددې څه ثواب نشته) (شرح السنه) | | | |

**توضيح**: **لاطلاق قبل نكاح**: طلاق په دوه قسمه دی: يو طلاق تنجيزي، يعنې دا طلاق فورًا بغير د څه شرط نه واقع کيږي، دويم طلاق بالشرط دی، چې څه شرط سره مشروط او معلق وي.

يوې ښځې سره د نکاح کولو نه مخکې تنجيزي طلاق دچاپه نزد جائز نه دی، مثلاً يو سړي يوې اجنبي ښځې ته ووايي چې ته په ما باندې طلاقه يې دا کلام بالاتفاق لغوه دی. معلق بالشرط طلاق بيا په دوه قسمه دی: يو قسم کې اضافت اونسبت د نکاح خپل ملک طرفه ته نه وي، مثلاً يو کس ووايي چې که فلانکی ښځې نکاح وکړه نو هغه دې طلاقه وي، دا طلاق هم د طلاق تنجيزي په شان لغوه دی، که وروستو ئې نکاح وکړه نو طلاق نه واقع کيږي او نکاح يې پې درسته ده. دويم قسم هغه دی چې په دې کې سړی اضافت اونسبت خپل ملک طرفه ته وکړي او ووايي چې (**ان نكحتك فانت طالق اوان نكحت فلانة فهي طالق**) په دې صورت کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۴۲۳/۶)

**د فقهاؤ اختلاف**: دجمهورو په نزد دا هم لغوه دی ځکه چې دا د نکاح نه مخکې طلاق دی محل د طلاق نه نشته دی نو وقوع د طلاق هم نشته دی، امام ابو حنيفه فرمايي که په دې صورت کې محل صالح نه وی نو تيک ده، ليکن څنګه چې محل صالح شي نو طلاق به واقع شي. (المرقات ۴۲۳/۶)

**دلائل**: د جمهورو دليل زير بحث حديث دی چې پکې (**لا طلاقَ قبل نكاحٍ**) واضح الفاظ موجود دي، د امام مالک او احمد بن حنبل روايات اګر چې مختلف دي ليکن دهغوی يو يو روايت د امام شافعي سره دی، لهذا دا جمهور يو طرف ته دي، دائمه احنافو يو دليل د موطا امام مالک روايت دی امام مالک فرمايي: **مالک بلغه ان عمر بن الخطاب وعبد الله بن عمر و عبدالله بن مسعود**

---

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۹/۱۹۸ رقم الحديث ۲۳۵۰.

وسالم بن عبدالله والقاسم بن محمد وابن شهاب وسليمان بن يسار كانوا يقولون اذا حلف الرجل بطلاق المرأة قبل ان ينكحها ثم (اى حنث) ان ذلك لازم له اذا نكحها. (صفحه ۵۲۸)

په دې موطا امام مالک کې دي چې يو کس د قاسم بن محمد او سليمان بن يسار نه ددې مسئلې تپوس وکړو چې يو سړي يوې ښځې سره د نکاح نه مخکې ظهار وکړو نو ددې څه حکم دی؟ نو دواړو جواب ورکړو چې که دغه کس دې ښځې سره نکاح وکړه نو ترڅو چې يې کفاره د ظهار نه وي اداء کړي نو هغې ښځې له به نزدې نه ورځي. (موطا مالک ۵۲۸)

همداسې د ترمذی په صفحه ۲۲۳ باندې هم يو قول دی د حضرت ابن مسعود د احنافو دليل دی، ددې ټولو دليلونو نه دا معلومه شوه چې د ائمه احنافو مسلک مبرهن او مدلل بالدلائل دی.

**جواب** : باقي جمهورو د زير بحث روايت نه چې کوم دليل نيولی دی چې دا روايت په تنجيزي صورت باندې محمول دی چې دټولو په نزد ناجائز دی، همدا اختلاف جمهورو او احنافو دلفظ د (کلما) سره طلاق ورکولو کې دی، جمهور طلاق واقع کيدو باندې قائل نه دي، او احناف يې مني، همداسې مسئله د اعتاق هم ده.

**ولا وصال**: وصال ډ هغو مسلسل روژو نوم دی چې بغير د افطار نه وي داسې قسم روژې د امت د پاره منع دي ها د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خصوصياتو کې وو د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ دپاره منع نه وې.

**لا يتم بعد البلوغ**: يعنې د يتيم مسائل او فضائل د هغه د بلوغت نه مخکې مودې پورې محدود وي. نو چې کله بالغ شی نو هغه ته يتيم نه شې ويلی کيدی بيا خو به ټولې دنيا ته يتيمانان ويلی کيدل. (المرقات ۴۲۲/۶)

**ولا صمت يوم**: يعنی د خاموشی روژه نشته دی وړومبنو امتونو کې به خاموشه روژه وه څنګه چې حضرت مريم ويلي وو (**انی نذرت للرحمان صوما فلن اكلم اليوم انسيا**) (سورة نساء آيت۲۶) خاموش اوسيدو کې فائده ده ليکن د خاموشی روژه ددې امت په عباداتو کې نشته.

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه پلار حضرت شعيب د خپل نيکه نه نقل کوي چه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل |
| «لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَلَا عِتْقَ فِيمَا |
| د ابن آدم نذر په هغه څيز کې صحيح نه دی د کوم چې هغه مالک نه دی د هغه وينځې يا غلام آزادول هم صحيح |

لَا يَمْلِكُ وَلَا طَلَاقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

نه دي دکوم چې هغه مالک نه دی نو هغه ښځې ته طلاق ورکول هم ټیک نه دي دکوم چې هغه مالک نه دی. او

وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: «وَلَا بَيْعَ إِلَّا فِيمَا يملك»[1]

ابوداؤد په خپل روایت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې هغه شيز خرڅول هم صحيح نه دي چې دکوم هغه اصالتًا يا وکالتًا ولايةً مالک نه دی.

## د طلاق بتة مسئله

﴿۱۰﴾ وَعَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيْمَةَ الْبَتَّةَ

حضرت رکانه بن عبد يزيد په باره کې روايت دی چې هغه خپلې ښځې سهيمه له طلاق بته ورکړو او بيائې

فَأَخْبَرَ بِذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم وَقَالَ: وَاللهِ مَا أَرَدتُ إِلَّا وَاحِدَةً

دده ذکر رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړه او وې ويل په الله قسم ما د يو طلاق نيت کړی وو

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ مَا أَرَدتَ إِلَّا وَاحِدَةً؟» فَقَالَ رُكَانَةُ:

رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې تپوس وکړو (ته ربنتيا وايې) چې تا د يو طلاق نيت کړی وو ؟ رکانه وويل

واللهِ مَا أَرَدتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

آو په الله مې دې قسم وې ما د يو طلاق نيت کړی وو چنانچه رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ښځه هغه

فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ.

ته واپس کړو بيا رکانه هغې ښځې له دويم طلاق د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خلافت کې ورکړه او دريم طلاق يې د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ إِلَّا أَنَّهُمْ

خلافت کې ورکړو دا روايت ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه، او دارمي نقل کړی دی، ليکن ترمذی ابن ماجه

لَمْ يَذْكُرُوا الثَّانِيَةَ وَالثَّالِثَةَ (ضَعِيف)[2]

او دارمی په خپل روايت کې د دويم او دريم طلاق ذکر نه دی کړی.

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦٤٠ رقم الحديث ٢١٩٠ والترمذي في السنن ٣/٤٩٦ رقم الحديث ١١٨١ وابن ماجه في السنن ١/٦٦٠ رقم الحديث ٢٠٤٨ وأحمد في المسند ٢/١٩٠

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ١/٦٥٥ رقم الحديث ٢٢٠٦ والترمذي ٣/٤٨٠ رقم الحديث ١١٧٧ وابن ماجه في ١/٦٦١ رقم الحديث ٢٠٥١ والدارمي في ٢/٢١٦ رقم الحديث ٢٢٧

**توضیح**:البته: لفظ بتة او البتة یو څیز دی چې دکټ کولو او قطع کولو معنی یې ده د بنځې او خاوند په مینځ کې د نکاح د تعلق ختمولو دپاره چې خاوند کوم لفظ استعمالوي، یعنی لفظ طلاق (بته یا البته) سره مقید کوي چې ددې مفهوم دا شو، داسې طلاق چې کوم دنکاح رشته بالکل ختمه کړي او بنځه د نکاح نه بالکل اوباسي، اوس که یو کس طلاق البته سره مقید کړه نو آیا د دې سړې د نیت اعتبار به کیږي یا یو طلاق به وي، که دوه یا درې واقع کیږي، په دې کې د فقهاء کرامو څه اختلاف دی.(المرقات ۴۲۵/۶)

**دفقهاؤ اختلاف** : د امام مالک رحمه الله قول دی چې په دې لفظ سره درې طلاقه واقع کیږي نو بنځه مغلظه شوه د نیت اعتبار نشته، جمهور فرمایې چې ددې لفظ د استعمالولو والا کس نیت ته اعتبار شته دی، بیا د شوافعو او احنافو ددې نیت په تفصیل کې اختلاف دی، امام شافعی فرمایې که یو کس دیو طلاق رجعی نیت وکړي نو دا هم صحیح دی دوه هم صحیح دي او ددریو طلاقو هم نیت کولی شي چې په دې سره بنځه مغلظه شي، ائمه احناف فرمائي چې دې لفظ سره طلاق رجعی نه بلکې یو طلاق بائن واقع کیږي، که د یو طلاق نیت یې وکړو یا د دریو طلاقو نیت یې وکړو نو دا هم صحیح دی، د دوو نیت نشي کولی، د (البتة) لفظ مصدر دی او دمصدر اطلاق په دوو باندې نه شي کیدی ځکه چې دوه خالص عدد دی او دمصدر اطلاق په قلیل اوکثیر باندې کیږي، لیکن عدد محض ته نشي ویلی، بهرحال یو طلاق سره بنځه بائن کیږي، اوکه د دریو نیت یې کړی وي نو مغلظه به شي.(المرقات ۴۲۵/۶)

**والله ما اردت الا واحدة**: چونکه دا د کنائي الفاظ دی دی دپاره د طلاق ورکولو والا نیت له اعتبار دی. دې وجې نه رسول کریم ﷺ باربار د حضرت رکانه نه تپوس کولو چې دا د یوه اراده وه یا ددریو، هغه به قسم خوري چې د یو اراده وه چونکه په دې الفاظو سره د عربو عادت وو په دې باندې به یې د یو طلاق اراده کوله، لهذا په دې باندې به یې عمل کولو.(المرقات ۴۲۵/۶)

**فردها**: امام شافعي فرمایې چې چونکه حضرت رکانه دیو طلاق اراده کړې وه او هغه رجعي وو لهذا صرف(**راجعتها الی نکاحي**)په الفاظو سره یې بنځه په نکاح کې واپس کړه ، د امام ابو حنیفه په نزد په دې لفظ سره یا طلاق بائن واقع کیږي که د یو یا دوو طلاقو اراده یې کړې وي یایې د هیڅ اراده نه وي کړي، که د دریو طلاقو اراده یې کړې وي نو درې طلاقه واقع کیږي. خلاصه داده چې د الفاظ کنائي دي او کنائي الفاظو سره یو طلاق بائن واقع کیږي، لهذا د (**ردها**) مطلب دا شو چې

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نوې نکاح سره دهغه بنځه هغه ته واپس کړه. (المرقات ۴۲۵/۶)

## په ټوقو کې هم طلاق واقع کیږي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثٌ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا دې حدیث راوي دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې درې څیزونه

جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

داسې دي چې د هغې عزم هم عزم او قصد دی، او ټوقې یې هم عزم او قصد دی. ۱. نکاح ۲. طلاق ۳. رجعت

وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ[1]

روایت کړې دې ترمذی او ابوداؤد ترمذي وایي چې دا حدیث حسن غریب دی.

## په حالت اکراه کې د طلاق مسئله

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې ما رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي چې فرمایل یې چې د اکراه

«لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي إِغْلَاقٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه قيل: معنى الإغلاق: الْإِكْرَاه[2]

په حالت کې نه طلاق کیږي او نه آزادي. (روایت کړې دې ابو داؤد، او ابن ماجه) او بیان کوي چې د اغلاق معنی اکراه ده.

**توضیح:** لاطلاق فی اغلاق: اغلاق د غلق نه دی، اکراه د زبردستۍ په معنی ده، ددې دویمه معنی علماو غوسه او غضب کړې ده، ددې مطلب دا شوانسان اوتر شي یا طبیعت یې د ځناورو په شان شي په داسې حالت کې د انسان عقل په ځای نه وي او د مدحوهوشۍ او په بدحواسۍ په عالم کې انسان ډوب شي نو په دې حالت کې طلاق معتبر نه دی، ځکه د انسان هوش او حواس په ځای نه وي. په عامه غوسه کې طلاق واقع کیږي ځکه چې طلاق په غصه کې ورکړی کیږي په مینه کې نه، څنګه چې شرک اوبدعت د مینې د لارې رائي، بعضو د اغلاق معنی لیونتوب بیان کړې ده، یعنی په لیونتوب او پاګل کیدو کې د طلاق اوعتاق اعتبار نه وي، بهر حال صاحب کتاب د اغلاق معنی اکراه کړې ده په دې حالت کې په طلاق کې د فقهاء کرامو اختلاف دی. (المرقات ۴۲۸/۶، ۴۲۷)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۴۳ رقم الحديث ۲۱۹۴ والترمذي في ۳/۴۹۰ رقم الحديث ۱۱۸۴ وأبن ماجه في ۱/۶۵۸ رقم الحديث ۲۰۳۹

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۴۲ رقم الحديث ۲۱۹۳ وابن ماجه في ۱/۶۶۰ رقم الحديث ۲۰۴۶ وأحمد في المسند ۶/۲۷۶

**د فقهاو اختلاف** : د دريوواړو ائمو په نزد باندې ددې کس طلاق نه واقع کيږي چې په طلاق ورکولو کې ورباندې زبردستي وشي چې ورته ''مکره'' ويلی شي. په دې مسئله کې حضرت امام مالک رحمه الله ډير محنت برداشت کړی دی او د وخت حکمرانانو د طرفه ډير مشقتونه اوچت کړې دي ځکه يو بدکس شکايت کړی وو چې امام مالک د ''مکره'' طلاق صحيح نه ګڼي نو داسې به د وخت د خليفه د اکراه په صورت کې بيعت هم معتبر نه وي، د مدينې په بازارونو کې ورته ډير تکليفونه ورکړی شوې وو بيايې ترې معافي وغوښتله، ائمه احناف او د نورو ډيرو صحابو او د تابعينو په نزد باندې د **"مکره"** طلاق واقع کيږي او صحيح هم دی.

**دلائل** : د جمهورو دليل د حضرت عائشې مذکور حديث دی چيرته چې اغلاق د اکراه په معنی سره دی. لهذا د اکراه په صورت کې طلاق نه واقع کيږي، د جمهورو دويم دليل هغه مشهور حديث دی (**رفع عن امتي الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه**) د جمهورو دريم دليل د حضرت ابن عمر هغه فيصله ده چې يو سړې بل کس په طلاق ورکولو مجبور کړه هغه طلاق ورکړه نو حضرت ابن عمر وفرمايل (**ليس هذا بطلاق ارجع الى اهلك**) (المرقات ۴۲۸/۶، ۴۲۷)

ائمه احناف ددې حديث نه مخکې د حضرت ابوهريره د حديث نه دليل نيولی دی چې ددې الفاظ دا دي (**ثلاث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة**) (ترمذی، ابوداؤد) دليل په داسې شکل دی چې په ټوقو کې کوم کس طلاق ورکړي په هغې کې د هغه مرضي شامل نه ده نو د (فقدان رضا) باوجود طلاق واقع شو نو د اکراه په صورت کې هم فقدان رضا دی نو دلته هم طلاق واقع کيدل پکار دي. (المرقات ۴۲۷/۶)

داحنافو دويم دليل د حضرت صفوان طائي هغه روايت دی چې د يوې ښځې خپل خاوند سره بغض وو يوه ورځ دهغې خاوند اوده وو هغې چاړه رواخستله او د خاوند په سينه کښاسته او بيايې خاوند ته وويل چې ماله دې طلاقه راکړه ګڼي حلالوم دې، خاوند ورته ډير منت وکړه اوهغې ونه منله او هغې له يې دې طلاقه ورکړل بيا هغه کس رسول کريم ﷺ طرف ته لاړو او ټول حال يې ورته بيان کړه. نو رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل (لاقيلوله فی الطلاق) يعنې طلاق مغلظه کې رجوع نشته. (المرقات ۴۲۸/۶)

داحنافو دريم دليل هغه حديث دی چې په کې دې قسمه خلق مرفوع القلم دي (**عن علي قال قال رسول الله صلى عليه وسلم رفع القلم عن ثلاثةٍ عن النائم حتى يستيقظ وعن الصبي حتى يبلغ وعن المعتوه**

حتی یعقل)(ترمذی ابوداؤد) په دې حدیث کې معتوه مغلوب الحال ته مرفوع القلم ډډیلی شو او د نابالغ او د اوده شوې کس دا کار ناقابل اعتبار دی،دا واضحه اشاره ده چې دې نه علاوه د یو عاقل او بالغ او د هوش اوحواسو مالکانو خلقو افعال معتبر دي، په دې کې طلاق مکره هم دی چې صحیح او د نافذ په حکم کې دی، داحنافو د لیل د حضرت عمر رضي الله عنه هغه فیصله هم ده چې په یو کس خپلې بڼځې جبر وکړو او په زوره طلاق یې حاصل کړه کله چې مقدمه حضر عمر رضي الله عنه ته راغله نو هغوی طلاق نافذ کړه او حضرت عمر بن عبد العزیز هم د مکره طلاق نافذ کړه.(عمدة القاری)

**جواب** : د جمهورو د وړومبنې دلیل جواب دادی چې د اغلاق ډیرې معانې دي بعضو د تنګی معنی اخستی ده، بعضو د غوسې، او بعضو د اکراه معنی بیان کړې ده،بعضو د درې طلاقو په یو ځای ورکولو مطلب ترې اغستی دی، بعضو ترې د لیونتوب معنی اخستې ده، کله چې دې لفظ کې دومره امکانات دي نو په دې باندې صرف اکراه حمل کیدی نشي نه دا لفظ ددې دپاره مقرر شوی دی نو دلیل هم صحیح نه دی، علماء احناف فرمایې چې مونږه د مجمل لفظ نه د اکراه په ځای د تنګی معنی اخلو ځکه چې په یو ځای درې طلاقه ورکولو سره تنګي پیدا کیږي، مطلب دا شو چې کله درې طلاقه بیل بیل ورکولو کې ګنجائش دی نو یو سړی په یو ځای درې طلاقه ورکولو کې خپل ځان ولې په تنګی کې اچوي، لهذا (لاطلاق فی الاغلاق) مطلب دا شو چې درې طلاقه په یو ځای مه ورکوه خپل ځان په سختی کې مه اچوه، مثلاً یو غریب سړی دی او دهغه یو غلام دی هغه غلام هغه آزاد کړه نو شریعت وایې چې په خپل ځان باندې سختي مه راوله او که چا خپل ځان په سختی کې واچولو او په یو ځای یې طلاق ورکړل نو طلاق به واقع شي او د عتق حکم به هم نافذ شي.احنافو د جمهورو د دویم دلیل دا جواب ورکړی دی چې (رفع عن امتي) چې درفع نه مراد د آخرت ګناه او مؤاخذه ده چې غلطی سره یا هیرې سره یا اکراه سره چې کوم کار وشي نو هغه د آخرت په اعتبار سره معاف دی او دا نه چې د دنیا په کار کې معاف دی، ځکه چې په دنیا کې د قتل خطا په وجه دیت رائي حالانکه دغه هم د خطا یو عمل دی، معلومه شوه چې ددنیا حکم معاف نه دی.د جمهورو د دریم دلیل جواب دا دی چې د مرفوعو احادیثو په موجودګی کې دهغو آثارو او واقعو هیڅ اعتبار نشته. دارنګې ددې حضراتو په دې هم اتفاق نشته بلکې اختلاف دی لهذا په مرفوع احادیثو باندې به عمل کیږي، علماء احنافو کې ملا علي قاري په فتح القدیر کې لس احکامات جمع کړي دي چې پکې داکراه په صورت کې هم حکم نافذ کیږي، د ملاعلي قاري شعر دا دی:

یصح مع الاکراه عتق ورجعة نکاح وایلا طلاق مفارق

وفی الظهار والیمین ونذر وعفو لقتل شاب عنه مفارق

## دليونى طلاق نه واقع كيږي

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هر طلاق واقع کیږی

إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ وَالْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ:

مګر د بې عقله او مغلوب العقل طلاق نه واقع کیږي، امام ترمذی دا روایت نقل کړی دی او وایی چې

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَعَطَاءُ بْنُ عجلانَ الرَّاوي ضعيفٌ ذاهبُ الحَدِيث (صَحِيح)[1]

داحدیث غریب دی او ددې یو راوي عطاء بن عجلان ضعیف شمارلی کیږي ځکه چې ده په حافظه کې به حدیثنه محفوظ کیدو.

**توضیح**: الا طلاق المعتوه: معتوه معنی کم عقل او مدهوش دی، معتوه عموما داسې کس وي چې په یو وخت کې یې عقل کار نه کوي او بل وخت یې عقل په ځای شي، علامه ابن همام فرمایې چې معتوه هغه کس دی چې ناقص عقل وي او د سوچ ماده یې کمه وي په خبرو کې یې څه ربط نه وي خلق نه وهي او نه ورته کنځل کوي، اوپه ددې مقابله کې مجنون دی، مجنون هغه وي چې کنځل کوي فضول خبرې کوي خلق په کانړو ولي، زین العرب فرمایې چې د معتوه په مفهوم کې مجنون، اوده شوی کس، مدهوش او داسې بیمار چې عقل یې کار نه کوي دا ټول داخل دي، اوس که چیرې د معتوه په مفهوم کې مجنون او پاګل داخل کړی شي نو (والمغلوب علی عقله) دا جمله (معتوه) دپاره عطف تفسیر جوړیږي، او مطلب دا شو چې د معتوه یعنې مجنون او پاګل طلاق نه واقع کیږي، د عطف تفسیر تائید په دې روایت سره هم کیږي چې په هغې دا جمله بغیر د واو نه راغلې ده. او که چیرې دا جمله د ماقبل دپاره عطف تفسیر نه شي نو بیا ددې جملې نه مراد سکران اخستی شي، او ددې به طلاق حکم زیر بحث راشي او مجنون په معتوه باندې قیاس کیدی شي چې کله د معتوه د طلاق اعتبار نشته نو د مجنون خو بیا په طریق اولی سره نشته. (المرقات ۴۲۹/۶)

**دسکران د طلاق حکم**: د کوم سړې عقل چې د نشې په وجې سره ضائع شي نو دداسې کس طلاق په واقع کیدو یا نه کیدو کې د فقهاو اختلاف دی، د امام ابو حنیفه او امام مالک او د نورو سلفو صالحینو په نزدد (سکران) طلاق واقع کیږي. اګرچې دا زائل العقل دی لیکن د معصیت او د نشې کولو د جرم په وجه

---

(۱) أخرجه الترمذی في السنن ۳/۴۹۱ رقم الحدیث ۱۱۹۱

سره بطور زجرًا د هغه طلاق نافذ شو، او دا د امام شافعي او امام احمد قول هم دی، د امام شافعي او امام احمد بن حنبل دويم قول دادی چې دسکران طلاق نه واقع کيږي، همدا رايه د علامه کرخي او امام طحاوي او اسحاق بن راهويه هم ده، دا حضرات فرمايي چې د وقوع طلاق دپاره طلاق او عتاق ضروری دي او سکران زائل العقل دی، لهذا د دوی طلاق نه واقع کيږي، د شوافعو او حنابلو يو قول د جمهورو سره دی دي دپاره د سکران مسئله اتفاقي او اجماعي پکار ده. (المرقات ۴۲۹/۶)

## درې کسان مرفوع القلم دي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ:

حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې درې کسان مرفوع القلم دي (يعني دهغو دريو کسانو اعمال

عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ

په اعمالنامه کې نه ليکلی کيږي يو اوده شوی کس ترڅوپورې چې بيدار شوی نه وي، دويم هغه هلک

حَتَّى يَبْلُغَ وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يعقل". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد (صَحِيح) [1] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

کوم چې بالغ نه وي دريم بې عقل کس چې دهغه عقل درست نه شي (ترمذی، ابو داؤد) دارمی دا روايت

عَنْ عَائِشَةَ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْهُمَا [2]

د حضرت عائشهؓ نه او ابن ماجه د حضرت عائشې نه او حضرت علي نه نقل کړی دی.

## د طلاق تعداد کې دسړي اعتبار دي يا دښځې

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «طَلَاقُ الْأَمَةِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د دې حديث راويه ده چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چه د وينځې دپاره

تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ [3]

دوه طلاقه دي او دعدت موده ئې دوه حيضه ده. (ترمذی، ابو داؤد، ابن ماجه، دارمی)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في ٤/٥٦٠ والترمذي في ٤/٢٤ رقم الحديث ١٤٢٣ وأحمد في المسند ١/١٥٥

(۲) أخرجه ابن ماجه في ١/٦٥٨ رقم الحديث ٢٠٤١ والداري ٢/٢٢٥ رقم الحديث ٢٢٩٦ الجامع الصغير ٢/٢٧٣ رقم الحديث ٤٤٦٢

(۳) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦٣٩ رقم الحديث ٢١٨٠ والترمذي في ٣/٤٨٨ رقم الحديث ١١٨٢ وابن ماجه في ١/٦٧٢ رقم الحديث ٢٠٨٠ والداري ٢/٢٢٤ رقم الحديث رقم ٢٢٩٤

**توضیح: طلاق الامة:** په دې حدیث کې داسې دوه مسئلو طرف ته اشاره ده چې په دې کې د فقهاء اختلاف دی: په دې کې اوله مسئله داده چې په دې خبره خو د ټولو فقهاو اتفاق دی چې د آزاد او د غلام په طلاق کې فرق دی د(حر) طلاقه دري دي او غلام ته صرف د دوه طلاقو اختیار دی، اختلاف په دې کې دی چې په دوه طلاقو کې یا په دریو طلاقو ورکولو کې دښځې حالت ته اعتبار دی او که د خاوند حالت ته اعتبار دی، یعنې طلاق بالرجال دی یا بالنساء دی.

**دفقهاو اختلاف:** د ائمه احنافو په نزد د طلاقو دتعداد ذارمدار د ښځې په حالت باندې دی که ښځه آزاده (حره) او شریفه وي نو خاوند ته د دریو طلاقو حق حاصل دی بیا که خاوند آزاد وي او که غلام، که ښځه وینزه وي نو دهغی خاوند ته د دوه طلاقو اختیار دی، که خاوند آزاد وي او که رقیق، ائمه ثلاثه یعنی د جمهورو په نزد دخاوند حالت ته اعتبار دی که خاوند حر وي نو هغه ته د درې طلاقو اختیار دی یا وینزه وي، اوکه خاوند غلام دی نوهغه ته د دوه طلاقو اختیار دی خواه که ښځه آزاده وي یا وینزه وي، یعنې دلته طلاق بالرجال دی طلاق بالنساء نه دی.(المرقات ۴۳۱/۶)

د فقهاء کرامو په نزد دویمه اختلافی مسئله داده چې په قرآن کریم دا صفا راغلې دي چې د آزادې ښځې دعدت موده درې حیضه ده په قرآن کریم کې دا الفاظ راغلې دي(**والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلاثة قروء**) (بقره ۲۲۸)

په دې کې خو دچا هم اختلاف نشته البته اختلاف په دې کې دی چې د لفظ قروء نه مراد اطهار دي اوکه درې حیضه دي، امام مالک او امام شافعی فرمائي چې د (قروء) مصداق طهر دی دې وجې نه د طلاق شوې ښځې عدت درې طهره دی، ائمه احناف فرمایې چې د قروء مصداق حیض دی لهذا عدت درې حیضونو تیریدو سره مکمل کیږي.

**دلائل:** جمهورو د وړومبنی مسئلې دپاره دطبرانی د روایت نه دلیل نیولی دی چې (**الطلاق بالرجال والعدة بالنساء رواه الطبراني عن ابن مسعود موقوفًا**) دې حضراتو سره د دویمې مسئلې د ثبوت دپاره څه مرفوع حدیث نشته.( المرقات ۴۳۲/۶)

ائمه احنافو دخپلو دواړو مسئلو دپاره دزیر نظر دې صریح او صحیح حدیث نه دلیل نیولی دی د حدیث په اولنی حصه په واضحه توګه باندې ذکر دي چې د وینزې دوه طلاق دي چې ترې نه معلومه شوه چې دطلاق په تعداد کې د خاوند څه اعتبار نشته بلکې د ښځې اعتبار دی، دې وجې نه یې وفرمایل چې د وینزې خاوند چې څنګه وي طلاق به یې د دوو نه زیات نه وي.(المرقات ۴۳۲/۶)

احنافو د خپلې دويمې مسئلې ثبوت ددې حديث د دويمې حصې نه دليل نيولى دى چې د وينزې د عدت موده دوه حيضه ده .دې نه معلومه شوه چې عدت بالاطهار نه دى بلكه عدت بالحيض مقرر دى، ددې دويمې مسئلې دپاره احنافو په ابو داود شريف كې د فاطمه بنت ابى حبيش د صفا او واضح حديث نه دليل نيولى دى د حديث الفاظ دادي (فقال لها رسول الله صلى الله عليه وسلم انما ذالک عرق فانظرِي اذا اتى قرءک فلا تصلي فاذا مرقروءک فتطهري ثم صلى مابين القرء الى القرء)(ابو داؤد صفحه ۳۷) په دې حديث كې څلور ځله (قروء ) لفظ راغلى دى او څلورځله د حيض دپاره استعمال شوى دى او طهر دپاره يوځل هم نه دى استعمال شوى، لهذا د انصاف تقاضا ده او د ټولو فقهاو نه د انصاف درخواست دى چې په دې صاف او واضح حديث باندې ټول متفق شي.

**جواب** : جمهورو چې د خپلې دعوې دپاره كوم دليل پيش كړى دى دهغې جواب دادى چې "الطلاق بالرجال" مطلب دادى چې د طلاق وركولو حق صرف زوج ته حاصل دى او د ښځې په ذمه صرف د عدت موده تيرول دي لهذا د حديث د جمهور دليل نشي كيدى.(المرقات ۴۳۲/۶)

## دسختې مجبورۍ نه بغير په خلعې اغستو باندې وعيد

## الْفَصْل الثَّالِث

﴿۱۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُنْتَزِعَاتُ

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د خپل خاوند نافرماني كولو والا

وَالْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ [1]

او د خپل خاوند نه خلع اغستو والا ښځې منافقې دي.(نسائي)

**توضيح**: هن المنافقات: يعنې كومې ښځې چې د سختې مجبورۍ نه بغير يا شوقيه شكل باندې خلع كول غواړي او د خاوند اطاعت نه كوي نو دغه ښځې منافقې دي ځكه چې په ژبه او په ښكاره احوالو كې د اسلام احكام مني خو زړه كې يې نافرماني كوي، او د خاوند سره د دورنګۍ معامله كوي، نن سبا د ښځو دا كاروبار جوړ شوى دى چې پيسې وركوي او طلاق واخلي او نورو خاوندانو سره نكاح كوي.(المرقات ۴۳۲/۶)

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ٦/١٦٨ رقم الحديث ٣٤٦١ وأحمد في المسند ٢/٤١٤

## دښځې د پوره مال په بدله کې خلع کول مکروه دي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ نَافِعٍ عَنْ مَوْلَاةٍ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ أَنَّهَا

حضرت نافع د صفیه بنت ابو عبید یوې آزادې کړې شوې وینزې نه روایت کوي چې صفیه د خپل ټول

اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِكُلِّ شَيْءٍ لَهَا فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ

مال په بدله کې د خپل خاوند (حضرت عبد الله بن عمر) نه خلع وکړه او انکار ونه کړه د هغې نه

عَبْدُ اللهِ بْنُ عمر. رَوَاهُ مَالك [1]

عبد الله بن عمر. (رواه مالک)

**توضیح**: **بكل شيء لها**: یعنې د ښځې د ټول مال په بدله کې خاوند خلع قبول کړه او طلاق یې ورکړه دا صورت اګرچې مکروه دی خو چې رضامندي وي نو بیا جائز دی. علامه ابن همام فرمایي چې د شیخ مزني مسلک دی چې د خلې په صورت کې هم جائز نه دی، او اهل ظواهر وایي که د خاوند نه د ښځې سخت نفرت وي او خاوند اندازه ولګوي چې اوس زه د ښځې حقوق نه شم اداء کولی او ښځه زما حقوق نه شي اداء کولی نو په دې صورت کې خلع کول جائز ده، ګڼي نه ده جائز. (المرقات ۴۳۳/۶)

د جمهورو فقهاو په نزد خلع کول جائز ده، او د قرآن د ایت نه هم ثابته ده او منسوح نه ده، البته خبرې پکې شته چې خاوند څومره مهر ادا کړی دی چې ښځه به د خلع په بدله کې هغومره مال ورکوي یا د هر اداء کولی شي؟ ملا علي قاري په مرقات کې د دې باره کې د یر روایات نقل کړې دي چې خاوند څومره مهر مقرر کړی دی د خلع د پاره زیات مال اغستل جائز نه دي خو په آخر کې یې لیکلي دي په دې مسئله کې د صحابه کرامو په وخت کې اختلاف وو، او بعضو صحابه کرامو د ټول مال په بدله کې خلع کول جائز ګرځې ده. صاحب هدایه لیکلي دي که نافرماني په ښځه کې نه وي بلکې په خاوند کې غلطي وي نو په دې صورت کې د ښځې نه مال اخستل منع دي. خو حرام ورته نه شي ویلی ځکه چې په روایاتو کې تعارض دی، بهر حال د مهر نه زیات مال اخستل مکروه دي او خلع ښائز ده پوره تفصیل په مرقات کې دی. (المرقات ۴۳۳/۶)

---

(۱) أخرجه مالک في المؤطأ ۲/۵۶۵ رقم الحديث ۳۲ من كتاب الطلاق.

## په يووخت کې درې طلاقه ورکول حرام دي

﴿۱۸﴾ وَعَن مَحْمُود بن لبيد قَال: أُخْبِرَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلٍ

حضرت محمود بن لبيد وايي چې کله رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دهغه کس باره کې وويلی شو چې

طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ جَمِيعًا فَقَامَ غَضْبَانَ

هغه خپلې ښځې ته په يو وخت کې درې طلاقه ورکړې دي نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غوسه شو او ودريدو

ثُمَّ قَالَ: «أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ الله عَزَّ وَجَلَّ وَأَنَا

او وې فرمايل چې دالله تعالى کتاب پورې توقې کولی شي (او الله تعالى پورې ملنډې کولی شي) اوزه ستاسو

بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ؟» حَتَّى قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ:

په مينځ کې موجود يم؟) په مجلس نبوي کې موجود صحابه کرامو کې يو کس چې دا واوريدل نو ودريده او عرض يې وکړو

يَا رَسُولَ الله أَلَا أَقْتُلُهُ؟. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

يا رسول الله! زه دا کس قتل نه کړم؟ (نسائي)

**توضيح**: **ثلاث تطليقات**: د حضرت امام ابو حنيفه په نزد درې طلاقه په يو ځل ورکول بدعت او حرام دي، د امام شافعي په نزد درې طلاقه په يو ځل ورکول خلاف اولى دي حرام نه دي، په پورتنې حديث کې په يو ځل درې طلاقه ورکول حرام معلوميږي، د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې غوسه کول په حرامو کيدی شي، نو ددې مطلب دا نه دی چې طلاق ونه شو داسې ډير احکامات دي چې د ممانعت باوجود حکم يې نافذ شوی دی لکه په حالت حيض کې طلاق ورکول منع دي ليکن حضرت ابن عمر چې طلاق ورکړه نو وشو، په دې باندې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سخت ناراضه شو او د رجوع کولو حکم يې ورکړه (د جمعې داذان نه پس بيع اوشرا ممنوع دي ليکن په کولو سره کيږي، د مغصوبه زمکې غصب کول منع دي او مونځ پرې کيږی لهذا، غير مقلدين ددې روايا تو نه دليل نه شي نيولی په کومو کې چې د درې طلاقو ورکولو نه ممانعت دی، د ممانعت باوجود طلاق واقع کيږي، بهرحال الله تعالى انسان ته د طلاق ورکولو دپاره مهلت ورکړی دی چې يو طلاق ورکړه او بيا سوچ وکړه او بيا څه موده پس بل طلاق ورکړه او بيا سوچ وکړه کيدی شي په دې دوران کې دهغه په دماغو کې او په غوسه کې څه بدلون راشي نو ښځې ته به د رجوع کولو موقعه په لاس ورشي، او که يو کس درې طلاقه په يو مجلس کې ورکړي نو هغه کس د الله تعالى

---

(۱) أخرجه النسائي في ٦/١٤٢ رقم الحديث ٣٤٠١.

حکم نه مخ اړوي او خپل ځان په ډیر مشقت کې اچوي هغه طرف ته د قرآن کریم دا ایت اشاره کوي (الطلاق مرتان.....تا.....ولا تتخذوا آيات الله هزوا) ملنډې او ټوقې هم دا دي چې د الله تعالی د حکم نه لاپرا وهي وشي په دې وجه رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غوسې په حالت کې وفرمایل چې (أيلعب بكتاب الله عزوجل) او په دې جمله باندې یو کس دا عرض وکړو چې یا رسول الله ! آزه دا کس قتل نه کړم؟ دې صحابی دا سوچ وکړو چې کوم کس د قرآن پورې ټوقې کوي هغه کافر کیږي، لهذا دده قتل کول پکار دي، حالانکه حضور اکرم دا ارشاد زجر، توبیخ، تغلیظ او تشدید باندې مبني وو، د علماء امت په دې باندې اتفاق دی که یو سړې خپلې ښځې ته وویل (انت طالق ثلاثا) نو دې طلاقه به واقع شي، او اهل ظواهر په دې کې اختلاف کوي دا مسئله په اوم حدیث کې رروانه ده. (المرقات ۴۳۶/۶)

## مسئلة الطلاق الثلاثة

| |
|---|
| ﴿۱۹﴾ وَعَن مَالك بلغه أَن رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ: |
| حضرت امام مالک د دې حدیث راوي دی چې ما تدا حدیث رارسیدلی دی چې یو کس حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وویل |
| إِنِّي طَلَّقْتُ امْرَأَتِي مِائَةَ تَطْلِيقَةٍ فَمَاذَا تَرَى عَلَيَّ؟ فَقَالَ ابْن عَبَّاس: |
| چه ما خپلې ښځې له سل طلاقه ورکړي دي تاسو دې باره کې څه وایې؟ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمایل |
| طلقت مِنْك بِثَلَاث وَسَبْعٌ وَتِسْعُونَ اتَّخَذْتَ بِهَا |
| چې ستا ښځه په دریو طلاقو جدا شوه او اوه نوې طلاقه باقي پاتې شو چې په دې ذریعه تا ګویاد الله تعالی |
| آيَاتِ الله هُزُوًا. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأ[1] |
| ایتونو پورې ټوقې وکړې. (موطا) |

**توضیح:** قال الله تعالى (فان طلقها فلا تحل له من بعدُ حتى تنكح زوجًا غيره) (البقرة ۲۳) قال ابن عباس طلقت منك بثلاث: حضرت ابن عباس نه چې کوم کس سوال وکړه نو په جواب کې یې ورته وویل چې په دریو طلاقو ستا ښځه ستانه جدا شوه.

**د دریو طلاقو حکم:** د دین اسلام د ټولو علماو او د څلورو مذاهبو او د ټولو فقهاو په دې باندې اتفاق دی چې که یو کس خپلې ښځې له په یو مجلس کې درې طلاقه ورکړل نو طلاق وشو او ښځه مطلقه شوه

---

(۱) أخرجه مالک في المؤطأ ۲/۵۵۰ رقم الحديث ۱ من كتاب الطلاق.

او ترڅوپورې چې بې بله نکاح نه وي کړې د اولنې خاوند د پاره نه حلالیږي، او ترڅو پورې چې ورسره بل خاوند جماع نه وي کړې او طلاق ورنه کړي نو ورومبنې خاوند دپاره حلال نه ده.

ددې خطرناکې مسئلې باره کې د غیر مقلدینو د ټول امت نه جدا فتوی ده چې درې طلاقه ورکولو سره یو طلاق واقع کیږيؤ د حیرانتیا خبره خو دا ده چې یو عام کس ورته وایې چې مولوی صاحب ما درې طلاقه ورکړې دي او دا ورته وایې چې نه دا ستا یو طلاق واقع شوی دی لاړ شه او بنځې سره جماع وکړه په دې کې هیڅ حرج نه شته، هغه کس ورته وایې ما درې طلاقه په یو ځای ورکړي دي نو یا ورته مولوی صاحب وایې چې درې درې نه وو بلکې یو دی کور ته ځه او په آرام کینه، اهل علم او اهل درد او اهل عرف او د دنیا په ټولو ژبو کې او ددې په اصطلاحاتو په باندې نظر اچولو والا حضرات فرمایې چې د دنیا په ټولو په ژبو کې ددې اعدادو او شمار دپاره خاص الفاظ مقرر دي نو کله چې هغه الفاظ ویلی کیږي نو دهغې نه هغه متعارفې او مروجې معاني واضحه شي. په عربی کې (ثلاث) دریو ته ویلی شي او فارسي کې دېته (سه) وایې پښتو کې (درې) انګریزی کې (تهری) او اردو کې (تین) ورته ویلی شي. اوس که یو کس په دریو الفاظو سره طلاق ورکوي نو ټول عقلمند خلق به هم دا وایې چې یو او بیا یو او بیا یو نو درې طلاقه واقع شو، او که کوم کس داسې وایې چې ددې دریو نه یو طلاق واقع شو نو هغه عرف ماتونکی دی، او د ژبو اصطلاحات مسخ کونکی دی دده په ذمه دي او په ده لازم دي چې د ټولو اصولو نه یو اړخ ته چې کومه دعوی ده کړې ده د هغې دلیل پیش کړي، که نه نو د عامو عقلاو او د عرف عام په خبره باندې عمل کوي، او هغه کس ته به ویل کیږي چې ستا او ستا د معاملې مثال د هل تثلیث پشان دی، ځکه هغه خلک عیسی عَلَیْهِ السَّلَام او حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام او الله تعالی درهواړه یو خدای مني او بیا وایې چې دا رهواړه په حقیقت کې یو دي، درې دي مګر یو دي، کوم او نبیار شاعر دغه خلک داسې پوهه کړي دي:

تثلیث کے قائل نے بھی اللہ کو کہا ایک لو تین کی سوئی تین پہ کھڑی ہے اور بجا ایک

د دې تمهیدي کلماتو نه وروسته اوس د جانبینو دلائل بیانولی شي

**دلائل** : ۱.دغیر مقلدینو وړومبنی دلیل د مسلم شریف روایت دی چې الفاظ یې دا دي(وعن ابن عباس رضی الله عنهما قال کان الطلاق علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکر وسنتین من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب ان الناس قد استعجلوا فی امر کانت لهم فیه اناة فلو امضینا ه علیهم فامضاه علیهم) (مسلم جلد ۱ صفحه ۴۷۸)

**ترجمه**: حضرت ابن عباس فرمايي چې د حضور اکرم ﷺ او دابو بکر صديق په زمانه کې او د حضرت عمر د عهد خلافت په ابتدائي دوه کالو کې دري طلاقه به يو وو دې نه پس حضرت عمر وفرمايل چې خلق په دې کې ډيره جلتي کوي چې په کې دوی دپاره سهولت وو که مونږه دوی له دري طلاقه نافذ کړو نو دا به بهتره وي په باره کې په هغوی دري طلاقه نافذ شول، د استدلال طرز دابسې دی: دحضور اکرم ﷺ او د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه په زمانه کې دري طلاقه به يو شمارلی کيدل، دري طلاقه دري مقررول د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فيصله وه دا مونږ ته قبوله نه ده بلکه مونږ ته د حضور اکرم ﷺ او د حضرت ابو بکر صديق اکبر رضی الله عنه فيصله قبلول پکار دي.

۲.دغير مقلدينو دويم دليل دادی، د باب حديث نمبر ۱۰ د حضرت رکانه روايت دی چې هغه د رسول کريم ﷺ په زمانه کې خپلې ښځې له (بتة) سره طلاق ورکړی وو او رسول الله ﷺ هغه ته رجوع کولو اختيار ورکړی وو معلومه شوه چې يو نشست کې دري طلاقه ورکولو سره يو طلاق رجعي واقع کيږي اورکانه رجوع وکړه او حضور انکار ونه فرمايلو او د(بتة) الفاظو سره دري طلاقه ورکولی شي، د رکانه په روايت کې بعضو راويانو دا هم نقل کړې دي چې هغه (ثلاثا) الفاظو سره دري طلاقه ورکړې وو او بيا هم رسول کريم ﷺ د رجوع کولو حکم ورکړی وو، معلومه شوه چې په يوځای دري طلاقه ورکول په حقيقت کې يو طلاق شو.

۳.اهل ظواهرو د هغو ټولو روايتو نه هم دليل نيولی دی چې په کې د دريو يا د دريو نه زيات طلاقه ورکولو سخت ممانعت راغلی دی او حضور اکرم او صحابو په دې باندې د ډيرې غوسې اظهار کړی دی.جمهورو فقهاء،علماء د امت او ائمه اربعه فرمايي چې که دري طلاقه که په يو طهر کې وي او که په بيلو بيلو طهرونو کې وي په يو مجلس کې وي يا په بيل بيل مجلس کې وي په حالت حيض کې وي که دري طلاقه په يوځای وي يا په بيلو بيلو الفاظو سره وي په هر صورت کې دري طلاقه واقع کيږي.د جمهورو فقهاو او تابعينو په حق کې دقرآن اوحديث قطعي نصوص او دصحابه کرامو او تابعينو د فيصلو څخه شمير کې دلائل موجود دي چې د هغې راجمع کول نه يو کتاب جوړيږي خو دلته يو څو دليلونه پيش کولی شي.

۱.جمهور امت د قرآن کريم ددې ايت نه دليل نيولی دی(**فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره**) په دې ايت کې دا خبره يقيني طور باندې واضحه شوه چې په اسلام کې د دريو طلاقو وجود شته او دري طلاقه ورکولو سره ښځه مغلظه کيږي، او دويم خاوند سره نکاح اود حلالې نه بغير دوړومبې خاوند دپاره نه حلاله کيږي.

۲. امام بخاری په بخاری شریف جلد ۲ صفحه نمبر ۷۹۱ کې د طلاق ثلاثه دپاره مستقل باب (باب من اجاز الطلاق الثلاث) او د قرآن کریم ایت (**الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان**) نه یې دلیل نیولی دی دوی یا خو د (مرتان) نه تثنیه د تکریر په معنی سره اخستې ده چې مرۀ بعد مرۀ طلاق ورکول جائز دي چې پکې درې طلاقه داخل دي یا دوی (اوتسریح باحسان) نه دلیل نیولی دی ځکه چې تسریح د پریخودو په معنی سره رائي دا پریخودل که په یو طلاق وي یا په دریو طلاقو ټول په کې شامل دي.

۳. امام بخاری په بخاری شریف کې هم په پورتنی صفحه باندې یو باب ترلی دی (باب من اجاز الطلاق الثلاث) ددې لپاره امام بخاري د عویمر عجلاني د لعان اوږده قصه نقل کړې ده ددې په آخره کې دي (**فطلقها ثلاثا**) بدرالدین عینی فرمایي چې حضور اکرم ﷺ دعویمر درې طلاقه نافذ کړل، د دې نه معلومه شوه چې درې طلاقه درې طلاقه وي.

۴. د بخاری شریف په دې صفحې باندې د حضرت رفاعه د ښځې واقعه هم امام بخاري د دریو طلاقو د واقع کیدو د ثبوت په باره کې نقل کړې ده په دې حدیث کې دا الفاظ دي (**لاحتی یذوق عسیلتک و تذوق عسیلته**) یعنې ته خپل خاوند ته تر هغې وخته پورې رجوع نشې کولی تر څو پورې چې د نوې خاوند مزه وانخلې او هغه ستانه مزه وانخلې، دا روایت صاحب مشکوة هم په صفحه ۲۸۴ باندې نقل کړی دی لیکن په دې کې د الفاظ دي (**لاحتی تذوق عسیلته ویذوق عسیلتک**)

۵. جمهورو د محمود بن لبید د روایت نه هم دلیل نیولی دی کوم چې د دې حدیث نه مخکې ۱۸ نمبر باندې تیر شوی دی چې پکې دا الفاظ دي. (طلق امراته ثلاث تطلیقات جمیعا) چې په کوم باندې رسول کریم ﷺ سخت غوسه شوی وو لیکن په دې مجلس کې په یو ځای درې طلاقه حضور صلی الله علیه وسلم هم تسلیم کړل او دایې یو مقرر نه کړه.

۶. سنن نسائی (**باب احلال المطلقه ثلاثا**) کې امام نسائي په کې ډیر احادیث نقل کړي دي چې په کې درې طلاقه واقع کیدل معلوم شوې دي، د حضرت ابن عمر په روایت کې داسې الفاظ راغلي دي: **عن ابن عمر رضی الله عنه قال سئل النبي صلی الله علیه وسلم عن الرجل یطلق امرأته ثلاثا فیتزوجها الرجل فیغلق الباب ویرخی الستر ثم یطلقها قبل ان یدخل بها لا تحل للأول حتی یجامعها الآخر.** (سنن نسائی جلد ۲ صفحه ۱۰۱)

یعنې د رسول کریم ﷺ نه دیو کس باره کې سوال وکړی شو چې یو کس خپلې ښځې له درې طلاقه ورکړل او بیا دویم سړي ورسره نکاح وکړه او د جماع نه مخکې یې طلاق ورکړه نو ایا دا ښځه

د وړومبې خاوند دپاره حلاله شوه ؟ رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل تر څو پورې چې ورسره دې ټوې خاوند جماع نه وې کړی نودا د وړومبني خاوند دپاره حلاله نه ده.

۷. زیر بحث حدیث نمبر ۱۹ نه هم جمهورو دلیل نیولی دی چې په مشکوة شریف کې د موطا امام مالک په حوالې سره ذکر کړی شوې دي. کیدی شي دا د حضرت ابن عباس د هغه کس باره کې فتوی وي چې درې طلاقه دې واقع شول او درې کم سل دې په ګناه کې شامل شو.

۸. جمهور امت د حضرت عبد الله بن مسعود د یوې فتوې نه هم دلیل نیولی دی پیغمبر علیه السلام ته د یو دوو کسانو متعلق وینا وشوه چې یو خپلې ښځې له سل طلاقه ورکړې دي او بل د ستورو په برابر طلاقه ورکړې دي پیغمبر علیه السلام ورته په جواب کې وفرمایل چې هغه ښځه ترې جدا شوه. او داسې یو کس خپلې ښځې له سل طلاقه ورکړې وو نو حضرت ابن مسعود په دې الفاظو سره فتوی ورکړه (**بانت منک بثلاثٍ وسائرهن معصیة**) (مصنف ابن ابي شیبة) یعنې په دریو طلاقو ښځه جدا شوه او نور ستا په ګناه کې شامل شول.

او داسې د حضرت ابن عمر فتوی ده. (**من طلق امراته ثلاثا فقد عصی ربه و بانت امرأته. مصنف ابن ابي شیبة**) چا چې په یوځای درې طلاقه ورکړل نو هغه د خپل رب نافرماني وکړه او د هغه ښځه د هغه نه جدا شوه او د بل روایت د الفاظ هم دي (لم تحل له حتی تنکح زوجًا غیره).

۹. د طلاق ثلاثه واقع کیدو باره کې د حضرت ابن عباس ډېر اقوال دي او دې باره کې د هغه ډېرې فتوې مشهورې دي، زیر بحث حدیث کې هم د حضرت ابن عباس حکم او فتوی ده چې په سلو طلاقو کې په دریو باندې ښځه طلاقه شوه نورو باندې د قرآن کریم پورې تړوقې وشوې، مصنف ابن ابی شیبه او سنن بیهقی کې د حضرت ابن عباس ډېرې فتاوي منقول دي چې ښکاره پته لګي چې په یوځای درې طلاقه واقع کیږي او ښځه مغلظه کیږي.

۱۰. حضرت مجاهد د خپل استاذ حضرت ابن عباس نه یوه فتوی داسې نقل کوي (**قال رجل لابن عباسٍ طلقت امرأتي مائة قال تأخذ ثلاثا وتدع سبعا وتسعین**) [بیهقی] او په دې مقام کې د حضرت سعید بن جبیر فتوی هم سنن بیهقی نقل کړې ده، هغه وفرمایل چې که یو سړی خپلې ښځې له درې طلاقه ورکړي نو ښځه په هغه حرامه شوه، بهرحال د صحابو او تابعینو ډېرې فتاوي او بې شمیره فیصلې موجودې دي چې یو ځای درې طلاقه ورکولو سره ښځه جدا کیږي، او بل خاوند سره نکاح او جماع نه بغیر په وړومبني خاوند باندې حرامه شوه، سلف او خلف فقهاء په دې باندې متفق دي. صحابه او تابعین په دې باندې متفق دي، د قرون وسطی علماء په دې باندې اتفاق کوي، عربو اوعجمو علماو په دې باندې اتفاق کړی دی، د سعودی عرب لویو لویو مفتیانو په دې فتوی ده، د سعودي قاضي القضاة شیخ ابن باز د طلاق ثلاثو په واقع کیدو باندې یو کتاب هم لیکلی دی، دامت په دې اتفاق ته چې وګورو نو په

اهل ظواهرو او په غیر مقلدینو باندې حیرانتیا راځي او افسوس هم، او د امت نه په ځانله کیدو پاندې بې اختیاره د شاعر حال په یاد کې راځي هغه ویلي دي:

**نزلوا بمكة في قوافل نوفل و نزلت بالبيداءِ أبعد منزل**

یعني ټول خلک د نوفل په قافله کې شامل شول، مکې ته لاړل او زه یوائې په لرې ځنګلو کې پاتې شوم.

**جوابونه:** دغیر مقلدینو د وړومبني دلیل جواب دادی چې شارح مسلم علامه نووي دد ې حدیث چې کوم مطلب بیانوي هغه د حدیث دشارحینو په شریکه فیصله ده دې ټولو له پکار دی چې دحدیث هم هغه مفهوم خپل کړي کوم چې شارحینو بیان کړی دی، د علامه نووي د خبرې خلاصه داده: چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې دخلقو عادتونه داسې ووچه دیو طلاق سره به یې زیات نور الفاظ هم ویل **انت طالق طالق طالق** وړومبی طلاق مقصود وو دادې د مضبوطیدو دپاره دویم او دریم ځل باندې به یې دا کلمې ویلې، دریم طلاق ورکول څه عادت یا رواج نه وو لیکن روستو زمانه کې خلقو د طلاق دپاره دا الفاظ ویل شروع کړل. په دې باره کې حضرت عمر وفرمایل چې اوس خلقو دا تاکیدي سهولت نظرانداز کړی دی او دریم ځله طلاق ورکول په کلکه نه دي بلکې استیناف اراده کوي او دریم طلاقه ورکوي، نو اوس به دا دریم وي. دا یاد ساتل پکار دي چې حضرت عمر څه شرعي حکم بدل نه کړه بلکې دخلقو عادتونه او اعمال او دخلقو رواج ئې بدل کړه، ګویا دا حکم د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په عهد مبارک کې هم داسې وو، که د خلقو عاداتونه د هغې وخت د فاروقی دور په شان وو لیکن په هغه وخت کې غالب عادت یو طلاق ورکول وو او بیا روستو غالب عادت دریم طلاقه ورکول شو نو د دریو طلاقو ورکولو عام حکم نافذ شو ځکه چې دریم طلاقو ورکولو نیت سره طلاق ورکول د حضور په زمانه کې هم دریم طلاقه ګڼل کیدل، عمر فاروق د دې دریو حکم نافذ کړه.

علماو دا هم لیکلې دي چې عمر فاروق د صحابه کرامو په مشورې سره دا حکم نافذ کړه او یو صحابي هم په دې باندې اعتراض ونه کړه لهذا په دې د صحابه کرامو اجماع وشوه، غیر مقلدین حضرات په ژبه باندې دا نه وایې چې مونږ د صحابه کرامو فیصله نه منو لیکن که غور وکړی شي نو هغوی د خپل عمل نه دا ظاهره کړې ده چې هغوی د صحابه کرامو اجماعی فیصلو پابند نه دي، مثلاً شلو رکعاتو تراویحو کې دا حضرات په خپل عمل سره د صحابه کرامو اجماعي فیصله رد کوي په طلاق ثلاثو کې هم دا حال دی، د جمعې دپاره اذان کولو کې دا حضرات وایې چې دا د حضرت عثمان داخل کړی شوی عمل دی، د شرابو حد اتیا کوړې او داسې قسمه ډېرو فیصلو کې دا حضرات د صحابه کرامو خبرو سره ټکراویږي، حالانکه حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي

(علیکم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین).

د غیر مقلدینو دویم دلیل د حضرت رکانه روایت دی چې په کې د (**بتة**) لفظ راغلی دی چې ددې نه دا حضرات دې طلاقه اخذ کوي، ددې جواب دادی چې ددې حدیث په متن کې ډیر اضطراب دی، په بعضو روایاتو کې راغلې دي چې حضرت رکانه د (**ثلاثة**) په لفظ سره طلاق ورکړی دی، او په بعضو روایاتو کې راغلې دي چې هغه د (**البتة**) لفظ د طلاق دپاره استعمال کړی دی.

او د بعضو روایاتو نه دا معلومیږي چې حضرت رکانه یو طلاق ورکړی وو، په نیل الاوطار جلد ۶ صفحه ۲۴۱ کې ددې تفصیل موجود دی .دې وجې نه امام بخاری د حضرت رکانه حدیث ضعیف ښودلی دی، او امام احمد بن حنبل د دې حدیث ټول طرق ضعیف ښودلې دي، او علامه ابن عبدالبر هم دا روایت ضعیف کړی دی، سنن ابوداؤد شریف د متعدد طرقو نه دا معلومیږي چې ددې حدیث په سند کې هم ډیر اضطراب دی،امام ابو داؤد په دې روایت کې د لفظ (**بتة**) سره طلاق صحیح ګرځولی دی او (**ثلاثا**)لفظ یې کمزوری او غیر صحیح کړی دی (ابو داؤد جلد ۱ صفحه ۲۹۸) د حضرت رکانه روایت،که صحیح هم وي او په دې کې څه اضطراب هم نه وي بیاهم ددې مطلب واضح دی چې د(**البتة**) لفظ د کنائي الفاظونه یو لفظ دی او د کنائیه الفاظو کې د ټولو په نزد ددې الفاظو استعمالولو والا نیت ته به اعتبار وي، هم دې وجې نه د حضرت رکانه نه رسول کریم ﷺ باربار دا تپوس کولو چې ددې الفاظو نه تا څه اراده کړې وه هغوی عرض وکړو چې ما د یو طلاق اراده کړې وه بیا رسول کریم ﷺ په یو طلاق فیصله وکړه، او دا هغه ښځه یې هغه ته واپس کړه.

که حضرت رکانه داویلي وی چې ما ددریو طلاقو اراده کړې وه رسول کریم ﷺ به ضرور دا فیصله کوله چې اوس د رجوع کولو ګنجائش نشته. ځکه چې د دریو طلاقو نه پس د رجوع کولو حق نه وي. که دري طلاقه هم د حضور اکرم ﷺ په نزد باندې یو طلاق وو نو حضرت رکانه نه یې باربار د قسم سره د یو طلاق اقرار اخستلو ضرورت څه وو حضور به ورته صفا صفا فرمایلي وو چې که دیو نیت دې وو یا د دریو نیت دې وو طلاق یو وشو ددریو سوال نه پیدا کیږي، که دانصاف په نظر سره وکتلی شي د حضرت رکانه روایت د غیرمقلدینو دلیل نشي جوړیدی بلکې د جمهورو فقهاو دلیل کیدی شي ځکه چې غیرمقلدین وایي که د دریو نیت وکړي یا د دریو دپاره صفا الفاظ استعمال کړي طلاق صرف یو واقع کیږي، حالانکه د حضرت رکانه په حدیث کې ډیو یا درې دنیت

فرق ظاهرولو دپاره باربار د هغه نه سوال کيږي، په حقيقت کې روايت بالمعنى دى او هغه د لفظ (بتة) نه د دريو طلاقو مفهوم اخذ کړه او (ثلاثا) الفاظ يې نقل کړه .په اصل روايت کې صرف د(البتة) لفظ دى څنګه چې د ابوداؤد نه معلوميږي.

غير مقلدينو ددې عمومي روياتونه دليل نيولى دى چې په يو ځاى درې طلاقه ورکولو باندې ممانعت راغلى دى او دايې ناخوښه کړى دى، ددې جواب دادى چې ممانعت او وعيد په خپل ځاى صحيح دى او کله چې منع شوى کار وشي نو د هغې به څه اثرات نه پريوځي؟

د جمهورِ امت دا خيال دى چې څوک يو ممنوع کار په غلطى سره وکړي نو د هغې اثر به وي، درې طلاقه ورکول اګرچه يو ناخوښه عمل دى ليکن ددې ناجائز خراب او مکروه کار کولو سره به ضرور غلط اثرپريوځي، صحابه کرامو د دريو نه زيات طلاقه ورکول ناخوښه ګرځولې دي او دسخت خفګان څرګندونه يې کړې ده.

ددې باوجود په سلو طلاقو کې يې درې طلاقه نافذ کړل، او په حالت د حيض کې يې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ طلاق د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خفګان او دغمجن کيدو باوجود نافذ کړه.

لهذا درې طلاقه په يوځاى ورکولوچه کوم خفګان وو دهغى باوجود صحابو او تابعينو او جمهور امت دا درې طلاقه نافذ کړل، د احتياط او انصاف تقاضا داده چې د جمهورو د مسلک فتوى ورکول پکار دي.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا مُعَاذُ

حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل چې اى معاذ! الله تعالى

مَا خَلَقَ اللهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَبَّ إِلَيْهِ

چې په زمکه باندې څومره مستحب څيزونه پيدا کړي دي د هغه په نزد د تولو نه زيات خوښ څيز غلام او

مِنَ الْعَتَاقِ وَلَا خَلَقَ اللهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَبْغَضَ إِلَيْهِ

وينځه آزادول دي او الله تعالى چې په زمکه کې کوم حلال څيزونه پيدا کړي دي په هغې کې د تولو نه زيات ناخوښ

مِنَ الطَّلَاقِ». رَوَاهُ الدَّارَ قُطْنِيُّ (متفق عليه)[1]

څيز طلاق ورکول دي. (دار قطنى) (بخارى ومسلم)

---

(1) أخرجه الدارقطنى فى السنن ٤/٣٥ رقم الحديث ٩٤ من كتاب الطلاق.

# بَاب الْمُطلقَة ثَلَاثًا

## د مطلقې مغلظې حکم

### الْفَصْل الأول

﴿۱﴾عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې يو ورځ د رفاعه قرظي ښځه رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوه

فَقَالَتْ: إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي

او عرض يې وکړو چې د رفاعه په نکاح کې وم او هغه ماله طلاق راکړه او دري طلاقه يې راکړل او ما

فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَمَا مَعَهُ إِلَّا مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ

بيا د رفاعه نه پس عبد الرحمن بن زبير سره نکاح وکړه خو عبد الرحمن د ښځې قابل نه دی

فَقَالَ: «أَتُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ؟»

رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوريدل نو ورته يې وفرمايل چې ته واپس رفاعه له تلل غواړې ؟

قَالَتْ: نَعَمْ قَالَ: «لَا حَتَّى تَذُوقِي

هغې عرض وکړو چې آو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل چې ته ترهغه وخته پورې رفاعه سره نکاح نشې کولی

عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ» [1]

ترڅو پورې چې عبد الرحمن تانه مزه وانه خلي او ته دهغه نه. (بخاری ومسلم)

**توضيح**: **عبد الرحمن بن زبير**: زبير د زاء په فتحې سره دی، ددې نه مراد حضرت زبير نه دی بلکې بل کوم کس دی. (المرقات ۴۴۱/۶)

**هدبة الثوب**: د کپړې هغه څوکه چې زورنده وي او جوړه شوې نه وي دېته (**هدبة الثوب**) ويلی شي. هاء باندې ضمه ده او دال باندې سکون دی دې ته کناره (څنډه) هم ويلی شي.[2] دا نامردی طرف ته

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۵/۲۴۹ رقم الحديث ۲۶۳۹ ومسلم في ۲/۱۰۵۵ رقم الحديث (۱۴۳۳.۱۱۱) والترمذي في السنن ۳/۴۲۷ رقم الحديث ۱۱۱۸ والنسائی في ۶/۱۴۶ رقم الحديث ۳۴۰۸ وابن ماجه في ۱/۶۲۱ رقم الحديث ۱۹۳۲ والداري ۲/۲۱۵ رقم الحديث ۲۲۶۸.

(۲) المرقات ۴۴۱/۶

اشاره ده په بعضو روایاتو کې راغلي دي چې عبدالرحمن وویل (إنما أبثها بتًا) یعنې زه یې الوزوم په الوزولو سره، زه نامره نه یم، علماو تطبیق کړی دی چې عبد الرحمن هم رشتیا ویلي دي لکن دغه ښځه د دې نه د ډیر قوت خواهشمنده وه دهغې د وینا هم ټیک وه خو هغې په تشبه ورکولو کې ډیر زور نه کار واخسته او کوندې ښځې سره واده کولو کې خو خرابي ضرور وي، ددې حدیث نه دا خبره هم ثابته شوه چې درې طلاقه درې واقع کیږي، او دویمه خبره دا ثابته شوه چې د حلالې نه بغیر د وړومبني خاوند دپاره ښځه نه حلالیږي، او دریمه خبره دا ثابته شوه چې حلاله یو حقیقت دی چې انکار ترې نه شي کیدی، ددې خراب صورتونه بهرحال خراب وي لیکن ددې د وجود نه انکار نه شي کیدی، البته که یو کس دې نکاح له او حلالې له د حلالې په ځای بل نوم تجویز کړي نو د اصطلاحاتو کې په بدلون کې څه بخل نه شته. څلورمه خبره دا ثابته شوه چې زوج ثاني دپاره جماع ضروري ده او (حتى تنكح زوجا غيره) (البقرة ۲۳۰) کې صرف نکاح مراد نه ده بلکې جماع ترې مراد ده. حضرت سعید بن مسیب وړومبی صرف نکاح کافی کړې وه خو بیا روستو د حدیث عسیله په وجه یې رجوع وکړه. (المرقات ۴۲/۶، ۴۴۱)

## د حلالې بیان

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۲﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لَعَنَ رسولُ الله

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلى الله عليه وسلم لعنت فرمایلي دي په

المحلّلَ والمُحلَّلَ لَهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ (صَحِيح)[1] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ عَلِيٍّ

محلل او محلل له باندې (روایت کړې دارمی) ابن اماجه دا روایت د حضرت علي رضي الله عنه

وَابْنِ عَبَّاسٍ وَعُقْبَةَ بن عَامر[2]

حضرت ابن عباس رضي الله عنه او د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه نه نقل کړی دی.

**توضیح:** لعن المحلل: محلل یعنې حلال کولو والا زوج ثاني ته وایې او (محلل له) یعنې د چا

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۴۲۷ رقم الحديث ۱۱۲۰ والنسائي ۶/۱۴۹ رقم الحديث ۳۴۱۶ والدارمي في ۲/۲۱۱ رقم الحديث ۲۲۵۸ وأحمد في المسند ۱/۴۴۸.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۶۲۲ رقم الحديث ۱۹۳۴

دپاره چې حلالیږی زوج اول ته وایي، د حلالې صورت دادی چې یو کس خپلې ښځې له درې طلاقه ورکړل عدت پوره کیدو نه پس هغه دې طلاق شده ښځې سره دوباره نکاح کول غواړي نو دا کس اوس هغې سره نکاح نشي کولی او که دغې ښځې بل کس سره نکاح کړې وي او جماع یې ورسره هم کړې وي او هغه پخپله طلاق ورکول غواړي نو د عدت پوره کیدو نه پس اوس دا د وړومبني خاوند دپاره حلاله شوه او دا د حلالې هغه جائز صورت دی کوم چې په قرآن کریم کې (حتی تنکح زوجا غیرہ) سره بیان شوی دی، دا خبره یاد ساتل پکار دي چې په زوج ثاني باندې دا لازم نه دي چې ورله طلاق وزکړي او که طلاق یې ورنه کړه نو بیا دهغه ښځه ده خو که هغه په رضا سره طلاق ورکړه نو په ښځه عدت تیرول لازم دي بیا چیرته نکاح کولی شي. (المرقات ۴۴۱،۴۲/۶)

**د حلالې مکروه تحریمي صورت** : که دوم خاوند دا شرط ولګولو چې د جماع نه پس به طلاق درکړم، یا ښځې شرط ولګولویا وړومبني خاوند دا شرط ولګولو یا دوم خاوند دا شرط کیخودو چې دومره پیسې به راکوې نو حلاله به کوم ټول صورتونه مکروه تحریمی دي، داد نکاح د مقاصدو سره منافي ده په نکاح کې همیشه والی دی او په دې کې عدم دوام شرط لګولی شوی دی.

د جمهورو ائمو په نزد دا حلاله صحیح نه ده او جماع نه بغیر دا ښځه د وړومبني خاوند دپاره حلاله نه ده ځکه چې دا شرائط فاسد دي نو نکاح هم فاسده شوه نو حلاله صحیح نه ده، ائمه احناف فرمایې چې دا فاسد شرائط به پخپله فاسد شي او نکاح به صحیح پاتې شي ځکه چې فاسد شرائطو سره عقد نکاح نه فاسدیږي، او چې کله عقد نکاح صحیح شو نو حلاله هم صحیح شوه نو ښځه د وړومبني خاوند دپاره حلاله شوه .جمهورو په دې حدیث کې لفظ (لعنَ) لیدلی دی او لفظ د (محلل) یې نه دی لیدلی چې په کې د حلالې مفهوم پروت دی.

اوس سوال دادی چې په دې حدیث کې په حلاله والاو باندې لعنت ولې دی؟ ددې جواب دادی چې دلعنت تعلق د حلالې د هغې صورتونو سره دی کوم چې مکروه تحریمي دي، ددغې صورتونو په وجه په بعضې روایاتونو کښ (محلل) ته (تیس مستعار) یعنې د سوال چیلی (پسه) ویلی شوی دی، او په دې حدیث کې په هغه باندې لعنت ویلی شوېدی، اوس دویم سوال دادی چې په دې حدیث کې په (محلل له) یعنې زوج اول باندې هم لعنت دی دد قصور څه دی؟ نو علماء فرمایې دا ځکه چې هغه مغلظه طلاق ورکړه اودزوج ثانی یې حلاله کړه په دې مکروه صورتونو کې هغه هم شو نو په دې وجه هغه هم د لعنت مستحق شو، خلاصه دا چې که په حلاله کې دا مکروه صورتونه وي او د ژبې نه په واضحه طور باندې ناجائز شرائطو اظهار نه وي نو فی نفسه په حلاله مؤاخذه

نشته .بلکې بعضې د ډیرې مجبورۍ په حالت کې قابل اجر هم کیدی شي. د قرآن کریم ایت کې (حتى تنكح زوجا غيره) (البقرة :۲۳۰) یو عام مفهوم دی، علامه ابن همام په فتح القدیر کې د حلالې ممنوع او قابل لعنت صورت دا بیان کړی دی که طلاق شده ښځې د یو سرپرست د اجازت نه بغیر نکاح کړې وه نو په دې صورت کې که زوج ثانی جماع هم وکړي نو دا حلاله صحیح نه ده او زوج اول دپاره حلاله نه ده او په دې باندې فتوی ده. (المرقات ۴۴۴/۶)

## د ایلاء مسئله

﴿۳﴾ وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: أَدْرَكْتُ بِضْعَةَ عَشَرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سلیمان ابن یسار (تابعی) وایي چې ما د لسو نه ډیرو د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو نه دا اوریدلي دي

كُلُّهُمْ يَقُولُ: يُوقَفُ الْمُؤْلِي. رَوَاهُ فِي شرح السنة[1]

چه ایلاء کولو والا به ایسارولی شي. (روایت دې په شرح السنه کښې)

**توضیح**: **یوقف المؤلي**: یعنې ایلاء کولو والا ایسارولئ او هغه ددې پابند کول چې ته کله ایلاء وکړې نو اوس به څلور میاشتې پس د وطي کولو نه پس ښځې ته رجوع وکړه یا طلاق ورکړه که چیرې داسې نه کوې نو قید یې کړه او جیل کې یې واچوه دا ددې جملې ظاهري مطلب دی چې د جمهورو موافق دی. (المرقات ۴۴۵/۶)

په لغت کې ایلاء قسم ته ویلی شي امرؤ القیس د خپلې محبوبې په انکار او قسم خوړلو متعلق وایي:

ويومًا على ظهر الكثيب تعذرت علي وآلت حلفةً لم تحللِ

په اصطلاح کې ایلاء هغې ته ویلی شي چې یو کس دا قسم وخوري چې هغه به څلورو میاشتو پورې یا د دې نه زیاتې پورې خپلې ښځې سره جماع نه کومه دا ایلاء ده، اوس که دې سړي د څلورو میاشتو په مینځ کې خپلې ښځې سره جماع وکړه نو ایلاء ختمه شوه نو دا سړی حانث شو، اوس به د قسم کفاره اداء کوي، او که څلور میاشتې تیرې شوې او رجوع یې ونه کړه نو د ائمه احنافو په نزد یو طلاق بائن واقع شو د قاضي د جدا کولو ضرورت نشته او نه به هغه کس په طلاق ورکولو یا رجوع کولو باندې نه مجبوره کوي. (المرقات ۴۴۵/۶)

جمهور ائمه فرمایي چې څلور میاشتې تیریدو نه پس طلاق خود بخود طلاق نه واقع کیږي بلکې

---

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۹/۲۳۷ رقم الحديث والدارقطني في السنن ٤/٦١ رقم الحديث ١٤٨ من كتاب الطلاق.

ایلاء کولو والہ تہ بہ ویلی شي چې خپلې ښځې تہ رجوع وکړہ یا طلاق ورکړہ خو هغه کس نه طلاق ورکوي او نه رجوع کوي نو اوس قاضی تہ دا اختیار دی چې هغه قید کړي، چې هغه خو یا طلاق ورکړي یا رجوع وکړي خو هغه کس که هیڅ هم ونه کړل نو قاضی به اوس هغې له طلاق ورکړي اودواړه به یو بل نه جدا کړی چې یو طلاق بائن به وي پورتنی روایت په ښکاره د جمهورو دلیل دی ځکه چې ایلاء کولو والا به څلورو میاشتو نه مخکې په رجوع یا طلاق باندې نه شي مجبوره کولی، معلومه شوه چې څلورو میاشتو تیریدو نه پس داسې معامله کول دي، که د مودې تیریدو نه طلاق بائن واقع کیدو نود (یوقف المُؤلِي) څه ضرورت وو؟ ائمه احنافو ددې ایت نه استدلال کړی دی

**للذین یؤلون من نسائهم تربص اربعة اشهرٍ فان فاؤا فان الله غفور رحیم وان عزموا الطلاق فان الله سمیع علیم، (البقرة: ۲۲۶)** اوس ددې ایت نه یوه دا خبره واضحه شوه چې دایلاء کم نه کم موده څلور میاشتې ده، ددې نه په کمه کې ایلاء نه کیږي بلکې صرف قسم به وي، دغیر مقلدینو په نزد د څلورو میاشتو نه کمه هم ایلاء وي، ایلاء دپاره څه موده شرط نه ده. د مصنف ابن ابي شیبه په یو روایت کې دي چې **(لا ایلاء فیما دون اربعة اشهرٍ)** دا روایت هم د اهل ظواهرو مسلک رد کوي، د اسلام نه مخکې د جاهلیت په دور کې ایلاء به دوه کالو پورې اوږده وه او اسلام دې دپاره څلور میاشتې مقرر کړي، ددې ایت نه داحنافو د مسلک مطابق دویمه خبره دا ثابته شوه چې د څلورو میاشتو د تیریدو نه پس یو طلاق بائن واقع کیږي، ځکه په ایت کې دي که د ایلاء کولو والا په څلورو میاشتو کې دننه رجوع ونه کړه نو هغه دطلاق اراده وکړه **(وان عزموا الطلاق)** دې نه احنافو په ځای دلیل نیولی دی، دلته د قاضی د فیصلې هیڅ ضرورت نشته دی ځکه چې ایلاء یوه کورنۍ معامله وي او په دې کې د قاضي او د هغه د عدالت هیڅ کار نشته، د قاضی مداخلت په لعان کې وي په ایلاء کې نه، لهذا دلته چې جمهورو دا تفریق د قاضی دپاره ضروري کړی دی د دې هیڅ ضرورت نشته.

داحنافو د مسلک مطابق لوی لوی صحابه کرامو لکه حضرت عثمان، حضرت علي او حضرات عبادله ثلاثه یعني حضرت عبدالله بن مسعود او عبد الله بن عمر او عبدالله بن عباس د ټولو په نزد د ایلاء دځلورو میاشتو تیریدو نه پس په ښځه یو طلاق بائن واقع شو، ملا علی قاری ددې دیر ښه تفصیل بیان کړی دی. دلته د اختصار په طور باندې یو روایت نقل کول هم کافي دی.

**(عن ابن عباس وابن عمر قالا اذا آلی ولم یفئ حتی مضت اربعة اشهر فهی تطلیقة بائنة رواه ابن ابي شیبة)** (مرقات جلد ۶ صفحه ۲۹۹)

بهرحال احنافو خپل دلائل دزیر بحث پورتنی جملې په مقابله کې راجح ګرځولې دي چې په ایلاء کې د رجوع کولو یوه طریقه خپلې ښځې سره جماع کول دي، او دویمه طریقه دژبې په ذریعې سره کول دي کومې ته چې رجوع بالقول ویلی شي. (المرقات ۴۴۸/۶، ۴۴۶)

## د ظهار حکم

﴿۴﴾ وَعَن أَبِي سلمةَ: أَنَّ سَلْمَانَ بْنَ صَخْرٍ وَيُقَالُ لَهُ: سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ الْبَيَاضِيُّ

حضرت ابوسلمه وایي چې یو صحابی سلمان بن صخر چې ورته سلمه بن صخر بیاضي ویلی شي

جَعَلَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ كَظَهْرِ أُمِّهِ حَتَّى يَمْضِيَ رَمَضَانُ

خپله ښځه یې د خپل ځان د پاره د خپلې د مورد شا په شان وګرځوله ترهغه وخته پورې چې رمضان ختم شي

فَلَمَّا مَضَى نِصْفٌ مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا

رمضان نیم هم نه وو تیر شوی چې هغه یوه شپه خپلې ښځې سره کورواليې وکړه کله چې سحر شو

فَأَتَى رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ لَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

نو هغه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او قصه یې ورته بیان کړه، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل

«أَعْتِقْ رَقَبَةً» قَالَ: لَا أَجِدُهَا قَالَ:

چې یو غلام آزاد کړه هغه عرض وکړو چې د دې طاقت نه لرم، رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل

«فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ» قَالَ: لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ:

چې دوه میاشتې روژې ونیسه، هغه عرض وکړو چې دا هم طاقت نه لرم نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل

«أَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا» قَالَ: لَا أَجِدُ

چې شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړه. هغه عرض وکړو چې د دې هم طاقت نه لرم. بیا

فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو: «أَعْطِهِ

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو بل صحابی حضرت فروه بن عمرو ته وفرمایل چې ده له د کجهورو هغه

ذَلِكَ الْعَرَقَ» وَهُوَ مِكْتَلٌ يَأْخُذُ

تهیلی ورکړه (کومه چې یو سړي راوړي ده) (عرق د کجورو د پانړونه جوړې شوې تهیلی ته ویلی شي)

| |
|---|
| خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا |
| چې په کې پنځلس یا شپارس صاعه (چه په کې دوه نیم پنځوس یا شپږ پنځوس سیره کجورې راځي) |
| «لِيُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1] وروی أَبُو دَاوُد وابنُ مَاجَه والدارمي عَن سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ |
| چې شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړي (ترمذی) ابو داؤد ابن ماجه او دارمی دا روایت د سلیمان بن یسار نه |
| عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ لحوَه قَالَ: كنتُ امرأً |
| او هغه د حضرت سلمة بن صخر نه داسې نقل کړی دی چه په کې د حضرت سلمه دا الفاظ هم دي ما به خپلو ښځو سره |
| أُصِيبُ مِنَ النِّسَاءِ مَا لَا يُصِيبُ غَيْرِي وَفِي روايتهما |
| دومره نزدیکت ساته چې زما په شان به بل چا دومره نه شو کولی د دې دواړو یعنې د ابو داؤد او دارمی په روایت |
| أَعْنِي أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيَّ: «فَأَطْعِمْ |
| کې دا الفاظ هم دي چه رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپیتو غریبانانو له خوراک ورکولو په ځای دا هم فرمایلي دي |
| وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ بَيْنَ سِتِّينَ مِسْكِينًا»[2] |
| چې شپیتو غریبانانو له یو وسق کجورې ورکړه. |

**توضیح: کظهر امه:** د مشکوة شریف په بعضو نسخو کې (**باب المطلقه ثلاثا**) نه پس د (**وفيه ذكر الظهار والايلاء**) الفاظو په عنوان کې ذکر دي په دې وجه په دې باب کې د ایلاء حدیث هم دی او د ظهار حدیثونه هم راغلي دي، یا ایلاء او ظهار هم د طلاق یو قسم دی دې دپاره د طلاق په بابونو کې د دې ذکر شوی دی، زیر بحث د حضرت ابوسلمه په حدیث کې د ظهار حکم بیان شوی دی، ظهار هغې ته ویی شي. چې یو سړی خپلې ښځې ته یا دهغې د بدن اهمې او مشهورې حصې د خپلو محرماتو ابدیو د جسم د هغه حصې سره تشبیه ورکړي کومې حصې ته چې کتل د هغه دپاره حرام دي، لکه چې خپلې ښځې ته داسې ووایي چې ته په ما باندې د مور د ملا پشان حرامه یې یا ستا سر یا خپله زما د مور د خیټې پشان ده، دې الفاظو نه پس خپلې ښځې سره جماع کول او مینه کول ټول حرام شو، او که د ظهار کفاره ورکړي نو بیا جماع کول جائز به شي که د کفارې نه مخکې یې جماع وکړه نو په هغه

---

(1) أخرجه الترمذي في السنن ٣/٥٠٣ رقم الحديث ١٢٠٠

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦٦٠ رقم الحديث ٢٢١٤ والدارمي في ٢/٢١٧ رقم الحديث ٢٢٧٣ وأحمد في المسند ٥/٤٣٦

استغفار لازم شو صرف د ظهار کفاره به اداء کوي نوره ورباندې څه جرمانه نشته، البته دکفارې اداء کولو نه مخکې دې جماع نه کوي.

**حق یمضي رمضان** دې جملې نه معلومه شوه چې موقت ظهار (یو خاص مقرر شوې موده) جائز دی او کله چې مقرر شوې موده تیره شي نو ظهار به ختم شي، ابن همام فرمایلي دي چې کوم کس دیو خاص وخت دپاره ظهار وکړه (مثلاً داسې یې وویل چې رمضانه پورې ظهار دی) نو دا قید صحیح دی او خپلې مقرر شوې مودې تیریدو نه پس ظهار باطل شو.

**اطعم ستین** د ظهار د کفارې ترتیب دادی چې اول خو غلام ازادول دي که غلام نه وي نو دوه میاشتې روژې به نیسی، خو غلام ازادولو نه مخکې جماع کول حرام دي، او داسې روژې پوره کولو نه مخکې جماع کول حرام دي مګر دې د دښه د کفارې اعاده لازم نه ده صرف استغفار غوښتل لازم دي، که روژې نه شي نیولی نو بیا به شپیته غریبانانو له ډوډۍ ورکوي خو دې نه مخکې جماع کول حرام دي، او که جماع یې وکړه نو استغفار به وغواړي او د کفارې اعاده نشته.

**سوال**: دلته دا سوال پیدا کیږي چې شپیته مسکینانو ته ۱۶ صاعه کجورې یې د کفارې په طور اداء کړې، حالانکې د فقه په کتابونو کې دي چې که کجورې ورکول وي نو هر مسکین له د صدقه فطر په مقدار به کفاره ورکوي نو په دې حساب سره شپیته صاعه کجورې پکار دي؟

**جواب**: رسول کریم ﷺ حضرت سلمه ته وفرمایل چې دا کجهورې په مسکینانو باندې صرف خرچ کړه ددې دا مطلب نه وو چې دا پوره کفاره ده بلکې مطلب یې داوو چې څومره کجورې موجود وي هغه تقسیم کړه نورې دخپل طرف نه شاملې کړه، په بعضو روایاتو کې دا تفصیل دی چې دا سړی پخپله غریب وو نو هغه له یې ټولې کجورې ورکړې او کفاره یې روستو اداء کړه.

دریم جواب دادی چې په دې روایت کې د ابو داؤد او دارمی په حوالې سره د یو وسق ذکر موجود دی او وسق ۶۰ صاعه وي، نو اوس په کې هیڅ شک نشته، هغه کس ته وویلی شو چې شپارس ۱۶ صاعه ذل واخله او دخپل طرف نه نورې کجهورې ورسره شاملې کړه او یووسق پوره کړه، فقهاو لیکلې دي چې که ظهار دکفارې دپاره یو کس روژې نیسي نو په روژو کې داسې ترتیب پکار دی چې په مینځ کې یې منهیه ورځې رانشي، امام ابو حنیفه نه په یو روایت کې دي چې که ظهار کولو والا د روژو په مینځ کې جماع وکړه نو روژې به بیا د سر نه نیسی، او دامام ابو یوسف او د جمهورو مسلک دادی چې استیناف نشته صرف استغفار دې کوي، د جمهورو په نزد د ظهار دکفارې دپاره غلام ازادول ضروري دي، احناف فرمایي چې په قرآن کریم کې د مطلق غلام ذکر دی لهذا مسلمان کیدل افضل دي لیکن واجب نه دی، که غلام وي یا وینزه وي، بالغ وي یا نابالغ وي ټول جائز دي

ځکه ایت مطلق دی راتلونکی حدیث نمبر ۵ او حدیث نمبر ۶ تشریح هم په دې توضیح کې راغلې (المرقات ۴۵۱/۶، ۴۵۰)

﴿۵﴾وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سلیمان بن یسار (تابعی) د حضرت سلمه بن صخر نه نقل کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې

فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ قَالَ: «كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ».

ظهار کولو والا باره کې کوم چې د کفارې ادا کولو نه مخکې جماع وکړي وفرمایل چې په ده باندې یوه کفاره

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

واجب شوه. (روایت کړې دې ترمذی او ابن ماجه)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۶﴾عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنِ امْرَأَتِهِ

حضرت عکرمه د حضرت ابن عباس نه نقل کوي چې یو سړي خپلې ښځې سره ظهار وکړو او بیا یې

فَغَشِيَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ:

د کفارې اداء کولو نه مخکې جماع وکړه، دې نه پس د رسول کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، نبی عَلَيْهِ السَّلَام

«مَا حَمَلَكَ عَلَى ذَلِكَ؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْتُ بَيَاضَ

هغه ته وفرمایل چې کوم یو څیز ته په دې باندې مجبوره کړې هغه عرض وکړو چې د څوارلسمې سپوږمۍ

حِجْلَيْهَا فِي الْقَمَرِ فَلَمْ أَمْلِكْ نَفْسِي أَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا فَضَحِكَ

شپه وه او زما نظر دهغې په پازیب باندې پریوت او ما په ځان قابو ونه ساتله او جماع مې وکړه نو په خندا شو

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يَقْرَبَهَا

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دائې واوریدل هغه ته یې دا حکم ورکړو چې اوس دوباره هغې سره جماع ترهغې

حَتَّى يُكَفِّرَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ وَقَالَ:

وخته پورې مه کوه ترڅو چې کفاره اداء نه کړي (ابن ماجه) ترمذی هم داسې روایت نقل کړی دی او ویلې یې دي

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۵۰۲ رقم الحديث ۱۱۹۸ وأخرجه ابن ماجه ۱/۶۶۶ رقم الحديث ۲۰۶۴

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ مُسْنَدًا وَمُرْسَ

چې دا حدیث حسن صحیح غریب دی. ابو داؤد او نسائی هم داسې روایت مسند او مرسل نقل کړی دی

وَقَالَ النَّسَائِيُّ: المُرسل أَوْلى بالصَّوابِ من المسْندِ[1]

او نسائی ویلي دي چې د مسند په نسبت مرسل ډېر صحیح دی.

## د ظهار باره کې نورې مسئلې

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَن مُعَاوِيَة بنِ الحكمِ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت معاویه بن حکم وایي چې زه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم

فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ الله إِنَّ جَارِيَةً كَانَتْ لِي تَرْعَى غَنَمًا لِي فَجِئْتُهَا وَقَدْ

او ما عرض وکړو ای دالله رسوله! زما یوه خادمه ده چې زما چیلي یې څرولې کله چې زه دهغې خواته لاړم نو ما په

فَقَدْتُ شَاةً مِنَ الْغَنَمِ فَسَأَلْتُهَا عَنْهَا فَقَالَتْ: أَكَلَهَا الذِّئْبُ

چیلو کې یوه کمه پیاموندې نو دهغې چیلي باره کې مې تپوس وکړو چه څه شوه؟ هغې وویل چې شرمخ وخوړله

فَأَسِفْتُ عَلَيْهَا وَكُنْتُ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلَطَمْتُ وَجْهَهَا

ما له په دې باندې غوسه راغله او چونکې بنی آدم یم دې وجې نه ما هغه خادمه په مخ باندې یوه سپېره ووهله،

وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ أَفَأُعْتِقُهَا؟ فَقَالَ

او په دې وخت کې په ما باندې یو برده (یعنې یو غلام یا وینزه آزادول واجب دي) رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا

لَهَا رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيْنَ الله؟» فَقَالَتْ:

هواوریدل نو هغه خادمه یې راوغوښتله او تپوس یې ترې نه وکړو چې الله تعالی کوم ځای کې دی؟ هغې وویل چې

فِي السَّمَاءِ فَقَالَ: «مَنْ أَنَا؟» فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولَ الله

آسمان کې، بیا رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې نه تپوس وکړو چې زه څوک یم؟ هغې عرض وکړو چې تاسو دالله رسول یې،

فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْتِقْهَا». رَوَاهُ مَالِكٌ وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ

دې نه پس رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا آزاده کړه. (رواه مالک) د مسلم په روایت کې داسې دي

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٦٦٦ رقم الحديث ۲۰۵٦

| |
|---|
| قَالَ: كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ |
| چې حضرت معاويه ووېل چې زما يوه خادمه وه چه د احد په غر کې او د جوانيه په طرفونو کې به يې زما چيلې څرولې |
| فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّئْبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا |
| . يوه ورځ ما چې خپلې چيلې وليدلې نو ما ته معلومه شوه چې شرمخ زما د چيلو نه يوه چيلې اوچته کړې ده |
| وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا |
| زه هم د بنی آدمو نه يو سړی يم او څنګه چې (د يو نقصان په وجه) د آدم اولاد ته غوسه ورځي هم دغسې |
| يَأْسَفُونَ لَكِنْ صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| هم دغسې ماله هم غوسه راغله ليکن هغه ما سپېره ووهله، او بيا زه د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم |
| فَعَظَّمَ ذَلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ: |
| رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا واقعه زما د پاره يوه اهم حکم ورګرځوه او وې فرمايل چې دا لويه ګناه ده ما عرض او کړو |
| يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ قَالَ: |
| چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نو زه دا خادمه آزاده کړم؟ رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چې هغه |
| «ائْتِنِي بِهَا؟» فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا: «أَيْنَ اللهُ؟» قَالَتْ: |
| خادمه ماته راوله، نبی عَلَيْهِ السَّلَام ترې نه تپوس وکړو چې الله تعالی کوم ځای کې دی؟ هغې جواب ورکړو |
| فِي السَّمَاءِ قَالَ: «مَنْ أَنَا؟» قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ |
| چې آسمان کې، بيا رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل چه زه څوک يم؟ هغې وويل تاسو د الله تعالی رسول يې. |
| قَالَ: «أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ»[1] |
| رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته و فرمايل چې دا خادمه آزاده کړه ځکه دا مسلمانه ده. |

**توضيح**: **والجوانيه**: د احد غر سره نزدې يو ځای دی چې نوم يې جوانيه دی، دې لفظ کې په واو باندې شد دی او جيم باندې فتحه ده. (المرقات ۴۵۴/۶)

**فاطلعت**: طاء مشدد ده، پټ پټ کتو ته ويلی شي. **اسف**: په همزه مد دی او سين مفتوح دی. د سمع يسمع نه، په معنی د دردمند او غمګين دی د باب افعال نه په غصه کې اچولو ته ويلی شي (**فلما آسفونا**) د باب افعال نه دی په دې حديث کې علامه طيبی او ملا علي قاري دواړو دا لفظ د غصې

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۸۲ رقم الحديث (۳۷،۳۳) ومالک في المؤطأ ۲/۷۷۶ رقم الحديث ۸ من كتاب العتق

او غضب دپاره استعمال کړی دی. (المرقات ۴۵۴/۶)

**لکن:** دا لفظ د استدراک دپاره استعمال شوی دی (**أي واردت ان اضربها ضربا شديدًا ولكن**) یعنې ډیر وهل مې پریخودل او صرف یوه سپېره مې ورکړه. (المرقات ۴۵۴/۶)

**صككتها:** د نصرَ ينصرُ نه صحا و صكة په مخ باندې سپېره ورکولو ته ویلی شي. (المرقات ۴۵۴/۶)

**اين الله:** رسول کریم ﷺ د هغې خادمې نه دا سوال دې دپاره نه وو کړی چې هغه د الله تعالی مکان او مقام بیان کړي بلکې د حضور اکرم ﷺ مقصد دا وو چې صرف دومره معلومه کړي چې دا خادمه مؤمنه ده که نه، چونکه د مشرکینو عربو دا عقیده ده چې الله تعالی سره څومره خدایان شریک دي هغه په زمکه کې دي او په آسمان کې چې کوم رب دی هغه الله دی، کله چې خادمې جواب ورکړو (په آسمان کښې) نو ددې مطلب دادی چې هغه واحد لاشریک بادشاه په آسمان کې دی دهغه شریک نشته، په دې وجه رسول کریم ﷺ وفرمایل چې دا آزاده کړه ځکه چې دا مؤمنه ده، او بهتره داده چې د ظهار د کفارې دپاره د ازادولو والا غلام یا وینزه مسلمان وي، او که مسلمان نه وي هم کفاره اداء کیږي، د احنافو هم دا مسلک دی البته جمهور فرمایي چې د غلام په ازادولو کې مسلمان کیدل ضروري دي، هغوی پورتنې حدیث نه دلیل نیولی دی. (المرقات ۴۵۴/۶)

احناف فرمایي چې په قرآن کریم د ظهار د کفارې ترتیب داسې دی (**والذين يظاهرون من نسائهم ثم يعودون لما قالوا فتحرير رقبةٍ من قبل ان يتماسا الخ**) (المجادله :۳) (**فمن لم يجد فصيام شهرين متتابعين من قبل ان يتماسا فمن لم يستطع فاطعام ستين مسكينا**) (المجادله : ۴)

په دې ترتیب سره د (رقبة) لفظ مطلق دی که هغه مسلمانه وي او که کافره وي خو د حدیث په رڼا کې مسلمان کیدل افضل دي، دلته په دې دوه روایتونو کې په ظاهره معمولی شان تضاد معلومیږي، ځکه د موطا د مالک د یو روایت نه دا معلومیږي چې هغه صحابی وفرمایل چې زما په ذمه یو غلام آزادول دي، نو زه ددې په بدله کې دا خادمه آزادولی شم چې هغه کفاره هم اداء شي او هغه د وهلو د پیښمانیتا هم علاج وشي. دلته د مسلم شریف د روایت نه دا معلومیږي چې حضرت معاویه بن حکم هغه خادمه د سپړې وهلو په وجه آزاده کړې وه ددې تضاد جواب دادی چې دلته څه نشته صرف دومره خبره ده چې د موطا مالک په روایت کې داسې تفصیل دی، او د مسلم په روایت کې اجمال دی نو دا اجمال ددې تفصیل په رڼا کې کتل پکار دي چې ددې صحابی په ذمه یوه بله کفاره هم وه لیکن هغه وغوښتل چې د وهلو د کفارې نیت هم وکړي نو نیت به صحیح وي او که نه؟ نو حضور اکرم ﷺ وفرمایل چې دا صحیح دی.

# باب اللعان

## د لعان بیان

قال الله تعالى (والذينَ يرمونَ أزواجهم و لم يكن لهم شهدآءُ إلا أنفسهم فشهادة أحدهم اربع شهاداتٍ بالله إنه لمن الصادقين، والخامسةُ أن لعنة الله عليه إن كان من الكاذبين، و يدرء عنها العذاب أن تشهدَ اربع شهاداتٍ بالله إنه لمن الكاذبين، والخامسةَ أن غضبَ الله عليها إن كان من الصادقين) (النور: ۲)

لعان د فعال په وزن باندې د باب مفاعلې مصدر دی، د دې ماده لعنت دی، چونکه خاوند او ښځه یو بل لره د الله د رحمت نه لرې کوي، یا د رشتې د زوجیت نه یو بل لره لرې کوي، دې وجې نه ورته د لغت په اعتبار سره لعان وویل شو، دارنګې په قسمونو کې د لعنت لفظ صراحةً موجود دی، دې وجې نه یې د دې معاملې نوم لعان کیخوده. (النور: ۲)

**د لعان اصطلاحي مفهوم : د لعان اصطلاحی تعریف:** د لعان په تعریف کې د فقهاء کرامو اختلاف دی، د ائمه احنافو په نزد دلعان تعریف دارنګې دی (شهادات مؤکدات بالأیمان) یعنی په کلکه دقسمونو ګواهي نوم لعان دی، لهذا لعان د حنفیو په نزد ګواهي د قسم سره دی، د لعان دپاره د ګواهی ټول شرائط موجود کیدل ضروري دي په نابالغ او مجنون کې د ګواهی اهلیت نه وی، لهذا هغوی یې هم نشې کولی، داسې د کافر اومسلمان په مینځ کې هم نشته، دارنګه د محدود في القذف هم لعان نه شي کولی، ځکه دا ټول خلق د ګواهی دپاره اهلیت نه لري نو د لعان هم اهل نه دي.

د جمهورو په نزد د لعان تعریف دا دی (أیمان مؤکدات بلفظ الشهادة) د هغوی په نزد باندې لعان د باب الیمین نه دی، د هغوی په نزد چې څوک د یمین او د قسم اهل وي نو هم هغه به د لعان اهل هم وي، دهغوی په نزد باندې محدود في القذف او غیر مسلم کافر لعان کولی شي. (المرقات ۴۵۶/۶)

**د لعان حقیقت :** د لعان صورت او حقیقت دادی چې کله خاوند په ښځه باندې د زنا تور ولګوي او ښځه انکار وکړي او ووایي چې تا په ما باندې د دروغو تور ولګوه اوس دا ثابت کړه، دارنګې به دا ښځه د خپل خاوند خلاف عدالت ته لاړه شي او قاضی ته به فریاد وکړي قاضی به یې خاوند راوغواړي او ددې دعوې د ثبوت دپاره به ترې څلور ګواهان طلب کړي، که تور ثابت شو نو ښځې باندې درجم حکم نافذ شو او که خاوند څلور ګواهان پیش نه کړی شو نو اوس به د دواړو په مینځ کې دلعان حکم نافذ کیږي، د لعان طریقه داده چې ورومبی به خاوند وایي چې زه الله تعالی ګواه جوړومه چې ما په دې ښځې چې کوم د زنا تور لګولی دی په هغې کې زه رښتینې یم څلور ځله به ښځې طرف ته

اشاره وکړي او قسم به وخوري او پنځم ځل به داسې قسم خوري که په دې الزام کې دورغژن یم نو په ماباندې دې د الله تعالی لعنت وي، او دې نه پس به ښځه داسې قسم وخوري چې زه الله تعالی گواه جوړومه چې زما دې خاوند چې په ماباندې د زنا کوم تور لګولی دی هغه په دې کې دروغژن دی، د څلور ځله قسم خواړولو نه پس په پنځم ځل به دا ښځه وایي چې دې خاوند په ماباندې کوم تور لګولی دی که چیرې دا په دې کې ریښتینې وي نو په ماباندې دې د الله تعالی غضب وي.

**دلعان حکمت**: دا یاد ساتل پکار دي چې د لعان دا حکم د حد زنا نه پس راغلی دی، دا یو جدا قانون دی چې صرف د ښځې او خاوند سره خاص دی، او په دې کې یې د خاوند د عزت او عظمت او د هغه د غیرت د احترام خیال ساتلی شوی دی، ځکه که خاوند مثلاً خپله ښځه په خپلو سترګو په زنا لیدلې وي او که د زنا نسبت د ځې سره کوي او څلور ګواهان نه وي نو خاوند به په ملا باندې اتیا کوړې وهي، دا یو جدا مصیبت دی که خاوند د ښځې په غلط حرکت باندې خاموشي اختیار کړه نو ټول عمر به په دې پښیمانه وي، او همیشه لپاره به غیظ او غضب او غم او الم کې وي، شریعت خاوند ته د دې مصیبت نه د بچ کیدلو د پاره د حد زنا نه علاوه یوه بله لاره ښودلې ده، که ګواه نه وي نو قسمونه دې وخوري او لعان دې وکړي او که خاوند د دواړو نه انکار کوي نو قاضی به په دواړو کې په یو عمل کوي یعنې قید کولی یې شي او که نه نو حد قذف هم لګولی شي.

**دلعان په نتیجه کې د فقهاو اختلاف**: په ښځه او خاوند کې چې کله د لعان عمل مکمل شي نو دې نه پس به څه کیږي په دې کې د فقهاو اختلاف دی، امام شافعی او امام مالک او یوبل قول کې امام احمد فرمایي چې د لعان نه پس به د ښځې او خاوند په مینځ کې پخپله بیلتون راشي، ائمه احناف او یو قول کې امام احمد فرمایي صرف په لعان کولو سره د ښځې او خاوند په مینځ کې تفریق نه راځي، بلکې د قاضي د بیلولو او د فیصلې ضرورت پکې شته.

**دلائل**: جمهورو د حضرت ابن مسعود او حضرت عمر فاروق دیو روایت او اثر نه دلیل نیولی دی کوم چې عبدالرزاق مصنف کې نقل کړی دی چې الفاظ یې دادي (**المتلاعنان لا یجتمعان ابدًا**) دلیل څه دارنګې دی چې په دې روایت کې ویلی شوې دي چې د لعان نه پس ښځه او خاوند بالکل نشي یوځای کیدی که په لعان سره فرقت رانغی نو د ښځې او خاوند په مینځ کې اجتماع لازم شوه چې د دې روایت د تشریح خلاف ده. ائمه احناف د حضرت عویمر عجلانی د روایت نه دلیل نیولی دی چې پکې دا الفاظ دي (**کذبت علیها ان امسکتها فطلقها ثلاثا**) د دې روایت نه دوه خبرې ثابتې شوې: چې د لعان نه پس درې طلاقه ورکړی شو که د لعان نه پس پخپله فرقت راتلو نو د دریو طلاقو څه ضرورت وو، دویمه خبره دا واضحه شوه چې په یوځل درې طلاقه نافذیږي، دریمه دا خبره واضحه شوه چې حضرت عویمر پخپله

فرمايي چې دلعان نه پس که ما دا ښځه خپل ځان سره وساتله نو ددې مطلب دا شو چې ماپه دې ښځې دوړغ ويلي دي، دې دپاره زه دې ښځې ته طلاق ورکومه داييان ددې خبرې واضحه دليل دی چې صرف دلعان سره جدائي نه واقع کيږي، که دې سره جدائي راتلی نو عويمر به پخپله دا بيان نه کوو ،ائمه احناف د سنن ابی داؤد د يو حديث نه دليل نيولی دی چې دعويمر عجلانی قصه ده چې په کې دا الفاظ راغلي دي چې ترينه معلوميږی چې لعان نه پس بيلتون يو مسنون عمل دی(**فمضت السنة بعد فی المتلاعنين ان يفرق بينهما ثم لايجتمعان ابدا**) (ابوداؤد ،جلد ۱ صفحه ۳۰۶) احنافو د حضرت ابن عمر په دې باب کې د دويم حديث نه هم دليل نيولی دی چې په هغې کې دا الفاظ دي (ففرق بينهما) ددې ټولو روايانو نه دا معلوميږي چې صرف لعان د بيلتون وجه نشي جوړې دی بلکې د قاضی ضرورت هم پکې وي چې دا خبره د عقلي دليل نه هم واضحه کيږي، ځکه چې دلعان ټوله مسئله د قاضی سره په عدالت کې وي، چې په هغې کې دعوی ده، ګواهی ده او قسم دی، چې کله دا ټوله معامله دعدالت لاندې چليږي نو د ښځې اوخاوند مسئله ولې د عدالت د اختيار نه بهر ده، پاتې شوه د ايلاء مسئله، نو لعان په ايلاء باندې نه شي قياس کولی، ځکه چې ايلاء يوه کورنۍ معامله ده چې په هغې کې د قاضي مداخله نشته، باقي د (**المتلاعنان لا يجتمعان أبدًا**) مطلب دا دی چې د لعان د تکميل نه بعد د ښځې او خاوند جدائي د هميشه دپاره ده، او په دې مطلب کې د چا اختلاف نشته او نه دا مطلب د چا خلاف دی.

## په زنا کې د قتل کولو حکم: که يوسړې خپله ښځه په حالت زنا کې په خپلو سترګو وليدله نو هغه يې وژلی شي که نه؟

په دې کې ډيرتفصيل دی، خلاصه داده چې که چيرې خاوند خپل ښځه په حالت زنا کې وليدله نو دغېرت په وجه يې دواړه ووژل نو اميد دی چې دالله په نزد به مؤاخذه نه وي، فقهاو دې باره کې يوه جمله ليکلې ده (**وله قتلهما**) چې خاوند دواړه وژلی شي چونکه ظاهري شريعت دقانون مطابق يې خلاف ورزي وکړه ، دې وجې نه جمهور علماء فرمايي چې شرعی عدالت ته دې دغه کس راولي او په قصاص دې ووژلی شي.

**تشريح لغات**: (**انظروا**) دا لفظ د نظر نه د انتظار په معنی دی، يعنې اوګورئ او انتظار وکړئ.( المرقات ۴۵۹/۶) (**اسحم**) يعنې جسم تور شو. ( المرقات ۴۵۹/۶) (**ادعج العينين**)د سترګو تورواليې چه کله تور شان وی او سپين واليې سپين قسم وی هغه ته ادعج العينين وائی. ( المرقات ۴۵۹/۶)(**اليتين**) دا د الية تثنيه ده د مقعد يو جانب ته ويلی شي. ( المرقات ۴۵۹/۶) (**خدلج**

الساقين) لام مشدد دی پیړې پوندې ته ویلی شي (فلا أحسب) د سین کسره او ضمه دواړه ویل کیږي د (أظن) په معنی سره دی (المرقات ۴۵۹/۶) (أحيمر) دا د احمر تصغیر دی د سور په معنی سره دی (و حرة) درېواړو حروفو باندې زور دی یو ورکوتې سور حیوان ته ویلی شي، په منجد کې یې لیکلي دي د ورکوتې قد او سور رنګ والا ښځې ته وحرة ویلی شي. اشعة اللمعات کې شیخ عبد الحق د دې متعلق لیکلي دي، یعنې وحره د هغه سور چینجي نوم دی کوم چې ځمکې سره جوخت ځي، پښتو کې ورته (چارمکی) د دې بهترین مصداق دی. اوس دهغه حدیث تشریح ملاحظه کړئ کوم چې مخکې تیر شو. (المرقات ۴۵۹/۶، اشعة اللمعات ۱۷۶/۲)

## الْفَصْلُ الأول

﴿۱﴾ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ عُوَيْمِرَ الْعَجْلَانِيَّ

حضرت سهل بن سعد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو صحابي عویمر عجلاني د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو

قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا وجدَ معَ امرأتِهِ

او عرض یې وکړو چې یا رسول الله! ماته دهغه کس باره کې ووایئ چې خپلې ښځې سره یو پردی سړی بیا مومي

رَجُلاً أَيَقْتُلُه فتقْتُلُونَه؟

او هغه ته دا یقین وو چې هغه سړي دهغه ښځې سره زنا کړې ده ایا هغه هغه سړی قتل کړي؟ که هغه یې قتل کړو

أَمْ كَيفَ يَفعل؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

نو دمړي وارثان به هغه ووژني په دې صورت کې هغه څه وکړي نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ چې دا واوریدل نو وې فرمایل

«قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا» قَالَ سَهْلٌ:

چې ستاسو (ښځې او خاوند) په قضیه کې وحي نازله شوې ده پخپله ښځه راوغواړه، حضرت سهل وایي

فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَأَنَا مَعَ النَّاسِ

چې عویمر خپله ښځه راوغوښتله او ښځې او خاوند په مسجد نبوي کې لعان وکړو او زه هم د نورو خلقو سره

عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ:

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره موجود ووم، کله چې دواړه ښځه او خاوند د لعان نه فارغ شول نو عویمر وویل

كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رسولَ الله إِن أَمْسَكْتُهَا

چې که چیرې زه دا ښځه په کور کې وساتم نو ګویا ما په هغې د دروغو تور لګولی دی دینه پس هغه

فطلقتها ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "انْظُرُوا فَإِنْ

هغې ښځې له درې طلاقه ورکړل، بیا نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې که چیرې دې د دې

جَاءَتْ بِهِ أَسْحَمَ أُدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ

موجوده حمل نه داسې ماشوم پیدا شو چې دا رنګه تور او سترګې ډیرې تورې او ډوډۍ ئې لوې او

خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَلَا أَحسب عُوَيْمِر

دواړه پونډۍ یې دغوښې نه ډکې وې زه دې نه علاوه نورنه پوهیږم چې عویمر دې ښځې باره کې څه ویلي وو

إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَإِنْ جَاءَتْ

رښتیا یې ویلی وو (ځکه چې عویمر د کوم سړي طرف ته د زنا نسبت کړی دی) او که د ښځې نه

بِهِ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهُ وَحَرَةٌ فَلَا أُحسِبُ

داسې ماشوم پیدا شو چې دا رنګه سور او بامنی رنګ والا وو نو بیا زه دې نه علاوه نور څه نه شم ویلی

عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ

چې عویمر هغې باره کې دروغ ویلي وو (یعنې عویمر دا رنګه سور وو کله چې د هغې ښځې ماشوم پیدا شو

بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو هغه په هغه رنګ او صورت کې وو کوم باره کې چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصدیق کړی وو (یعنې د هغه سړي په شان وو

مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ

د کوم طرف ته چې عویمر د زنا نسبت کړی وو نو د عویمر خبره رښتیا شوه) دې نه پس هغه ماشوم د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دا رشاد

بَعْدُ يُنْسَبُ إِلَى أُمه (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

"الولد للفراش وللعاهر الحجر" مطابق خپلې مور طرف ته منسوب کړه. (بخاری ومسلم)

---

(1) أخرجه البخاري في الصحيح ٩/٤٤٦ رقم الحديث ٥٣٠٨ ومسلم في ٢/١١٢٩ رقم الحديث ١/١٤٩٢ وأبوداؤد في السنن ٢/٦٧٩ رقم الحديث ٢٢٤٥ والنسائي في ٦/١٧٠ رقم الحديث ٣٤٦٦ وابن ماجه في ١/٦٦٧ رقم الحديث ٢٠٦٦ مالک في المؤطأ ٢/١٥٦٦ رقم الحديث ٣٤

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَتِهِ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چي رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیو سړي او د هغه د ښځي په مینځ کي دلعان حکم وفرمایلو

فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فَفَرَّقَ

چنانچه دلعان په وجه هغه سړی د هغې ښځي د ماشوم نه لرې شو (یعني دماشوم نسب یې د هغه سړي نه لرې کړه)

بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

او رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښځي او خاوند په مینځ کي بیلتون راوستو او ماشوم یې ښځي ته حواله کړو. (بخاری ومسلم)

وَفِي حَدِيثِهِ لَهُمَا

او د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په یو بل روایت کي چي بخاری او مسلم نقل کړی دی دا الفاظ دي

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ

چي رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سړي ته نصیحت وکړو او د آخرت عذاب یې ورته وریاد کړه چي دروغ ژونه وایي)

وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ ثُمَّ

او ددې خبرې نه یې خبر کړه چي د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه اسان دی بیا رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا

هغه ښځه راوغوښتله او هغې ته یې هم نصیحت وکړو او د آخرت د عذاب یې ورته وریاد کړو

وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ. اخرجه البخاري (صحيح)[1]

او هغې ئې ددې خبرې نه خبر کړه چي د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه اسان دی.

## دلعان کولو والا حساب به په آخرت کي کیږي

﴿۳﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چي نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دلعان والا سړي او ښځي ته وفرمایل (چي مونږه

لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ: «حِسَابُكُمَا عَلَى اللهِ

صرف د ظاهري احوالو په بنياد باندې څه حکم نافذ کولی شو نو مونږ د لعان په صورت کې نافذ کړو. البته ستاحساب بد الله په نزد

أَحَدُ كُمَا كَاذِبٌ

وي ځکه چې په تاسو کې به يو ضرور دروغژن وي (بيا رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سړي ته وفرمايل چې)

لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَالِي

دښځې باره کې ستا د پاره هيڅ لاره نشته سړي عرض وکړو يا رسول الله! اوزما مال (ما چې کوم مهر ورکړی دی هغه بدزمانه ځي؟)

قَالَ: «لَا مَالَ لَكَ

رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې په هغه مال کې ستا هيڅ حق نشته (يعني ورکړی شوی مهر کې ستا هيڅ حق نشته)

إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا

او که تا د ښځې باره ريښتيا ويلي دي (يعني ستا د وينا مطابق که دې ښځې په ريښتيا بدکاري کړې وي) نو د مال

فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ

دهغه ځيز بدله شوه چې تا د هغې شرم ګاه حلاله کړې وه او که تا د هغې ښځې باره کې دروغ ويلي وي

عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ

نو په دې صورت کې هم د مهر واپس اخستل هم ستا د پاره بعيد دي يعنې د ريښتيا ويلو په صورت کې د مهر واپس

وَأَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا» (صَحِيح)[1]

اخستو حق نشته نو د دروغو په صورت کې خو بالکل نشته. (صحيح)

## د آيت لعان شان نزول

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې هلال بن اميه د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې په خپلې ښځې باندې د

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ٩/٤٩٦ ومسلم في صحيحه ٢/١١٣١ رقم الحديث (١٤٩٣.٥) وأبوداؤد في السنن ٢/٦٩٢ رقم الحديث ٢٢٥٧ والنسائي في ٦/١٧٧ رقم الحديث ٣٤٧٦ وأحمد في المسند ٢/١١

قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ

شریک بن سحماء صحابی سره د زنا تور ولګولو (یعنې هلال وویل چې شریک زما ښځې سره زنا کړې ده)

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْبَيِّنَةَ

نبی کریم ﷺ هلال ته وفرمایل چې د خپل تهمت د پاره ګواه پیش کړه ګنې د درو غو تور لګولو

أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ» فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

په وجه باندې به ستا په ملا حد جاري کړی شي (یعنی اتیا کوړې) هلال عرض او کړو چې ای د الله رسوله!

إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ؟

که په مونږه کې یو کس څوک د خپلې ښځې سره په بدکاری وینې نو هغه به ګواه تلاش کوي؟ (یعنې اول صورت خو دا دی

فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْبَيِّنَةَ

چې دومره موقع کوم ځای کې وي چې ګواه تلاش کړي) خو نبی کریم ﷺ هم دا فرمایل چې ګواه پیش کړه

وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ» فَقَالَ هِلَالٌ: وَالَّذِي

ګنې تا باندې به حد جاری کړی شي. بیا هلال عرض وکړو چې قسم دې وي زما په هغه ذات باندې

بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللهُ

چې تاسو یې په حق سره مبعوث کړې یې، زه رښتینې یم او ماته یقین دی چې الله تعالی به زما باره کې ضرور حکم نازل کړي

مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ:

او زه به د حد نه بري شم. آخر څه موده پس حضرت جبریل تشریف راوړلو او نبی علیه السلام باندې دا آیت نازل شو یعنی

(وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ) فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ (إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ)

هغه خلق چې په خپلو ښځو باندې تور لګوي. الخ (او یا دې نه پس یې څو ایتونه تر (ان کان من الصادقین) پورې تلاوت کړل.

فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

دې نه پس هلال د رسول کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ګواهي یې ورکړه او نبی علیه السلام وفرمایل

«إِنَّ اللهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟»

چې بېشکه الله تعالی ښه پوهیږي چې په تاسو کې یو دروغژن دی پس تاسو کې څوک دی چې توبه اوباسی

ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا

دېنه پس د هلال ښځه ودریده او لعان یې وکړه (یعنې څلور ځله یې د خپلې پاکدامنۍ ګواهي ورکړه) او کله چې

كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَفُوهَا

پنځمه ګواهي یې ورکوله نو صحابه کرامو منع کړه چې ښه سوچ وکړه چې دې پنځم ځل باندې ګواهي ورکولو سره به

وَقَالُوا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ

ستا سو مینځ کې بیلتون واجب شي. او یا که ته دروغژنه یې نو د آخرت عذاب به درباندې واجب شي

فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ښځې دا واوریدل نو ودریده او روستو شوه او مونږ ته دا ګمان وشو چې دا

أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ:

به خپلې خبرې نه روستو شي لیکن بیا هغې وویل چې زه (دلعان نه بچ کیدو او د خپل خاوند د الزام تصدیق کولو

لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ

سره خپل قوم تول عمر نه رسوا کومه دایې وویل او په پنځم ځل یې ګواهي ورکړه چې کله لعان پوره شو

فَمَضَتْ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَبْصِرُوهَا فَإِنْ

نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو په مینځ کې بیلتون وکړو نبیؐ وفرمایل چې دې ته ګورئ که چیرې د دې

جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ

داسې ماشوم پیدا شو چې سترګې یې تورې ډوډۍ ئې درانه او پنډۍ یې ډکې وي نو دا به د

فَهُوَ لِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ» فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ

شریک بن سحماء وي ځکه چې هغه داسې وو. نو چې کله د دې ښځې ماشوم پیدا شو نو هغه د شریک په شان وو

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ لَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللهِ

نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې که د کتاب الله پورتنی حکم نه وی نو ما به دې ښځې سره

لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْن». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[1]

بله معامله کوله (چې د نورو دپاره به عبرت وه. (روایت کړې دي بخاری)

**توضیح: فلینزلن الله:** دلعان حکم په شعبان ۹هجری کې راغلی وو اود ټولونه مخکې دلعان حکم په هلال بن امیه باندې نافذ شو، دښه مخکې د عویمر عجلانی په روایت کې د (قد انزل فیک) دالفاظو نه معلومیږی چې لعان حکم ددوی باره کې نازل شوی وو، لیکن علماو دا تطبیق کړی دی چې دلعان حکم عام دی نودهر چاباره کې دا ویلی شي چې ستا متعلق دا حکم راغلی دی، یا اصل حقیقت دادی چې حکم خو دعویمر متعلق راغلی وو خو عمل پرې هلال بن امیه د ټولو نه مخکې وکړه یا ممکن ده چې ددواړو متعلق دا حکم نازل شوی وي.

**البینة:** یعني ګواه پیش کړه دا لفظ منصوب دی. (المرقات ۴۶۱/۶)

**وقفوها:** یعنی خلقو هغه د قسم خوړلو نه منع کړه. (المرقات ۴۶۱/۶)

**انها موجبة:** یعني پنځم ځل باندې قسم خوړولو سره دلعان حکم ثابتیږي او د آخرت عذاب به واجب شی. (المرقات ۴۶۱/۶)

**(فتلکات)** کاف مشد د دې د **(توقفت)** په معنی سره دی یعني دا ښځه لږه ایساره شوه. (المرقات ۴۶۱/۶)

**(ولکصت)** یعني روستو شوه او وقفه یې وکړه **(سائر الیوم)** یعني خپل قوم همیشه دپاره نشم رسوا کولی دي جملې سره هغې ښځې دخپل جرم اقرار وکړو او بیا دې غریبې ته پته هم ونه لګیده چې هغې قسم وخوړو او څه یې پټ کړل او څه یې ظاهر کړل. (المرقات ۴۶۱/۶)

## دزناتور په څلورو ګواهانو سره ثابتیږی

﴿۵﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ: لَوْ وَجَدْتُ مَعَ أَهْلِي رَجُلًا

حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې یو صحابی (سعد) وویل چې که چیرې زه خپلې ښځې سره یو پردی سړی بیاموم

لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ؟

نو زه به ورسره لاس نه لګومه؟ نو تر هغې پورې چې څلور ګواهان پیش نه کړم (یعني نه به یې وهم او نه به یې وژنم؟)

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ٨/٤٤٩ رقم الحديث ٤٨٤٨ وأبوداؤد في السنن ٢٢/٦٨٦ رقم الحديث ٢٢٥٤ والترمذي في ٥/٣٠٩ رقم الحديث ٣١٧٩ وابن ماجه في ١/٦٦٨ رقم الحديث ٢٠٦٧

| |
|---|
| قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ» قَالَ: كَلَّا وَالَّذِي |
| رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې آو، سعد عرض وکړو هرګزنه قسم مې دې وي په هغه ذات |
| بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ |
| باندې چې تاسو یې په حق سره رالیږلې یې دې نه مخکې چې زه ځلور ګواهان پیش کړم زه به فوراً په توره |
| قَبْلَ ذَلِكَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ |
| سره د هغه قصه ختمه کړم. رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناستو کسانو ته وفرمایل چې واورئ! څه وایي |
| سَيِّدُكُمْ إِنَّهُ لَغَيُورٌ وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ |
| ستاسو سردار (سعد) په دې کې شک نشته چې دا ډیر غیرت منددی زه د تاسو نه زیات غیرت مند یم |
| وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| او الله تعالی د ټولو نه زیات غیرت مند دی (مسلم) |

**توضیح: اسمعوا الی ما یقول سیدکم:** دلته د سوال پیدا کیږي چې دسعد د خبرې نه دا معلومیږي چې هغه د نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وینا مخالفت وکړو حالانکه هغه دیوې لوی مرتبې صحابی دی؟ ددې جواب دادی چې حضرت سعد د ارشاد نبوی مخالفت ونه کړه بلکې هغوي دخپل طبیعت او پټو جذباتو اظهار وفرمایلو، دا زما د غیرت حال دی چې په دې حالت کې یو سړی خپلې ښځې سره ووینم نو دګواه انتظار کولو نه مخکې به هغه ووژنم، حالانکه د شریعت حکم بل څه دی نو څه وکړم؟په دغه کې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس کې چې کوم کسان ناست وو هغوی ته یې وفرمایل چې واورئ ستاسو سردار څه وایي رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحضرت سعد ددې غیرت ستاینه وکړه، دا ستاسو سردار دی او دسردارانو طبیعت هم داسې وي لیکن د شریعت حکم داسې نه دی بلکې ددې نه جدا دی، رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت سعد دخبرې مرسته ونه فرمایله بلکې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه عذر بیان کړه، مظهر رحمه الله وایي چې حضرت سعد د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم لغوه نه کړه بلکې د حضرت سعد دسوال مقصد داؤ چې دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له طرفه اجازه ملاو شي چې په داسې حالت کې داسې سړی قتل کړی شي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وژلو نه انکار وفرمایلو او ډیر په ښه طریقه یې حضرت پوهه کړو او حضرت سعد پرې خاموشي

---

(1) أخرجه مسلم في ٢/١٣٥ رقم الحديث (١٤٩٨.١٦)

اختیار کړه. (المرقات ۴۶۵/۶)

## هفته ۱۹ ذیقعده ۱۴۱۷هـ دالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک غیرت مند نشته

﴿۶﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ: قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ: لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي

حضرت مغیره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې حضرت سعد داسي ویلي وو که چیرې ما یو پردی سړی د خپلې ښځې سره ولیدلو

لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفِحٍ

نو زه به هغه په توره ووژنمه او د توري په شانه بلکې د توري په تیز طرف به یې ووژنم (یعنې په توري به د هغه خاتمه وکړم)

فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

کله چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې خبرې نه خبر شو (چې سعد داسي وایي) نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو ته وفرمایل

«أَتَعْجَبُونَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ؟ وَاللهِ

چې تاسو ته د سعد په دې غیر معمولي غیرت مندۍ باندې حیرانیتا نه کیږي؟) د الله تعالی په ذات باندې مې دې قسم وي

لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللهِ

چه زه دده نه زیات غیرت مند یم او الله تعالی زما نه زیات غیرت مند دی او الله تعالی دخپل غیرت

حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدَ

په وجه ټول ګناهونه (فواحش) حرام کړي دي که هغه ښکاره ګناه وي یا پټه ګناه وي او عذر د الله تعالی

أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ بَعَثَ الْمُنْذِرِينَ وَالْمُبَشِّرِينَ

نه زیات بل چاته محبوب نه دی، او دې دپاره الله تعالی ویرولو والا او زیری ورکولو والا (یعنې پیغمبران را لیږلي دي،

وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ وَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ وَعَدَ اللهُ الْجَنَّةَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دارنګې تعریف کول د الله تعالی نه زیات بل څوک نشی خوښولی په دې وجه یې د جنت وعده کړې ده.

**توضیح:** غیر مصفح: د دې مطلب دا دی چې د توري په تیز طرف باندې یې ووژنم. د توري غاړه یا شاه او پلنوالی باندې نه ووهم مراد ترینه قتل کول دی. مُصْفِح د میم په ضمه د صاد په سکون او د فا په کسرې سره هم دې چه د ضارب صفت دې او دفاء په فتحې سره دې نودا به د تورو صفت

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۳۹۹ رقم الحديث ۷۴۱۶ ومسلم في ۲/۱۱۳۶ رقم الحديث (۱۴۹۹.۱۷) والدارمي في السنن ۲/۲۰۰ وأحمد في المسند ۴/۲۴۸

جوړېږی بعضو فا مشدد وئیلې ده ټول حال واقع دې. (المرقات ۴۶۶/۶)

**والله اغير مني:** دسړې دداخلي کیفیت تغیر نوم غیرت دی، چې دخپل خاندان متعلق بدې خبرې لیدو سره پیدا کیږی. اوس سوال دادی چې په دې مفهوم سره د غیرت اطلاق په الله څنګه کولی شي داخو ناممکنه ده؟ دې وجې نه علماء لیکلي دي چې د الله تعالی دغیرتمند کیدو مطلب دادی چې الله دبندګانو په ګناه کولو باندې غصه کیږي او خفه کیږي، نو دا لفظ دحیاء او د رحمت دا الفاظو پشان یو لفظ دی، چې دهغې اطلاق دابتدا په اعتبار سره په الله نه کیږي البته دغایې او نهایې او انجام اونتیجې په اعتبار سره کیدی شي. (المرقات ۴۶۶/۶) (العذر) دې لفظ نه دوه مفهومه اخستی کیدی شي: وړومبی دا چې الله تعالی ته دا خبره خوښه ده چې دهر سړې عذر ختم کړي او دچا عذر پاتې نه شي چې د قیامت په ورځ چا سره د دلیل موقع پاتې نه شي، دې وجې نه الله تعالی پیغمبران ځیری ورکوونکي او ویره ورکوونکي رالیږلي دي، ددې لفظ دویم مطلب هغه عام او مشهور مطلب دی چې کله یو کس د الله مخکې دخپل جرم عذر پیش کوي او عاجزانه درخواست کوي معافی غواړي نو الله تعالی هغه دټولو نه زیات قبلوي او معاف یې کړي. (المرقات ۴۶۷/۶)

(المدحة يعني الله تعالى خپل تعريف دټولونه زيات خوښوي ځکه چې هغه د ټولو خوبيانو مالک دی، او ټول دکمال صفات په الله کې دي ارشاد دی چې **الكبرياءُ ردائي والعظمةُ إزاري** همداوجه ده چې الله تعالی خپل تعریف پخپله کړی او نورو ته هم پکار دي چې د الله تعالی تعریف وکړي او د جنت وعده هم هغو کسانو سره ده چې څوک دالله تعالی ډیر تعریف کونکي وي (المرقات ۴۶۷/۶)

| |
|---|
| ﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَغَارُ |
| حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایې چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې الله تعالی غیرت مند دی او |
| وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ الله |
| مومن هم غیرت مند دی (یعنې غیرت په اصل کې د الله تعالی صفت دی چې په مومن کې هم دی) او د الله تعالی دغیرت |
| أَنْ لَا يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ الله» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| تقاضا داده چې مومن دې هغه کار نه کوي کوم چې الله تعالی حرام کړی دی. (بخاری ومسلم) |

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ٩/٣١٩ رقم الحديث ٥٢٢٣ ومسلم في ٤/٢١١٤ رقم الحديث (٢٧٦١.٣٦) والترمذي في السنن ٣/٤٧١ رقم الحديث ١١٦٨ وأحمد في المسند ٢/٣٤٣

## د خيالي شكونو په بنياد باندې تهمت نه لګول

﴿۸﴾ وَعَنْهُ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يو کليوال د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض ئې وکړو

إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي

چه زما د ښځې داسې ماشوم شوی دی چې تور دی (په دې وجه هغه زما پشان نه دی) ما دهغې نه

أَنْكَرْتُهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

انکار کړی دی (يعنې ما وويل چې دا زما ماشوم نه دی) رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا واوريدل نو وې فرمايل

«هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؟» قَالَ: نَعَمْ قَالَ: «فَمَا

چې تا سره اوښان شته؟ هغه عرض وکړو چې آو شته، رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دا کوم

أَلْوَانُهَا؟» قَالَ: حُمْرٌ قَالَ: «هَلْ

رنګ والا دي؟ هغه عرض وکړو چې سور رنګ يې دی رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمائيل چې په

فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ؟» قَالَ: إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا قَالَ:

هغې کې غنم رنګه شته دي؟ هغه وويل آو غنم رنګی پکې شته. رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمائيل

«فَأَنَّى تُرَى ذَلِكَ جَاءَهَا؟» قَالَ: عِرْقٌ

چې ستا څه خيال دی چې دا غنم رنګی اوښ دکوم ځای نه راغی هغه عرض وکړو چې يو رګ به وي چې

نَزَعَهَا. قَالَ: «فَلَعَلَّ

هغې ته به تلی وي (يعنې دهغه په اصل کې به غنم رنګی تير شوی وي چې دهغې پشان به داهم وي) نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

هَذَا عِرْقٌ نَزَعَهُ» وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ

چې دا ماشوم به دې دا سې رګ په وجه تور وي چې ورته به تلی وي. او داسې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه

فِي الِانْتِفَاءِ مِنْهُ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کليوال ته د ماشوم نه دانکار کولو اجازت ورنه کړو.

---

(۱) أخرجه البخاري ۱۳/۲۹۶ رقم الحديث ۷۳۱۴ مسلم ۲/۱۱۳۷ رقم الحديث (۱۵۰۰.۱۸) وأبوداؤد ۶۹۴/۲ رقم الحديث ۲۲۶۰ الترمذي ۳۸۲/۴ رقم الحديث ۲۱۲۸ والنسائي ۶/۱۷۸ رقم الحديث ۳۴۷۸ ابن ماجه ۱/۶۴۵ رقم الحديث ۲۰۰۲ واحمدي المسند ۲/۲۳۲

**توضیح**: غلاماً اسود: دادې کلیوال په ذهن کې دا خبره وه چې زمادا ماشوم تور ولې دی او زه پخپله سپین یم او زما ښځه سپینه ده، دا ماشوم آخر د چا دی په دې وجه هغه شک وکړو حضور اکرم صلی الله علیه وسلم دیر په حکمت او په ساده طریقه داکلیوال دکلیوالۍ په انداز کې پوهه کړو ځکه چې داوښانو په معامله کې دا کلیوال ماهر وو هغه په حقیقت باندې پوهه شو او خاموش شو.

علامه طیبی فرمایي چې په معمولي او کمزورو خبرو باندې دخپل ماشوم نه انکار کول منع دي بلکې دې باره کې مضبوط دلائل او پوره ګواهان ضروري وي، مثلاً ښځې سره یې کوروالی ونه کړو او ماشوم پیدا شو یا دکوروالي نه پس دشپږو میاشتو نه کمه مونده کې ماشوم پیدا شو په دې صورتونو کې انکارکول جائز دي یوائې د خیالي شکونو په بنیاد باندې تور لګول جائز نه دي.(المرقات ۴۶۸/۶، ۴۶۷)

## دولدزنا نسب دزانی نه ثابت نه دی

﴿۹﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ:

حضرت عائشه رضی الله عنها وایي چې عتبه بن ابی وقاص رضی الله عنه خپل ورور سعد بن ابی قاص رضی الله عنه ته وصیت وکړو

أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي فَاقْبِضْهُ إِلَيْكَ فَلَمَّا كَانَ عَامُ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدٌ

چه د زمعه د خادمې هلک زما د نطفې نه دی هغه ترېنه ته واخله د فتح مکې په کال سعد هغه هلک واخستو

فَقَالَ: إِنَّهُ ابْنُ أَخِي وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي فَتَسَاوَقَا

او وې ویل چې دا زما وراره دی او عبد بن زمعه وویل چې دا زما ورور دی، بیا هغوی خپله مسئله

إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ إِلَيَّ فِيهِ

نبی علیه السلام له یوړله او سعد وویل چې دا هلک زما د ورور دی هغه ماته دده باره کې وصیت کړی وو

وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي وَابْنُ وليدة أبي وُلِدَ على فراشه

عبد بن زمعه وویل چې دا هلک زما ورور دی او زما د پلار د خادمې ځوی دی چې زما د پلار په بستره پیدا

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ

شوې دی رسول صلی الله علیه وسلم د دواړو خبرې واوریدې نو وې فرمایل چې عبد بن زمعه ته ددې ماشوم هم حق دارینې

الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ»

ځکه چې ماشوم د صاحب فراش طرف ته منسوب وي او زاني دپاره (د نسب او میراث نه) محرومي وي

| |
|---|
| ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ: «احْتَجِبِي مِنْهُ» |
| (یا دا چې زاني د سنګساري حقدار دی) او بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَام حضرت سوده بنت زمعه ته وفرمایل چې ته ددې هلک نه پرده کوه |
| لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللهَ |
| ځکه چې دعتبه په شان راځي او بیا حضرت سوده ددې هلک مخې له کله هم رانغله. تر دې چې وفات شوه |
| وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: «هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ |
| په یو روایت کې دي چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل عبد بن زمعه! هغه هلک ستا ورور دی دې وجې نه |
| أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِيهِ» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| چې هغه هلک د هغه دپلار په بستره پیدا شوی دی. (بخاری و مسلم) |

**توضیح:** **"ان ابن ولیدة زمعة"** ددې حدیث په مطلب باندې د پوهیدو نه مخکې په دې ځان پوهول پکار دي چې یو سعد بن ابی وقاص دی، دویم عتبه بن ابی وقاص دی چې دواړه ورونه دي، حضرت سعد مسلمان شوی وو او عتبه په کفر کې مړ شو بلکې عتبه هغه بدبخته وو چې په جنګ احد کې یې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غاښونه مبارک شهیدان کړي وو. عتبه د زمعه د خادمې سره زنا کړې وه، زمعه د حضرت سودې رضي الله عنها د پلار نوم وو او د هغه د ځوی نوم عبد وو کوم چې په دې حدیث کې یې ذکر دی. د جاهلیت په دور کې چې به کله یو کس د خادمې سره زنا وکړه نو چې ماشوم به پیدا شو نو هغه ماشوم به د هغه کس اود هغه په اولاد کې به وو، هم ددې اصولو مطابق عتبه خپل ورور حضرت سعد ته وصیت کړی وو چې د زمعه د خادمې نه چې کوم ماشوم دی هغه زما د نطفې نه دی، لهذا هغه په قبضه کې واخله کله چې مکه فتحه شوه نو حضرت سعد هغه هلک واخستلو او وې ویل چې دا زما وراره دی، عبد بن زمعه وویل چې دا زما ورور دی چې دا زما د پلار د خادمې نه پیدا شوی دی، دا مسئله چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورسیده نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوی قانون نافذ کړه او هلک یې زمعه ته حواله کړه، د جاهلیت قانون یې په دغه مبارک فرمان سره مات کړه چې **(الولدُ للفراش وللعاهر الحجر)** یعنې بچی به د هغه چا وي د چا په بستره چې پیدا شوی وي، او د زاني د پاره محرومي ده، یا مطلب دا دی چې د زاني د پاره

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ٥/٣٧١ رقم الحديث ٢٧٤٥ ومسلم في ٢/١٠٨٠ رقم الحديث (١٤٥٧.٣٦) وأبوداؤد في السنن ٢/٧٠٣ رقم الحديث ٢٢٧٣ والترمذي في السنن ٣/٤٦٣ رقم الحديث ١١٥٧ والنسائي في ٦/١٨١ رقم الحديث ٣٤٨٧ وابن ماجه في ١/٦٤٦

سنگساري او کانې دي. بهرحال فيصله داسې وشوه چې په هلک کې د عتبه مشابهت وو په دې وجه رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سودې ته وفرمايل چې ته ددې هلک نه پرده کوه اوهغې د مرګ تر وخته پورې دهغه نه پرده کوله. د دې واقعې نه دا خبره واضح کيږي چې د قرائنو او علاماتو او د مشابهت اعتبار نشته بلکې په فراش او زوجيت باندې دار مدار دی. (المرقات ۴۶۹.۴۷۰/۶)

## په اثبات دنسب کې د قيافه شناس قول معتبر دی که نه؟

﴿۱۰﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ مَسْرُورٌ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې يوه ورځ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ډيرې خوشحالۍ سره زما طرف ته تشريف راوړلو

فَقَالَ: "أَيْ عَائِشَةُ أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ فَلَمَّا رَأَى

او وې فرمايل چې عائشې تا ته معلومه نه ده نن مجزز مدلجي مسجد نبوی ته راغی چه کله يې وليدل

أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُؤُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا

اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره چې څادرې اغوستې وو (اوده وو) او سرې يې پټ وو او خپې يې بنکاره وې

فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نو هغه وويل چې د دوی پښې ديوبل په شان دي (يعنې دا پښې چې ددې دوو سړو دي هغه يو پلار او يو ځوی دی)

**توضيح**: **ان مجزز المدلجي**: مجزز د مکبر په وزن دی، دعربو د يو مشهور قيافه شناس نوم وو دهغه تعلق چونکه قبيلې د مدلج سره وو په دې وجه دې قبيلې ته منسوب دی، په عربو کې په قيافه شناسۍ کې يې د سند حيثيت لرلو او پوره اختيار او معيار وو، حضرت زيد بن ثابت ډير ښائسته وو او دهغه ځوی اسامه بن زيد چې دحضرت ام ايمن نه پيدا شوی وو هغه دخپلې مور په شان غنم رنګی وو، نو منافيقنو دا خبره مشهوره کړې وه چې اسامه دخپل پلار نه نه دی ځکه چې زيد بن ثابت ډير ښائسته وو او ځوی يې تور ولې دی، رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا خبرې واوريدې نو ډيرې خفه کيدو او دې باره کې يې سوچ کولو چې څه چل وشي چې خلق دا خبره قبوله کړي. يوه ورځ مجززمدلجي مسجد نبوی ته راغی، حضرت اسامه او حضرت زيد په يو څادر کې پراته وو او مخونه يې پټ کړې وو مجزز دوی وليدل نو وې ويل چې دا پښې خو دپلار او ځوی کيدی شي په دې سره حضور اکرم صلی الله لعيه وسلم ډير خوشحاله شو، ځکه د دغې پروپيګنډې د ماتولو دپاره د دې سند ضرورت وو، ګڼي اسماني وحي به راغلې وه مګر عامه معاشره کې د قيافه شناسۍ ډېر اعتبار وو. (المرقات ۴۷۳/۶)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲/۵۶ رقم الحديث ۶۷۷۱ ومسلم في ۲/۱۰۸۲ رقم الحديث (۱۴۵۹.۳۸) وأبوداؤد في السنن ۲/۶۹۸ رقم الحديث ۲۲۶۷ والنسائي في ۶/۱۸۴ رقم الحديث ۳۴۹۴ وابن ماجه في ۲/۷۸۷ رقم الحديث ۲۳۴۹ وأحمدفي المسند ۶/۲۲۶

**د فقهاو اختلاف** : د جمهورو په نزد باندې د نسب د ثبوت دپاره د نورو دلائلو نه علاوه قیافه شناسي یو مؤثر دلیل دی، دغو حضراتو د زیر بحث حدیث نه استدلال کړی دی، احناف فرمایي چې قیافه شناسي د ثبوت د نسب دپاره کافي نه ده، ځکه قیافه د هغه علم نوم دی چې په هغې سره د کوم شي د هغه د داخلي نشاناتو نه پته لګیږي، او دا تخمین او اندازه ده د کوم نه چې قطعي او یقیني علم نه حاصلیږي، او د نسب د ثبوت دپاره یقیني علم ضروري دی، دې وجې نه په شریعت کې د یقیني امورو اعتبار دی، لهذا قیافه بې اعتباره ده، باقي جمهورو چې د کوم حدیث نه استدلال کړی دی، په هغې کې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د مخکې نه د وحي په ذریعه معلومه وه چې اسامه د زید ځوی دی، لیکن د منافقانو طعن او پروپیګنډه د قیافه شناس په فیصلې سره ختمه شوه، دې وجې نه پیغمبر علیه السلام د قیافه شناس په خبره باندې خوشحاله شو، دا د ثبوت نسب دپاره دلیل نه دی بلکې د دفع د طعن دپاره دلیل دی، په دې اختلاف باندې دا خبره تفریع ده: چې د دوه کسانو په شریکه یوه وینزه ده او د دواړو د جماع په نتیجه کې د هغې بچی پیدا شو، نو جمهور وایي چې قائف کومه فیصله وکړه د هغې مطابق به بچی د هغه کس وي، احناف وایي چې په دغې صورت کې به بچی د دواړو په مینځ کې مشترک مملوک وي، او وینزه به د دواړو ام ولده وي، اګر چې په حقیقت کې به دا بچی په دواړو کې د یو کس وي، لیکن د قائف د فیصلې اعتبار نشته دی، ځکه په دې د شریعت مدر نه دی قائم، احنافو د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغې فیصلې سره دلیل نیولی دی چې شریح حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د خط په ذریعه باندې د دې مسئلې تپوس وکړه، نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې دواړه آقاګان په دې ماشوم کې شریک دي، دوی به د ماشوم وارثان وي او ماشوم به د دوی وارث وي، د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دارنګه فیصله وه، ګویا چې د صحابو اجماع راغله، ملا علي قاري نور روایات هم نقل کړي دي.(المرقات ۴/۴۷۴، ۴۷۳)

## د خپل پلار نه انکار کولووالا دوزخي دی

﴿۱۱﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ وَأَبِي بَكْرَةَ قَالَا:

حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه د دې حدیث راویان دي چې

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ ادَّعَى

رسو کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه کوم کس چې خپل ځان د پلار په ځای د دویم کس سره ترې او هغه

إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حرام» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

په دې پوهه دی چې دا زما پلار نه دی نو په هغه جنت حرام دی. (بخاری و مسلم)

**توضیح:** من ادعی الی غیر ابیه: یعنې خپل نسب یې پټ کړه او د خپل پلار په ځای بل کس ته پلار وویله نو په هغه جنت حرام دی، د دې اوله وجه داده چې کوم کس د خپل پلار په ځای بل کس ته ځان منسوب کوي او حرام عمل په ځان باندې حلالوي نو په حقیقت کې یو حرام کار ته حلال وایي او دا کفر دی، نو د کفر په وجه باندې په ده جنت حرام دی، دویم جواب دادی چې د خول اولې باندې په ده جنت حرام دی، دریم جواب دادی چې ددې ګناه په وجه په ده جنت حرام شو. لیکن قیامت کې به فیصله په معجون مرکب باندې کیږي، څلورم جواب دادی: چې دا کلمه یې تغلیظًا، تشدیدًا، او تهدیدًا وفرمایله، راتلونکي روایت نمبر ۱۲ کې (فقد کفر) الفاظ اغلي دي، هلته که د کفر نه مراد کفر حقیقي شي نو د دې ځای جوابونو نه دویم پریږده او باقي جوابونه د هغه حدیث دپاره هم دي، او که هلته د کفر نه مراد کفران نعمت واخستلی شي نو بیا هیڅ کوم اعتراض نه رائي. (المرقات ۴۷۷/۴)

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه تاسو (یو غیر کس سره د خپل نسب

«لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ فَمَنْ فَمَنْ رَغِبَ

منسوبولو سره) د خپل پلار نه مخ مه اړوئ کوم کس چې د خپل پلار نه مخ واړولو (یعنې هغه د خپل نسب نه

عَنْ أَبِيهِ فقد كفر» (متفق عليه)[2]

انکار وکړو) نو هغه په حقیقت کې کفران نعمت وکړه. (بخاری و مسلم)

وَذُكِرَ حَدِيثُ عَائِشَةَ «مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ من الله» فِي «بَاب صَلَاة الخسوف»

## د یو سخت زړي پلار شقاوت

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ:

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی هغوی دلعان ایت نازلیدو په وخت د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا واوریدل

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲/٥٤ رقم الحديث ٦٧٦٦ ومسلم في ۱/۸۰ رقم الحديث (٦٣.١١٥٤) وابن ماجه في السنن ۲/۸۷۰ رقم الحديث ۲٦١٠ والدرامي في ۲/٤٤٢ رقم الحديث ۲۸٦۰ وأحمد في المسند ٥/٣٦

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۱۲/٤٥ رقم الحديث ٦٧٦٨ ومسلم في ۱/۸۰ رقم الحديث (٦٢.١٣) وأحمد في المسند ۲/٥٢٦ .

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ فَلَيْسَتْ مِنَ اللهِ

چه کومه یوه ښځه هغه څوک په یو قوم کې داخل کړي چې هغه دهغې نه ندی نو د الله په نزد دهغه

فِي شَيْءٍ وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللهُ جَنَّتَهُ وَأَيُّمَا رَجُلٍ

هیڅ درجه نشته او الله به یې هیڅ کله دخپلو نیکو بندګانو سره جنت ته داخل نه کړي او کوم کس چې

جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ

دخپل ماشوم نه انکار وکړي او دهغه طرف ته ګوري او هغه پوهیږی چې دا زما ماشوم دی) نو

احْتَجَبَ اللهُ مِنْهُ وفَضَحَهُ

الله تعالی به دهغه نه پرده کوي یعني د الله تعالی دیدار به یې نه نصیب کیږي او الله تعالی به ئې رسوا کړي

عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ فِي الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ والدارمي[1]

په ټولو خلقو کې (یعني په میدان حشر کې چې ټول خلق راجمع شي نو دهغوی په مینځ کې به یې ذلیل کړي.

**توضیح**: **ادخلت**: یعنی زنا چې وکړي نو د بل قوم ماشوم خپل خاوند او د هغه قوم ته منسوب کوي. دښځې دپاره حرام دی او جنت هم ورله حرام دی او داسې که یوسړی دخپل ماشوم نه انکار کوي نو په هغه باندې هم جنت حرام دی، خلاصه دا شوه چې ښځې له نه دې پکار چې زنا وکړي او هغه حرام زاده خپل خاوند ته منسوب کړي اونه دې دا خاوند د خپل حقیقي بچي نه انکار کوي (**وهو ينظر اليه**) یعنې ماشوم دحسرت په نظر پلار ته بق بق ګوري او هغه سخت زړی ترې انکار کوي، بعضو شارحینو د وهو ينظر مفهوم دا بیان کړی دی چې پلار خپل ځوی ته ګوري او پیژني یې هم چې دا زما ځوی دی اویا ترې هم انکار کوي په دې صورت کې د هو ضمیر پلار طرف ته راجع کوي. (المرقات ۴۷۸/۴)

## بدکارې ښځې ته طلاق ورکول اولی دی

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو کس حاضر شو

فَقَالَ: إِنَّ لِي امْرَأَةً لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ

عرض یې وکړو چه زما ښځې له څوک ورله لاس وروړی (یعني کوم کس چې ورسره د بدکاری ارادہ وکړي نو هغه انکار نه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۹۵ رقم الحديث ۲۲۶۳ والنسائي في ۶/۱۷۹ رقم الحديث ۳۴۸۱ وابن ماجه ۲/۹۱۶ رقم الحديث ۲۷۴۳ والدارمي في ۲/۲۰۴ رقم الحديث ۲۲۳۸

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «طَلِّقْهَا» قَالَ:

کوي)نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې هغې له طلاق ورکړه، هغه عرض وکړو چه دا ممکنه نه ده

إِنِّي أُحِبُّهَا قَالَ: «فَأَمْسِكْهَا

ځکه چې زما ورسره (ډيره) مينه ده نبی عليه السلام ورته وفرمايل چې بيايې نګرانی کوه چې په

إِذًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ النَّسَائِيُّ: رَفَعَهُ أَحَدُ الرُّوَاةِ

بدکاری اخته نه شي.(ابو داؤد، نسائی،) او نسائی دا هم ويلي دي چې ددې روايت په راويانو

إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَحَدُهُمْ لَمْ يرفعهُ

کې يو راوي حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وصل کړی دی او يو راوي دا حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته نه دی

قَالَ: وَهَذَا الحَدِيث لَيْسَ بِثَابِت.[1]

وصل کړی. نسائی دا هم وايي چې دا حديث ثابت نه دی.

**توضيح**: **لاتردیدلامس**: يعنې دچا لاس لګول نه منع کوي او نه يې دفع کوي،ددې حديث په مطلب او مقصد بيانولو کې دشارحينو مختلف خيالات دي،ابن الاعرابی (رحمه الله) فرمايې چې (**لاترد يدلامس**) سره د دې ښځې فسق او فجور طرف ته يې اشاره کړې ده. علامه خطابی (رحمه الله) هم داسې مطلب بيان کړی دی؛ امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايې چې ددې جملې مطلب دادی چې دا ښځه بې وقوفه ده چې خپل مال هر چا ته حواله کوي اوځوک د خپل مال نه نه منع کوي،علامه تورپشی (رحمه الله) هم داسې توجيه کړې ده، ملا علی قاری فرمايې چې دا معنی اخستل د دوه وجونه ډېره اولی ده: اوله وجه داده چې که چيرې دې نه زنا مراد واخلې نو دا خو قذف دی نو حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ددې تور ضرور ثبوت غوښتلو او که نه نو په درو به يې وهلو. دويمه وجه دا چې که دا ښځه بدکاره وی او خبره دبدکاری وی نو حضور اکرم به ددې ښځه په نکاح کې د ساتلو اجازت نه ورکولو بلکې دجدائي حکم به يې فرمايلو، د قاضي عياض رحمه الله داخيال دی چې ښځه په دې غلط کار کې اخته ده او فاجره ښځه نکاح کې ساتل حرام نه دي، خاص طور باندې چې يو سړی دښځې په مينه کې اخته وي، نو که داسې ښځې له د طلاق ورکولو حکم ورکوي نو ممکن ده چې هغه ددې نه هم په زياته ګناه کې اخته شي، د مذکوره سړې دپاره يې د ډيرې مجبوری په وجه

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۵٤۱ رقم الحديث ۲۰٤۹ والنسائي في ٦/١٦٩ رقم الحديث ۳٤٦٤

اجازت ورکړه او په هغه باندې دا واجب کړه چې ددې ښځې د تهذیب او تادیب پوره خیال دې ساتي.(فامسکها اذا) یعنې داسې ښځه پریخودل پکار دي او که په نکاح کې یې ساتي نو هغه به ددې مکروه او ناخوښه کار نه بچ ساتي.یاد ساتئ چې دا حدیث ضعیف دی یا ثابت هم نه دی، او دا یوه جزئي پېښه ده معلومه نه ده چې دا څوک وو دهغه ایماني کیفیت څه وو او دهغه خاندانې غیرت څه وو او خصوصی حالت یې څه وو هغه وخت کې دمنافیقینو زمانه وه .په بذل مجهود کې یې لیکلې دي چې ماته ددې سړې باره کې معلومه نشوه. په اصابه کې یې لیکلې دي چې دهغه سړې نوم هشام وو او حضور اکرم یا د قریشو غلام ووؤ علامه ابن کثیر لیکي چې هغه کس ته دخپلې ښځې باره کې پته نه وه البته د قرائنو په بنیاد باندې یې دا خبره کوله چې صرف وهم او ګمان وو ، دویم طرف ته د هغه مینه یقني وه په دې وجه حضور اکرم په نکاح کې د ساتلو اجازت ورکړو ، ابن جوزي دا روایت خالص موضوع ګرځولی دی، لیکن علامه سیوطی دا خبره رد کړې ده،ابن حجر دا حدیث صحیح ګرځولی دی. په دې حدیث باندې دا اعتراض دی چې په احادیثو کې په دیوث دپاره سخته زورنه راغلې ده، او دلته د دیوث تعریف په دې کس صادقیږي؟ ددې جواب دادی چې وعیدونه د هغه دیوث دپاره دي دي کوم چې خپله ښځه په بدکاری باندې وینې او خاموش پاتې کیږي، او دلته دا سړی خاموش نه شو بلکې په ښکاره یې وینا وکړه او هغه هم صرف د شک او اوهامو او دقرائن بعید و په بنیاد باندې، دلته د د دیوث تعریف نه صادقیږي.(المرقات ۴/۴۸۰،۴۷۹)

## مسئلة الاستلحاق

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې

قَضَى أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيهِ الَّذِي

حکم ورکولو فیصله وکړه چې د کوم هلک نسب دهغه د پلار د مرګ نه پس چې کوم طرف ته یې نسبت کړی وو ملاو کړو

يُدْعَى لَهُ ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ فَقَضَى

او دهغه دعوی دهغه د پلار وارثانو وکړه نو دهغه باره کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم وکړو چې هغه

أَنَّ كُلَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ

هلک چې ورسره یې نسب ملاو کړی دی (چې د داسې خادمې نه وي چې د صحبت په وخت کې د هغه

يملكها يَوْم أَصَابَهَا فقد لحق بِمن استلحقه

دپلار په ملکیت کې وه نو هغه کس به ورسره په نسب کې شامل شي چا چې شامل کړی دی

وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيرَاثِ شَيْءٌ

او کوم مال چې ده نه مخکې تقسیم شوی وي په هغې کې به يې حصه نه وي

وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيرَاثٍ لَمْ يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيبُهُ وَلَا يَلْحَقُ إِذَا كَانَ

او کوم چې نه وي تقسیم شوی نو په هغې کې به ورته حصه ملاویږی. او که هغه هلک داسې وو چې

أَبُوهُ الَّذِي يُدْعَى لَهُ أَنْكَرَهُ

نسبتيي کوم پلار طرف ته کیږي چې کوم یو انکار کړې وو نو هغه هلک بد هغه د مرګ نه پس په وارثانو کې نه وي او د هغې پلار وارث به نه وي،

فَإِنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ لم يَمْلِكْهَا

او دا رنګه چې د غه هلک د یوې داسې خادمې نه پیدا شوی وو چې د صحبت په وړځ د پلار ملکیت نه وه

أَو من حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يُلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ

یا یو داسې آزادې ښځې نه وو چې هغې سره د هغه پلار زنا کړې وه نو هغه هلک بد پلار په وارثانو کې نه وي او نه ورته مال ملاویږی،

وَإِنْ كَانَ الَّذِي يُدْعَى لَهُ هُوَ الَّذِي ادَّعَاهُ

اګر چې پخپله هغه سړې (یعنی پلار) طرف ته چې د هغه هلک نسبت شوی دی دعوی کړې وه [1]

فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد. [2]

لهذا هغه هلک حرامي دی که د خادمې نه وي او که د آزادې ښځې نه پیدا شوی وي. (ابو داؤد)

**توضیح:** ان کل مستلحق: د استلحاق معنی ده ملاوول، یا شامل کول، علامه خطابی (رحمه الله) فرمایي چې په دې حدیث کې د هغه احکامو بیان دی چې ابتداء د اسلام کې حضور اکرم صلی الله

---

(۱) (دا جمله د وړومبي حکم پشان باندې ده چې که هلک د زنا نه پیدا شوی وي نو هغه د هغه د پلار په وارثانو کې شاملول جائز نه دي، ځکه چې که هغه زناکار پخپله زندګۍ کې هغه سړه د نسب دعوي هم وکړي چې دا زما ځوی دی نو بیا هم د هغه هلک سړه نسب نه ملاویږي)

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦۹٦ رقم الحديث ۲۲٦٥ وابن ماجه في ۲/۹۱۷ رقم الحديث ۲۷٤٦ والدرامي في ۲/٤۸۳ رقم الحديث ۳۱۱۲ وأحمد في المسند ۲/۲۱۹

علیه وسلم ته به مخې ته راتلل او پیغمبر علیه السلام به دهغې باره کې فیصله کوله. دعلامه خطابی وینا ده چې دجاهلیت په زمانه به بدکار خلق او بدکاري خادمې ګرځیدې راګرځیدې او ددې بدکارۍ په وجه به چې کوم ماشوم پیدا شو نو زناکار به دعوی کوله چې دا ماشوم زما دی او مالک یې راکړئ او مالک به هم دعوی کوله چې دا ماشوم زما دی ځکه چې زما د خادمې نه پیدا شوی دی ځنګه چې د زمعه د خادمې قصه مخکې حدیث کې تیره شوه، د داسې تنازع د ختمولو باره کې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ضابطه مقرر کړه، د هغې ضابطې وضاحت په دې حدیث کې دی. هغه یې په مثال سره داسې فهم کې راوسته: مثلاً زید یو کس دی هغه مړ شو د هغه د مرګ نه پس د هغه وارثانو دعوی وکړه چې فلانکی خادمې فلانکی بچی د زید دی، چې مونږ سره په نسب او په میراث کې شریک دی، لهذا دا مونږ له راکړئ،اسلام په یو څو شرائطو باندې د هغه وارثانو دا دعوی منلې ده. البته کومو وارثانو چې په دې دعوی کې حصه نه ده اخستې نو دهغوی سره په نسب او په میراث کې شریک نه دی،داستلحاق په صحت کې چې په دې حدیث کې کوم شرائطو طرف ته اشاره شوې ده هغه مثبت او منفي شرطونه لاندې دي:

۱.وړومبی شرط دادی چې دا خادمه د زید په ژوند کې د هغه په ملکیت کې راغلې وې او که د آزادې حرې ښځې باره کې دا دعوی وې نو هغه به د زید په نکاح کې وې، ددې شرط منفی اړخ دادی که چیرې دا خادمه د زید په ملکیت کې نه وې راغلې او یا یې په نکاح کې نه وې راغلې نو په دې صورت کې دا هلک ولد زنا دی نه دهغه استلحاق صحیح دی او نه یې په وارثت کې شاملولی شي بلکې که زید په خپل ژوند کې هم دا دعوی وکړي نو هم تیک نه ده. ځکه چې دا هلک ولد زنا دی.

۲.داستلحاق د صحت دپاره دویم شرط دادی مثلاً چې زید په خپله زندګی کې هم ددې هلک اقرار او اعتراف وکړي او اعلان یې هم کړی وي چې دا ماشوم په جائزه طریقه زما دی، او ددې شرط منفي صورت دادی چې که زید په خپل ژوند کې ددې ماشوم نه انکار وکړه چې دا زما ماشوم نه دی نو د زید د مرګ نه پس دا ماشوم د هغه په نسب او وارثت کې شریک نه دی.

۳.دریم شرط دادی چې کوم مال د وارثانو په مینځ کې تقسیم شوی دی په هغې کې ددې ماشوم حصه نشته او کوم مال چې اوسه پورې تقسیم شوی نه دی او راتلونکي وخت کې به تقسیمیږي په هغې کې به دا ماشوم برابر شریک وي، ددې وضاحتونو نه پس به ان شا الله ددې حدیث په ټولو اړخونو باندې پوهیدل اسان شي په دې وجه دې حدیث کې دبعضو جملو ترکیبي وضاحت هم ضروري دی چې مفهوم یې نور هم واضح شي، او په عبارت کې جوړ هم پیدا شي،په دې حدیث کې (قضی ان کل مستلحق) کې د (ان) اسم (کل مستلحق) دی او ددېنه وروستنی عبارت د (مستلحق) صفت دی او د (ادعاه) جمله د (ان) خبر دی او دې نه پس (فقضی ان من کان) (اعاده بعد عهد) دپاره دی یعنی د قضی دلرېوالي د وجې نه یې دوباره ذکر کړو ځکه چې په مینځ کې یې

ډیري خبرې راغلې په دې وجه یې په دې فاء تفصیلیه داخل کړی شوه. (المرقات ۴/۴۸۱، ۴۸۰)

## د غیرت صورتونه

﴿۱۶﴾ وَعَن جَابِرِ بنِ عتيكٍ أَنَّ نَبِيَّ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت جابر بن عتیک وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل چې (دخپلو ښځیانو او خادمو باره کې)

«مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ الله وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ الله فَأَمَّا الَّتِي يُحِبُّهَا الله

بعضې غیرت الله تعالی ته خوښ دی او بعضې غیرت ناخوښه دی، چې کوم غیرت الله تعالی ته خوښ دی

فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيبَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُهَا الله

هغه د شک او شبې په ځای پیدا کیدو والا غیرت دی او چې کوم غیرت یې ناخوښه دی چې کوم

فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ

غیرت د شک او شبې نه بغیر پیدا کیږي او دارنګه بغض او تکبر الله تعالی ته خوښ وي او بعضې

مَا يُبْغِضُ الله وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ الله فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِي يُحِبُّ الله

ناخوښه وي چې کوم تکبر الله تعالی خوښ وي او هغه تکبر هم الله تعالی ته خوښ دی کوم چې

فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ

مال دلګولو په باره کې وي د الله تعالی په لاره کې (یعنې صدقه او خیرات په خوشالئ ورکوي)

وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُ الله فَاخْتِيَالُهُ فِي الْفَخْرِ» وَفِي رِوَايَةٍ:

او کوم تکبر چې الله تعالی ته ناخوښ دی (په خپل نسب باندې فخر او غرور دی. بل روایت کې دې

«فِي الْبَغْيِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

چې کوم تکبر الله ته ناخوښ دی هغه د ظلم تکبر دی. (احمد. ابوداؤد، نسائی)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٣/١١٤ رقم الحديث ٢٦٥٩ والنسائي في ٥/٧٨ رقم الحديث ٢٥٥٨ والدارمي في ٢/٢٠٠ رقم الحديث ٢٢٢٦ وأحمد في المسند ٥/٤٤٥

## الفصل الثالث

﴿۱۷﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او حضرت شعیب د خپل نیکه نه روایت کړی دی چې

قَالَ: قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فُلَانًا ابْنِي

چې یو سړی (مجلس نبوي) کې ودریده او عرض یې وکړه چې یا رسول الله! فلانکی هلک زما بچی دی

عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ما د جاهلیت په زمانه کې دهغه د مور سره زنا کړې وه. رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې د

«لَا دِعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ

جاهلیت په زمانه کې چې کومې خبرې تیرې شوې دي د اسلام په زمانه کې دهغې دعوی نشي کولی

الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

ماشوم د صاحب فراش دی او زنا کار دپاره به کانې (یعنی محرومي ده یا سنګساري ده) (ابوداؤد

## هغه څلور ښځې چا سره چې لعان نه کیږي

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

"أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ:

چه څلور قسمه ښځې دي چې دهغوی (او دهغوی د خاوند انو) په مینځ کې لعان نه کیږي. یوه هغه

النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْيَهُودِيَّةُ

نصرانیه (یعنی عیسایۍ ښځه) چې دیو مسلمان په نکاح کې وي او دویمه یهودیه (یعنی یهودۍ ښځه)

تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوكِ

چې دیو مسلمان په نکاح کې وي، او دریمه هغه آزاده ښځه چې دیو غلام په نکاح کې وي، او

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۷۰۶ رقم الحديث ۲۲۷٤

وَالْمَمْلُوكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[1]

څلور مه هغه خادمه چې ديو آزاد په نکاح کې وي. (ابن ماجه)

**توضیح:** لاملاعنة يعنې څلور قسمه ښځې دي که چيرې دوی سره دلعان مسئله راشي نو دهغو ښځو او دهغوی دخاوندانو په مينځ کې لعان نه کيږي مثلاً يوه يهودی ښځه ده يا عيسايۍ ښځه ده چې ديو مسلمان په نکاح کې دي او مسلمان خاوند پرې دزنا تور ولګولو او هغې تردید وکړو نود هغوی په مينځ کې به لعان نه کيږي، او هم داسې يوه آزاده ښځه چې ديو غلام په نکاح کې ده يا يوه وينزه ديو آزاد خاوند په نکاح کې ده نو د دوی په مينځ کې هم لعان نه کيږي، ددې وجه داده چې لعان يو قسم ګواهي ده او تعريف ئې داسې دی (شهادت مؤکدات بالايمان) او دا څلور قسمه خلق د شهادت اهل نه دي ديهودی، عيسايۍ، کومې چې کافرې دي، او دوه غلامان دي، او د کافر او دغلام دواړو ګواهي صحيح نه ده، لهذا د دوی په مينځ کې لعان نشته، د دې حديث نه د احنافو د هغه موقف تائيد کيږي چې لعان دشهادت د قسمونو نه دی. (المرقات ۴۸۳/۶)

## دلعان په ځای د ګناه اعتراف کول بهتر دي

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يو ځل کله چې د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم باندې دوه لعان کونکو

حِينَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَتَلَاعَنَا أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ

(يعنی ښځې او خاوند په يو بل لعان کولو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام يو کس ته حکم ورکړو چه لاس کيږده په پنځم ځل باندې

عَلَى فِيهِ وَقَالَ: «إِنَّهَا مُوجِبَةٌ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ (صَحِيح)[2]

لعان کولو په وخت د هغوی په خوله باندې او وې فرمايل چې پنځم ځل ګواهي واجب کيږي. (نسائی)

**توضیح** :ان يضع:مطلب داشو چې حضوراکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متلاعنينو ته دلعان حکم ورکړو خو هلته موجود يو کس ته يې حکم وکړه چې کله په پنځم ځل ګواهي ورکوي نو دهغه په خوله باندې لاس کيږده چې لعان مکمل نه شي او دپنځم ځل ګواهی نه به منع شي او هغه کس به ربنتيا ووايي او دته به ددنيا سزا ملاو شي او د آخرت د سزا نه به بچ شي، دنبی کريم به دا کوشش وو چې ښځه او خاوند د

---

(1) أخرجه ابن ماجه في ۱/۶۷۰ رقم الحديث ۲۰۷۶

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۶۸۸ رقم الحديث ۲۲۵۵ والنسائي في ۶/۱۷۵ رقم الحديث ۳۴۷۲

لعان نه بچ کړي او ربښتیا ووایي او ددنیا سزا ورته ملاو شي او دآخرت سزا او عذاب نه بچ شي.( المرقات ۴۸۴/۶)

## شیطان ښځه او خاوند په خپل مینځ کې بدګمانه کوي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باره کې نقل کړی شوې دي چې یو ځل د شعبان په پنځلسمه شپه نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا لَيْلًا قَالَتْ:

دهغې د خوانه پاسیدو او لاړو نو حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي په دې باندې ماله ډیر غیرت راغی بیا چې

فَغِرْتُ عَلَيْهِ فَجَاءَ فَرَأَى مَا أَصْنَعُ

کله نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واپس تشریف راړولو او چې زۀ په کوم حالت کې مبتلا وم هغې ته یې چې وکتل نو

فَقَالَ: «مَالَكِ يَا عَائِشَةُ أَغِرْتِ؟» فَقُلْتُ:

وې فرمایل چې عائشې په تا څه شوې دي؟ آیا ته ما باندې غیرت کوې؟ ما عرض وکړو چې

وَمَالِي؟ لَا يَغَارُ مِثْلِي عَلَى مِثْلِكَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

زما په رنګې ښځه به ستاسو په شان سړي باندې غیرت ولې نه کوي؟ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل

«لَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ» قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ أَمَعِي شَيْطَانٌ؟

چې په اصل کې ستا شیطان ستا خوا له راغلی وو ما عرض وکړو چې یا رسول الله! زما سره شیطان شته؟

قَالَ: «نَعَمْ» قُلْتُ: وَمَعَكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ:

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل آو. ما عرض وکړو ای د الله رسوله! ستاسو سره هم شته؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائیل

«نعم وَلَكِن أَعَانَنِي عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ». رَوَاهُ مُسلم[1]

آو، لیکن الله زه په هغې باندې غالب کړی یم او زه یې دهغه د وسوسو نه محفوظ کړی یم (مسلم)

**توضیح: مالک اغرت:** یعنې په تا څه شوې دي په څه غیرت کې اخته شوې یې؟ په پنځلسم د شعبان په مدینه منوره کې دا واقعه شوې وه چې کله دحضرت عائشې نمبر وو او رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغی کره وو نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې په څه حصه کې جنة البقیع ته

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۶۸ رقم الحديث (۲۸۱۵.۷۰) وأحمد في المسند ۶/۱۱۵

شریف یوړو چې د خپلو ملګرو د پاره د مغفرت دعاء وکړي. حضرت عائشې ته خیال راغی چې حضور ﷺ د دې په نمبر کې بلې ام المؤمنین کره تلی دی، دې دپاره ورپسې روستو روستو لمله بیا چې کله ورته معلومه شوه چې قبرستان ته یې تشریف وړی وو نو زر واپس شوه، او په خپل شک باندې پښیمانه شوه او رنګ ئې بدل شو، حضور تپوس وکړو. **(مالک اغرت)** حضرت عائشې چه کوم جواب ورکړی وو هغه د اعلی مینې یوه نمونه وه، او وې فرمایل چې زما په رنګې ښځه به ستاسو په شان خاوند باندې ولې غیرت نه کوي؟ حضور اکرم ﷺ وفرمایل ذاته شیطان په وسوسه کې اچولې وې. (المرقات ۴۸۴/۶)

**(امعي شیطان)** دا سوال د حضرت عائشې د ډیرې پاکیزګۍ او د ډیرې تقوی او دالله تعالی نه په ویرې باندې دلیل دی ځکه چې د هغې په خیال کې هم نه وه چې شیطان هم یو آفت دی او هغه دوسوسو اچولو دپاره راتلی شي. (المرقات ۴۸۵/۶)

**حتی اسلم:** اسلم د باب افعال نه د ماضي صیغه هم ویلی شوې ده، معنی یې داشوه چې شیطان زما اطاعت کړی دی او ما په وسوسو کې نشي اچولی، او دا صیغه د **(اسلم)** د واحد متکلم هم ده او معنی یې داشوه چې زه د هغه نه محفوظ یم تفصیل په اولني جلد کې تیر شوی دی. (المرقات ۴۸۵/۶)



# باب العدة

## د عدت اوواويلا کولو بيان

قال الله تعالى (إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ) (سورة طلاق:۱)

و قال تعالى (أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ) (سورة طلاق:۶)

وقال تعالى (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا) (سورة بقرة:۲۳۴)

و قال تعالى (وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ) (سورة طلاق:۴)

و قال تعالى (وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ـــ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ). (سورة طلاق: ۴)

عدة د باب نصر ينصر مصدر دی او په لغت کې شمیرې ته ویلی شي،او ښځه هم دخپل د خاوند د مرګ نه وروسته خپلې د عدت ورځې شماري او په اصطلاح کې د ښځې د خاوند د فراق نه پس دیو خاص مودې پورې نکاح او دمنافي د عدت ځیزونو نه ځان ساتلو ته عدت ویلی شي.دافرقت یاخود طلاق په وجه کیږي اویادخاوند دوفات په وجه،دعدت دتیرلویو څوطریقې دي:اول په دریې حیضونو سره عدت تیرول دي. دویم وضع دحمل سره چې عدت متعلق وي په دې شرط چې ښځه حامله وي. دریم عدت بالاشهردی چې ښځه ورځه وی یادماهواری راتلویادبودا والي په وجه مایوسه وی نو عدت به په دریو میاشتو سره تیروي، اوکه دښځې خاوند مرشوې وي نوبیابه څلورمیاشتې او لس ورځې د عدت تیروي دقرآني ایاتونو او دراتلونکو احادیثو په تفصیلاتو کې په ښځې باندې عدت تیرول لازم دي په ټولو مسلمانانو ښځو باندې لازم دي چې دعدت ورځې ضرور تیروي او دالله تعالی ددې حکم نه دې لاپرواهي نه کوي، په علماو باندې لازم دي چې په خپلو وعظونو کې د داسې مسئلو باره کې هم ضرور بیان کوي، او فقهاء احنافو چې داحادیثو په رڼا کې کوم دفعات مقرر کړي دي اوهغه دې مسلمانانو ته په ښکاره بیانوي چې دا مړه شوې سنت رژوندې شي.وینږې له که خاوند طلاق ورکړو نو دهغې عدت دوه حیضه دی او که حیضه یې نه رائی نو بیایې دوه نیمې میاشتې عدت دی او که خاوندیې مړشي نو بیایې دوه میاشتې او پنځه ورځې عدت دی.

# په عدت کې د نفقې او د اوسيدو مسئله

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ: أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ

ابو سلمه د فاطمه بنت قيس نه نقل کوي چې ابو عمرو بن حفص فاطمه بنت قيس له (چې دهغه ښځه وه)

طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ

دري طلاقه ورکړل او هغه په خپله موجود نه وو (يعني عمرو چيرته بل ځای کې وو او د چا په ذريعه يې ورته

فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ الشَّعِيرَ

وويل چې ما تا له طلاق درکړه) بيا دابو عمرو وکيل فاطمې له (د نفقې په شکل) څه ځيزونه ورولېږل.

فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ: وَاللهِ

د فاطمه په خيال د هغه ځيزونو مقدار کم وو نو هغه په هغې خفه شوه) هغه کس ورته وويل چې په الله قسم!

مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ

ستا په مونږه باندې هيڅ حق نشته دی (ځکه چې تا ته دري طلاق ملاو شوي دي او د دي د خرچې هيڅ حکم نشته)

فَجَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فاطمې چې دا واوريدل نو د رسول کريم ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او نبي ﷺ ته يې

فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: «لَيْسَ لَكِ

ټوله واقعه بيان کړه رسول کريم ﷺ ورته وويل چې ستا په ابو عمرو باندې نفقه واجب نه ده

نَفَقَةٌ» فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ

بيا فاطمې ته رسول کريم ﷺ حکم ورکړو چې ته ام شريک کره خپل عدت پوره کړه بيا

ثُمَّ قَالَ: «تِلْكِ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي

بيا حضور ﷺ وفرمايل چې ام شريک کره زما صحابه کرام او دهغې خپل خپلوان ځي راځي

اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى

په دې وجه هغې کره ستا کيناستل بهتر نه دي ته ام مکتوم کره خپل دعدت ورځې تيرې کړه ځکه چې هغه يو روند سړی دی

تَضَعِينَ ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي».

هلته ته خپلې کپړې اينبودی شې او چې کله ته حلاله شې (يعني ستا دعدت ورځې پوره شي) نو ماته به اطلاع

قَالَتْ: فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ

راکړئ (چه زه ستاد ویمې نکاح غم وکړم) فاطمه وایې چې کله زه حلاله شوم نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته مې عرض وکړو

أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي

چې معاویه ابن ابی سفیان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابو جهم دنکاح پیغام رلیږلی دی (ستاسو څه رایه ده؟)

فَقَالَ: «أَمَّا أَبُو الْجَهْمِ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې د ابو جهم خبره خو داده چې هغه خپله همسا دخپلې اوږې نه نه لري کوي

وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ

او معاویه داسې سړی دی چې هغه سره مال او اسباب نشته (لهذا زما په رایه کې خو مناسب داده چې ته

انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ» فَكَرِهْتُهُ

اسامه بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره نکاح وکړه. او ما اسامه بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره نکاح وکړه، ما د هغه سره نکاح کول ښه ونه ګڼله،

ثُمَّ قَالَ: «انْكِحِي أُسَامَةَ» فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللهُ

بیایې وفرمایل چې د اسامه بن زید سره نکاح وکړه، نو ما د هغه سره نکاح وکړه او الله تعالی په دې نکاح کې

فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ

ډیر خیر او برکت واچولو چه زمونږ ملګرتیا دومره ښه وه او زمونږ یو بل سره دومره محبت او مینه پیدا شوه

وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهَا: «فَأَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَرَجُلٌ ضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

او په یو روایت کې د فاطمې الفاظ دا دي چې ابو جهم داسې سړی دی چې ښځې ډیرې وهي (مسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَأَتَتِ

او د مسلم په یو بل روایت کې دا هم دي چې فاطمې له خپل خاوند درې طلاقه ورکړې وو کله چې راغله

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لَا نَفَقَةَ لَكِ

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چه ستا خرچه ستا په خاوند باندې نه ده

إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلا» (صَحِيح)[1]

او که ته حامله وې نو بیا ستا خرچه په هغه باندې واجب وه.

**توضیح**: **طلقها البتة**: البته نه دریو طلاقو سره مطلقه مغلظه ښځه مراد ده کومې ته چې مطلقه مبتوته هم ویلی شي، کومه ښځه چې په طلاق رجعی سره طلاقه شوې وي نو دهغې نفقه او سکنی په خاوند باندې لازم دي، اوکه ښځه په دریو طلاقو مطلقه مغلظه وي او حامله هم وي نو د ماشوم د پیدا کیدو پورې خرچه په خاوند باندې لازم ده، او که ښځه مطلقه مغلظه غیرحامله وي نو ددې په خرچه کې د فقهاء کرامو اختلاف دی. (المرقات ۴۸۵/۴)

## د مطلقې مغلظې په نفقې اوسکنی کې د فقهاو اختلاف

امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه او د اهل ظواهرو په نزد باندې د مطلقې مغلظې غیر حاملې دپاره نه نفقه شته او نه سکنی شته، نه د ډوډۍ شته او نه مکان، د امام مالک او امام شافعی په نزد سکنی شته او نفقه نشته، داحنافو په نزد باندې د دې مطلقې دپاره سکنی هم شته او نفقه هم شته یعنې د ډوډۍ او مکان دواړه په خاوند لازم دي.

**دلائل**: امام احمد بن حنبل او اهل ظواهر غیر مقلدین د فاطمه بنت قیس درواېت نه دلیل نیولی دی په هغې کې دا الفاظ دي «**لا نفقة لک الا ان تکوني حاملاً**» او په دې حدیث کې دې ته حکم ورکړی شوی دی چې ته ام مکتوم کره اوسه چې تړې معلومه شوه چې هغې ته د مکان خق هم نشته، امام شافعی او امام مالک د سکنی د ثبوت دپاره د قرآن کریم د ایت نه دلیل نیولی دی (**اسکنوهن من حیث سکنتم من وجدکم**) (سورة طلاق : ۴) او د نفقې د نفې دپاره یې د دې ایت نه دلیل نیولی دی (**وان کن اولات الاحمال فانفقوا علیهن حتی یضعن حملهن**) (سورة طلاق : ۴) د دلیل طریقه د مفهوم مخالف په طور دی، چې نفقه به صرف معتدې حاملې ښځې ته ملاویږی، لهذا کومه ښځه چې مطلقه مطلقه نه وي نو هغې ته به په یو صورت کې هم نفقه نه ملاویږي، دې حضراتو د فاطمې بنت قیس د حدیث نه دلیل نیولی دی، ائمه احناف او سفیان ثوری د وجوب سکنی دپاره د قرآن کریم په دوه ایتونو سره دلیل نیولی دی یو ایت دادی چې (**اسکنو هن من حیث سکنتم من وجدکم**) (سورة طلاق : ۱) دا ایت په

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۱۱٤ رقم الحديث (۱٤۸۰/۳٦) وأبوداؤد في السنن ۲/۷۱۲ رقم الحديث ۲۲۸٤ والنسائي في ٦/۷٥ رقم الحديث ۳٤۱٥ وأحمد في المسند ٦/٤۱۳ ومالک في المؤطأ في ۲/٥۸۰ رقم الحديث ٦۷ من كتاب الطلاق.

سکنی باندې دلیل دی، دویم ایت دادی چې (ولا تخرجوهن من بیوتهن ولا یخرجن) (سورة طلاق) دا ایت هم د مکان په ورکولو باندې صریح دلیل دی، او په ضمني طور باندې دا ایت نفقه ورکول هم واجبوي، ځکه چې دښځې په وېستلو او وتلو باندې پابندي شوه نو لازمي طور خرچه ورکول پکار دي، د شریعت د قواعدو مطابق هم نفقه ورکول پکار دي. ځکه دلته دهغې ښځې حبس د خاوند د حق په وجه باندې راغی ځکه چې عدت د نکاح په اثراتو کې یو اثر دی او د نکاح په وجه چې کله په خاوند باندې نفقه لازم وه نو اوس چې د نکاح داثر په وجه باندې کوم قید راغلی دی نو په دې کې هم په خاوند باندې نفقه فرض شوه، احنافو د حضرت عمر د عامې فیصلې او د صحابه کرامو د اجماع نه هم دنفقې د لازم کیدو دلیل نیولی دی، دفاطمه بنت قیس د روایت نه د جواب دپاره د حضرت عمر رضي الله عنه روایت رارواندی. (المرقات ۴۸۶/۴)

**جواب** :احناف دفاطمه بنت قیس دروایت نه جواب ورکوي چې دا روایت په ډیرو وجوهاتو باندې معلل دی، حضرت عمر فاروق چې دا حدیث واوریده نو وې فرمایل چې **لا ندع کتاب ربنا وسنة نبینا بقول امراة نسیت او شبه لها سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول لها السکنی والنفقة)** (مرقاه جلد ۶ ص ۳۲۵)

سعیدبن مسیب وائي چې فاطمه بنت قیس ته نان نفقه په دې وجه ملاونشوه چې دهغې په ژبه کې سخت والی اوتیزي وه، ګویاچه ناشیزه وه اوناشیزه ته نان نفقه نه شی ورکولې. (المرقات ۴۸۶/۴)

د حضرت اسامه بن زید په نکاح کې چې کله راغله نوهغه پرې کاڼي وورول او دهغې قول یې مسترد کړه او د ناراضګۍ اظهار یې وکړه، حضرت عائشه فرمایي چې ولې فاطمه بنت قیس سره د الله ویره نه وه چې وایي چې هغې دپاره نه نفقه وه او نه سکنی ؟ددې اقوالو نه علاوه زیر بحث حدیث کې د هغه حدیث جواب موجود دی ځکه چې دفاطمه بنت قیس خاوند دېته څه د غنمو دانې رلیږلې وې خو دې کې وګڼلې او واپس یې کړې، بیایې حضور اکرم ته شکایت وکړو نو حضرت دډیرې نفقې نه انکار وکړو په اصل کې دا د نان نفقې نه انکار نه وو، شوافعو او مالکیو چې ددې ایت د مفهوم مخالف نه کوم دلیل نیولی دی احناف د هغې جواب ورکوي چې مونږ مفهوم مخالف نه منواونه په دې کې زمونږ دپاره څه دلیل شته، اوخاصکرد حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په قراءت کې دا الفاظ دي (**وانفقوا علیهن من وجدکم**) ددې صراحت نه پس مونږ دنفقې نه انکار نه شو کولی او شوافعو ته په طور د الزام باندې احناف دا جواب ورکوي چې کله تاسو سکنی ومنله نودبې چاره ښځې وژل غواړئ او ورته وایي چې په کور کې پرته اوسه او عدت تابانديواجب دی،

او خوراک څښاک به درته نه ملاویږي دا خو عجیبه فیصله ده.او باقي فاطمه بنت قیس ته مکان ولې ملاو نشو؟ ددې جواب حضرت عائشه پخپله ورکوي چې د فاطمې کور د ښار نه لرې په یو ورانه علاقه کې وو او هلته هغه نشوه رسیدې، او حضرت سعید بن المسیب د وینا مطابق د حضرت فاطمې بنت قیس په ژبه کې سختوالی وو اوهر وخت به یې جنګ جګړې کولې په دې وجه هغه د کور د سهولت نه محرومه شوه.(المرقات ۴۸۸/۴)

**تضعین ثیابک:** ددې جملې یو مطلب دادی چې هلته به ته د عدت په حالت کې زیب اوزینت پریږدې، دویم مطلب یې دا شو چې هلته نه به ته چیرته بهر نه وځې، دریم مطلب یې دادی چې هلته به تاته د پردې ضرورت نه وي، څنګه چې یو مخامخ سړې نه په کتو کې مکمل پرده کولی شي، دا مطلب یې بالکل نه دی چې کپړې مه استعمالوه، بهر حال دې جملې نه معلومیږي چې ښځه یو پردي سړې ته کتلی شي که دفتنې خطره نه وي، نو بعضې علماء د جواز قائل دي، او بعضې وایې چې ښځو له سړو ته کتل منع دي ځکه چې د قرآن اعلان دی چې(**قل للمؤمنات یغضضن من ابصارهن**) (النور:۲۱) نو ددې حدیث مطلب دا شو چې ابن ام مکتوم په سترګو معذوره وو هغه تاته نشې کتلی او ته به په خپله هم ورته نه ګورې نو تاته به اوسیدل اسان وي، اود پردې او حجاب مکمل انتظام به هم وي (**فلا یضع عصاه**) یعنې ابو جهم هر وختې د ادب دپاره همسا ورسره وي (**ضراب للنسا**) دمبالغې صیغه ده یعنې ښځې ډیرې زیاتې وهونکی دی دا هم دهغه ماسبق کنائی الفاظو(**فلایضع عصاه**) تشریح ده (المرقات ۴۷۸/۶) (**فصعلوک**) ډیر فقیر او مفلس ته ویلی شي. (المرقات ۴۷۸/۶)(**لامال له**) ګویا دایې صفت کاشفه دی یعنې معاویه مفلس فقیر دی، چونکه د حضور اکرم نه یې مشوره اخستې وه په دې وجه (**المستشار مؤتمن**) د دې قاعدې مطابق رسول کریم ﷺ ورته ټول حال واضح بیان کړو. (المرقات ۴۷۸/۶)

**دحدیث فائدې** د فاطمې بنت قیس په دې حدیث کې د امت دپاره ډیر په کار راتلو والا تعلیمات دي: ۱.که خاوند نه وي او په یوه مستنده ذریعه باندې طلاق ورکړي نو جائز دی.۲.سړې د پاره خپل حق اخستو دپاره دوکیل نیول جائز دي.۳.فتوی اخستلواو ورکولو کې د پردي سړي او ښځې سره خبرې اترې کول جائز دي.۴.ښځه چې د عدت تیرولو دپاره کوم کور کې وي د ضرورت او حاجت دپاره بل ځای ته تلی شي.۵.که دفتنې ویره نه وي نود یوې نیکې ښځې زیارت دثواب په نیت باندې د رشته دارو سړو دپاره مستحب دی څنګه چې ام شریک کره تلل راتللو.۶. مطلقې

مغلظي بنځي ته دعدت په زمانه کې د نکاح تعريض کول جائز دي.۷.دیو کس دنکاح په پیغام باندې د بل کس دنکاح پیغام ورکول جائز دي چې د ورومبی نه ورسره جوړ نه وي.۸.دغائب کس نقص بیانول هغه وخت جائز دي چې کوم وخت دمشوري په طور باندې جواب ورکولی شي ځنګه چې حضور اکرم جواب ورکړو.۹-په کلام کې دم جاز استعمال جائز دی ځنګه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل (لايضعُ عصاهُ) د نکاح په رشته کې به مالداري د نظر نه نشي غورځولی.

﴿۲﴾ وَعَن عائشةَ قَالَتْ: إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحِشٍ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې فاطمه بنت قیس چې په کوم مقام کې اوسیده هغه یو وران ځای وو

فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا فَلِذَلِكَ رَخَّصَ لَهَا النَّبِيُّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

او هلته ورته په هغې ویره وه نو په دې وجه نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته د (عدت د ورځو تیرولو دخپل کور

تَعْنِي النُّقْلَةَ وَفِي رِوَايَةٍ:

په ځای د ابن ام مکتوم کور ته ولیږله چې اسانې ورته پیدا شي) په یو بل روایت کې دا الفاظ هم دي

قَالَتْ: مَا لِفَاطِمَةَ؟ أَلَا تَتَّقِي اللهَ؟

چې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل چې فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندې څه شوې دي ولې هغه دا الله نه نه ویریږی؟

تَعْنِي فِي قَوْلِهَا: لَا سُكْنَى وَلَا نَفَقَة. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

دې نه د حضرت عائشهؓ مراد د فاطمه دا قول دی چې نه نفقه واجب ده او نه د سکنی تردید کول دي (بخاری)

﴿۲﴾ وَعَن سعيدِ بنِ المسيّبِ قَالَ: إِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ

حضرت سعید بن مسیب وایي چې فاطمه (د عدت په وخت کې د هغې د خاوند د کورنه په دې وجه

لِطُولِ لِسَانِهَا عَلَى أَحمائِها. رَوَاهُ فِي شرح السّنة (صَحِيح)[2]

بل ځای ته ولیږله چه هغې به د خاوند د خپلوانو سره ژبه سخته استعمالوله. (شرح السنه)

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/٤۷۷ رقم الحديث ٥۳٥۲ ومسلم في ۲۰/۱۱۲۱ رقم الحديث (۱٤۸۱.٥٤) وأبوداؤد في السنن ۲/۷۱۸ رقم الحديث ۲۲۹۲

(۲) أخرجه البغوی في شرح السنة ۹/۲۹٤ رقم الحديث ۲۳۸٤.

## دعدت په حالت کې دکور نه دوتلو حکم

﴿۴﴾ وَعَن جابرٍ قَالَ: طُلِّقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې زما ترور ته درې طلاقه ورکړی شو (او هغه عدت کې کيناسته) بيا هغې

فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ

يوه ورځ اراده وکړه چې (چې دکور نه ووځم او کجهوې به راوړم نويو کس هغه دکور نه دبهر وتلو نه منع کړه

أَنْ تَخْرُجَ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

هغه د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوه او واقعه يې ورته بيان کړه نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

«بَلَى فَجُدِّي نَخْلَكِ فَإِنَّهُ عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي

په دې کې څه نقصان نشته لاړه شه خپلې کجورې وشوکوه کيدی شي ته دغه کجورې د الله په لاره

أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

کې ورکړې ياد احسان ذريعه شي. (مسلم)

**توضيح: فقال بلى فجدي:** جدي د واحد مونث دامر صيغه ده جداد دکجورو شوکولو په معنی سره راځي، ددې حديث نه دهغې ښځې د کور نه د وتو او د نه وتو حکم معلوميږي چې دعدت په حالت کې کور کې ناسته وي، په دې کې داسې تفصيل دی چې دکومې ښځې خاوند مړ شوی وي او عدت تيروي نو په دې کې تقريباً د ټولو علماو اتفاق دی چې هغه د ورځې په وخت کې دکور نه بهر وتی شي ځکه چې نفقه دهغې په خپل سر باندې ده نو ددې مجبوری په حالت کې وتی شي او دشپې هم وتی شي (**اذلا نفقة فتحتاج الى الخروج**) ځکه چې نفقه دهغې په خپله ذمه باندې ده نو د وتلو دپاره محتاجه ده، او دا پرې لازم دي چې شپې دپاره به هغې کور ته راځي چې په کوم کور کې دعدت ورځې تيروي، اوس پاتې شوه طلاقه شوې ښځه چې هغه وتی شي که نه؟ په دې کې دفقهاو اختلاف دی. (مرقات ۴۹۳/۶)

**دفقهاو اختلاف:** د جمهورو په نزد طلاقه شوې ښځه دورځې وتی شي، ائمه احناف فرمائي چې دسختې مجبوری نه بغير دخپل د عدت والا کور نه نشي وتی.

**دلائل:** ائمه جمهور د حضرت جابر دروايت نه دليل نيولی دی چې د حضرت جابر ترور ته نبي اکرم د

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۱۲۱ رقم الحديث (۱۴۸۳.۵۵) وأبوداؤد في السنن ۲/۷۴۰ رقم الحديث ۲۲۹۷ والنسائی في ۶/۲۰۹ رقم الحديث ۳۵۵۰ وابن ماجه في ۱/۶۵۶ رقم الحديث ۲۰۳۴ والدارمي في ۲/۲۲۲ رقم الحديث ۲۲۸۸.

کجورو شوکولو او باغ ته دتلو اجازت ورکړی وو، ائمه احناف د قرآن کریم د ایت نه دلیل نیولی دی ایت دادی (**ولاتخرجوهن من بیوتهن ولا یخرجن**) (سورة الطلاق : ۱)دا مطلق ایت به د حضرت جابر په خبر واحد سره نشي مقید کولی، لهذا بغیر دځه ضرورت نه به طلاقه شوې ښځه دعدت دکورنه بهر نه شي وتی، او که ډیر ضرورت پیښ شي نو بیاد شپې وتل او واپس هغه کورته راتلل کوم کور کې چې د عدت دپاره ناسته وي جائز دي، احنافو د مجبوری په حالت کې د وتلو د جواز دپاره د حضرت جابر ددې حدیث نه دلیل نیولی دی، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې ښځې اجازت په (**لعلك ان تصدق وتفعلي معروفا**) سره مقید کړی دی، نو دا د یو ضرورت او حاجت طرف ته اشاره ده، کې صاحب نصاب شوه نو زکوة به ورکړي که زکوه نه وي نو په نفلي صدقاتو سره به چاسره ښېګړه وکړي، معلومه شوه چې دیني او دنیاوي حاجت دپاره وتل جائز دي ګڼي جائز نه دي. امام طحاوی د حضرت جابر یوه فتوی نقل کړې ده چې وتل جائز نه دي، نو معلومه شوه چې زیر بحث حدیث منسوخ دی، د صوبه سرحد په علماو لازم دي چې هغوی دا مسئله عوامو ته واضحه کړي او بیان یې کړي، ځکه هلته په دیکې سستي ده، دلته یو بل صورت دی که د معتدې ښځې کور وغورځیږي یا د غلو یا د ډاکوانو ویره وي او یا د هغې کور خرچ د هغې د وس نه بهر وي نو په دې صورت کې بل کور ته تلی شي.(مرقات : ۴۹۳،۴۹۴/۶)

## دحاملې ښځې عدت په وضع د حمل دی

﴿۵﴾ وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ: أَنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ

حضرت مسور بن مخرمه وایي چې د سبیعه اسلمیه دخاوند د وفات نه یو څو ورځې پس ماشوم وشو

زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَأْذَنَتْهُ

نو دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوه او د دویمې نکاح اجازت یې وغوښتلو نو

أَنْ تَنْكِحَ فَأَذِنَ لَهَا فنكحت. (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله د نکاح کولو اجازت ورکړو او هغې نکاح وکړه. (بخاری)

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۴۷۰ رقم الحديث ۵۳۲۰ والنسائی في ۶/۱۹۰ رقم الحديث ۳۵۰۶ وابن ماجه في ۱/۶۵۴ رقم الحديث ۲۰۲۹ وأحمد في المسند ۴/۳۲۷

## دعدت په ورځو کې رانجه لګول منع دي

﴿٦﴾ وَعَن أُمِّ سلمةَ قَالَتْ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ام سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وائی چې یوه ښځه راغله او دنبی صلی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کښ حاضره شوه

فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ الله إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا

او عرض ئې او کړو اې دالله رسوله! چې زما د لور خاوند مړ شوی دی (چې د هغې په وجه په عدت کې ده)

وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنُهَا أَفَنَكْحُلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او دهغې سترګې خوګیږي نو دهغې په سترګو رانجه ولګوم؟ رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل

«لَا» مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ:

چې نه، هغې دوه یا درې ځله تپوس وکړو او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر ځل هم هغه جواب ورکړو

«لَا» قَالَ: «إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وعشرٌ وَقد كَانَت إِحْدَاهُنَّ فِي الجاهليَّةِ

چې نه. او وې فرمایل چې عدت څلور میاشتې او لس ورځې دی د جاهلیت په زمانه کې به په تاسو

تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کې یوې ښځې (یعنې کونډې) به پوره کال تیریدو نه پس (د اوښانو) پَچې غورځولې. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: افنكحلها: دوفات نه پس چې کوم عدت وی یعنې څلور میاشتې او لس ورځې ایا ښځه په کې رانجه لګولی شي یا نه؟ په دې کې د فقهاو اختلاف دی.

**دفقهاواختلاف** دامام احمد بن حنبل په نزدکه عذروی اوکه نه وی دعدت په ورځوکې ښځه په سترګو کې رانجه نه شی لګولې. امام شافعی وائي چې دمجبوری په حالت کې یې دعلاج دپاره لګولی شي خودشپې دې لګوي اودورځې دې صفاکوي. امام مالک اوامام ابوحنیفه وائي چې دمجبوری په حالت کې یې دعلاج دپاره استعمالولی شي، امام احمد دزیر بحث حدیث نه دلیل نیولی دی. جمهور وایي کیدی شي دې ښځې دسترګو د خوږ بهانه کړې وي اومرادیې زینت وو، اوحضور اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته داصل حقیقت پته لګیدلې وه نو په دې وجه یې اجازت ورنه کړه، یا کیدی شي دا یو

---

(١) أخرجه البخاری في صحيحه ٩/٤٨٤ رقم الحديث ٥٣٣٦ ومسلم في ٢/١٢٤ رقم الحديث ١٤٨٨ وأبوداؤد في السنن ٢/٧٢١ رقم الحديث ٢٢٩٩ والنسائی في ٦/٢٠٥ رقم الحديث ٣٥٣٨ وابن ماجه في ١/٦٧٣ رقم الحديث ٢٠٨٤

خاص قسم سرمه وه چې د هغې نه يې منع وفرمايله، په دې حديث کې د تاويل يوه واضحه قرينه دا هم ده چې د حضرت ام سلمه نه په يوه موقعه باندې د رنجو لګولو د مسئلې تپوس وکړی شو نو دسخت مرض په وخت يې اجازت ورکړو. (کذافی سنن ابی داؤد جلد ۱ ص ۳۱۵، مرقات: ۴۹۵/۶)

**په کافرانه نظام کې په ښځه باندې ظلم کيده او اسلام ور له مقام ور کړو** :ترمې بالبعرة على راس

الحول: په دې جمله کې نبي کريم ﷺ د جاهليت د زمانې په ښځو باندې د بې ځايه ظلمونو کولو طرف ته اشاره وکړه، او مقصد دا وو چې دين اسلام کې اسانتيا ده تاسو ته معلومه نه ده چې په زمانه د جاهليت کې به د ښځې د عدت افسانه څه وه، پيغمبر عليه السلام چې کومې قصې او افسانې طرف ته اشاره کړې ده چې دهغې ذکر چې کوم کتابونو کې شوې دې د هغې خلاصه داده: چې په جاهليت کې به چې کله سړی مړ شو نو هغه به د خفګان او عدت تيرولو د پاره په يوه تنګه او تياره کوټه کې داخله شوه، د هغې کوټې دروازه به بند کړی شوه او د بهر نه به يې ورله پلستر ورکړه او دې ښځې له به يې د سپې په لوښې کې خوراک ورکولو، هم دې کوټه کې به اوده کيدله او هم په دې کې ناسته پاسته وه، غول متيازې به يې هم په دې کې کولې، او ټول کال به يې يوه جوړه کې او ټول کال په يو ځاې کې تيرولو او کال پوره کيدو نه پس کله به چې کوټه سخته زهريله شوه نو هغو خلقو به سپی يا ځناور يا پرنده دننه کړو او هغه ځناور به د هغې ښځې د اعضاء مخصوصه پورې لګيا وو ځټلو به يې، او کله چې به د سخت زهريله ګيس په وجه هغه ځناور مړ شو نو هغو خلقو به ويل چې ډير ښه عدت يې تير کړو بيا به يې هغه ښځه بهر ته راوخکله او په يو خر باندې به يې سوره کړه چې د هغې مخ به د خر د لکۍ طرف ته وو او د هغې په لاسونو کې به يې داوښانو يا چيلو د ګندګۍ ډکه ټوکرۍ وه (مينګنې هغې ګندګۍ ته ويلی شي چې د ګولې په شان ګول جوړې شوې وي) او يوه يوه ګوله به يې غورځوله او ماشومانو به ورپسې وروستو چغې وهلې کله به يې چې آخری ګوله وغورځوله نو عدت به ختم شو، نبي کريم ﷺ ګويا اشاره وفرمايله چې يو خو کافرانه نظام او د هغوی انسانيت سوز سلوک او بل طرف ته د اسلام رحمت او شفقت او د عزت او عظمت نظام؟ په دواړو کې لوی فرق دی چا څه ښه ويلي دي:

چراغ مرده کجا نور آفتاب کجا ببين تفاوت راه کجا است تا بکجا

جاهليت په زمانه کې به غمرازي يو کال پورې وه، او کله به يې په قبر باندې خيمې لګولو سره ژړاګانې کولې، د عدت هم يو جاهلانه رسم وو او کال تيرولو نه پس به کور ته راتلل، يو شاعر وايي: (المرقات ۴۹۵/۶)

الى الحول ثم اسم السلام عليكما ومن يبك حولا كاملا فقد اعتذر

ترجمه: یو کال ما ستا په قبر باندې تیر کړو او ډیر مي وژړل اوس تاسو دواړو ته سلام کومه وایم ځم او ټول کال ژړا والا د ژړا حق اداء کړو.

## څومره مودې پورې خفګان کول جائز دي

﴿۷﴾ وَعَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ وَزَيْنَبَ بِنْتِ جحش عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ام حبیبه رضی الله عنها او حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې

قَالَ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

نبی علیه السلام فرمایل چې کومه ښځه په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندې ایمان ساتي نو دهغې دپاره صحیح نه ده

أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ

چه په مړي دې د دریو ورځو نه زیات خفګان وکړي مګر په خاوند خفګان چې څلور میاشتې او

وَعَشْرًا» (مُتَّفق عَلَيْهِ)(۱)

او لس ورځې دی. (بخاری و مسلم)

**توضیح**: ان تحد: دا لفظ د باب افعال نه احداد د په وزن د اعداد دی، علامه ابن همام فرمایي چې دا لفظ مجرد د نصر او ضرب د باب نه هم راځي، احداد او حداد د زینت او عطریاتو او سنګار پریښودو ته ویلی شي، په دې کې د غم مفهموم پروت دی، په دې وجه ورته غمرازي ویلی شي په اسلام کې د خاوند د مرګ نه علاوه په چا باندې د درې ورځو نه زیات خفګان کول جائز نه دي، شیعه ګان د حضرت امام حسین هرکال خفګان نمانځي دا حرام دی، اسلام د انساني طبیعت او فطرت لحاظ ساتلی دی په طبعي طور باندې انسان درې ورځو پورې غمژن وي د دې نه زیات د زینت د پریخودلو عادت جوړ پکار نه دي، البته د زړه خفګان او د سترګو د اوښکو تلو دپاره کوم حد نشته دی، د حضرت ام حبیبه متعلق د ابو داؤد په یو روایت کې دي چې کله دهغې دپلار انتقال وشو نو درې ورځې پس یې عطر راوغوښتل او په لاسونویې ومړل او وې فرمایل چې ماته ددې ضرورت نه وو خو د رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلې دي بیایې دا حدیث بیان کړه. (ابوداود ج۱ صفحه۳۱۴).

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/٤٨٤ رقم الحديث ٥٣٣٤ ومسلم في ۲/۱۱۲۳ رقم الحديث (۱٤۸٦.٥٨) وأبوداؤد في السنن ۲/۷۲۱ رقم الحديث ۲۹۹۹ والترمذي في ۳/٥۰۱ رقم الحديث ۱۱۹٦ والنسائي في ٦/۱۹۹ رقم الحديث ۳٥۳۷ والدارمي في ۲/۲۲۰ رقم الحديث ۲۲۸٤

ښځې دپاره دخاوند غم دټولو غمونونه زیات دی ځکه چې دې سره دهغې ټول کور وران شي نو شریعت ددې ښځې دپاره د فطری صدمې خیال ساتلی دی او ځلور میاشتې او لس ورځې یې دخفګان کولو اجازت ورکړی دی او بیایې پرې لازم کړی هم دی، ملا علی قاری په مرقات کې لیکلي دي چې عموما په هلک کې درې میاشتې پس ساه رائي او په جینی کې ځلور میاشتې لګي نو شریعت ځلور میاشتې او لس ورځې مقرر کړې دي چې د هر قسمه ماشوم پیدا کیدل یقیني شي په بعضو ماشومانو کې حرکت ډیر کمزوری وي نو شریعت دځلور میاشتو او لس ورځو اضافه وکړه چې دښځې د حامله کیدو یا نه کیدو ښه پته ولګي. (المرقات ۴۹۸/۶)

## عدت والا ښځې دې د عطر یاتو نه ډډه کوي

﴿۸﴾ وَعَن أُمِّ عطيَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ

حضرت ام عطیه وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې یوه ښځه دې په مړی باندې د دریو

فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا

ورځو نه زیات خفګان نه کوي او دخاوند په مرګ باندې ځلور میاشتې او لس ورځې خفګان کولی شي

وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ وَلَا تكتحِلُ

او (دعدت په وخت کې) دعصب نه علاوه نورې څه رنګیني جامې دې نه اغوندي، او نه دې رانجه

وَلَا تَمَسُّ طِيبًا إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ

او خوشبو لګوي البته د حیض نه دپاکیدو نه پس لږ شان قسط یا اظفار استعمالولی شي نو څه

أَوْ أَظْفَارٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: «وَلَا تختضب»[1]

نقصان په کې نشته دی. او په ابو داؤد کې دا سې الفاظ راغلي دي چې پدې ورځو کې په وینښتو او لاسونو باندې نکریزې نه لګوي.

**توضیح**: ولا ثوبا مصبوغا: یعنی رنګیني کپړې دې د زیب اوزینت دپاره نه استعمالوي که هغه په زعفراني رنګ کې وي یا په بل رنګ کې وي، او که بله کپړه ملاو نه شي نو بیا رنګیني کپړې استعمالولی شي او په دې کې دې د زینت خیال نه کوي ځکه چې ستر پټول فرض دی. (المرقات ۴۹۹/۶) الا ثوب عصب: عصب په یمن کې یو خاص قسم ټاډر دی دلته د عصب نه مراد هغه رنګین

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۹/۴۹۲ رقم الحديث ۵۳۴۱ ومسلم في ۲/۱۱۲۸ رقم الحديث (۶۶/۹۳۸) وأبوداؤد في السنن ۲/۷۲۵ رقم الحديث ۲۳۰۲ والنسائی ۶/۲۰۴ رقم الحديث ۳۵۳۶ وأحمد في المسند ۵/۸۵.

څادر دی چې دجوړولو نه مخکې دهغې تارونو له رنګ ورکولی شي او کله چې څادر تیار شي نو په هغې کې سپین او سور رنګ راشي د داسې قسمه څادر استعمالول جائز دي. (المرقات ۴۹۹/۶)

طهرت: یعنې کله چې حیض نه ښځه پاکه شي (نبذه) نون باندې ضمه ده او دلفظ په استثناء سره منصوب دی، د لګ څیز په معنی سره دی. (المرقات ۵۰۰/۶)

ای شیئاً یسرا (من قسط) دا لفظ په باب د طب کې باربار راغلی دی ددې ترجمه ګهټ یا ګربتی ده، دلته تر یې نه یو خاص قسم عطر مراد دي. ملا علی قاری لیکلې دي چې عود هندي چې د خوشبو او دوائي کار ترینه اخستی شي ښځې یې د حیض دغسل نه پس استعمالوي چې بدبو ختمه شي (المرقات ۵۰۰/۶) (او اظفار) دا یو قسم خوشبو ده چې تکړې یې د نوکانو په شان وي. (المرقات ۵۰۰/۶)

## دعدت په حالت کې د مکان د بدلولو حکم

### الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۹﴾ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبٍ: أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا

حضرت زینب بنت کعب فرمایي چې فریعه بنت مالک بن سنان چې دابو سعید خدری خور ده ماته وویل

أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ

چه هغه (فریعه) د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې دې تپوس دپاره حاضره شوه چې هغه خپل

أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ فَإِنَّ زَوْجَهَا

د عدت ورځو تیرولو دپاره د خپل مورپلار بنی خدره کره لاړه شي ځکه چې دهغې خاوند خپلو

خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا فَقَتَلُوهُ قَالَتْ: فَسَأَلْتُ

غلامانو پسې تلی وو او هغو غلامانو هغه قتل کړو چنانچه فریعه وایي چې ما پوښتنه وکړه

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي

درسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چې زه خپلې پلارکانۍ کره لاړه شم ځکه چې زما خاوند زه په کوم

لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَنْزِلٍ يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةٍ

کور کې پرښودلې وم هغه یې مالک نه وو (یعنې دهغه په ملکیت کې نه وو) او نه ماسره د خوراک ځنښاک دپاره څه شته

فَقَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ»

فریعه وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا واوریدل نو وې فرمایل چې بهتره ده چې ته خپلې

نیولی دی او هغه داسې دی چې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله اول اجازت ورکړو او بیایې منع کړه ددې منع کولو سره اولنی حکم منسوخ شو، یا داسې به ووایو چې دا په عدت کې دعذر او ضرورت په وخت کې دخاوند دکور نه وتل د ټولو په نزد جائز دي، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم اول دا ښځه کمزورې ګڼله نو د تلو اجازت یې ورکړو بیا پیغمبر علیه السلام ته معلومه شوه چې دا خو معذوره نه ده نو بیایې منع کړه.

باقي فریق اول چې ویلي دي چې امر د استحباب دپاره دی نو جواب دا دی چې په استحباب باندې دلته کومه قرینه نشته بلکې د وجوب قرینه موجوده ده، چې د اجازت نه وروسته یې منع فرمایلې ده، یاد لرئ د کومې ښځې چې خاوند مړ شي نو د ضرورت د وجې نه په ورځ او څه حصه د شپې کې د کور نه بهر وتلی شي، لیکن بغیر د ضرورت نه د تفریح او چکر دپاره وتل جائز نه دي. (المرقات ۵۰۲/۶)

**په اوه قسمه ښځو باندې غمرازي نشته** : امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې اوه قسمه ښځې داسې دي چې دهغوی خاوند مړ شي نو په هغوی غمرازي واجب نه ده دهغې تفصیل یې په درمختار کې داسې لیکلی دی:

۱.کافره یعنی یهودیه ، نصرانیه باندې غمرازي کول واجب نه دي. ۲. په لیونی باندې، ۳.په وړه باندې. ۴. دنکاح فاسدې والا ښځې باندې ،۵. وطی بشبهة یعنې په غلط فهمی کې چې چا سره جماع شوې وي او هغه په عدت کې ناسته وي نو هغې باندې غمرازي نشته .۶.هغه ښځه چې د طلاق رجعي په عدت کې ناسته وي نو په هغې غمرازي نشته . ۷. په ام ولده باندې.

یاد ساتئ چې غمرازي د عدت په ورځو کې کیناستل او د زیب اوزینت ترک کولو نوم دی، دطلاق رجعی په عدت کې زینت ترک کول نشته بلکې زینت اختیارول دي چې خاوند ورته رجوع وکړي، او که دکومې ښځې خاوند مړ شوی وي یا دې ته طلاق مغلظه یا طلاق بائن ورکړی شوی وي نو دعدت په موده کې پرې ترک د زینت لازم دی چې ورته خفګان ویلی شي.

## دعدت په ورځو کې ځان ډولې کول منع دي

﴿۱۰﴾ وَعَن أُمِّ سلمَةَ قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ

حضرت ام سلمه (چه دنبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوجه مطهره ده) روایت کوي زما کره تشریف راوړلو یوه ورځ

رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله زما د ورومبني خاوند ابو سلمه انتقال وشو او زه دعدت دپاره ناسته ومه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَقَدْ | جعلتُ | عليَّ | صَبِراً | فَقَالَ: |

نو هغه وخت ما په مخ باندې ایلوا لګولې وه نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې ورته وکتل نو وې فرمائیل چې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| «مَا | هَذَا | يَا | أُمَّ | سَلَمَةَ؟». |

ای ام سلمه ! دا څه شی دی؟ (یعنې تا دعدت په ورځو کې په مخ باندې څه لګولې دي؟) ما عرض وکړو

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قُلْتُ: | إِنَّمَا | هُوَ | صَبِرٌ | لَيْسَ | فِيهِ | طِيبٌ | فَقَالَ: | «إِنَّهُ | يَشُبُّ | الْوَجْهَ |

چې دا خو ایلوا ده چې په دې کې څه قسمه خوشبو نشته نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ایلوا مخ ځوانوي

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَلَا | تَجْعَلِيهِ | إِلَّا | بِاللَّيْلِ |

(یعنې مخ چمک دار کیږي او رنګ یې ښه کیږي) لهذا داته مه لګوه که په څه وجه یې لګول ضروري وي نو د شپې یې لګوه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَتَنْزِعِيهِ | بِالنَّهَارِ | وَلَا | تَمْتَشِطِي | بِالطِّيبِ |

او د ورځې یې صفا کوه (ځکه چې د شپې د سنګار ګمان نه وي) او هم داسې خوشبو داره بڼمنځ هم

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَلَا | بِالْحِنَّاءِ | فَإِنَّهُ | خِضَابٌ. |

مه استعمالوه او مه په نکریزو سره بڼمنځ کوه ځکه نکریزې د سور رنګ دپاره وي (او په دې کې خوشبو وي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قلتُ | بأيِ | شيءٍ | أمتشطُ | يا | رسولَ الله! |

او د غمرازی په حالت کې دا منع دی) ما عرض وکړو یا رسول الله نو بیا زه په کوم څیز باندې بڼمنځ کومه؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| قَالَ | بِالسِّدرِ | تُغْلِفِينَ | بِهِ |

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وفرمایل چې دیرې په پانو باندې بڼمنځ کوه او د دې پانړو سره خپل سر پټوه (یعنې په

| | | | |
|---|---|---|---|
| رَأْسِكِ». | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد | وَالنَّسَائِيُّ[1] |

خپل سر باندې دومره دبیرو پانې اچوه چې ټول سر دې پټ شي. (ابو داؤد ، نسائی)

**توضیح**: (صبر) په صاد باندې فتحه ده او باء باندې کسره ده دیوې ترښې دوائي نوم دی چې ورته (ایلوا) ویلی شي.

جلد 5 20

يو شاعر ويلي دي:

لا تحسب المجد تمرا انت آكله لن تبلغ المجد حتى تلعق الصبرا

يعني د بزرګي حاصلول څه دکجور خوړل نه دي تر څوپورې چې ايلوا ونه څښې بزرګي ته نه شې رسيدی (شب يشب) د نصر نه د ځوانی په معنی سره دی، مطلب دادی چې ايلوا ددې(المرقات ۵۰۳/۶)

(شيرة) ده چې مخ ځوان کوي (امتشاط) معنې يې ده ږمنځول، او خوشبوداره ږمنځ منع ده (السدر) دبيرې پانې تري مراد دي) (تغلفين) غلاف او سرپټول تري مراد دي. ددې څيزونو د منع کيدونه معلومه شوه چې نن سبا ددې نوي دور ټول لپ ستک، ناخن پالش، او نور قسمه کريم او زيب وزينت او دځان ډولي کولو ټول څيزونه منع دي. او هم داسې هر قسمه عطر او خوشبوداره پوډر او خوشبوداره صابن وغيره منع دي ځکه چې په کې په بعضو څيزونو کې سنګار او زينت دی او بعضې خوشبو والا دي. (المرقات ۵۰۳/۶)

## معتده ښځه دې کالي (زيورات) نه استعمالوي

| |
|---|
| ﴿۱۱۴﴾ وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل |
| «الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زوجُها لَا تَلبسُ الْمُعَصفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلَا |
| چې دکومې ښځې خاوند مړ شي چه نه دې کسم (زيړ رنګ) باندې رنګ شوې کپړه اچوي، نه دې |
| الْمُمَشَّقَةَ وَلَا الْحُلِيَّ وَلَا تَخْتَضِبُ |
| په ګيرو (ګل ارمني) باندې رنګ شوې کپړه اچوي نه دې کالي اچوي او نه دې په پښو لاسونو |
| وَلَا تَكْتَحِلُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1] |
| نکريزې لګوي او نه دې رانجه لګوي. (ابو داؤد، نسائی) |

**توضيح**: (المعصفر) ای المصبوغ بالمعصفر يعنې په کسم (زيړ رنګ) سره رنګ شوې کپړه **الممشقة** ميم اول باندې ضمه ده ثانی باندې زبر دی شين مشدد دی ای **المصبوغة بالمشق بكسر الميم وهو الطين الاحمر** دې ته ګيرو (خاوره، ګل ارمني) ته ويلی شي.

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۷۲۷ رقم الحديث ۲۳۰٤ والنسائی فی ٦/۲۰۳ رقم الحديث ۳۵۳۵ وأحمدفي المسند۳۰۲/٦

په دې سره کپړې رنګ کولی شي **المشقه**په دې وجه تانیث سره راغلی دی چې د(**الحلة**) یا د(**الثیاب**) محذوف موصوف صفت دی.

(**الحلی**)په حا باندې ضمه هم صحیح ده او کسره هم صحیح ده او په یاء باندې شد دی د حلیة جمع ده چې کالو ته ویلی شي، صاحب هدایه لیکلې دي چې د بیماری یا خاربن یا د سپګو په وجه معتدې لره په غمرازی (عدت) کې د ریښمو کپړه استعمالول جائز دي، یعنې بغیر د مجبوری او بغیر د څه ضرورت نه ریښم استعمالول منع دي، امام مالک فرمایي چې تور رنګ والا ریښم او کالي استعمالول جائز دي خو شارحین حدیث لیکي چې دکالو نه خو صفا ممانعت دی په رنګ شوې کپړو کې هر قسمه رنګ منع دی، سوا د معصب نه لهذا تور ریښم هم منع دي (المرقات ۵۰۴/۶)

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث

## دطلاق شوې دعدت باره کې یو بحث

﴿۱۲﴾عَن سُلَيمانَ بنِ يَسارٍ: أَنَّ الْأَحْوَصَ هَلَكَ بِالشَّامِ حِينَ

حضرت سلیمان بن یسار وایي چې احوص په ملک شام کې وفات شو په هغه وخت کې چې د هغه

دَخَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا

دښځې دریمه ماهواري شروع شوې وه او احوص د خپل مرګ نه مخکې هغې له طلاق ورکړی وو،

فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَسْأَلُهُ عَنْ ذَلِكَ

خط اولیکه حضرت معاویه بن ابی سفیان حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د دې مسئلې معلومولو دپاره

فَكَتَبَ إِلَيْهِ زَيْدٌ: إِنَّهَا إِذَا دَخَلَتْ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ

حضرت زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له جواب ورکړو چې کله د دې ښځې دریم حیض شروع شو

فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ وَبَرِئَ مِنْهَا لَا يَرِثُهَا

نو هغه د احوص نه جدا شوه او احوص د هغې نه جدا شو، نه احوص د هغې وارث شو او نه هغه ښځه

وَلَا تَرِثُهُ. رَوَاهُ مَالِك[1]

د احوص وارثه شوه. (مالک)

---

([1]) أخرجه مالک في المؤطأ ۲/۲۷۷ رقم الحديث ٥٦ من كتاب الطلاق.

**توضیح: من الحیضه الثالثه:** دمسئلې صورت دا وو چې حضرت احوص خپلې ښځې له طلاق ورکړی وو او دهغه ښځه په عدت کې ناسته وه هغه په دریم حیض کې داخله شوې وه چې دهغې دخاوند انتقال وشو، اوس دا شک پیدا شو چې اوس به دا ښځه څلور میاشتې او لس ورځې په عدت کې کینې او بیا به د خپل خاوند وارثه شي او که نه دهغې دطلاق عدت ختم شو او دخپل خاوند نه به وارثه نه شي جوړیدی، هم د مسئله حضرت معاویه دحضرت زید بن ثابت نه دخط په ذریعه معلومه کړه حضرت زید په جواب کې وفرمایل چې کله دا ښځه په دریم حیض کې داخله شوه نوهغه وخت د طلاق والا عدت ختم شو، او هغه آزاده شوه او دخاوند په میراث کې به ورته هیڅ نه ملاویږي، ځکه چې دهغې دخاوندنه تعلق بالکل ختم شو.

دې بیان نه دا معلومه شوه چې دحضرت معاویه د حضرت زید نه دمسئلې معلومولو مقصد دا وو چې ایا دا ښځه په میراث کې وارثه کیدی شي یا نه، یایې دا معلومول چې ایا ددې ښځې عدت هغه طلاق والا عدت به وي یا د وفات والا عدت به تیروي، حضرت زید جواب ورکړو چې کله دا په دریم حیض کې داخله شوه نودهغې عدت ختم شو نه به اوس هغې ته دخاوند په میراث کې څه ملاویږی اونه ورته د وفات دعدت ضرورت شته، ځکه چې خاوند سره دهغې تعلق ختم شوی وو، ددې روایت نه شوافع د **عدت بالاطهار** مسئله ثابتول غواړي ځکه چې دهغوی په نزد دقرآن کریم ایت(**ثلاثة قروء**)نه اطهار مراد دي چې کله دریم حیض شروع شو نو دښځې دړې طهره پوره شو او عدت یې ختم شو.داحنافو په نزد عدت بالحیض دی ددې روایت جواب ائمه احناف داسې ورکوي چې دا د حضرت زید رضي الله عنه مسلک وو مونږه دنورو صحابو مسلک اخلو چې په کې خلفاء راشدین او نور اکابر صحابه شامل دي، دارنګه دا قول د صحابی دی او احنافو د مرفوعو احادیثو نه دلیل نیولی دی، دارنګې د حضرت زید نه د **طلاق الامة اثنتان وعدتها حیضتان** روایت هم ثابت دی چې ترینه عدت بالحیض ثابت دی.

نو معلومه شوه چې راوي دخپل مروي نه خلاف فتوی ورکړه نو قابل دلیل نه شو بهر حال مضبوط دلائل د احنافو سره دي. (المرقات ۵۰۴/۶)

## دطلاقې شوې دعدت یوه عجیبه مسئله

﴿۱۳﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَيُّمَا امْرَأَةٍ طُلِّقَتْ

سعید بن مسیب وایي چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې کومې ښځې له طلاق ورکړی

| |
|---|
| فَحَاضَتْ حَيْضَةً أَوْ حَيْضَتَيْنِ ثُمَّ رُفِعَتْهَا حيضتُها فإنَّها تنتظِرُ تسعةَ أشهرٍ |
| شوی وي او هغې ته يو ځل يا دوه ځله حيض راشي بيا بند شو نو بيا به هغه نهه مياشتې انتظار کوي |
| فإنْ بانَ لَهَا حَمْلٌ فَذَلِكَ |
| که په دې موده کې حمل ښکاره شو نو حکم يې ښکاره دی نو چې څه پيدا شو نو عدت پوره شو نو |
| وَإِلَّا اعْتَدَّتْ بَعْدَ التِّسْعَةِ الْأَشْهَرِ ثلاثةَ أشهرٍ |
| عدت پوره شو او که حمل ښکاره نه وو نو بيا به نهه مياشتو نه پس دې مياشتو پورې د عدت ورځې تيروي |
| ثُمَّ حلَّتْ. رَوَاهُ مَالك[1] |
| او دې نه پس به حلاله شي (يعنې د عدت نه دې بهر راوځي. (مالک) |

**توضيح**: **طلقت**: دا د مجهول صيغه ده د طلاق په معنى سره (المرقات ۵۰۵/۶) (**اوحيضتين**) يعنې د عدت تيرولو دپاره طلاقه شوې ناسته ښځه چې کله يو يا دوه حيضه راغلل نو وينه بنده شوه د دې مفهوم دپاره دپاره يې دا جمله ارشاد وفرمايله (**ثم رفعتها حيضتها**) رفعتها دا د مجهول صيغه ده او **حيضتها** يې نائب فاعل دی او په رفعتها کې چې کوم د هاء ضمير دی نو منصوب بنزع الخافض دی اصل عبارت داسې دی (**ثم رفعت حيضتها عنها**) او رفع د حيض نه مراد د حيض بنديدل دي. (المرقات ۵۰۶/۶)

(**فانها تنتظر**) دا د (**ايما امرأة**) شرط دپاره جواب د شرط دی (**فذالک**) دا مبتدا ده او د دې خبر محذوف دی (**اي فذالک ظاهر حکمه**) يعنې د دې حکم خو ظاهر دی چې په وضع د حمل سره عدت ختميږي (**والا**) په دې کې ان شرطيه مدغم دی اصل عبارت داسې دی (**وان لم يبن**) يعنې که حمل ظاهر نه شو (المرقات ۵۰۶/۶).

(**اعتدت**) دا په اصل کې (**فاعتدت**) دی او د شرط جواب دی (**بعد التسعه الاشهر**) دلته يې په **التسعة** مضاف باندې الف لام داخل کړی دی حالانکه نحاة دا نه خوښوي ځکه په دې کې ثقل دی او څه فائده يې نشته؟

د دې جواب علماء دا ورکوي چې مضاف باندې **الف لام** داخلول د اهل کوفو د لغت مطابق دی چې د هغو ی په نزد جائز دی او د دې کې هيڅ بدوالی نشته، لکه (**الثلاثة الاثواب**) کې بعضې علماء وائي چې

---

(۱) أخرجه مالک في المؤطأ ۵۸۲/۲ رقم الحديث ۷۰ من كتاب الطلاق

د "التسعة" نه "الاشهر" بدل واقع دی او دا هم د عربو په لغت کې شائع دی.
په دې روایت کې چې کومه مسئله بیان شوې ده د هغې صورت دا دی چې مثلاً یوه ښځه طلاقه شوې حیض والا ده چې هغې دریو حیضو سره عدت تیرول شروع کړل او چې کله یو یا دوه حیضه تیر شول نو وینه بنده شوه نو اوس د دې ښځې عدت د حاملې ښځې عدت سره بدل شو، او کله چې د حمل موده نهه میاشتې هم تیرې شوې نو معلومه شوه چې هغه حامله نه ده نو اوس په هغې د آیسې عدت تیرول لازم شو، آئسه هغې ښځې ته وائي چې د حیض راتلو نه مایوسه شي نو د هغې عدت په میاشتو سره دی، لهذا اوس به د درې میاشتې نورې هم په عدت کې تیروي او د ډیرې مودې پرواه به نه کوي، په دې روایت کې حضرت عمر فاروق دا مسئله بیانوي.

ملا علی قاری رحمه الله د فتح القدیر په حوالې سره دلته د تفریع په طور باندې د "طلاق الفار" مسئله بیان کړې ده (فار) تختیدونکي کس ته ویلی شي او طلاق الفار مطلب هم دا دی چې یو کس په لاعلاجه مرض کې اخته دی د صحت امید یې نشته دی هغه په دې مرض کې ښځې له په دې وجه طلاق ورکړو چې هغه د میراث نه محرومه کړي اوس هغه ښځه د طلاق عدت تیروي چې په دې کې د خاوند انتقال وشو.

فقهاء احناف فرمایي چې اوس به دا ښځه د "ابعد الاجلین" عدت تیروي یعنې څلور میاشتې او لس ورځې موده اګر چې اوږده ده نو په دې به عدت تیروي، او که عدت بالحیض وي نو دغه عدت به تیروي، عدت بالحیض موده هغه وخت اوږده کیږي چې دیو حیض نه پس څو میاشتو پورې طهر اوږد شو او څلورو میاشتو او لسو ورځو نه موده زیاته شوه، اوس به دا ښځه د طلاق والا عدت تیروي چې کوم عدت چې د وفات زوج نه زیات دی، کومې زمانې ته چې ورسیږي ښځه آئسه کیږي په دې کې مختلف اقوال دي: یو قول دا دی چې ۵۵ کاله د ایاس د عمر زمانه ده، بل قول ۶۰ کاله دریم قول ۷۰ کاله زمانه د ایاس ده. (المرقات ۵۰۷/۶، ۵۰۶)

## باب الاستبراء

استبراء په لغت کې طلب برات او د یو شیز څخه عیب نه پاکولو په معنی سره راځي، او فقهي اصطلاح کې د وینزې رحم د حمل نه خالي کولو طلب کول استبراء ده، اسباب د استبراء تجدد د ملک دی یعني د وینزې مالک کیدل که هغه د ملک اخستلو په ذریعه وي یا په میراث سره وي یا هبې سره وي یا د مال غنیمت په تقسیم سره وي، الغرض چې د هرې وجې نه حاصل شي، کله چې تجدد د ملک متحقق شو نو استبراء لازم شوه، د استبراء حکمت دادی چې د وینزې نه پیدا شوې ماشوم کې اشتباه د نسب ختمه شي، ځکه چې استبراء نه بغیر د وطي په ذریعه چې ماشوم پیدا کیږي په دې کې دا شک او شبه هم وي چې دغیر د نطفې نه به وي، او که چیرې خپل طرف ته یې نسبت کوي نو شک دی چې د بل کس ماشوم ځان ته منسوب نه کړي، او که بل طرف ته یې منسوب کوي نو شک دی چې خپل ماشوم بل چاته منسوب نه کړي، او دا ټول صورتونه شرعًا حرام دي ددې باب په وړومبني حدیث کې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم دې طرف ته اشاره کړې ده.

## داستبراء تفصیل

د جمهورو په نزد اصل مذهب دادی چې په ملکیت کې کومه وینزه وي که ذوات حیض وي نو استبراء د رحم دپاره یو حیض کافي دی او که په وجه دکم عمرې یا د زیات عمر په وجه حیض نه راځي نو استبراء دپاره یوه میاشت کافي ده داستبراء د رحم نه مخکې جماع کول حرام دي او که په ملکیت کې راغلې وینزه حامله وه نو استبراء د رحم دپاره وضع د حمل کافي ده، پاقي دا استبرا وړې، غټې، باکرې او ثیبې ټولو دپاره لازم دی.

**سوال** : اوس سوال دادی چې داستبراء ضرورت خو هلته پیښیږي چیرته چې د اشتغال رحم امکان وي، چې په نسب کې اشتباه رانشي، ځکه ممکنه ده چې دغیر نطفه په رحم کې موجوده وي، لیکن کوم ځای کې چې د اشتغال رحم بالکل امکان نه وي نو هلته د استبراء ضرورت څه دی؟ مثلاً وینزه وړه ده یا باکره ده یا دیوې ماشومې وینزه وه یا د خادمې مالکه یوه بنځه وه یا مالک دهغې خادمې محرم وو په دې ټولو صورتونو کې د اشتغال رحم امکان نشته نو د قیاس تقاضا ده چې په دې صورت کې استبرا نه شته.

**جواب** : ددې سوال جواب جمهور فقهاء داسې ورکوي چې د استبراء سره متعلق نصوص او احادیث مطلق دي لهذا مونږه نصوص واخستل او قیاس مو پریښودو دې وجې نه بطور امر تعبدي مونږه هر ځای کې استبراء ضروري وګڼله، د مطلق نصوصو مطلب دادی چې جنګ حنین او جنګ اوطاس په موقع باندې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې خبردار اوسئ چې حاملې وینزې سره

د وضع د حمل پورې جماع مه کوئ، غیر حاملې سره دیو حیض راتلو پورې جماع مه کوئ، دلته غیر حاملې لفظ عام دی، د باکرې، صغیرې، وغیره ذکر نشته، او مطلق جمهورو قبول کړه او قیاس یې پریخودو، ددې باب په فصل ثالث کې روایت نمبر ۴ چې د کوم روایت امام مالک کړی دی په هغې کې داسې راغلې دي چې وینزه حیض واله نه وي نو بیا درې میاشتې عدت دی، دا روایت متروک العمل دی، د ابن شهاب زهري نه علاوه چاهم په دې عمل نه دی کړی ځکه چې د یو حیض یا یوې میاشتې نصوص عام دي، دارنګې روایت نمبر ۵ کوم چې د حضرت ابن عمر نه نقل شوی دی هغه هم د جمهورو فقهاو په نزد متروک العمل دی چې په کې راغلې دي چې باکرې دپاره استبراء نشته دی.

## استبراء نه بغیر جماع حرامه ده

### الْفَصْلُ الأَوَّل

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ |
| حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو ه ورځ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تیر شو د یوې ښځې په خوا کښې |
| مُجِحٍ فَسَأَلَ عَنْهَا فَقَالُوا: |
| چې دهغې زر ماشوم پیدا کیدو والا وو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغې باره کې تپوس وفرمایلو چې دا |
| أَمَةٌ لِفُلَانٍ قَالَ: |
| ښځه آزاده ده او که خادمه ده؟ صحابه کرامو عرض وکړو چه د فلانکي سړي خادمه ده، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تپوس وکړو |
| «أَيُلِمُّ بِهَا؟» قَالُوا: نَعَمْ. قَالَ: «لَقَدْ |
| چې هغه سړی ورسره جماع کوي؟ صحابو عرض وکړو چې آو، نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ما |
| هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنًا |
| اراده وکړه چې په دې کس باندې لعنت ولیږم چې هغه سره قبر پورې لاړ شي یعني داسې لعنت چې |
| يَدْخُلُ مَعَهُ فِي قَبْرِهِ كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ |
| همیشه وي او دهغې اثر دمرګ نه پس هم وي، هغه به څنګه خپل ځوی ته دخدمت دپاره ووایي |
| وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ؟ أَمْ كَيْفَ يُوَرِّثُهُ |
| او ځوی نه خدمت اخستل جائز نه دي، یا هغه غلام کول حلال نه دي یا څنګه به یې خپل وارث جوړ کړي |

| |
|---|
| وَهُوَ لَا يحلُّ لَهُ؟». رَوَاهُ مُسلم[1] |
| کله چې دغير ځوی خپل وارث جوړول حلال نه دي. (مسلم) |

**توضيح:** بأمراةٍ مجح: دا موصوف صفت دی او دمجح په میم باندې ضمه ده او دې نه پس جیم باندې کسره ده او دې نه پس حاء ده چې پرې شد دی او کسرې والا تنوین دی، ولادت ته نزدې حاملې ښځې ته ویلی شي .(المرقات ۵۰۸/۶) (ایلم بها) دا د المام نه دی مراد ترې نه جماع ده (المرقات ۵۰۸/۶) (یستخدمه) دا د استخدام نه دی دخادم یا غلام جوړولو په معنی سره دی. (وهو) ضمیر د استخدام طرف ته راجع دی یعنې د خپل ځوی نه غلام جوړول حرام دي حلال نه دي. (المرقات ۵۰۸/۶) (کیف یورثه) دا د باب تفعیل نه دی د وارث جوړولو په معنی سره راځي یعنې د بل کس ځوې خپل وارث ځنګه جوړوي او حال دا دی چې دا حلال نه دی. (المرقات ۵۰۸/۶)

دحدیث مطلب دا شو چې داستبراء نه مخکې وطي کول دلعنت سبب داسې شو چې دې سره په نسب کې اشتباه راځي که داستبرا نه مخکې یې وطي وکړه او شپږ میاشتې پس ماشوم پیدا شو نو اوس به دا ماشوم دچا وي دا هم یو ګمان دی چې د نوي مالک ځوی دی اوهغه دځوی په ځای غلام کړه او غلام پشان ترې نه خدمت اخلي اودا هم ګمان دی چې دا ماشوم د بل چا هم کیدی شي او دا نوی مالک یې خپل ځوی جوړ کړي نو دا دواړه صورتونه حرام دي او په دې حرامو کې دا کس د استبراء نه کولو په وجه باندې اخته شو، معلومه شوه چې استبراء نه کول باعث لعنت او موجب حرمت دی . (المرقات ۵۰۸/۶)

## الْفَصْلُ الثَّانِي

| |
|---|
| ﴿۲﴾عَن أَبِي سعيدٍ الخدريِّ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په طریقې د رفع سره نقل کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| قَالَ فِي سَبَايَا أَوْطَاسٍ: «لَا تُوطَأُ حَامِلٌ |
| د اوطاس په غزا کې د ګېرو شووو ویښو باره کې وفرمایل چې حاملې ښځې سره ترهغې وخته پورې جماع مه کوئ |

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۱۰۶۵ رقم الحديث ۱۴۴۱.۱۳۹ وأبوداؤد في السنن ۲/۶۱۴ رقم الحديث ۲۱۵۶ والداري في ۲/۲۹۹ رقم الحديث ۲۴۷۸ وأحمد في المسند ۶/۴۴۶

حَقَّى تَضَعَ وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَقَّى

ترڅو چې دهغې څه پيدا شوې نه وي او غير حاملې سره هم ترهغه وخته پورې جماع مه کوئ ترڅو

تَحِيضَ حَيْضَةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ[1]

چې يې يو حيض رانشي. (روايت کړې دي احمد، ابوداؤد، دارمی)

﴿۲﴾ وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَوْمَ حُنَيْنٍ:

حضرت رويفع بن ثابت الانصاری وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حنين د غزا په ورځ وفرمايل

«لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

دا خبره صحيح نه ده دهغه چا دپاره چې کوم کس په الله او په قيامت باندې ايمان ساتي چې هغه د بل

أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ»

کس پتې په خپلو اوبو باندې سيراب کړي (يعنې هغه بڼځې سره جماع کول چې بطور وينزه په لاس ورغلې وي

يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى «وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ

او هغه د بل کس د نطفې نه حامله شوې وي، جائز نه ده) دا هم جائز نه ده دهغه دپاره چې کوم کس

يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ

په الله او آخرت باندې ايمان ساتي چې هغه د کافرانو نه په جنګ کې ګيرې شوې وينزو سره هغه وخته

مِنَ السَّبْيِ حَقَّى يَسْتَبْرِئَهَا وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ

پورې جماع وکړي ترڅو چې دهغې استبراء نه وي شوې دا هم تيک نه ده دهغه چا دپاره کو کس

يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا

چې په الله او د آخرت په ورځ باندې ايمان ساتي چې هغه مال غنيمت خرڅ کړي ترڅو چې هغه

حَقَّى يُقْسَمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

تقسيم شوی نه وي (يعنې په مال غنيمت کې څه قسمه خيانت ونه کړي). روايت کړې دي (ابو داؤد)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/٦١٤ رقم الحديث ۲۱۵۷ والدارمي في ۲/۲۲٤ رقم الحديث ۲۹۹۵ وأحمد في المسند ۳/٦۲

وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيّ إِلَى قَوْله «زرع غَيره»[1]

او امام ترمذی دا روایت د لفظ د زرع وغیره پورې نقل کړی دی.

## د استبراء رحم یوه مسئله

## الْفَصْل الثَّالِث

﴿۴﴾ عَن مَالِكٍ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت امام مالک رحمه الله وایي چې ماته دا حدیث رارسیدلی دی چې رسول کریم ﷺ

كَانَ يَأْمُرُ بِاسْتِبْرَاءِ الْإِمَاءِ بِحَيْضَةٍ

دیوې وینزې په یو حیض سره د استبراء حکم فرمایلی دی په شرط ددې چې هغې وینزې ته حیض راځي

إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ تَحِيضُ وَثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ

او که چیرې یوه وینزه داسې وه چې هغې ته حیض نه راتلو نو هغې دپاره ددریو میاشتو مودې پورې

إِنْ كَانَت مِمَّن لاتحيض وَينْهى عَن سقي مَاء الْغَيْر (اخرجه مالک)[2]

داستبراء حکم ورکولو او نبی کریم ﷺ منع کړې ده د خړوبولو د اوبو د غیر نه.

**توضیح: وثلاثة اشهر:** دې نه مخکې دا مسئله تیره شوې ده چې جمهورو د عامو روایاتو په نظر کې دوینزې داستبراء دپاره یو حیض حکم ورکړی دی که چیرې حیض نه راځي نو دیوې میاشتې حکم دی، خو ددې روایت مطابق د حیض نه راتلو په صورت کې یې ددریو میاشتو عدت تیرولو مسئله ښودلې ده په دې روایت باندې حضرت ابن شهاب زهری وغیرو عمل کړی دی، جمهور فرمایي چې په اصل کې کوم عدت مقرر شوی دی هغه یو حیض دی او ظاهره ده چې دیو حیض بدل یوه میاشت کیدل دي نه دریې میاشتې.

**عن سقي ماء الغير:** یعنې خپلې اوبه او نطفه د بل د نطفې سره مه شاملوئ مطلب داشو چې وینزې سره استبراء د رحم نه مخکې جماع نه کول پکار دي. (المرقات ۵۱۰/۶)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦١٥ رقم الحديث ٢١٥٨ والترمذي في ٣/٤٣٧ رقم الحديث ١١٣١ وأحمد في المسند ٤/١٠٨

(2) أخرجه مرقات المفاتيح ٦/٤٦٥ رقم الحديث ٣٣٤٠

## پیغلې وینزې دپاره د استبراء حکم

﴿۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّهُ قَالَ: إِذَا وُهِبَتْ الْوَلِيدَةُ الَّتِي تُوطَأُ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه وفرمایل چې کله داسې وینزه چې د هغې سره جماع کیدی شي

أَوْ بِيعَتْ أَوْ أُعْتِقَتْ فَلْتَسْتَبْرِئْ رَحِمَهَا بِحَيْضَةٍ

هبه کړی شي یا خرڅه کړی شي یا آزاده کړی شي هغه له پکار دي چې په یو حیض باندې خپل رحم پاک

وَلَا تُسْتَبْرَئُ الْعَذْرَاءُ. رَوَاهُمَا رزين[1]

کړی او د پیغلې دپاره د پاکولو ضرورت نشته. (دا دواړه روایتونه رزین نقل کړي دي)

**توضیح:** ولا تستبرئ العذراء: عذراء پیغلې جینۍ ته ویلی شي د حدیث شریف ظاهري مطلب دادی چې پیغلې جینۍ له د استبراء ضرورت نشته ځکه چې دا خبره متعین ده چې د هغې رحم د غیر د نطفې نه پاک دی په ې روایت باندې قاضی شریح وغیره عمل کړی دی، لیکن د جمهورو فقهاو مسلک هغه دی چې کوم مخکې لیکلی شوی دی چې د جنګ اوطاس د وینزو باره کې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان عام دی چې غیر حاملو دپاره یو حیض دی نو په دې کې پیغله هم راغله.

خلاصه داده چې باب استبراء کې د حضرت ابن عمر دا روایت نمبر ۵ او د حضرت امام مالک روایت نمبر ۴ متروک الظاهر او متروک العمل دي. (المرقات ۵۱۲/۶)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

---

[1] خرجه مرقاة المفاتيح ٦/٤٦٥ رقم الحديث ٣٣٤١

# بَاب النَّفَقَات وَحقّ المملوکِ
## عام نفقات او دغلامانو دحقونو بیان

قَالَ اللهُ تَعَالٰی: لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ۭ وَ مَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللهُ (طلاق: ۷)

قَالَ اللهُ تَعَالٰی: وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ (بقرة ۲۳۳)

قَالَ اللهُ تَعَالٰی: وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ (بنی اسرائیل: ۴۵)

انفاق او نفقه خرچ کولو ته ویلی شي (وما انفقتم من نفقةٍ) (بقرة: ۲۷۰) په ایت کې هم دخرچ ذکر دی، ملا علی قاری ددې شرعی او اصطلاحی تعریف داسې کړی دی (وفی الشرع الادرار علی الشخ بما به بقاءه) یعنې نفقه د هر هغه څیز نوم دی چې دهغې په وجه باندې زندګي بچ کیږي او باقي پاتې کیدو کې کار ورکوي، لکه روټی، کپړه او مکان، د وجوب نفقه اسباب مختلف کیدی شي مثلاً لکه د بنځې نفقه جدا ده، دمورپلار نفقه جدا ده، د بچو نفقه جدا ده دغلامانو نفقه جدا ده او کله دخپلو خپلوانو او مساکینو نفقه جدا واجب کیږی، په سړي باندې د بنځې نفقه په هغه وخت کې واجب کیږی کله چې بنځه خپل ځان خاوند ته حواله کړي خواه بنځه وړه وي که لویه مسلمانه وي که کتابیه وي او که بنځه نافرمانه وي نو دهغې نفقه په خاوند باندې لازم نه ده، بهتره داده چې بنځه او خاوند په مینه سره دې اوسیږي چې خاوند به یې کټې او بنځه به یې داحتیاط سره خرچ کوي که داسې ماحول نه وي او بنځې دقاضی په ذریعه خپلې د خرچې مطالبه وکړه نو قاضی به ورله خرچ مقرر کوي او بنځې ته به یې حواله کوي او خرچه به د خاوند دطاقت مطابق وي چې په نه دې پکې اسراف وي او نه څه تنګي، که چیرې بنځه په کومه غټه بیماری کې اخته وي نو داخرچه په خاوند نه ده بلکې په مورپلار باندې ده البته د وړو بیمارو خرچه په خاوند باندې ده او که چیرې یوه بنځه حج دپاره ځي نو د هغې خرچه په دې باندې ده په خاوند باندې نه ده. بنځې له کور ورکول چې جدا وي، که په مشترکه کور کې اوسیږی نو بیا ورله بیل کور ورکول واجب نه دي، که د خاوند په کور کې بنځې له بېله کوټه ورکړی شي چې هغه په دې کې خود مختاره وي نو د کور حق اداء شو او دا کافي ده. بنځه مورپلار کره په میاشت کې یو ځل تلی شی په دې کې خاوند هغه نشي منع کولی او نورو رشته دارو کره په کال کې یو ځل تلی شي په دې تلو راتلو کې یې خاوند منع کولی شي. که د عدت په ورځو کې بنځه مرتده شوه نو په خاوند باندې یې نفقه واجب نه ده او نه یې دنابالغه بچو نفقه دپلار په ذمه ده. (المرقات ۵۱۲/۶)

مورپلار او د اصولو یعنې دپلار، نیکه او نیا که محتاجه وي نو دهغوی خرچې په اولاد باندې واجب دي که اولاد یې مالي لحاظ سره بنه وي که هغوی په خپله محتاجه وي نو بیا واجب نه ده، محتاج پلار ته

دا حق حاصل دی چې هغه دخپل ځوی منقوله ځیزونه خرڅولې شي لیکن غیر منقول جائیداد یې نه شي خرڅولی البته مورته دا حق حاصل نه دی، په مالک باندې دخپل غلام او وینزې خرچ خوراک واجب او ضروري دی، که چیرې هغه انکار وکړي نو غلام بیا په خپله په ګټلو کې خود مختار دی، که چیرې څه ځناورې ساتلی وي نو دهغوی خوراک په هغه باندې واجب دی، که هغه ورباندې خرچ نه کوي نو هغه به په خرچ کولو باندې مجبورولی شي، یا خرچ کوه او دا حیوانات خرڅ کړه.

## الْفَصْل الأول

## ښځې ته دخپل خاوند دمال نه خرچ کولو حکم

﴿۱﴾عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ هندا بنت عتبة قَالَتْ: يَا رَسُول الله

ام المؤمنین حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې هند بنت عتبه عرض وکړو چې ای دالله رسوله!

إِن أَبَا سُفْيَان رجل شحيح وَلَيْسَ يعطيني

(زما خاوند) ابو سفیان ډیر شوم او لالچي دی ما له دومره خرچه نه راکوي چې زما اوزما دبچو د

مَا يَكْفِينِي وَوَلَدي إِلَّا مَا أخذت مِنْهُ وَهُوَ يعلم

ضرورت دپاره کافي شي که زه د هغه دمال نه دهغه داجازت نه بغیر څه واخلم چې هغه ته پته نه وي

فَقَالَ: «خذي مَا يَكْفِيك وولدك

او هغې سره زمونږه ضرورتونه پوره شي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: دخپل ځان او بچو دپاره چې د

بِالْمَعْرُوفِ» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

شریعت مطابق ویدهغه دمال نه یې اغستی شی. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: **بالمعروف**: یعنی ددستور مطابق واجبي ضرورتونو پوره کولو دپاره دخوراک څښاک ځیزونه اخستی شي، مطلب دادی شریعت چې څنګه اجازت کړی دی دهغې مطابق یې اخله، دخاوند دمال نه د اخستو نه مراد هغه مال دی چې دهغې تعلق دخوراک او څښاک ځیزونو سره وي، که د خاوند صریحي اجازت نه وي نو صرف دلالةً اجازت هم کافي دی دښځې دپاره، لیکن دټولو احادیثو نه دا معلومیږي چې دیو معمولي غوندې ځیز هم بغیر د اجازت نه استعمالول جائز نه دي، او بعضې احادیثو نه معلومیږي چې استعمالول جائز دي، د احادیثو نه پته لګي چې اجازت اغستل بهتر دي، ځکه چې بعضې معمولي ځیز هم

---

(۱) أخرجه البخاری في ۹/۵۰۷ رقم الحدیث ۵۳٦٤ ومسلم في ۳/۱۳۳۸ رقم الحدیث (۱۷۱٤.۷) وأبوداؤد في السنن ۳/۸۰۲ رقم الحدیث ۲۲۵۹ وابن ماجه في ۲/۷٦۹ رقم الحدیث ۲۲۹۳.

دخاوند دپاره ډیر اهم وي. بعضې ځیزونه دعلاقې دحالاتو مطابق اهمیت لري لکه دیخنی په موسم کې دغر دپاسه دماچس تیلی هم ډیر قیمتي وي، بعضې خاوندان دسخت طبیعت مالکان وي او په وړه خبره ورله غوسه ورځي، او بعضې صبرناک وي نو بهتره داده چې دخاوند نه د اجازت اخستلو نه پس هغه ځیز استعمال شي.

ددې مسئلې تفصیل په مشکوة شریف کې په جلد اول صفحه نمبر ۱۷۲ (باب صدقة المراة من مال الزوج) کې تیرشوی دی. هلته یې وګورئ: علامه نووی رحمه الله ددې حدیث یو څو فائدې بیان کړې دي. ۱. په سړې باندې دښځې او بچو نفقه واجب ده. ۲. دضرورت مطابق واجب ده. ۳. دفتوی په وخت کې پردی ښځې سره خبرې کول جائز دي. ۴. دمسئلې تپوس کولو په وخت کې دکس عیب ظاهرول جائز دي. ۵. دخاوند په شان ښځه هم دبچو دخرچ ذمه داره ده. ۶. دځه ضرورت یا شرعي کار دپاره ښځه درالافتاء ته تلی شي کله چې د خاوند صراحةً یا دلالةً اجازت وي. ۷. قاضی یا حاکم دیوې معاملې حکم جاري کولی شي دګواه نه بغیر، خو چې معلومات یې درست وي. (المرقات : ۵۱۳/۶)

## په اسلام کې دغلامانو سره دحسن سلوک کولو حکم

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِذَا أَعْطَى اللهُ |
| حضرت جابر بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله الله تعالی په |
| أَحَدَكُم خيرا فليبدأ بِنَفسِهِ |
| تاسو کې چاله مال اودولت ورکړي نو هغه له پکار دي چې وړومبی په خپل ځان او بیا په خپل |
| وَأَهل بَيته». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1] |
| اهل اوعیال باندې خرچ کوي (مسلم) |
| ﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «للمملوك |
| حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغلام باره کې وفرمایل چې دهغه د |
| طَعَامه وَكسوته وَلَا يُكَلف من الْعَمَل إِلَّا |
| روټی او کپړې ذمه داري دهغه په مالک باندې ده او دا دې دهغه نه هغومره کار اخلي چې څومره |

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۴۵۳ رقم الحدیث (۱۸۴۲.۱۰)

مَا يُطِيقُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دهغه طاقت وي (مسلم)

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِخْوَانُكُمْ

حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې غلامان ستاسو وروڼه دي

جَعَلَهُمُ اللهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ

(او ديني اعتبار سره ستاسو په شان دي) هغوی هم الله تعالى (ستاسو ازميښت دپاره) ستاسو ماتحت كړي دي

فَمَنْ جَعَلَ اللهُ أَخَاهُ تَحْتَ يَدَيْهِ

لهذا الله تعالى چې كوم كس د ورور ماتحت جوړ كړي (يعنى چې ديو مالک غلام جوړ شي)

فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ

نو هغه له پكار دي چې هغه چې څه شى پخپله خوري نو په هغه باندې هم هغه څه خوري، څنګه چې

وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ

اغوندي هم هغسې دې هغه ته اغوندوي دهغه نه دې داسې كار نه اخلي چې دهغه دطاقت مناسب نه وي

مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ» (صَحِيحٌ)[2]

كه داسې كار ترې واخلى چې دهغه دطاقت نه بهر وي نو په كار ده ته چې هغه هم ورسره مدد وكړي.

﴿٥﴾ وَعَنْ عبد الله بن عَمْرٍو جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ:

دحضرت عبدالله بن عمرو باره كې منقول دي چې (يوه ورځ) هغه ته دهغه كارنده راغى هغه ترې تپوس وكړو

أَعْطَيْتَ الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ؟ قَالَ: لَا قَالَ:

چې تا خپلو غلامانو او وينزو له خوراک ورکړى دى؟ هغه وويل چې نه. هغه ورته وفرمايل چې

فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

واپس لاړ شه او هغوی له خوراک ورکړه، ځكه چې ما د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي

---

[1] أخرجه مسلم ٣/١٢٨٤ رقم الحديث (١٦٦٢.٤١) ومالك في المؤطأ ٢/٩٨٠ رقم الحديث ٤٠ من كتاب الاستيذان. وأحمد ٢/٢٤٧

[2] أخرجه البخارى في صحيحه ١٠/٤٦٥ رقم الحديث ٦٠٥٠ ومسلم في ٣/١٢٨٢ رقم الحديث (١٦٦١.٣٨) وأبوداؤد في السنن ٥/٣٦٠ رقم الحديث ٥١٥٧ والترمذي ٤/٢٩٤ رقم الحديث ١٩٤٥ وأحمد في المسند ٥/١٦١

«كَفَى بِالرَّجُلِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ». وَفِي رِوَايَةٍ:

چې دسړي دګناه دپاره دومره کافي ده چه هغه خپل مملوک له خوراک ورنه کړي. او بل روایت کې

«كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ

داسې الفاظ دي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دسړی دګناه دپاره دا بس ده چه د چا روزي دهغه

يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]

لاس کې ده (یعنې اهل اوعیال او غلامان او وینځې) او دهغوی روزی ضائع کړي. (مسلم)

**توضيح**: دلته د (قهرمان) نه مراد وکیل او کارنده دی (المرقات: ۵۱۴/۶)

(قوت) روزی ته وئیل شي. (المرقات: ۵۱۴/۶) (يضيع) ضائع کولو ته ویلی شي (المرقات: ۵۱۴/۶)

(من يقوت) ای قوت من يقوت یعنې دچا په ذمه چې دچا روزي وي هغه ضائع کول. (المرقات: ۵۱۴/۶)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَنَعَ لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایلکله چې په تاسو کې دچا خادم

طَعَامَهُ ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ

دهغه دپاره خوراک تیار کړي اوبیا هغه خوراک هغه ته راوړی شي نو دکوم خوراک د تیارولو دپاره

وَلِيَ حره ودخانه

چې هغه ګرمي او غرمه او لوګی برداشت کړی وي دهغې تقاضا داده چې مالک هغه غلام دځان سره کینوي

فليقعده مَعَه فَلْيَأْكُل وَإِن كَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوهًا قَلِيلًا

(او دهغه سره خوراک وخوري) اوکه خوراک لږ غوندې وي او خوړونکي ډیر وي نود هغه خوراک

فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

نه دي یوه یا دوه مړۍ د غلام په لاس کې کیږدي (مسلم)

---

(1) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۶۹۲ رقم الحديث (۹۹۶.۴۰) وأبوداؤد في السنن ۲/۳۲۱ رقم الحديث ۱۶۹۲ وأحمدفي المسند۲/۱۹۳

(2) أخرجه البخاري في صحيحه ۹/۵۸۱ رقم الحديث ۵۴۶۰ ومسلم في ۳/۱۲۸۴ رقم الحديث (۱۶۶۳.۴۲) وأبوداؤد في السنن ۴/۱۸۵ رقم الحديث ۳۸۴۶ والترمذي ۴/۲۵۲ رقم الحديث ۱۸۵۳ والداري في ۲/۱۴۶ رقم الحديث ۲۰۷۴ وأحمدفي المسند ۲/۴۰۹.

دمشفوها تفسیر په قلیلاً سره شوی دی

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل کله چې

قَالَ: «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ

یو غلام دخپل مالک خیر خواهي کوي (یعني دهغه دزړه نه خدمت کوي) او بیا دالله عبادت هم

اللهِ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

په ښې طریقې سره کوي نو هغه ته دوچند ثواب ملاویږی. (بخاری و مسلم)

﴿۸﴾ وعَنْ أَبِي هريرةَ رضي الله عنهُ قال قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: لعمالِ المملوكِ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي دیو غلام دپاره دوه ډبنه

أَن يتوفاهُ اللهُ بحُسنِ عبادةِ ربه

کومه خبره کیدلې شي چې هغه دخپل مالک بهترین خدمت وکړي او دخپل رب ښه عبادت وکړي، چې خپل ځان آفرین

و طاعةِ سيدِهِ نعماله) متفق عليه.[2]

ته حواله کړي (یعني دخپل مالک حقیقي اطاعت، عبادت، او دمالک مجازي فرمان منلو کښ تیره کړی)

## غلامانو سره غیر اخلاقي حرکات کول نه دي پکار

﴿۹﴾ وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت جریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې کله یو غلام وتښتي نو دهغه

«إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ». وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ:

یو مونځ هم نه قبلیږی. په یو روایت کې دحضرت جریر نه دا الفاظ هم نقل دي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل

«أَيُّمَا عبد أبق فقد بَرِئت مِنْهُ الذِّمَّةُ». وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ

چې کوم غلام وتښتیده نو دهغه ذمه ختمه شوه. او په یو بل روایت کې دحضرت جریر نه داسې الفاظ

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۵/۱۷۵ رقم الحديث ۲۵٤٦ ومسلم في ۳/۱۲۸٤ رقم الحديث (۱٦٦٤.٤۳) وأبوداؤد في السنن ۵/۳٦۵ رقم الحديث ۵۱٦۹ ومالک في المؤطأ ۲/۹۸۱ رقم الحديث ٤۳ وأحمد في المسند ۲/۱۰۲

(۲) أخرجه البخاری في صحيحه ۵/۱۷۵ رقم الحديث ۲۵٤۹ ومسلم في ۳/۲۸۵ رقم الحديث (٦٦٧.٤٦) وأحمد في المسند ۲/۲۷۰

| |
|---|
| قَالَ: «أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ |
| نقل دي چې (نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل) چې کوم غلام دخپلو مالکانو نه وتښتيده نو هغه کافر شو |
| حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِم». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| تر څو چه واپس رانشي. (روايت کړې دې مسلم او بخاری) |

**توضيح: فقد برئت منه الذمة**: مطلب دادی چې کوم غلام دخپل مالک نه وتښتيده او مرتد شو او دار حرب ته لاړو نو اسلام خو دهغه د ځان اومال او د عزت حفاظت ورکړی وونو اوس هغه پاتې نه شو، او کوم ځای کې چې هغه غلام ملاو شي نو هغه به واجب القتل وي. دذمې د ختميدو مطلب دادی چې د اسلامي قانون مطابق دهغه د مال او ځان د حفاظت چې کومه معاهده شوې وه اوس هغه پاتې نشوه او چونکه دا غلام مرتد شو نو دهغه مونږ هم اوس قبول نه دی، او که هغه غلام مرتد شوی هم نه وي او صُرف دخپل مالک نه تښتدلی وي او ميدان جنګ ته هم نه وي تلی او يو اسلامي ملک ته تلی وي نو قتل ئې جائز نه دی نو په دې وخت کې (**فقد برئت منه الذمة**) مطلب به يې دا وي چې دمالک په ذمه چې دده کوم خرچ خوارک وو او جنايت برداشت کول وو هغه به اوس نه وي.

دويم جواب دا شو که دمسلمان غلام د وژلو خبره وي نو دا تشديداً تغليظاً زجراً او تهديداً ده (**فقد كفر**) ددې جملې مطلب دا دی چې که غلام دا تښتيدل جائز او حلال ګڼي نو په دې هغه کافر شو، يا فقد کفر نه مراد ناشکري ده چې هغه دخپل مالک ناشکری وکړه.

دريمه توجيه داده چې دا جمله يې هم تشديداً تغليظاً فرمايلې ده. (المرقات: ۵۱۹/۶)

## په غلام باندې دزنا تور لګول جرم دی

| |
|---|
| ﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: |
| حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ابو القاسم (نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نه ما اوريدلی دي چې فرمايل يې |
| «مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ وَهُوَ بَرِيءٌ مِمَّا |
| چې کوم کس په خپل غلام باندې دزنا تهمت ولګوي او په حقيقت کې هغه ددې خبرې نه پاک وي نو |
| قَالَ جُلِدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ |
| دقيامت په ورځ به دغې کس له کروړې ورکولی شي او که دغه غلام په حقيقت کې داسې نه وي چې |

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۸۳ رقم الحديث (۱۲۱/۷۰) والنسائي في السنن ۷/۱۰۲ رقم الحديث ۴۰۴۹ وأحمد في المسند ۴/۳۶۵

| |
|---|
| إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ» متفق عليه (صَحِيح)[1] |
| څنګه دهغه باره کې ويلی شوی وو .نو بيا به هغه مالک ته کروړې نه شي ورکولی. (بخاری ومسلم) |

**توضيح**:په دې حديث کې يې په غلام باندې دروغو تور لګول جرم ګرځولی دی او دا ګناه کار دی او په قيامت کې د دې سزا کروړې ورکول دي دې نه اندازه کيږي چې په دې دنيا کې دتور لګولو په وجه مالک ته کروړې ورکولو سزا نشته يعني حد قذف به نه لګي خو په شرعی عدالت کې پرې تعزيري حکم لګيدی شي. (المرقات : ۵۱۹/۶)

| |
|---|
| ﴿۱۱﴾وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: |
| حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما درسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلې دي فرمايل يې چې څوک |
| «مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ أَوْ لَطَمَهُ |
| خپل غلام له داسې سزا ورکړي چې دهغه څه جرم نه وي (يعنی بې ګناه وي) يا سپېره ورکړي نو |
| فَإِنَّ كَفَّارَتَه أَن يعتقهُ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[2] |
| دهغې کفاره داده چې هغه غلام آزاد کړي. (مسلم) |
| ﴿۱۲﴾وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي |
| حضرت ابو مسعود انصاری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې (يوه ورځ) ما خپل غلام وهه نو ما خپل شانه دا آواز |
| صَوْتًا: «اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لله أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ |
| واوريده ابو مسعود ! ياد ساته الله تعالی په تا باندې د دې نه زيات طاقت لري څومره چې ته په دې |
| عَلَيْهِ» فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ |
| غلام باندې لرې چې کله م روستو وکتل نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو ، ما عرض وکړه ای دالله رسوله ! |
| هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ فَقَالَ: |
| (ماته په دې خپل کار باندې پښيمانتيا ده اوس) زه دا دالله تعالی په لاره کې آزاد وم نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل |

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۱۲/۱۸۵ رقم الحديث ۶۸۵۸ ومسلم في ۳/۱۲۸۲ رقم الحديث (۱۶۶۰،۳۷) وأبوداؤد في السنن ۵/۳۶۳ رقم الحديث ۳۱۶۵ والترمذي في ۴/۲۹۵ رقم الحديث ۱۹۴۸ وأحمد في المسند ۲/۵۰۰

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۷۹ رقم الحديث (۱۶۵۷،۳۰) وأحمد في المسند ۲/۶۱

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| «أَمَا | لَوْ | لَمْ | تَفْعَلْ | لَلَفَحَتْكَ | النَّارُ |

چې یاد ساته! که چیرې تا دا غلام نه وی آزاد کړی نو ته به د دوزخ اور سوزولې. یایې وفرمایل چې

لَمَسَّتْكَ النَّارُ». رَوَاهُ مُسلم[1]

تا پورې به د دوزخ اور لګیدلی وو. (مسلم)

**توضیح:** **لله**: لام ابتدائیه تاکیدیه دی او دا مبتدا ده او **(اقدر)** د دې خبر دی او **(علیک)** جار مجرور د اقدر سره متعلق دی او **(منک)** د اقدر اسم تفضیل دپاره مفضل علیه دی او (علیه) جار مجرور د **(علیک)** د کاف خطاب نه حال واقع دی عبارت داسې دی. **(اي الله اقدر منک حال کونک قادراعلیه)** لفح د فتح یفتح نه دی چې دا په اور باندې د سوزیدلو په معنی سره دی "او" شک دپاره دی **(لمستک)** د نیولو په معنی سره دی یعنې که ته خپل غلام په ظلم سره وهې او معاف کوې یې نه نو د دې ظلم په وجه به ته په اور سوزولی شې، علامه نووی فرمائي چې په دې حدیث کې غلامانو سره د نرمی سلوک کولو حکم راغلی دی او دامت په دې باندې اتفاق دی چې غلام د وهلو په وجه آزاد ول واجب نه دی، مستحب او ښه داده چې هغه آزاد کړې دښه مخکې چې کوم حدیث تیر شوی دی چې په هغې کې د کفارې لفظ موجود دی چې د وهلو، ګناه او د ظلم اثرات ختمولو کفاره د غلام آزادول دي، دا ټول استحبابي امور دي او غلامانو سره د ښه سلوک ترغیب ورکړی شوی دی او دا د اسلام یو لوی شان دی ځکه چې اسلام د مالک نه د غلام دپاره انصاف اخستی دی چې د دنیا په یو قانون کې نشي موندلی او نه د دنیا هیڅ یو قانون داسې نمونه پیش کولی شي. اسلام د الله تعالی نه بعضې باغي مخلوق د غلامی طوق اچولی دی، او الله تعالی دا حکم ورکړی دی چې زما دا بنده زما د بندګۍ نه مخ ګرځوي، دې وجې نه دا به زما د غلامانو غلام وي، مګر د دې سزا باوجود د الله تعالی دې آفاقي دین اسلام هغو غلامانو ته هغه حقونه ورکړي دي کوم چې هیڅا نه دي ورکړي، یو طرف ته الله تعالی غلامانو ته د اطاعت حکم کړی دی او بل طرف ته یې آقاو ته د نرمی درس ورکړی دی کوم چې ټولې دنیا لپاره د حقوقو ورکولو نمونه ده. (المرقات: ۵۱۹/۶، الکاشف: ۴۲۴/۴)

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۸۱ رقم الحديث (۱۶۵۹.۳۵) وأبوداؤد في السنن ۵/۳۶۱ رقم الحديث ۵۱۵۹ والترمذي في السنن ۴/۲۹۶ رقم الحديث ۱۹۴۸

## د اولاد په ګټه کې د پلار حق دی

### اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۳﴾عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ رَجُلًا

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کړي دیچې (یوه ورځ) یو کس د

أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ لِي مَالًا وَإِنَّ وَالِدِي

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض ئې وکړو چې زه مالداره یم او زما پلار

يَحْتَاجُ إِلَى مَالِي قَالَ: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ

ماته محتاجه دی نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې ته او ستا مال دواړه ستا د پلار د پاره دي ځکه

إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ كُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةَ[1]

چې ستاسو اولاد ستاسو بهتره ګټه ده لهذا د خپل اولاد د ګټې نه خورئ. (ابو داؤد، نسائی، ابن ماجه)

**توضیح**: په دې حدیث کې د مور او پلار د حقونو بیان دی مطلب دا دی چې څنګه په اولاد باندې د پلار اطاعت او خدمت لازم دی همداسې د اولاد په مال کې هم پلار ته دلګولو حق حاصل دی ګویا دا حدیث د دې خبرې دلیل دی چې د پلار خرچه په ځوی باندې واجب ده د دې حدیث په رڼا کې دا مسئله هم بیانولی شي چې که چیرې پلار د ځوی مال پټ کړو یا د هغه خادمې سره یې زنا وکړه نو په ده باندې شرعی حد نه جاری کیږي ځکه چې دلته د ملکیت شبهه پیدا شوه، اولاد چونکه د پلار د محنت نتیجه ده په دې وجه اولادیې د پلار ګټه ښودلې ده او د اولاد ګټه یې د پلار د پاره بهترینه حلاله ګټه ښودلې ده او په دې باندې ئې د پلار حق ثابت کړی دی. (المرقات: ۴۲۲/۶، ۴۲۱)

## په تربیت کولو کې د یتیم د مال حکم

﴿۱۴﴾وَعَنْهُ وَعَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ: أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې (یوه ورځ) د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ: إِنِّي فَقِيرٌ لَيْسَ لِي شَيْءٌ

په خدمت کې یو کس حاضر شو او عرض یې وکړو چې زه ډیر غریب سړی یم او ما سره څه هم نشته او زما په

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۸۰۲ رقم الحديث ۳۵۳۰ وابن ماجه في ۲/۷۶۹ رقم الحديث ۲۲۹۲، وأحمد في المسند ۲/۲۱۴

| | | |
|---|---|---|
| وَلِي | يَتِيمٌ | فَقَالَ: |
| نګرانی کې یو یتیم هم دی (نوایا زه دهغه دمال نه خوړلی شم؟) نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل چې ستا په | | |
| «كُلْ | مِنْ مَالِ | يَتِيمِكَ غَيْرَ مُسْرِفٍ |
| نګرانی کې چې کوم یتیم دی نو ته د هغه د مال نه خوړلی شي خو شرط دادی چې فضول خرچی په | | |
| وَلَا مُبَادِرٍ وَلَا مُتَأَثِّلٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1] | | |
| کې نه وي او ځان دپاره جمع کول نه وي. (ابو داؤد، نسائی، ابن ماجه) | | |

**توضیح**: **اني فقیر**: یعنی دیتیم ماشوم مال دی او هغه زما په تربیت کې دی او غریب او محتاج یم نو زه دهغه یتیم دمال نه خوړلی شم؟ پیغمبر علیه السلام دیتیم دسرپرست او فقیر مولی ته دیتیم دمال نه دضرورت او حاجت په وخت کې دځه اخستو اجازت ورکړو خو په دې کې یې دري شرطونه وفرمایل: ۱.چه داسراف شبه په کې نه وي، دې ته په غیر مسرفٍ سره اشاره ده.۲.انتهائي دضرورت او حاجت په وخت کې ځه اخستل، او دیتیم دبلوغت نه مخکې دهغه مال هضم کول مقصود نه دی، دې شرط ته په (غیر مبادر) سره اشاره شوې ده ځکه چې بادر یبادر مبادرةً فهو مبادر د جلتی کولو په معنی سره دی. ۳.دتربیت کولو په دوهو کو او بهانو سره دیتیم مال ذخیره کول مقصود نه دی، دې ته شرط ته په (**غیر متأثل**) سره اشاره ده .تأثل د ذخیره کولو په طور باندې جمع کولو ته ویلی شي. (المرقات : ۴۲۴/۶)

## امت ته دنبی کریم صلی الله علیه وسلم پیغام

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۵﴾ وَعَنْ | أُمِّ | سَلَمَةَ | عَنِ النَّبِيِّ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | أَنَّهُ كَانَ |
| حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دنبی کریم نه نقل کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل د مرض الموت په وخت | | | | | | | |
| يَقُولُ | فِي | مَرَضِهِ: | «الصَّلَاةَ | وَمَا | مَلَكَتْ | | |
| کې فرمائیل چې مونځ قائم ساتئ او چې کوم خلق ستاسو په ملکیت کې دي لکه (غلامان او وینځې) | | | | | | | |

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۲۹۲ رقم الحديث ۲۸۷۲ والنسائي في ٦/٢٥٦ رقم الحديث ٣٦٦٨ وابن ماجه في ۲/۹۰۷ رقم الحديث ٣٦٦٨ وابن ماجه في ۲/۹۰۷ رقم الحديث ۲۷۱۸

أَيْمَانُكُمْ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[1] وَرَوَى أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ[2]

دهغوی حقونه ادا کوئ. (بیهقی) او احمد او ابوداؤد داسې روایت د حضرت علي نه نقل کړی دی.

**توضیح**: الصلوة: دا لفظ منصوب دی د دې فعل (الزموا) محذوف دی یعنی مونځ قائم ساتئ او د دې حقوق پوره کوئ (وما ملكت ايمانكم) یعنې په ماتحتو باندې ظلم مه کوئ او دهغوی حقونه اداء کوئ د غلامانو او وینزو حق دادی چې دهغه مالک هغوی ته خوراک ورکوي او د طاقت مطابق ورله کپړې ورکوي او ناحقه باندې وهل او کنځلو کولو نه دې ځان ساتي. دلته که د دې جملې لږ نور هم وضاحت وشي چې په ماتحتو کې ټول نوکران، د حاکم رعایا او د کور اهل او عیال تردې چې ساتلی شوې ځناور او پرندې ټول داخل دي او اسلام د دې ټولو اقسامو د حقونو صفا اعلان کړی دی، دا حدیث د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت د امت په نامه یو پیغام دی، دې نه پس پیغمبر علیه السلام د امت باره کې یو لفظ هم ارشاد ونه فرمایلو بلکې (اللّٰهم الرفيق الاعلى) يې وفرمائيل او دنیا نه رخصت شو په دې دوه جملو کې حضور اکرم ﷺ حقوق الله او حقوق العباد دواړه جمع کړل په ورومبنۍ جمله د الصلوة سره يې حقوق الله طرف ته اشاره وکړه او په دویمه کې حقوق العباد و طرف ته اشاره ده، د حضور اکرم ﷺ نوم اخستونکو مسلمانانو له پکار دي چې د نبی کریم ﷺ په دې مبارک فرمان باندې عمل وکړي. دنیا فاني ده دلته چې څه دي هغه تلونکي او راتلونکي دي، داد دوکې ټټۍ ده صرف زمونږ په سترګو د غفلت پټی دي:

فسوف ترى إذا انكشف الغبار ۔۔۔ افرس تحت رجلك أم حمار

## دغلامانو د حقونو پوره کولو تاکید

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ الله عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه نقل کوي چې نبی ﷺ وفرمایل چې غلام

«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْن مَاجَه

یا وینځې سره د بد سلوکی کولو والا به جنت ته نه داخلیږي. (ترمذی، ابن ماجه)[3]

**توضیح**: سئ الملكة: ملكه طبیعت او اخلاق او مزاج ته ویلی شي یعنې مثلاً چې یو آقا او مالک

---

(1) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٣٦٩ رقم الحديث ٨٥٥٣

(2) أخرجه ابن ماجه في السنن ١/٥١٩ رقم الحديث ١٦٢٥ وأحمد في المسند ٦/٤٩٠ وأحمد في المسند ٦/٤٩٠

(3) أخرجه الترمذي في السنن ٤/٢٩٥ رقم الحديث ١٩٤٦ وابن ماجه في ٢/١٢١٧ رقم الحديث ٣٦٩١ وأحمد في المسند ١/٤

دی دهغه یو غلام دی هغه مالک د هغه غلام په حق کې ظلم او زیاتی کوي او بد اخلاقي ورسره کوي. دې حدیث نه پس حدیث نمبر ۱۷ کې د ملکې اخلاق او طبیعت په معنی سره استعمال شوی دی او علامه طیبی هم د ملکة نه د نبو اخلاقو معنی اخستې ده، لیکن نهایه د ابن اثیر کې دي ملکه صنیع یعني د معاملې او سلوک په معنی سره دی، د دواړو معنی قریب ده.

لا یدخل الجنة: دې نه مراد دخول اولي دی یعني سزا تیرولونه به پس جنت ځي، دا د تغلیظ او تشدید د اصولو مطابق دی. (المرقات : ۴۲۴/۶، الکاشف ۴۲۸/۶)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ مَكِيثٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «حُسْنُ الْمَلَكَةِ

حضرت رافع بن مکیث نقل کوي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې خپل مملوک سره د حسن سلوک ښه ګړه

يُمْنٌ وَسُوءُ الْخُلُقِ شُؤْمٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

دخیر او برکت باعث جوړیږي او خپل مملو سره بد سلوکي کول دبې برکتی باعث وي. (ابو داؤد)

وَلَمْ أَرَ فِي غَيْرِ الْمَصَابِيحِ مَا زَادَ عَلَيْهِ فِيهِ مِنْ قَوْلِهِ:

او د چې ما د مصابیح نه علاوه بل کتاب کې هغه لفظ نه دی لیدلی کوم چې صاحب مصابیح په دې حدیث کې نقل کړی دی

«وَالصَّدَقَةُ تَمْنَعُ مِيتَةَ السُّوءِ

(او هغه اضافي الفاظ دادي) چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا هم فرمائیلي دي چې صدقه او خیرات خراب مرګ نه ښځ

وَالْبِرُّ زِيَادَةٌ فِي الْعُمُرِ»[1]

کول کوي او نیکي عمر زیاتوي.

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا ضَرَبَ

حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل (مثلاً) که په تاسو کې

أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ فَذَكَرَ اللهَ

څوک خپل غلام وهي او هغه الله یاد کړي (یعنی داسې ووایي چې دالله په خاطر مې معاف کړه)

فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ

نو ته (دوهلو نه خپل لاس ودروه. دا روایت ترمذی نقل کړی دی او شعب الایمان کې د بیهقی په روایت کې

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۳۶۱ رقم الحديث ۵۱۶۲ وأحمد في المسند.

لَكِنْ عِنْدَهُ «فَلْيُمْسِكْ» بدل «فارفعوا أَيْدِيكُم» (حسن)[1]

"فارفعوا ايدكم" په ځای فليمسک نقل دی او ددواړو لفظونو يو مطلب دی.

## کم عمره غلامان دخپلو سرپرستونه مه جدا کوئ

﴿۱۹﴾ وَعَن أَبِي أَيُّوبَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ

حضرت ابو ايوب وائي چې ما درسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اريدلي دي فرمايل يې چې کوم کس د

فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا فَرَّقَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَحِبَّتِهِ

مور او ځوی ترمينځه جدائي راولي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى دهغه او د هغه د خپلوانو

يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ والدارمي (ضَعِيفٌ)[2]

(عزيزانو) په مينځ کې جدائي راوالي. (ترمذی، دارمی)

**توضيح:** من فرق: يعنې د وينځې او دهغې دځوی په مينځ کې جدائي راولي په دې حديث کې (والدة) نه مراد وينځه ده (ولد) نه مراد يې ماشوم دی، کوم دې چې پخپله هم غلام دی د دوی په مينځ کې د جدائي راوستلو مطلب دادی چې چې وينځه يې خرڅه کړه يا چاته يې هبه کړه او دڅه روغې په صورت کې يې بيله کړه او ماشوم يې پاتې شو په دې باندې به هغه کم عمره ماشوم ته څومره تکليف وي او مور به يې څومره پريشانه وي دا هغه خلق محسوسولی شي چې په چا چې دا مصيبت راشي، اسلام داسې تکليف رسونکي صورت نه په سختۍ سره منع کړې ده په دې حديث کې دماشوم په قيد سره يې غټان ددې حکم نه خارج کړل، لهذا دا وعيد ونه نابالغه ماشوم سره خاص دي، او د مور او ځوی ذکر يې بطور مثال ورکړی دی مراد ترې نه نابالغه ماشوم د هغه د ذي رحم محرم نه جدا کول دي، خواه مور وي، پلار وي، نيانيکه وي، ورور خور وي، ټول ترې نه مراد دي. ائمه احنافو کې د امام ابو يوسف په نزد باندې بالکل ناجائز دی مګر د طرفينو په نزد مکروه تحريمی دی، د اسلام دين رحمت دی او قانون د شفقت دی، دې د غلامانو دومره خيال ساتلی دی نود نورو نيک خلقو به په کې څومره مقام وی، نن سبا د دنيا خلق د بين الاقوامي قوانينو ډنډوره کوي او د جينوا د کنوينشن د دفعات زوراو شور سره پرچار کوي، کله چې هلته دبنائسته الفاظولين لګيدلی وي او دهغه جوړونکي

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٤/٢٩٧ رقم الحديث ١٩٥٠.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ٣/٥٨٠ رقم الحديث ١٢٨٣ والدارمي في ٢/٢٩٩ رقم الحديث ٢٤٧٩ وأحمد في المسند ٥/٤١٣.

په هغه باندې د عمل کولو والا نه دي، او نه وربانديې عمل کيږي، ليکن اسلام د غلامانو او د نورو انسانانو حقوق د ايمان او عمل جزء جوړ کړی دی، د افسوس خبره ده چې نن سبا د دنيا خلکو فطرت او فطري قوانين د نظره غورځولي دي، او مصنوعي او د ځان نه جوړ شوې قوانينو پسې روان دي، او مسلمان د شريعت په ځای د هغو ګمراهانو تقليد کوي. (المرقات : ۴۲۸/۶)

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: وَهَبَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلامين أَخَوَيْنِ

حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماله دوه غلامان راکړل چې هغوی خپلو کې ورونه وو

فَبعتُ أَحدهمَا فَقَالَ لِي رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَلِيُّ مَا فَعَلَ غُلَامُكَ؟»

بيا ما په هغوی کې يو خرڅ کړو نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانه تپوس وکړو چې علي! ستا يو غلام څه شو؟

فَأَخْبَرْتُهُ. فَقَالَ: «رُدَّهُ رُدَّهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه[1]

ما نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته وويل (چې يو غلام ما خرڅ کړو) نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل چې هغه راواپس کړه، هغه راواپس کړه.

﴿۲۱﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَوَلَدِهَا فَنَهَاهُ

حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې نقل دي چې (يو ځلي) هغوی يوه وينځه او دهغې ځوی ديوبل نه جدا کړل منع وفرمايله

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ فردَّ البَيعَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد مُنْقَطِعًا[2]

نبی عَلَيْهِ السَّلَام دده نه، هغه (يعنی حضرت علی) دا بيع فسخ کړه. ابو داؤد دا روايت بطريق انقطاع نقل کړی دی.

## غلام سره د احسان کولو اجر

﴿۲۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ

حضرت جابر د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړي دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل چې په کوم کس کې دا درې خبرې وي

يَسَّرَ اللهُ حَتْفَهُ وَأَدْخَلَهُ جَنَّتَهُ:

الله تعالی به په هغه مرګ اسان کړي او جنت کې به يې داخل کړي. ۱. کمزورو او ضعيفانو سره نرمي کول

رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ وَشَفَقَةٌ عَلَى الْوَالِدَيْنِ وَإِحْسَانٌ إِلَى الْمَمْلُوكِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

۲. په مور پلار باندې شفقت کول ۳. د خپل مملوک سره احسان کول. دا روايت امام ترمذی نقل کړی دی

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۵۸ رقم الحديث ۱۲۸۱ وابن ماجه في ۲/۷۵۵ رقم الحديث ۲۲۴۹ وأحمد في المسند ۱/۹۷

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۱۴۴ رقم الحديث ۲۶۹۶.

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]

او وئیلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

## دمونځ ګزار د وهلو ممانعت

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم وَهَبَ لِعَلِيٍّ غُلَامًا

حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علی له یو غلام ورکړو او حکم

فَقَالَ: «لَا تَضْرِبْهُ فَإِنِّي نُهِيتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ

یې ورکړو چې دا به غیر شرعی طور باندې نه وهي ځکه (زما د رب له طرفه) زه یې دمونځ ګزارو دوهلو نه منع کړی یم

وَقَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّي». هَذَا لفظ المصابيح[2]

او ما دا غلام په مونځ کولو لیدلی دی. دا الفاظ (په مشکوة کې مذکور دي) دا لفظ د مصابیح دی

وَفِي «الْمُجْتَبَى» لِلدَّارَقُطْنِيِّ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:

او د دار قطنی په تصنیف مجتبی کې منقول دي چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائیل

نَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ضَرْبِ الْمُصَلِّينَ (أخرجه الدارقطني).[3]

چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږه د مونځ ګزارو دوهلو نه منع کړي یو. (دارقطني)

**توضیح**: لاتضربه: یعني شرعی جواز نه بغیر غلام مه وهه ځکه چې دا مونځګزار دی، دې حدیث نه دمونځ ګزار دعزت او عظمت او دهغه فضیلت دالله تعالی په نزد په نورو مخلوقاتو باندې واضح دې او دمزې خبره داده چې حضور اکرم فرمایې چې زه خپل رب دمونځ ګزارد وهلو نه منع کړی یم، علامه طیبی فرمایې چې کله الله تعالی په دنیا کې مونځ ګزار دوهلو نه منع فرمایلي ده نو دهغه د لوی احسان او کرم نه امید ساتو چې د قیامت په ورځ به هغه مونځ ګذار په عذاب کې اخته او ذلیل او رسوا کوي نه. (المرقات: ۵۳۰/۶)

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٤/٥٦٦ رقم الحديث ٢٤٩٤

(۲) أخرجه أحمد في المسند ٥/٢٥٨

(۳) أخرجه الدارقطني في السنن ٢/٤٥ رقم الحديث ٨ من باب الشديد في ترک الصلاة

## د غلام د معاف کولو حکم

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې (یوه ورځ) د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو سړی حاضر شو

فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ كَمْ نَعْفُو عَنِ الْخَادِمِ؟

او عرض یې وکړو چې یا رسول الله! مونږ څو ځل د خپل غلام یا وینزې خطاګانې معاف کوو

فَسَكَتَ ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ الْكَلَامَ

نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاموش شو (او څه جواب یې ورنه کړو) هغه کس بیا هم هغه سوال وکړو نو دې

فصمتَ فلمَّا كانتِ الثَّالثةُ قَالَ:[1]

ځل کې بیا هغوی خاموش شو بیا چې یې په دریم ځل هم دا سوال وکړو نو نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل

«اعفُوا عَنْهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو[2]

چې هره ورځ اویا ځله (ابو داؤد) ترمذی دا روایت د حضرت عبد الله بن عمر نه نقل کړی دی.

**توضیح**: فسکت: حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې وجه خاموشه شو چې د سوال کونکي سوال مناسب نه وو ځکه چې معافي کول خو یو خوښ شوی عمل دی او په تعداد سره یې پابند کول نه دي پکار، یا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دې وجه خاموش شو چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وحي انتظار کولو یا په دې وجه چې سوال کونکی او اوریدونکی ددې سوال جواب ښه په غور سره واوري (سبعین مرة) دا اویا ځل عدد په عربی کې د کثرت دپاره استعمالیږي، دلته هم واضح ده چې دا عدد د کثرت دپاره استعمال شوی دی. (المرقات: ۵۳۱/۶)

## د مریې باره کې یو هدایت

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل ستاسو مریانو او وینځو کې چې

«مَنْ لَاءَمَكُمْ مِنْ مَمْلُوكِيكُمْ

څوک ستاسو اطاعت او خدمت ستاسو د خواهش مطابق کوي او ستاسو د مزاج موافق وي

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۳۶۲ رقم الحديث ۵۱۶۴ وأحمد في المسند ۲/۱۱۱

(۲) أخرجه الترمذي في ۴/۲۹۶ رقم الحديث ۱۹۴۹

| |
|---|
| فَأَطْعِمُوهُ مِمَّا تَأْكُلُونَ وَاكْسُوهُ مِمَّا تَكْسُونَ |
| نو هغوی له هغسي خوراک ورکوئ کوم چي تاسو خورئ او هغسي جامي ورکوئ څنګه چي ئي ته پخپله اغوندي |
| وَمَنْ لَا يُلَائِمُكُمْ مِنْهُمْ فَبِيعُوهُ |
| او کوم غلام او وينځه چي ستا دمزاج موافق نه وي نو هغي ته تکليف مه ورکوئ بلکي خرڅ يي کړئ |
| وَلَا تُعَذِّبُوا خَلْقَ اللهِ». رَوَاهُ أَحْمَد وَأَبُو دَاوُد (صَحِيح)[1] |
| دالله مخلوق له تکليف ورکول صحيح نه دي. (احمد، ابوداؤد) |

**توضيح**: لائمكم: دا باب مفاعله د يلائم ملائمةً نه دموافقت په معنى سره دى د مزاج او د خواهش مطابق او موافق مرى مراد دى يعنى كله چې مرى ستا دمزاج مطابق وي او اطاعت كونكى وي نو هغه وساته او دهغوى دحقوقو خيال ساته مناسب خوراک ورکوه مناسب لباس ورکوه او که چيرې داسې نه وي خا مخايې په عذاب کې مه اچوه او مه خپل ځان په پريشانۍ کې اچوه بلکه خرڅ يې کړه (المرقات: ۵۳۲/۶)

## ځناور سره د ښه سلوک کولو حکم

| |
|---|
| ﴿۲۶﴾وَعَن سهلِ بنِ الحَنظلِيَّةِ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعِيرٍ |
| حضرت سهل بن حنظليه وائي چې (يوه ورځ) رسول کريم ﷺ يو اوښ سره خواه کې تيرشو |
| قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ فَقَالَ: |
| چې وې کتل نو (د لوږې تندي او دزيات بوج له وجې يې ملا خيټې سره لګيدلې وه) نبى ﷺ وفرمايل |
| «اتَّقُوا اللهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوهَا |
| چې ددې بې زبانه باره کې دالله تعالى نه ويريږئ او په هغوى باندې په داسې حال کې سورلي کوئ |
| صَالِحَةً وَاتْرُكُوهَا صَالِحَةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2] |
| چې کله هغه په پوره طاقت کې وي او هغه په ښه حالت کې پريږدئ چې ستړى نه وي. (ابوداؤد) |

**توضيح**: (لحق ظهره) يعنى د ولږې دلاسه كمزورى شوى وو. (المعجمة) بې زبانه ځناورو ته ويلى شي چې د هغوى په وينا قدرت نه وي، عربو عجمو ته په دې وجه عجم ويلي دي چې دهغوى

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۵/۳۵۹ رقم الحديث ۵۱۵۷ وأحمد في المسند ۵/۱۶۸

(2) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۴۹ رقم الحديث ۲۵۴۸ وأحمد في المسند ۴/۱۸۰

په نزد عجم ګونګیان دي، د حدیث مطلب دا دی چې بې زبانه ځناور د خپلې لورې او تندې بیان خو نشي کولی په دې وجه دهغوی خیال ساتئ او په یو مقرر وخت ورله خوراک ورکوئ. علما و لیکلې دي چې دې حدیث نه معلومه شوه چې کومو خلقو ځناور یا مارغان ساتلې دي نو په هغوی باندې یې خوراک ځښاک واجب دی. (صالحةٌ) یعنې ډیر خوراک ځښاک ورکوه او صحت مندیې ساته، یا پرې سوارلي یادبوج کارکوه او دکار اغستونه پس چې دا په ښه حالت کې وي نو بیایې خرد پاره پریږدئ چې دا پخپله خو ښه خوراک وکړي، اسلام درحمت او شفقت مذهب دی چې په دې کې د انسانانو او غلامانو نه علاوه دځناورو د حقو قو پوره پوره خیال ساتلی دی کوم خلق چې په قانون باندې عمل نه کوي نو دا دهغوی خپل قصور دی د اسلام دقانون هیڅ قصور نه دی. (المرقات : ۵۳۴/۶)

## دیتیم دمال باره کې حکم

### الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۲۷﴾عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا نَزَلَ قَوْلُهُ تَعَالَى ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې کله دالله تعالی دا ارشاد نازل شو "دیتیم مال خواله مه ورځئ

إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَن﴾

مګر دا چې د نیکی په بنیاد باندې وې" (یعنې امانت او دیانت سره د نیکی په بنیاد باندې وي) او

وَقَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا﴾

دالله تعالی دا قول: چې کوم خلق په بنکاره په ظلم سره خوري" نو چې کوم خلقو سره (یعنې دچا په نګرانی کې)

الْآيَةَ انْطَلَقَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ يَتِيمٌ فَعَزَلَ طَعَامَه من طَعَامِهِ وَشَرَابَهُ مِنْ شَرَابِهِ

یتیم وي هغوی ډیر احتیاط شروع کړه او دهغوی د خوراک ځښاک سامانئ د خپل د خوراک ځښاک د سامان نه جدا کړل

فَإِذَا فَضَلَ مِنْ طَعَامِ الْيَتِيمِ وَشَرَابِهِ شَيْءٌ حُبِسَ لَهُ

تردې چې دهغو یتیمانو د خورا ځښاک نه به چې څه پاتې شول او هغه به ئې اوچت کړل او کیښودل به یې

حَتَّى يَأْكُلَهُ أَوْ يَفْسُدَ فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ

چې هغه به هغه یتیم بل وخت وخوړلو یا به خراب شول دا خبره دهغو نګرانانو د پاره ډیره ګرانه شوه

فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ الله تَعَالَى:

نو هغوی رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ددې ذکر وکړو الله تعالی دا ایت نازل کړه" او چې کوم خلق

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (وَيَسْأَلُونَكَ | عَنِ | الْيَتَامَى | قُلْ | إِصْلَاحٌ |

د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دیتیمانو ماشومانو باره کې تپوس کوي نو ورته وفرمائي چې دهغوی دمصلحت

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَهُم | خير | وَإِن | تخالطوهم | فإخوانكم) |

رعایت ساتل ډیر بهتر دي او که چیرې تاسو دهغوی سره خرچه شامله کړئ نو هغه ماشومان ستاسو (دینی ورونه دي"

فَخَلَطُوا طَعَامَهُمْ بِطَعَامِهِمْ وَشَرَابَهُمْ بِشَرَابِهِمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

ددې ایت نازلیدو نه پس هغو نګرانانو دیتیمانانو خوراک څښاک خپل خوراک سره شامل کړه. (ابو داؤد، نسائی)

**توضیح:** لمانزل قوله تعالی: داسلام په شروع کې دیتیمانانو د مالونو باره کې دا وړومبنی ایت نازل شو نو دهغوی نګرانان ډیر پریشانه شول هغه ایت مکمل طور باندې داسې نازل شو.

(ان الذين يأكلون اموال اليتٰمى ظلما انما يأكلون فى بطونهم نارا وسيصلون سعيرا) (سورة نساء ۱۰) ددې وعید په وجه خلقو د یتیمانانو خوراک بیل پخول شروع کړل دې نه یو طرف ته یتیمانو ته دا نقصان وشو چې خوراک به کم یا زیات وو نو خراب به شو، دویم طرف ته نګرانانو ته دا تکلیف وو چې دهغوی خوراک به بیل پخیده بیل به یې کیخوده او بیل به یې خوړلو په دې وجه الله تعالی اسانې پیدا کړه او بیا دا ایت نازل شو: **ويسئلونك عن اليتامى قل اصلاح لهم خير وان تخالطوهم فاخوانكم في الدين والله يعلم المفسد من المصلح ولو شاء الله لاعنتكم** (سورت بقرة ۲۲۰) مطلب دادی چې الله تعالی دیتیمانو باره کې خیرخواه او بد خواه هم پیژني لهذا دیتیمانو مالونه خپلو مالونو سره شامل خو کړئ خو دیتیمانو سره همدردي او خیر خواهي په هر صورت کې لازم ده، خپل نیتونه مه خرابوئ او خپلو اعمالو ته نقصان مه ورکوئ، د دوکې او فریب نه ځان په هر حالت کې ساتئ مخکې به درسره الله تعالی مهرباني کوي. (المرقات: ۵۳۵/۶)

## دپلار او ځامنو یا د دوه ورونو په مینځ کې بیلتون مه راولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۲۸﴾ وَعَن | أَبِي | مُوسَى | قَالَ: | لَعَنَ | رَسُولُ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اللهِ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ |

حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه کس باندې لعنت فرمایلی دی

مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الْوَالِدِ وَوَلَدِهِ وَبَيْنَ الْأَخِ وَبَيْنَ أَخِيهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارَقُطْنِيُّ[2]

چې کوم کس دپلار او د ځوی په مینځ کې یا د دوه ورونو په مینځ کې جدائي راولي. (ابن ماجه، دراقطنی)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۲۹۱ رقم الحديث ۲۸۷۱ والنسائي في ۶/۲۵۶ رقم الحديث ۳۶۷۰.

(2) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۷۵۶ رقم الحديث ۲۲۵۰

**توضیح:** من فرق: ددې بیلتون نه هغه جدائي هم مراد کیدی شي چې د نابالغه ماشوم او دهغه د سرپرست ذی رحم محرم په مینځ کې د یو خرڅولو او د بل پریښودو سره پیدا کیږي چې دهغې تفصیل د حضرت ابو ایوب انصاری په حدیث نمبر ۱۹ کې تیرشوی دی خو دلته دې حدیث کې د جدائي دا مفهوم اخستی شي چې یو سړی د غیبت چغلی او شرارت سره د دوه وروڼو یا پلار اوځوی ترمینځه جدائي پیدا کوي هغه ملعون دی. (المرقات: ۵۳۵/۶)

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُتِيَ بِالسَّبْيِ

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې کله به دشه جنګ وغیره نه قیدیان راوستلی شول

أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ جَمِيعًا

نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دیو کور خلق په مونږه کې یو کس لمراکړل (یعني په قیدیانو کې به چې په یو کور کې څومره افراد وو

نَرَاهِيَةَ أَنْ يفرق بَينهم. رَوَاهُ ابْن مَاجَه[1]

هغه به یې یو کس ته حواله کړل) ځکه چې په هغوی کې جدائي راوستل نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ناخوښه وه. (ابن ماجه)

## کوم خلق خراب دي

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې زه تاسو ته دا ونه وایم

بِشِرَارِكُمْ؟ الَّذِي يَأْكُلُ وَحْدَهُ

چې په تاسو کې بد خلق څوک دي؟ (نو واورئ) خراب هغه سړی دی چې یوائې خوراک کوي او

وَيَجْلِدُ عَبْدَهُ وَيَمْنَعُ رِفْدَهُ». رَوَاهُ رزين[2]

خپل غلام په ناحقه باندې وهي او دخپل بخشش او عطاء نه چاته فائده نه رسوي. (رزین)

**توضیح:** شرارکم: یعني دټولو نه خراب خلق څوک دي؟ دې نه پس نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دچا دجواب انتظار ونه فرمایلو بلکې خپله یې دې قسمه خلق په خرابو خلقو کې شمیر کړل.

**اوالذی یاکل وحده:** یعني یو هغه قسم خلق دي چې دانتهائي تکبر او حرص او لالچ په وجه یوائې خوراک کوي.

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في ۲/۷۵۵ رقم الحديث ۲۲۴۸

(۲) أخرجه مرقاة المفاتيح ۶/۴۸۸ رقم الحديث ۳۳۷۴

جلد 5 22

۲. **ویجلد عبده:** مطلب دا چه خپل غلام بغیر د څه شرعی جواز نه وهي.

۳. **ویمنع رفده:** **رفد یرفد** ضرب یضرب نه مصدر دی، دې راباندې کسره ده عطیه کول او یا دچا عطیه زیاتول ته ویلی شي مطلب دادی چې یو مستحق او صاحب حق نه خپله عطیه بندول او د خپلې عطاء او بخنې نه چا ته فائده نه ورکول، کنجوس او شوم دی، دټول حدیث خلاصه داده چې په خلقو کې بد ترین کس هغه دی چې بخل او بد اخلاقی ګیر کړی وي، په جامع صغیر کې د ابن عساکر په حواله سره دا روایت د حضرت معاذ نه منقول دی چې په هغې کې څه تفصیل هم دی او ترغیب کې حافظ منذري دا روایت د حضرت ابن عباس نه نقل کړی دی په هغې کې زیاته اضافه ده، ددې ټولو خلاصه او مفهوم داسې دی چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام حضرت معاذ ته وفرمائیل چې په تاسو کې د ټولو نه خراب سړی څوک دی؟ بیائي وفرمائیل ۱. چې یو اځې خوراک کوی ۲. چې یو اځې سفر کوي
۳. چې خپله عطیه بندوی. ۴. چې خپل غلام وهي، او ددې نه هم زیات خراب کس درته وښایم
۵. چې خلقو سره بغض ساتي او خلق ده سره بغض ساتي، ددې نه هم زیات بدترین کس درته ونه ښایم.
۶. چې خپل آخرت دنورو دپاره خرڅوي، ددې نه درته زیات بدترین کس ونه ښایم.
۷. چې دین خرڅ کړي ددنیا دپاره، د حضرت ابن عباس په روایت کې داسې هم راغلي دي چې زه تاسو ته ستاسو خراب کس ونه ښایم؟ صحابه عرض وکړو ضرور وښائي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ستاسو بد کس هغه دی چې یو اځې سفر کوي خپله عطیه بندوي او خپل غلام وهي، ددې نه درته زیات خراب کس وښایم؟ صحابه عرض وکړو وښائي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل
۸. کوم خلق چې دنورو خطاګانې نه معاف کوي ددې نه هم درته خراب کس وښایم؟ صحابه کرامو ووئیل چې یا رسول الله وښائي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل
۹. چې دښېګړې تمه تر نشې کولی او دهغه د شر نه نور خلق په امن کې نه وي.
۱۰. او د نورو معافي او پښیمانتیا نه منظور وي. (المرقات : ۵۳۴/۶)

## دجهاد په وجه په امت کې دیتیمانو او غلامانو ډیروالی

﴿۳۱﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې حدیث راوي دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې

«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ»

خپل غلام او وینځې سره بدې کولو والا به جنت ته نه داخلیږي، صحابو چې دا واوریدل نو عرض

قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ أُخْبِرْتَنَا أَنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ

یې وکړو چې ای دالله رسوله! تاسو مونږ ته دا نه دې ویلي چې ستاسو امت کې به غلامان وینځې

| |
|---|
| أَكْثَرُ الْأُمَمِ مَمْلُوكِينَ وَيَتَامَى؟ قَالَ: «نَعَمْ فَأَكْرِمُوهُمْ |
| او يتيمانان په اعتبار سره نورو امتونو ته زيات وي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل چې آو. (دهغوی سره احسان کوه) |
| كَكَرَامَةِ أَوْلَادِكُمْ وَأَطْعِمُوهُمْ |
| او هغه احسان دادی چې ته هغوی دخپل اولاد پشان ساته او دنرمی او رحم وربانديې کوه، او هغه خوراک ورکوه |
| مِمَّا تَأْكُلُونَ». قَالُوا: فَمَا تنفعنا الدُّنْيَا؟ |
| کوم چې ته خوري صحابه کرامو عرض وکړو چې يارسول الله! مونږ ته په دنيا کې گټه راکونکی کوم يو څيز دی |
| قَالَ: «فَرَسٌ تَرْتَبِطُهُ تُقَاتِلُ عَلَيْهِ فِي سَبِيلِ الله |
| نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل چې يو اس چې تا دالله په لاره کې دجنګيدو دپاره ساتلی وي او |
| وَمَمْلُوكٌ يَكْفِيكَ فَإِذَا |
| غلام چې ستا کفايت وکړي (يعنې چې هغه ستا دنياوي کارونه کوي چې ته فارغ يې او آخرت دپاره کار وکړې شې) |
| صَلَّى فَهُوَ أَخُوكَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ[1] |
| او که چيرې ستا غلام مونځ کوي نو هغه ستا ورور دی (لهذا هغه سره دښه ګړې سلوک کوه) (ابن ماجه) |

**اكثر الامم مملوكين:** مطلب دادی چې په امت کې به د جهاد عمل زيات وي چې دهغې په وجه به کافران ډير په قيد کښ راځي نو غلامان به ډير وي او په جنګ کې به مسلمانان ډير شهيدان کيږي نو يتيمان ماشومان به ډير وی.

سوال دا وشو چې دومره زيات غلامان او يتيمان وي نو هغوی سره به دا حسن سلوک څنګه کيږي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې مشکله خو به وي ليکن جنت ته تلو دپاره دا ضروری ده چې خپل غلامان دخپل اولاد پشان ساتئ او دهغوی اکرام کوئ په دې سره به د غلامانو سره چې کومه بداخلاقي شوې وي دابه دهغې کفاره جوړه شي، بيا صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې په دنيا کې گټه ورکولو واله څيز کوم يو دی چې جهاد دپاره اس او د خدمت دپاره يو غلام گټه ورکولو واله څيزونه دي او که چيرې هغه مونځ کوي نو بيا هغه ستا ورور دی يا د ورور په شان دی نو اوس به ورسره د ورنړو پشان سلوک کوئ.

---

(1) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۲۱۷ رقم الحديث ۳۶۹۱

# بَابُ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ فِي الصِّغَرِ

## دبچو پالنه او دبلوغت بيان

قال الله تعالى(وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ)(النور:٥٩)

**حضن يحضن حضناً وحضانةً**: د باب د نصر نه د حاء په کسرې سره دی، د مور خپل ماشوم د پالنې په غرض سره په خپلې غيږه کې اخستل او د چرګې خپل بچې او اګی د خپلو وزورو لاندې کول او پټولو ته ''حضانة'' ويلی شي او بيا دا لفظ د تربيت دپاره استعمالول شروع شو چنانچه ''حاضنة'' هغه ښځې ته ويلی شي چې د خپل بچي پالنه او تربيت کوي او دلته ''حضانة'' د تربيت د دې عمل نوم دی په دې باب کې د ماشوم د تربيت او د پالنې حق چا ته حاصل دی او د تربيت موده د هلک او د جينۍ څومره مقرر شوې ده، په دې وړومبي حديث کې تفصيل ملاحظه وګرئ.(مرقات : ٥٣٨/٦)

## الْفَصْلُ الأول

### د بلوغت عمر پنځلس کاله دی

﴿١﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: عُرِضْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې د احد د غزا په ورځ (جهاد کې تلو دپاره) زه يې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَامَ أُحُدٍ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَرَدَّنِي ثُمَّ عُرِضْتُ عَلَيْهِ عَامَ الْخَنْدَقِ

ته پيش کړم چې زما عمر څلوارلس کاله وو نو زه نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واپس کړم، بيا د خندق د غزا په

وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَنِي

موقع باندې چې زما عمر پنځلس کاله شو او زه يې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته پيش کړم نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ما ته

فَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ:

په جهاد کې د تلو اجازت راکړو حضرت عمر بن عبدالعزيز فرمايي چې هم دغه عمر د جنګيدونکو

هَذَا فَرْقُ مَا بَيْنَ الْمُقَاتِلَةِ والذرية (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

ځوانانو او د هلکانو په مينځ کې فرق کونکی دی. (بخاری و مسلم)

---

(١) أخرجه البخاری فی صحيحه ٥/٢٧٦ رقم الحديث ٢٦٦٤ ومسلم في ٣/١٤٩٠ رقم الحديث (١٨٦٨.١٩) والترمذي في ٣/٦٤١ رقم الحديث ١٣٦١ وابن ماجه في ٢/٥٨٠ رقم الحديث ٢٥٤٣.

**توضیح**: **ابن خمس عشرة سنة**: دا خبره خو معلومه شوې ده چې جینی د نهه کالو نه مخکې نه بالغه کیږي او هلک د دولسو کالونه مخکې طبعي حالت مطابق نه بالغ کیږي د غیر طبعي نظام اعتبار نشته، دیورپ دګنده ماحول او فحاشي په وجه د وخت نه مخکې بالغ شي دماشومانو بلوغت په دوه قسمه دی: (۱) بلوغت بالعلامات (۲) بلوغت بالسنین. دهلک دبالغ کیدو دریې ننبې دي اول داچې احتلام ورته وشي، دویم داچې انزال ورته وشي، دریم داچې د احبال صلاحیت په کې راشي یعني یوه ښځه دحامله کولو صلاحیت په کې پیدا شي .دجینی دبالغ کیدو هم دریې ننبې دي: اول داچې ماهواري یې شروع شي، دویم داچې احتلام ورته وشي، دریم داچې دحمل ایسارولو صلاحیت په کې پیدا شی. دې ځای پورې دعلماو په دې کې هیڅ اختلاف نشته البته یوه ننبه داهم ده چې ورته (انبات شعر) یعني زیرناف ویښته راوتل شروع شي په دې کې دفقهاو اختلاف دی چې ایا زیر ناف ویښته د بالغ کیدو په ننبو کې دي یا نه؟ دجمهورو په نزد زیر ناف ویښته شروع کیدل دبالغ کید و یو علامت دی او داحنافو په نزد دبالغ کیدو دپاره علامت نه دی.

جمهورو د حضور اکرم ﷺ او د صحابه کرامو دهغې فیصلې نه دلیل نیولی دی چې دبنو قریظه قیدیان وو . چې دکوم قیدی به زیر ناف ویښته وونو هغه به بالغ ګڼلی شو نو هغه به قتلولی شو او چې دچا به نه وو نو هغه به یې پریخود واو غلام به یې جوړ کړو. احناف فرمائي چې زیر ناف ویښته دبلوغت دپاره هغه وخت ننبه تصور کولی شي چې کله دبلوغت نورې ننبې لکه احتلام، انزال نه وي او د عمر اندازه هم نه وي نو دا دیو وقتي ضرورد لاندې وي.عام طور باندې زیر ناف ویښته شروع کیدل دهلک دبالغ کیدو وخت وی ،خودلته مسئله دقتل کولو او نه قتل کولو ده او صرف دا احتیاط دپاره وو دا څه عامه ضابطه او قانون نه وو. (مرقات : ۵۳۹/۶، ۵۳۸)

**په بلوغ بالسنین کې دفقهاو اقوال**: که په هلک یا جینۍ کې دبلوغت ننبې ښکاره نه شي نو بیا به دکلونو په حساب سره معتبرولی شي دې ته بلوغ بالعمرویلی شي یعني کله چې هلک یا جینۍ دپنځلسو کالو شي نو دواړه به په بالغو کې شمیرلی کیږي دا حکمًا بلوغ دی چې یو علامت هم موجود نه وي،دادصاحبینو او د جمهورو مسلک دی، دداؤد ظاهری په نزد کله چې دبلوغت یوه ننبه هم ښکاره نشي نو دې وخته پورې بلوغت نه ثابت کیږي دهغه په نزد باندې دبلوغت دپاره دعمر حد نشته، دامام مالک هم دا قول دی. د امام ابوحنیفه په نزد باندې چې هلک کله داتلسو او جینۍ د اولسو کالو شي نو دواړه به بالغ شمیرلی کیږي، دعلماء احنافو فتوی د صاحبینو په قول ده، او دادجمهورو مسلک هم دی، او د امام ابو حنیفه یو قول د پنځلسو کالو هم دی، دا زیر بحث حدیث دجمهورو دپاره واضح دلیل دی که قریب البلوغ مراهق اقرار وکړو چې زه بالغ شوی یم نو دهغه وینا معتبره ده او په عدالت کې به قاضی فیصله هم په دې بنیاد کوي

(هذا فرق) يعني پنځلس کالو عمر والا دجنګيدو وي او دې نه کم مثلا د څوارلسو کالو والا په ماشومانو کې رائي .حضرت عمر بن عبد العزيز هم دا فرمايلي دي چې حضرت ابن عمر کله دڅوارلسو کالو وو نو نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته په جنګ احد کې دجنګيدو اجازت ورنه کړه او په جنګ خندق کې دپنځلس کالو شو نو بيا ورته اجازت ملاو شو، که چيرې په يو دفاعی جهاد کې يو وړوکی ماشوم د مسلمانانو جماعت زيات ښودلو دپاره لاړشی نو دا به نشي منع کولی. (مرقات : ۵۳۸،۵۳۹/۶)

## دلانجې په صورت کې د ماشوم تربيت (پرورش) د چا حق دی؟

﴿۲﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ

حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حديبيې په ورځ (کفارو سره) په دريو خبرو

أَشْيَاءَ: عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

صلحه وکړه يو دا چې د مشرکانو نه که چيرې يو کس نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته راشي نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

رَدَّهُ إِلَيْهِمْ وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ

به يې واپس کوي. دويم دا چې که د مسلمانانو نه که چيرې مشرکانو طرف ته کوم کس لاړشي نو

لَمْ يَرُدُّوهُ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا

هغه به نه شي واپس کولی او دريم دا چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به راتلونکی کال (مدينې نه) مکې ته

مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيمَ بِهَا

تشريف راوړي او خپله عمره قضاء وکړي او (او د عمرې اداء کولو اود دمې دپاره) به په مکه کې

ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا دَخَلَهَا

صرف دريو ورځې ايسار شي او راتلونکي کال کې چې کله نبی ﷺ مکې ته تشريف راوړلو او خپل

وَمَضَى الْأَجَلُ خَرَجَ

مقرر شوی وخت يې پوره کړو (يعنې دريو ورځې تيرې شوې) او نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې نه دواپسی

فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِي: يَا عَمِّ يَا عَمِّ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ

واپسی اراده وکړه نو د حمزه لور ای زما تره ای زما تره ويل او د نبی ﷺ روستو ولګيده حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَأَخَذَ بِيَدِهَا فَاخْتَصَمَ

د هغې د ځان سره دبوتلو اراده وکړه او لاس يې ورله ونيولو (يعنې ځان سره يې بوتله) دې نه د

| | | |
|---|---|---|
| فِيهَا | عَلِيٌّ | وَزَيْدٌ | وَجَعْفَرٌ |

حضرت حمزه د لور د پالنې باره کې د حضرت علي، حضرت زيد، او د حضرت جعفر په مينځ کې لانجه راغله

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ | عَلِيٌّ: | أَنَا | أَخَذْتُهَا | وَهِيَ | بِنْتُ | عَمِّي. |

حضرت علي ؓ خو داسې ويلي دي چې اول خو دا ماشومه ما اخستې ده او دا زما د تره لور ده (زه ئې د پالنې حق لرم)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقَالَ | جَعْفَرٌ: | بِنْتُ | عَمِّي | وَخَالَتُهَا | تَحْتِي |

او حضرت جعفر داسې وويل چې دا زما د تره لور ده او د دې تر ور زما په نکاح کې ده (زه د پالنې حق لرم)

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَقَالَ | زَيْدٌ: | بِنْتُ | أَخِي |

او حضرت زيد داسې وويل چې دا زما وريره ده (نو په دې وجه د دې د پرورش حق ماته حاصل دی)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فَقَضَى | بِهَا | النَّبِيُّ | صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | لِخَالَتِهَا |

نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې لانجې فيصله داسې وکړه هغه يې خپلې تر ور ته حواله کړه (چې د

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقَالَ: | «الْخَالَةُ | بِمَنْزِلَةِ | الْأُمِّ». | وَقَالَ | لِعَلِيٍّ: |

حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نکاح کې وه) او وې فرمايل چې تر ور د مور په ځای وي بيا يې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| «أَنْتَ | مِنِّي | وَأَنَا | مِنْكَ» | وَقَالَ | لِجَعْفَرٍ: |

ته وفرمايل چې زه ستا نه يم او ته زما نه يې. او حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمايل چې ته ماسره

«أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي». وَقَالَ لزيد: «أَنْتَ أَخُونَا ومولانا» (متفق عليه)[1]

په پيدايښت او اخلاقو کې مشابه يې. او حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمايل چې ته زمونږ ورور او محب يې.

**توضيح**: الخالة بمنزلة الام: د ورکوتې ماشوې د پرورش حق وړومبی دهغې مور ته حاصل دی خواه که طلاق ورکړی شوی وي يا نه، که چيرې مور ته طلاق ورکولو نه پس دا ماشوم د پالنې نه انکار وکړي نو هغه به مجبورولی نشي او که دمور د پالنې نه علاوه بل څوک يې نه وي نو دماشوم د بچ کولو دپاره به مور په پيو ورکولو باندې مجبوره کولی شي، او که موريې موجود نه وي يا مړه شوې وي نو د ماشوم د پرورش حق نيا ته حاصل دی، که دمور د طرف نه وی او که د پلار د طرف نه وی. که نيا هم

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ٥/٣٠٤ رقم الحديث ٢٧٠٠ ومسلم في ٣/١٤٠٩ رقم الحديث (١٧٨٣.٩٠) والترمذي في السنن ٤/٢٧٦ مرقات : رقم الحديث ١٩٠٤

موجود نه وي نو بيا حقيقي خور ته، او دې نه پس ميرنې خور ته حق حاصل دی، او که په دوی کې يو هم موجود نه وي يا دپالنې اهل نه وي نو بيا ترور ډيره حقداره ده (که دپلار خور وي او که دمور خور وي) او که په مور پلار کې يو مسلمان وي او دويم غير مسلم وي نو دپالنې حق بيا مسلمان ته حاصل دی، که مور مرتده شوه نو دماشوم د پالنې حق دهغې نه ختم شو او که مور بدکاره يا بدکداره وي نو بيا هم دپالنې نه محرومه شوه، او که چيرې مور د ماشوم دپالنې په زمانه کې نکاح وکړه نو اوس به داکتلی شي که هغې دماشوم په کورنۍ کې نکاح کړې وه نو پالنه يې نه ختميږي او که بهرې نکاح کړې وه نو دپالنې نه محرومه شوه، ام ولده يا وينزې ته د پرورش حق حاصل نه دی البته که مور ذميه وي نو دپالنې حق ورته حاصل دی، شرط په کې دا دی چې ماشوم دپوهې عمر ته نه وي رسيدلی، دپالنې وخت اوه کاله يا نهه کاله مقرر شوی دی .صاحب قدوری ليکلې دي که چيرې ماشوم پخپله دخوراک څښاک انتظام کولی شي پخپله د اودس يا د کپړو بدلولو قابل وي نو دهغه دپرورش حق ختم شو، اوس پلار په زبردستۍ دا ماشوم په خپله قبضه کې اخستلی شي، او که چيرې جينۍ وي نو دحيض راتلو پورې دپالنې حق مور يا نيا ته حاصل دی، په دې حديث کې حضور اکرم ﷺ ترور دمور په ځای ګرځولې ده. (مرقات : ۵۴۰/۶) (ياعم ياعم) حضور اکرم ﷺ چونکه دحضرت حمزه رضاعی ورور وو نو په دې وجه دحمزه لور نبی ﷺ دتره په نوم ياد کړو، حديبيه دمکې نه پنځلس ميله فاصلې باندې دجدې طرف ته پورته ده د صلح حديبيې واقعه په ۶ هجری کې پيښه شوې وه کفارو نبی کريم ﷺ دعمرې نه منع کړو او راتلونکي کال کې د عمرې دقضاء په وخت کې ورسره دحمزه لور ملاو شوې وه (بنت اخي) دحضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه او دحضرت حمزه رضی الله عنه په مينځ کې حضور اکرم ﷺ ورورلي قائمه کړه په دې وجه حضرت حمزه او حضرت زيد دواړه ورونه شول نو نبی ﷺ وفرمايل چې دا زما وريره ده، حضور اکرم ﷺ دهغوی دخوشحالولو دپاره يو څو خصوصي جملې ارشاد وفرمايلې خو دپالنې حق يې حضرت جعفر رضی الله عنه ته ورکړو، ملا علی قاری ليکي چې حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنه چې کله دخپل ځان باره کې دا جملې واوريدلې نو دخوشالۍ نه په ټوپونو شو (اَخونا) ددې نه هم هغه ورورلی مراد ده اود (مولانا) نه مراد محبوب دی. (مرقات : ۵۴۰/۶، ۵۳۹)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۳﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو:

حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دخپل نيکه حضرت عبد الله بن عمرو نه نقل کوي چې

| |
|---|
| أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ ابْنِي هَذَا كَانَ بَطْنِي |
| يوې ښځې عرض وکړو چې يا رسول الله ! چې دا زما ځوی چې دی (ډيرې مودې پورې) زما خېټه |
| لَهُ وِعَاءً وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً |
| دده دپاره لوښی وو (يعنې ډيرې مودې پورې زما په خېټه کې وو) زما سينه دده دپاره يو مشک وو |
| وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِي |
| او زما غيږه دده دپاره زانګو وه (يعنی ډيرې مودې پورې زما په غيږه کې لوی کيدو) اوس دده |
| وَأَرَادَ أَنْ يَنْزِعَهُ مِنِّي |
| پلار ماله طلاق راکړی دی او زما دا ځوی ما نه په زبردستی اخلي . رسول کريم ﷺ چې دا |
| فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ |
| واوريدل نو وې فرمايل چې ددې ماشوم دټولو نه زياته دپرورش حقداره هم ته يې تر څو پورې چې |
| مَا لَمْ تَنْكِحِي». رَوَاهُ أَحْمَد وَأَبُو دَاوُد[1] |
| بله نکاح ونه کړې (روايت کړې دې احمد او ابوداؤد) |

**توضيح:** وعا: لوښي ته وعا ويلی شي، (مرقات : ۵۴۱/۶) (سقاء) مشکيزې ته ويلی شي. (مرقات : ۵۴۱/۶) او (حواء) غيږې ته او زانګو ته ويلی شي يعنی دپيدا کيدو نه مخکې زما خېټه دماشوم دپاره دلوښي او کور په شان وه او پيدا کيدو نه پس زما سينه د ته دپيو ورکولو دپاره يوه مشکيزه وه او دده دپالنې دپاره زما غيږه دده دپاره په مثال دزانګو وه.

ددې حديث نه په ظاهره باندې د راتلونکي دحضرت ابوهريره رضي الله عنه د روايت سره واضح تعارض دی، ځکه چې په دې کې غلام ته اختيار ورکړی شوی دی او دلته مورته يې دپالنې حق ورکړی دی؟ ددې جواب دادی چې په دې حديث کې يو قانون او ضابطه بيان شوې ده او راتلونکي دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په دواړو روايتونو کې يو جزئي، عارضي، او احتمالي صورت بيان دی نو په دې کې تاويل شوی دی چې تفصيل يې راروان دی. (مرقات : ۵۴۱/۶)

---

(1) أخرجه ابوداؤد في السنن ۷۰۷/۲ رقم الحديث ۲۲۷۶ وأحمد في المسند ۱۸۲/۲

## دپالنې دمودې نه پس دتخيير غلام مسئله

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيَّرَ غُلَامًا

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو هلک ته اختيار ورکړو که هغه غواړي

بَيْنَ أَبِيهِ وَأُمِّهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

نو خپل پلار سره دې اوسي او که غواړي نو مور سره دې اوسي. (ترمذی)

**توضيح:** خير غلاماً: په مور پلار کې جدائي راتلو نه پس د کم عمره اولاد د پالنې حقدار د هغوی مور ده په دې کې دچا اختلاف نشته، البته دکم عمرۍ وخت مقرر ول په دې کې دفقهاو اختلاف دی.

**دفقهاو اختلاف:** ائمه احناف او مالکیه حضرات فرمائي چې ترڅو پورې ماشوم عقلمندۍ وخت ته نه وي رسيدلی تر هغه وخت پورې دپالنې حقداره يې مورده او چې کله په ښو او بدو باندې پوهه شي نو دپالنې حق دار بيا پلار دی، دسن شعور باره کې احناف فرمائي چې کله ماشوم پخپله خوراک څښاک کولی شي يا پخپله استنجاء کولی شي او کپړې بدلولی شی نو دا ماشوم باشعوره دی. بعضو احنافو د سن شعور دپاره اوه کاله ښودلې دي او د جينې دپاره يې نهه کاله او د هلک دپاره يې اوه کاله ښودلې او فتوی په اوه کالو ده، احناف فرمايې چې په دې عمر کې ماشوم پلار ته حواله کول پکار دي ځکه چې په تعليم اوتربيت، ادب اوثقافت کې دپلار سوچ ډير قوي وي، او اوس ماشوم ته دهغه څيزونو ضرورت وي. او ددې نه کم عمره هلک يا جينې دواړه به دمور په پرورش کې وي ځکه چې په دې وخت کې مور په بهترې طريقې سره پالنه کولی شي، د شوافعو او حنابلو په نزد باندې به ماشوم اوه کالو پورې دمور په پرورش کې وي دې نه پس به ماشوم ته اختيار ورکولی شي چې هغه په مور او پلار کې د کوم سره اوسيدل غواړي دهغه خوښه ده، خلاصه داده چې احناف په يو صورت کې هم دماشوم دتخيير په حق کې نه دي، او شوافع داوو کالو نه پس دماشوم د تخيير قائل دي. (مرقات: ۵۴۱/۶)

**دلائل:** احنافو او مالکيو دبراء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه دليل نيولی دی چې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحضرت حمزه ماشومه دهغې ترور ته حواله کړه او داسې دې نه پس د عمرو بن شعيب دروايت نه يې دليل نيولی دی چې په هغې کې دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماشوم مور ته حواله کړه او کم عمره ماشوم ته د اختيار ورکولو هيڅ کومه خبره نه ده فرمايلې هم داسې هغه ټول روايانونه ددې حضراتو دليلونه دي. موطا مالک او بيهقی کې يو روايت دی چې صديق اکبر

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳/۶۳۸ رقم الحديث ۱۳۵۷ وأحمد في المسند ۲/۲۴۶.

عاصم بن عمر خپلې مور ته حواله کړه او اختیار یې ورنه کړو دا صحابه کرامو مخکښ فیصله وه نو اجماع د صحابو شوه، قصه داسې وه چې حضرت عمر خپلې یوې ښځې ته طلاق ورکړی وو دهغې یو ماشوم پیدا شو یوه ورځ حضرت عمر مسجد قباء سره تیریده نو هغه هلک هلته لوبې کولې نو حضرت عمر اوچت کړو نو جګړه جوړه شوه نو صدیق اکبر دمور په حق کې فیصله وکړه، شوافعو او حنابلو د زیر بحث حدیث نه دلیل نیولی دی چې په کې صفا بیان شوی دی چې حضور اکرم په مور پلار کې دیو باره کې اختیار ورکړی دی اودې سره متصل دحضرت ابوهریره په روایت کې تفصیل دی. (مرقات : ۵۴۱،۵۴۲/۶) **جواب** : احناف او مالکیه دحضرت ابوهریره درواياتونو داسې جواب ورکوي چې چیرته په احادیثو کې داختیار خبره راغلې ده هغه د باشعوره او بالغ او (ممیز) ماشوم باره کې ده، ځکه چې په احادیثو کې تصریح ده او ورسره اوم نمبرحدیث کې هم داجمله موجود ده چې موروویل **وقدسقاني ولفعني** اودې سره وروستني روایت کې دا الفاظ دي **وقد نفعني وسقاني من بئر اني عنبة** یعنې دې ماشوم ما دپاره د ابو عنبه د کوهي نه اوبه دځکلو دپاره راوړې وې، د دې بیا ن نه واضحه شوه چې هغه ماشوم بالغ وو نو د داسې ماشوم داختیار باره کې دچا اختلاف نشته ځکه چې بالغ خوداختیاره وي. بل جواب دادی چې دلته دمجبوری په بنیاد باندې مور او پلار کې یې دیو باره کې یې اختیار ورکړو، دادې وجه داوه چې دهغه هلک پلار کافر وو او حضور ﷺ غوښتل چې دا ماشوم دمور پالنې ته لاړ شي، که چیرې رسول کریم ﷺ وړومبی دمور په حق کې فیصله کړې وه نو بیا به اعتراض پیدا کیده چې دمسلمان طرف داري یې وکړه نو په دې وجه یې ماشوم له اختیار ورکړو، ابو داؤد شریف کې دي چې هلک ته اختیار ملاویدو نه پس هغه د پلار طرف ته لاړلو نو حضور دعاء وفرمایله(**اللّٰهم اهده**)ای الله دده رهنمائي وکړې نو هلک مور باره کې فیصله وکړه دحضور اکرم ﷺ دعاء پیغمبري خصوصیت وو نو په دې باندې څوک نه شي قیاس کیدی . بهرحال عامه ضابطه هغه ده کومه چې مالکیانو او احنافو خپله کړې ده، باقي په جزئیاتو کې به تاویل کولی شي. (مرقات : ۵۴۵/۶)

| |
|---|
| ﴿۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې یوه ښځه د رسول کریم ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او |
| فَقَالَتْ: إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ |
| عرض یې وکړو چې زما خاوند غواړي چې زما ځوی بوځي حالانکه هغه ماله اوبه راکوي او دهغه نه |

بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي وَنَفَعَنِي

ماته فائده ده (يعني هغه اوس داسي عمر ته رسيدلی دی چې زه دهغه دخدمت نه فائده اخلم)

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ

نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (هغه هلک ته) وفرمایل چې دا ستا پلار دی او دا ستا مور ده په دې کې چې ستا

فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ». فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ.

کوم خوښ وی د هغه لاس ونیسه. هغه هلک دخپلې مور لاس ونیولو او هغه يې خپل ځان سره بوتلو.

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ [1]

(روایت کړې دي ابو داؤد او نسائی او دارمی)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿٦﴾ عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِي مَيْمُونَةَ سُلَيْمَانَ

حضرت هلال ابن اسامه حضرت د ابو میمونه نه چې دهغه نوم سلیمان وو او په اهل مدینه کې دچا

مَوْلًى لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ

آزاد کړی شوی غلام نه نقل کوي چې هغوی وویل چې (یوه ورځ) زه د حضرت ابو هریره سره ناست وم

جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَارِسِيَّةٌ مَعَهَا ابْنٌ لَهَا وَقَدْ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا

چې هغه ته د فارس یوه ښځه راغله چې هغې سره د هغې هلک هم وو او هغې له خاوند طلاق ورکړی وو او د

فَادَّعَيَاهُ فَرَطَنَتْ لَهُ تَقُولُ:

ښځې او خاوند په مینځ کې د دې هلک باره کې لانجه وه دې ښځې حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په فارسی

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي. فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ:

ژبه کې خبرې وکړې چې ابو هریره زما خاوند زما د ماشوم بوتلل غواړي. حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته او فرمائیل

اسْتَهِمَا عليهِ رَطَنَ لَهَا بِذَلِكَ.

چې تاسو دواړه قرعه اندازي وکړئ (چې د چا په نوم پچه راووتله هغه دې بوځي) حضرت ابو هریره هم هغې ښځې ته

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٧٠٨ رقم الحديث ٢٢٧٧ والنسائي في ٦/١٨٥ رقم الحديث ٣٤٩٦ وابن ماجه في ٢/٧٨٧ رقم الحديث ٢٣٥١ والداري ٢/٢٢٣ رقم الحديث ٢٢٩٣

فَجَاءَ زَوْجُهَا وَقَالَ: مَنْ يُحَاقِّنِي فِي ابْنِي؟

په فارسی ژبه کې جواب ورکړو بیا دهغه ښځې خاوند راغی او وې ویل چې زما دځوی باره کې ما سره څوک

فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: اللّٰهُمَّ إِنِّي لَا أَقُولُ هَذَا

جګړه کوي حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمایل چې یا الله! دا خبره زه دخپل طرف نه نه کومه حقیقت

إِلَّا أَنِّي كُنْتُ قَاعِدًا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ:

دادی چې زه یوه ورځ د رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست وم چې یوه ښځه راغله او هغې وویل

يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ نَفَعَنِي

چې ای د الله رسوله! چې زما خاوند زما دځوی بوتلل غواړي او بېشکه دا ماته فائده راکوي

وَسَقَانِي مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ وَعِنْدَ النَّسَائِيِّ:

او د ابو عنبه د کوهي نه ماله اوبه راوړي او په نسائی کې دا الفاظ دي چې هغه (دښار نه بهر په ډیره

مِنْ عَذْبِ الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

فاصله باندې) خوږې اوبه په ما باندې څکوي. چې رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا واوریدل نو وې فرمایل

«اسْتَهِمَا عَلَيْهِ». فَقَالَ زَوْجُهَا مَنْ يُحَاقِّنِي

چې تاسو په خپل مینځ کې قرعه اندازي وکړئ، خاوند وویل چې ما سره څوک جګړه کوي زما د

فِي وَلَدِي؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ

ځوی باره کې؟ بیا رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه هلک ته وفرمایل چې دا ستا مورده او دا ستا پلار دی

فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ» فَأَخَذَ بيد

په دې دواړو کې چې ستا کوم خوښ وي دهغوی لاس ونیسه، چنانچه هلک دمور لاس ونیولو (او

أمه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد. وَالنَّسَائِيُّ لكنه ذكر المسند. وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ هِلَال بن أُسَامَةَ[1]

هغه یې خپل ځان سره بوتله) روایت کړې دې ابوداؤد او نسائی او روایت کړې دې دارمی د هلال بن اسامه)

**توضيح: امرأة فارسية:** یو مطلب یې دا هم دی چې دا ښځه دفارس اوسیدونکې وه، دویم مطلب یې دا کیدی شی چې فارسیه نه مراد عجمیه ده، یعنې چې یوه عجمی ښځه وه عربو به عام طور باندې عجمیان دفارس او فارسي په نوم یاد ول رطنت یعنې دې ښځې په فارسي یا عجمي ژبه خبرې وکړې

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲/۷۰۸ رقم الحديث ۲۲۷۷ والدارمي في ۲/۲۲۳ رقم الحديث ۲۲۹۳

رطن لها بذلک: یعنې ابو هریره هم دغې ښځې سره په فارسي یا عجمي ژبه خبرې وکړې چې دهغې راوي په عربي ژبه کې بیان کړی. رطانة د راء کسره او فتحه دواړو سره، په حقیقت کې هغه کلام ته ویلی شي چې څوک پرې نه پوهیږي بیا ددې اطلاق په عجمي کلام باندې وشوځکه چې عرب د عربي نه علاوه په بل لغت باندې نه پوهیدل په دې وجه هغوی د عربی کلام نه علاوه بل کلام ته عجمي ویل شروع کړل یعنې دګونګیانو کلام. ابو هریره که په فارسي کې جواب ورکړی وي نو دهغوی په مینځ کې څوک ترجمان نه ؤ ددې نه دامعلومه شوه چې د عجمو په علاقو کې دجهاد کولو سره صحابه کرامو د فارسي وغیره ژبه لږه غوندې زده کړې وه، دلته چې ابو هریره ته دکوم ماشوم لانجه پیش شوه همداسې معامله حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم راغلې وه نو ابو هریره دهغې تذکره وکړه په دې وجه رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلام ته اختیار هم ورکړی وو او د قرعه اندازی په ذریعه یې هم فیصله کړې وه. ابو هریره قرعه اندازي ولې اختیار کړه او تخییریې ولې پریخودو؟ ددې جواب داچې ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دحضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شان په تخییر او قرعه اندازی دواړو سره فیصله وکړه څنګه چې زیلعی دابن حبان نه روایت نقل کړی په هغې کې دي **ان اباهریره خیر غلاما بین ابیه وامه**) خو راوي داختصار نه کار اخستی دی او د تخییر ذکر یې پریخودلی دی، اوس دلته دویم سوال دا پیدا کیږي چې د قرعه اندازی شرعی حیثیت څه دی کله چې په دې حدیث کې هم د قرعه اندازی ښکاره ثبوت ملاویږي؟ نو ددې تحقیق دادی چې دامام شافعی او د اسحاق بن راهویه خیال دی چې په قرعه اندازی سره حق ثابتیږي، او دې حضراتو دزیربحث حدیث نه دلیل نیولی، خو ائمه احناف وائي چې د قرعه اندازی دوه حیثییتونه دي: یو حیثیت داچې قرعه اندازي د تطییب قلب دپاره وي، دهریو حصه مقرروي مګر راجح او مرجوح دپاره قرعه اندازي وي نو داجائزدی او ددې نه انکار په احنافو کې چاهم نه دی کړی. دویم حیثیت دادی چې ددې نه د حق جدید اثبات وشي چې یوته حق ملاوشی او بل محروم پاتې شي. دارنګې قرعه اندازی باره کې احناف وائي چې دا په ابتداء داسلام کې وه چې د قمار حکم نه ؤ راغلی او چې کله په قمار او جواری پابندي ولګیده نو د قرعه اندازی داقسم هم ختم شو خلاصه داچې قرعه اندازي که احد المتساویین کې ترجیح دپاره او تطیب قلب دپاره وي نو جائزده او که د حق جدید داثبات دپاره وي نو جائز نه ده بلکه منسوح ده، طحاوي ددې دپاره ددې د منسوح کیدو ذکر کړی، باقي په دې زیر بحث حدیث کې په اصل کې د صلحې صورت جوړ شو، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لانجې ختمولو دپاره د قرعه اندازی حکم وفرمایلو او بطور حجت شرعیه یې په قرعه اندازی سره فیصله نه وه کړې. (مرقات: ۶/۵۴۴، ۵۴۳)

# کتاب العتق

## د غلام د آزدولو بیان

قَالَ اللهُ تعالیٰ: فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ۔ وَمَآ اَدْرٰكَ مَا الْعَقَبَةُ (سورت بلد)

وَقَالَ تعالیٰ: فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ (النساء: ۹۲)

**عتق** :په څو معنو سره راځي (۱) په معنی دقوت په دې اعتبار سره بیت الله ته عتیق ویلی شي ځکه چې بیت الله په هره زمانه کې د هرسړې دست برد او قوت او ملکیت دخپل ځان نه دفع کوي (۲) په معني دقدیم (زوړ) سره راځي په دې اعتبارسره بیت الله د یو قدیم کور په نوم سره یادولی شي دالله تعالی ارشاد دی (**ولیطوفوا بالبیت العتیق**) (سورة الحج ۲۹) (**ثم محلها الی البیت العتیق**) (سورة الحج۲۳) (۳) په معنی دحسن اوجمال او شرافت او آزادی سره، په دې اعتبارسره صدیق اکبر ته عتیق ویلی شوی دی چې هغه ښائسته هم وو او شریف او سړدار هم وو او د اُور نه آزاد هم وو (٤) د مملوکیت نه د وتلو په معنی هم راځي دلته په کتاب کې هم دا معني مراده ده یعني دغلامی او مملوکیت او کمزورۍ نه وتل قوت او آزادۍ او حریت طرفته راتلل دا دعتق لغوي معنی ده، او په شرعي اصطلاح کې دعتق تعریف هم داسې کولی شي (**قوة حکمیة یصیر المرء بها اهلا للشهادة والولایة والقضاء**) یعنې عتق هم ددې حکمي او معنوي قوت او طاقت نوم دی دکومې په ذریعې سره چې سړی د قضاء او ګواهۍ او دتصرف کولو اهل جوړیږي، اسلام چې دیو کافر انسان دغلام جوړولو کوم اجازت ورکړی دی نو ددې یوه معقوله وجه داده چې کله هغه هم داسې یو کافر دخپل خالق اومالک او دخپل رازق باغي جوړیږي نو الله تعالی حکم ورکوي چې کله زما یو بنده زما بندګي او غلامي نه اختیاروي نو اوس به دا زما دغلامانو غلام جوړیږي، اوس دا سړی به د انسانانو د زمرې نه په وتلو سره د ځناورو په زمره کې داخلیږي (**اولئک کالانعام بل هم اضل**) (سورة اعراف :۱) اوس به ده سره دځناورو په شان سلوک کولی شي، لهذا د ده خرڅول اخستل او خدمت ترېنه اخستل دا ټول جائز شول، دا مضمون مداسې په پوهه کې راتلی شي چې کله دې کافرانو دخپل رب د اطاعت او فرمانبرداری نه مخ واړولو نو ددوی حیثیت دمالک او حاکم دپاره د باغي فوج په شان شو نو اوس دحکومت وفادار فوج یعني مسلمانانو ته حکم دی چې دې باغیانو پسې ولګي تردې پورې چې دا باغیان یا واپس شي د وفاداری اعلان وکړي یا قتل کړی شي یا قید کړی شي، بین الاقوامي قوانین

په دې قاعده او ضابطه باندې ګوته نه شي اوچتولی بلکه ددې قاعدې تائید پوره دنیا باشعوره انسانان کوي، بیا د افسوس مقام به وي چې کچیرې څوک بدظنه ملحد یا زندیق په اسلام باندې په دې وجه اعتراض کوي چې اسلام دبعضو سرکشو په قابو کې راوستلو دپاره د غلامۍ سزا تجویز کوي بیا چې کله ددې باغي فوج زور مات شي او بعضې افراد یې قید شي او غلام جوړشي نو اسلام ددوی ډیره زیاته نګراني او خیرخواهي کوي او په ډیر تاکید سره ددې خیرخواهۍ حکم ورکوي چې ددې په آزادولو کې ئې ډیر لوی ثواب ګرځولی دی، همدا وجه ده چې نبي اکرم صلي الله علیه وسلم دخپل عمر مبارک د هرکال په برابرۍ یو غلام آزاد کړی دی نبي علیه السلام پخپله ۶۳ غلامان آزاد کړي دي، حضرت عائشه رضي الله عنها ۶۷ غلامان آزاد کړي دي حضرت ابن عباس رضي الله عنه ۷۰ غلامان آزاد کړي دي حضرت ابن عمر زر(۱۰۰۰) غلامان آزاد کړل، حضرت عبدالرحمان بن عوف رضي الله عنه دیرش زره (۳۰۰۰) غلامان آزاد کړل او صدیق اکبر او عثمان غني رضي الله عنهما بې شماره غلامان آزاد کړل. غرض داچې دغلام جوړولو په دې قانو کې ډیر زیات حکمتونه او فائدې دي یو طرفته باغي مخلوق ادب او فرمانبرداري زده کړي او بل طرفته ده ته د مسلمان جوړولو موقعې ورکړی شي په زرګونو نه په لکونو غلامان مسلمان جوړیدو سره د دنیا وآخرت کامیاب کیدو سره جنت ته لاړل، آخر حضرت حسن بصري رحمه الله او ابن سیرین رحمه الله په شان د علم غرونه او د دین اسلام نامتو شخصیات هم ددې غلامۍ په پل باندې تیرشول او د امت مسلمه امامان جوړشول، دریم د دې غلامانو آزادوونکو ته چې کوم لوی ثواب ملاویږي هغه به هم په احادیثو کې تاسو ولولئ، بهرحال کوم چې ملحدان خلق دي په اسلام او د اسلام په حکمونو اعتراض کوي هغوي دالله تعالی غضب ته دعوت ورکوي او هغوی ددې نه نه شرمیږي چې هغوي څومره شریفان او څومره آزاد او غریبانان مسلمانان او غیر مسلمو لره په ناحقه د غلامۍ په زنځیرونو کې تړلې دي.

خدا کو کیا منہ دکھاؤ گے ظالم شرم تم کو مگر نہیں آتی

د غلام د آزادولو دپاره شرط دادی چې د غلام آزادولو والا آقا بالغ وي نابالغ بچی نه وي، عقل مند وي لیونی نه وي چې کوم غلام آزادوي هغه ددې مالک وي خودمختاره وي، په بعضو صورتونو کې د غلام آزادول واجب دي لکه په کفاره کښې، بعضو صورتونو کې مستحب وي او په بعضو صورتونو کې مباح وي لکه د چا د ایصال ثواب دپاره د غلام آزادول، په بعضو صورتونو کې غلام لره آزادول صرف د ثواب او عبادت عمل وي لکه یو غلام لره صرف د الله تعالی د رضا حاصلولو دپاره آزادول، اوپه بعضو صورتونو کې د غلام آزادول ګناه ده، کله چې د آزادولو نه پس دهغه د بدمعاشۍ او د فساد خطره وي یا د مرتد کیدو یره وي.

## الفصل الاول

## دبرده دآزادولو اجر

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی یو مسلمان

أَعْتَقَ رَقَبَةً مُسْلِمَةً أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا

برده لره د غلامۍ نه نجات ورکړي الله تعالی به د ده هر اندام د دې غلام د اندام په بدله کې د دوزخ

مِنَ النَّارِ حَتَّى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

د اُورنه خلاص کړي تردې پورې چې د ده شرمګاه ته به د غلام د شرمګاه په بدله کې (خلاصی ورکړی شي)

**توضیح** : رقبة مسلمة : دلته د مسلمان د څټ قید څه احترازي قید نه دی بلکه صرف افضلیت او ثواب ته دې اضافه کې اشاره ده ورنه د غیر مسلم (غلام) آزادولو کې هم ډیر ثواب دی (بکل عضوٍ) د اندامونو د ذکر کولو نه پس د فرج او شرمګاه ذکر کول په خاص طور یا خو په دې وجه وکړی شو چې په کلام کې ښه ترغیب او تشویق پیدا شي، یا د دې اندام ذکر په دې وجه وکړی شو چې د دې نه د زنا په شان ګناه کیږي نو اشاره وکړی شوه چې د غلام په آزادولو سره دومره لوی جرمونه هم معاف کیږي او د ورو جرمونو به څه وایي، د اندامونو د تذکرې باره کې علماو لیکلې دي چې آزادوونکي ته پکار دي چې د خپل جنس مثل لره آزاد کړي یعني کچیرې سړی دی نو هغه دې غلام آزاد کړي او کچیرې ښځه وي نو هغه دې ښځه آزاد ده کړي دې دپاره چې د اندامونو ښه تقابل وشي، دارنګه چې غلام مقطوع الذکر او خصي نه وي نو د دې آزادول بیا اولی او بهتر دی، ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د فتح القدیر په حوالې سره نقل کړې دي چې د غلام د آزادولو محاسن او فضائل په چا باندې پټ نه دي په دې وجه په آزادولو سره غلام د کفر د اثراتو نه آزادیږي چې په حقیقت کې دا د مرګ مترادف دی، ځکه چې په غلامۍ کې د سړي اختیار نه وي او نه پکې د ګواهۍ او حکمرانۍ اهلیت وي نه په جمعه او اخترونو کې شریکیدی شي او نه حج او جهاد ته په آزادانه طور سره تللی شي نه په څه څیز کې تصرف کولی شي نو دا غلامي په معنوي طور سره مرګ دی لکه چې کافر په معنوي طور سره مړی دی، کچیرې یو مسلمان کوم غلام ته آزادي ورکوي نو ګویا چې ده غلام ته نوی ژوند ورکړلو

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۱۱/۵۹۹ رقم الحديث ٦٧١٥ ومسلم في ۲/۱۱٤۷ رقم الحديث ۱۵۰۹.۲۳ والترمذي في السنن ٤/٩٧ رقم الحديث ۱۵٤۱ وأحمد في المسند ۲/٤٤٧ .

ددې حكمت پيش نظر دالله تعالى په نزد آزادونكى د دوزخ نه آزاديږي دده هر اندام د دوزخ نه خلاصى بيامومي، او په دې وجه د اعتاق ډير زيات فضائل په احاديثو كې ذكر دى. (المرقات ۵۴۸/۶)

## د ټولو افضل عمل كوم يو دى

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟

او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وكړو چې كوم عمل بهتر دى

قَالَ: «إِيمَانٌ بِاللهِ وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ»

نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې په الله تعالى باندې ايمان راوړل او دهغه په لاره كې جهاد كول

قَالَ: قُلْتُ: فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «أَغْلَاهَا ثَمَنًا

ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما عرض وكړو چې كوم يو غلام آزادول بهتر دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې

وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا». قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟

كوم قيمت گران وى او خپل مالك ته ډير خوښ وي. ما عرض وكړو كچيرې ما داسې ونه كړل

قَالَ: «تُعِينُ صَانِعًا أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ»

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د كار كوونكي مدد كوه يا كوم سړي چې د څيز په جوړولو باندې نه پوهيږي د هغه

قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟

هغه څيز جوړ كړه. ما عرض وكړو كچيرې زه دا هم ونه كړى شم (نو زه څه وكړم؟) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

قَالَ: «تَدَعُ النَّاسَ مِنَ الشَّرِّ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ تَصَدَّقُ بِهَا

خلقو ته د بدى رسولو نه ځان وساته. ياد ساته! دا ښه خصلت دى چې د كوم په ذريعه سره ته خپل

على نفسك» (متفق عليه)[1]

نفس سره ښېگړه وكړې. (بخاري ومسلم)

**توضيح**: أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ: د ايمان په افضل كيدو كې خو هيڅ يوه خبره نشته دى په دې وجه د ايمان نه بغير د هيڅ يو عمل اعتبار نشته دى، مگر علماو په دې كې كلام كړى دى چې د ايمان نه پس د ټولو نه افضل عمل ايا جهاد دى كه مونځ؟ صاحب د فتح القدير په دې كلام كړى دى. بهرحال د علماو يوه

---

(1) أخرجه البخارى في صحيحه ۵/۱۴۸ رقم الحديث ۲۵۱۸ ومسلم في ۱۰/۸۹ رقم الحديث (۸۴،۱۳۶) وابن ماجه في السنن ۲/۸۴۳

طبقه دې طرف ته ته تلې ده چې ایمان نه پس د ټولو نه افضل عمل جهاد دی، زیر بحث حدیث د دغو خلقو دپاره دلیل دی، دغه شان د کتاب الحج په ابتدائي احادیثو کې هم د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه په یو حدیث کې دا الفاظ موجود دي: (قال سئل رسول الله صلي الله عليه وسلم اي العمل افضل قال ايمان بالله ورسوله قيل ثم ماذا قال الجهاد في سبيل الله) (مشکوة صفحه ۲۲۱)

ددې نه معلومیږي چې ایمان نه پس جهاد په ټولو عملونو کې افضل عمل دی دارنګه په بخاري شریف کې یو روایت دی (جاء رجل الي النبي صلي الله عليه وسلم فقال دُلّني علي عمل يعدل الجهاد قال لا اجده) (بخاري) یعني یارسول الله ﷺ ما ته په اسلام کې داسې یو عمل اوښایه چې د جهاد برابر وي نبي علیه السلام وفرمائیل چې زه د جهاد برابر عمل نه مومم، په دې روایت کې هم دغو خلقو د ایمان نه پس د جهاد په افضلیت باندې استدلال کړی دی، بل طرفته د علماو یوه لویه طبقه دې طرف ته تلې ده چې د ایمان نه پس افضل عمل مونځ دی، کتاب الصلوة کې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روایت کې راغلې دي چې د ایمان نه پس افضل عمل "الصلوة لوقتها" دی (مشکوة صفحه ۵۸) هلته په دې حدیث باندې په حاشیه کې صاحب لمعات پوره تفصیل فرمایلی دی او بنده هم د توضیحات په اول جلد کې په دې باندې تفصیلي بحث کړی دی، دلته د مونځ او جهاد متعلق د تطبیق صورت علماو دا خودلی دی چې علی الاطلاق او عمومي فضیلت مونځ ته حاصل دی اګرچه د جهاد فضیلت هم موجود دی ددینه بهتر تطبیق دا دی چې جهاد کله د فرض کفایه په درجه کې وي نو مونځ ددې نه افضل دی ځکه چې مونځ په هر حالت کې فرض عین دی مګر کچیرې جهاد فرض عین شي نو جهاد د مونځ نه افضل کیږي (اشعة اللمعات) (تعين صانعا) صانع صنعت پیشه، سوداګر او کاریګر ته وایي یعنې کوم کاریګر او پیشه ور او د سوداګر سړي چې کاروبار نه چلیږي یا د هغه خرچه د هغه د اهل او عیال دپاره کافي نه ده، یا هغه سړی کاریګر خو دی مګر د کار جوړولو نه عاجز دی نو د داسې سړي مدد وکړئ چې په کوم صورت کې وي چې د هغه کاروبار شروع شي (المرقات ۵۴۹/۶) (او تصنع لآخرق) اخرق ناتجربه کار او د کاروبار نه ناخبره سړی ته وایي مطلب دا دی چې یو د فن ماهر سړی دی هغه لره پکار دي چې کاروبار او صنعت او حرفت او د مهارت نه ناواقفه سړي سره د هغه په فن کې مدد وکړي د دواړو جملو مطلب دیو مسلمان ورور سره د مدد کولو ترغیب دی. (المرقات ۵۴۹/۶)

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۳﴾ عَنِ الْبَرَاءِ بن عَازِبٍ قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې (یوه ورځ) د نبي کریم ﷺ په خدمت کې یو بانډه چې راغی

| |
|---|
| فَقَالَ: عَلِّمْنِي عَمَلًا يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ |
| او عرض يې وكړو چې تاسو ماته يو داسې عمل او ښائي دكوم په ذريعه سره چې جنت ته داخل شم ؟ |
| قَالَ: «لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ |
| نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل چې اګرچه تا مختصر سوال وكړو مګر د ډير اهم تفصيل د طلب تپوس دې وكړو |
| لَقَدْ أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ» |
| (بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته دا عمل او خودلو) چې ته نفس لره آزاد كړه او غلام ته نجات وركړه. باندې چې |
| قَالَ: أَوَ لَيْسَا وَاحِدًا؟ قَالَ: |
| عرض وكړو چې آيا دا دواړه خبرې (نفس آزادول او غلام ته نجات وركول) يو نه دي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل |
| "لَا عِتْقُ النَّسَمَةِ: أَنْ تَفَرَّدَ بِعِتْقِهَا وَفَكُّ الرَّقَبَةِ: |
| نه! د نفس آزادول خو دا دي چې ته په آزادولو كې يوائې او مستقل يې او د غلام آزادول دا دي چې |
| أَنْ تُعِينَ فِي ثَمَنِهَا وَالْمِنْحَةَ: |
| ته ددې په قيمت اداء كولو كې د هغه مدد وكړې پيسو والا منحه (ځاروى) وركړې او په ظالم رشته دار |
| الْوَكُوفَ وَالْفَيْءَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الظَّالِمِ فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذَلِكَ |
| باندې مهرباني او احسان وكړې چې په تا باندې ظلم كوي كچيرې تا نه دا ونه شي نو په اوږې باندې |
| فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ وَاسْقِ الظَّمْآنَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ |
| خوراک اوخوروه او په تړې باندې اوبه وڅكوه. دارنګه (خلقو ته) د ښې ګړې تلقين او تبليغ كوه او د بدۍ نه يې منع كوه. |
| فَإِنْ لم تطق فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان.[1] |
| كچيرې ته دا هم ونه كړې شي نو بيا (كم نه كم دومره خو وكړه چې) د ښې خبرې نه علاوه خپله ژبه بنده كړه. |

**توضيح** : أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ نسمه روح ته وايې او په نفس هم ددې اطلاق كيږي (الرَّقَبَة) د غلام د آزادولو په معنې سره دى (وَفُكَّ) فاء باندې ضمه ده او كاف باندې تشديد مفتوح او مكسور دواړه قسمه لوستلى شي دا هم د غلام د آزادولو په معنى سره دى دا دواړه لفظونه د معنې په اعتبار سره نزدې نزدې دي بلكې يو وو په دې وجه سوال كولو والا تپوس وكړو چې دا دواړه خو يو دي نبي عليه السلام ورته فرق او خودلو چې عتق هغه وي چې مثلاً تا يوائې چا لره آزاد كړو په دې آزادى كې ته مستقل يې او (فك) هغه وي چې مثلاً تا ديو غلام په آزادولو كې چا سره په پيسو كې مدد وكړو،

---

(1) أخرجه أحمد في المسند ٤/٢٩٩ والبيهقي في شعب الايمان ٤/٦٦ رقم الحديث ٤٣٣٥٠.

ددې باريک فرق نه دا خبره ثابتيږي چې د شارع کلام بالکل سرسري نه دي ګنړل پکار ځکه چې شارع هم په باريک اشارو کې کله مسئله بيانوي ځکه چې په قرآن او حديث کې ددې نظائر موجود دي، په دې د پوهيدو ضرورت دی لهذا په معتق، مولی، مدبر، مکاتب، ام ولده رقيق وغيره الفاظو کې فرق کول پکار دي. (المرقات ۵۵۰/۶) (المنحة) د ميم کسره (زير) دی د ورکړې په معنې سره وي دلته د منحة نه هغه اوښه يا غوا چيلی مراد ده چې د مال خاوندې محتاج ته په دې وجه ورکوي چې هر کله په هغې کې پی. وي هغه تر پی. حاصلوي هر کله چې پی. ختم شي نو بيا مالک ته واپس کړی شي په عربو کې دارنګه ډير زيات رواج وو. (المرقات ۵۵۱/۶) الوكوف واو مفتوح او ددې نه پس کاف باندې پيش دی دا د منحة صفت دی كثير اللبن څاروی مراد دی چې د هغې پی. داسې مسلسل بهيدو سره څټيږي څنګه چې اوبه د چت نه بهيدو سره راځټيږي وكف د چهت راځټيدو ته وايي. الفئ د رجوع او مهربانی. او نرمی. په معنی سره دی (منحة او الفئ) دواړه د فعل د مقدر کيدو د وجې نه منصوب دي اي وامنح المنحة واثر الفئ. (المرقات ۵۵۱/۶)

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَن عَمْرو بن عبسة أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ بَنَى مَسْجِدًا |
| او حضرت عمرو بن عبسه راوي دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې يو سړې (وړوکی يا لوی) مسجد |
| لِيُذْكَرَ الله فِيهِ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ |
| جوړ کړي چې په دې کې د الله تعالی ذکر وکړی شي نو د هغه دپاره به په جنت کې يو لوی کور جوړ کړی |
| وَمَنْ أَعْتَقَ نَفْسًا مُسْلِمَةً كَانَتْ فِدْيَتَهُ مِنْ جَهَنَّمَ. |
| شي او څوک چې يو مسلمان غلام لره آزاد کړي نو هغه غلام به دده دپاره د دوزخ د اُورنه د خلاصي سبب وي |
| وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ الله |
| او کوم سړی چې د الله په لاره کې (يعني په جهاد کې يا حج کې يا طلب د علم کې او يا اسلام کې څنګه چې په يو روايت کې |
| كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» |
| فرمائيلې شوی دی) بوډا شی نو د هغه بوډوالی به د قيامت په ورځ د هغه دپاره نور (رڼا) وي (د کوم په وجه |
| رَوَاهُ فِي شرح السّنة (ضَعِيف)[1] |
| چې د هغې ورځې نه خلاصی مومي) دا حديث مصابيح والا (په خپل اسناد سره) شرح السنة کې نقل کړی دی. |

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۳۱ رقم الحديث ۲۸۸ والبغوي في الشرح ۹/۳۵۵ رقم الحديث ۲۴۲۰ وأحمد في المسند ۴/۱۱۳

## الْفَصْل الثَّالِث

## د عالم دپاره روایت بالمعنی جائز دی

﴿۵﴾ عَن الغريف بن عَيَّاش الديلمي قَالَ: أَتَيْنَا وَاثِلَة بن الْأَسْقَع

حضرت غريف بن عياش ديلمي (تابعي) وايي چې مونږ د واثله بن اسقع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې حاضر

فَقُلْنَا: حَدِّثْنَا حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ

شو او عرض مو وکړو چې مونږ ته څه حديث بيان کړه چې په کې کمی بيشی نه وي حضرت واثله بن اسقع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَغَضِبَ وَقَالَ: إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَقْرَأُ

(دې خبرې اوريدو سره) غصه شو او وې ويل چې تاسو شپه او ورځ قرآن شريف لولئ او ستاسو

وَمُصْحَفُهُ مُعَلَّقٌ فِي بَيْتِهِ فَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ

قرآن ستاسو په کورونو کې زوړند وي مګر د دې باوجوهم (د سهوې او خطا باوجود) کمی بيشی کيږي

فَقُلْنَا: إِنَّمَا أَرَدْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم

مونږ عرض وکړو چې زمونږ مطلب خو صرف دا دی چې تاسو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه کوم حديث اوريدلی وي هغه مونږ ته بيان کړه،

فَقَالَ: أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو حضرت واثله رضي الله عنه دا حديث بيان کړو (يو ورځ) مونږ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې

فِي صَاحِبٍ لَنَا أَوْجَبَ يَعْنِي النَّارَ بِالْقَتْلِ

دخپل يو دوست معامله يوړله چې هغه په (خودکشی کولو سره يا بل چاره په قصد سره) قتل کولو سره خپل ځان د پاره د دوزخ اور

فَقَالَ: «أعتقوا عَنهُ يُعتِق اللهُ بِكُل عُضْو مِنْهُ عُضْوًا

واجب کړي وو نبي عليه السلام وفرمائيل چې د هغه سړي د طرف نه (غلام) آزاد کړئ الله تعالى به د دې غلام

من النَّار». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ [1]

هر اندام په بدله کې (د دوزخ) د اور نه خلاصی ورکړي. (ابوداؤد)

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٢٧٣ رقم الحديث ٣٩٦٤

**توضيح** : فَغَضِبَ حضرت واثله بن اسقع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوهه شو چې دا خلق د نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې الفاظ بعينه هم هغه شان د نقل کولو مطالبه کوي څنګه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد فرمايلي وو په دې وجه غوسه شو مګر کله چې دې حضراتو صحابي لره پوهه کړو چې زمونږ مطلب دا دی نو دهغه غوسه ختمه شوه .**ومصحفه معلق** هغه وخت قرآن شريف په مجلد شکل کې نه وو بلکه په جدا جدا څيزونو باندې ليکلی شوی وو بيا دې ټولو منتشرو څيزونو لره يې په يوه کيږه کې ترل او يو ديوال ته به يې زوړند کړي وو ، هم دې پس منظر لره په دې الفاظو سره بيان کړی شو ، ددې کلام نه معلومه شوه چې روايت بالمعنی کول جائز دي، هرکله چې مفهوم او مقصود يو وي، نخبة الفكر وغيره د اصول حديثو په کتابونو کې يې ليکلې دي چې روايت بالمعنی سيوا دعالم نه بل څوک نه شي کولی ( المرقات ۵۵۲/۶) **اوجب يعني النار بالقتل** يعنې هغه خو دکشي کړې وه چې په هغې سره واجب النار شوی وو، يا هغه بل څوک سړی قتل کړی وو او په غلطی سره يې هغه لره قتل کړی وو او دې سوال کوونکو خيال وکړو چې قتل خطاء هم موجب د دوزخ دی په دې وجه هغوی داسې الفاظ اداء کړل چې هغه واجب النار وو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل چې غلام آزاد کړه کفاره کافي ده، د زجاجة المصابيح په حاشيه کې دهغې مصنف ليکلي دي چې د غلام آزادولو د حکم نه پس ورکړی شوی وي او دقتل په وجه سره چې کومه سزا وه هغه کيدی شي چې دې خلقو د مخکې نه پوره کړی وي.

## د غلام په حق کې سفارش کول بهترينه صدقه ده

| |
|---|
| ﴿۶﴾ وَعَن سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ |
| او حضرت سمره بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل بهترينه صدقه هغه |
| الشَّفَاعَةُ بِهَا تُفَكُّ الرَّقَبَةُ» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شعب الإيمان»[1] |
| سفارش دی چې د هغې په نتيجه کې (د غلام) څټ ته خلاصی حاصل شي. |

**توضيح** : **الشفاعة** : د سفارش مطلب دادی چې سفارش کولو سره يې يو غلام آزاد کړو يا يو سړی خپل غلام لره قتلول غواړي يا هغه وهل غواړي يا دهمکي ورکوي په دې تنازعه کې سفارش کولو سره هغه مظلوم غلام لره بچ کول دا بهترينه صدقه ده .

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۲۴ رقم الحديث ۷۶۸۲.

# باب اعتاق العبد المشترک وشری القریب والعتق في المرض
# د عبدَ مشترک او د مرض په حالت کې غلام لره د آزادولو بیان

**قال الله تعالى: (فكاتبوهم ان علمتم فيهم خيرا) (النور: ۳۳)**

د پاسني باب او عنوان لاندې چې د کومو مسائلو او احکامو متعلق احادیث راځي هغه مسائل او احکام په درې قسمه باندې وي یو خو د عبد مشترک مسائل او احکام دي په باب کې یو عنوان ددې دپاره قائم دی او ددې متعلق احادیث مذکور دي، د باب دویم عنوان دادی چې کچیرې یو سړي یو غلام واخستلو او هغه غلام ددې اخستونکي نزدې رشته دار ثابت شو نو صرف په اخستلو سره به هغه آزاد شي، څه احادیث ددې عنوان متعلق دي، دریم عنوان دادی چې کچیرې څوک په مرض الموت کې خپل غلام آزاد کړي نو ددې څه حکم دی؟ دا ټول مسائل او په دې کې د فقهاو اختلاف او د احادیثو نه استدلال په دې باب کې به بیانیږي، دارنګه په دې باب کې به د مدبر، ام ولده او مکاتب متعلق احادیث هم راځي.

## د شریک غلام د آزادولو مسئله:

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم سړی په یو (مشترک)

«مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ وَكَانَ لَهُ مَالٌ

غلام کې خپله حصه آزاده کړي (نو هغه دپاره بهتره دا ده چې) کچیرې دده سره دومره مال وي چې

يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ الْعَبْدُ قِيمَةَ عَدْلٍ

(ددې غلام د باقي حصو) د قیمت برابر وي نو په انصاف سره به د ددې غلام قیمت به لګولی شي او

فَأُعْطِيَ شُرَكَاؤُهُ حِصَصَهُمْ وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ

ددې غلام نورو شریکانو ته به د هغوی د حصو قیمت ورکړي هغه غلام به د هغه د طرف نه آزاد شي

وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

او کچیرې د هغه سره دومره مال نه وي پیدا به ددې غلام هغه حصه چې دي سړي آزاده کړه هغه به آزاده وي

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۵/۱۵۱ رقم الحدیث ۲۵۲۲ ومسلم في ۲/۱۱۳۹ رقم الحدیث (۱۵۰۱) وأبوداؤد في السنن ۴/۲۵۶ رقم الحدیث ۳۹۴۰ والترمذي في ۳/۶۲۹ رقم الحدیث ۱۳۴۶ والنسائي في ۷/۳۱۹ رقم الحدیث ۴۶۹۹ وابن ماجه في ۲/۸۴۴ رقم الحدیث ۲۵۲۸.

**توضیح** : من اعتق شرکا له: شرکا. په یو غلام کې د څو شریکانو نه د یو حصې ته **شِرْکًا** ویلی شوی دی (المرقات ۵۵۵/۶) یو **قِنّ** مطلق دی او دویم **حُر** مطلق دی د دې دواړو په مینځ کې درجات دي مثلاً مکاتب، مدبر، ام ولده، او معتق البعض ددې ټولو جدا جدا احکام دي، د حضرت عمر رضي الله عنه مذکوره حدیث کې دا مسئله بیان شوې ده چې کله د دوه سړو په مینځ کې یو غلام [redacted] یو شریک خپله حصه آزاده کړي نو اوس به څه کیږي په دې کې د فقهاو اختلاف دی.

**د فقهاو اختلاف** : جمهور، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي چې کچیرې آزادوونکی مالدار وي نو هغه له پکار دي چې د شریکوال د حصې قیمت هم اداء کړي او پوره غلام د هغه د طرف نه آزاد کړی شي او ولاء هم آزادوونکي ته ملاو شي، او کچیرې آزادوونکی غریب وي نو د هغه د شریکوال حصه به غلامه وي د هغوي په نزد د غلام په اعتاق کې تجزي جائز ده، لهذا نیم غلام آزاد دی، یوه ورځ به دا د مالک په خدمت کې تیروي او یوه ورځ به آزاد او فارغ عیش کوي. (المرقات ۵۵۵/۶)

**صاحبین** : امام ابو یوسف او امام محمد یعني صاحبین فرمایي چې کچیرې آزادوونکی مالدار وي نو د غلام بقیه نیم قیمت به دویم شریکوال ته اداء کوي او غلام به د هغه د طرف نه آزاد شي او ولاء به هم ده ته ملاویږي او کچیرې آزادوونکی غریب وي نو غلام به پخپله سعي او محنت کولو سره پیسې وګټي او خپل نیم قیمت به شریک مالک ته ورکړي نو آزاد به شي دې ته استسعاء ویلی شي، بهرحال د صاحبینو په نزد په هرصورت کې غلام آزادیږي ځکه چې د هغوي په نزد (اعتاق تجزي) لره نه قبلوي او دې آزادوونکي د خپل شریک حصه برباد کړه، لهذا د ضمان په طور به د خپل شریکوال د دې حصې قیمت اداء کوي کچیرې ده سره مال وي، او که نه وي په غلام استسعاء لازم ده.

**امام ابو حنیفه** : امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائي چې کچیرې مشترک غلام لره آزادوونکی مالدار وي نو د هغه شریک ملګري ته د دریو خبرو اختیار حاصل دی یا خو به هغه هم خپل حصه آزادوي په ولاء کې به دواړه شریک وي، یا هغه آزاد کونکی به د خپل ملګري نه د هغه حصه په قیمت واخلي، یا به غلام سعي کولو سره خپله حصه وصول کړي، او کچیرې آزادوونکی پخپله غریب وي نو د هغه شریک ملګري ته به د دو خبرو اختیار حاصل وي: یا خو به هغه هم د الله تعالی د پاره خپله حصه آزاده کړي، او یا دې د غلام نه محنت واخلي او خپل حق دې ترې وصول کړي.

**په اعتاق کې د تجزیې بحث**: دا یو ځانله مشکل بحث دی چې آیا اعتاق تجزي قبلوي یا نه؟ د جمهورو په نزد اعتاق تجزي قبلوي، د امام ابو حنیفه په نزد هم اعتاق تجزي قبلوي، البته د فقهي او اجتهادي اختلاف

د وجې نه په مسئله کې فرق راغی چې کومه پاس بیان کړی شوه، د صاحبینو مسلک دادی چې اعتاق قطعًا تجزي نه قبلوي همدا وجه ده چې دمشترک غلام یوه حصه هم کچیرې یو شریک آزاده کړه نو پوره غلام به هغه وخت آزاد شي، د دې بنیادي اختلاف په وجه د مسئلې په ثمراتو او نتائجو باندې اثر پریوځي، او په فقهاو کې اختلاف راغی دا خبره د یاد ساتلو ده چې امام ابوحنیفه چې د کوم اعتاق تجزي او د عدم تجزي خبره کوي هغه اعتاق بمعنی ازله ملک دی یعنې دیو شریک ملک زائل شو او د دویم ملک باقي دی، او صاحبین چې کوم اعتاق ته غیر متجزي وایې هلته اعتاق بمعني اثبات الحریة دی لهذا کله چې یو شریک خپله حصه آزاده کړه او دویم شریک لره نقصان ورسیدو نو په دې کې تضمین یا استسعاء لازم ده، د احنافو امامانو په خپل مینځ کې چې کوم اختلاف دی دا په حقیقت کې د اعتاق تفسیر دی صاحبینو د اعتاق تفسیر اثبات الحریة سره کړی دی په اثبات الحریة کې د تجزي څوک هم قائل نه دي، او امام ابوحنیفه د اعتاق تفسیر په ازاله د ملک سره کړی دی او ازاله د ملک کې د تجزي قول فقهاء قائل دي، لهذا دا اختلاف گویا لفظي اختلاف دی یا دا د تعبیر او تفسیر اختلاف دی په دې مسئله کې د پوره بحث خلاصه دا راووتله چې دجمهورو په نزد د مشترک غلام آزادولو والا کچیرې په حالت د یسار کې (مالداری) وي نو هغه به خپل شریکوال ملګري ته ضمان اداء کوي، او کچیرې په حالت د اعسار او تنګدستی کې دی نو د شریک دپاره نه ضمان شته او نه استسعاء بس څومره غلام چې آزاد شي هغه حصه به آزاده وي او څومره حصه چې باقي پاتې شوه هغه غلام دی، یو ورځ به د خپلې نیمې حصې د مالک خدمت کوي او په دویمه ورځ به آزاد ګرځي، ددې حضراتو په نزد اعتاق تجزي قبلوي، امام ابوحنیفه په دې صورت کې فرمائي چې د معتق د مالداری په حالت کې دده شریکوال ته د دوو خبرو اختیار حاصل دی (۱) تضمین (۲) استسعاء (۳) لله في الله آزادول . او که معتق د غریبی په حالت کې وو نو دده شریکوال ته د دریو خبرو اختیار حاصل دی: (۱) مجانًا (بلا عوضه) دې خپله حصه آزاده کړي (۲) غلام نه دې استسعاء وکړي د امام صاحب رحمه الله په نزد هم اعتاق تجزي قبلوي، د صاحبینو په نزد دیوې حصې د آزادی په صورت کې پوره غلام به په هر صورت کې آزادیږي، ځکه چې په اعتاق کې د صاحبینو په نزد تجزي نشته دی، لهذا معتق باندې په حالت یسار کې د خپل شریک دپاره تضمین لازم دی او په حالت د اعسار کې په غلام باندې سعي لازم ده . د څو اصطلاحي الفاظو تشریح : په دې بحث کې د څوثقیلو الفاظو تشریح ضروري ده دې دپاره چې قارئینو دپاره آسانې وي: (۱) **تضمین** ددې معني ضمان اداکول او تاوان ورکول، مطلب دا چې کله مالدار ملګري دبل ملګري سره شریک غلام کې خپله حصه آزاده کړه نو هغه دې د خپل ملګري د حصې تاوان ورکوي (۲) **استسعی** داد محنت او کسب او دکتې طلب کولو په معنی دی مطلب دا چې د غلام آزادولو والا چې کله غریب وي نو د ده خپل شریک ملګری

به د غلام نه د خپلې حصې د قیمت برابر کټه وصولوي (۳) **ولاء** کوم سړی چې غلام آزاد کړي نو د غلام د مرګ نه پس دده میراث به آزادولو والا ته ملاویږي ددې میراث نوم ولاء ده کچیرې دواړو کسانو غلام آزاد کړو نو ولاء به دواړو ته ملاویږي (۴) **معتق** دا اسم فاعل صیغه ده یعني آزادولو والا دیو غلام آزادولو والا ته معتق وائي (۵) **تجزي** : دا لفظ دلته د اعتاق سره استعمال شوی دی دا جزء جزء او د ټکړې ټکړې کیدو په معنی دی په اعتاق کې تجزي ده د دې مطلب دا دی چې جزوئي اعتاق او جزوئي آزادي معتبره ده. (۶) **حالت یسار** : یسار مالداری ته وایې حالت یسار کې یعني د مالداری په حالت کې او حالت اعسار یعني د تنګدستی په حالت کې. (۷) **مجانا** : یعني مفت آزادول.

**د فقهاو دلائل** : جمهورو د اول فصل د رومبي حدیث یعني د زیر بحث د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د حدیث نه استدلال کړی دی، جمهور فرمایې چې دا حدیث بالکل واضح دی چې کچیرې آزادولو والا مالدار وي نو هغه به دویم شریکوال ته صرف ضمان اداء کوي او کچیرې غریب وي نو بیا به غلام پاتې وي، بل څه صورت نشته دی، صاحبینو د بخاري او مسلم د ابوهریره رضي الله عنه د حدیث نه استدلال کړی دی چې په دې باب کې حدیث نمبر ۲ دی، دارنګه صاحبینو د حدیث نمبر ۱۰ نه استدلال کړی دی دواړه حدیثه په واضح طور باندې ذکر دي چې اعتاق تجزي نه قبلوي بلکه د آزادولو والا کچیرې مالداره وي نو هغه به خپل شریکوال ته تاوان ورکوي او کچیرې غریب وي نو د غلام به سعي کوي د حدیث الفاظ دا دي : **(قال ان کان غنیا ضمن وان کان فقیرا سعی العبد في حصة الاخري)**

امام ابو حنیفه رحمه الله د جمهورو او د صاحبینو د دواړو د استدلالاتو نه خپل مسلک ثابت کړی دی او امام طحاوي رحمه الله هم د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه یو اثر په طور د دلیل پیش کړی دی، شاه انورشاه صاحب د مسند احمد د یو روایت او د مصنف عبدالرزاق یو روایت دامام ابوحنیفه د مسلک په تائید کې نقل دي، بهرحال د صاحبینو مسلک ظاهري احادیثو ته په نظر سره ډیر واضح دی او بیا د جمهورو مسلک واضح دی.

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې نبي علیه السلام وفرمائیل چې کوم سړی |
| «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ أُعْتِقَ كُلُّهُ |
| (د مشترک) غلام نه خپله حصه آزاده کړي نو هغه غلام پوره آزاد شو (دا آزادي به د هغه آزادوونکي سړي د طرف نه ګڼلی شي) |
| إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ |
| او کچیرې یو سړی سره (دومره) مال وي (چې هغه د خپلې حصې نه علاوه د باقي حصو قیمت اداء کولی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَإِنْ | لَمْ | يَكُنْ | لَهُ |
| شي نو نورو شريكانو ته دي دهغوی دحصو قيمت ورکړي) او کچيرې دده سره دومره مال نه وي نو بيا به | | | |
| مَالٌ | اسْتَسْعَى | الْعبد | غير | مشقوق |
| هغه غلام (د باقي حصو) په قدر (محنت مزدوري) يا د نورو شريکانو په خدمت کولو باندې به مامور | | | |
| عَلَيْهِ» | متفق عليه | (صَحِيح)[1] | | |
| کولی شي مګر غلام لره (په څه) مشقت کې دې مبتلا نه کړی شي (چې د هغه د طاقت نه بهر وي). (بخاري ومسلم) | | | |

## مسئلة الاعتاق في مرض الموت

﴿۳﴾ وَعَن عمرَان بن حُصَيْن: أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ

او حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې يو سړي د خپل مرګ په وخت کې خپل شپږ غلامان

لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُمْ

آزاد کړل او دې سړي سره ددې غلامانو نه علاوه نور مال نه وو (بيا ددې سړي د وفات نه پس چې کله

فَدَعَا بهم رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پته ولګيده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) هغه غلامان راوغوښتل او (د دوو دوو په تعداد کې)

فَجَزَّأَهُمْ ثَلَاثًا ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ

يې د دوی دری حصې کړې او بيا يې د دوی په مينځ کې قرعه واچوله د غه شان يې په دوی کې دوو لره آزاد کړل

وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

او څلورې پرېښودل او د آزادولو والا په باره کې يې (د ناراضګۍ اظهار) دې اره سخت الفاظ وفرمائيل.

وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْهُ وَذَكَرَ:

او د نسائي په روايت کې چې د حضرت عمران رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دی د دې الفاظو په ځای دا الفاظ دي

---

(1) أخرجه البخاری فی صحيحه ٥/١٣ رقم الحديث ٢٥٠٤ ومسلم في ٢/١١٤٠ رقم الحديث (١٥٠٣.٣) وأبوداؤد في السنن ٤/٢٥٤ رقم الحديث ٣٩٣٧ والترمذي في ٣/٦٣٠ رقم الحديث ١٣٤٨ وابن ماجه في ٢/٨٤٤ رقم الحديث ٢٥٢٧ وأحمدفی المسند ٢/٢٥٥

| |
|---|
| «لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أُصَلِّيَ عَلَيْهِ» بَدَلَ: |
| چې ما خو دا اراده کړې وه چې د دې سړې د جنازې مونځ ونه کړم. او د ابوداؤد په روايت کې داسې دي |
| وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: قَالَ: |
| چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (د دې سړې په حق کې په طور د زورنې) داسې وفرمائيل چې زه دده د دفن کولو |
| «لَوْ شَهِدْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُدْفَنَ لَمْ يُدْفَنْ فِي مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ» اخرجه مسلم (صَحِيحٌ)[۲] |
| نه مخکې دده جنازې ته رسيدلی وی نو د مسلمانانو په قبرستان کې به مې نه دفن کولو. |

**توضيح** : **اعتق ستة مملوكين** : مملوکين د مملوک جمع ده يعنې شپږ غلامان دې سړې آزاد کړل او همدا شپږ غلامان دده ټوله سرمايه وه په مرض الوفات کې په دې غلامانو کې دده د ورثو حق وو په دې آزادولو سره دې سړې د ورثو حق ضائع کړو په دې وجه نبي عليه السلام د ناراضګۍ اظهار وکړو او بيايې دا غلامانو دړې حصې کړل قرعه (خسنې) يې واچولو په دريمه حصه کې يې عتق نافذ کړو او څلور غلامان يې پريخوستل، ددې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چې کچيرې يو کس د خپل مرګ په مرض کې خپل غلامان آزاد کړي او هغه سره ددې غلامانو نه علاوه بل څه مال نه وي نو دا عتق به په دريمه حصه کې نافذ وي په دې کې د ټولو فقهاو اتفاق دی، البته دا مسئله چې کوم کوم غلام به آزاد وي او د آزادۍ د صورت به څه کيفيت وي په دې کې اختلاف دی. (المرقات ۵۵۹/۶، ۵۶۰)

**د فقهاو اختلاف** : جمهور فرمائي چې ټول غلامان به په دريو حصو کې تقسيمېږي بيا به د دريمې حصې د آزادۍ د تعين دپاره قرعه اچولی شي مثلا د شپږو غلامانو دړې حصې جوړولو سره د قرعې په ذريعې سره يوه دريمه حصه يعنې دوه به آزاد شي او دوه حصې يعنې څلور به بدستور سابق غلامان پاتې شي چې وارثانو ته به ملاويږي لکه څنګه چې د عمران بن حصين رضي الله عنه په روايت کې بيان کړی شو.

امام ابوحنيفهٔ فرمائي چې په مذکوره صورت کې چې څومره غلامان وي د هر هر غلام به دريمه حصه آزاديږي او دباقي دوو حصو په آزادولو کې به غلام پخپله سعي او محنت کولو سره ګټه کوي او پيسې به به راوړي مالک ته به يې اداء کوي او خپل ځان به خلاصوي، ګويا چې د مرض الموت دا اعتاق به په ثلث مال کې نافذ ګڼلی شي او دا ثلث به په ټول مال کې شائع کيږي. (المرقات ۵۶۰/۶)

**دلائل** : جمهورو د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه د روايت نه استدلال کړی دی چې د ظاهري

---

(۲) أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۱۲۸۸ رقم الحديث (۱۶۶۸.۵۶) وأبوداؤد فى السنن ۱/۴۶۶ رقم الحديث ۳۹۵۸ والترمذي في ۳/۶۴۵ رقم الحديث ۱۳۶۴ والنسائى فى ۱/۶۴ رقم الحديث ۱۹۵۸ وابن ماجه في ۲/۷۸۶ رقم الحديث ۲۳۴۵ وأحمدفي المسند ۱/۴۲۸ .

الفاظو په لحاظ سره په خپله مدعا باندې واضح دليل دی امام ابوحنيفه ؒ فرمائي چې قرعه اندازي د اثبات حق دپاره نه وي بلکه دتطييب د خاطر دپاره وي، ها! د اسلام په ابتداء کې به قرعه اندازي د اثبات د حکم دپاره وه مګر روستو جواري حرامه کړی شوه نو دقرعه اندازی حکم هم موقوف شو او قرعه اندازي صرف د مقرره حصص د تعيين دپاره د تطييب خاطر په وجه باقي ده، د اثبات حق په باره کې منسوخ ده، امام طحاوي رحمه الله د قرعه اندازی د دې صورت په منسوخ کيدو باندې ډير دلائل پيش کړې دي، د مصنف عبدالرزاق يو روايت هم ددې په نسخ باندې دال دی چې دهغې الفاظ دادي :

**(روى عبدالرزاق بأسناد رجاله ثقات ان رجلا من بني عذرة اعتق مملوكا له عند موته وليس له مال غيره فاعتق رسول الله صلي الله عليه وسلم ثلثه وامره ان يسعى في الثلثين)**

همداشان د مسند احمد د حديث نه په واضح طور باندې معلوميږي چې دهر غلام به يو ثلث آزاد وي.

جواب : ددې حديث تعلق د حرمت د قمار نه مخکې زماني سره دی کله چې د قمار د حرمت حکم راغی نو داثبات د حق دپاره د قرعه اندازی حکم هم حرام وګرځيده، په قرآن او حديث کې د قمار حرمت څه پټ امر نه دی، لهذا د اثبات د حق دپاره د قرعه اندازی حکم منسوخ شوی دی، دويم جواب دادی چې ددې حديث واقعه يو جزئي واقعه ده ددې نه ضابطه نه شي جوړيدی، په حديث کې يو څو احتمالات هم کيدی شي او ددې الفاظو کې اضطراب هم دی، په بعضو کې د آزادولو او په بعضو کې د مدبر جوړولو الفاظ دي، په بعضو کې دشپږ غلامانو ذکر دی او په بعضو کې د يو غلام ذکر دی.

## د پلار حق څنګه ادا کيدې شي

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې هيڅ يو ځوی د خپل |
| «لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدَه إِلَّا أَن يجده مَمْلُوكا فيشتريَهُ |
| پلار بدله نه شي ورکولی مګر په دې صورت کې چې کله هغه خپل پلار لره غلام وموميِ او هغه واخلي |
| فيعتقه» . (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| او آزادي کړي. (بخاری مسلم) |

**توضيح : فيعتقه** : کچيرې څوک سړی خپل ذي رحم محرم يا خصوصًا د پلار مالک شي او په څه

---

(۱) أخرجه في صحيحه ۲/۱۱۴۸ رقم الحديث (۱۵۱۰.۲۵) وأبوداؤد في السنن ۵/۳۴۹ رقم الحديث ۵۱۳۷ والترمذي في ۴/۲۷۸ رقم الحديث ۱۹۰۶ وابن ماجه في ۲/۱۲۰۷ رقم الحديث ۳۶۵۹ وأحمد في المسند ۲/۲۳۰

طریقې سره دده په ملکیت کې راشي نو هغه به آزادیږي په دې کې د چا هم اختلاف نشته البته د آزادۍ په کیفیت او تفصیل کې لږ شان اختلاف دی: (المرقات ۵۶۰/۶)

**د فقهاو اختلاف**: د اهل ظواهرو غیرمقلدینو حضراتو په نزد ذي رحم محرم صرف په اخستو سره نه آزادیږي بلکې د اخستو نه پس به آزادول غواړي بیا به آزادیږي، د جمهورو فقهاؤ په نزد صرف په مالک جوړیدو سره آزادیږي د آزادولو ضرورت نشته.

**دلائل**: اهل ظواهر د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د زیر بحث روایت نه استدلال کوي چې په دې کې د فیعتقه په الفاظو کې فاء د تعقیب مع الوصل دپاره ده یعني مخکې اخستل او د اخستو نه پس د ځوی پلار لره ازادول، معلومه شوه چې صرف په مالک جوړیدو سره نه آزادیږي بلکه د مالک جوړیدو نه پس آزادول ضروري دي. جمهورو فقهاؤ د حضرت سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د راتلونکي روایت نمر ۶ نه استدلال کړی دی چې په کې دا الفاظ راغلي دي (من ملک ذا رحم محرم فهو حر) دغه شان د ابن عمر رضي الله عنه روایت دی کوم چې امام نسائي نقل کړی دی چې دهغې الفاظ دا رنګه دي (عن ابن عمر انه علیه السلام قال من ملک ذا رحم محرم عتق علیه) په دې دواړو حدیثونو کې په نفس ملک سره د اعتاق حکم لګولی شوی دی د مستقلې آزادۍ څه ذکر نشته دی معلومه شوه چې صرف مالک جوړیدل د آزادۍ دپاره کافي دي. (المرقات ۵۶۰/۶)

**جواب**: د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت کې (فیعتقه) کې فاء د سببیت دپاره ده په دې صورت کې به ترجمه داسې وي چې هغه خپل پلار لره غلام وموندلو او هغه یې د دې دپاره واخستلو چې هغه آزاد کړي، د دې مسئلې تفصیل د حضرت سمره رضي الله عنه د حدیث نمبر ۶ لاندې هم راځي. (مرقات ۵۶۱/۶)

## مدبر غلام خرڅول جائز دي یا نه؟

| |
|---|
| ﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَبَّرَ مَمْلُوكًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ |
| او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې یو انصاري خپل غلام لره مدبر کړو او هغه سره د دې غلام نه علاوه |
| مَالٌ غَيْرُهُ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: |
| نور هیڅ مال نه وو کله چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د دې پته ولګیده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل |
| «مَنْ يَشْتَرِيهِ مني؟» فَاشْتَرَاهُ لعيم بن النَّحَّامِ بِثَمَانِمِائَةٍ |
| چې دا غلام زما نه څوک اخلي؟ دا رنګه یو سړي نعیم بن نحام دې غلام لره د اتو سوو (۸۰۰) |

| |
|---|
| دِرْهَمٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ |
| درهمو په عوض کې واخستلو (بخاري ومسلم) د مسلم په روايت کې داسې دي چې يو سړې نعيم |
| بْنُ عَبْدِ اللهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَجَاءَ بِهَا |
| بن عبدالله عدوي دې غلام لره د اتو سوو (۸۰۰) درهمو په عوض کې واخستلو هغه اته سوه ۸۰۰ درهمه |
| إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ |
| دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې پيش کړل او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه اته سوه درهم هغه سړې ته ورکړل (د چا چې |
| ثُمَّ قَالَ «ابْدَأْ بِنَفْسِكَ |
| غلام وو) او وې فرمائيل چې ته دا رقم د ټولو نه مخکې په خپل ځان باندې خرچ کړه ددې په ذريعې |
| فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ فَلِأَهْلِكَ فَإِنْ |
| سره ثواب حاصل کړه او ددې نه پس که څه بچ شي نو په خپل اهل باندې خرچ کړه که هغوی باندې |
| فَضَلَ عَنْ أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ فَإِنْ |
| د خرچ کولو نه پس هم څه بچ شی نو دا خپل نزدې رشته دارانو باندې خرچ کړه که هغوی باندې هم د |
| فَضَلَ عَنْ ذِي قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهَكَذَا وَهَكَذَا» يَقُولُ: |
| خرچ کولو نه پس څه پاتې شی نو دې لره دارنګه او دارنګه خرچ کړه. راوي وائي چې د دارنګه نه |
| فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ (اخرجه البخاري ومسلم)[۵] |
| مراد دا دی چې) دا د خپل وړاندې نبي او کس طرفته خرچ کړه (متفق عليه) |

(يعنې ستا مخې او نبي او کس طرفته چې کوم سوال کوونکي جمع وي هغوي ته يې د الله دپاره ورکړه.)

**توضيح**: دبر مملوکا : غلام لره مدبر جوړول دارنګه وي چې مالک خپل غلام ته واويې چې ته زما د مرګ نه پس آزاديې (**يعني اثبات العتق عن دبر**) مدبر په دوه قسمه دی: يو مدبر مطلق دی او بل مدبر مقيد دی، مدبر مطلق هغه وي چې مالک هغه ته ووايې چې زما د مرګ نه پس ته آزاديې او مدبر مقيد هغه دی چې مالک هغه ته ووايې چې زما په دې موجوده بيماری کې کچيرې زه مړ شوم نو ته آزاديې، اوس د مدبر مطلق په خرڅولو يا نه خرڅولو کې د فقهاو اختلاف دی: (المرقات ۵۶۲/۶)

---

(۵) أخرجه البخاری ۱۱/۶۰۰ رقم الحديث ٦٧١٦ ومسلم في ۳/۱۲۸۹ رقم الحديث (۹۹۷.۵۸) والترمذي في ۳/۵۲۳ رقم الحديث ۱۲۱۹.

**د فقهاؤ اختلاف**: امام شافعيؒ او امام احمد بن حنبلؒ فرمائي چې د مدبر خرڅول جائز دي، امام ابو حنيفهؒ او امام مالکؒ فرمائي چې داسې غلام چې مدبر وي دهغه آزادول خو جائز دي مګر ددې خرڅول يا چا ته هبه کول يا په بله طريقه باندې دخپل ملک نه ويستل د بل په ملک کې ورکول جائز نه دي، ها! خپل ځان سره يې د خادم په طور ساتلی شي کچيرې وينځه ده نو هغې سره جماع هم کولی شي او بل ته يې په نکاح هم ورکولی شي مګر دخپل ملک نه ويستل جائز نه دي، د مدبر مقيد حکم ددې نه مختلف دی د هغه خرڅول هبه کول جائز دي خپل ځان سره يې ساتل هم جائز دي او دخپل ملک نه ويستل يې هم جائز دي او د مالک د مرګ نه پس مدبر مقيد به هم داسې آزاد شي څنګه چې مدبر مطلق آزاديږي. (المرقات، ۵۶۲،۵۶۳/۶)

**دلائل**: شوافعو او حنابلو د زير بحث د حضرت جابر رضی الله عنه د روايت نه استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ بالکل واضح دي نبي عليه السلام فرمائي (**من يشتريه**) د حضرت نعيم په باره کې دي چې (فاشتراه) نو په خرڅولو او اخستلو کې څه شبهه نشته دی، لهذا د مدبر بيع جائز ده، د احنافو ائمو او مالکيانو د حضرت ابن مسعود، حضرت عمر، حضرت عثمان وغيره اکثرو صحابو رضي الله عنهم اجمعين او د تابعينو د روياتو او آثارو نه استدلال کړی دی، دارنګه په **البدائع و الصنائع** کې دامام ابو حنيفه رحمه الله دا مقوله نقل ده هغوي فرمائي (**لو لا قول هؤلاء الاجلة لقلت بجواز بيع المدبر**) کچيرې د علم ددې غرونو قول مخې ته نه وی نو ما به د مدبر د بيعې د جواز فتوی ورکوله، احنافو او مالکيانو د دارقطني دې روايت نه هم استدلال کړی دی چې د هغې الفاظ دارنګه دي (**المدبر لا يباع ولا يوهب وهو حر من ثلث المال**) (بحواله نصب الراية جلد ۳ صفحه ۲۸۵) دا حديث اګرچه موقوف دی مګر د غير مدرک بالقياس په صورت کې موقوف حديث د مرفوع په حکم کې وي.[۶]

**جواب**: د مذکوره حديث يو جواب دادی چې دا حديث په مدبر مقيد باندې محمول دی او د مدبر مقيد په بيع کې زمونږ اختلاف نشته دی، دويم جواب دادی چې نبي عليه السلام دهغه مدبر مدبريت ختم کړو او د هغې نه پس يې هغه خرڅ کړو دا د نبي عليه السلام خصوصيت وو، دريم جواب دادی چې دلته د بيعې اطلاق په اجاره باندې شوی دی او اجاره باندې د بيعې اطلاق کيږي نو دلته د بيعې نه بيع الخدمة يعنې اجاره مراد ده، او د بعضې روياتو نه ثابته ده چې دې مدبر لره يې په اتو درهمو باندې په اجاره ورکړی وو. (نصب الرايه جلد ۳ صفحه ۲۸۶)

**تنبيه**: د مشکوة شريف په ټولو نسخو کې د لته نعيم بن نحام ليکلی شوی دی، شارحين وائي چې دا د

---

(۶) المرقات ۵۶۴/۶ نصب الرايه: ۲۸۵/۳

کاتب غلطي ده ځکه چې نعيم هغه د صحابي نوم دی او نحام دهغه لقب دی ځکه چې په حديث کې راځي چې نبي عليه السلام وفرمائيل چې په جنت کې زه کله داخل شوم نو ما د نعيم (نحمة) واوريده نحمه پټ غوندې آواز يا تو خی کول، غاړه تازه کولو آواز ته وايي په دې وجه دده لقب نحام شو، ځکه دده د پلار نوم عبدالله دی او حضرت نعيم په مکه مکرمه کې مسلمان شوی وو بيا د صلح حديبيه په زمانه کې يې مدينې ته هجرت وکړو ده سره د خاندان څلويښت کسان هم وو دا د شام په زمکه په يوه غزوه کې شهيد شو. (مرقاة ملا علي قاري) (المرقات ۵۶۲/۶، ۵۶۱)

## ذي رحم په ملکيت کې راتلو سره آزاديږي

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۶﴾ عَنِ الْحسن عَنْ سَمُرَةَ عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت حسن بصري رحمه الله د حضرت سمره رضي الله عنه نه او هغه د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم نه نقل کوي چې

قَالَ: «من ملك ذَا رحم

نبي عليه السلام وفرمائيل چې کوم سړي که په اختيار سره او که په هبه کولو يا د وراثت په ذريعې) سره د خپل ذي محرم

محرم فَهُوَ حُرٌّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه. (۷)

د خپل ذي رحم محرم مالک شو نو هغه به آزاديږي. (روايت کړې دي ابو داؤد او ابن ماجه)

**توضيح:** من ملک ذا رحم محرم: ذي رحم محرم نه هغه خلق مراد دي چې د هغوی په خپل مينځ کې هم نکاح نه کيږي مثلاً تره، وراره، ترور (دپلار خور) خاله (دمور خور)، نانا (دمور پلار) ناني (دمور مور) دادا (دپلار پلار) دادي (د پلار مور) اصول او فروع، اوس د فقهاو په دې کې اختلاف دی چې کوم يو قرابت موجب د حريت دی او کوم نه دی. (المرقات ۵۶۵/۶)

**د فقهاو اختلاف:** د امام شافعيؒ په نزد قرابت ولادت يعني اصول او فروع موجب د حريت دي، لهذا دا حريت پلار نيکه موريانې او نياګانې پورته پورې او ځامن او لونړه لاندې پورې تولو کې ثابتيږي. او قرابت اخوت وغيره کې حريت نه ثابتيږي، احناف مالکيان او حنابله جمهور فرمائي چې د هر قسمه قرابت والا چې کله د خپل ذي رحم محرم مالک جوړ شي نو هغه غلام به آزاديږي که قرابت ولادت وي او يا قرابت

---

(۷) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۲۵۹ رقم الحديث ۳۹۴۹ والترمذي في ۳/۶۴۶ رقم الحديث ۱۳۶۵ وابن ماجه في ۲/۸۴۳ رقم الحديث ۲۴ وأحمد في المسند ۵/۲۰.

اخوت وي. (المرقات ۵۶۵/۶)

**دلائل** : شوافع حضرات فرمائي چې دمالک او آقا د رضامندۍ نه بغير صرف په اخستلو سره د غلام آزاديدل خلاف قياس دي مګر د قرابت ولادت يعني اصولو اوفروعو کې دا حکم خلاف القياس ثابت شوی دی، لهذا دا نص به په خپل مورد کې بند او منحصر وي نو د اصولو او فروع نه سوا اخوت وغيره ته به شامل نه وي، جمهورو د حضرت سمره رضي الله عنه زير بحث حديث نه استدلال کړی دی چې په خپل مفهوم او مضمون کې مطلق دی چيرته چې ذي رحم محرم الفاظ راغلي دي، لهذا دا مطلق به په خپل اطلاق باندې جاري ساتلی شي په دې کې د قرابت ولادت څه تخصيص نشته دی، نو اصول اوفروع او اخوت وغيره ټولو ته به شامل وي، شوافعو ته دا جواب دی چې کله صريح حديث موجود وي نو د قياس څه ضرورت دی. (المرقات ۵۶۶/۶)

## مسئلة بيع ام الولد

| |
|---|
| ﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام و فرمائيل چې کله |
| وَلَدَتْ أَمَةُ الرَّجُلِ مِنْهُ فَهِيَ مُعْتَقَةٌ عَنْ دُبُرٍ |
| د چا وينځه د هغه د (نطفې) نه بچی وزيږوي نو هغه وينځه به دده د مرګ پسې يا يې دا و فرمائيل |
| مِنْهُ أَوْ بَعْدَهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ (صَحِيح)[۸] |
| چې د دې سړي د مرګ نه پس آزاده شي. (دارمي) |
| ﴿۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عنه قَالَ: بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې مونږ د ماشومانو مينديې (ام ولدې) لره خرڅه کړه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام |
| وَأَبِي بَكْرٍ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ |
| او د حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې مګر چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خليفه شو نو |
| نَهَانَا عَنْهُ فَانْتَهَيْنَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[۹] |
| هغوی مونږ ددې نه منع کړو او مونږ ددې نه منع شو (رواه ابو داؤد) |

---

(۸) أخرجه ابن ماجه في السنن ۸۴/۲ رقم الحديث ۲۵۱۵ والدارمي ۳۳٤/۲ رقم الحديث ۲۲۷۳ وأحمد في المسند ۳۰۳/۱

(۹) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲۶۲/٤ رقم الحديث ۳۹۵٤ وابن ماجه ۸٤۱/۲ رقم الحديث ۲۵۱۷

**توضیح** : اذا ولدت امة الرجل : ام ولده هغه وینځي ته وایي چې د مالک په جماع کولو سره د هغې بچی شوی وي د ام ولدې په خرڅولو او نه خرڅولو کې د فقهاؤ اختلاف دی.

**د فقهاؤ اختلاف** : اهل ظواهر غیر مقلدین وایي چې دام ولدې خرڅول جائزدي مګر د جمهورو فقهاؤ او تابعینو په نزد دام ولدې خرڅول جائزنه دي، شیخ ابن قدامه په عدم جواز باندې د صحابو اجماع نقل کړې ده

**دلائل** : اهل ظواهر د حضرت جابر رضي الله عنه د حدیث نمبر ۸ نه استدلال کوي چې (**بعنا امهات الاولاد علي عهد رسول الله صلي الله عليه وسلم**) جمهور د حضرت ابن عباس ؓ د حدیث نمبر ۷ نه استدلال کوي چې په هغې کې (**فهي معتقة**) الفاظ راغلي دي نو کله چې د ماشوم په زیږیدو سره ام ولده آزاده شوه او په هغې باندې د عتق حکم ولګیدو بیا د هغې خرڅول به څنګه جائز وي، د جمهورو دویم دلیل د حضرت ماریه قبطیه رضي الله عنها واقعه ده چې د نبي علیه السلام وینځه وه چې مقوقس بادشاه په طور د تحفې د مصر نه د نبي علیه السلام په خدمت کې راالیږلې وه د هغې نه چې کله ابراهیم (د نبي علیه السلام ځوی) پیدا شو نو نبي علیه السلام وفرمایل (**اعتقها ولدها**) د جمهورو دریم دلیل زیر بحث د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث نمبر ۸ دی چې په هغې کې د امهاتو د اولاد د خرڅولو ممانعت حضرت عمر ؓ د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مشوري سره فرمایلی وو ټولو صحابه کرامو ؓ قبول کړی وو، نو په عدم جواز باندې د صحابو اجماع وشوه، اهل ظواهر اکثر او زیات د دې مسائلو نه انکار کوي چې د صحابه کرامو په مبارکه زمانه کې منضبط شوي، د دې طلاقو په بحث کې د دې تفصیل تیر شوی دی. **جواب** : اهل ظواهرو ته جواب دادی چې مخکې ام ولده خرڅول جائز وو بیا منسوخ شو د صدیق اکبر ؓ زمانه لږه وه داخلي او بیروني خطرات وو په دې وجه هغوي د مسائلو منضبط کیدو دپاره فارغ نه وو، بیا د عمر فاروق ؓ زمانه کې د ام ولدې په خرڅولو پابندي ولګیده او د عدم جواز عام اعلان وشو، د حضرت عمر ؓ د زمانې دا یوه واقعه نه ده بلکه داسې ډیر واقعات مخې ته راغلي دي دا د صحابو کرامو ؓ په مشوري او اتفاق سره کیده چې د اجماع امت حیثیت لري.

## د معتق غلام د مال حکم

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کچیرې یو سړی خپل غلام

وَلَهُ مَالٌ فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ إِلَّا أَنْ

آزاد کړي او د دې غلام سره څه مال وي نو د غلام هغه مال د هغه د مالک دی ها کچیرې مالک

يَشْتَرِطَ السَّيِّدُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ (صَحِيح)[۱۰].

ددې شرط وکړي (نو بيا هغه مال به د غلام وي) روايت کړې دې ابو داؤد اؤ ابن ماجه.

**توضيح** : وله مال : دلته سوال دا پيدا کيږي چې دا خبره فيصله شوې ده چې غلام د هيڅ يو مال مالک نه وي دهغه په ملکيت کې چې څه وي هغه به د آقا وي نو بيايې دلته څنګه وفرمائيل (وله مال) ددې جواب دادی چې دا غلام مثلا ماذون وي چې مالک ورته د ذاتي ګټې وتې اجازت ورکړی وي نو هغه د محنت او مزدوری کولو سره مال جمع کړی وي نو د آزادی په وخت به دا مال د غلام وي يا د مولی په دې کې اختلاف دی : ( المرقات ۵۷۲/۶ )

**د فقهاو اختلاف** : د امام مالک رحمه الله ،حسن بصري رحمه الله او د اهل ظواهرو مسلک دادی چې دا مال د غلام دی هغه ته به ملاويږي، د جمهور فقهاؤ مسلک دادی چې د غلام د عتق په وخت کې چې کوم مال د غلام سره دی هغه دده د مولی دی ها کچيرې هغه وخت مولی دا ووائي چې دا مال به د غلام وي نو دا به د هغه مولی د طرف نه غلام دپاره صدقه او هبه وي. (المرقات ۵۷۲/۶)

**دلائل** : امام مالک رحمه الله وغيره حضرات د زير بحث د حضرت عمر رضي الله عنه د حديث نه استدلال کړی دی د استدلال طرز داسې دی چې د (فمال العبد له) ضمير (عبد) طرفته راجع دی او چونکه عبد نزدې هم دی لهذا د ضمير حق همدا دی چې (العبد) طرفته راجع کړی شي، مطلب د حديث به داسې وي چې د غلام هغه مال به د غلام وي ها کچيرې مولی دا شرط اولګوي چې د غلام مال به زما وي نو دهغه شرط به منلی شي، دې حضراتو د مسند احمد د يو روايت نه استدلال هم کړی دی د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت دی (عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من اعتق عبدًا و له مال فالمال للعبد) (رواه احمد) په دې روايت کې هيڅ ضمير نشته بلکه تصريح ده چې مال به غلام ته ملاويږي. (المرقات ۵۷۲/۶)

جمهورو فقهاؤ هم د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د زير بحث حديث نمبر ۱ نه استدلال کړی دی، د استدلال طرز داسې دی چې (فمال العبد له) کې د له ضمير مولی طرف ته راجع دی، مطلب دا شو چې د غلام مال به مولی ته ملاويږي ها کچيرې مولی دا شرط ولګولو چې دا مال به غلام ته ملاويږي نو بيا مال به د غلام وي او د مولی د طرف نه به هبه او صدقه شي، جمهورو د بخاري او مسلم د روايت نه استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ دادي (من باع عبدا و له مال فماله للبائع) ددې روايت نه د زير بحث حديث تشريح او تفسير

---

(۱۰) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۲۷۰ رقم الحديث ۳۹۶۲ وابن ماجه في ۲/۸۴۵ رقم الحديث ۲۵۲۹

هم وشو چې (فمال العبد له) کې د له ضمیر مولی طرف ته راجع دی، جمهورو د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د روایت نه هم استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ دادي چې (وعن ابن مسعود قال سمعت النبي صلي الله عليه وسلم يقول من اعتق عبدا فماله للذي اعتق) (بيهقي) ملا علي قاريؒ په مرقات کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نور روایات هم د جمهورو په حق کې نقل کړې دي.

**جواب**: مالکیانو او اهل ظواهرو چې د مسند احمد کوم روایت د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی ملا علي قاري فرمائي دا روایت خطا دی (قيل الحديث خطأ) لهذا هغه قابل استدلال نه دی، باقي په زیر بحث حدیث کې د له ضمیر مولی طرف ته راجع دی نو دا د جمهورو مستدل دی، بنده عرض کوي چې زیر بحث حدیث کې (ان يشترط السيد) الفاظ ددې توجیه سره په ظاهره موافقت نه خوري د اسلوب کلام تقاضا ده چې ضمیر د غلام طرفته راجع شي والله اعلم. (المرقات ۵۷۲/۶)

## د پوره غلام آزادولو ترغیب

| |
|---|
| ﴿۱۰﴾ وَعَن الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رَجُلًا |
| او حضرت ابو ملیح (تابعي) د خپل پلار (حضرت اسامه بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه روایت کوي چې یو |
| أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ غُلَامٍ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: |
| سړي په غلام کې یوه حصه آزاد کړه کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ددې ذکر وکړی شو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائیل |
| «لَيْسَ لِلّٰهِ شَرِيكٌ» فَأَجَازَ عتقه. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (جيد)(۱) |
| چې د الله تعالی څوک شریک نشته، او بیایې دا حکم وکړو چې دا غلام دې بالکل آزاد کړی شي. (ابو داؤد) |

**توضیح**: **ليس لله شريك**: مطلب دادی چې په هیڅ یو عبادت کې د الله تعالی سره څوک شریک کول نه دي پکار او اعتاق عبادت دی، لهذا کله چې څوک سړی نیم غلام آزاد کړي او نیم غلام پریږدي نو گویا دا سړی په دې غلام کې د الله تعالی سره شریک شو نیم د الله تعالی دی او نیم دده دی او د الله تعالی سره څوک شریک نشته دی، نو دا عمل مناسب نه دی، ددې حدیث نه معلومه شوه چې اعتاق تجزي نه قبلوي، او همدا مسلک د صاحبینو رحمهما الله دی مگر د جمهورو او امام ابو حنیفهؒ په نزد اعتاق تجزي قبلوي دهغوی په نزد ددې حدیث مطلب دادی چې نبي علیه السلام د پوره غلام آزادولو ترغیب ورکړی دی چې کله آزادول وي نو بیا پوره ثواب وگټه. (مرقاة ۵۷۲/۶)

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۲۵۱ رقم الحديث ۳۹۳۳ وأحمد في المسند ۵/۷۱.

## دمشروط آزادئ يوه واقعه

﴿۱۱﴾ وَعَنْ سفينة قَالَ: كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ

او حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې (مخكې) زه د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په ملكيت كې وم (يوه ورځ) هغې

فَقَالَتْ: أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ عَلَيْكَ

ماته وفرمائيل چې زه ستا آزادول غواړم مګر دا شرط دربانديې لګوم چې ته كومه پوري هم ژوندى

أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتَ فَقُلْتُ:

يې نو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت به كوې. ما عرض وكړو (چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت خو

إِنْ لَمْ تَشْتَرِطِي عَلَيَّ مَا فَارَقْتُ

زما دپاره د سعادت او خوش بختي د ټولو نه لويه ذريعه ده) كچيرې تا دا شرط نه لګوو نو بيا به

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عِشْتُ فَأَعْتَقَتْنِي وَاشْتَرَطَتْ عَلَيَّ.

هم زه د خپل زړه نه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه جدا كيدم نو دارنګه حضرت ام سلمه رضي الله عنها زه آزاد كړم

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ (حسن)[۱۲]

او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د خدمت شرط په ما باندې ولګيدو. (ابو داؤد، ابن ماجه)

**توضيح**: وعن سفينة رضي الله عنه: حضرت سفينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ام المؤمنين حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا غلام وو هغې ته نبي عليه السلام د خدمت دپاره ورکړى وو حضرت ام سلمه رضي الله عنها آزاد كړو او د نبي عليه السلام د خدمت شرط يې ولګوو، ويلى شي چې سفينه دهغه لقب وو او دهغه په اصل نوم كې اختلاف دى بعضو رباح خودلى دى، بعضو مهران وييلى دى، بعضو روحان خودلى دى، ويلى شي چې دا د فارس وو ده ته د سفينه ويلو وجه دا شوه چې يو ځل نبي عليه السلام سره په سفر كې وو څه كسان په سفر كې ستړي شول نو هغوى خپله وسله او نور سامان دده په اوګو باندې واچوه، دارنګه هغه ډير سامان راوچت كړى وو نو نبي عليه السلام وفرمائيل (انت سفينة) يعنې ته خو كشتي يې. (مرقاة ۵۷۲/۶) بس دا نوم يې شو د شام په زمكه د جهاد په دروان كې دا د نورو صحابه كرامو سره گرفتار شوى وو. بيا دا د قيد نه راوتختيدلو او د ځنګل په نامعلومه لار باندې روان وو مخې ته يې زمرى راغى، ده ورته وفرمائيل اى ابو الحارث زه د محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلام سفينه يم، زمرى د لكى په خوزولو سره دده د حفاظت دپاره رامخكې شو او هغه يې آبادى طرفته بوتلو، علامه خطابي فرمائيلي

---

(۱۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ۴/۲۵۰ رقم الحديث ۳۹۳۲ وابن ماجه في ۲/۸۴۴ رقم الحديث ۲۵۲۶ وأحمد في المسند ۵/۲۲۱

دي چې دا په حقیقت کې د ام سلمه رضي الله عنها وعده وه مګر د شرط په نوم سره يې يادولی شي، او اکثرو فقهاو د غلام د آزادولو نه پس دغه شرط لګول صحیح نه دی ګڼلی، ځکه چې دا داسې شرط دی چې د ملکیت سره متعلق نه دی ځکه چې غلام خو به آزاد شي او د آزاد سړي نه د اجرت او مزدوری نه علاوه فائده نه شي اوچتولی. تفصیل دپاره ملا علي قاري مرقات اوګورئ. (مرقاة ۵۷۲/۶)

## د مکاتب احکام

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار او هغه د نیکه نه او هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې

قَالَ: «الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل چې مکاتب به (تر هغه وخته پورې) غلام وي کله پورې چې دده بدل کتابت

دِرْهَمٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (ضَعِيف)[۱۳]

کې یو درهم هم باقي وي. (ابوداؤد)

**توضیح: المکاتب عبد:** مکاتب هغه غلام ته وایي چې مولی ده ته ویلي وي چې دومره پیسې اداء کړه نو ته آزاد یې، اوس کچیرې یو روپی هم باقي وي نو جمهور فرمایي چې هغه به غلام وي آزاد به نه وي، او کچیرې د آخري روپی ورکولو نه عاجزه شو نو په مکمل طور باندې به غلام وي. د جمهورو نه علاوه بعضې علماء او ابراهیم نخعي ویلي دي چې مکاتب څومره پیسې ادا کړې نو دومره آزاد دی او څومره پیسې چې باقي پاتې دي نو دومره به غلام وي، دې حضراتو د راتلونکي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د روایت نمبر «نه استدلال کړی دی، اوس د دې زیر بحث حدیث او د حدیث نمبر «په مینځ کې په ظاهر تعارض هم دی: جمهورو د واضحو احادیثو نه استدلال کړی دی او تقریبا پوره امت په دې نظریه باندې قائم دی چې مکاتب آخري روپی د اداء کولو پورې به غلام وي، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت امام ترمذي ضعیف ګرځولی دی لهذا هغه روایت د نورو صحیح روایاتو په مقابله کې قابل د استدلال نه دی دارنګه په دې روایت باندې د ابراهیم نخعي نه علاوه بل هیڅ چا عمل نه دی کړی. (مرقاة ۵۷۲/۶)

## د بښځو د خپل مکاتب غلام نه د پردې حکم

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَ

او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (ښځو ته) وفرمائیل چې کله په تاسو کې

---

(۱۳) أخرجه أبوداؤد في السنن ۲۴۲/۱ رقم الحديث ۳۹۲۶

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عِنْدَ | مكَاتب | إحدا | كن | وَفَاء |
| د يوې (ښځې) د مكاتب غلام سره دومره پيسې وي چې په هغې سره هغه بدل كتابت ا داء كولى شي | | | | |
| فلتَحتجب | مِنْهُ». | رَوَاهُ | التِّرْمِذِيُّ | وَأَبُو دَاوُدَ | وَابْنُ | مَاجَهْ (١١) |
| نو دې (مالكي) له پكار دي چې هغه ددې مكاتب نه پرده كوي. (ترمذي ابو داؤد، ابن ماجه) | | | | | | |

**توضيح**: فلتحتجب: يعنې مكاتب سره د بدل كتابت موجود شو نو هغه مالكې له پكار دي چې دده نه پرده كوي كله چې هغه غلام وو نو دده هغه نه پرده نه وه مګر اوس پرده كول دي، اوس سوال دادى چې په احاديثو كې په صفا طور باندې راغلې دي چې مكاتب باندې كچيرې يو درهم هم باقي وي نو هغه غلام دى نو دلته د هغه ازادول ګرځولو او د پردې حكم څنګه ورکړى شو؟ ددې جواب علماو دا ورکړى دى چې د پردې حكم بطور تقوى او بطور احتياط ورکړى شو، دويم جواب دا دى چې اوس دا هغه ښځه د پردې تياري وکړي د پردې دپاره دې ذهني طور سره تياره اوسي ځكه چې څه وخت هم هغه غلام آزاديدى شي، بعضو دا جواب ورکړى دى چې دا حكم د امهات المؤمنين سره خاص وو ځكه چې دهغوى شان هم ځانله وو، اوس پاتې شوه دا خبره چې د غلام نه د مالكې پرده ضروري ده يا ضروري نه ده ددې تفصيل د باب النظر الى المخطوبه په حديث نمبر ۲۳ كې تيرشوى دى. (مرقاة ۵۷۴/۶)

## د مكاتب د طرف نه د جزوئي ادائيګي مسئله

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۴﴾ وَعَنْ | عَمْرِو | بْنِ | شُعَيْبٍ | عَنْ | أَبِيهِ | عَنْ | جَدِّهِ | أَنَّ |
| او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار او هغه د خپل نيكه نه نقل كوي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | | | | | | |
| رَسُولَ | اللهِ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | قَالَ: | "مَنْ | كَاتَبَ | عَبْدَهُ |
| وفرمائيل چې كچيرې يو كس خپل غلام لره د سلو اوقيو په بدل كې مكاتب كړو او غلام تولې اوقيې | | | | | | | | |
| عَلَى | مِائَةِ | أُوقِيَّةٍ | فَأَدَّاهَا | إِلَّا | عَشْرَ | أَوَاقٍ | أَوْ | قَالَ: |
| اداء كړي مګر لس اوقيې يې ادا نه كړى شوې يايې دا وفرمائيل چې لس ديناره يې اداء نه كړى شو (دلته راوي ته شک | | | | | | | | |
| عَشَرَةَ | دَنَانِيرَ | ثُمَّ | عَجَزَ | | | | | |
| شوى دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لس اوقيې فرمائيلې وې كه د لسو دينارو ذكر يې كړى وو) او بيا هغه د | | | | | | | | |

(١١) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٢٤٤ رقم الحديث ٣٩٢٨ والترمذي في ٣/٥٢٦ رقم الحديث ١٢٦١١ وابن ماجه في ٢/٨٣٢ رقم الحديث ٢٥٢٠.

فَهُوَ رَقِيقٌ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه.(۱۵)

دي باقي د اداء کولو نه عاجزه شو نو هغه مکاتب به غلام وي.

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل کچيرې

أَصَابَ الْمُكَاتَبُ حَدًّا أَوْ مِيرَاثًا وَرِثَ بِحِسَابِ

يو مکاتب د ديت يا ميراث مستحق شي نو هغه ته به (د دي ديت يا ميراث نه) صرف دومره قدري

مَا عَتَقَ مِنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ

ملاويږي څومره قدري چې هغه آزاد دی (ابوداؤد ترمذي) او د ترمذي په يو روايت کې داسې دي

قَالَ: «يُودَى الْمُكَاتَبُ بِحِصَّةِ مَا

چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل مکاتب ته په ديت کې دهغه د حصې په قدر مال ورکولی شي کوم چې ده

أَدَّى دِيَةَ حر وَمَا

د خپلې آزادۍ د قيمت (يعني بدل کتابت) کې اداء کړی وو دهغې حصې په قدر به قيمت ورکولی شي

بَقِي دِيَةَ عبد». وَضَعفه(۱۶)

چې څومره اوس بطور غلام باقي دی. دي روايت ته ترمذي ضعيف ويلی دی.

**توضيح** : اصاب حدا او ميراثا : يعني د ديت يا ميراث مستحق شي (اصاب) د موندلو او د مستحق جوړيدلو په معنی دی (ورث) د حسب په وزن باندې د معلوم صيغه ده په بعضو نسخو کې د مجهول هم ده (بحسب) دا لفظ د حساب او مقدار په معنی سره دی (وفي رواية له) دا ضمير ترمذي طرف ته راجع کيږي (يودي) دا د مجهول صيغه ده ودي يدي ديةنه دی دلته د يُعطي د ورکولو په معنې سره دی (ادّی) د دال مشدد سره اداء کولو په معنې سره دی (دية حر) دا منصوب دی او د يؤدّی دپاره مفعول به دی او د (ما ادی) مفعول به محذوف دی چې النجوم دی چې معنی يې حصه او قسط دی او (دية عبد) هم

---

(۱۵) أخرجه أبوداؤد في ٤/٣٤٤ رقم الحديث ٣٩٢٧ والترمذي في ٣/٥٢٦ رقم الحديث ١٢٦١ وابن ماجه في ٢/٨٤٢ رقم الحديث ٢٥١٩ وأحمد في المسند ٢/١٧٨.

(۱۶) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٧٠٦ رقم الحديث ٤٥٨٢ والترمذي في ٣/٥٦٠ رقم الحديث ١٢٥٩ والنسائي في ٨/٤٦ رقم الحديث ٤٨١١.

منصوب دی اصل عبارت داشان دی (**اي يعطي المكاتب دية حر بحساب ما اداه من النجوم ويعطي دية العبد بحساب ما بقي عليه**) یعنې مکاتب ته به د خپلې آزادۍ په حساب سره دومره مال [redacted] څومره چې هغه د خپلې آزادۍ دپاره اداء کړی دی او څومره د غلامۍ حصه چې پاتې شوه په دې حساب سره به هغه ته دیت ورکولی شي، په دې حدیث باندې په یو مثال سره پوهیدل پکار دي چې مثلاً زید مکاتب وو هغه نیم بدل کتابت اداء کړی وو چې دهغه پلار مړ شو او دا واحد یوائې وارث وو نو دپلار په میراث کې به نیم میراث زید ته ملاویږي دا د میراث مثال شو، د دیت مثال داسې دی چې مثلاً دې مکاتب د خپل بدل کتابت نیم مال اداء کړی وو چې دا چا قتل کړو اوس به ددې مکاتب وارثانو ته دده د دیت نه نیم مال ملاویږي او نیم مال به ددې مکاتب مالک ته ملاویږي، ګویا د غلامۍ چې کومه حصه وه د هغې دیت به دده مالک ته ملاویږي او د آزادۍ چې کومه حصه وه هغه به دده ورثو ته ملاویږي، بهرحال په دې حدیث باندې صرف ابراهیم نخعي عمل کړی دی د باقي جمهورو فقهاو په نزد دا حدیث معمول به نه دی بلکې هغه حدیث معمول به دی په کوم کې چې راغلې دي (**المكاتب عبد ما بقي عليه من مكاتبته درهم**). (مرقاة ۵۷۵/۶، ۵۷۴)

## دمالي عبادت ثواب مړي ته رسيږي

## الفصل الثَّالِث

| |
|---|
| ﴿۱۶﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ الْأَنْصَارِيِّ: أَنَّ أُمَّهُ |
| د حضرت عبدالرحمن بن ابو عمره انصاري (تابعي) په باره کې نقل دي چې د هغه والدې (يوه ورځ) |
| أَرَادَتْ أَنْ تَعْتِقَ فَأَخَّرَتْ ذَلِكَ إِلَى أَنْ تُصْبِحَ فَمَاتَتْ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: |
| دغلام د آزادولو اراده وکړه مګر هغه د راتلونکې سحر کیدو نه مخکې وفات شوه. عبدالرحمن وائي |
| فَقُلْتُ لِلْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ: |
| چې ما حضرت قاسم بن محمد ته (ددې صورت حال ذکر وکړو او دهغه نه) مې تپوس وکړو چې کچیرې |
| أَيَنْفَعُهَا أَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا؟ فَقَالَ الْقَاسِمُ: |
| زه د خپلې مورد طرف نه (هغه غلام) آزاد کړم نو په دې سره به هغې ته فائده ورسي؟ حضرت قاسم رحمه الله |
| أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم |
| وفرمائيل چې (يو ځل) حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شو |

فَقَالَ: "إِنَّ أُمِّي هَلَكَتْ فَهَلْ يَنْفَعُهَا أَنْ أُعْتِقَ عَنْهَا؟

او عرض يې وکړو چې زما والده (سمدست) وفات شوه کچيرې زه د هغې د طرف نه غلام آزاد کړم

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نعم». رَوَاهُ مَالك.(۱۷)

نو په دې سره به هغې ته فائده ورسي؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې آو فائده به ورته ورسي.

**توضيح**: (عبدالرحمن ابن ابي عمرة) دا صحابي نه دی بلکه تابعي دی عمره په عين باندې فتحه او په ميم باندې سکون دی (فماتت) د سحر کيدو نه مخکې وفات شوه او دا نيک کارپاتې شو په دې وجه علماؤ ليکلې دي (وفي التأخير آفات فالعجلة محمودة في الطاعات) (مرقاة ۵۷۶/۶) (فقال القاسم) دا قاسم بن محمد د صديق اکبرؓ نمسی دی او د مدينې منورې په مشهورو اوو (۷) فقهاؤ کې دی د فقهاء سبعو تذکره چا په دې دوو شعرونو کې کړې ده.

الاكل من لايقتدي بأئمة فقسمته الضيزى من الحق خارجه

فخذهم عبيد الله عروة قاسم سعيد ابوبكر سليمان خارجه

قاسم بن محمد د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه بيان کړه چې په کې دسائل د سوال جواب دی، دې حديث نه د ايصال ثواب مسئله راوځي ددې تفصيل د حضرت سعد بن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث کې شته دی، دلته پوهه شه چې د مالي عبادت ثواب مړې ته رسيږي په بدني عباداتو کې د فرائض او واجباتو نه رسي. ها ! د نفلي ايصال ثواب جائز دی. (مرقاة ۵۷۷/۶)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ قَالَ: تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ

او حضرت يحيى بن سعيد (تابعي) وائي چې (ناڅاپه) وفات شو، عبدالرحمن ابن ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فِي نَوْمِهِ نَامَهُ فَأَعْتَقَتْ عَنْهُ عَائِشَةُ أُخْتُهُ

د خوب حالت کې (اوده وو) دارنګه عائشه رضي الله عنها چې دهغه خور وه د هغه د طرف نه يې

رِقَابًا كَثِيرَةً. رَوَاهُ مَالك.(۱۸)

ډير غلامان آزاد کړل. (مالک)

(۱۷) أخرجه مالک في المؤطأ ۲/۷۷۹ رقم الحديث ۱۳ من كتاب العتق

(۱۸) أخرجه مالک في الموطأ ۲/۷۷۹ رقم الحديث ۱٤ من كتاب العتق

**توضيح** : نام نومة : يعني د خوب په حالت کې ئې وفات وشو حضرت عائشې رضي الله عنها دې سمدستي مرګ لره ښه ونه ګڼه په دې وجه يې د کفارې په طور څو غلامان آزاد کړل يايې په دې وجه آزاد کړل چې د حضرت عبدالرحمن په نامه دومره غلامان آزادول وو د حضرت عبدالرحمن وفات مکې مکرمې ته نزدې (حُبْشي) مقام کې شوی وو او هلته نه راوړلی شو او په جنت المعلی کې دفن کړی شو، حضرت عائشې رضي الله عنها د هغه په قبر باندې د حاضرۍ په وخت دوه شعرونه هم لوستلي وو چې د مشکوة په اول جلد کې په باب الجنائز صفحه ۱۴۹ کې ذکر دي. (مرقاة ۵۷۷/۶)

وكنا كندماني جذيمة حقبة　　من الدهر حتى قيل لن يتصدعا

فلما تفرقنا كاني ومالكا　　لطول اجتماع لم نبت ليلة معا

## د خرڅ شوې غلام مال به چا ته ملاويږي؟

| |
|---|
| ﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ |
| او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل چې کوم سړی يو |
| اشْتَرَى عَبْدًا فَلَمْ يَشْتَرِطْ مَالَه فَلَا شَيْءَ لَهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيّ (صَحِيح)[۱۹] |
| غلام واخلي او دهغه د مال شرط ونه کړي نو اخستونکی ته هيڅ د مال نه څه هم نه ملاويږي. (دارمي) |

**توضيح** : فلم يشترط : يعني يو سړي غلام واخستو او ددې غلام په لاس کې څه مال وو مشتري د عقد کولو په وخت کې ددې شرط ونه کړو لو چې دا مال به زما وي لکه څنګه چې غلام به زما وي نو د خرڅولو نه پس به دا مال هغه مشتري ته نه ملاويږي ځکه چې هغه مال په حقيقت کې د غلام د مولى دی او هغه مولى ته به واپس کولى شي، او کچيرې مشتري شرط ولګولو چې ددې غلام دا مال به هم ماته راکوې نو مال به مشتري ته ملاويږي او د مالک د طرف نه به دا د هبې او عطيې په حکم کې شمارو ي. (مرقات ۵۷۷/۶)

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

(۱۹) أخرجه مرقاة المفاتيح ۶/۵۲۱ رقم الحديث ۳۱۰۵

# کتاب الْاِیمَان وَالنُّذُور
## د قسمونو او نذرونو بیان

قال الله تعالى: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ۭ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (مائده: ۸۹)

**ایمان**: د یمین جمع ده او یمین قسم ته وائي، یمین د یسار ضد دی قسم ته یمین په دې وجه وائي چې عربو به د عهد او د پیمان په دوران کې د یو بل په لاس کې لاس ورکولو او دا معامله به یې په ښي لاس سره کوله. علامه ابن همام فرمائي چې د یمین لفظ په لغوي طور باندې قسم، ښي لاس او په قوت کې په مشترکه طور باندې استعمالیږي. علماؤ د قسم اصطلاحي تعریف داسې کړی دی **الیمین في الشرع توکید الشئ بذکر اسم الله او صفته** دلته د قسم او نذر متعلق څلور بحثونه دي چې په ترتیب سره لیکلی شي. (المرقات ۵۷۸/۶)

**بحث اول د قسم اقسام**: د قسم درې قسمونه دي: اول یمین غموس دی، دویم یمین لغوه دی، دریم یمین منعقده دی: (۱) یمین غموس دې ته وایي چې په تیره شوې زمانه چا په دروغه قسم وخوړو چې په الله قسم ما دا کار کړی وو حالانکه هغه ته معلومه ده چې هغه دا کار نه دی کړی، په یمین غموس کې څه کفاره نشته دی، دا ګناه کبیره ده ددې په وجه سره دې کس ته په دوزخ کې غوټې ورکولی شي غمس اوغموس د غوټې په معنی سره دی. (۲) دویم قسم یمین لغوه دی دا هغه قسم دی چې په خبرو خبرو کې د قسم د ارادې نه بغیر سړی وائي والله باالله یا په خدای قسم یا په قسم سره وایم یا سړی داسې قسم خوري چې دهغه خیال او ګمان دا وو چې واقعي دا کار داسې وو مګر هغه نه غلطي وشوه هغه کار داسې نه وو دا ټول یمین لغوه دی، په دې کې کفاره نشته، نه کبیره ګناه ده، اګرچې مسلمان له ددې نه هم بچ کیدل پکار دي، امام شافعي رحمه الله فرمایي ما د الله تعالی د نوم د لوئي په خاطر نه په دروغه قسم خوړلی دی او نه په ربنتیا مې قسم خوړلی دی. (۳) دریم قسم یمین منعقده دی دا هغه دی چې یو سړی ښه په غور او فکر سره په آینده زمانه د څه کار د نه کولو قسم وخوري بیا قصداً ددې خلاف ورزي وکړي نو دا سړی به حانث کیږي، اوس به دا دیمین کفاره اداء کوي په عربي کې د قسم الفاظ والله باالله تالله دي.

**دویم بحث د قسم کفاره**: د قسم د ماتولو کفاره داسې ده چې یو غلام به آزادوي یا به لسو مسکینانو باندې دوه وخته متوسط خوراک خوړلی شي یا به لس مسکینانو ته کپړې وراغوستلې شي کچیرې یو

سړی په دې درې قسمه کفارو باندې قادر نه وي نو پرله پسې به درې روژې نیسي د قسم ماتولو نه مخکې د احنافو په نزد د قسم کفاره نشته دی دغه شان د کافر په قسم باندې کفاره نشته دی د ماشوم یا د اوده سړي یا د لیونې پاګل د قسم اعتبار نشته په دې وجه په دوی کفاره هم نشته.

**دریم بحث د قسم الفاظ** : په قسم کې د الله تعالی ذاتي اسم یا صفتي اسم استعمالیږي لهذا دهغې احترام ضروري دی چې هغه مات نه کړی شي او د الله تعالی د اسم مبارک بې ادبي ونه شي او نه دې د دې مبارک نوم په پریخودلو سره بل چا ته دا عظمت ورکړی شي چې د هغه په نوم قسم وخوړلی شي. همدا وجه ده چې د پلار نیکه د نومونو نه د قسم ممانعت راغلی دی هم دغه شان ستا په جان او په سر قسم خوړل جائز نه دي لکه کوم شاعر ویلي دي

اتنا ہو تیرے تیغ کا شرمندہ احسان
سر میرا تیرے سر کی قسم اٹھ نہیں سکتا

د قسم مدار په عرف باندې دی په دې وجه د الله تعالی په هغه صفاتو باندې قسم نه شي خوړلی چې په عام عرف کې د قسم دپاره نشي استعمالیدی لکه رحمت، مغفرت وغیره صفات دي، او په کومو صفاتو چې قسم په عرف کې خوړلی شي لکه عظمت او بزرګي شان وغیره، نو په هغې سره قسم واقع کیږي په عام طور باندې شریعت د قسم الفاظ والله، بالله، تالله خو دلې دي لعمر الله په الفاظو سره هم خوړلی شي دا هم قسم دی. د دې مطلب دا دی چې ستا په عمر درکونکي قسم. په قسم کې د ان شاء الله استعمالولو سره د قسم اثر ختمیږي په دې شرط چې دا لفظ متصلاً استعمال کړی شي، دې ته په قسم کې استثناء ویلی شي.

**څلورم بحث د نذر قسمونه** : نذر دلته د قسمونو سره په دې وجه یوځای کړې شو چې دواړه دیو قسم څیزونه دي دارنګه کله چې د قسم ماتولو کفاره اداء کولی شي نو هغه د قسم کفاره وي نذر منلو ته ویلی شي، غیر واجب څیز لره په خپل ځان باندې د واجب کولو نوم نذر دی نذر چې کله د ګناه نه وي نو د ټولو فقهاؤ په نزد دا جائز دی د قرآن اعلان دی (**ولیوفوا نذورهم**). (سورة الحج ۲۹) د الله نه سوا د چا د نوم نذر منل جائز نه دي : په تفسیر کبیر کې د نذر تعریف داسې شوی دی **النذر ما الزمه الانسان علی نفسه** د نذر دوه قسمونه دي: یو نذر مطلق دی دا هغه دی چې نذر منونکی عمل لره د څه ورځ یا وخت سره مقید نه کړي، دویم نذر مقید دی دا هغه وي چې نذر منونکی عمل لره د څه میاشتې یا خاص وخت سره مقید کړي . د رومبني مثال لکه څوک ووائي **لله علي صوم شهر** د دویم مثال **لله علیّ صوم شهر رجب هذا السنة** د نذر د صحیح کیدو دپاره دري شرطونه دي: (۱) رومبی شرط دا دی چې نذر د داسې څیز وي چې د هغې جنس

په شريعت کې مشروع او واجب وي لکه مونځ، روژه، حج وغيره، دارنګه که چا داسې نذر ومنلو چې کچيرې زما فلانی کار وشو نو زه د فلاني بيمار پوښتنه کوم دا نذر صحيح نه دی، ځکه چې عيادت په شريعت کې داسې جنس نه دی چې واجب نه دی.(۲) د صحت د نذر دپاره دويم شرط دادی چې هغه منذور عمل د ګناه د قسم نه نه وي ځکه چې په حديث کې دي لا نذر في معصية لکه څوک نذر ومني کچيرې زما فلانی کار وشو نو زه به د فلاني بزرګ په قبر باندې څادر خوروم يا به مولود کوم يا به ګياروي شريف (يوولسمه) مناووم يا به د غوث اعظم مونځ کوم د داسې قسم نذرونو پوره کول جائز نه دي، لهذا ددښه د و تلو دپاره د يمين کفاره اداء کولو سره د ګناه نه بچ کيدل ضروري دي.(۳) دريم شرط دادی چې د کوم څيز نذر کوم سړی مني نو في الحال يا آينده دده په ذمه فرض يا واجب نه وي مثلاً داسې ووايي کچيرې زما کار وشو نو زه د ماسخوتن مونځ کوم يا به د رمضان روژې نيسم. بهرحال د ناجائزه نذرونو نه مسلمان له ځان ساتل پکار دي څنګه چې جائز نذرونه پوره کول ضروري دي. د نذر دپاره دا هم ضروري دي چې هغه په تابعداری کې وي او په مقصودي اطاعت کې وي په وسائلو کې نه وي او په ژبه سره وي د الفاظو په ادائيګي سره وي صرف د زړه نيت سره نه وي او د نذر د پوره کولو يې پوره پخه اراده وي.

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَكْثَرُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحلف:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راوي دی چه اکثر به چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې قسم خوړلو

«لَا ومقلب الْقُلُوب». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

قسم دی د زړونو په اړونکي باندې. (بخاري)

**توضيح**: لا ومقلب القلوب په عربي کلام کې د قسم نه مخکې د لا کلمه زياتول معروف او مشهور دي لکه لا اقسم بهذا البلد، لا اقسم بيوم القيامة، د الله تعالى په کلام کې راغلې دي، علامه طيبي فرمائي چې د لا کلمه د سابق کلام نفي دپاره راځي ولا نفي للكلام السابق يعني چې کوم ستا خيال دی هغه صحيح نه دی زه قسم کولو سره وايم چې حقيقت داسې دی. حضرت مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې ليکلي چې د قسم نه مخکې حرف لا زائد دی کله چې قسم د يو مخالف

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۱۳/۵۱۳ رقم الحديث ۷۳۹۱ وأبوداؤد في السنن ۳/۵۷۷ رقم الحديث ۳۲۶۳ والدارمي في السنن ۲/۴۴۵.

د خبرې د رد دپاره خوړلی شي نو د هغې په شروع کې حرف لا د هغه سړې د باطل خیال د نفي دپاره زائد استعمالیږي او د عربو په محاوراتو کې دا استعمال معروف او مشهور دی زمونږ په ژبه کې هم بعضې وختونو کې د څه قابل تاکید مضمون دپاره د بیان نه مخکې ویلی شي نه مخکې خپل مقصد بیانولی شي (معارف القرآن ج۸ص۶۲۳) بعضو علماؤ ویلي چې د قسم نه مخکې دا لا د تحسین کلام دپاره ذکر کولی شي، بعضو ویلي دي چې دا لا د مضمون د قسم د نفي د تاکید دپاره ذکر کولی شي مطلب دا چې د قسم حاجت او ضرورت نشته مګر زه بیا هم قسم خورم. دلته نبي اکرم ﷺ د الله تعالی په صفتي اسم باندې قسم خوري معلومه شوه دا جائز دي او دا هم معلومه شوه چې قسم د ضرورت نه بغیر د کلام د تاکید دپاره خوړلی شي. دارنګه نبي علیه السلام چې کوم قسمونه خوړلي دي په هغې کې د امت دپاره ډیر لوی فائده مند تعلیم پټ دی، په غیر الله قسم مه خورئ او **والذي نفس محمد بیده** سره نبي علیه السلام دا تعلیم ورکړو چې زه د الله تعالی بنده یم پخپله خدای نه یم زما د ځان مالک هم هغه الله دی په دې سره د الله تعالی عظمت او لوئي بیانول مقصود دي.

## په غیر الله د قسم خوړلو ممانعت

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ |
| او حضرت ابن عمر رضي الله عنه راوي دی چې نبي کریم ﷺ وفرمائیل چې الله تعالی تاسو ددې خبرې نه منع کوي |
| أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ مَنْ كَانَ |
| چې تاسو په خپلو پلارانو قسم اوخورئ، کوم سړی چې قسم خوري نو هغه له پکار دی چې هغه د الله تعالی |
| حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَصْمُتْ» (صَحِيح)[1] |
| (په نوم سره یا د هغه په صفاتو) قسم اوخوري یا چوپ پاتې شي. (بخاري ومسلم) |

**توضیح**: (ینهاکم ان تحلفوا بابائکم) د پلار نیکه ذکر په طور د مثال دی مراد دادی چې په غیر الله قسم خوړل جائز نه دي. د پلار نیکه ذکر دلته په دې وجه وشو چې د عربو په معاشره کې خلقو به د پلار نیکه په نومونو قسمونه خوړل په دې وجه ئې دا په خاص طور باندې ممنوع وګرځول او د غیر الله په نوم قسم خوړل په دې وجه ناجائز ګرځولی شوی دی چې مقسم به د چا په نوم چې قسم خوړلی شي

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۵۳۰ رقم الحديث ۶۶۴۶ ومسلم ۳/۱۲۶۶ رقم الحديث (۱۶۴۶.۳) وأبوداؤد في السنن ۳/۵۶۹ رقم الحديث ۳۲۴۹ والترمذي في ۴/۹۳ رقم الحديث ۱۵۳۴ والنسائي في ۷/۴ رقم الحديث ۳۷۶۷ وابن ماجه في ۱/۴۷۷ رقم الحديث ۲۰۹۴.

دهغه دعظمت او لوی شان مقصود او متصور کیږي په دې وجه دا عظمت د الله تعالی سره خاص دی، په غیر الله قسم خوړلو سره د غیر الله مشابهت د الله تعالی سره پیدا کیږي چې د شرک یوه حصه ده. (المرقات ۵۸۰/۶، ۵۷۹)

**سوال**: دلته یوه شبه پیدا کیږي چې د نبي علیه السلام نه په یوه موقعه باندې نقل دي چې نبي علیه السلام وفرمائیل **افلح وابیه** ددې د مذکوره حدیث سره واضح تعارض دی.

**جواب**: ذدې جواب دا دی چې دا ددې ممانعت نه مخکې خبره ده ممانعت روستو راغلی دی، یوه بله شبهه ده چې الله تعالی په څو څیزونو قسم خوړلی دی ددې څه مطلب دی؟ نو ددې جواب دادی چې الله تعالی خالق او مالک دی د هغه دپاره د امور تکلیفیو دا پابندي نشته دی، دارنګې الله تعالی چې په کومو څیزونو قسم خوړلی دي هغه په حقیقت کې الله تعالی په خپل وحدانیت باندې په طور د ګواه پیش کړې دي هلته نور تصورات نشته دی، حضرت ابن عباس ؓ د غیر الله د قسم خوړلو متعلق فرمایلې دي چې کچیرې زه د الله تعالی په نوم یوه ورځ کې سل قسمونه وخورم او هغه مات کړم، هغه ددې نه بهتر دي چې زه د غیر الله په نوم قسم وخورم. (المرقات ۵۸۰/۶)

| |
|---|
| ﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِي |
| او حضرت عبدالرحمن بن سمره وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل مه په بتانو قسم خورئ |
| وَلَا بِآبَائِكُمْ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| او مه په خپلو پلارانو قسم خورئ (مسلم) (طواغي د طاغية جمع ده بتانو ته وائي) |
| ﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام و فرمائیل چې کوم |
| "مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى |
| سړی قسم وخوري او په خپل قسم کې دا الفاظ اداء کړي چې زه په لات او عزی قسم خورم نو هغه له |
| فَلْيَقُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ. وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: |
| پکار دي چې هغه لا اله الا الله ووائي کوم سړی چې خپل دوست ته دا ووائي چې راځه مونږ دواړه |

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۶۸ رقم الحديث (۶/۱۶۴۸ والنسائي في السنن ۷/۷ رقم الحديث ۳۷۷۴ وابن ماجه في ۱/۶۷۸ رقم الحديث ۲۰۹۵ وأحمد في المسند ۵/۶۲.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تَعَالَ | أُقَامِرك | فليتصدق" | (مُتَّفَقٌ | عَلَيْهِ)[1] |

جواري کوو نو هغه له پکار دي چې هغه صدقه او خيرات وکړي. (بخاري ومسلم)

**توضيح** : من حلف : يعني لات او منات او په بتانو د قسم خوړلو نه پس لا اله الا الله ووائي مطلب دا چې کچيرې نو مسلم سهواً دا قسم او خوري او په غلطئ سره دا کلمه په ژبې سره اووائي نو لا اله الا الله به په طور د استغفار وايي او کچيرې د زړه نه په طور د عقيدې په بتانو باندې داسې قسم وخوري نو دا سړی مرتد شو اوس به داد تجديد ايمان او د مسلمان کيدو دپاره لا اله الا الله ووائي (المرقات ۵۸۰/۶)

اقامرک مقامره د قمار نه ده د جواري کولو په معنی سره دی، کچيرې يو مسلمان د جواري کولو دعوت ورکړي نو هغه د ګناه دعوت ورکولو سره ګناه اوکړه او ددې کفاره داده چې دا سړی صدقه وکړي، د حديث نه معلومه شوه چې د جواري کولو دعوت او ددې ترغيب ورکول هم ګناه ده نو کوم کس چې پخپله په دې قبيح کار کې مبتلا وي نو هغه به څومره ګناهګار ېږي (المرقات ۵۸۱/۶، ۵۸۰)

## د غيرو په مذهب باندې دقسم خوړلو حکم

﴿۵﴾ وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ

او حضرت ثابت بن ضحاک وائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې کوم کس د اسلام نه

عَلَى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ

خلاف په بل مذهب په دروغه قسم وخوړلو نو هغه به داسې وي څنګه چې هغه اووئيل او يو انسان

وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ وَمَنْ

باندې دهغه څيز نذر پوره کول واجب نه دي د کوم چې هغه مالک نه وي او کوم کس چې (په دنيا کې)

قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا

په څه څيز (مثلاً چاړه وغيره) سره ځان هلاک کړو نو هغه به د قيامت په ورځ په هغه څيز سره په عذاب کې

عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

مبتلا کولی شي (يعني که يو کس چاړه (په خپله) کې منډلو سره خودکشي وکړه (او چد الله تعالى د طرف نه د خلاصی حکم نه وی

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۵۳۶ رقم الحديث ۶۶۵۰ ومسلم في ۳/۱۲۶۷ رقم الحديث (۱۶۴۷.۵۹ وأبوداؤد في السنن ۳/۵۶۸ رقم الحديث ۱۲۴۷ والترمذي في ۴/۹۹ رقم الحديث ۱۵۴۵ والنسائي في ۷/۷ رقم الحديث ۳۷۷۵ وأحمد في المسند ۲/۳۰۹ ،

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَمَنْ | لَعَنَ | مُؤْمِنًا | فَهُوَ | كَقَتْلِهِ |
| نو مسلمان پهپه عذاب کې مبتلا وی او کوم سړی چې په یو مسلمان لعنت وکړي نو هغه هم داسې دی لکه هغه مسلمان یې چې قتل کړو | | | | |
| وَمَنْ | قَذَفَ | مُؤْمِنًا | بِكُفْرٍ | فَهُوَ كَقَتْلِهِ |
| او همداسې چې کوم کس په یو مسلمان باندې د کفر تهمت ولګولو نو ګویا هغه هغه مسلمان قتل کړو | | | | |
| وَمَنِ | ادَّعَى | دَعْوَى | كَاذِبَةً | لِيَتَكَثَّرَ بِهَا |
| او کوم کس چې په دروغه دعوي وکړي دې دپاره چې په مال کې زیاتوالی وکړي نو الله تعالی به د | | | | |
| لَمْ يَزِدْهُ اللهُ إِلَّا قِلَّةً» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] | | | | |
| هغه په مال او دولت کې کمی وکړي. (بخاري و مسلم) | | | | |

**توضيح: على ملة غير الاسلام**: د اسلام نه علاوه په غیر ملت باندې قسم خوړل داسې دی مثلاً څوک مسلمان ووائي چې کچیرې زه فلانی کار وکړم نو زه به یهودي، نصراني، هندو، سیک، قادیاني، آغاخاني یم یا به د اسلام نه بیزار یم یا به د قرآن نه بیزاره یم یا به دمکې نه بیزاره یم یا به د الله تعالی او د کلمې نه بیزاره یم، اوس کچیرې دې کس د دې خلاف کار وکړو نو اوس به څه کیږي؟ نو په زیر بحث حدیث کې دي چې هغه سړی به هم داسې وي. ( المرقات ۵۸۲/۶، ۵۸۱)

اوس په فقهاؤ کې بعضې شوافع فرمائي چې د ظاهري حدیث په اعتبار سره دا سړی کافر شو ځکه چې ده د اسلام حرمت ختم کړو او په کفر باندې یې د رضا مندی اظهار اوکړو،. مګر جمهور علماء فرمائي چې په دې قسم سره به دا سړی کافر نه وي ځکه چې د کفر تعلق د اعتقاد او قصد او ارادې سره دی او د دې سړې اراده د کفر نه ده بلکه د نفس د منع کولو دپاره یې دا کار کړی دی او د دې سړې د طرف نه دا کار د زجر اوتوبیخ یو عمل دی، په دې صورت کې د جمهورو په نزد زیر بحث حدیث په تشدید او تغلیظ باندې محمول دی لکه څنګه **من ترک الصلوة متعمدًا فقد كفر** والا حدیث په زجر اوتوبیخ باندې محمول دی. ( المرقات ۵۸۲/۶)

په درالمختار کې یې لیکلې دي چې په دې مسئله کې زیاته صحیح خبره دا ده چې دارنګه قسم خوړلو والا کچیرې د خپل قسم خلاف کار وکړي نو هغه به کافر نه وي په شرط د دې چې د ده مقصد کافر جوړیدل نه وي مګر که هغه پوهیږي چې په دې قسم خلاف کولو سره سړی کافر کیږي او بیا هم خلاف ورزي کوي نو هغه به

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ١٠/٤٦٤ رقم الحديث ٦٠٤٨ ومسلم في ١/١٠٤٠ رقم الحديث (١١٠،١٧٦) والترمذي في السنن ٤/٩٨ رقم الحديث ١٥٤٣ والنسائي في ٧/٥ رقم الحديث ٣٧٧٠ وابن ماجه في السنن ١/٦٧٨ رقم الحديث ٢٠٩٨ وأحمد في المسند ٣٣٤.

په دې صورت کې کافر شي ځکه چې په دې صورت کې هغه په رضا او رغبت سره په کفر باندې راضي شو.
او د دې حدیث سره متعلق دا بحث دی چې آیا دا یمین دی یا نه، او د دې کفاره شته یا نه؟ نو د مالکیانو او شوافعو په نزد چونکه دا یمین او قسم نه دی لهذا په دې کې کفاره نشته، دا سړی لوی ګناهګار شو او ده ته د استغفار کولو ضرورت دی او هیڅ کفاره پرې نشته دی، د احنافو او حنابلو بلکه د جمهورو مسلک دا دی چې په دې کې کفاره ده ځکه چې دا قسم دی او په قسم کې د حنث په صورت کې کفاره وي. ( المرقات ۵۸۲/۶)

**ومن ادعى دعوى:** یعنې یو کس په دروغه دعوی وکړي دې دپاره چې دده په مال او دولت کې اضافه وشي نو الله تعالی دده مال لره کموي، او په دې حدیث کې اکثر دا قاعده بیان کړی شوې ده چې اکثر خلق صرف د مال او دولت په راغونډولو او په مال کې د اضافه کولو په خاطر خلقو ته خو دل کوي چې زه داسې د جاه او جلال خاوند یم او زما دارنګه لوی شان دی، یا زه داسې د کمال بزرګ یم دارنګه د زمانې علامه یم، الغرض شیخي ښایې خلقو ته او کمالات او فضائل بیانوي خلقو ته، دې دپاره چې د دې سره خپلې فائدې کې اضافه وکړي الله تعالی به دده فائدې کموي. ( المرقات ۵۸۳/۶)

**لعن مؤمنا:** تهمت کچیرې ثابت شي نو هغه موجب د قتل دی لهذا چې کوم کس په یو مسلمان باندې د دروغو تهمت ولګوي نو دا د مسلمان د قتل په شان دی او که د کفر تهمت هم ثابت شي نو دا موجب د قتل دی نو څوک چې د کفر په دروغه تهمت په چا لګوي دا دده د قتل په شان دی. ( المرقات ۵۸۳/۶)

## کچرې په قسم ماتولو کې خیروي نو ماتول یې پکار دي

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي وَاللهِ

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل په الله تعالی باندې قسم! کچیرې زه

إِنْ شَاءَ اللهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا

په څه شيز باندې قسم اوخورم او بیا دهغه قسم خلاف کول بهتر وګڼم نو زه خپل قسم ماتوم او

إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دهغې کفاره ادا کوم او هغه کار اختیاروم چې کوم بهتر وي. (بخاري ومسلم)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۶۰۱ رقم الحديث ۶۸۱۸ ومسلم في صحيحه ۳/۱۲۶۹ رقم الحديث (۱۶۴۹.۷) وأبوداؤد في السنن ۳/۵۸۳ رقم الحديث ۳۲۷۶ والنسائي في ۷/۹ رقم الحديث ۳۷۸۰.

**توضیح** : الا کفرت عن یميني : یعني قسم برقراره نه ساتم بلکه بنه کار کولو سره به دې قسم لره ماتوم او کفاره به اداء کوم ( المرقات ۵۸۴/۶)

## مسئلة اداء الكفارة قبل الحنث

د یمین د کفارې په ادا کولو کې په بعضو احادیثو کې د کفارې ورکولو الفاظ مخکې راغلي دي او د حانث کیدو الفاظ روستو راغلي دي او په بعضو احادیثو کې د حانث کیدو الفاظ مخکې ذکر دي او د کفارې ورکولو الفاظ روستو راغلي دي هم په دې وجه د فقهاؤ په دې کې اختلاف دی چې کفاره د حانث کیدو نه مخکې ده یا پس ده.

**د فقهاؤ اختلاف** : امام مالکؒ، امام شافعيؒ، او امام احمد بن حنبلؒ جمهور فرمائي چې قبل الحنث کفاره ادا کولی شي ګویا د قسم خوړلو د وجې نه کفاره لازم شوه. امام ابو حنیفهؒ فرمائي چې قبل الحنث کفاره نه شي ادا کولی حنث په کفاره باندې مقدم دی. ترڅو پورې چې سړی حانث شوی نه وي نو کفاره نه لازمیږي. ( المرقات ۵۸۴/۶)

**دلائل** : جمهورو د قرآن عظیم د آیت نه استدلال نیولی دی (ذلک کفارة ایمانکم اذا حلفتم) د استدلال طرز داسې دی چې په آیت کې یې حلف او یمین د کفارې دپاره د سبب او وجې او د علت په طور باندې بیان کړې دي، لهذا قسم خوړلو سره کفاره ادا کیدی شي د حانث کیدو ضرورت نشته دی. جمهورو د حضرت ابو موسی رضي الله عنه د زیر بحث روایت او د راتلونکي د حضرت عبد الرحمن بن سمره د حدیث نمبر ۲ او د دې نه پس د حضرت ابو هریره رضي الله عنه د حدیث نمبر ۸ نه هم استدلال کړی دی چې په کې د کفارې ذکر مقدم دی او د حنث ذکر روستو کړی شوی دی، دیو شاعر شعر هم د جمهورو په ذوق باندې دی. ( المرقات ۵۸۴/۶)

حَلَفَ الزَّمَانُ لَيَأْتَيَنَّ بِمِثْلِهِ حَنِثْتُ يَمِينُكَ يَا زَمَانُ فَكَفِّرِ

یعني قسم خوړلو سره ته حانث شوې د حانث کیدو نور ضرورت نشته دی اوس کفاره اداء کړه.

امام ابو حنیفه رحمه الله د حضرت عبد الرحمن بن سمره د حدیث د آخرې حصې نه استدلال کړی دی چې په کې دا الفاظ دي (**فأت الذي هو خير وكفر عن يمينك**) دلته د صراحت سره مخکې حنث ذکر دی او واو عاطفه سره د کفارې ذکر دی، د امام ابو حنیفه رحمه الله عقلي دلیل دادی چې کفاره ادا کول د جرم د وجې نه وي او قسم خوړل څه جرم نه دی ځکه چې د انبیاء کرامو علیهم السلام او اولیاء عظامو او علماء کرامو په کلام کې په کثرت سره قسم موجود دی کله چې قسم خوړل جرم نه دی نو هغه د کفارې دپاره څنګه سبب جوړ شو؟ ها! حانث کیدل جرم دی چې د الله تعالی د نوم مبارک بې احترامي وشوه هغه د کفارې دپاره سبب جوړیږي نو کومه پورې چې حنث نه راځي نو کفاره نشته دی. ( المرقات ۵۸۵/۶)

احنافو په جمهورو باندې اشکال هم کړی دی چې په حقیقت کې یو الزامي سوال دی هغه دا چې مثلاً یو سړې قسم وخوړو او بیایې د خپل قسم پوره خیال وساتلو او حانث نه شو بلکه په خپل قسم کې برئ الذمه شو نو دهیڅا په نزد هم په دې سړې باندې کفاره نشته دی، کچیرې صرف په قسم خوړلو سره کفاره لازمیږي نو په دې سړې باندې د حانث کیدو نه بغیر کفاره ورکول لازم دي حالانکه د دې جمهور هم قائل نه دي.

**جواب**: جمهورو چې دکوم آیت نه استدلال کړی دی احناف فرمائي چې هلته د **اذا حلفتم** نه پس د **حنثتم** لفظ محذوف دی یعني دقسم خوړلو نه پس چې کله خانث شې نو بیا کفاره اداء کړه دا محذوف داسې دی څنګه چې **اذا قمتم الی الصلوة** کې وانتم محدثون محذوف دی.

باقي په احادیثو کې واو مطلق دجمع د پاره دی د ترتیب دپاره نه دی یعني کفاره هم ادا کړه او حانث هم شه او نیک کار هم کوه، هسې خو دعربي محاورې ذوق دا بنائي چې په احادیثو کې د ترتیب هیڅ پابندي نه ده لګول شوې د جمهورو احترام په خپل ځای مسلم دی مګر ددې احادیثو نه د هغوي مسلک ثابتول ډیر لرې معلومیږي. ( المرقات ۵۸۴/۶)

## دامارت مطالبه مه کوئ ګیر به شئ

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالرحمن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (یوه ورځ ما ته) وفرمائیل

«يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ

ای عبدالرحمن! د سرداری خواهش مه کوه (یعني ددې خبرې خواهش مه کوه چې زه دې د فلاني ځای حاکم او

فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا

سردار جوړ کړی شم) ځکه چې ستا په غوښتو باندې که تاته سرداري درکړی شي نو ته به سرداري ته

وَإِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا

وسپارلی شي او که بغیر د طلب نه چیرته سرداري درته ملاو شي نو په هغې کې به ستا مدد کولی شي

وَإِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا

دارنګه کچیرې ته په څه خبره باندې قسم خورې نو بیا اوګوره کچیرې ددې قسم خلاف ددې قسم د

خَيْرًا مِنْهَا فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ». وَفِي رِوَايَةٍ:

پوره کولو نه بهتر وي نو ته ددې قسم کفاره ورکړه او هغه کار وکړه چې بهتر دی او په یو روایت کې

«فَأْتِ الَّذِي هُوَ خير وَكفر عَن يَمِينك» (صَحِيح)[1]

داسې دي چې هغه څيز په عمل کې راوله چې بهتر دی او دخپل قسم کفاره ادا کړه. (بخاري ومسلم)

**توضيح**: لاتسال الامارة: يعني امارات او حکومت کول څه معمولي کار نه دی بلکه يوه لويه ذمه داري ده هر سړی ددې ذمه داری بوج اوچتولی نه شي کچيرې د حرص او لالچ د سردارئ او قيادت په خواهش کې راشي او ددې مطالبه کولو سره يې حاصل کړې نو د الله تعالی مدد به درسره شامل حال نه وي نو ناکام به شې، او کچيرې حرص او خواهش دې نه وي او خلقو مجبوره کړې او ذمه داريې جوړ کړې نو د الله تعالی مدد به درسره وي نو کامياب به يې. ( المرقات ۵۸۶/۶)

غيره خيرا: يعنې کچيرې دګناه قسم دې خوړلی وي چې په الله قسم زه به د مورپلار سره خبرې نه کوم نو ددې قسم ماتول به واجب وي او کفاره به ورکول وي او کچيرې د يو مستحب کار د نه کولو قسم يې وخوړو مثلاً د يوې مياشت پورې به د خپلې ښځې سره کوروالی نه کوم نو دارنګه قسم ماتول به مستحب او افضل وي ياد ساتل پکار دي چې د بخاري شريف په روايت کې دي چې حضرت عبدالرحمن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کابل فتح کړو او په چوک کې ودريدو د مال غنيمت په باره کې يې تقرير وکړو د ابوداؤد شريف جلد ۱ صفحه ۱۷۷ کې دي چې دوی د کابل دفتح په موقع باندې صلوة خوف وکړو ذکر شوې حديث هم ددې عبدالرحمن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی. ( المرقات ۵۸۷/۶)

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل کچيرې يو سړی د څه

«مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى خَيْرًا مِنْهَا

خبرې قسم اوخوري او بيا هغه دا خيال وکړي چې (ددې خلاف کول) د قسم پوره کولو نه بهتر دي

فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وليفعل». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

نو هغه له پکار دي چې هغه کفاره اداء کړي او هغه کار وکړي (يعنې قسم مات کړي). (مسلم)

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۱۲۳ رقم الحديث ۷۱۴۶ ومسلم في صحيحه ۳/۱۲۷۳ رقم الحديث( ۱۶۵۲.۱۹) وأبوداؤد في السنن ۳/۵۸۱ رقم الحديث ۳۲۷۷ والترمذي في ۴/۹۰ رقم الحديث ۱۵۲۹.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۷۲ رقم الحديث (۱۶۵۰-۱۲) والترمذي في السنن ۴/۹۲ رقم الحديث ۱۵۳۲ ومالک في المؤطأ ۲/۴۷۸ رقم الحديث ۱۱ من كتاب النذور

## په ناجائز قسم کلکيدل مناسب نه دي

﴿۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل په الله تعالى قسم په تاسو

لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ

کې چې کوم کس په خپل قسم باندې ټينګ ودريدة (يعني دهغې قسم پوره کولو ضد کول) چې د

فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللهِ من

خپل اهل او عيال متعلق وي د الله تعالى په نزد ده لره زيات ګناهګار جوړوي په نسبت ددې چې هغه دې

أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتِي افْتَرَضَ اللهُ عَلَيْهِ» متفق عليه (صَحِيحٌ)[1]

قسم لره مات کړي او ددې کفاره ادا کړي چې په ده باندې فرض کړې شوې ده. (بخاري ومسلم)

**توضيح:** لان يلج لج يلج: د سمع او ضرب نه دی، سختې جګړې کولو او په څه کار باندې ټينګ ودريدلو ته وائي مطلب دا دی چې قسم خوړلو سره ددې په ماتولو کې د الله تعالى هتک او بې ادبي ده د الله تعالى د نوم عظمت خلاف ورزي خو يقيناً ګناه ده مګر ددې ګناه نه هغه ګناه زياته ده چې يو سړی د خپلې ښځې او بچو نه د قطع تعلق قسم اوخوري او بيا په ضد باندې ټينګ ولاړ وي او ټينګ پاتې شي هغه لره پکار دي چې د قطع تعلق قسم مات کړي او د کفارې فريضه چې کومه الله تعالى مقرره کړې ده هغه دې ادا کړي. بعضو شارحينو د آثم لفظ د اسم تفضيل په معنى سره اخستى دى، بعضود **الصيف احر من الشتاء** په طرز باندې نفس فعل يعني د اثم په معنى اخستى دى (كذافي الطيبي). (المرقات ۵۸۹/۶، الكاشف ۲۴/۷)

## د جګړې په صورت کې به د قسم ورکونکي د نيت اعتبار وي

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَمِينُكَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل چې ستاسو قسم هغه وخت صحيح کيږي

عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[2]

هر کله چې ستا ملګرى (يعني قسم ورکونکى) تاله ريښتونې وګڼي. (مسلم)

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۱/۵۱۷ رقم الحديث ۶۶۲۵ ومسلم في ۳/۱۲۷۶ رقم الحديث (۱۶۵۵-۲۶) وأحمد في المسند ۲/۳۱۷.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱۲۷۱ رقم الحديث (۱۶۵۳-۲۰) وأبوداؤد في السنن ۳/۵۷۲ رقم الحديث ۳۲۵۵ والترمذي في ۳/۶۳۶.

**توضيح**: صاحبک: يعني د دوو سړو څه مالي تنازعه وي او مدعي منکر له قسم ورکوي په دې کې به د قسم ورکونکي د نيت اعتبار وي د قسم خوړولو والا د نيت اعتبار به نه وي مثلاً قسم خوړونکی د ژبې څه الفاظ ادا کوي او په زړه کې د څه توريې يا د تاويل نيت پټوي نو ددې اعتبار صحيح نه دی. مثلاً رستم دوستم ته ووئيل چې تا زما خروڑلی دی دوستم قسم او خوړلو چې ما خر نه دی وژلې او په نيت کې د رستم د خر په ځای د فريدون د خر قسم خوري نو ددې به اعتبار نه وي، په راتلونکي روايت کې د (**على نية المستحلف**) الفاظو مطلب هم دا دی **مستحلف** يعني قسم ورکونکی ها! کچيرې ديو حق تلفی مسئله نه وي يا کوم سړی مظلوم وي نو بيا په قسم کې د توريې او تاويل اعتبار به وي.

(**ملخصاً من زجاجة المصابيح**). ( المرقات ۵۸۹/۶)

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْيَمِينُ عَلَى

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل د قسم اعتبار د قسم ورکونکي په

نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

نيت باندې دی. (روايت کړې دې مسلم)

## په لغو قسم باندې به مواخذه (نيول) نه وي

﴿۱۲﴾ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: (لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِي

د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې دا ايت يعني الله تعالى ستاسو په لغو قسم باندې مواخذه نه کوي

أَيْمَانِكُمْ) فِي قَوْلِ الرَّجُلِ: لَا وَاللهِ وَبَلَى وَاللهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ

دا د هغه سړي په حق کې نازل شو چې لا والله او بلى والله به يې ويل. (بخاري) په شرح السنه کې دا

لَفْظُ الْمَصَابِيحِ وَقَالَ: رَفَعَهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عنها.[2]

روايت په لفظ د مصابيح نقل کړی شوی دی او دايې وئيلې دي

---

([1]) أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۲۷٤ رقم الحديث (۱٦٥۳-۲۱) وابن ماجه في السنن ۱/٦۸٥ رقم الحديث ۲۱۲۰.

([2]) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۱ رقم الحديث ٦٦٦۳ وأبوداؤد في السنن ۳/٥۷۳ رقم الحديث ۳۲٥٤ ومالک في المؤطأ ۲/۲۷۷ رقم الحديث ۹ من كتاب النذور.

**توضيح** : لا والله. : د اهل عربو دا عادت دی چې په خپل مينځ کې د خبرو په وخت کې په خبره خبره په دې الفاظو سره قسم خوري لا والله بلى والله. ددې خلقو په دې الفاظو سره قسم خورل مقصود نه وي بلکه په کلام کې زور پيدا کولو دپاره يا په طور د تکيه کلام دغه شان قسم خوري همدا يمين لغوه دی چې پکې نه کفاره شته او نه ګناه. ( المرقات ۵۹۰/۶)

د احنافو امامانو د قسم دې صورت ته هم لغو ويلى دی چې يو سړی په څه خبره باندې قسم اوخوري او د هغه په خيال کې دا وي چې زه صحيح قسم خورم مګر په حقيقت کې د هغه نه غلطي کيږي، بهرحال ددې شرعي سهولت مطلب دا نه دی چې يو مسلمان خامخا خپله ژبه په قسم کې ګنده کړي او چې کله ژبه خوزوي نو په قسم يې خوزوي.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل تاسو مه په خپلو پلارانو قسم خورئ

وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ وَلَا بِالْأَنْدَادِ وَلَا تَحْلِفُوا بِاللهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ».

او مه په خپلو مينډو او مه په بتانو، اوپه الله قسم هم په داسې صورت کې خورئ کله چې تاسو رښتونې يې

رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.[1]

(يعنې په دوغه قسم مه خورئ که ددې تعلق د تيرې يا د آينده زمانې سره وي)

## د غير الله په نوم قسم خورل شرک دی

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل چا چې دالله تعالى

يَقُولُ: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (صَحِيح)[2]

نه په غير بل چا باندې قسم وخورلو هغه شرک وکړو. (ترمذي)

**توضيح** : فقد اشرک : مطلب دادی چې په اصل کې محلوف به معظم وي يعنې په چا چې قسم

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۵۶۹ رقم الحديث ۳۲۴۸ والنسائي في ۷/۵ رقم الحديث ۳۷۶۹.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۵۷۰ رقم الحديث ۳۲۵۱ والترمذي ۴/۹۳ رقم الحديث ۱۵۳۰ وأحمد في المسند ۲/۸۶

خوړلی شي هغه به معظم هم (یعني عظمت مند) ګڼلی شي او هغه به ضار اونافع هم ګڼلی شي هغه ـ : خپل امورو ضامن او کله به هغه غیب دان هم ګڼلی شي، نو کوم کس چې د الله تعالی نه سیوا بل چا لره داسې معظم وګڼلو او قسم یې پرې وخوړلو نو هغه شرک جلي یا شرک خفي وکړو ځکه چې هغه د الله تعالی بعضې صفاتو کې غیر الله لره شرک کړو، او په داسې تعظیم کې د الله تعالی سره غیر الله لره شریک ګرځول شرک في التعظیم دی لهذا وې فرمائیل فقد اشرک هغه شرک وکړو او کچیرې یې داسې عقیده نه وي بلکه صرف د قدیم عادت مطابق ځوی یا پلار یا د نیکه په نومونو قسم وخوري نو دا اګرچه ګناه ده مګر په دې کې شرک نشته دی. ( المرقات ۵۹۲/۶)

## په امانت د قسم خوړلو حکم

﴿۱۵﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ

او حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم کس په امانت قسم

فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد.(۱)

او خوړلو هغه زمونږ نه نه دی. (ابوداؤد)

**توضیح**: **بالامانة**: چونکه امانت د الله تعالی په نومونو کې نشته دی بلکې د الله تعالی په فرائضو کې دی په دې وجه داسې قسم خوړل نه منعقد کیږي او کوم چې یې وفرمایل چې زمونږ نه نه دی دا په دې وجه چې دا طریقه د عیسائیانو ده هغوي په عباداتو قسم خوري ګویا چې د غیر الله په نوم قسم شو نو ناجائز دی.

ها! کچیرې دا امانت په ځای چا امانة الله وویل یا یې د بل لفظ الله تعالی طرف ته اضافت وکړو نو د امام ابوحنیفه ؒ په نزد به قسم منعقد شي ځکه چې دا په هغه وخت کې صفتي اسم جوړ شو چې د امین نه به مشتق وي د نورو امانو په نزد د اضافت سره هم قسم نه منعقد کیږي او نه به کفاره لازمیږي. ( المرقات ۵۹۴/۶)

**لیس منا**: ددې مطلب دا دی چې صرف داسې قسم مسئله کې دا سړی د اهل اسلام په طریقه نه دی ددې مطلب دا نه دی چې دا سړی کافر شو، یا یې د امطلب دی چې دا کلام د اسلوب حکیم په طور باندې دی چې ددې سړي زمونږ سره تعلق نشته دی، ظاهره ده چې کوم سړی د محبوب د طرف نه دا قسم اعلان واوري نو هغه به ددې فعل نه ځان ساتي یا دا تشدید او تغلیظ دی. ( المرقات ۵۹۴/۶)

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۵۷۱ رقم الحديث ۳۲۵۲ وأحمد في المسند ۵/۳۵۲.

## د اسلام نه د بیزاری د قسم حکم

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ:

او حضرت بریده رضي الله عنه وائي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم سړی داسې ووائي

إِنِّي بَرِيءٌ مِنَ الْإِسْلَامِ فَإِنْ

چې (کچیرې ما داسې کړې وي یا مې داسې نه وي کړې) نو زه د اسلام نه بري یم لهذا کچیرې هغه

كَانَ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ وَإِنْ كَانَ

په خپله خبره کې دروغژن وي نو هغه داسې شو څنګه چې هغه ووئیل او کچیرې په خپله خبره کې

صَادِقًا فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْإِسْلَامِ سَالِمًا". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.(۱)

رشتیني دی بیا به هم اسلام طرفته پوره واپس نه راځي. (روایت کړې دې ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه)

**توضیح**: فان کان کاذبا: په دې حدیث د پوهیدو دپاره به د قسم صورت داسې وي چې یو سړي وویل چې کچیرې ما فلانی کار وکړو یعني مثلاً د مسلمانانو دپاره مې کنده ونه کنسته نو زه به د اسلام نه بیزاره یم په دې قسم کې اګرچه داسې دروغژن وي نو واقعي د اسلام نه بیزاره شو د فهو کما قال هم دا مطلب دی ملا علي قاري رحمه الله د دې حدیث د دې جملې لاندې لیکي چې دا جمله د تغلیظ، تشدید، تحدید، زجر او توبیخ په طور باندې ده په دې سره واقعًا دا سړی کافر نه شو مګر دا یمین غموس دی چې پکې ګناه ده کفر نه دی. وان کان صدقًا او کچیرې په خپل خیال او قسم کې رشتیني دی یعني هغه داسې قسم وخوړلو چې کچیرې ما فلانی کار نه وي کړی نو زه به د اسلام نه بیزاره یم، او في الواقع هغه رشتیني دی هغه هغه کار کړی دی نو بیا به هم دا سړی د ګناه نه خالي نه پاتې کیږي ځکه چې شریعت د داسې قسم خوړلو نه منع کړې ده او هغه داسې قسم وخوړلو او ګناه یې وکړه. (المرقات ۵۹۵/۶)

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به (په بعضې موقع باندې)

إِذَا اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ قَالَ: «لَا وَالَّذِي

په خپل قسم کې زور پیدا کول غوښتل نو داسې قسم به یې خوړلو په هغه پاک ذات باندې مې قسم

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۵۷٤ رقم الحديث ۳۲۵۸ والنسائي ۷/٦ رقم الحديث ۳۷۷۲ وابن ماجه في ۱/٦۷۹ رقم الحديث ۲۱۰۰.

نفس أَبُو الْقَاسِمِ بِيَدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (ضَعِيف)[1]

دچا په لاس کې چې د ابو القاسم ساه ده. (ابو داؤد)

## د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو قسم مطلب

﴿۱۸﴾ وَعَن أَبِي هُرَيْرَة قَالَ: كَانَتْ يَمِينُ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَلَفَ:

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله قسم خوړلو نو د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قسم

«لَا وَاسْتَغْفِرُ اللهَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه (صَحِيح) مَرْفُوع[2]

به داسې وو. لا واستغفر الله. (روايت کړې دې ابو داؤد، ابن ماجه)

**توضيح**: لا واستغفر الله: قاضي عياض رحمه الله وائي ددې مطلب دادی اې استغفر الله ان كان الامر على خلاف ذلك: يعنې اګرچه دا به صراحةً قسم نه وي مګر دا مشابه بالقسم دی ځکه چې په دې کې د کلام انتهائي تاکيد مقصود دی چې کچيرې په دې کې لږ غوندې خلاف واقع خبره وي نو زه استغفار کوم، لهذا دا د قسم په نوم سره يادولی شي. د علامه طيبي د کلام خلاصه داچې په حقيقت کې د لا په ضمن کې قسم پرروت دی او واستغفر الله په دې مخذوف باندې عطف دی او عبارت داسې دی لا اقسم بالله واستغفر الله. اوس قسم سره يې استغفر الله په دې وجه راوړی دی چې د لا په ضمن کې کوم قسم دی هغه يمين لغوه دی او نبي عليه السلام به اکثر د يمين لغو نه پس استغفر الله ويله. (المرقات ۵۹۶/۶) (الكاشف ۳۱/۷)

## د قسم سره د انشاء الله د يو ځای کولو حکم

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عليه وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل څوک چې په څه خبره

حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَقَالَ: إِنْ شَاءَ الله فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ"

باندې قسم وخوري او قسم سره انشاء الله هم ووائي نو په ده باندې به د حنث (اطلاق) نه وي

---

[1] أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۵۷۷ رقم الحديث ۳۲۶۴ وأحمد في المسند ۳/۴۸

[2] أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۵۷۷ رقم الحيث ۳۲۶۵ وابن ماجه في ۱/۶۷۷ رقم الحديث ۲۰۹۳ وأحمد في المسند ۲/۲۸۸

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَذَكَرَ التِّرْمِذِيُّ جَمَاعَةً

(ترمذي) ابوداؤ، نسائي، ابن ماجه دارمي) دارنګه امام ترمذي د څه محدثينو په باره کې ذکر کړي دي چې هغوی

وَقَفُوْهُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ[1]

دا روايت په ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما باندې موقوف کړی دی (يعني دهغو محدثينو په نزد دا روايت د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما ارشاد دی)

**توضيح**: **انشاء الله**: کچيرې قسم، طلاق، عتاق وغيره عقودو او فسوخو کې وکړل شي نو د هيچا په نزد به هم هغه قسم يا کوم عقد نه منعقد کيږي صرف د حضرت ابن عباس طرف ته منسوب دي چې هغه انشاء الله لره يو کال پس هم مؤثر ګڼي. حضرت مجاهد يې څو کالو پورې مؤثر مني او سعيد بن جبيريې د څلور مياشتو پورې مؤثر مني. د امام مالک رحمه الله په نزد ان شاء الله متصل وي او که منفصل وي ددې څه اثر په څه عقد وعهد باندې نه پريږي قسم به واقع کيږي ځکه چې ټول امور د الله تعالى په مشيت کې دي، نو ددې لوستل يا نه لوستل برابر دي قسم وغيره به برقرار پاتې کيږي مګر دا رائې ددې قسم ټولو احاديثو نه مخالف ده په دې وجه ددې څه اعتبار نشته دی. اوس پاتې شوه دا خبره چې د ان شاء الله متصل او منفصل کيدو څه حد دی؟ نو بعضو ويلې دي چې په مجلس کې د کلام د جريان پورې هغه وخت دی او کله چې کلام بدل شي يعني بل کلام شروع شي نو اوس د ان شاء الله اثر ختم شو، احنافو همدا مسلک خپل کړی دی، بعضو وئيلې دي ترڅو پورې چې مجلس قائم دی نو ان شاء الله به د مجلس د قيام پورې مؤثر وي، شوافعو هم دا مسلک خپل کړی دی، ځکه چې د دواړو اصول او قواعد همداسې دي چې يو فريق په مجلس کې د مسائلو د اختتام اعتبار کړی دی او دويم فريق يعني احنافو د سلسله کلام د اختتام اعتبار کړی دی. ( المرقات ۵۹۷/۶، ۵۹۶)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۲۰﴾ عن أَبِي الأَحوص عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ:

او ابو احوص عوف بن مالک دخپل پلار (حضرت مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه روايت کوي هغوی وائي چې ما عرض وکړو

يَا رَسُولَ الله! أَرَأَيْتَ ابْنَ عَمٍ لِي آتِيه

اې د الله رسوله! تاسو زما د تره د ځوی په باره کې څه حکم ورکوئ چې کله زه (دخپل څه ضرورت په موقع باندې) ددې نه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۵۷۵ رقم الحديث ۳۲۶۱ والترمذي في ۴/۹۱ رقم الحديث ۱۵۳۱ والنسائي في ۷/۲۵ رقم الحديث ۳۸۳۰.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَلَا | يُعْطِينِي | وَلَا | يَصِلُنِي | ثُمَّ |

(څه مال واسباب) غواړم نو هغه ماله (څه) نه راکوي او ما سره حسن سلوک نه کوي مګر کله چې دهغه ماته څه ضرورت

| | | | |
|---|---|---|---|
| يَحْتَاجُ | إِلَيَّ | فَيَأْتِينِي | فَيَسْأَلُنِي |

پيښ شي نو ماله راځي او مانه غواړي مګر ما (هغه ته د دې عمل په سزا ورکولو کې چې پخپله خو ماته څه نه راکوي مګر

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقَدْ | حَلَفْتُ | أَنْ | لَا | أُعْطِيَهُ | وَلَا | أَصِلَهُ |

مانه غوښتو دپاره راځي) په دې خبره قسم خوړلی دی چې زه به نه ده ته څه ورکړم او نه به ورسره حسن سلوک وکړم

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فَأَمَرَنِي | أَنْ | آتِيَ | الَّذِي | هُوَ | خَيْرٌ |

نبي عَلَيْهِ السَّلَام (دې اوريدو سره) ماته وفرمايل چې زه هغه کار وکړم چې بهتر دی (يعني دهغه ضرورت

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَأُكَفِّرَ | عَنْ | يَمِينِي. | رَوَاهُ | النَّسَائِيُّ | وَابْنُ | مَاجَهْ |

پوره کړم او دهغه سره حسن سلوک وکړم) او د قسم ماتولو کفاره ورکړم. (نسائي، ابن ماجه) او د

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَفِي | رِوَايَةٍ | قَالَ: | قُلْتُ: | يَا | رَسُولَ | الله |

ابن ماجه په روايت کې دا الفاظ دي چې مالک ووئيل چې ما عرض وکړو چې يارسول الله! زما د

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يَأْتِينِي | ابْنُ | عَمِّي | فَأَحْلِفُ | أَنْ | لَا | أُعْطِيَهُ | وَلَا | أَصِلَهُ |

تره ځوي ماته (د څه غوښتو دپاره) راځي نو زه دا قسم وکړم چې نه خو به څه ورکړم او نه به ورسره حسن

| | | | |
|---|---|---|---|
| قَالَ: | «كَفِّرْ | عَنْ | يَمِينِكَ» | (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |

سلوک او کړم نبي عَلَيْهِ السَّلَام دې (اوريدو سره) وفرمائيل چې ته خپل قسم (مات کړه او ددې) کفاره ورکړه.

(1) أخرجه النسائي في السنن ٧/١١ رقم الحديث ٣٧٨٨ وابن ماجه ١/٦٨١ رقم الحديث ٢١٠٩ وأحمد في المسند ٤/١٣٦ رقم الحديث ٢١٠٩.

# بَاب فِي النذور
# د نذرونو بیان

**قال الله تعالى: (وليوفوا نذورهم وليطوفوا بالبيت العتيق) (سورة الحج: ۲۹)**

**وقال تعالى: (يوفون بالنذرِ ويخافون يوماً كان شره مستطيراً) (سورة الدهر ۷)**

نذر ینذر د باب نصر او ضرب دواړو نه د نذر منلو په معنی سره دی د باب افعال نه د یرولو په معنی سره راځي، دلته نذر د منبتي او منلو په معنی سره استعمال شوی دی او نذور د جمع صیغې په راوړلو سره دې کې اشاره شوه چې قسمونه یې ډیر دي په تفسیر کبیر کې د نذر تعریف داسې ذکر دی **النذر ما ألزمه الانسان على نفسه** یعنې غیر واجب څیز لره په خپل ځان باندې د لازمول او واجبولو نوم نذر دی مثلاً څوک داووائي چې زما فلانې کار کچیري وشي نو په ما باندې د الله تعالی دپاره دوه روژې لازم دي

**د نذر دوه قسمونه دي:** نذر مطلق او نذر مقید په ړومبي قسم کې وسعت وي، او په دویم قسم کې وسعت نه وي بلکه دکوم وخت نذر چې ومني په هغه وخت به یې اداء کول وي. د غیر الله په نوم نذر اونیاز حرام دی، که د نقدو پیسو په صورت کې وي یا د ځناور د حلالې په صورت کې وي، یا د خوراکونو په شکل کې وي، یا په زیاراتو باندې د څادرونو خوروَل وي یا څه بل صورت وي ټول حرام دي. د نذر دپاره ضروري ده چې هغه په داسې اطاعت کې وي چې دهغې د جنس حکم په شریعت کې وي مثلاً مونځ روژه وغیره، لهذا دا نذر لازم نه دی چې چا نذر ومنلو چې زه به د بیمار پوښتنه وکړم ځکه چې عیادت څه واجب نه دی صرف مستحب دی د نذر ټول تفصیل د قسم په ابتدائي مباحثو کې تیرشوی دی. هسې خو کله چې صاحب مشکوة دلته په مستقل طور باندې د نذرونو باب ایخودلی دی نودې لره د قسم په باب کې د قسم لاندې ذکر کول نه وو پکار. شاید هلته د کاتبانو نه سهوًا شوی وي، شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کې لیکلې دي چې هلته د نذر بیان په ضمني طور باندی وو اصل بیان د قسم وو او دلته نذر لره مستقل جدا ذکر کړی شو.

## د نذر منلو پس منظر

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه روایان دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائیل

| |
|---|
| «لَا تَنْذُرُوا فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا وَإِنَّمَا |
| چې تاسو نذر مه منئ ځکه چې نذر د تقدیر څه ځیز لرې کولی نه شي البته د نذر په ذریعې سره د |
| يُسْتَخْرَجُ بِهِ من الْبَخِيلِ» متفق عليه (صَحِيح)[1] |
| بخیل (شوم) (څه مال ضرور) خرچ کیږي. (بخاري و مسلم) |

**توضیح: لاتنذروا:** په دې برخه ذکر شوې حدیث کې د نذر د ممانعت په صراحت سره ذکر دی حالانکه قرآن عظیم د نذر په جواز او ددې د پوره کولو حکم کوي دارنګه په ډیرو حدیثونو سره د نذر د جواز پته لګي. ددې اعتراض جواب دادی چې په حقیقت کې دلته په دې حدیث کې د سخي او بخیل او کنجوس سړي موازنه شوې ده او د دواړو تقابل بیان کړی شوی دی چې د سخي سړي شان دادی چې هغه بغیر د عرض او بغیر د لالچ او بغیر د نذر نه د الله تعالی په لار کې مال لګوي هغه صرف د خپل رب راضي کول غواړي او د مال ورکولو په عوض کې څه شرط نه لګوي. مګر بخیل او کنجوس ته ددې توفیق نه ملاویږي هغه کچیرې د خپل مال خرچ کول هم غواړي نو د هغې دپاره نذر واسطه جوړوي او د زړه د غرضونو د پوره کولو باره کې وایي کچیرې الله تعالی زما کار وکړو یا یې ددې نقصان نه بچ کړم نو زه به د هغه په نوم باندې دومره مال لګوم نو په دې حدیث کې د سخي د ایثار د صفت بیان دی او د کنجوس د اغرضو او د مقاصدو او د لالچ او د سوداګرۍ بیان دی، دې پوره پس منظر لره مخې ته ایخودلو سره په حدیث شریف کې د نذر ممانعت شوی دی او هم په دې وجه بعضې علماؤ ملطفًا نذر منلو لره مکروه لیکلی دی. مګر صحیح خبره دا ده چې په اصولي طور باندې نذر یو مشروع او جائز امر دی البته د څه خارجي وجوهاتو په وجه سره نذر مکروه کیږي. ( المرقات ۵۹۹/۶، ۵۹۸)

☆ دارنګه قاضي عیاض رحمه الله فرمایي چې کله نذر منونکی ووایي چې کچیرې الله تعالی زما کار وکړي نو زه به دا کار کوم کنه نو نه به یې کوم دارنګه شرط لګولو سره اخلاص ختمیږي نو نذر مکروه کیږي. ( المرقات ۵۹۸/۶)

☆ علامه طیبي رحمه الله فرمایي چې کچیرې د نذر منونکي دا عقیده وي چې په نذر سره به تقدیر الهي بدل شي او پخپله دا نذر نافع او ضار دی (د جلب منفعت او دفع مضرت کار کوي) نو د غه شان نذر منل حرام دي او کچیرې په نذر منلو کې عقیده خو خرابه نه وي مګر صرف د خود غرضي او مطلب پوره کول مقصود وي نو دا نذر مکروه دی، ځکه چې په نیت کې خلوص نشته او کچیرې په خالص نیت سره د اطاعت په غرض سره نذر

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۹۹ رقم الحديث ۶۶۰۹ ومسلم في ۳/۱۲۶۱ رقم الحديث (۱۶۴۰-۵) والنسائي في ۷/۱۶.

مني نو دا مستحب دی، بهرحال په حدیث مذکور کې د غلطې عقیدې په وجه سره د نذر ممانعت راغلی دی او د اخلاص په نیت سره د نذر ترغیب راغلی دی مطلق نذر نه منع کول مقصود نه دي، په زیر بحث حدیث کې فان النذر لايغني من القدر شيئًا الفاظو کې چې کوم علت طرف ته اشاره شوې ده په دې سره د علامه طیبي د تفصیل او توضیح تائید کیږي. ( الكاشف ۳۴،۳۵/۷)

## د معصیت په نذر کې د کفارې حکم

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ |
| او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم سړي داسې |
| نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللهَ فَلْيُطِعْهُ |
| نذر ومنه چې په هغې سره د الله تعالی اطاعت کیږي نو هغه له پکار دی چې هغه د الله تعالی اطاعت |
| وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ |
| وکړي (یعنې دې نذر له دې پوره کړي) او کوم سړی چې داسې نذر ومني چې هغې سره د الله تعالی معصیت |
| فَلَا يَعْصِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[۱] |
| (نافرماني) کیږي نو هغه دې د هغه نافرماني نه کوي (یعنې داسې نذر دې نه پوره کوي.) (بخاري) |

**توضیح:** **فلا یعصه**: په دې د ټولو اتفاق دی چې د معصیت نذر منل جائز نه دی، مثلاً دا نذر چا ومنلو چې کچیرې زما ورک شوی ځوی پیدا شو نو زه به د شادولا په مزار باندې څادر غورزوم رقص (ګډا) به کوم، ددې نذر پوره کول د هیچا په نزد هم جائز نه دي مګر اختلاف په دې کې دی چې د معصیت نذر کې کفاره شته دی که نشته دی. ( المرقات ۶۰۰/۶)

**د فقهاؤ اختلاف:** د امام شافعي او امام مالک رحمهما الله په نزد نه د معصیت نذر جائز دی او نه ددې پوره کول جائز دي او نه په دې کې کفاره شته دی، د امام ابوحنیفه او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په نزد د معصیت نذر ماتول ضروري دي او بیا په دې کې کفاره اداء کول واجب دي چې کتاب د د یمین ده. ( المرقات ۶۰۰/۶)

**دلائل:** امام شافعي او امام مالک رحمهما الله د زیر بحث حدیث نه استدلال کوي دا رنګه د راتلونکي

---

(۱) أخرجه البخاری في صحيحه ۱۱/۵۸۱ رقم الحديث ٦٦٩٦ وأبوداؤد في السنن ۳/۵۹۳ رقم الحديث ۳۳۸۹ والترمذي ۱/۸۸ رقم الحديث ۱۵۲٦ والنسائی في ۷/۱۷ رقم الحديث ۳۸۰٦ وابن ماجه ۱/٦۸۷ رقم الحديث ۲۱۲٦.

د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه د حدیث نمبر ۲ نه هم استدلال کوي، طرز د استدلال داسي دی چې دلته د کفاري ذکر نشته دی کچیري د معصیت په نذر کې کفاره وه نو په دې حدیث کې به یې ذکر وو. امام ابو حنیفه او امام احمد بن حنبل رحمهما الله د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه د حدیث نمبر ۱ نه استدلال کړی دی الفاظ یې دا دي **کفارة النذر کفارة الیمین** بیا د فصل ثاني د حضرت عائشې رضي الله عنها د حدیث نمبر ۱ نه یې استدلال کړی دی چې په هغې صفا الفاظ دي چې **لا نذر في معصیة وکفارته کفارة الیمین** هم دې سره یې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حدیث نمبر ۱ نه استدلال کړی دی. د احنافو د ائمو بعضو علماو ددې قسم د نذر په کفاره کې څه فرق کړی دی هغه دا چې په دې نذر کې کچیرې معصیت لذاته یعني شرب خمر (شراب څکل) یا د زنا کولو نذر دی نو نه ددې پوره کول جائز دي نه په دې کې کفاره شته دې، او کچیرې په نذر کې معصیت لغیره دی مثلاً د اختر و نو یا د ایام تشریق د روژو نذر یې ومنلو نو ددې په ماتولو کې به د یمین کفاره راځي داشان په دواړه قسمه روایاتو باندې عمل وشو. ( المرقات ۶/۶۰۰)

**جواب**: باقي مذکوره زیربحث حدیث کې د کفاري ورکولو او نه ورکولو ذکر کچیرې نشته دی نو د ذکر عدم کیدل د دلیل عدم کیدل خو نه کیږي مګر په زیربحث حدیث کې د کفاري ذکر خو نشته دی مګر نورو احادیثو کښې ددې ذکر موجود دی، لهذا د کفاري ورکولو حکم به خپلولی شي هغو حضراتو چې د عمران بن حصین رضي الله عنه د حدیث نه استدلال کړی دی د هغوی هم دا جواب دی.

**لطیفه**: وایي چې امام ابو حنیفه رحمه الله شیخ شعبي رحمه الله ته راغی او د معصیت د نذر د مسئلې تپوس یې تري وکړو هغوی وفرمایل چې کله د ګناه او معصیت نذر ومنلی شي نو په دې کې هیڅ کفاره وغیره نشته دی، امام ابو حنیفه وفرمایل چې بیا په ظهار کې کفاره ولې ده حالانکه هغه هم ګناه ده ځکه چې خپلې بنځې ته مور ویل څومره بده خبره ده.؟ شعبي حیران شو او وې فرمائیل : **الت من الآرائیین** تاسو د اصحاب رائې نه یې، شیخ شعبي رحمه الله د امام ابو حنیفه رحمه الله استاذ دی.

﴿۳﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او د حضرت عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم

«لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ وَلَا فِيمَا

نذر د ګناه باعث وي هغې لره پوره کول جائز نه دي او نه د هغه څه نذر پوره کول جائز دي چې د هغې

لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ: «لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ» مسلم (صَحِيح)[۳]

بنده مالک نه وي. (مسلم) او په یو روایت کې دی چه د ګناه نذر پوره کول جائز نه دی (مسلم)

## د قسم او نذر کفاره یوشان ده

﴿۴﴾ وَعَنْ عقبَة بن عَامر عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام و[illegible]

«كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (صَحِيحٌ)[٤]

د نذر کفاره د قسم د کفاري په شان ده. (روایت کړي دي مسلم)

## د ناممکنه خبرو نذر مه پوره کوئ

﴿۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې (یوه ورځ) مونږ ته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه فرمایله چې ناڅاپه د

إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ فَسَأَلَهُ عَنْهُ فَقَالُوا:

هغوی نظر په یو سړي باندې پریوتلو چې ولاړ وو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د هغه سړي متعلق تپوس وکړو وي فرمایل چې

أَبُو إِسْرَائِيلَ نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ وَلَا يَسْتَظِلَّ

نو خلقو ورته وویل چې دده نوم ابو اسرائیل دی او ده دا نذر منلی دی چې ولاړ به وي کیني به نه، نه به، سوري ته

وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

راځي او نه به (بالکل) خبرې کوي او (همیشه) به روژې نیسي نبي عَلَيْهِ السَّلَام دې (اوریدو سره) او فرمائیل

«مُرُوهُ فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[٥]

چې ده ته ووائي چې خبرې کوي، سوري ته راشي، کیني او خپله روژه دې پوره کړي. (بخاري)

**توضیح**: ابو اسرائیل نذر ان یقوم یعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې دا سړی ولې ولاړ دی خلقو ورته وویل چې دا ابو اسرائیل دی ده نذر منلی دی چې ولاړ به وي دې سړي چې دکومو خبرو نذر منلی دی په هغې کې خو په بعضو باندې عمل کول آسان او ممکن وو مګر په بعضو باندې عمل کول

---

(۳) أخرجه مسلم ۳/۱۲۶۵ رقم الحدیث ۱۶۴۵-۱۳، الترمذي ۴/۹۹ رقم الحدیث ۱۵۲۸ والنسائی ۷/۲۶ رقم الحدیث ۳۸۳۲.

(۴) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۲۶۵ رقم الحدیث (۱۶۴۸-۱۳) والترمذي في السنن ۴/۹۹ رقم الحدیث ۱۵۲۸ والنسائی ۷/۲۶ رقم: ۳۸۳۴

(۵) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۱/۵۸۶ رقم الحدیث ۶۷۰۴ وأبوداؤد في السنن ۳/۵۹۹ رقم الحدیث ۳۳۰۰ وابن ماجه ۱/۶۹۰ رقم: ۲۱۳۶

ناممکن وو نو په کومو خبرو چې عمل کول ممکن وو دهغې د پوره کولو حکم ورکړی شو او په کومو چې عمل کول ممکن نه وو دهغې د نه پوره کولو حکم ورکړی شو. دارنګه نبي عَلَيْهِ السَّلَام ده ته د روژې د پوره کولو حکم ورکړو چې پوره کال دې روژې نیسي مګر ایام منهیه ددې نه خارج دي، یعنې عید الفطر، عید الاضحی او د ایام تشریق درې ورځې ایام منهیه دي، کچیرې یو کس په دې ورځو کې د روژو نذر ومني نو د احنافو امامانو په نزد ددې ماتول او بیا کفاره ورکول به لازم وي. یاد ساتئ!

همیشه روژې نیول دهغه چا دپاره جائز دي چې ددې د نیولو طاقت لري. **ان یقوم** یعنې د همیشه ودریدلو نذر یې منلی وو نو ددې پوره کول ممکن نه وو ځکه چې دا د چا د وس خبره نه ده او په مونځ کې د سجدې او قعدې دپاره ناسته فرض ده په دې وجه یې ددې نذر د ماتولو حکم ورکړو.

**لایتکلم** دا هم ممکنه نه وه ځکه چې په مونځ کې لوستل د قراءت په صورت کې فرض دی. د قرآن عظیم تلاوت دی او د کوم مسلمان د سلام جواب ورکول واجب دي، دارنګې د صله رحمی دپاره د رشته دارانو سره خبرې کول د هغوی حق دی په دې وجه یې ددې نذر د ماتولو حکم ورکړو. **ولایستظل** یعنې کله به هم سوري ته رانشي دا هم ممکن نه وو ځکه چې همیشه په نمر کې ودریدل خو دکشي ده او د جمعې د مونځ دپاره جماعت ته راتلل ضروري وو په دې وجه یې ددې نذر د ماتولو حکم ورکړو ددې حدیث نه دا خبره معلومه شوه چې هر هغه کار او عمل په کوم سره چې انسان مشقت اوچتوي او قرآن او حدیث ددې حکم نه وي ورکړی لکه پیدل خپی ابله خپې ګرځیدل یا په نمر کې کیناستل دا د ثواب کار نه دی (المرقات ۶/۶۰۲۰، ۶۰۱) (زجاجة المصابیح ج، ص۵۹۵)

ددې عبارت نه معلومه شوه چې پیدل جماعتونه چلول او هغوي په مشقت کې اچول هر کله چې ټول سهولتونه موجود وي دا محل د بحث دی د شریعت حکم واضح کیدل پکار دي. د اجتهاد ضرورت دلته نشته دی.

## د مشي الی بیت الله د نذر حکم

| |
|---|
| ﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (د بیت الله د سفر په دوران کې) یو بوډا ولیدلو |
| يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ |
| چې (د بوډا والي او کمزوی، دوجې نه) د خپلو دواړو ځامنو په مینځ (د هغوي په اوږو باندې لاس ایخی وو) په لاره روان وو. |
| فَقَالَ: «مَا بَالُ هَذَا؟» قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ إِلَى بَيْتِ اللهِ |
| نبي عَلَيْهِ السَّلَام تپوس وکړو چې په ده څه شوې دي؟ صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې دې سړې د پیدل تللو نذر منلی دی |

| |
|---|
| قَالَ: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفسه لَغَنِيٌّ». |
| نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې داسې ځان په عذاب (تکليف) کې اچولو سره د الله تعالى څه پرواه نشته دی. |
| وَأُمره أَن يركب (صَحِيح)[۶] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ |
| بيانبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سړي ته په سورلی د تللو حکم وکړو (بخاري ومسلم) او د مسلم په یو روایت کې |
| عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «ارْكَبْ أَيُّهَا الشَّيْخُ فَإِنَّ اللهَ |
| داسې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي بوډا ته وفرمائيل چې مشره په سورلی باندې ځه ځکه چې الله تعالى |
| غَنِيٌّ عَنْكَ وَعَن نذرك» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[۷] |
| ستانه او ستا ددې نذر نه بې نیازه دی. |

**توضیح**: **رأی شیخا**: د شیخ نه مراد بوډا او کمزوری سړی دی. ( المرقات ۶۰۲/۶)

**یهادی** دا د مجهول صیغه ده دوو سړو په اوګو باندې لاس ایخودل په مشکل سره تللو ته وایي د **بین ابنیه** لفظ په دې خبره دلالت کوي چې ده ته څومره تکلیف وو ( المرقات ۶۰۲/۶)

**بأل** په معني د حال دی او **نفسه** د تعذیب مصدر دپاره مفعول به دی. ( المرقات ۶۰۲/۶)

کچیرې چا د بیت الله د زیارت دپاره د پیدل تللو نذر ومنلو او داسې یې وویل چې زه به پیدل خپې ابله خپې بیت الله ته ځم نو ددې متعلق د علماء کرامو اقوال مختلف دي، امام شافعي رحمه الله فرمایي چې کچیرې د پیدل تللو طاقت او قدرت یې شته نو لاړ دې شي ورنه د عجز او مجبورۍ په صورت کې دې سور شي او نذر دې مات کړي، او دم دې اداء کړي هم دا ددې کفاره ده، د امام شافعي رحمه الله یو قول دا هم دی چې د عجز په صورت کې هیڅ هم نشته دی او که د قدرت په صورت کې یې نذر مات کړو سور شو نو دم دی. امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائي چې داسې د نذر نه پس د پیدل تللو قدرت یې وي او که نه وي په دې سړې باندې پیدل تلل لازم نه دي بلکه ده ته اختیار دی چې هغه سورشي او سفر وکړي او یو د کفاري په طور ادا کړي ددې دواړو مسلکونو اتفاقي خبره خو دومره ده چې داسې نذر منلو سره نذر منعقد کیږي او پیدل تلل لازم دي مګر کچیرې په دې څوک عمل نه کوي او ددې نذر

---

(۶) أخرجه البخاری فی صحیحه ۷۸/۴ رقم الحدیث ۱۸۶۵ ومسلم فی ۱۲۶۳/۳ رقم الحدیث (۱۶۴۲-۹) والنسائی فی السنن ۸/۳۰ رقم الحدیث ۳۸۵۴ وأحمد فی المسند ۱۱۴/۳

(۷) أخرجه مسلم فی صحیحه ۱۲۶۳/۳ رقم الحدیث (۱۶۴۳-۱) وابن ماجه في السنن ۶۸۹/۱ رقم الحدیث ۲۱۳۵.

ماتول غواړي نو هغه به څه کوي؟ نو شوافع فرمائي چې دمجبورئ په صورت کې دم دی او د مجبوری نه کیدو په صورت کې پیدل تلل متعین دي، مګر احناف فرمائي چې کچیري په پیدل تللو باندې دقدرت باوجود هم که داسې نذر ماتول غواړي او په سورلی باندې سور تلل غواړي نو داسې کولی شي البته یو دم به اداء کول وي ادنی دم چیلی دی او چرته چې د بدنې ذکر دی نو هغه مستحب دی. ( المرقات ۶/۶۰۳)

**سوال**: دلته یو سوال پیدا کیږي چې نذر خو دهغه څیز منلی شي چې دهغې په جنس کې څه فعل شرعًا واجب وي او بیت الله طرف ته پیدل سفر کول څه واجب فعل نه دی نو دقیاس تقاضا دا ده چې په هغه سړې باندې په دې نذر کې دې څه هم لازم نه وي حالانکه دعامو علماو په نزد ددې نذر په ماتولو کې په دې سړي باندې دم لازم دی.

**جواب**: د قیاس تقاضا خو دا ده او همداسې کول پکار دي مګر استحسانًا یعني دقیاس خفي په وجې سره دا نذر معتبر ګرځولی شي ځکه چې د خلقو په عرف کې په داسې قسمه الفاظو سره حج یا عمره لازم ګڼلی شي اوپه قسم اونذر کې دعرف ډیر دخل دی، دویمه وجه دا ده چې د حضرت علي رضی الله عنه نه یو اثر نقل دی چې په داسې نذر منلو سره حج یا عمره لازمیږي نوپه دې وجې سره قیاس پریخودلی شو.

**سوال**: هرکله چې د نذر د ماتولو کفاره د قسم ماتولو د کفارې په شان ده نو بیا د نذر ماتولو په وجې سره دم ولې لازمیږي د قسم کفاره ولې نه راځي.؟

**جواب**: ددې سوال جواب دادی چې د نذر معامله د حج او عمرې سره تړلې ده او حج او عمره کې چې کله نقصان راځي نو هغه دم سره پوره کولی شي. **قال ونقائص النسک تجبر بالدم** ګویا چې دا د حج او عمرې خصوصیت دی. **کذافي زجاجة المصابیح مختصرًا**.

باقي چاچې دپیدل حج نذر ومنلو نو په هغه لازم دي چې دکور نه طوافِ زیارت پورې پیدل لاړشي همدا راجح دی او کچیرې دا نذریې په عمره کې ومنلو نو د سر خریلو پورې به پیدل وي. کچیرې چا وویل چې په ماباندې تر بیت الله پورې پیدل تلل د الله تعالی د پاره نذر دی نو دهغه دنیت به اعتبار وي چې هغه د حج په نیت سره ویلي وو که د عمرې په نیت سره یې ویلې وو یاد ساته! چې دا پیدل نذر به هغه وخت لازمیږي کله چې څوک د مشي الي بیت الله الفاظ ووایي کچیرې چا د **ذهاب الي بیت الله** الفاظ اداء کړل نو هیڅ به هم نه لازمیږي ها! دعرف اعتبار دی.

## د نذر منونکي په وارثانو باندې نذر پوره کول واجب دي يا نه ؟

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ سَعْدَ بن عبَادَة رَضِيَ الله عَنْهُم اسْتَفْتَى

او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې حضرت سعد بن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نَذْرٍ كَانَ عَلَى أُمِّهِ فَتُوُفِّيَتْ

نه د هغه نذر متعلق د مسئلې پوښتنه وکړه کوم چې دهغه مور منلی وو او دهغې د پوره کولو نه مخکې

قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ فَأَفْتَاهُ أَنْ

هغه وفات شوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته فتوی ورکړه چې هغه دې د خپلې

يَقْضِيَهُ عَنْهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[۸]

مور د طرف نه دا نذر پوره کړي. (بخاري ومسلم)

**توضيح** : **فافتاه ان يقضيه عنها** د حضرت سعد بن عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور څه نذر منلی وو ددې متعلق څه يقيني وضاحت ملاؤ نه شو بعضې علماؤ فرمايلي دي چې هغې د روژې نيولو نذر منلی وو، بعضې علماء وايي د غلام د آزادولو نذر وو بعضې وايي چې د صدقې نذريې منلی وو. مګر صحيح خبره دا ده چې دهغې نذر مبهم وو د نذر معين او د نذر مطلق تذکره هم نه وه، د دارقطني په يو روايت کې دي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې د خپلې مور د طرف نه کوهی وکنه او وقف يې کړه نوهغوی هم داسې وکړل او بيايې وفرمايل چې داد حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مور دپاره دی. اوس دلته دا مسئله بيانولی شي چې کچيرې يوکس د نذر پوره کولو وصيت کړی وي نو کتلی به شي که چيرې دنذر تعلق د مال سره دی نو د مړې د دريمې حصې دمال نه به نذر پوره کړی شي. او د مړي په وارثانو باندې د حکم پوره کول لازم دي او کچيرې دمړي مال نه وي نو په وارثانوباندې د نذر پوره کول لازم نه دي، ها کچيرې وارثان يې دخپل طرف نه په طور د احسان پوره کول غواړي نو دا تبرع او احسان دی، او که د نذر تعلق دمال په ځای د عباداتِ بدنيو سره دی نو ددې وصيت پوره کول د جمهورو علماو په نزد جائز نه دی ځکه چې **لايصلي احد عن أحدٍ ولا يصوم أحد عن احد** صريح حديث پکې دی. اهل ظواهرو د زيربحث حديث په ظاهر باندې عمل کړی دی

---

(۸) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۱/۵۸۳ رقم الحديث ٦٦٩٨ ومسلم فی ۳/۱۲٦۰ رقم الحديث (۱٦۳۸-۱) والترمذي فی السنن ٤/۸۹ رقم الحديث ۱۵٤٦ والنسائی فی ۷/۲۰ رقم الحديث ۳۸۱۷ وابن ماجه فی ۱/٦۸۹ رقم الحديث ۱۵٤٦.

چې په وارث باندې د مورث نذر پوره کول په هر حال کې لازم دي. ( المرقات ۶/۶۰۲)

**د ایصال ثواب مسئله** : د دې حدیث په اشارو سره علماو د ایصال ثواب مسئله راویستلې ده، د ایصال ثواب مطلب دادی چې د ژوندو خلقو د اعمالو ثواب مړو ته رسیږي یانه رسیږي، په دې مسئله کې د عربو او عجمو علماؤ کې دوه قسمه آراء ګانې چلیږي: د مصر یو عالم محمد احمد عبد السلام په دې مسئله کتاب لیکلی دی.

چې دهغې نوم دی **القراءة للاموات هل یصل ثوابها الیهم** دا کتاب د نیم نه زیات د ایصال ثواب په نفي کې دی. او د نیم نه څه کم آخري حصه د ایصال ثواب په اثبات کې دی، زه ددې مسئلې تفصیل بیانولی نه شم صرف دومره خبره ده چې د اهل سنت والجماعت او د معتزلو په مینځ کې د مخکې ډیرې زمانې نه دا اختلاف په زور او شور سره وو، معتزلو د ایصال ثواب نه انکار کولو او اهل سنت ئې اثبات کولو اوس خو علماء ددې مسئلې دپاره فارغ هم نه دي. بهرحال په عبادات مالیو باندې اجماع ده چې ددې ثواب مړو ته رسي او په عباداتِ بدنیو کې دفرائضو او سنتو او واجباتو ثواب کوم بل چا ته نه شي بخښلی ځکه چې دا د هرسړې ذاتي عمل دی او د هغه خپله ذمه داري ده، اوس خبره د نوافلو پاتې شوه مثلاً د نفلي مونځ ،روژې،او د قرآن تلاوت وغیره خو جمهور علماء هم ددې د ایصال ثواب قائل او عامل دي، البته امام شافعي رحمه الله ته منسوب دي چې هغه د تلاوت قرآن د ایصال ثواب قائل نه دی مګر د ایصال ثواب متعلق ډیر احادیث شته دی چې په دې باندې حجت دی همدا وجه ده چې اکثر شوافع په دې مسئله کې دخپل امام سره نه دي. خلاصه داده چې کچیرې د تاریخ تعین کوم کس ضروري نه ګڼي لکه د اهل بدعتو په نزد دریمه،اومه، څلویښتي او یوولسمه د تعین سره هغوي دا ضروري هم ګڼي، نو بیا ایصال ثواب صحیح دی مړي ته به ثواب رسي، ها کچیرې د مړې د ایصال ثواب دپاره د قرآن ختم وي نو په هغې باندې د قاري دپاره خوراک کول یا عوض اخستل جائز نه دي، کچیرې عوض ئې واخستو نو ثواب به نه قاري ته ملاویږي او نه به مړې ته ملاویږي،. ها کچیرې د برکت دپاره د قرآن ختم وي مثلاً نوی کور یا دوکان کې،نو په تلاوت سره برکت راځي ددې په عوض کې خوراک کول جائز دی په شرط ددې چې د نابالغ یتیمانو مال نه وي، د ایصال ثواب د ختم قرآن دپاره دا شرط دی چې د هرقسمه نمود اونمائش او د اشتهار او تشهیر او د غرض او اغراضو نه پاک وي ورنه جائز به نه وي، نه به ثواب کیږي، ایصال ثواب که د ډیرو مړو دپاره وکړی شي نو د حضرت ګنګوهي د فتوې مطابق دا ثواب به په ټولو تقسیمیږي د نورو مفتیانو حضراتو خیال دادی چې هریو ته به پوره ثواب ملاویږي. مثلاً مړو ته یې د یو قرآن ثواب وبخښه نو هریو ته به د پوره قرآن ثواب ملاویږي ددې مسائلو دپاره فتاوی رشیدیه او ګورئ خصوصاً ص ۲۳۰ وغیره. ( المرقات ۶/۶۰۴)

عقود رسم المفتي وغیره کتابونو نه یوه ضابطه معلومیږي چې کوم د استیجار علی الطاعات متعلق دی چې هر هغه طاعت او عبادت چې په هغې باندې اجرت وانه خستی شي نو ددې طاعت او منصبِ شریعت د ختمیدو خطره ده نو په دې باندې اجرت اخستل د مجبوری په درجه کې د متاخرینو په نزد جائز دی لکه امامت،اذان،

تعلیم او تعلم او تدریس دی، او که د شریعت څه منصب نه ختمیږي لکه تراویح او د ایصال ثواب ختمونه وغیره نو په دې باندې اجرت اخستل جائز نه دي، ځکه چې تراویح په ورو سورتونو هم اداء کیدی شي، لهذا د شرعي منصب د ختمید و خطره نشته دی. باقي دعاملانو عمل او تعویذونه دا طاعت نه دی بلکې یو علاج دی په دې باندې اجرت اخستل جائز دي اګرچه د عوامو په نزد باندې د طعن باعث دی.

## په صدقه کولو کې د خپل ضرورت لحاظ ساتل پکار دي

﴿۸﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي

او حضرت کعب بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې ما عرض وکړو ای د الله رسوله! چې زما د مکمل او پوره توبې تقاضا خو داده

أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

چې زه خپل ټول مال نه یو طرف ته شم او زه هغه د الله او د هغه رسول دپاره خیرات کړم رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

«أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ». قُلْتُ: فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ.

چې ستا په حق کې بهتره داده چې ته څه مال وساتې ما عرض وکړو چې زه د خپل خیبر حصه ساتم.

وَهَذَا طرف من حَدِيث مطول اخرجه البخاري (صَحِيح)(۹)

دا روایت د یو اوږد حدیث تکړه ده. (بخاری و مسلم)

**توضیح**: کعب بن مالک د تبوک د پاره د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د طرف نه د نفیر عام اعلان شوی وو په دې وجه په هر عاقل او بالغ باندې په جهاد کې وتل فرض عین شوې وو حضرت کعب بن مالک او دهغه دوه ملګري حضرت هلال بن امیه او حضرت مراره بن ربیع رضي الله عنهم روستو پاتې شوې وو ددې دریو اړو د نومونو دپاره لفظ د (مکه) دې یاد ساتلی شي ځکه چې د هر یو نوم نه ړومبی حرف په دې لفظ کې موجود دی دغه شان په معرج کې په کوم آسمان کې چې د کوم نبي سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملاقات شوی وو چې د کوم چې په احادیثو کې په ترتیب سره واقعه بیان شوې ده نو دهغې دیادولو دپاره به د (المرقات ۶/۶۰۵، ۶۰۴)

اعیاهما جمله یاد ساتلی شي ددې جملې هر ړومبی حرف د آسمانونو په ترتیب سره د دې نبي د نوم د ړومبي حرف سره موافق دی مثلاً الف آدم عَلَيْهِ السَّلَام دپاره دی او په ړومبي آسمان کې ورسره ملاقات شوی وو. دغه شان قابل وهابیل کې قاتل معلومولو دپاره قاف په ذهن کې دې وساتلی شي د چا په نوم کې چې ړومبی قاف وي هغه قاتل دی، دغه شان د جلالین دوه مصنفین جلال

---

(۹) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۱/۵۷۲ رقم الحدیث ۶۶۹۰ ومسلم في ۴/۲۱۲۷ رقم الحدیث (۲۷۶۹-۵۳) وأبوداؤد في السنن ۳/۶۱۲ رقم الحدیث ۳۳۱۷ والترمذي ۵/۲۶۳ رقم الحدیث ۳۱۰۲ والنسائی ۷/۲۳ رقم الحدیث ۳۸۲۶.

الدین سیوطي او جلال الدین محلي کې د حروف هجا و په اعتبار سره رومبی حرف سین دی، او دویم حرف میم دی د اولې حصې مصنف سیوطي دی او د دویمې حصې محلي دی دغه تعم فعم، اسع، زید په دې حروفو کې د هر نبي نوم او په هغوي نازل شوې او زبان (ژبې) طرفته اشاره ده مثلاً تعم ته وګوره ت تورات، ع عبرانئ کې، میم موسی عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازل شوی دی فعم د فرقان په ع عربي کې م په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شو. اسع الف انجیل، سین سرياني ژبه کې، ع عیسي عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازل شو. په زید ز، زبور، ي، یوناني ژبه کې، د داؤد عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازل شو، بهرحال نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټول مال د صدقه کولو نه منع کړو او د صدیق اکبر یې تعریف وکړو هرکله چې هغوی د غزوه تبوک په موقع باندې ټول مال پیش کړو وجه د فرق دا ده چې د هریو ایماني کیفیت جدا جدا وو. ددې حدیث تعلق باب النذور سره داسې دی چې د حضرت کعب مال پیش کول ګویا د نذر په وجه سره وو.

## الْفَصْل الثَّانِي

﴿۹﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل د ګناه نذر پوره کول جائز نه دي

وَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.(۱۰)

او ددې نذر کفاره د قسم د کفاري په شان ده. (ابوداؤد، ترمذي، نسائي)

## د غیر معین نذر کفاره

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل چې کوم سړي غیر معین نذر

«مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لم يسمه

ومني (یعني صرف دا ووایي چې زه نذر منم او د دې تعین نه کوي چې د څه څیز نذر مني مثلاً د روژې نذر مني

فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِينٍ. وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا

یا د صدقې؟) نو ددې نذر کفاره د قسم کفاره ده دارنګه که یو کس د څه داسې څیز نذر ومني چې

(۱۰) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۵۹۵ رقم الحدیث ۳۲۹۲ والترمذي ۴/۸۷ رقم الحدیث ۱۵۲۵ والنسائی ۷/۲۶ رقم الحدیث ۳۸۳۴

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لَا | يُطِيقُهُ | فَكَفَّارَتُهُ | كَفَّارَةُ | يَمِينٍ. |
| د هغه په وس کې نه وي (مثلا غر او چتول يا بيت الله ته پيدل تلل وغيره) نو د دې کفاره د قسم کفاره ده | | | | |
| وَمَنْ | نَذَرَ | نَذْرًا | أَطَاقَهُ | فَلْيَفِ | بِهِ». |
| او کوم سړی چې د داسې شيز نذر ومني چې دهغې د پوره کولو هغه طاقت لرلی شي نو هغه له پکار دي چې دا نذر پوره کړي | | | | | |
| رَوَاهُ | أَبُو دَاوُدَ | وَابْنُ مَاجَه | وَوَقفه | بَعضهم | على ابْنِ عَبَّاسٍ (رضي الله عنه) |
| (ابو داؤد، ابن ماجه) بعضې حضراتو دې حديث لره په حضرت ابن عباس رضي الله عنه باندې موقوف کړې دې. | | | | | |

**توضیح:** لم يسمه يعنې نذريې مطلق ذکر کړو دې څه خاص فعل نوم يې وانخستلو چې په ما باندې د الله تعالى د پاره روژه يا حج دی يا عمره ده مګر که په زړه کې د څه شيز نيت وي نو په هغې به عمل کول وي، ورنه دا نذر مطلق دی د دې کفاره د يمين د کفارې په شان ده، د دې حديث دا مطلب د امام ابو حنيفه او امام مالک رحمهما الله په نزد باندې دی، د شوافعو په نزد باندې په دې حديث کې د نذر لجاج او جدال بيان دی يعنې کچيرې يو کس نذر ومنلو چې کچيرې ما فلاني کس سره خبرې وکړې نو په ما باندې دې د يو مياشت روژې يا حج لازم وي اوس کچيرې هغه خبرې وکړې او نذرئې مات کړو نو په ده باندې کفاره د يمين به رائي، په ظاهر حديث کې د لم يسمه د الفاظو نه دا احنافو او مالکيو د رائې تائيد کيږي. (المرقات ۶/۶۰۶)

## د کفارو سره مشابهت مه ساتئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۱﴾ وَعَن ثَابت بن الضَّحَّاك قَالَ: نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | | | |
| او حضرت ثابت بن ضحاک وائي چې يو سړی نذر اومنلو د نبی صلی الله عليه وآله وسلم په زمانه کې | | | | | |
| أَنْ | يَنْحَرَ | إِبِلًا | بِبُوَانَةَ | | |
| چې هغه به په بوانه کې (چې دمکې په نشيبي علاقه کې د يو ځای نوم دی) اوښ حلالوي بيا هغه سړی | | | | | |
| فَأَتَى | رَسُولَ | الله | صَلَّى الله | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | فَأَخْبَرَهُ |
| رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې د خپل نذر خبر ورکړو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | | | | |
| فَقَالَ | رَسُولُ الله | صَلَّى الله | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ: | «هَلْ كَانَ | فِيهَا | وَثَنٌ | مِنْ أَوْثَانِ |
| (د صحابو رضي الله عنهم نه) تپوس وکړو چې د جاهليت په زمانه کې په دغه ځای کې څه بت وو چې د | | | | | | | | |

(۱۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۳/۶۱۴ رقم الحديث ۳۳۲۲ وابن ماجه ۱/۶۹۷ رقم الحديث ۲۱۲۸.

| |
|---|
| الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟» قَالُوا: لَا قَالَ: |
| هغه عبادت کولی شو؟ صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې نه! بیا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تپوس وکړو |
| «فَهَلْ كَانَ فِيهِ عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟» قَالُوا: لَا |
| چې هلته د کفارو په میلو کې به څه میله لګیده؟ صحابو عرض وکړو چې نا! ددې نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ |
| فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوْفِ بِنَذْرِكَ فَإِنَّهُ |
| (هغه سړي لره مخاطب) کولو سره وفرمائیل چې ته خپل نذر لره پوره کړه ځکه چې داسې نذر |
| لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ وَلَا فِيمَا |
| پوره کول جائز نه دي چیرته چې د ګناه څه خبره وي، دارنګه په بني آدم باندې د هغه څیز د نذر پوره |
| لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (حسن)[۱۲] |
| کول هم ضروري نه دي چې دده په ملکیت کې نه وي. |

**توضیح**: ببوانه د مکې مکرمې سره نزدې په ینبع مقام کې د سمندر په غاړه د یو چراګاه (د څارو و څرولو د ځای) نوم دی په باء باندې پیش او واو مفتوح غیرمشدد دی د نجد په علاقه کې هم د اوبو د یو ګودر نوم بوانه دی هغه مراد نه دی. (المرقات ۶۰۸/۶)

وثن دبت په معنی دی جمع یې اوثان دی **عید** جمع یې اعیاد دی د جاهلیت په زمانه کې چې به کوم کوم ځای میلې لګیدې د هغې ځایونو خاص خاص نومونه وو هم ددې تپوس پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وکړو دې دپاره چې دوی ته معلومه شي چې په دې ځای د کافرانو څه شعار خو نشته دی، کله چې پته ولګیده چې څه خصوصي علامه یې نشته دی نو هلته یې ورته د حلالې اجازت ورکړو، ددې نه معلومه شوه چې د کافرانو سره مسلمانانو لره په خپلو افعالو او اقوالو او په خپلو عباداتو او عاداتو کې مشابهت نه دی ساتل پکار ځکه چې **من تشبه بقوم فهو منهم** د مذکوره حدیث نه معلومه شوه چې د نذر دپاره چې د کوم مکان تعین وکړی شي او په هغې عمل کول ممکن وي نو هم هلته نذر لره پوره کول لازم دي. (المرقات ۶۰۸/۶)

---

(۱۲) أخرجه أبوداؤد فی السنن ۳/۶۰۷ رقم الحدیث ۳۳۱۳

## د فتح په تمنا کې د تمبل وهلو نذر

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جده رَضِيَ الله عَنهُ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ:

او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې یوې ښځې عرض او کړو

يَا رَسُولَ الله إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ

چې یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! ما دا نذر منلی دی چې (کله تاسو د جهاد نه تشریف راوړئ نو) زه بهستاسو په مخکې تمبل وهم؟

قَالَ: «أَوْفِي بِنَذْرِكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ رَزِينٌ:

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې ته خپل نذر پوره کړه. (ابو داوُد) او رزین رحمه الله په دې روایت کې دا

قَالَتْ: وَنَذَرْتُ أَنْ أَذْبَحَ بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا

الفاظ نقل کړي دي چې دې ښځې (دا هم) ووئیل چې ما دا نذر منلی دی چې زه به په فلاني فلاني

مَكَانٌ يَذْبَحُ فِيهِ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ:

مقام باندې چرته چې د جاهلیت په زمانه کې خلقو څاروي حلالول څاروی حلالوم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو

«هَلْ كَانَ بِذَلِكَ الْمَكَانِ وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟» قَالَتْ: لَا قَالَ:

چې آیا هلته د جاهلیت د بتانو نه څه بت وو؟ دې ښځې ورته ووئیل چې نه! بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو

«هَلْ كَانَ فِيهِ عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟» قَالَتْ: لَا قَالَ:

چې هلته د کافرانو د میلو نه څه میله به لګیده؟ دې ښځې ورته ووئیل چې نه! نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

«أَوْفِي بِنَذْرِكِ» (صَحِيح)[۱۳]

چې ته خپل نذر پوره کړه.

**توضیح** : ان اضرب علي راسک بالدف....دُف په دال باندې ضمه افصح ده فتحه هم جائز ده، ددې جملې مطلب دا دی چې ستاسو مخې ته به تمبل وهم، عامو شارحینو همدا مطلب اخستی دی مګر دا حاصل معنی دی کچیرې حقیقي د ... باندې عمل وکړی شي چې ستا په سر باندې به تمبل وهم نو هم ممکن ده. ځکه چې تمبل وهونکي وینځې چې کله ولاړې وي تمبل وهي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به په ناسته تشریف فرما وي نو دا به په سر باندې تمبل وهل وي، او ترجمه به دا وي چې ستاسو په سرباندې به

---

(۱۳) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۶۰۶ رقم الحديث ۳۳۱۲

تمبل وهم، شیخ عبدالحق رحمه الله په فارسی هم دا ترجمه کړې ده او بیایې په یعني سره حاصل د معنی بیان کړ دی. ( المرقات ۶۰۹/۶)

**سوال**: دلته یو سوال مشهور دی کوم چې علامه خطابي داسې بیان کړی دی فرمائي چې تمبل وهل څه طاعت او نیک عمل نه دی د زیات نه زیات یو مباح عمل دی حالانکه نذر منلو دپاره د طاعت کیدل ضروري دي نو دا نذر څنګه صحیح کیدی شي.؟

**جواب**: علامه خطابي رحمه الله په جواب کې فرمائي چې اګرچې تمبل وهل یو مباح امر دی مګر کله چې دا تمبل وهل د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره د ډیر زیات محبت او عقیدت سره متعلق وي او د جهادي معرکو نه صحیح سالم فاتحانه انداز کې د واپس راتلو سره متعلق وي چې په هغې سره د کافرانو سرونه ښکته او غمګین کیدل وو او د منافقانو توهین او تحقیر اوتذلیل وو نو په دې وجه سره اوس دا عمل د نورو نیکو په شان شو نو ددې نذر صحیح شو. ( المرقات ۶۰۹/۶)

## د دریمې حصې د مال صدقه کافي ده

| |
|---|
| ﴿۱۲﴾ وَعَن أَبِي لُبَابَة: أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او د حضرت ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې زما د |
| إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِي الَّتِي أَصَبْتُ فِيهَا الذَّنْبَ |
| توبې تکمیل دا دی چې زه دخپل قوم کور پریږدم چیرته چې زما نه ګناه شوې ده او دا چې زه خپل |
| وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ صَدَقَةً قَالَ: «يُجْزِئُ |
| ټول مال خیرات کولو دپاره د هغې نه یو طرف ته ته شم. نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې د دریمې |
| عَنْكَ الثُّلُثُ». رَوَاهُ رزين (صَحِيح)[۱۱] |
| حصې د مال صدقه ستا دپاره کافي ده. (رزین) |

**توضیح**: ان اهجر دار قومي په مدینه منوره کې د خندق د جنګ په موقعه باندې په څلورمه هجری کې بنو قریظو چې کله د عهد شکني وکړه (وعده یې ماته کړه) نو د جنګ خندق نه دفارغید وسره مسلمانانو د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په ملګرتیا کې پنځویشت ورځو پورې د یهودو بني قریظو محاصره کړې وه کعب بن اسد چې د یهودیانو لیډر وو هغه دارنګه تقریر وکړو. ای یهودیانو! ای د پیغمبرانو اولاده!

---

(۱۱) أخرجه أبوداؤد فی السنن ۳/۶۱۳ رقم الحدیث ۱۳۱۹ ومالک فی المؤطأ ۲/۴۸۱ رقم الحدیث ۱۶ من کتاب النذور واحمد فی ۳/۵۰۶.

د دې مشکل نه د وتلو دپاره په دریو خبرو کې د یوې انتخاب وکړئ. (۱) یا ایمان راوړئ، او تاسو ته پته ده چې دا هم هغه نبي آخر زمان دی دکوم چې تاسو انتظار کولو (۲) کچیرې داسې نه وي نو خپل بچي او ښځي پخپله قتل کړئ بیا په مسلمانانو باندې په یوځای حمله وکړئ هغوی نیست اونابود کړئ یا پخپله مړه شئ. (۳) یا داسې وکړئ چې سمدست د خالي (شنبې) په ورځ په مسلمانانو حمله وکړئ هغوي به په بې خبرۍ کې وي مونږ به بیا د خالي د ورځې د جنګ د وخت [redacted] شاید چې څه حل راوځي ابولبابه رضي الله عنه چونکه دبنو قریظو سره اوسیدو دهغه هلته کور وو او دهغوی سره یې پخوانی تجارتي او معاشرتي تعلقات هم وو کله چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اجازت سره د هغو محلونو ته لاړو او دښځو او ماشومانو ژړاګاني یې واوریدې نو نرم شو، یهودیانو د هغه نه تپوس وکړو چې کچیرې مونږ د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم سره د خپلو محلونو نه راکوز شو نو هغه به مونږ سره څه سلوک کوي؟ ابولبابه رضي الله عنه مرۍ طرف ته اشاره وکړه یعنې تاسو حلالوي. دا یې وویل چې ده ته اوس هوش راغی. دوه قدمه مخکې روستو شوی نه وو چې پښیمانه شو چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ راز ښکاره کړو نو نیغ په نیغه مسجدنبوي ته راغی او خپل ځان یې یوې ستنې پورې وترلو داستنه اوسه پورې داسطوانه ابولبابه رضي الله عنه په نوم سره په مسجدنبوي کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د منبر او روضې په مینځ کې په ریاض الجنة کې ولاړه ده. اوه ورځو پورې دا ترلی وو نه یې خوراک کوو اونه یې اوبه څکلې صرف دقضاء حاجت دپاره به کولاولی شو اوه ورځې پس بیهوشه کیدو سره راپریوتلو آخر الله تعالی دهغه توبه قبوله کړه اودتوبې آیتونه نازل شول. (المرقات ۶۰۹،۶۱۰/۶)

---

(وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰۲﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ) (سورة التوبة: ۱۰۲)

---

خلقو زر زر دده خلاصول غوښتل مګر ده منع کړل او وې فرمایل چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ما په خپلو مبارکو لاسونو خلاصوي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله دا خلاص کړو نو وې فرمائیل چې زه د بنو قریظو سره خپل کور پریږدم ځکه چې دا کور هم ددې واقعې سبب جوړشو، او زه خپل ټول مال صدقه کوم ځکه چې دا مالي تجارت هم ددې واقعې سبب جوړشوی دی، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مال متعلق وفرمایل چې دریمه حصه صدقه کړه، دریمه حصه خیرات کافي دي، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د کور متعلق هیڅ هم ونه فرمائیل شاید چې د کور پریخودلو اشاره یې ورکړه ځکه چې چرته شیطاني

اثرات پریږدئي هلته نه منتقل کیدل ضروري دي.

## په څه خاص ځای باندې د مونځ کولو نذر

﴿۱۴﴾ وَعَن جَابِر بن عبد الله: أَنَّ رَجُلًا قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ

او حضرت جابربن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې د فتح مکې په ورځ یو سړی په مسجد نبوي کې ودریدو

فَقَالَ: يَا رَسُول الله إِنِي نذرتُ لله عَزَّوَجَلَّ إِنْ فَتَحَ الله عَلَيْكَ مَكَّةَ

او عرض یې وکړو یارسول الله! ما د الله تعالی دپاره دا نذر منلی وو چې الله تعالی که تاسو ته د مکې فتح درکړه

أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ: «صلى الله عَلَيْهِ وَسلم

نو زه به په بیت المقدس کې دوه رکعته مونځ کوم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې ته هم دلته (په

هَهُنَا» ثُمَّ عَاد فَقَالَ:

مسجد حرام کې) مونځ وکړه دې سړي بیا هغه عرض وکړو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم دا جواب ورکړو

«صل هَهُنَا» ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ:

چې هم دلته مونځ وکړه کله چې هغه په دریم ځل همدا عرض وکړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل چې اوس تاته اختیار دي

«شَأْنُكَ إِذًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد والدارمي.(۱۰)

(یعنی کچرې دلته مونځ کول نه غواړې نو ته پوهه شه تاته د خپل نذر مطابق بیت المقدس کې د مونځ کولو اختیار دی).

**توضیح**: ان فتح الله یعني کچیرې الله تعالی درته د مکې فتح نصیب کړه نو زه به په بیت المقدس کې د شکر په طور دوه رکعته نفل کوم ددې هر مسلمان اندازه کولی شي چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم جذبات د اعلاء کلمة الله دپاره څومره اوچت وو.

صل هٰهُنا یعني دلته په مکه یې وکړه بیت المقدس ته دتلو ضرورت نشته دی، اوس دلته مسئله دا ده کچیرې یو کس د خپل نذر دپاره د څه مکان او مقام تعین وکړو چې زه به دا عبادت هلته ادا کوم نو دا تعین به برقرار وي یا بل کوم ځای کې هم دا نذر پوره کولی شي، امام زفر رحمه الله فرمایي چې کله تعین وکړي نو هغه سړي باندې لازم دي چې نذر هم هغه ځای کې اداء کړي هغه فرمایي چې او ګوره الله تعالی د وقوف دپاره عرفات مقرر کړی دی د شپې تیرولو دپاره د مزدلفې تعین دی او د رمي

(۱۰) أخرجه أبوداؤد فی السنن ۳/۶۰۲ رقم الحدیث ۳۳۰۵ والدارمی فی ۲/۲۴۱ رقم الحدیث ۲۳۳۹ وأحمد فی المسند ۳/۳۶۳

جمراتو دپاره منیٰ مقرره ده په دې کې تغیر جائز نه دی. مګر د نورو امامانو باره کې په شرح السنة کې لیکلې دي چې هغوی د ادنیٰ او اعلیٰ فرق کوي یعنې کچیرې نذریې په افضل ځای کې منلی دی نو په مفضول کې دې نه اداء کوي او کچیرې په مفضول کې یې نذر منلی وي نو په افضل کې دې ادا کړي. مثلاً چا په مسجد اقصیٰ کې د دوو رکعتو نفلو کولو نذر منلی دی نو هغه یې په مسجد نبوي او مسجد حرام کې اداء کولی شي او کچیرې یې په مسجد نبوي کې د دوو رکعتو نفلو نذر منلي وي نو په مسجد حرام کې یې ادا کولی شي مګر که په مسجد حرام کې یې د دوو رکعتو نفلو نذر منلی وي نو په مسجد اقصی کې یې نه شي ادا کولی، او که په مسجد حرام کې یې د دو رکعتو نفلو نذر منلی دی نو په مسجد نبوي کې ئې نه شي اداء کولی. ملا علي قاري رحمه الله په مرقات کې لیکلي دي چې امام ابو حنیفه دد ې تعین قائل نه دی بلکې د مکان او مقام سره متعین نذر چرته هم پوره کولی شي.

## د نذر څه جزء کچیرې ممکن العمل نه وي نو څه به کوي

| |
|---|
| ﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نَذَرَتْ |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې د عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور دا نذر منلی وو چې هغه به |
| أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً وَأَنَّهَا لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| پیدل حج کوي مګر هغې دد ې طاقت نه لرلو نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (حضرت عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته) دا وفرمائیل چې |
| «إِنَّ اللهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ أُخْتِكَ |
| بیشکه الله تعالی ته ستا د خور د پیدل تللو پرواه نشته دی لهذا هغې له پکار دي چې هغه د ې پیدل نه |
| فَلْتَرْكَبْ وَلْتُهْدِ بَدَنَةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ |
| ځي نو) په سورلی د ې کینې (او د هغې د مآل نه د کفارې په طور د ې) بدنه ذبح کړي (ابو داؤد دارمي) |
| وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ: فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَرْكَبَ وَتُهْدِيَ هَدْيًا |
| دا هم د ابو داؤد په یو روایت کې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ امر وکړو چې سوره د ې شي او هدیه د ې ولیږي |
| وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ |
| په یو روایت کې دا الفاظ دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې الله تعالی به ستا خور ته د مشقت |
| لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ أُخْتِكَ |
| څه ثواب نه ورکوي (یعني ستا خور چې دا سې قسم مشقت برداشت کوي نو هغې ته به څه ثواب نه ملاویږي) |

| | | |
|---|---|---|
| شَيْئًا | فَلْتَرْكَبْ . | ولتحج |
| لهذا هغې له پکار دي چې هغه (چې کله پيدل نه شي تلی نو) په سورلی دې کيني او د حج سفر دې پوره | | |
| وتكفر يَمِينَهَا» .(١٦) | | |
| کړي او د قسم کفاره دې ورکړي. | | |

**توضيح** : ولتهد بدلة هدي هغه څاروي ته ويلی شي چې د کعبې مشرفې دپاره وليږلی شي دې دپاره چې په حرم کې حلال کړی شي .

**هديا بالغ الكعبة** د قرآن آيت دی ادنیٰ هدي چيليدی او اعلیٰ هدي **بدنه** يعنې اوښ او غوا ده . د حج دپاره پيدل تلل استحساناً او د قياس خفي دوجې نه او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د يو اثر د وجې نه د طاعاتو په زمره کې راځي په دې وجه د دې نذر صحيح او واجب تعميل دی او د پريخودو په صورت کې به کفاره اداء کول وي او د کفارې د دې څاروي متعلق د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قول مطابق **بدنه** يعنې اوښ او غوا ذبح کول به وي او په حديث کې هم د **بدنه** ذکر راغلی دی. بعضې حضرات فرمايې چې په دې صورت کې به بدنه نه بلکه چيلی لازم ده د بدنه ذکر د استحباب په طور باندې دی باقي په دې حديث کې د کفارې نه مراد کفاره د قسم نه ده بلکه کفاره د جنايت ده چې د حج او عمرې سره خاص ده **لايصنع** د صنع نه دی د لايفعل په معنی سره دی صنع کاريګری ته وايي دلته عمل مراد دی **شقاد** شين په فتحې سره د محنت او مشقت په معنی سره دی، ترجمه يې داده چې الله تعالی ستا د خوردې مشقت په اوچتولو هيڅ هم نه کوي ځکه چې هغه د دفعت مضرت او جلب منفعت نه پاک دې کذا **يفهم من المرقات واشعة اللمعات**. ( المرقات ۶۱۲/۶)

## د پياده حج کولو د نذر حکم

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿١٦﴾ وَعَنْ | عَبْدِ | الله | بْنِ | مَالِكٍ | أَنَّ | عُقْبَةَ | بن | عَامر |
| او حضرت عبد الله بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د حج د سفر په دوران کې) د | | | | | | | | |
| سَأَلَ | النَّبِيَّ | صَلَّى | الله | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | عَنْ | أُخْتٍ | لَهُ | نَذَرَتْ |
| خپلې خور متعلق د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړو چې هغې دا نذر منلی وو چې هغه به پيدل، | | | | | | | | | |

(١٦) أخرجه أبوداؤد فى السنن ٣/٥٩٨ رقم الحديث ٣٩٨ والدارمى فى ٢/٢٤٠ رقم الحديث ٢٣٣٥ وأحمد فى المسند ١/٢٥٣

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أَنْ | تَحُجَّ | حَافِيَةً | غَيْرَ | مُخْتَمِرَةٍ | فَقَالَ: «مُرُوهَا |
| خپې ابله خپې او بربنډ سر حج ته ځي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې هغې ته حکم ورکړه چې هغه خپل سر | | | | | |
| فَلْتَخْتَمِرْ | وَلْتَرْكَبْ | وَلْتَصُمْ | ثَلَاثَةَ | أَيَّامٍ» | |
| پټ کړي او په سورلۍ باندې کيني لاړه شي دا رنګه هغې له پکار دي چې درې روژې ونيسي. | | | | | |
| رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي.(۱۷) | | | | | |
| (روايت کړې دې ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي) | | | | | |

**توضيح** : ولتصم ثلاثة ايام يعني درې ورځې دې روژې ونيسي. د حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خور په قصه کې د کفارې اداء کولو متعلق مختلف الفاظ راغلي دي په څه روايا تو کې د درېو ورځو روژو ذکر دی څنګه چې په دې ذکر شوې حديث کې دي او په څه روايا تو کې دهدي ذکر راغلی دی څنګه چې ددې نه مخکې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت نمبر ۱۵ کې دهدي ذکر دی په دې روايت کې د بدله ذکر هم دی او هم په دې کې د يمين د کفارې ذکر هم دی ددې نه مخکې په حديث نمبر ٦ کې د مشي الي بيت الله د نذر د کفارې متعلق په تفصيل سره مسئله بيان کړی شوې ده دلته په يو نوي انداز سره نوې مسئله ليکلی شي چې بعضو شارحينو دا حديث ليکلی دی او د مغني ابن قدامه حواله يې ورکړې ده. په دې خبره د ټولو فقهاو اتفاق دی چې د مشي الي بيت الله نذر صحيح دی او نذر منونکي لره پيدل حج يا عمره کول پکار دي، او کچيرې پيدل حج تلو نه عاجزه شي نو په سورلۍ دې سور شي لاړ دې شي دلته خو اتفاق دی، اختلاف په دې کې دی چې د مجبورۍ په صورت کې چې کله سړی سور شي نو په ده باندې به څه جزا او سزا راځي.؟ ( المرقات ۶/۶۱۳، ۶۱۲)

**د فقهاؤ اختلاف** : د جمهورو خبرې وليکل شوې چې د نذر ماتولو د وجې په دې سړې باندې دم واجب دی ددوی په خپل مينځ کې د اختلاف څه تفصيل تيرشوی دی. امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي چې د نذر ماتولو په صورت کې د يمين کفاره به ادا کول وي که هغه مشي الي بيت الله نذر وي يا څه بل نذر وي.

**دلائل** : د جمهورو په نزد د دم په وجوب باندې څو احاديث دال دي ددې باب حديث نمبر ۱۵ چې په فصل ثاني کې د حضرت ابن عباس نه نقل دی په هغې کې د بدله ذکر دی د هدي ذکر دی دا ټول دم

---

(۱۷) أخرجه أبوداود فى السنن ۳/۵۹٦ رقم الحديث ۳۲۹۳ والترمذي في ٤/۹۸ رقم الحديث ۱۵٤٤ والنسائى في ۷/۲۰ رقم الحديث ۳۸۱۵

دی، د مستدرک حاکم په روایت کې دا الفاظ دي **فلیهد هدیاً ولیرکب**.
امام احمد بن حنبل رحمه الله د دې زیربحث د حضرت عبدالله بن مالک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د حدیث نه استدلال کړی دی په دې کې د درې روژو ذکر دی. ( المرقات ۶/۶۱۲)

**جواب**: د مجموعي روایاتو نه معلومیږي چې د عقبه بن عامر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خور د دو خبرو نذر منلی وو یو دا چې هغه به په سر باندې لوپټه نه په سروي، دویم دا چې پیدل به خپې ابله خپې حج ته ځي ترک اختماریعنې لوپټه نه په سرول چونکه معصیت او ګناه ده په دې وجه د ښځې د سر وینښته عورت دی ددې پټول ضروري دي او د معصیت نذر ماتول ضروري وي، او په دې کې په اتفاق سره د یمین کفاره راځي په دې وجه په دې حدیث کې د یمین د کفارې ذکر هم راغی او ظاهره ده چې کله یو سړی د غلام د آزادولو یا مسکینانو ته د خوراک ورکولو طاقت نه لري نو هغه به درې روژې نیسي. ( المرقات ۶/۶۱۲)

د حضرت عقبه بن عامر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خور چې کله د ترک مشي الی بیت الله نذر ماتولو سره سواره شوه نو ددې وجې نه نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ د کفارې په طور د دم ورد کولو حکم ورکړو ځکه چې د نقائص حج کفاره دم سره اداء کیږي. خلاصه دا چې د حضرت عقبه بن عامر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خور ته د یمین د کفارې او هدي دواړو حکم ورکړی شو د یمین کفاره په ترک اختمار باندې او هدي په ترک مشي باندې په دې وجه دا حدیث د ضابطې دلیل نه شي جوړیدی، بعضې شارحین ددې حدیث دا مطلب اخلي چې کله یو سړی دپیدل تللو نه عاجزه دی نو دم دې ورکړي او کچیرې په دم ورکولو باندې هم قادر نه دی نو ددې په بدله کې دې درې روژې ونیسي **اختمار** د خمارنه دی خمارلوپټې ته وایي او **اختمار** او **مختمره** دادلوپټې اچولو په معنی سره دی **حافیه** د څپلو نه بغیر پیدل تللو ته وایي ( المرقات ۶/۶۱۲)

| |
|---|
| ﴿۱۷﴾ وَعَن سعيد بن المسيب: أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا مِيرَاثٌ |
| او حضرت سعید بن مسیب رحمه الله وایي چې دوه انصاري رونړو ته د چا میراث ملاو شوی وو |
| فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ |
| دغه شان دې دواړو وروڼو کې یوو رور د بل ورور نه د میراث د تقسیمولو مطالبه اوکړه نو دې |
| فَقَالَ: إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي الْقِسْمَةَ |
| دویم رور ورته ووئیل (چې زه ددې نذر منم) کچیرې اوس ته بیا ما نه د تقسیم مطالبه کوې نوزما تول |
| فَكُلُّ مَالِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: |
| مال به په کعبه کې خرچ کړی شي (کله چې دا صورت حال) د حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ (په علم کې راغی نو هغوي) اوفرمائیل |

إِنَّ الْكَعْبَةَ غَنِيَّةٌ عَنْ مَالِكَ كَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ

چې کعبه ستا د مال نه بې پرواه ده ته د خپل قسم (يعني ناجائزه نذر) کفاره اداء کړه او (د ميراث په معامله) کې

وَكَلِّمْ أَخَاكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ته د خپل رور سره خبرې اترې وکړه (يعني د ميراث د تقسيمولو مطالبه پوره کړه) ځکه چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه

يَقُولُ: «لَا يَمِينَ عَلَيْكَ وَلَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ الرَّبِّ

اوريدلې دي فرمائيل يې چې په تاسو باندې د دې قسم (يعني دغه شان نذر) پوره کول واجب نه دي او الله تعالى لره د

وَلَا فِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ

نافرمانئ نذر جائز نه دي او نه داسې نذر پوره کول پکار دي چې د خپلولۍ تعلق پرې کولو متعلق وي

وَلَا فِيمَا لَا يملك». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد.(۱۸)

او د کوم څيز چې انسان مالک نه وي د هغه نذر پوره کول هم لازم نه دي (۱) (ابو داؤد)

(۱) (بلکه کوم نذر چې د ناجائز کيدو په وجه سره پوره نه شي د هغې کفاره ورکول واجب دي).

**تنبيه**: رتاج الكعبة: رتاج غټې دروازې او پهاټک ته وايي مراد کعبه ده. (المرقات ۶/۶۱۳)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

(۱۸) عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "النَّذْرُ نَذْرَانِ:

حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا واوريدل چې نذر په دوه قسمه دی

فَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي طَاعَةٍ فَذَلِكَ لله

(يو خو دا چې) څوک د طاعت (يعني د الله تعالى د بندګۍ) نذر ومني دا نذر خاص د الله تعالى دپاره دی

فِيهِ الْوَفَاءُ وَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي مَعْصِيَةٍ فَذَلِكَ لِلشَّيْطَانِ

داسې قسمه نذر پوره کول واجب دي او دويم دا چې څوک د ګناه نذر ومني دا نذر د شيطان دپاره دی

وَلَا وَفَاءَ فِيهِ وَيُكَفِّرُهُ مَا

د دې نذر پوره کول واجب نه دي بلکه په داسې صورت کې هغه کفاره دې اداء کړي کومه چې د

(۱۸) أخرجه أبوداؤد فى السنن ۳/۵۸۱ رقم الحديث ۳۲۷۴

يُكَفِّرُ الْيَمِينَ" رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.(۱۹)

قسم ماتولو په صورت کې ورکولی شي.

## د ځان قربانولو د نذر مسئله

﴿۱۹﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ قَالَ: إِنَّ رَجُلًا نَذَرَ أَنْ يَنْحَرَ نَفْسَهُ

او حضرت محمد بن منتشر وائي چې يو سړي دا نذر منلی وو چې دا به خپل ځان ذبح کوي (يعني حلالوي) کچرې

إِنْ نَجَّاهُ اللهُ مِنْ عَدُوِّهِ فَسَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ

الله تعالى ده ته د دشمن نه نجات ورکړو دا رنګه هغه ته د دشمن نه نجات ملاو شو نو ده د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه

فَقَالَ لَهُ: سَلْ مَسْرُوقًا فَسَأَلَهُ

تپوس وکړو حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمايل چې په دې مسئله کې د مسروق (تابعي) نه تپوس وکړه

فَقَالَ لَهُ: لَا تَنْحَرْ نَفْسَكَ فَإِنَّكَ إِنْ كُنْتَ مُؤْمِنًا

نو هغوي ورته وفرمائيل چې ته ځان مه حلالوه ځکه که ته مسلمان يې نو (په دې صورت کې به) ته د

قَتَلْتَ نَفْسًا مُؤْمِنَةً وَإِنْ كُنْتَ كَافِرًا تَعَجَّلْتَ إِلَى النَّارِ

يو مسلمان د قتل مرتکب شې او که ته کافر يې نو (په دې صورت کې ګويا) ته دوزخ ته په تلو کې جلتي کوې لهذا

وَاشْتَرِ كَبْشًا فَاذْبَحْهُ لِلْمَسَاكِينِ فَإِنَّ إِسْحَاقَ خَيْرٌ مِنْكَ

ستا متعلق دا حکم دی چې ته ګډ واخله او د مسکينانو د پاره هغه حلال کړه حضرت اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام ستانه بهتر وو

وَفُدِيَ بِكَبْشٍ فَأُخْبِرَ ابْنَ عَبَّاسٍ

چې دهغه بدله يو ګډ مقرر کړی شو کله چې دې سړي حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته (د حضرت مسروق د دې فتوې) خبر ورکړو

فَقَالَ: هَكَذَا كُنْتُ أَرَدْتُ أَنْ أُفْتِيَكَ. رَوَاهُ رَزِينٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲۰)

نو هغوي ورته وفرمايل چې حقيقت همدا دی ما خپله تاته د دې فتوې درکولو اراده لرله. (رزين)

**وضيح**: **محمد بن المنتشر** دا جليل القدر تابعي دی د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه يې احاديث لوستلي دي دا د مسروق بن اجدع وراره دی د همدان قبيلې سره يې تعلق وو او په کوفه کې اوسيدو. (

---

(۱۹) أخرجه النسائى فى السنن ۷/۲۸ رقم الحديث ۳۸۱۵

المرقات ۶/۶۱۵)

مسروق ابن الاجدع همداني. حضرت مسروق بن اجدع ډير لوی تابعي دی د نبي کريم ﷺ په ژوند مبارک کې پيدا شوی وو مګر ملاقات يې ورسره نه وو شوی، ده د څلور واړو خلفاء راشدينو رضی الله عنهم او د حضرت عائشې رضی الله عنها نه ښه ډير علم حاصل کړو په دې وجه ده ته په تابعينو کې يو اوچت شان حاصل وو. مره بن شرحبيل فرمايي چې هيڅ يو همدانيه ښځې د مسروق په شان نامور شخصيت نه دی زيږولی، شعبي رحمه الله فرمائي چې کچيرې د جنت دپاره څوک پيدا شوی دي نو هغوی مسروق، علقمه او اسود کيدی شي، د هغوی وراره محمد بن [illegible] چې بصرې ګورنر يو ځل ديرش زره درهمه د هديې په طور حضرت مسروق ته راولېږل مګر د فاقو باوجو هم حضرت مسروق قبولې نه کړې، ويلی شي چې په ورکوتوالي کې دا چا پټ کړی وو په دې وجه يې نوم مسروق شو، د حضرت مسروق د اوچت شان اندازه ددې نه کولی شي چې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په شان حبرالامة دده فتوې غوښتلو دپاره حضرت مسروق ته ليږل کوي او تاکيدې کوي چې هغه درته څه فتوی درکړه راشه ماته يې ووايه. ( المرقات ۶/۶۱۵، ۶۱۴)

**عجيبه مسئله** : ان رجلاً نذر د مسئلې تپوس کولو والا دا سړی د عجيبه نفسياتي مرض ښکار شوی وو د هغه دا خيال په هغه باندې سور شوی وو کيږي دهغه دشمن ده لره قتل کړو نو په دې کې دده ډيره رسوائي او ذلت به وي په دې وجه يې دا نذر منلی وو چې که الله تعالی ماته د دشمن د پنجې نه خلاصی راکړو نو دهغه په نوم به ځان حلالوم. ددې سړي يو طبعي خواهش وو او د وهم پرستی يوه جذبه وه او د خودکشی په حقله يې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه د مسئلې پوښتنه وکړه هغوي حضرت مسروق ته وليږلو حضرت مسروق ورته وفرمايل چې کچيرې ته مسلمان يې او خپل ځان قتل کړې نو ته به د يو مسلمان قاتل شې او که ته کافريې نو د خپل ځان په جهنم کې غورځولو کې به جلتي وکړې، نو داسې مه کوه بلکه غوره دا ده چې ددې نذر په بدله کې يو ګډ راوله او حلال يې کړه ځکه چې الله تعالی د حضرت اسحاقؑ په بدله يو ګډ قبول کړلو. ( المرقات ۶/۶۱۶)

## ذبيح الله حضرت اسماعيل عليه السلام ؤ او که حضرت اسحاق عليه السلام؟

ياد ساتئ چې حضرت مسروق د بعضې علماو د رايې مطابق د حضرت اسماعيل عليه السلام په ځای د حضرت اسحاق عليه السلام ذبح کولو طرف ته اشاره وفرمايله دا ډيره د کمې طبقې رايه ده ورنه د قرآن اوحديث قطعي دلائل په دې باندې قائم دي چې ذبيح الله اسماعيل عليه السلام وو په دې مسئله باندې د پوهيدو دپاره د ټولو نه مخکې په دې پوهيدل پکار دي چې امتحان او آزمائش په هغه څيز کې وي چې کوم کې د مرګ په خوله کې د پريوتلو خطره موجوده وي مشقت او محنت او قرباني موجوده وي، او که چيرې خطره د مرګ نه وي بلکه د مخکې نه دپاس کيدو او خطرې نه د بچ کيدل فيصله شوې وي نو هلته امتحان څنګه کيدی شي په دې ضابطې باندې د پوهيدو نه پس اوس راشه اوګوره چې قرآن

عظیم د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ دپاره کله دصابر لفظ استعمالوي( المرقات۶/۶۱۶) (**واسماعیل وادریس و ذالکفل کل من الصابرین**) (سورة انبیاء ۸۵) (**ستجدني ان شاء الله من الصابرین**) (صافات ۱۰۲) او کله د حلیم لفظ سره هغه یادوي. **لقوله تعالی ( فبشرناه بغلام حلیم )** (صافات ۱۰۱) کله په اسلم ځان سپارلو لفظ د هغه دپاره استعمالوي **کقوله تعالی (فلما اسلما وتله للجبین)** (صافات ۱۰۳) مګر کله چې د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ تذکره کوي نو د هغه پیدائش سره د غلام علیم لقب ورکوي **کقوله تعالی ( قالوا لاتوجل انا نبشرک بغلام علیم)** (سورة حجر۵۳) چې دهغه نبي کیدو طرف ته اشاره ده کوم چې د نبي کیدو ګارتپي ورکړې شوې ده. ده لره په ورکوټوالي کې د ذبحې دپاره پیش کولو فائده او مقصد څه کیدی شي دارنګه د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ د پیدائش زیري سره الله تعالی په قرآن کریم کې **(ویعقوب نافلة)** لفظ لګولی دی او د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ د ځوی یعقوب عَلَیْهِ السَّلَامُ زیری یې ورکړی دی **کقوله تعالی ( ووهبنا له اسحاق ویعقوب نافلة)** (سورة انبیاء :۷۲) **(وکقوله فبشرناها باسحاق ومن وراء اسحاق یعقوب)** (سورت هود : ۷۱)

نو د چا د پیدائش په وخت کې چې دا ضمانت ورکړی شي چې دا هلک لوی شي او دده به اولاد وي ددې ضمانت نه پس د ذبح کولو دپاره پیش کول بې معني دي، معلومه شوه ذبیح حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ وو حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ نه وو. نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل **انا ابن الذبحین** زه د دوو ذبیحینو ځوې یم نو یو ذبیح خو د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ والد محترم وو چې د ذبحې دپاره پیش کړې شوې وو او دویم هم حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ کیدې شي ځکه چې نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ په اولاد کې نه وو بلکه د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ په اولاد کې وو. معلومه شوه ذبیح حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ وو. تورات کې یې لیکلي دي چې الله تعالی حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ ته د خپل نیازبین ځوی د ذبح کولو حکم ورکړی وو او هغه حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ وو حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ نه وو معلومه شوه ذبیح حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ وو. علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله فرمایي چې اهل کتابو د تحریف او تکذیب نه کار واخستو د حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ نوم یې اخستی دی. **حسدًا من عند انفسهم** دي دپاره چې حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ ته دا فضیلت حاصل نه شي چې دمسلمانانو دپاره هم اعزاز دی شیعه شنیعه او رافضه مرفوضه هم د امت محمدیه نه ځانله لار اختیار ولو دپاره د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ په ځای حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ ذبیح ګرځولی دی. **تشابهت قلوبهم.**



# کتاب القصاص
## دقصاص بیان

قال الله تبارک و تعالی (وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ) (مائدة: ۴۵)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَىٰ بِالْأُنْثَىٰ

(بقرة: ۱۷۸)

و قال الله تعالی (وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) (بقرة: ۱۷۹)

**د قصاص تعریف** قص یقص د باب نصر ینصر نه قصًا د کټ کولو په معنی سره دی **قص الشعر** یعنې په قینچې سره یې وینښته کټ کړل او هم ددې باب نه کچیرې مصدر **قصًا** راشي نو د چا دقدم په نښو باندې شاته شاته تللو ته ویلی شي او د بیان ورکولو په معنی سره هم راځي البته په **صله** راوړلو سره فرق کیږي. **قص اثره** د روستو تللو سره خاص دی لکه : (**فارتدا علي آثارهما قصصا**) او **قص الخبر قصصًا** د خبر ورکولو او بیان کولو سره خاص دی لکه: ( المرقات ۵/۷)

(**وقص علیه القصص**) **نحن نقص علیک احسن القصص اقص الامیر فلانا من فلان** دا د بدلې او انتقام اخستلو په معنی سره دی او **والجروح قصاص** د مساوات او برابرۍ په معنی سره دی په شرعي قصاص کې د کټ کولو او روستو تللو مفهوم پروت دی ځکه چې د مقتول وارثان د بدلې اخستلو په غرض سره په قاتل پسې روستو روستو ځي دې دپاره چې په هغه باندې قابو موندلو سره هغه داسې کټ کړي لکه څنګه چې هغه قاتل مقتول لره کټ کړی وو هم دلته نه په دې کې د مساوات مفهوم هم راغی، لهذا لغوي طور باندې په قصاص کې دبدلې اخستلو ،مساوات،د قاتل لټول او هغه لره د کټ کولو مفهوم موجود دی او د شرع په اصطلاح کې د قصاص تعریف هم داسې دی . **القصاص هو ان یفعل بالفاعل مثل مافعل** یعني د قاتل ا وجارح سره هم هغه څه کول چې کوم څه یې کړې دي. په اسلامي عادلانه نظام کې قصاص صرف په قتل عمد کې وي په دې وجه دلته دقتل قسمونه بیانول

ضروري دي.

**د قتل قسمونه:** شریعت مطهره چې کوم قتل ناجائز ګرځولی دی ددې پنځه قسمونه دي: (۱) قتل عمد، دا هغه قتل دی چې په قصد سره په څه تیره څیز سره یا په توپک سره چا لره ووژني. (۲) قتل شبه عمد، دا هغه قتل دی چې په قصد سره چا لره بغیر د قتل د آلې نه ووژني. (۳) قتل خطاء، ددې دوه صورتونه دي اول قتل خطاء في القصد دی دا هغه قتل دی چې د لرې نه څه څیز لره ووینې چې دا ښکار دی او هغې طرف ته غشی اولې یا ګولی وچلوې هغه په حقیقت کې سړی وي په ګولی لګیدو سره مړ شي. دویم قتل خطاء في الفعل دی چې ګولی یې په نښه باندې اویشته مګر لاس یې او خوزیدو یا ګولی کړه شوه سړی پرې ولګیدو دا دواړه صورتونه د قتل خطا دي. (۴) جاري مجرا د خطاء، یعنې قائم مقام د خطاء، دا هغه قتل دی چې مثلاً څوک سړی په کټ وغیره کې اوده وو او په خوب کې په ډډه اوپدلو سره په چا باندې راپریوتلو او هغه لاندې کس په دې سره مړ شو. (۵) قتل تسبب، ددې صورت دادی چې یو کس د بل چا په پټې کې کوهی وکنستو هلته څوک لاړو وړپریوتلو او مړ شو یاد ساتئ د قتل د قسمونو دا تعریفات د امام ابو حنیفه رحمه الله په مسلک کې دي د نورو امامانو په تعریفاتو کې څه فرق دی.

**د قتل موجبات:** د پورته ذکر شوې د قتل په قسمونو کې د هریو قسم جدا جدا احکامات او موجبات دي لکه: (۱) د قتل عمد موجب یو خو ګناه کبیره ده او دویم قصاص دی او دریم د مقتول د میراث نه د قاتل محروم کیدل دي. (۲) د قتل شبه عمد په وجه سره ګناه کیږي قاتل د میراث نه محرومیږي په قاتل باندې کفاره لازمیږي یعنې غلام آزادول یا دوه میاشتې روژې نیول او دیت مغلظه اداء کول چې د قاتل په عاقله باندې راځي. (۳) د قتل خطاء او جاري مجرای خطاء په وجه سره قاتل د مقتول د میراث نه محروم کیدل، په قاتل باندې کفاره راځي او د قاتل په عاقله باندې دیت راځي په دې کې ګناه نشته دی ها دې احتیاطی جرمانه به اداء کوي. (۴) قتل تسبب کې په عاقله باندې دیت راځي.

**د قصاص حق به چا ته ملاویږي** دا خبره یاد ساته چې قصاص په قتل عمده کې وي قتل شبه عمد یا قتل خطاء یا جاري مجراي خطاء کې قصاص نشته دی، دارنګه دا خبره هم ذهن کې ساتل پکار دي چې د قصاص حق اګرچه د مقتول د وارثانو دی مګر د قصاص نافذ کول ددې د تنفیذ حق وارثانو ته حاصل نه دی بلکه د نافذ کولو حق صرف د وخت حکومت ته حاصل دی ځکه که چیرې هر سړی په ذاتي طور باندې د قصاص اخستل شروع کړي نو د امن په ځای به بدامني خوره شي ځکه چې د مقتول وارثان به د ډیرې غوسې نه د قصاص په حدود کې د حد نه تجاوز وکړي دارنګه د قصاص کولو

تفصيلات ددې د واجب کيدو باريک نکات دومره ډير دي چې هر سړی ددې د ادراک نه عاجز دی په دې وجه اسلامي عدالت طرف ته رجوع کول ضروري دي باقي د دنيا موجوده د پهانسی نظام قصاص نه دی. دارنګه دا خبره هم يادساتل پکاردي چې قصاص کول د خلقو د بقاء او د حفاظت ذريعه ده ځکه چې د يو کس په قصاص کولو سره د ډيرو ځانونو ته تحفظ ملاويږي سعودي حکومت کې صرف د قصاص نظام نافذ دی چې د هغې په وجه سره هلته مکمل امن او امان دی د قصاص نه علاوه هلته د شرعي حدودو نفاذ نشته دی په افغانستان کې د طالبانو د اسلامي خلافت په دور کې چې کله د قصاص نفاذ وو نو هلته څنګه مثالي امن قائم وو او په قصاص کې د فرق بيان به ان شاء الله په کتاب الحدود کې راشي.

## د نفس په بدله کې نفس دی

### الْفَصْلُ الأول

﴿۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل د يو مسلمان انسان

"لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

وينه تويول جائز نه دي چې د دې خبرې ګواهي ورکوي چې د الله تعالى نه سيوا هيڅ يو معبود نشته دی

وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ:

او بيشکه زه د الله تعالى رسول يم مګر دا چې په دې دريو خبرو کې يوه خبره راپيښه شي (۱) په قصد

النَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالثَّيِّبُ

قتل کول چې د وينې په بدله کې وينه (يعني قصاص) واخستی شي (۲) د واده شوې (مسلمان،

وَالْمَارِقُ لِدِينِهِ الزَّانِي

مکلف، او آزاد) زنا کول (هغه لره سنګسار کړی شي) (۳) د خپل دين نه وتلو والا او خپلې ډلې لره

التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ" (متفق عليه)[1]

پريخودو والا (يعني چې کوم مسلمان مرتد شي دهغه قتلول جائز دي). (بخاري ومسلم)

**توضيح**: **النفس بالنفس**: په دې کې اختلاف دی چې آيا صرف د انسان د ذات لحاظ به وي يا د جنس

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۲۰۱ رقم الحديث ۶۸۷۸ ومسلم فی ۳/۱۳۰۲ رقم الحديث (۱۶۷۶-۲۵)

او د انساني صفاتو به هم اعتبار کولی شي يعني حريت او عبديت ذکوريت او انوثت او اسلاميت او ذميت لحاظ به هم وي او که نه.

**د فقهاؤ اختلاف**: جمهور فرمائي چې د صفاتو لحاظ دې وساتلې شي لهذا که يو آزاد کس يو غلام لره قتل کړو نو آزاد به د غلام په قصاص کې نه شي وژلی ها آزاد به د آزاد په بدله کې او غلام به د غلام په بدله کې وژلی شي. د احنافو امامانو په نزد په قصاص کې د انساني ذات اعتبار دی د ددې زياتي صفاتو اعتبار نشته دی، لهذا د غلام په بدله کې به د آزاد نه قصاص اخستی شي دارنګه د ښځې په بدله کې به سړی قتلولی شي. ( المرقات ۷/۷)

**دلائل**: جمهورو د آيت (**الحر بالحر والعبد بالعبد والانثى بالانثى**) ( البقرة ۱۷۸) نه استدلال کړی دی د استدلال طرز داسې دی چې د ايت مفهوم مخالف اخستی شوی دی نو د آزاد په بدله کې آزاد دی ځوک بل ځوک نه او د غلام په بدله کې صرف غلام دی کوم بل ځوک نه په دې وجه د غلام په وژلو سره به د آزاد نه قصاص نه شي اخستلی لهذا کچيرې يو آزاد غلام قتل کړو نو ددې آزاد نه به قصاص نه شي اخستی. ( المرقات ۷/۷)

احنافو ددې آيت نه استدلال کړی دی (**وكتبنا عليهم فيها ان النفس بالنفس والعين بالعين**) (مائده: ۴۵)

د احنافو دويم دليل دا آيت دی (**ولكم في القصاص حياة يا اولي الالباب**) **بقرة ۱۷۹**

دارنګه احنافو ددې آيت نه هم استدلال کړی دی (**كتب عليكم القصاص في القتلى**) **بقرة ۱۷۹**

په دې ټولو آيتونو کې د مطلق انساني ذات ذکر دی دا فرق نه نشته دی چې ځوک د کوم صفت سره متصف دی صرف د نفس په بدله کې د نفس ذکر دی. د احنافو څلورم دليل زيربحث حديث هم دی چې په کې مطلق د نفس په مقابله کې د مطلق نفس ذکر دی د څه زيات وصف ذکر نشته دی (المرقات ۷/۷)

**جواب**: احنافو د جمهورو د استدلال نه جواب ورکړی دی چې مونږ د مفهوم مخالف قائل نه يو مونږ د آيت نه ستاسو مفهوم مخالف اخستل نه منو، لهذا ستاسو استدلال په مونږ باندې څه حجت نه نشته دی، دارنګه د آيت مطلب او مفهوم دا دی چې په دې آيت کې الله تعالی د جاهليت يو نظام مات کړو د جاهليت په زمانه کې به داسې کيدل د شان او شوکت او شريف قوم د سړې په بدله کې به هغو خلقو د کمزورې او سپک خاندان دوه سړې وژل دې غلط رواج لره يې په دې آيت سره ختم کړو، دارنګه مفهوم مخالف دلته نه شي اخستی ځکه چې د منطوق په موجودګي کې د مفهوم اعتبار نشته، دارنګه احنافو جمهوروته دا الزامي جواب هم ورکړو چې تاسو د کوم آيت نه استدلال کړی دی په هغې کې د ښځې په بدله کې د ښځې ذکر دی، حالانکه تاسو منی چې کچيرې ښځې سړی قتل کړو يا سړې ښځه قتل کړه نو په دواړو کې به قصاص جاري وي نو دخپلې ضابطې مطابق جمهورو پخپله د آيت (

والاثی بالاثی) باندې عمل ونه کړو. ( المرقات ۷/۷)

**والثیب الزانی** : یعنې واده کړی سړی چې خلوت صحیحه کولو والا وي مسلمان وي مکلف او آزاد وي کچیرې د زنا ارتکاب وکړي نو هغه لره به سنګسارولی شي. ( المرقات ۷/۷)

**المارق لدینه** : مارق د وتلو په معنی سره دی دلته د خپل دین پریخودلو او وتل یعنې دین اسلام لره پریخودلو والا ته مارق ویلی شوی دی، ددې نه پس د التارک الفاظ ددې دپاره د صفت مؤکده په صورت کې راوړل شوی دی یعنې کوم سړی چې فعلاً قولاً یا اعتقاداً د دین اسلام نه مرتد شي نو درې ورځو پورې به دا پوهه کولی شي کچیرې توبه یې وکړه نو صحیح ده ورنه دا به قتلولی شي، په دې کې د تولو فقهاو اتفاق دی البته کچیرې ښځه مرتده شي نو هغه به قتلولی نه شي په دې کې د فقهاؤ اختلاف المرقات ۷/۷)

## د مرتدې ښځې متعلق د فقهاؤ اختلاف

جمهور علماء فرمائي چې ددې حدیث د عموم پیش نظر ښځه به هم د ارتداد په سزا سره قتلولی شي، د احنافو امامان فرمائي چې د ارتداد په سزا کې به ښځه قید کولی شي قتلولی به نه شي.

**دلائل** : جمهورو د بخاري د حدیث نه استدلال کړی دی **من بدل دینه فاقتلوه** په دې حدیث کې عموم دی دارنګه نبي صلي الله علیه وسلم حضرت معاذ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمایل **ایما امرأة ارتدت عن الاسلام فادعها فان عادت والا فاضرب عنقها** د جمهورو عقلي دلیل دادی چې کوم جنایت سړی کړی دی د ارتداد هغه جنایت ښځې هم کړی دی لهذا د دواړو سزا یو شان کیدل پکار دي.

د احنافو امامانو په خپل استدلال کې د کتاب الجهاد هغه حدیث پیش کوي چې په هغې کې راغلې دي چې نبي عَلَیْہِ السَّلَام د ښځو او ماشومانو د قتل کولو نه منع فرمایلې ده. ( **نهی عن قتل النساء والصبیان**) (ترمذي، ابوداؤد)

د احنافو امامانو د مجمع طبراني د حضرت معاذ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ والا روایت نه هم استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ داسې دي : **وایما امرأة ارتدت عن الاسلام فادعها فان تابت فاقبل منها وان ابت فاستتبها** (بحواله زجاجة المصابیح ج۳ص۴)

یعنې کچیرې مرتده ښځه توبه نه کوي نو بیا هم په هغې د توبې کولو کوشش کوئ.

احنافو یو حکمت او علت هم نظر کې ساتلی دی او هغه دا چې ښځه ناقص العقل ده لهذا یو حده پورې معذوره ده د پوهه کولو کوشش یې وکړئ دارنګه ښځه په جنګ کونکو کې نه ده کچیرې مرتده شي نو دشمن ته مدد نه شي ورکولی. په خلاف د سړو چې هغوی د مقاتلینو نه دي نو هغوي دې درې ورځو پورې پوهه کړی شي کچیرې منع شو نو صحیح ده ورنه قتلولی به شي.

**الجواب** : جمهورو د احاديثو دعموم نه استدل کړی دی ددې جواب دادی چې ددې عموم نه ښځه مستثنی ده او داحنافو د مذکوره روایاتو نه په دې عموم کې تخصیص راغلو، د جمهورو دعقلي دلیل جواب دادی چې په سړو باندې ښځې دلته نه شي قیاس کولی ځکه چې سړی د جنګ په میدان کې د کافرو مدد کولی شي او ښځه دا مدد نه شي کولی ددې حدیث نه ثابته شوه چې د اسلام قبلولو نه پس د چا د قتل اسباب دا درې کیدی شي، جمهورو د مونځ پریښودونکي د قتل حکم هم کړی دی مګر احناف دده د قتل قائل نه دي ها ده لره په جیل کې د قید کولو قائل دي.

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ يَزَالَ

او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائيل چې تر کومه پورې یو مسلمان د خون

الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

حرام (یعني ناحق) قتل مرتکب نه شي، نو هغه همیشه د خپل دین په فراخی او وسعت کې وي. (بخاري)

## د قیامت په ورځ به کوم فیصله مخکې اوچتولی شي

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل د قیامت په ورځ

«أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

به د تولو نه مخکې چې د کوم څیز متعلق فیصله کولی شي هغه وینه ده. (بخاري و مسلم)

**توضیح** : اول مایقضي یوم القیامة دلته په دې حدیث کې خودلی شوې دي چې د قیامت په ورځ به د تولو نه مخکې د قتل حساب شروع وي، او د ترمذي وغیره په نورو روایاتو کې د مونځ ذکر دی چې ددې حساب او فیصله به د تولو نه مخکې وي په دواړو روایاتونو کې واضح تعارض دی؟ ددې یو جواب دادی چې په حقوق الله کې به د تولو نه اوله فیصله د مونځ وي د مخکې زماني په مسجدونو کې اکثر دا شعر لیکلی شوی وي: ( المرقات ۷/۹)

روز محشر کہ جان گداز بود　　اولین پرسش نماز بود

او حقوق العباد و کې به د تولو نه اوله فیصله د دماء او خون وي نو هیڅ تعارض نشته دی.

ددې تعارض دویم جواب دادی چې په عباداتو کې به د تولو نه مخکې د مونځ قضیه پیش کیږي او

---

[1] أخرجه البخاری ۱۲/۱۸۷ رقم الحدیث ٦٨٦٢

[2] أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۱۸۷ رقم الحدیث ٦٨٦٤ ومسلم فی ۳/۱۳۰٤ رقم الحدیث (۱٦۷۸-۲۸)

معاملاتو کې به ړومبی د قتل قضیه راوچتولی شي.
ددې تعارض دریم جواب دادی چې اوامرو او په ماموراتو کې به دټولو نه مخکې د مونځ حساب اخستلی شي او په منهیاتو او امور منهیو کې به د ټولو نه مخکې د ناحقه وینې حساب وي. (المرقات۷/۹)

## کوم کس چې کلمه وویله هغه معصوم الدم شو

﴿۴﴾ وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ

او د حضرت مقداد بن الاسود نه روایت دی چې هغه عرض وکړو ای د الله رسوله! ماته وښایه چې

إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا فَضَرَبَ

کچیرې (ماته یو کافر ملاؤ شي او زمونږ په مینځ کې جنګ وشي او هغه کافر زما په یو لاس باندې

إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فقطعها ثُمَّ لَا ذَمِنِي بِشَجَرَةٍ فَقَالَ: أَسْلَمْتُ لله

ګذار وکړي او کټ یې کړي. بیا دیوې وني شاته زما نه پناه وغواړي چې زه مسلمان شوم. او په یو

وَفِي رِوَايَةٍ: فَلَمَّا أَهْوَيْتُ لِأَقْتُلَهُ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا الله

روایت کې دا دي چې کله دهغه د وژلو اراده وکړم. نو هغه ووایې چې لااله الا الله، نو آیا زه د هغه د

أَأَقْتُلُهُ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا؟ قَالَ: «لَا تَقْتُلْهُ»

ژبې نه ددې الفاظو وتلو نه پس ده لره قتلولی شم؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نه هغه لره قتل نه کړې

فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله إِنَّهُ قَطَعَ إِحْدَى يَدَيَّ

مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو ای د الله رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! هغه زما لاس کټ کړی دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ

وفرمایل (ددې باوجود هم) ده لره قتل نه کړې، ځکه کچیرې ته ده لره قتل کړې نو هغه به هغه ځای ته

فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ

رسي چیرته چې ته د هغه د قتل کولو نه مخکښې وې او ته به هغه ځای ته ځې چرته چې هغه د

قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

کلمې د ویلو نه مخکې وو. (بخاري ومسلم)

**توضيح**: **فانه بمنزلتک** يعني هغه به دايمان او مؤمن په ځای وی وانک بمنزلته يعني ته به د کفر په ځای باندې راشې دا حکم، **تشديداً تغليظاً** او **زجرًا** دی **قاله الطيبي** د حديث مطلب دا شو چې د دې غيرمسلم د کلمې ويلو نه پس کچيرې تا دا قتل کړو نوځنګه چې ته دده دقتل کولو نه مخکې محفوظ الدم وې دغه رنګ اوس هغه محفوظ الدم شو او دهغه دقتل کولو نه پس اوس ته غيرمحفوظ الدم شوې اوځنګه چې هغه داسلام راوړلو نه مخکې غيرمحفوظ وو اوس ته د هغه دقتل د وجې نه غيرمحفوظ شوې، خلاصه داچه د اسلام راوړولو نه مخکې د کفر په وجه سره دهغه قتل کول صحيح وو او د اسلام راوړلو نه پس دهغه د قتلولو سره ستاقتلول هم صحيح شو (المرقات ۷/۱۰ الکاشف ۱۶/۷) **لاذيلوذ** د پناه اخستلو په معنی سره دی (المرقات ۷/۱۰) **بشجرة** دا دمثال په طور دی (المرقات ۷/۱۰) **ارايت** يعني ماته خبر راکړه **اهويت** د تيټولو او وژلو دپاره لاس رامخکې کولو ته وايې قاضي عياض ددې حديث نه دا مسئله راويستې ده چې په مکره باندې د اکراه په صورت کې هم دده اسلام قبول او معتبر دی. (المرقات ۷/۱۰)

## د کلمه ویونکي قتلول منع دي

﴿۵﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت اسامه بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوليږلو مونږ د جهينه قبيلې سره

إِلَى أُنَاسٍ مِنْ جُهَيْنَةَ فَأَتَيْتُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ فَذَهَبْتُ

د مقابلې دپاره دارنګه (د هغوی سره د مقابلې په دوران کې زه په يو سړي باندې ورغلم او په هغې

أَطْعَنُهُ فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ

مې د نيزې حمله اوکړه نو هغه لااله الا الله وويله مګر ما په هغه کې خپله نيزه ننوبسته له او قتل مې کړو.

فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ

بيا کله چې درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې واپس راغلم او هغوي ته مې دا واقعه بيان کړه نو

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۱۸۷ رقم الحديث ومسلم فی صحيحه ۱/۹۵ رقم الحديث (۹۵-۱۵۵)

فَقَالَ: «أَقَتَلتَه وقَدْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا الله؟»

نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل (صدافسوس) چې تا هغه لره په داسې صورت کې قتل کړو هرکله چې هغه لا اله الا الله وئيلي وه.؟

قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله إِنَّمَا فَعَلَ ذَلِكَ تَعَوُّذًا

ما عرض اوکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! چې آيا هغه صرف د قتل نه د بچ کيدو دپاره دا کلمه نه وه ويلي.؟

قَالَ: «فهَلاَّ شَقَقتَ عَن قلبه؟» (صَحِيح)[1] وفي رواية

نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل نو تا ولې دهغه زړه نه څيرې کوو چې کتلې دې وې؟. او روايت هغه کوم چه

جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ الله الْبَجَلِيِّ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د ابن عبدالله بجلي نه نقل دې په هغې کې دا الفاظ دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام

قَالَ: «كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلَهَ إِلَّا الله

وفرمايل چې د قيامت په ورځ به کلمه د لا اله الا الله د خپل ويونکي دپاره يعني (د مقتول) د طرف نه به

إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟»

جنګ کولو سره تاته راشي نو هغه وخت به ته هغه ته څه جواب ورکړې. نبي عَلَيْهِ السَّلَام (د ډيرې راوستو

قَالَهُ مِرَارًا. رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[2]

دپاره) دا الفاظ څو ځله ارشاد وفرمائيل. (مسلم)

**توضيح:** جهينة حضرت اسامه يې په دې فوجي دسته کې د جهينه قبيلې طرف ته دهغه د ملګرو سره نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لېږلی وو. فهلا شققت عن قلبه حضرت اسامه سوچ وکړو چې دا سړی صرف ډيرې د وجې نه کلمه وايې د ژبې په سر د ځان بچ کولو د پاره کلمه وائي او دده په زړه کې ايمان نشته دی، دارنګه دده قتلول جائز دي، يا حضرت اسامه اجتهاد کړی وو چې کله زما توره دده څټ ته ورسيدله نيزه دده طرف ته ورسيده نو په دې حالت د غرغرې کې ددې سړې ايمان معتبر نه دی مګر نبي عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خيال او اجتهاد غيرصحيح وګرځولو او وې فرمايل چې کله دې سړي کلمه وويله نو تالره دده دظاهري اسلام قبلول پکار وو د باطن او دده د زړه کيفيت باندې ته نه پوهيږې او نه

---

([1]) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۱۹۱ رقم الحديث ٦٨٧٢ ومسلم فی ۱/۹٦ رقم الحديث (۹٦-۱۱٥٨)

([2]) أخرجه مسلم فی صحيحه ٦/٢٦٩ رقم الحديث ٣١٦٦ وابن ماجه فی السنن ۲/٨٩٦ رقم الحديث ٢٦٨٦

ددې ضرورت وو تاته، پکار وه چې دده په ظاهري حالت دې فیصله کړې وی او دده د قتل نه منع شوی وې ته پخپله سوچ وکړه کچیرې هغه سړی دا کلمه د قیامت په ورځ د ځان سره راوړې نو ته به څه کوې نبي عَلَيْهِ السَّلَام صرف دناراضتیا اظهار وکړو. او دحضرت اسامه نه یې قصاص یا دیت وانخستو ځکه چې اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې سړي لره قتل کړی وو او هغوي د اجتهاد په وجه داسې کړې وواو په اجتهادي غلطی باندې نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه زورنه ورکړه او نوریې هیڅ ونه کړل.

بعضې حضرات دې روایت نه جوړولو سره د اهل نفاق او اهل فسادو او زنادقاو سره مقابلې ته جهاد نه وایې او وایې چې دا خلق کلمه هم وایې او ددې خلقو په جواب کې عرض دی چې نن صبا کوم منافقان کلمه وایې هغه د مقابلې نه نه بچ کیږي هغوی وایې چې مونږ به په مقابله کې همیشه دپاره دیوال جوړیږو د حق په لاره کې به رکاوټونه اچوو او وسله به اچوو او تاسو به وژنو مګر تاسو مونږ مه وژنئ ځکه چې مونږ کلمه وایو، دحضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معامله چې دکوم سړي سره راغلې وه په هغه باندې دا خلق نه شي قیاس کیدی هغه سړي وسله غورزولې وه او تسلیم شوی وو او دحق د مقابلې نه یو خواته شوی وو دهغه ظاهري کلمه دهغه د معافۍ دپاره معتبره ګڼلی شوه او هم داسې کول پکار دي مګر د زړونو په پټو کیفیاتو باندې د الله تعالی نه بغیر بل څوک نه پوهیږي مګر دلته دا معامله بله ده دهغوي د زړه دکیفیت پته دهغوي د اعمالو او افعالو نه ښکاري مګر یاد ساته ! د اعلان جهاد او د میدان جهاد د قائم کیدو نه علاوه په ذاتي طور باندې داسې منافقان قتلول جائز نه دي په جهاد کې صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې منافقانو قتل کړې وو. ( المرقات ۷/۱۱،۱۲)

## د معاهد دقتل کولو ممانعت

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ

او حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم سړي

قَتَلَ مُعَاهِدًا لَمْ يَرُحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ

عهدوالا قتل کړي هغه به د جنت خوشبو هم بوئی نه کړي او د جنت خوشبوئي د څلویښتو کالو

مَسِيرَةِ أَربعينَ خَرِيفًا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

مسافت پورې راځي. (بخاري و مسلم)

**توضیح**: معاهدا معاهد هغه کافرته ویلی شي کوم چې د امام او دوخت د خلیفه سره د جنګ نه کولو

---

(1) أخرجه البخاری فی صحیحه ٦/٢٦٩ رقم الحدیث ٣١٦٦ وابن ماجه فی السنن ٢/٨٩٦ رقم الحدیث ٢٦٨٦

عهد او معاهده کړې وي که هغه ذمي وي يا حربيٌ وي يا مستامن وي. ( المرقات ۷/۱۳)

**لم يرح رائحة الجنة:** دا بطور تشديد اوتغليظ او بطور زجر اوتوبيخ يې فرمايلې دي. يا مراد دادی چې په ابتداء کې به دا سړی ددې خوشبو ادارک نه شي کولی د سزا خوړولو نه پس به يې محسوسوي، يا دا مراد دی چې هغه دې حرام عمل لره حلال ګڼلو نو کافرشو نو دجنت خوشبو يې پرې حرامه شوه. ( المرقات ۷/۱۳)

**اربعين خريفا:** خريف دخزان موسم ته وائي مراد ترې نه څلويښت کاله دي، سوال دادی چې په حديث کې د څلويښت کالو ذکر دی په بعضو رواياتو کې د اويا و ۷۰ کالو ذکر دی په بعضو کې دسلو ۱۰۰ کالو ذکر دی په بعضو کې د پنځو سو ۵۰۰ کالو يا د زرو ۱۰۰۰ کالو د مسافت ذکر دی، نو ددې تفاوت وجه څه ده؟ ددې جواب دادی چې دا د خلکو او د هغوی د درجاتو داختلاف او تفاوت د وجې نه دی، دا څه تعارض نه دی . يعنې د پاس درجو والا ته به دلاندې درجو والا په نسبت خوشبو د لرې نه رائي. ( المرقات ۷/۱۳)

## د خودکشي کونکي متعلق وعيد

﴿۷﴾ وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَرَدَّى

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم سړي خپل ځان د غر

مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ

نه په راغورزولو سره خودکشي وکړه هغه سړی به هميشه دپاره په دوزخ کې غورځولی شي هلته

يَتَرَدَّى فِيهَا خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ

به هميشه دپاره وي او کله به هم ددې نه نه وځي او کوم سړی چې زهر وڅکي او خودکشي وکړي د

فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا

ده زهر به دده سره وي چې هغه به په دوزخ کې څکي هغه به په دوزخ کې هميشه وي او ددې نه به کله هم نه وځي

وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ

او کوم سړي چې د وسپنې (په څه) وسلې (لکه چاړه وغيره) سره خپل ځان مړ کړو دده هغه وسله به د

فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جهنَّمَ خَالِدا

دوزخ په اور کې دده په لاس کې وي چې هغه به په خپله خيټه کې ټومبي او په دوزخ کې به هميشه دپاره

مخلّداً فِيهَا أبدا» متفق عليه (صَحِيحٌ).[1]

وي ددې نه به كله هم نه وځي. (بخاري ومسلم)

**توضيح** : **من تردى**: د باب تفعل نه دى خپل ځان دغر وغيره نه راغورزولو ته وايې باب تفعل د تكلف دپاره هم كيدى شي ( المرقات۷/۱۳) **تحسى** دا هم د باب تفعل نه دى حسو د څكلو په معنى سره راځي دلته زهر څكل مراد دي دباب تفعل نه د تكلف معنى ظاهريږي د كراهت سره په خپل ځان باندې په زبردستى سره زهر څكل. ( المرقات۷/۱۴)

**سماً**: په سين باندې زبر،زير،پيش درې واړه حركات راځي زهرو ته ويلى شي ( المرقات۷/۱۴) د **فسمه** لفظ مبتداء دى او **يتحساه** جمله ددې خبر دى **حديدة** تيره مخ والا د وسپنې وسلې ته وائي **يتوجأ** دا هم د باب تفعل نه دى په چاړه يا چاقو سره خپله خپله شلولو ته وايې د **بها** ضمير **حديدة** طرفته راجع كيږي. ( المرقات۷/۱۴)

**خالداً مخلداً** : د **مخلد** لفظ د **خالداً** دپاره تاكيد دى او **ابداً** هم تاكيد دى هميشه اوسيدو ته وائي دا هميشه اوسيدل يا خو ددې وجې نه به وي چې دې سړې خودكشي حلاله وګڼله او وې كړه نو كافر شو نو په دوزخ كې به اوسيږي يا دا حكم **تشديداً تغليظاً تهديداً زجراً** او **توبيخاً** دى يا دخلود نه مراد اوږده موده ده چې په محاوره كې ويلى شي، همدا جوابات د راتلونكي حديث نمبر۸ دپاره هم دي او ددې نه پس د حضرت جندب د روايت نمبر۹ كې د **فحرمت عليه الجنة** الفاظ راغلي دي هلته هم دغه تغيير سره همدا جوابات وركولى شي. په دې ټولو احاديثو كې د خودكشئ مختلف صورتونه خودلى شوې دي، اسلام خودكشي په دې وجه سره حرامه كړې ده چې دانسان ځان دده خپل ملكيت نه دى نو ځنګه چې بل انسان وژل حرام دي همدغسې خپل ځان وژل هم جرم دى البته خودكشي كول د بل د وژلو نه هم زيات غليظ جرم دى ځكه چې په دې كې بعضې وخت د الله تعالى نه دمايوسى عنصر موندلى شي چې هغه ماته خوراک نه راكوي يايې نه شي راباندې خوړلى، نو په شكايت او مايوسى كې د خپل ژوند ختمول كوي، كچرې دا عنصر نه وي نو دخپل نفس وژل د بل چا د وژلو د جرم نه سپک دى كذافي المرقات. خودكشي ددنيا په هيڅ مهذب قانون كې جائز نه ده او انسان په خپل جوړشوي قانون كې هم دې لره قابل دتعزير جرم ګرځولى دى. اسلام خو آفاقي او فطري قانون دى هغه مخكې دې جرم لره حرام ګرځولى

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱/۲۴۷ رقم الحديث ۵۷۷۸ ومسلم فى صحيحه ۱/۱۰۳ رقم الحديث (۱۰۹-۱۷۵) والترمذي فى السنن ۴/۳۳۸ رقم الحديث ۲۰۴۴ والنسائى فى ۴/۶۶ رقم الحديث ۱۹۶۵.

دی. ( المرقات ۷/۱۴)

﴿۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الَّذِي يَخْنُقُ نَفْسَهُ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چا چې په مرۍ زور کړل او خپل ځان یې مړ کړو

يَخْنُقُهَا فِي النَّارِ وَالَّذِي يَطْعَنُهَا

هغه به په دوزخ کې هم په خپله مرۍ زور کوي او کوم سړي چې په نیزه باندې خپل ځان مړ کړو خو د کشي یې وکړه

يَطْعَنُهَا فِي النَّارِ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

هغه به په دوزخ کې (هم) خپل ځان په نیزه وهي مړ کوي به یې. (بخاري)

﴿۹﴾ وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدُ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت جندب بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (یوه ورځ) وفرمائیل ستاسو

"كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ

نه مخکې په تیرو شوو خلقو کې یو سړی وو (چه په څه) زخمي شوی وو نو هغه (کله چې د زخم د

فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا فَجَزَّ بِهَا يَدَهُ

تکلیف د زیاتیدو د وجې نه) هغه د صبر لمن پریخوده نو چاره یې راوخسته او خپل (هغه) لاس یې کټ

فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ قَالَ اللهُ تَعَالَى:

کړو (په کوم کې چې زخم وو) د دې نتیجه دا شوه چې د زخم وینه ونه دریده او هغه مړ شو الله تعالی وفرمائیل:

بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ

زما بنده د خپل ځان په باره کې زما د فیصلې انتظار ونه کړو (بلکه خپل ځان یې هلاک کړو) لهذا ما

فَحَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ" متفق عليه (صَحِيح)[2]

په ده باندې جنت حرام کړو. (بخاري ومسلم)

## د خودکشۍ متعلق یوه سبق آموز واقعه

﴿۱۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ الطُّفَيْلَ بْنَ عَمْرٍو الدَّوْسِيَّ لَمَّا هَاجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې کله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هجرت کولو سره مدینې ته تشریف

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۳/۲۳۷ رقم الحدیث ۱۳۶۵ وأحمد فی المسند ۲/۴۳۵

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۶/۴۹۶ رقم الحدیث ۳۴۶۳/ ومسلم فی ۱/۱۰۷ رقم الحدیث (۱۸/۱۱۳)

| | | | |
|---|---|---|---|
| هَاجَرَ | إِلَيْهِ | وَهَاجَرَ | مَعَهُ |
| راوړو نو طفیل بن عمرو دوسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم هجرت وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راغی دهغه سره د هغه د قبیلې | | | |
| رَجُلٌ | مِنْ | قَوْمِهِ | فَمَرِضَ | فَجَزِعَ |
| یو بل سړي هم هجرت وکړو (په اتفاق سره) هغه سړی بیمار شو او (کله چې یې مرض زیات شو) | | | | |
| فَأَخَذَ | مَشَاقِصَ | لَهُ | فَقَطَعَ | بِهَا | بَرَاجِمَهُ |
| او دهغه صبر ونه شو نو هغه په غشي باندې د خپلو ګوتو جوړونه کټ کړل ددې په وجه سره دهغه | | | | | |
| فَشَخَبَتْ | يَدَاهُ | حَتَّى | مَاتَ | فَرَآهُ | الطُّفَيْلُ |
| د دواړو لاسونو نه دومره وینه وبهیده چې هغه مړ شو (دهغه د مرګ نه پس یوه ورځ) طفیل بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ | | | | | |
| بْنُ | عَمْرٍو | فِي | مَنَامِهِ | وَهَيْئَتُهُ | حسنةٌ | ورآهُ |
| هغه په خوب کې په داسې حالت کې ولید و چې دهغه هیئت خو ښه وو مګر هغه خپل دواړه لاسونه | | | | | | |
| مغطيًا | يَدَيْهِ | فَقَالَ | لَهُ: | مَا | صنع | بِكَ | رَبُّكَ؟ | فَقَالَ: |
| پټ کړي وو. طفیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترینه تپوس وکړو چې ستا رب تاسره څه معامله وکړه؟ هغه سړي وویل | | | | | | | | |
| غَفَرَ لِي | بِهِجْرَتِي | إِلَى | نَبِيِّهِ | صَلَّى | الله | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ |
| چې الله تعالی زما بخښنه په دې وجې سره وکړه چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته هجرت کړې وو، | | | | | | | |
| فَقَالَ: | مَالِي | أَرَاكَ | مُغَطِّيًا | يَدَيْكَ؟ | قَالَ: |
| بیا ورته طفیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې څه وجه ده چې زه ستا دواړه لاسونه پټ کړي وینم؟ هغه سړي (په ډیر حسرت | | | | | |
| قِيلَ | لِي: | لَنْ | تصلح | مِنْكَ | مَا | أَفْسَدْتَ |
| سره ووئیل) چې (زما د پروردګار د طرف نه) ما ته ویلی شو چې کوم څیز تا خراب کړی دی هغه مونږ نه صحیح کوو، | | | | | | |
| فَقَصَّهَا الطُّفَيْلُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: | | | | | | | |
| طفیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا خوب نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بیان کړو نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل | | | | | | | |

«اَللّٰهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِر». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

يا الله! دده دواړه لاسونه هم وبخښې. (مسلم)

**توضيح** : **بهجرتي الي نبيه** : يعنې د الله تعالى رسول محمد عربي ﷺ طرفته د هجرت كولو په برکت سره الله تعالى زما د خو دكشئ جرم معاف كړو ددې نه معلومه شوه چې هجرت ډير لوى عمل دى او خاصكر مدينې منورې ته د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته د صحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هجرت ډير لوى عمل وو چې دهغې په برکت سره الله تعالى دهغوى ډيرې لوى لوى خطاګاني معاف كړې، **لهذا هيڅ** يو كس لره مناسب نه دي چې په صحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې ګوته اوچته كړي او د خپل خراب عقل په تله باندې دهغوى تلل شروع كړي. ددې حديث نه معلومه شوه چې لويه ګناه د كفر موجب نه ده او نه د دوزخ د دائمي عذاب ذريعه ده دارنګه د اهل السنت والجماعت هم دا عقيده ده چې د سزا خوړلو نه پس د لوې ګناه مرتكب به د دوزخ نه راوځي. ( المرقات ۷/۱۷)

**اللّٰهم وليديه فاغفر** : نبي عَلَيْهِ السَّلَام په ډير ښكلي انداز سره ددې صحابي دپاره د مغفرت دعاء وغوښته ځكه چې معامله صرف د لاسونو وه نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه مقدم كړل فاغفر يې مؤخر كړو او وې فرمائيل اى كريم مولى دده لاسونه وبخښې. ( المرقات ۷/۱۷) **مشاقص د مشقص** جمع ده غټې چرې ته ويلى شي **براجم د برجمة** جمع ده د ګوتو جوړونو ته وائي. **شخبت** ، د نصر او فتح نه راځي د رګونو يا د زخم نه د فوارې په شان وينې جاري كيدو ته وايي. ( المرقات ۷/۱۷)

## د مقتول وارثانو ته په قصاص او ديت كې اختيار دى

﴿۱۱﴾ وَعَن أَبِي شُرَيح الكعبيّ عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو شريح كعبي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام (د مكې د فتحې

"ثُمَّ أَنْتُمْ يَا خُزَاعَةُ قَدْ

په دوران كې چې كومه خطبه ارشاد وفرمايله دهغې آخري الفاظ دا وو) وې فرمايل اى خزاعه! تاسو

قَتَلْتُمْ هَذَا الْقَتِيلَ مِنْ هُذَيْلٍ وَأَنَا وَالله عَاقِلَهُ

هغه مقتول چې د هذيل قبيلې كس وو قتل كړى دى او زما په الله تعالى قسم د هغې د خون بها ورکولو ذمه واريم

مَنْ قَتَلَ بَعْدَهُ قَتِيلًا

اوس ددې نه پس (ددې حكم نه خبردارولى شي) چې كچيرې يو كس چالره قتل كړي نو د مقتول

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۱/۱۰۸ رقم الحديث (۱۱٦-۱۸٤)

| |
|---|
| فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيرَتَيْنِ: إِن أَحَبُّوا قتلوا |
| وارثانو ته په دوو څيزونو کې د يو څيز د اختيار حق حاصل دی. (۱) يا دې هغه قاتل مړ کړي |
| وَإِن أَحَبُّوا أَخَذُوا العقلَ". رَوَاهُ الترمذيُّ وَالشَّافِعِيُّ.[1] وَفِي شرح السنَّة |
| (۲) او يا دې تر هغه ديت واخلي (ترمذي، شافعي) په شرح السنة کې دا روايت د شافعي رحمه الله په |
| بِإِسنادِهِ وَصَرَّحَ: بِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّحِيحَيْنِ |
| سند سره مذکور دی او علامه بغوي رحمه الله دا صراحت کړی دی چې دا حديث بخاري او مسلم |
| عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ وَقَالَ: وَأَخْرَجَاهُ مِنْ |
| کې د ابو شريح رحمه الله نه نقل نه دی. مګر بغوي ويلي دي چې بخاري او مسلم کې دا روايت د |
| رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ يَعْنِي بِمَعْنَاهُ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2] |
| ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه نقل دی حالانکه په هغې کې هم بالمعني منقول دي. |

**توضيح** : **فأهله بين خيرتين** : يعني د مقتول وارثانو ته په دوو څيزونو کې د يو څيز حق حاصل دی، ددې واقعې تاريخي پس منظر داسې دی چې د جاهليت په زمانه کې د هذيل قبيلې خلقو د خزاعه يو سړی وژلی وو. د مکې د فتحې په ورځ خزاعو ته په هذيل باندې قوت حاصل شو نو خزاعو د هذيل يو سړی ووژلو او خپله سابقه بدله ئې تر ې واخسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د فتنې او فساد د ختمولو د پاره دهغه مقتول ديت په خپله ذمه واخستو ددې نه پس يې د فتح مکې د خطبو په دوران کې په يوه خطبه کې دا شرعي قانون بيان کړو چې که اوس چا په ناحقه بل چا لره قتل کړو نو وراثانو د مقتول ته په دوو خبرو کې اختيار دی يا خو قصاص واخلي يا ديت واخلي قاتل لره معاف کړي، اوس ددې اختيار متعلق د فقهاؤ په خپل مينځ کې اختلاف دی: ( المرقات ۷/۱۸)

**د فقهاؤ اختلاف** : شوافع او حنابله فرمايي چې په قتل عمد کې وارثانو ته د قصاص اخستو هم اختيار دی او د قاتل نه د ديت اخستو هم اختيار دی. کچيرې هغوی د قاتل نه د ديت مطالبه وکړي نو قاتل به ديت اداء کوي. ائمه احناف او مالکيه فرمايي چې د قتل عمد موجب صرف او صرف

---

(۱) أخرجه ابوداؤد فی السنن ۴/۶۴۳ رقم الحديث ۴۵۰۴ والترمذی ۴/۱۴ رقم الحديث ۱۴۰۶ والشافعی فی مسنده ص ۳۴۳ من كتاب الديات والقصاص. واحمد فی المسند ۴/۴۳

(۲) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱/۲۰۵ رقم الحديث ۱۱۲ ومسلم فی ۲/۹۸۹ رقم الحديث (۱۳۵۵-۴۴۸)

قصاص دی د مقتول وارثان صرف د قصاص مطالبه کولی شي او د قاتل د مرضی نه بغیر دا مطالبه نه شي کولی چې مونږ ته دیت راکړه مونږ قصاص نه اخلو. ( المرقات ۷/۱۸)

**دلائل** : دامام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله مستدل هم دا حدیث دی اوپه دې کې دمقتول وارثانو ته د دوو خبرو اختیار ورکړی شوی دی دا حضرات فرمایي کچیرې قاتل په دیت ورکولو باندې راضي نه وي او قصاص ورکولو دپاره تیار وي نو بیا به هم د مقتول واثان د هغه نه د دیت مطالبه کوي. ( المرقات ۷/۱۸)

د احنافو او مالکیانو دلائل د قرآن عظیم الشان هغه آیتونه دي چې په هغې کې د قتل عمد سزا قصاص متعین شوې ده لکه : (کتب علیکم القصاص في القتلی) ( البقرة : ۱۷۸)

(وکتبنا علیهم فیها ان النفس بالنفس) ( المائده : ۴۵) (ولکم في القصاص حیاة یا اولي الالباب) ( البقرة ۱۷۹)

او د حضرت انس رضی الله عنه په روایت کې نبي علیه السلام وفرمایل : **یاانس کتاب الله القصاص** ای انس! په کتاب الله کې خو قصاص دی. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په یو حدیث کې دا الفاظ دي : العمد قود والخطأ دیة یعني په قتل عمد کې خو قصاص دی او په قتل خطا کې دیت دی. دا روایت د نصب الرایه ج ۴ ص ۳۲۷ سند سره موجود دی.

**جواب** : د زیر بحث د شوافعو او حنابلو د مستدل جواب دا دی چې دلته به د دیت اخستو کې د قاتل د رضا لحاظ ساتل وي دې دپاره چې په ټولو نصوصو کې تطبیق راشي او تعارض پاتې نه شي.

۲ محرم الحرام ۱۴۱۸ھ

## د ښځې سړي قاتل به قتل کولی شي

| |
|---|
| ﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ يَهُودِيًّا رَضَّ رَأْسَ جَارِيَةٍ بَيْنَ حَجَرَيْنِ |
| او حضرت انس رضی الله عنه وائي چې یو یهودي د یوې جینۍ سر د دوو کانړو په مینځ کې وچقولو |
| فَقِيلَ لَهَا: مَنْ فَعَلَ بِكِ هَذَا؟ أَفُلَانٌ؟ |
| (کله چې د جینۍ نهنزاعي بیان واخستی شو نو) دهغې نه تپوس وشو چې تاسره چا دا معامله وکړه آیا فلاني سړي؟ |
| حَتَّى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا |
| تردې پورې چې کله د هغه یهودي نوم واخستی شو نو جینۍ په سر سره اشاره وکړه وبه خودلو چې آو هغه داسې وکړل. |
| فَجِيءَ بِالْيَهُودِيِّ فَاعْتَرَفَ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| بیا هغه یهودي لره حاضر کړی شو او هغه د خپل جرم اقرار وکړو، لهذا رسول کریم صلی الله علیه وسلم هم د غسې د هغه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَرُضَّ | رَأْسُهُ | بِالْحِجَارَةِ | (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |

يهودي د سر چخني کولو حکم وکړو او دهغه سر په کانړو سره وچقولی شو. (بخاري ومسلم)

**توضيح**: رض: دا د باب نصرينصر نه دی چقولو او میده کولوته وائي. ( المرقات۷/۱۸)

**ناوماُت**: يعني هغه جيني د زخم د وجې نه خبرې نه شوې کولی صرف د اشارې کولو طاقت يې لرلو صحابو د هغې نه تپوس وکړو چې ته چا وهلې يې آيا فلاني وهلې يې يا فلاني ووهلې .؟ کله چې دهغه يهودي نوم واخستی شو نو جيني د سر په اشارې سره اوخودلو چې آو دې يهودي وهلې يم په دې سره يهودي په قصاص کې قتل کړی شو ځکه چې هغه د جرم اعتراف کړی وو. ددې حديث نه معلومه شوه چې کچيرې يو سړې کومې ښځې لره قتل کړه نو دښځې په قصاص کې به سړی قتلولی شي. ( المرقات۷/۱۹)

ددې حديث نه يوه بله مسئله هم واضح کيږي هغه دا چې کچيرې يو کس بل کس لره په دروند کانې سره قتل کړو نو قاتل به د قتل عمد مرتکب وي او دهغه نه به قصاص اخستی شي دې مسئلې ته قتل بالمثقل وايي اوپه دې کې دفقهاء کرامو اختلاف دی چې په دې کې قصاص دی او که ديت دی.

**دفقهاؤ اختلاف**: جمهور فقهاء او صاحبين فرمائي چې د قتل بالمثقل موجب قصاص دی او دا قتل عمد دی، څنګه چې په دې حديث کې دي چې په دروند کانړي سره يې يوه جيني شهيده کړه او دهغه نه قصاص واخستی شو. امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايې چې قتل بالمثقل شبه عمد دی او په شبه عمد کې ديت دی قصاص نشته. ( المرقات۷/۱۹)

**دلائل**: جمهورو د زيربحث د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړی دی کوم چې په خپله مدعا کې واضح دی، او امام ابوحنيفه رحمه الله دمشکوة شريف صفحه نمبر ۳۰۲ باب الديات فصل ثاني کې د حضرت عبدالله بن عمرو د حديث نه استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ داسې دي:

**الا ان دية الخطإ شبه العمد ماكان بالسوط والعصا (ابوداؤد)**

امام صاحب فرمايې چې دلته په همساء کې څه فرق نشته که پيړه وي يا نری وي نو په دې سره د قتل بالمثقل ضابطه حاصله شوه، احنافو امامانو د مشکوة په ص ۳۰۲باندې دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه هم استدلال کړی دی الفاظ يې دادي: **من قتل في عمية في رمي يكون بالحجارة او جلد بالسياط او ضرب بعصا فهو خطا وعقله عقل الخطإ(ابوداؤد)**

---

[1] أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۲۱۳ رقم الحديث ٦٨٨٤ ومسلم فی ۳/۱۳۰۹ رقم الحديث (۱٦۷۲-۱۵) وأبوداؤد فی السنن ٤/٦٦٣ .

ویلی شي چې د لغت امام ابو العلاء یو ځل د امام ابو حنیفه رحمه الله سره ملاو شو او تپوس یې وکړو چې کچیرې یو کس بل کس لره په ډیر لوی کانې سره ووهلو او قتل یې کړو نو آیا دا به هم شبه عمد وي؟ امام صاحب وفرمایل آو: **ولو ضرب بأباقبیس** بعضې ناواقفه خلقو په دې ترکیب باندې اعتراض کړی دی چې د قاعدې مطابق **ولوضرب بأبي قبیس** کیدل پکاردي مګر دا اعتراض په دوو وجو سره غلط دی: یو خو دا چې په اسماء ستو مکبرو کې څو لغات راځي دا لغت هم په فصیحه عربي کې راغلی دی. دویم دا چې امام صاحب د اهل کوفو په لغت باندې خبره کړې ده او اهل کوفه هم داسې وایې شاعر وائي:

**ان اباها وابا اباها قد بلغا في المجد غایتاها**

( المرقات ۷/۱۹)

د عامې عربي لغت مطابق **وابا ابیها** لفظ کیدل پکار وو.

**جواب**: د جمهورو د مستدل نه د زیربحث حدیث جواب دادی چې دا قصاص په سیاست باندې محمول وو اګرچه د قاعدې د مخې دلته قصاص نه وو د سیاست قاعده د ټولو فقهاو په نزد باندې مسلمه ده، بعضې علماو په دې موضوع باندې مستقل تصنیفات کړې دي مثلاً علامه عبدالبر بن شحنه لسان الحکام په نوم سره کتاب لیکلی دی، علامه ابن تیمیه السیاسة الشرعیة په نوم سره کتاب لیکلی دی.

**دویم جواب**: ددې حدیث دادی چې دا سړی قطاع الطریق وو ده ددې جینې نه بنګړې په زور اخستل او ده وعده هم ماته کړې وه، بهرحال د جمهورو دلیل بنکاره دی اوصاحبین هم د جمهورو سره دي.

## مساوات في القصاص

ددې زیر بحث حدیث نه امام شافعي او امام مالک رحمهما الله دا مسئله مستنبط کړې ده چې په قتل او قصاص کې مساوات في الفعل ضروري دی یعني په کانې سره به د قتل بدله په کانې سره اخستلی شي د زهرو بدله به په زهرو سره، د همسا بدله په همسا سره، او د ګولې بدله په ګولې سره اخستلی شي، دې دپاره چې مساوات قائم شي، او امام ابوحنیفه رحمه الله او یو قول کې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایې چې په قصاص کې مساوات في العمل ضروري نه دی بلکه قصاص دتورې په ذریعې سره متعین دی. ( المرقات ۷/۱۹)

**دلائل**: شوافعو او مالکیانو حضرات د زیربحث حدیث نه استدلال کړی دی چې په کانې سره د

ويشتلو بدله په كانې سره اخستلى شوې ده. احناف او حنابله د لاقود الا بالسيف د حديث نه استدلا ل نيسي، او شوافعو حضراتو چې د كوم عمل نه استدلال كړى دى هغه په سياست باندې محمول دى دې دپاره چې خلقو ته زيات نه زيات عبرت حاصل شي.

## د الله والا وشان

﴿۱۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ وَهِيَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ربيع چې دانس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترور (دپلار خور)

ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وه د يوې انصاري جينې غاښونه مات كړل ددې جينې مقدمه يې دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې

فَأَمَرَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَمُّ

حاضره كړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د بدلې اخستو حكم وفرمائيلو انس بن نضر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض او كړو

أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لَا وَاللهِ لَا تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا يَا رَسُولَ اللهِ

چې دانس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تره وو چې اى د الله رسوله! داسې به نه وي په الله قسم د ربيع غاښونه به نه ماتيږي

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَنَسُ كِتَابُ اللهِ الْقِصَاصُ»

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې انس! د الله تعالى حكم دبدلې اخستو دى مكړ (د الله داسې ونه كړل)

فَرَضِيَ الْقَوْمُ وَقَبِلُوا الْأَرْشَ

چې دجينې خاندان په غاښونو ماتولو باندې راضي نه شو او ديت مالي معاوضه يې قبوله كړه

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللهِ

دارنګه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بعضې د الله تعالى بندګان داسې دي چې په څه خبره باندې

مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ» متفق عليه (صَحِيح)[1]

قسم وخوري نو الله تعالى هغه قسم پوره كوي. )بخاري ومسلم)

**توضيح**: لا والله تكسر: دلته په دې روايت كې دڅو نومونو تعين ضروري دى نو په دې كې ربيع يوه ښځه ده چې دنضر لور ده، دويم مالک نوم چې دى دا دنضر ځوى دى، دريم انس دى چې ديم دى دا د نضر ځوى دى، مالک بن نضر هم د خپل ځوى نوم انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كيخودى وودغه شان د تره او وراره

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۲/۲٤٦ رقم الحديث ٦٩٠٣ ومسلم فى ۳/۱۳۰۲ رقم الحديث (۱٦٧٥-۲٤).

دواړو نوم انسؤ، انس بن مالک د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خاص خادم وو دې روایت راوي انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی او ربیع د انس ترور (دپلار خورده) او دانس بن نضر خور وه دا د لا والله : قسم هم دی انس بن نضر خو رلی وو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یا انس کتاب الله القصاص خطاب ورته وکړو، د حضرت انس بن نضر دا کلام او قسم دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د حکم نه انکار نه وو او نه یې دهغه مخالفت مقصود وو بلکه د الله تعالی په وسیع رحمت باندې یې نظر وو او ددې یې امید وو چې قسم په الله الله تعالی به داسې نه کوي بلکه هغه به هغه مدعیانو لره راضي کړي او دا خلق به د قصاص په ځای باندې دیت قبول کړي، همداسې وشوه، د حضرت انس بن نضر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نیت چونکه ښه وو د الله تعالی د حکم نه انکار نه وو بلکه د رحمت انتظار وو په دې وجه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دده تعریف وکړو او د ناراضګۍ اظهار یې ونه کړو.

ارش : دیت ته وایي :

بهر حال قلندر هر چه گوید دیده گوید. ( المرقات ۷/۲۰)

## د ذمي په بدل کې د مسلمان نه د قصاص اخستو مسئله

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: سَأَلْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هَلْ عِنْدَكُمْ

او حضرت ابو جحیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې تاسو سره د

شَيْءٌ لَيْسَ فِي الْقُرْآنِ؟ فَقَالَ: وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ

قرآن پاک نه علاوه بل څه څیز شته؟ هغوی وفرمایل په هغه ذات قسم چا چې غله پیدا کړې ده او ساه

وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا فِي الْقُرْآنِ

ته یې وجود ورکړی دی ماسره داسې څه څیز نشته دی چې په قرآن کې موجود نه وي ها د قرآن هغه

إِلَّا فَهْمًا يُعْطَى رَجُلٌ فِي كِتَابِهِ وَمَا

پوهه (چې ماته راکړی شوې ده) چې یو انسان ته ورکړی شوې وي، دارنګه مونږ سره څه داسې څیزونه

فِي الصَّحِيفَةِ قُلْتُ: وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ؟

چې په کاغذ کې لیکلی شوي دي ما عرض وکړو چې هغه څه څیزونه دي چې په کاغذ کې لیکلی شوي دي

قَالَ: الْعَقْلُ وَفِكَاكُ الْأَسِيرِ

هغوی وفرمایل (ناحق قتل) خون بها، ددې مقدار او ددې احکام او قیدي پریخودلو) ثواب پکې لیکل شوی دی)

وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

او دايې پکې ليکلې دي چې کافر (چې ذمي نه وي) په بدله کې مسلمان به نه شي قتلولی. (بخاري)

**توضيح**: **هل عندكم شئ**: حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه د حضرت ابو جحيفه د سوال کولو او تپوس کولو منشاء د شيعو او روافضو هغه عقيده وه چې دهغې لاندې هغوی وايي چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خصوصي طور باندې (علم اسرار) ورکړی وو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه خليفه او وصي جوړکړی وو، دا عقيده نن صبا په روافضو کې عامه ده په دې وجه يې په اذان کې د خليفه او وصي لفظ داخل کړی دی، دارنګه د شيعو داهم عقيده ده چې عامو خلقو ته ديرش سيپارې قرآن ملاو شوی دی، او حضرت علي ته څلويښت سيپارې قرآن ملاو شوی وو چې په هغې کې لس سيپارې د اهل بيتو په فضائلو باندې مشتملې وې چې په دې وخت کې دموجوده قرآن نه غائبې دي ددې خبرو پيش نظر د ابو جحيفه سوال وو چې اوس دحضرت علي د طرف نه ددې خبرو ترديد راغلو بلکه هغوی په ډيرتاکيد سره د قسم په خوړلوسره ددې ترديد وکړو چې د امت په ذهن کې څه قسم شکوک او شبهات پاتې نه شي. ( المرقات۷/۲۱)

**فلق الحبة**: حبه داني ته وايې اوفلق د شليدو په معنی دی برأ د پيدا کيدو په معنی دی او( المرقات۷/۲۱) **النسمة**: دنون او سين او ميم په فتحو سره، نفس او هر ساه لرونکي ته وايې، عقل ديت ته وائي، فکاک د خلاصولو په معنی سره دی، **الافهماً** يعني الله تعالی چې دخپل کتاب پوهه چاته ورکړي هغه الله تعالی ماته راکړې ده چې دهغې په ذريعې سره زه دالله تعالی دکتاب نه داحکامو او معانو استنباط کوم اوددې اجمالي اشاراتو لره منم، او د هغې ژورو علومو ته ځکه رسوم، حضرت ابن عباس رضي الله عنه د قرآنکريم د هغو ژورو علومو باره کې فرمايې: ( المرقات۷/۲۱)

**جميع العلم في القرآن لكن تقاصر عنه افهام الرجال**

**د فقهاؤ اختلاف**: وان لايقتل مسلم بكافر: ددې حديث ددې جملې نه دفقهاء کرامو په مينځ کې يو اختلافي مسئله رااوچته شوې ده، دفقهاء کرامو په دې کې خو اتفاق دی چې دحربي کافر په قتلولو سره به د مسلمان نه قصاص نه شي اخستی. ( المرقات۷/۲۲)

ها اختلاف په دې کې دی چې که کافر ذمي وي يا معاهد وي نوددې په بدله کې به دقصاص په طور

---

(1) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۲٤٦ رقم الحديث ٦٩٠٣ والترمذی فی السنن ٤/١٧ رقم الحديث ١٤١٢ والنسائی ٨/٢٣ رقم :٤٧٤٤.

باندې مسلمان لره قتلولی شي او که نه؟ د جمهورو امامانو مسلک دادی چې ذمي په بدله کې به مسلمان نه شي قصاص کولی د احنافو امامانو مسلک دادی چې ذمي او معاهد په بدله کې نه مسلمان قصاص کې قتلولی نه شي. ( المرقات ۷/۲۲)

**دلائل** : جمهورو د زیر بحث حدیث ددې جملې نه استدلال کړی دی چې : وان لایقتل مسلم بکافر هغوی فرمایي چې په دې جمله کې د کافر لفظ دی چې عام دی که هغه حربي وي یا ذمي معاهد وي مسلمان نه به قصاص او بدله نه شي اخستی، د جمهورو عقلي دلیل دادی چې په کافر او مسلمان کې مساوات نشته دی د ذمي قتل اګرچه جائز نه دی مګر په وجه د کفر ددې په قتل کې یې شبهه د اباحت راغله لهذا قصاص به نه شي اخستی. ( نصب الرایه ۴/۳۳۵) **د احنافو امامانو** د عقلي دلیل د دارقطني روایت دی چې د هغې الفاظ دادي :**ان رسول الله صلي الله عليه وسلم قتل مسلما بمعاهد (بحواله نصب الرایة ج۴)**

د احنافو امامانو دویم دلیل هغه عامه ضابطه ده چې د هغې ذکر په څو روایاتو کې راځي، او په کوم کې چې د ذمیانو حقوق او د ځان او مال د تحفظ ذمه داري قبوله کړی شوې ده د هغوی د مالونو غلا جرم دی، او د هغوی د ښځو سره زنا یا د زنا تهمت جرم دی، لهذا د هغوی د وینې **حفاظت هم دمائهم کدمائنا واموالهم کاموالنا** په رڼا کې ضروري دی. (کذا في زجاجة المصابیح ج۳ ص۱۵)

د احنافو امامانو دریم دلیل د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو اثر او قصه ده، دوی د ذمي په بدله کې د مسلمان نه قصاص واخستو او وې فرمایل (من کان له ذمتنا فدمه کدمنا ودیته کدیتنا) (نصب الرایه ج۴ ص۳۳۷)

د احنافو امامانو دریم دلیل د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه فیصله ده چې په هغې کې یې د یو ذمي په بدله کې دیو مسلمان نه یې قصاص واخستو (پاسنی حواله) د صحابه کرامو رضي الله عنهم د هغو فیصلو او د احنافو د مستدلاتو پوره تفصیل په تعلیق الصبیح ج۴ ص ۱۲۶ کښې اوګورئ.

**جواب** : امام طحاوي رحمه الله جواب ورکړی دی چې دلته دې حدیث کې د کافر نه مراد حربي کافر دی ذمي مراد نه دی او په حربي کافر کې دچا اختلاف نشته دی، دارنګه پاسني روایاتو او د صحابه کرامو رضي الله عنهم فیصلو د زیربحث حدیث په عموم کې خصوص پیدا کړو لهذا ددې نه ذمي مراد نه دی اګرچه ظاهري احادیثو نه عموم معلومیږي هرکله چې د دوی د نقلي دلیل جواب وشو نو د عقلي دلیل وجود ختم شو.

## د مسلمان دوینې اهمیت

### اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۵﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

د حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل د الله تعالی په

«لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ»

نزد د پوره دنیا ختمیدل دیو مؤمن سړي د قتل کیدو نه زیات آسان دي. او بعضو راویانو دا حدیث موقوف بیان

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ ووقفه بعضهم وَهُوَ الْأَصَحُّ[1]

کړی دی (یعني دایې ویلې دي چې دا حدیث نبوي نه دی بلکه د عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دی) او همدا زیات صحیح دی

وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ[2]

دارنګه ابن ماجه دې روایت لره د عبد الله بن عمرو په ځای) د حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

**توضیح: لزوال الدنیا**: الله تعالی د دې کائناتو څیزونه د مسلمانانو دپاره پیدا کړي دي د دې دپاره چې هغوی د دې څیزونو نه فائده واخلي او عبادت وکړي لکه چې سعدي بابا فرمایي:

ابر و باد و مه و خورشید و فلک در کارند تا تو نانے بکف آرے و بغفلت نه خوری

یعني لمر او سپوږمی باد او باران او آسمان او زمکه ستاپه کار کې لګیدلې دي د دې دپاره چې ته کله د روټی تکړه په لاس کې واخلې نو په غفلت سره یې نه خوري.

اوس چې کله یو سړي یو مسلمان لره قتل کړو نو ګویا چې هغه پوره کائنات لره مړه کړو . همدې مضمون طرفته د قرآن په دې آیت کې اشاره ده: (المرقات ۷/۳۴) **من قتل نفسًا بغیر نفس او فساد في الارض فکأنما قتل الناس جمیعًا**. (المائده: ۳۲)

## د مسلمان قتلول ډیر لوی جرم دی

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او د حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ٤/١٠ رقم الحدیث ١٣٩٥ والنسائی فی ٧/٨٢ رقم الحدیث ٣٩٨٦.

(۲) أخرجه ابن ماجه فی السنن ٢/٨٧٤ رقم الحدیث ٢٦١٩

| |
|---|
| «لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ |
| كچيري (دا ثابته شي چې) آسمان والا او زمكې والا ټول په ټوله د يو مسلمان په قتل كې شريك دي |
| لَأَكَبَّهُمُ اللهُ فِي النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ |
| نو الله تعالى به داټول په دوزخ كې اوټه واچوي امام ترمذي رحمه الله دې روايت لره نقل كړى دى |
| وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1] |
| او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دى. |

**توضيح**: اكبهم: يعني الله تعالى به داټول په اوټه مخ دوزخ ته وغورزوي، علامه طيبي دلغت علام علامه جوهري رحمه الله نه نقل كړې دي چې كب فعل متعدي دى او اكب فعل لازمي دى او دا به د نوادراتونه وي چې اكب فعل لازم وي او كب متعدي وي په دې وجه شارحينو ويلې دي چې دلته اصل لفظ كبهم الله دى د كوم راوي په نقل كولو كې غلطي شوې ده، علامه طيبي فرمايې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام كلام معياردى اهل لغت له دهغې پيروي پكارده، دارنګه ټولو راويانو هم داسې نقل كړې دي يعني دې ټولو طرف ته د سهوې نسبت كولونه بهتر دادى چې جوهري طرف ته د سهوې نسبت وكړى شي جامع صغير كې داحديث د كبهم الله النار الفاظو سره نقل دى. (المرقات ۷/۲۵، الكاشف ۷-۶۶)

## د قيامت په ورځ د مقتول استغاثه

| |
|---|
| ﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې د |
| "يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِالْقَاتِلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ |
| قيامت په ورځ به مقتول خپل قاتل لره داسې نيولى راولي چې د قاتل تندى او سر به د مقتول په لاس |
| وَأَوْدَاجُهُ تَشْخُبُ دَمًا يَقُولُ: يَا رَبِّ قَتَلَنِي |
| كې وي او پخپله به دده درګونو نه وينه بهيږي او دهغه په ژبه به دا الفاظ وي پروردګاره! (ده) زه قتل |

(1) أخرجه الترمذى فى السنن ۴/۱۱ رقم الحديث ۱۳۹۸

| | | | |
|---|---|---|---|
| حَقَّى | يُدْنِيَهُ | مِنَ | العرشِ". |
| کړی وم (زما فریاد واوري) تردې پورې چې مقتول به دې قاتل لره (راخکلی) عرش الهي ته نزدې راولي. | | | |
| رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1] | | | |
| (روایت کړی دی ترمذي او نسائي او ابن ماجه) | | | |

**توضيح** : ناصيته : دتندي وينښتو ته وايي وراسه يعني دسر باقي وينښته. ( المرقات۷/۲۶) واوداجه داد ودج جمع ده د څټ د هغه رګونو نوم دی چې دحلالې په وخت کې کټ کولی شي، بعضې شارحين وايي چې دلته دجمع نه تثنيه مراد اخستی شوې ده، بعضې راوياتو کې ودجان الفاظ هم راغلې دي( المرقات۷/۲۶)

تشخب دنصرينصر نه دی د رګونو وينې جاري کيدو ته وائي دماً دا تميز محول عن الفاعل دی يعني معنوي طوربانديې فاعل دی عبارت به داسې وي تشخب دمهما ددې حديث نه معلومه شوه چې دقيامت په ورځ به مقتول دخپل پوره حق مطالبه کوي او د مظلوميت کيفيت سره به دالله تعالی مخکې حاضر وي او الله تعالی به ده لره راضي کوي. ( المرقات۷/۲۶)

## د خپل مظلوميت په ورځ د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تقرير

| |
|---|
| ﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن سهل ابن حنيف وايي چې حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دار په |
| أَشْرَفَ يَوْمَ الدَّارِ فَقَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللهِ |
| ورځ د کور چهت ته وختو او (بلوی شوي خلق يې مخاطب کړل) وې فرمايل چې تاسو نه په الله قسم درکولو سره |
| أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ |
| تپوس کوم چې آيا تاسو ته معلومه نه ده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي دي چې د يو مؤمن سړي وينه تويول |
| دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: زِنًى |
| (په هيڅ صورت کې هم جائز نه وي مګر داچه په دريو خبرو کې يوه خبره راپيښه شي (۱) زنا کول پس |

(۱) أخرجه الترمذى فى السنن ۵/۴۲۴ رقم الحديث ۳۰۲۹ والنسائى فى ۷/۸۵ رقم الحديث ۳۹۹۹ وابن ماجه فى ۲/۸۷۴ رقم الحديث ۲۶۲۱

بَعْدَ إِحْصَانٍ أَوْ كُفْرٍ بَعْدَ إِسْلَامٍ أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حق

د نکاح کولو نه(۲) د اسلام راوړلو نه پس کافر کیدل (۳) او چا لره په ناحقه قتلول چې د دې په بدله

فَقَتل بِهِ"؟ فو الله مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ

کې به قتلولی شي. بس په الله قسم، ما خو نه د جاهلیت په زمانه کې زنا کړې ده او نه مې د اسلام په زمانه کې.

وَلَا ارْتَدَدْتُ مُنْذُ بَايَعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا

او کله چې مې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره بیعت کړی دی تر نن پورې د اسلام نه نه یم اوړیدلی او نه ما داسې چا لره

قَتَلْتُ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ الله فَبِمَ

قتل کړی دی چې دهغه قتلول الله تعالی حرام کړی وي نو (د الله تعالی دپاره ماته وائي چې ما په

تَقْتُلُونَنِي؟ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وللدارمي لفظ الحَدِيث[1]

څه وجه باندې قتلوئ؟ دې روایت لره ترمذي، نسائي او ابن ماجه نقل کړی دی او د حدیث الفاظ د دارمي دي.

**توضیح : اشرف یوم الدار:** یعني دکور ورځ ددې نه د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د محاصرې ورځ مراد ده، ابن سبا یهودي د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلاف په شام، مدینه او کوفه کې پروپیګنډه وکړه مګر کامیاب نه شو، مصرته لاړو نو ددې پروپیګنډه کامیاب شوه، دا سړی لوی منافق وو د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ګورنرانو خلاف یې په دروغه پروپیګنډې کولو سره یې حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یې بدنام کړو په مصر کې ده یو جنګ کولو والا ګروپ تیارکړو او بیا دا ګروپ مدینې منورې ته راغی او بلوی یې شروع کړه یوه ورځ حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د محاصرې په ورځ دخپل کور د چهت نه دې خلقو سره خبرې اترې وکړې. او دخپل قتل د حرمت دلائل یې ورکړل آخر بلوایانو دوي لره د محاصرې په دوران کې شهید کړو تفصیل به یې آینده ان شاء الله راشي. ( المرقات ۷/۲۶)

## هر قاتل دخیر د توفیق نه محروم اوسي

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل چې مسلمان

«لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا

هغه وخت پورې نیکئ طرف ته وړاندې والی کوي او الله تعالی او دهغه دبندګانو د حقوقو په اداء کولو کې مشغول وي

---

(۱) أخرجه أبوداؤد فی السنن ٤/٦٤٠ رقم الحديث ٤٥٠٢ والترمذی فی ٤/٤٠٠ رقم الحديث ٢١٥٨ والنسائی ٧/٩١ رقم الحديث ٤٠١٩

مَالَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

ترڅو پورې چې هغه د خونِ حرام مرتکب نه شي او کله چې د خونِ حرام مرتکب شي نو ستړی شي. (ابوداؤد)

**توضيح**: **منعقا**: يعني په نيکۍ او بنيګړې کولو کې چست وي الله تعالى هغه ته د نيکۍ طرفته د وړاندې والي توفيق ورکوي **عنق** تيز تلو ته وايي (المرقات ۷/۲۷) **صالحا** يعني د حقوق الله او حقوق العباد و په اداء کولو باندې قائم وي دا صفت کاشفه دی (المرقات ۷/۲۷) **بلح** يعني دهغه تيزي او چستي ختمه شي، اوس هغه دنيک او صالح عمل نه کټ شي او الله تعالى ده ته دنيکۍ توفيق نه ورکوي، تجربه ګواه ده چې قاتل د قتل په وجه سره پټ ګرځي نو دبنکاره عباداتو د موقعو نه محروم شي چپ چاپ پټ ګرځي او کله چې داحالت شي نو د آخرت د بنيګړو سره سره د دنيا دبنيګړو نه او دحلالې ګټې نه هم محروم شي. (المرقات ۷/۲۷)

## په ناحقه قتل ناقابل معافي جرم دی

﴿۲۰﴾ وَعَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ ذَنْبٍ

او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل چې دهر ګناه متعلق

عَسَى اللهُ أَنْ يَغْفِرَهُ إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا

اميد شته چې الله تعالى يې معاف کړيم ګر هغه سړی به نه شي بخښلی چې د شرک په حالت کې مړ شي يا هغه کس

أَوْ مَنْ يَقْتُلُ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا». [2] رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ مُعَاوِيَةَ[3]

چې يو مسلمان يې په قصد سره قتل کړی وي. (ابوداؤد) نسائي دې روايت لره د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

**توضيح**: **اومن قتل مؤمنا**: ددې حديث نه په ظاهري طور باندې دا معلوميږي چې مؤمن لره قتلولو والا مسلمان به هميشه په دوزخ کې وي او دمشرک په شان به دهغه بخښنه نه کيږي، حالانکه د اهل السنت والجماعت او دعام امت عقيده ده چې دمؤمن قتلول لويه ګناه ده او دکبيره ګناه دوجې انسان **مخلد في النار** نه وي البته دخوارجو او معتزلو دا عقيده ده چې مرتکب دکبيرې **به مخلد في النار** وي، دحديث په ظاهر نه ددې تائيد کيږي د اهل سنت مستدل **ان الله لا يغفران يشرک به**

---

(1) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٤٦٣ رقم الحديث ٤٢٧٠

(2) أخرجه أبوداود في السنن ٤/٤٦٣ رقم الحديث ٤٢٧٠

(3) أخرجه النسائي في ٧/٨١ رقم الحديث ٣٩٨٤ وأحمد في المسند ٤/٩٩

ویغفر مادون ذلک لمن یشا دا آیت دی، مذکوره حدیث دهغه سړي په باره کې دی چې دمسلمان قتل جائز ګڼي نو هغه کافر دی مخلد في النار دی، یا داحدیث په تغلیظ اوتشدید او تهدید او توبیخ باندې محمول دی. ( المرقات۷/۲۸)

## د پلار نه به د اولاد دپاره قصاص نه شي اخستی

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقَامُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل په مسجدونو کې به حدود

الْحُدُودُ فِي الْمَسَاجِدِ وَلَا يُقَادُ بِالْوَلَدِ الْوَالِدُ».

نشي جاري کیدی او نه دې د اولاد (د قتل) په بدله کې پلار لره قتل کړی شي (بلکه د پلار نه دې

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ والدارمي (جيد)

دیت (یعني مالي معاوضه واخستی شي) (ترمذي، دارمي)[1]

**توضیح**: في المساجد: دحدیث ددې رومبي جزء مطلب دا دی چې په مسجدونو کې دې حدود مثلا دغلا حد، یا د زنا او شرابو ح، یا د قذف حد جاري نه کړی شي او دغه شان قصاص دې هم په مسجد کې وانه خستی شي دې دپاره چې جماعتونه صرف دفرض مونځونو او سنتو او نوافلو او تلاوت کلام الله دپاره جوړ کړی شوې دي. ( المرقات۷/۳۰)

ولایقادبالولد الوالد: یعني کچیرې پلار خپل ځوی لره قتل کړي نو دې مقتول ځوی په بدله کې دې دقصاص په طور قتل نه کړی شي همدا حکم دنیکه او غرنیکه هم دی اوهمدا حکم د مور او نیاګانو هم دی، د علماء کرامو په دې باندې اتفاق دی کچیرې ځوی مور پلار لره قتل کړل نو دا بدبخته به په قصاص کې قتلولی شي، اختلاف په دې مسئله کې دی کچیرې پلار ځوی لره قتل کړو نو آیا د پلار نه به قصاص اخستی شي او که نه؟ نو جمهور فرمایي چې پلار به د ځوی په قصاص کې نه شي قتلولی ځکه چې پلار د دې ځوی د ژوند ذریعه جوړه شوې ده اوس دا ځوی د خپل پلار د مرګ ذریعه نه شي جوړیدی، په قرآن کریم الله تعالی ځوی ته دمور پلار د شکر په ځای راوړلو حکم ورکړی دی او دوی ته د تکلیف نه ورکولو سخت تاکید فرمایي او دوی ته په نرمی سره د راتلو تلقین فرمایي.

دارنګه احادیثو کې د انت ومالک لابیک الفاظ راغلي دي چې په هغې سره ځوی د پلار دپاره د

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۱۲/۱ رقم الحدیث ۱۴۰۱ وابن ماجه ۸۸۸/۲ رقم الحدیث ۲۶۶۱ والدارمی ۲۵۰/۲ رقم الحدیث ۲۳۵۷

مملوک مال په شان دی، لهذا اوس به دده نه قصاص نه شي اخستی په دنیا کې د شریعت حکم همدا دی او د آخرت معامله الله تعالی ته حواله ده، البته په دنیا کې به د پلار نه دیت اخستی شي.

امام مالک رحمه الله فرمایي کچیرې پلار ځوی لره په مروّجه طریقې سره مړکړو نومسئله داسې ده څنګه چې جمهور وایي مګر کچیرې پلار ځوی لره حلالولو سره مړ کړو نو بیا د دې ظالمانه او وحشیانه فعل په وجه سره پلار قصاص کولی شي، جمهورو د مذکوره حدیث نه استدلال کړی دی چې د پلار نه به د ځوی په بدله کې قصاص نه شي اخستلی که هغه یې په حلالولو سره قتل کړی وي یا نورو ذریعو سره یې قتل کړي، حدیث چې کله موجود دی نو دامام مالک رحمه الله رایه به پریخودلی شي. (المرقات ۷/۳۰)

## هر سړی د خپل جرم پخپله ذمه دار دی

﴿۲۲﴾ وَعَن أَبِي رِمْثَةَ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِي

او حضرت ابو رمثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې د خپل پلار سره حاضر شوم نو

فَقَالَ: «مَنْ هَذَا الَّذِي مَعَكَ؟» قَالَ: ابْنِي أَشْهَدُ بِهِ

هغوي وفرمایل چې دا تاسره څوک دی؟ پلار صاحب مې ورته وویل چې دا زما ځوی دی تاسو ګواه اوسئ

قَالَ: «أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِي عَلَيْكَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل تاته معلومیدل پکار دي چې نه به دا تالره د خپلې ګناه په وجه سره مبتلی کړي

وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

او نه به ته ده لره د خپلې ګناه په وجه سره مبتلی کړې. (ابو داؤد نسائي) او صاحب مصابیح په

وَزَادَ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ» فِي أَوَّلِهِ قَالَ:

شرح السنة کې د دې روایت په شروع کې دا الفاظ نقل کړي دي چې ابو رمثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې کله

دَخَلْتُ مَعَ أَبِي عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى أَبِي الَّذِي بِظَهْرِهِ

زه د خپل پلار سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شوم او زما پلار د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شا مبارکه

رَسُولَ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وسلم فَقَالَ: دَعْنِي

باندې مهر نبوت ولید و نو د هغې حقیقت باندې پوهه نه شو او وې ویل چې ماته اجازت راکړئ چې

أُعَالِجُ الَّذِي بِظَهْرِكَ فَإِنِّي طَبِيبٌ. فَقَالَ:

ستاسو په ملا باندې کوم څیز دی چې د هغې علاج وکړم ځکه چې زه طبیب یم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

«أَنْتَ رفيقٌ والله الطبيبُ» اخرجه ابوداود والنسائي.[1]

ته (خوبس) رفيق يې، طبيب (خو) الله تعالى دى.

**توضيح**: ابغي اشهد به: يعني دا زما ځوى دى تاسو ګواه اوسئ په دې کلام سره دابو رمثه دپلار مقصد دزماني د جاهليت يو دستور طرف ته اشاره کول وو په جاهليت کې دا ستور وو چې دپلار په جرم کې به ځوى نيولى شو او د ځوى په جرم کې به پلار نيولى شو ګويا چې هريو به ديوبل په جرم کې قابل دمؤاخذې ګڼلى شو د ابو رمثه دپلار هم مقصد ددې کلام نه دا وو چې دا زما صلبي ځوى دى تاسو پرې ګواه اوسئ کچيرې ده څه جرم وکړو نو زه ددې ذمه داريم. اوکچيرې ما څه جرم وکړو نو دا به يې ذمه دار وي، ددې په جواب کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې داسې به نه وي چې ځوى به دخپل پلار په جرم کې نه مبتلاکيږي او نه به پلار دخپل ځوى په جرم کې مبتلاکيږي، اوس دجاهليت دا غير منصفانه دستورختم شو اوس به هرسړى دخپل جرم په دنيا او آخرت کې ذمه دار وي. (المرقات ۷/۳۱)

**فاني طبيب**: د ابو رمثه پلار د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ملامبارکه باندې مهرنبوت وليدو نو خيال يې دا ووچې دا څه دانه ده په دې وجه يې عرض وکړو چې تاسو اجازت راکړئ دې دپاره چې زه ددې علاج وکړم دا خبره چونکه په انتهائي بې وقوفتوب باندې مبني وه او په دې کې بې ادبي وه، په دې وجه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډيرناراضه شو او وې فرمايل بس ته طبيب نه يې بلکه رفيق يې يعني دمرض او بيمارى ظاهري حالت ته اوګورې نو دهغې مطابق دوائي تجويز کولو سره ورکوې دمرض حقيقت ته رسيدل او شفاورکول ستاکار نه دى ته صرف مريض سره نرمي کولى شې بس نرمي کوه او طبيب په حقيقت کې الله تعالى دى چې دمرض حقيقت هم پيژني او دوائي او علاج هم پيژني او شفاء هم ورکوي دنور چا په اختيار کې دا څيزونه نشته دى ته خو صرف مهربان کيدى شې او شفاء ورکولو والا نه يې. (المرقات ۷/۳۱)

## دزوي نه به دپلار قصاص اخستلى شي

﴿۲۳﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ

او حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دخپل نيکه نه او هغه دسراقه بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي

قَالَ: حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقِيدُ الْأَبَ مِنِ ابْنِهِ

هغوى وويل چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضرشوم، هغوى د ځوى نه دپلار قصاص اخسته

---

(۱) أخرجه أبوداؤد ٤/٦٣٥ رقم الحديث ٤٤٩٥ والنسائى فى ٨/٥٣ رقم الحديث ٤٨٣٢ والدارمى ٢/٢٦٠ رقم الحديث ٢٣٨٨.

وَلَا يُقِيدُ الِابْنَ من أَبِيه. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَضَعفه [1]

مګر دپلار نه يې د ځوی قصاص نه اخستو. ترمذي دا روايت نقل کړی دی او دا يې ضعيف هم ګرځولی دی.

## دغلام په قصاص کې به آزاد قتلولی شي او که نه؟

﴿۲۴﴾ وَعَن الْحسن عَن سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت حسن بصري (تابعي) د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (صحابي) نه روايت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

«مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ

چې کوم سړی خپل غلام قتل کړي مونږ به هغه قتلوو او کوم سړی چې (دخپل غلام) (يو) اندام کټ

جَدَعْنَاهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَزَادَ النَّسَائِيُّ فِي رِوَايَةٍ

کړي مونږ به دهغه اندام کټ کوو (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه دارمي) اود نسائي په يو بل روايت کې

أُخْرَى: «وَمن خصى عَبده خصيناه». [2]

يې دا الفاظ هم نقل کړې دي. چې کوم سړی خپل غلام لره خصي کړي نو مونږ به هم هغه خصي کوو.

**توضيح: من قتل عبده قتلناه**: کچيرې يو غلام آزاد سړې لره قتل کړو نو بالاتفاق دهغه غلام نه به قصاص اخستی شي مګر کچيرې کوم آزاد سړې کوم غلام لره مړ کړو نو آيا ددې آزاد نه به قصاص اخستی شي او که نه په دې کې دفقهاو اختلاف دی. (المرقات ۷/۳۲)

**د فقهاؤ اختلاف**: جمهور فرمائي چې دغلام په بدله کې به حر او آزاد سړی نه شي قتلولی که هغه غلام دده خپل وي يا دبل چاغلام وي. داحنافو امامان فرمائي چې کچيرې آقا خپل غلام لره قتل کړي نو په دې کې به دآقا نه قصاص نه شي اخستلی مګر کچيرې ده دبل چا غلام مړ کړو نو قصاص به ترې نه اخستی شي. (المرقات ۷/۳۲)

**دلائل**: جمهور آئمه د قرآن پاک د آيت (الحر بالحر والعبد بالعبد) (بقرة: ۱۷۸) نه استدلال کوي او مفهوم مخالف يې اخستی دی چې دآزاد په بدله آزاد دی او د غلام په بدله کې به د آزاد نه قصاص نه شي اخستلی څنګه چې دامسئله مخکې تيره شوه. ائمه احنافو د نسائي د يو روايت نه استدلال

---

(1) أخرجه الترمذى ٤/١١ رقم الحديث ١٣٩٩

(2) أخرجه أبوداؤد فى السنن ٤/٦٥٤ رقم الحديث ٤٥١٦ والترمذى ٤/١٨ رقم الحديث ١٤١٤ والنسائى ٨/٢٠ رقم الحديث ٤٧٣٦.

کړی دی چې دهغې الفاظ دادي **لايُقاد المملوک من مولاه** (نسائي) دا د احنافو په یوه مدعاباندې دلیل دی چې دآقادپاره دغلام نه قصاص نشته دی. داحنافو دلائل دقرآن پاک هغه آیتونه دي چې په هغې کې دنفس په بدله کې د نفس حکم مذکور دی چې دهغې تفصیل په حدیث نمبر ۱ کې تیرشوی دی. ائمه احنافو ددارقطني او بیهقي دهغه روایت نه استدلال کړی دی : **عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رجلا قتل عبده متعمدًا فجلده النبي صلي الله علیه وسلم مصلاةً جلدة ونفاه سنة ومحا سهمه من المسلمین ولم یقده به وامره ان یعتق رقبة**. (زجاجة المصابیح ج۲ ص۱۸) ددې حدیث نه ثابته شوه چې دآقانه به قصاص نه شي اخستی. آئمه احنافو دهغه دردناکې قصې نه هم استدلال کړی دی چې په هغې کې ذکر دي چې یو سړي خپله وینځه دزنا په تهمت کې په اُور باندې کینولې وه او دهغې شرمګاه یې سوزولې وه، دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه په مخکې مقدمه پیش شوه څوک ګواه نه وو نه وینځې دزنا اعتراف وکړو نو حضرت عمرفاروق هغه سړي ته وفرمایل : **لولم اسمع رسول الله صلي الله علیه وسلم یقول لا یقاد مملوک من مالکه لاقدتهامنک**. (زجاجة المصابیح جلد۳ص۱۹)

داحنافو عقلي دلیل دا دی چې دمولی او د غلام په قصاص کې شبه راغله ځکه چې غلام دمولی په ملکیت کې دی لهذا شبه دقصاص ختمه شوه.

**جواب** : جمهورو او احنافو د ټولو په یوځای کیدو سره ددې حدیث جواب ورکول دي ځکه چې دا روایت دباقي ټولو روایاتو او قواعدو سره معارض دی په دې وجه د اندام په بدله کې دا اندام دکټ کولو حکم او دخصي کولو بدله کې دخصي کولو حکم دچا په نزد هم نشته دی، لهذا ددې روایت جواب ورکول دټولو ذمه داري ده: نو اول جواب خو دادی چې دا حکم د زجر اوتوبیخ او تشدید او د تغلیظ په بنیاد باندې دی، اوپه دې کې داسیاسي حکم پټ دی چې قاتل د خپل غلام دقتلولو جرأت ونه کړي او نه د هغه په اندامونو کټ کولو کې جلدبازي وکړي.

**دویم جواب** : دادی چې د عبده، نه دماضي زماني غلامي مراد ده نه دا چې في الحال دا غلام دی، اوس خو دا آزاد دی مګر په څه وخت کې ددې مولی غلام وو په دې اعتبار سره دې ته غلام ویلی شوی وو لهذا د آزاد سړي پحقله چې کوم حکم په دی حدیث کې دی په دې کې دچاهم اختلاف نشته دی.

## ددیت مقدار او د اوښانو نوم

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

اوحضرت عمروبن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

"مَنْ قَتَلَ مُتَعَمِّدًا دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ فَإِنْ

چې کوم سړی قتل عمد وکړي هغه به د مقتول وارثانو ته حواله کولی شي که هغوي (دا د مقتول په

شَاؤُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاؤُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ:

بدله کې) قتلوي او که دده نه دیت یعني خون بها اخلي او خون بها د (مقدار تعداد) دادی چې

وَهِيَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثُونَ

دیرش اوښاني هغه وي چې (ددریو کالو کیدو سره) په څلورم کال کې داخلې شوې وي او دیرش اوښاني

جَذَعَةً وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً

هغه وي چې پنځم کال کې داخلې شوې وي او څلویښت اوښاني بلاربې وي (ددې نه علاوه) چې په کوم څیز باندې

وَمَا صَالَحُوا عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُمْ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (صَحِيح)[1]

صلحه وشي نو هغوی بهددې حقدار وي (یعني دیت چې کوم دمقتول دوارثانو حق دی ددې داصل مقدار تعداد خو دادی) (ترمذي)

**توضیح: حقه بنت مخاض:** هغه بنځه اوښه چې دهغې یو کال پوره شوی وي او په دویم کې داخل شوې وي **بنت لبون:** هغه اوښه چې دهغې دوه کاله پوره شوې وي او په دریم کال کې داخله شوې وي.

**حقه:** هغه اوښه چې دهغې درې کاله پوره شوې وي او په څلورم کال کې داخله شوې وي. (المرقات ۷/۳۳)

**جذعه:** هغه اوښه چې دهغې څلور کاله پوري شوې وي او په پنځم کال کې داخله شوې وي ددې نه پس (المرقات ۷/۳۴)

**ثني** ده دا هغه اوښه ده چې په شپږم کال کې داخله شوې وي او کله چې اوښ په اووم کال کې داخل شي نو هغه ته **رباعي** وائي او بنځې اوښې ته **رباعية** وائي او کله چې د اوښ اووه کاله پوره شي او

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ٤/٦ رقم الحدیث ١٣٨٧ وابن ماجه ٢/٨٧٧ رقم الحدیث ٢٦٢٦ وأحمد فی المسند ٢/١٨٣

اتم کال کې داخل شي نو هغه ته **سديس** وائي او کله چې د اوښ اته کاله پوره شي او نهم کال ته داخل شي نو هغه ته **بازل** وائي ددې نه پس کچيرې هغه لسم ته هم کال داخل شي نو هغه ته **بازل** او **مخلف** هم وائي، ددې نه پس دهيڅ يو عمر کوم خاص نوم نشته دی البته د بازل سره د عام لفظ لګولو سره اندازه کولی شي دغه شان مخلف سره د عام لفظ لګولو سره ويلی شي **بازل عام** و**بازل عامين** او **مخلف عام** او **مخلف عامين** . امام ابوداؤد رحمه الله د شيخ رياشي يو شعر هم نقل کړی دی چې پکې ديو حد پورې د عمر په تناسب سره د اوښانو نومونه بيان کړی شوې دي دارنګه فرمائي :

**اذا سهيل اول الليل طلع فابن اللبون الحق والحق جذع**

**لم يبق من اسنانها غير الهبع** (ابوداؤد ج۱ ص۲۲۴)

يعنې کله چې سهيل ستوری راووتو نو ابن لبون په حقې سره او حقه په جذعې سره بدل شي ددې ټولو اوښانو عمرونه بدليږي ها چې کوم بې موسمه او د وخت نه مخکې پيدا شوی وي د هغه عمر نه بدليږي .

**دفقهاؤ اختلاف** : **خلفة** : ددې جمع **خلفات** دی بلاربې اوښې ته وايي په قتل عمد کې د قصاص په ځای کچيرې په ديت او خون بهاباندې طرفين راضي وي نو د خون بها په حقله د امام شافعي رحمه الله په نزد همدا ترتيب دی چې په دې حديث کې دي چې ديرش حقه وي او ديرش جذعه وي او څلويښت خلفات يعنې بلاربې وي مګر د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د خون بها ترتيب د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه درواېت مطابق داسې دی ۲۵ بنت مخاض به وي ۲۵ بنت لبون ۲۵ حقې او ۲۵ جذعې بنځې اوښانې به وي د شوافعو په نزد اثلاثًا ديت اداء کولو کې چې کوم ترتيب دی دا ديت مغلظ دی د احنافو په نزد اربا عًا والا ترتيب ديت مغلظه دی.

**دلائل** : امام شافعي رحمه الله دزيربحث حديث نه استدلال کړی دی چې په هغې کې د اثلاثًا ترتيب دی. امام ابوحنيفه رحمه الله د حضرت سائب بن يزيد د روايت نه استدلال کړی دی چې دهغې الفاظ دادي : **روى الزهري عن السائب بن يزيد قال كانت الدية على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ارباعًا خمساً وعشرين جذعة وخمسا وعشرين حقة وخمسا وعشرين بنت لبون وخمسا وعشرين بنت مخاض** . (كذافي المني تعليق الصبيح ج۴ ص۱۳۲)

ائمه احنافو د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه درواېت نه هم استدلال کړی دی چې امام ابوداؤد د

هغې په نقل کولو سره سکوت فرمايلی دی چې دا د حديث دصحت ننبه ده د حديث الفاظ دادي.

**عن علقمة والاسود قالا قال عبدالله في شبه العمد خمس و عشرون حقة وخمس وعشرون جذعة وخمس وعشرون بنات لبون وخمس وعشرون بنات مخاض.** (رواه ابو داؤد)

په دې کې هم دارباعًا ترتيب مذکوردی څنګه چې په برنې د حضرت سائب په روايت کې دي د احنافو په نزد دا مذکوره روايات د زيربحث حديث نه راجح دي دکوم نه چې شوافعو استدلال کړی دی.

**وماصالحوا عليه:** يعنې خپل مينځ کې که په کمي زياتي باندې طرفين صلحه کولو سره فيصله کوي نو داسې کولی شي.

## د کفر په مقابله کې ټول مسلمانان د يو لاس په شان دي

| |
|---|
| ﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت علي کرم الله وجهه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه روايت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل په قصاص |
| «اَلْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ |
| او ديت کې ټول مسلمانان برابر دي او يو ادنی مسلمان هم امان ورکولی شي او دلرې والا مسلمان هم |
| وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ وَهُمْ |
| حق لري او ټول مسلمانان ديو لاس په شان دي (يعنې ټول مسلمانان د غير مسلمو په مقابله کې |
| يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ أَلَا لَا يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ |
| ديوبل مددګار او ديو لاس په شان دي) او خبردار! د کافر په بدله کې دې مسلمان مړ نه کړی شي او نه دې |
| وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1] (صَحِيح) |
| عهد والا (يعنې ذمي) مړ کړی شي ترڅو پورې چې هغه په عهد اوضمان کې دی. (ابوداؤد، نسائي) |
| وَرَوَاهُ ابْن مَاجَه عَن ابْن عَبَّاس.[2] |
| او ابن ماجه دې روايت لره د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی. |

---

(1) أخرجه أبوداود فى كتاب السنن ٤/١٦٦ رقم الحديث ٤٥٣٠ والنسائى ٨/٢٤ رقم الحديث ٤٧٤٦ وأحمد فى المسند ١/١٢٢

(2) أخرجه ابن ماجه فى السنن ٢/٨٩٥ رقم الحديث ٢٦٨٣

**توضیح: تتکافأ:** داد کفاءت نه دی چې دمساوات او برابری په معنی سره دی یعنې په دیت اخستو او ورکولو او قصاص کې ټول مسلمانان یوشان برابردي په ادنی او اعلی او شریف او رذیل غټ وړوکي کې یا نیک اوبد کې یا عالم اوجاهل کې یا مالدار او غریب کې یا سړې اوښځه کې د دیت او قصاص هیڅ فرق هم نشته دی، دا نشته دی چې دلوی ذات والا دیت به زیات وي او د وړوکي ذات والا دیت کم مقداردی، اوس دا د اسلام عادلانه نظام دی او د جاهلیت ظالمانه فرق اوس ختم شوی دی چې د اوچتې طبقې او خاندان د یو سړې د قصاص بدله کې به دوه او درې وژلی شي. ( المرقات ۷/۳۴)

**ادناهم:** یعنې یو کمزوری مسلمان که څومره ګمنام ولې نه وي یا ښځه او مسلمان غلام ولې نه وي کچیرې یو کافر ته امن ورکړي نو ټولو مسلمانانو ته ددې احترام پکار دی او دې کافرته امن ورکول پکار دي. ( المرقات ۷/۳۴)

**ویردعلیهم اقصاهم:** یعنې داسلام دلښکرنه که یوه وړه دسته جدا شوه او لرې لاړه اوجنګیده او مالِ غنیمت ئې حاصل کړو نوپه هغوی لازم دي چې هغوی مال غنیمت راوړي او بیت المال کې یې جمع کړي ددې دستې په دې مال باندې خپل څه حق نشته دی. ( المرقات ۷/۳۵)

**وهم یدعلی من سواهم:** یعنې ددنیاټول مسلمانان د کفارو په مقابله کې د مضبوط دیوال په شان یو لاس دي چیرته چې هم په یومسلمان باندې دکافرو دطرف نه ظلم زیاتی کیږي نو په ټولو مسلمانانو باندې فرض دي چې هغوی دخپل مسلمان ورور مدد وکړي په دې حدیث کې مسلمانانو ته دا دستاویزي حکم ورکړی شوی دی چې څنګه چې **الکفرملة واحدة** دی هم دغه شان مسلمانان هم دکافرانو په مقابله کې یو لاس دي، دیوبل دمدد کولو د ذمه داری نه بریٔ الذمه نه شي کیدی. د احنافو په نزد دلته دکافر نه حربي کافر مراد دی چې دده په قصاص کې به مسلمان نه شي قتلولی ها دذمي په بدله کې به قتلولی شي دلته د ذمي ځانله ذکرکول ددې خبرې دلیل دی چې دکافر نه مراد حربي کافر دی او د ذمي حکم جدا دی. ( المرقات ۷/۳۵)

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي شُرَيحٍ الخُزَاعِيِّ قَالَ: سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت ابوشریح خزاعي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمایل واوریدل چې

"مَنْ أُصِيبَ بِدَمٍ أَوْ خَبْلٍ وَالْخَبْلُ: الْجُرْحُ

کوم کس د ناحق قتل یا دزخم دوجې نه غمژن وي (یعنې د کوم کس مورث لره چې په ناحقه قتل کړی

فَهُوَ بِالْخِيَارِ بَيْنَ إِحْدَى ثَلَاثٍ:

شوی وي یا دهغه دبدن څه اندام پریکړی شوی وي) نو هغه په دري څیزونو کې دیو څیز اختیار ولو حقدار دی

فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ:

او کچیري هغه (په دې دري څیزونو کې د زیات) څلورم څیز طلب کوي نو دهغه لاس اونیسئ (یعني هغه د څلورم څیز نه منع کړئ)

بَيْنَ أَنْ يَقْتَصَّ أَوْ يَعْفُوَ أَوْ يَأْخُذَ الْعَقْلَ

او هغه دري څیزونه دادي (۱) یا خو دې قصاص واخلي (۲) یا دې معاف کړي (۳) یا دې مالي معاوضه واخلي.

فَإِنْ أَخَذَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ عَدَا بَعْدَ ذَلِكَ

یا کچیري هغه په دې دري څیزونو کې یو څیز لره اختیار کړي او د دې نه پس یې د دویم څیز اضافه وکړه نو د ده د پاره

فَلَهُ النَّارُ خَالِدًا فِيهَا مُخَلَّدًا أَبَدًا". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ[1]

د دوزخ اور دی چې په هغې کې به همیشه او سیږي په دې کې ده لره همیشه ایخو دلی شي کله به هم د دې نه نه اوځي. (دارمي)

په دوزخ کې د همیشه اوسید و حکم تشدیدا تغلیظا او زجرا او توبیخاً او تهدیدًا دی.

## د قتل خطاء حکم او د قتل بالمثقل تعریف

﴿۲۸﴾ وَعَنْ طَاوُوس عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت طاوس رحمه الله د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او هغه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې

قَالَ: «مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّةٍ فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بِالْحِجَارَةِ أَوْ جَلْدٍ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل کوم سړی چې د خلقو په مینځ کې په کانړو ویشتو کې یا کوړو او هماسې ګانو وهلو سره مړ شي،

بِالسِّيَاطِ أَوْ ضَرْبٍ بِعَصًا فَهُوَ خَطَأٌ

(یعني دا پته ونه لګي) چې د ده قاتل څوک دی نو دا قتل (د ګناه په اعتبار سره) د قتل خطاء په حکم کې به وي

عقله عقلُ الْخَطَأِ وَمَنْ قَتَلَ عَمْدًا فَهُوَ قَوَدٌ

او د ده دیت د قتل خطاء دیت دی او کوم سړی چې په قصد سره ووژلی شو نو د ده قتل قصاص لره واجبوي

وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَغَضَبُهُ

او کوم سړی چې په قصاص اخستو کې حائل (مزاحم) وي په هغه د الله تعالی لعنت او د هغه غضب دی.

---

(۱) أخرجه أبوداؤد فی کتاب ٤١/٦٣٦ رقم الحديث ٤٤٩٦ وابن ماجه فی ٢/٨٧٦ رقم الحديث ٢٦٢٣ والدارمی فی ٢/٢٤٧ رقم: ٢٣٥١

لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

نه به دده نفل قبول کړی شي او نه فرض. (ابو داؤد نسائي)

**توضیح**: **عمية**: دا لفظ دعين په کسرې او د ميم مشدد په کسرې او په ياء مشدده سره دی، دا داسې فتنې او دګولو باران او دکانړو ويشتو ته وايي چې دهغې دصحيح صورت حال اندازه نه شي کيدی، دحديث مطلب دادی چې مثلاً د دوو طبقو جنګ دی او د همساګانو په وهلو کې يو سړی مړ شو نودا قتل خطاء دی چې قصاص لره نه واجبوي بلکه دا قتل بالمثقل دی کوم چې ديت لره واجبوي، او دا ديت به په عاقله باندې راځي په حديث کې چې دکومو څيزونو ذکر دی هغه دمثال په طور باندې دي مراد دادی چې په څه مثقل څيز سره هم ووژلی شي ددې قسم قتل ته فقهاء شبه عمد وايي، د شوافعو او صاحبينو په نزد باندې دشبه عمد تعريف دادی: چې په قصد سره کوم کس په آله غير قاتله سره يو ځل ووهلی شي چې په هغې سره عموماً دچا مرګ نه واقع کيږي، لکه وړوکی غوندې کانړی او وړه همساء سره قتلول. ( المرقات ۷/۳۷)

دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دشبه عمد قتل تعريف داسې دی: هغه قتل چې په قصد سره وکړی شي مګر په داسې څيز سره چې نه تيره وي او نه ديو اندم په جداکولو کې د تيره پشان وي لکه په کانې او همساء سره قتل کول، داحنافواو شوافعو د اختلاف ثمره دا راوځي چې کچيرې کوم يوکس يې په غټ کانې سره يا په پيړه هسما سره ووهلو نو دشوافعو په نزد دا قتل عمد دی چې په کې قصاص دی، او داحنافو په نزد به شبه عمد وي، د زيربحث حديث په ظاهري الفاظو سره دامام ابوحنيفه دمسلک تائيد کيږي ځکه چې مطلق کانې او مطلقه همسا دروند او د لوی نه لوی هم کيدی شي دشوافعو په نزد ددې نه سپک څيزونه مراد دي.

**ومن قتل عمدا**: اشعة اللمعات کې شيخ عبدالحق رحمه الله دايې دمجهول صيغه ګرځولې ده او ترجمه کړې يې ده ملاعلي قاري رحمه الله د معروف صيغه ګرځولې ده.

**فهوقود**: يعنې چاچې يو کس لره په آله جارحه سره قصداً ووژلو نو په قتل سره به قصاص لازم راځي.

**ومن حال**: يعنې کوم سړی چې دقاتل نه په قصاص اخستلو سره حائل وي او خپل اثر رسوخ استعمالولو سره ددې شرعي حکم په نافذ کولو کې رُکاوټ جوړ شي نو په هغه به دالله تعالی لعنت نازل وي.

**صرف**: يعنې دده نفلي عبادت به غيرمقبول شي ولاعدل : يعني دده فرضي عبادت به نه قبليږي. اګرچه عبادت کول به په ده لازم وي، شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کې ليکلې دي دصرف ترجمه يې په توبې سره هم کړې ده او په نفلو سره يې هم کړې ده، فقهاء کرامو په نزد دقتل

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٧٧ رقم الحديث ٤٥٤٠ والنسائی فی ٨/٣٩ رقم الحديث ٤٧٨٩ وابن ماجه ٢/٨٨٠ رقم الحديث ٢٦٣٥.

پنځه قسمونه دي: (۱) قتل عمد (۲) قتل شبه عمد (۳) قتل خطاء (۴) قتل جاري مجراي خطا (۵) قتل بسبب، د كتاب القصاص په اوله كې د ټولو تعريف په تفصيل سره تير شوى دى.

﴿۲۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل (چې دمقتول دولي او وارثانو نه) چې كوم سړى هم

«لَا أُعْفِي مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِ الدِّيَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد.[1]

(دقاتل نه) د ديت (خون بها) اخستو نه پس هغه لره قتل كړي نو هغه به نه معاف كوم بلكه هغه لره به هم د قصاص په طور باندې قتلوم)

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت ابو الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا فرمان اوريدلى دى چې د كوم سړي د بدن كومه

«مَا مِنْ رَجُلٍ يُصَابُ بِشَيْءٍ فِي جَسَدِهِ فَتَصَدَّقَ بِهِ

حصه زخمي كړى شي او هغه هغه زخمي كونكى (ملزم) لره معاف كړو (يعني دهغه نه يې څه بدله وانخستله بلكه

إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ بِهِ دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ

معافي يې ورته وكړه او په تقدير الهي باندې يې صبر وكړو) نو الله تعالى به د دې په وجه سره د ده يوه درجه اوچته كړي

خَطِيئَةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.[2]

او يوه ګناه به ورته معاف كړي. (ترمذي ابن ماجه)

## په اسلام كې د انساني وينې اهميت

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۳۱﴾ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّاب

حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله راوي دى چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (خليفة المسلمين)

قَتَلَ نَفَرًا خَمْسَةً أَوْ سَبْعَةً بِرَجُلٍ وَاحِدٍ قَتَلُوهُ قَتْلَ غِيلَةٍ

د دا سې پنځو يا اوو كسانو ډلې لره قتل كړه چې هغوى په دوكې سره يو سړى قتل كړى وو. دارنګه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد فى السنن ٤/٤٦٤ رقم الحديث ٤٥٠٧ وأحمد فى المسند ٣/٣٦٣

(۲) أخرجه الترمذى فى ٤/٨ رقم الحديث ١٣٩٣ وابن ماجه فى السنن ٢/٨٩٨ رقم الحديث ٢٦٩٣ وأحمد فى المسند ٦/٤٤٨

وَقَالَ عُمَرُ: لَوْ تَمَالَأَ عَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَ

عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وفرمایل چې کچیرې صنعاء والا ټولو دې سړې لره قتل کړی وو یا یې دقاتلانو مدد کولو

لَقَتَلْتُهُمْ جَمِيعًا. رَوَاهُ مَالِكٌ (صَحِيح)[1] وروى البُخَارِيّ عَن ابْن عمر نَحوه[2]

نو ما به هغوی ټول قتل کړي وو. (مالک) امام بخاري رحمه الله هم د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دد ې په شان نقل کړی دی.

**توضیح**: لوتمالأ د ملأ نه دی داتفاق او اتحاد او دیو بل سره دتعاون کولو په معنی سره، اهل صنعاء دیمن دملک مرکزي ښاردی نن سبا دا ددې ملک دارالخلافه ده، حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې ښارنوم یاخو په دې وجه واخستو چې دقاتلانو تعلق ددې ښارسره وو یا دوي د عربو ددستور مطابق دکثرت ظاهرولو دپاره دصنعاء نوم اخستی دی یعنې کچیرې په زرهاوو خلق هم دیو انسان په قتل کې شریک شي نو زه به ټولو لره په قصاص کې وژنم، ددې عدل او انصاف نه معلومیږي چې اسلام دانساني ځان څومره حفاظت کوي مګر نن صبا دانساني حقوقو په نوم جوړشوې تنظیمونه انساني حقونو لره پایمال کوي.

## دقیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نیولی وي الله تعالی ته به فریاد کوي

﴿۳۲﴾ وَعَن جُنْدُبٍ قَالَ: حَدَّثَنِي فُلَانٌ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت جندب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وائي چې ماته فلاني صحابي دا حدیث یې بیان کړو چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل

"يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِقَاتِلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ:

چې دقیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل لره (نیولی وي) راولي او (الله تعالی ته به) فریاد کوي،

سَلْ هَذَا فِيمَ قَتَلَنِي؟ فَيَقُولُ: قَتَلْتُهُ عَلَى مُلْكِ فُلَانٍ".

چې دده نه تپوس وکړئ چې ده زه ولې قتل کړی وم.؟ دارنګه قاتل به ووائي چې ما دا دفلاني سړې په سلطنت

قَالَ جُنْدُبٌ: فَاتَّقِهَا. رَوَاهُ النَّسَائِيّ[3]

کې قتل کړی وو. جندب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (ددې حدیث دبیانولو نه پس) وویل چې تاسو ددې نه بچ شئ. (نسائي)

---

(1) أخرجه مالک فی الموطأ ۲/۸۷۱ رقم الحدیث ۱۳ من کتاب العقول

(2) أخرجه البخاری فی ۱۲/۲۲۷ رقم الحدیث ٦٨٩٦

(3) أخرجه النسائی فی ۷/۸٤ رقم الحدیث ۳۹۹۸

**توضيح** : علي ملک فلان: يعني مقتول چې د قيامت په ورځ کله په قاتل باندې د قتل دعوه وکړي او الله تعالى ته فرياد وکړي چې ددې قاتل نه تپوس وکړئ چې ده زه ولې قتل کړی وم؟ نو قاتل به جواب کې ورته ووائي چې ما د فلاني سړي په سلطنت کې ده لره قتل کړی وو. ( المرقات ۷/۴۰)

**سوال** : دلته سوال دا دی چې د قاتل دا جواب د مقتول د سوال او د دعوې او فرياد دپاره جواب نه جوړيږي، نو د دې سوال او جواب په مينځ کې مطابقت څه دی؟ **جواب**: په دې کې مطابقت واضح دی چې قاتل به په جواب کې ورته وايي چې بيشکه ماده لره قتل کړی وو مګر ما د فلاني باچا په باچاهي کې دهغه په اشارې او مدد سره مې دا قتل کړی وو لهذا دده د قتل اصل محرک او ذمه دار هم هغه باچا دی جندب هغه مشهور صحابي چې د ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم سره مشهور دی.

**فائدہ**: علامه طيبي وايي چې جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم باچا يا فوجي ته نصيحت کولو نو په آخر کې يې وفرمايل چې د چا په قتل کې د نصرت او مدد نه ځان بچ کړه. ( المرقات ۴۰/۷، الکاشف ۷۹/۷)

## د قاتل د مدد کولو متعلق وعيد

| |
|---|
| ﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ |
| او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم سړي د نيمې جملې |
| أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ شَطْرَ كَلِمَةٍ |
| په ويلو سره هم ديو مؤمن په قتل کې مدد وکړي. (يعني مثلاً پوره قتل يې نه وي ويلى صرف اق ووايي) |
| لَقِيَ اللهَ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ |
| نو هغه به الله تعالى سره په داسې حالت کې ملاقات کوي چې ده د دواړو سترګو ترمينځه به يې ليکلي وي. |
| آيِسٌ من رَحْمَةِ اللهِ». رَوَاهُ ابْن مَاجَه.(۱) |
| دا د الله تعالى د رحمت نه نا اميده دی. (ابن ماجه) |

**توضيح** : شطر كلمة : يعني پوره د اقتل کلمه يې نه وي ويلې بلکه د قاتل په معاونت او مدد کې يې صرف اق نيمه کلمه وويله نو هغه هم د قاتل سره په دې قتل کې شريک دی ددې نه معلومه شوه چې په قتل کولو کې د عملاً شريک کيدو نه علاوه منصوبه سازي کول يا مشوره کول يا درضامندی

(۱) أخرجه ابن ماجه فی ۲/۸۷٤ رقم الحديث ۲٦۲۰

اظهار کول او څه قسمه د رهنمائي او مدد او نصرت کول هم جرم دی. ( المرقات ۴۱/۷)

**آئس:** یعني داسې دی الله تعالی درحمت نه ناامیده دی د مسلمان قتلول دګناه په شدت سره د کفر مشابه دی، دا جمله چې دا سې دی الله تعالی درحمت نه ناامیده دی د همدې ارتکاب کفر نه کنایه ده چې د کافرانو په شان به دا هم د الله تعالی درحمت نه مایوسه وي نو دا په زجر او تشدید او تهدید او توبیخ باندې محمول دی، یا مطلب دا چې د مؤمن په قتل کې معاونت او مدد کوم سې حلال ګڼي نو هغه به درحمت خداوندي نه ناامیده او کافر وي. ( المرقات ۴۱/۷)

## دقاتل د مدد ګار سزا څه ده ؟

| |
|---|
| ﴿۳۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړې دي چې هغوی وفرمائیل چې کله یو |
| «إِذَا أَمْسَكَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ وَقَتَلَهُ الْآخَرُ يُقْتَلُ الَّذِي قَتَلَ |
| سړی چالره ونیسي او دویم یې قتل کړي نو د (مقتول په بدله) به دا سړی قتلولی شي کوم چې قتل کړو |
| وَيُحبَسُ الَّذِي أَمْسَكَ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ[1] |
| او نیولو والا ته به دقید سزا ورکړی شي. (دارقطني) |

**توضیح : ویحبس :** یعني یو کس بل کس لره ونیولو او دویم هغه قتل کړو، په دې باندې اتفاق دی چې دقاتل نه به قصاص واخستی شي مګر د دې نیونکي سزا به څه وي په دې کې د فقهاو اختلاف دی.[2]

**د فقهاو اختلاف :** دامام احمد رحمه الله یو قول دادی چې ترمرګه پورې به دا په قید کې وساتلی شي ځنګه چې په دې حدیث کې دي، امام مالک رحمه الله او په یو قول کې امام احمد رحمه الله فرمایي چې دا نیولو والا به هم قتلولی شي. امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمایي چې دې سړې ته به تعزیر ورکولی شي، اوس په تعزیر کې به د قاضي او حاکم د رایې اعتبار وي کچیرې هغه غواړي نو قید ولی یې هم شي او که هغه مناسب ګڼي نو قتلولی یې هم شي ځکه چې د تعزیر دائره وسیعه وي، شارحینو د حدیث لیکلې دي چې دا حدیث د هغه ټولو حدیثونو سره معارض دی په کوم کې چې دقاتل په مدد او معاونت باندې د قصاص حکم لګولی شوی دی، لهذا هغوی فرمایي چې دا حدیث د خپل حکم په اعتبار سره منسوخ دی. (کذا في الاشعة).

---

(۱) أخرجه الدارقطني في ۳/۱۴۰ رقم الحديث ۱۷۶

(۲) المرقات ۴۲/۷ اشعة اللمعات ۲۴/۳

# باب الديات
# د ديتونو بيان

قال الله تعالى وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا (نساء ۹۲)
قال الله تعالى: وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةً (نساء ۹۲)

**ودی يدي دية:** دباب ضرب نه د قاتل دطرف نه دمقتول وارثانو ته مالي معاوضه ورکولو ته وايي، او د شرع په اصطلاح کې ديت دهغه مالي معاوضې نوم دی چې دڅه اندام يا دچا د نفس ختمولو په بدله کې ورکولی شي، چونکه ديت کله د نفس په بدله کې رائي او کله ديو اندام په بدله کې رائي کله ديت مغلظه وي او کله ديت مخففه وي په دې وجه په کتاب کې **ديات** جمع راغلې ده چې دهغې مفرد **دية** دی.

**ددیت قسمونه:** ددیت لوی قسمونه دوه دي:اول ديت مغلظه دی دامام ابوحنيفه اوامام ابو يوسف رحمهما الله په نزد ديت مغلظه هغه دی چې سل اوښانې به اداء کولی شي مګر څلور قسمه اوښانې به وي مثلا ۲۵ بنت مخاض به وي ۲۵ بنت لبون ۲۵حقې او ۲۵جذعې به وي. د امام شافعي رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد هم ديت مغلظه سل اوښانې دي مګر دري قسمه اوښانې به وي مثلاً ديرش حقې وي او ديرش جذعې وي او څلويښت خلفات يعنې بلاربې وي دې تقسيم ته اثلاثًا وي او اولنې تقسيم ته اربا عًا وايي، ديت مغلظه په هغه سړې باندې رائي چې د قتل شبه عمد مرتکب وي يا په قتل عمد کې په ديت باندې صلح شوې وي، ديت مغلظه صرف د اوښانو په صورت کې اداء کولی شي. د ديت دويم قسم ديت مخففه دی اوديت مخففه په اوښانو او دراهمو او دنانيرو دواړو سره اداء کولی شي کچيرې داوښانو نه اداء کول وي نو پنځه قسمه سل اوښان به اداء کول وي ۲۰ بنت مخاض ،۲۰ بنت لبون،۲۰ابن مخاض۲۰حقې او ۲۰جذعې به ورکولی شي.د ديت مخففه اداء کول کچيرې په سرو زرو او سپينو زرو سره وي نو د سرو زرو زر ديناره دي او په چاندی سره دامام ابوحنيفه په نزد لس زره دراهمه دي او دشوافعو په نزد دولس زره دراهمه دي. شوافعو دابن عباس رضي الله عنه روايت نه استدلال کړی دی چې دمشکوة په صفحه نمبر ۳۰۴ باندې ذکر دی چې په هغې کې د دولس زرو دارهمو تصريح موجود ده . احنافو دحضرت عمر رضي الله عنه د روايت نه استدلال کړی دی کوم چې په زجاجة المصابيح کې دامام محمد رحمه الله په حوالې سره ذکر کړی دی الفاظ يې داسې دي : **روى البيهقي من طريق الشافعي رحمه الله قال محمد بن الحسن رحمه الله بلغنا عن عمر انه فرض على اهل**

**الذهب في الدية الف دينار ومن الورق عشرة آلاف درهم** (زجاجة المصابيح ج۳ ص۳۳).
احناف د لسو زرو دراهمو والا روايت ته ترجيح وركوي چې دا متيقن دی ځکه چې لس زره د دولسو زرو په ضمن کې دي او دزياتو دپاره مزيد ثبوت پکاردی دارنګه ددولس زرو چې کوم ذکر په روايت کې راغلی دی هغه د وزن سته په اعتبار سره دی او لس زره دوزن سبعه په اعتبارسره دی، نو مقدار يو دی څه فرق نشته، صرف دالفاظو فرق دی، ديت مخففه په هغه سړې باندې رائي چې په قتل خطا يا جاري مجراي خطايا قتل بتسبب مرتکب وي، خلاصه داچې قتل عمد کې قصاص دی، قتل شبه عمد کې ديت مغلظه دی، چې په عاقلو باندې دی او په سړې باندې کفاره ده په قتل خطااو جاري مجراي خطاکې په سړي باندې کفاره ده او عاقله باندې ديت دی، قتل بتسبب کې په عاقله باندې ديت دی په سړې باندې کفاره نشته دی. داخبره يادساتئ چې يو کامله خون بها ده دې ته ديت وايې او يو نيم ديت دی او يو عشر ديت دی يعنې ددیت لسمه حصه نو دسلو لسمه حصه لس دي داندامونو معاوضې ته ،،ارش،، وايې بيا ددیت د اداکولو ترتيب داسې دی چې دقتل خطا دمجرم په عاقله باندې به ديت رائي او هغه به په درې کالو کې په قسطونو سره اداءکوي، هرکال به دريمه حصه د ديت اداء کولی شي.

## الفصل الاول

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې هغوی وفرمائيل چې دا او دا (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ |
| «هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ» يَعْنِي الخِنصرُ |
| دټولو نه وړې ګوتې او غټې ګوتې طرفته اشاره کولو سره وفرمايل چې) کچه ګوته او غټه ګوته |
| والإبهامَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| (د ديت په اعتبارسره) دواړه برابرې دي. (بخاري) |

**توضيح**: **الخنصر**: دلاس دټولو نه وړې ګوتې ته خنصر وائي او چې په پښتو کې ورته کچه ګوته وائي. **الابهام**: غټې ګوتې ته وائي دپوره ديت راتلو يا دنيم ديت راتلو يا دعشر ديت د واجب کيدو دارومدار دې اندام په نفع باندې دی، او کچيرې پوره نفع ضائع شوه نو پوره ديت به رائي او

(۱) أخرجه البخاری فی الصحيح ۱۲/۲۲۶ رقم الحديث ٦٨٩٥ وأبوداؤد فی السنن ٤/٦٩٠ رقم الحديث ٤٥٥٨ والترمذی ٤/٨ رقم: ١٣٩٢

که نه نو کم دیت راځي، لهذا کچیرې یو سړې د یو کس ټولې ګوتې کټ کړي نو دلاسونو ټول منفعت ختم شو لهذا پوره دیت به ورکوي په دې لحاظ سره دهرې ګوتې په بدله کې به لس اونبان په دیت کې راځي نود لاس په لسو ګوتو بانېې به سل اونبان راځي. په دې حساب سره کچه ګوته او غټه ګوته برابرې دي ځکه چې منفعت یو شان دی اګرچې په کچه ګوته کې درې جوړه دي یعنې درې بندونه دي او په غټه ګوته کې دوه بندونه دي مګر منفعت یې برابر دی، اوس کچیرې د ګوتې یو بند کټ کړی شي نو دلسم دیت دریمه حصه به ورکول وي البته په غټه ګوته کې دوه بندونه دي لهذا د یو بند په کټ کولو باندې به نصف عشر یعني پنځه اونبان ورکوي، داسلام د عادلانه نظام نه قربان شم چې د ګوتو د جوړونو یې هم حفاظت کړی دی او بین الاقوامي انساني قوانینو باندې دې لعنت وي چې د انساني حقوقو په نوم سره یې انساني حقوق پایمال کړل. ( المرقات ۴۲/۷)

## د بنځې په خیټه کې د بچي دیت

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د بني لحیان دیوې بنځې دهغه د بچي په دیت

جَنِينِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لِحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ

کې چې دهغې په خیټه کې مړ پروت وو (په عاقله باندې) غره واجب کړې وه او دغره نه مراد غلام

أَوْ أَمَةٍ ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قُضِيَ عَلَيْهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ فَقَضَى

یا وینځه ده، بیا کله چې هغه بنځه (چې دچا په عاقله باندې یې غره واجب کړې وه) مړه شوه نو هغوی

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا الْعَقْلُ عَلَى عَصَبَتِهَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دافیصله وکړه چې د دې میراث د دې د ځامنو او خاوند دپاره دی او د دې دیت د دې په عصبو باندې دی.

**توضیح** : في جنین : کله چې بچی د مور په خیټه کې وي هغې ته جنین وایي. د لحیان په لام باندې فتحه هم ده او کسره هم ده دا د عربو دیوې قبیلې نوم دی چې د بنو لحیان په نوم سره مشهوره ده په راتلونکي روایت کې لفظ د هذیل راغلی دی نو هغه څه منافات نه لري. ځکه چې هذیل لویه قبیله ده او لحیان د دې یو شاخ دی قصه دا وشوه چې د هذیل قبیلې دوه بنځې وې د یوې تعلق د لحیان سره وو او دواړه دیوبل بنې وې په هغوی کې یوې بله په کاڼي یا همساء سره ووهله هغه حامله وه په دې وهلو سره دهغه په خیټه کې ماشوم مړشو او حمل یې ضائع شو مقدمه د نبي علیه السلام په خدمت

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۲۵۲ رقم الحدیث ۶۹۰۹ ومسلم فی ۳/۱۳۰۹ رقم الحدیث (۱۶۸۱-۳۵) وأبوداؤد ۴/۷۰۱ رقم : ۴۵۷۷

کې راغله دوی دماشوم په دیت کې یو غلام یا یوه وینځه مقرر کړه. ( المرقات ۴۳/۷)

**غرة**: غره د اس په تندي باندې سپین داغ ته وایي بیا ددې اطلاق په هر روښانه او واضح څیز باندې وشو تردې چې دغرې اطلاق په غلام او وینځه باندې وشو چې روښانه مال دی او د عبد او امة الفاظ ددې غرة تفسیر او وضاحت دی او دا ظاهره ده چې دا الفاظ دنبي علیه السلام خپل دي د کوم راوي وضاحت نه دی په راتلونکي روایت نمبر ۱۷ کې ددې الفاظو سره د فرس او بغل مزید الفاظ لګیدلې دي هغه دچا راوي دطرف نه دي چې په وهم مبني دی دا روایت دمشکوة شریف په صفحه نمبر ۳۰۴ باندې موجود دی اګرچه په خپله کې مړشو او راوتو نوهمدا حکم دی، او که ژوندی پیدا شو او بیا په دې ضرب (وهلو) سره مړشو نو په دې کې پوره دیت لازمیږي.

**غرة**: د پوره دیت شلمه حصه ده چې پنځه سوه درهمه جوړیږي هرکله چې پوره دیت لس زره درهمه راځي. راتلونکي دحضرت مغیره بن شعبهؓ والا روایت کې دي چې نبي علیه السلام دغرة دا دیت په عاقلو باندې کیخودو په دې سره شبهه پیدا کیدی شوه چې کله دیت په عاقله باندې دی نو بیا ددې سړې دیت به هم عاقلو ته ملاویدل پکار وو دچا دطرف نه چې عاقله دیت ډک کړی دی ددې شبهې لرې کولو دپاره په حدیث کې دا الفاظ راغلي دي **ثم ان المرأة**: یعنې چې کومې ښځې جنایت کولو سره د دویمې ښځې ماشوم مړکړی وو او هغه په خپله مړه شوه او ددې دمیراث مسئله پیدا شوه نو نبي علیه السلام دمیراث فیصله دهغې وارثانو دپاره وکړه چې میراث به ددې ښځې ځامنو او خاوند ته ملاویږي او دیت به ددې ښځې په عصبه باندې راځي، دلته دمیراث تصریح دځامنو او خاوند دپاره ځکه وشوه چې دښځې وارثان هغه وخت هم دوی وو، دحدیث مطلب دادی چې میراث د وارثانو دی که څوک هم وارث شي، ددې حدیث نه معلومه شوه چې قاتله ښځه مړه شوه او روستو روایت نه معلومه شوه چې هغه ښځه مړه شوه چې دکومې په خپله کې ماشوم مړ شوی وو، رومبی ماشوم مړ شو او روستویې مور مړه شوه، نو په دې تفاوت سره د تعارض دوه جوابه دي: اول جواب دا چې شاید دوه جدا جدا واقعې وي، دویم جواب دادی چې په دې حدیث کې د **قضي علیها بالغرة** الفاظو کې **علیها** په معنی دلها دی یعنې چې دکومې ښځې دپاره ددیت فیصله شوې وه هغه مړه شوه، دارنګه په باقي روایاتو کې به تعارض نه راځي عامو شارحینو د **علیها** ضمیر جانیه قاتله طرف ته راجع کړی دی او د **قضی** صیغه معروف اومجهول دواړه قسمه لیکلې ده. ملاعلي قاري رومبی خو ضمائر جانیه قاتله سره لګولې دي او روستویې د تحقیق په درو ان کې یې لیکلې دي چې

دا مړه شوې ښځه جانیه نه وه بلکه مجنیه وه. ( المرقات ۴۳/۷)

**عاقله کوم خلق دي ؟ علي عصبتها**: اي علی عاقلتها په شرح السنة کې لیکلې دي چې عقل دیت ته وایي او دیت ته عقل په دې وجه ویلی شوی دی چې عقل دترلو په معنی سره دی، او دیت ورکولو والا به هم ددیت اوښان د مقتول د کور خوا کې ترل. بعضو ویلې دي چې عقل دمنع کولو په معنی دی ځنګه چې په عقل انساني کې هم د منع کولو معنی موجود ده نو دیت ته عقل په دې وجه ویلی شوی دی چې دا هم انسان لره دقتل وغیره د جرم نه منع کوي په دې مناسبت سره عصبه او خاندان والو ته عاقله وایي. ( المرقات ۴۴/۷، ۴۳)

دلته په زیربحث حدیث کې په عصبو باندې دیت لره لازم کړی شوی دی او روستو مغیره بن شعبه په روایت کې هم ددیت لزوم په عصبو باندې ایخودلی شوی دی، نو ددې نه مسئله پیدا شوه چې آیا دسړي عاقله او ددیت ډکولو ذمه دار صرف عصبه او د سړي خاص د وینې رشتې سره منسلک خاندان وي یا عاقله نور خلق هم کیدی شي په دې کې دفقهاو اختلاف دی.

**د فقهاو اختلاف** : د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد په هرحال کې هم عصبه عاقله دي دعصبو نه علاوه کوم بل سړی عاقلو کې داخلیدی نشي. داحنافو امامانو په نزد اهل تناصر او په عامو مصائبو کې دیو بل مددګار خلق هم په عاقله کې داخل دي، د نبي علیه السلام په زمانه کې هم عصبات اهل تناصروو لهذا همدا عاقله وو مګر د حضرت عمرفاروقؓ په زمانه کې اهل دیوان اهل تناصر ګڼلی شو نو حضرت عمرؓ دټولو صحابو په موجودګی کې یې اهل دیوان لره عاقله وګرځول او چاهم په دې باندې نکیر ونه کړو . کذافي نصب الرایة. خلاصه داچې کوم سړی په یو دفتر کې ملازم دی نو دده هم پیشه خلق ټول دده دپاره عاقله دي دعدالت خلق په خپل مینځ کې عاقله دي. دپولیس د محکمې خلق دیو بل عاقله دي غرض هم پیشه خلق د یو بل دپاره عاقله دي په دې سره دانساني ځانونو حفاظت کیږي ځکه چې هر سړی دبل دپاره نګران جوړشي او دده د لاس نه قتل خطاء ونه شي ورنه زه به دعاقله کیدو دوجې نه په تاوان کې راشم. په حدیث کې یې عصبه لره عاقله وګرځول نو ددې وجه همدا ده چې هغه وخت کې عصبه خلق هم اهل تناصر وو نو هم هغوی عاقله وو ددې مطلب دانه دی چې نور خلق عاقله نه شي جوړیدی.

## د کاڼي په ذریعې سره په کیدونکي قتل کې به دیت واجب وي

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ﴿۳﴾ وَعَنْهُ | قَالَ: | اقْتَتَلَتِ | امْرَأَتَانِ | مِنْ هُذَيْلٍ |

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي (چې یوه ورځ) دهذیل د قبیلې دوه ښځو په خپل مینځ کې په جنګ شوې

| |
|---|
| فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا |
| په دوی کې یوې ښځې بله په کانې وېشته چې په هغې سره هغه ښځه مړه شوه او دهغې په خیټه کې |
| فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ دِيَةَ جَنِينِهَا |
| ماشوم هم مړشو. نبي علیه السلام حکم وکړو چې دمقتولې ددې ماشوم دیت چې ددې په خیټه کې |
| غُرَّةٌ: عَبْدٌ أَوْ وَلِيدَةٌ وَقَضَى بِدِيَةِ |
| مړشو غره یعني وینځه یا یو غلام دی او حکم یې وفرمایلو چې دمقتولې دیت دقاتلې په خاندان |
| الْمَرْأَةِ عَلَى عَاقِلَتِهَا وورَّثَهَا ولدَها |
| والو باندې دی دارنګه ددې دیت وارثان یې دهغه ځامن او هغه خلقو لره جوړ کړو چې دځامنو سره |
| وَمن مَعَهم متفق عليه (صَحِيح)[1] |
| یې (په وراثت کې شریک) وو. (بخاري ومسلم) |

**توضيح** : **فقتلها** : داسې معلومیږي چې دا واقعه ددې مخکنۍ واقعې نه مختلفه ده ځکه چې په هغې کې دا ذکر وو چې رومبی ماشوم په خیټه کې مړ شو بیا اسقاط وشو او ښځه په خپله مړه شوه مګر دلته خو تصریح ده چې یو کانې ویشتلو سره ښځه هم مړه شوه او دهغې ماشوم هم مړشو او دا عمل په یوځل فوري طور باندې وشو بهرحال دې روایاتو سره دا خبره په واضح طور باندې مخې ته راغله چې قتل بالمثقل سره دیت لازمیږي قصاص نه راځي.

**بدية المرأة** : ددې نه مقتوله ښځه مراد ده چې ام الجنین ده. **علي عاقلتها** یعني دقاتلې ښځې دعاقلو په ذمه دمقتولې دیت یې مقرر کړو د ها ضمیر قاتلې طرف ته واپس کیږي **وورثها** د ورث د فاعل ضمیر د رسول الله ﷺ طرف ته راجع دی او **دها** ضمیر **دية** طرفته راجع کیږي **ولدها** دلته ولدها مفعول به واقع شوی دی، یعني نبي علیه السلام د مقتولې د دیت وارث ددې مقتولې ځوی جوړ کړو او چې ځوک ورسره وو هغه یې وارث جوړکړل. د ملاعلي قاري رحمه الله دکلام نه معلومیږي چې دلته ولدها جمع سره دی یعني اولادها په دې صورت کې د **ومن معهم** ضمیر اولاد طرف ته راجع دی مګر که په **ولدها** کې د لفظ ولد مفردوي بیابه ورسره دجنس معامله کولی شي نو د **معهم**

---

(1) أخرجه البخاري في صحيحه ١٢/٢٥٢ رقم الحديث ٦٩١٠ ومسلم في ٣/١٣٠٩ رقم الحديث (١٦٨١-٣٦) وأبوداؤد في ٤/٧٠١ رقم: ٤٥٧٦

د ضمير مسئله به حل شي چې جنس ولد طرف ته د جمع ضمير واپس کړی شو او د جنس اطلاق به قليل او کثير دواړو باندې کيږي.

﴿۴﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ: أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا ضَرَّتَيْنِ

او حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي دوه ښځې په خپل مينځ کې بنې وي (يوه ورځ په جګړه شوې) په دوی

فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ أَوْ عَمُودِ فُسْطَاطٍ فَأَلْقَتْ جَنِينَهَا

کې يوې بله (چې حامله وه) په کانې يا د خيمې په چوب (لرګي) سره ووهله چې په هغې سره يې حمل ساقط شو.

فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ غُرَّةً: عَبْداً أَوْ أَمَةً

لهذا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخيټې د بچې په وجه سره د غره يعني يوه وينځه يا د يو غلام ورکولو حکم وکړو

وَجَعَلَهُ عَلَى عَصَبَةِ الْمَرْأَةِ هَذِهِ رِوَايَةُ التِّرْمِذِيِّ

او ديت هغه په وهونکې ښځې باندې واجب کړو. دا د ترمذي روايت دی او د مسلم په روايت کې

وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ: قَالَ: ضَرَبَتِ امْرَأَةٌ ضَرَّتَهَا بِعَمُودِ فُسْطَاطٍ

داسې دي چې حضرت مغيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې يوې ښځې خپله بنه چې حامله وه د خيمې په چوب (لرګي)

وَهِيَ حُبْلَى فَقَتَلَتْهَا قَالَ: وَإِحْدَاهُمَا لِحْيَانِيَّةٌ

سره ووهله چې د هغې په وجه سره مړه شوه مغيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې په دې دواړو کې يوه د لحيان

قَالَ: فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَةَ الْمَقْتُولِ عَلَى عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ

د خاندان نه وه د مغيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مقتولې ديت د قاتلې په عاقله باندې

وَغُرَّةً لِمَا فِي بَطْنِهَا. أخرجه مسلم والترمذي.[1]

واجب کړو او د خيټې د بچې ديت کې يې غره يعني يوه وينځه يا يو غلام د ورکولو حکم يې وکړو.

**توضيح**: ضرتين دا د ضرة تثنيه ده او ضرة بنې ته وايي عمود ستنې او د خيمې غټ بانړس ته وايي فسطاط غټې خيمې ته وايي دا حديث هم دامام ابو حنيفه رحمه الله دليل دی چې قتل بالمثقل عمد نه دی بلکې شبه عمد دی په دې سره دلته د دې قتل په بدله کې قصاص نشته بلکه ديت واخستلی

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۲/۲۴۷ رقم الحديث ۶۹۰۵ بنحوه ومسلم في ۳/۱۳۱۱ رقم الحديث (۱۲۸۲-۲۸) والترمذي في السنن ۱/۱۷ رقم الحديث ۱۴۱۱.

شو، شوافع حضرات فرمايي چې دلته دکانې نه وړوکی کانې مراد دی او دلرګي نه وړوکی لرګی مراد دی، احناف وايي چې په حديث کې څه قيد نشته چې دا څيزونه واړه وو. ( المرقات ۴۷/۷)

## د قتل خطاء او شبه عمد ديت

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۵﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې پوهيدل پکار دي چې

"أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَأِ شِبْهِ الْعَمْدِ مَا كَانَ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا

قتل خطاء دکوم نه چې مراد شبه عمد دی چې دکوړې او همساء په ذريعه سره واقع کړی شوی وي،

مِائَةٌ مِنَ الإِبِلِ: مِنْهَا أَربعونَ فِي بطونِها أَولادُها".

ددې ديت سل اوښان چې په کې څلويښت داسې اوښانې هم کيدل پکار دي چې په خيټو کې يې بچي وي

رَوَاهُ النسائيُّ وَابْن مَاجَه والدارمي[1] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُد عَنهُ وَابْن مَاجَه وَعَن ابْن عمر.[2]

(روايت کړې دې نسائي او ابن ماجه او دارمي) ابوداؤد دې روايت لره د ابن عمرو او ابن عمر

وَفِي «شَرْحِ السُّنَّةِ» لَفْظُ «الْمَصَابِيحِ» عَنِ ابْنِ عمر

دواړو نه نقل کړی دی دارنګه شرح السنة کې دا روايت د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه بالفاظ مصابيح نقل کړی شوی دی.

**توضيح:** الا ان دية الخطاء : علامه طيبي رحمه الله وايي چې د شبه العمد الفاظ د دية الخطاء نه بدل واقع دي او ماكان بالسوط والعصا دا د هغې بدل نه بدل دی، دا ټول بدل او مبدل منه په يو ځای کيدو سره د ان دپاره اسم شو او مائة من الابل د ان خبر دی د عبارت ترجمه به داسې شي: (الكاشف : ۸۵/۷)

خبردار قتل خطا يعني شبه عمد چې په کوړې او امسا سره واقع شوی وي د ددې ديت سل اوښان دي ددې حديث نه د قتل عمد، قتل شبه عمد، قتل خطاء، قتل جاري مجراي خطا، او قتل تسبب د تقسيم طرف ته اشاره راوځي، دا روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله د مسلک واضح دليل دی چې قتل بالمثقل شبه عمد دی چې په هغې سره قصاص نشته بلکه ديت دی او دا ديت مغلظ به وي داحنافو

---

(۱) أخرجه النسائی فی السنن ۸/۴۲ رقم الحديث ۴۷۹۹ وابن ماجه فی ۲/۸۷۸ رقم الحديث ۲۶۲۸ . والدارقطنی فی ۳/۱۰۵

(۲) أخرجه أبوداؤد فی السنن ۴/۶۸۲ رقم الحديث ۴۵۴۷ عن ابن عمرو وأخرجه عن ابن عمر رقم الحديث ۴۵۴۸.

په نزد دیت مغلظ سل اوښان دي مګر د اداء کولو ترتیب ارباعًا دی یعني د پنځویشت پنځویشت په حساب سره به وي، او د شوافع په نزد دا ترتیب اثلاثًا یعني د دیرش دیرش او څلویښتو په حساب سره به وي تفصیل مخکې تیر شوی دی. (الکاشف: ۸۵/۷)

## د بدن د مختلفو اندامونو دیت

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ أَبِيهِ

او حضرت ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم د خپل والد (حضرت محمد بن عمرو) نه او هغه د ابوبکر

عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى أَهْلِ الْيَمَنِ

د نیکه نه (حضرت عمرو بن حزم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه روایت کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دیمن والو ته یو هدایت نامه

وَكَانَ فِي كِتَابِهِ: «أَنَّ مَنِ اعْتَبَطَ مُؤْمِنًا قَتْلًا

ولیږله چې په هغې کې لیکلی شوی وو چې کوم سړی په قصد سره کوم مسلمان لره په ناحقه مړ کړي

فَإِنَّهُ قَوَدٌ يَدِهِ إِلَّا أَنْ يَرْضَى

نو ددې د لاسونو دفعل قصاص دی مګر دا چې د مقتول وارثان راضي شي (یعني که د مقتول

أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ» وَفِيهِ:

وارثان قاتل لره معاف کړي او په دیت اخستو باندې راضي شي نو هغه به نه شي قتلولی) په دې هدایت نامه کې

«أَنَّ الرَّجُلَ يُقْتَلُ بِالْمَرْأَةِ»

دا هم ووچې د (مقتولې) ښځې په بدله کې به (قاتل) سړې لره په قصاص کې قتل کړی شي په دې

وَفِيهِ: «فِي النَّفْسِ الدِّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ وَعَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفُ دِينَارٍ

کې دا هم لیکلی شوې وو چې د نفس دیت سل اوښان دي او چا سره چې سره زر وي هغه دې زر دیناره ورکړي

وَفِي الْأَنْفِ إِذَا أُوعِبَ جَدْعُهُ الدِّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ وَفِي الْأَسْنَانِ

او د پوزې دیت کله چې هغه پوره کټ کړی شوې وي سل اوښان دي او د غابنونو دیت (هر کله چې

الدِّيَةُ وَفِي الشفتين

هغه ټول مات کړی شوې وي) پوره دیت (یعني دسل اوښانو تعداد) دی او د شونډو دیت (هر کله چې

الدِّيَةَ وَفِي البيضين الدِّيَةُ

هغه پوره کټ کړی شوې وي) پوره دیت دی او د دواړو خصیتینو په کټ کیدو سره هم پوره دیت دی،

| |
|---|
| وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ وَفِي الصُّلبِ الدِّيَةُ |
| او د ملا د هډوکي په ماتيدو باندې پوره ديت دی او د خاص اندام په کټ کيدو باندې پوره ديت دی |
| وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الرِّجْلِ الْوَاحِدَةِ نِصْفُ الدِّيَةِ |
| او د دواړه سترګو په ړندیدو باندې هم پوره ديت دی او د څپې په کټ کيدو باندې نيم ديت دی او د سر |
| وَفِي الْمَأْمُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي الجَائِفَةِ ثلث الدِّيَة |
| د څرمنې په زخمي کيدو باندې دريمه حصه د ديت دی او د څيتې په زخم کيدو باندې هم دريمه حصه ديت دی |
| وَفِي المنقلة خمس عشر مِنَ الْإِبِلِ |
| دغه شان په زخمي کيدو باندې چې د هډوکي يو ځای کې ښکاره شوی وي پنځلس اوښان ورکول واجب دي |
| وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ |
| او د لاس او د څپو په کوتو باندې په هره يوه کوته باندې لس اوښان ورکول واجب دي او په هر يو |
| وَفِي السِّنِّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَفِي رِوَايَةِ مَالِكٍ: |
| غاښ باندې پنځه پنځه اوښان دي. (نسائي دارمي) او د امام مالکؒ په روايت کې دا الفاظ دي |
| «وَفِي الْعَيْنِ خَمْسُونَ وَفِي الْيَدِ خَمْسُونَ |
| چې د يوې سترګې په ړندیدو باندې ديت پنځوس اوښان دي او د يو لاس او يوې خپې ديت پنځوس |
| وَفِي الرِّجْلِ خَمْسُونَ وَفِي الْمُوضِحَةِ خَمْسٌ» اخرجه الدارمي.(۱) |
| پنځوس اوښان دي او د اسې زخم چې په هغې کې هډوکی ښکاره شي ديت يې پنځه اوښان دي. |

**توضيح**: اعتبط: اوښه بغير د بيمارۍ نه حلالولو ته اعتباط وايي دلته د اعتباط نه مراد دادی چې بغير د څه جرم او جنايت نه چا يو مسلمان قصداً مړ کړو. (المرقات ۴۲/۷)

**فانه قوديده قود**: په معنی د موقود دی د قصاص په معنی سره دی دا د **القياد** نه ماخوذ دی او قاتل هم په قصاص کې د مقتول د اولياو مخکې اطاعت کوي. **قوديده** يعني د خپل لاس د جرم په وجه سره د قصاص مستحق کيږي، ګويا چې د ده لاس د قصاص سامان پخپله پيدا کړو، يرضي اولياء المقتول

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۸/۵۷ رقم الحديث ۴۸۵۳/والدارمي في ۲/۲۵۳ رقم الحديث ۲۳۶۶ مالک في المؤطأ ۲/۸۴۹ رقم ۱ من كتاب العقول

: په قتل خطا او قتل شبه خطا او قتل شبه عمد کې په اتفاق سره دیت دی قصاص نه دی، او قتل عمد کې په اتفاق سره قصاص دی مګر که اولیاء د مقتول د دیت په اخستو باندې راضي شي نو داهم جائز دی چې هغه قاتل لره بالکل معاف کړي یا هغه سره صلح وکړي دیت ترې واخلي.

**داوښانو په موجودګی کې د هغې د قیمت په ادا کولو کې اختلاف**: اوس بحث دادی چې په دیت کې د اوښانو په ځای دینار او دراهم اخستی شي او که نه؟ په دې کې اختلاف دی، امام شافعي رحمه الله فرمایي چې که اوښان موجود وي نو سره زر سپین زر ورکول جائز نه دي، اوښان متعین دي ها کچیرې جانبین د اوښانو په ځای په نقدو باندې راضي شي نوبیا جائزدي. امام ابوحنیفه او امام احمد رحمهما الله فرمایي چې داوښانو په موجودګی کې سره زر او سپین زر هم اداءکولی شي دمقتول وارثان به یې اخلي. شوافع حضرات فرمایي چې په حدیث کې د سل اوښانو تصریح ده، احناف او حنابله فرمایي چې بیشکه دلته داوښانو ذکر دی مګر په طور دصلح او د طرفینو په رضامندی سره د اوښانو نه علاوه مقررشده او فیصله شوې څیزونه هم د اوښانو بدل جوړیدی شي که هغه سره زر وي یا سپین زر وي یا نور قسمونه وي **الف دینار** په زر ۱۰۰۰ دینارو کې د چاهم اختلاف نشته دی. البته په دراهمو کې اختلاف دی چې ددې مقدار دیت څومره دی نو د شوافعو په نزد دولس زره دراهم دي، او د احنافو په نزد لس زره دراهم دي، ددې باب په اول کې دا مسئله لیکلی شوې ده **اوعب د مکمل او کامل په معنی** سره دی.

**جدعه جدع** د باب فتح نه د پوزې د کټ کیدو په معنی سره دی یعنې کله چې یې مکمل پوزه کټ کړه.

**بیضتین**: نه مراد **خصیتین** دي د خصیتینو په کټ کیدو سره مکمل دیت دی، د ذکر هم دا حکم دی په دې شرط چې مضروب سړی دمخکې نه خصي یا عنین یا شیخ فاني نه وي، کیرې هغه مخکې نه ددې څیزونو نه فارغ وي نو هیڅ باک نشته **الصلب** ددې نه مراد ملا او دملا دهډوکي ماتول دي **مأمومة** ام الرس نه ماخوذ دی دا هغه زخم دی چې د سر په کوپړۍ کې لګیدلی وي او دماغوته رسیدلی وي.

**الجائفة**: دا د جوف نه دی جوف دخیټې او د مینځ په معنی سره دی، لهذا ددې زخم مصداق هغه هم کیدی شي چې نیزه وغیره په خیټه وغیره کې ننوځي یا د سر په مینځ کې زخم ولګي یا په ملا کې ولګي او آخرته ورسي دا ټول د جائفه مصداق دي مګر رومبی مفهوم زیات واضح دی چې خیټه کې دننه زخم لګیدلی وي هغه جائفه دي.

**المنقلة**: هډوکی مات شي او خپل ځای نه وخوزي دې ته منقله وایي په دې کې دیت پنځلس اوښان دي.

**الموضحة**: داهغه زخم ته وایي چې دهغې په وجه سره د هډوکي نه څرمن اوچته شي او غوښه کټ

شي او هډوکی ښکاره شي، دا خبره ددې نه مخکې لیکلی شوې ده چې د دیت د زیاتیدو او کمیدو وجه دجرم نوعیت دی، کچرې نقصان داسې اندام ته ورسي چې هغې ته په انساني بدن کې مرکزي حیثیت حاصل وي او ددې اندام پوره منفعت ختم شوی دی چې دهغې په ذریعه سره دبدن ښکلا او وزن ته مکمل نقصان رسیدلی دی نوپه داسې صورت کې پوره دیت واجب دی، کچیرې ددې نه دکمې درجې نقصان دی نو بیا د نیم یاد دریمې حصې دیت حکم به جاري کیږي دا ضابطه دنبي اکرم ﷺ دهغه مبارک حکم نه حاصلیږي چې په هغې کې د داسې مخصوص اندام په ضائع کیدو سره پوره دیت ورکولو حکم فرمایلی دی دکوم اندام په ضائع کیدو سره چې دانسان په جمال او کمال کې فرق راځي او دسړې عظمت او شان اوشوکت ته نقصان رسي مثلاً پوزه ده یا ژبه ده یا سترګې دي په دې سره دانسان پوره منفعت ضائع کیږي. حضرت عمرفاروقؓ په خپل دورخلافت کې دیو زخم په وجه سره څلور دیتونه واجب کړي وو ځکه چې زخم خو یو وو مګر دهغه سړې عقل هم په دې زخم سره زائله شوی وو او دهغه لیدل او کتل او مردانه قوت او عقل او وینا څلور څیزونه زائله شوې وو.

عن عمر بن الخطاب انه قضى في رجل ضرب رجلا فذهب سمعه وبصره ونكاحه و عقله بأربع ديات (زجاجة المصابيح ج۳ ص۲۹)

## په دیت کې د برابر اندامونو بیان

﴿۷﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم او فیصله یې

فِي الْمَوَاضِحِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ وَفِي الْأَسْنَانِ

چې د داسې زخم دیت چې په کې هډوکي ښکاره شي پنځه پنځه اوښان دي او د غاښونو (یعني د

خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

هر غاښ) دیت پنځه پنځه اوښان دي. (روایت کړې دې ابوداؤد، نسائي، دارمي) ترمذي او

وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وابنُ مَاجَه الْفَصْل الأول[1]

ابن ماجه (د دې حدیث) اولنې جزء نقل کړې دي (الفصل الاول) نه مراد دجملې اولنی حصه ده.

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: جَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړه لاسونو او د دواړو خپو

---

(۱) أخرجه أبوداود فى السنن ۴/۱۹۵ رقم الحديث ۴۵۶۶ والترمذي فى ۴/۷ رقم الحديث ۱۳۹۰ والنسائى فى ۸/۵۷ رقم الحديث ۴۸۵۲

| | | | |
|---|---|---|---|
| أَصَابِعَ | الْيَدَيْنِ | وَالرِّجْلَيْنِ | سَوَاءٌ. |
| تولو گوتو لره برابري گرځولي دي (تردې چې غټې گوتې او کچې گوتې لره يې ديوې بلې برابر گرځولې | | | |
| رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد | وَالتِّرْمِذِيّ | (صَحِيحٌ)[1] |
| دي، اگرچه د بندونو په اعتبار سره په دواړو کې فرق دي. (ابو داؤد، ترمذي) | | | |
| ﴿۹﴾ وَعَنْهُ | قَالَ: | قَالَ رَسُولُ اللهِ | صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: |
| او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې نبي عليه السلام وفرمايل (ددیت په اعتبار سره) تولې | | | |
| «الأصابعُ | سواءٌ | والأسنانُ | سواءٌ |
| گوتې برابرې دي او تول غاښونه برابر دي (اگرچې بعضې غاښونه غټ دي او بعضې واړه دي) او | | | |
| الثَّنِيَّةُ | وَالضِّرْسُ | | سَوَاءٌ |
| دمخې غاښونه او داړې برابرې دي (اگرچې داړې دمخې غاښونو نه غټې دي خو ددیت په اعتبار سره برابر دي) | | | |
| هَذِهِ | وَهَذِهِ | سَوَاءٌ». رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد (حسن)[2] |
| دارنګه نبي عليه السلام غټې گوتې او کچې گوتې طرف ته اشاره کولو سره او خو دل چې) دا او دا برابرې دي. (ابو داؤد) | | | |

**توضیح** : پاسني درې واړه حدیثونه يې د يو عنوان لاندې په دې وجه کيخودلی شو چې ددې تولو تعلق د غاښونو او گوتو سره دی په حدیث نمبر ۷ کې مواضح لفظ راغلی دی اودا د موضحه جمع ده، موضحه هغه زخم ته وايي چې په هغې سره څرمن واوړی او هډوکی ښکاره شی په دې کې پنځه اوښان دیت کې ورکول دي، ددیت دا تعین د شارع کار دی په دې کې قیاس ته هم څه دخل نشته دی. په حدیث نمبر ۹ کې ثنیة لفظ راغلی دی ددې جمع ثنایا ده مخې ته غاښونو ته رباعی وايي ددې سره ثنایا دي، ددې نه پس اضراس اونواجذ دي، ضرس داړې ته وايي يعنې واړه او لوی غاښونه په دیت کې برابر دي، دغه شان گوتې برابرې دي اگرچه د غټې گوتې دوه بندونه وي. هذه وهذه سواء کې اشاره غټې گوتې او دلاس کچې گوتې طرفته ده . دا د شریعت حکم دی عقل او قیاس ته دلته دخل نشته دی اگرچه غټه گوته کې جوړونه کم دي او کچه گوته کې زیات دي.

نہ ہر جائے مرکب تواں تاختن — کہ جاہا سپر باید انداختن

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۹۱ رقم الحديث ۴۵۶۱ وأخرج الترمذی نحوه مختصرًا ۴/۸ رقم الحديث ۱۳۹۱

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۹۰ رقم الحديث ۴۵۵۹ وابن ماجه فی ۲/۸۸۵ رقم الحديث ۲۶۵۰

یعني هرځای عقلي اسونه نه شی زغلولی ډیرو ځایونو کې وسله غورزول راځي.

## ددمي کافر دیت دمسلمان د دیت په نیمه دی

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

اوحضرت عمرو بن شعیب دخپل پلار (حضرت شعیب رحمه الله) نه او هغه دخپل نیکه نه نقل کوي وایي

خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الفتحِ

چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې د فتحې په کال یوه خطبه ورکړه اوپه دې کې یې (د حمد اوثناء) نه

ثُمَّ قَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ وَمَا كَانَ

پس وفرمایل چې خلقو په اسلام کې د قسم او عهد وپیمان کول جائز نه دي مګر هر هغه عهد او

مِنْ حِلْفٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ لَا يَزِيدُهُ

قسم چې د جاهلیت په زمانه کې وو، اسلام دا په مضبوطي سره قائموي (یادساتئ) ټول مسلمانان د خپلو

إِلَّا شِدَّةً الْمُؤْمِنُونَ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ

غیرو (یعني کافرو) په مقابله کې (دنیکو په خورولو او خپل مینځ کې دیوبل مدد کار کیدو کې) دیو لاس په شان دي

يُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيَرُدُّ عليهم أَقْصَاهم

یو ادنی مسلمان هم د ټولو مسلمانانو د طرف نه پناه ورکولی شي او هغه مسلمان هم حق لري چې د ټولو مسلمانانو نه لرې وي

يَرُدُّ سرايَاهم على قعيدتِهم

او د مسلمانانو لښکر هغه مسلمانانو له رهم د (مال غنیمت) حقدار جوړولی شي چې (دلښکر سره نه وي تلی بلکه) ناست وي،

لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ دِيَةُ الْكَافِرِ

(خبردار) هیڅ یو مسلمان د ډیو حربي کافر په بدله کې قتل نه کړی شي او د (ذمي) کافر دیت د

نِصْفُ دِيَةِ الْمُسْلِمِ لَا

مسلمان د دیت په نیمه دی او (د زکوة وصولونکی کارکن دې په خاص طور سره واوري چې) د زکوة

جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا تُؤْخَذُ

څاروي دې رانه خکلی شي او د (زکوة ورکونکي دې هم واوري چې هغوی) دې خپل څاروي چرته لرې

صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُورِهِمْ». وَفِي رِوَايَةٍ

نه بوځي، چې زکوة دپاره دې دهغوی کورونو ته لاړشي او وصول دې کړي. او په يو روايت کې دا هم

قَالَ: «دِيَةُ الْمُعَاهِدِ نِصْفُ دِيَةِ الْحُرِّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

دي چې د عهد والا ديت د آزاد د ديت په نيمه دی (روايت کړې دې ابوداؤد)

**توضيح**: **لاحلف في الاسلام**: حلف دحا په کسره او دلام په سکون سره عهد او معاهدې ومعاقدې ته وايي. په دې کې دقسم مفهوم موجود دی دجاهليت په زمانه کې دا عهد داسې وو چې دوه سړي يا دوه فريقو به په خپل مينځ کې قسم خوړلو سره دا معاهده کوله چې کچيرې په تاسو څه مصيبت راشي يا په مونږ کې په چاباندې مصيبت راشي نو مونږ به ديو بل مدد او نصرت کوو په دې مصيبت کې به دواړه شريک وي په جګړه کې به دواړه يو بل سره شريک وي په ميراث کې به ديو بل وارثان وي او په تاوان او نقصان کې به شريک وي، که ظالم وي او که مظلوم وي، په دې معاهده کې دظالم نصرت وو او هرجائز اوناجائز کې بې ځايه امداد وو، په دې وجه نبي عليه السلام دې لره منع کړو او چونکه دميراث والا آيت ددې معاهدې حيثيت لره باطل کړو په دې وجه ددې منع والی وکړی شو.

**لايزيده الاشدة**: په جاهليت کې چيرته چې به ناجائزه معاهدې کيدې، هلته څه معاهدې داسې هم وې چې په انصاف باندې مبني وې مثلا يوه حلف نامه داسې وه چې دمظلوم مدد به کوو خپلولي به قائمو او دانساني جائزو حقوقو به حفاظت کوو، اسلام دا معاهده باقي وساتله او نبي عليه السلام اعلان وفرمايلو چې اسلام دې لره مضبوط وي، خلاصه داچه نبه معاهده نبه ده او په دې به عمل کولی شي او بده معاهده بده ده ددې نه به ځان ساتلی شي.

**قعيدتهم**: قعيده او القاعده د مرکزپه معنی سره دي دا د اسلامي فوج مرکز اولويې چاونې او کيمپ ته وايي، مطلب دادی چې مرکز کومو چهاپه وهونکو دستو لره لرې لرې علاقوته دفوجي کارواييې دپاره ليږلې وي يا پخپله هغه دستې تلې وي او هغوی ته مال غنيمت حاصل شو نوپه هغوی لازم دي چې پوره مال غنيمت راوړي او مرکز کې يې جمع کړي د يرد مفعول به دواړه ځايه محذوف دی چې **الغنيمة** دی دا جمله دماقبل يرد دپاره په منزله دبيان ده بکافر کې کافر نه حربي مراد دی دا داحنافو مسلک دی.

---

(1) أخرجه أبوداود في السنن ٤/٧١٧ رقم الحديث ٤٥٨٣ وأحمد في المسند ٢/١٨٠

**دکافر ددیت مقدار**: دیة الکافر نصف دیة المسلم : یعني د ذمي کافر دیت دمسلمان د دیت په مقابله کې نیم دی، دحربي کافر دقتل څه دیت نشته دی او د ذمي دیت کې دفقهاو اختلاف دی.

**دفقهاؤ اختلاف**: دامام مالک رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نزد د کافر دیت دمسلمان ددیت په نیمه دی، امام شافعي رحمه الله فرمائي چې دغیرمسلم ذمي دیت دمسلمان د دیت په مقابله کې یو ثلث یعني دریمه حصه ده. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چې دمسلمان او ذمي دیت برابر دی، یادساته! چې دجمهورو په نزد پوره دیت دولس زره دراهم دي او ددې نیم شپږ زره دراهم دي ددې ثلث څلور زره دراهم دي. داحنافوپه نزد پوره دیت لس زره دراهم دي ددې نیم پنځه زره دراهم دي.

**دلائل**: د امام مالک رحمه الله او امام احمدرحمه الله دلیل هم دا زیر بحث حدیث دی چې په کې دنیم دیت تصریح موجود ده، د امام شافعي رحمه الله دلیل د مصنف عبدالرزاق یو حدیث دی چې دهغې الفاظ دادي. **انه علیه السلام فرض علی کل مسلم قتل رجلا من اهل الکتاب اربعة آلاف درهم (مصنف عبدالرزاق)**

د احنافو امامانو دلیل په مراسیل ابوداؤد کې یو مرفوع حدیث دی چې دهغې الفاظ دادي.

**عن سعید بن المسیب قال قال رسول الله صلي الله علیه وسلم دیة کل ذي عهد في عهده الف دینار (زجاجة المصابیح ج۳ص۳۰)**

د احنافو امامانو دویم دلیل د دارقطني یو روایت دی: **ان النبي صلي الله علیه وسلم ودی ذمیاً دیة مسلم** د دارقطني بل روایت کې دي. **ان النبي صلي الله علیه وسلم جعل دیة المعاهد کدیة المسلم.**

د احنافو دریم دلیل د ترمذي په باب الدیات کې دحضرت ابن عباسؓ مروي حدیث دی الفاظ یې دادي: **وعن ابن عباس رضي الله عنه ان النبي صلي الله علیه وسلم ودی العامریین بدیة المسلمین وکان لهما عهد من رسول الله صلي الله علیه وسلم**،، یعني د قبیلې عامر د دوو معاهدینو په قتل باندې نبي علیه السلام د دوو مسلمانانو د دیت برابر دیت اداء کړو.

ددې احادیثو نه علاوه احنافو دخلفاء راشدینو دقضاګانو او فیصلو نه هم استدلال کړی دی چې د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه په زمانه مبارکه کې او دحضرت عثمانؓ په دورمبارک کې دارنګه فیصله شوې وې چې دغیرمسلم دیت دمسلمان د دیت مساوي اوبرابر ګرځولی شوی وې.

**جواب** : احناف وایي مونږه چې دکومو احادیثو او دخلفاء راشدینو دفیصلو نه استدلال کړی دی هغه دنورو روایاتو نه راجح دي. **لاجلب ولاجنب** : دا لفظ په **کتاب الزکوة** کې هم راغلی دی او په کتاب الجهاد کې هم راغلی دی او دلته هم راغلی دی ددې تعلق کله دزکوة سره وي اوکله د اسونو مقابلو سره وي دواړه ځایه جداجدا مفهومه دي دلته دا جمله د زکوة متعلق ده په دې کې دزکوة وصولونکي کارکن ته ویلی شوې دي چې هغه دې دښار په مرکز کې کیني او زکوة ورکونکي ته دې دا نه وایي چې ته خپل ځاروي دلته ښار ته راوله دې دپاره چې زه یې معاینه وکړم او بیا زکوة وصول کړم، په دې کې دمالکانو دپاره ډیر مشقت دی. **ولاجنب** : ددې جملې تعلق دمالکانو سره دی چې هغوی خپل ځاروي لرې ځای ته بوځي چیرته چې د زکوة وصولونکی کارکن رسیدلی وي مالکانو هغه ته ویلې وي چې دلته راشه زمونږ ځاروي اوګوره او د زکوة مال وصول کړه په دې کې دزکوة وصولونکي دپاره ډیر مشقت دی. په دې وجه نبي علیه السلام دواړه صورتونه منع کړې دي چې لاجلب ولا جنب ددې جملې د تاکید اوتوضیح دپاره دحدیث مخکښ جمله ارشاد وفرمایلی شوه چې : **ولاتؤخذ صدقتهم الا في دورهم** دورڈ دار جمع ده کورترې مراد دی.

## د قتل خطا په دیت باندې د احنافو مستدل

| |
|---|
| ﴿۱۱﴾ وَعَنْ خِشْفِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: |
| اوحضرت خشف بن مالک رحمه الله دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي چې هغوي دا وویل |
| قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دِيَةِ |
| چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قتل خطاء دیت دا مقرر کړی دی چې شل اوښاني به هغه وي چې دویم کال ته داخلې |
| الْخَطَأِ عِشْرِينَ بِنْتَ مَخَاضٍ وَعِشْرِينَ ابْنَ مَخَاضٍ ذُكُورٍ وَعِشْرِينَ بِنْتَ لَبُونٍ |
| شوې وي او شل اوښان به هغه وي چې دویم کال ته داخل شوې وي او شل اوښاني به هغه وي چې دریم کال ته |
| وَعِشْرِينَ جَذَعَةً وَعِشْرِينَ حِقَّةً" . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ |
| داخلې شوې وي او شل اوښاني به هغه وي چې پنځم کال ته داخلې شوې وي. (ترمذي، ابوداؤد، |
| وَالنَّسَائِيُّ وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ |
| نسائي) ددې حدیث په باره کې صحیح خبره داده چې په ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې موقوف دی یعني دا د |

| |
|---|
| وَخِشْفٌ مَجْهُولٌ لَا يُعْرَفُ إِلَّا بِهَذَا الْحَدِيثِ |
| هغوی خپل قول دی او (ددې راوي) خشف یو غیر معروف راوي دی چې صرف ددې حدیث دوجې نه پیژندلی شي) |
| وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ |
| یعنې ددې نه علاوه بل یو روایت ترې نه نقل نه دی) بغوي رحمه الله په شرح السنة کې داسې نقل کړې دي |
| أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَى قَتِيلَ خَيْبَرَ |
| چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه سړي دیت چې په خیبر کې قتل کړی شوی وو (چې دچا تفصیلي |
| بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ وَلَيْسَ فِي أَسْنَانِ إِبِلِ |
| واقعه به په باب القسامة کې بیانیږي) په زکوة کې راغلې اوښانو نه سل اوښان ورکړي وو او د |
| الصَّدَقَةِ ابْنُ مَخَاضٍ إِنَّمَا فِيهَا ابْنُ لبون. اخرجه الترمذي وابوداود (حسن)[1] |
| زکوة په دې اوښانو کې هیڅ یو اوښ د یو کال نه کم نه وو بلکه د دوو دوو کالو وو. |

**توضیح** : **عشرین بنت مخاص** : د دیت مخففه د اوښانو د دیت او تقسیم بیان په دې حدیث کې ر اغلی دی د قتل خطاء په دیت مخففه کې د اوښانو تقسیم پنځه قسمه دی په دې کې دچا اختلاف نشته دی، البته امام شافعي رحمه الله دابن مخاض په ځای دابن لبون قائل دی. یعنې د شل بنت مخاض او شل ابن مخاض او شل بنت لبون او د شل حقو او د شلو جذعو چې کوم ترتیب په زیربحث حدیث کې راغلی دی په دې کې امام شافعي د ابن مخاض په ځای دابن لبون قائل دی، مګر احناف ددې قائل دي چې په دې حدیث کې ترتیب ذکر دی زیرنظر حدیث چونکه داحنافو مستدل دی په دې وجه شوافعو حضراتو ددې دکمزورې کولو دپاره درې اعتراضات کړې هغوی وایې چې(۱) ددې حدیث یوراوي خشف بن مالک مجهول دی(۲) اوداروایت دراصل په حضرت ابن مسعود رضي الله عنه باندې موقوف دی (۳) اودخیبر دمقتول دیت نبي علیه السلام اداء کړی وو په هغې کې ابن لبون ورکړې وو ابن مخاض ذکر په دې روایت کې نشته دی نو ابن لبون به اخستلی شي ابن مخاض به پریخودلی شي. **په حدیث باندې دشوافعو داعتراض جواب** : دشوافعو حضراتو دا ویل چې خشف مجهول دی ددې جواب محدثینو دا کړی دی چې خشف دخپل ورور مالک طائي نه روایت کوي دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه اخلي دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت کوي هغه څنګه مجهول

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۸۰ رقم الحدیث ۴۵۴۵ والترمذی فی ۴/۵ رقم الحدیث ۱۳۸۶ والنسائی فی ۸/۴۳ رقم الحدیث ۴۸۰۲

دی حالانکه قاعده داصول حدیث داده چې کله کوم یو کس دوو کسانو نه روایت کوي نو هغه مجهول نه دی بلکه معروف دی. دارنګه امام نسائي په شان نیوکه کونکی محدث د خشف بن مالک توثیق کوي ابن حبان خشف لره په ثقاتو کې شمارکړی. امام ترمذي او امام ابوداؤد، ابن ماجه په خپلو کتابونو کې د خشف نه روایت کوي لهذا دانصاف تقاضا داده چې په دې روایت باندې څه کلام ونه شي باقي دااعتراض چې دا روایت موقوف دی نو ملا علي قاري ددې جواب ورکړی کچیرې دا روایت موقوف هم وي نو څه باک نشته ځکه چې په دې روایت کې د اعداد شرعیه بیان شوی دی په کوم روایت کې چې د مقادیر شرعیو بیان وي هغه غیر مدرک بالقیاس وي چې د مرفوع په حکم کې وي لهذا دا حدیث د مرفوع په حکم کې دی. باقي د خیبر د مقتول دیت کې چیرته چې د ابن لبون لفظ راغلی دی نو په دې روایت کې ددې جواب هم شته چې هغه وخت د صدقې په اوښانو کې ابن مخاض موجود نه وو په دې وجه ابن لبون ورکړی شو، علامه شمني ددې په ځای دا جواب ورکړی دی چې د خیبر د دیت معامله د نبي علیه السلام د طرف نه د احسان او د تبرع په طور باندې وه څه ضابطه نه وه نبي علیه السلام د خپل طرف نه اکثر دیت اداء کړو نو هغه د صلحې یو صورت وو.

## د دیت مقرر کولو د پاره بنیاد څه ځیز دی؟

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ

او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي وایي چې د دیت (د سل اوښانو) قیمت

عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِمِائَةِ دِينَارٍ أَوْ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ

د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې اته سوه دیناره یا اته زره درهمه وو دارنګه په هغه زمانه د اهل کتابو

وَدِيَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ يَوْمَئِذٍ النِّصْفُ مِنْ دِيَةِ الْمُسْلِمِينَ

(یعني عیسائي او یهودي) دیت د مسلمان د دیت نه نیم وو. د هغه نیکه وایي دارنګه چې (د خلیفه

قَالَ: فَكَانَ كَذَلِكَ حَتَّى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ

کیدونه پس) حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم دیت مقرر کړی وو د هغې تفصیل دادی، په سرو زرو ساتلو والو

أَلْفَ دِينَارٍ وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ

باندې زر دیناره، او سپینو زرو ساتلو والا باندې دولس زره درهمه، د غواګانو والا و باندې دوه سوه

بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ

غواګانې، د چیلو په مالکانو باندې دوه زره چیلی او د کپړو تجارت کونکو باندې دوه سوه جوړې.

| |
|---|
| قَالَ: وَتَرَكَ دِيَةَ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرْفَعْهَا |
| راوي وايي چې حضرت عمر رضي الله عنه د ذميانو ديت هم هغسې وساتلو په دې کې يې څه اضافه ونه کړه |
| فِيمَا رَفَعَ من الدِّيَة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| څنګه چې يې په نورو ديتونو کې اضافه وکړه. (ابو داؤد) |

**توضيح**: **قال فرضها عمر رضي الله عنه**: ددې روايت په وجه د فقهاء کرامو په مينځ کې دا مسئله راوچته شوه چې ددیت په مقررولو کې اصل او معيار څه ځيز دی؟ ايا اوښ بنياد دی او که نقد دينار او دراهم د ديت په مقررکولو کې اصل دي يا ددې دواړو ځيزونو سره څه نور ځيزونه هم د ديت په مقررولو کې اصل دي په دې کې د فقهاو اختلاف دی. **دفقهاو اختلاف**: امام شافعي رحمه الله وائي چې اصل معيار اوښ دی د اوښانو د قيمت په حساب سره به دينار او دراهم مقرريږي سل اوښان يو ديت دی، لهذا د سلو اوښانو د قيمت په حساب سره، مثلاً په پاکستان کې به دروپو حساب کولو سره ديت ورکول وي د اوښانو دآرزانيدو او ګرانيدو سره به د روپو په کمښت او زيادت باندې اثر پرېوځي مګر په ديت کې اصل صرف اوښ دی، لهذا د مجبورۍ نه بغير د اوښانو په موجودګۍ کې به دهغې قيمت طرف ته نه شي تللی. د امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد د ديت په مقررولو کې شپږ ځيزونه اصل دي چې دا دي: (۱) اوښ (۲) سره زر (۳) سپين زر (۴) غواګاني (۵) چيلې (۶) د جامو جوړې. د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د ديت مقررولو کې درې ځيزونه اصل دي (۱) اوښ (۲) سره زره (۳) سپين زر. **دلائل**: امام شافعي رحمه الله د زير بحث حديث دهغه حصې نه استدلال کوي چې په هغې کې د اوښانو ذکر حضرت عمر رضي الله عنه بطور اصل کړی دی، دارنګه نورو احاديثو کې د سل اوښانو تصريح موجوده ده هغې سره دبل ځيز ذکر نشته دی لکه د حضرت عبدالله بن عمرو په روايت کې مأة من الابل والا الفاظ راغلي دي چې ددې باب په حديث نمبر ۵ کې مذکور دی، صاحبينو د زيربحث حديث نه استدلال کړی دی چې په کې د شپږو ځيزونو تصريح موجود ده. امام ابو حنيفه رحمه الله سل اوښان بطور اصل ګرځولو دپاره د ابوبکربن محمد روايت نمبر ۶ نه استدلال کړی دی چې په کې دا الفاظ دي **في النفس الدية مأة من الابل**. او سره زر او سپينو زرو لره بطور اصل ګرځولو دپاره يې د حضرت عمر رضي الله عنه يو روايت نه استدلال کړی دی چې امام محمد رحمه الله په خپل موطا کې ذکر کړی دی: **قال محمد بلغنا عن عمر رضي الله عنه انه فرض على اهل الذهب في الدية الف دينار ومن الورق عشرة آلاف درهم**. بيهقي او ابن

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۴/۶۷۹ رقم الحديث ۴۵۴۲

ابي شيبة هم د دې تخريج کړی دی.

**جواب**: د احنافو د طرف نه شوافعوته د اجواب دی چې کله په احاديثو کې د اوښانو نه علاوه د نورو څيزونو ذکر شته دی نو بيا ديت لره صرف په اوښانو کې منحصر کول جائز نه دي، صاحبينوته دا جواب دی چې په دې شپږ څيزونو کې ابل او فضه او د ذهب نه علاوه څيزونو کې انضباط نشته دی بلکه دزمانې په تغير سره د دې څيزونو په قيمت کې ډير تغير راځي نو دا به اصل څنګه جوړيږي، لهذا صرف اوښ او سره زر او سپين زر د اصل په طور باندې قبلول پکار دي.

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ جَعَلَ الدِّيَةَ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې هغوي دولس زره درهمه

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.(۱)

ديت مقرر کړو. (ترمذي، ابوداؤد، نسائي دارمي)

**نوټ**: د دې حديث تشريح د دې باب په ابتداء کې مکمل طور باندې تيره شوې ده.

## ديت د مقتول دوارثانو حق دی

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

او حضرت عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي وايي چې

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَأِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَ مِائَةِ دِينَارٍ أَوْ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کلو والو باندې د قتل خطاء ديت څلور سوه ديناره يا د دې برابر قيمت (يعني

عِدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ وَيُقَوِّمُهَا عَلَى أَثْمَانِ الْإِبِلِ فَإِذَا غَلَتْ

دسپينو زرو څلور زره درهمه) مقرر کړو او دا مقدار به د اوښانو د قيمت مطابق وي. هر کله چې د اوښانو په قيمت کې اضافه کيده

رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا وَإِذَا هَاجَتْ رُخُصٌ

نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به هم د ديت په مقدار کې اضافه کوله او کله چې به د اوښانو په قيمت کې کمی کيده نو

نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهَا وَبَلَغَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د ديت په مقدار کې هم کمی کولو هم دا وجه ده چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې د ديت مقدار

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۸۱ رقم الحديث ۴۵۴۶ والترمذی فی ۴/۶ رقم الحديث ۱۳۸۸ والنسائی فی ۸/۴۴ رقم الحديث ۴۸۰۳ وابن ماجه ۲/۸۷۹ رقم الحديث ۲۶۳۲

| |
|---|
| مَابَيْنَ أَرْبَعِمِائَةِ دِينَارٍ إِلَى ثَمَانِمِائَةِ دِينَارٍ وَعِدْلُهَا مِنَ الْوَرِقِ ثَمَانِيَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ |
| څلورسوه دینارو نه اته سوه دینارو پورې یا ددې برابر قیمت (دسپینو زرو نه اتو زرو درهمو پورې وو. |
| قَالَ: وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ |
| راوي وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په غواګانو باندې دوه سوه غواګانې او په چیلو والا باندې دوه زره چیلې |
| وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْعَقْلَ مِيرَاثٌ بَيْنَ وَرَثَةِ الْقَتِيلِ» |
| (ددیت په طور) مقرر کړې وې. دارنګه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل چې ددیت مال دمقتول د وارثانو حق دی |
| وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ عَصَبَتِهَا |
| اونبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم وفرمایلو چې دښځې دیت دهغې په عصباتو باندې دی او قاتل (کچیرې خپل |
| وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا. |
| مورث لره قتل کړی دی نو هغه) به د مورث د وراثت نه محرومه وي (نه به هغه ته دمقتول د دیت نه څه حصه |
| رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ.(۱) |
| ملاویږي او نه به هغه دمیراث نه دڅه شیز حقدار وي.) (ابوداؤد، نسائي) |

**توضیح**: **عدلها**: دالفظ دعین په فتحې او کسرې دواړو سره دی دبرابرې او مساوات په معنی سره دی.

**الورق**: د راء په کسرې سره سپینو زرو ته وایې **اثمان الابل اثمان د ثمن** جمع ده او ثمن قیمت ته وایې.

**فاذاغلت**: قیمت ختو او زیاتیدو ته **غلت** وایې یعني اوښان چې کله ګران شي نو **رفع في قیمتها** یعني نبي علیه السلام به د دیت قیمت زیاتولو. **هاجت**: هیجان او حرکت ته وایې ریټ او قیمت غورزیدل او کمیدل مراد دي، **رخص** په راء باندې فتحه ده او خا باندې سکون دی مراد دقیمتونو کمیدل دي یعني کله چې د اوښانو په قیمت کې کمی به راتللو، نو نبي علیه السلام به د دیت مقدار کې کمی کولو همدا وجه ده چې کله به د دیت مقدار څلورسوه دینارو پورې کمیدو او کله به اته سوه دینارو پورې اوچتیدو.

**ان عقل المرأة**: دا جملې نبي علیه السلام په دې وجه فرمایلې وه چې دا خبره واضحه شي چې دښځې په عاقله باندې د دیت تاوان راځي او ښځه دغلام په شان نه ده چې دهغې عاقله نه وي ځکه

چې غلام په خپل ديت ورکولو پخپله ذمه دار دی دهغه څوک عاقله نه وي.

## په قتل شبه عمد کې قصاص نشته دی

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عمرو بن شعيب ؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل

«عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

دقتل شبه عمد ديت د قتل عمد په شان سخت دی مګر د شبه عمد مرتکب لره به قتلولی نه شي. (ابو داؤد)

**توضيح**: **عقل**: ددې نه مراد ديت او خون بها ده چې دهغې تفصيل تيرشوی دی، مغلظ: د ديت مغلظه او د ديت مخففه بحث اوپه دې کې د فقهاو د اختلاف تفصيل ددې باب په اوله کې تيرشوی دی.

**ولايقتل صاحبه**: دا جمله په حقيقت کې ديوې اشتباه او د وهم جواب دی او وهم ددې حديث د ابتدائي کلام نه په دې شان سره پيدا شو چې دقتل شبه عمد ديت او دقتل عمد ديت لره په دې حديث کې يو شان مغلظ ګرځولی شوی دی چې په هغې سره وهم پيدا شو چې کله په ديت کې دواړه يو شان دي نو قصاص به هم يوشان وي ددې وهم لرې کولو دپاره نبي عليه السلام وفرمايل **ولايقتل صاحبه** يعني د شبه عمد دقتل مرتکب به په قصاص کې نه شي قتلولی دلته تشبيه صرف په تغليظ ديت کې ده په قصاص کې نه ده.

## دزخمي شوې ستر ګې ديت

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د داسې

فِي الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ لِمَكَانِهَا.

ستر ګې باره کې چې (دزخمي کيدو نه پس) په خپل ځای باقي پاتې شي مګر د رڼا نه محرومه شي (نظر تري لاړشي)

بِثُلُثِ الدِّيَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[2].

دا حکم فرمايلی دی چې ددې ديت (د پوره ديت) ثلث (دريمه حصه) ده. (ابو داؤد، نسائي)

---

(1) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/٦٩٤ رقم الحديث ٤٥٦٥ وأحمد فى المسند ٢/٢٢٤

(2) أخرجه أبوداود فى ٤/٦٩٥ رقم الحديث ٤٥٦٧ والنسائى فى ٨/٥٥ رقم الحديث ٤٨٤٠

**توضیح**: القائمة السادة: د قائمه مطلب دادی چې سترګه موجوده او قائمه وي او السادة مطلب دادی چې سترګه په خپل ځای باندې برقراره ده یعني سترګې ته داسې زخم لګیدلی دی چې دهغې نظر خو ختم شو مګر هغه په خپل ځای باندې برقراره ده او دسترګې رونق هم برقراره دی په جمال او ښکلا کې څه فرق نه دی راغلی کتونکي ته داسې لګي چې صحیح سالمه سترګه ده نو د حدیث ظاهري الفاظ هم دا دي چې په دې صورت کې دریمه حصه دیت دی او همدا د اسحاق بن راهویه مسلک هم دی، مګر عام فقهاء په دې صورت کې حکومة عدل لره واجب ګرځوي یعني ماهر عادل تجربه کار سړی دې فیصله وکړي چې دسترګو څومره دیت کیدل پکار دی. دا فیصله به داسې وي چې دې مضروب سړی دې غلام تصور کړي او صحیح سترګې سره دې ددې قیمت ولګولی شي. او بیا دې په ناقصې سترګې سره ددې د قیمت اندازه ولګولی شي چې قیمت څومره کمولی شي څومره قدرې چې قیمت کم شو هم دومره قدرې دیت او تاوان به په زخمي کولو والا باندې رائي. ابن المالک رحمه الله فرمایي چې اسحاق بن راهویه ددې حدیث په ظاهري مضمون باندې عمل کړی دی مګر علماء حکومت عدل لره واجبوي په دې وجه چې په دې صورت کې په مکمل طور باندې منفعت ختم شوی نه دی، جمهور علماء دې حدیث لره په حکومة عدل باندې حمل کوي او فرمائي چې نبي علیه السلام چې د دریمې حصې فیصله فرمایلې وه داهم دحکومة عدل لاندې وه، د علامه تورپشتي په حوالې سره ملا علي قاري رحمه الله وائي چې که داحدیث صحیح ثابت شي نو بیا به په حکومة عدل باندې محمول وي.

﴿۱۷﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ:

او حضرت محمد بن عمرو، د حضرت سلمه نه او هغه د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي وایي چې

قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ بِغُرَّةٍ: عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د (حاملې) د خیتې دبچي خون بها غره مقرر کړه. او د غرې نه مراد وینځه یا غلام یا

أَوْ فَرَسٍ أَوْ بَغْلٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ

یو اس یا یو قچردی. ابو داؤد ددې روایت نقل کولو سره ویلي دي چې دې روایت لره حماد بن سلمه

وَخَالِدٌ الْوَاسِطِيُّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو وَلَمْ يَذْكُرْ: أَوْ

او خالد واسطي د محمد بن عمرو نه نقل کړی دی مګر هغو دواړو کې یو هم د فرس او بغل (یعني

فَرَسٍ أَوْ بغل. اخرجه أبوداود.[1]

د اس او قچر) ذکر نه دی کړی (ابوداؤد نسائي)

**وټ**: علماء فرمائي چې فرس او د بغل الفاظو اضافه ددې حدیث د راوي دطرف نه ده چې شاذ او امقبول ده ابوداؤد هم دا الفاظ مسترد کړي دي.

## عطائي ډاکټر دمریض د نقصان ذمه دار دی

(۱۸) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عمرو بن شعیب دخپل پلار نه او هغه دخپل نیکه نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې کوم

«من تطبب وَلَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ

سړی خپل ځان طبیب ښکاره کړي او حال دادی چې دهغه طبیب کیدل معلوم نه وي (یعنې هغه دطب په فن کې څه

فَهُوَ ضَامِنٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[2]

مهارت نه لري بیا کچیرې څوک دهغه په لاس مړ شو) نو هغه به ضامن وي. (نسائي)

**توضیح**: تطبب: دباب تفعل نه دی یعني طبیب او ډاکټر نه دی بلکه دوکه او فراډ سره یې خپل ځان طبیب ښکاره کړو او د مریض علاج یې وکړو.

**مسئله**: کچیرې یو عطائي او نقلي ډاکټر د کوم مریض علاج وکړو او هغه دعلاج نه ښکاره جاهل وُ او مریض ته نقصان ورسیدو نو عطائي ډاکټر به ذمه دار وي او په هغه به ضمان راځي، ددې مسئلې تفصیل په بذل المجهود کې دی دهغې خلاصه داده چې که کوم جعلي (عطائي) ډاکټر د کوم مریض مخکې د یوې دوائي ډیر تعریف وکړو او د هغه داستعمالولو ترغیب یې ورکړو او وې ویل چې وخوره ډیره ښه دوائي ده هغه مریض هغه دوائي وخوړه او مړ شو نو چونکه ددې مریض دخپل عمل دخل په دوائي خوړلو کې راغلو په دې وجه په عطائي ډاکټر باندې په دې صورت کې نه قصاص شته او نه دیت شته البته دې نقلي او نااهل طبیب ته دې په طور دتعزیر سزا ورکړی شي چې دفن طب نه ناواقفه دی جاهل مریض ته غلطه مشوره ولې ورکړه. او کچیرې دې عطائي ډاکټر په خپل لاس په دې مریض دوائي وخوړه او مریض مړ شو نو په دې صورت کې به دا نقلي ډاکټر ضامن وي یعني

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۷۰۵ رقم الحدیث ۴۵۷۹ والترمذی فی ۴/۱۶ رقم الحدیث ۱۴۱۰ وأحمد فی المسند ۲/۴۹۸

(۲) أخرجه أبوداود فی ۴/۷۱۰ رقم الحدیث ۴۵۸۶ والنسائی ۸/۵۲ رقم الحدیث ۴۸۳۰ وابن ماجه فی ۲/۱۱۴۸ رقم الحدیث ۳۴۶۶

دا فعل دقتل خطاء په حکم کې دی چې په دې کې به دیت په عاقله باندې راځي او قصاص نشته دی. دلته چونکه مریض دې نقلي ډاکټر ته د علاج اجازت پخپله ورکړی وو په دې وجه قصاص ساقط شو او دیت لازم شو. نن صبا په پاکستان کې د عطائي ډاکټرانو نه علاوه دخپل فن ماهر ډاکټران هم د اکثرو مریضانو په قتل کې برابر شریک دي یا خو دا ډاکټران بې پرواهي کوي خامخا آپریشن کولو سره زخمي مریض ته تهکاني لګوي، او دویمه وجه داده چې هغوی ته کوم فن دیهودو او نصاراو په مهربانۍ سره ملاو شوی دی هغه پخپله دیو بیمار ذهن ایجاد دی چې دهغې مکمل اعتماد په اسباب او آلاتو باندی دی، انساني طبیعت او حالات اوتجرباتو ته نه ګوري دا هغه بنیادي نقصان دی چې په زیات مهارت حاصلولو سره زیاتیږي کمیږي نه.

## د دیت د معافۍ یوه واقعه

﴿۱۹﴾ وَعَن عِمْران بن حُصَين: أَنَّ غُلَامًا لِأُنَاسٍ فُقَرَاءَ

او حضرت عمران رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن حصین وائي چې یو هلک چې د مفلس خاندان سره یې تعلق لرلو د داسې

قَطَعَ أُذُنَ غُلَامٍ لِأُنَاسٍ أَغْنِيَاءَ

هلک غوږ کټ کړو چې دیو دولت مند خاندان نه وو، دکوم هلک غوږ چې یې کټ کړې وو، دهغه د

فَأَتَى أَهْلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا:

خاندان والا د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض یې وکړو چې مونږ محتاج او

إِنَّا أُنَاسٌ فُقَرَاءُ فَلَمْ يَجْعَلْ

مفلس یو (لهذا په مونږ باندې دیت مقرر نه کړې) نبي علیه السلام (دهغوی درخواست منظور کړو)

عَلَيْهِمْ شَيْئًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

په هغوي باندې یې څه شیز مقرر نه کړو (ابوداؤد، نسائي)

**توضیح**: قطع اذن غلام: یعني د مالداره خلقو دهلک غوږ د غریب خلقو هلک کټ کړی وو دغلام نه مراد نابالغه ماشوم وو، عبد مراد نه دی ځکه چې که عبد وی نو ددې جرم تاوان پخپله په هغه راتلو ځکه چې دغلام څوک عاقله نه وي هغه دجرم دتاوان پخپله ذمه دار دی. او زیربحث واقعه کې چونکه غوږ کټ کونکی وړوکې ماشوم وو او دماشومانو نه قصاص نه شي اخستی په دې وجه په

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۷۱۲ رقم الحدیث ۴۵۹۰ والنسائی فی ۸/۲۵ رقم الحدیث ۴۷۵۱

عاقله باندې ديت راغلو مګر هغه عاقله دومره غريب وو چې ددیت تحمل يې نه شو کولی په دې وجه ديت هم ساقط شو ځکه چې په فقيره عاقله باندې ديت نه راځي.

## د قتل شبه عمد او قتل خطاء ديت

### الْفَصْل الثَّالِث

﴿۲۰﴾ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: دِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ

حضرت علي کرم الله وجهه نه نقل دي چې هغوی وفرمايل دقتل شبه عمد ديت (سل) اوښانې ورکول واجب دي

أَثْلَاثًا ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ

په دې تفصيل سره دري ديرش اوښانې هغه دي چې څلورم کال کې داخلې شوې وي او دري ديرش اوښانې

جَذَعَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ ثَنِيَّةً

هغه دي چې پنځم کال کې داخلې شوې وي او څلور ديرش اوښانې هغه دي چې شپږم کال کې داخلې

إِلَى بَازِلِ عَامِهَا كُلُّهَا خَلِفَاتٌ وَفِي رِوَايَةٍ:

شوې وي او اته نهه کال ته رسيدلې وي او تولې حاملې وي. او يو بل روايت کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

قَالَ: فِي الْخَطَأِ أَرْبَاعًا:

نه نقل دي چې هغوی وفرمايل چې دقتل خطاء په ديت کې څلور قسمه (سل) اوښانې ورکول واجب دي

خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ

په دې تفصيل سره چې پنځويشت هغه وي چې د دري دري کالو وي او پنځوس هغه وي چې د

جَذَعَةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ

څلور څلور کالو وي او پنځويشت هغه وي چې د دوو دوو کالو وي او پنځويشت هغه وي چې د

وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

يو يو کال وي. (ابوداؤد) (ددې روايت آخري حصه داحنافو دليل دی)

﴿۲۱﴾ وَعَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ: قَضَى عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ

او حضرت مجاهد رحمه الله نه روايت دی چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دقتل شبه عمد ديت کې

---

(۱) أخرجه أبوداود في ٤/٦٨٥ رقم الحديث ٤٥٥١

| | | | |
|---|---|---|---|
| ثَلَاثِينَ | حِقَّةً | وَثَلَاثِينَ | جَذَعَةً | وَأَرْبَعِينَ |
| دیرش اوښاني د درې درې کالو او دیرش اوښاني د څلور څلور کالو او څلویښت اوښاني بلا ربې چې | | | | |
| خَلِفَةً | مَا | بَيْنَ | ثَنِيَّةٍ | إِلَى |
| شپږو کالو نه واخله تر نهو کالو پورې رسیدلې وي د ورکولو حکم وکړو (کویا دا روایت د امام | | | | |
| بَازِلٍ | عَامِهَا. | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد[1] | |
| شافعي رحمه الله د مسلک موافق دی) (ابو داؤد) | | | | |

**نوټ:** د کتاب القصاص د حدیث نمبر ۲۵ په توضیح کې د اوښانو د عمر بیان دی هلته یې اوګورئ.

## په خیټه کې د بچي دیت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الْجَنِينِ يُقْتَلُ فِي بَطْنِ

او حضرت سعید بن مسیب وایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خیټې د بچي دیت چې ووژلی شي یوه

أُمِّهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ. فَقَالَ الَّذِي قُضِيَ عَلَيْهِ:

غره یعني یو غلام یا یوه وینځه مقرر کړه. په کوم سړي چې دا دیت واجب کړی شوی وو هغه عرض وکړو

كَيْفَ أَغْرَمُ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ

چې زه د هغه سړي تاوان څنګه ورکړم کوم چې څه څیز نه څکلی او نه یې خوړلی وي او نه یې خبرې کړې وي

وَلَا اسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذَلِكَ يُطَلُّ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د دې قسمه قتل خو ساقط کولی شي نبي عَلَيْهِ السَّلَام (چې د دې سړي دا خبرې واوریدې) نو وې فرمایل

«إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ». رَوَاهُ مَالِكٌ

چې د دې نه علاوه نور څه وویلی شي چې دا سړی د کاهنانو وروردی (امام مالک او امام نسائي خو

وَالنَّسَائِيُّ مُرْسَلًا[2] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

دې روایت لره د ارسال په طریقې باندې (یعني د صحابي راوي د ذکر کولو نه بغیر) نقل کړی دی مګر ابو داؤد

---

(1) أخرجه أبوداود فی ٤/٦٨٥ رقم الحديث ٤٥٥٠ وأحمد فی المسند ١/٤٩

(2) أخرجه النسائی ٨/٤٩ رقم الحديث ٤٨٢٠ ومالک فی الموطأ ٢/٨٥٥ رقم الحديث ٦ من كتاب العقول

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عَنْهُ | عَنْ | أَبِي | هُرَيْرَةَ | مُتَّصِلًا[1] |

دحضرت سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او هغه د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په طریقې د اتصال نقل کړی دی.

**توضیح** : **جنین** : دمور په خیټه کې چې کوم بچی وي د پیدا کیدونه مخکې دې ته جنین وائي.

**اغرم**: **غرامه** تاوان ډکولو ته وایې دیت مراد دی. **استهل** د پیدائش په وخت کې چې کله ماشوم ژوندی وي نو هغه په چغو چغو ژاړي دې ته استهل ویلی شوی دی، دا کلمه ددې نه مخکې دنطق دپاره په منزله دتفسیر ده اگرچه دا کلمه ددې نه زیاته غیرمانوس ده مگر دسجعې جوړولو دپاره دې سړي هغې لره مؤخر کړه لکه چې څنگه **اکل** لره یې دسجعې په غرض سره شرب نه مؤخر کړه. حالانکه اکل مخکې ذکر کولی شي او شرب بعد کې وي **یطل** دا مشدد دی دمجهول صیغه ده د لغو اوضائع کولو په معنی سره دی هغه سړي د جاهلیت درواج او دستور مطابق دا کلام کړی دی چې د داسې بچې وینه ضائع ده حالانکه دا نظریه داسلام نه ده په اسلام کې خو باقاعده ددې دیت دی چې د غرې په نوم سره مشهور دی. **اخوان الکهان** دا دکاهن جمع ده کاهن هغه سړي ته وایې چې د غیب دانی دعوي کوي او دمستقبل د غلطې ملطې خبرې په رنگ روغن سره په ښائسته انداز سره پیش کوي دې دپاره چې په دې خبرو سره دخلقو زړونه خپل طرفته مائل کړي او دشریعت خلاف خپل باطل نظریات خواره کړي په دې وجه نبي علیه السلام په دې سړي باندې ناراضه شو.

**سوال**: اوس سوال دادی چې مسجّع اومقفی کلام خو په احادیثو کې ډیر راغلی دی دارنگه په قرآن عظیم کې هم دارنگه کلام په فواصلو سره موجود دی بیا دلته په دې باندې نکیریې ولې وفرمایلو؟

**جواب**: ددې جواب دادی چې مطلقًا مسجّع کلام مذموم نه دی بلکه هغه مذموم دی چې په تکلف سره او انتهائي خودساختگی او تصنّع سره راوړی شي لکه څنگه چې دې سړي د تقدیم اوتاخیر قواعد مات کړل صرف د سجعې په غرض سره یې یو باطل کلام کړی دی، بهرحال کچیرې ماشوم په خیټه کې مړشي نو دهغې همدا حکم دی کوم چې نبي علیه السلام بیان فرمایلی دی چې غره واجب ده، یا پنځه سوه درهم دي، او کچیرې ژوندی پیدا شي او چا دپیدا کیدو نه پس قتل کړو نو په دې کې قصاص دی.



(1) أخرجه أبوداود فی السنن ۷۰۱/رقم الحدیث ٤٥٧٦ وعن مسلم نحوه ۳/۱۳۰۹ رقم الحدیث (۱٦۸۱-۳٦) وأخرجه أحمد فی المسند ۲/۲۷٤

# باب مالایضمن من الجنایات
## په کومو جنایاتو کې چې تاوان نشته دی

جنایات: د جنایة جمع ده چې د جرم کولو او نقصان ته ویلی شي لایضمن د مجهول صیغه ده، د ضمان او تاوان په معنی سره دی، ددې باب نه مخکې دهغه نقصاناتو او جرمونو بیان وو په کوم کې چې تاوان راتلو او اوس دهغه جرمونو ذکر دی دکوم په کولو سره چې تاوان نه رائي، او نه څه معاوضه رائي.

## هغه افعال او اعمال په کوم کې چې تاوان نشته دی

### الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل د څاروو زخمي کول معاف دي،

جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

په غار کې ډوبیدل هم معاف دي او کوهي ته پریوتل هم معاف دي. (بخاري ومسلم)

**توضیح: د څاروو په نقصان باندې دتاوان مسئله**: العجماء جرحها جبار: عجماء ځناورو او څاروو ته وایي دې ته عجماء په دې وجه وویلی شوچې دا خبرې نه شي کولی عجم او عجمي ددې نه دی ځکه چې دعربو په مقابله کې عجم ګویا ګونګیان دي، عجماء مؤنث دی عجم مذکر دی جرحها جرح زخم او نقصان کولو ته وایي دا لفظ دجیم په فتحې سره مصدر دی یعني زخم لګول اوزخمي کول. او د جیم په ضمې سره اسم دی چې د زخم په معنی سره دی جبار د هدر او باطل په معنی سره دی. یعني دې څاروي دچا څه مالي نقصان وکړو نو دڅاروي په مالک باندې هیڅ تاوان نشته دی، اوس ددې مسئلې تفصیل داسې دی: د احنافو په نزد مسئله داده چې کچیرې ځناور مثلاً اسونه یا څاروو سره سړی نشته دی او څاروو منډه کړه او د چا دفصل نقصان یې وکړو یا یو سړی یې دخپو لاندې چغمې کړو مړیې کړو نو که په ورځ کې دا حادثه پیښه شوه یا دشپې راپیښه شوه په دې صورت کې په مالک تاوان نشته دی، او کچیرې دڅاروو سره مالک موجود دی او څاروو

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۲۵۶ قم الحدیث ۶۹۱۳ ومسلم فی ۳/۱۳۳٤ رقم الحدیث (۱۷۱۰-٤٥) وأبوداود فی السنن ٤//۷۱۵ رقم الحدیث ٤۵۹۳ والترمذی فی ۳/۶۶۱ رقم الحدیث ۱۳۷۷ والنسائی فی ۵/٤۵ رقم الحدیث ٤۹۶

نقصان وکړو برابره خبره ده که سړی پرې سور وي یا مخکې روستو وي او که څاروو څه قسمه نقصان وکړو برابره خبره ده که په سر سره یې وکړو یا په خپو سره یې وکړو په دې صورت کې به په مالک باندې تاوان راځي ګویا دارومدار د سړي په موجود کیدو او نه کیدو باندې دی.امام شافعي رحمه الله فرمائي چې د څاروو په نقصان کولو سره د تاوان راتلو او د نه راتلو دپاره دارومدار په سړي باندې نه دی بلکه په شپه او ورځ باندې دی کچیرې څاروو نقصان دشپې وکړو نو په مالک باندې به جرم وي ځکه چې دشپې څارو لره ترڅ او سنبالول د مالک ذمه داري ده هغه کوتاهي وکړه لهذا تاوان به ورکوي او که څاروو نقصان د ورځې وکړو نو په مالک باندې به هیڅ ذمه داري نه وي ځکه چې د ورځې خپل حفاظت او د پټې حفاظت په هر سړي باندې خپله ذمه داري ده د څاروو په مالک باندې د حفاظت ذمه داري نشته دی، شوافعو حضراتو د ورځې اوشپې دې فرق لره دابوداؤد شریف د حضرت براء بن عازب دیو روایت نه اخستی دی په کوم کې چې دا فرق بیان کړی شوی دی، ائمه احنافو د مذکوره حدیث نه استدلال کړی دی چې په خپل مقصد کې واضح دی او د ابوداؤد حدیث مرفوع نه دی بلکه موقوف دی، حضرت شاه انورشاه صاحب فرمایلې دي چې په دې مسئله کې به عرف ته کتلی شي چې دعلاقې او ملک رواج او دستور څه دی. دڅاروو ددې مسئلې نه دتعریفک پوره نظام مستنبط کولی شي چې دګاډي سائق اوقائد ته وکتلی شي او په دې باندې حکم ولګولی شي. **والمعدن** ددې لفظ یو مطلب دادی چې که یو غار کنستلو والا په مزدوري کار کولو چې د غار ملبه دپاسه پرې راپریوتله او دهغې لاندې ډوب شو نوددې تاوان په چاباندې نشته، دویم مطلب دادی چې یو سړي معدنیات او خزانه راویستله او په زمکه کې کنده پاتې شوه په دې کې څوک راپریوتلو نو په چاباندې تاوان نشته.

**والبئر جبار** یعني یو سړي په خپله زمکه کې کوهی وکنستلو اوپه دې کې څوک ورپریوتلو نوددې تاوان په چاباندې نشته دی، ها کچیرې کوهی یې د خلقو د تیریدو په لاره کې وکنستلو اوپه دې کې څوک پریوتلو او مړ شو نو بیابه تاوان ورباندې راځي، ددې لفظ دویم مطلب دادی چې کچیرې یو سړي د کوهي د کنستو دپاره مزدور وساتلو او په مزدور باندې د کوهي ملبه ورپریوتله نوددې تاوان په چاباندې نشته دی.

## په مدافعت کې څه تاوان نه واجبیږي

﴿۲﴾ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت یعلي بن امیه وایي چې (د غزوه تبوک) دصبر کونکي لښکر سره د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| جَيْشَ | الْعُسْرَةِ | وَكَانَ | لِي | أَجِيرٌ | فقاتلَ | إِنساناً |

(په جهاد کې) شريک وم ماسره يو نوکر هم وو، هغه (په څه خبره) يو کس سره په جنګ شو او په دې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فعض | أَحدهمَا | الْآخَرِ | فَانْتَزَعَ | الْمَعْضُوضُ | يَدَهُ |

دواړو کې يو دبل لاس باندې چک ولګوه مګر هغه په خپل لاس د چک لګونکي خله راوښيوله چې دهغه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مِنْ | فِي | الْعَاضِّ | فَأَنْدَرَ | ثَنِيَّتَهُ | فَسَقَطَتْ |

غاښونه لاندې راپريوتل. هغه سړی دچا چې غاښونه وتلې وو (فرياد کولو دپاره) د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فَانْطَلَقَ | إِلَى | النَّبِيِّ | صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ |

خدمت کې حاضرشو (دې دپاره چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دهغه په حق کې فيصله وکړي) مګر نبي عَلَيْهِ السَّلَام د

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَأَهْدَرَ | ثَنِيَّتَهُ | وَقَالَ: | «أَيَدَعُ | يَدَهُ |

هغه دغاښونو څه تاوان واجب نه کړو او هغه ته يې وفرمايل چې ايا هغه کس خپل لاس ستا په خُله کې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فِي | فِيكَ | تَقْضِمُهَا | كَالْفَحْلِ» | (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |

پريخوستلی وی دې دپاره چې ته يې هغې داسې شخوند ووهې لکه څنګه چې اوښ شخوند وهي. (بخاري ومسلم)

**توضيح** : **جيش العسرة** : يعني دتنګې لښکر، ددې نه مراد غزوه تبوک ده د روم باچاته چا ويلې وو چې مسلمان د خشک سالۍ دوجې نه دجنګ قابل نه دي په دې وجه بغير د تاخير نه په حجاز باندې حمله کول پکار دي هرقل تياری شروع کړو نبي عليه السلام ته چې کله اطلاع ملاو شوه نو هغوی په جنګ کې مخکښوالی (سبقت) مناسب وګڼلو او په مدينه کې يې نفيرعام ديرش زره لښکر سره دسختې تنګۍ په حالت کې د رجب (بزرګې) په مياشت ۹هجري کې تبوک طرف ته روان شول، حضرت عثمان او نورو صحابو رضي الله عنهم په چنده کې ډيره حصه واچوله، هرقل ويريدو او ميدان ته رانغلو نبي عليه السلام شلو ورځو پورې په تبوک کې قيام وفرمايلو بيا کامياب اوکامران مدينې منورې ته واپس شول. (المرقات ۷۴/۷)

**اجير** يعني نوکر او مزدور **فقاتل انسانا** دقاتل نه مراد قتل کول نه دي بلکه صرف جګړه کول دي **عض** په غاښونو سره کټ کولو ته وايي دنصرينصر نه دماضي صيغه ده **من في العاض في** شدسره

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۴۴۳/۱ رقم الحديث ۲۲۶۵ ومسلم فی ۱۳۰۱/۳ رقم الحديث

خولې ته وایي او عاض اسم فاعل دی کټ کولو والا مراد دی(المرقات ۷۴/۷) **فائدہ** دباب اندرار نه، د غابن غورزیدو په معنی سره دی **ثنیة** مخې ته غابنونه تري مراد دي **تقضم** د کټ کولو او د غابنونو دلاندې شخوند وهلو په معنی سره دی **الفحل** اوښ ته وایي. (المرقات ۷۴/۷)

**مسئله**: قاضي عیاض رحمه الله فرمایي چې په قصد سره یو حمله کونکی حمله کوي نو دهغې دفاع دپاره سړی څه متعین طریقه استعمالوي نوپه دې کې څه تاوان نشته دی ځکه چې دفاع کونکی مجبور دی او حمله کونکي ته چې کوم نقصان رسیدلی دی دا ددې حملې او زیاتي نتیجه ده چې دهغې هغه پخپله ذمه دار دی. **شرح السنة** کې لیکلي دي همدا حکم دهغې ښځې دی چې هغې دخپلې دفاع کولو دپاره کوم بدکار لره قتل کړوپه هغې باندې څه تاوان نشته دی. ملاعلي قاري فرمایي اول دې د نرمۍ نه سړی کار واخلي کچیرې دجنګیدو نه بغیر کار نه کیدو نو بیا دې مړ کړي. (المرقات ۷۴/۷)

## د ځان اومال په حفاظت کې وژلی شوی شهید دی

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

اوحضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا فرمان واوریدلو چې

«مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ» بخاري و مسلم (صَحِيح)[1]

کوم سړی دخپل مال دپاره ووژلی شو نو هغه شهید دی. (متفق علیه)

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوسړي (دنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضرید و سره)

فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ

عرض وکړو ای دالله رسوله! ماته ووائي کچیرې یو سړی مانه زما مال په (زبردستی) ورلو

يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟ قَالَ: «فَلَا تُعْطِهِ

دپاره راشي (نو آیا زه خپل مال هغه ته حواله کړم؟) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نه؟ ته هغه ته خپل مال مه

مَالَكَ» قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي؟

ورکوه هغه عرض وکړو دا وبنائي که چیرې هغه ماسره جګړه کوي (نو زه به څه کوم) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

[1] أخرجه البخاری فی صحیحه ۵/۱۲۳ رقم الحدیث ۲۴۸۰ وأخرجه مسلم فی ۱/۱۲۴ رقم الحدیث (۱۴۱-۲۲۶) وأخرجه أبوداود فی السنن ۵/۱۲۷ رقم الحدیث ۴۷۷۱ بنحوه والترمذی فی ۴/۲۱ رقم الحدیث ۱۴۱۹

| |
|---|
| قَالَ: «قَاتِلُهُ» قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي؟ قَالَ: «فَأَنْتَ شَهِيدٌ». |
| وفرمایل ته هم ورسره وجنګیږه هغه عرض وکړو کچیرې هغه زه ووژلم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل ته شهید شوې |
| قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ؟ قَالَ: |
| تپوس وکړی شو چې که هغه مړشو (نو دهغه به څه حشر کیږي.؟) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل هغه به |
| «هُوَ فِي النَّارِ». (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| دوزخ ته ځي (اوپه تابه دهغه څه وبال نه وي). (مسلم) |

**توضیح**: ارئیت: یعني هغه سړي نبي علیه السلام ته وویل چې تاسو ماته وښائي. قاتله یعني کچیرې هغه ستانه مال په زور اخلي اوپه دې کې تاسره جنګ کوي نو ته هم ورسره وجنګیږه. هوفي النار یعني دهغه په قتلولو سره به په تاباندې څه قسمه وبال نه راځي بلکه هغه به دوزخ ته ځي. (المرقات ۷۵/۷)

دا دواړه حدیثونه مسلمانانو ته تعلیم ورکوي چې مسلمانان دخپل ځان اومال او عزت دحفاظت حق لري او د حمله کونکي هم په کلکه سره مقابله کولی شي. دمسلمان طریقه دانه ده چې څوک دې دهغه د عزت سره لوبې کوي او دهغه مال په ناجائزه سره په زور اخلي اودا دې دکم همتۍ او بزدلۍ مظاهره کوي اوخپه په خپه واړوي او کینې او دعزت نفس ددې حق نه لاس ووینځي، بلکه مسلمان ته داحق حاصل دی چې هغه دې حمله کونکي فسادي سره بنه په ځوانمردۍ او جرأت اوهمت سره مقابله وکړي او د ذلت د ژوند نه دعزت مرګ ته ترجیح ورکړي، اوکچیرې دې فتنه اچونکي فسادي ده لره قتل کړو نو دا شهید دی او کچیرې ده هغه فسادي لره قتل کړو نو دهغه وینه بې قیمته ده او هغه به دوزخ ته ځي، اسلام دعزت نفس داحق مسلمان ته هغه وخت ورکړی دی هرکله چې حمله کونکی هم مسلمان وي او که حمله کونکی دکافرانو لښکر وي لکه څنګه چې د مقبوضه کشمیر اوبوسنیا اوفلسطین او افغانستان اوچیچنیا صورت حال دی نو هلته به په طریق اولی سره مسلمانان وسله راوچتوي او دجهاد میدان ته به ورکوزیدو سره به دځان اومال عزت او د عقیدې او ایمان او وطن دحفاظت حق حاصل وي. (المرقات ۷۶/۷)

---

(1) أخرجه مسلم فی الصحیح ۱/۱۲٤ رقم الحدیث (۱٤۰-۲۲۵)

## دچا کورته ور بنکاره کیدلو سره کتل جائز نه دي

﴿۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغوی د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا فرمان واوریدو چې که

«لَوِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِكَ أَحَدٌ

ستادروازه بنده وي او دهغه په چاودونو کې) څوک سړی ستاکورته ګوري حال دادی چې تا هغه

وَلَمْ تَأْذَنْ لَهُ فَخَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ فَفَقَأْتَ

(کورته دراتلو) اجازت نه وي ورکړی او هغه تا په کنکرو (وړوکانړو) ویشتلو چې په دې کنکرو سره

عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دهغه سترګه راووتله نو په تاباندې څه ګناه (تاوان) نشته. (بخاري ومسلم)

**توضيح: فخذفته**: د دوو ګوتو په مینځ کې نیولو سره په وړوکي کنکري (کانې) ویشتلو ته حذف وائي چې په هغې سره عموماً سترګه راوتلی شي جمراتو لره د ویشتلو دپاره چې کوم کنکري استعمالیږي هغې ته هم حذف وایي. (المرقات ۷۶/۷)

**ففقأت عينه**: یعني ددې کنکري (کانې) په ویشتلو سره ددې کتونکي سترګه راووتله. **من جناح**: یعني په تاباندې به څه قسمه ګناه نه وي دهغه سترګه بې قیمته شوه څه قسم تاوان به نه وي. امام شافعي رحمه الله په دې ظاهري حدیث باندې داسې فتوی ورکړې ده چې په ویشتونکي باندې به څه تاوان نه رائي، بعضې علماو دا شرط لګولی دی چې مخکې دهغه کس منع کول ضروري دي او که هغه نه منع کیږي نو بیا دې وویشتلی شي. امام ابو حنیفه رحمه الله دې حدیث لره په تغلیظ وتشدید اوزجر اوتوبیخ او مبالغې باندې حمل کوي، اوکه چا واقعي د چا سترګه راویستله نو ضمان اوتاوان به پرې رائي په ظاهري حدیث سره د تاوان نفي کیږي. (المرقات ۷۶/۷)

## پخپله دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ردعمل

﴿۶﴾ وَعَنْ سهل بنِ سعد: أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِي جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو سړي دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دروازه کې کتل او

[1] أخرجه البخاري في ۱۲/۲۱۶ رقم الحديث ۶۸۸۸ ومسلم في ۳/۱۶۹۹ رقم الحديث ۲۱۵۸ والنسائي ۸/۶۱ رقم الحديث ۴۸۶۱

وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ فَقَالَ: «لَوْ أَعْلَمُ

هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَام په کومنز سره خپل سر ګرولو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وې فرمایل کچیرې زه پوهه شوی وم

أَنَّكَ تَنظُرُنِي لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنَيْكَ

چې ته (قصداً د دروازې په چاودونو کې) ماته ګورې نو مابه (دا ګومنز) ستا په سترګو کې منډله

إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ

(آیا تاته پته نشته چې دچا غیر کورته د راتلو په وخت) داجازت اخستلو حکم هم ددې سترګو دوجې

مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نه ورکړی شوی دی (چې هغه په چاغیر محرم باندې ونه لګي) (بخاري ومسلم)

**توضیح**: مدری: دا دمیم دلفظ په کسرې او د دال په سکون او د راء په تنوین سره دی ددې لفظ د مفهوم په تعین کې دعلماو مختلف اقوال دي بیاهم ټول اقوال دمعنی په اعتبار سره نزدې نزدې دي. په نهایه د ابن اثیر کې لیکلې دي چې دلرګي یا وسپنې نه جوړ شوی یو څیز دی چې دګومنز د غابنونو په شان همشکل وي مګر دهغې نه اوږد وي کومو خلقو سره چې ګومنز نه وي هغوی ددې په ذریعه سره د سر یوځای شوې وینښتو لره کولاووي او صحیح کوي یې. د فارسي د لغت په مشهور کتاب صراح کې لیکلې دي چې *مدرا سیخ وشاخ بزرگ که زنان بوی فرق سر راست کنند* یعني دا یو شاخ والا اوږد سیخ او کونده وي چې په دې سره ښځې د سر په وینښتو کې لار صحیح کوي. ملا علي قاري رحمه الله فرمایي چې بعضو علماو دا خودلې دي چې دا د خلال په شان د وسپنې یو سیخ دی چې دهغې سر کوږ شوی وي غټ خلق په دې سره دبدن هغه حصه ګروي چیرته چې لاس نه رسي دا معنی د حدیث زیاته موافق ده. (المرقات ۷۷/۷)

په مظاهر حق کې یې ددې ترجمه په پشت خار ګومنز سره کړې ده، بهرحال دا یو قسم آله ده په کومې سره چې وینښته جوړول او دبدن هغو حصو لره ګرولی شي چیرته چې لاس نه رسي. ددې حدیث نه معلومه شوه چې کچیرې چا واقعي په دې حدیث باندې عمل وکړو او د کتونکي سترګه یې ضائع کړه نو تاوان پرې نه رائي، احناف دې حدیث لره په زجر او توبیخ او تغلیظ او تشدید باندې حمل کوي. د حدیث نه داهم معلومه شوه چې کچیرې کورونو والو پخپله دروازه کولاو کړې وه او د کتونه بغیر نظر پخپله دننه ځي نو بیا د کتونکو غلطي نه ده بلکه د کورو الو غلطي ده.

---

(۱) أخرجه البخاری فی ۱۲/۲۴۳ رقم الحدیث ۶۹۰۱ ومسلم فی ۱۶۹۸ رقم الحدیث (۲۱۵۶-۴) والترمذی فی السنن ۵/۶ رقم الحدیث ۲۷۰۹

## خامخا کنکري (واړه کانې) مه غورزوئ

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَخْذِفُ

او حضرت عبدالله بن مغفل نه روایت دی چې هغوی یو سړی په غټې ګوتې او شهادت په ګوتې سره په کانو ویشتلو

فَقَالَ: لَا تَخْذِفْ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَذْفِ

باندې ولیدلو نو وې فرمائیل چې کانې مه غورزوه ځکه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د داسې کانو ویشتلو نه منع فرمایلې ده

وَقَالَ: «إِنَّهُ لَا يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ وَلَا يُنْكَأُ بِهِ عَدُوٌّ

او فرمایلي یې دي چې په داسې کانو غورزولو سره نه خو ښکار کولی شي او نه (ددین) دشمن لره زخمي کولی شي

وَلَكِنَّهَا قَدْ تَكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

البته داسې کانو غورزولو سره غاښونه ماتیږي او سترګې راوځي. (بخاري و مسلم)

**لاینکاء**: په همزې سره هم دی او بغیر د همزې لاینکی هم دی د زخمي کولو په معنی سره دی.

## په مجلسونو کې وسله سنبالول پکار دي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل کله چې په تاسو کې څوک

فِي مَسْجِدِنَا وَفِي سُوقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ

زمونږ مسجد او زمونږ بازار ته راځي یا هلته نه تیریږي او هغه سره غشی وي نو هغه له پکار دي چې هغه بند کړي

عَلَى نِصَالِهَا أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا بِشَيْءٍ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

(یعني دهغې په تیلی دي لاس کیږدي) دې دپاره چې په دې سره چا مسلمان ته ضرر ونه رسي. (بخاري و مسلم)

**توضیح**: نصال: د غشي څوکې ته او میوې ته وایي مراد تري ټولې هغه وسلې دي په کوم سره چې د زخمي یا هلاکیدو خطره وي که هغه توره وي، غشی وي یا ټوپک وي یا خنجر وغیره وي دې لره په بازارونو، مسجدونو، اوعامو مجمعو کې په احتیاط سره خپل ځان سره ساتل پکار دي، دې دپاره چې په غلطی سره څوک زخمي نه شي د دې حدیث نه معلومه شوه چې په اسلامي معاشره کې د

---

(1) أخرجه البخاری فی صحیحه ۹/٦۰۷ رقم الحدیث ٥٤٧٩ ومسلم فی ۳/۱٥٤۷ رقم الحدیث (۱۹۲٤-٥٤).

(2) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۲٤ رقم الحدیث ۷۰۷٥ ومسلم فی ٤/۲۰۱۹ رقم الحدیث (۲٦۱٥-۱۲٤) وأبوداود فی السنن ۳/۷۰ رقم: ۲٥۸۷

وسلې په اخستلو، ورکولو، او اوچتولو او ګرځولو باندې پابندي نشته دی، اسلام دنا جائز چلولو او استعمالولو سزا مقرر کړې ده چې دهغې په وجه سره وسله دکوم مسلمان دځان دپاره څه قسم خطره نه شي پیدا کولی، شیخ التفسیر حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله په خپل کتاب اسلام او وسله کې لیکلي دي چې دمسلمان دپاره وسله ساتل او زده کول او داسلام په دشمنانو باندې استعمالول فرض دي، او دلائسنس پابندي چې کومو کفارو لګولې ده احتجاج کولو سره دې دا منسوخ کړی شي. (المرقات ۷۸/۷)

## کوم مسلمان طرف ته په وسلې سره اشاره مه کوئ

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل په تاسو کې څوک دې خپل

يُشِيرُ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي لَعَلَّ

(مسلمان) ورور طرف ته په وسلې سره اشاره نه کوي په دې وجه چې هغه ته نه ده معلومه چې شاید

الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ فَيَقَعُ فِي حُفْرَةٍ من النَّار» (بخاري ومسلم) (صَحِيحٌ)[1]

شیطان دهغه دلاس نه وسله راکاږي او دهغې په وجه سره هغه دوسلې مالک د دوزخ اُور کې واچولی شي.

**توضیح**: فانه اي احدكم: یا دا ضمیر شان دی نو دمرجع ضرورت نشته ينزع دضرب يضرب نه راغورزولو او د رانبکلو په معنی دی في يده اي حال كون السلاح في يده، شیطان طرف ته اسناد دسبب په اعتبار سره دی چې هغه ددې سبب جوړیږي یعني شیطان خو دانسان د تباهۍ اوبربادۍ په کمین کې ناست وي، اوس که څوک بل چا طرف ته په مذاق (ګف) سره هم په وسلې سره اشاره کوي نو کیدی شي شیطان په مینځ کې وسوسه اچولو او دخل اندازي کولو سره دې مذاق لره په ربستیا و سره بدل کړي او دمذاق په ځای جنګ شروع شي او دمسلمان قتل وشي نو قاتل به د دوزخ کندې ته پریوځي دارنګه شیطان بدبخته به پخپله هم وسلې ته حرکت ورکړي دمسلمان دپاره. ځان خطره جوړیدی شي ځکه چې دا خبیث د آدم د اولاد دشمن دی. (المرقات ۷۹/۷)

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم کس خپل (مسلمان)

---

(۱) أخرجه البخاری فی ۱۳/۹۳ رقم الحدیث ۷۰۷۲ ومسلم فی ۱۹/۲۰۲۰ رقم الحدیث (۲۶۱۷-۱۲۶)

«مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ
ورور طرف ته په وسپنې (وسلې وغيره) سره اشاره کوي. په ده باندې فرښتې هغه وخته پورې لعنت ليږي
حَتَّى يَضَعَهَا وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[1]
ترڅوپورې چې هغه دې وسپنې لره نه ايخي نه وي اګرچه هغه ده حقيقي ورور ولې نه وي. (بخاري ومسلم)

## د اسلام د طرز نه برخلاف خلک

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې هغوي وفرمايل
«مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ
چې کوم سړی (دخندا او مذاق په طور هم) په مونږ باندې وسله اوچته کړي هغه زمونږ نه نه دی يعني
مِنَّا». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ وزادَ مُسلم:
زمونږ په طريقه عامل نه دی (بخاري ومسلم) او مسلم رحمه الله دا الفاظ هم نقل کړي دي چې کوم
«ومَنْ غشَّنا فليسَ منَّا» (صَحِيح)[2]
سړي مونږ ته دوکه راکړي هغه زمونږ نه نه دی.

﴿۱۲﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ
او حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې کوم کس (بغير
سَلَّ علينا السَّيفَ فليسَ منَّا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[3]
دارادې د قتل نه په خندا مذاق کې هم) په مونږ باندې توره راوښکله هغه زمونږ نه نه دی. (مسلم)

**توضيح: من سل علينا السيف**: پاس په حديث نمبر ۱۱ کې لفظ د حمل دی دلته په دې حديث کې لفظ د سَلَّ دی مراد تري وسله اوچتول او د کوم مسلمان يرولو دپاره وسله ښکاره کول، دتوري د پرقولو دپاره دسل لفظ راغلی دی او د عامې وسلې داوچتولو دپاره دحمل لفظ راغلی دی په پورته

---

(۱) أخرجه مسلم ۴/۲۰۲۰ رقم الحديث ۲۶۱۶-۱۲۵، الترمذی ۴/۴۰۳ رقم الحديث ۲۱۶۲ وأحمد فی المسند ۲/۲۵۶ وهذا الحديث ليس عند البخاری عما يأتی

(۲) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۳/۲۳ رقم الحديث ۷۰۷۰ ومسلم فی ۱/۹۹ رقم الحديث (۱۰۱-۱۶۴) والنسائی فی السنن ۷/۱۱۷ رقم الحديث ۴۱۰۰ وابن ماجه فی السنن ۲/۸۶۰ رقم الحديث ۲۵۷۵

(۳) أخرجه مسلم فی الصحيح ۱/۹۸ رقم الحديث (۹۹-۱۱۲) والترمذی ۲/۳۱۵ رقم الحديث ۲۵۴۰ واحمد فی المسند ۴/۴۶

حدیث نمبر ۱۰ کې د **اشار** لفظ راغلی دی. دټولو الفاظو مطلب هم یو دی چې دمسلمان دیرولو دپاره وسله خودل منع دي دګناه کار دی اګرچه په دې کې تاوان نشته دی **فلیس منا** په دې روایاتو کې دا لفظ استعمال شوی دی چې داسې سړی زمونږ نه نه دی چې ددې ظاهري مطلب داشو چې دا سړی په اسلام کې نه دی، حالانکه په لویه ګناه سره څوک د اسلام نه نه اوځي؟

ددې جواب دادی چې داسړی په دې شعبه او په دې خاص فعل او معامله کې دمسلمانانو په طرز باندې نه دی اګرچه په باقي ټولو شعبو او اقوالو وافعالو کې هغه دمسلمانانو په طرز باندې دی او مسلمان دی مګر په دې خاص عمل کې هغه دمسلمانانو په طرز باندې نه دی. **فلیس منا** همدامطلب دی بعضې علماء وایې چې داسې قسم جملې نبي علیه السلام د حکمت د اسلوب په طور باندې ارشاد فرمایلې دي دې دپاره چې مسلمانان داناجائز کار ونه کړي یعنې چې کوم مخلص مسلمانان دا واوري چې ددې کار په کولو سره دخپل خوږ نبي ﷺ نه کټ کیږي نو هغه مسلمان به کله هم دې کار ته نزدې ورنشي بلکه چغې به وهي او ځي به تړې او دا کار به پریږدي او اسلام طرف ته به په منډه راځي.

پورته په حدیث نمبر ۱۱ کښې د **من غشنا** جمله راغلې ده، غش دوکې ته وائي چې په ظاهره یو کار ښه ښکاري مګر په پټه باندې په هغې کې عیب وي کوم چې دا سړی نه ښکاره کوي دا دوکه زیات تر دا خستلو خرڅولو په معامله کې کیږي او په نورو ځیزونو کې هم دا حدیث عام دی.

## د الله تعالی دمخلوق دتنګ وونکو سزا

| |
|---|
| ﴿۱۳﴾ وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ هشامَ بنَ حكيمٍ مَرَّ بِالشَّامِ |
| او حضرت هشام بن عروه دخپل پلار نه نقل کوي چې حضرت هشام بن حکیم دملک شام (دسفر په دروان |
| عَلَى أُنَاسٍ مِنَ الْأَنْبَاطِ وَقَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ |
| کې) دنبطي قوم څه خلق په داسې حالت کې ولیدل چې هغوي یې په نمر کښودرولي وو اود هغوی په |
| وصُبَّ على رُؤُوسِهِمُ الزَّيْتُ فَقَالَ: مَا هَذَا؟ قِيلَ: |
| سرونو باندې ګرم تیل اچولی شوې وو هشام بن حکیم چې وې ویل داڅه دي؟ هغه ته وویلی شو |
| يُعَذَّبُونَ فِي الخَرَاجِ |
| چې دخراج (زرعي ټیکس نه ورکولو) په وجه سره دوی لره په دې عذاب کې اچولې شوې دي؟ |

فَقَالَ هِشَامٌ: أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت هشام وفرمايل چې زه ګواهي ورکوم چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمايل اوريدلې دي

«إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ

چې الله تعالى به (په آخرت کې) هغه خلقو لره په عذاب کې مبتلا کوي کوم چې خلقو لره په

يُعذبونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]

دنيا کې په عذاب کې مبتلا کوي. (مسلم)

**توضيح: هشام بن حكيم**: د اوچت شان والا صحابي دى په امر بالمعروف اونهي عن المنكر کې مشهور اومعروف دى دقريشو داشرافو نه وو دمکې دفتحې په موقعه باندې مسلمان شو او د ۱۲۰ کالو په عمر کښې ۵۴ هـ کښې په مدينه منوره کې وفات شو ۶۰ کاله يې په جاهليت کې او ۶۰ کاله يې په اسلام کې تير کړل. (المرقات ۸۱/۷)

**الانباط**: لبط او لبيط دمشهورو غرونو نومونه دي دا خلق به دهغه غر خواته اوسيدل په دې وجه ورته انباط وايي، علامه نووي فرمائي چې انباط عجمو زميدارانو ته وائي. **الزيت**: دزيتون ګرم تيل مراد دي. **في الخراج**: يعني هغوى خراج او ټيکس اوسه پورې ادا کړې نه دى په دې وجه دا سزا ورکولى شي. (المرقات ۸۲/۷)

**ان الله يعذب**: يعني چې کوم کس دالله تعالى مخلوق په دنيا کې په ځنګه ناحقه عذاب سره مبتلا کوي. الله تعالى به په قيامت کې هغه په داسې عذاب سره مبتلا کوي. په يو حديث کې دي: لاتعذبوا بعذاب الله: او دلته ګرم تيل اچول او په اُور سره دسوزولو سزا يو انسان بل انسان له ورکوي چې دالله تعالى نه بغير دبل چادپاره مناسب نه دي. (المرقات ۸۲/۷)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُوشِكُ إِنْ طَالَتْ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل کچيرې ستا عمر زيات شو

بِكَ مُدَّةً أَنْ تَرَى أَقْوَامًا فِي أَيْدِيهِمْ مِثْلُ أَذْنَابِ الْبَقَرِ

نو ته به عنقريب هغه خلقو لره ووينې چې دهغوى په لاسونو کې به دغوا دلکى په شان يو څيز يعني کوړې وي،

---

[1] أخرجه فى صحيحه ۴/۲۰۱۸ رقم الحديث (۱۱۸/۲۶۱۳) والدارمى فى ۲/۳۱۵ رقم الحديث ۲۵۲۰ وأحمد فى المسند ۴/۴۰۳

يَغْدُونَ فِي غَضَبِ اللهِ وَيَرُوحُونَ فِي سَخَطِ اللهِ».

دهغوی سحر به دالله تعالی په غضب کې وي او دهغوی مابنام به دالله تعالی په شدید ناراضګۍ کې تیریږي

وَفِي رِوَايَةٍ: «وَيَرُوحُونَ فِي لَعْنَةِ اللهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (صَحِيحٌ)[1]

اوپه یو روایت کې داهم دي چې دهغوی مابنام به دالله تعالی په لعنت کې تیریږي. (مسلم)

## دظالم پولیس او فیشن کوونکو ښځو په باره کې وعید

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صِنْفَانِ

اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل د دوزخیانو دوه ډلې داسې دي چې هغوی

مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ

مانه دي لیدلي (اونه به یې زه ووینم) یوه ډله خو دهغه خلقو ده دچا په لاس کې چې به دغوا دلکی په شان

الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ

کوړې وي چې په هغې سره هغوي (خلق په ناحقه) وهي او دویمه ډله دهغه ښځو ده چې په ظاهره خو به یې

كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ

جامې اغوستې وي مګر په حقیقت کې به بربنډې وي هغوی به سرو لره خپل طرفته مائله کوي اوپخپله به هم سرو

رُؤُوسهن كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ

طرفته مائله وي او دهغوی سرونه به دبختي اوښانو په شان خوزي داسې ښځې نه خو به جنت ته داخلیږي

وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

او نه به دجنت بوی مومي حالانکه دجنت بوی به دومره دومره (یعني مثلاً سل کاله) لرې نه راځي. (مسلم)

**توضیح**: صِنْفَانِ: یعني دوه قسمه خلق دي ما اوسه پورې نه دې لیدلې یعني هغوی اوسه پورې موجود شوې نه دي روستو به راځي **من اهل النار**: یعني هغوی به دوزخ ته ځي اُور به پرې واجب شوی وي دا ځانله خبره ده چې دسزا خوړلو نه پس به د دوزخ نه راوځي. سیاط: دا د سوط جمع ده کوړې ته وایې په عربي ملکونو کې د دې نوم مقرعة دی چې دهغې جمع مقارع دی دا د څرمنې نه جوړه شوې وي او دهغې پلنوالی معمولي غوندې وي او دغوائي دلکئ په شان اوږده وي. جلاد

---

([1]) أخرجه مسلم فی صحیحه ۴/۲۱۹۳ رقم الحدیث (۲۸۵۷-۵۳) وأحمد فی المسند ۲/۳۲۳

([2]) أخرجه مسلم فی صحیحه ۴/۲۱۹۲ رقم الحدیث (۲۱۲۸-۵۲) رقم الحدیث ۲/۳۲۶

خلق غله بربنډ کړي او وهي يې پرې. ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چې دې نه مراد هغه ظالمان خلق دي چې دظالم حکمران په دروازو باندې چکرې لګوي او ليوني سپي ترې جوړ شي او خلق په ناحقه وهي او هغوي په امسا باندې وهلو سره زغلوي، دحديث شارحين ليکي چې دې حديث مصداق هغه خلق دي چې ديو ظالم حکومت والا سړي حاشيه نشين وي او دهغه نه مخکې روستو او دهغه سره وي او دهغه په وجه سره عامو خلقو لره يرَوي او دهمکي ورکوي. غريب او کمزورې خلقو ته کنځلې کوي وهي يې او د شريفانو عزتونه پايمال کوي دليوني سپي په شان هريو لره خوري، د هدايه په حاشيه کې ليکلې دي چې دظالمانو سره چې کوم کارکونکي وي هغوي ته دشفقت په نظر سره کتل جائز نه دي. عامو شارحينو د موجوده زمانې پوليس دې حديث مصداق ګرځولې دي ځکه چې دغوايانو دلکو په شان امساګاني صرف دهغوی په لاسونو کې وي اګرچه نور ظالمان هم دې حديث مصداق جوړيدی شي چې دظالمانو خانانو، وډيرو، سردارانو او چودهريانو ظالمان نوکران وي دې حديث نه مخکې چې کوم حديث تيرشو په هغې کې هم دې ظالمانو ذکر دی هلته دهغوی دظلم د اوقاتو هم بيان شوی دی. (المرقات ۸۳/۷)

**نساءکاسيات:** دا دويم قسم طرف ته اشاره ده يعنې داسې ښځې به وي چې په ظاهره به يې لباس اغوستی وي خو لباس به دومره نری وي چې بدن به يې صفا په نظر راځي يا به يې لباس دومره تنګ وي چې په هغې سره به دبدن ټول اندامونه راوتلې ښکاري مثلاً سارهي يې واغوسته يا يې نيم بربنډ لباس يې واغوستو يا يې لوپټه په غاړه کې زوړنده کړه دسينې نمائش يې شروع کړو په دې ټولو صورتونو کې په ظاهره خو لباس په نظر راځي خو په حقيقت کې ښځه په دې کې بربنډه وي، بعضې علماء دې حديث دهغې حصې مطلب داهم اخستی دې چې په دنيا کې هغه ښځې په راحت او زيب اوزينت ناز او نعمت کې د هرقسم لباس نه خوند اخلي خو دتقوی نه خالي کيدو سره به په آخرت کې د تقوی او نيک اعمالو دلباس نه بربنډې وي. (المرقات ۸۳/۷)

**ميلات:** يعنې په دې لباس کې ځان جوړ کړي او بازارونو کې ګرځي او پردي سړي ځان طرفته مائله کوي او ګرځي. **مائلات.** يعنې دکورنه په نخرو نخرو سره په دې حالت کې راوځي پخپله دې خبرې دليل دی چې هغوی په قلبي طور باندې پردو سړو طرفته مائله دي اوس هغه نورو لره دښکار کولو دپاره راوتلې دي. دحديث په دې جملې سره دې شيطاني وسوسې جواب کيږي چې د آزادو خلقو په زړه کې يې ځای نيولی دی چې وايي زړه صفا کيدل پکار دي. حديث دا اوخودله چې په دې پوزيشن کې راتلل د زړه دخرابۍ نښه ده.

**كأسنمة**: اسنمه دسنام جمع ده چې د ڦب په معنى دى **البخت**: دا دبختي جمع ده بختي هغه اوښ وي چې دعربي او عجمي اوښانو دنسل نه مشترک نسل پيدا شوى دى، دا د بخت نصر باچا طرفته منسوب دي هغه داسې نسل جاري کړى وو ددې په مقابله کې عراب او عربي دى. (المرقات ۸۴/۷)

**المائلة**: دا د اسنمة کلمې صفت دى يعني دځروب والي دوجې نه هغه قب يو طرفته مائل وي او خوزوي يې دغه دهغه بنځو دسر جوړول وي چې اخوا ديخوا يې خوزوي ځکه چې دلته هغه بنځې مراد دي چې دخپلو سرونو ويښته راغونډ کړي او ولاړ غوندې يې وتړي او دچرګ د چارخولک (قرقرې) په شان يې جوړ کړي يو خوا بل خوا يې مائل کوي، ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چې دا د مصر دبنځو نقشه ده نبي عليه السلام ليدلې نه وه او وې خودله دا دهغوى معجزه وه. (المرقات ۸۴/۷)

**لايدخلن الجنة**: کچيرې دا بنځې دې ناجائزه فيشن او حرام کار لره حلال ګڼي نو بيا خو دايمان نه هم محروم کيدو سره به هميشه په دوزخ کې سوزي او دجنت خوشبو قدرې به بوى نه کړي اوکه صرف ګناهګارې دي نو مراد دادى چې کله نيکې بنځې جنت ته ځي نو هغه وخت به دا بنځې دجنت خوشبو بوى نه کړي د سزا خوړلو نه پس به جنت ته ځي. دريم جواب دادى چې دا حديث په زجر اوتوبيخ اوتشديد اوتغليظ باندې محمول دى. (المرقات ۸۴/۷)

## څوک په مخ باندې مه وهه

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل کله چې په تاسو کې څوک (چالره) وهي نو هغه له

فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ فَإِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ» متفق عليه.[1]

پکار دي چې دهغه مخ بچ کړي په دې وجه چې الله تعالى آدم لره په خپل صورت باندې پيدا کړى دى. (بخاري ومسلم)

**توضيح**: الوجه: يعني په مخ باندې دوهلو نه بچ کيدل پکار دي په دې وجه چې انسان دعالم اصغر په شان دى دده مخ دهغه دمحاسنو اوخوبيانو مرکز دى دالله تعالى دتخليق يو اعلى شاهکار دى، لهذا دا بالکل مناسب نه دي چې څوک دې دهغه توهين وکړي او په وهلو وهلو سره دهغه حليه ورانه کړي (المرقات ۸۴/۷)

دعلى صورته مطلب: ددې جملې په وضاحت کې څو اقواله دي او دا قوالو دکثرت په وجه سره دضمير دمرجع تعين دى. ړومبى قول دادى چې دضمير مرجع پخپله حضرت آدم عليه السلام دى او مطلب

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۵/۱۸۲ رقم الحديث ۲۵۵۹ ومسلم فى ۴/۲۰۱۷ رقم الحديث (۲۶۲۲-۱۱۵) وأحمد فى المسند ۲/۴۶۳

به داوي چې الله تعالى آدم علیه السلام لره هم د آدم په صورت باندې پیدا کړی دی یعني د آدم صورت خپل مثال کې خپل دی لکه چې یو بچی چې د مور او پلار په شکل نه وي نو موریانې وایې چې دا بچی په خپل شکل باندې پیدا شوی دی دا توجیه واضح ترده. دویم قول دا دی چې الله تعالى حضرت آدم علیه السلام لره د تخلیق په یو ممتاز شکل باندې جوړ کړی دی چې د نورو مخلوقاتو د تخلیق انداز نه دی اختیار کړی شوی نو د نورو مخلوقاتو د تخلیق مراحل جدا دي او د حضرت آدم علیه السلام معامله جدا ده. دریم قول دا دی چې ضمیر الله تعالى طرف ته راجع دی او د صورت نه مراد بدن او شکل او شباهت نه بلکه د صورت نه مراد صفات او کمال دی یعني الله تعالى حضرت آدم علیه السلام په خپلو صفاتو باندې پیدا کړو چې په دې کې به علم او وقار، صبر او برداشت او د بصر، سمع او کلام صفات وي د م اګرچه په دې صفاتو کې تفاوت او فرق دی خو الله تعالى د تخلقوا بأخلاق الله په طور باندې حضرت آدم علیه السلام او د هغه اولاد پیدا کړو چې د الله تعالى اخلاق خپل کړي.

## د بل چا کور ته بغیر د اجازت نه کتلو والا قابل د تعزیر دی

### الفصل الثاني

﴿۱۷﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَشَفَ سِتْرًا

او حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل که چیرې یو کس د چا د کور پرده او چته کړه او

فَأَدْخَلَ بَصَرَهُ فِي الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ

د هغه په کور کې یې خپل نظر واچوه هر کله چې ده ته (د هغه په کور کې د کتلو او داخلیدلو) اجازت حاصل نه وو،

فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ فَقَدْ أَتَى حَدًّا

او هغه د هغه کور والا لره ولیدل نو (هغه د داسې څیز ارتکاب وکړو چې د هغې په وجه) سره هغه قابل د تعزیر شو،

لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ وَلَوْ أَنَّهُ

د هغه د پاره (هیڅ کله) جائز نه دي چې هغه (بغیر د اجازت نه د چا کور) ته لاړشي (او د هغه کور ته او ګوري)

حِينَ أَدْخَلَ بَصَرَهُ فَاسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ

کچیرې هغه کور ته د (دروازې په سُورو کې) وکتل او کور والو کې څوک ورته مخې ته راغلو او د دې

فَفَقَأَ عَيْنَهُ مَا عَيَّرْتُ عَلَيْهِ

(کتلو والا) سترګه یې راوښلنه نوزه به (د دې سترګې ویستلو والا) نه تپوس نه کوم او نه به (د تاوان په طور) په هغه باندې څه

| |
|---|
| وَإِنْ مَرَّ الرَّجُلُ عَلَى بَابٍ لَا سِتْرَ لَهُ غَيْرِ مُغْلَقٍ |
| څيز واجب كړم، هاكه څوك سړي په داسې دروازه باندې تيرشو چې په هغې باندې نه څه پرده وه او نه هغه بنده وه او دهغه |
| فَنَظَرَ فَلَا خَطِيئَةَ عَلَيْهِ إِنَّمَا الْخَطِيئَةُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ». |
| نظر دكور په خلقو باندې پريوتلو نو په هغه باندې څه گناه نشته دى بلكه گناه خو به په كور والو باندې وي. چې هغوى دروازه |
| رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1] |
| ولې بنده نه كړه او پرده ئې ولې زوړنده نه كړه (ترمذي) دې روايت لره نقل كړى دې او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دى. |

**توضيح: كشف سترًا**: يعني دكور پرده يې اوچته كړه او دننه يې وكتل. (المرقات ۸۶/۷) **عورة اهله** دعورت نه مراد هر هغه څيز دى چې دهغې په ليدو او بنكاره كيدو سره سړى شرم محسوسوي دكور خلق په دې كې داخل دي. (المرقات ۸۷/۷)

**حدًا** دلته دحد نه تعزير مراد دى يعني قابل تعزير جرم كول يا دحد نه مراد هغه كناره (غاړه) او سرحد او مقام دى دكوم پورې چې ددې سړي راتلل جائز نه دي. (المرقات ۸۷/۷) **فاستقبله** يعني دكور دننه نه څوك سړى مخې ته راغى، (المرقات ۸۷/۷) **ففقاء ففقأ يفقأ فقأ** دفتح يفتح نه د سترگې راوېستلو په معنى سره دى. ماعيرت تعير دباب تفعيل نه شرم ورکولو په معنى سره دى يعني په دې كې سترگې راوېستلو والا سړى به نه ملامت كوم ځكه چې جرم دكتلو والا دى. دا هغه وخت وي هركله چې دكور مخې ته پرده زوړنده وي او هغه دروزاه بنده وي كچيرې دروازه كولاو وي يا پرده نه وي نو بيا جرم دكور والو دى كتونكي ته به داسزا نه شي ورکولى دا حديث مسلمانانو ته دا تعليم ورکوي چې دكور دروازې بندې كړې يا مكمل پرده زوړنده كړې دې دپاره چې بې پردگي نه وي. (المرقات ۸۷/۷)

## تيرې څوكى والا آله چالره په لاس كې دور كولو طريقه

| |
|---|
| ﴿۱۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَعَاطَى |
| او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمايلې ده بغير د قاش نه توره په لاس |
| السَّيْفُ مَسْلُولًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد[2] |
| كې د ورکولو نه. (روايت كړې دې ترمذي، ابو داؤد) |

---

(1) أخرجه الترمذى فى السنن ۵/۶۰ رقم الحديث ۲۷۰۷ وأحمد فى المسند ۵/۱۸۱

(2) أخرجه أبوداود فى السنن ۳/۷۰ رقم الحديث ۲۵۸۸ والترمذى فى ۴/۴۰۳ رقم الحديث ۲۱۶۳/وأحمد فى المسند ۳/۳۰۰

**توضیح:** مسلولا: یعني بربنډه او پرقید لې توره د چاپه لاس کې مه ورکوه ځکه چې د دې د پریوتلو او مخې ته د سړي د زخمي کیدو احتمال دی درانګه د بربنډې توري اخستو په وخت کې د زخم لګیدو یره ده چې یو مسلمان ته د تکلیف رسیدو ذریعه کیدی شي دا حکم صرف د توري نه دی بلکه د هرې تیرې څوکې والا چاره چاقو وغیره همدا حکم دی او د معاشرې د حسن او تهذیب خلاف دی په دې وجه دا نهي تنزیهي ده چې ورته نهي ارشادي وایي، او تهذیب داسې دی چې تیره څیز چالره د ورکولو په وخت تیره طرف د خپل طرف ته کړی شي او یادې په قاش کې بند کړي وردې کړی شي دې دپاره چې اخستونکي ته یره نه وي. (المرقات ۸۸/۷)

## د ګوتو په مینځ کې د تسمې د شلولو ممانعت

﴿۱۹﴾ وَعَنِ الحسنِ عَنْ سَمُرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى

او حضرت حسن رحمه الله د حضرت سمره رضي الله عنه نقل کوي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم د دې خبرې نه منع

أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ أُصبعَينِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[1]

فرمایلي ده چې تسمه دې د دوو ګوتو په مینځ وشلولی شي. (ابوداؤد)

**توضیح:** یقد السیر: قدیقد د نصرینصر نه دیو څیز په اوږدوالي باندې یا مطلقًا کټ کولو ته وایي. السیر د دې جمع سیور راځي د دې نه مراد تسمه یا سخت تار دی چې د هغې په کټ کولو سره د ګوتو د کټ کولو احتمال وي خلق عام طور باندې داسې څیزونه په دواړو لاسونو باندې ونیسي او د شکولو کوشش کوي چې په هغې سره ګوتې زخمي کیږي. د دې نه ممانعت هم نهي تنزیهي او نهي ارشادي او د شفقت په بنیاد باندې ده. (المرقات ۸۸/۷)

## د دین په حفاظت کې وژلی شوی شهید دی

﴿۲۰﴾ وَعَنْ سعيدِ بنِ زيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قُتِلَ

او حضرت سعید بن زید رضي الله عنه راوي دی چې نبي علیه السلام وفرمائیل چې کوم سړی د خپل دین

دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ

حفاظت کولو په وجه ووژلی شي هغه شهید دی چې کوم کس د خپل ځان د حفاظت په وجه ووژلی شي

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۷۱ رقم الحدیث ۴۵۸۹

فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ

هغه شهيد دی کوم کس چې د خپل مال حفاظت کولو په وجه ووژلی شي هغه شهيد دی او کوم خلق

وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]

چې د خپل اهل او عيال حفاظت کولو په وجه ووژلی شو هغه شهيد دی. (ترمذي، ابو داؤد، نسائي)

**توضيح**: ددين په حفاظت کې د وژل شوې مطلب دادی چې ديو مسلمان مخکې کوم کافر يا مبتدع اوملحد داسلام او دين او قرآن تحقير او توهين وکړو، او دا مسلمان دهغه سره په جنګ شو او هغه ملحد ده لره مړ کړو نو دا شهيد دی او د شهيد درجه موندونکی دی، او کچيرې ده هغه ملحد لره قتل کړو نو دا غازي دی دغه شان معامله د مال او متاع او عزت او ناموس ده کچيرې يو کس دده عزت پايمال کولو باندې راوختلو او ده هغه لره قتل کړو نو په ده باندې تاوان نشته دی، او کچيرې حمله کونکي ده لره قتل کړو تو دا شهيد دی. علما و ليکلې دي چې اول دې په نرمۍ سره پوهه کړي کچيرې منع نه شي نو بيا دې لاس پرې اوچت کړي بيا دا سړی يا غازي دی يا شهيد دی. (المرقات ۸۸/۷)

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لِجَهَنَّمَ

اوحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې هغوی وفرمايل د دوزخ

سَبْعَةُ أَبْوَابٍ: بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ

اوه دروازې دي، په دې کې يوه دروازه دهغه سړي دپاره ده چې زما دامت (په خلقو) (په ناحقه)

السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي أَوْ قَالَ: عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

باندې توره اوچته کړي يا يې دا وفرمايل چې په امت محمديه باندې، دې روايت لره ترمذي نقل

وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: «الرِّجْلُ جُبَارٌ» ذُكِرَ فِي «بَابِ الْغَضَبِ»

هَذَا الْبَاب خَالٍ من الْفَصْل الثَّالِث

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۵/۱۲۸ رقم الحديث ۴۷۷۲ والترمذی فی ۴/۲۲ رقم الحديث ۱۴۲۱ والنسائی فی ۷/۱۱۵ رقم الحديث ۴۰۹۰

(۲) أخرجه : ۵/۴۷۷ رقم الحديث ۳۱۴۳ وأحمد فی المسند ۲/۹۴

# باب القسامة
# دقسامت بیان

**قسامة** د ق په زور سره دقسم نه ماخوذ دی **قسم یقسم قسماً وقسامة** دقسم کولو په معني سره دی، او په قسامة کې به هم دپنځوس سړو نه قسم اخستلی شي، یا قسامة د قسمت او تقسیم نه ماخوذ دی او چونکه په قسامة کې قسمونه په څو سړو باندې تقسیمولی شي په دې وجه دې ته قسامة ویلی شوی دی. (المرقات ۹۰/۷)

د قسامة حکم داسلام نه مخکې په جاهلیت کې هم وو اسلام دحفظ دماء او دانسان دحفاظت پیش نظریې دې حکم لره باقي وساتلو، اوس قسامة داسلام په احکاماتو کې یو شرعي حکم دی چې دنبي علیه السلام په مبارکه زمانه کې ترننه پورې محکم غیرمنسوخ راروان دی، قسامة داسلام په قواعدو کې یو اهمه قاعده او دانسانانو دمفادو او مصالحو لویه ذریعه ده او دانساني معاشرې دپاره امن او یو اهم سبب دی، دقسامة تنفیداو نافذولو طریقه کار کې اگرچه د علماو په مینځ کې اختلاف دی مگر ددې باوجود ټول فقهاء او ټول علماء دقسامة په ثبوت او بقاء باندې متفق دي د قسامة متعلق څو بحثونه دي.

**اول بحث دقسامة حقیقت** :دا بحث په دې کې دی چې دقسامة حقیقت ددې تعارف او ددې پس منظر څه دی.نوقسامة هغو پنځوسو قسمونو ته ویلی شي چې په هغه اهل محله او اهل دار باندې ایخودلی شي چیرته چې مقتول وموندلی شي. مثلا په یوه محله کې یو سړی مړ پروت ملاو شو، او کچیرې ددې سړي په مړی د زور نشان یا په کوم څیز سره چې وهلی شوی وي د هغې د زخمي کیدو نشان موجود نه دی نو داسې به ګڼلی شي چې دا سړی په خپل مرګ مړ شوی دی، اوس دقاتل دتفتیش کولو ضرورت نشته دی اوکچیرې ددې مړي په بدن باندې د زخم یا په مړی دزور ننبې وې نودا به ګڼلی شي چې دا چا وژلی دی، اوس به دقاتل تلاش ضروري وي نوشریعت دې محلې والا ذمه دار ګرځولي دي په کومه محله کې چې دا مقتول وموندلی شو چې هغوي قاتل وښائي یا قسمونه وخوري چې دوي ته دده دقتل علم نشته دی نه دقاتل علم شته دی، دقسم خوړلو طریقه داسې ده **والله ماقتلناه وماعلمناقاتله** دقسم خوړلو والا به دمحلې معزز خلق وي عاقل بالغ او آزاد به وي او پنځوس به وي، کچیرې پنځوس کسان ددې محلې نه پوره نه شو نو دیمین په تکرار سره به پنځوس قسمونه پوره کول وي، دقسم خوړلو باوجود به دیت په دوی باندې لازم وي دې دپاره چې انساني جان بې فائدې او ضائع لاړ نه شي، او د هرې محلې خلق دانساني نفس محافظ جوړ شي، دقسامة سبب اوددې علت په یوه محله کې دمقتول موندل دي. (المرقات ۹۰،۹۵/۷)

**دویم بحث د لوث (ښپې) صورت دی** : لوث ښپې او علامې ته وایې په قسامه کې علامت اولوث ته اهم مقام حاصل دی چې په قاتل باندې د وینې ښپې لګیدلې وي یا دهغه توره دمقتول په وینه ککړه وي یا دمقتول دخاندان او ددې محلې والو په مینځ کې دمخکې نه دشمني راروانه وه داټول قرائن حالیه دي، دلوث یو صورت داهم دی چې یو عادل سړی ګواهي ورکړي یاڅو غیرعادل کسان داګواهي ورکړي چې دې محلې والو مقتول لره وژلی دی دا قرینه قولیه ده او دګواهۍ نصاب پوره نه دی. په دې وجه دې ناقصې ګواهۍ سره دقاتل نه قصاص نه شي اخستلی. داحنافو په نزد دلوث (علامې) څه اعتبار نشته دی نور ائمه دا معتبروي تفصیل راروان دی. (المرقات ۹۰/۷)

**دریم بحث دقسامې په مفهوم کې دفقهاو اختلاف** : په یوه محله کې دمقتول په موندلو باندې به په هغه محله کې دقاتل تفتیش شروع کولی شي خو د تفتیش ددې عمل ترتیب به څه وي؟ په دې کې دفقهاو ځانله ځانله اجتهادي فتوی ګاني دي چې په هغې سره د قسامې په مفهوم کې هم فرق راځي وې ګورئ.

**په قسامه کې داحنافو رحمهم الله ترتیب اومسلک** که په محله کې مقتول وموندلی شي او د قاتل پته نه لګي نو داحنافو په دې کې دا مسلک دی چې دمدعیانو نه مخکې به بینه غوښتلی شي کچیرې دهغوی سره ګواه نه وي نو دمحلې دنامور اومشهورو پنځوس کسانو نه به قسمونه اخستلی شي هریو به داسې قسم خوري چې په الله قسم نه ما دا سړی قتل کړی دی او نه ماته دده دقاتل علم شته دی، ددې پنځوس کسانو انتخاب به دمقتول ولي کوي. اوس که دمحلې دې پنځوس کسانو قسمونه وخوړل نوپه اهل محله باندې به دیت واجب وي دا خلق دقصاص او جیل ته دتللو نه دقسمونو خوړلو په وجه سره بچ شول خو که دې پنځوس کسانو دقسم خوړلو نه انکار وکړو نو په جیل کې به اچولی شي تردې چې داخلق یا خو د قتل اقرار وکړي یا قسمونه وخوري، د دې مسلک نه دوه خبره معلومې شوې: یوه داچې دمقتول په وارثانو یعني مدعیانو باندې په یو صورت کې هم قسم نه راځي، دویمه خبره دا چې دقسم نه خوړلو سره په قسامه کې قصاص نه راځي په هرحالت کې دیت دی ځکه چې د قسامې په یوحدیث کې هم دقصاص ذکرنه دی راغلی.

**دشوافعو او مالکیانو ترتیب اومسلک** دشوافعو اومالکیانو مسلک دادی چې د مقتول اولیاو کله په اهل محله باندې دمقتول دقتل دعوی وکړه نودا مدعیان شول اومحلې والا مدعاعلیهم شول کچیرې دلته دلوث (علامې) صورت دی یعني په مړي باندې دقتل ښپې موجودې دي نو دمقتول د اولیاؤ نه به پنځوس قسمونه واخستلی شي چې تاسو قسمونه اوخورئ او اوښائي چې څوک قاتل دی، کچیرې دې پنځوس کسانو قسمونه وخوړل چې فلانی سړی قاتل دی اوس کچیرې دعوی

دقتل خطاء ده نوپه دې خلقو دیت لازمیږي، اوکچیرې دقتل عمد ده نو دامام شافعي رحمه الله مختارقول دی چې دیت به واجب وي مګر د امام مالک رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په نزد او دامام شافعي رحمه الله دیو قول مطابق په قاتل به قصاص راځي. او کچیرې دمقتول وارثانو دقسم خوړلو نه انکار وکړو نو اوس به قسمونه دمحلې پنځوس سړو نه اخستلی شي دغه رنګه که د لوټ (علامې) صورت نه وي نو هغه وخت به هم قسمونه په محلې والا باندې راځي.(مرقاة ۹۰/۷)

کچیرې اهل محله قسمونه وخوړل چې نه مونږ قتل کړی دی او نه مونږ ته دقاتل علم شته دی نومحلې والا به ددیت او قصاص نه آزاد شي اوکه محلې والاو دقسمونو خوړلو نه انکار وکړي نو اوس به په دوی باندې دیت واجب شي. دجمهورو دمسلک نه داخبره واضحه شوه چې په محله والا باندې به قسم صرف په هغه صورت کې راځي کله چې د لوټ (ننبې) صورت نه وي اویاصرف په هغه صورت کې په هغوی قسم راځي کله چې دمقتول اولیاء دقسم خوړلو نه انکار وکړي. دویمه خبره دا واضحه شوه چې د قسمونو خوړلو دپاره اصل ذمه وار اولیاء د مقتول دي هرکله چې لوټ موجود وي، خلاصه داچې داحنافو په نزد دمقتول په اولیاو باندې په هیڅ صورت کې هم قسمونه نه راځي، او دجمهورو په نزد د لوټ په صورت کې دمقتول په اولیاو باندې قسمونه راځي دارنګه داحنافو په نزد دمحلې والا په هرصورت کې ددیت ذمه دار دي که قسمونه اوخوري یا دقتل اقرار وکړي دې دپاره چې دمسلمان وینه بې ځایه لاړه نه شي جمهورو وایي چې قسمونو خوړلو سره محلې والا ددیت نه آزادیږي. (المرقات ۹۰،۹۵/۷)

**دلائل**: دقسامې په احادیثو کې مختلف او متضاد الفاظ راغلي دي، نوفقهاء کرام په اجتهادي انداز سره ددې الفاظو نه په خپله مدعاباندې دلیل پیش کوي. دغه شان امام مالک رحمه الله د وجوب قصاص دپاره ددې الفاظو نه استدلال کوي چې دسهل بن ابي حثمهؓ په روایت کې دي چې نبي علیه السلام مقتول ته وفرمایل: **استحقوا قتیلکم اي قصاص قتیلکم** امام شافعي رحمه الله اوامام مالک رحمه الله دمقتول داولیاؤ نه دقسمونو اخستلو دپاره ددې حدیث دالفاظو نه استدلال کوي **بأیمان خمسین منکم وفي روایة تحلفون خمسین یمیناً** ائمه احناف د مقتول داولیاو نه دقسمونو نه اخستلو دپاره ددې مشهور حدیث نه استدلال کوي چې په حقیقت کې ددین ټولو معاملاتو لره یوه ضابطه ده یعني **البینة علی المدعي والیمین علی من أنکر** ائمه احنافو د باب القسامة درافع بن حدیج د روایت نه استدلال کړی دی چې په دریم فصل کې دقسامه دویم حدیث دی چې په کې په واضح طور باندې دمدعیانو نه ګواه طلب کړی شو، او بیا د مدعاعلیهم نه دقسم اخستلو ترتیب مذکور دی.

**جواب** : ائمه احناف وغیره امام مالک رحمه الله ته دقصاص په باره کې دا جواب ورکوي چې د قسامې څومره احادیث دي په یوکې هم دقصاص ذکر نشته دی په ټولو کې ددیت ذکر دی لهذا دقصاص قول دهغه روایاتو په موجودګی کې مناسب نه دی اومعتبرهم نه دی. ائمه احناف رحمهم الله، امام شافعي اوامام مالک رحمهماالله او حنابلو ته د مقتول په اولیاو باندې دقسمونو مقررکولو په باره کې دا جواب ورکوي چې په ابوداؤد شریف کې درافع بن خدیج رضي الله عنه روایت کې چې کوم تفصیل دی دې لره خپلول پکار دي په هغې کې په واضح طور باندې ذکر دي چې نبي علیه السلام دټولو نه مخکې دمقتول اولیاو ته چې مدعیان دي وفرمایل چې تاسو په قتل باندې ګواه راولئ هغوی وویل چې ګواه زمونږ سره نشته دی، نبي علیه السلام وفرمایل چې بیا دیهودو نه دپنځوس کسانو نه قسمونه واخلئ هغوي وویل چې دیهودو په قسمونو باندې اعتماد نشته دی په دې سره نبي علیه السلام د زجر او توبیخ په طور او د انکار په طور وفرمایل چې آیا بیا تاسو په خپله قسمونه خورئ نو ویې خورئ.؟ یعني دهغوي قسمونه منظور نه دي نوبیا به تاسوپخپله قسمونه خورئ حالانکه تاسو مدعیان یې او دمدعي دپاره قسم نشته ځکه چې مشهور حدیث دی **البینة علی المدعي والیمین علی من انکر** ددې واضح حدیث په مقابله کې دقسامې د حدیثونو د اشاراتو نه استدلال نه شي کولی. دقسامې په باره کې حضرت عمرؓ هم دصحابو په مجمع کې د مدعی علیهم نه قسم واخستلو بطور اجماع یې واضحه کړه چې دمقتول په اولیاو باندې قسمونه نشته دی. (المرقات ۹۶/۷)

**دفع د تضاد** : په باب القسامه کې صاحب مشکوة صرف دوه حدیثونه ذکر کړې دي په دې احادیثو کې څو الفاظ داسې دي چې دهغوي په خپل مینځ کې تضاد اوتعارض دی ځکه چې دقسامې نورو ټولو روایاتو ته په کتو سره څو خبرې مخې ته راځي :(۱) په بعضې روایاتو کې د بینه ذکر دی اوپه بعضو کې دبینه تذکره نه نشته دی.(۲) دبعضې روایاتو نه معلومیږي چې اول دمقتول داولیاو نه دقسمونو اخستلو مطالبه شوې ده اودبعضو نه معلومیږي چې اول د مدعاعلیهم نه دقسمونو مطالبه شوې ده.(۳) دبعضې روایاتو نه معلومیږي چې یهودو قسمونه خوړلي وو او دبعضونه پته لګي چې هغوي انکار کړی وو.(۴) په بعضې روایاتو کښې راغلې دي چې دمقتول دیت نبي علیه السلام اداء کړی وواوپه بعضوکې راځي چې یهودو دیت ادا کړی وو. ددې تضاد وضاحت داسې دي چې چیرته دبینه تذکره د روایاتو نه نه معلومیږي نو هغه د عدم وجدان دبینې د وجې نه دی ورنه

دينې ذکر موجود دی، او چرته چې مدعي نه دقسم مطالبه معلوميږي نو هغه په حقيقت کې استفهام انکاري دی. او چيرته چې د رواياتو نه معلوميږي چې يهودو قسم خورلی دی نو په اصل کې يهودو د محکمه قضاء نه بهر قسمونه خورلې دي مګر په عدالت کې دننه يې انکار وکړو . او چيرته چې په رواياتو کې ذکر دي چې ديت نبي عليه السلام اداء کړو نو په اصل کې ددیت څه حصه نبي عليه السلام ادا کړه او څه يهوديانو ادا کړه، يا د تنازع دفعه کولو دپاره ديرش اوښان نبي عليه السلام ورکړل او اويا اوښان يهوديانو ورکړې وو. ددې تفصيلاتو نه پس اوس به په احاديثو پوهيدل آسان شي.

## په قسامه کې به د مدعي نه قسم اخستلی شي او که د مدعاعليه نه

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

﴿۱﴾ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ أَنَّهُمَا حَدَّثَا

حضرت رافع بن خديج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت سهل ابن ابي حثمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه بيان کوي چې عبد الله بن سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ أَتَيَا خَيْبَرَ

او محيصه ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خيبر ته راغلل نو (يوه ورځ سيل کولو دپاره) دواړه دکهجورو په ونو کې يو

فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلٍ

دبل نه جدا شول نو عبد الله بن سهل (چا يو اځي و موندلو) نو قتل يې کړو. (او ددې حادثې نه پس)

فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ سَهْلٍ وَحُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُودٍ

عبد الرحمن بن سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (چې دمقتول حقيقي ورور وو) او دمسعود دواړه ځامن چې حويصه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او محيصه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمُوا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمْ

(چې دمقتول دتره ځامن وو) د نبي عليه السلام په خدمت کې او دخپل عزيز مقتول په باره کې يې مقدمه پيش کړه،

فَبَدَأَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَكَانَ أَصْغَرَ الْقَوْمِ

کله چې عبد الرحمن دخبرو ابتداء وکړه (چې دمقتول حقيقي ورور وو) او په درېواړو کې وړوکی وو

فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَبِّرِ الْكِبْرَ" قَالَ

نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته وفرمايل چې دخپل مشر ورور لويي لره مخې ته کړه حضرت يحيي بن سعيد

يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: يَعْنِي لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْأَكْبَرُ

(چې دحديث راوي دی) وايي چې په دې ارشاد گرامي سره دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد دا وو چې کوم کس د ټولو نه

فَتَكَلَّمُوا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

لوی وي هغه به د خبرو ذمه دار وي نو (ددې نه پس) هغه (یعني دې مشر) خبره وکړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل چې

«اسْتَحِقُّوا قَتِيلَكُمْ أَوْ قَالَ صَاحِبَكُمْ

کچیرې په تاسو کې پنځوس کسان قسم وخوري نو ته دخپل مقتول یا (دخپل مقتول په ځای) یې دا وفرمایل چې دخپل

بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْكُمْ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَمْرٌ لَمْ نَرَهُ

ملګري خون بها یا د قصاص اخستلو مستحق یې. هغوی عرض وکړو ای دالله رسوله! دا خو داسې څیزونه دي کوم لره چې

قَالَ: فَتُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ فِي أَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ؟

مونږ لیدلي نه دي نبي علیه السلام وفرمایل چې پنځوس یهودیان به قسم اوخوري (ستاسو ددې شبهې نه) به

قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ

تاسو پاک کړي هغوی عرض وکړو ای دالله رسوله! هغوی کافر دي (دهغوی د قسمونو څه اعتبار دی؟)

فَفَدَاهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ.

نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام (دفتنې او فساد د ختمولو دپاره) د مقتول وارثانو ته دخپل طرف نه دیت اداء کړو

وَفِي رِوَايَةٍ: «تَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا

اوپه یو روایت کې دا الفاظ دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل تاسو پنځوس قسمونه اوخورئ او دخپل

وَتَسْتَحِقُّونَ قَاتِلَكُمْ أَوْ صَاحِبَكُمْ» فَوَدَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مقتول یا یې دا وفرمایل چې دخپل ملګري ددیت مستحق شئ (ددې نه پس) نبي عَلَيْهِ السَّلَام دخپل

مِنْ عِنْدِهِ بِمِائَةِ نَاقَةٍ[1]

طرف نه سل اوښان دیت اداء کړو. (بخاري ومسلم)

## وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ مِنَ الْفَصْلِ الثَّانِي

**توضیح: فتفرقا في النخل**: یعني عبدالله بن سهلؓ او حویصه بن مسعودؓ خیبر ته تلي وو ځکه چې دخیبر دفتح کیدو نه پس ځمکې په مسلمانانو کې تقسیم شوې وې نو مسلمانان به کله کله دخپلو

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/۵۳۵ رقم الحدیث ۶۱۴۳-۶۱۴۲ ومسلم فی ۳/۱۲۹۲ رقم الحدیث ۱۶۶۹-۴) والترمذی فی السنن ۱/۴۲

زمکو کتو په غرض هلته تلل یهود هسې هم د مسلمانانو جاني دشمنان وو په دې باندې مزید دا چې هغوي دې زمکو لره خپل حق ګڼلو په دې وجه هلته وقتًا فوقتًا حالات خرابولو لره به یې بدامني خورولە په دې ماحول کې دا دوه صحابه کرام هلته تلې وو او کله چې دیوبل نه جدا شول نو د موقع موندلو سره د خیبر یهودیانو عبدالله بن سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره په باغونو کې شهید کړو، دې یهودیانو روستو د خیبر حالات نورهم خراب کړل او بدامني یې خوره کړه، هلته فحاشي په ترقي وه نو حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل د خلافت په زمانه کې هغوی لره د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ د فرمان مطابق د شام زمکې طرف ته وشړل. (المرقات ۹۱/۷)

کبرالکبر د دې حدیث نه یو ادب ملاویږي چې د احترام او اکرام او د ادب تقاضا داده چې په مجلس کې به کشران خاموش وي او مشران به خبرې کوي. (المرقات ۹۲/۷، الکاشف : ۱۱۷/۷)

دارنګه د دې حدیث نه یو تعلیم دا ملاو شو چې په حدود و کې وکالت جائز دی او د غائب سره سره د حاضر وکالت هم جائز دی، دلته د مقتول ولي او حقیقي ورور عبدالرحمن بن سهل موجود وو خو د کشرۍ په وجه سره نبي علیه السلام د خبرو کولو حکم نورو ته ورکړو چې مشران وو او د ترهٔ ځامن یې وو، د دې حدیث نه دا خبره ثابته شوه چې په قسامت کې به د مدعي نه مخکې قسم واخستلی شي دا د جمهورو مسلک دی دا حنافو دلیل راتلونکي روایت کې دی. (المرقات ۹۲/۷)

## د قسم ابتداء د مدعاعلیه نه ګول پکار دي

### اَلْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۲﴾ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولًا بِخَيْبَرَ

حضرت رافع بن خدیج وایي چې په انصارو کې یو سړی (یعني عبدالله بن سهل) په خیبر کې قتل کړی شو

فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو دهغه وارثان (یعني دهغه ځامن او دترهٔ ځامن) یې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضر شو او خپله

فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: «أَلَكُمْ شَاهِدَانِ

مقدمه یې پیش کړه، نبي عَلَيْهِ السَّلَام (هغوی ته) وفرمایل چې آیا تاسو سره ګواه شته چې ستاسو د

يَشْهَدَانِ عَلَى قَاتِلِ صَاحِبِكُمْ؟» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

مقتول په باره کې ګواهي ورکړي هغوی عرض وکړو چې ای د الله رسوله! هلته څوک مسلمانان خو

| |
|---|
| لَمْ يَكُنْ ثَمَّ أَحَدٌ من المسلمينَ وإنما هُوَ يهود |
| موجود نه وو البته يهودیان وو (چې په ظلم کولو، په فتنه او فساد خورولو او حیله ګرۍ کې ډیر مشهور دي) هغوی |
| وَقد يجترؤن عَلَى أَعْظَمَ مِنْ هَذَا |
| خو ددې نه هم دلوی کار جرأت لري (لکه پیغمبران قتلول، دالله تعالی په کلام کې تحریف کول او دالله تعالی د احکامو |
| قَالَ: «فَاخْتَارُوا مِنْهُمْ خَمْسِينَ فَاسْتَحْلِفُوهُمْ». |
| نه بنکاره سرکشي کول) نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل بنه ده ته په هغوی کې پنځوس کسان منتخب کړه او دهغوی نه |
| فَأَبَوْا فَوَدَاهُ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| قسمونه واخله خو د مقتول وارثانو دیهودیانو نه دقسم اخستلو نه انکار وکړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ددې |
| مِنْ عِنْدِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| مقتول دیت دخپل طرف نه ورکړو. (روایت کړې دې ابوداؤد) |

**توضیح : الکم شاهدان** : دا حدیث په دې واضح دلالت کوي چې په قسامت کې به دمدعي نه مخکې ګواهان وغوښتلی شي کچیرې ګواه نه وي نو بیا به مدعاعلیه نه قسم اخستلی شي اوهمدا دشریعت عامه ضابطه هم ده او په دې باندې داحنافو عمل دی **البينة علي المدعي واليمين على من انكر** احناف وایي چې ددې روایت نه مخکې روایت کې اجمال دی او ممکنه ده چې په بیان کولو کې د راویانو نه تقدیم اوتاخیر شوی دی، لهذا ددې مجمل په مقابله کې دا مفسر روایت اخستل زیات مناسب دی، اوصاحب د مشکوة طرز بیان هم داسې دی چې هغه راتلونکی روایت بطور تفسیراو بطور وضاحت راوړي. (المرقات ۹۵/۷)



(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٦١ رقم الحديث ٤٥٢٤

# باب قتل اهل الردة والسعاة بالفساد
# د مرتدو او فسادیانو د قتل کولو بیان

إِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا (المائدة: ۳۳)

الردة: دا باب د مرتد د قتل او د فساد کونکو د قتل متعلق دی. ارتدَّ یرتدُّ ارتدادا، دا د شاتللو او واپس کیدلو په معنی سره دی، چې کوم سړی داسلام قبلیدو نه پس داسلام نه واوړي هغه ته مرتد وایي، شاه ولي الله رحمه الله د ردت او ارتداد تعریف داسې کوي: د وجود ایمان نه پس د کفر کلمه په ژبه باندې د راوستلو نوم ردت او ارتداد دی، یعني په ژبه باندې داسې کلمه راشي، چې د ضروریاتو د دین نه په انکار باندې مبني وي یا په تکذیب باندې مبني وي یا د دین دیو حکم پورې په استهزاء باندې مبني وي یا قصداً داسې فعل ترې نه وشي چې په استهزاء او د دین په سپکاوي باندې دلالت کوي، د ارتداد دپاره د سړي عاقل کیدل شرط دی او بالغ کیدل هم شرط دی، لهذا په لیوني او نابالغ ماشوم باندې دارتداد حکم نه نافذکیږي. چې کوم سړی مرتد شي نو په هغه به دوباره اسلام پیش کولی شي که څه شک اوشبهه وي نو هغه به لرې کړی شي د دې مقصد دپاره مرتد ته دړې ورځې مهلت ورکولی شي، که په دې ورځو کې هغه په اسلام کې داخل شي نو ټیک ده او که نه نو قتلولی به شي مرتد ته داسلام دوباره مهلت ورکول مستحب دي واجب نه دی، ځکه چې یو ځل واجب دعوت ورته رسیدلی دی، کچرې مرتد مهلت غواړي نو دامام شافعي په نزد دریو ورځو پورې مهلت ورکول واجب دي، بعضې علماء فرمایي چې مهلت ورکول واجب اوضروري نه دي ځکه چې د من بدل دینه فاقتلوه چې کوم حدیث دی په هغې کې دمهلت ورکولو څه ذکر نشته دی. بهرحال دړې ورځو پورې به د دې مرتد خبرې اوریدلی شي او ده لره به ښه دپوهه کولو موقع ورکولی شي اوبهتره داده چې ده لره دې په جیل کې وساتلې شي که منع نه شو نو قتل دې کړی شي. ښځه کچیرې د اسلام نه واوړي نو داحنافو په نزد د دې سزا جیل دی او پوهه کول دي قتلول یې جائز نه دي ځکه په دیرو احادیثو کې نبي علیه السلام د ښځو دقتل نه منع فرمایلې ده، دارنګه ښځه ناقص العقل ده هغه د دشمن په صفونو کې ننوتو سره دجنګیدو قابل نه ده ها کچیرې یوه کافره ښځه سرداري کوي یا مال ورکوي نو هغه دې قتل کړی شي. د شوافعو ائمه د ښځې دقتل قائل دي دهغوی دلیل دحدیث عموم دی چې په کې دي چې من بدل دینه فاقتلوه د هغوی په نزد دا حدیث دمرتدې قتل ته هم شامل دی، بهرحال اسلام یو همه ګیر (شامل) آفاقي دین دی، چې دین فطرت دی د دې نه تر اوسه پورې یو کس هم په دې وجه نه دی مرتدشوی چې هغه ته اسلام ناخوښه شوی

وي يا په اسلام کې ورته نقص ښکاره شوی وي، څومره خلق چې مرتد شوې دي هغوی ددنياوي مفاداتو او خواهشاتو ښکار کيدو سره مرتدشوې دي. بيا که څوک دلوی نه لوی سړی هم مرتدکيدو سره اسلام نه واوړي نوتاريخ ګواه دی نوددې په بدله کې الله تعالی ددې مرتد نه په څو چنده بهتر سړي ته په اسلام کې د داخليدو توفيق ورکوي. **سعاة**: دا دساعي جمع ده او دکوشش په معنی سره دی دلته ددې نه داسې سړی مراد دی چې په دين اسلام اومسلمانانو کې دفساد خورولو کوشش کوي، د سعاة مصداق شو لاره وهونکی ډاکواو لاره لوټونکي خلق دي نوپه (انما جزاءُ الذين يحاربون الله ورسوله) آيت سره هغه خلقو طرف ته اشاره موجوده ده.

**د ارتداد صورتونه**: دمرتداو ارتداد څو صورتونه دي دټولو ذکر کول مشکل دي البته دڅو اصولي صورتونو ذکر کول ضروري دي، مثلاً دالله تعالی په ذات اوصفاتو کې دڅه نه انکار يا توهين کول، په انبياء کرامو کې دچا انکار ياتوهين کول، الله تعالی او دهغه رسول ﷺ طرف ته د څه نامناسب خبرې نسبت کول، دکفرکلمې ويل او د کفر موجب افعال کول، دقرآن مجيد نه انکار کول يا هغې ته د ناقص او محرف نسبت کول، ياقولاً او فعلاً ددې توهين کول، دمونځونو او نورو عباداتو نه انکارکول اود هغې توهين کول، د دين دعلم او دعلماؤ متعلق دکفر موجبونکی قول او يا فعل کول، حرام ته حلال او حلال ته حرام ويل، دقيامت نه انکار کول يا ددې متعلق دشريعت منافي عقيده ساتل، د عالم بالا او فربښتو نه انکار کول يادډې توهين اوتحقير کولت، دجنت او دوزخ نه انکار يا دهغې پورې مذاق کول داټول د ارتداد باعث اقوال وافعال دي. دمرتدينو خلاف جهاد کول ضروري دي صديق اکبر رضی الله عنه دنبي عليه السلام دوفات نه پس دمرتدينو خلاف يو کاله پورې جهاد کړی وو دطرفينو نه شپېته زره کسان مړه شوې وو نو بيا په جزيره عرب کې اسلام په هغه نهج باندې راغی کوم چې په عهد نبوي ﷺ کې وو.

## دمرتدو او دفسادیانود قتل کولو بیان

### الْفَصْلُ الأول

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ | عِكْرِمَةَ | قَالَ: | أُتِيَ | عَلِيٌّ | بِزَنَادِقَةٍ |
| حضرت عکرمه وائي چې يوځل څه زنديقان دحضرت علي کرم الله وجهه په خدمت کې راوستلی شو | | | | | |
| فَأَحْرَقَهُمْ | فَبَلَغَ | ذٰلِكَ | ابْنَ | عَبَّاسٍ | فَقَالَ: |
| نو (حضرت علي رضی الله عنه) دوي وسوځول کله چې ددې خبر حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته وشو نو هغوی وفرمايل | | | | | |

لَوْ كُنْتُ أَنَا لَمْ أُحَرِّقْهُمْ لِنَهْيِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:
چې که چيرې زه وی نو مابه نه سوځول ځکه چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دد ې ممانعت فرمايلی دی
«لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللهِ»
چې څوک دې په داسې عذاب کې نه مبتلا کوي چې د الله تعالى دعذاب په شان وي (لکه څوک په
وَلَقَتَلْتُهُمْ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ
اور کې سوځول) بلکه مابه هغوي قتلول ځکه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې کوم کس
بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1]
خپل دين بدل کړي هغه قتل کړئ. (بخاري)

**توضيح: اتي بزنادقة**: زنادقه دزندیق جمع ده او د زندیق تفسير اوتشريح کې دعلماو مختلف اقوال دي: رومبی قول دادی چې زندیق داسې سړی دی چې د اسلام دحقانيت اقرار کوي مګر ددين اسلام د احکاماتو اوضروریاتو ددين داسې تفسير اوتشريح کوي چې دسلفو صالحينو او د صحابو او تابعينو د تشريح اوتوضيح خلاف وي، يا دشريعت څه ثابت شوی قطعي حکم مثلاً جنت دوزخ لره منل خوددې دواړو دخپل طرفنه تشريح کوي، او وايې چې جنت څه خاص ځای اومقام نه دی بلکه د زړه راحت اواطمينان دی او دوزخ نه مراد قلبي غم او پريشاني ده په خارج کې ددې دواړو څه حقيقت نشته دی. بعضو ويلې دي چې زندیق هغه دی چې د اسلام خلاف عقيده ساتي اوددې خورول او اظهار هم کوي او ورسره داسلام دعوي هم کوي. بعضې علماء وايې چې اصل کې زندیق دمجوسيانو د يو قوم نوم دی چې د زرتشت مجوسي د خودساخته کتابزند پيروکار دي خو په عامه اصطلاح کې هرملحد في الدين ته زندیق ويلی شي. ځينو علماو دعبدالله بن سباء يهودي د منافق قوم افرادو ته زندیق ويلې دي. کومو چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خدای ويلو يا حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوی منع کول خو هغوی ويل چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تواضع کوي، همدا علي پاس په عرش باندې الله وو (**العياذبالله**) او لاندې دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شکل کې راکوز شو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډير پوهه کړل مګر داخلق منع نه شول ځکه چې دا خلق فتنه اوفساد خورولو دپاره اسلام ته راغلې وو. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې خلقو لره دسوځولو حکم وکړو او کندې يې وکنستې

---

(1) أخرجه البخارى فى صحيحه ١٢/٢٦٧ رقم الحديث ٦٩٢٢ وأبوداود فى السنن ٤/٥٢٠ رقم الحديث ٤٣٥١ والترمذى فى ٤/١٨ رقم الحديث ١٤٥٨ والنسائى ٧/١٠٤ رقم الحديث ٤٠٥٩ وابن ماجه فى ٢/٨٤٨ رقم الحديث ٢٥٣٥

اوپه هغې کې يې اُور بل کړو. او دې ټولو لره يې وسوځول. هرکله چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوې وسوځول نو حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل کچيرې زه د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ځای وی نو ما به په اُور کې دسوزولو په ځای قتل کړې وو، يا به مې په بله ذريعه مړه کړې وو ځکه چې د اُور په ذريعه قتلول دالله تعالى حق دی په زنديق او منافق کې دا فرق دی چې منافق خپل غلط عقائد پټوي او مګر زنديق خپل عقائد ښکاره کوي. علماو ليکلي دي چې دزنديق توبه معتبره نه ده لهذا دده دتوبې اواستغفار څه ضرورت نشته هغه لره قتلول دي، مګر بعضو نورو علماوو ويلي چې دزنديق توبه جائز او قبوله ده امام نووي د مسلم په شرح کې ليکلي چې راجح همدا ده چې د زنديق توبه قبوله ده ځکه چې د توبې احاديث مطلق اوصحيح دي اګرچه د زنديق د توبې قبليدو يا نه قبليدو کې پنځه اقوال دي. (المرقات ۹۷،۹۸/۷)

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رايه چې کله حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واوريده نو د زنادقو سوځول يې بند کړل او وې فرمايل دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول رښتيا دی، معلومه شوه چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اجتهاد په طور باندې دوی لره سوځول دې دپاره چې دنورو دپاره عبرت جوړشي، او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د الله ويلو داجرم بل يو کس ونه کړي.

## چاته په اُور کې دسوزولو سزا مه ورکوه

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِن

اوحضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې د اُور عذاب خو

النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا

صرف الله تعالى ورکوي (لهذا دالله تعالى نه علاوه بل چادپاره مناسب نه دي چې هغه يو انسان لره

إِلَّا الله». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دهغه په څه جرم سره په اُور کې دسوزولو سزا ورکړي.) (بخاري)

## د خوارجو دفرقې نشاندهي

﴿۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «سَيَخْرُجُ

اوحضرت علي کرم الله وجهه وايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوريدلو چې نزدې ده

قَوْمٌ فِي آخِرِ الزَّمَانِ حُدَّاثُ الْأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الْأَحْلَامِ

دد ې زماني په آخر کې به څه خلق پيدا شي چې ځوانان به وي دلږ عقل والا به وي خلقو ته به ښې

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۶/۱۱۵ رقم الحديث ۲۹۵۴

| |
|---|
| يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ لَا يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ |
| خبرې کوي مګر دهغوی ایمان به د حلق نه مخکې نه ځي (د ایمان نه مراد مونځ دی یعني دهغوی |
| يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ |
| مونځ به نه قبلیږی) او هغه خلق به د دین نه داسې اوځي څنګه چې غشی د ښکار نه اوځي لهذا په تاسو |
| فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ فَإِنَّ فِي قَتْلِهِمْ |
| کې چې کوم کس داسې خلقو سره ملاو شي نو هغوی قتل کړئ ځکه چې دهغوي دقتلولو به هغه |
| أَجْرًا لِمَنْ قَتَلَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» متفق عليه (صَحِيح)[1] |
| سړي ته د قیامت په ورځ انعام ملاویږي څوک چې هغوي قتل کړي. (بخاري و مسلم) |

**توضيح**: **حداث الاسنان**: په حداث کې دال مشدد دی دا د حدیث جمع ده خو خلاف قیاس ده، ددې نه نوعمر ځوان مراد دی. **اسنان** دسن جمع ده غابنونوته وائي د عمر نه کنایه ده ځکه چې دغابنونو په اعتبار سره عمر بدلیږي. **سفهاء دسفیه** جمع ده کمزوري عقل والا، مراد بې عقله اوبې وقوف دي **الاحلام**: د حلم جمع ده په حاباندې کسره ده عقل ته وایي **خیرقول البریه** د **بریة** لفظ د ځمکې دپاسه موجود مخلوق دپاره استعمالیږي یعني دښو ښو خلقو ښې ښې خبرې نقل کولو سره بیانوي، دلته دا خبره دیادساتلو ده چې دمشکوة شریف په ټولو نسخو کې عبارت داسې دی چې د خیر لفظ په قول باندې مقدم دی خو په مصابیح کې د قول لفظ په خیرباندې مقدم دی عبارت داسې دی **من قول خیرالبریة** شیخ اشرف رحمه الله فرمائي چې د خیرالبریه نه مراد دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د تعلیماتو خبرې کوي، بعضو د خیر البریة نه مراد قرآن اخستی دی یعني د قرآن ایتونه لولي مګر په دې باندې ایمان نه راوړي ایمان یې صرف په ژبه باندې وي زړه دایمان نه خالي وي (المرقات ۱۰۱/۷) **حناجر د حنجرة** جمع ده حلقوم او مرئ ترې مراد ده. **یمرقون من الدین مرق یمرق مرقاً** د نصر ینصر نه د وتلو په معنی سره دی او **الدین** نه ملا علي قاري د وخت د حق پرست باچا اطاعت مراد اخستی دی یعني دا دین به داسې خارج شي لکه چې په ښکار پسې ویشتلی شوی غشي د مینځ نه په تیزی سره اوځي او په وینې سره بالکل ککړ نه وي دا خلق به هم داسې د اسلام نه صفا صفا وځي او په دوی به د اسلام هیڅ اثر نه وي د دې پیشن ګوئي مصداق خوارج دي. (المرقات ۱۰۱/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۲۹۵ رقم الحدیث ۶۹۳۰ ومسلم فی ۲/۷۴۶ رقم الحدیث (۱۰۶۶-۱۵۴) وأبوداود فی السنن ۵/۱۴۱ رقم الحدیث ۴۷۶۷ وأحمد فی المسند ۱/۱۳۱

**د خوارجو شرعي حیثیت څه دی** علامه خطابي دخوارجو متعلق فرمائي چې دا مسلمانانونه یوه فرقه ده مګر ګمراهي راګیره کړې ده دهغوی ذبیحه حلاله ده اود هغوی دښځو سره نکاح جائزده. د حضرت علي رضی الله عنه دخوارجو متعلق تپوس وکړی شو چې آیا داخلق کافر دي؟ نودوي ورته وفرمایل چې دکفر نه داخلق تختیدلې دي تپوس وکړی شو چې آیا دامنافقان دي.؟ دوي ورته په جواب کې وفرمایل چې منافقین ذکر نه کوي داخلق سحرمابنام الله تعالی یادوي. تپوس وکړی شو چې بیا دا کوم خلق دي دهغوی شرعي حیثیت څه دی، حضرت علي رضی الله عنه فرمایل چې دایو فرقه ده چې دوي لره ګمراهي راګیر کړې دي چا څه ښه ویلی دي:

ایک ہی بس لفظ سے ہے دونوں کا خروج — خائے خرسے خارجی اور رائے خرسے رافضی

دیو لفظ نه د دواړو فرقو خروج دخائی خرنه خارجي او د رائی خرنه رافضي

په توضیحات جلداول صفحه ۳۱۴ باندې د تقدیر د منکرینو د تکفیر او د عدم تکفیر بحث لره هم اوګورئ.

د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنه په مینځ کې دتنازع په دوران کې د واقعه تحکیم په موقعه باندې خوارج پیدا شو دا د حضرت علي رضی الله عنه ملګري وو او هم دده خلاف یې خروج وکړو او دکوفې سره حروارا مقام کې جمع شول او دهغوی تعداد شپږزره وو په جنګ نهروان کې حضرت علي رضی الله عنه دوی ته شکست ورکړو قتل یې کړل، نن صبا دسلطنت عمان فرمانروا سلطان قابوس دخوارجو نه دی په دغه ملک کې دخوارجو زور دی نور تفصیل راروان دی. (المرقات ۱۰۱/۷)

## دخوارجو په باره کې دنبي علیه السلام پیشن ګوئي

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه وائي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل څه ورځي پس به زما امت په |
| «يَكُونُ أُمَّتِي فِرْقَتَيْنِ فَيَخْرُجُ مِنْ بَيْنِهِمَا |
| دوه فرقو کې تقسیم شي او په دواړو فرقو کې به یو داسې جماعت پیدا شي چې دحق د اطاعت نه به وتونکي وي |
| مَارِقَةٌ يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| ددې جماعت دمرګ ذمه داري به په دې دواړو فرقو کې هغه سړي پوره کړي چې حق ته به زیات نزدي وي. (مسلم) |

**توضیح**: فرقتین: ددې دواړو فرقونه د حضرت علي رضی الله عنه او د حضرت معاویه رضی الله عنه حامیان دوه فرقې مراد دي په دې کې یوه فرقه شیعه ګان علي یعني دحامیان علي په نوم سره مشهوروو او دویمه فرقه شیعه ګان معاویه په نوم سره مشهوره وه. (المرقات ۱۰۱/۷)

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۲/۷۴۶ رقم الحدیث (۱۰۶۴-۱۵۱) واحمد فی المسند ۳/۳۲

مارقة : د نصرينصر نه دوتلو په معني دی اي جماعة ماقة يعني دامير اطاعت نه وتلو والا فرقه ددې نه مراد خوارج دي چې د تحکيم د واقعې په وخت پيداشو ان الحکم الا لله نعرې به يې لګولې حضرت علي رضي الله عنه لره يې کافر ګرځولو اودهغه خلاف يې جنګ شروع کړو په جنګ نهروان کې حضرت علي رضي الله عنه دهغوی شپږ زره کسان مړ کړل. (المرقات ۱۰۲/۷)

يې قتلهم اولاهم بالحق ددې کلام مصداق حضرت علي رضي الله عنه دی دوي دخوارجو سره څو جنګونه کړي دي په جنګ نهروان کې حضرت علي رضي الله عنه څو زره خوارج هلاک کړي دي. په دې کې څه شک نشته دی چې د حضرت علي رضي الله عنه او د حضرت معاويه رضي الله عنه په خپل مينځ کې په تنازع کې حضرت علي رضي الله عنه په حقه باندې وو او مونږ حضرت معاويه رضي الله عنه ته هم بدرد نه شو ويلی ځکه هغه اجتهادي غلطی. باندې وو په دې جمله کې هم د حضرت علي رضي الله عنه په مقابله کې دوي لره په حقه ګڼلی شوې دي مګر حضرت علي رضي الله عنه ته اولی واقدم بالحق ويلی شوی دی. (المرقات ۱۰۲/۷)

## دمسلمان په قتل سره سړی کفر ته نزدې کيږي

| |
|---|
| ﴿۵۵﴾ وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: |
| او حضرت جرير رضي الله عنه وائي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو دحجة الوداع په موقع باندې |
| «لَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِي كُفَّارًا |
| مسلمانانو لره مخاطب کولو سره چې خبردار زما نه پس دکفر په ذريعې سره روستو لاړنشئ چې |
| يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بعض» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| تاسو ديو بل څټونه ووهئ. (بخاري ومسلم) |

**توضيح** : كفارًا: کوم سړی چې د يو مسلمان په ناحقه قتل لره حلال ګڼي هغه کافر کيږي، دويم مطلب دادی چې دلته حقيقي کفر مراد نه دی بلکه دکافرانو والا کار مراد دی سړي د کفاروپه شان دفعل ارتکاب وکړو، دريم جواب دادی چې دا سړی په دې کار سره کفرته نزدې شو، داجوابات په دې وجه ورکړی شوې دي چې داهل السنت په نزد په لويه ګناه کولو سره نه کافر کيږي. (المرقات ۱۰۳/۷)

| |
|---|
| ﴿۵۶﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابوبکره رضي الله عنه د نبي عليه السلام نه نقل کړي دي چې نبي عليه السلام وفرمائيل چې کله د دوو |

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۴۶ رقم الحديث ۷۰۸۰ ومسلم في ۱/۸۱ رقم الحديث (۶۵-۱۱۸) وأبوداود في ۵/۶۳ رقم ۶۸۷۵

«إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ حَمَلَ أَحَدُهُمَا عَلَى أَخِيهِ السِّلَاحَ

مسلمانانو په خپل مينځ کې مخامتيا وشي چې په دوی کې يو په بل مسلمان ورور باندې وسله اوچته کړي

فَهُمَا فِي جُرُفِ جَهَنَّمَ فَإِذَا قَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ

نو هغه دواړه د دوزخ غاړې ته رسي بيا کچيرې دوی کې يو بل لره قتل کړي نو دواړه به په يوځای

دَخَلَاهَا جَمِيعًا». وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ: قَالَ:

دوزخ ته غورزولی شي. په يوروايت کې دابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه داسې نقل شوې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

«إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بسيفهما

چې کله د دوو مسلمانانو په خپل مينځ کې په تورو سره مخامخ والی وشي او په دوی کې يو بل لره

فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ»

قتل کړي نو قاتل او مقتول به دواړه د دوزخ اورته غورزولی شي ما عرض وکړو چې د قاتل دوزخ ته

قُلْتُ: هَذَا الْقَاتِلُ

تلل خو ښکاره دي چې ده ظلم کړی دی په دې وجه به هغه دوزخ ته غورزولی شي خو د مقتول په باره

فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟

کې داسې ولې دي؟ چې هغه خو مظلوم دی ده لره په دوزخ کې ولې اچولی شي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى

په دې وجه چې هغه هم د خپل ملګري (حريف) په قتل کولو باندې آماده وو (دا بله خبره ده چې د

قَتْلِ صَاحِبِهِ» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

هغه وار خالي لاړو او د دويم وار کار وکړو) (بخاري و مسلم)

**توضيح**: **جرف جهنم**: د دوزخ غاړې ته جرف ويلی شوې ده ځکه چې جرف په سيلاب سره د زمکې هغه کټ شوې حصې ته وايې چې د هغې غاړې ډيرې کمزورې شوې وي. (المرقات ۱۰۳/۷)

**فالقاتل والمقتول**: قاتل او مقتول دواړه به په دوزخ کې هغه وخت وي هر کله چې په دواړو کې يو هم په حق نه وي او کله چې يو په حقه وي نو هغه به په دوزخ کې نه وي. (المرقات ۱۰۴/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۱۹۲ رقم الحديث ٦٨٧٥ ومسلم فی صحيحه ٤/٢٢١٤ رقم الحديث (٢٨٨٨-١٦) واخرجه ابوداود فی السنن ٤/٤٦٢ رقم الحديث ٤٢٦٨ واخرجه النسائی فی ٧/١٢٥

حریص: یعني د مقتول په زړه کې د قاتل د قتل زبردسته جذبه وه او د عزم درجه وه چې زه د قاتل قتلوم خو قاتل د ده په قتل باندې مخکې نه کامیاب شو، کچیرې د مقتول په زړه کې د مخکې نه د قاتل د قتل منصوبه نه وه او کله چې قاتل حمله وکړه نو د مقتول صرف دفاع کوله نو په دې صورت کې به د هغه نیول نه کیږي ځکه چې اسلام په دې صورت کې د دفاع کولو حق ورکړی دی.

## د مرتد او د ډاکوانو سزا

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې د قبیله د عکل څه خلق راغلل

فَأَسْلَمُوا فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ

او اسلام یې قبول کړو مګر په هغوی د مدینې آب او هوا موافق رانغله چې د هغې په وجه سره په داسې مرض مبتلا شول

فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ

چې خیټې یې وپرسیدې او رنګونه یې زیړ شول نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغوي ته وفرمایل چې تاسو د بنارنه بهر د زکوة د اوښانو

الصَّدَقَةِ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَفَعَلُوا فَصَحُّوا

د څریدو ځای ته لاړ شئ او هلته د هغې اوښانو متیازې او پې ځکئ، نو هغوي په دې باندې عمل وکړو او بنه شول یا هغوي (په

فَارْتَدُّوا وَقَتَلُوا رُعَاتَهَا وَاسْتَاقُوا الْإِبِلَ

داسې ګمراهۍ کې مبتلا شول چې) مرتد شول او (بله دا چې) د هغه اوښانو څرونکی یې قتل کړو هغه اوښان مخکې شړل

فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ

(یعني روان یې کړل) کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د دې خبرې علم وشو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغوي پسې څو سواره ولیږل

فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ

چې هغه ټول ونیسي او راوړي ولې (د جرم د سزا په طور باندې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په حکم سره) یې د هغوي لاس خپې کټ کړل

وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ ثُمَّ لَمْ يَحْسِمْهُمْ

او د هغوي سترګې یې راوباسلې تر دې چې د هغوي لاس او خپو لره په ګرم تیلو سره ونه داغلی شو

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حَقَّى | مَاتُوا". | (متفق عليه)[1] | وَفِي رِوَايَةٍ: | فَسَمَّرُوا |
| آخر داچې هغوی ټول مړ شول. (بخاري ومسلم) په یو روایت کې داسې دی چه دهغوی په سترګو کې ګرم | | | | |
| أَعْيُنَهُمْ | وَفِي رِوَايَةٍ: | أَمَرَ | بِمَسَامِيرَ | |
| سلایان ووهلې شو او په یو روایت کې دا الفاظ دی چه نبی عَلَيْهِ السَّلَام د سلایانو ګرمولو حکم ورکړې، هرکله چې هغه | | | | |
| فَأُحْمِيَتْ | فَكَحَّلَهُمْ | بِهَا | وَطَرَحَهُمْ | |
| ګرم شو، نوهغه (داوسپنې) سلایانې دهغوی په سترګو کې وګرځول شو، او ددې څخه وروسته هغه خلق د مدینې په | | | | |
| بِالْحَرَّةِ | يَسْتَسْقُونَ | فَمَا | يُسْقَوْنَ | حَتَّى مَاتُوا |
| غرونو کې وغورځول شو، کله چې به هغوی اوبه غوستې هغوی ته به اوبه نه ورکول کیدی، ددې پورې چې ټول مړه شول. | | | | |

**توضيح** : **نفر** : د درېو نه واخله تر دلسو سړو په جماعت باندې دنفر د لفظ اطلاق کیدی شي، وایي چې دا خلق آته کسان وو. (المرقات ۱۰۴/۷)

**من عكل** : دا دیوې قبیلې نوم دی دبخاري په بعضې روياتو کې ددې سره **عرينه** لفظ هم راغلی دی خو دشک سره او د **عرينة** الفاظ دي، په بعضې روایاتو کې صرف د عرینه ذکر راغلی دی او دبخاري په یو روایت کې **عكل** وعرينة دعطف سره راغلي دي اوهمدا راجح اوکامل روایت دی مجعم طبراني کې دي چې په دوي کې څلور سړي دعرینه د قبیلې وو او درې دعکل وو. (المرقات ۱۰۴/۷)

**فاجتووا** : اجتوا هغه بیمارۍ ته وائي چې د یوې علاقې د آب اوهوا په ناموافق کیدو سره راشي چې په هغې سره خپله خرابه شي، مطلب داچې دې خلقو ته دمدینې آب اوهوا موافق رانغله او بیمارشول او د مخونو رنګ ئیې بدل شو. (المرقات ۱۰۴/۷)

**ابل الصدقة** چونکه دا خلق مسافر وو او فقراء هم وو په دې وجه د بیت المال داوښانو نه ورته فائده اوچتول جائز وو **فيشربوا من ابولها** امام مالک رحمه الله، امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام محمدرحمه الله فرمائي چې د کومو څاروو غوښه پاکه ده دهغې متیازې هم پاکې دي او د

---

(1) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۱۱۱ رقم الحديث ٦٨٠٤ ومسلم فی ۳/۱۲۹٦ رقم الحديث (۹/۱٦۷۱) وأبوداود فی السنن ٤/٥٣١ رقم الحديث ٤٣٦٤ والترمذی فی ۱/۱۰٦ رقم الحديث ۷۲

ذکرشوې روایت نه استدلال کوي، امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله اود امام ابویوسف رحمه الله په نزد باندې دماکول اللحم ځناورو متیازې هم نجې دي، ها دامام ابویوسف رحمه الله په نزد داسې قسمه متیازې د دوائي په طور استعمالولی شي که هغه په حالت اختیاري کې وي یا حالت اضطراري کې وي، مګر د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په حالت اختیاری کې حرامو لره بطور دوائي استعالول جائزنه دي. (المرقات ۱۰۴/۷)

ددې مسئلې تفصیل دتوضیحات جلداول ۶۵۹ باندې ذکر دی هلته یې وګورئ.

**رعاتها**: رعات د راعي جمع ده شپونکي ته وائي. استیاقوا په دې کې سین اوتاء دمبالغې دپاره دي مراد تریې ساقوادی یعني کامل اهتمام اومحنت سره د اوښانو شړلوسره یې وتختول. (المرقات ۱۰۵/۷)

**وسمل اعینهم** په بعضې روایاتوکې د سمر لفظ راغلی دی، علامه ابن التین رحمه الله فرمائي چې د دواړو معنی یوه ده چې په ګرمو سیخانو سره یې دهغوی سترګې راویستې، په بعضو روایاتو کې دکحل لفظ راغلی دی، ددې مطلب هم دادی **ثم لم یحسمهم** داحسم دسمع یسمع نه د داغلو په معنی سره دی کله چې دزخم نه وینه بهیږي او نه بندیږي نو هغې لره داغ ورکولی شي کله په کپړې سره او کله په ګرمو تیلو سره داغلی شي نوبیاوینه بنده شي، دلته داسې ونه کړی شو بلکه وینه یې جاري پریخودله. (المرقات ۱۰۵/۷)

**سوال**: په ظاهره داسې لګي چې دې خلقوسره په سزا ورکولو کې ډیره سختي وکړی شوه نوسوال دادی چې دوی سره داسې ولې وکړی شو؟

**جواب**: ددې سوال جواب خو دادی چې دلته مساوات في القصاص وو ځکه چې دې خلقو هم دشپونکي سره داسې بې رحمه سلوک کولو سره قتل کړی وو.

**دویم جواب**: داورکړی شو چې دې خلقو ډیرلوی جرم وکړو یو خو دا خلق مرتدشول دویم قاتلان شول دریم قزاقان او ډاکوان شول په دې وجه بطور عبرت دسختې نه سخته سزا ورکړی شوه دې دپاره چې د نورو دپاره د عبرت ذریعه جوړه شي.

**دریم جواب**: دادی چې دبعضې علماو خیال دی چې دا سزا هغه وخت ورکړی شوې وه کله چې په قرآن کې د ډاکوانو حکم تر هغه وخته پورې نه وو راغلی هم دا وجه ده چې دلته مثله شوې ده هرکله چې هغه په اتفاق سره منسوخ ده معلومه شوه چې داحکم ډیر مخکې ووبیا قرآني آیتونود ډاکوانو د سزا تعین وکړو چې یو لاس او یو ه خپه دمختلف جهت نه کټ کړی شي، اویا په سولې وخیژولی شي یا جلاوطن کړی شي، د ائمه احنافو په نزد دجلاوطن کولو نه مراد په جیل کې اچول دي دپاره چې داخلق توبه وکړي. (المرقات ۱۰۵/۷)

## دلاش دشلولو او مثله کولو ممانعت

### الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۸﴾ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ

حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صدقې او خيرات په ورکولو باندې

وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] (جيد) وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَنَسٍ[2]

مونږ ته ترغيب راکولو او دمثلې نه يې منع کولو (ابوداؤد) نسائي دې روايت لره د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

**توضيح**: **المثلة**: مثله شکل ورانول، دمړک نه پس دبدن داندامونو مثلاً پوزه، غوږ، سترګې او لاس خپې کټ کولو ته وايي دانساني کرامت او شرافت پيش نظر اسلام د داسې کولو نه منع کړې ده ددې نه معلومه شوه چې ايم بي بي ايس د ډاکټرۍ کورس دپاره دانساني اندامونو کټ کول او دمړو لاشونه دقبرونو نه پهټه راويستل او بيا په هغوی مشق کول جائز نه دي، اسلام صرف دمسلمانانو سره مثله نه بلکه دکافرانو سره يې هم دمثلې کولو نه منع کړې ده، ددې نه داهم معلومه شوه چې دخپل مړک نه پس دخپلو سترګو يا ګردو او نورو اندامونو عطيه کولو په ژوند کې اعلان کول جائز نه دي ځکه چې دابدن ددې سړي ملکيت نه دی. (المرقات ۱۰۷/۷)

## دځناوروسره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ درحمت جذبه

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنَّا مَعَ

او حضرت عبدالرحمن بن عبدالله دخپل پلار نه نقل کوي چې هغوي ووئيلچې يو ځل مونږ ملګری

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ

وو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره په سفر کې هرکله چې په يوه موقع باندې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د قضاء حاجت دپاره

فَرَأَيْنَا حُمَرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا

تشريف يورلو نو مونږ يوه حمره (مارغی) وليده چې هغې سره دوه بچي وو مونږ هغه دواړه بچي

فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تَفْرُشُ

راونيول، ددې نه پس حمره (مارغی) راغله او خپلې دواړه وزرې يې په زمکه خورې کړې او خپله خيټه يې

---

(۱) أخرجه أبوداود فى السنن ۳/۱۲۰ رقم الحديث ۲۶۶۷ وأخرجه الدارمى فى ۱/۴۷۸ رقم ۱۶۵۶ وأحمد فى المسند ۴/۴۴۰

(۲) أخرجه النسائى فى السنن ۷/۱۰۱ رقم الحديث ۴۰۴۸

| |
|---|
| فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| څمکې سره ولګوله (ګویا چې احتجاج شروع کړو) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله تشریف راوړلو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ |
| فَقَالَ: «مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا؟ |
| چې کله حمره (مارغی) داسې بې قراره اولیده نو وې فرمائیل چې چا دا ددې د بچې په نیولو سره دا بې قراره کړې ده؟ |
| رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا». وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ |
| ددې بچي دې ته واپس کړئ بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه میږو د اوسیدو ځای ولید و کوم چې مونږ |
| قَدْ حَرَّقْنَاهَا قَالَ: «مَنْ حَرَّقَ هَذِهِ؟» فَقُلْنَا: نَحْنُ |
| سوزولی وو او وې فرمائیل چې دې میږو لره چا سوزولې دي.؟ مونږ عرض وکړو چې مونږ سوزولی دي |
| قَالَ: «إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي |
| نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل د پروردګار نه علاوه چې دأور مالک دی د بل چا دپاره مناسب نه دي چې |
| أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| هغه چا لره دأور په عذاب کې مبتلا کړي. (ابوداؤد) |

**توضیح: حمره**: په حاء باندې پیش دی او میم مشدد دی دا سُور رنګ کې یوې مرغې ته وایې چې د چنچړې برابر وي. **فرخان** فرخ وړوکي بچي او چرګوړې ته وایې. **جعلت** د شرعت په معنی دی تفرش دا په اصل کې تتفرش دی مطلب دا چې مرغی کله وزر خور کړي په خپلو بچو باندې سیوري کولو سره یې پټوي دې ته تفرش وایې. خو دلته د وزرو خورولو سره د غم اظهار کول مراد دي.

**من فجع**: دا د باب تفعیل نه د درد او تکلیف رسولو په معنی سره دی. (المرقات ۱۰۷/۷، ۱۰۶)

**لایلبغي اي لایجوز ولایصح**: یعني الله تعالی أور لره په دنیا کې دانسان د نفعې دپاره جوړ کړی دی نو انسان دې ددې نه هغه نفع اوچته کړي او دده دپاره جائز نه دي چې دا أور دضرر او نقصان دپاره استعمال کړي، ها الله تعالی ددې أور خالق او مالک دی هغه دې لره په نفع او ضرر دواړو کې داستعمالولو حق لري. د میږو په باره کې دا مسئله ده چې کچیرې هغه چاته ضرر ورسوي نو هغه ختمول او مړه کول جائز دي ددې نه علاوه یې وژل جائز نه دي، دارنګه میږو لره په أور کې سوزول هم منع دي ها د ضرر رسولو په صورت

---

[1] أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۱۴۵ رقم الحدیث ۲۶۷۵ وأحمد فی المسند ۱/۴۰۱

کې پرې دوائي اچول او په هغې سره مړه کول جائز دي په اُور سره جائزنه دي . (المرقات ۱۰۷/۷)

## د يوې باطلې فرقه په باره کې پيشن ګوئي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن مالک د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه نقل کوي چې هغوی وفرمايل

"سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي اخْتِلَافٌ وَفُرْقَةٌ قَوْمٌ يُحْسِنُونَ الْقِيلَ

چې نزدې ده چې زما په امت کې به اختلاف او افتراق پيدا شي يوه فرقه چې خبرې به ښې کوي خو عمل به

وَيُسِيئُونَ الْفِعْلَ يَقْرَؤُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ

يې بد وي ددې فرقې خلق به قرآن لولي خو د هغوی لوستل به د حلق نه لاندې نه کوزيږي (يعني قبليږي به نه)

يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ

او هغه خلق به د دين) يعني دوخت د امام او د علماء حق د اطاعت نه) داسې اوځي لکه څنګه چې غشی د ښکار د مينځ نه اووځي

لَا يَرْجِعُونَ حَتَّى يَرْتَدَّ السَّهْمُ عَلَى فُوقِهِ

او هغوی دين طرف ته هغه وخته پورې نه راوپس کيږي تر څو پورې چې غشی خپل کمان طرف ته راوپس نه شي

هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ طُوبَى

او هغه خلق به په انسانانو اوځناورو کې د ټولو نه بدترين وي. زيږی دی د هغه سړي د پاره چې دې خلقو لره ووژني

لِمَنْ قَتَلَهُمْ وَقَتَلُوهُ يَدْعُونَ إِلَى كِتَابِ اللهِ

يا هغه خلق ده لره قتل کړي. هغه خلق (په ظاهره) خو به انسانانو ته دعوت ورکوی د کتاب الله هغه

وَلَيْسُوا مِنْهُ فِي شَيْءٍ

خلق په هيڅ يو معامله کې زمونږ (د مسلمانانو) نه نه دي يعني هغوی به په هيڅ يوه خبره کې په مسلمانانو کې شمار

مَنْ قَاتَلَهُمْ كَانَ أَوْلَى بِاللهِ مِنْهُمْ

نه وي کوم خلق چې هغوي لره ووژني هغه به په خپل جماعت کې الله تعالی ته د ټولو نه زيات نزدې وي صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ مَا سِيمَاهُمْ؟ قَالَ: «التَّحْلِيقُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

د ډ ... ره عرض او کړو ای د الله رسوله! د دې خلقو پيژند ګلو څه ده هغوي وفرمايل سر خريل. (ابو داؤد)

---

[1] ... خرجه أبوداود فی السنن ۱۴۳/۵ رقم الحديث ۴۷۶۵ واحمد فی المسند ۲۲۴/۳

**توضیح**: اختلاف وفرقة: یعني زما په امت کې به څه داسې خلق پیدا کیږي چې دخپلو خواهشاتو بندګان به وي چې دهغوی دخود غرضی داعمالو او افعالو په وجه سره به په امت کې اختلاف پیدا کیږي او اتحاد به ټوټې ټوټې شي مګر دهغوی دژبو به دا حال وي چې داسلام دیر عاشقان به معلومیږي دا خلق به قرآن لولي مګر قرآن به دهغوی دحلق نه لاندې نه کوزیږي دا خلق به داسلام نه داسې اوځي لکه غشی چې د ښکار نه تیرو یږ اوځي د اسلام طرف ته ددوی واپس راتلل داسې ناممکن دي لکه څنګه چې د لیندې نه وتلی غشی واپس خپل سوفار (پټاق) ته نه شي راتلی.

**تراقیهم** دا د ترقوة جمع ده مري او حلق ته وایي **فوقه** دکمان هغه حصه چې په هغې باندې غشی کیږدي او چلولی شي دې ته فوق وایي ددې ترجمه سوفار ده او داکلام دتعلیق بالمحال د قبیلې نه دی (المرقات ۱۰۸/۷)

**التحلیق** یعني د سر ویښته به خروي کله به هم ویښته نه ساتي دا خاص علامه صرف دخوارجو وه، اوس که څوک ویښته ساتل جائز ګڼي او خرئیل هم کوي نو دا نښه ددې سړي نه ده، بعضې علماؤ دتحلیق نه مراد په حلقو کې کیناستل مراد اخستې یعني دهغه خلقو دانښه ده چې په مسجد کې به د حلقې جوړولو سره کیني او دریاء دپاره به نمائش کوي مسنون طریقه داده چې دمونځ په وخت به سړی قبلې طرف ته مخ کولو سره کیني، په دې حدیث کې خوارجو طرفته اشاره دې (المرقات ۱۱۰/۷)

**شرالخلق والخلیقة**: په نهایه کې لیکلي دی چه د خلق نه مراد انسان دې او د خلیقه نه مراد ځناور دي، بعضو ویلی دي چې دا دواړه لفظونه په یوه معنی سره دي او دتاکید په طور دویم لفظ دې دپاره راوړلی شو دې دپاره چې ټولو مخلوقاتو ته مفهوم عام شي، بعضو ویلي دي چې داهم ممکنه ده چې دخلیقه نه مراد موجوده کائنات وي او چې کوم آینده پیدا کیدونکی مخلوق دی د حلق په لفظ سره ددې اراده کړی شوې وي دا خلق بدترین مخلوق په دې وجه دی چې د ایمان او اسلام په جامه کې دکفر کارکوي. (المرقات ۱۰۹/۷)

## په دې صورتونو کې مسلمان ته د مرګ سزاورکولی شي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل نفسِ مسلمان چې ددې

«لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا

امر ګواهي ورکوي چې دالله تعالی نه سوا به څوک معبود نشته او حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| رَسُولُ | اللهِ | إِلَّا | بِإِحْدَى | ثَلَاثٍ |
| الله تعالى رسول دى، دهغه وينه حلاله نه ده ها كه په دې درې صورتونو كې د يو صورت د راپيدا كيدو | | | | |
| زِنًا | بعدَ | إِحْصَانٍ | فَإِنَّهُ | يُرجَمُ |
| په وجه سره د هغه وينه حلاله شي يو خو دا چې هغه د محصن كيدو نه پس زنا وكړي نو هغه دې سنګسار كړى شي | | | | |
| ورجلٌ | خَرَجَ | مُحارِباً | للهِ | وَرَسُولِهِ |
| دويم صورت دا چې څوک د الله تعالى او د هغه د رسول سره جنګ د پاره راوځي (يعني مسلمان ډاكه وكړي يا د بغاوت | | | | |
| فَإِنَّهُ | يُقْتَلُ | أَوْ | يُصْلَبُ | أَوْ | يُنْفَى | مِنَ | الْأَرْضِ |
| په لاره ولګي نو هغه دې قتل كړى شي يا دې په سولې كړى شي او يا دې قيد كړى شي او دريم صورت دا دې چې | | | | | | | |
| أَوْ | يَقْتُلَ | نَفْسًا | فَيُقْتَلُ | بِهَا». | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد[1] | |
| د يو نفس قتل دى (چې يو مسلمان بل مسلمان لره په قصد سره قتل كړي) نو د هغې په بدله كې به ده لره قتل كړى شي. (ابوداؤد) | | | | | | | |

**توضيح** : ورجل خرج محاربالله : د دې قسمه حديث په تشريح او توضيح سره مخكې تير شوى دى. خو دلته دې حديث كې دارتداد په ځاى د ډاكې ذكر دى چې ورته قزاقي هم وايي، دلته د ډاكو په باره كې د دې سزاګانو ذكر شوى دى او د قرآن كريم په آيت كې څلورو سزاګانو ذكر راغلى دى سورة مائده آيت نمبر ۳۳ داسې دى: ﴿إِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوْٓا أَوْ يُصَلَّبُوْٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيْهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ﴾ (مائده: ۳۳)

يعني (۱) يوه سزا دا چې دې سړي لره قتل كړى شي (۲) دويم دا چې دا په سولې كړى شي (۳) دريمه سزا دا چې د دې سړي يو لاس او يوه خپه مختلف طرفونو نه كټ كړى شي څلورم دا چې ده لره جلاوطن كړى شي يعني د ځمكې نه وويستلى شي په جيل كې واچولى شي، د فقهاء كرامو په نزد د دې سزاګانو ترتيب داسې دى چې كچيرې ډاكو او قزاق مال لوټ كړى و ي صرف و وهلى يې هم وي نو ده لره به صرف قتلولى شي او كه مال يې هم لوټ كړى وي او هغه يې قتل كړى هم وي نو ده لره به قتل كولو سره په سولې هم خيژولى شي، امام مالك رحمه الله وايي چې ژوندى دې په سولې خيژولو سره ووژلى شي او كه صرف مال يې لوټ كړى وي نو د ده دې يو لاس او يوه خپه په مخالف طرف كټ كړى شي، او كچيرې ډاكو صرف خلقو لره يرولى وي او دهمكې يې وركړې وي نه يې مال اخستى وي نه يې ووژلى وي نو په دې صورت كې به ده لره صرف د زمكې نه ويستلو سره جلاوطن كولى شي، اوس شوافع

---

(۱) أخرجه أبوداود فى السنن ۴/۵۲۲ رقم الحديث ۴۳۵۳ والنسائى فى ۷/۱۰۱ رقم الحديث ۴۰۴۸ وأحمد فى المسند ۶/۲۰۵

حضرات فرمايي چې سړی دې مسلسل جلا وطن کړی شي ديوې زمکې نه بلې زمکې ته او هلته نه دې بل طرفته وشړلی شي دې دپاره چې هلته هم په سکون سره نه کيني، خو احناف فرمايي چې د زمکې نه وتلو مطلب دادی چې د آزادۍ ... مکې نه دې ويستلی شي په جيل کې دې بند کړی شي.

دلته سوال دادی چې په آيت کې څلور سزاګانې ذکر دي او په حديث کې د دربو ذکر دی چې په ظاهره تعارض دی؟ نو دې جواب دادی چې ډير قوي احتمال دی چې په حديث کې ديو راوي نه د بيان په دوران کې دلاس خپې د کټ کولو ذکر په څه وجه سره پاتې شوی وي دلته په حديث کې اودغه شان د قرآن په آيت کې داو لفظ د تفصيل بيانولو دپاره دی دا سزاګانې په دې ترتيب سره دي بعضو وئيلي دي او اختيار او تخييردپاره دی. (المرقات ۱۱۱/۷، ۱۱۰)

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: حَدَّثَنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوحضرت ابن ابي ليلي (تابعي) وايي چې د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مونږ ته دا حديث بيان کړو

أَنَّهُمْ كَانُوا يَسِيرُونَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې هغوي په څه موقع باندې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په سفر کې يوځای کې وو په دوي کې يو

فَنَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَانْطَلَقَ بَعْضُهُمْ

کس چې کله په يو پراو کې اوده شو نو په دوی کې يو بل کس د خپل ځای نه پاسيد لو سره روان شو

إِلَى حَبْلٍ مَعَه فَأَخَذَه فَفَزِعَ فَقَالَ

او داوده کس سره خواکې يوه رسۍ پرته وه هغه يې اوچته کړه او دا کس په دې سره ويريدو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

(هم دده دا حرکت وليدو يا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې متعلق واوريدل) نو وې فرمائيل چې د مسلمان دپاره دا

«لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

خبره حلاله نه ده چې هغه مسلمان ويروي. (ابوداؤد)

## داسلام د عزت دکفر په ذلت سره سودا مه کوه

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَخَذَ

اوحضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې يو کس د جزيې

---

[1] أخرجه أبوداود فی السنن ۲۷۳/۵ رقم الحديث ۵۰۰٤ واحمد فی المسند ۳۶۲/۵

أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ

والا زمکه واخسته اوهغه خپل هجرت مات کړو او چاچه د کافر ذلت دهغه د څټ نه کوز کړو اوپه

فَجَعَلَهُ فِي عُنُقِهِ فَقَدْ وَلَّى الإِسْلَامَ ظَهْرَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ(۱)

خپل څټ یې واچولو نوهغه اسلام لره شاته وغورزولو. (ابوداؤد)

**توضیح**: **بجزیتها**: یعني یو مسلمان د جزیې والا زمکه دیو ذمي نه واخسته نو اوس به دا مسلمان جزیه اداء کوي کومه چې دده نه مخکې ذمي اداء کوله فقد استقال هجرته یعني دې سړي د دارکفر نه دارالاسلام ته هجرت کړی وو هغې لره ده خراب اوبرباد کړو، استقال اقالې نه دی د واپس کولو په معنی سره دی ځکه چې د خراج او جزیې چې کوم ذلت د ذمي په څټ پروت وو دې سړي دهغې د څټ نه ویستلو اوپه خپله غاړه کې یې واچولو. ومن نزع یعني د خراج او جزیې چې کوم ذلت د کافر په څټ پروت وو دې سړي د جزیې والا زمکه واخسته دهغه د غاړې نه ده ذلت ویستلو په خپله غاړه کې یې واچولو د حدیث دا آخري حصه د مخکنۍ حصې دپاره بیان او تفصیل دی. علامه خطابي فرمائي چې په دې حدیث کې د جزیې نه مراد خراج دی یعني چې کوم مسلمان د چا ذمي نه خراجي زمکه واخستله نو اوس به دا مسلمان خراج ادا کوي او په دې اخستو سره د زمکې هغه خراج نه ساقطیږي، دا مسلک د آئمه احنافو دی په دې صورت کې یې اسلام لره شاته وغورزولو نه تغلیظ اوتشدید اوتهدید او زجر به مقصود وي. (المرقات ۱۱۲/۷)

## مسلمان به په کافرو کې مخلوط نه اوسیږي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمَ

او حضرت جریر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام د خثعم قبیلې په مقابله کې یو لښکر ولیږه

فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ

نو دهغې قبیلې څه خلق (چې اسلام یې قبول کړی وو مګر دهغوی اوسیدل د قبیلې د کافرانو سره وو په مونځ سره یې پناه ونیوله

فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ

(خو دهغوي په قتل کې د تیزی نه کار واخستلی شو یعني لښکر والو دهغوی د سجدو اعتبار ونه کړو) کله چې د دې

فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ

واقعې اطلاع نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وشوه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام دهغو مسلمانانو د مقتولینو وارثانو ته د نیم دیت ورکولو حکم وکړو

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۴۵۹ رقم الحدیث ۳۰۸۲

| | |
|---|---|
| وَقَالَ: | «أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ» |
| | اووې فرمایل چې زه دهغه مسلمانانو نه دبیزاری اظهار کوم چې دمشرکانو په مینځ کې یې اقامت اختیار کړي |
| قَالُوا: | يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ؟ قَالَ: |
| | صحابو رضي الله عنهم عرض وکړو چې ای دالله رسوله! ستاسو دبیزاری سبب څه دی؟ نبي عليه السلام وفرمایل |
| «لَا تَتَرَاءَى نَارَاهُمَا». | رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] |
| | مسلمانانو له دکافرانو نه دومره لرې اوسیدل پکار دي چې هغوي په خپل مینځ کې دیو بل اورونه وینې. (ابوداؤد) |

**توضیح**: **بالسجود**: ددې نه مونځ کول مراد دي کله دې چې نوو مسلمانانو داسلام لښکر ولیدلو نودخپل بچاو دپاره یې مونځ کول شروع کړل داسلام لښکر دا خیال وکړه چې داخلق دځان بچ کولو دپاره په سجده پریوتل په دې وجه یې زر زر د هغوی وژل شروع کړل یا په غلط فهمۍ سره داسې وشول، دحدیث دظاهري الفاظو نه معلومیږي چې دې خلقو سره څه تفصیلي علم نه وو صرف سجده یې وکړه دې دپاره چې داسلام اظهار وکړي. (المرقات ۱۱۳/۷)

**بنصف العقل** نبي عليه السلام نیم دیت ادا کړو حالانکه دوی ته معلومه وه چې دا خلق مسلمانان وو ددې خبرې طرف ته اشاره ده چې مسلمانانو له داسلام قبلولو نه پس دکافرانو په مینځ کې اوسیدل جائزنه دي ځکه چې دارنګه مجاهدین د آزادۍ نه پس په آسانۍ سره دکافرانو خلاف نه شي جنګیدی په دې وجه نبي عليه السلام ددې مسلمانانو نه دبیزاری اعلان هم وکړو چې دمشرکانو سره مخلوط اوسیږي. **يارسول الله لم؟** دلته استفهام دی يعني **لاي شئ تكون بريئا او لاي شئ امرت**

**بنصف العقل** مطلب داچې ای دالله رسوله! تاسو نیم دیت ولی ادا کړو یا تاسو ددوی نه بیزاره کیږئ ولې ددې سبب څه دي؟ (المرقات ۱۱۳/۷)

**قال لاتتراأى ناراهما** دا جمله استئنافیه ده په دې کې دماقبل سوال علت بیان کړی شو يعني دا بیزاري په دې وجه ده چې داخلق دکافرو سره یوځای ولې اوسیږي دوی له دیو بل نه دومره لرې اوسیدل پکار دي چې دیو بل اور په نظر نه راځي ځکه چې دغه شان مخلوط اوسیدلو کې مسلمانان به دکافرانو سره جهاد څنګه کوي.؟ (المرقات ۱۱۳/۷)

---

(1) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۱۰٤ رقم الحديث ۲٦٤٥ والترمذى فى ٤/۱۳۲ رقم الحديث ۱٦۰٤.

## ناجائزه قتل صرف ايمان منع كوي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ و فرمائيل ايمان خپل حامل

«اَلْإِيمَانُ قَيِّدِ الْفَتْكَ لَا يفتِكُ مُؤمنٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

يعني مؤمن لره د دې خبرې نه منع كوي چې هغه چا لره ناڅاپه قتل كړي لهذا هيڅ يو مؤمن لره ناڅاپه قتل نه كړئ. (ابو داؤد)

**توضيح**: قيد: دا لفظ مشدد دى تقييد دباب تفعيل نه دتړلو او منع كولو په معنى سره دى. الفتک ناڅاپه او د غفلت په حالت كې اچانک قتل كولو ته وايي، مطلب داشو چې ايمان ناجائزه قتل لره بند كړى دى، لهذا په چاكې چې ايمان وي هغه داسې حركت نه شي كولى څوک چې دا حركت كوي دهغه ايمان به كامل نه وي خلاصه داچې چا مسلمان يا ذمي لره بغير دتحقيق نه قتل كول جائز نه دي ها كچيرې څوک مفسد اوغدار وي چې د مسلمانانو خلاف منصوبه بندي كوي دهغه حكم جدا دى لكه چې كعب بن اشرف چې دهغه د فساد دوجې نه اچانک د غفلت په حالت كې قتل كړى شو. (المرقات ۱۱۴/۷)

## دتختيدلي مرتد غلام سزا مرګ دى

﴿۱۶﴾ وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا

او حضرت جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل كوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ و فرمايل كله چې يو غلام، شرک

أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ فقد حلَّ دَمه». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

يعني دارالحرب طرف ته وتختي نو دهغه وينه به حلاله وي. (ابو داؤد)

**توضيح**: اَبَقَ العبد: يعني يو غلام دخپل مولى نه وتختي دارالحرب ته لاړشي نو كوم مسلمان ته چې هغه ملاوشي نو هغه دې قتل كړي هغه مباح الدم دى ځكه چې دا غلام لاړو كفر ته دتقويت ذريعه جوړيږي او كچيرې دا غلام كافر او مرتد كيدو سره لاړو بياخويې په طريق اولى سره قتل حلال دى. (المرقات ۱۱۶/۷)

---

(۱) أخرجه مرقاة المفاتيح ۷/۱۰۶ رقم الحديث: ۳۵۴۸

(۲) أخرجه أبوداود فى السنن ۴/۵۲۸ رقم الحديث ۴۳۶۰ وأحمد فى المسند ۴/۳۶۲

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې يو يهودۍ ښځې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بدرد ويل او په دوی کې به

وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ

يې عيب راويستلو سره پېغور ورکولو ،نو (دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په شان اقدس کې دا ګستاخي) يو سړی (برداشت نه کړې

حَتَّى مَاتَتْ فَأَبْطَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

شوه او هغه) دې ښځې لره په مرۍ زور کړو چې هغې سره هغه مړه شوه، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغې خون معاف کړو. (ابو داؤد)

**توضيح: تقع فيه**: يعني په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به يې طعن کولو بدرد به يې ويل دا ښځه کافره وه او ذميه وه.

**فخنقها رجل**: يعني يو مسلمان ددې په مرۍ زور کړو او قتل يې کړه (الله تعالى دې ددې مجاهد درجات اوچت کړي. اللهم آمين (المرقات ۱۱۶/۷)

**فابطل**: يعني نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې وينه بلا عوضه وګرځوله ددې حديث نه معلومه شوه چې دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په شان کې ګستاخي والا ذمي واجب القتل دی اوپه دې سره دده عهد مات شو هغه مباح الدم شوه همدا مسلک دشوافعو حضراتو هم دی. (المرقات ۱۱۶/۷)

احناف فرمائي چې دا کافر سړی خو د مخکې نه کافر وو د الله تعالى په شان کې يې ګستاخي کوله ايمان ئې نه راوړو او مونږ ده ته پناه ورکړه لهذا اوس په کنځلو سره دده عهد ذمه نه ماتيږي په دې مسئله کې کافي تفصيلات دي زه په تفصيل کې نه ځم کوم حضرات چې په دې مسئله کې فتوى غواړي نو هغه تفصيلات دې او ګوري، اکفار الملحدين وغيره کتابونو طرف ته ورله رجوع کول ضروري دي ، شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله الصارم المسلول کې ليکلي دي چې د احنافو په قواعد فقه کې دي چې چيرته دهغوی په نزد دقتل حکم نشته دی مثلاً قتل بالمثقل يا دلواطت حکم دی نو په دې که يو مجرم باربار دا جرم کوي نو دوخت امام او قاضي ته حق حاصل دی چې ده لره قتل کړي. دغه شان قاضي او امام دحد معين مقدار کې اضافه هم کولی شي چې دې لره په زيات سخت انداز کې نافذ کړي کچيرې هغه مصلحت ويني او دې ته احناف حضرات دقتل سياسة نوم ورکوي، خلاصه داچې بطور تعزير يوه سزا دقتل درجې پورې اورلی شي هرکله چې باربار جرم کوي او په قتل کې مصلحت وي، دارنګه دهغه ذمي قتلول دي چې باربار نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کنځل کوي، اکثرو احنافو ددې دقتل فتويی ورکړې ده (د ردالمحتار حواله ورکولو سره زجاجة

---

(۱) أخرجه أبوداود في ٤/٥٢٩ رقم الحديث ٤٣٦٢

المصابيح کې همداسې ليکلې دي) (ج ۳ص۵۵)

**وقال العيني واختياري في السب ان يقتل** : يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کنځل کولو والا مباح الدم دی زه دا اختيارووم، علامه بدرالدين ددې فتوې تابعداري کولو سره صاحب دفتح القدير ابن همام همداسې فتوی ورکړې ده، دمفتي روم ابوسعود رحمه الله هم دغه فتوی ده، د صاحب شفاء هم دا فتوی ده د نيل الاوطار درمختار هم دافتوی ده .او خير الرملي رحمه الله هم بطور تعزير همدا فتوی ورکړې ده (زجاجة المصابيح ج۳ ص۵۵)

شکر الحمدلله داحنافو د اکابرو همدا مسلک دی او مونږ دزړه په کومې سره داخوښوو پوره تفصيل په زجاجة المصابيح کې اوګورئ.

## دسحر اوساحر حکم

﴿۱۸﴾ وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَدُّ السَّاحِرِ

اوحضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل دجادوګر حد (شرعي سزا)

ضَرْبُهُ بِالسَّيْفِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

داده چې ده لره دې په توري سره قتل کړی شي. (ترمذي)

**توضيح** : حدالساحر: دعلما په دې اتفاق دی چې جادو کول حرام دي، داهل السنت په نزد جادو يو حقيقت دی ددې اثر کيږي، دمعتزلو خيال دی چې دجادو څه حقيقت نه وي داصرف يو خيال او وهم دی. دجادو کونکي جادوګر سزا په باره کې دعلماو اوفقهاو اقوال څه مختلف دي: د امام مالک رحمه الله په نزد او دامام احمدبن حنبل رحمه الله دراجح قول مطابق ساحر کافر دی، اودسحر زده کړه او خودل هم کفر دی لهذا ساحر دې قتل کړی شي اودهغه نه دې د توبې مطالبه ونه کړی شي، که هغه په چامسلمان جادو کړی وي يا په چاذمي يې کړی وي. امام شافعي رحمه الله فرمايې کچيرې ددې جادوګر دا جادو موجب دکفر وي اوهغه توبه هم اونه باسي نو هغه دې قتل کړی شي. د احنافو په نزد په دې مسئله کې څه تفصيل دی هغوی فرمائي کچيرې ساحر په خپل جادو کې دشرک اوشرکيه کلماتو ارتکاب وکړي او دکفر موجب عقيده يې وه نو هغه کافر دی اوکچيرې دساحر سحر دځه حرام دارتکاب ذريعه جوړه وي يا دځه فريضې دسقوط اوترک ذريعه جوړيږي نو داسې سحر حرام دی اوکه په جادو کې څه کفريه کلمات هم نه وي او دځه حرام ارتکاب هم نه وي او دځه نيک مقصد دپاره وکړی شي مثلاً په نښځه خاوند کې دجوړ راوستلو دپاره يا داهل حرب ديو ساحر دسحر ماتولو دپاره نودا مباح او جائز دی، خو داخبره دې ياد ساتي چې د داسې صالح اونيک جادوګر په دنيا کې چرته

---

([1]) أخرجه الترمذی فی السنن ۴/۴۹ رقم الحديث ۱۴۶۰

هم وجود شته دی او که نه؟. دا خبره دې هم یاد وساتلی شي چې جادو چونکه دبدن د اندامونو عمل نه دی بلکه نهایت دصفائي او داندامونو داستعمال نه بغیر اثر کولی شي لهذا په سحر سره که یې څوک قتل کړو نوپه دې کې قصاص نشته دی هاپه دې کې تعزیر دی چې بطور تعزیر داسې جادوګر قتلولی به شي هم دده حد دی، علماو لیکلې دي چې دجادو په شان دعلم نجوم زده کول دکهانت زده کړه خودنه کول او هرقسم نظر بندي زده کول او خودل هم حرام دي دجادو حقیقت اوددې تعریفات او د قسمونو بیان په توضیحات جلداول صفحه ۲۴۸ باندې شوی دی هلته یې اوګورئ. (المرقات ۱۱۷/۷)

## دبغاوت سزا قتل دی

### اَلْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۹﴾ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت اسامه بن شریک وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چې کوم کس د وخت د امام

«أَيُّمَا رَجُلٍ خَرَجَ يُفَرِّقُ بَيْنَ أُمَّتِي فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

خلاف خروج وکړي اودغه شان زما په امت کې تفرقه واچوي نو دهغه څټ والوزئ. (نسائي)

**توضیح**: **خرج یفرق**: دمسلمانانو داجتماعیت دپاره دوخت خلیفه بنیادي حیثیت لري دده اطاعت ددې دپاره په ټولو مسلمانانوباندې لازم کړی شوی دی دې دپاره چې په امت کې افتراق او انتشار رانه شي او دامت یووالی خورنه شي. امام اوخلیفه دامت دوحدت علمبردار وي او هغه ددې ذمه داروي خو که یو کس ددې اجتماعي او اتحاداواتفاق د دائرې نه وتلو سره بغاوت وکړي نوهغه یو جرم نه دی بلکه دڅو جرمونو کول دي په دې وجه دې هغه پوهه کړی شي اوددې سرکشي نه د منع کیدلو دې ورته وویلی شي، اوکه دده څه معقول اعتراض وي یا څه شبهه او مطالبه بوي نوهغه دې په سنجیدګي سره واخستلی شي کچیرې د اصلاح دټولو کوششونو باوجود هغه سړی د خپلې سرکشي اوبغاوت نه منع نه شي نوهغه دې قتل کړی شي دې دپاره چې لویه فتنه پیدا نه شي لکه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دخوارجو سره معامله کړې وه، تردې چې دا خبره د یاد ساتلو ده چې داحق هغه خلیفه او دمسلمانانو هغه باچاته حاصل دی چې امت لره داسلام په رڼا کې چلوي ورنه خروج به جائزوي، تفصیل ان شاءالله په **باب الامارة** کې راتلونکی دی. (المرقات ۱۱۸/۷، ۱۱۷ الکاشف ۱۳۸/۷)

---

[1] اخرجه النسائی فی السنن ۹۳/۷ رقم الحدیث ۴۰۴۳

## دخوارجو متعلق پیشن گوئي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ شَرِيكِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ: كُنْتُ أَتَمَنَّى أَنْ

او حضرت شریک بن شهاب تابعي رحمه الله وایي چې زما یو لوی آرمان وو چې زه دنبي عَلَيْهِ السَّلَام دیو

أَلْقَى رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْأَلُهُ

صحابي سره دملاقات سعادت حاصل کړم اود هغوی نه دخوارجو پحقله تپوس وکړم (چې نن صبا

عَنِ الْخَوَارِجِ فَلَقِيتُ أَبَا بَرْزَةَ

کوم خوارج پیدا کیږي آیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام ددې متعلق څه پیشن ګوئي کړې ده) نو زه د یو صحابي ابوبرزه

فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقُلْتُ لَهُ:

سره داختر په ورځ دهغه ددوستانو په موجودګي کې ملاو شوم دهغوی نه مې تپوس وکړو چې تاسو

هَلْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْخَوَارِجَ؟ قَالَ: نعمْ

دنبي عَلَيْهِ السَّلَام نه دخوارجو متعلق څه ذکراوریدلی دی؟ هغوي وفرمایل چې آو! د خوارجو ذکر مې

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيَّ

اوریدلې دي په خپلو غوږونو باندې دنبي عَلَيْهِ السَّلَام نه او په خپلو سترګومې دا واقعه هم لیدلې ده چې یوځل د

وَرَأَيْتُهُ بِعَيْنَيَّ: أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ فَقَسَمَهُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې څه مال راوړلی شو هغوی هغه مال دمجلس په حاضرینو کې داسې تقسیم کړو

فَأَعْطَى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ وَمَنْ عَنْ شِمَالِهِ

چې کوم خلق دهغوی نبي طرف ته ناست وو هغوی ته یې ورکړه او کوم خلق چې کس طرف ته ناست

وَلَمْ يُعْطِ مَنْ وَرَاءَهُ شَيْئًا.

هغوی ته ئې ورکړه مګر کوم خلق چې دهغوی شا طرف ته ناست وو هغوی ته یې څه هم ورنه کړل. دارنګه

فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ مَا عَدَلْتَ فِي الْقِسْمَةِ

دنبي عَلَيْهِ السَّلَام شاته ناست کسانو کې یو کس پاسیدلو او وې ویل چې ای محمد! تاسو په تقسیم کې

رَجُلٌ أَسْوَدُ مَطْمُومُ الشَّعْرِ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَبْيَضَانِ

انصاف ونه کړه. هغه سړی دتور رنګ والا وو، د هغه د سر ویښته خریلی شوي وو او دوه سپینې جامې یې اغوستې وې

فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَضَبًا شَدِيدًا وَقَالَ: «وَاللهِ

(د هغه د خبرې په اوريدو سره) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سخت په غوسه شو، او وې فرمايل چې په الله قسم! ته

لَا تَجِدُونَ بَعْدِي رَجُلًا هُوَ أَعْدَلُ مِنِّي» ثُمَّ قَالَ: «يخرُجُ فِي

به زمانه روستو هيڅ يو سړې دانصاف والا ونه مومې او بيايې وفرمايل چې په آخره زمانه کې به

آخرِ الزَّمانِ قومٌ كَأَنَّ هَذَا مِنْهُم يقرؤون الْقُرْآنَ

يوه ډله پيدا کيږي او داسې ګويا چې د هغې ډلې يو فرد دی او د دې ډلې خلق به قرآن لولي خو د

لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ

هغوی لوستل به د حلق نه مخکې نه ځي او هغه خلق به د وخت د امام خلاف د خروج او سرکشۍ په

مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

ذريعه د اسلام نه داسې اوځي څنګه چې غشی د ښکار د مينځ نه اوځي د هغه خلقو علامه داده چې

سِيمَاهُمُ التَّحْلِيقُ لَا يَزَالُونَ يَخْرُجُونَ

د هغوي سرونه به خريلی شوي وي د دغې ډلې خلق به په هر زمان کې موندلی شي او هميشه به خروج کوي

حَتَّى يَخْرُجَ آخِرُهُمْ مَعَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ

تر دې چې د هغوی آخری سړی به د مسيح دجال سره راوځي. لهذا کله چې هم تاسو سره مخامخ شي

فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ والخليقة». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1]

(هغه قتل کړئ) هغه خلق په انسانانو او ځناورو کې بدترين مخلوق دی. (نسائي)

**توضيح**: بِأُذُنِي: ديو روايت د يقيني جوړولو دپاره به داسې الفاظ صحابه کرامو استعمالول دي دپاره چې اوريدونکي ته يقين راشي چې دې صحابي خپل ليدل او اوريدل بيان کړي دي په مينځ کې يې څه حواله او واسطه نشته دی. (المرقات ۱۱۸/۷)

رجل اسود علامه طيبي او ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چې دا د مبتدا مخذوف خبر دی يعني هو رجل اسود راوي د دې جملې اضافه کولو سره دې طرف ته اشاره کړې ده چې څنګه د دې سړي ظاهر شکل خبيث دی د ده باطن هم دغسې خبيث دی. (المرقات ۱۱۹/۷، الكاشف ۱۳۹/۷)

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۱۱۹/۷ رقم الحديث ۴۱۰۳

مطموم الشعر طَمَّ يَطُمُّ دنصرينصر نه دی د ويښتو کټ کولو په معنی سره دی څنګه چې داسړی د ويښتو نه صفا راغلی دی هم دغه شان دعقل اوشعور او ادب نه هم خالي راغلی دی .

ثوبان ابيضان يعني دنفاق حامل وو او دپاسه پرې سپين لباس وو دننه نه تک تور وو ګويا داسې وو نظافة ظاهرة وكثافة باطنة يادا سې ووائي بياض كسوته وسواد جثته. (المرقات ۱۱۸/۷)

اعدل مني اعدل د اسم تفضيل په معنی سره نه دی بلکه د نفس فعل عادل په معنی سره دی لکه اهون د هين په معنی سره دی. الصيف احر من الشتاء کې احر د نفس فعل په معنی سره دی هم دغسې د اعم او اخص الفاظ دعام وخاص په معنی سره راځي سيماهم علامې ته سيما وايې يعنې ددې داسې علامه ده چې دهغه سره لازم ده او په طور د التزام هغوی خپل ځان سره ساتلې ده، کچيرې څوک ددې عقيدې او التزام نه بغير دسر ويښته خروي نو هغه منع نه دي. (المرقات ۱۱۸/۷)

الخليقة : يا د انسان او جناتو په مقابله کې ځناورو ته خليقة ويلی شوی دی يا خلق مخکنې مخلوق ته او خليقة راتلونکي مخلوق ته ويلی شوی دی، تفصيل مخکې تيرشوی دی، هرمسلمان له پکاردي چې هغه دخپلو بزرګانو او د مشرانو ادب کوي ځکه چې الدين كله ادب ثابت شوی حقيقت دی بې ادب کله هم نه کاميابيږي بلکه اکثر ديوې لوې فتنې سبب جوړيږي اوپه دنيا اوآخرت کې محروم وي.

از خدا خواهيم توفيق ادب　　بے ادب محروم گشت از فضل رب

نن صبانوی نسل چې دهرخير نه محرومه ګرځي ددې وجه همدا بې ادبي ده، سکولونو کالجونو دوی لره آزاد اوبې حيا اوبې ادب جوړکړې دي. حضرت احمد علي لاهوري رحمه الله خپلو ملفوظاتو کې فرمايلې دي چې انګريز زمونږ تخت ونيولو زمونږ تاج يې په زوره واخستو او زمونږ دين يې واخستو اومونږ يې په خپل دين باندې معترض جوړکړې پريخوستو.

## دخوارجو تاريخي پس منظر او دهغې شرعي حکم

﴿۲۱﴾ وَعَن أَبِي غَالِبٍ رَأَى أَبُو أُمَامَةَ رُؤُوساً مَنْصُوبَةً عَلَى دَرَجِ دِمَشْقَ

او حضرت ابو غالب (تابعي) رحمه الله وايي چې حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (صحابي) (يوه ورځ) د دمشق په لاره باندې

فَقَالَ أَبُو أُمَامَةَ: «كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ

(دخوارجو) سرونه پراته اوليدل (يا په سولې ختلې وو) نو هغوی وفرمايل چې دا د دوزخ سپي دي او د آسمان نه لاندې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خَيْرُ | قَتْلَى | مَنْ | قَتَلُوهُ» | ثُمَّ | قَرَأَ |

بدترين مقتولين دي او بهترين مقتولين هغه دي كوم لره چې دوى قتل كړي وي. او بيا هغوى دا آيت

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| (يَوْمَ | تبيَضُّ | وُجوهٌ | وتَسوَدُّ | وُجوهٌ) | الْآيَةَ |

ولوستلو. چې د قيامت په ورځ به ډير مخونه سپين او منور وي او ډير مخونه به تور وي ابو غالب رحمه الله

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قِيلَ | لِأَبِي | أُمَامَةَ: | أَنْتَ | سَمِعْتَ | مِنْ | رَسُولِ الله | صَلَّى الله | عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ |

د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تپوس وكړو چې آيا تاسو دا خبره د نبي عليه السلام نه اوريدلې ده ؟

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قَالَ: | لَوْ | لَمْ | أَسْمَعْهُ | إِلَّا | مَرَّةً | أَوْ | مَرَّتَيْنِ | أَوْ ثَلَاثًا حَتَّى عَدَّ سَبْعًا |

ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې كچيرې ما دا خبره يو ځل او دوه ځله دري ځله تردي پورې چې اوه ځله مې نه وه اوريدلې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مَا | حَدَّثْتُكُمُوهُ. | رَوَاهُ | التِّرْمِذِيُّ | وَابْنُ | مَاجَهْ |

نو تاسو ته به مې نه بيانوله يعني كچيرې ما دا خبره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دومره په كثرت سره باربار نه وه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَقَالَ | التِّرْمِذِيُّ: | هَذَا | حَدِيثٌ | حَسَنٌ(۱) |

اوريدلې نو ستاسو په مخكې به مې نه بيانوله. ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن دى.

**توضيح : رؤسامنصوبة** : داسې معلوميږي چې دخوارجو دقتل نه پس چادهغوى سرونه په سولې باندې خيژولي وويا هسې په اوچت ځاى باندې ايخودلي وو. **درج دمشق** درج جمع ده ددې مفرد درجة دى كولاى شو لار او شاهراه ته هم وايې او پوړو والا غټې اندپايه (زنې) ته هم **درجة** وايې **شر قتلى** دا دمقتولين جمع ده دخوارجو مقتولين مراد دي (المرقات ۱۲۰/۷)

**خير قتلى** دلته دمسلمانانو مقتولين مراد دي. (المرقات ۱۲۰/۷)

**تحت اديم السماء** اديم دظاهري سطح په معنى سره دى كه دآسمان په سطح باندې وي چې مونږ ته په نظر راځي يا د ځمكې په ظاهري سطح باندې وي چې په نظر راځي، په اصل كې اديم څرمنې ته وايې چونكې هغه هم په ظاهري سطح باندې وي په دې وجه دالفظ دظاهري سطحې دپاره استعمالولى شي. (المرقات ۱۲۰/۷)

---

(۱) أخرجه الترمذى فى ۵/۲۱۰ رقم الحديث ۳۰۰۰وابن ماجه فى السنن ۱/۶۲ رقم الحديث ۱۷۶ وأحمد فى المسند ۵/۲۵۶

شاعر ساحر ویلي دي:

فبایما قدم سعیت الی العلی ادم الهلال لاخمصیک حذاء

کلاب النار: چونکه په حدیث کې په خوارجو باندې دکلاب النار اطلاق شوی دی په دې وجه حضرت ابوامامه رضی الله عنه دوي لره په دې نوم سره یاد کړل دا دخوارجو هغه خباثتونو ته پټه اشاره ده چې هغه خلقو د اهل اسلام او د هغه دخلفاو په باره کې کول، ګویا داخلق داهل حقو دپاره دلیوني سپي دي چې هغوی خوري او بیا به په دوزخ کې داخلق دسپو په شکل کې ظاهریږي. دخوارجو د خروج تاریخي پس منظر دادی چې مخکې دا خلق دحضرت علي رضی الله عنه سره وو او دحضرت معاویه رضی الله عنه خلاف به جنګیدل بیا واقعه د تحکیم مخې ته راغله، واقعه داسې راغله چې په جنګ صفین کې دحضرت علي رضی الله عنه فوج ته دحضرت معاویه رضی الله عنه په فوج باندې اوچتوالی حاصلیدو، حضرت معاویه رضی الله عنه پریشانه شو نو عمرو بن العاص رضی الله عنه هغوی ته وفرمایل چې تاسو خپل فوج ته حکم وکړئ چې هغوی دنیزو سره قرآن وترې او اعلان وکړې چې زمونږ په مینځ به دا قرآن فیصله کوي کله چې هغوی داسې وکړل او قرآن مجید یې په نیزو باندې اوچت وترلو اواعلان یې وکړه چې زمونږ په مینځ کې به فیصله داقرآن کوي کله چې هغوی داسې وکړل اوقرآن په نیزو باندې اوچت کړی شو نو دحضرت علي رضی الله عنه ملګرو وویل چې اوس جنګ جاري ساتل جائز نه دي ځکه چې په قرآن به فیصله وي حضرت علي رضی الله عنه ووویل چې جنګ مه بندوئ دا دمخالفینو یوه حربه ده چې جنګ ودریږي او دوی دشکست نه بچ شي، حضرت علي رضی الله عنه لره دهغه ملګرو په جنګ بندولو باندې مجبوره کړو، چې دا خلک وروسته خوارج جوړشول هغوي وویل چې مونږ دقرآن مخې ته جنګ دپاره نه ځو ،نو منع شول او دصلحې او مذاکراتو خبرې وشوې او فیصله په دې باندې وشوه چې چونکه حضرت معاویه رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه دواړه متنازع جوړ شوې دي په دې وجه دا دواړه به اختیار کوم ثالث ته ورکړي او هغه ثالثین به کوم غیرمتنازع سړي لره خلیفه مقرر کړي، ددې ثالثینو مقررولو ته تحکیم ویلی شي، حضرت علي رضی الله عنه دخپل طرف نه خپل وکیل حضرت ابوموسي اشعري رضی الله عنه مقرر کړو اوحضرت معاویه رضی الله عنه حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه خپل وکیل مقرر کړو او دا فیصله وشوه چې دواړه وکیلان به خپل موکلینو لره د خلافت نه معزول کړي، او بیا به نوی خلیفه منتخب کړي دارنګه دمعاهدې په اساس حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه د حضرت علي رضی الله عنه دمعزولۍ اعلان وکړو خو حضرت عمروبن العاص اعلان وکړو چې حضرت علي رضی الله عنه دهغه وکیل معزول کړو اوس هغه خلیفه پاتې نه شو او زه خپل موکل حضرت معاویه رضی الله عنه لره په خلافت باندې برقراره ساتم،ددې اعلان نه پس بیا سخت جنګ شروع شو مګر دحضرت علي رضی الله عنه هغو ملګرو دجنګ نه لاس روسته کړلو چې مخکې نه یې په

مذاکراتو باندې زور ورکولو هغه خلقو دا وینا شروع کړه چې حضرت علي رضي الله عنه د الله تعالی نه سوا دانسانانو حکم ومنلو، لهذا دا اوس کافرشو ځکه چې د قرآن اعلان دی ان الحکم الا لله حضرت علي رضي الله عنه په ډیر محنت سره هغوی پوهه کړل خو هغوي په بغاوت باندې ټینګ ولاړ وو او د حضرت علي رضي الله عنه فوج نه شپږ زره کسانو جدا والی اختیار کړو کوفې سره خواکښې حرورا مقام یې خپل مرکز جوړ کړو اود حضرت علي رضي الله عنه سره په جنګ شو، په جنګ نهروان کې حضرت علي رضي الله عنه د وی لره ډیر زیات قتل کړل بیا په دوی کې دري کسان دیوې منصوبې دپاره د اهل اسلام د دري لویو قائدینو د وژلو دپاره مقرر کړی شو یو شیطان د حضرت معاویه رضي الله عنه وژلو دپاره ولیږلی شو او دویم د حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه د وژلو دپاره او دریم خبیث د حضرت علي رضي الله عنه د وژلو دپاره ولیږلی شو، ددې خبیث نوم عبدالرحمن بن ملجم وو باقي دواړه په خپلو منصوبو کې ناکامه شول خو دا بدبخته دسحر د مانځه ته راکو شو او د حضرت علي رضي الله عنه په سرباندې یې په توره ګذار وکړو او حضرت علي رضي الله عنه شهید شو. بیا هغه ونیولی شو او قتل کړی شو، د ابن ملجم بدبخت په مدح کې یو خارجي شاعر عمران بن حطان دا شعرونه ویلي وو.

یاضربة من تقي ما اراد بها　　الا لیبلغ من ذي العرش رضوانا

واه واه دیو پرهیزګار د توري وار څه ښه وو چې هغه صرف د هغه عرش والا د خوشحالولو اراده وکړه.

اني لاذکره یوما فاحسبه　　اوفي البریة عند الله میزانا

زه چې کله هغه یاد وم نو خیال کوم چې د الله په نزد به د هغه تله د ټولو نه درنه وي.

اکرم بقوم بطون الارض اقبرهم　　لم یخلطوا دینهم بغیا وعدوانا

هغه خلق څومره معزز دي چې د هغوی قبرونه د ځمکې په بیخ کې دي چې هغوی خپل دین د بغاوت او د حق نه په تجاوز سره ګنده نه کړو.

ددې بدبخته د اشعارو په مقابله کې د اهل السنت قاضي ابوطیب طبري بهترین اشعار ویلي دي فرمائي:

اني لابرأ مما انت قائله　　في ابن ملجم الملعون بهتانا

د ابن ملجم په باره کې تا دروغ ویلي دي زه ددې نه بالکل بیزاره یم

اني لاذکره یوما فالعنه　　دینا والعن عمران بن حطانا

زه چې کله هغه یاد وم نو په هغه باندې د هغه سره په عمران بن حطان باندې لعنت لیږم.

علیکم ثم علیه الدهر متصلا　　لعائن الله اسرارا واعلانا

په تاسو باندې او بیا په ابن ملجم باندې دي د الله تعالی د طرف نه همیشه دپاره مسلسل خفیه او اعلانیه لعنتونه وي.

فانتم من كلاب النار جاء لنا نص الشريعة برهانا وتبيانا

تاسو ددوزخ سپي يې اوپه دې دعوی باندې مونږ سره بطور دليل دشريعت واضح حديث موجود دی. (كذافي حياة الحيوان ج ۱ ص ۲۴)

ددې اشعارو په آخره کې قاضي ابو طيب طبري رحمه الله دمذکوره حديث هغه جملې طرف ته اشاره کړې ده چې په کې کلاب النار ذکر دی، حضرت ابو امامه د قرآن کريم دې آيت طرف ته هم اشاره کړې ده. (يوم تبيض وجوه وتسود وجوه) يعني دخوارجو مخونه به تور وي او دمؤمنانو مخونه به روښانه وي.

په مشکوة شريف کې دخوارجو متعلق ډير احاديث په باب المرتدين کې درج کړی شوې دي چې په هغې سره اشاره کيږي چې شايد خوارج دمرتدينو په حکم کې دي دخوارجو د تکفير مسئله مخکې تيره شوې ده.

حضرت شاه انورشاه رحمه الله په اکفار الملحدين کې ليکلې دي: **قال الغزالي في الوسيط تبعاً لغيره في حكم الخوارج وجهان احدهما انه كحكم اهل الردة والثاني انه كحكم اهل البغي ورجح الرافعي الاول** الخ يعني امام غزالي په خپل کتاب وسيط کې دعامو علماو مطابق دخوارجو متعلق ليکلې دي چې ددوی په شرعي حکم کې دوه قوله دي: اول داچې ددې خلقو حکم دمرتدينو په شان دی، دويم قول دادی چې ددوی حکم دباغيانو پشان دی، علامه رافعي رحمه الله اول قول راجح ګرځولی دی په دې کلام باندې شاه صاحب تبصره کولو سره فرمايي چې داحکم هرقسم خوارجو ته شامل نه دی ځکه چې خوارج په دوه قسمه دي: يوخو هغه دي دکوم تذکره چې امام غزالي رحمه الله کړې ده، دويم قسم دهغه خوارجو دی چې هغوی دخپلې عقيدې او نظرياتو طرف ته د رابللو دپاره يې خروج نه دی کړی، بلکه په حکومت باندې دقبضې کولودپاره يې خروج کړی دی دا خوارج بيا په دوه قسمه دي: يو هغه دي کومو چې دظالم حکمرانانو د ظلم دوجې نه او په قرآن اوسنت باندې دعمل نه کولو په وجه سره دهغوي خلاف دالله تعالی ددين په حمايت کې خروج اوبغاوت کړی دی داخلق اهل حق دي په دوی کې حضرت حسين رضي الله عنه او داهل مدينه هغه علماء دي کومو چې دېزيد خلاف خروج کړی وو، اوپه دوی کې هغه خلق دي کومو چې دحجاج بن يوسف خلاف بغاوت کړی وو، دويم قسم خوارج هغه دي چې صرف په حکومت باندې د قبضې کولو دپاره راوتلي دي او (په احاديثو کې دهغوي مذمت وارد دی).

# کتاب الحدود

## د حدودو بیان

قال الله تبارک وتعالی: اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ (النور الاية : ۲)

وقال الله تعالى: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا (النور الاية : ۴)

وقال الله تعالى: فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (هود الاية : ۸۲)

---

حدود: دحد جمع ده او حد په اصل کې د منع په معنی سره دی، ددې یوه معنیی د حاجز هم ده، یعني د دوو څیزونو په مینځ کې هغه حائل او مانع چې دواړو له دیوځای کولو نه منع کوي، شرعي حدود هم انسان له د معاصیو نه منع کوي، فقهاء کرامو د شرعي حد اصطلاحي تعریف داسې کړی دی: الحد عقوبة مقدرة یجب حقا لله تعالی یعني په اصطلاح د شرع کې حد د هغه متعین سزا نوم دی چې شریعت د حقوق الله د حفاظت دپاره مقرر کړې ده. د مقدرة په قید سره تعزیر ووتلو څکه چې د تعزیر تعین شریعت نه کوي بلکه د شریعت په رښا کې ددې تعین د امام او قاضي په صحیح نظر باندې دی.

په دې تعریف کې د حقا لله الفاظو نه حدود او قصاص کې هم فرق ظاهرشو، څکه چې د قصاص تعین د حق العبد دپاره کړی شوی دی، همدا وجه ده چې د ثبوت نه پس قصاص معاف کولی شي حد نه شي معاف کیدلی. د قواعدو او ضوابطو په رښا کې اسلامي سزاګانې په درې قسمه دي: (۱) اول هغه سزاګانې دي کومې چې الله په خپله متعین کړې دي مګر د هغې جاري کول یې بندګانو ته پریښوستې دي په دې کې د څه خارجي طاقت یعني حاکم او حکومت ته د دخل حق نشته دی، ګویا دا د متعلقه کس د ذاتي نوعیت معامله ده او دې له په خپله د هغې نه ختمول دي، په شریعت کې د هغه شان سزاګانو نوم کفارات دی لکه د قسم کفاره، د صوم کفاره وغیره (۲) دویم هغه سزاګانې دي چې د هغې مقدار شریعت مقرر کړی دی او د کتاب او سنت نه ثابت کیدو سره سره د ددې مقدار هم متعین دی په شریعت کې د داسې سزاګانو نوم حدود دی لکه زنا، غلا، شراب څکل وغیره جرمونو

سزاګاني دي ددې سزاګانو دثبوت نه پس حاکم او قاضي نه دې لره ساقطولی شي او نه په کې کمی او زیاتی کولی شي صرف دنافذولو حکم هغه سره دی یعني دقانون سازۍ اختیار دهغه سره نه دی صرف دتنفیذ اختیارې دی. (۳) دریم هغه سزاګاني دي کومو لره چې کتاب او سنت متعین کړې نه دي خو د بدو کارونو په کولو باندې دا سزاګاني ورکولی شي شریعت دا بدکارونه د جرمونو په فهرست کې شمار کړې دي او دسزا مقدار اوددې دتعین مسئله دحاکم او قاضي په صحیح لیدلو ته پریخوستې ده چې هغه دشریعت دقواعدو په رڼا کې دموقع او محل مناسب ددې جرم سزا تعین کړي، د داسې سزاګانو نوم په اسلام کې تعزیر دی.

**دحدود الله حکمت او برکت** په اسلام کې په څلورو سزاګانو باندې دحدودو اطلاق کیږي (۱) حدزنا (۲) حدسرقه (۳) حد قذف (۴) حد خمر. دحدود الله په مقررولو کې لویې فائدې او لوی برکتونه دي چې هغه کماحقه څوک بیانولی نه شي. ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات کې په دې باندې په تفصیل سره رڼا اچولې ده په حدود الله کې لویې فائدې په دې وجه دي چې ددې په ذریعې سره لوی لوی قبیح اعمال منع کولی شي او صرف په نفاذ حدود سره سړی ددې ګنده کارونو نه منع کیدی شي. مثلاً دحدِ زنا په نفاذ سره سړی دنسب دضائع کیدو او داولاد دضائع کیدونه او دځان دضائع کیدو دتباهئ نه بچ کیدی شي اودا ځیزونه په بین الاقوامي طورباندې دهرعقلمندپه نزد باندې واجب الحفاظت دي. **حدخمر** : سره دعقل دزوال حفاظت کیږي او د زړه او دماغو په ځای باندې کیدل په بین الاقوامي طور باندې مطلوب اومقصود دي. **حدقذف** : سره د نفس عزت او دناموس دعزت حفاظت کیږي چې په بین الاقوامي طور باندې یو محمود اوممدوح ځیز دی. **حدسرقه** : سره دمال دحفاظت انتظام کولی شي او امن اوامان او حفاظت دمال په عالمي طور باندې دهر کس په نزد ډیرضروري دی، خلاصه داچې حفاظت دنسل،عزت نفس، حفاظت عقل او حفاظت دمال دا داسې ځیزونه دي چې دهغې په فائده مند کیدو باندې ددنیا ټول انسانان متفق دي، لهذا هیڅ یو عقل مندانسان په اسلامي حدودو او حدودِ آرډیننس باندې اعتراض نه شي کولی، بیا ددې نه علاوه دمسلمانانو دپاره په نفاذ حدود الله کې لوی لوی برکتونه دي، په حدیث کې دي چې دیو حد په نفاذ سره ملکي معیشت ته دومره فائده کیږي څنګه چې څلویښت ورځې پوري فائده مند او نافع باران سره کیږي. دارنګه په معاشره او (سوسائټی) کې حدود الله دامن اوامان ضامن دی ځکه چې په معاشره کې په سلو کسانو کې کچیرې پنځه فیصده خلق شرابیان کبابیان یا غله او زناکار وي

نو هغه د ۹۵ فیصده خلقو ژوند په خطره کې اچولو سره پریشانه کوي، اسلام حکم ورکوي چې دا پنځه په سزا ورکولو سره قابو کړئ دې دپاره چې د ۹۵ فیصده خلقو ژوند په امن او امان او عزت او شرافت سره تیرشي. دارنګه جرائم پیشه خلقوته چې کله دخپل جرم سزا په دې دنیا کې ملاو شوه نو هغه به د آخرت د دوزخ والا سختې سزا نه بچ شي. داټولې فائدې په حدود الله کې دي شریعت دانه غواړي چې هغې دې خامخا چاته تکلیف ورکړي، دا حدود الله ئې انسان ته دتکلیف ورکولو دپاره نه دي مقررکړې بلکه انسانانو لره یې دانسان جوړولو دپاره مقررکړې دې، په سعودي عرب کې څو حدود قائم دي هلته څومره امن دی او په افغانستان کې دطالبانو داسلامي حکومت دقیام په دوران کې هلته څومره امن او امان وو ،او هلته څومره شرافت او انسانیت وو چې دهغې مثال په دنیا کې نه وو، خو دنیا ته دا شرافت خوښ نه شو، او ټول کافران او اشرار او منافقان یوځای شول د دوی حکومت یې وغورزلو اوس هلته نه امن دی نه انسانیت او نه شرافت دی. داخبره هم په ذهن کې وساته چې شریعت دځومره احکامو تجربه دنبي عَلَيْهِ السَّلَام په ذات باندې کړې ده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام دې احکامو لره په عملي ژوند کې راوستلو سره دامت مخې ته یوه نمونه پیش کړه لکه د ځولې ویلی شوی ځوی دښځې سره نکاح کول وغیره وغیره، خو کوم افعال چې داسې وو چې دهغې کول دنبي عَلَيْهِ السَّلَام دشان سره منافي وو او دعصمت انبیاء د اصولو منافي وو نو داسې احکامات یې په تکویني طور باندې دصحابه کرامو په عمل کې راوستلې دي دې دپاره چې راتلونکي امت دپاره نمونه جوړه شي، لهذا په تکویني طور باندې دبعضې صحابه کرامو نه د زناعمل وشو، بعضې واقعات دغلا یا دشرابو څکلویا قذف پیش راغلو نو دحد لګیدو نه پس دامت دپاره دقائمیدو طریقه کار فراهم شوه، دنفاذ حد ثبوت هم ملاو شو او د شریعت داحکامو تکمیل هم وشو، لهذا په حدودو کې چې کله دځه لویې ګناه کیدل دیو صحابي نه په نظر رائي نو هغې ته یې صرف دګناه په حیثیت سره مه ګوره بلکه دښه دتکمیل شریعت په آینه کې اوګوره چې دلته هم صحابه کرامو خپل مقدس ځانونه دشریعت دتکمیل دپاره پیش کړل، کتاب الحدود کې باب قطع السرقة نه مخکې به درې قسمه احادیث رائي د اکثرو احادیثو تعلق د حدزنا سره دی، اوددې په ضمن کې د بعضو تعلق دحد قذف سره دی دباقي روایاتو تعلق دحد لواطت سره دی لهذا په دې کتاب کې حدقذف دپاره ځانله عنوان نه دی ایخودلی شوی، دغه رنګه د لوطي دسزا دپاره څه عنوان نشته دی دحد قذف نور احادیث په باب اللعان کې تیرشوي دي.

## الفصل الاول

## بارګاه دنبوت کې دزنا دیوې مقدمې فیصله

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ: أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت زید بن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ دوه سړو خپله مقدمه

إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ

دنبي عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې راوړله،په دوی کې یو کس وویل چې زمونږ په مینځ کې د کتاب الله موافق حکم وکړئ

وَقَالَ الْآخَرُ: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ وَائْذَنْ لِي

دویم هم عرض وکړو چې ای د الله رسوله! زمونږ په مینځ د کتاب الله موافق حکم وکړئ او ماته اجازت وکړئ

أَنْ أَتَكَلَّمَ قَالَ: «تَكَلَّمْ» قَالَ:

چې زه بیان وکړم چې دمقدمې صورت څه دی نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل بیان کړه چې زما ځوی د دې

إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هَذَا فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ

سړي سره مزدور وو هغه دده د ښځې سره زنا کړې ده خلقو ماته وویل چې ستا د ځوی سزا سنګساري ده

فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَبِجَارِيَةٍ لِي ثُمَّ إِنِّي سَأَلْتُ

خو ما دهغه سنګسار په بدله کې سل چیلی او یوه وینځه ورکړه ، بیا چې کله ما د دې په حقله د علماو

أَهْلَ الْعِلْمِ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي

نه تپوس وکړو نو هغوی وویل چې ستا ځوی چونکه محصن یعني واده کړی نه دی په دې وجه دهغه

جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ وَإِنَّمَا الرَّجْمُ عَلَى امْرَأَتِهِ

سزا سل کوړې دي او یو کال جلاوطني ده اوددې سړي د ښځې سزا سنګساري ده ځکه چې هغه واده کړې ده

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا وَالَّذِي

نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې دا قصه واوریده نو وې فرمایل چې خبردار شئ! قسم دی په هغه پاک ذات باندې

نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللهِ

چې دهغه په لاس کې زما ساه ده زه به ستاسو په مینځ کې د کتاب الله موافق فیصله کوم نو واورئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| أَمَّا | غَنَمُكَ | وَجَارِيَتُكَ | فَرَدٌّ | عَلَيْكَ |
| چې ستا چيلۍ اوستا وينځه به تاته واپس ملاويږي او که چيرې پخپله دمجرم په اقرار يا د څلورو ګواهانو | | | | |
| وَأَمَّا | ابْنُكَ | فَعَلَيْهِ | جَلْدُ | مِائَةٍ | وَتَغْرِيبُ | عَامٍ |
| په ګواهۍ سره د زنا جرم ثابت دی نو ستا ځوی ته به سل کوړې سزا ورکولی شي او يو کال دپاره به | | | | | | |
| وَأَمَّا | أُنَيْسُ | يَا | أَنْتَ | فَاغْدُ | إِلَى |
| جلاوطن کولی شي بيانبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت انيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې انيس! ته ددې سړي | | | | | |
| امْرَأَةِ | هَذَا | فَإِنِ | اعْتَرَفَتْ | فَارْجُمْهَا» |
| دښځې خواته لاړشه کچرې هغې د زنا اقرار اوکړه نو هغه سنګساره کړه نو هغه ښځې دزنا اقرار | | | | |
| فَاعْتَرَفَتْ | فَرَجَمَهَا | مُتَّفَقٌ | عَلَيْهِ | (صَحِيحٌ)[1] |
| وکړو او حضرت انيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه سنګساره کړه. (بخاري ومسلم) | | | | |

**توضيح**: **بكتاب الله**: ددې نه د الله تعالى حكم مراد دى ځكه چې د رجم حكم د قرآن په الفاظو كې موجود نه دى **اي بحكم الله** مګر بعضې علماء فرمايې چې مراد هم قرآن كريم دى او دهغه آيت طرف ته اشاره ده چې مخكې نازل شوى وو بيا الفاظ منسوخ شو او حكم باقي پاتې شو الفاظ دا دي: **الشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما البتة نكالا من الله والله عزيز حكيم** (المرقات ۱۲۲/۷)

**اجل يعني نعم فاقض** علامه طيبي ليكي چې فاء جزائيه ده شرط محذوف دى يعنې چې كله ددې سړي بيان راشي نو تاسو په كتاب الله باندې فيصله وكړئ دواړو متخاصمينو اشاره وكړه چې تاسو زمونږ په مينځ كې خالص د كتاب الله فيصله وكړئ دځه صلح مصالحت ضرورت نشته دى چې كوم حكم دى هغه نافذ كړه **عسيفا** دمزدور او اجير په معنى سره دى.

**جلدمأة**: جلد كوړې ته وايې شرعى كوړه دومره سخته نه وى نن صبا د حكمرانانو په نزد چې كومې كوړې دي داخو تباهي ده چې دهغې په لسو كوړو سره دسړي دمرګ خطره وي. (المرقات ۱۲۲/۷)

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۱/۵۴۳ رقم الحديث ٦٦٣٣ ومسلم فى ۳/۱۳۲٤ رقم الحديث (۱٦۹۷-۲۵) وأبوداود فى السنن ٤/٥٩١ رقم: ٤٤٤٥

**تغریب عام یعنې پوره کال جلاوطن کولو حکم : تغریب عام** : تغریب مسافر جوړولو او جلاوطن کولو ته وایې. په دې باندې دټولو فقهاو اتفاق دی چې محصن واده کړې ته وایې که هغه سړی وي یا ښځه وي، کله چې د زنا ارتکاب وکړي او په ګواهانو سره یا په اقرار سره زنا ثابته شي نو هغه لره به رجم یعنې سنګسار کولی شي، اوکچیرې محصن نه وي یعنې واده یې نه وي کړی نو د جرم د ثبوت نه پس به ده لره سل کوړې وهلی شي، دفقهاو په دې کې اختلاف دی چې آیا پوره کال جلاوطن کول به په حد کې داخل وي یا دا د تعزیر حصه ده.

**دفقهاؤ اختلاف** : امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله وایې چې غیرمحص سړی وي او که ښځه دکوړو خوړلو نه پس به یو کال دپاره تغریب یعنی جلاوطن کول دزنا دحد حصه ده. د امام مالک رحمه الله په نزد تغریب عام دی په دې به عمل وي خو صرف دسړو سره خاص دی او د ښځو دپاره د فتنې په وجه دا حکم نه دی ځکه که ښځې جلاوطن کړی شی نو فتنه نوره هم زیاتیږی. احناف وایې چې پوره کال جلاوطن کول په حد کې داخل نه دی دا محض تعزیر دی، کچیرې امام او قاضی سیاسةً او حکمةً د چا جلاوطن کول مناسب ګڼي نو د مصلحت د مخې دې هغه لره د علاقې نه وشړي خو بهتر تغریب دادی چې هغه لره په جیل کې واچولی شي، او پوره کال قید په تنهائي کې پروت وي. شوافع دتغریب عام مسافت د درې ورځو اودرې شپو فاصله مقررکړې ده. (المرقات ۱۲۴/۷، ۱۲۲)

**دلائل** : حنابلو اوشوافعو د دې ټولو احادیثو نه استدلال کړی دی په کومو کې چې دسلو کوړو سره د تغریب عام ذکر دی دارنګه ددې باب په حدیث نمبر ۱ او حدیث نمبر ۲ او حدیث نمبر ۳ نه دې حضراتو استدلال کړی دی چې په خپله مدعاباندې واضح احادیث دي، ائمه احنافو دقرآن کریم آیت مأة جلدة نه استدلال کړی دی هغوی فرمایې چې آیت مطلق دی کچیرې دزانی د کوړو سره دپوره کال جلاوطن کول هم ومنلی شي نو دا به د آیت په حکم باندې زیادت شی چې مناسب نه ده.

احنافو دخلفاء راشدینو دفیصلونه هم استدلال کړی دارنګه مصنف عبدالرزاق کې دحضرت علي رضي الله عنه په حوالې سره یو روایت نقل کړی شوی چې حضرت علي رضي الله عنه وفرمایل **کفی بالنفي فتنة** چې جلاوطن کول دفتنې زیاتولو دپاره کافي دی. دغه شان مصنف عبدالرزاق کې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه په حوالې سره نقل کړی شوي دي چې هغوی امیة بن ربیعه لره جلاوطن کړو نو هغه عیسائی شو په دې وجه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وفرمایل **لا اغرب بعده مسلماً** زه به اوس هیڅ یو مسلمان جلاوطن نه کړم دا الفاظ په واضحه باندې بنایي چې تغریب دحد حصه نه ده

کچیرې داسې وی نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ به کله هم دې لره نه شو ختمولی (دا دواړه روایتونه زجاجة المصابیح جلد ۳ ص۵۹ باندې دی)(المرقات ۱۲۴/۷ تا ۱۲۷)

**جواب**: دشوافعو دمستدلاتو نه جواب دادی چې دتغریب حکم په سیاست او مصلحت باندې مبني دی گویا د تعزیر یوه حصه ده کچیرې قاضي دې لره مناسب وگڼي نو داسې دې وکړي څنگه چې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه هم دتغریب واقعه نقل ده، احناف ددې روایاتو دویم جواب دا هم کړی دی چې دا حکم په ابتداء کې وو بیا موقوف یا منسوخ شو ددې وجه دادې چې نبی علیہ السلام د حد زنا په څو واقعاتو کې د کوړو نه پس دتغریب عام حکم نه دی ورکړی که چیرې دا حکم واجب العمل وی نو نبی علیہ السلام به کله هم ددې نه معافي نه کوله، بهرحال کچیرې قبائلي نظام ته وکتلی شي نو دا حکم اوس هم هلته موجود دی اوپه دې باندې عمل کولو سره غټې غټې فتنې ختمیږي، احناف دې ته سیاست وایي.

**په اعتراف زنا باندې دحدجاري کیدو حکم**: فان اعترفت: اوس دامسئله زیربحث ده چې یو ځل په اعتراف بالزنا باندې به حد جاري کیږي یا اعتراف دپاره تعدد شرط دی دارنگه په دې کې هم کلام دی چې آیا په یو مجلس کې اعتراف کافی دی یا څلور مجلسونو کې جدا جدا اعتراف ضروري دی په دې کې دفقهاو اختلاف دی.

**دفقهاو اختلاف**: امام شافعی رحمه الله اوامام مالک رحمه الله فرمایي چې یو ځل اقرار کول دثبوت زنا دپاره کافي دي، اودمجلس دتعدد یا داعتراف دتعدد ضرورت نشته دی. امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمایي چې د زنا دثبوت دپاره څلورځله اقرار کول شرط دی، دې دپاره چې د څلورګواهانو قائم مقام شي، دارنگه دیومجلس په ځای د څلورو مجالسو تعدد هم لازمی دی.

**دلائل**: شوافع اومالکیان دمذکوره حدیث نه استدلال کوي چې په هغې کې یوځل د اقرار ذکر دی او دمجلس دتعدد هم څه ذکر نشته دی. احناف اومالکیان دحضرت ماعز رضی اللہ عنہ دمتعدد و روایاتو نه استدلال کوي چې په هغې کې څلور ځله د اقرار ذکر راغلی دی چې نبی علیہ السلام دې ځله هغه لره واپس کړو او په څلورم ځل یې د رجم حکم ورکړو که په یو یا دوځله اقرار سره حد واجب کیدو نو نبی علیہ السلام به حضرت ماعز لره دواپس کولو په ځای په هغه فوراً حد نافذ کولو، دحضرت ماعز رضی اللہ عنہ د رجم تولو روایاتو باندې کچیرې نظر واچولی شي نو په تعدد د مجلس او تعدد د اقرار کې به څه شبهه باقی نه پاتې کیده.

**جواب**: دشوافعو اومالکیانو ددلیل توجیه اوجواب دادی چې په دې کې دجنس اعتراف ذکر دی

په دې کې د یو یا دوو ذکر نشته نه دنفي ذکر دی نه داثبات ذکر دی، نوپه دې کې هغه معهود څلور اعترافه مراد دي یا روایت مجمل دی ددې تفسیر اوتفصیل دحضرت ماعز په روایت کې دی.( المرقات ۱۲۵/۷، ۱۲۴)

## دغیر محصن زانی سزا او داحصان شرطونه

﴿۲﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ فِيمَنْ

او حضرت زید بن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دغیر محصن زاني په باره کې

زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

د احکم واوریدو چه هغه به سل کوړې وهلی شي او د یو کال دپاره به جلا وطن کولی شي.(بخاری)

**توضیح** : **ولم یحصن** :زاني کچیرې غیرمحصن وي نو دهغه سزا سل کوړې ده خو که زانی محصن وي نو دهغه سزا رجم دی، اوس د احصان زنا او دمحصن جوړیدو دپاره څه شرائط دي: (۱) بالغ کیدل (۲) عقل مند کیدل (۳) د واده کیدو سره دخلوت صحیحه کونکی (۴) آزاد کیدل (۵) مسلمان کیدل. دا د احصان دزنا شرطونه دي، د احصان دقذف هم شرطونه دي هلته صرف د واده کیدو په ځای پاکدامن کیدل شرط دی کچیرې مقذوف پاکدامن نه وي نو په قاذف به حد قذف نه لګي.

په شرطونو کښ د اسلام شرط د حد زنا په باب کې اختلافي دی چې ایا په غیرمسلم ذمی باندې به د زنا حد نافذولی شي یا نه، نو شوافع او حنابله فرمایي چې د حد زنا دنافذ کولو دپاره مسلمان کیدل شرط نه دی، ځکه چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د دوو یهودیانو په مینځ کې د زنا د حد حکم نافذ کړی وو حالانکه هغه غیرمسلم وو دکوم قصه چې مخکې راروانه ده . احناف او مالکیان فرمائی چې داحصان الزنا دپاره اسلام شرط دی لهذا ذمی او ذمیه کچیرې زنا وکړي نو حد به نه شی نافذ کولی دهغوی دلیل دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوع او موقوف روایت دی چې دهغې الفاظ علامه زیلعی په نصب الرایه کې داسې نقل کړي دي (**من اشرک باالله فلیس بمحصن**)

د شوافعو او د حنابلو د دلیل جواب دادی چې هغه حکم دتورات وو د قرآن عظیم نه وو همدا وجه ده چې په یهودیانو یې تورات ولوستلو فیصله یې وکړه هغه حکم دتنکیل او عبرت دپاره بطور سیاست وو چې په یهودیانو کې دزنا رواج عام شوی وو.

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۱۵۶ رقم الحدیث ۶۸۳۱

## په اسلام کې د رجم ثبوت او د محصن زانی سزا

﴿۳﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ اللهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې بیشکه الله تعالی محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حق سره رالیږلی دی او په هغه ئې

وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ مِمَّا أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى آيَةُ الرَّجْمِ

خپل کتاب نازل کړو نو الله تعالی په دې کتاب کې چې څه نازل کړي دي په دې کې د رجم آیت هم دی

رَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ وَالرَّجْمُ فِي كِتَابِ اللهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى

رجم او په کتاب الله کې دهغه سړي د رجم کولو حکم ثابت دی چه د محصن کیدو باوجود زنا وکړي که

إِذَا أُحْصِنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ

هغه سړی یا ښځه وي او دا د رجم سزا به هغه وخت ورکولی شي چه کله د زنا جرم د ګواهانو په ذریعه

أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الِاعْتِرَافُ. متفق عليه (صَحِيح)[1]

یا د حمل په ذریعه یا د اعتراف او اقرار په ذریعه ثابت وی. (بخاری ومسلم)

**توضیح: والرجم فی کتاب الله:** حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې جمله کې هغه آیت طرف ته اشاره کړې ده چې یو ځل په قرآن کې نازل شوی وو خو بیا د هغې الفاظ منسوخ شو او حکم یې باقی پاتې شو.

هغه آیت دادی: (**الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما البتة نکالا من الله والله عزیز حکیم**) اوس دا ایت منسوخ التلاوة او باقی الحکم دی. په اسلام کې دنا واده کړي غیر محصن سړي د پاره سل کوړې سزا موجود ده چې په کې د څه شک او شبهې ګنجائش نشته دی، اوس سوال دادی چې د محصن زاني د پاره رجم او سنګسار دی دا سزا چیرته ده؟ د دې جواب دادی چې د رجم سزا هم د قرآن کریم حکم دی او قرآن او حدیث نه ثابت دی خو د دې د پاره چې کوم آیت نازل شوی وو چې د کوم الفاظ پاس لیکلی شوې دي، هغه منسوخ التلاوة دي او حکم یې اوس هم موجود دی او داسې کیږی دا زمونږ فیصله نه ده نه زمونږه معامله ده، د صحابه کرامو او شارع اسلام معامله او د هغه فیصله ده د صحابه کرامو هم دا ګواهي ده چې همداسې شوې ده بیا په دې باندې اجماع منعقده شوه چې د رجم حکم د قرآن حکم دی. حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مسجد نبوي کې د خطبې په دوران کې

---

[1] أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۱۳۷ رقم الحدیث ٦٨٢٩ ومسلم فی ۳/۱۳۱۷ رقم الحدیث (۱٦۹۱-۱۵) وأبوداود فی السنن ٤/٥٧٢ رقم الحدیث ٤٤١٨ والترمذی فی ٤/٣٠

اعلان وفرمایلو چې رجم دالله تعالی حکم دی اوپه قرآن کې دې د یوې اوږدې زمانې نه پس به خلق وایې چې رجم حکم په قرآن کې نشته دی په دې سره به هغوی ګمراه شی په الله قسم چې که چیرې خلقو دا نه ویل چې عمر رضی الله عنه په قرآن کې اضافه وکړه نو مابه دا آیت په قرآن کې داخل کړی وو الفاظو سره به مې لیکلی وو .ددې واقعاتو او اشارتونه ثابته شوه چې رجم کول د قرآن حکم دی. دارنګه دیهودیانو د رجم دحکم نه انکاربانديې قرآن کریم کې تقریبًا یوه رکوع درجم دثبوت متعلق راغلې ده دسورت مائدې رکوع نمبر ۷ کتل پکار دي. دارنګه احادیث مبارکه د رجم په باره کې په تواتر سره نقل دي، دارنګه دنبی کریم ﷺ عمل او رجم په څو صحابو باندې نافذول او دمدینې په یهودیانوباندې هم نافذول دا واضح دلائل دي چې د رجم حکم دقرآن او اسلام دی. حضرت عمرفاروق رضی الله عنه باندې دې د الله رحمتونه نازل شي د هغه ایمانی نور د لرې نه راتلو والا فتنو نشاندهی وکړه. صحابه کرامو رضی الله عنه دې لره جاري ساتلې ده اوپه دې باندې دصحابو اجماع ده. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ژوند غیرمبهم واقعات دي چې دخوارجو نه سوا او د نن صباد ملحدینواو منافقینونه سوا چاهم ددې نه انکار نه دی کړی.

**اوکان الحبل** : دثبوت حد دپاره دګواهانو قیام او یا دمرتکب جرم پخپله اقرار کول خو کافي دي په دې کې دچا هم اختلاف نشته دی. البته په دې کې دفقهاو اختلاف دی چې کچیرې دناواده کړې ښځې دحمل ظهور وشي نو ددې څه حکم دی.

**دناواده کړې ښځې دحمل حکم** : امام ابوحنیفه، امام مالک او امام احمد رحمهم الله فرمایې چې دظهور حمل په بنیاد باندې به د زنا حد نه شي قائمولی.امام شافعی رحمه الله فرمایې چې دحمل ظاهریدل په ناواده کړې ښځه کې دحد زنا د ثبوت دپاره کافی دی او ذکرشوې جمله **اوکان الحبل** نه یې استدلال کړی دی، جمهور فرمایې چې دحمل وجود محتمل دی کیدی شي چې د اکراه په صورت کې وي یا داشتباه دوجې نه وي په حالت نوم کې وي، یا په غیراختیاري طور باندې وي ددې احتمالاتو دوجې نه حد به ساقط شي، ځکه چې الحدود تندرءُ بالشبهات دا یوه واضحه قاعده ده، د ذکرشوې جملې **اوکان الحبل** جواب دادی چې دا دسبب بعیده په طور باندې ذکرکړی شوې ده چې کله بغیر دخاوند نه بچی وشي نوبیا به یا دګواهانو په ثبوت سره وي او یا به په اقرار سره ثبوت وي اوبیابه حد قائمیږي، دا مطلب نه دی چې صرف دحمل په بنیاد باندې به حد قائمیږي، بهرحال دا تاویل کمزوری دی.

## واده کړې زانیه اوزانی سنګسار کړئ

﴿۴﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: خُذُوا عَنِّي

اوحضرت عباده بن صامت راوي دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د زانیه په باره کې زما نه دا حکم

خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا:

حاصل کړئ زما نه دا حکم حاصل کړئ چې الله تعالی دښځو دپاره لار مقرر کړې ده، چه کوم غیر محصن سړې

الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جلد مائة وتغريب عام

دکومې غیر محصنې ښځې سره زنا وکړې نو سل کوړې به وهلی شي او یو کال دپاره به جلاوطن کولی شي.

وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جلد مائة وَالرَّجم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

اوچې کوم محصن سړی دمحصنې ښځې سره زنا وکړی نو سل کوړې به وهلی شي او سنګسار کولی به شي. (مسلم)

**توضیح**: **خذوا عني**: نبی کریم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ارشاد په دې وجه فرمایلی ووچه ددې نه مخکې د قرآن په آیتونوکې د زانی او زانیه حد مشروع شوی نه وو هغه آیت دادی: **وَالّٰتِيْ يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾** (سورة النساء ۱۵)

ددې آیت نه پس چې کله د سورة نور آیتونه نازل شول اوپه دې کې د زناد حد حکم راغلو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلان وفرمایلو چې الله تعالی دسبیل وښتلو چې کومه وعده کړې وه هغه یې پوره کړه اوس الله تعالی دهغوی دپاره لاره مقرر کړه چې د ناواده کړې سړې او ښځې دپاره سل کوړې او یو کال دپاره جلاوطن کول دي او د واده کړی دپاره سل کوړې او رجم دی.

**د جمع بین الرجم والجلد حکم**: ددې حدیث په آخري جمله کې دا حکم ورکړی شوی دی چې ناواده کړی زاني او زانیه ته مخکې سل کوړې ورکړئ او بیایې رجم کړئ ددې نه معلومه شوه چې کوړې وهل او سنګسارول په یوانسان باندې په یو حد کې جمع کیدی شي، اهل ظواهرو او بعضو تابعینو ددې حدیث په ظاهر باندې عمل کړی دی او رجم سره یې مخکې دکوړو سزا جائزګرځولې ده، دجمهورو فقهاو او د جمهور امت په نزد د رجم سره به دکوړو سزا نه شي ورکولی ددوی دطرف نه ددې حدیث نه دا جواب دی چې دا حکم منسوخ شوی دی ځکه چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وروسته د رجم

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۳۱۶ رقم الحدیث (۱۶۹۰-۱۲) وأبوداود فی السنن ۴/۵۶۹ رقم الحدیث ۴۴۱۵ والترمذی فی ۴/۳۲ رقم الحدیث ۱۴۳۴ وابن ماجه فی ۲/۸۵۲ رقم الحدیث ۲۵۵۰.

سره کوړې نه دې جمع کړې، دا ددې حکم دمنسوخ کیدو دلیل دی. **دویم جواب**: داچې کچیرې کوړې لګول د رجم سره د یو حدیث نه ثابتې شي نودا حکم به سیاسةً وي حدًا به نه وي.

**دریم جواب** داچې کله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ یو کس لره د یو جرم په کولو باندې کوړې ورکړې دي خو روستو پته ولګیده چې دا کس محصن وو په دې وجه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ بیا رجم هم کړو چې په هغې سره رجم اوجلد دواړه جمع شول، بهرحال په عهد نبوي کې د همیشه معمول نه کیدو په وجه سره به دا تاویلونه کول وي. (المرقات ۱۳۲/۷، ۱۳۱)

## د الله تعالی کتاب په زمکه مه ږدئ

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: أَنَّ الْيَهُودَ

او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ د یهودیانو یو جماعت د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

جَاؤُوا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ

په خدمت کې حاضر شو او هغوی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخکې دا بیان وکړو چې ددوی په قوم کې یوې

أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا فَقَالَ لَهُمْ

ښځې او یو سړي چې دواړه محصن یعنی واده کړي دي زنایي کړې ده، نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الرَّجْمِ؟»

هغوی نه تپوس وکړو چې تاسو په تورات کې درجم په باره کې څه لوستلي دي؟ یهودیانو وویل چې

قَالُوا: نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ

مونږ زنا کونکو لره ذلیل او رسوا کوو او هغوی ته کوړې ورکوو د هغوی د خبرې اوریدو سره

قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: كَذَبْتُمْ إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ

حضرت عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې تاسو دروغ وایي، په تورات کې هم درجم حکم ذکر دی،

فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا

تورات راوړئ چې زه تاسو ته درجم حکم ښایم نو هرکله چې تورات راوړلې شو او کولاو کړې شو نو

فَوَضَعَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ

په یهودیانو کې یو کس زر په هغه ځای باندې لاس کیخود لو چیرته چې درجم په باره کې آیت وو،

فَقَرَأَ مَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا

او د هغې څه مخکې روستو آیتونه یې ولوستل دې کتلو سره حضرت عبدالله بن سلام هغه ته وویل

فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: ارْفَعْ يَدَكَ فَرَفَعَ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ.

چې خپل لاس لرې کړه، هغه چې خپل لاس لرې کړو نو وې کتل چې هلته درجم آیت موجود وو، ددې (آیت پټولو والا)

فَقَالُوا: صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ.

وویل چې ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! (عبد الله بن سلام) رښتیا وویل په تورات کې درجم آیت موجود دی

فَأَمَرَ بِهِمَا النَّبِيُّ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا.

ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه دواړو باندې دسنګسارولو حکم وکړو او هغوی سنګسار کړی شول.

وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: ارْفَعْ يَدَكَ

په یو روایت کې داسې دي چې حضرت عبد الله بن سلام هغه سړي ته وویل چې خپل لاس لرې کړه او بیا

فَرَفَعَ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ تَلُوحُ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ

کله چې هغه خپل لاس لرې کړو نو هلته درجم آیت موجود وو، ددې آیت پټولو والا ویل: ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

إِنَّ فِيهَا آيَةَ الرَّجْمِ وَلٰكِنَّا

په تورات کې د رجم آیت موجود دی، مګر مونږ ئې په خپل مینځ کې نه ښکاره کوو. ددې نه پس

نَتَكَاتَمُهُ بَيْنَنَا فَأَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه دواړو باندې دسنګسارولو حکم وکړو او هغوی سنګسار کړی شول. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: ان اليهود جاءوا: **سوال**: دلته دا سوال دی چې یهودیان کافر دي او کافر محصن نه شي کیدی اګر چې واده کړی وي. دا حصان دپاره اسلام شرط دی، څنګه چې مخکې په تفصیل سره تیرشوی دی نو دلته یهودیانو لره د رجم کولو حکم څنګه وکړی شو؟

**جواب**: ددې یو جواب دادی چې نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا حکم دتورات مطابق کړی وو او په تورات کې د رجم دپاره احصان شرط نه وو، دویم جواب دادی چې اوسه پورې دقرآن حکم نه وو راغلی نو په تورات عمل وکړی شو، هرکله چې دقرآن حکم راغلو نو دتورات حکم منسوخ شو لهذا اوس په ذمي باندې د رجم حکم نه شي نافذ کولی، په دې مسئله کې دشوافعو او حنابلو اختلاف مخکې لیکلی شوی دی. (المرقات ۱۳۴/۷)

**تنبیه**: په ابوداؤد شریف کې دارنګه حدیث د کتاب الحدود په باب رجم الیهود یین کې راغلی دی په دې کې دومره اضافه ده چې هرکله نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دیهودیانو سره بیت المدارس یعنی دهغوی په مدرسه کې کیناستلو نو هغوی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د اکرام دپاره لاندې بالخت کیخودلو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۲/۱۶۶ رقم الحديث ۶۸۴۱ ومسلم في ۳/۱۳۲۶ رقم الحديث (۱۶۹۹-۲۶) وأبوداود في السنن ۴/۵۹۳

تورات راوغوښتلو کله چې تورات راوړلی شو، نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام د لاندې نه بالخت اوچت کړو مخې ته يې کيخودلو اوپه هغې يې تورات کيخوستو او تورات يې په زمکه کينخودلو، په دې سره ټولو عربو ته سبق ملاويږی چې هغوی په زمکه باندې قرآن ږدي او بی ادبي يې کوي، او د قرآن احترام نه کوي د ابوداؤد دحديث الفاظ دادي: **ثم قال ائتوني بالتوراة فاتي بها فنزع الوسادة من تحته ووضع التوراة عليها وفي رواية ووضع الوسادة تعظيما لكتاب الله تعالى وقال آمنت بك وبمن انزلك** (ابوداؤد ج ۲ ص ۲۵۵) باوجود ددې چې تورات منسوخ شوی کتاب وو خو الله تعالی ته د منسوب کيدو وجې نه نبی عَلَيْهِ السَّلَام ددې احترام وکړو او په غير محرف تورات باندې يې دايمان راوړلو اعلان وفرمايلو، اوس که يو مسلمان دخپل عظيم قرآن او د الله تعالی دعظيم کتاب احترام نه کوي نوهغه ددې دفائدو او برکاتونه به څنګه برخه دار شي. **فالى الله المشتكى.**

**فوضع احدهم يده:** دا دتورات يو عالم ووچه دهغه نوم ابن صوريا وو مګر ديهوديانو په رګونو کې د الله تعالی دکتاب د تحريف ماده اچولی شوې وه په دې وجه يې په ډک مجلس کې هم دحق د پټولو او په هغې دګوتې ايخودلو کوشش کولو، نن صبا مسلمانان حکمرانان د يهوديانو دا فريضه ادا کوي او د قرآن حکمونه پټوی هغه وخت عبدالله بن سلام يهوديانو لره رسوا کړل او نن صبا علماء حق دا فريضه ادا کوي، يهوديانو اعتراف وکړلو چې په مونږ کې هرکله بااثر او اصحاب اقتدار مالداره طبقه زنا وکړي نو مونږ دهغوی دپاره د رجم حکم په نرمولو سره په کوړو او لعن طن سره بدلوو، او دغريب دپاره د پوره حکم دنافذ کولو حکم کولی شي په دې شان سره په تورا ت کې تحريف وکړی شو، افسوس دی چې نن صبا ملحدين حکمرانان د الله تعالی د کتاب حکم دغريبانانو دپاره هم نه نافذ کوي. (المرقات ۱۳۴/۷)

## درجم يوه واقعه په دې کې آداب او مسائل

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يوه ورځ نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته يو کس راغلو هرکله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام

وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ: يَا رَسُولَ اللهِ

په مسجد نبوی کې تشريف فرما وو. يو سړي آواز وکړو چې يا رسول الله! ما زنا کړې ده نبی عَلَيْهِ السَّلَام

إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنَحَّى لِشِقِّ

چې دا واوريدل نو خپل مخ يې دهغه نه واړولو نو هغه سړي بيا دنبی عَلَيْهِ السَّلَام مخې طرفته راغلو

وَجْهِهِ الَّذِي أَعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ: إِنِّي زَنَيْتُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کوم طرفته چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام مخ اړولی وو او وې ويل چې ما نه زنا شوې ده نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيا مخ واړولو

فَلَمَّا شَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

تردي چې هغه داسې څلور ځله دخپل جرم اقرار وکړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه راوغوښتلو او تپوس يې تري وکړو

«أَبِكَ جُنُونٌ؟» قَالَ: لَا فَقَالَ: «أَحْصَنْتَ؟» قَالَ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ

چې آيا ته ليونی يې ؟ هغه وويل چې نه! بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام تپوس وکړو چې آيا ته محصن يې؟ هغه وويل آو

قَالَ: «اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ»

ای دالله رسوله! ددې نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته وفرمايلل چې دا سړی بوځئ او سنګسار يې کړئ. ددې

قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأُخْبِرْتُ مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ

حديث ديوراوي ابن شهاب بيان دی (چې کوم سړي دا حديث دحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوريدلی وو هغه ماته وويل چې)

يَقُولُ: فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلَّى

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې مونږ دنبي عَلَيْهِ السَّلَام دحکم نه پس هغه سړي له په مدينه کې سنګسار کړو

فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ

نو هرکله چې مونږ هغه له په کانړو ويشتل شروع کړل او هغه په کانړو لګيدلو نو هغه وتختيدلو تردې

فَأَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ فَرَجَمْنَاهُ حَتَّى مَاتَ

پورې چې مونږ هغه په حره مقام کې ونيولو او بيا مو هغه سنګسار کړو تردې چې مړ شو. (بخاری ومسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: عَنْ جَابِرٍ بَعْدَ قَوْلِهِ: قَالَ: نَعَمْ

او دبخاری په يو روايت کې ددې (سړي) دقول نعم نه پس داسې ذکر دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ بِالْمُصَلَّى فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ

حکم وکړو، نو دا په جنازه ګاه کې سنګسار کړی شو هرکله چې په کانړو لګيدلو نو وتختيدلو.

فَرَّ فَأُدْرِكَ فَرُجِمَ حَتَّى مَاتَ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بيا هغه ونيولی شو او سنګسار کړی شو. تردې چې مړ شو، نبي عَلَيْهِ السَّلَام دهغه متعلق ښه خبره وکړه

خيرا وَصلى عَلَيْهِ (صَحِيح)[1]

او دهغه دجنازې مونځ يې وکړو.

---

(1) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۱۳۶ رقم الحديث ۸۱۲۵ ومسلم فی ۳/۳۱۸ رقم الحديث (۱۶۹۲-۱۶)

**توضیح**: اربع شهادت: په دې جملې سره دا حنافو او د حنابلو مسلک په واضح طور سره ثابتیږی، چې څلور ځله اقرار لره د ثبوت زنا دپاره ضروري ګڼي شوافع او مالکیان یو ځل اقرار لره کافی ګڼي.

بک جنون: ددې جملې نه معلومیږی چې قاضی او حاکم لره پوره تحقیق کول پکاردي او دا کوشش کول پکاردي چې اعتراف کونکی خپل بیان بدل کړي دې دپاره چې حد ترې ساقط شی په شرط ددې چې په دې معامله کې دشرعی قواعدو پوره خیال وساتلی شي دا تحقیق داعتراف په صورت کې دی د ګواهانو دګواهی په صورت کې نه دی هلته په ګواهانو دجرح مسئله ده. (المرقات ۱۳۶/۷)

**فلما اذلقته الحجارة**: اذلاق په تیره ثیز سره چالره زخمي کولو سره کمزوري کولو ته وایې، مطلب دا چې کله دکانو په ویشتلو سره یې هغه لره زحمي او کمزوری او عاجز کړو نو **هرب** هغه وتختیدو دلته مسئله داده چې کچیرې مجرم اقراري وتختي نو هغې پسې تلل نه دې پکار کیدی شي چې هغه دخپل اقرار نه رجوع کوي اودا رجوع آخر وخته پورې کارآمد ده هم په دې وجه شریعت په قصاص کې توره مقررکړې ده، ځکه چې هلته سزا شروع کیدو سره حکم لره تکمیل ته رسول ضروري دی نو دچا مهلت ورکونکي فائده نشته دی، خو دلته چونکه اقرار د زنا دی نو څه وخت هم دا سړی د زنا نه انکار کولی شي اوپه دې انکارسره حد ساقطیږي. هم ددې حکمت لاندې اسلام دلته دسنګسارولو حکم ورکړی دی دې دپاره چې آخر وخته پورې دبچ کیدو مهلت موجود وي، دلته که دګواهانو په وجه سره جرم ثابت شو نوبیا د انکار څه فائده نشته دی هلته دګواهانو په رجوع سره حد ساقط کیدی شي په دې حدیث کې دمرجوم په تختیدو سره معلومه شوه چې درجم په دوران کې مرجوم لره ترې ضروري نه دي او نه په څه کنده کې ودرول ضروري دي ها ښځې لره به دپردې دحفاظت د وجې نه به په کنده کې ودرولو سره رجم کولی شي.(المرقات ۱۳۸/۷، ۱۳۷)

**فرجم بالمصلی**: مصلی نه مراد جنازګاه ده او دا دبقیع غرقد سره وه نو اوس اعتراض نه راځي چې په بعضو روایاتو کې دبقیع غرقد سره دسنګسار کولو ذکر دی په بعضو کې دمصلی ذکر راغلی دی اوپه بعضو کې د حره تذکره ده چې د تعارض نشاندهي کوي؟ نوجواب واضح دی چې بقیع غرقد سره جنازګاه وه نو دواړه یوځای دي او دحره ذکر په دې وجه راغلی دی چې داسړی هغه ځای پورې تختیدلی وو نو هلته هم درجم عمل شوی وو. (المرقات ۱۳۹/۷)

اوس دا مسئله ده چې که دمصلی نه عیدګاه مراد وي نو کله چې یو ځای ته یو ځل د مسجد او عیدګاه حکم ورکولو سره په هغې کې مونځونه شروع شي نو بیا ددې دتقدس لحاظ ساتل ضروري

دي، لهذا هلته رجم کول جائز نه دی دې دپاره چې په وینه سره ګنده نه شی، په یو حدیث کې راغلي دي

**جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم ورفع اصواتکم وشراکم واقامة حدودکم.**

په دې وجه علامه نووی رحمه الله فرمایي چې دلته دمصلی نه مراد هغه ځای دی چیرته چې دجنازې مونځ کیږي دا عیدګاه نه وه، او صرف دمونځ ځای لره مسجدیاعیدګاه نه شي ګرځولی نه د هغې حیثیت دمسجد یا دعیدګاه وي. **وصلی علیه** په دې صیغه کې ډیر اختلاف دی چې آیا دا د مجهول صیغه ده یا دمعروف صیغه ده، په راتلونکي حدیث کې هم دا صیغه هم داسې راغلې ده، کچیرې دا صیغه دمجهول شي ددې مطلب به داوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دسنګسارشوې سړي په جنازه کې په خپله شرکت نه دی فرمایلی البته صحابو دجنازې مونځ کړی وو، اوکه دا صیغه دمعروف او معلوم وي نو دې مطلب به داوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دسنګسار شوې سړي په جنازه کې شریک شوی وو. راجح دادی چې داصیغه دمعلوم ده او دجمهورو رایه هم داده، دمسلم شریف په ځورواياتوکې دا صیغه د معروف اومعلوم منقول ده، اوس په دې کې دفقهاو اختلاف دی چې دسنګسارشوې سړي دجنازې مونځ به کولی شي، که نه نو دامام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دمرجوم دجنازې مونځ مکروه دی،امام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ وایي چې عام مسلمانان به یې وکړي مګر دوخت بادشاه یا قاضي یا مشهور اهل فضل او د کمال علماء به په دې کې شرکت نه کوي. د امام شافعی رَحِمَهُ اللَّهُ او د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د هرمسلمان کلمه ګو جنازه به کولی شي که هغه مرجوم وي یا فاسق وي یا قاتل نفس وغیره وي، د امام احمد رحمه الله یو قول همداسې دی.احادیثو ته په کتلو سره پته لګی چې د بعضې روایاتو نه دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دجنازې نه کولو نفي معلومیږی او بعضې روایاتو نه معلومیږی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ جنازه کړې ده په دې کې تطبیق داسې دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ خو جنازه کړی ده خو بطورد زجریې تاخیر هم فرمایلی دی چې په د هغې نه نه کول معلوم شول.(المرقات ۱۳۸،۱۳۹/۷)

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا أَتَى مَاعِزُ بن مَالك النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې هرکله ماعزبن مالک نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته (مسجدنبوی ته) راغلو (او

فَقَالَ لَهُ: «لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ

وې ویل چې مانه زنا شوې ده) نونبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته وفرمایل چې شاید تاپردی، ښځه خکل کړې وي، یا به

أَوْ غَمَزْتَ أَوْ نَظَرْتَ؟ قَالَ: لَا يَا رَسُولَ الله

دې په شهوت سره لاس ورورې وي یا به دې کتلې وي هغه عرض وکړو چې نه ای دالله رسوله! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

| | | | |
|---|---|---|---|
| قَالَ: | «أَنِكْتَهَا؟» | لَا | يُكَنِّي |
| چې آیا تا جماع کړې ده؟ راوي وایي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې خبرې په اشاره سره پوښتنه نه ونه کړه بلکه په صفا لفظونو | | | |
| قَالَ: | نَعَمْ | فَعِنْدَ | ذَلِكَ |
| سره یې تپوس وکړو چې آیا واقعي تا زنا کړې ده؟ ماعز رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل چې ها ما جماع کړې ده. د | | | |
| أَمر | برجمه. | رَوَاهُ | البُخَارِيّ (صَحِيح)[1] |
| دې (تحقیق او تفشیش) نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د ماعز د سنګسارولو حکم وفرمایلو. (بخاری) | | | |

**توضیح**: الکتها لایکني ناک ینیک په عربی لغت کې د جماع دپاره واضح او بنکاره لفظ دی په دې سره دا خبره معلومه شوه چې په عدالت کې قاضی له پکار دي چې د کنائی الفاظو په ځای واضح او بامعنی او د عام فهمه الفاظو استعمالولو ماحول جوړ کړي او مبهم ذومعاني (د ډیرو معانو والا) الفاظ استعمال نه کړي، او نه په اشارو سره کار وچلوي، لایکنی معنی همداده چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دکنایه او اشارو نه کار وانه خستلو. (المرقات ۱۴۰/۷)

## په حد قائمولو سره ګناه معاف کیږی

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ | بُرَيْدَةَ | قَالَ: | جَاءَ | مَاعِزُ | بْنُ | مَالِكٍ | إِلَى | النَّبِيِّ |
| صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | | | | | |
| او حضرت بریده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې یو ځل د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې ماعز بن مالک راغلو او عرض یې | | | | | | | | |
| فَقَالَ: | يَا | رَسُولَ | اللهِ | طَهِّرْنِي | | | | |
| وکړو چې ای د الله رسوله! ما پاک کړه یعنی (مانه چې کومه ګناه شوې ده دهغې حد جاری کولو سره زما ددې | | | | | | | | |
| فَقَالَ: | «وَيْحَكَ | ارْجِعْ | فَاسْتَغْفِرِ | اللهَ | وَتُبْ | إِلَيْهِ». | | |
| ګناه د معافی سبب جوړشئ) نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې په تا افسوس دی واپس لاړشه یعنی د ژبې په ذریعې | | | | | | | | |
| فَقَالَ: | فَرَجَعَ | غَيْرَ | بَعِيدٍ | ثُمَّ | جَاءَ | فَقَالَ: | | |
| سره استغفار وکړه او په زړه سره توبه وکړه راوي وایي چې هغه لاړلو او لږ لرې لاړلو بیا واپس راغلو او وې ویل | | | | | | | | |
| يَا | رَسُولَ | اللهِ | طَهِّرْنِي. | فَقَالَ | النَّبِيُّ | صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ |
| وَسَلَّمَ | مِثْلَ | ذَلِكَ | | | | | | |
| ای د الله رسوله! ما پاک کړئ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هم هغه الفاظ وفرمایل چې کوم یې مخکې فرمایلي وو، څلور ځله داسې وشو | | | | | | | | |

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۱۳۵ رقم الحدیث ٦٨٢٤ وأبوداود فی ٤/٥٧٩ رقم الحدیث ٤٤٢٧.

حَتَّى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةَ قَالَه لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

(کله چې په څلورم ځل حضرت ماعز وویل ای د الله رسوله! ما پاک کړئ) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

«فِيمَ أُطَهِّرُكَ؟» قَالَ: مِنَ الزِّنَا

چه زه تاله په څه څیز سره اوپه څه وجه سره پاک کړم؟ هغه وویل چې (په حد جاري کولو سره) د زنا د ګناه نه.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَبِهِ جُنُونٌ؟»

نبی عَلَيْهِ السَّلَام دده خبرې اوریدو سره صحابه ته وفرمایل چې دا لیونی دی؟ (دصحابه دطرف نه)

فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ فَقَالَ: «أَشَرِبَ خَمْرًا؟»

نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته وویل شو چې دا لیونی نه دی. بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائیل چې آیا ده شراب څکلي دي؟ (دې

فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ فَلَمْ

اوریدو سره) یو سړی پاسیدو چې آوده خوله بوی کړه (دې دپاره چې معلومه شي چې ده شراب څکلي دي

يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ فَقَالَ: «أَزَنَيْتَ؟»

یانه) خو دشراب بوئی ئې ونه موندلو نبی عَلَيْهِ السَّلَام بیا دماعز نه تپوس وکړو چې آیا (واقعی) تازنا کړې ده؟

قَالَ: نَعَمْ فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ

هغه وویل چې آو جي! ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَام ده لره دسنګسارولو حکم وکړو دارنګه هغه سنګسار کړی شو،

فَنَبِشُوا يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً

دوه یا دري ورځې داسې تیرې شوې یعنی دنبی عَلَيْهِ السَّلَام په مجلس کې دماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سنګسارولو متعلق

ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

دوه یا دري ورځې څه ذکر اونه شو. بیا (یوه ورځ) نبی عَلَيْهِ السَّلَام تشریف راوړلو نو وې فرمایل چې تاسو خلق

«اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً

(دماعز د درجاتو اوچتولو) دپاره دعا وکړئ بیشکه هغه داسې توبه وکړه چې کچیرې دهغه ثواب په ټول امت

لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ» ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ

باندې تقسیم کړی شي نو دټولو دپاره به کافي شي. بیا ددې نه پس (یوه ورځ) یوه بڼځه دقبیلې دازد او د غامد خاندان نه وه

فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي فَقَالَ:

دنبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضره شوه عرض یې وکړو چې ای د الله رسوله! ما پاکه کړه. نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

«وَيَحَكِ ارْجِعِي فَاسْتَغْفِرِي اللهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ» فَقَالَتْ:

چې په تا دې افسوس وي. واپس لاړه شه او د الله نه بخښنه وغواړه. دې ښځې عرض وکړو چې تاسو

تُرِيدُ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ:

غواړئ څنګه چې مو ماعز بن مالک لره په اول ځل واپس کړی وو دغه شان ماهم واپس کوئ.؟ حالانکه

إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَا

(زه) هغه ښځه (یم چې) د زنا په ذریعه حامله یم (لهذا ددې اقرار نه پس زما د انکار ګنجائش وو) نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

فَقَالَ: «أَنْتِ؟» قَالَتْ: نَعَمْ

چې ته! (یعنی آیا ته د زنا په ذریعه سره حامله شوې یې! هغه ددې باوجود هم په خپل اقرار باندې ټینګه وه او) وې ویل چې آو

قَالَ لَهَا: «حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ»

نبی عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمایل چې نبه د هغه وخت انتظار کوه کله چې ته د خپل بچي د پیدا ینبت نه فارغه شې.

قَالَ: فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ

راوي وایي چې د نبی عَلَيْهِ السَّلَام ددې ارشاد نه پس یو انصاري ددې ښځې د خبر ګیری او کفالت د هغه وخته پورې په

حَتَّى وَضَعَتْ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خپله ذمه اخستی وو تر څو پورې چې هغه د ولادت نه فارغه شوه او بیا څه موده پس هغه کس د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې

فَقَالَ: قَدْ وَضَعَتِ الغَامِدِيَّةُ فَقَالَ:

حاضر شو او عرض یې وکړو چې هغه غامدیه ښځه د ولادت نه فارغه شوې ده. نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل

فَقَالَ: «إِذاً لَا نَرْجُمَهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا

چې مونږ نه اوس هغه نه سنګسارو وو او د هغه وړوکی بچی په داسې حالت کې نه پریږدو چه هغه له څوک پئ

لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ»

ورکوونکی نه وي (ځکه چې د هغه د مور نه پس به د هغه څوک خبر اخستلو والا نه وي په دې وجه اوس سنګسارول مناسب

فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ:

نه دي) یو بل انصاري (دې اوریدو سره) ودریدو او عرض یې وکړو چې ای د الله رسوله! زه دې ماشوم ته دپی ورکولو او خبر

إِنِّيَ رَضَاعُهُ يَا نَبِيَّ اللهِ قَالَ: فَرَجَمَهَا. وَفِي رِوَايَةٍ:

اخستلو ذمه واري اخلمراوي وايي چې دد ي نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه ښځه سنګسار ه کړه په يو روايت

أَنَّهُ قَالَ لَهَا: «اذْهَبِي حَتَّى تَلِدِي»

کې داسې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغې ښځې ته وفرمايل چې ځه ته کله دولادت نه فارغه نه شې (انتظار کوه)

فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَ: «اذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ

فارغه نه شې (انتظار کوه) بيا کله چې هغه دولادت نه فارغه شوه نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمايل چې ځه دې ماشوم ته پې ورکوه

حَتَّى تَفْطِمِيهِ» فَلَمَّا فَطَمَتْهُ أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ

کله چې دا دپيو نه پريکړي بيا کله چې هغه ماشوم دپيو نه پريکړي شو نو دنبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې يې هغه ماشوم راوستلو دهغه

كِسْرَةُ خُبْزٍ فَقَالَتْ: هَذَا يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ فَطَمْتُهُ وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ

ماشوم په لاس کې د وډۍ ټکړه وه او عرض يې وکړو چې ای دالله رسوله! ما دا دپيو نه پرې کړی دی او دا وډۍ خوري

فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ

نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه ماشوم يو مسلمان ته حواله کړو او دهغه ښځې دپاره يې حکم وکړو چه يوه کنده دې

لَهَا إِلَى صَدْرِهَا وَأَمَرَ

وکنستلی شي او ددې دسينې پورې دې وکنستلی شي کله چې دسينې پورې وکنستلی شوه نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام ددې

النَّاسَ فَرَجَمُوهَا فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ

دسنګسار کولو حکم وکړو او هغه سنګسار کړی شوه ددې دسنګسار ولو په دوران کې حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

بِحَجَرٍ فَرَمَى رَأْسَهَا فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ

يو کانې باندې دهغې سر وويشتلو دهغې دسرو ينه دحضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مخ باندې راپريوتله نو

خَالِدٍ فَسَبَّهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَهْلًا يَا خَالِدُ

حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغې ته بد رد وويل. نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې خالده! ددې بخښنه شوې ده دې

فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً

ته بد رد مه وايه، قسم دی په هغه پاک ذات باندې دچا په لاس کې چې زما ساه ده دې ښځې داسې توبه وکړه

| |
|---|
| لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ» |
| چې کچيرې داسې توبه (ناروا) تيکس اخستلو والا وکړي نو دهغه مغفرت به وشي. ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَام خلقو |
| ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فصلى عَلَيْهَا ودفنت. رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱) |
| ته په ددې باندې د جنازې دمونځ کولو وويل نو په هغې باندې د جنازې مونځ وکړی شو او دفن کړی شوه. (مسلم) |

**توضيح** : **طهرني** : يعنې په ماباندې د شرعي حد په قائمولو سره ما دګناه نه پاکه کړه. ددې نه معلومه شوه چې د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين مقام څومره اوچت وو چې د يوې ګناه کولو نه پس به دومره بې ارامه وو چې يوساعت به هم ورته سکون نه وو او په خپله به يې د حد لګولو درخواست کولو او هم دا فرق په عام امت او صحابه کرامو کې وو هلته دزرګونو محنتونو باوجود هم په خپل ځان باندې دسزا جاري کولو کوشش کيدو او دلته په زرګونو محنتونو سره دګناه دپټولو او د سزا د دباو کولو کوشش کيږي. هلته د شريعت دتکميل دپاره په طور دنمونې خپل ځان پيش کولی شي اودلته دشريعت دباطلولو دپاره دتختيدو لار اختياروليشي. د **طهرني** د الفاظو نه معلوميږي چې حدود مطهرات دي او هم دا مسلک دجمهورو فقهاو دی داحنافو په نزد حدود زاجرات دي ها کله چې توبې سره وي نو بيا مطهرات دي تفصيل دپاره مخکې تيرشوی دی.

**فاستنكهه** : يعنې دده دخولې بدبويې بوی کړی شوه نو دشرابو بدبويې ترېنه نه راتله چې په مستی کې داخبره کوم **امرأة من غامد** غامد په يمن کې يوه قبيله ده په دې وجه دې بنځې ته غامديه هم وايې ددې لويه قبيله ازد ده نو ددې بنځې نسبت ددې قبيلې د وجې نه ازديه هم صحيح دی او **امرأة من جهينة** الفاظ چې چيرته راغلی دی هغه هم صحيح دی. (المرقات ۱۴۱/۷)

**يارسول الله طهرني** دلته هم ددې بې ارامۍ اظهار دی چې د حضرت ماعز په واقعه کې دی بلکه دلته خو د حد لګولو او ايشار او قربانۍ او انقياد او اطاعت او دآخرت دعذاب نه دبچ کيدو عجيبه واقعات او عجيبه عبرتونه دي دټولو نه مخکې نبی عَلَيْهِ السَّلَام دې لره وليږله چې اوس ته حامله يې او دحمل په حالت کې به بې ګناه بچې وژلی شي، لهذا اوس ته لاړشه او دبچي دپيدا کيدو نه پس راشه دا بنځه دماشوم دپيدا کيدو نه پس سمدست راغله او په ځان باندې يې د حد لګولو مطالبه وکړه نه

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحيحه ۳/۱۳۲۲ رقم الحديث (۲۳/۱۶۹۵-۲۲) وأبوداود فی السنن ۴/۵۸۸ رقم الحديث ۴۴۴۲ ،والدارمی فی السنن ۲/۲۳۵ رقم الحديث ۲۳۳۴ وأحمد فی المسند ۵/۳۴۸ .

يې انکار کړی دی نه تختي بلکه اطاعت او اقرار دی، نبی علیه السلام بیا ولیږله چې ماشوم ته به ځوک پې ورکوي لاړه شه ده ته پې ورکوه او کله چې ډوډۍ خوري بیا راشه دنبی عَلَيْهِ السَّلَام خیال وو چې په دې اوږده موده کې به دا بنځه دخپل اقرار نه منع شي خو هغې دسزا نه دبچ کیدو کوشش ونه کړو بلکه دپیو ورکولو سره به يې ورته ډوډۍ هم ورکوله او په شپږ میاشتو کې ماشوم دپیو نه پرې کړو او نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته په داسې حال کې راغله چې دماشوم په لاس کې د ډوډۍ تکړه وه چې خوړله يې (سبحان الله دا هغه خلق وو چې هغوی خپلې خیمې په جنت کې خخې کړې وې) نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل ددې ماشوم پرورش به څوک کوي یو صحابی عرض وکړو زه به يې کوم نو بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَام درجم کولو حکم وفرمایلو . (المرقات ۱۴۲/۷)

**فتنضح الدم** : یعنی په کانې ویشتلو سره د سر نه دفوارې په شان وینه راوتله او د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مخ باندې پریوتله هغوی ورته بدرد وویل نبی عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمایل چې خالده! بدرد مه وایه .

**صاحب مکس** : ددې نه مراد ناجائز ټیکس وصولونکی سړی دی دارنګه پټواري هم په دې کې داخل دی. علامه نووی رحمه الله لیکلې دي چې ددې جملې نه معلومه شوه چې ټیکس وصولونکی سړی د ټولو نه لوی ګناه ګاردی او ددې ګناه د ټولو نه لویه ګناه ده ددې وجه داده چې داسړی ډیر زیات ظلم کوي ظلمًا د خلقو نه په زبردستی سره مال اخلي او باربار داکار کوي اوبیا دې لره بې ځایه مصرفونو کې صرف کوي چې دهغې نه شریعت اجازت ورکوي او نه يې عرف اجازت ورکوی بس دستر ګونه يې آخرت غائب دی او په دنیايې نظر دی او په دې کې خطره ده. (المرقات ۱۴۶/۷، ۱۴۵)

## دبدکاره وینځې دسزا حکم

| |
|---|
| ﴿۴۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: |
| اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدو چې که په تاسو |
| «إِذَا زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا |
| کې دیو کس وینځه زنا وکړي او دهغې زنا بنکاره شي (یعنی ددې زناکاري ثابته شي) نو په دې |
| فَلْيَجْلِدْهَا الحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الحَدَّ |
| باندې دې حد جاري کړي او په دې پیغور مه ورکوه او کچیرې هغه بیا زنا وکړي نو په دې باندې دې حد جاري کړي |
| وَلَا يُثَرِّبْ ثُمَّ إِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ |
| او دې ته دې پدې پیغور نه ورکوي، او که هغه په دریم ځل زنا وکړي او ددې زناکاري ثابته شي نو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَتَبَيَّنَ | زِنَاهَا | فَلْيَبِعْهَا | ولوْ | بحبْلٍ |
| اوس دې له پکار دي چې هغه دې دا وينځه خرڅه کړي اګر که د ويښتو د رسۍ (يعنې سپک څيز) | | | | |
| منْ | شعرٍ» | متفق | عليه | (صَحِيح)[1] |
| په بدله کې ولې نه وي خرڅه دې کړي. (بخاری و مسلم) | | | | |

**توضیح** : **فليجلدها** : تجليد په کوړې د وهلو په معنی دی دا خبره مخکې بيان شوې ده چې د غلام او وينځې دپاره رجم نشته دی ځکه چې دا محصن نه دی ځکه چې احصان يو شرط دی چې سړی آزاد وي او غلام آزاد نه وي په دې وجه د غلام او وينځې حد په هرحال کې کوړې دي سنګسارول نه دي، دارنګه د کوړو حد هم د احرارو په نسبت نيم دی يعنې د سل کوړو په ځای پنځوس کوړې دي، دجمهورو فقهاو اود سلف صالحينو هم دا مسلک دی که هغه غلام واده کړی وي يا غير واده کړی وي په غلام کې دبکر او ثيب فرق نشته دی. (المرقات ۱۴۸/۷، ۱۴۷)

**دغلام د حد حق چاته حاصل دی : دفقهاو اختلاف** :مولی په خپل غلام باندې د حد نافذولو حق لري يانه؟ په دې کې دفقهاو اختلاف دی: جمهور فرمائی چې مولیٰ ته حق حاصل دی چې هغه په غلام باندې حد نافذ کړي يعنې په حدزنا کې دې ده لره پنځوس کوړې ووهي، ها د غلا او قصاص په حدودو کې مولی ته اختيار نشته دی چې هغه خپل غلام باندې حد نافذ کړيْ. دا حنافو امامان فرمايې چې مولی په خپل غلام باندې څه قسمه حد نه شي جاري کولی دا کار قاضی او حاکم ته حواله دی که هغه حد دزنا وي يانور حدود وي.

**دلائل** : د صحابواوتابعينو د اکثريت نه دا اصول منقول دي چې حدودُ الله داقامت حق صرف سلطان ته دی د سلطان نه علاوه بل چاته داحق حاصل نه دی د دې اصولو پيش نظر داحنافو فتوی ده چې مولی ته په خپل غلام باندې د حد نافذ کولو حق نشته دی ها کچيرې حاکم اجازت ورکړي نو بيا مولی دا حد په غلام باندې نافذ کولی شی. آئمه احنافو دسنو په کتابونو کې ديو حديث نه هم استدلال کړی دی چې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دی: **ان النبی صلی الله علیه وسلم قال : اربع الی الولاة (۱) الحدود (۲) والصدقات (۳) والجمعات (۴) والفئ** يعنې د حدودو نفاذ او د صدقاتو او جمعاتو قيام او د غنائمو د تقسيم معامله حکامو ته حواله ده، آئمه ثلاثو جمهورو د زيربحث د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت او دې سره نزدې د حضرت

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ٤/٤٢١ رقم الحديث ٢٢٣٤ ومسلم ٣/١٣٢٨ رقم الحديث ٣/١٧٠٣ وأبوداود فی السنن ٤/٦١٤ رقم ٤٤٧٠.

علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال كړى دى چې په هغې كې دمولى دحدنافذ كولواشاره ملاويږي بلكه دويم حديث خو صريح دى. (المرقات ۱۴۸/۷)

**جواب**: ائمه احناف دهغو حضراتو د مستدل نه جواب دا وركوي چې په دې كې د **مرافعه الى الحاكم** قيد ملحوظ دى چې يا به دحاكم په ذريعه حدلگوي اويابه دحاكم نه اجازت اخستلو سره حد لگوي. گويا چې په دې كې اسناد مجازي دى.

**ولايثرب عليها**: يعنى په دې باندې لعن طعن مه كوه اومه يې ملامته كوه بلكه همدا حد كافي دى. يا دا مطلب چې ددې جرم مرتكب ته په ابتداء كې دحد قائمولو په ځاى به صرف ملامت كولى شو، اوس يې وفرمايل چې صرف ملامت كول كافى نه دي بلكه حددې قائم كړي. (المرقات ۱۴۹/۷)

## په مريض باندې د حد جاري كولو مسئله

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: يَاأَيُّهَا النَّاسُ أَقِيمُوا

اودحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره كې نقل دي چې هغوى وفرمايل: اى خلقو! په خپلو غلامانو او

عَلَى أَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ مَنْ أَحْصَنَ مِنْهُمْ

وينځو باندې حد جاري كړئ (يعنې چې كچيرې هغوى زنا وكړي نو پنځوس كوړې ورته وركړئ)

وَمَنْ لَمْ يُحْصَنْ فَإِنَّ أَمَةً لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كه هغه محصن واده كړى وي يا غيرمحصن. دنبى عَلَيْهِ السَّلَامُ يوې وينځې زنا كړې وه نو نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ

زَنَتْ فَأَمَرَنِي أَنْ أَجْلِدَهَا فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ

ماته حكم راكړو چې په دې باندې حد جاري كړه مگر ماته معلومه شوه چې اوس ددې بچى كيدونكى

فَخَشِيتُ إِنْ أَنَا جَلَدْتُهَا أَنْ أَقْتُلَهَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دى نوماته ويره شوه چې كچيرې دې ته پنځوس كوړې وركړم نو مړه به شي نو مانبى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ددې

فَقَالَ: «أَحْسَنْتَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ذكروكړو نو نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې تانبه وكړل چې په دې حالت كې دې حد جارى نه كړو. (مسلم)

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۱۳۳۰ رقم الحديث (۱۷۰۵-۳٤) وأبوداود فى السنن ٤/٦١٧ رقم الحديث ٤٤٧٣ والترمذى فى ٤/٣٧ رقم الحديث ١٤٤١ وأحمد فى المسند ١/١٥٦.

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَفِي | رِوَايَةٍ | أَبِي دَاوُدَ: | قَالَ: |
| او د ابوداود په یو روایت کې دی چه هرکله حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په دې باره کې ذکر | | | |
| «دَعْهَا | حَتَّى | يَنْقَطِعَ | دَمُهَا | ثُمَّ |
| وکړو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل د څو پورې چې دهغه دنفاس وینه بنده نشي، هغه وخته هغه پریږده، | | | | |
| أَقِمْ | عَلَيْهَا | الْحَدَّ | وَأَقِيمُوا | الْحُدُودَ | عَلَى | مَا | مَلَكَتْ | أَيْمَانُكُم» |
| او دهغې نه روستو وربانديې حد جاری کړه او په خپلو غلامانو او وینځو حدی جاری کوي. | | | | | | | | |

**توضیح** : **بنفاس** : یعنې دنفاس په حالت کې وه دا حالت دبیماری وو په دې وجه یې دې ته کوړې ورنه کړې صاحب دفتح القدیر ابن همام لیکلې دي چې که چیرې سزا د کوړو وي نو بیمارته دې کوړې ورنه کړی شي، ځکه چې په دې سره به هغه مړ شي دده د صحت مند کیدو پورې دې سزا مؤخرکړی شي ها که بیماري داسې وي چې دهغې نه بچ کیدل مشکل وي لکه : تب دق (ولګی) او دسل (تې بي) بیماري ده (یاکینسردی) نو داسې مریض دې په داسې ښاخ سره ووهلی شي چې په هغې کې سل ځوکې وي دا حیله شوه، او که سزا سنګسارول وي نو بیا به په هرحالت کې سنګسارکولی شي که تندرست وي یا بیمار وي، ځکه په رجم کې خو ژوندی پریخودل نشته دی یاد ساتل پکار دي چې کوړې دې نه په سخته ګرمۍ کې ورکړی شي او نه په سخته یخنۍ کې ځکه چې دځان (مرګ) خطره ده لهذا په معتدل موسم کې دې کوړې ورکړی شي.

## الفصل الثاني

## دزنا داقرار نه پس دانکار حکم

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۱﴾عَنْ | أَبِي | هُرَيْرَةَ | قَالَ: | جَاءَ | مَاعِزٌ | الْأَسْلَمِيُّ | إِلَى | رَسُولِ |
| حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ماعز اسلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او | | | | | | | | |
| فَقَالَ: | إِنَّه | قَدْ | زَنى | فأعرض | عَنهُ | | | |
| وې ویل چې هغه (یعنې ما) زنا کړې ده (دې اوریدو سره) نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل مخ دهغه نه واړولو هغه بل طرف | | | | | | | | |
| ثُمَّ | جَاءَ | مِنْ | شِقِّهِ | الْآخَرِ | فَقَالَ: | إِنَّهُ | قَدْ | زنى |
| ته (راتاو شو) بیا (دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته راغی) او وې ویل چې ما زنا کړې ده نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ بیا د | | | | | | | | |
| فَأَعْرض | عَنهُ | ثُمَّ | جَاءَ | من | شقِّه | الْآخَرِ | فَقَالَ: | |
| هغه نه مخ واړولو، اوهغه هم بل طرفته (راتاویدو سره دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته راغلو) او وې ویل چې | | | | | | | | |

يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى فَأَمَرَ بِهِ فِي الرَّابِعَةِ

ای دالله رسوله! ما زنا کړي ده آخر دا چې په څلورم ځل نبی عَلَيْهِ السَّلَام دهغه د سنګسار کیدو حکم وفرمایلو.

فَأُخْرِجَ إِلَى الْحَرَّةِ فَرُجِمَ بِالْحِجَارَةِ

نو هغه حره ته راوستلی شو (چې د مدینې تورو کانړو والا مضافاتي علاقه ده) او هغه په کانړو ویشتلی شو

فَلَمَّا وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ فَرَّ يَشْتَدُّ حَتَّى مَرَّ بِرَجُلٍ

کله چې هغه په کانړو سره زخمي شو نو وتختید و تردې پورې چې یو سړي سره تیر شو چه د هغه په لاس کې د

مَعَهُ لَحْيُ جَمَلٍ فَضَرَبَهُ بِهِ وَضَرَبَهُ النَّاسُ حَتَّى مَاتَ.

اوښ د جامې هډوکی وو هغه سړي په هغه هډوکي سره ووهلو او نورو خلقو هم په (نورو څیزونو سره) ووهلو تردې چې مړ شو.

فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کله چې صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته د دې ذکر وکړو، چې هغه په کانړو سره زخمي کیدو سره د

أنه فرحين وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ وَمَسَّ الْمَوْتِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

مرګ دسختي نه وتختید و (خو مونږ هغه پسې وو سنګسار مو کړو) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې

«هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي رِوَايَةٍ:

تاسو هغه ولې نه پریخودلو (ترمذی، ابن ماجه) او په یو روایت کې دا الفاظ دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل

«هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ اللهُ عَلَيْهِ»[1]

تاسو خلقو ولې نه پریخودلو ممکنه وه چې هغه توبه کړې وه او الله تعالی دهغه توبه قبوله کړې وه.

**توضیح: من شقه الآخر:** د څلورو طرفونو نه راتلل په دې وجه وو چې په مجلس کې تبدیلي راشي اوهم دا مسلک دا حنافو دی چې څلور اقراره په څلورو جدا جدا مجلسونو کې ضروري دی.

**لحي جملٍ:** د اوښ د جامې هډوکی غټ هم وي او نوکدار (غاښونو والا) هم وي. (المرقات ۱۵۲/۷)

**مس الحجارة:** یعنې په بدن د کانړو لګیدل چې یې محسوس کړل نو وتختیدلو. (المرقات ۱۵۲/۷)

**فهلاتركتموه:** یعنې تختیدلو نو تاسو ولې تختیدو ته پرې نه خودلو ممکن ده چې هغه د اقرار نه رجوع کول غوښتل، کچیرې توبه یې کړې وی نو الله تعالی توبه قبلوي، فقهاو لیکلی دی چې د سنګساری په حد کې کچیرې اقراري مجرم دا اقرار نه څه وخت هم انکار وکړي نو حد ساقطیږی او په سنګسارولو کې همدا فائده او حکمت دی ها صرف په تختیدلو سره انکار لازمیږي یانه، نو د امام مالک رحمه الله په نزد

---

(1) أخرجه الترمذی فی السنن ۴/۲۷ رقم الحدیث ۱۴۲۸ وابن ماجه فی ۲/۸۵۴ رقم الحدیث ۲۵۵۴ وأحمد فی السنن ۲/۴۵۰.

دهغه نه تپوس وکړی شو چې کچیرې هغه داقرار نه دانکار په بنیاد وتختیدو نو حدساقطیږی اوکه دتکلیف دسختی په وجه سره وتختیدلو نو بیانه ساقطیږي دا انکار نه دی. دشوافعو په نزد چې ترڅوپورې دژبې په اقرارسره انکارونه کړي نو حدنه ساقطیږی، داحنافو په نزد قولاً یا فعلاً کله چې دحدنه تختیدل اختیارکړي نوپه دې سره حدساقطیږی خوصرف په تختیدلوسره حدنه ساقطیږي.

**وبالهرب لایسقط الحد قاله ملاعلي القاري**، ټولو دحضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دروایت نه استدلال کړی.

احناف وایي چې **هلاتر کتموه** الفاظ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د رحمت او شفقت په بنیاد باندې فرمایلې وو.

## دحضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دجرم اعتراف

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ:

اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبی کریم ﷺ ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمایل چه ستاپه باره کې

«أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ؟» قَالَ: وَمَا.

ماته څه معلوم شوې دي چې هغه ربنتیادی؟ هغوی عرض وکړو چه زما په باره کې تاسو ته څه معلوم

بَلَغَكَ عَنِّي؟ قَالَ: «بَلَغَنِي أَنَّكَ قَدْ وَقَعْتَ

شوې دي نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل ماته ستاپه باره کې معلومه شوې ده چه تا دفلاني سړي وینځې

عَلَى جَارِيَةِ آلِ فُلَانٍ» قَالَ: نَعَمْ فَشَهِدَ

سره زنا کړې ده؟ ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو چې آو (دارښتیادی) اوهغه(په څلورو مجلسونوکې)

أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ فَأَمَرَ بِهِ فرجم. رَوَاهُ مُسلم[1]

څلورځله اقرار وکړو. لهذا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه دسنګسارولو حکم وفرمایلو.

**توضیح : احق مابلغني** : دلته داسوال دی چې دبعضې روایاتو نه معلومیږي چې حضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پخپله بیان ورکړی وو، او د خپل ځان نه یې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته معلومات ورکړل، او په زیر نظر حدیث کې دي چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ترهغه اول تپوس وکړو، بیا هغه بیان ورکړو، ددې جواب دادی چې په دې روایاتو کې هیڅ تعارض نشته دی بلکه د زنا دارتکاب نه پس دحضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قوم هغه لره د فیصلې په غرض سره دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا ته راوستلو او بیا دکلام په ابتداء کولو سره نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې هر څه وویل نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې دې خلقو چې کوم شکایت ماته راوړی دی ایاستا متعلق دا الزامات صحیح دی؟ یا داسې وویلی شي

---

(۱) أخرجه مسلم فی الصحیح ۳/۱۳۲۰ رقم الحدیث (۱۶۹۳-۱۹)

چې کوم راوي د تفصيل نه کار اخستی دی او چاپه اختصار سره بيان کړی دی دا تعارض نه دی. (المرقات ۱۵۳/۷)

**اربع شهادت:** څلور ځله اقرار کول التزام بنايي چې دا حکم د ثبوت زنا د پاره ضروري دی. شوافع يو اقرار لره کافي ګڼي. (المرقات ۱۵۳/۷)

## د نورو په عيبونو باندې پرده اچوئ

﴿۱۲﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ مَاعِزًا

او حضرت يزيد بن نعيم د خپل پلار نه روايت کوي چې حضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَرْبَعَ

په خدمت کې حاضر شو او دهغوی په مخکې يې (په څلورو مجلسونو) کې څلور ځله (د خپلې زنا)

مَرَّاتٍ فَأَمَرَ بِرَجْمِهِ

اقرار وکړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه د سنګسار ولو حکم وفرمايلو او هغه سنګسار کړی شو. دارنګه

وَقَالَ لِهَزَّالٍ: «لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هزال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې که چيرې تا ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره په خپلې جامې سره پټ کړی وو

كَانَ خَيْرًا لَكَ» قَالَ

(يعنې دهغه د زنا په واقعه دې پرده اچولې وه او هغه دې نه وی ښکاره کړی) نو ستا د پاره به بهتره وه

ابْنُ الْمُنْكَدِرِ: إِنَّ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا أَنْ يَأْتِيَ

ابن منکدر رحمه الله (چې تابعی او د دې حديث يو راوی دی) وايي چې هزال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيخبره. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد [1]

ويلې وو چې د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شه او هغوی د خپلې واقعې نه خبر کړه. (ابوداؤد)

**توضيح:** ان هزالا: د هزال يوه وينځه وه چې دهغې نوم فاطمه وو هزال هغه آزاده کړې وه هغې سره ماعز زنا کړې وه روستو هزال هغه ته وويل چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته اطلاع ورکړه هغه به ستا د پاره استغفار وکړي ته به معاف کړی شي.

---

[1] أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۴۱ رقم الحديث ۴۳۷۸.

حضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دهغه په وينا باندې راغی او بيا پرې حد ولګيدو. نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هزال ته همدا خبره وفرمايله چې تا دا راز ښکاره ولې کړو؟ تاپه دې باندې پرده ولې وانه چوله کچيرې تاپه ده باندې پرده اچولې وی نو تاته به ډېر ثواب ملاويدو. دا پرده پوشي د داسې شريف سړي په باره کې ده چې هغه عادي مجرم نه وي خو په ژوند کې ترېنه يو ځل جرم شوی وي، خو که څوک عادي مجرم وي او دهغه جرم متعدي وي نو هغه پټول نه دي پکار بلکه دهغې ښکاره کول ضروري دي دې دپاره چې عام خلق دهغه د فساد نه بچ شي. (المرقات ۱۵۴/۷)

## هيڅ يو حاکم ته د حد معاف کولو اختيار نشته

| |
|---|
| ﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا |
| او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَعَافَوُا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ |
| نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو په خپل مينځ کې خپلو حدودو لره معاف او ختموئ |
| فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ |
| (د دې نه مخکې چې دهغې خبر ماته راورسي ها) کچيرې د جرم اطلاع ماته راورسي (او هغه ثابت شی) |
| وَجَبَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1] |
| نو بيا په هغه باندې حد جاري کول واجب يعنی فرض به شي. (روايت کړې دې ابو داؤد، نسائی) |

**توضيح**: **تعافوا الحدود**: دا خطاب په حقيقت کې عوامو ته دی کله چې تاسو په خپل مينځ کې چاره د څه جرم کونکی و مومئ نو په خپل مينځ کې يې رفع دفع کولو سره فيصله کړئ مونږ ته خبره مه راړسوئ ځکه چې حد کله محکمې او عدالت ته راورسي نو دهغې د رفع دفع کولو چاته هم حق حاصل نه دی، دې حديث کې چې د معاف کولو کوم حکم ورکړی شوی دی هغه بطور وجوب نه دی بلکه بطور استحباب دی. (المرقات ۱۵۴/۷)

## د عزت دارو خطاګانو لره معاف کول پکار دي

| |
|---|
| ﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْآتِ |
| او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راويه ده چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چه د عزت دارو خطاګانې |

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۴۰ رقم الحديث ۴۳۷۶ والنسائی فی ۸/۷۰ رقم الحديث ۴۸۸۵.

عثراتهم إِلَّا الْحُدُود». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

معاف کوئ علاوه دحدونو نه (چه دهغې معافی جائز نه ده). (ابو داؤد)

**توضیح**: اقیلوا: دا دمعاف کولو او مخ ترې د اړولو په معنی سره دی (المرقات ۱۵۵/۷)

**ذوی الهیئات** اصحاب منزلت شرفاء او سفیدپوش نیکان خلق مراد دي ځکه چې شیطان د انسان دښمن دی کچیرې دیوسفید پوش معزز سړي نه دحدودو نه علاوه غلطي وشي او نور خلق پروپیګنډه شروع کړي نوددې بیچاره ژوند خو به ختم شي په دې وجه داسې معززو خلقو لره یو ځل نیم مهلت ورکول پکار دي دې دپاره چې ژوند یې بچ شي.

، علماؤ لیکلې دي چې دلته د عثرات نه مراد حدود الله نه علاوه ګناهونه دي، که دهغې تعلق دحقوق الله سره وي یا دحقوق العبادو سره وي، ددې حکم مخاطب هغه حکام دي په چاچې د شرعي سزاګانو نافذکول لازم دي هغوی ته وویلی شو چې نیکو خلقو او سفیدپوشو لره مه تنګوئ دحدودو الله نه علاوه په هغوی باندې هیڅ یوه سزا مه نافذ کوئ، کچیرې دهغوی نه داسې څه ګناه وشي چې دهغې په وجه سره حدنافذکول واجب وي نو هغوی لره دمعاف کولو اختیار هیڅ چاته نشته دی. (المرقات ۱۵۵/۷)

## دشبهې فائده ملزم ته ملاویدل پکار دي

﴿۱۲﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راویه ده چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ترڅو پورې چې کیدې شي

«ادرؤا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ

نو مسلمانانو لره دحد د سزا نه بچ کوئ، که دمسلمان (ملزم) دپاره د بچ کیدو لپاره هم څه موقعه راوځي

فَخَلُّوا سَبِيلَهُ فَإِنَّ الْإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ

نو دهغه لار پرېږدئ یعنې هغه لره برې کړئ ځکه چې دامام یعنې حاکم اومنصف معاف کولو کې خطاکول،

خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

په سزا ورکولو کې دخطاکولو نه بهتر دی. امام ترمذی رحمه الله دې روایت لره نقل کړی دی چه دا

---

[1] أخرجه ابوداؤد ۱۳۱/٤

| وَقَالَ: | قَدْ | رُوِيَ | عَنْهَا |
|---|---|---|---|
| حدیث د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت کړی شوی دی او دې سلسله د روا تو دنبی عَلَيْهِ السَّلَام | | | |
| وَلَم | يرفع | وَهُوَ | أصح[1] |
| پورې نه ده رسیدلې، او همدا قول زیات صحیح دی | | | |

**توضیح**: ادرءوا الحدود: ددې خطاب تعلق هم د قاضیانو او حاکمانو سره دی کچیرې دې حدیث لره د مخکې حدیث تفصیل وګرځولی شي نو بې ځایه به نه وي دلته په دې حدیث کې حکامو ته په فیصلې اورولو کې یو هدایت کړی شوی دی او هغوی ته دا تعلیم ورکړی شوی دی چې دخپلو جذباتو او احساساتو رخ داسې وساتئ چې د ملزم سره ستاسو ذاتی عناد پیدا نه شي او د ذاتی عناد په بنیاد باندې ته فیصله نه اورې ګویا د اصلاح مدنظر ساتلو سره قاضي او حاکم لره د طبیب او معالج په شان شفیق او مهربان جوړیدلو تعلیم ورکړی شوی دی. لهذا ترڅو پورې چې ممکن وي نو قاضی لره د حد د نافذولو نه دې ملزم لره بچ کول پکار دي، او که دڅه قسمه شبهې د راوتلو ګنجائش راوځی نو راوې باسي، او دې ملزم ته فائده رسول پکار دي. مختلف سوالونه دې ترې وکړی شي. دې دپاره چې دهغه په بیان کې فرق راشي او هغه د حد نه بچ شي ځکه چې حد لګیدو سره دیو شریف سړي به داسې رسوائي وشي چې هغه به دژوند تیرولو قابل پاتې نه شي. دې پس منظر لره د حدیث په آخری جملو کې پیش کړی شو، کچیرې قاضی په غلطي کولو سره سزا واوروي دې نه بهتره داده چې په تحقیق کولو سره حد ساقط کولو کې غلطي وکړي ځکه چې په اول صورت کې دیو مسلمان عزت بچ کولو موقعه به ملاوشي، او په دویم صورت کې به دهغه عزت پایمال کیدو سره په معاشره کې ذلیل او رسوا شي. (المرقات ۱۵۶/۷)

## په زنا بالجبر کې به حد صرف په سړي باندې جاري کیږي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ: اسْتُكْرِهَتِ امْرَأَةٌ

او حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یوې ښځې سره زبردستی وکړی شوه (یعنې یوسړي هغې

عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَرَأَ عَنْهَا

سره په زبردستی سره زنا وکړه) د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هغې ښځې ته خو د حد نه براءت

الْحَدَّ وَأَقَامَهُ عَلَى الَّذِي أَصَابَهَا وَلَمْ يُذْكَرْ أَنَّهُ

ملا شو خو په هغه زناکونکي باندې حد جاري کړی شو. راوي دا ذکر نه کړل چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام دې

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۱/۲۵ رقم الحدیث ۱۴۲۴.

جَعَلَ لَهَا مَهْرًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

بنځې ته د زنا کونکي نه مهر هم واخستلو. (ترمذی)

**توضيح**: **ولم يذكر**: يعنې راوی ونه خودل چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه بنځې دپاره مهر مقرر کړی وو شارحين ليکي چې د راوی دلته مهر نه ذکر کول د **مهر** نه مقررولو دليل نه دی ځکه چې نورو روایاتو کې موجود دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ مهر مقرر کړی وو او په حرامه جماع کې چې کوم مهر رائي هغې ته **عقر** وايي اوداد مهر مثل په شان وي، **زنا بالجبر** کې صرف په سړي باندې به حد جاري کيږی او بنځه به بې ګناه وي په شرط ددې چې واقعي **زنا بالجبر** وي. دلته دلفظ **مهر** نه مراد **عقر** دی. (المرقات ۱۵۹/۷)

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ: أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې يوه ورځ يوه بنځه د

تُرِيدُ الصَّلَاةَ فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ

مونځ دپاره د کور نه راوتله نو په لاره کې ورسره يو سړی ملاؤ شو چه هغه پرې دپاسه کپړه واچوله خپل

فَتَجَلَّلَهَا فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا فَصَاحَتْ

حاجت يې ترې پوره کړو (يعنې هغې سره يې په زبردستی سره زنا) وکړه هغې بنځې چغې وهلې او

وَانْطَلَقَ وَمَرَّتْ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ

هغه سړي هغه هلته پريخود له او لاړلو، کله چه څه مهاجر صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هلته تيريدل نو هغې بنځې

فَقَالَتْ: إِنَّ ذَلِكَ الرَّجُلَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا

هغوی ته وويل چې دې سړي ماسره داسې داسې وکړل (يعنې زما دپاسه يې کپړه واچوله زه يې بې وسه کړم او

فَأَخَذُوا الرَّجُلَ فَأَتَوْا بِهِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يې ماسره بدکاري اوکړه) خلقو هغه سړی ونيولو او درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې يې حاضر کړو او

فَقَالَ لَهَا: «اذْهَبِي فَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكِ»

ټوله واقعه يې ورته بيان کړه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه بنځې ته خو وفرمايل چې ځه الله تعالی ته وبخښلې او کوم سړي چې

[1] أخرجه الترمذی فی السنن فی ٤/٤٥ رقم الحديث ١٤٥٣ وابن ماجه رقم الحديث ٢٥٩٨ وأحمد فی المسند ٤/٣١٨

وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا: «ارْجُمُوهُ»

هغه ښځې سره بدکاري کړې وه دهغه په حق کې يې دافيصله وکړه چې دادې سنګسار کړی شي هغه دخپل جرم اقرار وکړو

وَقَالَ: «لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا

ددې سنګسارولو نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې دې کس په خپل ځان باندې حد جاری کولو سره داسې توبه وکړه. چه

أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقَبِلَ مِنْهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

کچيرې دغه شان توبه دمدينې والو کولی نو دهغوی توبه به قبليده. (ترمذی، ابوداؤد)

## د يوې زنا دوه سزاګانې

(۱۹۱۹) وَعَنْ جَابِرٍ: أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ فَأَمَرَ بِهِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يوسړي د يوې ښځې سره زنا وکړهنو نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته د کوړو

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ الْحَدَّ

ورکولو حکم ورکړو، نو هغه ته بطور حد کوړې ورکړی شوې ددې نه پس چې کله وخودلی شو چې دا

ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ فَأَمَرَ بِهِ فرجم. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

سړی محصن دی نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام دهغه دسنګسارولو حکم وکړو او هغه سنګسار کړی شو. (ابوداؤد)

**توضيح**: فأمر به فرجم: حاکم او قاضی نه کچيرې غلطي وشي نو نودوه حدوده يوځای کيدی شي مطلب داشو چې يوحد دبل حد قائم مقام نه شي کيدی ددې سړې متعلق نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته مخکې اوخودلی شو يا هغوی په خپلې اندازې سره داسې وکړه چې دا ناواده کړی دی، نو دکوړو سزا ورکړی شوه روستو چې کله معلومه شوه چې دا محصن واده کړی دی نو هغه سنګسار کړی شو. (المرقات ۱۶۰/۷)

## په بيمار مجرم باندې دحد جاری کولو طريقه

﴿۲۰﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ

او حضرت سعيد بن سعد بن عباده روايت کوي چې يوه ورځ حضرت سعد بن عباده يوسړي لره د

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۴۱ رقم الحديث ۴۳۷۹ والترمذی فی ۴/۴۵ رقم الحديث ۱۴۵۳ وأحمد فی المسند ۶/۳۹۹.

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۸۶ رقم الحديث ۴۴۳۸.

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ كَانَ فِي الْحَيِّ مُخْدَجٍ سَقِيمٍ

نبي عليه السلام په خدمت کې راوستلو چه په خپله محله کې یو ناقص الخلقت کمزوری او بیمار سړی وو (او داسې

فَوَجَدَ عَلَى أَمَةٍ مِنْ إِمَائِهِمْ يَخْبُثُ بِهَا

بیمار وو چې دهغه دښه کیدو څه امید نه وو) دې سړي لره د محلې والو د وینځونه د یوې وینځې سره په زنا کولو

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خُذُوا

باندې ونیولی شو) نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه په باره کې داحکم وفرمایلو چې د کهجورې یو

لَهُ عِثْكَالًا فِيهِ مِائَةُ شِمْرَاخٍ فَاضْرِبُوهُ

داسې (لوی) ښاخ چې په هغې کې سل واړه واړه ښاخونه وي او بیا په هغه ښاخ سره دې سړي لره یو

ضَرْبَةً». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَه نَحوه (حسن)[1]

ځل ووهئ (شرح السنة) ابن ماجه هم دې روایت لره نقل کړی دی.

**توضیح**: مخدج: ناقص الخلقت ته مخدج وایي یعنی وړو اندامونو او وړوکي بدن والا سړی وو، بل داچې بیمار هم وو او کمزوری هم وو (المرقات ۱۶۱/۷)

یخبث د خباثت نه دی زنا کول مراد دي. (المرقات ۱۶۱/۷)

عثکالا د عین په زیر سره د کهجورې هغه غټ ښاخ ته وائی چې په هغې کې څو واړه ښاخونه وي. (المرقات ۱۶۱/۷)

شمراخ د شین په زیر سره واړه ښاخونه ترې مراد دي (المرقات ۱۶۱/۷)

ضربة واحدة: یعنې په دې لوی ښاخ سره دا ووهئ په کوم کې چې وړه ښاخونه دي دغه شان دې سړی ته به د سلو کوړو سزا ملاو شي او زیات زخمی به هم نه شي او مړ به هم نه شي، ددې نه معلومه شوه چې که د زنا حد رجم وی نو په هر حالت کې حد قائمول پکار دي، او که د زنا حد کوړې وی نو بیا د بیمار د صحیح کیدو انتظار کول پکار دي، او که د صحت امید نه وي نو بیا دغه شان حیله کول پکار دي کومه چې په دې حدیث کې ذکر ده په دې وجه چې د کوړو په حد کې چالره قتل کول جائز نه دي (المرقات ۱۶۱/۷)

---

[1] أخرجه ابن ماجه في السنن ۳/۸۵۹ رقم الحديث ۲۵۷٤ وأحمد في المسند ۵/۲۲۲

## دلواطت ابتداء اوسزا

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

او حضرت عکرمه د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي چې هغوی وویل چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

«من وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ».

چې کچیرې تاسو یو کس د قوم لوط په شان عمل کونکی ومومئ نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

(روایت کړې دې ترمذی او ابن ماجه)

**توضیح : عمل قوم لوط** : د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم په دې غلیظ قباحت کې مبتلاوو او ددې قباحت ابتداء او ددې ابتدائی تجربه بین الاقوامی بې غیرت ابلیس په خپل بدن باندې کړې وه ددې دپاره چې اولادِ آدم دوزخ ته لاړشي، بعضو علماؤ لیکلې دي چې ابلیس د یوسړی باغ ته د یوښائسته نو عمر هلک په شکل کې راغلواو ونې ته وختلو میوه یې راشوکوله اوپه زمکه یې غورزول شروع کړل دباغ مالک ورته وویل چې څومره میوه خوړی شې نو ویې خوره یایې کورته وړې نو تاته اجازت دی خو لاندې غورزولو سره یې مه ضائع کوه، ده یوه خبره هم نه اوریده دباغ مالک ورته وویل چې آخرستامقصد څه دی ده ورته وویل چې ماسره لواطت وکړه که نه یې کوې نومیوه به هم داسې راشوکوم، دې سړي اعوذبالله وویله او وې ویله چې دا عمل هم څوک کولی شي خو ابلیس چې کله دمیوې ضائع کولو کې نه واوختلو نوهغه سړي ده لره لاندې راوغوښتلو او دهغه سره یې لواطت وکړو کله چې دلواطت نه فارغ شو نوهغه ته پکې مزه راغله او لاړلو نورو هلکانو سره یې دا عمل شروع کړو او په مزه مزه دا عمل په قوم لوط کې خورشو تردې چې ښځې یې پریخودلې کله چې ددې هلکانو ګیرې راغلې نو هغوی ګیرې خریل شروع کړل او داعمل دومره عام شو چې په لارو کوڅو او بازارونو او ښکاره مجلسونو کې شروع شو، حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ ډېر منع کړل خو هغوی نه منل آخر دالله تعالی په عذاب سره هلاک شول.

یادساتئ! لوط عجمي لفظ دی ددې معنی په عجمی لغت کې تلاش کول پکار دي دې ته د عربی لغت په نظر سره مه ګورئ بعضې خلقو ته په دې غلط فهمی سره ډېر نقصان وشو.

**د لوطي په سزا کې د فقهاو آراء** : په مشکوة شریف کې د لوطي د سزا په باره کې یو زیربحث

---

(۱) أخرجه الترمذی ۱/٤ ٥٦ وابن ماجه ۲/۱٥٦

حدیث دی چې په هغې کې ددې عمل کونکي لره دقتل کولو حکم دی مخکې روایت نمبر ۲۹ راځي هلته ذکر دي چې حضرت علي رضي الله عنه د قوم لوط والا عمل کونکو لره په اُور کې سوزولي وو اوحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغوی باندې دیوال راغورزولي وو، بعضې روایاتوکې دغر نه دراغورزولو ذکر راغلی دی په سمندرکې د ډوبولو هم ذکردی نو دروایاتو په اختلاف سره د فقهاو آراء مختلف دی. دامام شافعی رَحِمَهُ اللهُ اود صاحبینو رحمهما الله په نزد دلوطی سزا دزنا دحد په شان ده چې که چیرې واده کړی وي نو رجم دی او که ناواده کړی وي نو په هغه باندې کوړې دي، د فاعل او د مفعول دواړو یو حکم دی، دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ مشهور مسلک او دامام احمدبن حنبل رَحِمَهُ اللهُ مسلک او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ یو قول دادی چې دلواطت په عمل کې به فاعل او مفعول دواړه قتل کولی شي. (المرقات ۱۶۲/۷)

امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ وایي چې ددې قبیح عمل سزا تعزیردی او په تعزیرکې دا ټولې سزاګانې ورکولی شي البته ددې دپاره څه حد متعین نه دی. د هر مسلک صاحب د څه روایت نه یا قیاس نه استدلال کړی دی. (المرقات ۱۶۲/۷)

صاحبین او امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ دې حدلره دزنا په حدباندې قیاس کړی دی، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ اود هغوی موافقینو دزیربحث حدیث نه استدلال کړی دی، امام ابوحنیفه ټولوسزاګانولره مدنظرساتلو فیصله فرمایلې ده چې قاضی ته اختیار دی چې په دې سزاګانو کې چې کومه مناسب ګڼي نو نافذه دې کړي. امام ابوحنیفه رحمه الله دلوطی سزا زیاته عامه کړې ده او دسختې سزا فتوی یې ورکړې ده، لهذا په هغه باندې اعتراض بهتان دی چې امام صاحب دلوطی حد نه مني، هغه خو فرمایي چې په صحابه کرامورضی الله عنهم کې په دې باره کې مختلفې رایې وې مختلفې سزاګانې یې ورکړې وې، لهذا دا سزاګانې په څه حدکې راګیرول نه دي پکار، ځکه چې حد متعین کیږي، ها دتعزیرمیدان وسیع دی چې کومه سزا ورکوي نو وریې کړئ، په افغانستان کې طالبانو د دیوال غورزولو سزا جاري کړې وه. د زیر نظر حدیث الفاظ هم بنایي چې ددې عمل سزا تعزیردی حدیې مقررنه دی. ځکه چې قتل یې کړئ دا الفاظ حد لره شامل نه دي په دې وجه چې په حدکې یاخو کوړې دي یا سنګسارول دي په دې وجه یارجم یا مأة جلدة الفاظ راغلي دي. (المرقات ۱۶۲/۷)

## ځناورو سره دبدفعلي کونکي سزا

﴿۲۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً

اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی دیو ځناور سره

فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ». قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ:

بدفعلي وکړي هغه قتل کړئ اودهغه سره دې ځناور لره هم قتل کړي. حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وویلی شو

| |
|---|
| مَا شَأْنُ الْبَهِيمَةِ؟ |
| چه دځناور و په باره کې دا حکم ولې دی (یعنې ځناور نه خو عقل لري او نه هغه مکلف دی نو ددې دقتل کولو |
| قَالَ: مَا سَمِعْتُ مِنْ |
| حکم ولې دی؟) حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې ما ددې د حکمت او مصلحت په باره کې د |
| رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا وَلَكِنْ أُرَاهُ كَرِهَ |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه څه نه دي اوريدلي البته زما گمان دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دې خبرې لره ناخوښه فرمایلي وه |
| أَنْ يُؤْكَلَ لَحْمُهَا |
| چې د کوم ځناور سره بد فعلی وکړی شوه دهغې غوښه خوړلی شي یاددې (پې وېښته او نسل تري اخستل) |
| أَوْ يُنْتَفَعَ بِهَا وَقَدْ فُعِلَ |
| نه فائده اخستلی شي او کله چې ددې ځناور نه څه قسمه فائده او چتول مکروه شو نو بیادې لره قتل کول |
| بِهَا ذَلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[1] |
| ضروري دي. (روایت کړې دي ترمذی، ابن ماجه، ابو داؤد) |

**توضیح: فاقتلوه**: یعنی د کوم ځناور سره چې یې بد فعلی کړې ده نو هغه ځناور هم قتل کړه او هغه سړی هم قتل کړه ټول فقهاء په دې متفق دي چې د ځناور سره د بد فعلی کونکي سزا تعزیر دی صرف د اسحاق بن راهویه په نزد د سړې قتل کول دي، فقهاء کرامو هغه حدیث اخستی چې الفاظ یې دادي **من اتی بهیمة فلا حد علیه** (ترمذی) اسحاق بن راهویه دزیر بحث حدیث د **فاقتلوه** الفاظو نه استدلال کړی دی، جمهور فرمایي چې دا زجر او توبیخ او تشدید او تغلیظ باندې محمول دی.

**واقتلوها**: اوس دا مسئله ده چې د ځناور سره څه چل وکړی شي نو په دې حدیث کې دي چې ځناور دې هم قتل کړی شي، اوس سوال دادی چې د ځناور څه قصور دی؟ نو ددې جواب حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ورکړو چې ما د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه خو ددې په باره کې څه نه دي اوریدلې خو زما خیال دادی چې په دې وجه وژلی شي چې هیڅ یو کس د ددې د غوښې یا د پیو نه څه فائده نه اوچتوي په داسې حال کې چې ددې سره دا بد عمل شوی دی چې دهغه اثرات ددې غوښې او پیو ته رسیدلې شي، د ځناور د قتل په باره کې یوه توجیه دا هم شوې ده چې ځناور په دې وجه قتل کولی شي دې د پاره چې بد فعلی کونکي سړي ته خلق پیغور نه ورکوي چې او گوره ستا ناوې روانه ده په دې وجه دې

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٠٩ رقم الحديث ٤٤٦٤ والترمذی فی ٤/٤٦ رقم الحديث ١٤٥٥ وابن ماجه فی ٨٥٦ رقم الحديث ٢٥٦٤.

مکروه ریکارډ لره ختمول بهتر دي. علماو لیکلي دي چې کچیري یوې ښځې یو ځناور مثلاً شادو یا سپي وغیره سره جماع وکړه نو ددې حکم هم د ځناور سره د بد فعلي په شان دی. (المرقات ۱۶۳/۷)

## اغلام بازی (دقوم لوط عمل) بدترینه ګناه ده

﴿۲۲﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَخْوَفَ مَا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه د خپل امت په باره کې ماته

أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

د ټولو نه زیات چې د کوم څیز یره ده هغه د قوم لوط عمل (یعنی اغلام) دی. (ترمذی، ابن ماجه)

## د حد زنا او حد قذف د جمع کیدو یو صورت

﴿۲۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یوه ورځ د بکر بن لیث د خاندان یو سړی د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ

په خدمت کې راغلو او اقرار یې وکړو چې ده (یعنی ما) یوې ښځې سره څلور ځله یعنې په څلورو

مَرَّاتٍ فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا

مجلسونو کې زنا کړې ده نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته سل کوړې ورکړې او هغه سړی غیر محصن یعنې ناواده کړی وو

ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَةِ فَقَالَتْ:

بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه نه دهغې سره په زنا کولو باندې ګواهان وغوښتل ښځې عرض وکړو چې په

كَذَبَ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ فَجُلِدَ حَدَّ

الله قسم ای د الله رسوله! دا سړی دروغ وایي ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سړي باندې د تهمت

الْفِرْيَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[2]

لګولو حد جاري کړو. (ابو داؤد)

**توضیح**: فجلد حد الفریة: یعنی د دروغو د تهمت حد ولګولی شو دې سړي پخپله خو اقرار وکړو

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۴/۴۸ رقم الحدیث ۱۴۵۷ وابن ماجه فی ۲/۸۵۶ رقم الحدیث ۲۶۵۳ وأحمد فی المسند ۷/۳۸۲.

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۱۱ رقم الحدیث ۴۴۶۷.

چې ما فلانی ښځې سره زنا کړې ده اوس دا معلومه نه شوه چې دده مقصد څه وو شاید چه ددې ښځې بدنامول یې غوښتل، بهرحال ددې اقرار په بنیاد باندې ده ته کوړې ورکړی شوې خو کله چې دښځې نه تپوس وکړی شو نو هغې وویل چې په الله قسم دی دا روغ وایي، اوس دبهتان دوجې نه دې سړې ته د حد قذف هم کوړې ورکړی شوې ددې نه معلومه شوه چې یو سړي ته د دوه مختلفو جرمونو په کولو سره مختلفې سزاګانې ورکولی شي. (المرقات ۱۶۴/۷)

## په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې دتهمت لګولو والو سزا

| ﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي |
|---|
| او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې کله زما براءت نازل شو (یعنې دعفت او پاکدامنی په ثبوت باندې آیتونه نازل شول) |
| قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ ذَلِكَ |
| نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ منبر باندې ودریدو سره خطبه ارشاد وفرمایله او دهغې ذکر یې وکړو او کله چې |
| فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دمنبر نه راکوزیدو نو دوه سړو او یوې ښځې ته یې د سزا ورکولو فیصله وکړه دتهمت لګولو |
| فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] |
| په هغوی باندې حد جاري کړی شو. (ابو داؤد) |

**توضیح** : **امر بالرجلین** : حضرت عائشه باندې پنځمه هجري کې دیوې غزوې په دوران کې روستو دپاتې کیدو دوجې نه منافقینو بهتان ترلی وو یوې میاشتې پورې صحابه کرام په سخت اضطراب او غم کې وو. منافقینو سره څو مسلمانانو هم په دې تهمت کې خپلې ژبې ګنده کړې وې په دوی کې یوه ښځه او دوه سړي وو چې په هغوی کې دیو نوم مسطح وو او د دویم نوم حضرت حسان خودلی شي او دښځې نوم حمنه بنت جحش وو. (المرقات ۱۶۴/۷)

دحضرت حسان په باره کې خو عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم فرمایې چې هغه په دې بهتان کې ملوث کیدی نه شي ځکه چې هغه داشعر ویلی دی.

فان ابی والده وعرضي لعرض محمد منکم وقاء

پخپله حضرت حسان هم انکار وکړو او وې ویل چې داد دشمنانو په ماباندې الزام دی. دوی دحضرت

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦١٨ رقم الحديث ٤٤٧٤ والترمذی فی ٥/٣١٤ رقم الحديث ٣١٨١ وابن ماجه فی ٢/٨٥٧ رقم: ٢٥٦٧.

عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په براءت او منقبت او دخپلې صفائې په باره کې دا شعرونه ویلي دي :

| | |
|---|---|
| حصان رزان ماتزن بريبة | وتصبح غرثى من لحوم الغوافل |
| حليلة خير الناس دينًا ومنصبًا | نبي الهدى ذى المكرمات الفواضل |
| مهذبة قدطيب الله خيمها | وطهرها من كل سوء و باطل |
| فان كنت قدقلت ماقد زعمتموا | فلا رفعت سوطى الى انامل |
| فان الذى قدقيل ليس بلائط | ولكنه قول امرءٍ بيَ ماحل |
| وكيف وودى ماحييتُ ونصرتي | لآل رسول الله زين المحافل |

دحضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د یوې جملې نه پته لګي چې حضرت حسان زباني حصه په دې بهتان کې اخستې وه خو په هغه باندې حد قائم نه شو البته په آخري عمر کې بطور سزا نابینا شو. بهرحال نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دبراءت آیتونه واورول او دمنبر نه راکوز شو نو مخلصانو دې مسلمانانو لره دحد قذف سزا اتیا اتیا (۸۰) کوړې ورکړې شوې او منافقینو ته څه ونه ویلی شو ځکه چې په نفاق او کفر ککړ سړي لره به حد قذف څه شی پاک کړي.

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## په زنابالجبر کې په مجبوره باندې حد نشته

﴿۲۶﴾ عَنْ نَافِعٍ: أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ أَبِي عُبَيْدٍ أَخْبَرَتْهُ

حضرت نافع رحمه الله نه روایت دی چې حضرت صفیه بنت ابو عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغوی ته بیان وکړو چې

أَنَّ عَبْدًا مِنْ رَقِيقِ الْإِمَارَةِ وَقَعَ على وليدةٍ

امارات او خلافت یعنی دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حکومت کې یو غلام دیوې وینځې سره زنا کول وغوښتل

من الخُمسِ فاستكرهها حَتَّى افتضَّها

چې مال غنیمت په خمس کې وه (او کله چې هغه وینځه دې بدکارۍ تمتیاره نه شوه نو هغه مور سره په زبردستی سره جماع وکړه) تردې

فَجَلَدَهُ عُمَرُ وَلَمْ يَجْلِدْهَا

چې دهغې بکارت یعنی جینی والی یې زائل شو نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته (پنځوس) دري ورکړې او هغه وینځه یې په

مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ استكرهها. رَوَاهُ البُخَارِيُّ[1]

درو ونه وهله، یعنی هغې ته یې دبد کاری سزا ورنه کړه ځکه چې هغه غلام دهغې سره په زبردستی سره جماع کړې وه. (بخاری)

## د ماعز رضی الله عنه دزنا دواقعې یو بل تفصیل

﴿۲۷﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ عَنْ أَبِيهِ

او حضرت یزید بن نعیم بن هزال دخپل پلار حضرت نعیم بن هزال نه نقل کوي چې هغوی یعني

قَالَ: كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ يَتِيمًا فِي حِجْرِ أَبِي

حضرت نعیم وویل چې ماعز بن مالک یتیم وو او زماد والد حضرت هزال په پرورش کې وو هغه چې

فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِي:

ځوان شو نو دمحلې یوې وینځې سره یې زنا وکړه کله چې زما پلار ته ددې علم وشو نو هغوی وویل

ائْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ

چې دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضرشه او کوم څه چې تاکړي دي هغه ورته ووایه شاید

يَسْتَغْفِرُ لَكَ وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ رَجَاءَ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ستادپاره دمغفرت دعا وکړي او زما دپلار ددې ویلو نه ددې نه علاوه بل څه مقصد نه وو

أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا

چې استغفار بدګناه نه دنجات سبب جوړشي (یعنی زما دپلار مقصد نه وو چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دده دسنګسارولو حکم وکړي

فَأَتَاهُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ

څنګه چې دبعضو خلقو خیال دی) ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضرشو او عرض یې وکړو چې ای دالله رسوله!

إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللهِ

مازنا کړې ده تاسو په ما باندې دکتاب الله حکم جاری کړئ. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ چې دده خبره واوریده نو مخ یې واړولو

حَتَّى قَالَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

تردې پورې چې هغه داخبره څلورځل یعنی په څلورو مجلسونو کې وکړه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۳۲۱ رقم الحدیث ٦٩٤٩.

إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَبِمَنْ؟

چې داخبره څلور ځله وکړه یعنی څلور ځله اقرار کولو سره ستاد زنا جرم ثابت شو اوس دا وښایه چې تا چاسره زنا کړې ده

قَالَ: بِفُلَانَةَ. قَالَ: «هَلْ ضَاجَعْتَهَا؟»

دهغه نوم یې واخستلو چې فلانی ښځې سره نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې ته دهغې سره ملاست یعنی ورترغاړه وتلی وې

قَالَ: نَعَمْ قَالَ: «هَلْ بَاشَرْتَهَا؟» قَالَ: نَعَمْ

هغه وویل چې آو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې ته دهغې بدن خپل بدن سره لګولی وو؟ هغه وویل آو

قَالَ: «هَلْ جَامَعْتَهَا؟» قَالَ: نَعَمْ قَالَ: فَأَمَرَ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمایل آیا تا د هغې سره جماع کړې وه؟ هغه وویل آو ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه

بِهِ أَنْ يُرْجَمَ فَأُخْرِجَ بِهِ إِلَى الْحَرَّةِ فَلَمَّا رُجِمَ فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ فَجَزِعَ فَخَرَجَ

دسنګسارولو حکم وفرمایلو نو هغه حره ته بوتلی شو او کله چې سنګسارولی شو هلته نه وتختیدلو

يَشْتَدُّ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ أُنَيْسٍ وَقَدْ

په لاره کې ورته عبد الله بن انیس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخې ته راغلو او دهغه ملګری یعنی ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره سنګسار

عَجَزَ أَصْحَابُهُ فَنَزَعَ لَهُ بِوَظِيفِ بَعِيرٍ فَرَمَاهُ بِهِ

کونکي ستړي شوي وو عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اوښ دخپو هڅو کی راوچت کړو اوبه هغې یې ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویشتلو

فَقَتَلَهُ ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

تردې پورې چې هغه ده لره ختم کړو ددې نه پس عبد الله دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو

فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ: «هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ

او دهغوی په مخکې یې ټوله واقعه بیان کړه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې هغه مو پریخودلو ولې

لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ.

نه شاید چې هغه دخپل اقرار نه رجوع کړې وی او الله تعالی دهغه توبه قبلولو سره دسنګساری نه

فَيَتُوبَ اللهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

بغیر دهغه ګناه معاف کړي وه. (ابو داؤد)

## دزنا اورشوت په کثرت سره په قومونو باندې سزا

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو چې

«مَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الزِّنَا إِلَّا أُخِذُوا بِالسَّنَةِ وَمَا مِنْ قَوْمٍ

په کوم قوم کې د زنا کثرت شي نو هغوی لره به قحط په خپله ګیره کې رانیسي او په کوم قوم کې چې

يَظْهَرُ فِيهِمُ الرِّشَا إِلَّا أُخِذُوا بِالرُّعْبِ». رَوَاهُ أَحْمَد[2]

رشوت عام شي نو په هغوی باندې رعب (یره) مسلط کولی شي. (احمد)

**توضیح: بالسنة**: په سین او نون دواړو باندې زبر دی خشک سالی او قحط ته وایي، علامه طیبی فرمایي چې د زنا په وجه سره د قحط مسلط کیدو حکمت شاید دادی چې زنا دنسل دتباهۍ ذریعه ده او قحط دفصل دتباهۍ ذریعه ده نو په دواړو کې دفساد اوتبلهۍ مماثلت دی نو زنا دقحط راوړلو ذریعه جوړه شوه، داګناه دنسل دتباهۍ ذریعه جوړه شوې ده، اوددې په اثرسره قحط رائي په کوم سره چې دفصل تباهی کیږي. (المرقات ۱۶۸/۷، الکاشف ۱۶۹/۷)

**الرشا**: په راء باندې پشش هم دی او زیر هم جائزدی، رشاء په اصل کې زسی ته وایي د کوم په مدد سره چې دکوهي نه اوبه راویستلی شي ځکه چې رشوت هم دناجائز مال د راخکلو ذریعه ده په دې وجه دې ته رشاء وویلی شوه، یادا د رشوة جمع ده. **بالرعب**: یعنی درشوت په کثرت سره قوم او ملک دخپلو نه هم مرعوبه کیږی او ددشمنانو نه هم مرعوب اوسي، ددې وجه داده چې کله درشوت په اخستلو او ورکولو سره دقوم جرأت او همت دغلو په شان کمزوری شي او دقوم ضمیر مړ شي او د ایمانداری او د ربښتینولۍ جذبه ختمه شی نو ددشمن په مقابله کې اوس ددې رشوت خورونه ټول انسانی صفات او عظمتونه او دعزتونوتصورات ختم شي او حاکم او محکوم دواړه ددشمن نه مرعوبه اوسي، اوس دده ضمیر داوچتوالي احساس نه ورکوي بلکه دکمتری احساس ورکوي او

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٧٣ رقم الحديث ٤٤١٩.

(2) أخرجه أحمد فی المسند ٤/٢٠٥.

همدا رعب دی چې دخپلو نه یره په دې وجه پرې خوره وي چې کله دا رشوت خورول خپل فرض منصبی نه پوره کوي نو دهریو نه یریږي لهذا دا د یو جج (قاضي) د حکم نافذکولو او جاري کولو نه هر وخت په یره کې وي چې هسې نه چې دچا نه مې رشوت اخستی دی هغه راته په غاړه نه شي په دې شان سره په مجموعی حیثیت سره قوم بزدله جوړشي. (المرقات ۱۶۹/۷)

## د لوطی د سزا مختلف صورتونه

﴿۲۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

«مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ». رَوَاهُ رَزِينٌ[1] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ

چې کوم کس دقوم لوط په شان عمل یعنی اغلام کوي هغه ملعون دی (رزین) او د رزین رحمه الله په یو روایت

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[1]

کې دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بطور سزا اغلام (لوطي) لره چې په خپله کونکی

أَحْرَقَهُمَا وَأَبُو بَكْرٍ هَدَمَ عَلَيْهِمَا حَائِطًا

وي او په چا چې کولی شي دواړه یې سوزولي وو او حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغوی باندې دیوال راغورزولی وو.

**توضیح**: **احرقهما**: یعنی حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فاعل او مفعول دواړه په اُور کې واچول او وې سوزول اوحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغوی باندې دیوال راغورزولی وو چونکه دا سزا د احنافو په نزد د تعزیر په زمره (ډله) کې راځي په دې وجه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کې او دهغې نه پس دورونو کې ددې سزا په نوعیت کې فرق راتللو مګر ددې دعدم جرم په وجه سره نه دی بلکه دحد دعدم تعین دوجې نه دی او دتعزیر باب خو دحدنه زیات وسیع دی، نو علماؤ لیکلې دي چې لوطی دې داوچت غرنه راوغوزولی شي او دپاسه دې پرې دکانو باران وکړی شي دې دپاره چې دقوم لوط دسزا سره مشابهت راشي، بعضو ویلې دې چې په ده باندې دې کور راوغورزولی شي لاندې دې ډوب کړی شي، بعضو ویلې دي چې ده لره دې په سمندرکښې غرق کړی شي، بعضو ویلې دي چې ده لره دې په تنګ او تیاره بدبوډارځای کې بند کړی شي، بعضو ویلې دي چې دا دې

---

(۱) أخرجه مرقاة المفاتيح ۷/۱۵٤ رقم الحديث ۳۵۸۳.

(۱) أخرجه رواه رزين

په جیل کې ترهغه وخته پورې وساتلی شي چې ترڅوپورې هغه توبه ونه کړي، بعضو ویلې دي چې کچیرې دلوطی عادت جوړشوی دی او داقبیح عمل هغه باربار کوي نو دمصلحت لاندې دې هغه قتل کړی شي، دغه رنګه عادی مفعول لره دې هم قتل کړی شي. داټولې خبرې په مختلفو حواله جاتو سره په زجاجة المصابیح ج۳ص۷۸ باندې ذکردي.ددې ټولواقوالوپیش نظردنن صبادغیر مقلدینو حضراتو دا پروپیګنډه په دیانت اوصداقت باندې مبني نه ده چې وایي د احنافو په نزد د لواطت هیڅ سزا نشته. امام ابوحنیفه رحمه الله کچیرې دا وایي چې ددې دپاره دصحابو په دورکې څه متعین سزا په طور دحد نه وه لهذا دتعزیر په زمره کې رائي نوپه دې باندې داعتراض ګنجائش چرته نه دی آیا د دومره اقوالو نه پس هم څوک ویلی شي چې په طور د حد ددې عمل دپاره فلانی خاص حد متعین دی؟ کچیرې نه شي ویلی نوهمدا خبره خو امام ابوحنیفه رحمه الله هم کړې ده، باقی دفقهاو اختلاف ددې نه مخکې تیرشوی دی.

**کوم کوم خلق ملعون دي** : په جامع صغیرکې دامام محمدرحمه الله نه دحسن بصري رحمه الله په سندسره دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا روایت نقل کړی دی (۱) چې کوم کس خپلې مورته بدرد ووایي هغه ملعون دی (۲) چې کوم کس دغیرالله په نوم حلاله وکړي هغه معلون دی (۳) چې کوم کس داسلام د زمکې په سرحدونوکې ردوبدل وکړي هغه ملعون دی (۴) چې کوم کس کوم روند ته غلطه لاروبنایي هغه ملعون دی (۵) چې کوم کس ځناور سره بدفعلي وکړي هغه ملعون دی (۶) او چې کوم کس دقوم لوط په شان اغلام بازي (لواطت) والا عمل وکړي هغه ملعون دی.

## خپل بنځې سره لواطت حرام دی

| |
|---|
| ﴿۳۰﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا |
| اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې الله تعالی |
| يَنْظُرُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوِ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ |
| په هغه سړي باندې رحمت نه کوي چې کوم سړي یا بنځې سره بدفعلی وکړي دې روایت لره امام ترمذی |
| وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ(۱) |
| نقل کړی دی او ویلي یې دي چې داحدیث حسن غریب دی. |

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/٤٦۹ رقم الحدیث ۱۱٦٥ وأحمدفی المسند ۲/۳٤٤ . رقم الحدیث ۳٥۸٦ أخرجه ابوداود فی السنن ٤/٦۱۰ رقم الحدیث ٤٤٦٥ والترمذی ٤/٤٦ رقم الحدیث ١٤٥٥.

**توضیح: اتی امرأة فی دبرها:** په څو احادیثو کې سخت ممانعت او لعنت راغلی دی چې کوم سړی د خپلې ښځې سره بد فعلي وکړي چونکه په دې سره د اشتباه خطره ده چې خاوند داخیال کوي چې دا زما ښځه ده نو ددې نه هرقسم فائده اخستل به جائز وي په دې وجه په احادیثو کې په دې باندې سخت وعید راغلی دی اوچونکه بعضې بدبخته بدکاره په قصد سره د ښځې سره دبد فعلي عمل کوي اوممکنه ده چې یولوی مخلوق په دې جرم کې مبتلا وي، په دې وجه اسلام په کولاو الفاظوسره ددې ممانعت وفرمایلو، اوپه دې باندې وعید واورولی شو او د لواطت د ممانعت په عامو آیتونو او احادیثو کې یې دې لره شامل کړو دارنګه دلوطی په سزا کې دا شمار کړی شو.

## دځناور سره په بدفعلي باندې حد مقرر نه دی بلکه تعزیر دی

﴿۲۱﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً

اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دي چې هغوی (بطریق مرفوع) وویل چې کوم سړی د ځناور سره بدفعلي وکړي

فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ

هغه د حد سزاوار نه دی خو قابل د تعزیر دی دې روایت لره ترمذی او ابوداؤد نقل کړی دی دارنګه

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ

ترمذی رحمه الله د سفیان ثوری رحمه الله نه روایت کوي چې هغوی (یعنی سفیان) وویل چې دا حدیث د

أَنَّهُ قَالَ: وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اولني حدیث نه زیات صحیح دی چې په دویم فصل کې هغه نقل کړی شوی دی

وَهُوَ: «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ»

او هغه اول حدیث دادی چې کوم سړی د ځناور سره بدفعلي وکړي هغه مړ کړئ نو علماؤ په هغې باندې

وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ (جيد)[1]

عمل کړی دی چې د ځناور سره بدفعلي کونکی د حد سزاوار نه دی البته بطور تعزیر ده ته څه سزا ورکولی شي.

**توضیح:** ددې نه مخکې حدیث ۲۲ کې ددې مسئلې تفصیل تیرشوی دی هلته یې او ګورئ هلته دا ذکر دی چې د ځناور سره بدفعلي کولو والا قتل کړئ او ځناور هم قتل کړئ.

هغه روایت هم د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دی او داهم د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دی په ظاهره داسې معلومیږی چې زیربحث حدیث مرفوع نه دی بلکه د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل قول دی خو د حضرت سفیان ثوري رحمه الله تبصري نه داخبره معلومیږی چې دا دواړه حدیثونه مرفوع دي ځکه هغوی

---

[1] أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۱۰ رقم الحديث ۴۴۶۵ والترمذی ۴/۴۶ رقم الحديث ۱۴۵۵.

وفرمایل چې ددې حدیث نه هغه مخکنی حدیث زیات صحیح دی کچرې دواړه حدیثونه مرفوع نه وی نو د سفیان ثوري رحمه الله دکلام به څه مقام هم پاتې نه شي.

## په حد جاری کولو کې څه فرق او امتیاز مه کوئ

﴿۳۲﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَقِيمُوا حُدُودَ اللهِ

او حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په نزدې او لرې

فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ وَلَا تَأْخُذْكُمْ فِي اللهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ».

تولو باندې حد جاري کړئ او خبردار د الله حکم یعنی په حد جاري کولو کې دچا ملامت کونکي ملامتیا

رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه (جيد)[1]

دې تاسو ته ونه دریږي. (ابن ماجه)

**توضیح: القریب والبعید:** ددې جملې دوه مطلبه دي: یو مطلب داچې حدود الله په نزدې او لرې رشته دارو باندې یوشان نافذ کړئ داسې دې نه وي چې په لرې په رشته دارانو باندې نافذ کړې او د نزدې رشته دارانو رعایت کولو سره دهغوی نه حد ساقط کړې، دا امتیازي سلوک په حدود الله کې جائز نه دې.

دویم مطلب داچې د قریب نه مراد کمزوری او ناتوان دی په کوم چې حد نافذول آسان دي او بعید نه مراد طاقتور یا اثره سړی دی هغه ته رسیدل ممکن نه وي نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې په کمزورو او طاقتورو باندې او غریبو او مالدارو باندې یوشان حد نافذوئ امتیازي سلوک مه کوئ. (المرقات ۱۶۱/۷)

## د حد جاری کولو فائدې

﴿۳۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِقَامَةُ حَدٍّ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د کوم حد جاري کول

مِنْ حُدُودِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلَادِ اللهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه[2]

په حدود الله کې دالله تعالی په تولو ښارونو باندې د څلویښتو شپو باران ورولو نه بهتر دی (ابن ماجه)

---

(1) أخرجه ابن ماجه فی السنن ۲/۸۶۹ رقم الحدیث ۲۵۴۰ وأحمد فی المسند ۵/۳۳۰

(2) أخرجه ابن ماجه فی السنن ۲/۸۶۸ رقم الحدیث ۲۵۳۷.

(جيد) رَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ[1]

نسائی دې روایت لره د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

**توضیح : اقامة حد من حدود الله** : د حدود الله په قائمولو سره په بلاد الله کې برکات په دې وجه راځی چې د حدود الله په نافذولو سره د معاصیو او جرائمو مخ نیوی کیږي او کله چې ګناه منع شي نو آسمان نه د برکاتو د نزول دروازې کهلا ویږي. ددې برعکس د حدودو نه نافذکول یا په هغې کې سستي کول ګویا مخلوق خدا لره په ګناه او معاصیو کې د مبتلاکیدو موقع ورکول دي او دا معاصي د قحط سالی او د فساد عالم اسباب دي دکوم د وجې نه چې صرف انسانان ددې نه بنکار کیږي بلکه غیر انسانان ځناور، مرغی، او واړه واړه ځناور هم ددې بنکار جوړیږي او ټول تباه او برباد کیږي، دارنګه منقول دي چې حبارى هم ددې ناکرده ګناه په زد کې راتلو سره په پرسید وکې مبتلاکیدو سره مري ځنګه چې په یو حدیث کې راغلې دي.

حبارى د یوې مرغی نوم دی ددې ذکر په دې وجه سره وکړی شو چې هغه د رزق او اوبو په تلاش کې یو مثال لري، لرې لرې پورې ځي دانه او اوبه تلاش کوي راوړي یې چې کله هغه مړه شي نو دنورو مرغو به څه حال وي.



[1] أخرجه النسائي في السنن ٨/٧٦ رقم الحديث ٤٩٠٥.

# باب قطع السرقة

## دغل دلاس کټ کولو بیان

(قال الله تبارک وتعالی وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ) ﴿سورة مائده آیت ۳۸﴾

**د سرقې تعریف** : سرقه د سین په فتحې سره او د راء په کسرې سره او په راء باندې فتحه هم ویل جائز دي، سرقه په لغت کې دبل چاشیز په پټه اوچتولوسره ورلو ته وایې، او شرعي اصطلاحی تعریف داسې دی: دعاقل بالغ کس دچا مملوک اومحفوظ مال په پټه سره اوچتول او د هغې ورلو ته سرقه ویلی شي .باب قطع السرقة کې علامه طیبی فرمایې چې دلته به د اهل لفظ محذوف کولی شي .اې باب قطع اهل السرقة. ( المرقات ۱۷۱/۷)

**قطع د سرقې په تفصیلاتو کې د فقهاء کرامو اختلاف** :دغل د لاس کټ کولو او د سرقې په حد کې دچا اختلاف نشته ځکه چې د قرآن په نص سره (والسارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما) ثابت دی البته په دې کې اختلاف دی چې مطلقًا دمال په غلا باندې دا قطع ده یا دځه معین مقدار غلا کول ضروري دي. په دې کې د جمهورو فقهاؤ او داهل ظواهرو او خوارجو او د حسن بصری رحمه الله په مینځ کې اختلاف دی. د حسن بصری رحمه الله اود خوارجو او د اهل ظواهرو په نزد سره مطلقًا دمال په غلا سره دلاس کټ کول جائز اومشروع دي، خو جمهورصحابه او تابعین او آئمه اربعه فرمایې چې د قطع ید دپاره ضروري دی چې په خاص مقدار سره مال په پټه یو کس اوچت کړي او یوسي. ( المرقات ۱۷۳/۷)

**دلائل** : حسن بصری رحمه الله او اهل ظواهر دقرآن کریم د ظاهري آیت نه استدلال کړی دی والسارق والسارقة والا آیت کې دغل دغلا ذکر دی دمال د مقدار ذکر نشته دی لهذا کوم سړي چې غلا وکړه دهغه لاس به کټ کیږي، دې حضراتو د راتلونکي دحضرت ابوهریره رضی الله عنه د روایت نه هم استدلال کړی دی چې دهغه الفاظ دادي : لعن الله السارق یسرق البیضة فتقطع یده بیضه دسر توپۍ ته وایې دا یوه فوجي توپۍ (خولۍ) وي یاظاهري معنی نه هګۍ مراد ده. ویسرق الحبل فتقطع یده حبل رسۍ ته و ایې، د آیتونو او احادیثو پیش نظر دهغه حضراتو په نزد دلاس کټ

کولو دپاره دمال څه نصاب نشته دی. جمهورو فقهاؤ ددې ټولو احادیثو نه استدلال کړی دی چې په کوم کې د خاص مقدار مال ذکر دی. په بعضو کې د ربع ذکر دی، په بعضو کې دثلاثة دراهمو ذکر دی، په بعضو کې دثمن المجن ذکر دی، په بعضو کې دعشرة دراهم ذکر دی، او د کم مقدار نفي ده، دارنګه دټولو صحابه کرامو اجماع هم ده چې دخاص مقدار مال نه علاوه قطع د ید نشته دی، امام ابوحنیفه رحمه الله دچانه تپوس وکړو چې په لاس کې نصف دیت دی بیا په لس درهمو سره ولې کټ کولی شي؟ هغه وفرمایل: **لما کانت الید امینة کانت ثمینة فلما خانت هانت.**

**جواب**: دې حضراتو چې د آیت نه کوم استدلال کړی دی د هغې جواب دادی چې آیت پخپله مجمل دی ددې تفصیل په احادیثو کې دی لهذا مطلق آیت نه استدلال نه شي کولی. باقی د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د روایت جواب جمهورو داسې کړی دی چې په دې حدیث کې دغلا دنصاب بیانول مقصود نه دي بلکه په دې کې دغل په عادت باندې خبرداری ورکړی شوی دی چې دا واړه واړه څیزونه د قطع د ید دپاره سبب نه دی خو په دې سره دغلا عادت جوړیږي، او بیا دسرقې دنصاب پورې دغلا نوبت ورسي او لاس کټ کړی شي نوپه دې کې دشروع کولو ذکر دی دنصاب بیان نه دی شوی، بعضو علماؤ لیکلې دي چې دبیضه نه مراد هګۍ نه ده بلکه د وسپنې فوجی توپی ده او د هغې قیمت دسرقې نصاب ته رسي دغه شان د رسی نه مراد وسپنه یا د نورو قیمتي څیزونو رسئ ده چې دهغه قیمت دسرقې نصاب ته رسي، یا د هغه عادت والا خبره ده.

**دسرقې په نصاب کې دجمهورو په خپل مینځ کې اختلاف**: دجمهورو په خپل مینځ کې اختلاف دی چې دقطع ید دنصاب مقدار څومره دی؟ د امام شافعی رحمه الله په نزد ربع دینار نصاب دی او د نصاب په مقررولو کې سرو زرو ته بنیادي حیثیت حاصل دی، د آئمه احنافو په نزد نصاب د قطع ید لس دراهمه دی، د امام مالک رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نزد د سرقې نصاب ربع دینار دی، یاددې قیمت درې دراهمه دی، ددې حضراتو په نزد په نصاب کې اصل او بنیادي څیز سپین زر دي، د شوافعو او مالکیانو او د حنابلو په مینځ کې اختلاف لفظي دی ځکه یو دینار د دولسو درهمو وي دهغه ربع دټولو په نزد درې درهمه دي، په اصل کې اختلاف دجمهورو او احنافو په مینځ کې دی او د دواړو سره قابل اعتماد دلائل دي. (المرقات ۱۷۳/۷، ۱۷۲)

**دلائل**: جمهور د هغه ټولو احادیثو نه استدلال کوي چې په هغې کې د ربع دینار یا د ثلاثة دراهمو ذکر دی، لکه چې د حضرت عائشې رضی الله عنها په روایت نمبر ۱ کې د ربع ذکر دی، د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په روایت نمبر ۲ کې دثلاثة دراهم او دډهال ذکر دی. د آئمه احنافو سره ددې متعلق ډیر روایات دي. (المرقات ۱۷۳/۷)

(۱) دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت په ترمذی کې دی : **قال لاقطع الا في دينار اوعشرة دراهم** (ترمذی ج۱ ص۲۶۸) دا روایت په څو طرقو سره د الفاظو په څه تغیر سره نقل دی په بعضو کې ارسال دی، بعضو کې اتصال دی، خو شرعی مقادیر چې په کومو روایتونو کې ذکر دي هغه د مرفوع په حکم کې وي، په طبراني کې همدا روایت داسې دی: **عن ابن مسعود عن النبي صلى الله عليه وسلم قال لاقطع الا في عشرة دراهم** (رواه الطبرانی فی الاوسط)

(۲) **وعن ابن عباس رضی الله عنه قال قطع النبي صلى الله عليه وسلم يد رجل في مجن قيمته دينار او عشرة دراهم** (ابوداؤد)

(۳) **وعن عبدالله بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاقطع دون عشرة دراهم** (طحاوی)

(۴) **عن ابن مسعود قال يقطع اليد على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم في عشرة دراهم وعنه قال لايقطع يد السارق في اقل من عشرة دراهم.**

(۵) په مصنف ابن ابي شيبه کې ذکر دي چې د حضرت عمر رضی الله عنه په دور خلافت کې یو سړی راوستلی شو چې هغه کپړه پټه کړې وه حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمایل چې ددې قیمت ولګوئ دوی چې قیمت ولګوله نو آته درهمه قیمت یې راوتلو **فلم يقطعه** حضرت عمر رضی الله عنه دهغه لاس کټ نه کړو ځکه چې د لسو درهمو نه غلا کمه وه. (کذافی زجاجة المصابیح ج۳ ص۸۲)

د صحابه کرامو په مخکې د عمر رضی الله عنه دا فیصله اوپه دې باندې د ټولو خاموش پاتې کیدل اجماع سکوتي ده، لهذا د لس درهمو په نصاب باندې د صحابه کرامو اجماع هم ده (پس دراهم د اوه نیمو ماشو چاندي ده).

**جواب** : ائمه احنافو د جمهورو د استدلال نه دا جواب کړی دی چې د قطع ید د نصاب مدار ثمن مجن یعني د ډهال قیمت دی او د ډهال قیمت د زمانې په اعتبار سره بدلیږي رابدلیږي، حضرت عائشې رضی الله عنها دې لره د ربع دینار قیمت په زمانه کې ولیدلو نو داسې یې بیان وفرمایلو ابن عمر رضی الله عنه دریې د درهمو د قیمت په زمانه کې ولیدلو نو دهغې تذکره یې وکړه، بیا داسې وخت راغی چې ددې قیمت یو دینار یا دس درهمه شو او هم دې لره احنافو اخستی دی ځنګه چې په ابوداؤد کې ذکر دی.

نسائی او بیهقی او طحاوی د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه قول نقل کړی دی **قال كان ثمن المجن**

علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم یقوم عشرة دراهم دا واضحه خبره ده چې د ډهال د قیمت استقرار په لسو درهمو باندې شوی وو. دارنګه احناف وایي چې دلته د حد لګولو او دلاس کټ کولو معامله ده او د حد د حکم معمولي شبهې سره ساقط کیږي، اوس دلس درهمو نه کم مقدار چیرته چې هم ذکر دی په هغې باندې شبهه راغله، لهذا د دې په بنیاد باندې به حد نه نافذ کیږي ځکه چې ادرءوا الحدود بالشبهات واضحه ضابطه ده.

## الْفَصْل الأول

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُقطعُ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې هغوی وفرمایل چې د غل لاس دي په هغه

يدُ السَّارِقِ إِلاَّ بِرُبعِ دِينَار فَصَاعِدا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱)

صورت کې کټ کړی شي کله چې هغه د څلورمې حصې د دینار یا د دې نه د زیات مالیت غلا کړی وي

نوټ: دا روایت د شوافعو او حنابلو او مالکیانو مستدل دی د دې جواب شوی دی.

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ سَارِقٍ فِي مِجَنٍّ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یو ډهال په غلا باندې چې د هغې

ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲)

قیمت دري درهمه وو د غل لاس کټ کړو. (بخاری ومسلم)

نوټ: د دې روایت نه هم جمهورو استدلال کړی دی د دې جواب هم په تفصیل سره تیر شوی دی.

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې هغوی وفرمایلچه په غل باندې

«لَعَنَ الله السارِقَ يسرقُ البيضةَ فتُقطعُ يَدُه وَيسرق الْحَبل

د د الله تعالی لعنت وي چې هغه بیضه پټه کړي او د هغه لاس کټ کړی شي او رسی پټه کړي او د

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۹۶ رقم الحدیث ٦٧٨٩، ومسلم فی صحیحه ۳/۱۳۱۲ رقم الحدیث (۱٦٨٤-۲) وأبوداود فی السنن ٤/٥٤٥ رقم الحدیث ٤٣٨٣ والترمذی فی ٤/٤٠ رقم الحدیث ١٤٤٥ والنسائی فی ٨/٧٩ رقم الحدیث ٤٩٢٨ وابن ماجه ۲/۸٦۲ رقم: ۲٥٨٥.

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۹۷ رقم الحدیث ٦٧٩٨ ومسلم فی ۳/۱۳۱۲ رقم الحدیث (۱٦٨٦-٦) وأبوداود فی السنن ٤/٥٤٧ رقم الحدیث ٤٣٨٥ والترمذی فی ٤/٤٠ رقم الحدیث ١٤٠٤٦. وابن ماجه فی ۲/۸٦۲ رقم الحدیث ۲٥٨٤.

| |
|---|
| فتقطع يَدَهُ» (متفق عليه)[1] |
| هغه لاس کټ کړی شي. (بخاری و مسلم) |

**نوټ**: په دې روایت باندې جمهورو فتوی نه ده ورکړې صرف داهل ظواهرو او د حسن بصری رحمه الله مسلک په دې باندې مبني دی، ددې جواب هم په تفصیل سره مخکې تیرشوی دی، یو جواب دا هم دی چې ددې حدیث تعلق د حکامو سره دی چې هغه داسې د وړو غلو دپاره بطور تعزیر سزا مقررکړي، دې دپاره چې دلویو غلاګانو نه خلق منع شي، یادا حکم د اسلام په ابتداء کې وو بیا منسوخ شو.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## د میوو و غیره په غلاکې دلاس کټ کولو سزا شته او که نه؟

| |
|---|
| ﴿۴﴾ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| حضرت رافع بن خدیج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې په |
| «لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ» رَوَاهُ مَالِكٌ |
| ونه کې موجوده میوې او د کهجورې سپین مغز په غلا کې دلاس کټ کولو سزا نشته دی. (روایت کړې دې مالک، |
| وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ (حسن)[2] |
| ترمذی، ابو داؤد، نسائی، دارمی، ابن ماجه) |

**توضیح**: **لاقطع فی ثمر ولا کثر**: کثر کاف او په ثاء دواړو باندې زبر دی د کهجورو ګل مراد دی چې بالکل په ابتداء کې رابنکاره شي خلق دا خوري یا ددې په ګل کې دننه د چربی په شان سپین مغز وي دا هم خلق خوري دی، جمار د جیم په پیش سره هم دی، ثمر هرې هغه تازه میوې ته وایې چې په ونو کې لګیدلې وي خو عام اطلاق یې په کهجوره باندې کیږي، کله چې کهجورې د ونو نه راوشو کولی شي نو اوس د ثمر په ځای دې ته رطب وایې، او کله چې ذخیره کیدو سره وچ کړی شي نو دې ته تمر وایې (کذا فی النهایة) بعضو دګلونو غوټو ته کثر ویلی دی، بهرحال دې څیزونو کې قطع د ید په دې وجه سره نشته دی چې د سرقې دپاره مال محرز او محفوظ کیدل ضروري دي دلته

---

(1) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۹۷ رقم الحدیث ٦٧٩٩ ومسلم فی ۳/۱۳۱٤ رقم الحدیث (۷/۱٦۸۷) والنسائی فی ۸/٦٥ رقم الحدیث ٤٨٧٣ وابن ماجه فی ۲/۸٦۲ رقم الحدیث ۲٥۸۳. وأحمد فی المسند ۲/۲٥۳.

(2) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٤٩ رقم الحدیث ٤۳۸۸ والترمذی فی ٤/٤۲ رقم الحدیث ۱٤٤۹ والنسائی فی ۸/۸۷ رقم الحدیث ٤۹٦۰.

محفوظ نه دی. (المرقات ۱۷۷/۷).

**دفقهاؤ اختلاف**: په دې باندې د ټولو اتفاق دی چې په ونو کې موجود و میوو کې قطع د ید نشته دی اختلاف په دې کې دی چې کله میوې خپلو ځایونو او کورونو ته راشي نو محرز او محفوظ شوې نو ایا په دې کې قطع ید شته یا نشته دې کې اختلاف دی جمهورو ایي چې د دا سې قسمه میوو په غلاکې قطع ید شته که هغه اوسه پورې لمدې میوې وي یا وچې وي امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې هر هغه څیز چې زر خرابیدو والا وي که هغه میوه وي یا پی وي یا کب (ماهی) وي یا غوښه وي یا داسې قسم سبزي وي، یا تیار شوی خوراک وي، په دې ټولو څیزونو کې د ید قطع نشته دی، ها هر کله چې درمن یا کورته راوړو سره وچې شي نو بیا قطع د ید شته دی. (المرقات ۱۷۷/۷)

**دلائل**: جمهورو د راتلونکی د حضرت عمرو بن شعیب د روایت نه استدلال کړی دی او هغوی دا هم قیاس کوي چې د دې څیزونو په غلا باندې د سرقې دلفظ اطلاق کیږی لهذا دا غلا ده او په غلا کې د ید قطع ده، نو جمهورو سره یو نقلی او یو عقلی دلیل دی، امام ابو حنیفه رحمه الله د مذکوره حدیث نه استدلال کړی دی چې **فی ثمر** دا نکره تحت النفي ده او په دې کې عموم دی. مطلب دا چې په څه تازه میوه یا سریع الفساد څیزونو کې قطع ید نشته دی، لهذا په څه تازه میوه کې قطع ید نشته دی که هغه محرز فی البیت وي یا په درمن کې محفوظ وي نفي عامه ده. (المرقات ۱۷۸/۷)

**جواب**: باقی د عمرو بن شعیب د روایت تعلق د وچې میوې سره دی یا هغه روایت د دې رافع والا د روایت مقابله نه شی کولی او کله چې په حدیث سره د دې استدلال ثابت نه شو نو د حدیث رافع په مقابله کې قیاس پیش کول مناسب نه دي.

| |
|---|
| ﴿۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ |
| او حضرت عمرو بن شعیب د خپل والد نه او هغه د خپل نیکه حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه |
| عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ |
| او هغه د نبی صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې د نبی صلی الله علیه وسلم نه په ونه کې د موجوده میوو باره کې تپوس وکړی شو |
| قَالَ: «مَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ |
| نو هغوی وفرمایل چې کچیري یو کس په دې میوو کې څه څیز هغه وخت پټ کړي هر کله چې هغه د |
| أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينَ فَبَلَغَ ثَمَنَ |
| ونو نه راشو کولو سره جمع کړی شوی وي او د (د دې پټو کړی شوو میوو) قیمت د یو ډهال د قیمت |

جلد 5 39

| |
|---|
| الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1] |
| برابر وي نو هغه به د قطع د يد سزا وار وي. (ابو داؤد، نسائی) |

## په غیر مملوکه غریبزو ځناورو باندې د غلا اطلاق نه کیږي

| |
|---|
| ﴿۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او حضرت عبدالله بن عبدالرحمن ابن ابو حسین مکي نه روایت دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل: |
| قَالَ: «لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ مُعَلَّقٍ |
| دلاس کټ کولو سزا نشته دی په ونو باندې په موجوده میوو کې او په غرونو کې د څریدونکو څارو |
| وَلَا فِي حَرِيسَةِ جَبَلٍ فَإِذَا آوَاهُ |
| په مقدمه کې ها کچیرې څوک سړی یو غریبز څاروی لره د څارو و د ترلو ځای ته راوستلو سره وترې |
| الْمُرَاحُ وَالْجَرِينُ فَالْقَطْعُ فِيمَا |
| یا میوې د (اوچیدو نه پس) په درمن کې جمع کړي نو دهغې په غلا کې به دلاس کټ کولو سزا ورکولی |
| بلغ ثمن الْمِجَنِّ». رَوَاهُ مَالِك[2] |
| شي په شرط د دې چې د شئ مسروقه مالیت د یو ډهال د قیمت په قدر یا د دې نه زیات وي. (مالک) |

**توضیح: حریسة جبل**: حریسه د محروسه په معنی سره او محروسه د محفوظه په معنی سره دی، او جبل غرته ویلی شي، مطلب دادی چې مثلاً یو ځناور په غر باندې څریږي او هلته شپه تیروي، اوس که هغه چا پټ کړو نو د غل لاس به نه شي کټ کولی په دې وجه چې دا مال محرز او مال محفوظ نه دی، او که یو کس دا ځناور د غرنه راونیول او کورته یې راوستل او غل دا پټ کړي، نو اوس په دې کې قطع ید نه ده، نود محروسة جبل مطلب داشو چې صرف غر هغې ته حفاظت ورکوي نور څوک محافظ یې نشته دی، نو په دې کې لاس کټ کول نشته دی او ثمر معلق په ونو باندې لګیدلې میوه ته ویلی شي

**الجرین**: دا درمن ته هم وایي او د کهجورو د وچولو ځای ته هم وایي، نو کله چې میوې وچې شي او

---

([1]) أخرجه أبوداود فی السنن ۲/۳۳۵ رقم الحدیث ۱۱۷۱۰ الترمذی فی ۳/۵۸٤ رقم الحدیث ۱۲۸۹ والنسائی فی ۸/۸٤ رقم الحدیث ٤۹۵۷ وأحمد فی المسند ۲/۲۰۷.

([2]) أخرجه مالک فی المؤطأ ۲/۸۳۱ رقم الحدیث ۲۲ من کتاب الحدود.

دغه شان دمحفوظ مقام نه غلا وکړی شي نوپه اتفاق سره دلاس کټ کول دي په شرط ددې چې نصاب دقطع ته ورسيږي.

المراح د څاروو د ترلو ځای ته وايي چې هغې ته جنګي وايي. (المرقات ۱۸۰/۷، الکاشف ۱۷۶/۷)

## د ډاکو سزا لاس کټ کول نه دي

﴿۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ عَلَى

اوحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د ډاکو سزا دلاس کټ کول نه دي او کوم

الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

سړی چې خلقو لره لوټ کوي هغه زمونږ نه نه دی (يعني زمونږ په خودل شوې لار باندې تللو والا نه دی).

**توضيح**: المنتهب: دا ډاکو او شوکې کونکي ته وايي دا سړی او دده کردار اګر چې دغل نه دير زيات دی خو شريعت چې دغلا او سرقې کوم مفهوم پيش کړی دی په دې کې دچا محفوظ مال پټ په پټه د اخستلو مفهوم دی، لهذا قطع د يد په سرقه کې ده، او په نهبه کې نشته، د دې فرق نه معلومه شوه چې په شريعت کې باريک او دقيق فروقو لره هم نظر انداز نه کړی شول د انتهاب سزا جدا ده چې د مرتدينو په باب کې بيان کړی شوې ده (المرقات ۱۸۲/۷، ۱۸۱)

## خائن دقطع يد سزاوار نه دی

﴿۸﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ وَلَا مُنْتَهِبٍ

اوحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمايل د خيانت کونکي او لوټ کونکي او د تختو نکي لاس

وَلَا مُخْتَلِسٍ قَطْعٌ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي)[2] وَرُوِيَ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ»:

کټ کول مشروع نه دي. (ترمذی، نسائی، ابن ماجه، دارمی) او صاحب مصابيح په شرح السنة کې دا روايت نقل کړی دی

أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ[3] قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ

چې (يوه ورځ) حضرت صفوان بن اميه مدينې ته تشريف راوړو او په مسجد کې يې د سر لاندې خپل څادر

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۵۱ رقم الحديث ۴۳۹۱ وأحمد فی المسند ۳/۳۸۰.

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۵۲ رقم الحديث ۴۳۹۳ والترمذی فی ۴/۴۲ رقم الحديث ۱۴۴۸ والنسائی فی ۸/۸۸ رقم الحديث ۴۹۷۲.

(۳) أخرجه مالک فی المؤطأ ۲/۸۳۴ رقم الحديث ۲۸ من كتاب الحدود.

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَجَاءَ | سَارِقٌ | وَأَخَذَ | رِدَاءَهُ |
| کیخودلو اوده شوپه دي (دوران) کې یوغل راغلو او هغه تري هغه څادر (په مزه سره راخکلو (او تختیدل یې غوښتل) | | | |
| فَأَخَذَهُ | صَفْوَانُ | فَجَاءَ | بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| خو صفوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ونیولو او دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یې راوستلو (او واقعه یې بیان کړه، | | | |
| فَأَمَرَ | أَنْ تُقْطَعَ | يَدُهُ | فَقَالَ صَفْوَانُ: |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه دلاس کټ کولو حکم ورکړو. د حضرت صفوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (پرې رحم راغلو او هغه وویل | | | |
| إِنِّي لَمْ أُرِدْ هَذَا هُوَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: | | | |
| چې ده لره ماستاسو په خدمت د راوستلو اراده دا نه وه ماخپل څادر ده ته صدقه کړو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | |
| «فَهَلَا | قبل | أَن | تَأْتِينِي بِهِ» |
| وفرمایل بیا دې دده ما ته د راوستلو نه مخکې خپل څادر ده ته ولې نه صدقه کولو او ده لره دې | | | |
| وَرَوَى نَحْوَهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ عَبْدِ اللهِ بن صَفْوَان عَن أَبِيهِ[1] | | | |
| ولې نه معاف کولو. دغه شان روایت ابن ماجه عبدالله بن صفوان نه او هغه د خپل پلار (حضرت صفوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ | | | |
| والدارمي | عَن | ابْن | عَبَّاس (صَحِيح)[2] |
| نه) کړی دی او دارمی رحمه الله د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی. | | | |

**توضیح**: **علی خائن**: خائن هغه سړې ته وایې چې دچا په امانت کې خیانت کوي یا بالکل د دې نه انکار کوي، دا اګرچه د پره لویه ګناه ده خود سرقې خپل قواعد دي هغه ضابطې دلته نه پوره کیږي ځکه چې دا مال په یو لحاظ سره محرز نه دی ځکه چې داد هغه په خپل لاس کې دی.

**ولامختلس**: اختلاس د راشو کولو په معنی سره دی دا اګرچې لویه ګناه ده خو د سرقې تعریف په دې باندې نه صادقیږي لهذا د ید قطع نشته دی. (المرقات ۱۸۲/۷)

**فقال صفوان انی لم ارد هذا**: په مسجد کې چې کوم سړی اوده وو او څادر دهغه لاندې وو دا مال محرز محفوظ وو ددې په غلا سره لاس کټ کول ضروري وو مګر صفوان ته چې کله اندازه وشوه چې دا خو ددې بیچاره لوی نقصان وشو نو صفوان وویل چې څادر صدقه دی لاس دې کټ نه کړی شي نبی

---

(1) أخرجه ابن ماجه فی السنن ۲/۸۶۵ رقم الحدیث ۲۵۹۵ وأحمد فی المسند ۳/۴۰۱ (راجع الحدیث السابق)

(2) أخرجه الدارمی فی السنن ۲/۲۲۶ رقم الحدیث ۲۲۹۹ وأخرجه النسائی فی السنن ۸/۶۹ رقم الحدیث ۴۸۸۲.

علیه السلام وفرمایل چې دا خبره به تاهغه وخت اکولی کله چې دې مال د غل نه راوښتلو د راوښتلو او دجرم ثابت کیدو نه پس اوس دا حکم د حقوق العباد نه وتلو سره په حقوق الله کې داخل شو، لهذا اوس یې ته نه شي معاف کولی نو دپوره امت په دې باندې اتفاق دی چې دیو حد دثابتیدو نه پس او د حکم اورولو نه پس هیڅوک دا نه شي معاف کولی. (المرقات ۱۸۲/۷)

## د جهاد په سفر کې دې دغل لاس کټ نه کړی شي

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَنْ بُسْرِ بْنِ أَرْطَاةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: |
| او حضرت بسربن ارطاة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا فرمان واوریدلو چې په |
| «لَا تُقْطَعُ الْأَيْدِي فِي الْغَزْوِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ |
| غزوه کې به د قطع ید سزا نه نافذیږي (دې روایت لره ترمذی، دارمی، ابوداؤد او نسائی نقل کړی دی |
| إِلَّا أَنَّهُمَا قَالَا: «فِي السَّفَرِ» بدل «الْغَزْوِ»[1] |
| خو ابوداؤد او دنسائی په روایت کې د غزوې په ځای د سفر لفظ دی. |

**توضیح**: لاتقطع الأیدي فی الغزو: ددې یو مطلب دادی چې د مال غنیمت په غلا کې قطع ید نشته دی، ځکه په دې کې شبهه راغله په دې وجه چې په مال غنیمت کې ټول مجاهدین شریک دي نو کومه حصه چې هغه پټه کړه په هغې کې دا پخپله هم شریک دی، دویم مطلب دادی چې په میدان جهاد کې کچیرې یو مجاهد غلا وکړه او هغه د مال غنیمت نه هم نه دی نو د هغه لاس دې بیا هم کټ نه کړی شي په دې وجه چې ډیره ممکنه ده چې د هغه به زړه مات شي او کفارو طرفته به وتختي او مرتد به شي په دې وجه اوس صبر وکړئ کله چې واپس دار اسلام ته ورسیدو نو بیا به په ده باندې حد نافذ کړو. په میدان جهاد کې د حد نه نافذ کولو یوه وجه داهم ده چې هلته محکمه عدالت چیرته دی قاضی چیرته دی او امیر چیرته دی؟ امیر حرب لره د تنفیذ احکامو اختیار نشته دی. د جمهورو علماؤ خیال دی چې د غلا نه پس به حد په هر ځای کې نافذیږي که هغه دارالحرب وي یا دارالاسلام وي، هغوی قطع ید لره په نورو عباداتو باندې قیاس کوي چې مونځ روژه وغیره عبادات او د دې قواعدو ضوابط په دارالحرب کې موجود وي، لهذا د قطع ید او د حدودو تنفیذ هم هلته کیدل پکار دی. د احنافو سره صریح او صحیح احادیث دي چې قطع ید په جهاد کې نشته، یو روایت کې د غزوه په ځای فی السفر عبارت دی، طیبی ویلې دي چې سفر نه مراد جهاد دی. (المرقات ۱۸۴/۷)

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٦٣ رقم الحدیث ٤٤٠٨ والترمذی فی ٤/٤٣ رقم الحدیث ١٤٥٠ والنسائی فی ٨/٩١ رقم الحدیث ٤٩٧٩.

## په دویم دریم ځل دغلا کولو سزا

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم

او حضرت ابو سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا نقل کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ فِي السَّارِقِ: «إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُو ايَدَهُ

د غل په باره کې وفرمایل کله چې هغه غلا وکړي نو د هغه (ښي) لاس دې کټ کړی شي، بیاکه چیرې

ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا رِجْلَهُ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا يَدَهُ

غلا وکړي نو د هغه (کسه) خپه دې کټ کړی شي بیاکچیرې غلا وکړي نود هغه کس لاس دې کټ کړی شي

ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا رِجْلَهُ». رَوَاهُ فِي شرح السنة[1]

او که بیا غلا وکړي نو د هغه (ښي) خپه دې کټ کړی شي. (شرح السنة)

**توضیح**: **ثم ان سرق**: په دې باندې دفقهاو اتفاق دی چې اولاً په غلا کولو سره دې ښي لاس کټ کړی شي او ثانیًا دې په غلا کولو باندې کسه خپه کټ کړی شي خو د دې نه پس په دریم ځل به څه کول وي په دې کې دفقهاؤ اختلاف دی. (المرقات ۱۸۹/۷)

**دفقهاؤ اختلاف**: جمهور فرمایې چې که چیرې په دریم ځل دغلا ارتکاب وکړي نو د ده کس لاس دې کټ کړی شي، او په څلورم ځل دې ترې ښي خپه کټ کړی شي دې دپاره چې لنډی بوچی پاتې شي. د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد په دریم ځل او څلورم ځل باندې قطع د یدنشته دی. په دې وجه چې په دې سره به هغه سړی بالکل معطل (بیکاره) کیدو سره دهیڅ کار پاتې نه شي داسې سړی دې دائمي په جیل کې واچولی شي، ها که دتعزیر اومصلحت اوسیاست په بنیاد باندې ټول انډامونه کټ کړی شي نو داسې کیدی شي.

**دلائل**: جمهورو دمذکوره حدیث نه استدلال کړی دی په کوم کې چې دټولو انډامونو دکټ کولو ذکر دی.

احنافو د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفیصلې او د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفتوی نه استدلال کړی دی، حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائی: **انی لأستحیی من الله ان لا ادع له یدا یبطش بها ورجلا یمشي بها** یعنی ماله دالله تعالی نه حیاء راځي چې زه یې په داسې حالت کې پریږدم چې هغه نه خورلی شی او نه څه څکلی شي او نه استنجاء کولی شي. امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایې چې د دې حدیث نه معلومه شوه چې هغه مخکنی حدیث منسوخ الحکم دی ځکه چې ټول انډامونه ختمول دراصل انسان لره ختمول دي

---

(۱) أخرجه مرقاة المفاتيح ۷/۱۷۰ رقم الحديث ۳۶۰۲.

حالانکه ددې دپاره د قصاص نظام قائم دی. (المرقات ۱۹۰/۷)

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو غل راوستلی شو نو

قَالَ: «اقْطَعُوهُ» فَقُطِعَ ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم ورکړو چې دده (نبي) لاس کټ کړئ نو دهغه لاس کټ کړی شو، دوباره بیا هغه راوستلی شو

فَقَالَ: «اقْطَعُوهُ» فَقُطِعَ

نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم ورکړو چې (دده کسه خپه) کټ کړئ، نو دهغه (کسه خپه) کټ کړی شوه، بیا

ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّالِثَةَ فَقَالَ: «اقْطَعُوهُ» فَقُطِعَ

په دریم ځل راوستلی شو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم ورکړو (دده کس لاس) کټ کړئ، نو دهغه کس لاس کټ کړی شو

ثُمَّ جِيءَ بِهِ الرَّابِعَةَ فَقَالَ: «اقْطَعُوهُ» فَقُطِعَ

بیا په څلورم ځل راوستلی شو نو وې فرمایل چې (دده نبي خپه) کټ کړئ، نو دهغه (نبي خپه) کټ

فَأُتِيَ بِهِ الْخَامِسَةَ فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ»

کړې شوه، اوبیا په پنځم ځل راوستلی شو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم ورکړو چې دا ووژنئ، نو مونږ ه هغه

فَانْطَلَقْنَا بِهِ فَقَتَلْنَاهُ ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ

ونیولو او بو موتللو او مړ مو کړو، ددې نه پس مونږ دهغه لاش راښکلو او کوهي کې مو واچولو

وَرَمَيْنَا عَلَيْهِ الحجارةَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

او دپاسه مو پرې کانې وروغورزول (روایت کړې دې ابوداؤد، نسائی) او امام بغوی رحمه الله

وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ فِي قَطْعِ السَّارِقِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په شرح السنة کې دغل دلاس کټ کولو په باره کې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا فرمان نقل کړی دی

«اقْطَعُوهُ ثُمَّ احسموه»[2]

چې دده لاس کټ کړه او بیا دده (لاس) ته داغ ورکړه.

---

([1]) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٦٥ رقم الحديث ٤٤١٠.

([2]) أخرجه مرقاة المفاتيح ٧/١٧٤ رقم الحديث ٣٦٠٤.

**توضیح:** فقطع: دا څلور ځل دی اوبیا هم دغلا کولو په وجه سره تري خپه کټ کړی شوه، دجمهورو په نزد خو داترتیب دی چې ټول انداموته کټ کړئ، احناف فرمائی چې دایو جزئی واقعه ده د مزید لاښ کټ کولو نه ده بلکه په دریم ځل د غل د همیشه دپاره په جیل کې دبندولو حکم دی په دې حدیث کې په پنځم ځل غلا کولو باندې د لاس کټ کولو په ځای باندې دقتل کولو ویلی شوې دي اوپه دې عمل هم وکړی شو، احناف ددې جواب ورکوي چې دامسلسل قطع او بیا قتل کول دا یامنسوخ دی او یا دتعزیر حصه ده، یا قتل سیاسةً او حکمةً دی، یاداسړی مرتد شوی وو او دده دلاش په راخکلو سره د وړلو نه معلومیږي چې دا صورت د ارتداد وو یا دبغاوت وو ورنه د لاش بې حرمتی به نه کیده، هلته په صحیح او صریح حدیث کې راغلې دي چې دیو مسلمان قتلول د دې خبرونه علاوه نه کیږي: اول داچې څوک واده کړی وي او زنا وکړي، یا هغه څوک قتل کړی وي، او یا مرتد شوی وي، ددې دري خبرو نه علاوه یو مسلمان لره قتلول ډیر لوی جرم دی. (المرقات ۱۸۲/۷)

## سزا لره باعث دعبرت جوړول جائز دي

| |
|---|
| ﴿۱۲﴾وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ: أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ |
| اوحضرت فضاله بن عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې دنبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو غل راوستلی شو |
| فَقَطَعَتْ يَدَهُ ثُمَّ أَمَرَ |
| نو (دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په حکم سره) دهغه لاس کټ کړی شو بیاهغوی حکم ورکړو چې دده کټ شوی لاس |
| بِهَا فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ. |
| دده په څټ کې زوړند کړئ (دې دپاره چې نور تري عبرت واخلي) نوهغه دهغه په څټ کې زوړند کړی شو. |
| رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ[1] |
| (روایت کړې دي ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه) |

**توضیح:** فعلقت فی عنقه: یعنی دغل دکټ شوې لاس یې دهغه په څټ کې د زوړندولو حکم ورکړو. نبی علیه السلام داپه دې وجه وکړه چې دا سزا دخلقو دپاره باعث عبرت جوړه شي او نورخلق ددې جرم نه ځان وساتي، دارنګه تاریخ ګواه دی چې یو ځل نیم په داسې کولو سره اسلامی معاشره د غلا دګناهونو نه پاکه شوه لاس کټ کول دغلا سره لازم دي خو لاس په څټ کې زوړندول باعث دعبرت

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۶۷ رقم الحدیث ۴۴۱۱ والترمذی فی ۴/۴۱ رقم الحدیث ۱۴۴۷ والنسائی فی ۸/۹۲ رقم الحدیث ۴۹۸۲.

دی او په قرآن کریم کې **لکالامن الله** کې دې طرف ته اشاره هم موجوده ده، لهذا سزا لره باعث دعبرت جوړول جائز دي. امام شافعی او امام احمد بن حنبل فرمائی چې په څټ کې لاس زوړندول په قطع ید کې مسنون دی داسې کول پکاردي او ددې حدیث نه یې استدلال کړی دی.

امام ابو حنیفه فرمایي چې دا عمل د قطع د ید سره سیاسةً او مصلحةً او عبرةً دی دا څه مستقل سنت نه دی ځکه چې نبی علیه السلام دوام سره ددې التزام نه دی کړی، دقاضی د رایې به اعتبار وي، بهرحال کومو خلقو چې دطالبانو شرعی حدودو ته وحشیانه ویلې دي یا چیرته چې هم دشرعی حدودو نفاذ ته وحشیانه عمل وایې داخلق یاخو دلاندې درجې جاهلان دي، یادامنافقان دي اویاکافران دي، لږ اوګورئ په شریعت کې خو دومره قدر سختي هم جائز ده په دې کې په هغه خلقو هم رد دی چې وایې په نرمی یې پوهه کړه سزا مه ورکوه. (المرقات ۱۹۲/۷)

## هر کله چې شبهه راغله نو لاس به نه شي کټ کولی

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا سَرَقَ

اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کچیرې غلام غلا وکړي

الْمَمْلُوكُ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[1]

نو هغه خرڅ کړه اګرچې د نش په بدله کې خرڅول ولې نه وي. روایت کړې دې ابوداؤد او نسائی او ابن ماجه

**توضیح**: نَشٌّ: دنون په زبر او شین مشدد دی دا نیمه اوقیه یعنی شل دراهمو ته وایې مراد دادی چې کله غلام غلا وکړي او دغلا عادت جوړشي نو هغه په لږو او سپکو پیسو باندې خرڅ کړه، اوس دلته دامسئله ده چې که غلام دخپل آقا نه غلا وکړي نو دهغه لاس دې کټ کړی شي او که نه؟ نو په دې کې دفقهاؤ اختلاف دی:

**دفقهاؤ اختلاف**: امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمایې چې که غلام دخپل مولی نه غلا وکړي نو دهغه لاس دې کټ کړی شي که هغه غلام تختید لی وي یا تختید لی نه وي. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایې چې که غلام دخپل آقا نه یا ښځه دخپل خاوند نه یا خاوند دخپلې ښځې نه یا غلام دخپل آقا د ښځې نه غلا وکړي نو دهغه لاس به نه شي کټ کولی همدا مسلک دامام احمد بن حنبل رحمه الله دی. (المرقات ۱۹۲/۷)

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٦٧ رقم الحديث ٤٤١٢ والنسائی فی ٨/٩١ رقم الحديث ٤٩٨٠ وابن ماجه فی ٢/٨٦٤ رقم الحديث : ٢٥٨٩.

**دلائل** : د امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله دلیل هغه روایت دی په کوم کې چې راغلې دي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل غل غلام لره سعید ته حواله کړو چې لاس ورله کټ کړي.
حنابله او احناف فرمائی چې غلام دخپل مولی سره په طعام کې شریک دی لهذا د مولی مال د غلام دپاره محرز نه دی په دې کې شبهه راغله. حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې تاوان او قطع ید لره مسترد کړی هغوی وفرمایل (**هو خادمکم اخذ متاعکم**) په حدیث نمبر ۱۵ کې دا حدیث راځي. (المرقات ۱۹۲/۷)

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث

## دمجرم دمعاف کولو حق حاکم ته حاصل نه دی

| ﴿۱۴﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
|---|
| حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائی چې (یوه ورځ) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو غل راوستلی شو او کله |
| بِسَارِقٍ فَقَطَعَهُ فَقَالُوا: مَا |
| چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دهغه د لاس کټ کولو حکم ورکړو نو صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې مونږ ته دا خیال نه وو |
| كُنَّا نَرَاكَ تَبْلُغُ بِهِ هَذَا |
| چې تاسو به د لاس کټ کولو حکم فرمایې (بلکه زمونږ گمان خو دا وو چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ به ده لره معاف کړي) |
| قَالَ: «لَوْ كَانَتْ فَاطِمَةُ لَقَطَعْتُهَا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ[1] |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (دې اوریدو سره) وفرمایل چې کچیرې فاطمه (بنت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هم وی نو ما به د هغې لاس هم کټ کولو. |

**توضیح** : **ما کنا نراک** : دا صیغه مجهوله ویلی شي او ترجمه د معروف کیږي یعنی زمونږ په تاسو دا گمان او خیال نه وو، صحابو دلاس نه کټ کولو خیال په دې وجه سره وکړو چې غالبًا دا سړی د نبی علیه السلام په رشته دارو کې وویایې په خاصو متعلقینو کې وو خو نبی علیه السلام دین اسلام او دهغې اصولو ته وکتل او ددې خلقو په تعجب یې په جواب کې وفرمایل چې که د سرقې د حد ارتکاب که زما لور فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم وکړي نو دالله تعالی دحکم په مخکې به رکاوټ نه جوړیږم. (المرقات ۱۹۲/۷)

---

(۱) أخرجه النسائی فی السنن ۸/۷۴ رقم الحدیث ٤٨٩٦ وأحمد فی المسند ٦/٤١ .

## کچیرې غلام دخپل مالک نه غلا وکړي نو د هغه لاس به نه شي کټ کولی

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بِغُلَامٍ لَهُ فَقَالَ:

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې یو سړي حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خپل غلام راوستلو او وې ویل چې د

اقْطَعْ يَدَهُ فَإِنَّهُ سرقَ مرآةً لأمرأتي فَقَالَ عمرُ رَضِيَ الله عَنهُ:

ده لاس کټ کړه ځکه چې ده زما د ښځې آینه (شیشه) پټه کړې وه، خو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل:

لَا قَطَعَ عَلَيْهِ وَهُوَ خَادِمُكُمْ أَخَذَ مَتَاعَكُمْ. رَوَاهُ مَالك[1]

چې دا د قطع د ید مستوجب نه دی ځکه چې ستاسو خدمت ګار دی او هم ستاسو څیزې اخستی دی. (مالک)

**توضیح**: دا حدیث د ائمه احنافو بهترین مستدل دی چې غلام ته دخپل مولی په مال کې یو قسم شراکت حاصل دی.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د دې علت طرف ته اشاره وفرمایله چې د غلام په مخکې ستا مال محرز نه دی

لهذا قطع ید نشته ځکه چې شبهه راغله الحدود تندرئ بالشبهات یوه عامه ضابطه ده د دې نه مخکې په حدیث نمبر ۱۳ کې اختلاف د ائمو تیر شوی دی.

دا حدیث د احنافو دلیل دی، اوپه دې کې علت او وجې طرف ته هم اشاره ده. (المرقات ۱۹۴/۷)

## د کفن پټونکی لاس به کټ کولې شی یا نه؟

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ»

او حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې (یوه ورځ) رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل ای ابو ذر! ما

قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ الله وَسَعْدَيْكَ قَالَ:

عرض وکړو زه حاضر یم ای دالله رسوله! او تابعداریم وې فرمایل څه ارشاد دی؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

«كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ

ته به هغه وخت څه کوې هر کله چې خلقو لره مرګ، او د قبر ځای به دیو غلام برابرشي (یعنی هغه وخت

يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ» يَعْنِي الْقَبْرَ

کې د وباء د وجې نه به په دومره کثرت سره مرګونه وي چې د یو یو قبر ځای به دیو غلام د قیمت برابر

---

[1] أخرجه مالک فی المؤطأ ۸۳۹/۲ رقم الحدیث ۳۳ من کتاب الحدود.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قُلْتُ: | اللهُ | وَرَسُولُهُ | أَعْلَمُ. | قَالَ: |
| اخستلې شی، ما عرض وکړو چې ددې متعلق الله او دهغه رسول ښه پوهيږي نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې | | | | |
| «عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ» قَالَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ: تُقْطَعُ يَدُ النَّبَّاشِ | | | | |
| هغه وخت په تاباندې صبر لازم دی، حضرت حماد بن سلمه وايي چه دکفن د پټونکي لاس به کټ کولی | | | | |
| لِأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْمَيِّتِ بَيْتَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] | | | | |
| شي ځکه چې هغه دمړي کور ته داخل شوی دی. (ابو داؤد) | | | | |

**توضيح** : **الوصيف** : ددې جمع وصائف ده چې کوم هلک يا غلام دخدمت قابل شي هغه دنوي عمر ښائسته هلک ته وصيف وايي هم ددې نه **المستوصف** اخستی شوی دی چې دسپنسری ته وايي. (المرقات ۱۹۴/۷)

**لباش** : کفن کش ته وايي داسړی قبر ته کوزيږي او د مړی نه نوی کفن راوباسي پټوي يې، اوس ددې غلا سزا څه ده آيا ده دمال محرز غلا کړې ده يا ددې څه حکم دی؟ په دې کې د فقهاؤ معمولي غوندې اختلاف دی. (المرقات ۱۹۵/۷)

**د فقهاؤ اختلاف** : د جمهورو فقهاؤ په نزد دکفن دپټولو په عمل باندې به دکفن کش لاس کټ کولی شي، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به لاس نشي کټ کولی البته بطور تعزير به سزا ورکولی شي.

**دلائل** : جمهورو د زيرنظر حديث نه استدلال کړی دی داستدلال طرز يې عجيبه دی هغه داسې چې نبی عليه السلام دحضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د يوې زمانې د تنګۍ او وبائي مرضونو د وجې نه په کثرت سره دمړګونو طرف ته اشاره کړې ده چې هغه وخت د يو بدن برابر د قبرځای يعنی مړي دپاره به د يو غلام په عوض کې ملاويږي.

حماد بن ابی سليمان په دې لفظ کې يوه دقيقه ځکته پيدا کړې ده چې د مړي قبر دهغه کور دی او په کورکې چې کوم مال وي هغه محفوظ او محرز وي، لهذا کچيرې څوک قبر يعنی دمړي کور ته ننوځي د کفن غلا وکړي نوپه دې کې دلاس کټ کيدل پکار دي ځکه چې ده مال محرز لره د پټولو سره غلا وکړه.

جمهورو ددې روايت نه استدلال هم کړی دی په کوم کې چې دي **من نبش قطعنا** (رواه البيهقي) (

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥٦٤ رقم الحديث ٤٤٠٩.

المرقات ۱۹۵/۷)

دجمهورو عقلی دلیل دادی چې دکفن کش غل دی او غلا سرقه ده په کومه کې چې قطع دیدده، امام ابوحنیفه رحمه الله ددې حدیث نه استدلال کړی دی **لیس علی النباش قطع** (**مصنف ابن ابی شیبه**) دارنګه د حضرت معاویه رضی الله عنه په دور کې په دې مسئله باندې بحث وشو نو عامو صحابو د قطع دید نه منع وکړه او تعزیر یې جاري کړو دهغوی عقلی دلیل دادی چې کفن مال محرز نه دی ځکه چې قبر مکان محرز نه دی. (المرقات ۱۹۶/۷)

احنافو دجمهورو دمستدلاتو متعلق ولې دي چې دمحدثینو په نزد دا روایات منکرات دي او که صحیح هم دي نو دا حکم **سیاسةً او مصلحةً اوزجراً** ذکر دی.

**نوټ**: دجمهورو په نزد کچیرې غل یو ځل غلا وکړي نو د قطع د ید دپاره دا اقرار به کافی شي دجمهورو په مقابله کې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چې کله باربار دغلا اقرار کوي نو بیا خو به غلا ثابته وي او قطع د ید به وي. (المرقات ۱۹۶/۷)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

# بَاب الشَّفَاعَة فِي الْحُدُود
## په حدودو کې دسفارش بیان

په دې باب کې دهغه احادیثو بیان دی د کوم مونه چې معلومیږی چې آیا د چادپاره دا جائز دي چې هغه د حاکم په مخکې دا سفارش وکړي چې فلانی مجرم معاف کړه اوپه هغه باندې حد مه جاری کوه او دا چې خبره هم معلومه شي چې حاکم د هغه سفارش د قبلولو اختیار لري یا نه، یاد ساته د دنیا هر هغه قانون به معطل کیږي په کوم کې چې دري رعایتونه پیدا شي: اول د سفارش رعایت، دویم د رشوت رعایت، دریم د رشته دارئ رعایت. اسلام چونکه یو ژوندی مذهب او ژوندی قانون دی په دې وجه په دې کې د سفارشونو او رعایتونو ګنجائش نشته دی چې په هغې سره د دې د اقانون بیکاره شي نو ملا علی قاري رَحِمَهُ اللهُ په دې مقام کې لیکلي دي. چې د حدودو مقدمه کله د حاکم عدالت ته ورسي نو په دې کې سفارش کول حرام دي او په دې باندې د امت اجماع ده او که مقدمه تر اوسه پورې لا د حاکم په مخکې نه ده پیش شوې نو حاکم ته درسیدو نه مخکې د اکثرو علماؤ په نزد جائز دی په شرط د دې چې په دې سړي کې شر او فساد نه وي د کوم د چادپاره چې سفارش کولی شي. د حدودو نه علاوه په تعزیراتو کې سفارش مطلقًا ناجائز دی ځکه چې د تعزیر تعلق نسبتًا د سپک جرم سره دی د بې ځایه او په ځای د سفارش د مفهوم په هرځای کې لحاظ کول پکار دي. (المرقات ۱۹۸/۷)

## اَلْفَصْل الأول
## د حد د منعه کولو د چادپاره سفارش منع دې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱﴾ عَن | عَائِشَةَ | رَضِيَ | اللهُ | عَنْهَا | أَنَّ | قُرَيْشًا |

د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بیان دی چې (یو ځل) قریشو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د یوې مخزومي ښځې په باره کې ډیر فکرمند وو

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| أَهَمَّهُمْ | شَأْنُ | الْمَرْأَةِ | الْمَخْزُومِيَّةِ | الَّتِي | سَرَقَتْ |

چې هغې غلا کړې وه (او د خلقونه یې عاریةً سامان اخستو سره مکرهم کولو او نبی عَلَيْهِ السَّلَام د هغې دلاس کټ کولو حکم

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فَقَالُوا: | مَنْ | يُكَلِّمُ | فِيهَا | رَسُولَ | اللهِ | صَلَّى | اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ؟ |

ورکړی وو) د قریشو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په خپل مینځ کې مشوره وکړه چې د دې ښځې په مقدمه کې کوم سړی د

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَقَالُوا: | وَمَنْ | يَجْتَرِئُ | عَلَيْهِ |

نبی عَلَيْهِ السَّلَام سره خبرې اترې (یعنی سفارش) کولی شي او بیا هغوی وویل چې د حضرت اسامه بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سره دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ډير محبت او تعلق دی نو په دې وجه دې متعلق دهغوی سره د څه ویلو جرأت د اسامه نه علاوه بل

فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ. فَقَالَ

څوک نه شي کولې حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دهغه خلقو په ویناباندې) دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره خبرې اترې وکړې.

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ؟»

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (دهغه خبرې اوریدو سره) وفرمایل چې ته دالله تعالی په حدودو کې دیو حد په باره کې سفارش کوې.؟

ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ ثُمَّ قَالَ:

او بیانبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ودریدو او خطبه یې ورکړه او (د حمد او ثنانه پس یې په دې خطبه کې) وفرمایل

«إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ

چې ستاسونه مخکې چې کوم خلق تېرشوي دي هغوی دې څیزهلاک کړل چې په هغوی کې به کوم

أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ

شریف سړي (یعنی دنیاوي عزت او طاقت والا) غلا کوله نو هغه به یې (د سزا ورکولو نه بغیر) پریخودلو

وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللهِ

اوکه په هغوی کې به کوم کمزوري او غریب سړي غلا کوله نو سزا به یې ورکولهپه الله قسم! کچیرې د

لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم غلا وکړي نو زه به دهغې لاس کټ کوم. (بخاری ومسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: قَالَتْ: كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ

اودمسلم په یو روایت کې داسې دي چې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بیان وکړود یوې مخزومي ښځې

تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ

(داعادت) وو چې هغې به دخلقو نه عاریةً څه څیزواخستلو او بیابه یې ورته انکار کولو، نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د

فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِ يَدِهَا

هغې دلاس کټ کولو حکم ورکړو. (کله) چې دې ښځې عزیزانو (ته دې علم وشو نو هغوی)

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَأَتَى | أَهْلُهَا | أُسَامَةَ | فَكَلَّمُوهُ |
| حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته لاړل او دهغه سره يې ددې په باره کې خبرې اترې وکړې (چې هغه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ | | | |
| فَكَلَّمَ | رَسُولُ اللهِ | صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ فِيهَا |
| ته سفارش وکړي) او بيا حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ددې متعلق عرض وکړو. ددې نه د | | | |
| ثُمَّ ذَكَرَ الحديثَ بنحوِ مَا تقدَّمَ[1] | | | |
| روستو حديث هم هغه الفاظ ذکر دي چې کوم پاس نقل کړی شو. | | | |

**توضيح** : **اهمهم** : يعنی قريشو يې پريشانه کړي وو. **المرأة** : دا ښځه فاطمه بنت اسود بن عبد الاسد وه چې دابوسلمه ورېره وه. **المخزومية** : يعنی د قريشو دلوي قبيلې بنو مخزوم سره يې تعلق وو. د ابوجهل تعلق ددې قبيلې سره وو. **ومن يجترئ**: يعنې دسفارش جرأت څوک کولی شي يعنې څوک يې نه شي کولی دا استفهام انکاري دی. **حب رسول الله**:يعنې دمحبوب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالفظ دحا په کسرې سره دی او با باندې شد دی **فاختطب**:اختطاب دخطبې ورکولوپه معنی دی، يعنې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دصحابو په مخکې بيان وکړو دې دپاره چې ددې بې ځايه سفارش نوعيت په ټولو باندې واضح شي. **ايم الله** : دا قسم الفاظ دي اي اقسم بالله يعنی دالله قسم خورلو سره وايم.

**تستعير**: په عاريت باندې سامان غوښتل. **وتجحده** يعنې بيابه يې انکار کولو، شارحين دحديث ليکي چې په دې کلام سره مقصود صرف دهغې ښځې تعارف کول دي، ځکه عاريت باندې اخستلی شوی څيزنه انکار باندې قطع يد واجب نه دی، او په حقيقت کې واقعه هم داسې نه وه بلکه دراصل هغه ښځه دغلا عادت وه. (المرقات ۱۹۸/۷)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## په حدودو کې رکاوټ اچونکي د الله تعالی مخالفت کوي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۲﴾ عَنْ | عَبْدِ اللهِ | بْنِ | عُمَرَ | قَالَ: | سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُول: |
| حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوريدلو چې دکوم | | | | | |

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ٦ رقم الحديث ٣٤٧٥ ومسلم فی ٣/١٣١٥ رقم الحديث (١٦٨٨-٨) والترمذی فی ٤/٢٩ رقم الحديث ١٤٣٠

| |
|---|
| «مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ |
| سړي سفارش د الله تعالی د حدودو نه د کوم یو حد په مینځ کې حائل وي هغه د الله تعالی سره ضد |
| فَقَدْ ضَادَّ اللهَ وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ |
| وکړو (او گویا د اسې هغه د الله تعالی مخالفت وکړو ځکه چې د الله تعالی حکم هم دا دی چې حد دې جاری کړي) او کوم سړي |
| وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سُخْطِ اللهِ تَعَالَى |
| چې پوهیږي هم او په ناحقه او دروغ خبره باندې چا سره جګړه کوي نو هغه ترهغه وخته پورې د الله تعالی په غضب کې اوسي |
| حَتَّى يَنْزِعَ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ |
| ترڅو پورې چې د دې نه منع نه شي . او چا چې د یو مؤمن په باره کې څه د اسې خبره وکړه چې په هغې |
| مَا لَيْسَ فِيهِ أَسْكَنَهُ اللهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ |
| کې نه شي موندلی نو هغه لره به الله تعالی ترهغه وخته پورې د دوزخ په خبټه، پیپ او وینه کې ساتي |
| حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد |
| ترڅو پورې چې هغه د خپلې ویلی شوې خبرې نه ونه وځي. دې روایت لره امام احمد رحمه الله او ابو داؤد نقل کړی دی. |
| وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبَيْهَقِيِّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ «مَنْ أَعَانَ عَلَى خُصُومَةٍ |
| او بیهقی په شعب الایمان کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې کوم سړی په د اسې جګړه کې مدد وکړي چه د هغې |
| لَا يَدْرِي أَحَقٌّ أَمْ بَاطِلٌ فَهُوَ فِي سَخَطِ اللهِ حَتَّى يَنْزِعَ»[1] |
| د حق او ناحق کیدو ده ته علم نشته نو ترڅو پورې چې هغه د خپل مدد نه منع نه شي د الله تعالی په غضب کې به اوسي. |

**توضیح**: حالت: د حیلولت نه د حائل او د رکاوټ په معنی سره دی دون حد دون د جدا جدا په معنی سره دې دا لفظ کله د سوا په معنی سره هم راځي او کله د ادون د کم تر په معنی سره هم راځي یعنی حد هلته پاتې شو او د دې سړی سفارش مخکې مخکې راغی حائل شو ینزع د وتلو او روستو کیدلو په معنی سره دی. ردغة په راء باندی زبر او په دال باندې سکون هم جائز دی او زبر هم صحیح دی

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۴۳ رقم الحدیث ۳۵۹۷ وأخرجه ابن ماجه فی ۲/۷۷۸ رقم الحدیث ۲۳۴۰ وأحمد فی المسند ۲/۷۰ والبیهقی فی الشعب ۶/۱۲۴ ، رقم الحدیث ۷۶۷۶.

ختمې او خاورې ته هم وایي. الخبال په خاء باندې زبر دی د فساد په معنی سره دی دلته د دوزخیانو دبدن وینه او پیپ مراد دی کوم چې په نورو حدیثونو کې ورته عصارة اهل النار ویلی شوی دی، بعضو شارحینو ویلې چې خبال د دوزخ دیوې کندې نوم دی چیرته چې وینې پیپ جمع کیږی، بهرحال د دې مجموعه کلمې ترجمه په خیرې سره کولی شي چې د دوزخیانو پیپ وینه او نورو د ګندګو خیرې به څکي. اعاذنا الله منه (المرقات ۱۹۹/۷)

## د جرم په اقرار باندې د غلا سزا

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الْمَخْزُومِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلِصٍّ

او حضرت ابو امیه مخزومي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کوي چې (یوه ورځ) د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې یو غل پیش کړی شو

قَدِ اعْتَرَفَ اعْتِرَافًا وَلَمْ يُوجَدْ مَعَهُ مَتَاعٌ

چې هغه د خپل جرم ښکاره اعتراف او اقرار وکړو (د غلا د مال نه) څه شیز د هغه سره راونه وتلو نو

فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَخَالُكَ سَرَقْتَ». قَالَ: بَلَى

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې زما خیال نه دی چې تا غلا کړې ده هغه وویل چې آو! ما غلا کړې ده

فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا

نبی علیه السلام دوه درې ځله وویل (چې زما خیال نه دی چې تا غلا کړې ده) مګر هغه به هر ځل دا

كُلَّ ذَلِكَ يَعْتَرِفُ فَأَمَرَ بِهِ فَقُطِعَ

اعتراف او اقرار کولو (چې ما غلا کړې ده) آخر دا چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه د لاس کټ کولو حکم جاري کړو

وَجِيءَ بِهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

بیا د لاس کټ کولو نه پس هغه د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې راوستلی شو نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمایل

«اسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ»

چې (د خپلې ژبې په ذریعې سره) د الله تعالی نه بخښنه وغواړه (او د خپل زړه په ذریعې سره) هغه

فَقَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ

ته متوجه شه. هغه وویل زه د الله تعالی نه بخښنه غواړم او هغه طرف ته متوجه کیږم (یعنی توبه کوم)

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللّٰهُمَّ تُبْ عليهِ» ثَلَاثًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې ځله وفرمایل ای الله! دده توبه قبوله کړه. (روایت کړې دې ابو داؤد،

| |
|---|
| وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ هٰكَذَا وجدتُ فِي |
| نسائی، ابن ماجه، دارمی) او (صاحب مشکوة فرمایي چې) ما دې روایت لره په دې څلورو کتابونو |
| الْأُصُول الْأَرْبَعة وجامع الْأُصُول وَشُعَبُ الْإِيمَانِ |
| (ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه، دارمی) کې په جامع الاصول کې، او د بیهقی په شعب الایمان کې، او خطابی |
| وَمَعَالِمُ السُّنَنِ عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ[1] |
| په معالم السنن کې دغه شان یعني ابو امیه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل موندلی شي خو د مصابیح په بعضي نسخو |
| وَفِي نُسَخِ الْمَصَابِيحِ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ بِالرَّاءِ |
| کې دې روایت کې ابو رمثه د همزې او دیاء په ځای راء مکسوره او ثاء مثلثه سره نقل دی (خو حضرت شیخ |
| والثاء الْمُثَلَّثَة بدل الْهمزَة |
| حافظ ابن حجر عسقلانی وضاحت کړی دی چې دې روایت د ابو رمثه نه نقل کیدل غلط دي، او ابو رمثه |
| وَالْيَاء (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲) |
| اګرچې صحابی دی خو دا روایت دهغه نه منقول نه دی. |

**توضیح:** ما اخالک: په همزه باندې زیر ویلی شي دا زیات راجح دی دا د خال یخال نه د اظن په معنی سره دی په دې جملې سره د نبی عَلَيْهِ السَّلَام مقصود دا وو چې دا سړی دخپل اعترافی بیان نه منع شي یا بیان بدل کړي دې دپاره چې دې نه حد ساقط شي او په حدود الله کې دغه شان تلقین د حاکم دپاره یا قاضی دپاره مناسب دی.

دې عمل نوم تلقین عذر دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا عمل په ټولو حدودو کې جائز دی خو امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او نور آئمه تلقین عذر صرف د حد زنا سره خاص کوي. **اللّٰهم تب علیه:** دې نه دا خبره معلومیږي چې حدود الله زاجرات دي طاهرات نه دي ځنګه چې د احنافو مسلک دی، دلته د حد قائمولو نه پس هم د استغفار دعاء کول دې تائید دی اګر چې واضح تر احادیث د حدودو د مکفرات او طاهرات کیدو باندې دال دي، او دا مسئله په تفصیل سره تېره شوې ده (المرقات ۲۰۰/۷)

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۴۲ رقم الحدیث ۴۳۸۰ والنسائی فی ۸/۶۷ رقم الحدیث ۴۸۷۷ وابن ماجه فی ۲/۸۶۶ رقم الحدیث ۲۵۹۷.

(۲) مصابیح السنة ۲/۵۵۳ رقم الحدیث ۲۷۴۱.

# بَاب حد الْخمر
# د شرابو د حد او د حرمت بیان

قال الله تعالى: (ويسئلونک عن الخمر والميسر قل فيهما اثم كبير ومنافع للناس واثمهما اكبر من نفعهما) (البقرة: ۲۱۰)

وقال تعالى: (يا ايها الذين آمنوا لا تقربوا الصلوة وانتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون) (النساء ۴۳)

(وقال تعالى: يا ايها الذين آمنوا انما الخمر والميسر والانصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون) (مائدة: ۹۰)

(انما يريد الشيطان ان يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر ويصدكم عن ذكر الله وعن الصلوة فهل انتم منتهون) (مائدة: ۹۱)

**الخمر**: د خمر معنی د پټولو ده او نصر او ضرب نه ددې ماده کې د ستر او د پټولو معنی پرته ده چونکه په شرابو سره په عقل باندې پرده پریوځي او خمر عقل لره پټوي په دې وجه دې ته خمر ویلی شوی دی. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د شرابو متعلق وفرمایل **انها تذهب العقل وتذهب المال** دا خبره د نیمې ورځې دنمر په شان روښانه ده چې د ټول انسانی اقدارو مدار په عقل باندې دی ځکه چې عقل دښه او بد تمیز کوي د شرابو په څکلو سره د انسانیت او انسان تمیز د انسان نه رخصت کیږی او انسان د حیواناتو په زمره کې داخلیږی هغه په مور، لور، ښځه او خور کې تمیز نه شي کولی، اسلام د انسانی صفاتو او اقدارو حفاظت کونکی ژوندی آسماني مذهب دی په دې وجه یې د انساني صفاتو په خرابونکي ام الخبائث باندې پابندي ولګوله، قرآن کریم دا حرام وګرځول یا احادیثو ددې د حرمت فیصله اوکړه، او اجماع د امت په دې باندې د حرمت اتفاق وکړو لهذا اوس شراب د اسلام دمنونکو دپاره په قطعی طور باندې حرام دي، او ددې د حرمت منکر کافر دی خو چونکه د عربو په معاشره کې د شرابو استعمال دهغوی د معاشرې لازمي حصه جوړه شوې وه ددې تعلق د انسان داسې عادت جوړ شوی وو چې هغې لره په فوری طور باندې په یو حکم سره د هغوی د عاداتو نه وتل او مختصره موده کې دا عادات دهغوی نه وبستل آسان نه وو په دې وجه اسلام تدریجًا او مرحله وار ددې د حرمت حکم وفرمایلو په قرآن کریم کې په څلورو مرحلو سره څلور قسمه آیتونو کې ددې ذکر شوی دی. د ټولو نه اول آیت مکه مکرمه کې نازل شو چې په هغې کې د

شرابو د جوړولو ذکر په دې شان شوی دی. (**ومن ثمرات النخيل والاعناب تتخذون منه سكرًا ورزقنا حسنا**) (النحل: ٦٧) دا مکی دور وو بیا مدنی دور کې حضرت عمر رضی الله عنه او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم حضور صلی الله علیه وسلم ته وویل **افتنا فی الخمر والميسر يارسول الله** په دې باره کې دا آیت نازل شو: (**ويسألونك عن الخمر والميسر قل فيهما اثم كبير ومنافع للناس واثمهما أكبر من نفعهما**). (بقرة: ۲۱۹) په دې آیت سره سنجیده خلقو شراب پریخوستل بیا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په مدینه کې یو دعوت وکړو په هغې کې حضرت علی رضی الله عنه شریک شو او دخوراک نه پس دشرابو نمبر راغی دحضرت علی رضی الله عنه بیان دی چې ددې نه پس د مونځ وخت شو او خلقو زه مونځ دپاره مخکې کړم نو ما ولوستل.: (**قل يأيها الكافرون لا اعبد ما تعبدون ونحن نعبد ما تعبدون**) (الکافرون: ۱) په دې باره کې الله تعالی دا آیت نازل کړو: (**وقال تعالى: يا ايها الذين آمنوا لاتقربوا الصلوة وانتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون**) (نساء: ۴۴) (**كذا في المرقات**)

په دې آیت او دې حکم سره په زیاترو وختونو کې په شرابو باندې پابندي ولګیده ځکه چې په پنځه وخته مونځونو کې چې یوبل ته نزدې دي ددې په مینځ کې دشرابو استعمال بند کړی شو اوس صرف دسحر اوماسپښین په مینځ کې او دماسخوتن او سحر په مینځ کې وخت زیات پاتې شو په دې سره د شرابو دعادي خلقو عادت کافي حده پورې په قابو کې راغلو.

ددې نه روستو بله لویه حادثه دا وشوه هغه داسې چې دحضرت علی رضی الله عنه دوه اوښې د یو انصاري دکور خواکې ترلی شوې وې په اتفاق سره هلته نزدې دخوراک محفل قائم شو او دشرابو نمبر چلیدو حضرت حمزه رضی الله عنه دنشې په حالت کې وو چې یوې وینځې څو شعرونه وویل په هغې کې یوه تکره دا وه **الا يا حمز للشرف النواء** ای حمزه دا نزدې دوه څربې څربې اوښانې دي ددې د غوښو انتظام به څوک کوي. حضرت حمزه رضی الله عنه ودریدو او دحضرت علی رضی الله عنه د دواړو اوښو کوهان (کوپي) یې کټ کړل غوښه یې محفل والو باندې وخوړله. حضرت علی رضی الله عنه چې کله دا منظر ولیدلو نو په منډه دنبی علیه السلام خوا ته راغلو او وې فرمایل چې ما دخپلې ولیمې دپاره اوښانې ساتلې وې حمزه دهغې قُب او اُولي کټ کړل نبی علیه السلام په غوسه کې پاسیدو او دحمزه رضی الله عنه خوا ته لاړلو او تپوس یې تري وکړو چې دا دې څه وکړل؟ حضرت حمزه رضی الله عنه په نشه کې وو لاندې باندې یې وکتل او بیا یې وویل چې تاسو ټول زما دپلار غلامان یې، نبی علیه السلام واپس شو او وې فرمایل چې دا په دې حالت کې پریږدئ دا په نشه کې دی.

علامه نووی رحمه الله د مسلم په حاشیه کې هغه ټولو شعرونو لره نقل کړې دي د فائدې د پاره په خدمت کې پیش دي. (مسلم ج۲ باب الاشربة)

الا یاحمز للشرف النواء وهن معقلات بالفناء

**ترجمه**: ای حمزه دکور په صحن کې دا څربې اوښاني تړلې دي دې طرف ته متوجه شه

ضع السکین فی اللبات منها ضرجهن حمزة بالدماء

**ترجمه**: ددې په مرو باندې چاړه کیږده او دوی لره په وینو کې لت پت کړه.

وعجل من اطایبها لشرب قدیدًا من طبیخ او شواء

**ترجمه**: د شرابو نه پس ددې ښه ښه غوښه تکړې تکړې کولو سره پخه کړه یا یې وریتولو سره وخوروه.

نبی علیه السلام په دې موقعه باندې د الله تعالی نه داسې دعا وغوښتله **اللّٰهم بین لنا بیانا شافیا**

په دې باره کې د سورة مائدې هغه آیتونه نازل شول چې په هغې کې دوه ما ددې باب په ابتداء کې لیکلي دي په دې آیت کې حکم دی چې **فهل انتم منتهون** یعنی ددې ګنده او نجس څیز نه اوس منع شئ.

د نسائی په یو روایت کې دي چې حضرت عمر رضی الله عنه د اولو دوه آیتونو باره کې وفرمایل: **اللّٰهم بین لنا فی الخمر بیانا شافیا**

کله چې دا آیت نازل شو نو وې فرمایل انتهینا انتهینا ددې نه پس د مدینې په کوڅو کې د شرابو نهرونه بهیدل او ددې ام الخبائث نه د مسلمانانو زړونه او دماغ محفوظ شو، او د حرمت قطعی حکم راغلو اوس چې کوم مسلمانان شرابو لره حلال ګڼي او حرام ورته نه وایي هغه کافر دي او څوک چې یې حرام ګڼي او څکي یې هغه په حرامو او ګناه کبیره کې مبتلا دی. د خمر تعریف په آینده باب بیان الخمر کې راځي.

## الْفَصْل الأول

## د نبی علیه السلام په زمانه کې د شرابو د څکلو سزا

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ |
| حضرت انس رضی الله عنه وایي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شرابو څکلو د حد (سزا) د کجورو په ښاخونو |
| فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| (چوکو) او څپلو سره وهلی دی (یعنی د وهلو حکم یې ورکړی) او حضرت ابو بکر رضی الله عنه (په خپل دور |

| |
|---|
| أربعينَ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] وَفِي رِوَايَة |
| خلافت کې د شرابو څکونکی څلويښت کوړې وهلی دی (بخاری ومسلم) او په يو روايت کې |
| عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَضْرِبُ فِي الْخَمْرِ |
| حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا سې نقل دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام د شراب نوشی په حد (سزا) کې به يې |
| بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيدِ أَرْبَعِينَ أخرجه البخاري (صَحِيح)[2] |
| څلويښت د کهجورو په څانګو او په څپلو وهلو (يعنی د وهلو حکم به يې کولو) |

**توضيح** : **ضرب فی الخمر بالجريد:** کچيرې کوم سړی شراب وڅکي اګر چې لږ مقدار کې وي نو بيا به هغه حاکم ته بوتللی شي او که هغه وخت دهغه سړي په خوله کې د شرابو بدبوی موجوده وي يا دنشې په حالت کې پيش کړی شوی وي او دوه سړي دهغه په شراب څکلو باندې ګواهي ورکړي يا په خپله دخپلو شرابو څکلو اقرار وکړي او دا معلومه شي چې دې سړي په خپل اختيار سره څکلي دي چا پرې زبردستی نه وي کړې نو په دې سړي به د خمرو حد جاری کولی شئ، کيرې هغه سړی آزاد وي نو اتيا (۸۰) کوړې دي او که غلام وي نو څلويښت (۴۰) کوړې به وهلی شي، ياد ساته چې دخمرو په حد او د زنا په حد کې به په کوړو دبدن هغه حصې وهلی شي چې کومې حصې نرمې وي دغه شان به دبدن مختلفو حصو باندې تقسيمولی شي په يوه حصه باندې نه، کچيرې دشرابي د خولې نه بدبويې ختمه شوې وي نو قاضی په هغه باندې د حد حکم نه شي کولی دغه شان کچيرې اقراريې هم کړی وي يا دوه ګواهانو ګواهي ورکړې وي مګر دخولې نه يې بدبويې ختمه شوې وي بيابه هم حد ساقط کيږي. دنشې کيفيت دغه شان کيدل پکار دي چې هغه سړی دزمکې او آسمان فرق نه شي کولی يا په نشه کې پرېږي. دنبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې دخلقو د ذهنونو نه دشرابو څکلو تصوّر ختم شوی وو او د شرابو د څکلو واقعات شاذ او نادر وو. په دې وجه به نبی عليه السلام دشراب څکلو والا تحقير اوتوهين کولو دڅادرونو په کوړو او په څپلو سره به د شرابی استقبال کيدو. کچيرې کله به چا دشراب څکلو جرأت وکړو نو هغه به په څپلو او دڅادرونو په کوړو او د ونو په څانګو سره وهلی شو او دهغه دتحقير اوتوهين دپاره به سختې جملې ويلی کيدې.

---

[1] أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۶۳ رقم الحديث ۶۷۷۳ ومسلم فی ۳/۱۳۳۱ رقم الحديث (۱۷۰۶-۳۶) وأبوداود فی السنن ۴/۶۴۱ رقم الحديث ۴۴۷۹ وابن ماجه فی ۲/۸۵۸ رقم الحديث ۲۵۷۰ وأحمد فی المسند ۳/۱۷۶.

[2] أخرجه مسلم فی صحيحه ۳/۱۳۳۱ رقم الحديث (۱۷۰۶-۳۷)

غرض داچې دهغه دپاره به باضابطه څه معین حد موجود نه وو د نبوی زمانې نه روستو په صدیقي دورکې هم داسې وو بیا د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې د اتیا (۸۰) کوړو اعلان اوشو.

## د خمرو د حد سزا دپاره ۸۰ کوړې متعین شوې

﴿۲﴾ وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ: كَانَ يُؤْتَى بِالشَّارِبِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سائب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې درسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه او د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَإِمْرَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ

د خلافت په ورځو کې او د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په ابتدائی دور کې دا معمول وو چې کله به

فَنَقُومُ عَلَيْهِ بِأَيْدِينَا وَنِعَالِنَا

څوک شراب څکلو والا راوستلی شو نو مونږ به پاسیدو او په خپلو څپلو او په خپلو څادرونو سره

وَأَرْدِيَتِنَا حَتَّى كَانَ آخِرُ إِمْرَةِ

(یعنی په څادرونو سره به مو کوړې جوړې کړې دهغه) وهل به مو کول بیاد حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د

عُمَرَ فَجَلَدَ أَرْبَعِينَ حَتَّى إِذَا

خلافت په آخر دور کې د څلویښتو کوړو د وهلو سزا ورکړی شوه تردې پورې چې د شرابو د څکلو والا

عَتَوْا وَفَسَقُوا جَلَدَ ثَمَانِينَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[۳]

په تعداد کې اضافه وشوه او سرکشي زیاته شوه نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اتیا کوړې سزا متعین کړه. (بخاری)

**توضیح**: څنګه چې مخکې لیکلې شوې دي چې د نبوی دور نه واخله تر صدیقی دور پورې د خمرو د حد تعین نه وو بیا په فاروقی دور کې کله چې شام او فارس فتح شو او ملک مصر وغیره د مسلمانانو په قبضه کې راغلل نو نوې نوې خلق په اسلام کې داخل شو څه با اثره وو څه د پرمالدار عیش پسند وو او یو حده پورې دوردتابعینو هم وو په دې وجه د شرابو د څکلو واقعات زیات شو، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلې شوری ارکان راوغوښتل او د حد خمر دپاره یې مشوره ترې وغوښته دهغه د شوری یو ممبر حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایل چې شرابي کله شراب وڅکي نو هغه د نشې په حالت کې بهتان هم لګوي او کنځل هم کوي او د کنځلو دپاره حد قذف اتیا کوړې په قرآن کې مقرر دي نو د شرابی دپاره هم اتیا کوړې متعین کول پکار دي، په دې باندې د ټولو صحابو اجماع وشوه او د اوسه پورې د فقهاؤ

---

(۳) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/٦٦ رقم الحدیث ٦٧٧٩.

په نزد د خمرو حد اتیا کوړې دی، شوافعو اوحنابلو د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روایت نه استدلال کړی دی چې په هغې کې د څلویښتو کوړو ذکر دی، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او احناف د حضرت سائب بن یزید د روایت نه استدلال کړی چې په هغې کې د اتیاو کوړو ذکر دی او دا جمال تفصیل دی، دارنګه دا حضرات د صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اجماع هم په طور د دلیل پیښ کوي، ددې دلائلو په مخکې دا حضرات د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مجمل روایت جواب ضروری نه ګڼي. ددې حضراتو د طرف نه بعضې حضرات وایي چې د نبی علیه السلام په زمانه کې چې کومې څلویښت کوړې وهلې شوې وې هلته د دوه چوکو یوځای کولو سره د وهلو ذکر دی، لهذا په نبوي دور کې هم د اتیاو کوړو ثبوت ملاویږي. په نصب الرایه کې ټول روایات نقل کړی شوي دي. (المرقات ۲۰۶/۷، ۲۰۹)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## د شرابی دقتل کولو حکم منسوخ دی

﴿۳﴾ عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې کوم سړی

شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ فَإِنْ عَادَ فِي

شراب وڅکي هغه په کوړو ووهئ او کوم سړی چې یې بار بار څکی تردې پورې چې په څلورم ځل یې

الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ» قَالَ: ثُمَّ

په شرابو څکلو باندې د موږمئ نو هغه قتل کړئ حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ددې ارشاد نه پس یوه

أُتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فِي الرَّابِعَةِ (۱)

ورځ د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې داسې یو سړی پیش کړی شو چې په څلورم ځل یې شراب څکلي

فَضَرَبَهُ وَلَمْ يَقْتُلْهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ (۵) وَفِي أُخْرَى لَهُمَا

وو نو هغه یې ووهلو او قتل یې نه کړو. (ترمذی) ابوداؤد رحمه الله په یو بل روایت کې د قبیصه بن ذؤیب نه

وَلِلنَّسَائِيِّ وَابْنِ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيِّ عَنْ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او نسائی او ابن ماجه او دارمی په روایت کې چې هغوی د نبی عَلَيْهِ السَّلَام د صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دیو جماعت نه نقل کړی دی

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۴/۳۹ رقم الحدیث ۱۴۴۴.

(۵) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۱۲۵ رقم الحدیث ۴۴۸۵.

| |
|---|
| مِنْهُمُ ابْنُ عُمَرَ وَمُعَاوِيَةُ وَأَبُو هُرَيْرَةَ والشريد |
| چې په هغې کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو هریره او شرید رَضِيَ اللهُ عَنْهُم شامل دي. |
| إِلَى قَوْلِه: «فَاقْتُلُوهُ»(٦) |
| د احدیث دلفظ د فاقتلوه پورې نقل دی یعنی په دې روایتونو کې د ثم اتی الخ عبارت نشته دی. |

**توضیح: فاقتلوه:** ټول امت په دې باندې متفق دي چې د شرابو څکلو والا به په حد کې نه شي قتلولی اګرچې هغه بار بار شراب څکي. ها کچیرې دوخت حاکم بطور تعزیر او سیاست او مصلحت دده قتلول مناسب وګڼي نو داسې کولی شي خو حدًا داسې ناجائز دی، ځکه چې د صحابو اجماع په عدم قتل باندې منعقد ده، دارنګه په دې روایت کې د ترمذی په حوالې سره دا روایت دی چې یوسړی په څلورم ځل د نبی علیه السلام په مخکې راوستلی شو نو نبی علیه السلام **فضربه ولم یقتله** کوړو باندې یې ووهلو او قتل یې نه کړو، معلومه شوه چې په قتل باندې عمل ونه شو. امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې زما په کتاب کې دوه حدیثونه داسې دي چې په هغې باندې امت عمل نه شي کولی یو هغه حدیث په کوم کې چې ذکر دي چې نبی علیه السلام دخوف او خطر نه بغیر او دځه سفر او مطر نه بغیر په مدینه کې جمع بین الصلوتین وفرمائلو، امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې دویم حدیث دا زیربحث حدیث دی چې په کوم امت عمل نه شي کولی چې دځه عذر نه بغیر جمع بین الصلوتین څنګه وکړی شي، او شارب خمر لره کله قتل کړی شوی دی. باقی احنافو د **فاقتلوه** روایت څو جوابونه کړې دي: اول دا چې دقتل نه مراد ضرب شدید دی واقعي وهلو سره قتل کول مراد نه دی، یا قتل سیاسةً دی حدًا نه دی، یا کوم چې سړې شراب څکل حلال ګڼي. (المرقات ۲۰۹/۷)

## په دربار نبوت کې دشرابی تحقیر او تذلیل

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَزْهَرِ قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ |
| عبد الرحمن بن ازهر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ګویا هغه منظر دي وخت کې هم زما دستر ګو مخکې دی چې |
| إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ |
| یوه ورځ د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو داسې سړي لره پیش کړی شو چې هغه شراب څکلي وو |

(٦) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٢٤ الاحادیث رقم ٤٤٨٢، ٤٤٨٤ والترمذی في السنن ٤/٣٩ رقم الحدیث ١٤٤٤ وابن ماجه فی ٢/٨٥٩ رقم الحدیث ٢٥٧٣ والدارمی فی ٢/٢٣٠ رقم الحدیث ٢٣١٣.

فَقَالَ لِلنَّاسِ: «اضْرِبُوهُ» فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالنِّعَالِ وَمِنْهُمْ

نو نبی علیه السلام وفرمایل دا ووهئ نو په هغو خلقو کې بعضو هغه په څپلو ووهلو بعضو د کجورو په لختو

مَنْ ضَرَبَهُ بِالْعَصَا وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْمِيتَخَةِ. قَالَ ابْنُ وَهْبٍ يَعْنِي

(چوکو) باندې ووهلو. حضرت ابن وهب رحمه الله (چې ددې حدیث راوی دی) وائی چې حضرت عبد الرحمن رضي الله عنه

الْجَرِيدَةَ الرَّطْبَةَ ثُمَّ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا مِنَ الْأَرْضِ

د میتخه نه د کجورو په شنه لختو نو نبی علیه السلام د ځمکې نه خاوره راوچته کړه او د هغه په مخ باندې یې وهشتله

فَرَمَى بِهِ فِي وَجْهِهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[۷]

(د هغه په مخ وهشتلو سره گویا چې نبی علیه السلام په دې سره د حقارت اظهار وکړو)

**توضیح**: **نعال**: څپلو ته نعال وایې عصا همسا (لاټي) ته وائی **المیتخة** په میم باندې زیر دی اویاء باندې سکون دی په تاء باندې زبر دی بیا خاء معجمه ده. باقی احنافو د **فاقتلوه** روایت څو جوابونه کړې دي: اول دا چې د قتل نه مراد ضرب شدید دی واقعي وهلو سره قتل کول مراد نه دی، یا قتل سیاسةً دی حداً نه دی، یا کوم چې سړې شراب څکل حلال ګڼي. (المرقات ۲۱۱/۷)

**ملعقة** په وزن باندې دی وړې همسا ته وایې چې لمده وي وچه نه وي څنګه چې راوي په خپله وضاحت وفرمایلو.

**اخذ ترابا**: خاوره د هغه په مخ باندې وهشتل د زیات تحقیر او تذلیل دپاره وه د حد حصه نه وه (خو د محبوب په لاس باندې دا خاوره که د مخ په ځای باندې په زړه باندې لګیدله نو بیا به د ددې څه مزه راتله)

## شرابی ته سزا ورکړه او پیغور ورکړه خو بد دعاء ورته مه کوه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایې چې (یوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راوستلی شو

قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ: «اضْرِبُوهُ» فَمِنَّا الضَّارِبُ

چې هغه شراب څکلي وو نبی علیه السلام (مونږ ته وفرمایل) چې دا ووهئ. مونږ کې بعضې خلقو خپلو

---

(۷) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۴۸ رقم الحدیث ۴۴۸۹ وأحمد فی المسند ۴/۸۸

| | | | |
|---|---|---|---|
| بِيَدِهِ | وَالضَّارِبُ | بِثَوْبِهِ | وَالضَّارِبُ | بِنَعْلِهِ |
| لاسونوسره،بعضو په خپلو کپړو سره (کوړه جوړه کړه په) هغې سره او بعضو په خپلو څپلو سره هغه ووهلو | | | | |
| ثُمَّ | قَالَ: | «بَكِّتُوهُ» | فَأَقْبَلُوا | عَلَيْهِ |
| بيا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې اوس په ژبې سره ده ته خبرداری ورکړئ او پيغور ورکړه. نو خلق هغه طرف ته | | | | |
| يَقُولُونَ: | مَا | اتَّقَيْتَ | اللهَ | مَا | خَشِيتَ | اللهَ |
| متوجې شول او هغه ته يې ويل شروع کړل تاد الله تعالی دمخالفت نه ځان ونه ساتلو ته د الله نه ونه يريدې | | | | | | |
| وَمَا اسْتَحْيَيْتَ | مِنْ رَسُولِ اللهِ | صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | فَقَالَ | بَعْضُ الْقَوْمِ: | | |
| نو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره هم ونه شرميدې. او بيا (کله) چې بعضو خلقو وويل چې الله تعالی | | | | | | |
| أَخْزَاكَ اللهُ. | قَالَ: | "لَا تَقُولُوا هَكَذَا | لَا تُعِينُوا | عَلَيْهِ | الشَّيْطَانَ | |
| دې تالره ذليل او رسوا کړي نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې داسې مه وائ او په ده باندې د شيطان په غالب کيدو کې مدد مه کوئ | | | | | | |
| وَلَكِنْ | قُولُوا: | اللَّهُمَّ | اغْفِرْ لَهُ | | | |
| بلکه داسې ووائ چې ای الله! (چې دده ګناه ختمه کړه) دده بخښنه وکړه او (ده ته د اطاعت او د نيکۍ توفيق ورکړه) | | | | | | |
| اللَّهُمَّ | ارْحَمْهُ". | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد (٨) | | | |
| په ده باندې رحم وکړه (يا ده لره په دې دنيا کې او بخښنه او په آخرت کې په ده باندې خپل رحم وکړه) (ابوداؤد) | | | | | | |

**توضيح**: **الضارب بثوبه**: ددې مطلب دادی چې مثلاً څادرې درسې په شان تاو کړو دهغې نه کوړې جوړولو سره په هغې وهل کوي چې په کلوکې مشهوره طريقه ده.

باقی احنافو د **فاقتلوه** روايت څو جوابونه کړې دي: اول داچې دقتل نه مراد ضرب شديد دی واقعي وهلو سره قتل کول مراد نه دی، يا قتل سياسةً دی حدًا نه دی، يا کوم چې سړې شراب څکل حلال ګڼي. (المرقات ۲۱۲/۷)

**بكتوه**: دا دباب **تفعيل تبكيت** نه دی د زجر او توبيخ او د پيغور ورکولو په معنی سره دی، نو ددې تشريح او توضيح د **ما اتقيت** آخره پورې کلمو سره وشوه. (المرقات ۲۱۲/۷)

---

(٨) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٢٠ رقم الحديث ٤٤٧٧.

اخزاک الله: ددې بد دعاء تعلق چونکه د عالم آخرت سره وو او د آخرت رسوائي خو په دوزخ ته تلو سره وي په دې وجه نبی عَلَيْهِ السَّلَام منع وفرمایله چې دا خو د شیطان تمنی ده چې مسلمان دوزخ ته لاړشي نو دغه شان بد دعاء سره د شیطان په منصوبه کې دده مدد مه کوه. (المرقات ۲۱۲/۷)

## دجرم دثبوت نه بغیر سزانشته

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: شَرِبَ رَجُلٌ فَسَكِرَ فَلُقِيَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې یو سړي شراب وڅکل او مست شو تردې پورې چې خلقو هغه په لاره کې

يَمِيلُ فِي الْفَجِّ فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په دې حال کې ومونډلو چې هغه زنګیدو سره روان وو نوخلقو هغه ونیولو او د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت ته یې بوتللو

فَلَمَّا حَاذَى دَارَ الْعَبَّاسِ انْفَلَتَ فَدَخَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ

خوکله چې د حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور ته ورسیدل نو دهغه دلاس نه خلاص شو او حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورسیدو

فَالْتَزَمَهُ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فضحك وَقَالَ:

هغه پورې ونختلو کله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام ته دا بیان وکړی شو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وخندل او وې فرمایل

«أَفَعَلَهَا؟» وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهِ بِشَيْءٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (متفق عليه)[1]

چې آیا هغه داسې وکړل؟ او بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَام دهغه په باره کې څه حکم هم ونه فرمایلو. (ابو داؤد)

**توضیح**: فلق: دا د مجهول صیغه ده یعنی په کوڅه کې یې دنشې په حالت کې ومونډلو.

الفج: د دوو غرونو په مینځ کې علاقې ته فج وایې دلته کولاؤ او فراخه کوڅه مراد ده. (المرقات ۲۱۳/۷)

فانطلق: دا هم د مجهول صیغه ده یعنې بوتللی شو. (المرقات ۲۱۳/۷)

حاذی: دا د محاذات نه دبرابرې او مخامخ کیدو په معنی سره دی. (المرقات ۲۱۳/۷)

العباس: د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تره نوم دی. (المرقات ۲۱۳/۷)

فالتزمه: یعنې هغه سړی حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورې ونختلو او د سفارش او بچ کیدو دپاره هغه

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۶۱۹ رقم الحدیث ۴۴۷۶.

پورې ونختلو. (المرقات ۲۱۳/۷)

**فذکر:** دا هم دمجهول صیغه ده یعنی دنبي عَلَيْهِ السَّلَام په مخکې ددې واقعې تذکره و شوه. (المرقات ۲۱۳/۷)

**فضحک:** نبی عَلَيْهِ السَّلَام دتعجب په وجه سره وخندل معلومه شوه چې په تعجب والا خبره باندې خندل مباح دي. (المرقات ۲۱۳/۷)

**افعلها:** دلته همزه د استفهام دپاره ده او استفهام تعجبی دې یعنې نه! هغه واقعه داسې کړې ده؟. (المرقات ۲۱۳/۷)

**ولم یأمر فیه بشيء:** یعنې دحد قائمولو حکم یې ورنه کړو په دې وجه دهغه سړي دطرف نه اقرار هم نه وو او د شراب څکلو په وخت څه ګواه هم نه وو صرف په کوڅه کې په زنګیدو چا لیدلی وو دا دشرعی حد دثبوت دپاره هم کافی نه وو دارنګه اوس نشه نه وه نه دشرابو څکلو بدبویې وه په دې وجه حد قائم نه شو،ددې نه معلومه شوه چې آینده دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو روایت هم راراون دی چې دهغې نه اندازه کیږي چې په اسلامی حدودو کې دشرابو حد دتولو نه آسان اوسپک حد دی (المرقات ۲۱۳/۷)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## په تولو حدودو کې سپکه سزا د حد خمر ده

﴿۷﴾ عَنْ عُمَيْرِ بن سعيد النخعي قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ:

حضرت عمیر بن سعید نخعی رحمه الله وایي چې ما د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا واوریدل چې که

مَا كُنْتُ لِأُقِيمَ عَلَى أَحَدٍ حَدًّا فَيَمُوتَ

زه په یو سړي باندې حد جاری کړم او هغه سړی (د حد جاری کیدو د وجې نه) مړ شو نو په ما باندې به د هغې څه

فَأَجِدَ فِي نَفْسِي مِنْهُ شَيْئًا

اثر هم نه وی (یعنی ماته به څه غم نه وي ځکه چې په هغه باندې حد جاری کول د شریعت د حکم مطابق وي

إِلَّا صَاحِبَ الْخَمْرِ فَإِنَّهُ لَوْ مَاتَ وَدَيْتُهُ

او د شریعت حکم نفاذ کې د رحم او شفقت څه محل نشته دی) ها د شرابو څکلو والا خبره بله ده چې کچیري هغه (د

| |
|---|
| وَذَلِكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| څلویښتو نه په زیاتو کوړو وهلو سره) مړ شو نو زه به دهغه دیت ورکوم او ددې وجه داده چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| لَمْ يسنه (متفق عليه)[۱۰] |
| دشرابو څکلو دپاره څه حد متعین کړی نه وو. (بخاری و مسلم) |

**توضیح: فاجدفی نفسي**: یعنې حد قائمولو کې که څوک مړ شي نو په زړه کې به دا نه محسوسوم چې دا زما دطرف نه زیاتی شوی دی ځکه چې هغه د اسلامی حد په زد (ماتحت) کې راغلی دی.

**ودیته: ودی یدی دیة** خون بها ته وایي.

دا جمله دحضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د طرف نه د احتیاط په طور باندې هم ده او دې طرف ته اشاره هم ده چې دخمرو حد په ټولو حدودو کې نرم حد دی، ددې مطلب دا نه دی چې دا حد نه دی. پخپله د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د فیصلې مطابق حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو صحابو په موجودګی کې اتیا (۸۰) کوړې سزا مقرر کړې وه چې په دې باندې دصحابو رضی الله عنهم اجماع شوې ده.

**لم یسنه**: ددې مطلب دادی چې نبی علیه السلام تعین نه دی فرمایلی خو طریقې ئې مختلې وې په دې کې دوه شاخه همساسره څلویښت کوړې هم وهلی شي چې د اتیاو کوړو دپاره ثبوت پیدا کوي، دارنګه د خلفاء راشدینو فیصله ده او دصحابو رضی الله عنهم اجماع ده نو په دې کې دشک څه ګنجائش نشته دی. (المرقات ۲۱۴/۷)

## دخمرو دحد تعین د ټولو صحابو رضی الله عنهم په مشورې سره وشو

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيْلِيِّ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ اسْتَشَارَ |
| او حضرت ثور بن زید دیلمی رحمه الله وایي چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دشرابو دحد د تعین په باره |
| فِي حَدِّ الْخَمْرِ فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ: أَرَى |
| کې دصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره مشوره وکړه نو حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوی ته وفرمایل چې زما رایه دا |
| أَنْ تَجْلِدَهُ ثَمَانِينَ جَلْدَةً فَإِنَّهُ إِذَا شَرِبَ سَكِرَ وَإِذَا سَكِرَ هَذَى |
| ده چې شرابی اتیا کوړې ووهلی شي ځکه چې کله هغه شراب څکي نو مستیږي او بکواس کوي |

---

(۱۰) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۴/۶۶ رقم الحدیث ۶۷۷۸ ومسلم فی ۳/۱۳۳۲ رقم الحدیث (۱۷۰-۷۳۹).

| |
|---|
| وَإِذَا هٰذَى افْتَرَى فَجَلَدَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي |
| او کله چې بکواس کوي نو بهتان لګوي. نو حضرت عمر رضي الله عنه حکم جاري کړو چې شراب څکلو |
| حَدِّ الْخَمْرِ ثَمَانِينَ. رَوَاهُ مَالِكٌ(۱۱) |
| والا دې اتیا کوړې ووهلی شي. (مالک) |

**توضيح**: استشار: دحد دتعين دپاره يې دصحابو سره مشوره وکړه. (المرقات ۲۱۶/۷)

**هذى**: ګډې وډې اوبکواس ته هذیان وایي. **افترى**: بهتان ترلو ته افتراء وایي. حضرت علي رضي الله عنه دې ډېره د کار خبره وکړه او د څه قواعدو مخې ته کیخودلو نه پس یې بهتر قیاس وکړو ځکه چې په اسلام کې د حد قذف ذکر په واضح طور باندې په قرآن کې موجود دی او ددې وجه په پاکدامنو باندې بهتان ترل دي، نو چیرته چې همدا سې صورت پیش شي نو ددې حکم به هم قذف وي او چونکه شرابی بې عقله ګیږی او ګډو وډو ویلو سره بکواس کوي او اکثر په پاکدامنو باندې بهتان تړي او دبهتان سزا اتیا (۸۰) کوړې دي، لهذا د شرابو څکلو نه پس هم اتیا (۸۰) کوړې ورکول پکار دي.

دحضرت علي رضي الله عنه دا فیصله په اغلبي او اکثري حالاتو باندې مبني ده چې اکثر او زیات شرابیان داسې وي لهذا دتولو همدا حکم دی. دصحابه رضي الله عنهم دا خبره خوښه کړه او اتفاق یې ښکاره کړو نو اجماع وشوه. (المرقات ۲۱۶/۷)



(۱۱) أخرجه مالک فی المؤطأ ۲/۴۳ رقم الحدیث ۲ من کتاب الأشربة.

# بَاب مَا لا يدعى على الْمَحْدُود

په يوه نسخه کې دباب په لفظ باندې تنوين دی او د ما لفظ نشته دی مطلب دا چې دا يو داسې باب دی چې په کې دا بيان دی چې په حد کې مضروب سړي ته بد دعائي مه کوئ که په يو کس باندې حد جاری شي او يو مسلمان هغه مضروب سړي په باره کې ووايي چې اخزاک الله يا دا ووايي چې په ده باندې دې د سپی په شان کاڼي وورلی شي نو ددې څيزونو ممانعت راغلی دی.

## الْفَصْل الأول

## په چا ګناهګار باندې لعنت ويل ناجائز دي

﴿۱﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ الله عَنْهُ أَنَّ رجلا اسمه عبدُ الله يُلَقَّبُ حمارا

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يو سړی وو چې د هغه نوم عبدالله وو هغه ته به حمار يعنی بطور لقب ويلی کيدو

كَانَ يُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ

هغه به نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره خندو لو نبی عَلَيْهِ السَّلَام (يوځل) د شراب څکلو په جرم کې په هغه باندې

جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا

حد جاری کړی وو بيا هغه يو ورځ (د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې) پيش کړی شو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام هغه

فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ فَقَالَ رَجُلٌ

باندې د کوړو وهلو حکم ورکړو او هغه ته کوړې ورکړی شوې د مجلس په حاضرينو کې يو کس وويل

مِنَ الْقَوْمِ: اللّٰهُمَّ الْعَنْهُ مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ

ای الله په ده باندې دې ستا لعنت وي دا څومره په کثرت سره (بار بار د شرابو څکلو په جرم کې نيولو سره)

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تلعنوه فو الله مَا عَلِمْتُ

راوستلې شي، نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې په ده باندې لعنت مه وايه په الله قسم زه پوهيږم چې دا سړی

أَنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1]

د الله تعالی او د هغه د رسول سره مينه کوي. (بخاری)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۲/۷۵ رقم الحديث ۶۷۸۰.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: أُتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یو داسې سړی پیش کړی شو

قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَقَالَ: «اضْرِبُوهُ» فَمِنَّا الضَّارِبُ

چې هغه شراب څکلي وو. نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دا ووهئ نو په مونږ کې بعضو هغه په

بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ

خپلو لاسونو سره ووهلو او بعضو په خپلو څپلو سره ووهلو او بعضو د خپلو کپړو نه کوړې جوړې

فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللهُ

کړې او وې وهلو کله چې هغه سړی واپس شو نو خلقو وویل چې الله تعالی دې تاذلیل او رسوا کړي

قَالَ: «لَا تَقُولُوا هٰكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دې اوریدو سره وفرمایل چې داسې مه وائي په ده باندې په غالب کیدو سره د شیطان مدد مه کوئ.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

## سزا خوړونکي مسلمان ته پیغور ورکول جرم دی

﴿۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَهِدَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ماعز اسلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی علیه السلام په خدمت کې حاضر شو او سره

عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ

د خپل ځان په باره کې څلور ځله یې دا ګواهي ورکړه چې ما هغه یوې بڼځې سره د زنا په طریقه جماع کړې ده،

كُلَّ ذٰلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ فَأَقْبَلَ فِي الْخَامِسَةِ

او نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ به هر ځل (دده په اقرار کولو سره) مخ اړولو او بیا په پنځم ځل د هغه طرفته متوجې کیدو سره یې

فَقَالَ: «أَنِكْتَهَا؟» قَالَ: نَعَمْ قَالَ: «حَتَّى

وفرمایل چې آیا تا هغه بڼځې سره صحبت کړی دی؟ هغه وویل چې آو! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې (آیا

غَابَ ذٰلِكَ مِنْكَ فِي ذٰلِكَ مِنْهَا» قَالَ: نَعَمْ

تا هغې سره صحبت کړی دی چې هغه (یعنی ستا خاص اندام) د هغه (بڼځې په خاص حصه) کې غائب شو؟ هغه

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/٦٦ رقم الحدیث ٦٧٧٧.

قَالَ: «كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ؟»

وویل چې آو جی! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل (چې آیا داسې) څنګه چې سلائي په نجرومه کې او رسی په کوهي کې

قَالَ: نَعَمْ قَالَ: «هَلْ تَدْرِي مَا الزِّنَا؟» قَالَ: نَعَمْ

غائیږي هغه وویل چې آو جی! نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو چې پوهیږي زنا څه ته وایي؟ هغه وویل آو جی! چې ما

أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِهِ حَلَالًا

هغه ښځي سره په حرامه طریقه باندې هغه کار کړی دی چې یو سړی یې د خپلې ښځي سره په حلاله

قَالَ: «فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ؟»

طریقه کوي نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل (ښه دا وښایه) چې دا څه تا وکړل په دې سره ستا مقصد څه دی؟

قَالَ: أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي

هغه وویل چې "زه دا غواړم چې تاسو (په ماباندې حد جاري کړئ) ما (د دې ګناه) نه پاک کړئ. نو

فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَسَمِعَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (دده د سنګسار ولو) حکم وفرمایلو او هغه سنګسار کړی شو بیا نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د دوه سړو نه دا خبره واوریدله

يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِي سَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ

چې په هغوی کې یو کس خپل ملګري ته دا وویل چې دې سړي ته ګوره چې الله تعالی دده پرده پوشي وکړه

فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ

دده نفس ده لره (د خپل ګناه د اقرار نه) منع نه کړو تردې پورې چې هغه دیو سپي په شان سنګسار کړی

فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً

شو. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (دا واوریدل هغه وخت) خو یې دوی ته څه ونه ویل البته څه وخت پس د تلو نه پس

حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ

د مړي شوي خر په خوا کې تېر شول چې د هغه خپې (د هغه د بدن نه د پرسیدو په وجه سره) اوچتې شوې وې

فَقَالَ: «أَيْنَ فُلَانٌ وَفُلَانٌ؟» فَقَالَا:

نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو چې فلانی فلانی (یعنی هغه دواړه) سړي چیرته دي. هغوی عرض وکړو

نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ: «انْزِلَا

ای د الله رسوله! مونږه (حاضر) یو. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې تاسو دواړه کوزشئ او د دې

| |
|---|
| فَكُلَا مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ» فَقَالَا: يَا نَبِيَّ اللهِ |
| مردار خر غوښه وخورئ. هغوی (په ډیري حیرانتیا سره) عرض وکړو ای د الله رسوله! د دي |
| مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا؟ قَالَ: «فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عَرْضِ أَخِيكُمَا |
| غوښه څوک خوري؟) نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل تاسو اوس د خپل ورور عزت واخستو هغه ددي خر |
| آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ |
| دغوښې نه زیات سخت (بده خبره) ده قسم دی په هغه ذات دچا په قبضه کې چې زما ساه ده بیشکه |
| الْآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْغَمِسُ فِيهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| هغه (ماعز رضی الله عنه) دجنت په نهرونو کې غوتې وهي. (ابوداؤد) |

**نوټ:** ځناور چې کله مردار پروت وي نو پرسیږي او د هغه خپې بره طرف ته اوچتیږي دې ته شائل وایي.

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ |
| او حضرت خزیمه بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی (دځه داسې) |
| أَصَابَ ذَنْبًا أُقِيمَ عَلَيْهِ حَدُّ |
| ګناه مرتکب شي (چې حد لره واجبونکی وي او بیا) په هغه باندې ددې ګناه حد جاری کړی شي نو |
| ذَلِكَ الذَّنْبِ فَهُوَ كَفَارَتُهُ» رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[2] |
| هغه حد دده دګناه کفاره ده (یعنی دحد جاري کیدو نه پس هغه سړی به دګناه نه پاک اوصفا شي. |

## په کومه ګناه چې حد جاری کړی شوی وي په هغې باندې به آخرت کې نیول نه وي

| |
|---|
| ﴿۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ |
| او حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: چې کوم سړی |
| أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ عُقُوبَتُهُ فِي الدُّنْيَا |
| دحد سزاوار وي (یعنې څه داسې ګناه وکړی چې په هغې باندې حد متعین دی) اوبیا په دې دنیا کې ورته سزا |

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۵۸۰ رقم الحدیث ۴۲۶۶.

(۲) أخرجه أحمد فی المسند ۵/۲۱۵.

| |
|---|
| فَاللهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عَلَى عَبْدِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الْآخِرَةِ |
| ورکړی شوه د الله تعالی دشان عدل نه دا لرې ده چې هغه په آخرت کې خپل بنده ته دوباره سزا ورکړي |
| وَمن أَصَاب حدًّا فستره الله عليهِ وَعَفَا عَنْهُ |
| او کوم سړی چې دڅه حد (یعنی ګناه) مرتکب وي او الله تعالی دهغه ګناه پټه کړه او هغه یې معاف کړو |
| فَاللهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُودَ فِي شَيْءٍ قَدْ عَفَا |
| نو دالله تعالی دشان کریمه نه دا لرې ده چې هغه په دې څیز باندې دوباره نیول وکړي کوم چې هغه |
| عَنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| معاف کړی دی (ترمذی، ابن ماجه) ترمذی رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث غریب دی. (بخاری ومسلم) |

**توضیح**: **ان یثنی**: د بار بار کولو او دوباره د سزا ورکولو په معنی سره دی. (المرقات ۲۲۰/۷)

د پاسنو دواړو حدیثونو نه دا خبره په واضح طور باندې معلومه شوه چې په دنیا کې د حد په ذریعې سره به د سزا خوړلو نه پس په آخرت کې داسې د سزا نه بچ شي، دداسې مضمون احادیث ډېر زیات دي، او د حدودو په کفاراتو کیدو کې او زجراتو کیدو کې د فقهاؤ اختلاف دی، ما ددې تفصیل په اول جلد کې کړی دی او په دې جلد کې هم چیرته تفصیل شوی دی خو که په حقیقت باندې نظر واچولی شي نو د فقهاو دا اختلاف دومره ژور نه دی.

احناف فرمایي چې کچیرې ګناهګار د حد د سزا سره په ژبه باندې توبه او استغفار کوي نو بیا حدود مطهرات او مکفرات دي او ظاهره ده چې داسې کس به څوک وي چې ددومره زیاتې سزا خوړلو په وخت په ژبه سره توبه ونه کړي نو ددې ټولو احادیثو مطلب د احنافو په نزد داشو چې حدود په شرط د توبې مکفرات و مطهرات دي، ددې حدیث نه دویمه خبره دامعلومه شوه چې کله الله تعالی په څه ګناه باندې دخپل طرف نه پرده اچوي نو بنده له هم پکاردي چې دخپلې ګناه تشهیر نه کوي یو خو دا چې په دې د فاحشې تشهیر کیږي چې منع دی، او دویم توهین نفسي هم دی نو په خاموشۍ سره دې استغفار وکړي. (المرقات ۲۲۰/۷)



(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۵/۱۷ رقم الحدیث ۲۶۲۶ وابن ماجه فی ۲/۸۶۸ رقم الحدیث ۲۶۰۱ وأحمد فی المسند ۱/۹۹

# باب التعزیر

## د تعزیر بیان

تعزیر د عزر نه دی چې معنی یې ده منع کول، ملامت کول او دهمکي ورکول دي. د تعزیر په ذریعې هم سړی د ګناه نه منع کولی شي، او د فقهاو په اصطلاح کې تعزیر دهغې سزا نوم دی چې د تادیب اوتهذیب دپاره ورکولی شي او چې دهغې مقدار د ادنی حد نه کم وي. (المرقات ۲۲۰/۷)

**د تعزیر ثبوت** : په قرآن کریم کې د تعزیر ثبوت ددې آیت نه کیږي : (**واضربوهن فان اطعنکم فلا تبغوا علیهن سبیلًا الخ**) (النساء ۳۴) اوپه حدیث کې دي **ولاترفع عصاک عنهم أدبا**.

د آیت اوحدیث دواړو نه دښځې د وهلو اشاره ملاویږي او همدا تعزیردی، په یو بل حدیث کې دي.

**رحم الله امرءً علق سوطه حیث یراه اهله** (**مرقات ملاعلی قاری**) الله تعالی دې په هغه بنده باندې رحم وکړي چې خپله همساپه داسې ځای کې زوړنده ساتي چې دده ښځې یې وینې. (المرقات ۲۲۰/۷)

**حد او تعزیر کښې فرق** :حد د هغې خاص سزانوم دی چې دکتاب الله او سنتِ رسول نه ثابت هم وي او متعین هم وي د وخت حاکم لره په دې کې نه د ترمیم او اضافه اختیار شته او نه د نورو تصرفاتو اختیار شته،حاکم لره صرف ددې د نافذ کولو حق حاصل دی . ددې برعکس تعزیر هغه سزا ده کومې لره چې کتاب اوسنت متعین کړې نه ده بلکه ددې تعین دامام رایې ته مفوض دی . دامام شافعی رحمه الله په نزد په حاکم او قاضی باندې د تعزیر جاری کول لازم نه دي بلکه دهغه په رایې باندې موقوف دی چې هغه دتعزیر سزا ورکوي یانه، خو امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چې په امام باندې لازم او ضروری ده بلکه واجب ده چې هغه تعزیر نافذ کړي. امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی چې که د تعزیر ذکر په نص کې موجود وي نو بیا دهغې تنفیذ واجب دی اوکه د تعزیر ذکر په نص د قرآن کې موجود نه وي بیا دوخت د حاکم په رایې باندې موقوف دی چې هغه څنګه غواړي نافذ وي یې او که نه. (المرقات ۲۲۱/۷)

## الْفَصْل الأول

## په تعزیر کې به څومره کوړې وهلی شي؟

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَن أَبِي بردة بن نِيَار عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابو برده بن نیار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل |
| «لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلَّا |
| "چې الله تعالی کوم حدود مقرر کړي دي په هغې کې دڅه حد نه علاوه دڅه ګناه په تعزیر کې د لسو |
| فِي حد من حُدُود الله»[1] |
| کوړو نه زیاته سزا ورنه کړی شي. (بخاری ومسلم) |

**توضیح**: لایجلد فوق عشر جلدات: شریعت په تعزیر کې څه حد نه دی متعین کړی بیاهم د فقهاؤ په دې باندې اتفاق دی چې د کم نه کم د رې کوړې وي د دریو نه د کمو کوړو تعزیر نشته دی، اوس دا مسئله زیربحث ده چې په تعزیر کې زیات نه زیات به څومره کوړې وهلی شي نو په دې کې د فقهاؤ اختلاف دی. (المرقات ۲۲۱/۷)

**د فقهاؤ اختلاف**: امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چې د لسو نه زیاتې کوړې په تعزیر کې نه دي وهل پکار. د امام مالک رحمه الله په نزدد زیاتو کوړو وهلو څه حد متعین نه دی. قاضی او امام چې څومره مناسب ګڼي کوړې دې ولګوي همدا د صاحبینو مسلک هم دی (کما فی المرقاة) امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی چې ادنی حد پورې تعزیر نه دی رسول پکار. بلکه دې نه کمول پکار دي، لهذا د یو غلام حد قذف څلویښت کوړې دی نو د دې ادنی حد نه یوه کوړه کمولو سره یو کم څلویښت کوړې لګول پکار دي، بیا هم دا تعزیر د امام په نظر باندې موقوف دی، لهذا د تعزیر په ضمن کې د زیات نه زیاته سزا ورکولی شي تر دې چې قتل ته نمبر ورسي (المرقات ۲۲۳/۷)

**دلائل**: امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله د (**لایجلد فوق عشر جلدات**) د مشکوة شریف د زیربحث حدیث نه استدلال کړی دی، امام مالک رحمه الله او صاحبین د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دیوې واقعې د تعزیر نه استدلال کړی دی چې په هغې کې متعلقه سړی

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۱۷۵ رقم الحدیث ۸٦۱۸ ومسلم فی ۳/۱۳۳۲ رقم الحدیث (۱۷۰۸-٤٠) وأبوداود فی السنن ٤/٦٢٩ رقم ٤٤٩١ والترمذی فی ٤/٥١ رقم ١٤٦٣ وابن ماجه فی ۲/۸٦۷ رقم الحدیث ۲٦۰۱.

سل کوړې وهلی شوی وو او هغه سړی قید هم کړی شو، واقعه داسې وه چې معن بن زائده د بیت المال نه دجعلی مهر په ذریعې سره مال اخستی وو حضرت عمررضی الله عنه ته معلومه شوه نو هغه یې سل کوړې ووهلو او قیدیې کړو. (المرقات ۲۲۳/۷)

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایې چې نبی علیه السلام دتعزیرحد ته رسولو نه منع فرمایلې ده.

**جواب**: امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله د لس جلداتو (کوړو والا) حدیث نه دا جواب دی چې دا حدیث دهغه احادیثو دوجې نه منسوخ شوی دی په کومو احادیثو کې چې د لسو کوړو نه د زیاتو ذکر راغلی دی اوصحابو په دې عمل کړی دی، امام مالک رحمه الله او صاحبینو ته داجواب دی چې حضرت عمررضی الله عنه څو جرمونو لره یوځای کولو سره سل کوړې ورکړې وې په یو جرم کې سل کوړې تعزیر نه وو شوی. زه دلته کتونکو ته درخواست کوم چې دفقهاؤ د مذاهبو په انضباط کې دلته دتعزیر په مسئله کې ډېرې پیچیدګیانې دي څوځو اقوال دي، ما دملاعلی قاری دمرقات نه د اختلاف د مذاهبو اقوالو لره دلته جمع کړې دي اګرچه نورو شارحینو په بل انداز سره اقوال جمع کړې دي، بهرحال دتعزیربنیاد دامام د رایې او نظر په بنیاد باندې دی، کچیرې هغه مصلحت ګوري چې دلته د زیاتې سزا ضرورت دی نو زیاته ورکولی شي او کمه هم ورکولی شي، لهذا په دې کې دیو خاص تعین د دې آزاد حیثیت لره متاثره کوي. عمدة الرعایه کې یې لیکلې دي چې کله تعزیر په څټ باندې په کانې ویشتلو سره حاصلیږي، کله په غوږ تاوولو سره هم تعزیر کیږي، کله په قید ولو سره، او کله په کنځلو سره، کله په جلاوطن کولو سره، او کله په شدید ضرب سره او کله په قتل کولو سره حاصلیږي. مشائخ عظام دځو داسې ځایونو ذکر کړی دی چرته چې تعزیربالقتل هم جائز دی مثلاً یو سړی مسلسل غلا کوي یا مسلسل جادو کوي یا مسلسل لواطت کوي یا نبی علیه السلام ته کنځل کوي، نو دداسې خلقو قتلول خو بطور تعزیر جائز دي، فقهاؤ داهم لیکلې دي چې کچیرې یوسړي وکتل چې یو سړی دهغه دښځې سره زنا کوي نو هغه ده لره قتل کولی شي (اګرچه اسلامی عدالت دده نه جواب طلبی کولی شي خو عندالله دا سړی ماخوذ نه دی). (زجاجة المصابیح ج: ۳ ص: ۱۰۲)

خلاصة الفتاوی اوفتاوی ظهیریه په چاباندې مالي جرمانه لګولو سره د مال اخستلو تعزیر هم جائز لیکلې دی او د کورونو د سوزولو لره یې هم په تعزیرکې شمارکړی دی. (زجاجة المصابیح حواله بالا) (المرقات ۲۲۳/۷)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## مجرم په مخ باندې په کوړو مه وهئ

﴿۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائیل: چې کله

«إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الوجهَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

په تاسو کې یو کس (یو مجرم ته سزا) ورکړي نو هغه له پکار دي چې (هغه د مجرم) مخ بچ کړي. (رواه ابوداؤد)

**توضیح**: فلیتق الوجه: مطلب دا دی چې کله یو مجرم کس ته په تعزیر کې کوړې ورکړی شي یا په حد کې ووژلی شي نو دې خبرې خیال دې وساتلی شي چې د کوړو وهلو مقام مخ نه وي مخ دې بچ کړی شي، ددې یوه وجه خو داده چې سر او مخ نازک اندامونه دي چې په کوړو وهلو سره دهلاکت خطره کیدی شي. فقهاو لیکلي دي چې کوړې دې د بدن په نرمو حصو باندې متفرق کولو سره ووهلی شي. دویمه وجه داکیدی شی چې مخ ته الله تعالی یو اعزاز ورکړی دی په بدن کې دټولو نه زیات عزت مند دی په دې وجه دا په کوړو ونه وهلی شي په یو حدیث کې دي چې ان الله خلق آدم علی صورته ددې په وجه هم مخ ته اعزاز حاصل دی. (المرقات ۲۲۴/۷)

## د بدزبانۍ سزا او تعزیر

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا قَالَ الرَّجُلُ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې هغوی وفرمایل چې یو کس کوم (مسلمان)

لِلرَّجُلِ: يَا يَهُودِيُّ فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ وَإِذَا قَالَ: يَا مُخَنَّثُ فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ

ته ووایي "ای یهودي" نو هغه شل کوړې ووهئ، او که ای مخنث ووایي نو بیایي هم شل کوړې ووهئ

وَمَنْ وَقَعَ عَلَى ذَاتِ مَحْرَمٍ فَاقْتُلُوهُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

او کوم سړی چې د محرم ښځې سره زنا وکړي هغه مړ کړئ. ترمذی رحمه الله دې روایت لره نقل کړی

---

[1] أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٦٣١ رقم الحدیث ٤٤٩٣ وأحمد فی المسند ٢/٢٤٤.

وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]

دی او ویلې یې دي چې دا حدیث غریب دی.

**توضیح: یامخنث**: مخنث هغه سړي ته وایې چې دهغه په اندامونو او خبرواترو چال چلن کې د زنانو اثر وي کچیرې داکمزوری پیدائشي وي نو ګناه نشته او که مصنوعي وي نو ډېر لوی جرم دی.

**فاضربوه عشرین**: دا شل کوړې ددې خبرې دلیل دی چې ددې نه مخکې د لسو کوړو ذکر راغلی دی په هغې کې تحدید اوتعین نشته بلکه هغه حدیث منسوخ دی کچیرې څوک سړی خپل غلام یا کوم کافر باندې دزنا تهمت ولګوي نوهغه باندې حد قذف نشته دی بلکه تعزیردی، او که چا یو مسلمان لره د زنا نه علاوه په نورو تکلیف رسوونکو الفاظو سره یاد کړو نو په هغه باندې به تعزیر رائي مثلاً اووایې چې ای فاسقه! ای کافره! ای غله ای خبیثه ای منافقه ای لوطي ای یهودي، ای دیوثه ای مخنثه ای د بدکاره ښځې ځویه ای د وینځې اولاده ای زندیقه ای حرام زاده وغیره. (المرقات۲۲۴/۷)

اوکه یو مسلمان یې په راتلو نکو الفاظو سره یاد کړو نو تعزیر به نه رائي مثلاً ووایې ای خره، ای سپیه، ای شادو، ای ګونګیه، ای مارە، ای غوایه، ای دنائي اولاده، اوای دوکه بازه، ای بې وقوفه، ای مسخرې وغیره وغیره. علماؤ لیکلې دي چې کچیرې څه عیب واقعي په ده کې وي نو تعزیر به نه وي ها که علماء او شرفاء یې په دې الفاظو سره یادکړل نو تعزیر به وي. (المرقات۲۲۴/۷)

**عل ذات محرم**: یعنی خپلو محارمو سره یې زنا وکړه نو هغه قتل کړئ. ددې حدیث دظاهري الفاظو نه امام احمدبن حنبل رحمه الله استدلال کړی دی چې د ذات محرم سره زنا کونکی واجب القتل دی که هغه محصن وي یا غیرمحصن وي. جمهورعلماء فرمائی چې د زنا په معامله کې ضابطه یوقسم ده چې که محصن دی نو سنګسارول دي او که غیرمحصن دی نو کوړې دي، ددې حدیث جواب او محمل دادی چې په زجر اوتوبیخ او تشدید اوتغلیظ باندې محمول دی، دویم جواب دادی چې ددې سړي په باره کې کوم چې محارمو سره زنا ته جائز وایې بیابه دده قتل د ارتداد د وجې نه وي. دریم جواب دادی چې دا حکم د سیاست اومصلحت لاندې دی کچیرې امام اوقاضی مناسب وګڼي نو قتل دې کړي او دا د تعزیر حصه ده ، دا جواب د تعزیر د باب سره زیات موافق دی. (المرقات۲۲۵/۷)

---

(1) أخرجه الترمذی فی السنن ٤/٥١ رقم الحدیث ١٤٦٢ وابن ماجه في ٢/٨٥٦ رقم الحدیث ٢٥٦٤.

## په مالِ غنيمت کې دخيانت کونکي تعزير

﴿۴﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا وَجَدْتُمُ

او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې که تاسو داسې

الرَّجُلَ قَدْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللهِ فَاحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوهُ» .

سړي لره ونيسئ چې هغه دالله په لاره کې خيانت کړی وي نو دهغه مال او اسباب وسوزوئ او هغه ووهئ.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيث غَرِيب[1]

(ابوداؤد ،ترمذی) او ترمذی رحمه الله ويلې دي چې دا حديث غريب دی.

**توضيح** : غلّ فی سبيل الله : يعنی په مال غنيمت کې يې خيانت وکړو نوسړی د تعزير په طور باندې په کوړو ووهئ دهغه مال اومتاع وسوزوئ.

د سامان سوزولو په باره کې د علماء کرامو مختلف اقوال دي، امام احمدبن حنبل رحمه الله او حسن بصری رحمه الله فرمايي چې څنګه دظاهري حديث حکم دی دغه شان ددې سړي سامان يوځای کولو سره دې وسوزولی شي که په سامان کې څاروي وي، يا مصحف شريف وي يا دجهاددپاره وسله وي نوهغه دې ونه سوزولی شي.

جمهورعلماء فرمائی چې سامان دې ونه سوزولی شي ځکه چې په دې کې دغانمينو حق دی ځکه چې داسامان ددې سړي خپل خو نه دی، د حديث دا حکم ياخو داسلام په ابتداء کې وو يا بيا منسوخ شو يادا حکم په تغليظ اوتشديد او زجر اوتوبيخ باندې محمول دی يعنې دا ويروئ خو عمل مه کوئ. (المرقات ۲۲۵/۷)



(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۱۵۷ رقم الحديث ۲۷۱۳ والترمذی فی ۴/۵۰ رقم الحديث ۱۴۶۱.

# بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَوَعِيدِ شَارِبِهَا

## دخمرو تعریف او د څکلووالا دپاره وعید

خمر یعنی شراب دهغه څیزنوم دی چې دهغې په استعمال سره نشه اومستی پیدا شي که هغه د انګورو دشیرې په شکل کې وي یاد بل کوم څیز شپره وي. خمر د انګورو یا دبل څیز دهغه شیرې نوم دی چې دهغې په استعمال سره نشه اومستي پیدا کیږي. (کذا في القاموس)

دا تعریف زیات بهتر دی ځکه چې دا ټول قسمونه خمرته شامل دي صرف د انګورو د شپرې پورې خاص کول مناسب نه دي، ها داضروري ده چې دکومې میوې نه شراب جوړولی شي په هغه شپره کې سکر او نشه موجود وي که هغه دکهجورو نه جوړه شوې وي یا دشاتو نه جوړه شي، یا د جوارو نه وښتلی شي یا دبل څه مادې نه وښتلی شي. والخمر ماخامر العقل ددې عموم فائده به داوي چې په عربو کې اوخاصکر په مدینه منوره کې دانګورو شراب شاذ او نادر ملاویږي، په دې وجه دشرابو حکم په ټولو میوو کې عام کول پکاردي، داحنافو په کتابونوکې د شرابو تعریف داشان لیکلی شوی دی: **الخمر هی النَّیُّ من ماء العنب اذا غلا واشتد وقذف بالزبد** (مظاهرحق ۶۴۵/۳)

یعنې شراب دانګورو دهغه کچه شیرې نوم دی چې سخته او تینګه شي اوپه هغې باندې زګ راشي.

احناف دخمرو تعریف لره دانګورو سره په دې وجه خاص کوي چې ددې قطعي حرامې مبادې یو متعین حقیقت موجودیدل پکاردي، اهل لغت هم دې ته دخاصو شرابو اود خاص رس نوم ورکړی دی، ددې عارض د وجې نه یې شراب دانګورو سره خاص کړل ورنه تخصیص نشته دی.

**خمر او دحرامو مشروباتو قسمونه**: چه کوم څیزونه نشه راوستونکي دي ددې څلور لوی قسمونه دي: (۱) اول قسم خو شراب دي دا د انګورو وغیره نه داسې جوړیږي چې د انګورو کچه شپره راوباسي او څه لوښی کې یې کیږدي څه ورځې پس هغه تینګه شي بیایې وخوټکوي او هغه نشه کونکی جوړ شي، دې ته خمر وایې. راجح قول دادی چې په دې باندې زګ راتلل شرط نه دی دا شراب دي او په نص قطعی سره حرام دي. ددې لږ هم حرام دي او ډیر هم حرام دي، دچاپه دې کې اختلاف نشته دی دا دمنشیاتو جړه او اصل دی، نور منشیات ددې تابع دي په دې کې د نشې ختلو یا نه ختلو قید نشته دی بلکه مطلقًا حرام او موجب دحد دی او دا نجس العین دی. (مظاهرحق: ۶۴۵/۳)

(۲) دویم قسم هغه دی چې دانګورو شیره په اُور باندې معمولي غوندې پخه کړی شي او بیا محفوظ کړی شي دې ته په عربي کې **بَاذَق** او فارسي کې **بادہ** وایې، او چې دې مادې لره زیاته

پخه شي څلورمه حصه وسوزي او دري حصې پاتې شي نو دې ته طلا وايي دا هم حرام دی ددې څکل هم ناجائز دي ها په دې کې حد نافذولو دپاره دنشې ختل شرط دی. (مظاهرحق : ۶۴۵/۳)

(۳) دریم قسم **نقیع التمر** دی چې هغې ته **عصیر الرطب** هم وایي او سکر هم ددې نوم دی، دا د لمدو کجورو هغه شیره ده چې ټینګه شي او په دې کې زګ پیدا شي ددې څکل حرام دي خو د حد لګولو دپاره نشه ختل شرط دی دنشې ختلو نه بغیر به حد نه قائمیږي. (مظاهرحق : ۶۴۵/۳)

(۴) څلورم قسم **نقیع الزبیب** دی دې ته **عصیر الزبیب** هم وایي دا د وسکو هغه شیره ده چې دا زیاتو ایخودلو سره خټکیږی هم او زګ پرې هم راځي ددې څکل حرام دي خو د حد قائمولو دپاره د نشې ختل شرط دی دنشې ختلو نه بغیر به حد نه قائمیږي. د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد په دې څلورو قسمونو کې **اذا غلا واشتد و قذف بالزبد** شرط دی یعنې د زګ راتللو شرط هر قسم کې ضروري دی، خو صاحبین د زګ راتللو شرط صرف په خمر کې ضروری ګڼي باقی دریو قسمونو کې زګ راتلل ضروری نه دی صرف غلیان او جوش کافي دی. (مظاهرحق : ۶۴۵/۳)

**نور انبذه او د نورو مشروباتو حکم** : دلته څلور قسمه نور مشروبات هم دي. (۱) اول **نبیذ التمر** دی دا د کجورو نه د جوړ شوې هغه مشروب نوم دی کوم ته چې معمولی غوندې جوش ورکړی شوی وي او په دې کې نشه نه وي. (۲) دویم **خلیط** دی یعنی کشمش (وسکو) او کجورو لره ملاوولو سره لږ شان جوش یې ورکړو او شربت کشیدیې کړو. (۳) دریم **بتع** دی په باء او تاء باندې زبر دی دا دهغه نبیذ نوم دی چې دغنمو، وربشو، شاتو او جوارو وغیره په اوبو کې اچولوسره معمولي غوندې جوش ورکولو سره عرق تري جوړولی شي. (مظاهرحق : ۶۴۶/۳)

(۴) څلورم مثلث دی یعنی عرق انګورو لره دومره پاخه کړی شي چې ددې دوه حصې ختمې شي او یوه حصه د مشروب په صورت کې باقي پاتې شي. ددې څلورو مشروباتو حکم دادی چې کچیرې ددې په ډیر مقدار استعمالولو سره نشه راځي نو ددې د لږ مقدار استعمالول هم حرام دي، او که په ډیر مقدار کې نشه نه وي نو لږ او ډیر دواړه حلال دي. دا د جمهورو مسلک دی. او چونکه امام محمد رحمه الله هم د جمهورو سره دی لهذا د محققینو احنافو د تحقیق مطابق فتوی په دې قول باندې ده اګرچې امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي چې کچیرې ددې څیزونو لږ مقدار لره په عبادت باندې دقوي کیدو دپاره استعمال کړی شي نو دا جائز دی اګرچې ددې په ډیر مقدار کې نشه وی مګر فتوی په دې قول باندې نه ده. (مظاهرحق : ۶۴۶/۳)

الغرض اصل څیز نشه او سکر دی کچیرې نشه په څه مشروب کې وي یا په وښو کې وي یا د کومې وني په شیره کې وي یا په تمباکو کې وي یا شرابو او بنګو کې وي ټول حرام دي. نشه کوونکو څیزونو کې بنګ، افیم او بعضې جړې بوټي دي، دغه شان تمباکو هم ناجائزدي څنګه چې صاحب د درمختار لیکلې دي، او شاه عبدالعزیز رحمه الله چیلم څکل مکروه تحریمی لیکلی دی ځکه په دې څیزونو سره په بدن کې فتور او سستي پیدا کیږي. اوپه حدیث کې اوس ددې حکم راتلونکی دی چې وکل مفتر یعنی هر سستي راوستونکی څیز حرام دی، دا تفصیل صاحب د مظاهر حق رحمه الله لیکلی دی

ماخو دیرې دوجې نه لږ ولیکلو باقی مې پریخوستلو هلته یې اوګورئ. (مظاهر حق ج۳ ص۶۶۴)
زه خو پخپله نسوار سګریټ او تمباکو او پان لره قطعًا نه خوښوم او نه دیو عالم دین دپاره دا شیان خوښوم خو زماڅه حیثیت دی، علماء ماپورې مذاق وکړي اګر چې دسعودي عرب علماء دې څیزونو ته حرام وایي اوکله چې درمختار هم حرام لیکلې دي که تفصیل کې لاړ شې نو په نفې کې به ډیر څه ملاو شي. په مدینه منوره کې یو علمی شخصیت حضرت مولانا عبدالوحید عبدالملک دامت برکاتهم دسګریټ په حرمت باندې یوه ښه رساله لیکلې ده چې په هغې کې یې د تمباکو نه جوړ شوې څیزونو په حرمت باندې ښه په تفصیل سره کلام کړی دی الله تعالی دې دهغه په ژوند کې برکت واچوي اګر چې بعضې علماء دتمباکو څکلو ته حرام نه وایي خو ددې په کراهت باندې دټولو اتفاق دی که کچیرې کراهت تنزیهی هم ومنلی شي نوپه دې باندې په اصرار سره بیابه هم دا مسئله

خطرناک حدته رسي، راتلونکي دحدیث نمبر۱۶ لاندې ښه تفصیل راروان دی چې الله تعالی دماشوم خوله دمور په خیټه کې ددې ټولو ګندګونه په دې وجه پاکه ساتي چې په دې خولې سره به دا ماشوم زما نوم اخلي، اوس چې کله لوی شو په خپل اختیار کې راغې نو ده پخپله خپله خوله بدبوداره کړه دا څومره نامناسبه خبره ده چا څه ښه ویلې دي.

هزار بار بشویم دهن بمشک وګلاب
هنوز نام تو گفتن کمال بے ادبی است

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل "شراب ددې دوه

| |
|---|
| الشَّجرتينِ: النخلةِ والعِنَبَةِ". رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1] |
| ونو يعنى انگورو او كجورو نه جوړيږي. (مسلم) |

**توضيح: الخمر من هاتين**: چونكه اكثر او ډير ځل شراب د انگورو او كجورو نه جوړيږي په دې وجه نبى عليه السلام دې طرف ته اشاره وكړه په دې كې حصر كول مقصود نه دى بلكه صرف دا خودل مقصود دى چې مسكر همدا دى. (المرقات ۲۲۶/۷)

## خمر د كوم څيزونه جوړيږي

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: خَطَبَ عمرُ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَلَى مِنْبَرَ |
| او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې (يوه ورځ) حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ په منبر |
| رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ |
| باندې (ودريدلو) خطبه يې وركړه او ارشاد يې وفرمايلو چې "د شرابو حرمت نازل شوى دى او |
| تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ: الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ والشعيرِ والعسلِ |
| شراب دپنځو څيزونو نه جوړيږي يعنى انگورونه كهجورونه، غنمونه، وربشو نه، اوشاتو نه، او |
| وَالْخمر مَا خامر الْعقل". رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[2] |
| شراب هغه دي چې عقل لره پټوي. (بخارى) |

**توضيح: وهي من خمسة اشياء**: دا پنځه څيزونه يې بطور شهرت ذكر كړل كه نه نو شراب د نورو څيزونو نه او په نورو طريقو هم حاصليږى همدا وجه ده چې د دې حديث په آخري الفاظو كې حضرت عمر رضى الله عنه نهايت عموم طرف ته اشاره وكړه چې **والخمر ماخامر العقل** يعنى شراب خو د هر هغه نشه كونكي څيز نوم دى چې عقل لره خميره كولو سره پټوي. دا د شرابو بهترين تعريف دى اگرچې د فقهاء عظامو اجتهادى بحثونه دلته موجود دي. (المرقات ۲۲۶/۷)

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۱۵۷۳ رقم الحديث ۱۹۸۵-۱۳ وأبوداود فى السنن ٤/۸۳ رقم الحديث ۳٦۷۸ والترمذى فى ٤/۲٦۳ رقم الحديث ۱۸۷۵ والنسائى فى ۸/۲۹٤ رقم الحديث ۵۵۷۲ وابن ماجه فى ۲/۱۱۲۱ رقم الحديث ۳۳۷۸ وأحمد فى المسند ۲/۲۷۹.

(۲) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۰/٤۵ رقم الحديث ۵۵۸۸ ومسلم فى ٤/۲۳۲۲ رقم الحديث (۳۰۳۲-۳۳) وأبوداود فى السنن ٤/۷۸ رقم الحديث ۳٦٦۹، والنسائى فى ۸/۲۵۹ رقم الحديث ۵۵۷۸.

﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې د شرابو حرمت نازل شوی وو هغه وخت ددې حرمت (نافذ) کړی شوی وو (هغه وخت)

خَمْرَ الْأَعْنَابِ إِلَّا قَلِيلًا وَعَامَّةُ خمرنا الْبُسْر وَالتَّمْر. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1]

مونږ ته دانګورو شراب به کم ملاویدل زمونږ شراب به زیات تر د تر کجورو او د وچو کجورو نه جوړیدل. (بخاری)

﴿۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د بتع یعنی د شاتو د نبیذ په باره کې

وَهُوَ نَبِيذُ الْعَسَلِ فَقَالَ: «كُلُّ شَرَابٍ

تپوس وکړی شو (چې د ددې څکل جائز دي یانه؟) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې هغه مشروب چې

أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ» (صَحِيحٌ)[2]

نشه راولي حرام دی. (بخاری و مسلم)

**نوټ:** بتع دلته د باء په زیر سره او د تاء په سکون سره دی خو دا لنظ د باء او تاء په زبر سره هم لوستلی شوی دی په اوبو کې شات ملاوولو سره په اُور ایخودل او چې جوش ورکړی شي دا بتع دی.

## کوم سړی چې په دنیا کې شراب څکي هغه به په جنت کې د شرابو نه محروم وي

﴿۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هر نشه کونکی څیز

خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا

شراب دي او هر نشه کونکی څیز حرام دی (که هغه په لږ مقدار کې وي یا زیات وي) او کوم سړی

فَمَاتَ وَهُوَ يُدْ مِنْهَا لَمْ يَتُبْ

چې په دنیا کې شراب څکي او همیشه شراب څکي تر دې پورې چې د توبې نه بغیر مړ شي نو هغه ته به

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/۳۵ رقم الحدیث ۵۵۸۰ ومسلم بنحوه فی صحیحه ۳/۱۵۷۱ رقم الحدیث (۱۹۸۰-۷)

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/۴۱ رقم الحدیث ۵۵۸۶ ومسلم فی ۳/۱۵۸۵ رقم الحدیث (۲۰۰۱-۶۷) وأخرجه أبوداود فی السنن ۴/۸۹

لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ». رَوَاهُ مُسلم[1]

په آخرت کې شراب څکل نه نصیب کیږي. (مسلم)

**توضیح**: یدمنها: دهمیشه همیشه دپاره چې کوم سړی شراب څکي هغه ته مدمن خمر وایي دا د داسې سړي دپاره ګویا خاص صفت او خصوصی تعارف دی، په احادیثو کې باربار دا لفظ د باب افعال نه راغلی دی. (المرقات ۲۳۰/۷)

**لم یشربها**: ددې مطلب دادی چې هغه سړي په دنیا کې شراب څکل حلال ګڼل او حرامو لره حلال ګڼل کفر دی. په دې وجه دا سړی مرتد کیدو سره دائمی دوزخي جوړشو نو په دوزخ کې شراب چیرته دي؟ یا دا چې په اوله کې به ده ته شراب نه ملاویږي خو دسزا خوړلو نه پس چې کله جنت ته لاړشي نو بیا به ورته ملاویږي، یامطلب دادی چې دې سړي ته به په جنت کې ددې نعمت خواهش نه وي نو نه به یې څکي.

## د شرابی په باره کې وعید

﴿۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې د یمن یو سړی (دربارنبوي) ته راغی او د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه یې

عَنْ شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ

د جوارو د شرابو متعلق پوښتنه وکړه چې په یمن کې به څکل کیدل او هغې ته مزر ویلی شي،

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَ مُسْكِرٌ هُوَ؟» قَالَ: نَعَمْ قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ تپوس وکړو چې "آیا نشه راولي؟" هغه وویل چې آو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نشه راوستونکی

حَرَامٌ إِنَّ عَلَى اللهِ عَلَى هُدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ

هرڅیز حرام دی او (یادساته) چې دالله تعالی وعید دی چې کوم سړی نشه راوستونکي څیز لره

يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ

څکي هغه باندې به طینة الخبال څکولی شي. صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې ای دالله رسوله!

---

[1] أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۵۸۷ رقم الحدیث (۲۰۰۳-۷۳) وأخرج البخاری شطره الثانی فی صحیحه ۱۰ رقم الحدیث ۵۵۷۵ وأخرجه أیضا الترمذی فی السنن ۴/۲۵۶ رقم الحدیث ۱۸۶۸ وابن ماجه فی ۲/۱۱۱۹ رقم الحدیث ۳۳۷۳.

| |
|---|
| وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ؟ قَالَ: «عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ |
| طينة الخبال څه شيز دی؟ نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل خبال د دوزخيانو خوله ده. يايې وفرمايل |
| أَوْ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1] |
| چې خبال هغه پيپ او وينه ده چې د دوزخيانو د زخمونو نه بهيږي. (مسلم) |

**توضيح** : **طينة الخبال** : خبال د دوزخيانو وينه اوپيپ دی، يا دهغوی د بدنونو خوله ده، د طينة مطلب کچيرې خيری واخستلی شي نوپه مفهوم پوهيدل به نور زيات آسان شي. **الذرة** جوارو ته وايي ددې نه هم شراب جوړيږي. **المزر** په ميم باندې زيردی او زاء باندې سکون دی. (المرقات ۲۳۲/۷)

## د مخلوطو ميوو نه د نبيذ جوړولو حکم

| |
|---|
| ﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ خَلِيطِ |
| او حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وچو کجورو او د کچه کجورو يوځای کولو |
| التَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَعَنْ خَلِيطِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ |
| سره دنبيذ جوړولو نه منع فرمايلې ده. اوچې کجورې او د وچو انګورو يوځای کولو سره د نبيذ جوړولو نه يې |
| وَعَنْ خَلِيطِ الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ. |
| منع فرمايلې ده، او دکچه کجورو او د لمدو کجورو يوځای کولو سره دنبيذ جوړولو نه يې منع فرمايلې ده |
| وَقَالَ: «انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[2] |
| وې فرمايل: چې (کچيرې نبيذ جوړول ذي نو) د دې نه د هريو نه د هريو نه ځانله ځانله نبيذ جوړ کړئ. |

**توضيح** : **نهى عن خليط التمر** : خليط د اختلاط او مخلوط کولو په معنی سره دی او تمر وچو کهجورو ته وائی او **بسر** دکچه کهجورو په معنی سره دی. **زهو** دا هغه کهجورو ته وائی چې پخيدو ته نزدې کيدو په وجه په مختلفو رنګونو سره بدليږی، دکچه او پخو کهجورو ممانعت په دې وجه دی چې نبيذ جوړولو و الا ته اندازه نه کيږی او پخې کهجورې به په شرابو سره بدلې شوې

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحيحه ۳/۱۵۷۸ رقم الحديث ۷۲/۲۰۰۲ والنسائی فی السنن ۸/۳۲۷ رقم الحديث ۵۷۰۹ وأحمد فی المسند ۳/۳۶۱

(۲) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۰/۶۷ رقم الحديث ۵۶۰۲ ومسلم فی ۳/۱۵۷۶ رقم الحديث (۱۹۸۸-۲۶) وأبوداود فی السنن ۴/۱۰۰ رقم الحديث ۳۷۰۴، والنسائی فی ۸/۲۸۹ رقم الحديث ۵۵۵۱ وابن ماجه فی ۲/۱۱۲۵ رقم الحديث ۳۳۹۷.

وي او هغه تر اوسه پورې دکچو په انتظار کې وي، ځکه چې پخې کهجورې دخپل مزاج په اعتبار سره زر متاثره کیږی اوس به دپخو کهجورو ګډوالی په دې مخلوط نبیذکې راشي چې دهغې استعمال ناجائز دی په دې وجه اختلاط منع کړی شوی دی. د امام مالک رحمه الله په نزد ددې حدیث د وجې نه محض دا اختلاط منع دی او ددې استعمال منع دی اګرچې په دې کې سکر نه وي، خو جمهور فقهاء فرمائی چې دا اختلاط او ددې نه جوړشوې نبیذ به هغه وخت ناجائز وي چې په دې کې نشه راشي ګڼي نه. (المرقات ۲۳۲/۷)

## آیا دشرابو نه سرکه جوړول جائز دي؟

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړی شو چې شرابو (کې مالګه |
| عَنِ الْخَمْرِ يُتَّخَذُ خَلًّا؟ فَقَالَ: «لَا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1] |
| اوپیازوغیره اچولو سره) ددې نه سرکه جوړه کړی شي نو هغه حلال دی او که نه؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل نه. |

**توضیح**: **يتخذ خلاً**: یعنی په شرابو کې مالګه او پیاز وغیره ملاوولو سره سرکه جوړه کړی شي نو آیا ددې سرکې استعمالول جائز دي او که نه؟ په دې کې دفقهاؤ اختلاف دی:

**دفقهاؤ اختلاف**: امام شافعی رحمه الله فرمائی چې کچیرې دځه څیز په ملاوولو سره تړې سرکه جوړه کړی شوه نو دهغې استعمالول جائز نه دی دا اوس هم سرکه نه ده بلکه د نجس شرابو په حکم کې دی ها که پخپله په نمر وغیره کې ایخودلو سره تړې سرکه جوړه شي نو اوس دا شراب پاتې نه شو اوس ددې استعمال جائز دی، آئمه احناف فرمائی چې دځه څیز په ملاوولو سره دشرابو نه سرکه جوړول یو مکروه فعل دی خو سرکه جوړولو نه پس هغه شراب پاتې نه شو اوس خو دا سرکه ده اوسرکه حلاله ده ددې استعمال جائز دی.

**دلائل**: شوافعو د مذکوره حدیث نه استدلال کړی دی، احنافو د **نعم الادام الخل** والا حدیث نه استدلال کړی دی چې اوس شراب نه دي بلکه سرکه ده دغه شان بیهقی کې حدیث دی چې **خیر خلکم خل خمرکم**. (المرقات ۲۳۲/۷)

**جواب**: شوافعو د زیربحث حدیث نه استدلال کړی دی، احناف ددې دا جواب ورکوي چې د شرابو

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۵۷۳ رقم الحدیث (۱۹۸۳-۱۱) والترمذی فی السنن ۳/۵۸۹ رقم الحدیث ۱۲۹٤، والدارمی فی ۲/۱۵۹ رقم الحدیث ۲۱۱۵ وأحمد فی المسند ۲/۲٦۰

نه د تبدیل شوې سرکې ممانعت هغه وخت دی هرکله چې په ابتداء کې د شرابو نه دنفرت ورکولو دپاره لوښو لره هم منع کړی شوې وو چې هسې نه چې شیطان د شرابو د خوند او د دې وسوسې دوباره بیا په زړه کې وانه چوي په دې وجه د شرابو نه تبدیل شوې سرکې ممانعت هم شوی دی ګنې کله چې دشرابو ماهیت تبدیل کړی شو او سکر اونشه ختمه شوه نو بیا د ممانعت وجه نشته دی، بهرحال که په دې ظاهری حدیث باندې کوم کس عمل کول وغواړي نو په دې کې څه باک نشته دی، او نه ددې د معارضې څه ضرورت شته دی.

## شراب دوا نه ده بلکه بیماري ده

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَنْ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ |
| او حضرت وائل حضرمی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې طارق بن سوید دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د شرابو څکلو |
| سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ. فَقَالَ: إِنَّمَا |
| په باره کې تپوس وکړی شو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه لره منع کړو، بیا طارق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې مونږ شراب |
| أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ فَقَالَ: «إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ |
| د دوائي په طور باندې استعمالولی شو؟ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې هغه دوائي نه ده بلکه |
| وَلَكِنَّهُ دَاءٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ(۱) |
| (پخپله یوه) بیماری ده. (مسلم) |

**توضیح: انه لیس بدواء**: اکثرو علماو د دوا په طور د شرابو استعمالول منع کړې دي، بعضې علماء وائی چې که طبیب حاذق اوماهر وي او نیک اوصالح وي او هغه مشوره درکړي چې ددې مرض علاج دشرابو نه علاوه په بل څیز کې نشته دی نوپه دې صورت کې به د مجبوری په درجه کې استعمالول مباح وي. باقی نبی علیه السلام چې کوم فرمایلې دي چې شراب بیماری ده نو دا حقیقت دی چې بیماری ده مګر په ظاهری طور باندې په دې کې عارضی هیجان او چستي رائي چې علاج نه صرف عارضی هیجان دی او دې عارضی فائدې ته په قرآن کې **ومنافع للناس** ویلی شوی دی. (المرقات ۲۳۲/۷)

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۵۷۳ رقم الحدیث (۱۹۸٤-۱۲) والدارمی فی ۲/۱۵۳ رقم الحدیث ۲۰۹۵ وأحمد فی المسند ٤/۳۳۱

# د شرابو څکلو عذاب

## الْفَصْل الثَّانِي

﴿۱۰﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «مَنْ

حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم سړی (په

شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ لَهُ صَلَاةَ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا

اول ځل شراب وڅکي (او توبه نه کوي) نو الله تعالى به څلويښت ورځو پورې دهغه مونځ نه قبلوي،

فَإِنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ. - فَإِنْ عَادَ

بياکه هغه (په اخلاص سره) توبه وکړي نو الله تعالى دهغه توبه قبلوي او که بيا هغه (په دويم ځل)

لم يقبل الله لَهُ صَلَاةَ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ

شراب وڅکي نو الله تعالى څلويښت ورځو پورې دهغه مونځ نه قبلوي او بياکه هغه توبه وباسي

تَابَ اللهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ لم يقبل الله

نو الله تعالى دهغه توبه قبلوي بياکه هغه (په دريم ځل) شراب وڅکي نو الله تعالى څلويښت ورځو

لَهُ صَلَاةَ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ

پورې دهغه مونځ نه قبلوي او بيا که هغه توبه اوباسي نو الله تعالى دهغه توبه قبلوي. تردې پورې

فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ لَهُ صَلَاةَ أَرْبَعِينَ

چې کله هغه په څلورم ځل شراب وڅکي نو الله تعالى (نه صرف داچې) څلويښت ورځو پورې دهغه

صباحا فَإِنْ تَابَ لم يَتُبِ اللهُ عَلَيْهِ

مونځ نه قبلوي (بلکه) که هغه توبه هم کوي نو دهغه توبه (هم) نه قبلوي او (آخرت کې) به په ده باندې

وَسَقَاهُ مِنْ نَهْرِ الْخَبَالِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

د دوزخيانو د پيپ او وينو د نهر نه څکولى شي. (ترمذى) نسائى، ابن ماجه او دارمى دا روايت

---

(۱) أخرجه الترمذى فى السنن ٤/٢٥٧ رقم الحديث ١٨٦٢ وأحمد فى المسند ٢/٣٥

| وَالدَّارِمِيُّ عَنْ عَبْدِاللهِ بن عَمْرو[1] |
| --- |
| د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی. |

**توضیح**: **اربعین صباحًا**: دشرابو اثردی چې څلویښتو ورځو پورې مونځ قبول نه دی خو مونځ کول به ضروري وي. مونځ چونکه ام العبادات دی او شراب ام الخبائث دی په دې وجه دشرابو اثر په مونځ باندې پریوځي او کله چې مونځ چې د افضل عباداتو نه دی قبول نه شي نو نور عبادات به په طریق اولی سره نه قبلیږي. (المرقات ۲۳۳/۷)

**لم یتب الله**: یعنی په څلورم ځل بیا الله تعالی دده توبه نه قبلوي، علماء فرمائی چې د نبی علیه السلام دا فرمان چې دهغه توبه به نه قبلیږی دا په زجر اوتوبیخ او تغلیظ اوتشدیدباندې محمول دی کنې توبه کول د دابة الارض د خروج او شروق المشرق من المغرب پورې جاري اومقبول ده. بیا هم اصل حقیقت دادی چې کوم سړی باربار شراب څکي نو دشرابو دنحوست د وجې نه به دده دتوبې توفیق نه نصیب کیږي، همدا مطلب شو چې دهغه توبه به نه قبلیږي. (المرقات ۲۳۳/۷)

## نشه راوستونکی څیز په لږ مقدار کې هم حرام دی

| ﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ |
| --- |
| او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې کوم څیز نشه راولي د هغه لږ |
| فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[2] |
| مقدار هم حرام دی. روایت کړې دې (ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه) |

## مسکر څیز یوه لپه هم حرام دی

| ﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا |
| --- |
| او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د کوم څیز (مثلاً شرابو) |
| أَسْكَرَ مِنْهُ الفَرَقُ فَمِلْءُ الكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ[3] |
| یو فرق (یعنی د اتو سیرو مقدار) نشه راولي دهغې یوه ډکه لپه هم حرامه ده. (احمد، ترمذی، ابوداؤد) |

---

(۱) أخرجه النسائی فی السنن ۸/۳۱۶ رقم الحدیث ۵۶۶۹ وابن ماجه فی ۲/۱۱۲۰ رقم الحدیث ۳۳۷۷ والدارمی فی ۲/۱۵۲ رقم الحدیث ۲۰۹۱.

(۲) أخرجه أبوداود ۱/۷۸ رقم الحدیث ۳۶۸۱ الترمذی ۱/۲۵۸ رقم الحدیث ۱۸۶۵ ابن ماجه ۲/۱۱۲۵ رقم الحدیث ۳۳۹۳ مسند احمد ۳/۳۴۳.

(۳) أخرجه أبوداود فی السنن ۱/۹۱ رقم الحدیث ۳۶۸۷ والترمذی فی ۲۵۹ ۱ رقم الحدیث ۱۸۶۶ وأحمد فی المسند ۶/۱۳۱.

**توضیح** : الفرق : مثلاً د شرابو څه داسې قسم چې دهغې زیات مقدار نشه راولي خو په لږ مقدار کې نشه نه راولي نو ددې مطلب دا نه دی چې ددې کم مقدار به جائز وي بلکه ددې کم مقدار به هم حرام وي البته دنشې نه ختلو د وجې نه به حد نه نافذ کیږي، ګناه به وي دانسان دا فطرت دی چې هغه مخکې کوم څیز لره ډېر کم استعمالوي هغه لږ څیز انسان لره ډیر طرف ته راکاږي، لهذا ددې دکم مقدار نه ځان ساتل ضروري دي. فرق د شپارسو پونډو یوه پیمانه باندې دفرق اطلاق کیږي د فرق په راء باندې فتحه اوسکون دواړه جائزدي، د مدینې والو د یوې پیمانې نوم دی چې په هغې کې درې صاعه یا شپارس رطله غله راځي دلته لږ اوډیر مقدار مراد دی. (المرقات ۲۳۴/۷)

## شراب دګومو څیزونو نه جوړیږي

﴿۱۳﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنَ الْحِنْطَةِ

او حضرت نعمان بن بشیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې د غنمو هم شراب وي، د

خَمْرًا وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرًا وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرًا وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرًا وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرًا».

وربشو هم شراب وي، دکهجور هم شراب وي، دانګورو هم شراب وي او دشاتو هم شراب وي.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[1]

(روایت کړې دې ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه) ترمذی رحمه الله وائی چې دا حدیث غریب دی.

## شراب په هیڅ صورت کې قابل د احترام نه دي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ

او حضرت ابوسعید الخدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې مونږ سره یو یتیم شراب ایخودلي وو نو دسورت

فَلَمَّا نَزَلَتِ (الْمَائِدَةُ) سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ

مائدې هغه آیت انما الخمر الآیة نازل شو نو ما دهغه یتیم دشرابو په باره کې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تپوس وکړو

وَقُلْتُ: إِنَّهُ لِيَتِيمٍ فَقَالَ:

اوعرض مې وکړو چې هغه دیو یتیم مال دی (او چونکه د یتیم مال نه دی ضائع کول پکار په دې وجه

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۸۳/۴ رقم الحدیث ۳۶۷۶ والترمذی فی السنن ۲۶۲/۴ رقم الحدیث ۱۸۷۲ وابن ماجه فی ۱۱۲۱/۲ رقم: ۲۴۷۹

| |
|---|
| «أَهْرِيقُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (صَحِيح)[1] |
| اوس څه حکم دی) نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې هغه وغورزوه. (ترمذی) |

**توضیح**: انه لیتیم: دصحابی مطلب دا وو چې دا د وړوکي ماشوم او یتیم مال دی دې لره څنګه ضائع کړم نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل اهریقوه خامخایې تویولوسره توی کړه ځکه چې دا مال محفوظ نه دی واجب الحفاظت نه دی بلکه واجب الاهانت دی. (المرقات ۲۳۷/۷)

## دشرابو لوښي هم مات کړئ

| |
|---|
| ﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ: أَنَّهُ قَالَ: يَا نَبِيَّ الله |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل کوي چې هغوی عرض وکړو چې ای دالله دنبی! |
| إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي قَالَ: «أَهْرِقِ |
| ماددې یتیمانو دپاره شراب اخستي وو چې زما په پرورش کې دي نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې ویې غورزوه |
| الْخَمْرَ وَاكْسِرِ الدِّنَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ. |
| او دهغې لوښی مات کړه. ترمذی رحمه الله دې روایت لره نقل کړی دی اوضعیف یې ګرځولی دی. |
| وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: أَنه سَأَلَهُ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَيْتَامٍ |
| ابوداؤد رحمه الله په روایت کې داسې دي چې ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې یتیمانو په باره کې تپوس وکړو |
| وَرِثُوا خَمْرًا قَالَ: |
| (کوم چې دهغه په پرورش کې وو اوچاته چې په میراث کې شراب ملاوشوي وو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل |
| «أَهْرِقْهَا». قَالَ: أَفَلَا أَجْعَلُهَا خلاًّ؟ قَالَ: «لَا»[2] |
| چې هغه وغورزوه، هغوی عرض وکړو چې زه ددې نه سرکه جوړه نه کړم وې فرمایل نه. |

---

([1]) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/۵۶۳ رقم الحدیث ۱۲۶۳ وأحمد فی المسند ۳/۲۶.

([2]) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/۵۸۸ رقم الحدیث ۱۲۹۳ وروایة أبی داود أخرجها فی السنن ۴/۸۲ رقم الحدیث ۳۶۷۵.

## الْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۶﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ

او حضرت ام سلمه رضي الله عنها وائي چې نبي صلى الله عليه وسلم منع فرمايلي ده د هر هغه څيز (خوړلو، څکلو

مُسْكِرٍ ومفتر. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[1]

نه چې نشه راوستونکی او مفتروي. (ابوداؤد)

**توضيح**: ومفتر: په نهايه د ابن كثير كې يې ليكلي دي چې مفتر هرهغه څيز ته وايي چې دهغې په څكلو سره دماغ او زړه باندې ګرمي خوره شي او د اندامونو په سردار كې ضعف اوفتور او كمزوري پيداشي. (المرقات ۲۳۸/۷)

قاموس كې دي فتر جسمه فتورًا لانت مفاصله وضعف يعنى بدن او دبدن جوړ چې په كوم څيز سره ضعيف او كمزورى اوسست شي هغه مفتر دى،ددې تعريف پيش نظر مفتر كې نسوار، سګريټ، تمباكو والا پان او نور څيزونه داخل دي چې په هغې كې تمباكو اوبنګ يا افيم شامل وي، په حديث كې دې لره حرام ګرځول شوى دى، صاحب درمختار او د صاحب تنويرالابصار تحقيق هم دادى چې دا څيزونه مكروه تحريمي نه دي بلكه حرام دي چنانچه د تنوير الابصار او د درمختار عبارت داسې دى: ويحرم اكل البنج والحشيشة وهي ورق القنب والافيون لانه مفسد للعقل، ويصد عن ذكر الله ونقل من الجامع وغيره ان من قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع بل قال نجم الدين الزاهدي انه يكفر ويباح قتله (درمحتار ج۱۰ ص۴۶)

**ترجمه**: بنګ، تمباكو او افيم خوړل حرام دي ځكه چې دا څيزونه عقل لره خرابوي او د الله تعالى ذكر لره منع كوي او چاچې بنګ او حشيشو ته جائز ويلي دي هغه مبتدع او زنديق دى بلكه نجم الدين زاهدي ويلي دي چې هغه كافر شو ددې قتل جائز دى.

ثم قال شيخنا النجم والتتن (التمباك) الذى حدث وكان حدوثه بدمشق فى سنة خمس عشرة بعد الالف ۱۰۱۵ هجرى يدعى شاربه انه لايسكر وان سلم له فانه مفتر وهو حرام.

(۱) لحديث احمد عن ام سلمة قالت نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر وقال

---

(۱) أخرجه أبوداود فى السنن ۴/۹۰ رقم الحديث ۳۶۸۶ وأحمد فى المسند ۶/۳۰۹ رقم الحديث ۲۶۵۱ أخرجه أبوداود فى السنن ۴/۸۹ رقم الحديث: ۳۶۸۳ وأحمد فى المسند ۴/۳۲۴.

ليس من الكبائر تناوله المرة والمرتين (۲) مع نهي ولي الامر عنه حرم قطعًا (۳) على ان استعماله ربما اضر بالبدن (۴) عم الاصرار عليه كبيرة كسائر الكبائر. (درمختار ج ص)

ترجمه: بيا زمونږ شيخ نجم الدين زاهدي ويلي دي چې د تمباکو نومې څيز چې دمشق ۱۰۱۵ هجري کې ايجاد شوی دی ددې استعمالولو والا اګرچه دا دعوی کوي چې په دې کې سکر نشته دا دعوی کچيرې ومنلی شي مګر دا تمباکو ددې وجې نه حرام دي چې دا په بدن کې سستي راولي مفتر دي. او د حضرت ام سلمه رضي الله عنها په روايت کې هر مسکر او هرمفتر لره منع ګرځول شوی دی او کله چې دملک سربراه يا اولی الامر دې لره منع کړي بياخودا قطعي حرام دی ددې سره سره په دې وجه هم حرام دی چې دا دبدن او صحت دپاره ضرري دی او که چيرې دا وړه ګناه هم وي بيا هم په دې باندې اصرار کولو سره کبيره جوړيږی. صاحب درمختار په عبارت سره ددې څيزونو حرمت يا مکروه تحريمی کيدل واضح کيږی د سعودی عرب دعلماو فتوې هم داسې ده د علماء احنافو د سرخيل علامه ابن عابدين شامی رحمه الله د درمختار د عبارتونو نه ښه تائيد کيږی، او بعضې يې رد فرمايلې دي، او پخپله دده رجحان هم دې طرف ته دی چې دتمباکو استعمال مکروه تنزيهی دی خو هغوی دخارجی مفاسدو دوجې نه دې څيزونو لره حرام هم ليکلې دی چې بعضې علماء ددې څيزونو د حرمت قائل دي، او بعضو مباح يا مکروه تنزيهی وايې، دوی دچيلم او سګريټو په باره کې د شرح وهبانيه نه دا شعرهم نقل کړی دی.

ويمنع من بيع الدخان وشربه

وشاربه في الصوم لاشك يفطر

علامه شامی رحمه الله د څيزونه خارجی مفاسدو کې د شامل کيدو دوجې حرام ګرځولې دي، فرمايې:

واما مايضم اليها من المحرمات فلاشبهة في تحريمه (شامی ج۱۰ ص۵۰) په درمختار کې د بنګو متعلق دوه شعرونه داسې دي:

وافتوا بتحريم الحشيش وحرقه

وتطليق محتش لزجر وقرروا

لبائعه التاديب والفسق اثبتوا

وزندقه للمستحل وحرروا

يعنی علماؤ خاشخاش او بنګ استعمالول او سوزولو سره دځکلو دحرمت فتوی ورکړې ده او بطور

زجرپې دحشیش نه مدهوش سړي د طلاق واقع کیدو حکم ورکړی دی او هغوی دحشیشو د خرڅونکي د سزا او دفسق اوتادیب حکم ورکړی دې او دې لره دحلال ګڼلو والا یې زندیق لیکلی دی.

بهرحال دحل اوحرمت مسئله چې په هغې حرمت ته ترجیح ورکولی شي ماصرف څو خبرې نقل کړې دي دې دپاره چې علماو او عوامو په مخکې دا خبره راشي چې دتمباکو معامله دومره ساده نه ده.

علامه طیبی رحمه الله فرمائی **ولایبعد ان یستدل علی تحریم البنج والشعشاء ونحوهما مما یفتر ویزیل العقل لان العلة وهی ازالة العقل مطردة فیها** (المرقات ۲۳۸/۷، الکاشف ۲۱۲/۷)

ترجمه : اوسګریټ څکل او ددې اخستل اوخرڅول دې منع کړی شي او که چیرې په روڅه کې یې سګریټ وڅکل نو یقیناً روڅه به یې ماته شي.

## دشراب څکلو په هیڅ حال کې هم اجازت نشته دی

| |
|---|
| ﴿۱۷﴾ وَعَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ: قُلْتُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ |
| او حضرت دیلم حمیري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما عرض وکړو ای دالله رسوله ! مونږ خلق د یوې یخې |
| وَنُعَالِجُ فِيهَا عَمَلًا شَدِيدًا وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا |
| علاقې اوسیدونکي یو هلته مونږ دسخت محنت کار کوو مونږ خلق دغنمو نه شراب تیارووچې |
| مِنْ هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا |
| دهغه په ذریعه مونږ دخپل محنت دپاره طاقت حاصلوو اوددې په قوت سره مونږ دخپلې علاقې |
| وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا قَالَ: «هَلْ يُسْكِرُ؟» قُلْتُ: نَعَمْ |
| یخنۍ باندې قابو مومو. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې آیا هغه شراب نشه راولي؟ ما عرض وکړو چې جې ها ! |
| قَالَ: «فَاجْتَنِبُوهُ» قُلْتُ: إِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نوبیا ددې نه ځان وساتئ. ما عرض وکړو خلق دهغې پریخودلو والا نه دي |
| قَالَ: «إِنْ لَمْ يَتْرُكُوهُ فقاتلوهم». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل کچیرې خلق دهغې څکل بند نه کړي (او دا حلال ګڼړی) نو هغوی سره قتال وکړئ. (ابوداؤد) |

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۸۹/٤ رقم الحدیث ۳٦۸۳ وأحمد فی المسند ۴۳۴/٤.

## د شرابو او د جواری ممانعت

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَمْرِ

او حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روایت کوي چې نبی علیه السلام د شرابو څکلو او د جواری کولو

وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ وَقَالَ: «كُلُّ

نه منع فرمایلي ده او د کوبه او غبیره نه یې هم منع فرمایلي ده دارنګه وې فرمایل چې کوم څیز هم

مُسْكِرٍ حَرَامٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1]

نشه راولي هغه حرام دی. (ابوداؤد)

**توضیح**: کوبه: نرد او شطرنج ته وایي دغه شان نقاره او د باجو آلاتو ته هم کوبه وایي. **الغبیراء**: داد حبشو جوړشوي د یو شرابو نوم دی په افریقي ملکونو کې د ژوارو پیداوار دپر زیات دی هغه خلق چې دمکئ (جوارو) نه کوم شراب تیاروي هغې ته غبیراء وائی (المرقات ۲۳۹/۷)

## شرابي به جنت ته نه داخلیږی

﴿۱۹﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روایت دی چې نبی علیه السلام وفرمایل (کوم خلق چې خاص نجات موندلو سره

«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌّ وَلَا

په شروع کې جنت ته داخلیږی دهغوی سره) به جنت ته نه خو هغه سړی داخلیږی چې دخپل مورپلار (بلا وجې)

قَمَّارٌ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ».

نافرمانی کوي او نه به جوار کر داخلیږی او نه به هغه سړی داخلیږی چې فقیرانو ته صدقه ورکړي او احسان پرې

رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ:

کوي، او نه به هغه سړی داخلیږی چې همیشه شراب څکي (دارمی) او د دارمی په یو روایت کې دي

«وَلَا وَلَدُ زِلْيَةٍ» بَدَلَ «قمار»[2]

نه به جوار کر داخلیږي په ځای د دې چې نه به ولد الزنا (جنت ته) داخلیږي.

---

(1) أخرجه ابوداود فی السنن ٤/٨٩ رقم الحديث ٣٦٨٥.

(2) أخرجه النسائی فی السنن ٨/٣١٨ رقم الحديث ٥٦٧٢ والدارمی فی ٢/١٥٣ رقم الحديث ٢٠٩٤ وأحمد فی المسند ٢٠١.

**توضیح** : ولاقمار : جواري کونکي ته قمار وايي د موجوده زمانې په اعتبار سره هر هغه لوبه چې په هغې دطرفينو دطرف په ګټلو بايللو باندې شرط ايخودلی شوی وي هغه ټولې لوبې په جواری کې داخلې دي.(المرقات ۲۳۹/۷)

**ولا ولد زلية** : ولد زنا چونکه دپلار دتربيت نه محرومه وي دمنحوسې نطفې بد اثر په ده کې وي په عام طور باندې لوفر وي د بدکرداره مور په غيږ کې يې پرورش موندلی وي لهذا هغه د ظاهري او باطنی تربيت نه ملاويدو په وجه سره هرقسم لوفری او دبدو کې مبتلا کيږی په دې وجه دجنت نه محروم کيږی. بعضې علماؤ دې حديث ته ضعيف ويلی دی ځکه چې دقواعدو د شريعت سره په ظاهره متعارض دی، ځکه چې د ورځې ماشوم څه قصور دی، بعضو ويلې دي چې په دې سره ددې بچې په زناکار پلار باندې تعريض مقصود دی چې دداسې بچي دپيدايش سبب جوړشو.(المرقات ۲۳۹/۷)

## نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګانو بجانو د آلاتو د ماتولو دپاره راغلی وو

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى

او حضرت ابو اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله تعالی مالره دپوره دنيا

بَعَثَنِي رَحْمَةً للعالمين وهُدىً لِلْعَالِمِينَ وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ

دپاره رحمت او دټول عالم دپاره هادي جوړ کړی راليږلی يم او زما بزرګ او برتر الله ماته حکم کړی دی

بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ

چې زه مزامير، بتان، صليب او دزمانه جاهليت (يعنی دکفر دحالت) ټولو رسوماتو او عاداتو لره مات کړم

وَحَلَفَ رَبِّي عزَّوجلَّ: بِعِزَّتِي لَا يشربُ عبدٌ منْ عَبِيدِي جرعة خَمْرٍ

او زما عزت مند خدای په خپل عزت قسم خوړلی دی چې زما بندګانو نه کوم بنده هم دشرابو يو ګوټ

إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا وَلَا يَتْرُكُهَا

هم وځکی زه به په هغه باندې (په آخرت) کې هم دومره قدرې د دوزخيانو پيپ وځکوم او کوم بنده چې زما د

مِنْ مَخَافَتِي إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدس". رَوَاهُ أَحْمد[1]

يرې دوجې نه شراب پريږدي زه به هغه باندې د پاکو حوضونو (يعنی دجنت د نهرونو) نه (شراب طهور) وځکوم.

---

([1]) أخرجه أحمد فی المسند ۲۲۸/۵

**توضیح** : **المعازف** : ددې نه مراد باجې، ډول، ډولکي، نقاره تاشه، طبله، طنبوره، ستار، سارنګي او دغه شان نور دګانو بجانو آلات دي. **مزامیر** ددې نه چنګ اورباب شهنائی او شپیلئ او دغه شان څیزونه مراد دي د ساز سره لوبه اوریدل حرام دي او بغیر د ساز نه اوریدل جائز دي په شرط ددې چې زنانه او امارد (بې ګیرې هلکان) نه وي. (المرقات ۲۴۰/۷)

**الصلب** : صلیب نه دی دعیسائیانو قومي نشان او مقدس مذهبی او قومی علامه مراد ده چې نن صبا د ریډ کراس په نشان سره هرځای کې ښکاره دی.

## درې قسمه خلقو باندې جنت حرام دی

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل په درې قسمه سړو باندې

قَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ الْخَمْرِ

الله تعالی جنت حرام کړی دی یو خو هغه سړې چې همیشه شراب څکي، دویم هغه سړی چې د خپل

وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ[1]

مور پلار نافرماني وکړي، او دریم هغه دیوث چې په اهل او عیال کې ناپاکی پیدا کړی. (احمد، نسائی)

**توضیح** : **العاق** : ددې نه نافرمانه اولاد مراد دی په نافرمانۍ سره اولاد پخپله عاق کیږی په ژبې سره د اعلان ضرورت نشته نه داشتهار ورکولو ضرورت دی (والدیوث) دا هغه سړی دی چې دخپلې ښځې په باره کې ښه پوهه وي چې هغه بدچلنه ده او هغه منع کوي نه بلکه سترګې پرې پټوي او خاموش تماشه کونکی جورشوی وي، په حدیث کې دهغه همدا تعریف راغلی دی ګویا چې د هغې بدۍ لره بدي نه مني نو په دوزخ کې به وي. (المرقات ۲۴۱/۷)

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ

او حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل : درې قسمه خلق به

لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ

جنت ته په ابتداء کې) د داخلیدونه محرومه وي (۱) همیشه شراب څکلو والا. (۲) رشتې ماتولو والا

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱۳۴/۲

| |
|---|
| ومصدق السحر" رَوَاهُ أَحْمد[1] |
| (۳) په سحر (جادو) باندې يقين کولو والا. (احمد) |

## شراب څکل دبت پرستئ په شان دی

| |
|---|
| ﴿۲۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم سړی. |
| «مُدْمِنُ الْخَمْرِ إِنْ مَاتَ لَقِيَ اللهَ كَعَابِدِ |
| هميشه په شرابو څکلو کې مبتلا وي او بيا مرشي نو د الله تعالى په حضور کې به د بت پرستى والا |
| وثن». رَوَاهُ أَحْمد[2] وروى ابْن مَاجَه عَن أَبِي هُرَيْرَة[3] وَالْبَيْهَقِيُّ |
| په شان حاضروي. (احمد) ابن ماجه دې روايت لره د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او امام بيهقى رحمه الله په |
| فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عبيد الله عَن أَبِيه. |
| شعب الايمان کې د محمد بن عبد الله نه او هغوى د خپل پلار نه نقل کړى دى دارنګه امام بيهقى رحمه الله ويلي دي |
| قَالَ: ذَكَرَ الْبُخَارِيُّ فِي التَّارِيخِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عبد الله عَن أَبِيه[4] |
| چې امام بخارى رحمه الله دې روايت لره په خپل تاريخ کې د محمد بن عبد الله نه او هغوى د خپل پلار نه نقل کړى دى. |
| ﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: مَا |
| او حضرت ابو موسى اشعرى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دي چې هغه به فرمايل چې په دې کې څه (فرق) نشته دى |
| أُبَالِي شَرِبتُ الخمرَ أَو عبدْتُ هذِهِ السَّارِيَةَ دونَ الله. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[5] |
| چې زه شراب وڅکم يا د الله تعالى نه سيوا هغه ستنې (يعنى دکانې دبت) عبادت وکړم. (نسائى) |

---

(1) أخرجه أحمد فى المسند ٤/٣٩٩

(2) أخرجه أحمد فى المسند ١/٢٧٢

(3) أخرجه ابن ماجه فى السنن ٢/١١٢٠ رقم الحديث ٣٣٧٥.

(4) رواه البيهقى فى الشعب الايمان ٥/١٢ رقم الحديث ٥٥٩٧.

(5) أخرجه النسائى فى السنن ٨/٣١٤ رقم الحديث ٥٦٦٣.

# کتاب الإمَارَة وَالقَضَاء
## د امارت او قضا بیان

قال الله تعالى: (الذين ان مكناهم في الارض اقاموا الصلوة وأتوا الزكوة وامروا بالمعروف ونهوا عن المنكر) (سورة الحج ۴۱)

امارة د همزې په کسرې سره دی دباب سمع یسمع نه امراً وامارة د مضبوط کیدو او امیر جوړیدو په معنی سره دی. او امارة دهمزې په زبر سره دعلامې په معنی سره دی دلته دا مراد نه دی بلکه امارة بکسرة الهمزه مراد دی. (المرقات ۲۴۴/۷)

**په اسلام کې د اسلامی ریاست تصور** : اسلام یو کامل او مکمل دین دی، حکومت اوامارت او امام مقرروول او داسلامي خلافت قیام داسلام حکم دی، ځکه چې د اسلام د ژیات ترو احکاماتو براه راست تعلق دحکومت او امارت سره ترلی دی. دارنګه د اسلام ټول قواعد اوقوانین اونظم اوضبط داسلام دخاص مزاج مطابق کیدل ضروري دي لهذا هیڅ یو مسلمان د اسلامی امارت دقیام د کوشش نه لاتعلقه کیدی نه شي. ځکه چې دفع د خصوماتو اوحفاظت د سراحداتو، دعیدینواوجمعو قیام، دبیت المال قیام دصدقاتو حصول، دمجاهدینو تیاری او د جهاد مهمات، د حجاجو کرامو د لارې امنیت، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر، دمخلوق خدا ضروري خدمات، او د تعلیم اوتعلم شعبه جات او دقانون الهي دالله تعالی په زمکه باندې په عملی طور باندې نافذکول ټول په ټوله دحکومت سره ترلې دي په دې وجه ویلی شوې دي: **الدين والامارة توأمان** یعنی دین اوحکومت دوه جوړه ورونه دي. دامام مقررول او دخلافت اسلامیه قیام دمسلمانانو او اسلام په اهمو قواعدو کې هغه اهمه قاعده ده چې دهغه تذکره په خاص طور زمونږ دعقائدو په کتابونو کې شوې ده. په شرح عقائد نسفی کې ددې متعلق داسې لیکلی شوې دي: **ثم الاجماع على ان نصب الامام واجب لقوله عليه السلام من مات ولم يعرف امام زمانه فقدمات ميتة جاهلية ولان الامة قدجعلوا أهم المهمات نصب الامام حتى قدموا على الدفن ولان كثيرا من الواجبات الشرعية يتوقف عليه.** ددې ټولو تصرفاتو باوجود نه شي ویلی کیدی چې دین اسلام ته دخلیفه ضرورت نشته اومسلمان لره داقامت احکام او داشاعت اسلام دپاره دحاکم اوحکمرانی ضرورت نشته کله چې داثابته شوه چې دخلافت قیام یوه ضروري او اهمه مسئله ده نو اوس زمونږ تشکیل

د خلافت دپاره د اسلام د قواعدو په رڼا کې اسلامي خاص طریقه پکار ده مونږ چې کله د سلف صالحینو تشکیلات مخې ته کیږدو نو مونږ ته به د تشکیل خلافت دپاره واضح درې طریقې ملاؤ شي.

**د تشکیل خلافت درې طریقې** : (۱) د تشکیل خلافت اوله طریقه داده چې د دین اسلام د ټولو نه وفادار د ټولو نه زیات د ددې قواعدو او ضوابطو ماهر او د ټولو نه زیات قربانی ورکونکی او د ټولو نه زیات همدردئ ساتلو والا ته عام مسلمان مخې ته راولې او دهغه په لاس باندې به بیعت کولو سره په منصب امامت باندې مقرر کړی، حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د خلافت د انتخاب طریقه همداسې وه د ټولو د اتفاق سره دده د کمالاتو او قربانئ او خدماتو په بنیاد باندې دهغه انتخاب وشو په دې باندې د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم اجماع وشوه بعضې علماؤ په نزد د ددې اجماع منکر کافر دی.

(۲) د تشکیل دویمه طریقه داده چې موجوده خلیفه د خپل وفات په وخت چا لره په خپله مقرر کړي یا یې خپل ولي عهد جوړ کړي نو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د خلافت تشکیل همداسې وشو حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ په خپل صوابدید باندې دغه شان تقرر و فرمایلو په یو سربند کاغذ باندې یې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نوم ولیکلو او بیا یې د ټولو مسلمانانو نه مطالبه وکړه چې په دې بند کاغذ کې د چا نوم دی هغه ستاسو خلیفه دی آیا تاسو به دا و منئ ټولو اقرار وکړو چې منو به یې حضرت علی رضی اللہ عنہ و فرمائیل چې منم یې، اګرچې په دې کې د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نوم لیکلی شوی وي کله چې بنکاره کړی شو نو د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نوم وو دغه شان هغه خلیفه جوړ شو. (۳) دریمه طریقه داده چې د مسلمانانو د اصحاب رایې خلقو یوه **شورئ** جوړه کړی شي او هغه **شورئ** چې چا لره د خلافت دپاره مقرر کړي او بیا د عوام الناس نه په دې باندې بیعت واخلي حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په دې طرز باندې منتخب شو او د هغوی خلافت په دې طریقه باندې منعقد شو ځکه چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د زخمی کیدو نه پس شپږ سړي تشکیل خلافت دپاره بطور **شورئ** مقرر کړل په هغوی کې حضرت عثمان بن عفان، حضرت علی، حضرت طلحه حضرت زبیر، حضرت عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہم شامل وو، هغوی د بهر د سیکورټی کارډ پیره ولګوله او وې فرمایل چې کله پورې په دوی کې څوک منتخب نه شي نو ته دې خلقو لره بهر مه راپریږده، دا د تشکیل خلافت درې پاکیزه نمونې دي د کوم په ذریعې سره چې د خلفاء راشدینو د خلافتونو قیام په عمل کې راغلو.

په اسلام کې د تشکیل خلافت څلور مه طریقه هم شته دی چې د بادشاهت ده اګرچې دا طریقه منصوص نه ده خو پر زیات خلفاء د بادشاهت په طریقه باندې منتخب کیدو سره راغلې دي په دې وجه دې ته بالکل ناجائز نه شي ویلی. د بنو امیه په دور کې د ددې طرز بادشاهتونه وو بادشاهت د

وراثت په بنیاد باندې قائم شوې حکومتونه وي. ددې طریقو نه علاوه جمهوریت هم د تشکیل حکومت دپاره یوه طریقه ده چې پکې د ووټونو په ذریعه سره یو سړی منتخبولی شي. دا د یهودیت او نصرانیت طریقه ده چې باعث د لعنت ده اقبال مرحوم ویلې دي:

جمهوریت ایک طرز حکومت ہے کہ جس میں
بندوں کو گنا کرتے ہیں تولا نہیں کرتے

بیا فرمایې:

جلال بادشاہی ہو کہ جمہوری تماشہ ہو
جدا ہو دین سیاست سے تو رہ جاتی چنگیزی

بیا فرمایې:

گریز از طرز جمہوری غلام پختہ کارے شو
کہ از مغز دو صد خر فکر انسانے نمی آید

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله د فاذا عزمت فتوکل الله په تفسیر کې فرمایې چې په دې آیت کې د جمهوریت جړې ټکې شوې بیا فرمایې جمهوری سلطنت هم څه سلطنت وي؟ دا خو صرف دماشومانو لوبه او دانګریزانو بدعت دی حضرت مفتي اعظم مفتي محمود رحمه الله دې لره لعنت ګرځولی وو. حضرت مولانا یوسف لدهیانوی رحمه الله جمهوریت لره په صنم اکبر سره یاد کړو، کله چې د اسلام سره د تشکیل خلافت مستند طریقې موجود دي نو بیا خو ډیر د شرم خبره ده چې مونږ په تشکیل حکومت کې دیهود او نصاری مددګاران جوړشوی وو.

په اسلام کې مذهب او سیاست او حکومت هم یو څیز دی حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ په مبارکه زمانه کې دا څیزونه یوځای شوې وو ددې نه مخکې نبوت او حکومت نه شو یوځای کیدی په دې مخکې دورکې عیسائیان پادریان دخپل استیټ په مخکې خاورې شول یوې اوږدې مودې پورې د استیټ او کلیسا جګړه وه خو پادریانو بایلله په دې وجه هغوی دګمنامۍ ګوټ ته لاړل او داسې په دې وجه وشوه چې د عیسایانو سره څه ژوندی دین نه وو شریعت نه وو په وهمونو او خرافاتو باندې قائم خلق وو په دې وجه باندې په کلیسا باندې استیټ غالب شو او دواړه جدا جدا شول، په اسلام کې دا ممکن نه دی په دی وجه دا یو ژوندی او آباد دین دی او دژوند په ټولو شعبو باندې حاوي دی او په اصلی حالت کې موجود دی او دانسانانو د ټولو شعبو ټول مسائل حل کوي دلته د عیسایانو او اسلام موازنه کول غلط دی لهذا امارت او قضاء حکومت او سیاست، امیر خلیفه، مالک او

رعایا، فوج او نظم او ترتیب ټول د اسلامی خلافت شعبې دي.
اسلام دامن او امان او خپل مینځ کې د محبت او جوړ پیدا کولو والا مذهب دی د نبی علیه السلام د کریمانه اخلاقو او دهغوی د معتدل تعلیماتو بنیادي مزاج دادی چې نبی علیه السلام د حاکم او محکوم او د آمر او مامور او د دائن او مدیون په مینځ کې د توپر په ځای جوړ پیدا کړی دی دوی حاکم ته د عدل او انصاف تعلیم ورکړی دی او رعایایې د هر تکلیف د برداشت کولو ترغیب ورکړی دی د خپلو حقوقو دباوولو او دنورو د حقوقو د اداء کولو ترغیب یې ورکړی دی، غرض فریقینو ته یې د دې ذمه دارو ځانله ځانله احساس ورکړی دی د کتاب الزکوة او کتاب الامارة په بابونو کې د شریعت دې تعلیماتو لره هرسړی په ښکاره طور باندې محسوسوي او د معاشرې د اصلاح همدا بنیادي کانې دی چې هر سړی او هرې طبقې ته د هغوی د ذمه دارو احساس ورکړی شي دارنګه په اسلام کې څو حدود او څو سزاګاني دي باقی پوره نظام، تقوی، دالله وېره، دیانت او امانت او د یو بل د حقوقو لحاظ ساتلو باندې مبنی دی نو چیرته چې هم او کله هم مسلمانانو د یوبل سره دایثار او محبت او د حقوقو د ادائګۍ معامله څه ده معاشره دامن او محبت ځانګو جوړه شوه، او چیرته چې دې اصولو لره مات کړی شو هلته د فساد او بدامنی او عداوت او دشمنی حکومت شو په منصب امامت باندې شاه اسماعیل شهید رحمه الله کتاب لیکلې دي ما په اسلامی خلافت نومې کتاب کې په تفصیل سره لیکلې دي او په تشکیل خلافت باندې فتنه ارتداد نومې کتاب کې تفصیل سره لیکلې دي.

**قضاء او قاضی** : قاضی هغه سړی وي کوم لره چې د وخت حاکم د عوام الناس د قضاء او معاملاتو د حل کولو دپاره مقرر کړي د اسلام په نظر کې اقتدار اعلی د الله تعالی په لاس کې دی او دمسلمانانو چې کوم حکومتونه یا خلافتونه دي دا صرف دا هم ددې اقتدار اعلی د احکاماتو د تنفیذ دپاره مقرولی شي د اسلام په نظر کې پوره دنیا کې د مسلمانانو به هم یو خلیفه کیدل پکار دي، دامام او حاکم دپاره ضروري ده چې په هغه کې د احکاماتو د تنفیذ قوت او حوصله وي کچیرې د احکامو د تنفیذ قدرت نه وي نو هغه خلیفه پخپله معزول کیږي.
امام شافعی رحمه الله فرمایې چې کچیرې حاکم په فسق او فجور کې مبتلا شي نو هغه به معزول کولی شي او همدا مسئله د قاضی هم ده خو امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایې چې د فسق او فجور د وجې نه حاکم او قاضي لره نه شي معزول کولی ها کچیرې واضح کفر مخې ته راشي یا امام او قاضی مونږ پریږدي نو بیابه معزول کولی شي. ها که د ابتداء نه قاضی او امام فاسق وي نو احناف په دې صورت کې د شوافعو سره دی چې د اسې فاسق او فاجر لره امام او قاضی مقرر کول جائز نه دي.

الْفَصْلُ الأول

## دامیر اطاعت دالله تعالی او دهغه درسول اطاعت دی

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَطَاعَنِي

ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل چې کوم کس زما فرمانبرداري کوي هغه

فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ

د الله تعالی فرمانبرداري وکړه او چاچې زمانافرماني وکړه هغه د الله تعالی نافرماني وکړه او کوم

وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ

کس چې دخپل امیر (سردار) اطاعت وکړو هغه زما اطاعت وکړو او کوم کس چې دخپل امیرنافرماني وکړه

فَقَدْ عَصَانِي وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ

هغه زما نافرماني وکړه، او یاد ساتئ، امام یعنی دمملکت سربراه (دمسلمانانو دپاره) د ډهال په شان دی

يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى

چې دهغه شاته جنګ کیږي او دچا په ذریعې سره چې حفاظت حاصلیږي! پس (کچرې هغه (امام) دالله

بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَعَدَلَ

د ویرې نه (دهغه دقانون مطابق) فیصله وکړي او دعدل او انصاف نه کار واخلي نو په دې وجې سره به

فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا

هغه امام دلوی اجر او ثواب مستحق وي او که چرې هغه داسې ونه کړي. (یعنی دده د احکام او فیصلې، د الله د

وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ» متفق عليه (صَحِيح)[1]

ویرې، او دقانون الهی د روح او عدل او انصاف نه خالي وي) نو ددې په وجې سره به هغه سخت ګناهګار وي.

**توضیح**: **ومن یطع الامیر**: دامیر نه دلته د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ مقرر کړی امیر هم مراد اخستلی شي (ای امیر) او مطلق امیر یعنی څوک حاکم یاد حاکم د طرف نه مقرر کړی شوی امیر هم مراد اخستلی شي لکه څوک سړی دیوې علاقې ګورنر یا وزیر دی یا په بل څه کار باندې مامور دی دلته د غیر سرکاري

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۶/۱۱۶ رقم الحدیث ۲۹۵۷ ومسلم فی ۳/۱۴۶۶ رقم الحدیث (۱۸۳۵-۳۳) والنسائی فی السنن ۷/۱۵۴ رقم الحدیث ۴۱۹۳ وابن ماجه فی ۲/۹۵۴ رقم الحدیث ۲۸۵۹ وأحمد فی المسند ۲/۲۵۲.

تنظیمونو او دجماعتونو امیر مراد نه دی. لکه تبلیغی جماعت یا د نورو جماعتونو امراء وي جواز په خپله جورولی شي او هغوی ته سرکاري حیثیت نه حاصلیږي په دې وجه دهغې شرعی حیثیت هم نه وي، لهذا دهغه اطاعت یا عدم اطاعت باندې دباب الامارة حدیثونه چسپان کول مناسب نه دي ها دائمانله خبره ده چې په خپل مینځ کې دنظم اوضبط دپاره او دترتیب سره د اداء کار دپاره اطاعت ضروري دی. (المرقات ۲۴۴/۷)

په دې حدیث کې دعربو قبائلو لره دامیر اود اطاعت امیر دنظام سره متعارف کړی شوې په عربو کې چونکه د قبائلی سسټم رواج وو نو هغه خلق دامیر او حاکم نه په ذهنی طور سره غیرمانوس او ویریدل ددې وېرې دختمولو دپاره نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې دسرکاري امیر اطاعت په حقیقت کې زما اطاعت دی ځکه چې ماهغه مقرر کړی دی.

**والما الامام جنّة**: دمسلمانانو د خلیفه تشبیه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د ډهال سره په دې وجه ورکړې ده چې څنګه ډهال د توري ګوزار لره منع کوي او خپل ځان بچ کولی شي دغه شان د حاکم په ذریعه رعایا د دشمن نه بچ کیدی کیږي. یُقَاتَلُ او یُتَّقی دواړه د مجهول صیغې دي. (المرقات ۲۴۴/۷)

## دمقرر کړی شوې امیر اطاعت ضروري دی

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنْ أُمِّرَ |
| او حضرت ام حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کچیرې څوک مات غوږی یعنی غوږ |
| عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ |
| کټ شوی غلام هم ستاسو حاکم جوړ کړی شي او هغه د الله تعالی دقانون مطابق په تاسو باندې |
| بِكِتَابِ اللهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1] |
| حکمراني کوي، نو دهغه حکم ومنئ او دهغه اطاعت کوئ. (مسلم) |

**توضیح**: عبد حبشي: یعنی اګر چې هغه سړی یو سیاه فام غلام ولې نه وي تاسو اطاعت وکړئ.

**سوال**: سوال دادی چې دغلام حکومت په اسلام کې جائز نه دی ځکه چې هغه په خپل بنکته سوچ سره به پوره قوم لره بنکته غورزوی نو بیا دلته یې دغلام حکومت لره څنګه تسلیم کړی شو او د اطاعت ترغیب یې ولې ورکړو؟

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۲/۹۴٤ رقم الحدیث (۱۲۹۸-۳۱۱) والترمذی فی السنن ٤/۱۸۱ رقم الحدیث ۱۷۰٦ والنسائی فی ۷/۱۵٤ رقم الحدیث ٤۱۹۲ وابن ماجه فی ۲/۹۵۵ رقم الحدیث ۲۸٦۱ وأحمد فی المسند ٦/٤۰۲.

**جواب** : ددې سوال یو جواب دادی چې داحبشي غلام په زبردستئ سره مسلط کړی شو په حکومت باندې قابض شو لکه په مصر کې کافور متغلب شوی وو په دې صورت کې کچیرې هغه دکتاب الله په رښا کې خلقو لره چلوي نو دهغه د اطاعت نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم ورکړی دی. **دویم جواب** دادی چې داکلام په طور د فرض او تقدیر دی چې فرض کړه کچیرې غلام هم په تاسو باندې بادشاه جوړ شي بیابه هم اطاعت کوئ نو دلته داطاعت ترغیب دی دغلام حکومت تسلیمول نه دي.

**دریم جواب** دادی چې دلته د امیر نه بادشاه مراد نه دی بلکه دبادشاه مقرر کړی شوی امیر او نائب مراد دی چې په یوه خاصه علاقه باندې امیر جوړ کړی شوی وي. (المرقات ۲۴۴/۷)

**مجدع** : دباب تفعل نه داسم مفعول صیغه ده پوزه او غوږ کټ شوی غلام نکټو، دا لفظ زیات تر چې پوزه کټ شوی وي دهغه دپاره استعمالیږي. (المرقات ۲۴۴/۷)

| |
|---|
| ﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل (دخپل امیر او حاکم فرمان اورئ) او (د |
| قَالَ: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنِ |
| هغه داوامرو او نواهیو) اطاعت کوئ (تردې چې دهغه څه فرمان د الله او دهغه درسول خلاف نه وي) |
| اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ |
| اګرچې په تاسو باندې څه داسې غلام حکمران ولې نه وي جوړشوی چې دهغه سر (وړوکی او په |
| رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| تورواليې کې) د انګور (په شان) وي. (بخاری) |

**توضیح** : زبیبه ماجف من العنب : دوسکو او انګورو وړې دانې ته وائی مراد ترې نه ذلیل وحقیر او کمتر غلام دی دا د اطاعت امیر تاکید دی د جواز او عدم جواز خبره نه ده او دا شرط ملحوظ دی چې دکتاب الله په رښا کې حکومت چلوي. (المرقات ۲۴۴/۷)

## دغیر شرعی حاکم حکم منل واجب نه دی

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل (دخپل امیر او حاکم خبرې |

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲۱ رقم الحدیث ۷۱۴۲ وابن ماجه فی السنن ۲/۹۵۵ رقم الحدیث ۲۸۶۰ وأحمد فی المسند ۳/۱۱۴.

| «السَّمعُ والطاعةُ على المرءِ المسلمِ |
| --- |
| لره) اوريدل او (د هغه د احكامو) فرمانبرداري كول په هر حالت كې په مسلمان سړي باندې واجب دي |
| فِيمَا أحب وأكره مَالَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ |
| كه (د هغه څه حكم هغه ته خوښ وي يا ناخوښ وي تردې چې د څه ګناه د خبرې حكم ونه كړي شي. |
| فَإِذَا أُمِرَ بِمَعصِيَةٍ فَلَا ، سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| لهذا كله چې كوم حاكم داسې حكم وركړي چې په هغې عمل كول ګناه وي نو د هغې اطاعت كول واجب نه دي. (بخاري ومسلم) |

**توضيح**: احب وكره: دامير او حاكم اطاعت په هر حالت كې واجب دي كنه هغه حكم د طبيعت موافق وي يا موافق نه وي په شرط دا دي چې هغه حكم د شريعت موافق وي او كه حاكم د شريعت خلاف حكم وركوي نو په دې كې اطاعت نشته دى ها په دې صورت كې هم بغاوت جائز نه دى تردې چې د هغه كفر واضح ونه ګوري مونږ پريخودل هم بغاوت دپاره كافي دى. **لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق**. (المرقات ۲۴۷/۷، ۲۴۶)

| ﴿۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| --- |
| او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د څه داسې حكم اطاعت او فرمانبرداري |
| «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2] |
| جائز نده چې د هغې تعلق د ګناه سره وي اطاعت او فرمانبرداري خو صرف په ښه حكم كې واجب دى. (بخاري) |

## د مرتكب كفر او تارك صلوة باچا خلاف بغاوت جائز دى

| ﴿۶﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| --- |
| او حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس باندې بيعت وكړو يعنې د هغه مخې ته مو د |
| عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ |
| دې امورو عهد وكړو چې مونږ به ستاسو هدايات په توجه سره واورو او هر قسمه حالاتو كې به ستاسو د احكاماتو اطاعت كوو |

---

(۱) أخرجه البخاري ۱۳/۱۲۱ رقم الحديث ۷۱٤٤ ومسلم في ۳/۱٤٦۹ رقم الحديث (۱۸۳۹-۳۸) وأخرجه أبوداود في السنن ۳/۹۳ رقم الحديث ۲٦۲٦ والترمذي في السنن ٤/۱۸۲ رقم الحديث ۱۷۰۷ والنسائي في ۷/۱٦۰ رقم الحديث ٤۲۰٦ وابن ماجه في ۲/۹٥٦ رقم ۲۸٦٤ وأحمد في المسند ۲/۱۷.

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۳/۲۳۳ رقم الحديث ۷۲٥۷ ومسلم في ۳/۱٤٦۹ رقم الحديث (۱۸٤۰-۳۹) وأبوداود في السنن ۳/۹۲ رقم الحديث ۲٦۲٥ والنسائي في ۷/۱٥۹ رقم الحديث ٤۲۰٥ رقم الحديث ۹۹۰۲.

| |
|---|
| وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى |
| دتنګئ او سختئ حالاتو کې هم او د آسانئ او خوشحالئ په آئنده زمانه کې هم د خوشحالئ په موقع هم او د ناخوښئ |
| أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى |
| په حالت کې هم او که په مونږ باندې ترجیح راکړی شي (نو مونږ به صبر کوو) مونږ به امر د هغه ځای نه نه او باسو |
| أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا |
| مونږ چې کله په ژبه باندې څه خبره کوو نو حق به وایو که مونږ کوم ځای کې یو د څه ملامت کونکي |
| لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ. وَفِي رِوَايَةٍ: |
| سړي د ملامتیا نه نه وېرېږو. او په یو روایت کې داسې دي چې (مونږ د دې خبرې وعده وکړه چې مونږ به امر د هغې |
| وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا |
| د ځای نه او باسو) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې دې امر لره به د دې د ځای نه مه او باسئ ها کچیرې تاسو بنکاره کفر وویني |
| عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]. |
| چې په هغې باندې تاسو سره د الله تعالی د طرف نه دلیل وي (بخاری و مسلم) |

**توضیح** : **بایعنا** : دلته دا لفظ د بیعت په ځای د معاهدې په معنی د استعمال شوی دی **ای عاهدنا**. (المرقات ۲۴۷/۷)

**السمع** : د حاکم او امیر خبرې د اوریدلو په معنی سره دی. **والطاعة** د حاکم او امیر ارشاد شوې کلام باندې عمل کول او ددې د منلو دپاره **والطاعة** لفظ راغلی دی. **العسر واليسر** یعنې د سختئ او تنګی په دواړو حالتونو کې یې د اطاعت حکم ورکړی دی (المرقات ۲۴۷/۷)

**المنشط** دا لفظ د نشاط نه دی د خوشحالی دپاره استعمالیږي دا صیغه یا مصدر میمي په معنی د نشاط دی او یا ظرف زمان دی یعنی د خوشالی او نشاط په وخت هم اطاعت وکړي. یا دا صیغه د ظرف مکان دپاره ده یعنی د خوشحالی او نشاط په مقام کې هم اطاعت دی. (المرقات ۲۴۷/۷)

**والمکره** دا صیغه هم یا مصدر میمی ده یعنی ناخوشئ کې یا د ظرف زمان عین ناخوښی په وخت او زمانه کې یا دا ظرف مکان دی چې د ناخوښی په مقام او مکان کې هم اطاعت وکړئ. (المرقات ۲۴۷/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی ۱۳/۱۹۲ رقم الحدیث ۷۲۰۰ ومسلم فی ۳/۱۴۶۹ رقم الحدیث (۱۷۰۹-۴۲) وأخرجه النسائی فی السنن ۷/۱۳۸ رقم الحدیث ۴۱۵۱ وابن ماجه فی ۲/۹۵۷ رقم الحدیث ۲۸۶۶ ومالک فی المؤطأ ۲/۴۴۵ رقم الحدیث ۵ فی کتاب الجهاد واحمد فی المسند ۵/۳۱۴.

وعلى اثرة علينا اثرة کې همزه او ثاء باندې زبر دی دا د ایثار نه د ترجیح په معنی سره دی. مطلب دادی چې مونږ دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره داعهدهم وکړو چې کچیرې په مونږ انصارو باندې بل چاله د امورخلافت اوامارت او اعطاء اموال اومناصبو کې ترجیح ورکړی شوه نو مونږ به صبر کوو او دصبر اوتحمل لمن به دلاس نه نه پریږدو. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ انصارو ته فرمایلي وو چې زما نه پس به تاسوسره ترجیحي سلوک کولی شي تاسوصبر کوئ نودا پیشن ګوئي پوره شوه او دخلافت امورو کې انصارمخې ته رانغلل اوهغوی هم چې دخپل خوږ پیغمبرسره کومه معاهده کړې وه په ښکلي طریقې سره یې سرته ورسوله. فرضي الله عنهم وعن جميع الصحابة . (المرقات ۲۴۷/۷) (وعلى ان لاننازع) ددې مطلب دادی چې مونږ به دخلافت اوامارت د امورو په خواهش کې دچاخلاف دبغاوت جنډا اوچته نه کړو چې څوک حاکم په مونږ باندې مقر کړی شو مونږ به دهغه اطاعت کوو نو انصارو په دې جګړو کې قطعًا حصه وانخستله چې هغه وخت راوچتې شوې وې. (المرقات ۲۴۷/۷)

الا ان تروا کفرًا بواحًا کفر بواح مطلب دادی چې تاسو کله ښکاره کفر وویني نو بیا دې کافر لره د منصب امامت نه معزول کړئ ګڼي نو په احادیثو کې ترک صلوة لره هم دکفر بواح په درجه کې شمارکړی شوی دی، لهذا چې کوم حاکم دمونځونو اقامت او اهتمام نه کوي او په ملک کې دنظام الصلوة نه رائج کوي دده معزول کول ضروري دي. ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کې لیکلي دي:

ولوطرأ عليه الكفر انعزل وكذا الوترك اقامة الصلوة والدعاء اليها وكذا البدعة (مرقات جلد ۷ ص ۲۰۱)

د بدعت نه مراد بدعت مکفره دی کفر بواح کې داهم رائي چې یوحاکم د الله تعالی احکام او دهغه قرآن لره معطل کړي او دهغې په ځای دانسان وضع کړی شوې قوانین نافذ کړي لکه چې ددې وخت په دنیاکې دمسلمانانو دحکومتونو د باچاهانو حال دی. قال الله تعالى (ومن لم يحكم بما انزل الله فاولئك هم الكافرون). (المرقات ۲۴۷/۷)

## فرمانبرداري د طاقت او استطاعت په قدر

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې مونږ بیعت کولو د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس باندې (یعنی ددې

عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ . يَقُولُ

خبرې وعده موکوله) چې مونږ به ستاهدایات په توجه سره اورو او (ستاسو داحکامو) اطاعت به کوو نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

| |
|---|
| يَقُولُ لَنَا: «فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| چې په هغه کارونو کې د کومو چې تاسو طاقت لرئ. (بخاری و مسلم) |

## د ملت اجتماعیت ماتونکي سړي په باره کې وعید

| |
|---|
| ﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمائیل چې کچرې څوک سړې |
| «من رأى أميره يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ |
| د خپل امیر او سردار طرف نه داسې خبره وویني چې دده (شرعًا یا طبعًا) خوښه نه وي نو ده له صبر کول پکار دي |
| فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا |
| او ددې د وجې نه دامام خلاف د بغاوت جنډه اوچتول نه دی پکار ځکه چې کوم سړی چې د جماعت نه دیو لیشت برابر هم |
| فَيَمُوتُ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً» متفق عليه (صَحِيحٌ)[2] |
| جدا شو، او (د توبې نه بغیر په دې حالت کې) مړشو نو د هغه مرګ به د جاهلیت والو د مرګ په شان وي. (بخاری و مسلم) |

**توضیح: يفارق الجماعة**: مطلب دادی چې کوم سړی د امام او امیر د اطاعت نه مخ واړوي او د مسلمانانو د منظم جماعت نه جدا والی اختیاروي او د ټولو مسلمانانو د اتحاد خلاف ملاتړی او بیا د توبې نه بغیر هم په دې حالت کې مړشي نو ګویا چې د اسړی د جاهلیت د زمانې د خلقو په شان مړشو چونکه د جاهلیت خلق د څه آسماني دین ماتحت نه وو په دې وجه هغوی د هر امیر نه آزاد او خودسره وو او په اتحادي صورت کې یې په بنکاره د بیزارئ اعلان کوو او که چیرې اسلامی امیر د اسلامی احکاماتو په موجودګئ کې یو سړی د اسې خودسره او د شر مجموعه جوړه شي او بیا مړشی نو هغه د جاهلیت په مرګ باندې به مري د دې حدیث نه مسلمانانو ته د اتفاق او اتحاد درس ورکولی شي. **ميتة** په میم باندې زیر دی د اصیغه د حالت او کیفیت د بیانولو د پاره راځي. **اي هيئة وحالة جاهلية** آینده **قتلة** لفظ هم د اسې دی. (المرقات ۲۵۰/۷)

---

(1) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۹۳ رقم الحدیث ۷۲۰۲ ومسلم فی ۳/۱۴۹۰ رقم الحدیث (۱۸۶۷-۹۰) والنسائی فی السنن ۷/۱۵۲.

(2) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲۱ رقم الحدیث ۷۱۴۳ ومسلم فی ۱۴۷۷ رقم الحدیث (۱۸۴۹-۵۵) والدارمی فی السنن ۲/۳۱۴ رقم الحدیث ۲۵۱۹ وأحمد فی المسند ۱/۲۷۵.

# دتعصب خلاف زورنه

﴿۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو چې کوم

«مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ

سړی دامام (دمملکت سربراه) اطاعت اوفرمانبرداریُ نه ووځي او دا سلام دجماعت (دملت دا جماعتی هیئت)

فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً

نه جدا والی اختیار کړي او بیا په دي حالت کې مړشي نو دهغه مړکیدل دجاهلیت دمرګ په شان به وي

وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ

کوم سړی چې دڅه داسې جنډې لاندې (یعنی دڅه داسې مقصد دپاره) وجنګیدو چې دهغې حق اوباطل کیدل ښکاره نه وي

يَغْضَبُ لِعَصَبِيَّةٍ أَوْ يَدْعُو لِعَصَبِيَّةٍ

حال دادی چې هغه دتعصب نه غضبناک شو او متعصب شو او دتعصب دوجې نه خلقو لره خپل طرف ته راوبلي

أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَّةً فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ

دتعصب دوجې نه یې دچا مدد وکړو هغه مړکړی شو نو دهغه مړکیدل په جاهلیت باندې دمړکیدو په شان به وي

وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي بِسَيْفِهِ يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا

اوکوم سړی چې زما دامت خلاف توره اوچته کړه او دهغې په ذریعې سره یې زما دامت نیک اوبد وسړو لره ووژل

وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ فَلَيْسَ مِنِّي

او زما دامت د مسلمان پرواه یې ونه کړه او نه ده د عهد والا عهد پوره کړو نو نه هغه زما دامت نه دی

وَلَسْتُ مِنْهُ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

(یعنی زما په لاره باندې دتلونکو نه نه دی) او نه زما هغه سره څه تعلق شته دی. (مسلم)

**توضیح:** رأیة عمیة: رایه جهندې ته وائی اوعمیه کې په عین باندې زیر دی او پیش هم جائز دی او په میم باندې شد دی دجنډې لاندې جنګ یې وکړو چې دهغې حق اوباطل کیدل معلوم نه وي. (المرقات ۲۵۰/۷)

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۴۷۶ رقم الحدیث (۱۸۴۸-۵۳) والنسائی فی السنن ۷/۱۲۳ رقم الحدیث ۴۱۱۴ وابن ماجه فی ۲/۱۳۰۲ رقم الحدیث ۳۹۴۸ وأحمد فی المسند ۲/۳۰۶.

**فليس منا** : یعنی په دې شعبه کې هغه د مسلمانانو په طرز باندې نه دی دا مطلب نه دی چې دا سړی کافر شو. (المرقات ۲۵۰/۷)

**لايتحاشى**: د **تحاشى** نه دی یعنی د چا مومن د قتل یې څه پروا ونه کړه. (المرقات ۲۵۰/۷) **لايفي** د **وفى يفي** نه دی وعده پوره کول.

## د مونځ پریښودونکي حاکم حکم

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عوف بن مالک اشجعی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کړی دی چه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل

«خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ يُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ

ستاسو په حاکمانو کې بهترین حاکم هغه دی کوم سره چې تاسو محبت کوئ او ته د هغوی دپاره او

وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ

هغوی ستاد پاره دعاء کوي (او په دې وجه سره په خپل مینځ کې ربط او تعلق او محبت پیدا وي) او

وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ

ستاسو په حاکمانو کې بدترین حاکم هغه دی چې کوم سره تاسو بغض او عداوت ساتئ او هغه تاسو سره

وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ» قَالَ:

بغض او عداوت ساتي او تاسو په هغه باندې او هغه په تاسو باندې لعنت لیږي. حضرت عوف وایي چې

قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ؟ قَالَ: «لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ

مونږ (صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) عرض وکړو چې ای د الله رسوله! آیا په دې صورت کې مونږ هغه سره کړی عهد وفاداری لره مات نه کړو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نه! هرکله چې هغه ستاسو په مینځ کې

الصَّلَاةَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ أَلَا مَنْ

مونځ قائموي، نه! هرکله چې هغه ستاسو په مینځ کې مونځ قائموي! خبردار! چې کوم سړی په تاسو باندې

وُلِّيَ عَلَيْهِ وَالٍ فَرَآهُ يَأْتِي شَيْئًا مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ

حاکم مقرر کړی شي او تاسو د هغه نه څه داسې کار وویني. چې د الله تعالی د نافرمانی (ګناه) باندې مبني

فَلْيَكْرَهْ مَا يَأْتِي مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

وي نو دده ددې ګناه کار لره بد ګڼل پکار دي. خو دهغه د اطاعت او فرمانبرداري نه دست برداره کيدل نه دي پکار

**توضيح**: لا ما اقاموا فيكم الصلوة: يعنې کومه پورې چې يو حاکم پخپله مونځ کوي او نورو لره په اقامت صلوة باندې آماده کوي نو د نورو ګناهونو په وجه سره د هغه خلاف د بغاوت اعلان او ترک وفا جائزنه دي خو که هغه پخپله مونځ کول پريږدي او نظام صلوة يې هم قائم نه کړو نو د داسې حاکم نافرماني او د هغه د اطاعت نه وتلو سره هغه لره معزول کول ضروري دی په دې وجه چې مونځ ددين ستن ده او دکفر او ايمان په مينځ کې د مسلمان امتيازي نښه ده کچيرې يو حاکم دمونځ سره بې وفائي کوي او د هغه نه مخ اړوي نو د داسې حاکم سره وفاداري هم جائز نه ده، نن صبا مسلمانان حکمرانان ټول ددې حديث په مقابله کې دي دعوامو بغاوت ضروري دی خو د عوامو د زړه او دماغو نه هم دمونځ اهميت وتلی دی الا ماشاء الله. (المرقات ۲۵۲/۷)

لهذا د **فاستخف قومه فاطاعوه**: په درجه کې ټول غافل پراته دي.

## دحاکم په بې لاره کيدو باندې دهغه ټول دهر مسلمان يوه ذمه واري ده

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَكُونُ

او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل داسې خلق به هم په تاسو

عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ تَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ فَمَنْ أَنْكَرَ

باندې حاکمان مقرر کړی شي چې ښه او بد دواړه قسمه کارونه به کوي لهذا کوم سړي چې انکار وکړو

فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ كَرِهَ

نو هغه د منافقت او مداهنت نه پاک او (د خپلې ذمه دارئ نه) برئ شو، او کوم سړي چې مکروه وګڼلو نو هغه

فَقَدْ سَلِمَ وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ»

سالم پاتې شو خو کوم سړی خوشاله شو او (په خپله هم په دې بدو کارونو کې مبتلا کيدو سره ګويا د حاکم اتباع يې وکړه

قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ:

نو هغه په ګناه او وبال کې شريک شول صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو چې آيا مونږ به د هغې خلاف جنګ نه کوو؟

---

[1] أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۱۴۸۲ رقم الحديث (۱۸۵۵-۶۶) والدارمى فى ۲/۴۱۷ رقم الحديث ۲۷۹۷ وأحمد فى المسند ۶/۴۲.

| «لَا مَا صَلَّوْا لَا مَا صَلَّوْا» |
| --- |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل نه! کله پورې چې هغه مونځ کوی نه! کله پورې چې هغوی مونځ کوي. یعنی |
| أَيْ: مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنكر بِقَلْبِهِ. رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱) |
| کوم سړی چې هغه دخپل زړه نه بد وګڼلو او دخپل زړه نه يې انکار وکړو. (مسلم) |

**توضيح: تعرفون وتنكرون**: یعنې ددې حاکمانو بعضې کارونه خو ښه وي، خو بعضې ښه نه وي نو تاسو ښه وپیژنئ او هغه خو ښوئ او بد و لره په نه خو ښولو سره تړې انکار کوئ. (المرقات ۲۵۳/۷) **فمن انكر** یعنی څوک چه دهغې په نکیر او روک ټوک باندې قادر وی او هغه روک ټوک کړې وی او په ژبه باندې ئې ښه منع کړې وی. (المرقات ۲۵۳/۷) **فقد برئ** یعنی مداهنت او نفاق نه بچ شو. (المرقات ۲۵۳/۷)

**ومن كره** یعنی چاچه په ژبه یا لاس سره منع خو نه کړو او هغه په هغې باندې قادر نه شو او هغه دې لره په زړه کښ بد او ګڼلو (المرقات ۲۵۳/۷)

**فقد سلم** یعنی دهغه سره د شرکت د وبال نه بچ شو. (المرقات ۲۵۳/۷)

**من رضي**: یعنې په زړه سره دهغه بدو کارونو لره خوښ کړل. (المرقات ۲۵۳/۷)

**وتابع** یعنی په دې ګناه کې دهغه سره شو. (المرقات ۲۵۳/۷)

**افلا نقاتلهم** یعنی دهغه سره بغیر د وسلې نه جنګ مه کوئ چې نبه دهغه تردید وکړئ او جګړه وکړئ دایو توجیه ده دویمه توجیه داده چې آیا هغه قتل کړو. (المرقات ۲۵۳/۷)

**ماصلوا** دلته خو صرف دمونځ کولو ذکر راغلو په باقی روایاتو کې دمونځ قائمولو الفاظ دي یعنی پحیله به يې کوي او نورو باندې به يې هم کوي. (المرقات ۲۵۳/۷)

**اي من كره** دا د بعضې راویانو طرف نه دمجمل کلام تفسیر دی او هغه مجمل کلمات کوم یو دي نو شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چې داتفسیر **ومن انكر فقد سلم** دپاره دی او ملا علی قاری

---

(۱) أخرجه مسلم فيض صحيحه ۳/۱۴۸۱ رقم الحديث (۱۸۵۴-۶۳) وأبوداود فی السنن ۵/۱۱۹ رقم الحديث ۴۷۶۰ والترمذی فی ۴/۴۵۸ رقم الحديث ۲۲۶۵.

رحمه الله وائی چې دا تفسیرد سابقه دوه جملو دی یعنی فمن انکر او ومن کره الخ. (المرقات ۲۵۳/۷)

## خپل حق پریږدي او دنورو حق به اداء کوي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږته وفرمایل چې تاسو

«إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا»

به زمانه پس خپل ځان سره ترجیحی سلوک او ډیر داسې څیزونه وویني کوم چې به تاسو بد ګڼئ.

قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللهِ؟

صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو ای دالله رسوله! بیاتاسو مونږته څه هدایت راکوئ (چې هغه وخت به زمونږ رویه څه وي؟)

قَالَ: «أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللهَ حَقَّكُمْ» متفق عليه (صحيح)[1]

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل تاسو دهغه حاکمانو حق اداء کړئ او خپل حق دالله تعالی نه وغواړئ. (بخاری ومسلم)

**توضیح: اثرة**: دحکومت امورو کې زه خپل ځان سره ترجیحی سلوک مومم. (المرقات ۲۵۵/۷)

**وامورًا تنکرونها** یعنی ډېر زیات افعال به وویني کومو لره چې به تاسو نه خوښوئ. (المرقات ۲۵۵/۷)

**حقهم** یعنی دهغه اطاعت چې په تاسو لازم دی دا دهغوی حق دی هغه پوره کړئ. **حقکم** یعنی خپل حق دالله تعالی نه وغواړئ چې هغه مال غنیمت مهیا کړي ستاسو حق په دې صورت کې به تاسو ته ملاؤ شي. (المرقات ۲۵۵/۷)

﴿۱۳﴾ وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ: سَأَلَ سَلَمَةُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت وائل ابن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې حضرت سلمه بن یزید جعفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ

نه سوال وکړو او وې ویل ای دالله رسوله! ددې په حقله زمونږ دپاره ستاسو څه هدایت دی چې کله په مونږ باندې داسې

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۵ رقم الحدیث ۷۰۵۲ ومسلم فی ۳/۱۴۷۲ رقم الحدیث (۱۸۴۳-۴۵) وأخرجه الترمذی فی السنن ۴/۴۷۰ رقم الحدیث ۲۱۹۰ وأحمد فی المسند ۱/۴۳۳.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَسْأَلُونَا | حَقَّهُمْ | وَيَمْنَعُونَا | حَقَّنَا | فَمَا تَأْمُرُنَا؟ |
| حاکم مقرروي چه زمونږ نه خو د خپل حق مطالبه کوي خو مونږ ته زمونږ (یعنی عدل او انصاف او د مال غنیمت حصه نه | | | | |
| قَالَ: | «اسْمَعُوا | | | وَأَطِيعُوا |
| راکوي؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل تاسو په ظاهر کې د هغه خبره اورئ (او په باطن کې) د هغه فرمانبرداري کوئ | | | | |
| فَإِنَّمَا | عَلَيْهِمْ | مَا | | حُمِّلُوا |
| یادساتئ! په هغه باندې هغه څیزونه فرض دي چې د هغه په اوګو باندې اچولی شوې دي او په تاسو | | | | |
| وَعَلَيْكُمْ | مَا | حُمِّلْتُمْ». | رَوَاهُ | مُسلم (صَحِيح)[1] |
| باندې هغه څیز فرض دی چې ستاسو په اوګو باندې اچولی شوی دی. (مسلم) | | | | |

## دامام داطاعت نه د دست بردار کیدو والا په باره کې وعید

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُول: «مَنْ | | | | |
| او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا فرمان واوریدو چې کوم سړی | | | | |
| خَلَعَ | يَدًا | مِنْ | طَاعَةٍ | لَقِيَ اللهَ |
| دامام یعنی داسلامی مملکت د سرابره د اطاعت نه لاس راکاږي هغه به د قیامت په ورځ د رب العزت | | | | |
| يَوْمَ | الْقِيَامَةِ | وَلَا | حُجَّةَ | لَهُ. |
| په بارګاه کې داسې حاضریږي چې د هغه سره به (دایمان) دلیل نه وي او کوم سړی چې په داسې | | | | |
| وَمَنْ | مَاتَ | وَلَيْسَ | فِي | عُنُقِهِ بَيْعَةٌ |
| حال کې مړ شو چې د هغه څټ دامام د بیعت (یعنی دامام برحق داطاعت) نه آزاد وي (یعنی هغه به د | | | | |
| مَاتَ | مِيتَةً | جَاهِلِيَّةً». | رَوَاهُ | مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2] |
| امام برحق نه د باغی کیدو سره مري) نو د هغه مرګ به د جاهلیت د مرګ په شان وي. (مسلم) | | | | |

---

(1) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱٤۷٤ رقم الحدیث (۱۸۵٦-٤۹) والترمذی فی السنن ٤/٤۲۳ رقم الحدیث ۲۱۹۹.

(2) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱٤۷۸ رقم الحدیث (۱۸۵۱-۵۸) وأحمد فی المسند (۲/۱۵٤)

## دبنی اسرائیلو سیاست دانبیاء کرامو علیهم السلام په لاس کې وو

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل بنی اسرائیلو

«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ

ته به انبیاء علیهم السلام ادب او تهذیب خودلونو کله چې به یو نبی وفات شو نو دهغه جانشین به دویم نبی

نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ

کیدو خو زما نه پس بل څوک نبی راتلونکی نشته دی البته زما نه پس به امراء او خلفاء وي او هغه به

خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟

ډیروي (چه دهغوی په ذمه) به دامت راهنمائي او نګهباني وي صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو دهغه وخت دپاره تاسو

قَالَ: «فُوا بَيْعَةَ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ

مونږ ته څه هدایت فرمائي؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل د مخکني امیر بیعت پوره کړئ (یا به په بله زمانه کې) د روسبی امیر

أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ

او دهغه حقوق اداء کړئ چې الله تعالی هغه لره دخپل مخلوق دنګهداشت او حکومت د ذمه داری حواله

عَمَّا استرعاهم) متفق عليه (صَحِيحٌ)[1]

کړي ده په دې باره کې به هغه پخپله دده نه تپوس کوي. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: تسوسهم الانبیاء د باب نصر نه تسوس د سیاست نه دی مراد حکومت او ولایت دی چې په هغې سره د مملکت امور سنبالول دي، ملا علی قاری د سیاست تعریف داسې کړی دی.

**والسیاسة القیام علی الشئ بمایصلحه**: یعنی داصلاح دپاره د څه څیز سنبالول او دهغې نګراني کول ددې جملې نه معلومه شوه چې د دیني سیاست د ټولو نه زیات مستحق په هغه زمانه کې انبیاء علیهم السلام وو او نن صبا زمونږ په زمانه کې علماء دي، ځکه چې د څه څیز دیني او دنیوی اصلاح د علماؤ نه سیوا بل څوک نه شي کولی ها چې کوم سیاست چې په دروغو او منافقت باندې قائم وي دهغې ماهرین دنیادار دي. (المرقات ۲۵۷/۷)

**وانه لانبي بعدي**: دا جمله په واضح طور باندې دلالت کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پس بل څوک نبی

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۶/۴۹۵ رقم الحدیث ۳۴۵۵ ومسلم فی ۳/۱۴۷۱ رقم الحدیث (۱۸۴۲-۴۴) وأحمد فی المسند ۲/۲۹۷.

نشته دی باقی عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کله چې راشی نو هغه به دیو امتی په حیثیت سره راځي اګرچې هغه به نبی وي خو حیثیت به یې د یو امتی وي.
دویم جواب دادی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د بعد نفی وفرمایله او حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ خو د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه مخکې نبی جوړ شوی وو. (المرقات ۲۵۷/۷)

**فیکثرون:** ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې په د دې لفظ په فاء باندې زبر دی او ثاء باندې پیش دی د کثرت په وجه سره چې کله غلبه کیږي نو د دې غلبې دپاره دا لفظ استعمالیږي مراد کثرت دی وې فرمایل په ثاء باندې زیر ویل غلط دی (المرقات ۲۵۷/۷)

**فماتامرنا:** دا شرط د محذوف جواب دی ای اذا کثر الخلفاء بعد وقع التنازع فیما بینهم فماتامرنا. (المرقات ۲۵۷/۷)

**فوا:** دا دامر صیغه ده وفی یفي ضرب یضرب نه د وفاداری په معنی سره دی یعنی پوره کړئ. (المرقاث ۲۵۷/۷)

**الاول فالاول:** د دې مطلب دادی چې هغه کوم چې مخکې خلیفه جوړ شوی دی اوتاسو دهغه په لاس باندې بیعت کړی دی نو اوس دهغه په موجودګئ کې دهغه اطاعت په نورو باندې مه کوئ. (المرقات ۲۵۷/۷)

**اعطوهم حقهم** دا د **فوا بیعة الاول فالاول** نه بدل دی یعنی د وفاداری مطلب دادی چې دهغوی حقوق چې د اطاعت او خدمت متعلق دي هغه هغوی ته پوره ورکړئ. (المرقات ۲۵۷/۷)

**عما استرعهم** یعنی په کوم څیز باندې الله تعالی هغه لره راعی، نګران او والي جوړ کړی دی الله تعالی به د هغه نه د دې تپوس کوي. (المرقات ۲۵۷/۷)

## دامارات اسلامیه خلاف بغاوت کولو والا واجب القتل دی

| |
|---|
| ﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا بُوِيعَ لِخَلِيفَتَيْنِ |
| حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله د دوو خلیفه ګانو |
| فَاقْتُلُوا الْآخِرَ مِنْهُمَا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1] |
| بیعت وکړی شي نو په دوی کې چې کوم روستو دی هغه قتل کړئ. (مسلم) |

(1) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱٤۸۰ رقم الحدیث (۱۸۵۳-٦۱)

**توضیح**: مطلب دادی چې کله یو خلیفه موجود دی او د مسلمانانو ډکارونو په صحیح طریقه باندې د اسلام په رڼا کې چلوي او دویم کس پاڅي د کرسئ خواهش کې د مسلمانانو اجتماعي صورت لره توټې توټې غواړي او د خلافت اعلان کولو سره بیعت اخستل شروع کوي نو په تاسو لازم دي چې هغه قتل کړئ ځکه چې هغه د الله د حکم او مملکت اسلامی باغی دی د هغه سزا همداده چې که هغه د بغاوت نه منع نه شي نو هغه قتل کړئ که هغه څوک هم وي. د دې نه د مخکې حدیث مفهوم هم د غه شان دی. او د دې نه روستو د راتلونکي حدیث مطلب هم داسې دی.

د دې حدیث نه د جمهوریت چې په حقیقت کې د یهودیت عیسائیت لعنت دی جرړه یې کټ شوه، دارنګه د دې نه معلومه شوه چې د مسلمانانو په پوره دنیا کې یو خلیفه کیدل پکار دي. ها کچیرې انتظام کول مشکل وي او یوه علاقه دبلې علاقې نه لرې وي نو بیا ګنجائش شته دی ما په اسلامی خلافت نومی کتاب کې د دې تفصیل لیکلی دی. (المرقات ۲۵۸/۷)

## چې کوم سړی په امت کې تفرقه پیدا کړي هغه مړ کړئ

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّهُ سَيَكُونُ هَنَاتٌ

او حضرت عرفجه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا فرمان واوریدلو چې نزدې به تخریب او

وَهَنَاتٌ فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ

فساد ښکاره شي لهذا کوم سړی چې په امت کې تفریق پیدا کول وغواړي حال دادی چې امت په خپل

وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

مینځ کې متحد او متفق وي دی سړي لره په توري سره والوزئ که هغه هرڅوک وي. (مسلم)

**توضیح**: انه: د ضمیر شان دپاره دی (المرقات ۲۵۸/۷)

هنات وهنات ها باندې زبر دی او په نون باندې هم زبر دی یوبل پسې او مسلسل شر او فساد ته وائی یعنی نزدې به د حکومت حاصلولو دپاره نوې فتنې ښکاره شي. (المرقات ۲۵۸/۷)

وهي جمیع حال دادی چې امت متحد او متفق وي او د اسړی په اتفاقی امر کې انتشار پیدا کوي. (المرقات ۲۵۸/۷) کائنا من کان یعنی که هغه د اشرافو نه وي یا صاحب تعلیم وي یا څه قریبي رشته دار وي هغه په توره داسې ووهئ چې دهغه نه دوړې وخیژي څنګه چې هغه امت توټې توټې

---

(۱) أخرجه مسلم فی الصحیح ۳/۱٤۷۹ رقم الحدیث (۱۸۵۲-۵۹) وأخرجه أبوداود فی السنن ۵/۱۲۰ رقم الحدیث ٤۷٦۲ وأحمد فی المسند ٤/۳٤۱.

کول غوښتل په دې وجه د امت اتحاد دفرد په حیثیت او شخصیت باندې مقدم دی. چا ویلې دي:

ہے زندہ فقط وحدت افکار سے ملت — وحدت ہو فنا جس سے وہ الہام بھی الحاد

وحدت کی حفاظت نہیں بے قوت وبازو — آتی نہیں کچھ کام یہاں عقل خداداد

چا ویلې دي:

فرد قائم ربط ملت سے تنہا کچھ نہیں — موج ہے دریا میں اور بیرون دریا کچھ نہیں

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عرفجه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو چې کوم سړی

«مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ

تاسو ته راشي حال دادی تاسو د یوه (نه مخکې) په یو سړي باندې متفق وئ او په یو خلیفه باندې متحد وئ او هغه

يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جماعتكم فَاقْتُلُوهُ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

سړی ستاسو همساء ماته کړي یا ستاسو اجتماعی تنظیم کې تفرقه پیدا کول غواړي نو تاسو هغه قتل کړئ. (مسلم)

**توضیح : یشق عصاکم** : عصاء همسا (لانتئ) ته وائی او یشق شلولو او ماتولو ته وائی مراد دمسلمانانو جماعت پریخودل او تلل دي، نو په همسا سره د مسلمانانو اجتماعی حیثیت طرف ته اشاره ده او شلولو (ماتولو) سره د دې انتشار او تفریق او اختلاف طرف ته اشاره ده. (المرقات ۲۵۹/۷)

**او یفرق جماعتکم** ظاهري عبارت نه معلومیږی چې راوي ته شک شو چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ کومه جمله ارشاد فرمایلې وه خو راجح داده چې دا دواړه جملې د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دي د اولې جملې د **یشق عصاکم** تعلق د مسلمانانو دنیاوی امورو سره دی یعنی چې کوم سړی د مسلمانانو په سیاسی طاقت خارجه او داخله پالیسئ کې سُوری پیدا کوي. او د دویمې جملې تعلق د مسلمانانو د دیني احکامو او مذهبی معاملاتو سره دی چې داسړی په دې کې فتنه پیدا کوي. (المرقات ۲۵۹/۷)

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

او حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړي د امام سره بیعت وکړو

«من بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ

په داسې قسم سره چې خپل لاس ورکولو سره د اطاعت او فرمانبرداری عهد وکړي او د زړه په خلوص هم د ده حاکمیت او قیادت لره

---

(۱) أخرجه مسلم فی الصحیح ۳/۱۴۸۱ رقم الحدیث (۱۸۵۲-۶۰)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَلْيُطِعْهُ | إِنِ | اسْتَطَاعَ | فَإِنْ | جَاءَ |
| يې قبول کړو)نو هغه له پکار دي چې هغه (حتى الوسع) ددې امام اطاعت او فرمانبرداري وکړي او بياکه | | | | |
| آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] | | | | |
| بل کوم سړی دخپل امامت اعلان وکړي او دخپل امام خلاف بغاوت وکړي نو دهغه څټ والوزئ. (مسلم) | | | | |

**توضيح: صفقة يده**: صفقة لاس په لاس باندې وهلو او ايخودلو ته وائي او د قسم او بيعت په وخت کې لاس په لاس کې ورکولو سره معاهده او معاقده کولی شي مراد ترې لاس په لاس کې ايخودل دي. (المرقات ۲۶۰/۷)

**وثمرة قلبه**: د زړه د ثمرې نه مراد اخلاص دی، بعض علما و ليکلې دي چې صفقة يد نه مراد مال او ثمرة قلب نه مراد خپل اهل او عيال يوځای کيدو سره بيعت کول دي. (المرقات ۲۶۰/۷)

## د حکومت او امارت طالب مه جوړيږه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: | | | | |
| او حضرت عبدالرحمن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل چې ته | | | | |
| «لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ | | | | |
| حکومت او سيادت مه طلب کوه کچيرې ستا په خواهش او طلب باندې تاته حکومت او سيادت ملاو شي | | | | |
| وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا | | | | |
| نوته به هغې ته وسپارلی شي او که ستا د خواهش او طلب نه بغير تاته حکومت او سيادت ملاو شي | | | | |
| عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا» متفق عليه (صَحِيح)[2] | | | | |
| نو په دې باندې دالله تعالى دطرف نه به ستامدد کولی شي. (مسلم) | | | | |

**توضيح: لاتسأل الامارة**: داسلامي خلافت او دجمهوريت په مصيبت کې هم دا بنيادي فرق دی چې د اسلامی خلافت دعهدو حاصلول د خدمت ذريعه وی او په جمهوريت کې ددې عهدو حاصلول د دنيا دګټې اسباب او ذرائع وی اوس چې کوم کار ددين د ترقئ او خوررولو دپاره وي په هغې کې به الله تعالى

---

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۳/۱۴۷۲ رقم الحديث (۱۸۴۴-۴۶) وأخرجه النسائى فى السنن ۷/۱۵۲ رقم الحديث ۴۱۹۱ وابن ماجه فى ۲/۱۳۰۶ رقم الحديث ۳۹۵۶ وأحمد فى المسند ۲/۱۶۱.

(۲) أخرجه البخارى فى صحيحه ۱۳/۱۲۳ رقم الحديث ۷۱۴۶ ومسلم فى ۲/۱۴۵۶ رقم الحديث (۱۶۵۲-۱۳) وأبوداود فى السنن ۳/۳۴۳

مدد کوي، او کله چې په خپل ځان باندې په اعتماد کولو سره دا عهدې د دنیا د ګټلو ذرائع جوړې شي نو دالله تعالی مدد به شامل حال نه وي نو د کامیابئ په ځای به د ناکامئ سره مخ شي. (المرقات ۲۶۱/۷)

## د حکومت د ملاویدو او تللو مثال

| |
|---|
| ﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ او فرمایل (زه وینم چې) |
| «إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ |
| تاسو به په راتلونکي زمانه کې د حکومت او سیادت په حرص کې مبتلا شئ حالانکه هغه حکومت |
| وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ |
| او سیادت (چې د حرص او طلب سره ملاوشي) د قیامت په ورځ د ښیماني ذریعه ده (یادساتئ! حکومت |
| فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ |
| او سیادت پئ ورکونکی پریکونکی هم دی) پئ ورکونکی څه مهربانه مور ده او د پیو نه پریکونکی |
| الْفَاطِمَةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1] |
| ناترسه او ظالمه مور ده. (بخاری) |

**توضیح**: **فنعم المرضعة**: علامه مظهر رحمه الله فرمائی چې د **نعم** او **بئس** فاعل چې کله مؤنث وي نو د دواړه صیغې د مؤنث هم راوړلی شي او د مذکر هم راوړلی شي دلته د نعم سره تاء د تانیث نه ده او بئست سره لګیدلې ده دا دې طرف ته اشاره کړی شوې ده چې دا دواړه لغته دي او دواړه جائز دي نو په یوه صیغه کې یو لغت راوړلی شو او په دویمه صیغه کې دویم لغت راوړل شوی دی.

**وبئست الفاطمة**: یعنی حکومت او قیادت چې کله ملاویږي او سړی کله صاحب اقتدار شي نو دا قیادت د شفیقې مور په شان په غیږ کې اخستلو سره د بدن پئ پرې ځکولی شي او هغه ده لره پالي، خو کله چې دا حکومت او قیادت ناراضه شي نو دا د ظالمې مور په شان د بچي په خوله کې مرچکی اچوي او هغه د پیو نه پریکوي نو عقل مند سړي له پکار دي چې د داسې ناپائیداره څیز په طلب کې خپل وخت ضائع نه کړي د حکومت د تلو راتلو درې مرحلې آینده کې راروانې دي. (المرقات ۲۶۱/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲۵ رقم الحدیث ۷۱۴۸ والنسائی فی ۸/۲۲۵ رقم الحدیث ۵۳۸۵ وأحمد فی المسند ۲/۴۴۸

## دحکمرانانو انجام

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي؟

او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې (یوه ورځ) ما عرض وکړو ای دالله رسوله! چې تاسو مالره (دغه

قَالَ: فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي ثُمَّ قَالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ

ځای) عامل (حاکم) ولې نه جوړوئ؟. وې فرملیل چې ابوذره! ته کمزوری یې او دا سرداري (د

وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ

الله تعالی دطرف نه یو امانت دی سرداري به دقیامت په ورځ د رسوائي او پښیمانی ذریعه وي خو

الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا

دا چې کوم سړي دې سردارئ لره په حق سره حاصله کړې وی او هغه حق یې ادا کړی وي چې ددې

مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا

سردارئ په وجه په ده باندې دی (یعنی چې کوم سړی دمستحق کیدو په وجه سره سردار جوړ کړی شو او بیا هغه په خپله

وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا». .

زمانه کې په حکومت کې دعدل او انصاف نوم روښانه کړو او درعایاو سره یې داحسان او خیرا خواهئ معامله وکړه

وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ لَهُ: «يَا أَبَا ذَرٍّ إِنِّي

نو هغه سرداري به دهغه دپاره درسوائي او وبال ذریعه نه وي) او په یو روایت کې داسې دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: ابوذره!

أَرَاكَ ضَعِيفًا. وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي

زه تالره کمزوري وینم او زه ستادپاره هغه څیز خوښوم کوم چې دخپل نفس دپاره خوښوم، ته د دوو سړو هم

لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

سردار عامل مه جوړیږه او دچا یتیم دمال هم نگران مه جوړیږه. (مسلم)

**توضیح**: انها امانة: یعنی کرسئ داقتدار قومی امانت دی کچیرې په دې کې یې نقصان وکړو نو قومی خیانت به وي. (المرقات ۲۶۲/۷)

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱٤٥۷ رقم الحدیث (۱۸۲٥-۱٦) وأحمد فی المسند ٥/۱۷۳.

خزي وندامة: يعنى د قيامت په ورځ به حكومت د رسوائي او بښيمانى سبب وي د دې بښيمانى ترتيب داسې دى چې كله سړى په اقتدار باندې راشي نو خلق قسما قسم الزامات لګوي چې په تګ او دهاندلئ سره راغلى دى د رشوت او غلا د دروازې نه راغلى دى بيا چې كله دا سړى څه ورځې حكومت كوي او قسما قسم ذمه دارئ په ځاى راوړلو سره عاجز شي نو بښيمانه شي دا درمياني دور د حكومت دى چې كاش زه په دې كې نه راتلم او كله چې حكومت ترې واخستلى شي نو بيا په دنيا كې رسوا كيږي يا په آخرت كې رسوا كيږي دا آخري رسوائي ده نو په اول كې ملامتيا ده په مينځ كې بښيمانتيا ده او په آخر كې رسوائي ده، راتلونكي حديث نمبر ۵۳ كښې دا ترتيب راروان دى. (المرقات ۲۶۲/۷)

## دمنصب غوښتونكي ته منصب مه ورکوئ

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَرَجُلَانِ

او حضرت ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائى چې (يوه ورځ) زه او زما د تره د اولاد نه دوه كسان د نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ

مِنْ بَنِي عَمِّي فَقَالَ أَحَدُهُمَا: يَا رَسُولَ اللهِ

په خدمت كې حاضر شول هغوى ته مو عرض وكړو چې اى د الله رسوله! الله تعالى تاسو (د ټولو

أَمِّرْنَا عَلَى بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللهُ

مسلمانانو او د د مخ د ځمكې) حاكم جوړ كړى يې، مالره دځه ځاى يا دځه كار حاكم او والي مقرر كړه.

وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ ذَلِكَ فَقَالَ: «إِنَّا وَاللهِ

دويم هم د داسې خواهش اظهار وكړو، نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل په الله قسم! مونږ (د دين او شريعت)

لَا نُوَلِّي عَلَى هَذَا الْعَمَلِ أَحَدًا سَأَلَهُ وَلَا أَحَدًا

په دې امورو كې هيڅ يو داسې كس لره والي او ذمه دار نه جوړوو، چې زمونږ د ولايت د ذمه دارئ طلب كار

حَرَصَ عَلَيْهِ». وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ:

وي يا د دې حرص لري. او په يو روايت كې دا الفاظ دي چې نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې مونږ په خپل كار

«لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

باندې هغه سړي لره (عامل، کارپرداز) نه مقرروو چې د دې اراده (یعنی د عامل کیدو خواهش) لري. (مسلم)

**توضیح**: چې کوم سړی پخپله د څه منصب طلب کار وي نو هغه په حقیقت کې په حب جاه کې مبتلا دی چې د دنیا د محبت یوه اهمه شعبه ده په دې وجه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ همیشه داسې سړي لره د څه منصب اهل نه ګڼلو او نه به یې هغه منصب ورکولو، او کوم سړی چې د منصب طالب نه وي اوبیا په دې باندې فائز شي نو دهغه په زړه د خدمت د جذبې ولوله وي چې دهغې انجام به ښه وي، په افسوس سره ویل دي چې نن صبا خو د منصبونو د حاصلیدو دپاره جنګ جګړې کیږي او رشوتونه ورکوي بلکه د دین ټول منصبونه د دنیا د حاصلیدو ذرائع جوړ شول. الا ماشاء الله.

د حکومت و امارت انکار کونکې بهترین سړي دي

## د حکومت او امارت نه انکار کولو والا بهترین کس دی

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَجِدُونَ مِنْ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل: په خلقو کې بهتر به تاسو هغه سړی

خَيْرِ النَّاسِ أَشَدَّهُمْ كَرَاهِيَةً لِهَذَا الْأَمْرِ حَتَّى يَقَعَ

ومومئ چې دا هغه څیز لره د ناخوښولو په معامله کې دټولو نه زیات سخت وي تر دې پورې چې په دې

فِيهِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[2]

کې مبتلا شي. (بخاری و مسلم)

**توضیح**: حتی یقع فیه: د دې حدیث دوه مفهومه دي: یو دا دی چې کوم سړی د منصب او سیادت او قیادت او د حکومت نه سخت نفرت کونکی وي تاسو به ده لره بهترین سړی و مومئ تر دې پورې چې هغه د منصبونو په دې نفرت باندې قائم پاتې نه شي او په قیادت او سیادت کې مبتلا شي نو د دې سړي انجام به هم هغه وي چې په آخر کې به ښیماني وي او په آرمان سره به لاسونه مروړي.

دویم مفهوم علامه طیبی رحمه الله داسې بیان کړی دی چې کوم سړی د سیادت، قیادت او

---

(1) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲۵ رقم الحدیث ۷۱٤۹ ومسلم ۳/۱٤۵۹ رقم الحدیث (۱۷۳۳-۱٤) وأبوداود فی السنن ٤/۹ رقم الحدیث ۳۵۷۹ وأحمد فی المسند ٤/٤۰۹.

(2) أخرجه البخاری فی صحیحه ٦/٦۰٤ رقم الحدیث ۳۵۸۸ ومسلم فی ٤/۱۹۵۸ رقم الحدیث (۲۵۲٦-۱۹۹) وأحمد فی المسند ۲/٤۱۸.

دمنصبونو نه متنفر وي ته به هغه لره بهترین سړی وموميي خو دغه سړی په حب جاه کې مبتلا شو نو ته به هغه لره بدترین سړی وموميي. (المرقات ۲۶۰/۷ الکاشف ۲۳۴/۷)

## هر سړی دخپلو ماتحتو د اصلاح ذمه دار دی

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «أَلَا

او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل خبردار په تاسو کې

كُلُّكُمْ رَاعٍ وكُلُّكُمْ مسؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

هر سړی د خپل رعیت نگهبان دی او (د قیامت په ورځ) به په تاسو کې هر سړی د خپل رعیت په باره کې جواب

فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مسؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

ورکوي لهذا امام یعنی سربراه د مملکت او حکومت چې د خلقو نگهبان دی هغه به د خپل رعیت په باره

وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مسؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

کې جواب ورکوي، سړی چې د خپل کور نگهبان دی هغه به د خپل کورواالو په باره کې جواب ورکوي

وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وولدِهِ وَهِيَ مسؤولةٌ عَنْهُمْ

بښځه د خپل خاوند د کور او د هغه د بچو نگهبانه ده هغه به د دې حقوقو په باره کې جواب ورکوي غلام

وَعَبْدُ الرَّجُلِ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مسؤولٌ عَنهُ أَلَا

سړی د خپل مالک د مال نگهبان دی هغه به د دې په باره کې جواب ورکوي لهذا خبردار اوسئ! په

فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وكُلُّكُمْ مسؤولٌ عَن رعيتِه» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

تاسو کې هریو نگهبان دی او په تاسو کې به هریو سړی د خپل رعیت په باره کې جواب ورکوي. (بخاری ومسلم)

**توضیح** : الاکلکم راع : راعي نگران او نگهبان ته وائی او رعیت دې ته وایې چې دنگهبان په نگرانئ او حفاظت کې وي نو دیو ملک رعیت ته په دې وجه رعایا وائی چې هغه د دې ملک د سربراه په نگرانئ کې او حفاظت کې وي په دې حدیث کې چې دکومې نگرانئ ذکر دی د دې نگرانئ تعلق دهغه خلقو سره دی چې دځه حکم اوقدرت ماتحت وي او چې کوم خلق دځه حکم ماتحت وي

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۱۱ رقم الحدیث ۷۱۳۸ ومسلم فی ۳/۱٤٥۹ رقم الحدیث (۱۸۲۰-۲۰) رواه ابوداود فی السنن ۳/۳٤۲ رقم الحدیث ۲۹۲۸ والترمذی فی ٤/۱۸۰ رقم الحدیث ۱۷۰٥ وأحمد فی المسنده/۲.

دهغوی په باره کې دا حدیث نه دی نو په رعیته کې چې کوم ضمیر راجع کیږي هغه ددې مقصد دپاره د
چې ذمه داري ددې نګرانانو ده چې د کوم حکم ماتحت خلق وي مثلاً د ملک د حاکم په لاس کې ددې ملک
د رعیت منډې ترڅې وي هغه به ددې رعایاو مسئول وي دغه د کور لوی ذمه دار به وي ځکه چې په هغوی
به دده حکم چلیږی دمدرسې مهتمم به د طلباؤ ذمه دار وي ځکه دهغه د حکم ماتحت وي، دغه شان په دې
ترتیب سره د کور دماشومانو بچو باندې د کور ښځه سربراه ده او د خادم نګراني د آقا په مال باندې ده د
هغه خلقو نه به په قیامت کې د هغوی دذمه دارو تپوس کولی شي. بعضو علماو ویلې دي چې انسان په
بدن کې چې کوم اندامونه دي هغه ټول اندامونه دده رعیت دی ددې په حقله به دده نه تپوس کیږی چې
مثلاً د سترګې نګراني دې ولې ونه کړه د ژبې او شرم ګاه او دلاس خپو نګرانی او حفاظت دې ولې ونه
کړو؟ بعضې خلق په دې حدیث باندې په پوهیدو کې غلطی کوي او خیال یې دی چې د پوره دنیا د
انسانانو ذمه داري په مونږ باندې ده او هغوی ته دعوت ورکول او په سمه لار باندې راوستل زمونږ ذمه
داری ده کچیرې مونږ دا ذمه داری پوره نه کړه او هغه خلق بغیر دکلمې نه مړ شو نو په قیامت کې به زمونږ
نه سوال کیږی مثلاً هوانګ، چنګ زیاؤپنګ اولی شاؤ چنګ بغیر دکلمې نه ولې مړه شوې دي، دا نظریه
صحیح نه ده او نه اسلام په مونږ باندې د مالا یطاق بوج اچولی دی د اسلام آواز چې کله دچا غوږ ته
ورسیدلو د دعوت حق اداء شو. ددې نه پس بیا دجهاد مرحله ده، بهرحال ددې حدیث داسې تشریح نه دی
کول پکار چې دهغې په اوربدلو سره عوام الناس په علماؤ بدظنه شي چې دا دعلماؤ ذمه داري ده
اوهغوی پوره نه کړه، او فلانی فلانی بغیرد کلمې نه مړ شو، دا اعتراض خو بیا په خلفاء راشدینو او فقهاء
کرامو مجتهدینو باندې هم راځي چې هغه حضرات (المرقات ۲۶۴/۷) د دعوت دپاره پاکستان ته ولې
نه وو راغلی چین ته ولې لانه ړلو عراق او مصر ته یې مسلسل سفرونه ولې ونه کړل.

## دخائن اوظالم حاکم په باره کې وعید

﴿۲۶﴾ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يقولُ:

او حضرت معقل بن یسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوربدلو چې

«مَا مِنْ والٍ بلي رَعِيَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَمُوتُ

کوم سړی هم دحکومت او سیادت حاصلولو سره په خپل رعیت باندې حکمرانی وکړي او بیا په دې

وَهُوَ غَاشٌّ لَهُمْ إِلَّا حَرَّمَ اللهُ

حالت کې مړ شي چې هغه په خپل رعیت باندې ظلم او دهغوی په حقوقو کې خیانت یې کولو نو الله تعالی

| |
|---|
| عَلَيْهِ الْجَنَّةَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| به په هغه باندې جنت حرام کړي. (بخاری و مسلم) |

**توضیح**: **وهو غاش**: په شین باندې شد دی غاش دخائن په معنی سره دی او د خیانت ډیر زیات صورتونه دي دکوم صورت خیانت چې حاکم وکړو په هغې باندې به وعید چسپان کیږی، ملا علی قاری رحمه الله دغاش یوه معنی د ظالم هم کړې ده چې هغه دعوام الناس حقونه نه ادا کوی او د نورو مال لاندې کوي. (المرقات ۲۶۵/۷)

**الا حرم الله علیه الجنة**: یعنی کچیرې هغه حاکم دې خیانتو لره جائز ګڼي نو هغه کافر شو، لهذا په ده باندې جنت حرام دی او کچیرې هغه د مسلمان کیدو سره دخیانتونو مرتکب شو نو هغه به جنت ته د خلقو سره یوځای نه ځي چې بغیر دځه سزا نه به جنت ته ځی، بلکه د سزا خوړلو نه وروسته به جنت ته ځي د راتلونکي حدیث همدا تشریح ده. (المرقات ۲۶۵/۷)

## درعایاو سره بنیګړه په حاکم باندې لازم ده

| |
|---|
| ﴿۲۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: |
| او حضرت معقل بن یسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واورډلو چې الله تعالی |
| «مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً |
| دکوم سړي په ذریعې سره چې د رعیت نګهباني وکړي (یعنی چې کوم سړی د رعیت حکم او نګهبان جوړ کړي) |
| فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ إِلَّا لَمْ يجد رَائِحَةَ الْجَنَّةِ» متفق علیه (صَحِيح)[2] |
| او هغه دبنیګړې او خیرهوهئ سره نګهباني ونه کړي نو د جنت بوی به ونه مومي (بخاری و مسلم) |

**توضیح**: **فلم یحطها**: په حاء باندې پیش دی دا د احاطې په معنی سره دی مراد ترینه نګهباني ده په آینده حدیث کې د الحطمة لفظ د ظالم په معنی سره دی. (المرقات ۲۶۶/۷) (بنصیحة) دا لفظ د دیني او دنیاوي ټولو بنیګړو ته شامل دی. (المرقات ۲۶۶/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲۷ رقم الحدیث ۷۱۵۱ ومسلم فی ۳/۱٤٦۰ رقم الحدیث (۱٤۲-۲۲) والدارمی فی السنن ۲/٤۱۷ رقم الحدیث ۲۷۹٦ وأحمد فی المسند ۵/۲.

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۲٦ رقم الحدیث ۷۱۵۰ ومسلم فی ۳/۱٤٦۰ رقم الحدیث (۱٤۲-۲۱)

**رائحة الجنة** : دجنت خوشبو پنځه سوه کاله فاصلې پورې ځي ددې حدیث مطلب هم هغه دی چې یا به دا سړی په کفر باندې مړ شوی وي یا به په اول ځل دخول سره جنت ته نه داخلیږی او یا دا حدیث په تغلیظ او تشدید او زجر او توبیخ باندې محمول دی. (المرقات ۲۶۶/۷)

## بدترین حاکم هغه دی چې په خپلو رعایاو باندې ظلم کوي

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

او حضرت عائذ بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو چې په

«إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]

سردارانو او حاکمانو کې دټولو نه بدتر سردار هغه حاکم دی چې په خپلو رعایاو باندې ظلم کوي. (مسلم)

**توضیح** : **الحطمة** : په حاء باندې پیش دی او طاء باندې زبر دی، حاطم د مبالغې صیغه ده چې الحطم نه د ماتولو په معنی سره راځي دا د هغه ظالم حاکم متعلق دی چې په ظلم کولو سره خپل رعیت ماتوي او په هیڅ یو مصیبت کې هم په هغوی رحم نه کوي، بعضو ویلې دي چې د **الحطمة** نه مراد داسې خوراک والا حریص دی چې هر هغه څیز خوري چې کوم مخې ته راځي.

**الرعاء**: په را باندې زیر دی عین باندې مد دی د جمع صیغه ده ددې مفرد **راعٍ** دی چې دنګران او حکمران په معنی سره دی. (المرقات ۲۶۶/۷)

**حکایت** : ملا علی قاری رحمه الله ددې حدیث په شان یو بل حدیث په دې ځای نقل کړی دی په هغې کې یوه افسوسناکه قصه ده فرمائی چې عائذ بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی اکرم ﷺ صحابی وو یو ځل دا د کوفې ظالم ګورنر اشدق لطیم الشیطان عبید الله بن زیاد خواته لاړلو او وې فرمایل چې ای ځویه! ما د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوریدلې دي چې **ان شر الرعاء الحطمة فایاک ان تکون منهم** یعنی بدترین نګران ظالم حکمران دی ځویه ځان تر ې ساته چې چیرته ته دهغوی نه جوړ نه شې.

**فقال له اجلس انما انت من نخالة اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم فقال هل كانت لهم نخالة، انما كانت النخالة بعدهم وفي غيرهم** (رواه مسلم) (المرقات ۲۶۷/۷)

یعنی عبید الله بن زیاد وویل چې کینه ته د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پوستکی او بوس یې

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱٤٦۱ رقم الحديث (۱۸۳۰-۲۳) وأحمد في المسند ٥/٦٤.

صحابی جواب کې وفرمایل چې آیا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې چهلکا او بوس هم وو؟ (نه روره) بوس او چهلکا دهغوی نه پس خلقو کې وو. (هغه خو ټول په ټوله لب او خالص مغز وو).

## د نرم خوئی حاکم په حق کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دعا

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَللّٰهُمَّ

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (د الله تعالی په دربار کې دا عرض وکړو: ای زما پروردګاره!

مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا

چې کوم سړی زما دامت (په دیني او دنیاوی) امورو کې دچا ولي او متصرف جوړ کړی شو او بیا هغه

فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ

زما دامت په خلقو باندې مشقت او سختي مسلط کړه نو په هغه سړي باندې هم ته مشقت او سختي مسلط کړې

وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا

او کوم سړی چې زما دامت په امورو کې دځه څیز ولي او متصرف جوړ کړی شو او هغه زما دامت سره

فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)(۱)

د نرمۍ او ښیګړې سلوک وکړو نو د هغه سره هم د نرمئ او عنایت معامله وکړې. (مسلم)

## د عادل حکمران عظیمه مرتبه

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل بېشکه

«إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمٰنِ

عادل حکمران به د الله تعالی په نزد د نور په منبرونو باندې ځای مومي چې د رحمن (الله) ښي طرف ته به وي

وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ

او د الله دواړه لاسونه ښي دي (او عادل حکمران هغه دی) چې په خپلو احکامو او خپل اهل او خپل

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۳/۱٤٥۸ رقم الحديث (۱۸۲۸-۱۹) وأحمد في المسند ٦/۹۳.

| |
|---|
| وَمَا ولُوا». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيحٌ)[1]. |
| تصرف او معاملاتو کې عدل او انصاف کوي. (مسلم) |

**توضیح : المقسطین:** دعدل او انصاف په معنی سره دی المقسط دباب افعال نه دعدل او انصاف په معنی سره دی په قرآن کې راغلې دي چې **(ان الله یحب المقسطین)**. (المائده : ۴۲)
او کچیرې دا ماده دباب افعال په ځای په مجردو کې د ضرب یضرب نه قاسط راشي نو هغه دظلم او جور او دحق نه د تجاوز په معنی سره راځي په قرآن کریم کې دی **(واما القاسطون فکانوا لجهنم حطبا)** (سورة الجن : ۱۵)
علامه تورپشتی رحمه الله لیکلې دي چې ویلی شي چې : **قسط الرجل اذاجار وهوان یأخذ قسط غیره والمصدر القسوط واقسط اذا عدل وهوان یعطي قسط غیره ویحتمل ان الالف ادخل فیه لسلب المعنی فیکون الاقساط ازالة القسط** (مرقات ج۲ص۲۱۳)(المرقات ۲۶۷/۷)

**یمین الرحمن :** دالله تعالی په نزد دعادل حکمران مرتبه ډیره لویه وي ددې او چتې مرتبې دتعبیر او هغې طرف ته داشارې کولو دپاره یې وفرمایل چې دالله تعالی ښي طرف ته په منبرونو به ناست وي، غرض داچې کوم خلق دلویې مرتبې والا وي هغه به ښي طرف ته ناست وي او دالله تعالی دواړه لاسونه ښي دي ځکه چونکه نسبتًا کمزوری وي په دې وجه دکمزورئ دې وهم لره لرې کولو دپاره ئې وفرمایل چې د الله تعالی دواړه لاسونه ښي دي. (المرقات ۲۶۸/۷)
**یعدلون :** که ددې عدل نه دحکامو عدل او انصاف مراد وي نو بیا په دې سره په امور مملکت کې دانصاف او امانت او دیانت ټولو تقاضو لره پوره کول مراد دي چې په دې ټولو شعبوکې به عدل کوي په اهل اوعیال کې دعدل اوانصاف مطلب دادی چې په دې ځیزونو کې داصحاب حقوقو دحقونو ادا کولو پوره خیال ساتل دي چې داخلق به دنورو په منبرونو باندې وي. (المرقات ۲۶۸/۷)

## د هر حاکم او امیر سره همیشه دوه متضاد طاقتونه وي

| |
|---|
| ﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا بَعَثَ الله مِنْ نَبِيٍّ |
| او ابوسعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې الله تعالی داسې کوم نبی نه دی لیږلی |
| وَلَا اسْتَخْلَفَ مِنْ خَلِيفَةٍ إِلَّا كَانَتْ لَهُ بِطَانَتَانِ: بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ |
| او داسې څوک خلیفه یې نه دی مقرر کړی چې دهغه دپاره دوه ډلې ملګری نه وییو ډلې ملګری د نیک |

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۴۵۸ رقم الحدیث (۱۸۲۸-۱۸)والنسائی فی السنن ۸/۲۲۱ رقم الحدیث ۵۳۷۹ وأحمد فی المسند ۲/۱۶۰.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بِالْمَعْرُوفِ | وَتَحُضُّهُ | عَلَيْهِ | وَبِطَانَةٌ | تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ |
| کار کولو حکم ورکوي او نیکئ طرف ته یې راغب کوي او دویم پټ ملګری دبدئ حکم ورکوي او | | | | |
| وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَالْمَعْصُومُ مَنْ عصمه الله". رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[1] | | | | |
| بدئ طرفته یې راغب کوي او معصوم (بې ګناه) هغه دی چالره چې الله تعالی ډګناه نه محفوظ وساتلو. (بخاری) | | | | |

**توضيح : بطانتان** : یعنی دوه وزیران دوه مشیران چې د دوو پټو ملګرو په شان وي چې په هیڅ شان سره هم نه جدا کیږی یو دنیکئ حکم ورکوي چې هغې ته الهام وایي چې دفریښتې دطرف نه وي. (المرقات ۲۶۹/۷)

**تحضه**: دنصر ینصر نه چالره راپورته کولو ته وایي مراد راوچتول او بیدار ساتل دي. ددې مضمون مطابق څو احادیثه په باب الوسوسه کې تیرشوی دی چې په هغې کې انسان سره د شیطان او فریښتې لزوم خودلی شوی دی. والمعصوم یعنی د بطانة الشر او د شیطانی وسوسو نه بچ کونکی صرف یو الله تعالی دی. (المرقات ۲۶۹/۷)

## د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د حضرت قیس بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ منصب

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | | | | | | | |
| او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د حضرت قیس بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حواله د هغه | | | | | | | | | |
| بِمَنْزِلَةِ صاحِبِ الشُّرَطِ مِنَ الأَمِيرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[2] | | | | | | | | | |
| په خدمت کې وو چه د امیرانو او بادشاهانو سره کوتوال یې سرته رسوي. (بخاری) | | | | | | | | | |

**توضيح : الشرط** : علامه توربشتی رحمه الله لیکلي دی چې دا د شرطی جمع ده دا هغه سړي ته وایي چې د امیر او حاکم په مخکې مخې ته وي او سیاسي امور چلوي چونکه داخلق دخپل بدن دتعارف دپاره ننبه ترې په دې وجه دې ته شرط ویلی شوی دی دلته خو کوتوال او د حکم په نافذ کولو باندې مقرر پولیس مراد دی.[3]

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۳۳ رقم الحدیث ۷۱۹۸ والنسائی ی ۷/۱۵۸ رقم الحدیث ۴۲۰۲ وأحمد فی المسند ۳/۳۹.

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۳/۱۸۹ رقم الحدیث ۷۱۵۵ والترمذی فی السنن ۵/۶۴۷ رقم ۳۸۵۰.

(۳) المرقات ۲۷۰/۷

## بنځه خپله حاکمه جوړولو والا قوم کله هم نه شي کامیابیدی

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ

او حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته داخبر راورسید و چې د فارس والو د

قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ

کسری لور خپله حکمرانه جوړه کړې ده نو وې فرمائیل چې هغه قوم کله هم کامیاب کیدی نه شي

وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ (صَحِيح)[1]

چې چا (دملک) د امورو حاکم او والی کومه بنځې لره جوړه کړې وي. (بخاری)

**توضیح: بنت کسری**: کله چې شیرویه خپل پلار پرویز قتل کړو او بیایې دپلار ایخودلې زهریې دوائی وګنله او وې څکله او هغه هم مړ شو نو اوس په شاهی خاندان کې د حکومت چلولو دپاره څوک سړی پاتې نه شو نو بیا هغه خلقو دکسری لور **ارمیدخت** لره باچا جوړه کړه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې کله ددې خبر وشو نو هغوی داحدیث ارشاد وفرمایلو.

کسری دا د فارس دهریو باچا لقب به وو څنګه چې قیصر دروم دباچا لقب وو د مصر باچا ته فرعون، دحبشې باچا ته نجاشي او د یمن باچا ته تبع او دهندوستان باچاته راجه، او دترکیا باچا لره به په خاقان لقب سره یادیدل. (المرقات ۲۷۱/۷)

**لن یفلح**: فلاح هغې ته وائی چې دامن او امان سره ددنیا د معیشت او اقتصادیات هم په کامیابئ سره ترقی وکړي او بنه انجام سره دآخرت ټول امور هم ترقي وکړي ګویا چې د دین او دنیا بنیګړې ته فلاح وایي د بنځې په سربراهی کې دا دواړه څیزونه ختم شي لکه په پاکستان، اوبنګله دیش کې داسې شوې وو، ددې حدیث نه په واضح طور سره معلومه شوه چې دبنځې حکومت نقصان او تباه کونکی څیز دی چې ناجائز دی، ملا علی قاری رحمه الله لیکی چې بنځه دباچا جوړیدو صلاحیت نه لري او نه دقاضی او جج جوړیدی شی ځکه چې ددې کارونو د سنبالولو دپاره بنکاره عام راوتل وې دې دپاره چې د مسلمانانو او عوامو معاملات سرته ورسوي، او بنځه خو یو پټ څیز دی چې داسې راوتلو صلاحیت نه لري او دویمه خبره داده چې بنځه ناقص العقل ده او قضاء کامل قیادت لهذا ددې کامل قیادت دپاره دکاملو سړو ضرورت دی (المرقات ۲۷۱/۷)

---

[1] رواه البخاری فی صحیحه ۱۲۶ ۰ رقم الحدیث ٤٤٢٥ والترمذی فی السنن ٤/٤٥٧ رقم الحدیث ٢٢٢٦ والنسائی فی ٨/٢٢٧ رقم الحدیث ٥٣٨٨ وأحمد فی المسند ٥/٣٨.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

## دملت په اجتماعی هیئت کې تفرقه اچولو والا دپاره وعید

﴿۳۴﴾ عَنِ الحارِثِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آمُرُكُمْ

حضرت حارث اشعری رضی اللہ عنہ وائی چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل تاسو ته دپنځو څیزونو حکم درکوم

بِخَمْسٍ: بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ

(۱) دحکمرانانو د دلې اطاعت کوئ (۲) امراء علماء چې کوم هدایت درکړي هغې لره اوریئ او تسلیم کړئ.

وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللهِ

(۳) د علماو د احکامو اطاعت او فرمانبرداري کوئ (۴) هجرت کوئ (۵) د الله په لاره کې جهاد کوئ!

وَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ

(او یا دساتئ) چې کوم سړی د ملت د اجتماعی هیئت نه یو لبشت برابر هم جدا شو هغه (گویا) چې د

فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلَّا أَنْ يُرَاجِعَ

اسلام رسئ د خپل څټ نه وبستله مگر داچې واپس راشي او کوم کس چې نعره وکړه د جاهلیت په شان نعره،

وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَى جَهَنَّمَ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ

هغه (گویا) د دوزخیانو د دلې یو فرد دی اگرچې هغه روژې نیسي مونځ کوي او دا وائی چې

أَنَّهُ مُسْلِمٌ". رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ (صَحِيح)[1]

زه مسلمان یم. (روایت کړې دي احمد، ترمذی)

**توضیح: بالجماعة**: د اهل حقو د جماعت حقه مراد دی چې د آدم علیہ السلام نه د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم پورې د اهل حقو دلې راروانې دي. (المرقات ۲۷۱/۷) **الهجرة**: د ځان او ایمان د بچ کولو په غرض سره د دارکفر نه دارالاسلام طرف ته تلو ته هجرت وائی. (المرقات ۲۷۱/۷)

**الجهاد**: د دین اسلام د شوکت او چتوالي په خاطر د کفریه طاقتونو سره د مسلح جنگ کولو نوم

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱۵۳۶/۵ رقم الحديث ۲۸۶۳ وأحمد في المسند ۱۳۳/۴.

جهاد دی. (المرقات ۲۷۱/۷) **قید** : قاف باندې زیر دی دا د مثل او برابرئ او مقدار په معنی سره دی یعنی یو لښت برابر. (المرقات ۲۷۱/۷) **خلع**: د راوښتلو او غورزولو په معنی سره دی. (المرقات ۲۷۲/۷) **ربقة** : په غاړه کې داچولو رسئ ته وایې مراد ترې نه رسئ ده یعنی د اسلام پټی د څټ نه وښتل. (المرقات ۲۷۲/۷)

**بدعوی الجاهلیة**: دجاهلیت نعرې نه ددې طریقې خپلول مراد دي غلط کارونو طرف ته دعوت ورکول مراد دي. یا دجنګ په وخت دقومیت نعره اوچتول مراد دی چې دظالم دمدد دپاره یاالقوم جاهلانه نعره لګوي دا لویه ګناه ده دغه شان نعرو سره ګویا داسړی د امت اجتماعی حیثیت توټې توټې کول غواړي. (المرقات ۲۷۲/۷)

**جثی** : په جیم باندې پیش دی او بیا الف مقصوره دی د جثوة جمع ده په اصل کې د شګې او خاورې ډیرې ته وایې دلته مراد جماعت اوډله ده چې د دوزخ په ډلو کې به یوه ډله وي. (المرقات ۲۷۲/۷)

## دامیر اووالي سپګوالی مه کوئ

| |
|---|
| ﴿۳۵﴾ وَعَنْ زِيَادِ بْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ قَالَ: كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ |
| او حضرت زیاد بن کسیب عدوی (تابعیؒ) وائی (یوه ورځ) زه د حضرت ابوبکره رضی الله عنه (صحابی) سره |
| تَحْتَ مِنْبَرِ ابْنِ عَامِرٍ وَهُوَ يَخْطُبُ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ |
| د حضرت عامر رضی الله عنه د منبر لاندې ناست وم هرکله چې (ابن عامر) خطبه ورکوله او هغه نري جامې اغوستې وې |
| فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ: انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا |
| (په دې موقعه باندې یو تابعی) ابوبلال رحمه الله وویل چې لږ زمونږ دې امیر ته اوګورئ، ده د |
| يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ. فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: اسْكُتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| فاسقانو په شان جامې اغوستې دي حضرت ابوبکره رضی الله عنه وفرمایلچه خاموش! ما د نبی علیه السلام نه |
| يَقُولُ: «مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللهِ |
| دا فرمان اوریدلی دی چې کوم سړی د باچا سپکاوی وکړي کوم چې الله تعالی (دخپل مخلوق |
| فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللهُ» |
| د کارونو سر ته د رسولو دپاره) په زمکه مقرر کړی دی نو الله تعالی به هغه سړی ذلیل او خوار کړي |

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ (صَحِيح)[1]

دې روايت لره ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ويلې يې دي چې دا حديث حسن غريب دی.

**توضيح: ثياب الفساق:** ممکن ده چې ددې والي لباس د رښمو وو چې منع دی او عمومًا د رښمو لباس نرم وي، او ممکن ده چې رښم نه وو خو زيات قيمتي وو چې د عيش او عشرت والو لباس وي، الله والو ويلې دي: **من رق ثوبه رق دينه.** حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت ابوبلال رحمه الله ددې لعن طعن نه منع کړو چې ممکنه ده چې ددې نه فتنه او فساد راوچت شي دا رنګه هر راتلونکی حاکم دمخکني حاکم نه بدتر کيدی شي. **سلطان الله:** په دې کې اضافت تشريفيه دی يعنی دالله تعالی حکم معلوم وي چې کوم حاکم دالله تعالی نه وی نه دالله تعالی دين لره نافذ کړي او نه پخپله په دې عمل کوي نو هغه دالله تعالی باچا نه دی بلکه شايد چې د شيطان باچا وي. (المرقات ۲۷۳/۷)

## دخالق په نافرمانئ کې دمخلوق اطاعت جائز نه دی

﴿۳۶﴾ وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ

او حضرت نواس بن سمعان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل دمخلوق داسې تابعداري جائز

فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ[2]

نه ده چې په هغې سره دخالق نافرماني کيږي. (شرح السنة)

## په قيامت کې به هر باچا تر لی راوستلی شي

﴿۳۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ أَمِيرِ عَشَرَةٍ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل امير او حاکم که هغه دلسو

إِلَّا يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَغْلُولًا

کسانو امير او حاکم ولې نه وي دقيامت په ورځ به دا رنګه راوستلی شي چې دهغه په څټ کې به طوق وي

---

(۱) أخرجه الترمذی فی صحيحه ٤/٤٣٥ وأحمد فی المسند ٥/٤٢.

(۲) أخرجه البغوی فی شرح السنة ١٠/٤٤ رقم الحديث ٢٤٥٥.

حَتَّى يُفَكَّ عَنْهُ الْعَدْلُ أَو يوبقه الْجور». رَوَاهُ الدَّارِمِيّ[1]

تردي چې هغه به ددې طوق نه یا خو دهغه عدل خلاص کړي یا به يې دهغه ظلم هلاک کړي. (دارمی)

**توضيح**: امیرعشرة یعنی معمولي غوندې حکمران وي خواه په لسو کسانو باندې دهغه حکومت وي. (المرقات ۲۷۵/۷)

مغلولا د غل نه دی دمری طوق ته وائی دلته د دواړو لاسونو نه ترڼ مراد دی چې دواړه لاسونه به څټ سره ترلې وي. (المرقات ۲۷۵/۷)

یفک: دنصر ینصر نه دخلاصولو په معنی سره دی. یوبقه دباب افعال نه ایباق دهلاکیدو په معنی سره دی. (المرقات ۲۷۵/۷)

## دقیامت په ورځ دامراو اوحکامو افسوسناک حالت

﴿۳۸﴾ وعنهُ قالَ قالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم:

اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په امراء او حکامو باندې

وَيْلٌ لِلْأُمَرَاءِ وَيْلٌ لِلْعُرَفَاءِ وَيْلٌ لِلْأُمَنَاءِ لَيَتَمَنَّيَنَّ أَقْوَامٌ

افسوس دی په چودهریانو باندې افسوس دی امینانو باندې افسوس دی! ډیر زیات خلق دقیامت په ورځ

يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّ نَوَاصِيَهُمْ مُعَلَّقَةٌ بِالثُّرَيَّا

به آرزو کوي چې (کاش په دنیا کې) دهغوی دتندو وېښته به په ثریا (ستوري) پورې ترلو سره هغوی

يَتَجَلْجَلُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَأَنَّهُمْ لَمْ يَلُوا

زورند شوي وی او دزمکې او آسمان ترمینځه ځنګیدلی خو که هغوی ته دځه کار ولایت او

عَمَلًا». رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ» وَرَوَاهُ أَحْمد وَفِي رِوَايَته:

سرداري نه ملاویدی. (شرح السنة) او دې روایت لره امام احمد رحمه الله هم نقل کړی دی او دهغه

«أَنَّ ذوائِبَهُم كَانَتْ مُعَلَّقَةً بِالثُّرَيَّا

روایت داسې دی چې هغه به تمنا کوي چې کاش! په دنیا کې دهغه د (وېښتو) کمښی په ثریا پورې ترلی

---

(۱) أخرجه الدارمی فی السنن ۲/۳۱۳ رقم الحديث ۲۵۱۵

يَتَذَبْذَبُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَكُونُوا عُمِّلُوا عَلَى شَيْءٍ»[1]

شوې وی او هغوی دزمکې او آسمان ترمینځه زوړند وی، خو هغه په څه څیز باندې عامل نه وی مقرر شوی.

**توضيح** : ويل : دا لفظ دغم او هلاکت او عذاب او دمشقت دپاره ويلی شي، بعضې علماء وايې چې دا په دوزخ کې د يوې کندې نوم دی چې په هغې کې به څلوېښت کالو پورې روان وي او ويخ ته به نه رسيږي. (المرقات ۲۷۶/۷)

**أُمَنَاء** : دا د امين جمع ده او امين هغه سړي ته وائی کوم لره چې باچا په صدقاتو او محصولاتو باندې مقرر کړی وي. يا دعامو خلقو دامانتونو آمين مراد دی په دې عهده کې دخيانت لويه خطره ده، نن صبا ده ته وزير مال يا خزانچي ويلی شي. (المرقات ۲۷۶/۷)

**العرفاء** : دا د عريف جمع ده، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې عريف د قبيلې هغه مشر ته ويلی شي چې دخپلې قبيلې کارونه سرته رسوي او دهغه کارونو سرپرستی کوي او د وخت باچاهان دهغه په ذريعې سره دعوامو احوال معلوموي، دکلو او قبيلو سردار او د صوبې ګورنر هم په دې کې شامل دی. (المرقات ۲۷۶/۷)

**عرفاء** کې چودهرۍ، نواب، خان، ملک، ليډر، او وډيری ټول پکې داخل دي شاعر وايي :

اوكلّما وردت عكاظ قبيلة بعثوا الى عريفهم يتوسم

**ثريا** : ګڼو ستورو ته وائی چې يوځای وي او دهغې رڼا کمه وي. **يتجلجلون** : کوم سړی چې دځه څيز پورې زوړند يدو سره حرکت کوي هغې ته **تجلجل** وايې په نورو روايا تو کې د **يتذبذبون** لفظ راغلی دی هغه هم دادی يلو دا د والي او حاکم جوړيدو په معنی سره دی. يعنی دا خلق به په قيامت کې په حسرت اوندامت سره تمنا کوي چې کاش مونږ په دنيا کې ټول مشقتونه او ذلتونه برداشت کولی په مظلوم رعايا و کې او سيدی خو په حکمرانی او په فانی عيش او عشرت کې نه وی دې دپاره چې نن مې دعذاب دا ويريدونکی مخ نه ليدلی. **الآن قد ندمت ولم ينفع الندم**. (المرقات ۲۷۶/۷)

---

(1) أخرجه البغوی فی شرح السنة ۱۰/۵۹ رقم الحديث ۲٤٦۸ وأحمد فی المسند ۳۵۲/۲

## اكثر چودهريان به دوزخ ته ځي

﴿۳۹﴾ وَعَنْ غَالِبٍ الْقَطَّانِ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ

او حضرت غالب قطان يو سړی دی او هغه سړی د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کوي وائی

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِنَّ العرافة حق ولابد لِلنَّاسِ مِنْ عُرَفَاءَ

چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چودهراهټ يو حقيقت دی او د خلقو دپاره چودهري کيدل ضروري دی

وَلَكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

خو چودهري به دوزخ ته ځي. (ابوداؤد)

**توضيح**: العرافة حق: دلته حق په معنی د ثابت دی چې عرافه يو حقيقت دی يا مطلب دا چې عرافه ثابتيدل پکار دي. ولابد: يعنی د خلقو مختلف کارونه او ضروريات وي هغې لره کوم حاکم ته رسول ضروری وي او دا کار د عرفاء او د هغه چودهريانو دی خو په دې کې خلق خيانت هم کوي او ظلم هم کوي په دې وجه عرافه يعنی چودهراهټ په دوزخ کې دی کچيرې د دې منکر اتو نه بچ شی نو بيا دا وعيد نشته دی. (المرقات ۲۷۷/۷)

## ظالم حاكم سره تعاون حرام دی

﴿۴۰﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت کعب بن عجره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل، زه تاسو لره د بې وقوفانو

«أُعِيذُكَ بِاللهِ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ»

د سردارئ پشان د طريقونه ياد هغوی د ملګرتيا او حمايت نه) د الله تعالی په پناه کې ورکوم. کعب رَضِيَ اللهُ

قَالَ: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ

وايي چې ما عرض وکړو ای د الله رسوله! دا څه دي؟ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل زمانه پس (په بعضو زمانو

«أُمَرَاءُ سَيَكُونُونَ مِنْ بَعْدِي مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ

کې) چې کوم خلق به اميران او حاکمان وي هغه به احمق او نادان او د دنيا دآئين نه به نابلده او دورغژن

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/٦٤٦ رقم الحديث ۲۹۳٤.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَصَدَّقَهُمْ | بِكَذِبِهِمْ | وَأَعَانَهُمْ | عَلَى | ظُلْمِهِمْ |
| او ظالمان به وي، لهذا چې کوم خلق ددې خوا ته ځي دهغه دظلم امداد او حمایت يې وکړونو نه د | | | | |
| فَلَيْسُوا | مِنِّي | وَلَسْتُ | | مِنْهُمْ |
| هغه ماسره څه تعلق دی او نه زه دهغه سره څه تعلق ساتم (بلکه دهغه نه دخپلې بیزاری اظهار کوم) او | | | | |
| وَلَنْ يَرِدُوا | عَلَيَّ | الحوضَ | وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ | عَلَيْهِمْ وَلَمْ |
| نه به هغه خلق حوض باندې ماته راځي او کوم خلق چې نه خو دهغه امیرانو او حاکمانو خوا ته لاړشي | | | | |
| يُصَدِّقْهُمْ | بِكَذِبِهِمْ | وَلَمْ يُعِنْهُمْ | عَلَى ظُلْمِهِمْ | فَأُولَئِكَ مِنِّي |
| او نه يې دهغه دروغو ته رښتیا وویل او نه يې دهغه دظلم امداد او حمایت وکړو نو هغه خلق زما دي او | | | | |
| وَأَنَا مِنْهُمْ وَأُولَئِكَ يَرِدُونَ عَلَيَّ الْحَوْضَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ[1] | | | | |
| زه دهغوی یم او په حوض باندې به ماته راځي. (ترمذی، نسائی) | | | | |

یو شعر وګورئ:

لایصلح الناس فوضی لاسراة لهم ولاسراة اذا جهالهم سادوا

دیو حاکم نه بغیر په افراط او تفریط (ګډوډی) کې خلق صحیح نه شي کیدی او که جاهل حکمران وي نو دخلقو حکمران نه دی.

## دحکومت دسر براهانو ناسته ددین او دنیا دتباهئ ذریعه ده

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۴۱﴾ وَعَنِ | ابْنِ | عَبَّاسٍ | عَنِ | النَّبِيِّ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل | | | | | | |
| «مَنْ | سَكَنَ | الْبَادِيَةَ | جَفَا | وَمَنِ | اتَّبَعَ | الصَّيْدَ |
| چې کوم کس په ځنګل (کلو کې) اوسیږي هغه به جاهل وي او کوم کس چې ښکار پسې نختی وي | | | | | | |
| غَفَلَ | وَمَنْ | أَتَى | السُّلْطَانَ | افْتُتِنَ». | رَوَاهُ أَحْمَدُ | وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ |
| هغه به غافل وي او کوم سړی چې باچاته ځي راځي هغه به په فتنه کې مبتلا کیږي (احمد، ترمذی، نسائی) | | | | | | |

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۲/۵۱۴ رقم الحدیث ۶۱۴ والنسائی فی ۷/۱۶۰ رقم الحدیث ۴۲۰۷ وأحمد فی المسند ۴/۴۱۳.

وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: «مَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ

او د ابوداؤد رحمه الله په روایت کې داسې دي چې کوم سړی دباچا په نوکرئ کې وي هغه به په فتنه کې

افْتُتِنَ وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنَ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلَّا ازْدَادَ من الله بُعداً»(۱)

مبتلا کیږي او کوم سړی چې د باچا څومره زیات نزدیکت غواړي هم دومره د الله تعالی نه لرې کیږي.

**توضیح: من سکن البادیة جفا:** په ځنګل کې او کلو کې اوسیدونکی چونکه د علم او علماؤ او د صلحاؤ دمجلسونو نه لرې اوسي دښار دماحول د تهذیب نه هم واقف نه وي په دې وجه په هغه کې جهالت اوبد تمیزي وي، نبی علیه السلام د امر واقعی بیان کړی دی د کلو د اوسیدونکو تنقیص مقصود نه دی. (المرقات ۲۷۹/۷)

**ومن اتبع الصید:** یعنی یو سړی په ښکارپسې داسې لګیدلی وي چې نه دخوراک فکر شته اونه دمونځ فکر شته دې سره نه دځان پرواه شته او دا ټول صرف دځه روزی او حلال رزق دګټلو په نیت نه وي بلکه د عیش او عشرت او لهو او لعب په طور باندې وي نو ظاهره ده چې دا پخپله غفلت او ګناه ده ددې نه دښکار کولو ممانعت نه کیږي په کوم کې چې دا مفاسد نه وي ځکه چې نبی علیه السلام اګر چې پخپله خو ښکار نه دی کړی خو دښکار غوښه یې خوړلې ده او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یې ددې مسائل خو دلې دي او هغوی یې منع کړې نه دي. (المرقات ۲۷۹/۷)

**افتتن:** یعنی کوم سړی چې بغیر دځه سخت ضرورت نه دباچا دربار ته لاړلو نو هغه په فتنه کې پریوتلو ځکه چې هلته به دباچا د ناجائز کارونو موافقت کوي نو دهغه دین به تباه شي، او که مخالفت یې کوي نو دهغه دنیا او ځان په خطره کې پریوځي. ها که یو سړي دباچا په دربار کې حق کلمه اوچته کړه نو هغه خو ډیر لوی داجر کار وکړو. (المرقات ۲۸۰/۷)

## ګمنامی د راحت ذریعه ده او شهرت د آفت ذریعه ده

﴿۴۲﴾ وَعَنِ المقدامِ بن معديكربَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت مقدام بن معدیکرب رضی الله عنه روایت کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم د هغه یعنی د

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۲۷۸ رقم الحدیث ۲۸۵۹ والترمذی فی ٤/٤٥٤ رقم الحدیث ۲۲۵۹، والنسائی فی ۷/۱۹۵ رقم الحدیث ٤۳۰۹ وأحمد فی المسند ۳۵۷/۱.

| |
|---|
| ضَرَبَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ: «أَفْلَحْتَ يَا قُدَيْمُ إِنْ مُتَّ |
| مقدام رضی اللہ عنہ په اوږه باندې لاس وهلو سره وفرمایل ای قدیم! کچیرې په دې حالت کې ستا مرګ |
| وَلَمْ تَكُنْ أَمِيرًا وَلَا كَاتِبًا وَزَّارًا عريفا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[1] |
| وي چې نه ته امیر او حاکم یې، نه منشي یې او نه چودهري نو تاکامیابی بیامونده. (ابوداؤد) |

نبی علیہ السلام د محبت په وجه باندې مقدام ته یې د تصغیر سره یا قدیم وفرمایل)

## دپټواریانو او ټول ټیکس اخستونکو دپاره وعید

| |
|---|
| ﴿۴۳﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا |
| او حضرت عقبه بن عامر رضی اللہ عنہ وائی چې رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم او فرمایل چې صاحب مکس به |
| يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ»: يَعْنِي |
| جنت ته نه داخلیږي صاحب مکس نه د نبی علیہ السلام مراد (دحاکم کارپرداز) دی چې دخلقو نه |
| الَّذِي يَعْشِرُ النَّاسَ. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد والدارمي[2] |
| خلاف شرع محصولونه او ټیکس وصولوي. (احمد، ابوداؤد، درامی) |

**توضیح**: صاحب مکس: مکس محصول ټیکس ته وایې چې په ناجائز طور باندې ځای په ځای جوړ شوی وي او په ظالمانه طور باندې دخلقو نه ټیکس وصولوي که هغه په ایئرپورټونو باندې وي یا په نورو ځایونو باندې وي یا دڅه قسمه بلونو په شکل کې وي چې په هغې سره ظلم کړی شوی وي او خلاف شرع ټیکس نافذ کړی شوی وي، هغه ټول په دې وعید کې داخل دي: شاه ولی الله رحمه الله لیکلې دي چې دیو حکومت دتباهئ او ناکامئ دپاره صرف دا کافی ده چې هغه په عوامو باندې لوی ټیکس مقرر کړي. (المرقات ۲۸۰/۷)

## دامام عادل فضیلت

| |
|---|
| ﴿۴۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ |
| او حضرت ابوسعید رضی اللہ عنہ وایې چې رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم او فرمایل د قیامت په ورځ به په |

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۳٤٦ رقم الحديث ۲۹۳۳.

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۳٤۹ رقم الحديث ۲۹۳۷ وأخرجه الدارمی فی السنن ۱/٤۸۲ رقم الحديث ۱٦٦٦ وأحمد فی المسند ٤/۱٤۳.

| |
|---|
| أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ |
| خلقو کې دالله تعالى په نزد دټولو نه زيات محبوب او د مجلس په اعتبار سره دټولو نه زيات مستحق |
| مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ وَإِنَّ أَبْغَضَ النَّاسِ |
| چې کوم سړی وي هغه عادل امام او حاکم دی او د قيامت او د قيامت په ورځ د الله تعالى په نزد په |
| إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدَّهُمْ عَذَابًا» وَفِي رِوَايَةٍ: |
| خلقو کې دټولو نه زيات د نفرت مستحق او د ټولو نه زيات د عذاب سزاوار! او په يو روايت کې دا دي چې: |
| «وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ جَائِرٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ |
| دالله تعالى نه دټولو نه زيات لرې چې به کوم سړی وي هغه ظالم امام او حاکم دی. امام ترمذی رحمه الله |
| وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ (صَحِيحٌ)[1] |
| دې حديث لره نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دی. |

**توضيح**: ددې حديث تشريح کې دوه شعرونه او ګورئ:

كم يرفع الله بالسلطان مظلمة — في ديننا رحمة منه ودنيانا

لولا الخليفة لم تأمن لنا سبل — وكان اضعفنا نهبًا لاقوانا

الله تعالى په خپلې مهربانئ سره دعادل پاچا په ذريعې سره ئې زمونږ د دين څومره مشکلات لرې کړل او که عادل پاچا نه وی نو زمونږ امن به تباه کيدو او طاقتور خلقو به کمزورې خلق خوړلې وو.

## دظالم حاکم په مخکښې حق وينا کول دټولونه بهتر جهاد دی

| |
|---|
| ﴿٢٥﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ الْجِهَادِ |
| او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل دټولو نه بهتر جهاد د هغه سړي دی |
| مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه (صَحِيح)[2] |
| چې دظالم پاچا په مخکې حق خبره وکړي. (ترمذی، ابو داؤد، ابن ماجه) او احمد او نسائی دي |

---

(١) أخرجه الترمذى فى صحيحه ٣/٦١٧ رقم الحديث ١٣٤٩ وأحمد فى المسند ٣/٥٥.

(٢) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/٥١٤ رقم الحديث ٤٣٤٤ والترمذى فى ٤/٤٧٩ رقم الحديث ٢١٧٤ وابن ماجه ٢/١٣٢٩ رقم الحديث ٤٠١١

وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ[1]

حدیث لره د طارق بن شهاب نه نقل کړی دی.

**توضیح** : **افضل الجهاد** : دلته د من کلمې نه مخکې لفظ جهاد مقدر منل ضروری دی. ای جهاد من قال یا **افضل اهل الجهاد** به محذوف کولی شي. اوس سوال دا دی چې د ظالم باچا په مخکې صرف زبانی جهاد د میدان کارزار د زم بزم نه افضل ولې شو؟ ددې یو جواب ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کې ورکړی دی کوم چې حضرت گنگوهی رحمه الله په کوکب الدری کې نقل کړی دی. ددې خلاصه داده چې د میدان جنگ مجاهد د امید او بیم په مینځ کې وي، کیدی شي چې هغه د دشمن د لاسه په میدان کې شهید شي او ممکن ده چې د مینځ نه په وتلو کې کامیاب شي خو د ظالم باچا په مخکې حق کلمه ویل یقیني مرگ له دعوت ورکول دي ځکه چې په صحیح معنو کې ده امر بالمعروف او نهی عن المنکر کړی دی، نو چونکه دا د ظالم په لاس او قابو کې دی لهذا ددې بیخ وتل مشکل دی او کوم سړی چې پوهیږي چې ددې کلام په وجه به ماته مرگ ملا ویږی او بیا به هم ددې جرأت کوي نو دا ډیر لوی اقدام دی په دې وجه دا افضل جهاد وگرځولی شو. دویم جواب هم د شیخ مظهر په حوالې سره ملا علی قاری رحمه الله نقل کړی دی چې ددې خلاصه داده چې د ظالم باچا د ظلم دوجې نه په زرگونو لکونو خلقو ته نقصان رسیږی او ده لره په صحیح لار باندې راوستلو کې دلکونو مسلمانانو ښیگړه او فائده ده په دې وجه دعامې فائدې پیش نظر دا دهغه جهاد نه افضل دی چې د کوم جهاد نفع دهغه د نفعې پورې محدوده وي، لهذا څه خلق صرف زبانی جمع خرچ لره افضل جهاد گرځوي دا ددې حدیث په مفهوم کې کوم نظري ده او د جهاد مقدس نه د طبعی نفرت نتیجه ده. هم صرف مجاهدین دي چې د حکمرانانو په سر ناست وي دا د حق کلمې او د حق دعوت مهم نه دی نو آیا د څه سرمایې او تجارت جنگ دی؟ (المرقات ۲۸۲/۷، ۲۸۱)

یہ مرتبہ بلند ملا جس کو مل گیا ہر مدعی کے واسطے دار ورسن کہاں

## د حکمرانانو نیک مشیر دهغوی د کامیابۍ ذریعه وي

﴿۴۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کله الله تعالی د امیر

---

(۱) أخرجه النسائی فی السنن ۷/۱۶۱ رقم الحدیث ۴۲۰۹ وأحمد فی المسند ۴/۳۱۴.

أَرَادَ اللهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا

(حکمران) (ددینی اودنیاوی) ښیګړې اراده کوي نو د هغه دپاره رشتني (یعنی صحیح ګفتار

جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ

اوصحیح کردار) وزیر او مشیر مقرروي چې کله هغه امیر (د الله تعالی حکمونه) هیروي نو هغه وزیر ئې هغه

وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ. وَإِذَا أَرَادَ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ

ته ورپادوی اوکه هغه یې یاد ساتي نو هغه وزیر هغې لره (په یاد ساتلو کې) مدد ورکوي او کله چې الله تعالی د کوم

جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ

امیر د ښیګړې اراده نه کوي نو په هغه باندې بد مشیر مسلط کوي. کچرې امیر د الله تعالی حکمونو لره پریږدي

وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ[1]

نو هغه وزیر یې هغه ته نه یادوی اوکه هغه یې نه پریږدي نو هغه وزیر دده مدد نه کوي. (ابوداؤد، نسائی)

**توضیح**: ددې حدیث د تشریح ضرورت نشته دی صرف په دوه شعرونو باندې اکتفاء کوم.

**اضاع الخلافة غشُّ الوزير وفسق الامير وجهل المشير**

**ترجمه**: خلافت اسلامیه لره د وزیر دوکه بازي د وزیر اعظم فسق او فجور او د مشیر جهالت برباد کړو.

بس فخر امام وزیر قانون دی مشاهد حسین مشیر دی دواړه د وزیر اعظم نواز شریف تباهی غواړي.

**ففخر وزير مشاهد مشير يريدان مافيه حتف الامير**

دپاکستانی حکومت دیو دور د حکومت وزیر اعظم او یو وزیر اویو مشیر طرف ته اشاره ده.

## د حاکم بدګماني رعیت برباد وي

﴿۴۷﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو امامه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل حکمران چې

«إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

کله په خلقو کې د شک او شبهې خبره لټوي نو خلق خرابوي. (ابوداؤد)

---

(1) أخرجه أبوداود فى السنن ٣/٣٤٥ رقم الحديث ٢٩٣٣ والنسائى فى ٧/١٥٩ رقم الحديث ٤٢٠١.

(2) أخرجه أبوداود فى السنن ٥/٢٠٠ رقم الحديث ٤٨٨٩ وأحمد فى المسند ٤/٦.

**توضیح** : الرعیة : په دې ارشاد مبارک سره یو بین الاقوامی قانون طرف ته اشاره شوې ده چې دملک اوملت سالمیت او دقومونو کامیابی او د حاکم اومحکوم په مینځ کې دخوشګوار (ښائسته) تعلقات دپاره دا ضروری ده چې دحاکم او رعایا په مینځ کې مکمل د اعتماد فضا قائمه وي هرحاکم له پکار دي چې په غور سره دې خبره لره سوچ وکړي چې هغه ته دخپلې رعیت پوره په پوره د تائید ضرورت دی کچیرې یو تنګ نظری او کم ظرفه حکمران دخپل رعایاو په باره کې مسلسل په شک اوشبهه کې مبتلا وي او د رعاو په وفاداریٔ او نقل اوحرکت باندې بدګماني کوي اوپه دروغه الزاماتو باندې هغوی باربار تنګوي نوهغه په حقیقت کې پخپله خپلې خپې په تبر باندې وهي او خپلې جړې اوباسي اوس چې څنګه حاکم د رعیت یوې طبقې لره بغیر دڅه وجې نه د بدګمانۍ ننبه جوړولو سره په قیدخانو کې اچوي نو دعوامو دمخالفانه جذباتو او دشک اوشبهې رجحانات به زیاتیږي اوهمدا دحکومت تباهي ده.( المرقات ۲۸۳/۷)

﴿۴۸﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

اوحضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو چې کله

«إِنَّكَ إِذَا اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ»[1]

ته دخلقو (پټې) عیبونو لره تلاش کړې نوهغوی لره په خرابۍ کې مبتلا کړې. (بیهقی)

## دحق تلفي کونکي حاکم خلاف توره اوچتولو نه صبر کول بهتر دی

﴿۴۹﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

اوحضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (مونږ لره مخاطب کولو سره) وفرمایل

«كَيْفَ أَنْتُمْ وَأَئِمَّةٌ مِنْ بَعْدِي

زمانه پس به تاسو دحاکمانو او سردارانو سره هغه وخت څه سلوک کوئ هرکله چې هغه فئ (مال غنیمت)

يَسْتَأْثِرُونَ بِهَذَا الْفَيْءِ؟». قُلْتُ:

پخپله ځان سره ساتي (آیا دصبر نه به کار اخلئ یا دهغوی خلاف به توره راوچتوئ؟) ماعرض وکړو

أَمَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ أَضَعُ سَيْفِي عَلَى عَاتِقِي

واورئ قسم دی په هغه ذات چې هغه تاسو لره په حق سره رالیږلي یې زه به خپله توره په اوګه ږدم

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۵/۱۹۹ رقم الحدیث ۴۸۸۸ والبیهقی فی شعب الایمان ۷/۱۰۷ رقم الحدیث ۹۶۵۹.

| |
|---|
| ثُمَّ أَضْرِبُ بِهِ حَتَّى أَلْقَاكَ قَالَ: «أَوَلَا أَدُلُّكَ |
| او (بیا به ددې په سبب) تاسو لره ملاو شم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل چې زه تاته ستا دتورې نه |
| عَلَى خَيْرٍ مِنْ ذَلِكَ؟ تَصْبِرُ حَتَّى تَلْقَانِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| بهتره خبره ونه بنایم؟(نو واوره) ته هغه وخت دصبر لار اختیار کړه تردې پورې چې ته ماسره ملاو شې! |

**توضیح: اضع سیفی**: یعنی په غاړه کې تورہ زورندول یعنی دهغه د وژلو دپاره به راوځم او چې څوک هم ملاویږي دهغه څټ به الوزوم. (المرقات ۲۸۳/۷)

**دمسلمانانو په خپل مینځ کې په جنګونو کې د شریعت حکم**: کله چې مسلمانان په خپل مینځ کې جنګیږي او دا معلومه نه وي چې هغوی ولې جنګیږي نو د داسې موقعو دپاره ځانله ځانله احادیث راغلي دي، د بعضې روایاتونه معلومیږي چې ښه وجنګیږئ او د حق جماعت لره غالب کړئ چې داهل حقوویناا وچته شي دصحابو دیوې لوي طبقې همدانظریه وه،دویم قسم هغه روایات دي چې په هغې کې راغلي دي چې ته په کور کې پټ شه دننه لارشه او تورہ ماته کړه. د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدا رایه ده اودصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ یوه طبقه هم دې طرفته ده.دریم قسم هغه روایات دي چې که چیرې فتنه کورته راشي نو دفاع کوئ په صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې دحضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رایه همدا وه. نو دریې قسمه روایات دریې قسمه طبقو دخپل خپل مزاج مطابق قبول کړل، خودحق داوچتوالي دپاره میدان ته راوتل دجمهورو صحابو عمل پاتې شوی. (المرقات ۲۸۵/۷)

## الفصل الثالث

## د عادل امام فضیلت

| |
|---|
| ﴿۵۰﴾ عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (صحابو ته) وفرمایل |
| «أَتَدْرُونَ مَنِ السَّابِقُونَ إِلَى ظِلِّ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟» |
| تاسوته پته ده چې دقیامت په ورځ به دالله تعالی (دعرش یا دهغه دلطف او کرم) سوري طرف ته وراندې |

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱۱۹/۵ رقم الحديث ۴۷۵۹ وأحمد في المسند ۱۸۰/۵.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| قَالُوا: | اللهُ | وَرَسُولُهُ | أَعْلَمُ | قَالَ: |

کیدونکي کوم خلق دي؟ صحابو رضی اللہ عنہم عرض اوکړو الله او دهغه رسول ښه پوهیږی نبی علیہ السلام وفرمایل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| «الَّذِينَ | إِذَا | أُعْطُوا | الْحَقَّ | قَبِلُوهُ |

وړاندې کیدونکي هغه خلق دي چې دچا مخې ته خبره کیخودی شي نو قبلوي یې، کله چې دهغوی نه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَإِذَا | سُئِلُوهُ | بَذَلُوهُ | وَحَكَمُوا | لِلنَّاسِ | كحكمِهم لأنفُسِهم»[1] |

دحق مطالبه کولی شي نو هغوی یې کوي اود خلقو په حق کې هم هغه فیصله کوي چې دذات په باره کې یې کوي.

**توضیح**: السابقون: چونکه په دې حدیث کې چې مخکې کومې درې خبرې ذکر دي په هغې کې دبعضو تعلق بلاواسطه دحکمرانانو سره دی اودبعو تعلق بالواسطه د هغوی سره دی په دې وجه دې حدیث لره یې په باب الارمارة کې راوړو، اوعنوان یې د عادل امام فضیلت وترلی شو ګنې دالسابقون په جمله کې دعادل حکمران څه تخصیص نشته دی. دعادلانو حکمرانانو اول صفت خو دادې چې کله دهغوی مخې ته د رعایا ښېګړه او د بهترئ دپاره څه حق پیش کړی شي نو هغه د دې قبلولو سره په دې عمل کوي. دویم وصف دعادلانو حکمرانانو دا بیان کړی شوی دی چې کله رعایا دهغه نه خپل حق غواړي نو هغه یې ورکوي اودهغوی دښېګړې اود ژوند په ضروریاتو کې خرچ کوي او په دې کې بخل نه کوي. دریم صفت د عادلانو حکمرانانو دا بیان کړی شوی دی چې هغوی دعدل او انصاف او مساوات په تله باندې پوره خیژي هغوی چې کومه فیصله دخلقو متعلق کې کوي هغه فیصله دخپل ځان متعلق هم کوي، چې دسکون او راحت او چې کوم سهولت دځان دپاره خوښوي هم هغه اصول دنورو دپاره هم خوښوي، دانه چې دخپل ځان دپاره ځانله امتیازات او قواعد وي او دخلقو دپاره ځانله وي بلکه د انصاف په تله کې دواړه برابر او پوره په پوره خیژي دا بهترین حکمران دی. (المرقات ۲۸۵/۷)

## د حکمرانانو دظلم نه دنبی صلی اللہ علیہ وسلم یره

﴿۵۱﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُول:

اوحضرت جابر رضی اللہ عنہ وائی چې ما درسول الله صلی اللہ علیہ وسلم نه دا فرمان واوریدلو فرمایل یې چې زه دخپل امت

(۱) أخرجه أحمد في المسند ٦/٦٧.

| | | | |
|---|---|---|---|
| "ثلاثة | أخاف | على | أمتي: |

په باره کې د دې خبرو نه وېرېږم (چې چرته ددې په اختیارولو سره په ګمراهۍ کې مبتلا نه شي) یو خو د میاشت د منازلو

| | | | |
|---|---|---|---|
| الإستسقاء | بالأنواء | وحيف | السلطان |

په حساب سره باران غوښتل، دویم د باچا ظلم کول، او دریم تقدیر لره نه منل (یعنی دا عقیده ساتل چې تقدیر

| | | | |
|---|---|---|---|
| وتكذيب | القدر" | اخرجه | أحمد.[1] |

الهی هیڅ ځیز نه دی بلکه انسان چې کوم کار هم کوي هغه پخپله ددې خالق وي څنګه چې دیوي دلې قدریو مسلک دی.

**توضیح: الاستسقاء بالانواء**: دا دنوم جمع ده نجهتر ستورو ته ویلې شي چې د ربیع په موسم کې ښکاره کیږي چې دهغې په وجه سره د عربو د جاهلیت د عقیدې مطابق باران زیاتیږي.
ابو طیب متنبی ویلې دي: (المرقات ۲۸۷/۷)

جمد القطار ولورته کماتری جست کما تتبجس الانواء

په نهایه د ابن کثیر کې لیکلې دي چې انواء د میاشت ۲۸ منازلو او د برجونو نوم دی هره شپه میاشت په دې کې یو منزل ته کوزیږي او اته ویشت شپو کې خپل منازل پوره کوي، همدا وجه ده چې میاشت په دوه شپو کې غائبیږي، بهرحال په مغرب کې یو منزل او برج پټیږي نو په دغه وخت کې په مشرق کې یو منزل او برج راخیژي د عربو په جاهلیت کې خیال وو چې د دې د سقوط او طلوع په زمانه کې سخت باران نه کیږي، اسلام دې لره منع کړو د باران کیدل نه کیدل د الله تعالی په لاس کې دي دیوستوري یا برج مثلاً سهیل ستوری یا سهیلی ستوری طرف ته نسبت کول د شرک ذریعه ده.
وحیف السلطان: حیف ظلم او جور ته وائی نو د باچاهانو ظلمونو ټولې دنیا لره پریشانه کړې ده.

عبدالرحمن باباؒ په خپل کلام کې د پیښور د ظالمو باچاهانو متعلق ویلې دي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو اور او ګور او پیښور دریواړه یو دي

**وتكذيب بالقدر**: یعنی د تقدیر نه انکار او ددې تفصیل په باب الایمان بالقدر کې کتل پکار دي. (المرقات ۲۸۷/۷)

## بلاوجه نه خو آمین جوړشه او نه حاکم جوړشه

﴿۵۲﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سِتَّةَ أَيَّامٍ

او حضرت ابوذر رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم شپږو ورځو پورې ماته فرمایل چې ابوذره!

---

[1] أخرجه أحمد في المسند ۹۰/۵

| روستو |
| --- |
| اعْقِلْ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا يُقَالُ لَكَ بَعْدُ» |
| چې کومه خبره تاته ویلی کیدونکې ده دهغې دپاره تیار اوسه (یعنی نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ شپږ ورځې پورې زه خبرولم |
| فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ السَّابِعُ قَالَ: «أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ |
| چې زه به تاته یو هدایت درکوم چې په ظاهر او باطن کې دالله تعالی نه یریږه، کله چې په تاسو کې د چانه |
| وَإِذَا أَسَأْتَ فَأَحْسِنْ |
| بدي وشي نو ورسره نیکي هم کوئ ځکه چې هغه بدئ لره ختموي یادا مقصد دی چې کچیري ته دچا سره څه بد سلوک وکړې نو |
| وَلَا تَسْأَلَنَّ أَحَدًا شَيْئًا |
| دهغه سره (دنیکي سلوک هم کوه) دچا (مخلوق) په مخکې دسوال دپاره لاس مه غزوه اګرچه ستا کوړه ولې نه |
| وَإِنْ سَقَطَ سَوْطُكَ وَلَا تَقْبِضْ |
| وي غورزیدلی (یعنی که کچرې کوړه درنه وغورزیږی نو دهغې د اوچتولو دپاره هم چاته مه وایه) |
| أَمَانَةً وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ»[1] |
| دچا امانت خپل ځان سره مه ږده او د دوو سړو په مینځ کې فیصله کونکی مه جوړیږه. |

**توضیح: ستة ایام**: دا ظرف واقع دی دقال دپاره یعنی چې شپږ ورځې مسلسل نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته فرمایل چې ای ابوذره! روستو چې به کومه خبره کولی شي دې لره په غور سره واوره او بنه پوهه شه او په دې عمل وکړه. (المرقات ۲۸۷/۷) اعقل یا اباذر دا د دې قال مقوله ده په مینځ کې ظرف واقع وو. (المرقات ۲۸۷/۷)

**ولاتقبض امانة**: یعنی دچا امانت ځان سره مه ږده ځکه چې نفس باندې اعتماد نشته او د حالاتو اندازه نشته. (المرقات ۲۸۸/۷)

**ولاتقض بین اثنین**: یعنی د دو سړو په مینځ کې فیصله مه کوه، د دوو د فیصلې نه چې کله منع کړی شوه نو د زیاتو نه خویې په طریقِ اولی منع کړې ده یعنی په دوو هم قاضی مه جوړیږه ممکنه ده د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دا حکم ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د خصوصي معروضی حالت په وجه سره وو چې ته دا کار مه کوه نورو ته یې پریږده.

حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دا پنځه خبرې اوخودلی شوې (۱) تقوی اختیار کړه (۲) د بدئ نه پس

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱۷۲/۵.

سمدست نیکی کوه (۳) دچا نه څه مه غواړه (۴) دچا امانت ځان سره مه ږده (۵) د دوو سړو په مینځ کې فیصله مه کوه یعنی دهغوی قاضی او فیصله کونکی مه جوړیږه. (المرقات ۲۸۸/۷)

## د حکومت درې مرحلې

﴿۵۲﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ:

او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې

«مَا مِنْ رَجُلٍ يَلِي أَمْرَ عَشَرَةٍ فَمَا

کوم سړی د لسو کسانو (هم) یا ددې نه دزیاتو خلقو حکمراني قبول کړه هغه لره به د قیامت په ورځ

فَوْقَ ذَلِكَ إِلَّا أَتَى اللهَ عَزَّ وَجَلَّ مَغْلُولاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ

الله تعالی په څټ کې طوق اچولی را حاضر کړي (یعنی په میدان حشر کې به یې اوچت کړي)

يَدُهُ إِلَى عُنُقِهِ فَكَّهُ بِرُّهُ أَوْ

چې دده لاس به دهغه څټ نیولی وي تردې پورې چې یا خو به دده نیکی ده لره خلاص کړیا به د ده

أَوْبَقَهُ إِثْمُهُ أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ وَأَوْسَطُهَا

ګناه ده لره په هلاکت کې واچوي (یادساتئ) د سرداری او حکمرانئ ابتداء ملامتیا ده او مینځ کې

نَدَامَةٌ وَآخِرُهَا خِزْيٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1]

ښیمانې او ندامت دی او ددې آخر دقیامت په ورځ ذلت اورسوائې ده.

**توضیح** : **مغلولا** : یعنی هرباچابه دالله تعالی په مخکې په زنځیرونو کې په لاسونو سره ترلی حاضریږي بیا که عدل او انصاف یې کړی وي نو دا عدالت به ده لره خلاص کړي ګنی په ترلو لاسونو سره به دوزخ ته وغورزولی شي. (المرقات ۲۸۹/۷)

اولها ملامة: یعنی دحکومت اوله مرحله دخلقو د الزاماتو د اوریدلو ده دلته نه اعتراض هلته نه اعتراض، چه په ناجائزه طریقه باندې اقتدار ته راغی د غلا په دروازه باندې راغلو دوکې سره راغلو رشوت ورکولو سره راغلو، نااهل دی، هرکله چې د الزاماتو مرحله تیره شي نو اوس دحکومت د ذمه داریانو زمانه راغله ځکه چې:

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۲۹۶/۲ رقم الحدیث ۱۶۴۶ والنسائی فی ۹۵/۵ رقم الحدیث ۵۹۸۲.

خدائی اهتمام خشک وتر ہے خداوند خدائی درد سر ہے
مگر یہ بندگی استغفر اللہ یہ درد سر نہیں درد جگر ہے

حاکم بیچاره محنتونه اوچتوي خو د رعایاو د مسئلو حل نه راوځي نو زړه يې مات شي او سوچ کوي چې زه ولې باچاجوړ شوم. په آخر کې دخپل لاس نه په مصیبت کې ولې ډوب شو، دا مینځنی درجه د نبیمانتیاده چې کوم طرفته په حدیث کې واسطها ندامة سره اشاره شوې ده.

وآخرها خزي: یعنی دریمه مرحله د رسوائي ده په دنیا کې هم او په آخرت کې هم رسوائي ده د آخرت د رسوائي منظر خو دډې حدیث نه د مغلولاً په لفظ سره واضحه شوی دی او په دنیا کې هم کله د معزوله کړی شي کله ووژلی شي کله پهانسی باندې وخیژولی شي. کله گرفتارکړی شي کله د ملک نه وشړلی شي او دسمندر نه هغه غاړه جزیرو کې لیونی سپلنی گرځي. (المرقات ۲۸۹/۷)

## د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پیشن گوئی

﴿۵۴﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا مُعَاوِيَةُ

امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې (یوه ورځ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمایل: معاویه! ته کچرې دځه کار

إِنْ وُلِّيتَ أَمْرًا فَاتَّقِ اللهَ

(یا دځه ځای) امیر او حاکم جوړ شې نو د حکومتی امورو سرته په رسولو کې) دالله تعالی نه یریږه

وَاعْدِلْ». قَالَ: فَمَا زِلْتُ

او دعدل او انصاف لمن دلاس نه مه پریږده حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما برابر خیال کولو چه د

أَظُنُّ أَنِّي مُبْتَلًى بِعَمَلٍ

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دوینا مطابق به زه په څه (یعنی امارت او سرداری) کې مبتلا کیږم. تردې چې زه مبتلا کړی شوم

لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم حَقًّا ابْتليت[1]

(یعنی دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمان صحیح شو او امارت او سرداري ماته نصیب شوه.

﴿۵۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ رَأْسِ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د اویایم کال د ابتداء نه او د

---

(۱) أخرجه البيهقي في دلائل النبوة

| |
|---|
| السَّبْعِينَ وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ». رَوَى الْأَحَادِيثَ السِّتَّةَ أَحْمَدُ |
| بچو (وړو کشرانو) د حکومت نه په الله تعالی سره پناه وغواړئ. پورتني حدیثونو لره امام احمد رحمه الله |
| وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ حَدِيثَ مُعَاوِيَةَ فِي «دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ»[1] |
| او د امیر معاویه رضی الله عنه روایت بیهقی هم په دلائل النبوة کې نقل کړی دی. |

**توضیح**: رأس السبعین: د اویایم کال ابتداء د ۶۱ هجري نه کیږي د ۶۰ هجري په آخر کې د حضرت معاویه رضی الله عنه دورحکومت دهغه په وفات باندې ختم شو او د یزید دحکومت ابتداء وشوه چې هغې سره د صحابو رضی الله عنهم د حکومت مبارک سوری د دنیانه اوچت شو او د افراتفرئ او انتشار او فساد دور شروع شو یزید دري کاله اته میاشتې حکومت وکړو او ددنیا نه لاړلو دهغه په لویو لویو مکروه کارونو کې یوه بدنما واقعه کربلا هم پیش راغله چې په هغې کې سیدنا حضرت حسین رضی الله عنه شهید کړی شو د یزید نه پس داقتدار کمان د بنوسفیان د خاندان نه ووتلو او د مروان په لاس کې راغلو، په حدیث کې هم ددې بنو مروان د حکومت نه د ماشومانو په حکومت سره تعبیر شوی دی په روایت کې دي چې نبی علیه السلام په خوب کې ولیدل چې د دوی په منبر باندې د بنومروان ماشومان لوبې کوي د حجاج بن یوسف ټولو ظلمونو او د ولید فاسق حکومت آخر کوم یو ظلم وو چې ویې نه کړو، او د نه کولو کوم کار وو چې ویې نه کړو. د بنومروان په دورحکومت کې بیشک د دین اسلام ترقي هم شوې ده او جهادته هم ترقي ملاو شوې ده خو څومره ظلمونه چې په هغې کې راغلې دي هغې ددنیا نقشه بده بنکاره کړه. افسوس په دې خبره چې د حسین رضی الله عنه په موجودګئ کې یزید او د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په موجودګئ کې حجاج بن یوسف د کرسئ دپاره دهغوی سره جنګیدلو. (المرقات ۲۸۹/۷)

## چې څنګه عمل کوئ هغسې باچاهان به مقرر یږي

| |
|---|
| ﴿۵۶﴾ وَعَنْ يَحْيَى بْنِ هَاشِمٍ عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: |
| او حضرت یحیی بن هاشم رضی الله عنه د حضرت یونس بن اسحاق نه او هغه د خپل پلار نه نقل کوي وائی |
| قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَمَا تَكُونُونَ كَذَلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ» أخرجه البيهقي[2] |
| چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې څنګه تاسو یې هغسې به په تاسو باندې حکمران مقرر ولی شي. |

**توضیح**: مطلب دادی چې حکمران آخر ددې معاشرې پیداوار وي، کچیرې معاشره بده ده نو حکمران به بد رائي. که معاشره ښه ده نو ښه حکمران به پیدا کیږي د اردو محاوره ده چې څنګه روح هغسې فرښتې،

---

(1) أخرجه أحمد في المسند ۲/۳۴۶

(2) أخرجه البيهقي في الشعب الإيمان ۶/۴۳ رقم الحديث ۳۷۹۲

څنګه چې په بل حدیث کې راغلې دي اعمالکم عمالکم څنګه چې فارسی کې چا ویلې دي:

آدمیان گم شد ند ملک خدا خر گرفت — شامت اعمال ما صورت نادر گرفت

گندم از گندم بروید جو ز جو — از مکافات عمل غافل مشو

گل گئے بھولوں کے پتے رہ گئے — جو لوگ تھے وہ مر گئے الوکے پٹھے رہ گئے

## عادل باچا په مخ دزمکې دالله تعالی سوری وي

﴿۵۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ السُّلْطَانَ

. او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل باچا په مخ د زمکه باندې

ظِلُّ اللهِ فِي الْأَرْضِ يَأْوِي إِلَيْهِ كُلُّ مَظْلُومٍ مِنْ عِبَادِهِ

دالله تعالی سوری دی چه دهغې لاندې دالله تعالی په بندګانو کې مظلوم بنده پناه حاصلوي

فَإِذَا عَدَلَ كَانَ لَهُ الْأَجْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الشُّكْرُ

لهذا چې کله باچا عدل او انصاف کوي نو هغه ته ثواب ملاویږی او په رعایا و باندې دده شکر واجب کیږي

وَإِذَا جَارَ كَانَ عَلَيْهِ الْإِصْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الصَّبْرُ» اخرجه البيهقي[1]

او کله چې ظلم زیاتی کوي نو هغه ګناهګار دی او په رعایا و باندې صبر لازم کیږي.

**توضیح:** ظل الله: څنګه چې دیو څیز سیوری د نمر ګرمئ لره منع کوي او مخلوق خدا لره د تکلیف نه ساتي هم دغه شان باچا د خپل رعیت خلقو لره د مختلف قسم سختیانو او تکلیف رسولو نه ساتي د انما الامام جنة چې کوم مفهوم دی هم هغه مفهوم ددې حدیث هم دی ظل الله کې اضافت تشریفیه دی. (المرقات ۲۸۹/۷)

## دقیامت په ورځ به دتولو نه اوچته مرتبه دنرم خویه او د عادل حکمران وي

﴿۵۸﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د قیامت په ورځ د

«إِنَّ أَفْضَلَ عِبَادِ اللهِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ عَادِلٌ

الله تعالی په نزدې بندګانو کې به د اوچتې مرتبې په اعتبار سره د تولو نه بهتر هغه سړی وي چې عادل او

---

(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۶/۱۵ رقم الحديث ۷۳۶۹.

| |
|---|
| رَفِيقٌ وَإِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً |
| نرمي کونکی حاکم دی او دالله تعالی په نزد دمرتبې په اعتبار دټولو نه بدتر هغه سړی به وي د |
| يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ جَائِرٌ خرق» اخرجه البيهقي[1] |
| قیامت په ورځ چې ظالم او سختي کونکی حاکم دی |

## کوم مسلمان لره صرف يرول او دهمکي ور کول هم منع دي

| |
|---|
| ﴿۵۹﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «من نَظَرَ |
| او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی خپل یو مسلمان |
| إِلَى أَخِيهِ نَظْرَةً يُخِيفُهُ أَخَافَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». |
| ورور طرف ته په یرولو والا نظر سره اوګوري نو دقیامت په ورځ به الله تعالی هغه لره ویروي. |
| رَوَى الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيمَانِ» وَقَالَ فِي حَدِيثِ يَحْيَى |
| ذکر شوي څلور واړه روایاتونه بیهقی رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړی دي او د یحیی بن هاشم |
| هَذَا: مُنْقَطِعٌ وَرِوَايَتُه ضَعِيفٌ[2] |
| د روایت متعلق یې ویلي دي چې دا منقطع دی او د یحیی روایت ضعیف (کمزوری شی). |

**توضیح**: يخيفه اخافه الله: دې حدیث لره په دې باب کې د راوړلو مقصد دادی چې کله دقتل نه بغیر د کوم مسلمان صرف یرول او دهمکي ورکول دومره لویه ګناه ده نو دد ې نه مخکې تجاوز کولو سره د هغه دقتل کولو د جرم به څومره لویه ګناه وي. (المرقات ۲۹۴/۷)

| |
|---|
| ﴿۶۰﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى |
| او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله تعالی (په حدیث قدسي) کې |
| يَقُولُ: أَنَا اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا مَالِكُ الْمُلُوكِ |
| ارشاد فرمایي چې زه الله تعالی یم، زما نه سیوا بل څوک معبود نشته، زه دباچاهانو مالک او د |

---

(1) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/١٦ رقم الحديث ٧٣٧١٠.

(2) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٥٠ رقم الحديث ٧٤٦٨.

باچاهانو باچايم، او دباچاهانو زړونه زما په لاس (يعنى زما په قبضه او قدرت) كې دي لهذا كله

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَإِنَّ | الْعِبَادَ | إِذَا | أَطَاعُونِي | حَوَّلْتُ | قُلُوبَ | مُلُوكِهِمْ |

چې زما (اكثر) بندګان زما اطاعت او فرمانبرداري كوي نو زه دهغوى په حق كې د (ظالم) باچاهانو

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| عَلَيْهِمْ | بِالرَّحْمَةِ | وَالرَّأْفَةِ | وَإِنَّ | الْعِبَادَ | إِذَا | عَصَوْنِي |

زړونو لره د رحمت او شفقت طرف ته اړوم او كله چې زما بندګان زما نافرمانى كوي نو زه دهغوى

| | | | |
|---|---|---|---|
| حَوَّلْتُ | قُلُوبَهُمْ | بِالسُّخْطَةِ | وَالنِّقْمَةِ |

په حق كې باچاهانو په زړونو كې غضب او سختى طرف ته اړوم چه دهغې نتيجه دا كيږي چې هغه

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَسَامُوهُمْ | سُوءَ | الْعَذَابِ | فَلَا |

(باچا) هغوى لره په سختو قيدخانو كې مبتلا كوي، په دې وجه (په داسې صورت كې) تاسو خپل ځان

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تَشْغَلُوا | أَنْفُسَكُمْ | بِالدُّعَاءِ | عَلَى | الْمُلُوكِ |

دهغه باچاهانو دپاره په بددعاء كې مه مشغولوئ بلكه (زما په دربار كې عاجزى او زارى كولو سره)

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وَلَكِنِ | اشْغَلُوا | أَنْفُسَكُمْ | بِالذِّكْرِ | وَالتَّضَرُّعِ | كَيْ | أَكْفِيَكُمْ | ملوككم |

خپل ځان لره (زما) په ذكر كې مشغول كړئ دې دپاره چې زه تاسو لره دهغه باچاهانو دشر نه بچ كړم.

«رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي» الْحِلْيَةِ "بَابُ مَا عَلَى الْوُلَاةِ مِنَ التَّيْسِيرِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دې روايت لره ابونعيم په خپل كتاب حلية الاولياء كې نقل كړى دى. (بخارى ومسلم)

**توضيح**: يعنى دباچاهانو زړونه زما په لاس كې دي كچيرې تاسو صحيح وئ نو زه به هغوى صحيح كړم او كچيرې تاسو صحيح نه وئ نو زه به دهغوى زړونه سخت كړم بيابه هغوى تاسو ته سختې سزاګانې وركړي، لهذا تاسو زما اطاعت كوئ او ذكر او فكر كې ولګئ زه به ستاسو دطرف نه دهغه دپاره كافى شم يعنى دهغه دشرارتونو نه به تاسو وساتم. (المرقات ٢٩٥/٧)

---

(١) ابونعيم فى الحلية ٢/٣٨٩.

# باب ماعلى الولاة من التيسير

## په حاکمانو باندې د نرمۍ واجب کيدو بيان

د دين اسلام دا مزاج دی چې هغه دانسانانو په معاملاتو او حقوقو کې طرفين يو بل ته نزدې کوي اسلام دواړو طرف ته دخلقو دحقوقو اداکولو احساس ورکوي اسلام کچيرې مامور ته نصيحت کوي نو هلته امراو ته هم نصيحت کوي نوددې نه مخکې په احاديثو کې زيات تر رعايا و ته نصيحت وو چې هغوی دخپلو حاکمانو اطاعت وکړي، اوس حاکمانو ته نصيحت کولی شي چې تاسو نرمی کوئ او په رعايا و باندې شفقت کوئ او هرقسمه آساني ورته مهيا کړئ.

### اَلْفَصْلُ الأول

### حاکمانو ته پکار دي چې دخپل رعاؤ سره نرمي وکړي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَعَثَ أَحَدًا

حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه به کله خپل کوم صحابی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ:

لږه په خپل څه کار باندې مامور کولو (يعنی دکوم ځای حاکم جوړولو سره) ليږلو نو هغه ته به يې هدايت فرمايلو

«بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا

د اجرا وثواب زيری ورکول او هغه لږه نه يرول (چې هغه د الله تعالی د رحمت نا مايوسه شي) دا رنګه

وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

دخلقو سره) د آسانئ سلوک کول او هغوی لږه په سختئ او تنګئ کې نه مبتلا کول. (بخاری و مسلم)

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (حاکمانو او عاملانو دپاره) وفرمايل (خلقو

«يسروا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا» (مُتَّفق عَلَيْهِ)[2]

سره) د آسانئ سلوک کوئ تسکين او تسلي ورکوئ، هغوی لږه په نفرت وبره کې مه مبتلا کوئ (بخاری و مسلم)

---

(۱) أخرجه مسلم ۳/۱۳۵۸ رقم الحديث ٦/۱۷۳۲، أبوداود ٥/۱۷۰ رقم الحديث ٤٨٣٥ مسند أحمد ٤/۳۹۹، بخاری عن أنس ۱/۱٦۳ رقم الحديث ٦۹ بنحوه

(۲) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۰/٥۲٤ رقم الحديث ٦۱۲٥ ومسلم فی ۳/۱۳٥۹ رقم الحديث (۱۷۳٤-۸) وأحمد فی المسند ۳/۱۳۱.

## حضرت معاذ رضی الله عنه ته دنبی علیه السلام نصیحت

| |
|---|
| ﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او حضرت ابوبرده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه نیکه یعنی حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| جَدَّهُ أَبَا مُوسَى وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ: «يَسِّرَا |
| او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره یمن ته ولیږل او هغوی ته یې وفرمایل چې د آسانئ سلوک کوئ، په |
| وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا |
| مشکلاتو او سختو کې یې مه مبتلا کوئ زیری ورکوئ، په یره او مایوسی کې یې مه مبتلا کوئ، |
| وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱) |
| په خپل مینځ کې په اتفاق واتحاد سره کار کوئ او په خپل مینځ کې اختلاف مه کوئ (بخاری ومسلم) |

**توضیح: جده:** ابوبرده د حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځوی دی نمسي یې نه دی نو هغه څنګه وایې چې زما نیکه نبی علیه السلام لیږلی وو دمشکوة په ټولو نسخو کې ابوبرده لیکلی شوی دی کیدی شي داد کاتب غلطي وي بهرحال لوستونکو ته ابن ابی برده ویل پکار دي. (المرقات ۲۹۷/۷)

## د قیامت په ورځ دوعده ماتونکی رسوائی

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل "د قیامت په ورځ د وعده |
| "إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: هَذِهِ |
| ماتونکي (دسپکاوي او رسوائي دپاره) به یوه نښه ودرولی شي چې دا د فلان ابن فلان د وعدې |
| غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۲) |
| ماتولو علامت دی. (بخاری ومسلم) |

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/۵۲٤ رقم الحدیث ٦۱۲٤ ومسلم فی ۳/۱۳۵۸ رقم الحدیث ۱۷۳۳ وأحمد فی المسند ٤/٤۱۲.

(۲) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/۵٦۳ رقم الحدیث ٦۱۷۸ ومسلم فی ۳/۱۳٦۰ رقم الحدیث (۱۷۳۵-۱۰) وأبوداود فی السنن ۳/۱۸۸ رقم الحدیث ۲۷۵٦ والترمذی فی ۱/۱۲۲ رقم الحدیث ۱۵۸۱ وابن ماجه ۲/۹۵۹ رقم الحدیث ۲۸۷۲ والدارمی فی ۲/۳۲۳ رقم الحدیث ۲۵٤۲.

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل د قیامت په ورځ

«لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يومَ القيامةِ يُعرَفُ بِهِ» (صَحِيح)[1]

به د هر وعده ماتونکي دپاره یوه نښه (مقرره) وي چې دهغې په ذریعې سره به پیژندلی شي. (بخاری ومسلم)

## په حشر کې دغدار سزا

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل "د قیامت

«لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَا سْتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

په ورځ به د هر وعده ماتونکي دپاره (د رسوائي او سپکاوي د تشهیر) دپاره دهغه د مقعد سره نزدې یوه نښه

وَفِي رِوَايَةٍ: «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

وي او په یو روایت کې داسې دي چې "د قیامت په ورځ به د هر وعده ماتونکي دپاره یوه نښه وي چه د ده د

يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ

وعدې ماتولو په قدر به اوچتولی شي (یعنی دده چې څومره عهد شکني وي هغومره به هغه نښه اوچته تشهیر

أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ

زیات وي) خبردار! هیڅ یو عهد ماتونکی، د عهد ماتونې په اعتبار سره د امام عام (یعنی دوخت د حاکم) نه لوی نشته

مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ». رَوَاهُ مُسلم[2]

(یعنی د حکمران عهد شکني د تولو نه لوی عهد شکني ده.) (مسلم)

**توضیح**: ولا غادر اعظم: د دې جملې دوه مطلبه دي: اول مطلب دادی چې یو امیر د بغاوت په کولو سره د خلیفة المسلمین خلاف عوام راوچت کړي او د بغاوت کولو سره په حکومت باندې ناجائز قبضه وکړي نه د اهل رایې والا سره مشوره وي نه د خیر بنیګړې فکر وي صرف په زبردستئ او غلبې سره په ملک باندې قابض شوئ وي نو په دې صورت کې به من امیر عامة پخپله همدا مطلب دی چې دده نه لوی غدار څوک نشته، د حدیث دویم مطلب دادی چې په رعایا کې

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۶/۲۵۳ رقم الحدیث ۳۱۸۶ ومسلم فی ۳/۱۳۶۲ رقم الحدیث (۱۳۷۳۷-۱۴) وأحمد فی المسند ۳/۲۷۰.

(۲) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۳۶۱ رقم الحدیث (۱۷۳۸-۱۵)

یوسړی دمسلمانانو د متفقه امام او خلیفه خلاف د بغاوت جنډه اوچته کړه او د سابقه عهد اوپیمان او د خلیفه بیعت ماتوي دا لوی غدار دی په دې صورت کې د **من امیر عامة** نه به په رعایا اوعوامو کې څوک باغی مراد اخستلی شي. علامه نووی رحمه الله دې حدیث لره په څه آسان انداز سره داسې فهم کې راوستی دی فرمائی چې مشهوره داده چې په دې حدیث کې یې هرقسمه خیانت او غدارئ لره غلط ګرځولی دی خاصکر دهغه باچا او د وخت دخلیفه غدارئ لره یې انتهائی نقصان ورکونکې ګرځولې ده، چې دمسلمانانو دامانتونو او ذمه دارو محافظ جوړکړی شوی وي هغه ددې عهد حفاظت کولو سره زمام اقتدار لره سنبال کړی وي، او بیا دخپلو عوامو سره غداري کوي خیانت کوي او په هغوی ترس نه کوي نه شفقت کوي دا ډیر لوی غدار امام دی چې هغه خپلې ټولې ذمه داری شاته غورزولې دي. علامه نووی رحمه الله فرمائی چې ددې حدیث یو مطلب داهم کیدی شي چې په دې کې رعیت لره د غدارئ او خیانت اوبغاوت نه منع کړی شوی وي چې تاسو دخپل خلیفه خلاف بغاوت مه کوئ څه فتنه مه راپاڅوئ، علامه نووی رحمه الله فرمائی چې اول مطلب صحیح دی او دویم مطلب صرف یو احتمال دی. (المرقات ۳۰۰/۷)

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## درعایاؤ ضروریاتو لره دنه پوره کونکي حکمران متعلق وعید

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۷﴾ عَنْ | عَمْرِو | بْنِ | مُرَّةَ | أَنَّهُ | قَالَ | لِمُعَاوِيَةَ: |
| او حضرت عمرو بن مروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې هغه حضرت امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وویل چې | | | | | | |
| سَمِعْتُ | رَسُولَ | اللهِ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ | يَقُولُ: «(مَنْ | وَلَّاهُ | اللهُ | شَيْئًا |
| چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان اوربدلی دی چې کوم سړی لره الله تعالی دمسلمانانو | | | | | | |
| نْ | أَمْرِ | الْمُسْلِمِينَ | فَاحْتَجَبَ | دُونَ | | |
| دڅه کار ولي یا حاکم حوړ کړو او هغه (د مسلمانانو د حاجت، غرض، او محتاجی نه پرده وکړه، | | | | | | |
| حَاجَتِهِمْ | وَخَلَّتِهِمْ | وَفَقْرِهِمُ | احْتَجَبَ | | | |
| (یعنی دهغوی ضرورت او حاجت یې پوره نه کړو) نو الله تعالی به ددې (والي او حاکم د حاجت او | | | | | | |
| اللهُ | دُونَ | حَاجَتِهِ | وَخَلَّتِهِ | وَفَقْرِهِ». | | |
| غرض او محتاجئ نه پرده وکړي یعنی ده لره به ددې غوښتنې نه لري وساتی او دده دعا به نه قبلوی. | | | | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| فَجَعَلَ | مُعَاوِيَةُ | رَجُلًا | عَلَى |
| نو حضرت امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دې حدیث اوریدو سره ډیر متاثره شو او یو سړی ئې (په دې کار) | | | |
| حَوَائِجِ | النَّاسِ. | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُدَ | وَالتِّرْمِذِيُّ |
| باندې مقرر کړو چې هغه د خلقو ضروریاتو باندې نظر ساتي او دهغوی حاجتونو لره پوره کوي (ابوداؤد، ترمذی) | | | |
| وَفِي | رِوَايَةٍ | لَهُ | وَلِأَحْمَدَ: |
| او ترمذی رحمه الله یو بل روایت کې او د احمد رحمه الله په روایت کې داسې دي چې "الله تعالی د دې | | | |
| «أَغْلَقَ اللهُ لَهُ أَبْوَابَ السَّمَاءِ دُونَ خَلَّتِهِ وَحَاجَتِهِ وَمَسْكَنَتِهِ»[1] | | | |
| (والي، حاکم) حاجت، غرض او محتاجئ باندې د آسمان دروازې بند وي. | | | |

**توضیح**: فاحتجب: یعنی په غریبانانو اوبې وسیلې خلقو باندې دروازې بندول د چا خیر خبر او خیر خواهی نه کول د مظلوم خبره نه اوریدل کوتوال او سنتری، چوکیدار په دروازه باندې کینول چې چالره دننه نه پریږدي د ضرورت مند و خلقو نه پټ او سیږی نو الله تعالی هم د دې والی او حاکم د حاجت او ضرورت او غرض نه پرده او حجاب کوي "خلة" ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې د دې ټولو کلماتو معنی هم یوده صرف د تاکید په طور باندې خلة او فقر او حاجت او مسکنت ځانله ځانله ذکر کړی شو. (المرقات ۳۰۰/۷)

## اَلْفَصْلُ الثَّالِث

## په مصیبت زده رعیت باندې دروازې مه بندوه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۸﴾عَنْ أَبِي الشَّمَّاخِ الْأَزْدِيِّ عَنِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ | | | | | |
| د حضرت ابو شماخ ازدی رحمه الله نه روایت دی چې دهغه د تره ځوی چې د نبی کریم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو صحابی وو | | | | | |
| أَنَّهُ | أَتَى | مُعَاوِيَةَ | فَدَخَلَ | عَلَيْهِ | فَقَالَ: |
| یوه ورځ حضرت امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغلو او کله چې دهغه په خدمت کې حاضر شو نو وې ویل | | | | | |
| سَمِعْتُ | رَسُولَ | اللهِ | صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ | وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ |
| چې ما د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان اوریدلی دی چې فرمایل یې چې کوم سړی لره د خلقو | | | | | |

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۳۵۷ رقم الحدیث ۲۹۴۸ والترمذی فی ۳/۶۱۹ رقم الحدیث ۱۳۳۲ وأحمد فی المسند ۴/۲۳۱.

| |
|---|
| وَلِيَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ شَيْئًا ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ |
| د کارولي او والي جوړ کړی شو او په مسلمانانو باندې یا په چا مظلوم باندې یا د چا حاجت ته ئې خپلې |
| دُونَ الْمُسْلِمِينَ أَوِ الْمَظْلُومِ أَوْ ذِي الْحَاجَةِ |
| دروازې بندې کړې (او خپل ځان ته یې راپرې نخودلو یایې دهغه حاجت پوره نه کړو) نو الله تعالی به په هغه باند |
| أَغْلَقَ اللهُ دُونَهُ أَبْوَابَ رَحْمَتِهِ |
| د ضرورت او حاجت او محتاجۍ په وخت هرکله چې هغه طرف ته د یرزیات محتاجه وي د خپل رحمت دروازې بندې کړي |
| عِنْدَ حَاجَتِهِ وَفَقْرِهِ |
| نو الله تعالی به د هغه حاجت او ضرورت نه پوره کوي یا کچرې هغه په دنیا کې د چا مخلوق نه د خپل |
| أَفْقَرَ مَا يَكُونُ إِلَيْهِ»[1] |
| څه حاجت اظهار کوي نو الله تعالی به د ده هغه حاجت او ضرورت هم نه پوره کوي. |

**توضیح**: یعنی کچیرې هغه څه وخت هم د خپلې دنیا یا آخرت په باره کې څه حاجت د الله تعالی مخې ته کیږدي او د هغې اظهار وکړي نو الله تعالی به د ده حاجت او ضرورت نه پوره کوي هرکله چې دا بنده هغه وخت د ټولو نه زیات هغه ضرورت طرف ته محتاجه وي، یا کچرې هغه په دنیا کې د چا مخلوق نه د خپل څه حاجت اظهار کوي نو الله تعالی به د ده حاجت او ضرورت لره هم نه پوره کوي.

## د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل ګورنر په نوم باندې فرمان

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې نقل دي چې کله به هغه عمال او حکام او ګورنران څه کار |
| أَنَّهُ كَانَ إِذَا بَعَثَ عُمَّالَهُ شَرَطَ عَلَيْهِمْ: |
| د پاره لیږل نو هغوی سره به یې دا شرط کولو (یعنی هغوی ته به د احادیاتو رکول) چې په ترکې |
| أَنْ لَا تَرْكَبُوا بِرْذَوْنًا وَلَا تَأْكُلُوا نَقِيًّا وَلَا تَلْبَسُوا رَقِيقًا |
| اسونو باندې مه سوریږئ دمیدې او نري اوړو ډوډۍ مه خورئ نري جامې مه اغوندئ او د خلقو د |

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٢١ رقم الحديث ٧٣٨٤.


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَا | تُغْلِقُوا | أَبْوَابَكُمْ | دُونَ | حَوَائِجِ | النَّاسِ |
| حاجت اوضرورت په وخت کې دهغوی دپاره خپلې دروازې مه بندوئ (یادساتئ!) چې کچیرې | | | | | |
| فَإِنْ | فَعَلْتُمْ | هَيْئًا | مِنْ ذَلِكَ | فَقَدْ | حَلَّتْ بِكُمُ الْعُقُوبَةُ |
| تاسو په دې کې کوم یو څیزلره اختیار کړو نو تاسو به (په دنیا اوآخرت) کې دسزا مستحق کیږئ ددې | | | | | |
| ثُمَّ | يُشَيِّعُهُمْ. | رَوَاهُمَا | الْبَيْهَقِيُّ | فِي | شُعَبِ الْإِيمَانِ[1] |
| نه پس به حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوی سره تللو دادواړه حدیثونه بیهقی رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دي. | | | | | |

**توضیح**: **شرط علیهم**: یعنی کله چې به حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم ګورنر لره دکومې علاقې ګورنر مقرر کولو سره لیږلو نو هغوی سره به یې دا شرط لګولو چې په برذون باندې به سورلي نه کوئ. برذون بنې نوعې د ترکي اس ته وایې. شارحین دحدیث مثلاً طیبي او ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې د برذون په ممانعت سره په عربی اس باندې د سورلی ممانعت په طریق اولی سره معلومیږی ځکه چې د برذون په مقابله کې عراب یعنی عربی بنه عمده اسونه وي دا منع والی په دې وجه وکړی شو دې دپاره چې په ګورنرانو کې تکبر پیدا نه شي ځکه متکبر حاکم دخادم په ځای ظالم وي.

**نقیاً**: دا هغه اوړو ته وائی چې دوباره چاڼ کړی شوې وي په نورو الفاظو کې ددې ترجمه دمیدې او سپینو اوړو روټئ یا نرې د چاڼ کړی شوو اوړو روټئ، ددې ممانعت هم په دې وجه سره وکړی شو دې دپاره چې ګورنر عیش پرست جوړ نه شي. (المرقات ۳۰۲/۷)

**رقیقاً**: نرې جامه مراد ده دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دفرمان خلاصه دا شوه چې تکبر مه کوئ دعیش او عشرت ژوند مه تیروئ او خلقو ته دانصاف ورکولو نه مخ مه اړوئ یعنی پخپله هم ټیک اوسئ او نورو لره هم ټیک ساتئ ګني په خلاف ورزئ باندې به سزا درکړم.

**ثم یشیعه**: یعنی هغوی لره به یې رخصت کولو تشیع رخصتولو ته وائی. (المرقات ۳۰۳/۷)



(۱) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦/٢٤ رقم الحديث ٧٣٩٤.

# بَابُ الْعَمَلِ فِي الْقَضَاءِ وَالْخَوْفِ مِنْهُ

## د قضاء منصب (وظيفه) سر ته رسول او دهغې نه ډيريدو بيان

باب الامارة په ابتداء کې چونکه دالقضاء لفظ په عنوان کې راغلی وو په دې وجه د قضاء متعلق مختصر غوندې بحث هلته وليکلی شو هلته يې وګورئ.

ددې نه مخکې دامام او امير د مسائلو او فضائلو بيان وشو اوس په دې باب کې دوه خبرو لره په خاص طور باندې بيانولي شي: اول دا چې قاضی دې د خپلو ټولو فيصلو دپاره مأخذ او مبدأ صرف کتاب الله او سنت رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او اجتهاد جوړ کړي، دې درې ماخذو لره دې خپل رهنما جوړ کړي. دويم دا بيان به وي چې د قضاء منصب دومره اوچت مقام دی او ددې دومره ذمه دارياني دي چې هر سړي لره ددې منصب نه روستو کيدل پکار دي او حتی الامکان دې لره قبلول نه دي پکار.

## اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

## د غصې په حالت کې دې د چا فيصله ونه کړی شي

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوريدلو چې هر کله يو حاکم

«لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1]

يا قاضی دغوسې په حالت کې وي نو هغه به هغه وخت پورې دوو سړو (د جګړې معامله) کې فيصله نه کوي. (بخاری ومسلم)

**توضيح**: وهو غضبان: دغوسې په حالت کې فيصله مه کوئ دغه شان دسخت غم په حالت کې يا سختې ګرمۍ يا يخنۍ په حالت کې يا دبيمارئ په حالت کې يا دلوږې او تندې په حالت کې فيصله مه کوئ. ځکه چې د داسې عوارضو په وخت کې فکر مغلوب کيږي او قوت اجتهاديه کار نه کوي نو په دې کې ډير زياته خطره ده چې قاضی دغيض او غضب په وجه د صحيح فيصلې په ځای غلطه فيصله وکړي او د انصاف تقاضا لره پوره نه کړی شي لهذا په داسې هنګامی حالت کې فيصله نه ده کول پکار. (المرقات ۳۰۲،۳۰۳/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۱۳/۱۳٦ رقم الحديث ۷۱۵۸ ومسلم فی ۳/۱۳٤۲ رقم الحديث ۱۷۱۷-۱٦) والترمذی فی السنن ۲/٦۲۰ رقم الحديث ۱۳۳٤ والنسائی فی ۸/۲٤۷ رقم الحديث ٥٤۲۱.

## قاضی ته داجتهاد اختیار دی

| |
|---|
| ﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: |
| او حضرت عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| وفرمایل هرکله چې یو حاکم دفیصلې ورکولو اراده وکړي او اجتهاد کوي (یعنی د غور او فکر په ذریعې سره |
| «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ |
| حکم او فیصله کوي او بیا دده هغه حکم او فیصله صحیح یعنی د کتاب او سنت سره موافق وي نو ده ته به دوبل اجرونه |
| وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ |
| ملاویږی او کچیرې ده داسې حکم او فیصله وکړه چې په هغې کې یې اجتهاد وکړو خو (د نتیجې اخذ کولو په |
| فلهُ أجرٌ واحدٌ» متفقٌ عليه.(۱) |
| صورت کې) خطا شو (یعنی صحیح فیصلې ته ونه رسید و خطا شو نو ده ته به یو اجر ملاویږی. (بخاری و مسلم) |

**توضیح**: **فاجتهد فاصاب**: یعنې کچیرې قاضی او حاکم څه فیصله کول غواړی خو کتاب او سنت کې او دغه اسلامی فقه کې څه واضح نص موجود نشته دی او دا قاضی اوس اجتهاد طرف ته مجبور دی اوس قاضی په اضطراری کیفیت کې دی چې په کتاب او سنت او اجماع امت او داسلامی عدالتونو دفیصلو په رڼا کې څه فیصله وکړي اوس که چیرې په دې حالاتو کې قاضی بنه په سوچ او فکر سره څه فیصله واوروي او هغه فیصله صحیح راوځی نو هغه ته به دوه اجرونه ملاویږي یو خو دصحیح فیصلې ثواب دی او دویم دهغه دمحنت او مشقت ثواب دی، که دهغه نه په فیصله کولو کې غلطی وشوه نو دمسئلې او دحکم ثواب په وجه خو غلطي نه ملاویږي بیاهم دهغه دمحنت او کوشش به هغه ته اجر ملاویږی خو دا هغه وخت دی چې کله حاکم او عالم او قاضی اومجتهد داجتهاد اهلیت لري که داجتهاد اهل نه وي او هغه نه په فیصله کولو کې غلطي وشوه نو دثواب په ځای به ګناه وي ددې حدیث نه یوه ضابطه راووتله چې دلوی اجتهاد دپاره دلوی علم او لوی سوچ ضرورت دی، دارنګه د اجتهاد حق په هغه اجتهادي او فروعي مسائلو کې دی چې په هغې کې د وجوهات مختلفه احتمالیه ګنجائش وي په غیر محتمل نص کې یا دشریعت په واضح

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۳/۳۱۸ رقم الحدیث ۷۳۵۲ ومسلم فی ۳/۱۳٤۲ رقم الحدیث ۱۵/۱۷۱٦ والترمذی فی السنن ۳/٦۱۵.

ارکانو کې نه خو تقلید کیږی او نه د اجتهاد ضرورت او ګنجائش وي، بیا دا بحث دی چې آیا حق یو دی یا دهریو مجتهد په اجتهاد کې ځانله ځانله حق دی نو راجح او صحیح داده چې حق یو دی چې لا علی التعین دچاسره هم کیدی شي. (المرقات ۳۰۴/۷)

د ذکرشوي حدیث نه چرته چې دا مسئله ثابتیږی چې قاضی په فروعی مسائلو کې د اجتهاد حق لري او هغه کله صحیح فیصله کوي او کله غلطي کیږی هلته دا خبره واضحه شوه چې اسلام کې د اجتهاد او مجتهدینو یولوی مقام دی کچیرې هغه په خپل اجتهاد کې صحیح خبرې ته ورسیدلو نو هغه ته به دوه ثوابونه ملاویږی ګنی یو ثواب خو دهغه دپاره مقرر دی، لهذا فقهاو او مجتهدینو ته بد ویل یا په هغوی تنقید کول بدبختی ده ددې حدیث نه معلومه شوه چې **المجتهد یخطئ ویصیب** یو فیصله شوې حقیقت دی.

## اَلْفَصْلُ الثَّانِي

## د قضاء منصب یو ابتلاء (ازمایش) دی

﴿۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ جُعِلَ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کوم سړی د خلقو په مینځ کې

قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

قاضی مقرر کړی شو (ګویا) چې ده لره بغیر دچرې نه ذبح کړی شو. (احمد، ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه)

**توضیح**: **من جعل قاضیًا**: قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې نبی علیه السلام ددې کلام نه هغه قتل مراد اخستی دی کوم چې د چرې نه علاوه په بل څه څیز سره وي لکه مرۍ نه نیول، په اوبو کې ډوبیدل، یا په اور کې سوځیدل، یا د خوراک ځنباک په بندولو سره قتل کول شو، ځکه چې په دې کې دقتل کولو دورانیه اوږده وي په دې وجه نبی علیه السلام وفرمایل چې قاضی جوړیدل داسې دی لکه څنګه چې چالره دچرې نه بغیر ذبح کړی شو. علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې دجسمانی قتل کولو متعارف طریقه خو چاره چاقو سره کیږی نبی علیه السلام دې متعارف طریقې قتل لره پریخودلو سره چې دکوم قتل ذکر فرمایلی دی هغه ددین تباهی او روحانی هلاکت مراد کیدی شی دظاهری بدن هلاکت مراد نه شي کیدلی. علامه مظهر رحمه الله فرمائی چې دعهدې اوقضاء خطره ډیره زیاته ده او ددې ضرر ډیر لوی دی ځکه چې قاضی ډیرکم عدل اوانصاف باقی ساتلی شي په دې وجه چې دنفس رجحانات ډیر زیات دي کله سړی دچا من پسند طرفته کله دخپل خادم طرفته اوکله دصاحب

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥ رقم الحدیث ٣٥٧٢ والترمذی فی ٣/٦١٤ رقم الحدیث ١٣٢٥ وابن ماجه فی ٢/٧٧٤ رقم الحدیث ٢٣٠٨.

منصب طرف ته مائل کیږی او کله د رشوت قبولولو طرف ته مائل کیږی. او د رشوت معامله خو نه ټیک کیدونکي والا لاعلاجه بیماری ده. صدرالشریعه رحمه الله وائی چې څنګه بغیر د چرې نه د ذبحې په بدن باندې څه ظاهری اثر په نظر نه راځی خو دننه نه رګونه کټ کیږي دغه شان په قضاء کې تاسوته ظاهری څه نقصان په نظر نه راځی بلکه مزې مزې دي خو په روحانی او باطنی طورباندې خطرناک اثرکیږی. بعضې علماء ددې حدیث نه دا مسئله راوباسی چې کوم سړي ته په خپل نفس باندې کامل یقین او کامل اعتماد او بهروسه نه وي هغه دې د قاضی جوړیدو جرأت نه کوي، ځکه چې دا خطرناک صورت دی، او که هغه سړی پخپل ځان باندې مطمئن وي نو هغه دې قضاء قبوله کړي لویو لویو صحابو او لویو لویو تابعینو قضاء لره نه ده قبوله کړې، امام ابوحنیفه رحمه الله د قضاء نه قبلولو په وجه سره په جیل کې کوړې خوړلې دي خو د حکومت قضاء طرف ته ټیټ نه شو. (المرقات ۳۰۵/۷، الکاشف: ۲۷۵/۷)

## د قاضی جوړیدو خواهش مه کوئ

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې کوم سړي (په خپل زړه کې)

«مَنِ ابْتَغَى الْقَضَاءَ

د قضاء منصب طلب او خواهش وکړي او بیا ددې طلب هم کوي (تردې چې دهغه په خواست باندې هغه لره قاضی جوړ کړی شو)

وَسَأَلَ وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ

نو هغه منصب دهغه نفس ته حواله کولی شي (یعنی ده ته دخپل منصبی فرائضو سرته پرسولو کې د الله تعالی مدد او توفیق

وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَيْهِ أَنْزَلَ اللهُ

نه حاصلیږی او څوک چې (ددې طلب او خواهش نه بغیر) په زبردستئ سره په دې منصب باندې فائز کولی شي نو الله تعالی

عَلَيْهِ مَلَكًا يُسَدِّدُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَابْنُ مَاجَه (صَحِيح)[1]

په هغه باندې یوه فرښته مقرر کوي چې ده لره په ګفتار او کردار کې صحیح او درست ساتي. (ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه)

## جنتی او دوزخی قاضی

﴿۵﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ:

او حضرت بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل قاضیان په درې قسمه دي یو

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۸ رقم الحدیث ۳۵۷۸ والترمذی فی ۳/۶۱۴ رقم الحدیث ۱۳۲۴ وابن ماجه فی ۲/۷۷۴ رقم الحدیث ۲۳۰۹.

وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ

قسم به خو جنت ته ځي او دوه قسمه دوزخ ته تلو والا دي! لهذا جنت ته تلو والا سړی هغه دی چې هغه

فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ

حق وپیژنده (یعنی دایې وکنه چې حق په دې خبره کې دی) او بیایې د حق فیصله وکړه او چاچې حق

وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ

لره وپیژنده خو (ددې باوجودیې) په خپل حکم او فیصله کې ظلم وکړو (یعنی ده په قصد سره برباد کړو نو هغه دوزخي دی،

وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ

دغه شان چاچې د خپل جهالت په وجه سره حق ونه پیژندلو او په دې حالت کې یې د خلقو د جګړو فیصله وکړه

فِي النَّارِ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

نو هغه هم دوزخي دی (ځکه چې هغه په حق رسولو کې کوتاهي او تقصیر وکړو) (ابوداؤد، ابن ماجه)

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ طَلَبَ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې کوم سړی د مسلمانانو

قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ ثُمَّ

د منصب قضاء طالب او غوښتونکی وي تر دې چې هغه هغې لره حاصل هم کړلو او بیایې د خپل

غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ

فرض منصبی په ادا کولو کې) د ده عدل او انصاف په ظلم باندې غالب راغی نو هغه د جنت مستحق به وي

وَمَنْ غَلَبَ جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

او د کوم سړي ظلم چې په عدل او انصاف باندې غالب راغی نو هغه به د دوزخ سزاوار وي. (ابوداؤد)

## قیاس او اجتهاد بر حق عمل دی

﴿۷﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله ده لره (معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

---

(1) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٥ رقم الحديث ٣٥٧٣ والترمذی فی ٣/٦١٣ رقم الحديث ١٣٢٢ وابن ماجه فی ٢/٧٧٦ رقم الحديث : ٢٣١٥.

(2) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٧ رقم الحديث ٣٥٧٥

| |
|---|
| لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ: |
| لره قاضی او حاکم جوړولو سره) یمن ته لیږلو نو دده نه ئې (په طور د امتحان) تپوس او کړو چې کله |
| «كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟» قَالَ: |
| ستا مخې ته څه قضیه (مقدمه) پیښ شي نو ته به څنګه فیصله کوې؟ هغه عرض وکړو چې زه به د |
| قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللهِ؟» |
| کتاب الله د (قرآن کریم) موافق فیصله کوم. وې فرمایل چې کچرې تاته هغه مسئله (صراحةً) په کتاب الله کې |
| قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| ملاو نه شي؟ هغه عرض وکړو بیا د سنت رسول (د حدیث نبوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) موافق به فیصله کوم |
| قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ؟» قَالَ: |
| وې فرمایل چې کچرې تاته هغه مسئله په سنت رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) کې هم ملاو نه شي؟ هغه عرض او کړو |
| أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو |
| نو بیا به زه په خپل عقل سره اجتهاد کوم او (په خپل اجتهاد او حقیقت رسئ کې) به کوتاهي نه کوم. |
| قَالَ: فَضَرَبَ رَسُولُ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى صَدْرِهِ |
| معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دې اوریدو سره) خپل لاس مبارک د معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سینه باندې راخکلو |
| وَقَالَ: «الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ |
| او وې فرمایل) ټول تعریفونه د الله تعالی دپاره دي چا چې د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قاصد (یعنی معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) |
| لِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد والدارمي[1] |
| ته د دې څیز توفیق ورکړو، چې په هغې سره د (الله) رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) راضي وي. (ترمذی، ابوداؤد، دارمی) |

**توضیح**: اجتهد برأي: یعنی که چیرې د کتاب او سنت او اجماع امت واضحه فیصله مخې ته نه وي نو زه به د دې قضیې دپاره قرآن او حدیث کې ګورم چې د دې مسئلې نظیر کومه مسئله ده او د دې مسئلې په شان بیان شوې مسئله کومه یوه ده او د دې حکم څه دی نو زه دا جزئیه په دې باندې قیاس کوم د دې نوم اجتهاد دی، دلته د رائې نه مراد هغه رایه ده چې د قرآن او حدیث نه مستنبط او ماخوذ وي او د هغې په رښا کې وي ګڼي خالص د خپل ذاتي رایې اعتبار نشته دی. د فقهاء کرامو په نزد هغه قیاس هم په اصول شرعیو کې یو اصل دی چې د شرعی نصوصو نه مستنبط وي څنګه چې د دې

(1) أخرجه أبوداود ٤/١٨ رقم الحديث ٣٥٩٢ والترمذی فی ٣/٦١٦ رقم الحديث ١٣٢٧ والدارمی فی ١/٧٢ رقم الحديث ١٦٨ وأحمد فی المسند ٥/٢٣٠.

حدیث نه واضح طور باندې ددې قسمه قیاس او ددې قسمه رائې او اجتهاد لره شرعی حجت ګرځولی شوی دی، دجمهورو همدا مسلک دی اهل ظواهر غیرمقلدین حضرات قیاس شرعی حجت نه منې هغوی وائی چې دتولونه مخکې قیاس ابلیس کړی وو چې مردود وګرځید وجمهوروائی چې دقرآن کریم لعلمه الذین یستنبطونه کې داجتهاد استنباط او قیاس طرف ته اشاره ده اوزیربحث حدیث واضح دلیل دی ځکه چې نبي اکرم ﷺ دمعاذ رضی الله عنه تعریف اوتوثیق وفرمایلو باقی د ابلیس قیاس قیاس نه وو بلکه صریح دحکم په مقابله کې حجت بازی وه هغه دتولو په نزد ناجائزدی.

## د خصمین بیان واوره او فیصله وکړه

﴿۸﴾عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ

اوحضرت علی کرم الله وجهه وائی چې رسول الله ﷺ مالره یمن ته د قاضی جوړولو او د

قَاضِيًا. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ تُرْسِلُنِي

لیږلو اراده وکړه نوما عرض اوکړو چې تاسو ماځوان لره (قاضی جوړوئ) اولیږئ مي (چه دخپل کم

وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ؟

عمرئ په وجه سره ناتجربه کار هم دی او) چاته چې د منصب قضاء د ذمه داریانو پوره علم هم نشته دی؟

فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ

نبی علیه السلام ورته وفرمایل (ته ددې متعلق فکرمه کوه) الله تعالی به ستازړه ته د فهم او فراست هدایت ورکړي

وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ إِذَا تَقَاضَى

او ستاژبې لره به (په صحیح اوبرحق حکم اوفیصلې کولوباندې) ثابته وساتي. کله تاته دوه سړي

إِلَيْكَ رَجُلَانِ فَلَا تَقْضِ لِلْأَوَّلِ حَتَّى

خپله قضیه راوړي نو ته د اول سړي په حق کې فیصله مه کوه ترڅو پورې چې د دویم (مدعا علیه)

تَسْمَعَ كَلَامَ الْآخَرِ فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ». .

بیان وانه وري ځکه چې دا (دمدعا علیه بیان) به تاته په صحیح فیصله ورکولو کې ښه مدد درکړي

قَالَ: فَمَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ

حضرت علی رضی الله عنه وائی چې (د نبی علیه السلام ددې مبارکې دعا په برکت سره او دنبی علیه السلام ددې هدایت

بَعْدُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

او تعليم باندې عمل کولو نه) پس زه کله هم د قضيې په فيصله کولو کې مذبذب نه شوم. (ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه)

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## دقيامت په ورځ د ظالم حاکم انجام

﴿۹﴾عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمايل چې هر هغه حاکم

مِنْ حَاكِمٍ يَحْكُمُ بَيْنَ النَّاسِ

چې په خلقو باندې خپل حکم او فيصله جاری او نافذ کوی د قيامت په ورځ به د (احکم الحاکمين

إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَلَكٌ آخِذٌ بِقَفَاهُ

په بارګاه کې دارنګه پيش کولی شي چې يوې فرښتې به د ده څټ نيولی وي. بيا به هغه فرښتې خپل

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِنْ قَالَ:

سر آسمان طرفته اوچت نيولی ولاړه وي. تردې چې الله تعالى دا حکم ورکړي چې ده لره په (دوزخ

أَلْقِهُ أَلْقَاهُ فِي مَهْوَاةٍ أَرْبَعِينَ

کې) واچوئ هغه خو به (ده لره د دوزخ په کنده کې واچوي چې څلويښت کالو د فاصلې) په قدر به

خَرِيفًا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ[2]

(ژوره) وي. (احمد، ابن ماجه، بيهقی په شعب الايمان کې)

**توضيح : مهواة** : ژورې کندې ته وائی خريفًا دخزان موسم ته خريف وايي ددې نه مراد کال دی، يرفع راسه څنګه چې د محکمه عدالت قانون دی چې مجرم لره به په عدالت کې حاضرولی شی او بيا د فيصلې انتظار به کولی شي، دلته هم دالله تعالى په بارګاه کې فرښته پاس کتلو سره انتظار کوي چې دالله تعالى د دربار نه به څه حکم وي کچرې حکم وي چې ده لره په دوزخ کې واچوه نو فرښته ده لره په يوه ژوره کنده کې اچوي چې څلويښت کالو په قدر باندې ژوره ده دا څه حد نه دی بلکه ددې

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/١١ رقم الحديث ٣٥٨١ والترمذی فی ٣/٦١٨ رقم الحديث ١٣٣١ وابن ماجه فی ٢/٧٧٠ رقم الحديث ٢٣١٠

(۲) أخرجه ابن ماجه فی السنن ٢/٧٧٥ رقم الحديث ٢٣١١، وأحمد فی المسند ١/٤٣٠ وأخرجه البيهقی فی الشعب الايمان ٦/٧٤ رقم الحديث ٧٥٣٣.

کندې دزیاتو نه زیات ژورو الی بیانول دي. (المرقات ۳۱۱/۷)

## دقیامت په ورځ دقاضی افسوسناکه آرزو

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ او فرمایل دقیامت

«لَيَأْتِيَنَّ عَلَى الْقَاضِي الْعَدْلِ يومُ القيامةِ

په ورځ (چې کله دحاکمانو، سردارانو، اودقانون او د انصاف د ذمه دارانو سخته مواخذه کیږي نو)

يَتَمَنَّى أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ بَيْنَ

دعادل او منصف قاضی دپاره به هم یوداسې ساعت راشي چې په هغې کې به هغه دا تمنا وکړي چې کاش ده

اثْنَيْنِ فِي تَمْرَةٍ قطّ». رَوَاهُ أَحْمد[1]

د دوو سړو په مینځ کې دیوې کجورې (هم) دقضیې دفیصلې کولو ذمه داري نه وی سرته رسولې. (احمد)

## دعادل حاکم سره دالله تعالی توفیق وي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عبدالله ابن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل قاضی چې

«إِنَّ اللهَ مَعَ الْقَاضِي مَا لَمْ يَجُرْ

کومه پورې دظلم اونا انصافئ لار نه اختیاروي الله تعالی دهغه سره وي (یعنی دالله تعالی توفیق او تائید هغه سره وي)

فَإِذَا جَارَ تَخَلَّى عَنْهُ

خوکله چې هغه ظلم اونا انصافئ لار اختیاروي نو الله تعالی دهغه نه جدا شي (یعنی دده نه دالله تعالی دتائید او توفیق

وَلَزِمَهُ الشَّيْطَانُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي

سوری اوچت شي) او شیطان دده ملګری جوړشي (ترمذی، ابن ماجه) او په یو بل دابن ماجه کې

رِوَايَةٍ: «فَإِذَا جَارَ وَكَلَهُ إِلَى نَفْسِهِ»[2]

دا الفاظ دي چې قاضی کله دظلم اونا انصافی لار اختیاروي نو (الله تعالی) دده کار لره ده ته حواله کولی شي

---

(۱) أخرجه أحمد فی المسند ۶/۵۷

(۲) أخرجه الترمذی فی ۳/۶۱۸ رقم الحدیث ۱۳۳۰ وأخرجه ابن ماجه فی ۲/۷۷۵ رقم الحدیث ۲۳۱۲.

﴿۱۲﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّ مُسْلِمًا وَيَهُودِيًّا

او حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله راوي دی چې (يوه ورځ) يو مسلمان او يو يهودي د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

اخْتَصَمَا إِلَى عُمَرَ فَرَأَى

په خدمت کې جهګړا راوړله حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله (د قضيې د تحقيق نه پس) دا وکتل

الْحَقَّ لِلْيَهُودِيِّ فَقَضَى لَهُ

چې يهودي په حق باندې دی نو هغه د يهودي (يهودي) په حق کې فيصله وکړه د يهودی چې (په

عُمَرُ بِهِ فَقَالَ لَهُ الْيَهُودِيُّ: وَاللهِ لَقَدْ قَضَيْتَ بِالْحَقِّ

خپل حق کې فيصله واوريدله) نو وې ويل چې په الله قسم تاسو د حق مطابق فيصله وکړه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَضَرَبَهُ عُمَرُ بِالدِّرَّةِ وَقَالَ: وَمَا يُدْرِيكَ؟

چې (دا واوريدل) نو هغه يې يوه دره ووهله او وې فرمايل تاته څنګه پته ولګيده چې ما د حق مطابق

فَقَالَ الْيَهُودِيُّ: وَاللهِ إِنَّا لَنَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ

فيصله وکړه؟ يهودی وويل چې په الله قسم! مونږ په تورات کې (دا ليکلی شوې) وموندل چې

أَنَّهُ لَيْسَ قَاضٍ يَقْضِي بِالْحَقِّ إِلَّا كَانَ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكٌ

کوم يو قاضی هم د حق مطابق فيصله وکړي د هغه ښي طرف ته يو فرښته ويا و ګس طرفته ته يو

وَعَنْ شِمَالِهِ مَلَكٌ يُسَدِّدَانِهِ وَيُوَفِّقَانِهِ لِلْحَقِّ مَا

فرښته وي هغه دواړه فرښتې دې ته قوت ورکوي او د حق توفيق ورکوي تر کومه پورې چې هغه

دَامَ مَعَ الْحَقِّ فَإِذَا تَرَكَ الْحَقَّ عَرَجَا وَتَرَكَاهُ. رَوَاهُ مَالِكٌ[1]

په حق باندې وي او کله چې قاضی حق پريږدي نو هغه فرښتې آسمان ته لاړې شي او ده له ره پريږدي. (مالک)

**توضيح**: ان مسلماً ويهودياً: دا فيصله د اسلام د عادلانه نظام شاهکار دی او د شيعه ګانو په مخ باندې سپېره ده چې د عمر په حق کې د غسې پاسباني فرمايې چې يهود د هغه احترام کوي خو رافضی وايي چې هغه په اهل بيتو باندې ظلم کړی وو. **فضربه عمر**: حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې

(۱) أخرجه مالک فی الموطأ ۲/۷۱۹ رقم الحديث ۲ من كتاب الاقضية.

يهودي لره دخوش طبعي دپاره په چوکي سره ووهلو او وې فرمايل چې تاته څنګه پته ولګيده چې دا فيصله په حق باندې وشوه يهودي وويل چې په تورات کې ليکلې دي چې دحق او انصاف کونکي حاکم نه ګيرچاپيره فرښتې وي چې په فيصله کولو کې دهغوی مدد کوي او چونکه تاسو په حق باندې فيصله وکړه چې دهغې نه معلومه شوه چې فرښتې تاسره دي او دچانه چې ګيرچاپيره فرښتې وي هغه په حق باندې وي، لهذا تاسو په حق باندې يې ستاسو فيصله په حق باندې مبني ده.

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ مَوْهَبٍ: أَنَّ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لِابْنِ عُمَرَ:

اوحضرت ابن موهب رحمه الله وائی چې حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (د خلافت په زمانه کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

اقْضِ بَيْنَ النَّاسِ قَالَ: أَوَ تعاقبني يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟

ته وويل چې دخلقو قاضي جوړ شه حضرت ابن عمر رضی الله عنه وويل چې امير المؤمنين! مالره

قَالَ: وَمَا تَكْرَهُ مِنْ ذَلِكَ

خو ددې کار نه معاف کړه. حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايل چې ته ولې دې کار لره نه خوښوې! حالانکه

وَقَدْ كَانَ أَبُوكَ قَاضِيًا؟

ستاسو والد خو (دخپل دور خلافت نه علاوه دنبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هم) د قضاء کار کولو؟

قَالَ: لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې ماد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان اوريدلی دی چې کوم

«مَنْ كَانَ قَاضِيًا فَقَضَى بِالْعَدْلِ

سړی د قضاء په منصب باندې فائز وي او په انصاف باندې مبني فيصلې کوي نو هغه ددې لائق دی

فَبِالْحَرِيِّ أَنْ يَنْقَلِبَ مِنْهُ كَفَافًا».

چې هغه ددې منصب نه برابر سرابر جداشي (يعنی نه نقصان ورسوي نه فائده، نه ثواب مومي نه عذاب.)

فَمَا راجعه بعدَ ذَلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

ددې نه پس حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا سره ددې متعلق څه خبره ونه کړه (ترمذی)

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/۶۱۲ رقم الحديث ۱۳۲۲.

وَفِي رِوَايَةِ رَزِينٍ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لِعُثْمَانَ

او رزین په روایت کې دي چې هغوی د حضرت نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل کړی دی دا الفاظ دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَا أَقْضِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ:

وویل چې ای امیر المؤمنین! زه (خو) به د دوو سړو په مینځ کې (هم) څه فیصله ونه کړم (دا چې د دې رو خلقو قاضی جوړشم.)

قَالَ: فَإِنَّ أَبَاكَ كَانَ يَقْضِي فَقَالَ: إِنَّ أَبِي

حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل ستاسو والد (حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) خو د خلقو په مینځ کې فیصلې کولې؟ ابن عمرؓ وویل

لَوْ أُشْكِلَ عَلَيْهِ شَيْءٌ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زما (د پلار خبره خو دا وه چې) هغه ته به څه سختي راپیښیده نو هغه به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس کولو

وَلَوْ أُشْكِلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

او که رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به څه سخت کار راپیښید و نو هغه د حضرت جبریل عَلَيْهِ السَّلَام نه تپوس کولو

وَإِنِّي لَا أَجِدُ مَنْ أَسْأَلُهُ وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هر کله چې زه څوک داسې سړی نه موم چې دهغه نه تپوس وکړم او ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اوریدلي دي

يَقُولُ: «مَنْ عَاذَ بِاللهِ فَقَدْ عَاذَ بِعَظِيمٍ».

فرمایل یې چې کوم سړي د الله تعالی پناه وغوښته هغه د ډیر لوی ذات پناه وغوښته. دا رنګه ما د

وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «مَنْ عَاذَ بِاللهِ فَأَعِيذُوهُ».

نبی عَلَيْهِ السَّلَام نه دا اوریدلي دي چې کوم سړی د الله تعالی په ذریعې سره پناه وغواړي هغه ته پناه ورکړئ.

وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ تَجْعَلَنِي قَاضِياً فَأَعْفَاهُ

لهذا زه د الله تعالی په ذریعې سره پناه غواړم چې تاسو ما لره قاضی مقرر نه کړئ. نو حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه معاف کړو،

وَقَالَ: لَا تُخْبِرْ أَحَداً (۱)

خو هغه ته یې وفرمایل چې بل څوک مه خبروه او د حکومت نظام به معطل کیدو سره پاتې شي.

---

(۱) رواه رزين.

# باب رزق الولاة وهدايا هم

## دقاضيانو دوظائفو او تحفو او تحائفو بيان

د وخت دحکومت عهده دارو ته به دبيت المال نه دهغه اهل اوعيال ته د ګذاري مطابق تنخواه او وظيفه ورکولی شي چونکه حاکم او قاضی او دحکومت نور افسران خلق د عوامو [illegible] او ملازمان وي او دعوامو د کارونو دپاره يې خپل وختونه وقف کړې وي، لهذا د [illegible] چې کوم مال په بيت المال او سرکاري خزانه کې جمع کيږي ددې مال نه هغو قاضيانو ته [illegible] قدر د کفايت تنخواه ورکولی شي. د رزق لفظ دهغه تنخواه دپاره استعمالولی شي [illegible] هرې ميا شتې په حساب سره ورکولی شي، او يو د عطيه او هديه لفظ دی ددې تعارف [illegible] کال کې يو يا دوه ځله دحکومت دطرف نه فوج ته څه مال ورکولی شي هغې ته [illegible] سيفې مقرر کولو او عطيه قبولولو سره متعلق دوه اهم بحثونه دي:

**اول بحث د قاضی او حاکم دتنخواه په جواز باندې دلائل:** په اصولی طور باندې په دې خبره پوهيدل پکاردي چې قاضی اوحاکم چونکه دمسلمانانو په کار کې ګير وي په دې وجه هغوی ته تنخواه ورکول جائز دي، خودا تنخواه نه دومره زياته وي چې دعيش اوعشرت ژوند جوړشي او نه دومره کمه وي چې دذلت اوفقيری نوبت راشي بلکه دکفايت په قدر کيدل پکاردي. قاضی او حاکم دپاره دتنخواه اخستلو جواز باندې څلور دلائل اوګورئ.

**اول دليل:** د حضرت بريده رضی الله عنه روايت دی چې دمشکوة فصل ثانی صفحه نمبر ۳۲۶ باندې دی حضور اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: **من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما اخذ بعده فهو غلول** (ابوداؤد)

ددې روايت سره بالکل يوځای دحضرت عمر رضی الله عنه روايت دی چې په کې دا الفاظ دي **عملت على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم فعملني** يعنی ماته تنخواه راکړی شوه ددې نه پس حديث نمبر ۷ د حضرت مستورد بن شداد رضی الله عنه روايت دی چې په کې دا الفاظ دي **من كان لنا عاملا فليكتسب زوجة فان لم يكن له خادم فليكتسب خادما** الخ (المرقات ۳۱۹/۷، ۳۲۰).

**دويم دليل:** دويم دليل دحضرت عائشې رضی الله عنها هغه روايت دی چې دابوبکر صديق رضی الله عنه دخليفه جوړيدو نه پس دهغوی خطبه ده چې په هغې کې دا الفاظ دي **وشغلت بأمر المسلمين فسيأكل آل ابی بكر من هذا المال ويحترف للمسلمين فيه** (مشکوة ص ۳۲۵) (المرقات ۳۱۷/۷)

**دریم دلیل** : دمستدرک حاکم روایت دی چې دهغې الفاظ دادي **انه علیه السلام استعمل عتاب بن اسید علی مکة فتوفي النبی صلی الله وهو عامل علیها وفرض النبی صلی الله علیه وسلم له اربعین اوقیة فی سنة.**

**څلورم دلیل** : څلورم دلیل دادی چې ټولو خلفاو او قضاتو او عساکرالمسلمینو تنخواګاني اخستې دي چې دسلف صالحینو د دور نه راروان دي او د فقهاؤ په دې باندې اتفاق دی چه لا بأس برزق القاضی ها دبعضو فقهاؤ دا خیال دی چې په ابتداء کې به قاضی اوحاکم دتنخواه او معاوضې شرط نه لګوي بلکه رضاکارانه کار به شروع کړي بیابه حاکم دده دپاره وظیفه مقررکړي خو په دې رضاکارانه معامله باندې دا سوال راځي چې دا معامله یو معاهده او معاقده ده نو داسې مجهوله معاقده به څنګه جائز وي، دارنګه که قاضی پخپله فقیر دی او دحکومت دطرف نه وظیفه هم نشته نو دقضاء ددې عهدې توهین او تذلیل اوتحقیر دی لهذا دپاسنو څلورو دلائلو پیش نظر متاخرینو فقهاؤ معاوضه اخستل د نه اخستلو نه افضل ګرځولې ده دې دپاره چې آینده په دې عهده باندې دویم راتلونکی پریشانه نه وي. ددې دلائلو په رنړا کې متاخرینو علماو او فقهاو **استیجار علی الطاعات** لره جائز ګرځولی دی دارنګه د عقود رسم المفتی مؤلف یوه ضابطه بیان کړې ده چې دهغې خلاصه داده فرمائی چې د اسلام هره هغه عهده چې داجرت اخستلو نه بغیر ختمیږي او په مفتو کې دا هیڅوک هم نه سنبالوي یعنی په مناصب شریعیو کې یو منصب کچرې داجرت نه بغیر ختمیږی نو دشریعت ددې منصب دبچ کیدو دپاره اجرت اخستل او ورکول جائز دي. مثلاً امامت اوقضاء اواذان او تدریس اوتعلیم کچرې بغیر دمعاوضې نه پریخودلی شي نو ټول منصبونه به ختم شي په دې وجه متاخرینو علماؤ استیجار علی الطاعة لره ددې مجبورئ په وجه سره جائز ګرځولی دی. اوس دې خبره باندې هم پوهیدل پکار دي چې که د شریعت یو منصب داسې دی چې داجرت ورکولو اخستلو نه بغیر نه ختمیږي نو په داسې اطاعت باندې اجرت اخستل جائز نه دي مثلاً په تراویحو کې ختم قرآن باندې اجرت اخستل ناجائز دی. **ختمات فی المحافل** او تیوشن وغیره داسې امور دي چې ددې په ختمیدو سره څه منصب نه ختمیږی نوپه داسې طاعاتو باندې اجرت اخستل جائز نه دی، تراویح خو دختم قرآن نه بغیر په ورو سورتونو باندې هم کیدلی شي. بهرحال صدیق اکبر رضی الله عنه د وفات نه مخکې مخکې ټوله معاوضه واپس کړه دا دتقوی مقام دی د فتوې نه دی په فتوی کې خو جائز دی.

اوس چې کوم نه پوهيدونکي خلق اعتراض کوي چې دا علماء په طاعاتو باندې اجرت اخلي چې ناجائز دی نو پخپله دا اعتراض غلط دی بلکه دا دهغه خلقو خیال او منصوبه ده چې د اسلام او دین چې لږ ډیر کار کیږی دا به هم بند شي په دې وجه مفتی محمد شفیع رحمه الله لیکلې دي چې کوم خلق اعتراض کوي هغه ملحد او بې دینه خلق دي. علامه شامی رحمه الله لیکلې دي چې د دین په کار باندې معاوضه اخستلو کې دوه ثوابه ملاویږي: یو ثواب په دې وجه چې هغه دخپلو بچو د کسب فریضه پوره کوي، او دویمه وجه داده چې دا سړی د دین د اشاعت په خدمت کې لګیدلی دی.

**دویم بحث دقاضی تحفې تحائف:** دویم بحث دادی چې قاضی دخپلې مقررې وظیفې نه علاوه دچا څه تحفه یا هدیه قبلولی شي یا نه؟ نو صاحبِ هدایه رحمه الله لیکلې دي چې قاضی دخپلو رشته دارانو هدیه اخستلی شي ځکه چې دا صله رحمی ده چې هغې لره ماتولی نه شی، دویم قاضی دخپلو هغو دوستانو نه هدیه اخستی شي چې دقضاء منصب ته د راتلو نه مخکې به یې ده ته ورکولې د دې نه علاوه جائز نه دی دارنګه قاضی دهغه خلقو د خوراک دعوت قبلولی شي چې دهغه رشته داران وي یا دوستان وي او دمخکې نه عادت جاري وي. په دعوت طعام کې دا ضابطه ده چې د دعوت کونکو کچیرې دا خیال وي چې که قاضی نه رائی نو دعوت به نه کوو نو داسې دعوت ته تلل دقاضی دپاره صحیح نه دی او کچرې دې سړي عام دعوت کړی دی خواه قاضی راشي یا رانه شي، نو داسې دعوت ته تلی شی. خلاصه داچې دعوت خاصه نه وي دعوت عامه وي. دارنګه قاضی د داسې سړي دعوت پخپله هم نه شي کولی چې په عدالت کې په څه مقدمه کې پیش کیدلو والا وي داچې دواړه خصمینو لره په دعوت کې راغواړي، دارنګه قاضی د خصمینو په مینځ کې په خبرو کې کیناستو او راوستو او بوتللو کې هم برابری قائم کړي، بهرحال سرکاري حکمرانانو ته داحتیاط اشد ضرورت دی. ځکه چې په قومی دولت کې دخیانت کولو نه توبه کول هم آسان نه دی دچا چا حق یې کوم کوم ځای کې وهلی وو دا حساب ډیر مشکل دی.

## الفصل الاول

### نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مال تقسیموونکی وو

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أُعْطِيكُمْ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل زه نه خو تاسوته درکوم او نه

وَلَا أُمْنَعُكُمْ أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[1]

تاسو لره محروموم، زه خو صرف تقسيمونكى يم چې كوم ځاى ماته دايخود لو حكم شوى دى هلته يې ږدم. (بخارى)

**توضيح** : اعطيكم : يعنى زه په خپل اختيار سره نه چاته څه وركوم او نه يې ترې منع كوم دمال تقسيمولو په باره كې زه چې څه كوم هغه دالله تعالى دحكم مطابق وي دالله تعالى چې كوم ځاى حكم وي هلته وركوم او چرته چې حكم نه وي هلته يې نه وركوم زه خو صرف تقسمونكى يم وركونكى داتا الله تعالى دى.

﴿۲﴾ وَعَن خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت خوله انصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمايل دير خلق دالله تعالى

«إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ

په مال كې ناحقه تصرف كوي (يعنى زكوة د غنيمت او د بيت المال په مال كې دامام او حكمران د اجازت نه بغير

فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ (صَحِيح)[2]

تصرف كوي او خپل حق دخپل محنت نه زيات وصولوي هغه به د قيامت په ورځ د دوزخ د اور سزاوار وي. (بخارى)

## دوخت خليفه دبيت المال نه وظيفه اخستى شي

﴿۳﴾ وَعَن عَائِشَةَ قَالَتْ: لِمَّا اسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائى چې حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كله خليفه جوړ كړى شو نو وي وفرمايل

لَقَدْ عَلِمَ قَوْمِي أَنَّ حِرْفَتِي لم تكن تعجِزُ عَن مَؤونَةِ أَهْلِي

چې زما د قوم خلق (يعنى مسلمانان) پوهيږي چې زما كاروبار زما داهل او عيال د اخراجاتو د پاره كافي وو، اوس

وَشُغِلْتُ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَسَيَأْكُلُ آلُ أَبِي بَكْرٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ

د مسلمانانو په كارونو كې مشغول شوى يم د مال نه خوري او ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د دى بيت المال په آمدنئ كې اضافه كولها وددى

---

([1]) أخرجه البخارى فى صحيحه ٦/٢١٧ رقم الحديث ٣١١٧.

([2]) أخرجه البخارى فى صحيحه ٦/٢١٧ رقم الحديث ٣١١٨.

| |
|---|
| وَيَحْتَرِفُ لِلْمُسْلِمِينَ فِيهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ(۱) |
| يې حفاظت کولو اودي لره يې د مسلمانانو په ضرورياتو اونورو مصارفو کې دخرچ کولو په ذريعه د مسلمانانو خدمت به کوي. (بخاری) |

**توضيح** : حرفتي : يعنى زما كاروبار تعجز د عاجز راتلو په معنى سره دى يعنى دكاروبار عاجز نه وو زما داهل اوعيال دخرچ نه كم نه وو مؤنة د اخراجاتو او ضروريانو په معنى سره دى يعنى زما د اهل اوعيال داخراجاتو دپاره كافى وو فسيأكل دا حق الخدمة طرف ته اشاره ده. يحترف ددې لفظ نه دلته خدمت مراد دى او دفيه ضمير مال طرف ته راجع دى، ملا على قارى رحمه الله دې ضمير لره د فسيأكل معنى او مضمون اومفهوم طرف ته راجع كړى دى. بهرحال حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د ريښمو او دكپړې كاروبار كولو، او حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دغلې سوداګري كوله، حضرت عثمان رضي الله عنه دكجورو او غنمو تجارت كولو، او حضرت ابن عباس رضي الله عنه د عطرو تجارت كولو.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

| |
|---|
| ﴿۴﴾ عَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ |
| او حضرت بريده رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې نبي عليه السلام وفرمايل چې كوم سړي |
| اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا |
| لره مونږ په څه كارباندې ماموره كړو او هغه ته مو رزق وركړو (يعنى دده ددې كار مواجرت او تنخواه مقرر كړه |
| فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)(۲) |
| ددې نه پس كچيرې هغه (دخپلې تنخواه نه زياتې) څه وصول كړي نو دا مال غنيمت كې خيانت دى. (ابوداؤد) |
| ﴿۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ |
| او حضرت عمر رضي الله عنه وائى زه عامل جوړ كړې شوم چې د رسول كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كې او |
| رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فعملني. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد(۳) |
| د هغې اجرت (تنخواه) ماته راكړى شوه. (روايت كړې دي ابوداؤد) |

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه ۴/۳۰۳ رقم الحديث ۲۰۷۰.

(۲) أخرجه أبوداود فى السنن ۳/۳۵۳ رقم الحديث ۲۹۴۳.

(۳) أخرجه أبوداود فى السنن ۳/۳۵۳ رقم الحديث ۲۵۴۴ والنسائى فى السنن ۵/۱۰۲ رقم الحديث ۲۶۰۴ وأحمد فى المسند ۱/۵۲ء

## حضرت معاذ رضی الله عنه ته هدایت

﴿۶﴾ وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ

او حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما لره (عامل) جوړولو سره یمن ته ولیږلم

فَلَمَّا سِرْتُ أَرْسَلَ فِي أَثَرِي فَرُدِدْتُ

(کله چې یمن ته روان شوم او څه لرې لاړم) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (ماته دراغوبښتلو دپاره یو سړی) ماپسې راولیږلو زه واپس راغلم

فَقَالَ: «أَتَدْرِي لِمَ بَعَثْتُ إِلَيْكَ؟

نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې ته پوهیږې ماتاته دراغوبښتلو دپاره (سړی) ولې ولیږلو؟ (مادې خبرداري درکولو دپاره

لَا تُصِيبَنَّ شَيْئًا بِغَيْرِ إِذْنِي فَإِنَّهُ غُلُولٌ

ته راوغوښتې چې) ته (خپل دملازمت دمودې په دوران کې) زما داجازت نه بغیر څه هم مه اخله ځکه چې داخیانت دی

وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او کوم سړی چې خیانت کوي هغه به د قیامت په ورځ د هغه څیز راوړلو سره راځي چې په کوم کې یې خیانت کړی وي

لِهَذَا دعوتك فَامْضِ لعملك». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (صَحِيح)[1]

هم د دې ویلو دپاره ماته راوغوښتلې اوس ته خپل کار پسې ځه. (ترمذی)

## بغیر د تنخواه نه حاکم څومره خرچه اخستلی شي

﴿۷﴾ وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت مستور بن شداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوریدلو

يَقُولُ: «مَنْ كَانَ لَنَا عَامِلًا

چې کوم سړي لره مونږه عامل (د څه ځای حاکم یا کارنده) جوړ کړو (کچیري هغه ښځه نه وي نو)

فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ خَادِمٌ

هغه له پکار دي چې یوه ښځه په نکاح واخلي، کچیري هغه سره څوک خادم (غلام او وینځه) نه وي

فَلْيَكْتَسِبْ خَادِمًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَسْكَنٌ فَلْيَكْتَسِبْ

هغه له پکار دي چې یو خادم و اخلي او کچیري هغه کور نه وي نو هغه له پکار دي چې یو کور جوړ

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/۶۲۱ رقم الحدیث ۱۳۳۵.

مَسْكَنًا». وَفِي رِوَايَةٍ: «مَنِ اتَّخَذَ غَيْرَ ذَلِكَ فَهُوَ غَالٌّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (صَحِيح)[1]

کړي یا واخلي. او په یو روایت کې داهم دي چې ددې نه علاوه څه اخلي نو هغه به خیانت کونکی وي. (ابوداؤد)

**توضیح**: فلیکتسب زوجة: مطلب دادی چې حاکم دخپل زیر تصرف بیت المال نه دښځې مهر او نان نفقې مقدار بقدر کفایت بغیر د اسراف نه اخستلی شي خو دا په هغه صورت کې دی چې هر کله د حاکم تنخواه د بیت المال نه مقرر نه وي کچرې د هغه تنخواه مقرروي نو بیا دا ضروریات د هغې نه به پوره کولی شي، د غه شان هغه حاکم دخپل رهائشی ضروریاتو مطابق یو کور او د خدمت دپاره یو غلام او که د غلامانو دور نه وي نو د هغې قیمت د بیت المال نه اخستی شي که د ضرورت نه زیات واخلي نو حرام به وي ځکه چې د ضروریاتو یو اوږده سلسله ده په دې وجه د ضابطې لاندې تنخواه مقرروله دننه صبا د دور مطابق زیات بهتر دی، د مدارسو د مهتممینو حضراتو دپاره هم مقرر شوې تنخواه باعث د عافیت ده. (المرقات ۳۲۰/۷)

## د بیت المال د خیانت نه بچ شئ

﴿۸﴾ وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت عدی بن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (یوه ورځ مسلمانانو ته خطاب کولو) وې فرمایل

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عُمِّلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ

خلقو! په تاسو کې چې کوم سړی زمونږ د طرف نه د څه کار عامل جوړ کړی شو او هغه دخپل کار نه د

فَكَتَمَنَا مِنْهُ مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ

حاصل شوي (آمدنئ) نه دستنې برابر یا د دې نه زیات زمونږ نه پټ کړي نو هغه خیانت کونکی دی

فَهُوَ غَالٌّ يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ:

او د قیامت په ورځ به هغه راوړي. (دې اوریدو سره) یو انصاری و دریدو او عرض یې وکړو چې

يَا رَسُولَ اللهِ اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ.

ای د الله رسوله! تاسو خو (د وصول تحصیل) چې کوم کار زما حواله کړی دی هغه زما نه واپس واخله. نبی علیه السلام

قَالَ: «وَمَا ذَاكَ؟» قَالَ: سَمِعْتُكَ

وفرمایل داولې.؟ هغه عرض وکړو چې ماتاسو نه کوم فرمان واوریدلو (یعنی نبی علیه السلام چې ددې په باره کې کوم وعید

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۳۵٤ رقم الحدیث ۲۹٤۵ وأحمد فی المسند [illegible]

| | | | |
|---|---|---|---|
| تَقُولُ: | كَذَا | وَكَذَا | قَالَ: |
| بیان فرمایلی دی ددې وجې نه پیر ویریدم څکه چې دا کار د لږ شی نه خالي خو نه دی کچیري زه په لږ شی کې مبتلا شوم نو د قیامت په | | | |
| قَالَ: «وَأَنَا أَقُولُ ذَلِكَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَأْتِ | | | |
| ورځ به څه جواب ورکوم نبی عَلَيْهِ السَّلَام و فرمایل ها زه یا همدا وایم چې مونږ کوم کس لره عامل مقرر کړو هغه له پکار دي | | | |
| بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَهُ | | | |
| چې کوم څه وصول کړي، هغه لږ وي یا زیات هغه دي مونږ له راوړي او دهغې نه چې څومره قدري ده ته ورکولی | | | |
| وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَبُو دَاوُد وَاللَّفْظ لَهُ (صَحِيح)[1] | | | |
| شي هغه دي واخلي او کوم چې ورنه کړي شي دهغې نه دي منع شي (مسلم، ابو داؤد، الفاظ دابو داؤد دی) | | | |

## درشوت په ورکونکي او اخستونکي باندې دنبی عَلَيْهِ السَّلَام لعنت

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَن عبد الله بن عَمْرو قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم الرَّاشِيَ |
| او حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لعنت فرمایلی دی په رشوت اخستو |
| وَالْمُرْتَشِيَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[2] (صَحِيح) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيّ |
| والا او رشوت ورکولو والا په (دواړو) باندې. ابو داؤد، ابن ماجه. ترمذی رحمه الله دي روایت لره |
| عَنْهُ وَعَن أَبِي هُرَيْرَة (صَحِيح)[3] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي |
| د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او بیهقی رحمه الله په شعب الایمان کې |
| «شُعَبِ الْإِيمَانِ» عَنْ ثَوْبَانَ وَزَادَ: |
| د حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی دا رنګه بیهقی رحمه الله په روایت کې دا الفاظ هم دي چې |
| «وَالرَّائِشَ» يَعْنِي الَّذِي |
| نبی عَلَيْهِ السَّلَام د رائش یعنی هغه سړی چې درشوت ورکولو والا او رشوت اخستلو په مینځ کې واسطه |
| يَمْشِي بَيْنَهُمَا (صَحِيح)[4] |
| او ذریعه جوړه شي په هغه یې هم لعنت وفرمایلو. |

---

(1) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱٤٦٥ رقم الحدیث (۱۸۳۳-۳۰) وأبوداود فی السنن ٤/۱۰ رقم الحدیث ۳۵۸۱ وأحمد فی المسند ۱۹۲ ٤.

(2) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/۹ رقم الحدیث ۳۵۸۰ والترمذی فی ۳/٦۲۳ رقم الحدیث ۱۳۳۷ وابن ماجه ۲/۷۷۵ رقم الحدیث ۲۳۱۳.

(3) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/٦۲۲ رقم الحدیث ۱۳۳٦.

(4) أخرجه أحمد فی المسند ۵/۲۷۹ والبیهقی فی شعب الایمان ٤/۳۹۰ رقم الحدیث ۵۵۰۳.

**توضیح** : الراشی والمرتشی : رشوت ورکولووالا ته راشی وائی او د اردو ژبې والا عوام راشی رشوت اخستونکي ته وایې داد عوامو غلطی ده ځکه چې رشوت اخستونکي ته په عربي ژبه کې مرتشی وایې او ورکونکي ته راشی وایې.

**الرشوة** : رشوت هغه مال ته وائی چې چاحاکم ته د ابطال حق او احقاق باطل دپاره ورکولی شي چې په هغې سره د نورو حق ووهلی شي او د رشوت په زور سره هغه بل چاته ورکړی شي. کچیرې رشوت دخپل حق دحاصلیدو او داثبات دپاره ورکړی شي یا دظلم دفع کولو دپاره ورکړی شي نو داپه حقیقت کې یو تاوان دی ددې په جواز کې کلام نشته دی ځکه چې دخپل ځان نه ظلم دفع کول دي.

## په حلالو ذرائعو سره کتلی شوی مال بنه مال دی

﴿۱۰﴾ وَعَن عَمْرِو بن العاصِ قَالَ: أُرْسِلَ إِلَيَّ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې یوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چاپه ذریعه سره ماته دا راولیږل

«أْتِنِي اجْمَعْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ وَثِيَابَكَ ثُمَّ ائْتِنِي» قَالَ:

چې خپله وسله او جامو لره یوځای کړه (یعنی دسفر تیاری وکړه) او بیا ماته راشه حضرت عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی

فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ

چې ما د (نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د فرمان مطابق تیاری وکړو) دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شوم او هغوی

فَقَالَ: «يَا عَمْرُو إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَيْكَ

هغه وخت اودس کولو (چې زه یې ولیدم نو وې فرمایل عمرو! ما تاپسې سړی درلیږلی وو ته مې دې دپاره

لِأَبْعَثَكَ فِي وُجْهٍ يُسَلِّمُكَ الله

راغوښتلی یې چې تایو طرف ته یعنی د څه ځای حاکم یا عمل جوړ کړم اولیږم، الله تعالی دې تاپه په

وَيُغَنِّمُكَ وَأَرْغَبُ لَكَ رَغْبَةً مِنَ الْمَالِ». فَقُلْتُ:

عافیت او سلامتیا سره وساتی. تاته مال غنیمت درکړی او زه هم تاته څه مال درکړم. ما عرض وکړو

يَا رَسُولَ الله مَا كُنْتُ هِجْرَتِي لِلْمَالِ

ای دالله رسوله! زما هجرت کول (یعنی زما ایمان قبول او خپل وطن پریخودل نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راتلل) دمال په

| وَمَا | كَانَتْ | إِلَّا | لله | ولرسوله |
|---|---|---|---|---|
| خاطر نه وو (بلکه زما ایمان قبول خالص دالله تعالی دپاره وو او) زما هجرت صرف دالله او درسول الله ﷺ | | | | |
| قَالَ: «نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ». رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ» | | | | |
| د خوشالئ او رضا) دپاره وو. نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل د نیک بخت سړي دپاره ښه مال ښه څیزدی. (شرح السنة) | | | | |
| وَرَوَى أَحْمَدُ نَحْوَهُ وَفِي روايته: قَالَ: «نِعْمَ المَالُ | | | | |
| امام احمد رحمه الله هم دې روایت لره نقل کړی دی او دهغه په روایت کې دا الفاظ دي چې د | | | | |
| الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصالحِ»[1] | | | | |
| نیک سړي دپاره ښه مال ښه څیز دی. | | | | |

**توضیح: یسلمک الله**: یعنی زه تا د جهاد دپاره لیږم یاتالره عامل جوړم او یو طرف ته دې لیږم الله تعالی به تاسلامت هم ساتي اوتاته به مال غنیمت هم درکړي **وازعب** داصیغه دباب فتح نه ده دلوبني وغیره د دکولو په معنی سره راځي دلته د عطیه او مال ورکولو په معنی سره دی، حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پنځمه هجرئ کې مسلمان شوی وو او د حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ملګرتیا کې یې مدینې منورې ته هجرت کړی وو. بعضو ویلي دي چې په اتمه هجرئ کې مسلمان شوی وو. نبی عَلَيْهِ السَّلَام ده لره د عمان ګورنر مقرر کړی وو شاید په دې حدیث کې د دې تقرر قصه ده.

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## سفارش کونکی دې څه هدیه نه قبلوي

| ﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل چې کوم سړی (د کوم | | | | |
| شَفَعَ | لِأَحَدٍ | شَفَاعَةً | فَأَهْدَى | |
| باچا یا حاکم ته) د کوم (سړي مثلاً د زید) سفارش وکړي هغه (زید) دې (سفارش کونکي) ته د سفارش | | | | |

(۱) أخرجه البغوي في شرح السنة ۱۰/۹۱ رقم الحديث ۲۰۹۵ وأحمد في المسند ۴/۱۹۷.

| لَهُ | هَدِيَّةً | عَلَيْهَا | فَقَبِلَهَا |
|---|---|---|---|

په عوض کې څه شيز په طور تحفه او هديه ونيږي او هغه سفارش کونکی ) دې تحفې لره قبوله کړي

فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1]

هغه د سود د دروازو نه په يوه دروازه باندې داخل شو . (ابوداؤد)

**توضيح** : **من ابواب الربا** : په دې حديث کې چې د سفارش کوم صورت بيان کړی شوی دی دهغې په معاوضه کې چې کوم څه واخستلی شي هغه د رشوت په زمره کې راځي خو ددې رشوت په ځای د سود په نوم سره موسوم کړی شوی دی دا داسې نفع ده چې سفارش کونکي ته بلامعاوضه حاصل شوې ده او دسود تعريف ملاعلی قاری رحمه الله ددې حديث په ضمن کې داسې نقل کړی دی **وهوفی الشرع فضل خال من عوض شرط لاحدالعاقدين** سود دهغه اضافی نفعې نوم دی چې دمالي معاوضې نه بغير په معامله کونکو کې يو کس ته ملاوشي.

ددې حديث نه داخبره هم د رڼا ورځ په شان بنکاره کيږي او بيا ورسره دهغه حضراتو اکرام کوي دا دهغه رشوت او سود په زمره کې راځي، علماء کرامو لره د ډيدارمغز او د چست اوسيدو ډير ضرورت دی.په باطنی حالتونو باندې الله تعالی پوهيږي. (المرقات ۳۲۴/۷)



(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۸۱۰ رقم الحديث ۲۴۹۵.

# باب الاقضية والشهادات

## دفيصلواو د شهادتونو بيان

قال الله تعالى: قَالُوْا لَا تَخَفْ ۚ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ (ص: ۲۲) وقال الله تعالى: وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى. وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا (البقرة: ۲۸۲)

**اقضية** او **قضايا** د قضية جمع ده او قضيه هغه نزاعي مسائلو ته وائي چې د حاکم او قاضي ته په دې غرض سره لاړه شي دې دپاره چې فريقينو په مينځ د نزاع ختمولو دپاره څه حکم او فيصله وکړي.

**الشهادات:** د شهادة جمع ده گواهي ورکولو ته شهادت وائي، اوپه اصطلاح کې په فريقينو کې د يو فريق حق د بل فريق په مقابله کې ثابتولو نوم شهادت دی.

## الْفَصْل الأول

### د مدعي دعوی د گواهانو نه بغير معتبر نده

| |
|---|
| ﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام فرمايل |
| «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ |
| هغوی په دعوی باندې (د هغوی مدعی) ورکړی شي (يعنی نه مدعي نه گواه طلب کړی شي او نه مدعی عليه نه تصديق |
| لَادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ |
| وکړی شي بلکه صرف د هغوی په دعوی باندې د هغه حق د مال او جان د قسم نه مدعي ته ورکړی شي) نو خلق به د سړو وينه |
| وَأَمْوَالَهُمْ وَلٰكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ». |
| او د هغوی مال (دروغژن) ثابت کړي (لهذا صرف د مدعي د دعوی بغير د گواهانو نه معتبره خو |
| رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي «شَرْحِهِ لِلنَّوَوِيِّ» أَنَّهُ قَالَ: وَجَاءَ |
| قسم خو ړل په مدعی عليه باندې ضروري دی (مسلم) او نووی رحمه الله په خپل کتاب د مسلم په شرح |

| |
|---|
| فِي رِوَايَةِ «الْبَيْهَقِيِّ» بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ أَوْ صَحِيحٍ |
| کې ليکلي دي چې ديهقي په روايت کې چې په حسن يا صحيح اسنادو سره نقل دی د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ |
| زِيَادَةً عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَرْفُوعًا: «لَكِنَّ الْبَيِّنَةَ |
| نه په ذکر شوي حديث کې بطريق مرفوع د دې الفاظو اضافه هم نقل ده چې گواه پيش کول د مدعي |
| عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينَ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| په ذمه دی او قسم خورل په هغه سړي باندې دی چې انکار کوي يعنی مدعی عليه. |

**توضيح** : لو يعطى : دا لو فرضيه دی او يعطى دمجهول صيغه ده يعنی فرض کړه کچيرې خلقو ته صرف دهغوی د دعوې په بنيادباندې مال ورکول شروع شي او دگواهانو ضرورت نه وي نو څه خلق به د نورو په ذاتی مالونو او ځانونو باندې لاس اوچتول شروع کړي، په دې وجه د اسلام دا قطعی ضابطه ده چې مخکې دمدعي نه گواه وغوښتلی شي کچرې گواه موجود نه وي نو بيا به مدعي ته قسم ورکولی شي.

**سوال** : دلته دا اشکال دی چې په دې حديث کې د قسم ذکر شوی دی خود گواهانو ذکر نشته دی داسې ولې وشول ؟

**جواب** :ددې اشکال جواب دادی چې دگواهانو مسئله چونکه ډيره زياته واضحه او مشهوره ده په دې وجه ذکر نه کړی شوه او دمنکر دپاره د قسم ذکر وکړی شو، صاحب دمشکوة دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما د يو روايت اضافه کولو سره دې مفهوم او گواهانو او د قسم مضمون لره مکمل کړو، او دصاحب مشکوة طرزپه پوره کتاب کې عمومًا همدادی چې ديومجمل حديث تفسير په بل حديث سره کوي. (المرقات ۳۲۵/۷)

## په عدالت کې په دروغه قسم خورلو باندې وعيد

| |
|---|
| ﴿۲﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ |
| او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې کوم سړی په څه څيز |
| حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ |
| سره مقيد شي (يعنی دحاکم په مجلس کې قسم اوخوري او هغه په خپل قسم کې دروغژن وي |

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحيحه ۸/٤٥٥٢ رقم الحديث ٤٥٥٢، ومسلم فی ۳/۱۳۳٦ رقم الحديث ۱/۱۷۱۱.

يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللهَ

دهغه مقصد قسم خوړلو سره دچا مسلمان مال حاصلول وي نو د قیامت په ورځ به الله تعالی سره

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَأَنْزَلَ اللهُ تَصْدِيقَ ذَلِكَ:

په داسې حال کې ملاقات کوي چې الله تعالی به په هغه باندې غصه وي د دې ارشاد په تصدیق کې

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ (صَحِيحٌ)[1]

الله تعالی دا آیت نازل کړو. ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ تر آخری آیت پورې (بخاری)

**توضیح: یمین صبر:** یمین د قسم په معنی سره دی او صبر خو مشهور دی چې صبر ته وائی خو دلته هغه معروفه معنی مراد نه ده بلکه دلته صبر حبس او د قید په معنی سره مستعمل شوی دی، لهذا د حدیث مطلب داشو چې یو سړي لره حاکم په عدالت کې د څه مقدمې پیش نظر د قسم خوړلو دپاره نیولی شوی دی د عدالت کاروائی په دې قسم باندې موقوف ده دلته حاکم هغه ته د قسم خوړلو حکم ورکړو چې د هغې په وجه سره په هغه باندې قسم خوړل د امیر د اطاعت په وجه لازم هم دی په داسې قسم کې چې کوم سړی دروغ وایي هغه به ډیر زیات ګناهګار ږیږي.

د دې حدیث دویم مطلب دا دی چې یو سړی نه د قسم مطالبه وکړی شي او ده په قسم سره بل سړی قید کولی شي هغه په دروغه قسم وخوړلو چې د هغې په نتیجه کې دویم سړی محبوس شو. دا قسم خوړل ډیره ګناه ده. دریم مطلب د دې حدیث دا دی چې دیمین صبر نه مراد یمین کاذب دی چې یو سړی مثلاً د بل سړي د مال ضائع کیدو په نیت سره په دروغه قسم خوري دا یمین صبر دی دا مفهوم آسان هم دی او د حدیث د آئنده جملو نه د دې تائید هم کیږی، ملا علی قاری رحمه الله فرمایلي دي چې د حدیث همدا مطلب دلته مراد دی په حدیث کې د آیت تکمیل داسې دی (اولئک لا خلاق لهم في الآخرة ولا يكلمهم الله ولا ينظر إليهم يوم القيامة ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم). (المرقات ۳۲۷/۷)

## په دروغه قسم سره دچا حق دبارولو والا باندې جنت حرام دی

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ

د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایلچې کوم سړی د خپل

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۸/۲۱۲ رقم الحدیث ٤٥٤٩، ومسلم فی ۱/۱۲۲ رقم الحدیث (۱۳۸-۲۲۰) والترمذی فی السنن ٥/۲۱٦ رقم الحدیث ۳۰۱۲ وابن ماجه فی ۲/۷۷۸ رقم الحدیث ۲۳۲۳.

| |
|---|
| اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ |
| (په دروغه) قسم په ذريعې سره د کوم مسلمان سړي مال غصب کړو نو بېشکه الله تعالى دده دپاره |
| لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ» فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: |
| اُور واجب کړو او په ده باندې يې جنت حرام کړو. يو سړي (دې اوريدو سره) نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عرض وکړو |
| وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يسيرًا يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «وَإِنْ كَانَ قَضِيبًا |
| اګرچې هغه معمولي غوندې څه څيز وي. نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل (ها) اګرچې د پلوسې د ونې يوه |
| من أَرَاك». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفق عَلَيْهِ)[1] |
| تکړه (يعنى مسواک) ولې نه وي. (مسلم) |

**توضيح**: اوجب الله له النار: ددې جملې دوه مطلبه دي: اول مطلب دادى چې ددې حديث تعلق دهغه سړي سره دى چې دچا مسلمان حق دباوول حلال ګڼي نو دهغه سړي دپاره دوزخ واجب دى او جنت په هغه باندې حرام دى، دويم مطلب اوتاويل دادى چې دداسې سړي سزا ددې بد عمل دوجې نه بې شکه همدا دوزخ دى خو په قيامت کې فيصله په معجون مرکب باندې کيږي دې عمل په خاصيت باندې مجموعى فيصله نه کيږي اوداهم ممکن ده چې الله تعالى دهغه سړي مغفرت وکړي.

وحرم عليه الجنة: يعنى دا سړى به په اول ځل نجات موندونکو سره جنت ته نه ځي بلکه دسزا خورلو نه پس به ځي ځکه چې د اهل السنت په نزد دلويې ګناه مرتکب به هميشه په اُور کې نه وي. (المرقات ۳۲۸/۷، الكاشف: ۲۹۶/۷)

## آيا دقاضى فيصله په ظاهر اوباطن کې نافذ کيږي

| |
|---|
| ﴿۴﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائى چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په دې کې هيڅ شک |
| «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ |
| نشته چې زه يو انسان يم اوتاسو خپلې قضيې (جګړې) راوړئ ماته رائځ، ممکنه ده چې په تاسو کې |

(۱) أخرجه مسلم فى صحيحه ۱/۱۲۲ رقم الحديث (۱۳۸-۲۱۸) والنسائى فى السنن ۸/۲۴۶ رقم الحديث ۵۴۱۹ والدارمى فى ۲/۳۴۵ رقم الحديث ۲۶۰۳ ومالک فى الموطأ ۲/۷۲۷ من كتاب الاقضية وأحمد فى المسند ۵/۲۶۰.

| |
|---|
| وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ |
| به یو کس د خپلو دلائلو په پیش کولو کې د بل نه زیات فصیح او بلیغ او د بیان حامل وي او زه د هغه |
| بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَأَقْضِي لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ مِنْهُ |
| (مدلل) بیان واورم هم د هغې مطابق فیصله وکړملهذا هغه کس چې د چا په حق کې زه د څه داسې |
| فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَلَا يَأْخُذَنَّهُ |
| څیز فیصله وکړم چې په حقیقت کې د هغه د ورور مسلمان وي هغه څیز لره دې نه اخلي ځکه چې (په |
| فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| داسې صورت کې ګویا) چې زه د هغه په حق کې د اور دیوې ټکړې فیصله کوم. (بخاری ومسلم) |

**توضیح** : **انما انا بشر** : یعنی زه یو انسان یم عالم الغیب نه یم زه ظاهر ته ګورم فیصله کوم لهذا سهواً او نسیاناً بشري تقاضاده یو انسان عالم الغیب خو نه وي یو کس د ظاهری الفاظو په زوردار کلام سره خپله مدعا ثابتوي او په حقیقت کې هغه دبل چا وي خو هغه په خپل قوت بیان سره په حق باندې معلومیږي نو زه د هغه په حق کې فیصله کوم حالانکه حق دبل کس وي نو یادساتئ دغه دژبې په چالاکئ سره که زه هغه ته څه ورکړم نو هغه به د دوزخ ټکړه وي. اوس دلته د فقهاؤ اختلاف دی چې قضاء د قاضی صرف په ظاهر کې نافذ ده یا ظاهر او باطن دواړو کې نافذ ده. (المرقات ۳۲۹/۷)

**د فقهاؤ اختلاف** : دجمهورو او صاحبینو په نزد قضاء د قاضی ظاهراً نافذ ده باطناً نه ده، امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی چې قضاء د قاضی ظاهراً او باطناً دواړه قسمه نافذ ده. په ظاهر او باطن کې دنافذ کیدو مطلب دادی چې په ظاهري شریعت کې په دنیا کې چې څنګه هغه فیصله نافذ کیږی په آخرت کې یعنی دالله تعالی په نزد هغه فیصله به صحیح شماروي.

**داختلاف محل** : اوس داختلاف دمحل تعین ضروري دی چې دفقهاء کرامو په کوم ځای کې اختلاف دی اوپه کوم ځای کې یې اتفاق دی، نو پوهیدل پکاردي چې کچرې قضاء د قاضی په املاک مرسله کې وي نو بالاتفاق ظاهراً به قضاء نافذ وي او باطناً به نافذ نه وي. او که چرې قضاء د قاضی په املاک غیر مرسله یعنی املاک مقیده کې یا غیر اموال کې وي مثلاً په نکاح. طلاق یا غیره عقودو او فسوخو کې وي نو په دې صورت کې دفقهاء کرامو اختلاف دی. چې دائمه ثلاثو او

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۱۲/۳۳۹ رقم الحدیث ٦٩٦٨ ومسلم فی ۳/۱۳۳۷ رقم الحدیث (۱۷۱۳-٤) وأبوداود فی السنن ٤/۱۲ رقم الحدیث ۳٥۸۲ والترمذی فی ۳/٦۲٤ رقم الحدیث ۱۳۳۹ والنسائی فی ۸/۲۳۳ رقم الحدیث ٥٤٠١ وابن ماجه فی ۲/۷۷ رقم الحدیث ۲۳۱۸.

صاحبینو په نزد قضاء د قاضی به صرف ظاهراً نافذوي باطناً به نافذ نه وي. او د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد قضاء د قاضی ظاهراً هم نافذ ده او باطناً هم نافذده، دمثال په طور باندې یوې ښځې دعوی وکړه چې فلاني سړي ماسره واده کړی دی په دې باندې ښځې دوه په دروغه گواهان هم پیش کړل او دا واده ئې ثابت هم کړو حالانکه په حقیقت کې څه واده ماده نه وو شوی، اوس آئمه ثلاثه فرمائی چې دا ښځه صرف په ظاهر کې به دهغه سړي ښځه وي خو په باطن کې به فیمابینه وبین الله دا دهغه ښځه نه وي، اوس دا سړی ددې ښځې سره جماع نه شي کولی که وې کړه نو گناهگار به وي.

د امام ابو حنیفه په نزد ښځه به ظاهراً او حقیقةً ددې سړي ښځه وي ددې سره جماع کول جائز دي، اوس دفریقینو د دلائلو نه مخکې په دې پوهیدل ضروري دي چې املاک مرسله او املاک مقیده څه ته وائی؟ نو یادساتئ املاک مرسله هغه اموال دي چې یو کس دڅه څیز دملکیت دعوی وکړه خو د ملک سبب ئې بیان نه کړو چې په څه وجه سره دا مال دهغه ملکیت کې دی، دې ته املاک مرسله وائی. املاک غیر مرسله هغه دي چې دعوی یې دملک وکړه او ورسره سره یې دملکیت دسبب او علت هم بیان وکړو چې په میراث کې دامال ملاؤ شوی دی یا اخستلی شوی دی یا چا هبه کړی دی، گویا چې دا املاک مقیده دي، نو دفقهاؤ اختلاف صرف په املاک مقیده او غیر اموال یعنی عقودو او فسوخو کې دی اموال مرسلو کې اختلاف نه دی.

**دلائل** : (۱) ائمه ثلاثه د ام سلمه رضی الله عنها دزیربحث حدیث نه استدلال کوي څکه چې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د خپلې فیصلې نه پس په صفا الفاظو کې وفرمایل چې په حقیقت کې کچرې څوک سړی ددې څیز حقدار نه دی نوهغه دې هیڅکله نه اخلي څکه چې دا ددې دپاره دجنهم نکړه ده ددې نه معلومه شوه چې فیصله صرف په ظاهر کې نافذ کیږي او په باطن کې نه نافذ کیږي. د امام ابو حنیفه رحمه الله سره څو دلائل دي: اول دلیل دادی چې قاضی ته ولایت عامه حاصل دی نو که اول نکاح نه وه شوې نو اوس وشوه څکه چې دگواهانو دپیش کولو نه پس قاضی دا فیصله واورولو نو په حقیقت کې عقد دی دنوې سر نه نکاح وشوه اوس باطناً هم دا ښځه دده ښځه ده. (۲) امام ابو حنیفه رحمه الله دویم دلیل د لعان حکم دی نبی علیه السلام په واضحو الفاظو سره وفرمایل: احدکما کاذب ددې واضح اعلان باوجو به د نبی علیه السلام فیصله نافذ وي او فریقین یعنی ښځه او خاوند دیوبل نه جدا شو. (۳) د امام ابو حنیفه رحمه الله دریم دلیل دحضرت علی رضی الله عنه یو اثر دی کوم چې طحاوی نقل کړی دی هرکله چې حضرت علی رضی الله عنه دغه دیوې مقدمې فیصله واورولو نوښځې عرض وکړو چې ای امیرالمؤمنین! زما نکاح وکړئ دې دپاره چې زنا نه وي په دې سره حضرت علی رضی الله عنه وفرمایل شاهداک زوجاک یعنی ستادوه گواهانو ستانکاح وکړه گویا دا انشاء عقد شو نوې نکاح ده.

**جواب** : جمهورو چې دمذکوره حدیث نه استدلال کړی دی احناف دې لره په املاک مرسلو باندې

حمل کوي، دارنګه په دې حدیث کې د شهادت تذکره هم نه ده دلته صرف دژبې چالاکی او د بیان د زور ذکر دی زیرنظر حدیث نو په دروغه د شهادت او ددې په نتیجه کې د فیصلې سره متعلق دی.

## په ناحقه دمقدمه بازي کونکي دپاره وعید

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دالله تعالی په نزد په خلقو

«إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ» متفق عليه (صَحِيحٌ)[1]

کې بدترین او مبغوض ترین هغه سړی دی چې دیر زیات په ناحقه جګړه کونکی دی. (بخاری ومسلم)

**توضیح**: الالد: داد لَدَّ يَلُدُّ نه دی سخت جګړه کونکو خلقو ته وایي. الخصم په صادباندې کسره ده د جګړو عاشق ته (چې جګړه خوښوی) وائی نو اُلدّ: سخت جهګړه مار او خصم هغه چې دهغه په طبیعت کې جګړه پرته وي په کثرت سره جګړې کوي، نو په دې دواړو لفظونو کې څه تکرار نشته دی دهر لفظ خپل مطلب دی. (المرقات ۳۳۱/۷)

## دیو ګواه سره قسم ملاوول

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قضى بِيَمِينٍ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (په یوه قضیه کې) یو ګواه او یو

وَشَاهِدٍ. رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[2]

قسم باندې فیصله وکړله. (مسلم)

**توضیح**: قضى بيمين وشاهد: ددې حدیث نه معلومیږی چې کچرې مدعی دعوی وکړه او دهغه سره د دعوې د ثبوت دپاره دوه ګواهان نه وي نو هغه دې یو ګواه پیش کړي او یو دې قسم وخوري نو دعوی به ثابته شي، او که مال حاصل شی په دې مسئله کې د فقهاؤ اختلاف دی چې آیا د مدعي نه به د یو ګواه سره ددویم ګواه په ځای قسم اخستی شي که نه.

**د فقهاؤ اختلاف**: درېواړه امامان او جمهور فرمائی کچرې معامله د حدود او د قصاص د قضیو نه علاوه اموالو کې وي او دمدعی سره صرف یو ګواه موجود وي نو مدعي به ددویم ګواه د

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۵/۱۰۶ رقم الحدیث ۲۴۵۷ ومسلم فی ۴/۲۰۵۴ رقم الحدیث ۵/۲۶۶۸ والترمذی فی ۵/۱۹۸ رقم: ۲۹۷۶،

(۲) أخرجه مسلم فی الصحیح ۳/۱۳۳۷ رقم الحدیث ۳/۱۷۱۲ وأبوداود فی السنن ۴/۳۳ رقم الحدیث ۳۶۰۸ وابن ماجه ۲/۷۹۳ رقم: ۲۳۷۰.

تکمیل دپاره پخپله یو قسم خوري دې دپاره چې ګواهي مکمل شي او دمدعي مدعا ثابته شي. آئمه احناف فرمائی چې د یو ګواه په وجه سره مدعا نه شی ثابتیدلی او په مدعي باندې په هیڅ قسم صورت کې قسم نه راځي دفیصلې دپاره ضروري ده چې دمدعي سره دوه ګواهان وي ګنې مدعا علیه نه به قسم اخستی شي.

**دلائل** : د ذکر شوې زیربحث حدیث نه دجمهورو دلیل دی اګر چې دې حدیث کې تصریح نشته دی. چې قسم به دمدعي نه اخستی شي خو دې په بعضو طرقو کې داسې لفظ موجود دی لهذا جمهورو په دې باندې فیصله وکړه. (المرقات ۳۳۱/۷) د احنافو امامانو اولنی دلیل خو دقرآن عظیم آیت دی: (وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ) (البقرة : ۲۸۲)

دویم آیت: (وَّاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ) (الطلاق : ۲)

د احنافو دویم دلیل هغه مشهور حدیث دی چې دهغې الفاظ دادي : **البينة على المدعي واليمين على من أنكر** په دې حدیث کې بطور ضابطه تقسیم کاربیان کړی شوی دی نو دمدعي کار ګواه پیش کول دي او دمدعی علیه کار قسم خوړل دي په دې کې اشتراک نشته دی. (المرقات ۳۳۲/۷)

**جواب** : احنافو د مذکوره حدیث او دجمهورو د ددې دلیل نه یو څو جوابونه کړې دي. **اول جواب** : دامذکوره حدیث خبر واحد دی دا دقرآن د آیت مقابله نه شي کولی. **دویم جواب** : دا چې په دې حدیث کې احتمال دی چې ددې مطلب داوي چې کله مدعي سره ګواه نه وي نو مدعا علیه نه به قسم اخستی شي او د احتمال راتلو سره به استدلال باقی نه پاتې کیږي. **دریم جواب** : دادی چې په دې حدیث کې دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د مختلفو فیصلو ذکر دی چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ کله دګواهانو په بنیاد باندې فیصله فرمایلې ده او کله دقسم په بنیاد باندې یې فیصله فرمایلې ده ګویا چې په حدیث کې د یوې فیصلې خبره نه ده بلکه په مختلفو وختونو کې د مختلفو فیصلو دوه صورتونه خودلی شوې دي.

**څلورم جواب** : دادی چې د زیر بحث حدیث تعلق دحفظ دماء سره دی دا ضابطه نه ده بلکه یوه معروضی فیصله وه چې دهغې پیش نظر داحکم راغلی دی، واقعه داسې وشوه چې دبنو عنبر څه کافران د جهاد په میدان کې نیولی شوې وو کله چې هغوی مدینې ته راوستلی شو نو هغه دعوی وکړه چې مونږ کوم وخت نیولی شوې وو هغه وخت مونږ مسلمانان وو په دې باندې هغوی سره یو ګواه وو او د دویم ګواه دپاره دهغوی نه قسم واخستلی شو، نو شبهه راغله چې په هغې سره دهغوی وینه محفوظه شوه دا حدیث دصلح په صورت باندې محمول دی ضابطه هم هغه ده چې په مشهورو احادیثو کې ده او احنافو اخستې ده. (المرقات ۳۳۲/۷)

## منکر به قسم خوری خواه فاسق ولي نه وي

﴿۷﴾ وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ

او حضرت علقمه بن وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخپل پلار نه نقل کوي چې هغه وويل (يوه ورځ) دنبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مِنْ حَضْرَمَوْتَ وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ:

په خدمت کې يو سړی د حضرموت او سيدونکی او يو سړی د کنده، دواړه حاضر شول حضرمي عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هَذَا غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي فَقَالَ الْكِنْدِيُّ:

چې ای دالله رسوله! دې سړي زما مکي لره (غصب کړه په) دې باندې يې قبضه کړې ده. کندي وويل هغه

هِيَ أَرْضِي وَفِي يَدِي لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ

زما زمکه ده او زما په لاس (يعنی زما په قبضه کې ده) ددې سړي په دې زمکه کې څه حق نشته دی،

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْحَضْرَمِيِّ: «أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟»

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ د دواړو فريقينو بيان واريدلو حضرمی ته يې وفرمايل چې آيا تاسره ګواه شته هغه

قَالَ: لَا قَالَ: «فَلَكَ يَمِينُهُ»

وويل چې نه. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې اوس ستاد دعوې دارومدار ددې مدعا عليه په قسم باندې دی

قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ لَا يُبَالِي

(حضرمی) وويل ای دالله رسوله! دا سړی خو فاجر (فاسق) دی ده ته ددې خبرې څه پرواه نشته دی

عَلَى مَا حَلَفَ عَلَيْهِ وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ قَالَ:

چې دا دکوم څيز قسم خوري هغه رښتيا دی که دروغ، اودا دځه څيز نه پرهيز نه کوي. نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

«لَيْسَ لَكَ مِنْهُ إِلَّا ذَلِكَ».

(بهرحال) ستاد پاره دده دطرف نه سيوا ددې (قسم) نه نور څه نشته دی. (دې اوريدو سره) هغه (کندی)

فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَدْبَرَ:

سړی دقسم خوړلو دپاره روان شو او کله چې هغه شاکړه نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل کچرې دا سړی د

«لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا

دې حضرمی په مال باندې قسم وخوري دې دپاره چې د ده مال په زبردستۍ سره هضم کړي نو الله تعالی

لَيَلْقَيَنَّ اللهَ وَهُوَ عَنهُ معرض». رَوَاهُ مُسلم (صَحِيح)[1]

سره به په داسې حال کې ملاويږي چې هغه (الله) به دده نه بيزاره وي. (مسلم)

**توضيح**: ان الرجل فاجر: يعنې فاسق فاجر سړی دی په قسم خوړلو کې څه پرواه نه کوي او زما مال به هړپ کړي نه دا سړی په قول کې صحيح دی او نه په فعل کې، نبی عليه السلام وفرمايل چې څه هم وي کله چې تاسره گواه نشته دی نوته به دده نه قسم اخلي. (المرقات ۳۳۳/۷)

**فانطلق**: ممکن ده داسړی د اودس جوړولو دپاره راوان شوی وو چې په اودس کې قسم وخوري او دا هم ممکن ده چې په کولاو ميدان کې مخې ته راغلو دې دپاره چې قسم وخوري، شوافع د قسم دپاره په اړدس کې د کولو حکم ورکوي، د اکندی اگرچه د قسم دپاره تيارشوی وو خو نبی عَلَيْهِ السَّلَام چې کله وعيد واورولو نو هغه وويل چې دا زمکه زما نه ده، زما ددې ورورده څنگه چې په حديث نمبر۹ کې راځي. علامه نووی رحمه الله فرمائی چې په دې حديث کې د څو فائدو بيان دی: يوه فائده داده چې صاحب يد او د قبضې والا ددې اجنبي نه بهتر دی چې کوم صاحب يد نه وي، دويمه فائده داده چې کله مدعي سره گواه نه وي نو په مدعاعليه باندې قسم کول لازم دي، دريمه داچه د فاسق قسم هم داسې مقبول دی څنگه چې ديو عادل قسم مقبول وي. (المرقات ۳۳۳/۷)

## په چاباندې په دروغه دعوې گولووالا دوزخي دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغوی دنبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان واوريدلو

يَقُولُ: «مَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا

فرمائيلي ئې چې کوم سړی د څه داسې څيز دعوی وکړي چې دهغه نه وي هغه زمونږ نه نه دی او

وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ (صَحِيحٌ)[2]

هغه له پکار دي چې خپله ټيکانه په دوزخ کې ولټوي. (مسلم)

**توضيح**: ماليس له: شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کې ليکلي دي چې دا لفظ په ظاهره دامالکو او اموالو دپاره ويلی شي خو ددې په عموم کې د حسب اونسب دعوی او د ظاهر او باطن

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحيحه ۱/۱۲۳ رقم الحديث (۱۳۹-۱۴۳) والترمذی فی ۳/۶۴۵ رقم الحديث ۱۳۱۰.

(۲) أخرجه مسلم فی صحيحه ۱/۷۹ رقم الحديث (۶۱-۱۱۲) وابن ماجه فی ۲/۷۷۷ رقم الحديث ۲۳۱۹.

تولې دعوې هم راځي. یعنی یوسړی د بزرګۍ دعوې کوي دعلم په دروغه دعوې کوي، د احوالو اواعمالو عالیو دعوې کوي د فتوحاتو اوکرامتونو اوکشفونو او د الهاماتو دعوې کوي، او په حقیقت کې هغه په دې مقام باندې نه دی د حدیث داوعید تولوته شامل دی (اشعة اللمعات ۳۴۲/۳)

## بهترین ګواه څوک دی

| |
|---|
| ﴿۹﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| او حضرت زید بن خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې آیا زه تاسو ته د |
| «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ؟ الَّذِي يَأْتِي |
| بهترینو ګواهانو په باره کې ونه وایم؟ (نو واوریئ چې) په ګواهانو کې بهترین ګواه هغه دی چې د |
| بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَسْأَلَهَا». رَوَاهُ مُسلم (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)[1] |
| ګواهئ طلب کولو نه مخکې ګواهي ورکړي. (مسلم) |

**توضیح** : خیرالشهداء : ددې حدیث دوه مفهومه دي: اول مفهوم دا چې دیوکس حق چرته ګیر شوی دی د هغه سره ګواه نشته نه هغه ته دکوم ګواه علم شته دی په دې موقع باندې دوه ګواهان راځي او ګواهي ورکول حقدارته حق رسول دي دابهترین ګواه دی. دویم مفهوم دادی چې مثلاً دحقوق الله معامله ده زکوة دی درمضان دمیاشت معامله ده دکفارې مسئله ده دوقف او وصایاو او د صدقاتو معامله ده دوخت باچاته معلومه نه ده او دبیت المال داحق ضائع کیږي په دې موقع باندې یوسړی راغی اوهغه ګواهی ورکړه او حاکم لره یې خبر کړو نو هغه قومی فریضه اداکړه په دې وجه بهترین ګواه دی.

**سوال** : دلته دا سوال دی چې ددې حدیث نه پس دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث راروان دی په هغې کې پخپله دګواهی ورکونکي سخت مذمت راغلی دی حالانکه په زیربحث حدیث کې دهغه مدحه شوې ده. دا په ظاهره تعارض دی.

**جواب** : ددې سوال جواب دادی چې مذمت په دروغه ګواهئ کې په دلچسپئ اخستلو سره راغلی دی اومدحه په رشتني شهادت کې راغله ده، یا دمذمت تعلق دانااهل شهادت سره دی اودمدح تعلق د اهلیت لرلو والا دشهادت سره دی، امام شافعی رحمه الله فرمایې چې دفاسق شهادت په مطلق طور باندې قابل قبول نه دی، احناف وائی چې قاضی لره دفاسق ګواهی رد کول پکار دي خو

---

(۱) أخرجه مسلم فی صحیحه ۳/۱۳٤٤ رقم الحدیث (۱۷۱۹-۱۹) وأخرجه أبوداود فی السنن ٤/۲۱ رقم الحدیث ۳۵۹٦ والترمذی فی ٤/٤۷۲ رقم الحدیث ۲۲۹۵، وابن مالک فی ۲/۷۲۰ رقم الحدیث ۳ من کتاب الاقضیة، وأحمد فی المسند ۵/۱۹۳.

| أَنَّهَا | دَابَّتُهُ | نَتَجَهَا | فَقَضَى |
|---|---|---|---|
| هغې په نتیجه کې دا پیدا شوا و دغه رنګه ددې د پیدا کیدو هم زه سبب جوړ شوی یم ګویا په دې دواړو کې هریو دا دعوی وکړه) | | | |
| بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِي فِي يَدِهِ. رَوَاهُ فِي «شرح السنة»[1] | | | |
| نو نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه څاروی دهغه سړي حق وګرځولو دچا په قبضه کې چې وو. (شرح السنة) | | | |

**توضیح: نتجها**: دباب ضرب نه مطلب دا چې هغه سړي وویل چې ما ددې بچي په پیدا کیدو کې (د نر) څاروي نه کا راخستی وو چې نر مې په مادي باندې پریخودلو بیامې پرورش کولو بیا بچی وشو او په کور کې مې دې لره وپاللو. **فقضى للذي في يده**: ددې حدیث نه په ظاهري طور باندې دا خبره واضحه کیږی چې د دوو سړو په څه څیز کې که چرې تنازع شي او دواړه ګواهان پیش کړي نو دصاحب الید (قابض) بینه (ګواه) به راجح وي، ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چې ویلی شوې دي چې داحدیث په دې باندې دلالت کوي چې د صاحب ید قابض بینه به په هرحال کې د غیر قابض په مقابله کې راجح وي. ملاعلی قاری وائی چې دظاهري حدیث نه داسې معلومیږی چې دا حکم په څاروو کې دی. احناف امامان وائی چې ددې حدیث د حکم تعلق د څاروو سره دی او په څاروو کې مسئله هم داسې وي چې دصاحب ید او قابض بینه د غیر قابض په مقابله کې راجح ده، او که دعوی په غیر حیوان کې وي نو بیا به دواړه مدعیان قسم خوري او څیز به په خپل مینځ کې تقسیموي څنګه چې په نورو حدیثونو کې ددې ذکر دی. امام شافعی وائی چې که هر قسم صورت وي او څه څیز هم وي په هرحالت کې د قابض بینه د غیر قابض په مقابله کې راجح ده، هغه حضرات شاید دمذکور حدیث نه خپله دعوی باندې دلیل پیش کوي خو حقیقت دادی چې داحدیث داحنافو دلیل دی ځکه چې په دې کې د حیوان او ددې د زیږیدلو (پیدا کولو) په واضح طور باندې بیان دی. (المرقات ۳۳۷/۷)

## د دوو مدعیانو په مینځ کې د متنازع مال تقسیم

| ﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ: أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا |
|---|
| او حضرت ابو موسی اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې دوو سړو د یو اوښ په باره کې دعوی وکړه د |
| عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ |
| رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې (یعنی هریو وویل چې دا اوښ زما دی او بیا په دې دواړو |

(۱) أخرجه البغوی فی شرح السنة ۱۰/۱۰۱ رقم الحدیث ۲۵۰٤ والدارقطنی فی السنن ٤/۲۰۹ رقم الحدیث ۲۱.

| |
|---|
| كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدَيْنَ فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| کې هرېو دخپلې (خپلې دعوې په ثبوت کې) دوه دوه ګواهان پیش کړل. نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ |
| دې اوښ لره په هغه دواړو کې تقسیم کړو (ابوداؤ) او ابوداؤد رحمه الله یو روایت دارنګه او د |
| وَلِلنَّسَائِيِّ وَابْنِ مَاجَهْ: أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا |
| نسائی او ابن ماجه یو روایت کې داسې دي چې دوو سړو دیو اوښ په باره کې دعوی وکړه خو په دې دواړو کې |
| لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ فَجَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا[1] |
| دیو سره هم ګواه نه وو. نو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې اوښ لره د دې دواړو مشترکه حق وګرځولو. (ابوداؤد) |

**توضیح** : **فبعث** : یعنی دواړو خپله خپله بینه اودروله او قائم یې کړه یعنی بینه ئې پیش کړه. (المرقات ۳۳۸/۷)

**فقسمه** : یعنی نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دې متنازع اوښ لره په دواړو مدعیانو کې تقسیم کړو. علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې شاید هغه اوښ د دواړو په قبضه کې به وو، نو په دواړو کې یې تقسیم کړو، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې شاید اوښ د کوم دریم سړي په قبضه کې وو چې د اوښ دعویدار نه وو نو کله چې دواړو ګواهان پیش کړل او چاته هم ترجیح حاصله نه وه نو اوښ یې د دوی په مینځ کې تقسیم کړو ځکه چې د احنافو دا مسلک دی چې کچرې دوه سړي دیو څیز دعوی وکړی او چا ته هم ید او قبضه حاصله نه وي او دواړه په خپله دعوی باندې بینه قائم کړي نو هغه څیز به په دواړو کې تقسیم ولو سره نیم نیم ورکړی شي، جمهور فرمائی چې په دواړو کې د قسم خورلو دپاره به قرعه اندازي وکړی شي او دچا چې قرعه راووتله هغه به قسم خوري او مال به اخلي زیربحث د احنافو دلیل دی. بعضې علماء وایي چې د قسم دپاره چې دچا قرعه راووتله دهغه بینه به راجح وي. **ليست لواحد منهما بينة** په دې روایت کې دا وخودلی شو چې دیو سره هم بینه نه وه او ددې نه مخکې روایت کې او خودلی شو چې دواړو سره بینه موجود وه؟ دې تعارض لره د لرې کولو دپاره علماو لیکلي دي چې شاید دا دواړه ځانله ځانله قضیې وې، او ممکن ده چې یوه قضیه وي خو کله چې د دواړو ګواهي په وجه د تعارض کالعدم وګرځولی شو، نو دواړه بغیر د ګواهئ نه پاتې شو یعنی مقبوله ګواهي دچا دپاره نه وه. (المرقات ۳۳۸/۷)

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٣٧ رقم الحديث ٣٦١٥ والنسائی فی ٨/٢٤٨ رقم الحديث ٥٤٢٤. وابن ماجه فی ٢/٧٨٠ رقم الحديث ٢٣٣٠.

خوري او مال به اخلي. (المرقات ۳۳۶/۷، الكاشف ۳۰۴/۷)
اوس په دې روايت کې په فقهي نقطه نظر سره اختلاف دی، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهما الله فرمائي چې مال به ددې دريم سړي په لاس کې پريخودلی شي ځکه چې په دې دوو کې تعارض راغی، نو د دواړو دليل ساقط شو، امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائي چې دې مال لره به دمدعيانو په مينځ کې برابر تقسيمولی شي ځنګه چې په آئنده د حضرت ام سلمه رضي الله عنها په روايت کې ددې تصريح موجود ده چې مال تقسيم کړئ او دانصاف خيال وساتئ او بيا قرعه اندازي وکړئ او بيا ډيو بل دپاره معافی تلافی وکړئ.
يادساتئ چې نيم نيم تقسيم کول په هغو ځيزونو کې به وي چې کوم ځيزونه تقسيم قبلږي.

## الْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۱۲﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کوي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل

قَالَ: «الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (حَسَنٌ)[1]

ګواه دمدعی په ذمه دی او قسم دمدعی عليه په ذمه. (روايت کړي دي ترمذی)

## د ايثار او صلحې يو صورت

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

حضرت ام سلمه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د دو سړو د قضيې په باره کې نقل کوي چې خپله يوه

فِي رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَيْهِ فِي مَوَارِيثَ لَمْ تَكُنْ لَهُمَا

د ميراث مسئله يې راوړې وه د نبی عليه السلام په خدمت کې راغلي وو او په دې دواړو کې د يو سره

بَيِّنَةٌ إِلَّا دَعْوَاهُمَا فَقَالَ:

هم ګواه نه وو صرف دعوي دعوي وې نبی عليه السلام (ددې دواړو جواب اوريدو سره) وفرمايل (يادساتئ)

«مَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَإِنَّمَا

زه چې د کوم سړي دپاره د څه ځيز فيصله وکړم چې کوم ځيز دده ورور حق وي، نو هغه ځيز به دده

أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ». فَقَالَ الرَّجُلَانِ: كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا:

دپاره د اور د ټکړي نه علاوه هيڅ نه وي په دې دواړو کې هريو (دا واوريدل) عرض يې وکړو

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۳/۶۲۶ رقم الحديث ۱۳۴۱

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يَا | رَسُولَ | اللهِ | حَقِّي | هَذَا | لِصَاحِبِي |

ای د الله رسوله! زما حق زما د ملګري (یعنی د فریق مخالف) دپاره دی (زه خپله دعوی پریږدم)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَقَالَ: | «لَا | وَلَكِنِ | اذْهَبَا | فَاقْتَسِمَا |

نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نه! بلکه تاسو دواړه لاړشئ او دې څیز لره (نیم نیم) تقسیم کړئ او خپل خپل حق واخلئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَتَوَخَّيَا | الْحَقَّ | ثُمَّ | اسْتَهِمَا |

او (دا طریقه اختیار کړئ چې) اول دا څیز دوه کړئ په دې دواړو حصو باندې خسنې واچوئ دغه شان په تاسو دواړو کې

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ثُمَّ | لِيُحَلِّلْ | كُلُّ | وَاحِدٍ | مِنْكُمَا | صَاحِبَهُ». |

هر یو هغه حصې لره واخلئ په کومه چې دده خسنې راوتلې وي او په تاسو کې هر یو تعکار دې چې هغه خپل (هغه) حق خپل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَفِي | رِوَايَةٍ | قَالَ: | «إِنَّمَا | أَقْضِي | بَيْنَكُمَا |

ملګری ته معاف کړي، او په یو روایت کې دا الفاظ هم دي چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل زه ستاسو د دواړو

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| برأيي | فِيمَا | لم | يُنْزَلْ | عليَّ | فِيهِ». | رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |

په مینځ کې دا فیصله په خپله رائې او اجتهاد سره کوم. په دې معامله کې په ما وحی نه ده نازله شوې. (ابوداؤد)

**توضیح**: **فاقتسما**: یعنی د شراکت په بنیاد باندې یې برابر تقسیم کړئ (المرقات ۳۳۷/۷) **توخیا الحق أي اطلبا الحق** یعنی د عدل او انصاف ښه خیال وساتئ دحق نه مراد عدل او انصاف دی (المرقات ۳۳۷/۷) **ثم لیحلل** دا د باب تفعیل نه دی د حلالولو په معنی سره دی یعنی خپل مینځ کې دتقسیم نه پس معافی تلافی وکړئ سبحان الله د ایثار او همدردی او د محبت دې ملګرو څنګه نمونه قائمه کړه.

## دقابض په حق کې فیصله

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ﴿۱۴﴾ وَعَن | جَابِرِ | بن | عبدِ | الله: | أَنَّ | رَجُلَيْنِ | تَدَاعَيَا | دَابَّةً |

او حضرت جابر ابن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې دوو سړو (په دربار رسالت کې) دیو څاروی په باره کې دعوی وکړه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فَأَقَامَ | كُلُّ | وَاحِدٍ | مِنْهُمَا | الْبَيِّنَةَ |

او په دې دواړو کې هر یو خپل خپل ګواه پیش کړل چې دا څاروی دده دی (یعنی ما دده په مور باندې نر پریخودلې وو چې د

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۱۱ رقم الحدیث ۳۵۸۴ وأحمد فی المسند ۶/۲۳۰.

که هغه قبوله کړه نو د فیصلې دپاره دا ګواهی جائز ده، فقهاؤ لیکلې دي چې ګواهی ورکول فرض دي ددې پټول په هیڅ قسم باندې جائزنه دي په شرط ددې چې مدعي ګواه وغواړي هاپه حدودو کې د ګواهی نه ورکولو ګنجائش شته دی. (المرقات ۳۳۴/۷)

## په دروغه د ګواهی ورکولو والا په باره کې پیشن ګوئی

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُ النَّاسِ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دټولو نه بهتر هغه خلق دي

قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ

چې زما په زمانه کې یعنی دصحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اوبیا هغه چې دوی سره متصل دي یعنی تابعین اوبیا هغه چې دوی سره

ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَه

متصل دي یعنی تبع تابعین او بیا په آخر کې به داسې خلق پیدا شي چې په دوی کې د یو ګواهي د

وَيَمِينُه شَهَادَتَه» متفق عليه (صَحِيحٌ)[1]

قسم نه مخکې کیږي اودهغه قسم به دده ګواهئ نه مخکې وي. (بخاری ومسلم)

**توضیح** : **قرنی** : دقرن دلفظ څو معاني دي ددې نه صحابه کرام هم مراد کیدی شي **قرنی ای صحابی** بعضو ویلې دي چې هر سړی دخپلې زمانې خلقو ته قرن وائی ځکه چې دا د قرآن نه دی دنزدې کیدو په معنی سره دنبی علیه السلام په زمانه کې موجود خلق دنبی عَلَيْهِ السَّلَامُ په قرن کې وو کومه پورې چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ موجود وو (کذافی النهایة) بعضو ویلې دي دیرش کاله قرن دی، بعضو څلویښت کاله او بعضو شپیته کاله اوبعضو اویاکاله بعضو اتیا کاله اوبعضو مکمل سل کالوله قرن ګرځولی دی (المرقات ۳۳۴/۷)

**تسبق شهادة احدهم** : دا د لاپرواهئ، غفلت او ددین د بیزارئ یو کیفیت طرف ته یې اشاره کړې ده چې د یوبل نه زیات په دروغه ګواهو دپاره رامنډې وهي، نو نن صبا دا نقشه په مکمل طور باندې موجود ده په عدالتونو کې دروغژن ګواهان په کرایه ملاویږي چاته چې ضرورت پیښیږي نو دوی فوراً ګواهی ورکوي او پیسې اخلي دخپل غیرت اوعزت او دخپل دیانت اوامانت او ددین سودا کوي. (المرقات ۳۳۵/۷)

---

(۱) أخرجه البخاری فی صحیحه ۷/۳ رقم الحدیث ۳٦٥۱ ومسلم فی ٤/۱۹٦٤ رقم الحدیث (۲۵۳۳-۲۱۲) والترمذی فی السنن ٤/٦ رقم الحدیث ۲۳۰۳ وابن ماجه فی ۲/۷۹۱ رقم الحدیث ۲۳٦۲ وأحمد فی المسند ۱/٤٤۲.

﴿۱۶﴾ وَعَن أَبِي هريرةَ أَنَّ رجُلينِ اختَصما

اورحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې د دوو سړو د یوڅاروي په باره کې تنازع شوه (چه په دواړو

فِي دَابَّة وَلَيْسَ لَهما بَيِّنَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

کې هریو ددي څاروي د ملکیت وویل) او ددي دواړو سره ګواه نه وو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې

استَهِمَا علَى اليَمِينِ. متفق عليه[1]

په قسم خوړلو باندې خسنې واچوئ (ابوداؤد، ابن ماجه)

**توضیح**: استهما علی الیمین: یعنی تاسو دواړه قسم خوړلو سره خسنې واچوئ چې دچا خسنې راوتلو هغه به قسم خوري او مال به اوچتوي ددي روایت په شان یو [illegible] ددي نه مخکې تیرشوی دی چې دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی او په یوولسم نمبر [illegible] تیرشوی دی هلته ددې مسئلې تفصیل دی، دارنګه په حدیث نمبر ۱۵ کې هم ددې [illegible] موجود دی. (المرقات ۳۳۸،۳۳۹/۷)

## دمدعاعلیه قسم

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې (په یوه قضیه کې) د کوم سړي (یعنی مدعی علیه)

قَالَ لِرَجُلٍ حَلِّفْهُ: «احْلِفْ بِالله الَّذِي

نه قسم اخستلی شو هغه ته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چه په دې خبره باندې په الله قسم وخوره چې

لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ مَالَه عِنْدَكَ شَيْءٌ» يَعْنِي لِلْمُدَّعِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[2]

دهغه نه سیوا بل معبود نشته چې ددي سړي (یعنی مدعي) په تاباندې هیڅ حق نشته دی. (ابوداؤد)

**توضیح**: احلف بالله: دا خو واضحه ده چې کله د مدعي سره ګواه نه وي نو دمدعاعلیه نه به قسم اخستلی شي، نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دلته ددې اصولو مطابق فیصله وفرمایله چې احلف ته قسم وخوره. د قسم په باره کې دا خبره یادساتل ضروري دي چې قسم پرې خوړل په عدالت کې د قاضي حق دی د مسلمان نه

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۴۰ رقم الحدیث ۳۶۱۸ وابن ماجه فی ۲/۷۸۶ رقم الحدیث ۲۳۴۶ وأحمد فی المسند ۲/۲۸۹

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۴۱ رقم الحدیث ۳۶۲۰

به دهغه دتوحيد دعقيدې مطابق قسم اخستلى شي او عيسائى ته به وويلى شي چې د انجيل د نازلونكي د الله تعالى قسم وخوره، او يهودي ته به وويلى شي چې دتورات نازل كونكى والا ذات باندې قسم وخوره او مجوسى وغيره باندې به په الله تعالى قسم وخورلى شي داخبره د يادساتلو ده چې دمدعا عليه قسم ته به په هرصورت كې اعتبار وي خواه عادل وي يا په كې عدل نه وي.

## مدعاعليه ته په هر حال كې دقسم حق حاصل دى

﴿۱۸﴾ وَعَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ: كَانَ بَيْنِي

د حضرت اشعث بن قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې هغوى وويل چې يوه زمكه زما او ديو يهودي په

وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ فَجَحَدَنِي

مينځ كې مشتركه وه خو يهودي (په دې زمكه كې) زما د حصې (نه دتسليمولو) نه انكار وكړو، نو

فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

ما دنبى عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت كې بوتللو (او خپله معامله مې ورته پيش كړه) نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

«أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟» قُلْتُ: لَا قَالَ لِلْيَهُودِيِّ: «احْلِفْ»

چې آيا تاسره گواه شته؟ ما عرض وكړو نشته، نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ يهودي ته وفرمايل چې ته قسم اوخوره، ماچه دا

قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِذَنْ يَحْلِفَ

(واوريدل) عرض مې وكړو اى دالله رسوله! دا خو به اوس قسم اوخوري او زما به مال هړپ كړي. نو الله تعالى

وَيَذْهَبَ بِمَالِي فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى:

(دغه ددې قضيې په باره كې چې دهغې ذكر دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت كې تيرشوى دى) دا آيت نازل كړو

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ

يقيناً كوم خلق چې سپكه معاوضه اخلي په مقابله دهغه عهد كې چې الله تعالى كړى دياو (په مقابله)

وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ الْآيَةَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

د خپلو قسمونو كې الخ. دې روايت لره ابوداؤد، ابن ماجه رحمهما الله نقل كړى دى.

---

(۱) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/٤١ رقم الحديث ٣٦٢١ والترمذى فى ٥/٢٠٨ رقم الحديث ٢٩٩٦ وابن ماجه فى ٢/٧٧٨ رقم الحديث ٢٣٢٢ وأحمد فى المسند ٥/٢١١

«عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللهِ» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ.

وفرمايل چې په دروغه ګواهي د شرک بالله سره برابره کړی شوې ده . ددې نه پس نبی عَلَيْهِ السَّلَام (بطور

ثُمَّ قَرَأَ: (فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا

دليل) دا آيت تلاوت وفرمايلو فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ د پليتئ (بت پرستئ نه) بچ شئ د دروغو نه ځان ساتئ

قَوْلَ الزُّورِ حُنَفَاءَ لله غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ)

ځکه چې تاسو د باطل نه حق طرفته رجوع کونکي يې نه دا چې د الله تعالی سره شرک کونکي يې، دې روايت لره

رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه(١) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيّ

ابوداؤد او ابن ماجه رحمهما الله نقل کړی دی دارنګه دې روايت لره احمد او ترمذي رحمهما الله هم

عَنْ أَيْمَنَ بْنِ خُرَيْمٍ إِلَّا أَنَّ ابْنَ مَاجَهْ لَمْ يَذْكُرِ الْقِرَاءَةَ(٢)

د ايمن بن خريم نه نقل کړی دی او دابن ماجه نقل شوې روايت کې د آيت شريفه تلاوت کول ذکر نه دي.

## د کومو خلقو ګواهی معتبر نه ده

﴿٢٣﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايلد هغه خلقو ګواهی جائز او

«لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ

معتبر نه ده (١) د خيانت کونکي سړي او د خيانت کونکي ښځي (٢) په کوم کس باندې چې د تهمت حد

وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا وَلَا ذِي غَمْرٍ عَلَى أَخِيهِ

جاري کړی شوی وي (٣) دشمن چې دخپل (مسلمان) ورور خلاف وي. (٤) هغه سړی چې د ولاء په باره

وَلَا ظَنِينٍ فِي وَلَاءٍ وَلَا قَرَابَةٍ

کې متهم وي (٥) هغه سړی چې د قرابت په باره کې تهمتي وي (٦) هغه سړی چې په يو کور باندې قانع

---

(١) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/٢٣ رقم الحديث ٣٥٩٩ وابن ماجه ٢/٧٩٤ رقم الحديث ٢٣٧٢.

(٢) أخرجه الترمذى فى السنن ٤/٤٧٥ رقم الحديث ٢٣٠٠ وأحمد فى المسند ٤/٣٢١.

| |
|---|
| وَلَا الْقَانِعِ مَعَ أَهْلِ الْبَيْتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حديثٌ غريبٌ |
| وي. امام ترمذی رحمه الله دې روایت لره نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی دارنګه |
| ويزيدُ بن زيادٍ الدِّمَشْقِي الرَّاوِي مُنكر الحَدِيث[1] |
| ددې حدیث یو راوي یزید بن زیاد دمشقي منکرالحدیث دی. |

**توضیح** : **خائن ولا خائنة** : په دې حدیث کې او ددې نه پس راتلونکي دوه حدیثونو کې ددې خلقو بیان دی چې دهغوی شهادت نه قبلیږي. داسلام په نظر کې چې څومره دحاکم عادل کیدل ضروري دي هم دومره دګواهانو عادل کیدل ضروري دي دې دپاره چې صحیح فیصلې ته رسیدلو واسطه او وسیله هم صحیح وي. په دې حدیث کې ددې خلقوګواهی غیرمعتبر ګرځولی شوې ده چې دعدل اوانصاف معیار باندې پوره نه راوځي ځنګه چې خائن سړی اوخائنه ښځه ده د خیانت مفهوم عام هم کیدلی شي چې څوک په دین او دنیا دواړو کې خیانت کولو والا دی چونکه دخیانت د وجې نه داخلق فاسقان شول او دشهادت دپاره عادل کیدل ضروري دي په دې وجه دهغوی ګواهی معتبر نه ده.

په عام عرف کې خائن هغه دی چې دخلقو په مالونو او امانت کې خیانت کوي ددې حدیث پیش نظر همدا مفهوم واضح دی، بعضو مطلق فاسق مراد اخستی دی. (المرقات ۳۴۴/۷)

**ولا مجلودٍ حدًا** : مجلود دجلدنه دی اوجلد کوړې ته وائی یعنی چاته چې دحد قذف کوړې لګیدلې وي، هغه قاذف باندې چې کله د حدنافذ کیدو سره کوړې ولګي نوددې نه پس دهغه شهادت معتبر نه وي. د شوافعو په نزد کچرې دا محدود توبه وکړي نوبیا دده ګواهی معتبر ده ځکه د **الا الذين تابوا من بعد ذلك** استثناء**ولاتقبلوا لهم شهادةً ابداً** نه ده. نوکله چې قاذف توبه وکړي نوددې ګواهی به معتبره شي اګرچې حد دقذف لګیدلی وي، بلکه په ټولو حدودو کې همداحکم دی، احناف فرمائی چې د نورو حدودو حکم همداسې دی خو د قذف حد لګیدو سره سړی همیشه دپاره مردود الشهادة جوړ شي، په دې وجه په توبې کولو سره دده ګواهی معتبر کیدی نه شي او دالا **الذين تابوا** استثناء**اولئك هم الفاسقون** نه ده، ځکه چې دا نزدې هم ده او **شهادةً** نکره راوړلو سره عموم طرفته اشاره هم ده چې دځه قسمه ګواهی معتبر نه ده، او د ابدًا لفظ سره یې نور تاکید هم پیداکړو او زیر نظر واضح حدیث هم دی، لهذا محدود فی القذف چې کله خپلې ژبې لره په کومې پاکدامنې ښځې باندې په بهتان کې ګنده کړه نو دهغه دا سزا ده چې همیشه همیشه دپاره دهغه د ژبې اعتبار ونه کړی شي. (المرقات ۳۴۴/۷)

---

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۴/۶۷۳ رقم الحدیث ۲۲۹۸.

| |
|---|
| وَمَا حَلَفَ حَالِفٌ بِاللهِ يَمِينَ صَبْرٍ |
| خوړل (یادساتئ) کوم قسم خوړونکی چې د مجبورئ او قید په حالت کې د الله تعالی قسم وخوړلو |
| فَأُدْخِلَ فِيهَا مِثْلَ جَنَاحِ بَعُوضَةٍ |
| او په دې قسم خوړلو کې یې دماشی د وزر برابر (یعنی لږ غوټۍ) هم دوږغ شامل کړل نو دهغه په |
| إِلَّا جُعِلَتْ نُكْتَةً فِي قَلْبِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». |
| زړه کې به د قیامت پورې یوه توره نقطه (داغ) پیدا شي (چې دهغې وبال به په آخرت کې ښکاره وي) |
| رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيب (صَحِيح)[1] |
| دې روایت لره ترمذی رحمه الله نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی. |

**توضیح**: اکبرالکبائر: یعنی په ټولو لویو ګناهونو کې د ټولو نه لویه ګناه داده (۱) شرک کول، (۲) یمین غموس (۳) یمین صبر. ددې قسمه یو حدیث په باب الکبائر کې تیر شوی دی د توضیحات په اول جلد کې هلته پوره تفصیل شوی دی خو دلته د یمین صبر لفظ دی چې هلته نشته دی د یمین صبر تفصیل هم ددې باب په ابتداء کې شوی دی دلته د یمین صبر نه د عدالت په کمره کې دنته قسم خوړل مراد دی. یعنی د عدالت په کمره کې سړی که په خپل قسم کې لږ غوندې هم دروغ ووائی نو ددې سړي په زړه باندې به دګناه یو تور داغ پریوځي دا داغ د رین اثر دی، ګویا چې دا د مهر جباریت یوه حصه ده دا اثر دهغه سړي د زړه نه به د قیامت پورې نه ختمیږي. (المرقات ۳۴۱/۷)

## د قسم حیثیت د مکان اوزمان په وجه سره زیاتیږی

| |
|---|
| ﴿۲۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَحْلِفُ |
| او حضرت جابر رضی الله عنه وائی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل. چې کوم سړی هم ددې منبر سره |
| أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هَذَا عَلَى يَمِينِ آثِمَةٍ وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ |
| نزدې قسم وخوري او دهغه دا قسم دروغ وي اګرچې هغه دیو شین مسواک دپاره ولې نه وي نو هغه |
| إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ». |
| د (دوزخ) اور کې خپل ځای تیاروي یا یې دا وفرمایل چې دده دپاره د (دوزخ) اور واجب کیږي. |

(۱) أخرجه الترمذی فی السنن ۵/۲۲۰ رقم الحدیث ۳۰۲۰ وأحمد فی المسند ۳/۴۹۵.

رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ[1]

(روایت کړي دي مالک، ابوداؤد، ابن ماجه)

**توضیح:** عندمنبري: په مسجد کې د منبر او محراب هسې هم یو مقدس مقام وي او بیا د مسجد نبوی د منبر شان څه نور دی، او بیا د منبر نسبت د نبی علیه السلام طرفته کولو سره نو د دې منبر شان اوچت شو. اوس په دروغه قسم خوړل خو هسې هم لویه ګناه ده خواه چرته هم وي خو که څوک سړی د داسې مقدس مقام سره په دروغه قسم وخوري نو د الله تعالی غضب ته دعوت ورکول دي د اشان د مقدس مقام د وجې نه د قسم حیثیت او عظمت زیاتیږي دغه شان د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس قسم خوړل د زمانې د عظمت په وجې سره د قسم حیثیت زیاتیږي، او په دې کې تغلیظ راځي، د څه مقام او مکان د وجې نه د تغلیظ مثال علماؤ لیکلی دی چې کچرې څوک سړی په مکه کې وي نو د حجر اسود او د مقام ابراهیم په مینځ کې ځای د تولو نه معظم دی په دې کې د قسم حیثیت زیاتیږي. او که څوک سړی په مدینه کې وي نو د نبی علیه السلام د قبر مبارک سره خو اکې ځای د یر معظم دی او په عامه دنیا کې جامع مسجد او بیا عام مسجد د عظمت والا مقامات دي، شوافع حضرات د قسم تغلیظ د مکان او زمان په ذریعې سره جائز مني، خو احناف وائی چې قسم صرف قسم دی د کوم زمان او مکان په وجه سره د هغه په حیثیت باندې اثر نه پریوځي ظاهری نصوص د شوافعو سره دي.

**ولو علی سواک اخضر:** د شین مسواک نه لږ څیز مراد دی که هغه شین مسواک وچ وي او یا تر وي، د مسلم شریف په یو روایت کې **قضیباً من أراک** الفاظ راغلي دي یعنی د پلوسې او کیکر ښاخ د دې نه هم لږ څیز مراد دی. (المرقات ۳۴۲/۷)

## په دروغه ګواهی د شرک برابر ده

﴿۲۲﴾ وَعَن خُرَيمِ بن فَاتِكٍ قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الصُّبْحِ

او حضرت خریم بن فاتک رضی الله عنه وائی چې (یوه ورځ) رسول کریم صلی الله علیه وسلم کله چې د سحر

فَلَمَّا انْصَرَفَ قَامَ قَائِمًا: فَقَالَ:

مونځ کولو نه فارغ شو نو (صحابو رضی الله عنهم ته د خطاب کولو د پاره و دریدلو او دري ځله یې دا الفاظ

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۳/۵۶۷ رقم الحدیث ۳۲۴۶ وابن ماجه فی ۲/۷۷۹ رقم الحدیث ۲۳۲۵ ومالک فی المؤطأ ۲/۷۲۷ رقم: ۱۰

**توضیح: فانزل الله**: دې روایت باندې سوال راځي چې کله یهودی باندې دې صحابی اعتراض وکړو نو الله تعالی یو آیت نازل کړو، اوس سوال دادی چې په دې آیت کې د صحابی د اعتراض جواب څنګه راغلو.؟ ددې جواب دادی چې کله صحابی وویل چې دا یهودي دی قسم به وخوري نو د قرآن کریم آیت بطور وعید نازل شو چې په هغې کې الله تبارک وتعالی په دروغه قسمونو اود بدعهدئ په وعدو باندې سخت نکیر وفرمایلو چې هغې سره یهودي ګویا خبردار شو چې ته که چیرې غلط قسم خورې نو ددې سزا دې هره خطرناکه ده، دارنګه د دې آیت مضمون او په تورات باندې په دورغه قسم باندې سخت وعید یو قسم احکام دی نو په دې آیت کې یهودي ته یادکړی شو چې اوګوره په دروغه قسم به وخورې نو ته به دخپل کتاب تورات مطابق سزا مومې څه چې ددې سوال په جواب کې لیکلی شوي دي یو حده پورې علامه طیبی رحمه الله لیکلې دي او ددې سوال حل صرف هم دا دی.( المرقات ۳۴۰/۷، الکاشف ۳۰۷/۷، ۳۰۶)

## قسم خورونکي ته دالله تعالی ویره ورکړئ

| |
|---|
| ﴿۱۹﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ اخْتَصَمَا |
| او حضرت اشعث بن قیس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې د قبیله کنده یو سړي او د حضرت موت یو سړي |
| إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ |
| دواړه د یمن د یوې زمکې په باره کې خپله قضیه راوړله د نبی عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کې حاضر شول. |
| فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا |
| حضرمی عرض وکړو چې ای دالله رسوله! ددې سړي پلار زما زمکه زما نه (په زور) اخستې ده او |
| أَبُو هَذَا وَهِيَ فِي يَدِهِ |
| اوس هغه دده په قبضه کې ده (زه تاته درخواست کوم چې هغه زما زمکه ماته واپس کړي) نبی عَلَيْهِ السَّلَام |
| قَالَ: «هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ؟» |
| حضرمی ته وفرمایل چې آیا تاسره ګواه شته (چې ګواهی ورکړي چې هغه زمکه واقعًا ستاده؟) هغه |
| قَالَ: لَا وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ وَاللهِ مَا يَعْلَمُ |
| عرض وکړو نه! خو زه هغه ته دالله تعالی قسم ورکوم چې دا اقرار کوم چې هغه ته پته نشته چې هغه |
| أَنَّهَا أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ؟ |
| زمکه زما (د حضرمی) ده کومه چې دده پلار زما نه (په زور) اخستې ده نو هغه (کندی) د قسم خورلو |

| |
|---|
| فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ لِلْيَمِينِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: |
| د پاره تیارشو (کله چې هغه قسم خورلو د پاره روان شو) نو نبی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې (یادساتئ) |
| «لَا يَقْتَطِعُ أَحَدٌ مَالًا بِيَمِينٍ إِلَّا |
| چې کوم سړی هم (په دروغه) قسم خورلو سره د چا مال هضم کړي نو هغه به الله تعالی سره په داسې |
| لَقِيَ اللهَ وَهُوَ أَجْذَمُ» فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: |
| حال کې ملاقات کوي چې د هغه لاس به کټ وي. کندي دې (اوریدلو) سره وویل زه اقرار کوم چې) |
| هِيَ أَرْضُهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد[1] |
| هغه زمکه ددې سړي ده. (ابو داؤد) |

**توضیح**: اعتصبنیها ابوهذا: یعنی ددې کندي سړي پلار زمانه هغه زمکه (په زور) اخستې ده او هغه زمکه ددې کندي سړي په قبضه کې ده چونکه دهغه سره ګواه نه وو په دې وجه ئې وویل زه به هغه ته قسم ورکړم خو قسم به داسې وي چې هغه سړی پخپله ووایي چې په الله قسم ماته بالکل معلومه نه ده چې دا زمکه ددې حضرمی سړي ده چانه چې زما پلار (په زوره) اخستې ده کندی سړي ددې قسم دپاره تیار شو خو نبی عَلَيْهِ السَّلَام چې کله ورته وعید واورولو نو هغه اقرار وکړو چې دا زمکه واقعی د حضرمی ده. اجذم، جذام د یوې مشهورې اوخطرناکې ییمارئ نوم دی چې په هغې سره د بدن اندامونه د حد نه زیات غټیدو سره وپرسیږي او بیا کټ کټ کیدو سره تکړې تکړې شي. (المرقات ۳۴۰/۷)

په لغت کې هم جذم دضرب یضرب نه په جلتئ سره د کټ کیدو په معنی سره دی او د پوره لاس د کټ کیدو دپاره استعمالیږي. (المرقات ۳۴۰/۷)

## په دروغه قسم خورل لویه ګناه ده

| |
|---|
| ﴿۲۰﴾ وَعَنْ عبدِاللهِ بنِ أُنَيْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ |
| او حضرت عبدالله بن انیس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په لویو ګناهونو |
| الْكَبَائِرِ الشِّرْكَ بِاللهِ وَعُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ وَالْيَمِينَ الْغَمُوسَ |
| کې دټولو نه لویه ګناه داده (۱) دالله تعالی سره شوک شریکول، (۲) د مور پلار نافرماني کول (۳) اوپه دروغه قسم |

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۱/۴۲ رقم الحديث ۳۶۲۲ وأحمد فی المسند ۵/۲۱۴.

ولاذی غمر : غمردشمنی اوبغض اوحسد او عداوت ته وائی نو دغه شان کینه گر حاسداو د دشمنی جذبه ساتلو والا سړي گواهي په خپل یو مسلمان ورور باندې جائز نه ده خواه هغه دده سکه ورور وي یا عام مسلمان وي ځکه چې ددشمنئ او عداوت دا جذبه ده لره په عدالت باندې قائم اوسیدونکی نه پریږدي. ولا ظنين ظنين تهمتی ته وائی لکه چې وما هو على الغيب بظنين آیت هم چې ددې معنی سره دی (المرقات ۳۴۴/۷)

ولاء میراث ته وائی یعنی یوغلام چې کله آزاد شي او بیا مړ شي نو د آزاد کړی شوي غلام میراث ددې آزادونکي آقادی، اوس کچرې یو غلام خپل نسبت کې دروغ ووائی چې زه حارث آزاد کړی یم حالانکه په واضح طورباندې پوهیږي چې ده لره حارث نه بلکه زید آزاد کړی دی نوغلام په دې نسبت کې متهم في الولاء دی دا داصل مالک حق وهل غواړي په دې سره دا فاسق شو اودفاسق گواهی معتبر نه ده، لهذا د ظنين في الولاء گواهی مردود ده، همدغه شان معامله دظنين فی القرابة ده چې یوسړی وایي چې زه دعمرو ځوی یم حالانکه خلقو ته پته ده چې دا دروغ وائی دا دعمرو ځوی نه دی بلکه دبکر ځوی دی نوپه دروغو نسبت سره دا سړی مردودالشهادة شو، لهذا ددې گواهی معتبرنه ده. (المرقات ۳۴۵/۷)

ولا القانع مع اهل البيت: القانع نه مراد هرهغه سړی دی چې دچا په نان نفقه گذاره کوي لکه خادم دی نوکر وغیره دی یا شاگرداو مرید دی دده گواهی په دې وجه معتبر نه ده چې ددې دواړو په مفاداتو کې اشتراک دی نوشاید دا سړی ددې مفاداتو پیش نظر په گواهئ کې دجانب دارائي نه کار واخلي او غلطه گواهي ورکړي. احناف فرمائی چې ددې مفاداتو پیش نظر دښځې گواهي دخاوند په حق کې او دخاوند گواهي د ښځې په حق کې صحیح نه ده، شوافع حضرات یې صحیح منې. (المرقات ۳۴۵/۷)

| |
|---|
| ﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| اوحضرت عمرو بن شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه دخپل دادا نه او هغه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي |
| قَالَ: «لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلَا خَائِنَةٍ |
| چې نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل نه خو د خیانت کونکي سړي او نه د خیانت کونکي ښځې گواهي صحیح ده او نه |
| وَلَا زَانٍ وَلَا زَانِيَةٍ وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى |
| د زنا کونکي سړي او نه د زنا کونکي ښځې گواهی صحیح ده، دغه شان د دشمن گواهی (دخپل) دشمن |
| أَخِيهِ» وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ |
| خلاف مقبوله نه ده. دارنگه نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ (په یوه مقدمه) کې دهغه سړي گواهی رد کړه چې د یو کور پرورش |

| | | | |
|---|---|---|---|
| لِأَهْلِ | الْبَيْتُ. | رَوَاهُ | أَبُو دَاوُد[1] |
| او کفالت کې وي او هغه ګواهي ددې کورواله په حق کې ورکړې وه. (ابوداؤد) | | | |

## د کم عقل کليوال ګواهي په بناري باندې معتبر نه ده

| |
|---|
| ﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: |
| او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چه په |
| «لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه[2] |
| کلي کې د اوسيدونکي په حق کې يا ددې خلاف په ځنګل کې د اوسيدونکي ګواهي صحيح نه ده. |

**توضيح**: ولا شهادة بدوي: بدوي د بداوه طرف ته منسوب دی او بداوه کلو او صحراته وايي دا د حضاره په مقابله کې راځي ابو طيب متنبی ويلې دي:

حسن الحضارة مجلوب بتطرية وفي البداوة حسن غير مجلوب

د بدوي نه مراد هغه کليوال دی چې جت ځنګلي او جاهل وي کله چې په کلو کې داسې وي نو دهغوی سره علم هم نه وي. د بره خکته نه واقف نه وي د ګواهئ ورکولو شرائطو نه واقف نه وي د غفلت او نسيان په ده باندې غلبه وي، ملاعی قاری رحمه الله يوه وجه بيان کړې ده چې عموماً د کلو او بنارونو په مينځ کې دشمني وي نو د عداوت په وجه د هغوی ګواهي به غير مقبول وي.

بهرحال کچرې بدوي کې سليقه وي پوهه وي تميز پکې وي نو د جمهورو په نزد دده ګواهی د عامو انسانانو په شان به مقبول وي، ها امام مالک رحمه الله فرمايې چې په مطلق طور باندې د کوم کليوال ګواهی په کوم بناری باندې قبوله نه ده، جمهور دې زيربحث حديث لره په غالبی او اکثري احوالو باندې محمول کړی دی. (المرقات ۳۴۶/۷)

## صفا او واضح بيان تيار کړه او عدالت ته لاړ شه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ﴿۲۶﴾ وَعَنْ | عَوْفِ | بْنِ | مَالِكٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ | عَلَيْهِ وَسَلَّمَ |
| او حضرت عوف بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې (يوه ځل) رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوو سړو په | | | | |
| قَضَى | بَيْنَ | رَجُلَيْنِ | | فَقَالَ |
| مينځ کې د يوې مقدمې فيصله وکړه (چې ديوسړي خلاف او دبل په حق کې وو نو د مقدمې فيصله چې د کوم | | | | |

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۴۱ رقم الحديث ۳۶۰۰ وابن ماجه فی ۲/۷۹۲ رقم الحديث ۲۳۶۶ وأحمد فی المسند ۲/۱۸۱.

(۲) أخرجه أبوداود فی السنن ۴/۴۱ رقم الحديث ۳۶۰۲ وابن ماجه فی ۲/۷۹۳ رقم الحديث ۲۳۶۷.

| |
|---|
| الْمُقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ: حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ |
| سړي خلاف وشوه دا د مجلس نبوي نه پاسيدو سره) واپس تللو سره يې وويل يعنى مالره زما الله كافي دى |
| الْوَكِيلُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ و |
| اوبهترين كارساز دى. نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ دې (اوريدو سر) وفرمايل چې الله تعالى په نادانئ اولاپرواهئ باندې |
| لَكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ فَإِذَا غَلَبَكَ أَمْرٌ فَقُلْ: حَسْبِيَ اللهُ |
| ملامتول كوي تاته چالاكي اوهوښياري ضروري ده بياكچرې تاته مصيبت راورسي نو وايه حسبى الله |
| وَنِعْمَ الوَكِيلُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد (حسن)[1] |
| ونعم الوكيل (مالره زما الله كافى او بهترين كارساز دې). (ابو داؤد) |

**توضيح: حسبي الله:** د ملا علي قارى رحمه الله بيان نه معلوميږي چې دې سړي غالبًا دچا نه قرض اخستى وو او رسيدې ليكلى وو بيايې هغه قرض واپس كړو خودا غفلت يې وكړو چې په واپسى باندې يې څه رسيد او ثبوت جوړ نه كړو يا قرض غوښتونكي په ده باندې واپس دعوى وكړه چې زما قرض ادا كړه په تاباندې مې دومره قرض دى اودا رسيد دى، دې بيچاره په جواب كې وويل چې ماخو ادا كړى دى هغه وويل چې تاسره څه ثبوت شته چې تاواپس كړى دى په دې باندې مدعي مقدمه وكټله او دې بيچاره دغم اوحسرت او افسوس اظهار وكړو او وې ويل **حسبى الله ونعم الوكيل.**

**ان الله يلوم على العجز:** كله چې دې سړي **حسبى الله ونعم الوكيل** وويله نو گويا په ضمنى طور باندې هغه دنبى عَلَيْهِ السَّلَامُ په فيصله باندې مطمئن نه شو اگرچې هغه په الفاظو كې ددې اظهار ونه كړو خو معامله يې په الله تعالى باندې پريخوده په اشاره يې دخپلو جذباتو اظهار وكړو په دې باندې نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ ناراضه شو، اوبيا نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ دضابطې په طور باندې كلام وفرمايلو.

علامه طيبى رحمه الله فرمائى چې نبى عَلَيْهِ السَّلَامُ په دې باره كې واضح وفرمايل چې په تاباندې لازم خودا وو چې ته په خپله مقدمه كې اوددې په دلائلو كې هوښيار اوسيدې، ستا دعوى صفا وه، ستا گواهان وى، يابل ثبوت وى، اوس چې كله نه تابيان صفا وكړو نه دې ثبوت برابر كړو او د مدعي په مخكې عاجزه شوې نو اوس **حسبى الله ونعم الوكيل** وايې؟.

دا آيت خو هغه وخت ويل پكار وو چې كله انسان خپل تول تدبيرونه او تول احتياط په كار راولې او بيا عاجزه شي، او په هغې باندې دبچ كيدو تولې لارې بندې شي نوبيابه **حسبي الله ونعم الوكيل**

---

(1) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/٤٤ رقم الحديث ٣٦٢٧ وأحمد فى المسند ٦/٢٥ .

وايي الله تعالى انسان لره دانسان په نادانۍ او عجز او لاپرواهۍ باندې ملامته کوي. لهذا دملامتيا ذمه دار ته پخپله يې. **الكيس** هوښيارتوب، بيداري، او زيرکتيا او طراري ته وايي.

## ملزم لره قيد کول شرعي سزا ده

﴿۲۷﴾ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت بهز بن حکيم رحمه الله دخپل پلار نه او هغه دهغه دنيکه نه نقل کوي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وزادَ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ: ثُمَّ خَلّى عَنهُ[1]

يو سړي لره دتهمت په بنياد باندې قيد کړی وو. (ابوداؤد) اوترمذی په روايت کې دي چې بيايي پريخودلو.

**توضيح**: فی تهمة: يعنی دتهمت په بنياد باندې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې سړې لره قيد کړی وو. داسې معلوميده چې يو سړي په ده باندې دقرض دعوی کړې وه يا په دې سړي باندې څه بل الزام وو په دې وجه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې سړي لره په حوالات (جيل) کې ساتلی وو چې مدعي خپلې دعوې لره د صحيح ثابتولو دپاره څه ثبوت پيش کړي خو کله چې مدعي خپلې دعوې لره ثابته نه کړه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سړي لره په هغه ورځ روستو د الزام نه بري کولو سره پريخودلو، ددې حديث نه معلومه شوه چې ملزم په قيد کې ساتل به دشرعی حکم مطابق وي هسې خو علماؤ ليکلې دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دور کې د مجرمانو دپاره باقاعده جيل نه وو ځکه چې په مسلمانانو کې جرائم نه وو البته کافرانو لره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په قيد کې ساتلې دي خو دهغوی دپاره هم څه باقاعده جيل نه وو هغوی به دجنګي قيديانو په حيثيت سره په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې تقسيمولی شول، اوصحابو به ددوی نګراني کوله، علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې ددې حديث نه معلومه شوه چې قيد کول په دوه قسمه دي: يو حبس عقوبت دی او دويم حبس تهمت دی، حبس عقوبت خو دڅه واجب حکم په وجه سره وي، او حبس تهمت صرف دحقيقت ښکاره کيدو پورې وي، په دې وجه دې سړي لره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څه وخت پس پريخودلو.

## الْفَصْلُ الثَّالِث

## دواړه خصمين دې دقاضي په مخکې کينولی شي

﴿۲۸﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائی چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فرمان (عدا النبی ضابطه) جاري

---

(۱) أخرجه أبوداود فی السنن ٤/٤٦ رقم الحديث ٣٦٣٠ والترمذی فی ٤/٢٠ رقم الحديث ١٤١٧، والنسائی فی ٧/٦٧ رقم الحديث ٤٨٧٦.

أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يُقْعَدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَاكِمِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ[1]

وفرمايله چې مدعي او مدعا عليه دې دواړه د قاضي مخې ته کينې. (احمد، ابوداؤد)

**توضيح**: قضى: دلته دا قضى د حكم او فيصلې کولو په معنى سره نه دى بلکه د اوجب په معنى سره دى چې دا حكم واجب دى.

**يقعدان**: يعنى عدل او انصاف او مساوات د اصولو پيش نظر قاضى او حاكم باندې واجب دي چې هغه د عدالت په کمره کې مدعي او مدعا عليه لره برابر کينوي اګر چې د دواړو په مينځ کې د مرتبو په اعتبار سره څومره فرق ولې نه وي، ديو غريب سره کچرې د وخت د باچا تنازع هم وي نو قاضى له پکار دي چې هغه حاكم او غريب دواړه برابرئ سره کينوي، همدا هغه مشكله مرحله ده چې دهغه په باره کې علامه طيبى رحمه الله داسې فرمايي: **وليس على القاضي امر اشق ولا اخوف من التسوية بين الخصمين**. يعنې د قاضي دپاره ددې نه زيات ګران او خطرناكه مرحله هيڅ يوه نه ده چې كله د عدالت په کمره کې مدعي او مدعى عليه پيش وي نو چې هغه په دې دواړو کې برابري وکړي. واقعي علامه طيبي د ربښتيا و او حقيقت طرف ته اشاره کړې ده نن صبا خو په عدالتونو کې د انصاف د تقاضو نام او نشان نشته صرف د پيسو سودا ګرئ په بنياد اصول جوړيږي او ماتيږي، دانګريزانو عدالتونو ته د عدالت نوم ورکول د عدالت توهين دى. د اسلام د تقرى په وختونو کې په اسلامي عدالتونو کې په حاكم او محكوم کې د مساوات د بنكلي واقعاتو هيڅ کمې نشته چې د پوره دنيا د پاره معيار او قابل تقليد نمونه ده، په دې تيرهير وخت کې هم کوم وخت د اسلام د بنكلي اصولو په بنياد په افغانستان کې د طالبانو اسلامي عدالتونه قائم شو نو د انصاف او مساوات نهرونه روان شو چې هر انصاف خوښونكي او شرافت غوښتونكي انسان د پاره قابل تقليد نمونه وه ليكن دهشت خوښونكي تخريبي عناصر او د انسانيت دشمن قوتونو دا برداشت نه کړې شو ليكن په دنيا باندې دا خبره واضحه شوه كه اسلام يو نيم زر كاله وړاندې يو ژوندې او كلك مذهب ؤ نو هغه نن هم هغه شان مؤثر او ژوندى دى او راتلونكي وخت کې به هم تر کومې چې دنيا قائمه وي ان شاء الله ژوندې او آباد وي، الله تعالى دې د خپل دين حفاظت وکړي **آمين يارب العالمين**.

الحمد لله د توضيحات پنځم جلد د الله تعالى په فضل او كرم سره ختم شو.



(1) أخرجه أبوداود فى السنن ٤/١٦ رقم الحديث ٣٥٨٨.

